توضیحات

د مشکوۃ شریف پښتو شرح

مشکوۃ شریف

تالیف

حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم

استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری ټاؤن کراچی

پښتو ترجمه

مولانا محمد فیض الهادي "حقاني"

سابق مدرس مدرسه تعلیم القرآن والحدیث

چارسده روډ پشاور

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797

مکتبۃ الاصلاح
محلہ جنگی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

توضیحات

پښتو شرح

مشکوٰة شریف

توضیحات مشکوة شریف
پښتو شرح

(جلد اتم)

الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم
علامه استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری ټاؤن کراچی

پښتو ترجمه:
مولوي فیض الهادی حقاني

د توضیحات پښتو شرح مشکوة خصوصیات:

- په اول جلد کې د اصول حدیث یوه مفیده مقدمه
- په متن باندې اعراب
- په تیبل کې تحت السطور بامفهومه ترجمه
- هر حدیث ته مناسب عنوان ورکول
- د مشکوة المصابیح د احادیثو تخریج د صحاح سته وغیره کتابونو نه کول
- د مشکوة المصابیح د مشکلو لغاتو حل کول
- په شرحه کې هر یو ځای ته مناسب عنوان ورکول
- د ائمه اربعو د مذاهبو بیان
- د مذاهبو دلائل بیانول
- د احنافو د مذهب د ترجیح وجوهات بیانول
- په شرح کې د مرقاة او د اشعة اللمعات د عباراتو حوالې ورکول
- د کتاب د هرې صفحې په سر د کتاب او باب خودنه
- د هر کتاب په اول کې د ضروري مباحثو بیان
- بین القوسین په اضافي قیوداتو سره مزید وضاحت کول
- د مشکلو ابحاثو د سوال او جواب په ذریعه حل کول
- د جدید او قدیم بعضې مسائلو استنباط
- په احادیثو کې د تعارض په صورت کې بهترین مطابقت راوستل
- په اتم جلد کې د مشکوة المصابیح د حدیثو د راویانو مفصل حالات

مکتبة الاصلاح
محله جنګی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

د کتاب نوم: توضیحات پښتو شرح مشکوة شریف (اتم جلد)

تألیف: حضرت مولانا فضل محمد صاحب دامت برکاتهم
استاذ الحدیث جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف بنوری ټاون کراچی

پښتو ترجمه: مولوي فیض الهادي "حقاني"
ومولوي سمیع الحق "حقاني"

تصحیح: مولوي هدایت الله صاحب

سیټینګ: الحافظ پرنټرز، پشاور
محمد فیض الهادي "حقاني" موبائل نمبر:
0332-9606473

سالِ اشاعت: ۱٤٤۲ھ موافق ۲۰۲۰ء

ناشر: مکتبة الاصلاح محله جنګي، پشاور
پروپرائیټر: عبدالله

﴿﴿﴿ د چاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دی ﴾﴾﴾

فهرست

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
باب صفة الجنة واهلها	٢٢	د جنت فضیلت	٢٣
د جنت عظمت او قیمت	٢۴	د جنت د حورو صفت	٢۴
د جنت د یوې ونې ذِکر	٢۵	د جنت خیمه	٢٦
د جنت نهرونه	٢٧	د جنت د یو بازار ذکر	٢٨
د جنت د نعمتونو تفصیلي بیان	٢٩	په جنت کې د الله تعالی دائمي رضا	٣۴
په جنت کې چې څه غواړئ نو وي غواړئ	٣۵	هغه څلور دریابونه چې د هغو سرچشمه (جرړه) په جنت کې ده	٣۵
د جنت وسعت او د خلکو کثرت	٣٧	دکائناتو دپیدا ښت ذکر	٣٧
د جنت فرش	٣٩	د جنتیانو ځلیدونکي مخونه	۴٠
د جنت د اشیاو ذکر	۴١	دجنت ځوانان	۴٢
د حوضِ کوثر ذِکر	۴۴	جنتیانو ته به هر هغه شی حاصلیږي د کوم چې هغوی خواهش وکړي	۴۵
جنتیانو کې د اُمتِ محمدي تناسب (کمیت)	۴٧	په جنتیانو کې د اولاد خواهش	۵٢
د حورو سندرې	۵۴	د جنت د حورو لطافت (باریکي)	۵۵
په جنت کې د زراعت (کرونده) خواهش او د هغه تکمیل	۵٦	په جنت کې به د خوب ضرورت نه وي	۵٧
باب رؤية الله تعالى	۵٩	دیدار الهی اقسام او مقامات	٦٠
دیدار الهی د ټولو نه لوي نعمت دی	٦٣	په جنت کې به صبا او بیګا دیدار الهي وي	٦۴
د دیدار متعلق د حضرت عائشه رضي الله عنها رایه	٦٧	د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه رایه	٧٠
د دیدارِ الهي کیفیت	٧٢	**باب صفة النار واهلها**	٧۴
د دوزخ خاص ولو ذِکر	٧۵	کوم شخص ته به چې په دوزخ کې د ټولو نه کم عذاب وي	٧٦
دیو دوزخي او یو جنتي قصه	٧٧	شرک بده بلا ده	٧٨
په عذاب کې تفاوت او درجات	٧٩	د دوزخیانو غټ جسمونه	٧٩

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د دوزخ اور درې زره کاله پورې ګرم کړې شوی دی	۸۰	د دوزخيانو غذا	۸۳
د ګرمو اوبو عذاب	۸۳	د دوزخ چار ديواري	۸۵
د دوزخيانو د مخونو بدشکلي	۸۷	دوزخيان به په دوزخ کې د سيلاب په شان اوښکي وبهوي	۸۷
د دوزخيانو حالت	۸۸	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امت د دوزخ نه پوره طور سره خبردار کړې دی	۹۲
د دوزخيانو د ترلو اوږده څڅيرونه	۹۳	د سرکشه متکبر په دوزخ کې ځائ	۹۴
د دوزخيانو طويل (اوګد) اوعريض (پلن) جسامت	۹۴	د دوزخ ماران او لړمان	۹۵
سپوږمۍ او لمر به دواړه اورته ځي	۹۶	په دوزخ کې به بدبخته خلک وي	۹۷
باب خلق الجنة والنار	۹۸	د جنت او دوزخ مناظره	۹۸
دوزخ او جنت به ډک شي	۱۰۰	جنت په مشکلاتو کې او دوزخ په خواهشاتو کې ګېر شوي دي	۱۰۱
باب بدء الخلق وذکر الانبياء عليهم الصلوة والسلام	۱۰۵	په ابتداء کې د الله تعالى ذات وو نور هيڅ نه وو	۱۰۵
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ابتداء پيدائش نه د قيامت د ورځې پورې احوال بيان فرمايلي وو	۱۰۸	د الله تعالى د رحمت سبقت	۱۰۸
انسان د کوم څيز نه جوړ دی	۱۰۹	د آدم د شکل په باره کې د ابليس خيال	۱۰۹
د حضرت ابرهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د ختنې ذکر	۱۱۰	په درېو شيانو کې د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ توريه	۱۱۱
پيغمبر عليه السلام په درې انبياو باندې تبصره کړې ده	۱۱۵	حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته بني اسرائيلو آذيت ورکړی وو	۱۱۷
د الله تعالى د نعمت قدر	۱۱۹	د مقابلې په طور يو نبي ته به بل نبي فضيلت مه ورکوئ	۱۱۹
د کوم کس خپل ځان افضل ګرځول ديونس عَلَيْهِ السَّلَامُ نه جائز نه دی	۱۲۲	د خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ د غلام حقيقت	۱۲۳

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ وجه د تسمیه	۱۲۳	حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ او د مرګ فرشته	۱۲۴
د انبیاء کرامو علیهم السلام حلیې	۱۲۶	ضرب : سپک او نرې بدن والا ته په عربی کې ضرب ویلی شي	۱۲۷
په شبِ معراج کې د انبیاو سره ملاقات او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د شرابو پیالې قبلولو نه انکار	۱۲۸	انبیاء د دې دنیا نه درخصتید و نه روسته هم د خیر اعمالِ کوي	۱۲۹
د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ ذکر	۱۳۱	دیوې ظالمې ښځې قصه	۱۳۱
حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ د سلو مجاهدینو پیدا کولو تمنا کوي	۱۳۳	کسب د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ سنت دی	۱۳۴
حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باهمي قرب او تعلق	۱۳۴	د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ فضیلت	۱۳۶
د باکماله ښځو ذِکر	۱۳۶	د تخلیق کائنات نه مخکې د الله تعالی وجود	۱۳۷
د سماوي نظام عجائبات	۱۳۸	د الله تعالی شان	۱۴۱
د عرش پورته کوونکو فرشتو جسامت	۱۴۲	دیدارِ الهي او حضرت جبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ	۱۴۳
اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ چې د کوم وخت نه پیدا دی د هغه وخت نه تیار ولاړ دی	۱۴۴	د فرشتو په مقابل کې د انسان قدر او قیمت	۱۴۴
فرشتو باندې د انسان فضیلت	۱۴۶	کوم کوم مخلوق په کومه ورځ پیدا شوی ذی	۱۴۶
د مخلوقاتو عجائب	۱۴۷	د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ قد	۱۵۱
د انبیاء کرامو علیهم السلام تعداد	۱۵۱	او ریدل دلیدلو په شان نه وي	۱۵۲
کتاب المناقب	۱۵۴	د رسولانو د سردار محمد مصطفی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فضائلو بیان	۱۵۵
د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خانداني او نسبي فضل او شرف	۱۵۵	د قیامت په ورځ د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرداري	۱۵۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
دپیغمبر علیه السلام دیو څو خصوصیاتو ذکر	۱۵۸	د جنت دروازه به د ټولو نه مخکې حضور صلی الله علیه وسلم د پاره خلاصه شي	۱۵۹
د ټولو نه مخکې به حضور صلی الله علیه وسلم شفاعت کوي	۱۶۰	دختم نبوت محل	۱۶۱
دپیغمبر علیه السلام د ټولو نه لویه معجزه قرآن کریم دی	۱۶۱	د حضور صلی الله علیه وسلم یو څو خصائص	۱۶۴
د حضور صلی الله علیه وسلم د پاره د خزانو چابیانې	۱۶۵	اجتماعي شکل باندې به دا امت نه ختمیږي	۱۶۶
د خپل امت د پاره د حضور صلی الله علیه وسلم دعا	۱۶۸	په تورات کې د حضور صلی الله علیه وسلم د اوصافو ذکر	۱۷۰
د مسلمانانو خپل منځي جنګونه	۱۷۲	اهل باطل اهل حق نشي ختمولی	۱۷۳
جهاد اُمت متحد ساتي	۱۷۴	د حضور صلی الله علیه وسلم نسلي او نسبي فضیلت	۱۷۵
ددې مطلب چې حضور صلی الله علیه وسلم د ټولو نه مخکې نبي جوړ شوی دی	۱۷۶	حضرت آمنې څه شئ لیدلی وو ؟	۱۷۷
د حضور صلی الله علیه وسلم خصائص	۱۷۹	حضور صلی الله علیه وسلم د الله تعالی حبیب دی	۱۷۹
د حضور صلی الله علیه وسلم اوچت شان	۱۸۱	حضور صلی الله علیه وسلم قائد المرسلین او خاتم النبیین دی	۱۸۳
د قیامت په ورځ د حضور صلی الله علیه وسلم عظمت او برتري	۱۸۳	د حضور صلی الله علیه وسلم د پاره د مقام وسیله دعاء	۱۸۵
په تورات کې د حضور صلی الله علیه وسلم او د امت محمدي د اوصافو ذکر	۱۸۷	عیسی علیه السلام به د حضور صلی الله علیه وسلم په خوا کې دفن کیږي	۱۹۰
د پیغمبر صلی الله علیه وسلم عمومي او کلي فضیلت	۱۹۱	پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ټولو باندې وزن داردی	۱۹۲
حضور صلی الله علیه وسلم باندې په هرحالت کې قرباني فرض وه	۱۹۴	باب اسماء النبي صلی الله علیه وسلم وصفاته	۱۹۵

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مختلف نومونه	۱۹۶	حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نوم د کنځلو نه محفوظ دی	۱۹۷
دپیغمبر علیه السلام د مخ ویخته او دنبوت مهر	۱۹۸	مهر نبوت تفصیل	۱۹۹
د حضور صلی الله علیه وسلم د قدو قامت وغیره ذکر	۲۰۱	حضور صلی الله علیه وسلم خضاب نه دی استعمال کړی؟	۲۰۶
د حضور صلی الله علیه وسلم ریښمي او عنبري بدن	۲۰۷	أم سلیم او ام حرام رضي الله عنهما د حضور صلی الله علیه وسلم محارمې وې	۲۰۷
د حضور صلی الله علیه وسلم حلیه	۲۱۰	د حضور صلی الله علیه وسلم جامع صفات	۲۱۱
د حضور صلی الله علیه وسلم د جسم خوشبو	۲۱۴	د نبي علیه السلام وجود مبارک د نمر په شان وو	۲۱۵
د سپوږمۍ نه زیات ښائسته وو	۲۱۵	ګویا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مخ کې نمر منډې وهي	۲۱۶
دنبي علیه السلام سترګي توري وې	۲۱۷	د حضور صلی الله علیه وسلم غاښونه مبارک	۲۱۸
د حضور صلی الله علیه وسلم څیره او که د سپوږمۍ ټکره	۲۱۸	د حضور صلی الله علیه وسلم سره د یهودو حسد	۲۱۹
د حضور صلی الله علیه وسلم د رحمتِ تحفه ده	۲۲۰	باب في اخلاقه وشمائله صلی الله علیه وسلم	۲۲۱
بې مثاله حُسن اخلاق	۲۲۱	بې مثاله تحمل او خوش اخلاقي	۲۲۳
د حضور صلی الله علیه وسلم شجاعت	۲۲۴	هیڅ کله یې یو سائل ته انکار نه دی کړی	۲۲۵
د حضور صلی الله علیه وسلم سخاوت	۲۲۶	خُلقِ نبوي صلی الله علیه وسلم	۲۲۶
دنبوي اخلاقو اعلیٰ نمونه	۲۲۷	دلیونو سره هم عظیم اخلاق	۲۲۸
د حضور صلی الله علیه وسلم د اخلاقو یو څو مثالونه	۲۲۹	حضور صلی الله علیه وسلم به خوله خلاصولو سره نه خندل	۲۳۰
د حضور صلی الله علیه وسلم د خبرو بهترین انداز	۲۳۱	هیڅ کله یې د چا نه ذاتي بدل نه اخسته	۲۳۲
حضور صلی الله علیه وسلم هیڅ کله څوک نه دی وهلی	۲۳۲	د خپل خادم سره د حضور صلی الله علیه وسلم سلوک	۲۳۳

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د حضور ﷺ اوصاف حمیده	۲۳۴	خپلي څپلي به يې په خپله ګنډلي	۲۳۵
دانسانانو سره د حضور ﷺ عمومي تعلق	۲۳۷	مصافحه او مواجهه او په مجلس کې د ناستي طريقه	۲۳۸
د حضور ﷺ خاموشي	۲۳۹	د حضور ﷺ د وينا انداز	۲۳۹
په شونډو مبارکو به يې اکثره مسکاوه	۲۴۰	د عظيم شفقت سره عظيم اخلاق	۲۴۱
د حضور ﷺ د لويو اخلاقو ظهور	۲۴۳	د حضور ﷺ د فقراو او غريبانو سره تعامل	۲۴۶
سلام په هغه چا باندې چې په بادشاهۍ کې يې فقيرې وکړه	۲۴۷	**باب المبعث وبدء الوحي**	۲۴۹
حضور ﷺ د ۴۰ کالو په عمر کې په نبوت سره مشرف شو	۲۵۰	د حضور ﷺ او د خلفاء اربعه عمر	۲۵۲
د وحي د شروع تفصيل	۲۵۳	د انقطاع نه روسته بيا وحي	۲۶۱
د وحي يو قسم	۲۶۲	د وحي د نزول په وخت د حضور ﷺ کيفيت او حالت	۲۶۴
د صفا په غر د دين اسلام اولنۍ دعوت	۲۶۵	د حق د دعوت په بدله کې د عمائدين قريش بدسلوکي او د هغوئ عبرتناک انجام	۲۶۷
غزوه احد کې د حضور ﷺ د زخمي کېدو ذکر	۲۷۵	د رسول الله ﷺ په لاس وژل شوی به د الله د ټولو نه سخت عذاب کې مبتلا وي	۲۷۶
د ټولو نه مخکي کوم سورت نازل شوی وو	۲۷۷	**باب علامات النبوة**	۲۷۹
د شق صدر واقعه	۲۷۹	رسول ﷺ ته د کاهنو سلام	۲۸۱
د شق قمر معجزه	۲۸۲	د الله تعالی د طرف نه ابو جهل ته تنبيه	۲۸۳
يو پيشنګوئي چې حرف په حرف پوره شوه	۲۸۴	د دين د پاره مشقتونه برداشت کول د ايمان ولاړ صفت دی	۲۸۷

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
يو خوب او پيشنګوئي	۲۸۸	د حضور ﷺ د فصاحت او بلاغت اثر	۲۹۱
د هرقل قصه	۲۹۳	**باب في المعراج**	۳۰۱
د معراج په واقعه باندې د ملحدينو اعتراضات	۳۰۳	د معراج د واقعې تفصيل	۳۰۵
د معراج د واقعې نور تفصيل	۳۱۸	د معراج ذکر	۳۲۳
د سدرة المنتهٰى ذکر	۳۳۱	د معراج په واقعه د قريشو اعتراضات	۳۳۳
بيت المقدس د حضور ﷺ مخې ته راوستل	۳۳۵	**باب في المعجزات**	۳۳۶
د معجزې لغوى او اصطلاحي تعريف	۳۳۷	د غار ثور سره متعلق د معجزې ظهور	۳۳۸
د هجرت د سفر په دوران کې د دښمن خلاف د معجزې ظهور	۳۳۹	د عبد الله ابن سلام د ايمان راوړلو واقعه	۳۴۳
د جنګ بدر او مقتولينو د بدر سره متعلق د معجزاتو ښکاره کيدل	۳۴۶	د حضور ﷺ دعا د جنګ بدر په ورځ	۳۴۹
په جنګ بدر کې د فرشتو نزول	۳۵۰	د اُحد په جنګ کې د فرشتو د مدد معجزه	۳۵۲
د ابو رافع د قتل په وخت کې د معجزې ښکاره کيدل	۳۵۳	غزوه احزاب کې د طعام معجزه	۳۵۴
د عمار ابن ياسر رضي الله عنه باره کښې پيشنګوئي	۳۵۸	حضور ﷺ د اقدامي جهاد پيشن ګوئي وکړه	۳۵۹
د فرشتو د مدد معجزې ښکاره کيدل	۳۶۰	د حضور ﷺ ګوتو مبارکو نه د اوبو وتلو معجزه	۳۶۱
د خولې د لاړو له برکته وچ کوهي د اوبو نه ډک شو	۳۶۲	د مشکيزې په اوبو کې د برکت معجزه	۳۶۳
د ونو د اطاعت معجزه	۳۶۵	د زخم متعلق معجزه ښکاره کيدل	۳۶۸
د ناديده واقعې خبر ورکولو واقعه	۳۶۹	د غزوه حنين معجزه	۳۷۰
زمونږ بهادر پيغمبر ﷺ	۳۷۴	د شګو په شيندلو کې د پيغمبر ﷺ معجزه	۳۷۶

مضمون	صفحه
په یو پیشنګوئي کې د معجزې اظهار	۳۷۷
د خوارج د فرقې سره متعلق پیشنګوئي کې د معجزې ظهور	۳۸۳
د ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کثیر الروایت کیدل د دعاء نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طفیل دي	۳۹۰
یو بدعائی کې د معجزې ښکاره کیدل	۳۹۳
د باران متعلق د معجزې ښکاره کیدل	۳۹۷
دروغ عذر بیانونکي د خپل لاس توانائي نه محروم شو	۴۰۱
کهجورو کې د معجزې ښکاره کیدل	۴۰۳
په طعام کې د برکت معجزه	۴۰۷
تبوک کې د طعام د برکت معجزه	۴۱۶
د اوښ سره متعلق معجزه	۴۲۰
د مصر د فتح پیشنګوئي	۴۲۴
نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د نبوت ملاویدو مخکې د نبوت ملاویدو اشارې	۴۲۶
د یو اوښ او هلک متعلق د معجزې ښکاره کیدل	۴۳۱
د ونې متعلق د معجزې ظهور	۴۳۵
د کهجورو د خوشې متعلق د معجزې ظهور	۴۳۷
د طعام د کاسې متعلق د معجزې ښکاره کیدل	۴۴۰
په یوې پیشنګوئی سره د معجزې ښکاره کیدل	۴۴۲
غزوه حنین کې د فتح د پیشنګویې ذکر	۴۴۵
د غار ثور متعلق د معجزې ښکاره کیدل	۴۵۰

مضمون	صفحه
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې د سحر جادو کولو واقعه	۳۷۹
د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مور د اسلام راوړلو کې د معجزې ظهور	۳۸۸
د حضرت جریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې دعاء	۳۹۲
په اخبار بالغیب کې د معجزې ښکاره کیدل	۳۹۵
حنانه ستن کې د معجزې ښکاره کیدل	۴۰۰
په یوې سورلۍ کې د معجزې ظهور	۴۰۲
د غوړو د مشکیزې متعلق یوه معجزه	۴۰۵
ګوتو مبارکو نه د اوبو وتلو معجزه	۴۱۱
د ام المؤمنین بي بي زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ولیمه کې د برکت معجزه	۴۱۸
د غزوه تبوک په موقع دوه نورې معجزې	۴۲۲
یوې پیشن ګوئي کې د معجزې ظهور	۴۲۵
د براق متعلق معجزه	۴۳۰
دیوبل هلک شیطاني اثر نه د نجات پیدا کولو معجزه	۴۳۴
د ونې متعلق یوه معجزه	۴۳۶
د شرمخ دویلو معجزه	۴۳۸
د جنګ بدر متعلق د معجزې ظهور	۴۴۱
د زهرونه ککړې غوښې متعلق د معجزې ظهور	۴۴۳
خورماوو کې د برکت معجزه	۴۴۸
د خیبر د یهودیانو متعلق معجزه	۴۸۲

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
قیامته پورې د پېښېدونکو تمامو اهمو واقعاتو او حوادثو خبر ورکولو معجزه	۴۵۴	د جنګ بدر د مقتولینو متعلق د معجزې ظهور	۴۵۵
د نابینا کېدلو متعلق د پیشن ګوئي معجزه	۴۵۸	د دروغو حدیث بیانونکی باره کې عذاب	۴۵۹
برکت معجزه	۴۶۰	مشتبه طعام د حلق نه خکته نه شو	۴۶۰
د ریمې وغیره حکم	۴۶۲	دام معبد رضي الله عنها بزې (چیلې) سره متعلق دیوې معجزې ظهور	۴۶۳
د ام معبد رضي الله عنها په واقعې باندې د غیبی هاتف منظوم کلام	۴۶۷	باب الکرامات	۴۶۹
د دوه صحابه کرامو کرامت	۴۶۹	دجابر رضي الله عنه پلار چې څه ویلي ؤ هغه شان وشو	۴۷۰
په طعام کې د زیات والي کرامت	۴۷۱	د نجاشي په قبر د نور کرامات ظاهر شو	۴۷۴
جسد اطهر ته غسل ورکونکو ته د غیب نه رهنمایي	۴۷۴	د حضور صلی الله علیه وسلم د آزاد کرده غلام سفینه رضي الله عنه کرامت	۴۷۵
د حضور صلی الله علیه وسلم د روضې نه کرامت ظاهر شو	۴۷۷	د روضه اطهر نه یو بل کرامت ښکاره شوی ده	۴۷۸
د حضرت انس رضي الله عنه نه کرامت ښکاره شو	۴۸۰	د حضرت سعید ابن زید رضي الله عنه کرامت	۴۸۰
د حضرت عمر رضي الله عنه کرامت	۴۸۲	د حضرت کعب احبار رضي الله عنه کرامت	۴۸۴
باب وفات النبي صلی الله علیه وسلم	۴۸۵	د نبی مکرم علیه السلام د وفات تاریخی پس منظر	۴۸۵
د حضور صلی الله علیه وسلم په راتګ باندې د اهل مدینو خوشحالی	۴۸۶	صدیق اکبر رضي الله عنه د ټولو نه زیات علم والا وو	۴۸۷
آخري مونځ او آخري خطاب	۴۸۹	د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ژوند مبارک وروستني لمحات	۴۹۰
انبیاء ته د مرګ نه مخکي اختیار	۴۹۲	د حضور صلی الله علیه وسلم په وفات باندې د بي بي فاطمه رضي الله عنها غم	۴۹۳

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
داهل مدينه لپاره دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د راتګ خوشحالي او د وفات غم	۴۹۵	د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتدفين ځاى د الله تعالى خوښ وو	۴۹۶
د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند آخرنۍ خبره	۴۹۷	مرض وفات کې د زهرو اثرښکاره شو	۴۹۸
د حديث قرطاس قصه	۴۹۹	خلفاء راشدينو د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د متعلقينو خيال ساتلو	۵۰۴
په منبر نبوى باندې د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخرنۍ خطبه	۵۰۵	بي بي فاطمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل وفات كيدو خبر وركړى وو	۵۰۷
مرض وفات کې د حضرت ابوبكر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خلافت باره كښې وصيت	۵۰۸	د مرض وفات ابتداء	۵۱۰
دوصال نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته د حضرت خضر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ تعزيت	۵۱۱	**باب تركة النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**	۵۱۶
حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هيڅ مالى وصيت نه دى كړى	۵۱۶	حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جهادى اسلحې نه علاوه هيڅ تركه [ميراث] دى پرېخى	۵۱۶
د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تركي کې ميراث نه چليږي	۵۱۷	د نبي عليه السلام په تركه کې ميراث نه جاري كيږي	۵۱۸
د امت نه مخكې د نبي وفات د امت لپاره بهتروي	۵۱۸	ذات رسالت سره په امت کې د عقيدت او محبت پيشنګوئي	۵۱۹
باب مناقب قريش وذكر القبائل	۵۲۱	په قيادت او سيادت کې د قريشو فضيلت	۵۲۱
قريش سرداران دي	۵۲۲	د خلافت حق قريشو ته حاصل دى	۵۲۳
د امير اطاعت د نفاذ شريعت سره مشروط ده	۵۲۳	قريشو نه د دولس خلفاوو د راتګ مطلب	۵۲۴
د څو عربو د څو قبائلو ذكر	۵۲۵	د څو قبايلو فضيلت	۵۲۶
د بنوتميم درې خصوصيات	۵۲۷	د قريشو بي عزتي مه كوئ ذليله به شى	۵۲۷
د قريشو په حق کې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دُعاء	۵۲۸	د اشعريه قبيلې فضيلت	۵۲۸

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
أزد أزدُ الله دي [یعني دالله لښکر دی]	۵۲۹	د دري قبیلو باره کې د حضور ﷺ دنا خوښئ اظهار	۵۳۰
د ثقیف بدي او دحجاج احوال	۵۳۰	د ثقیف لپاره د هدایت دُعاء	۵۳۳
قبیلهٔ حمیر دپاره دُعاء	۵۳۴	ابوهریره رضي الله عنه او د هغوی قبیله دوس	۵۳۵
د عربو سره بغض او عداوت د ایمان زوال دی	۵۳۵	د عربو سره دوکه کول لوی جرم دی	۵۳۶
د عربو تباهي د قرب قیامت نښه ده	۵۳۷	د عربو په قبائلو باندې د مناصبو تقسیمول	۵۳۸
د قریشو باره کې یو حکم	۵۳۸	د حجاج بن یوسف ظلم او د حضرت اسماء جرأت	۵۳۹
په عام شورش کې د شرکت کولو نه د عبدالله بن عمر رضي الله عنه انکار	۵۴۳	د قبیله دوس په حق کې دُعاء	۵۴۴
د عربو سره د محبت کولو وجه	۵۴۵	باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم	۵۴۶
صحابو ته د کنځلو کولو شرعي حکم	۵۴۷	دصحابه کرامو رضي الله عنهم وجود د امت لپاره رحمت دی	۵۴۹
دصحابو رضي الله عنهم په برکت سره علاقې فتحه کیدلې	۵۵۰	د دریم قرن نه وروسته به فساد راشي	۵۵۳
دصحابو رضي الله عنهم تعظیم او تکریم په امت باندې لازم دی	۵۵۴	دصحابو او تابعینو فضیلت	۵۵۶
دصحابو سره بغض او محبت د رسول الله ﷺ سره د بغض او محبت نتیجه ده	۵۵۶	صحابه کرام رضي الله عنهم د اُمت لپاره په منزله د مالګې دي	۵۵۷
د قیامت په ورځ چې کوم صحابي د کوم ځایه پورته کیږي د هغه ځای خلک به جنت ته بوځي	۵۵۷	صحابه کرامو رضي الله عنهم ته بدویونکي مستوجب لعنت دی	۵۵۸
په خپل مینځ کې د اختلاف باوجود د صحابو اقتداء د هدایت ذریعه ده	۵۵۸	باب مناقب ابي بکر رضي الله عنه	۵۶۱
د حضرت ابوبکر رضي الله عنه مقام	۵۶۲	حضرت ابوبکر رضي الله عنه افضل دصحابو و	۵۶۴

مضمون	صفحه
دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په حق کې دخلافت وصيت	۵۶۵
خلقو کې دټولو نه زيات محبت دنبي عليه السلام دابوبکر رضي الله عنه سره و	۵۶۷
صحابه کرامو رضي الله عنهم د ابوبکر صديق رضي الله عنه دافضليت اقرارکړی وو	۵۶۹
د حضرت عمر رضي الله عنه اعتراف	۵۷۱
ابوبکر صديق رضي الله عنه د امت امام دی	۵۷۱
صديق رضي الله عنه ته د نجات پروانه ملاو شوي ده	۵۷۲
دنبي عليه السلام نه وروسته بدټولو نه مخکې اول ابوبکر رضي الله عنه جنت ته داخليږي	۵۷۳
باب مناقب عمر رضي الله عنه	۵۷۹
دحضرت عمر رضي الله عنه مخې ته شيطان نشي راتلی	۵۸۱
ددين په اعتبار سره د حضرت عمر رضي الله عنه شان	۵۸۵
دحضرت عمرفاورق رضي الله عنه متعلق دحضور صلی الله عليه وسلم يو خوب	۵۸۷
پيغمبر صلی الله عليه وسلم حضرت عمر رضي الله عنه د الله پاک نه غوښتی وو	۵۹۰
دحضرت عمر رضي الله عنه انتهائي منقبت	۵۹۱
جلال فاروقي رضي الله عنه	۵۹۴
هغه څلور خبري چې هغې کي حضرت عمر رضي الله عنه ته فضيلت حاصل شو	۵۹۷

مضمون	صفحه
دحضرت صديق اکبر رضي الله عنه خلاف طرف ته واضحه اشاره	۵۶۶
دابوبکر صديق رضي الله عنه دافضليت شهادت دحضرت علي رضي الله عنه دژبې نه	۵۶۸
پيغمبر عليه السلام د صديق احسان دټولو نه زيات ښودلی دی	۵۷۰
د صديق رضي الله عنه يو اعزاز	۵۷۱
دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه بل څوک نشي اوچتيدلی	۵۷۱
دنبي عليه السلام نه روسته به ابوبکر صديق رضي الله عنه دټولونه مخکې دقبرنه پورته کيږي	۵۷۳
دحضرت ابوبکر رضي الله عنه دوه عملونه چې دنور ژوندپه ټولو اعمالو باندي درانه دي؟	۵۷۴
حضرت عمر رضي الله عنه مُلهَم او محدَّث وو	۵۸۰
په جنت کي دعمر رضي الله عنه محل	۵۸۴
دحضرت عمر رضي الله عنه علمي بزرګي	۵۸۶
دحضرت عمر رضي الله عنه په ژبه او زړه د حق ښکاره کيدل	۵۸۹
د آسمان د لاندي عمر رضي الله عنه دټولو نه افضل دی	۵۹۱
دحضرت عمر رضي الله عنه رعب اودبدبه	۵۹۲
دعمر رضي الله عنه موافقات	۵۹۶
حضرت عمر رضي الله عنه به جنت کي بلند ترين مقام پيداکوي	۵۹۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
نیکو کارونو کي دعمر رضي الله عنه چستي	٦٠٠	دحضرت عمر رضي الله عنه شهادت	٦٠١
باب مناقب ابي بکرو عمر رضي الله عنهما	٦٠٥	د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم په صديق او عمر رضي الله عنهما باندي اعتماد	٦٠٥
ابوبکر او عمر رضي الله عنهما به د جنت سرداران وي	٦٠٨	دحضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه خلافت طرف ته اشاره	٦٠٩
دحضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه يو بل خصوصيت	٦٠٩	دوه وزيران په اسمان کي او دوه په ځمکه کي	٦١١
د خلافت علی منهاج النبوة موده	٦١١	دحضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د جنتي کيدو بشارت	٦١٢
د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه نيکی	٦١٣	**باب مناقب عثمان رضي الله عنه**	٦١٤
حضرت عثمان رضي الله عنه دحضور صلى الله عليه وسلم رفيق جنت دی	٦١٧	دجهاد په لار کي مالي قرباني	٦١٨
دعثمان رضي الله عنه ايثار او قرباني	٦٢٠	دحضرت عثمان رضي الله عنه بيعت رضوان اعزاز	٦٢٠
دارپه واقعه کي دعثمان رضي الله عنه جرأت	٦٢١	حضرت عثمان رضي الله عنه په حق باندي ؤ	٦٢٥
د خلافت نه پريخودل	٦٢٦	زه به صبر کوم	٦٢٧
يو مصري ته دابن عمر رضي الله عنه خوله ماتوونکي جواب	٦٢٧	ځان يي ورکړو خود حضور صلى الله عليه وسلم دوصيت نه يي انحراف ونه کړو	٦٢٩
دحضرت عثمان رضي الله عنه د اطاعت حکم	٦٣٠	**باب مناقب هؤلاء الثلاثة رضي الله عنهم**	٦٣١
دريواړو خلفاؤ ته د جنت بشارت	٦٣١	دري واړو ته د جنت بشارت	٦٣١
زمانه نبوت کي د دې دري واړو ذکر په کوم ترتيب سره کيده	٦٣٣	دخلفاء ثلاثه رضي الله عنهم دخلافت ترتيب خلافت غيبي اشاره ده	٦٣٣
باب مناقب علي بن ابي طالب رضي الله عنه	٦٣٥	له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په قرب منزلت کي تشبيه	٦٣٧

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د حضرت علي رضي الله عنه سره محبت د ایمان نښه ده	٦٣٩	د غزوه خیبر په ورځ د حضرت علي رضي الله عنه اعزاز	٦٤١
د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د حضرت علي رضي الله عنه کمال قرب حاصل ؤ	٦٤٤	زه چه د چا محبوب یم علي د هغه محبوب دی	٦٤٤
زما معاهدات به حضرت علي رضي الله عنه پوره کوي	٦٤٥	حضرت علي رضي الله عنه د الله محبوب ؤ	٦٤٦
حضرت علي رضي الله عنه د علم دروازه وه	٦٤٧	خصوصي فضیلت	٦٤٨
د پیغمبر علیه السلام د حضرت علي رضي الله عنه سره خاص محبت	٦٤٩	حضرت علي رضي الله عنه سره محبت د ایمان نښه ده	٦٥٠
حضرت علي رضي الله عنه ته کنځل کول حضور صلی الله علیه وسلم ته کنځل کول	٦٥٠	د حضرت علي رضي الله عنه یو مثال او یوه پیشنګویي	٦٥١
د غدیر خم واقعه	٦٥٢	د فاطمې رضي الله عنها سره د حضرت علي رضي الله عنه نکاح	٦٥٤
مسجد کي د حضرت علي رضي الله عنه دروازه	٦٥٥	د قربت او بې تکلفي خصوصي مقام	٦٥٦
باب مناقب العشرة المبشرة رضي الله عنهم	٦٥٨	د حضرت عمر رضي الله عنه نه وروسته د خلافت قابل خلک	٦٥٨
د حضرت طلحه رضي الله عنه جانثاري	٦٥٩	د حضرت سعد رضي الله عنه فضیلت	٦٦٠
د الله په لار کي د ټولو نه مخکي تیر حضرت سعد رضي الله عنه چلولی و	٦٦٠	د حرا په غر باندي نبي او شهیدان	٦٦٢
د عشره مبشرو ترتیب	٦٦٣	د ښو صحابو د خصوصي امتیازاتو ذکر	٦٦٣
حضرت طلحه رضي الله عنه د پاره د جنت بشارت	٦٦٤	د حضرت طلحه رضي الله عنه فضیلت	٦٦٥
د حضرت سعد رضي الله عنه فضیلت او خصوصیت	٦٦٦	د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ماما	٦٦٧
اسلام کي د ټولو نه اولنی تیر حضرت سعد رضي الله عنه وچلوه	٦٦٧	د حضرت عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه مالي قرباني	٦٧٠

مضمون	صفحه
د حضرت ابو عاوده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	٦٧٢
د ځلورو خلفاؤ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فضائل	٦٧۴
د مباهلې دعوت	٦٧٧
ابراهيم بن محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شان	٦٧٨
چاچي فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم	٦٨٢
د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لقب	٦٨۴
حضرت حسن سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعلق داري	٦٨۴
رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د حسنينو جسماني مشابهت	٦٨٧
سيدنا ابن عباس ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دُعاء	٦٨٧
کتاب الله او زما اهل بيت مظبوط ونيسئ	٦٩٠
د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او بي بي فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ محبت	٦٩١
د حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او اولاد عباس د پاره دُعاء	٦٩٣
د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کُنيت	٦٩۴
حسن او حسين ځما د دنيا دوه ګلان دي	٦٩۵
د اُم سلمه خوب او د حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت	٦٩٦
د حسنينو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مشابهت	٦٩٨
ښه سورلي ښه سور	٧٠٠
د زيد بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	٧٠١
حضرت حسن د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ډير مشابه وو	٧٠٦

مضمون	صفحه
د خلافت لپاره موزون ترين صحابه	٦٧٣
باب مناقب اهل بيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	٦٧٦
د اهل بيت ولادت يو بل اطلاق	٦٧٨
د بي بي فاطمي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فضيلت	٦٧٩
کتاب الله او اهل بيت مظبوط ونيسئ	٦٨٢
حضرت حسن او حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فضيلت	٦٨۴
حسن او حسين ځما د دنيا دوه ګلان دي	٦٨٦
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره د علم او حکمت دعاء	٦٨٧
د حضرت اسامه بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	٦٨٨
د ځلورتنو دښمن ګويا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دښمن دی	٦٩١
د حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	٦٩٣
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د عطائي حکمت دُعاء	٦٩۴
د جنت د ځوانانو سردار	٦٩۵
حسين سره محبت او تعلق	٦٩٦
د حسنينو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محبت	٦٩٧
د بي بي فاطمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حسنينو فضيلت	٦٩٩
د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	٧٠٠
د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره محبت	٧٠٣
د قاتل حسين حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او يزيد حيثيت د ابن زياد بدبختي	٧٠٧

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د يزيد په باره کې د روح المعاني صاحب علامه آلوسی رحمه الله تحقيق	۷۰۹	د شهادت حسين رضي الله عنه سره متعلق يو خوب او يو پيشنګوئي	۷۱۳
شهادتِ حسين رضي الله عنه او د ابن عباس رضي الله عنه خوب	۷۱۵	د الله او رسول صلى الله عليه وسلم او د اهل بيتو سره محبت وساتئ	۷۱۷
اهلِ بيتو مثال دنوح کشتۍ پشان دی	۷۱۷	باب مناقب ازواج النبي صلى الله عليه وسلم	۷۱۹
د ازواج مطهرات تعداد او نومونه	۷۱۹	د ازواجو د تعدد حکمت	۷۲۰
د خديجة الكبرى رضي الله عنها فضيلت	۷۲۲	د بي بي عائشي رضي الله عنها فضيلت	۷۲۴
د بي بي عائشي رضي الله عنها باره کې د حضور صلى الله عليه وسلم خوب	۷۲۵	د ازواجو مطهراتو رضي الله عنهن دوه ډلې	۷۲۶
ددنيا په ښځو کې افضل ترين ښځې	۷۲۹	د بي بي عائشي رضي الله عنها فضيلت	۷۳۰
د بي بي صفيه رضي الله عنها فضيلت	۷۳۰	فاطمه رضي الله عنها د جنت د ښځو سرداره ده	۷۳۱
د بي بي عائشي رضي الله عنها علمي فضيلت	۷۳۱	د بي بي عائشي رضي الله عنها نه زيات فصيح مو هيڅوک نه دی ليدلی	۷۳۲
باب جامع المناقب	۷۳۳	د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه فضيلت	۷۳۳
د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فضيلت	۷۳۳	هغه څلور صحابه رضي الله عنهم چې هغوئ نه د قرآن د زده کولو حکم وو	۷۳۵
د ابن مسعود رضي الله عنه عمار رضي الله عنه او حذيفه رضي الله عنه فضيلت	۷۳۵	د حضرت بلال رضي الله عنه او د ام سليم رضي الله عنها فضيلت	۷۳۶
کوم مسلمان ته به د حقارت په نظر سره نشي کتلی	۷۳۶	د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه خوش اوازي	۷۳۷
د قرآن حافظان صحابه رضي الله عنهم	۷۳۸	د مصعب بن عمير رضي الله عنه فضيلت	۷۳۸
د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه فضيلت	۷۳۹	د حضرت انس رضي الله عنه په حق کې مستجابه دعاء	۷۴۰
د حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه فضيلت	۷۴۱	د حضرت عبد الله بن سلام رضي الله عنه خوب او هغه ته د جنت بشارت	۷۴۲

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د ثابت بن قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۴۳	د حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۴۴
د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې محبوبيت دُعاء	۷۴۶	د کمزورو مسلمانانو شان	۷۴۶
په څو احاديثو کې د انصارو فضيلت	۷۴۷	د انصارو فضيلت	۷۴۹
د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په فراق باندې د انصارو ژړا	۷۵۳	د حاطب بن ابي بلتعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت او قصه	۷۵۵
په بدر کې د شريکو صحابو شان	۷۵۹	د بيعت الرضوان فضيلت	۷۶۰
د شيخينو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۶۳	ديو څو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مخصوص فضائل	۷۶۴
هغه دري صحابه چې جنت د هغوئ مشتاق دی	۷۶۶	د حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۶۶
د حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۶۶	د حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنازې ته فريښتې راغلې وې	۷۶۷
د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۶۸	دعلم څلور اوچتې منارې	۷۶۹
د حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۶۹	د حضرت محمد بن مسلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۰
د عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۰	حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۱
د عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۱	دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهيد والد فضيلت	۷۷۲
دبراء بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۳	د اهل بيتو او انصارو فضيلت	۷۷۴
د اهل بدر حديبيه فضيلت	۷۷۵	د سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۷۶
د اهل عجمو فضيلت	۷۷۶	د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نجباء او رفقاء	۷۷۷
دحضرت عمار بن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان	۷۷۸	د حضرت خالد سيف الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان	۷۷۹
د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت	۷۸۰	د حضرت ابوطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دهغه د ښځې عجيبه قرباني	۷۸۰
دټولونه زيات شهيدان د انصارو وو	۷۸۳	د بدر والاو عطايا	۷۸۴
د اهل بدر د څو صحابه کرامو نومونه چې په بخاري شريف کې ذکر دي	۷۸۴	د اهل بدر تعداد	۷۸۵

مضمون	صفحه
د اصحاب بدر د نومونو خواص	۷۸۵
د ځو مخصوصو بدرينو نومونه	۷۸۶
د حضرت اويس قرني رَحِمَهُ اللهُ فضيلت او شخصيت	۷۸۷
د کفر (مشري) مشرق طرف ته ده	۷۹۱
سنګدلي او بدزباني مشرق والو کې ده	۷۹۲
د شام فضيلت	۷۹۳
په شام باندې لعنت مه وائي دا د ابدالو مسکن دی	۷۹۶
د دمشق ذکر	۷۹۸
ملحمة الكبرى به په دمشق او غوطه کې قائمیږي	۸۰۰
باب ثواب هذه الامة	۸۰۱
يو جماعت به په حق باندې تر قيامت پورې قائم وي	۸۰۴
د امت محمديه حال	۸۰۶
د يو جماعت باره کې پيشنګوئي	۸۰۸
د طائفه منصوره فضيلت	۸۱۰
د امت محمديه لوی فضيلت	۷۱۲
په مکه مکرمه کې د توضيحات د تکميل اختتامي کلمات	۸۲۲
د صاحب مرقات ملا علي قاري رحمه الله اختتامي کلمات	۸۲۳

مضمون	صفحه
اسماء بعض بدريين	۷۸۵
باب ذكر اليمن والشام وذكر اويس القرني	۷۸۷
د اهل يمن فضيلت	۷۹۰
د فتنو ځای مشرق دي	۷۹۱
د شام او يمن لپاره دعاء	۷۹۲
په شام، عراق، او يمن کې د اوسيدو دپاره کوم ځای بهتر دي	۷۹۵
ابدال څوک دي او ددوي حقيقت څه دي	۷۹۷
خلافت په مدينه کې او ملوکيت په شام کې	۷۹۹
يو غير معلومه پيشنګوئي	۸۰۰
د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زماني نه روسته د اهل ايمانو فضيلت	۸۰۳
د امت محمديه مثال د زرخيزه باران په شان دی	۸۰۵
د ايمان بالغيب په اعتبار سره د امت فضيلت	۸۰۷
د هغه امتيانو فضيلت چې ناديده هغوئ په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايمان راوړي وو	۸۰۹
دې امت ته خطا او نسيان معاف دي	۸۱۱
خاتمه مسك	۸۱۶
د صاحب مشکوة اختتامي کلمات	۸۲۳
ترجمة الاكمال في اسماء الرجال يعني حالات صحابه و صحابيات رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ	۸۲۴

بسم الله الرحمن الرحيم

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ
وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ
عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ٥
اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى
اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى
اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ
اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ٥

باب صفة الجنة واهلها

دجنت او د جنتیانو د حالاتو بیان

قال الله تعالى: ﴿ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ الْمُقَرَّبِينَ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ وَجَنَّةُ نَعِيمٍ ﴾

جنت د باغ په معنی سره دی ، جیم او نون مشدد دي په دې کې د ستر او پټوالي معنی ده ، ددې نه ده جن او جنات ، ددې نه جنین او جنون راغلی او ددې نه جنان په معنی د زړه سره دی . جنت ته د دوو وجو نه جنت وايي ، يوه وجه داده چې دا الله تعالى په باغونو او ونو کې پټ ساتلی ، او دويمه وجه دا ده چې دا الله تعالى د خلکو د سترګو نه پټ ساتلی دی تر څو د غیب په پرده کې پاتې شي او په دې باندې ایمان بالغیب قائم او دائم پاتې شي . جنت او دوزخ دواړه الله تعالى تیار کړي دي ، د حشر نشر او حساب کتاب نه وروسته کامیاب انسان په جنت ته ځي او ناکام به دوزخ ته ځي . ګویا جنت د راحتونو د مجموعې لپاره نوم دی ، او جهنم د تکلیفونو د مجموعې لپاره نوم دی ، جنت د الهی محبوبینو لپاره د میلمستیا کور دی او دوزخ د مغضوبینو لپاره بندیخانه ده . انسان چونکه په طبعی طور باندې هغه شی کې رغبت لري کوم چې محسوس مادی او طبعی وي لهذا الله تعالى د انسان د ترغیب لپاره د خپلې رضا او خوشحالۍ سره د جنت مادی نعمتونه پیش کړي دي کوم چې انساني طبعیت یې زر فهمولی شي ، مثلاً که ورته وویل شي چې تا ته به حوري درکولی شي ، غلامان به میلاویږي ، د انارو او مڼو او انګورو باغونه میلاویږي ، د شودو (پیو) ، شهدو ، شرابو او صفا اوبو نهرونه میلاویږي نو دا انسان ژر فهمولی شي . ددې په مقابله کې د الله تعالى رضا او خوشحالي په دغه شان جذباتی انداز سره نه شي فهمولی الا ماشاء الله .

ددې مثال د يو زوی او د هغه د پلار دی ، کچیرې پلار بچي ته دا ووايي چې بچیه سکول ووایه! چې کله تا سکول ووایه او کامیاب شوې نو ته به د صحت ماشوم جوړ شې ، ډاکټر او پروفیسر به جوړ شې ، فلانی او فلانی سرکاری عهده (وظیفه) به حاصله کړې ، په دې خبرو ماشوم نه پوهیږي . لیکن که دغه بچي ته پلار ووايي چې بچیه سبق ووایه ، تعلیم حاصل کړه ، چې کله ته کامیاب شوې نو زه به تا ته کوټ پتلون او بوټان واخلم ، جوړه او سوټ به درته راوړم او موټر به درکړم ، ددې په اوریدلو سره به بچی مکمل طور باندې متوجه شي نو په دې طریقه ماشوم بهتر پوهیږي او په شوق سره محنت کوي ، ځکه دغه شیان د بچي د طبعیت د غوښتنې مطابق دي ، بلکل د جنت معامله د الله تعالى له طرفه د انسانانو سره همدا سې ده ، دا ظاهري ترغیبات دي او اصل حقیقت او اصل جنت خو حصول د رضاء الهی دی . ورضوان من الله اکبر . الله اکبر کبیرا والحمد لله کثیرا وسبحان الله بکرة واصیلا .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د جنت فضيلت

﴿۱﴾ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللهُ تَعَالٰى
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله تعالى فرمايي ما تيار کړي
أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ
دي د خپلو نيکو بندګانو د پاره هغه شي چي تر ننه پوري نه يوې سترګې هغه شان شي ليدلى دى نه يو غوږ
سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ
هغه شان اوريدلى دى او نه ديو انسان په زړه کې د هغه تصور راغلى دى که تاسو د دې خبرې تصديق کول
وَاقْرَءُوْا إِنْ شِئْتُمْ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُمْ مِّنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]
غواړئ نو دا آيت ووائي هيڅ سړي ته نه دى معلوم هغه شيان چي د دوى دسترګو د يخوالي لپاره پټ ساتلى شوي دي.

توضيح: **مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ**: يعني کومې سترګې د هغه نعمت ذات په محسوسه طريقه باندې نه دى ليدلى بلکه د هغه حسين صورت پټ دى، **وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ**: يعنې نه کوم غوږ د هغه حقيقي صفت اوريدلى دى او نه د هغه ځاى ښايسته آواز نه په غوږونو لګيدلي دي.

وَلَا خَطَرَ: يعنې نه د هغه اصلي ماهيت او د عيش او عشرت تصور د چا په زړه باندې تير شوى دى، مطلب دا دى چې په دنيا کې د جنت اصلي نعمتونو ته نه څوک رسيدلى شي، نه په هغه باندې چاته احاطه شته، هو! هلته د ورتلو نه وروسته دا هر څه ښکاره شي.

قُرَّةِ أَعْيُنٍ: يعنې د سترګو کوم يخوالى چې الله تعالى د جنتيانو لپاره تيار کړى دى دا صرف د سترګو يخوالى نه دى بلکه دا يخوالى د هر قسم عيش او عشرت او خوشحالۍ نه کنايه ده، ګويا د جنت ولاو ته به د زړه او ځان قرار حاصل شي لکه يو ستړى او کمزورى مسافر چې کور ته په رسيدلو سره آرام حاصلوي. يو چا ډير بهتر ويلي:

فألقت عصاها واستقر بها النوى   كما قر عينا بالأياب المسافر

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۱۸ رقم الحديث ۳۲۴۴ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۷۳ رقم الحديث (۲۸۲۴-۲)

د جنت عظمت او قيمت

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په جنت کې د يوې کوړې
خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]
برابر ځاي هم د دنيا او څه چې دنيا کې دي د ټولو نه بهتر. [بخاري او مسلم]

توضيح: (موضع سوط) يعنې د يوې کوړې برابر ځاى به د دنيا او مافيها نه بهتروي. د دې وجه داده چې د جنت هر نعمت هميشه دى او د دنيا هر نعمت فاني دى، نو فاني نعمت د باقيا و دائمي نعمت مقابله نه شي کولى. حضرت لبيد رضي الله عنه بهتر فرمايلي دي:

الا كل شئ ماخلا الله باطل وكل نعيم لامحالة زائل

د جنت نه مراد د الله تعالى رضامندي او خوشحالي ده، جنت د الله تعالى د رضامندئ مجموعه ده، چې کله د الله تعالى رضاء **ملاو شي** نو د باقى نعمتونو به څه وايې! د جنت نعمتونه او د هغى حاصلول الله تعلى لره الفوز الكبير دى لکه (ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ).

ياد ساتل پکار دي چې جنت يو دى مګر د هغه درجې او طبقې او دروازې اته دي. د هرې طبقې بيل بيل نوم دى مثلا: (۱) جنت المأوى (۲) دار المقام (۳) دار السلام (۴) دار الخلد (۵) جنة النعيم (۶) جنة الفردوس (۷) جنة عدن (۸) طوبى.

د جنت د حورو صفت

﴿۳﴾ وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدْوَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايل په سهار او مابنام کې يو ځل د الله!
اَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ اَنَّ امْرَاَةً مِّنْ نِسَاءِ اَهْلِ الْجَنَّةِ
په لار کې وتل د دنيا او د دنيا د ټولو څيزونو نه بهتر دى او کچيرې د جنتيانو نه د چا ښځه د ځمکې
اِطَّلَعَتْ اِلَى الْاَرْضِ اَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَاَتْ مَابَيْنَهُمَا
طرف ته يو نظر سره وګوري د مشرق او مغرب منځ روښانه او رڼا کړي او د مشرق نه واخله مغرب پورې به ټوله فضاء

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۵ رقم الحديث ۲۷۹۶ والترمذي في السنن ۲۱۶/۵ رقم الحديث ۳۰۶۳

رِيْحًا وَّلَنَصِيْفُهَا عَلٰى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِّنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [1]

د خوشبوې نه ډکه کړي او د هغې د سر يو ټکی دادر د دې دنيا او د دنيا د ټولو څيزونو نه بهتر دی. [بخاري]

توضیح: نَصِيْفُهَا: يعني صرف په سر باندې يې چې کومه وړه لوپټه وي هغه به د دنيا و مافيها نه افضل وي. په ټول بدن باندې خوره شوې لوپټه خو به يې ډيره زياته اعلی وي، د دنيا شيان فاني دي او دا لوپټه باقي شوې ده په دغه وجه بهتره ده. د جنتي ښځو د حسن کتلو لپاره به داسې سترګې هم ورکړې شي چې هغه شعاع ګانې برداشت کړی شي.

د جنت د يوې ونې ذکر

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې يوه ونه ده که يو

يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فِيْ ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ لَّا يَقْطَعُهَا

سور کس د هغه ونې سوري کې سل کاله روان وي بيا هم د هغه سوري مقدار به ختم نشي او په

وَ لَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِّمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ

جنت کې ستاسو د ليندی کمان برابر ځای د هغه ټولو څيزونو نه بهتر او اعلی دی چې په هغه نمر

الشَّمْسُ أَوْتَغْرُبُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [2]

راخيژي يا پريوځي. [بخاري مسلم]

توضیح: الراکب: يعني دومره غټه ونه به وي چې تيز اس زغلونکی به د هغې په سوري کې سل کاله سفر وکړي بيا به هم د ونې سوري ختمه نشي، وايي دا به د طوبی ونه وي چې د هغې يو يو شاخ به د هر جنتي کور ته رسيدلی وي.

قاب قوس: دا لفظ (قاب) هم دی (قيب) هم دی (قاد) هم دی (قيد) هم دی د ټولو معنی مقدار ده ای مقدار قوس. د ليندې برابر ځای مراد دی. دومره ځای د دنيا او د مافيها نه ځکه بهتر دی چې دا دائمي دی او دنيا فاني ده.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۳۱۸ رقم الحديث ۶۵۶۸ ومسلم في صحيحه رقم الحديث ۳/۱۴۴۹۹ رقم الحديث (۱۸۸۰-۱۱۲)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۵ رقم الحديث ۶۵۵۲ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۷۵ رقم الحديث (۲۸۲۶-۶)

د جنت خیمه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِلْمُؤْمِنِ فِي الْجَنَّةِ
او حضرت ابو موسیٰ رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل مؤمن ته چې په جنت کې
لَخَيْمَةً مِّنْ لُؤْلُؤَةٍ وَّاحِدَةٍ مُّجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا وَفِيْ رِوَايَةٍ
کومه خیمه ملاو شي هغه به پوره یوه کولاو (خالي) ملغلره [موتي] وي چې د هغې پلنوالی یو بل روایت
طُوْلُهَا سِتُّوْنَ مِيْلًا فِيْ كُلِّ
کې دي چې د هغې اوږدوالی به د شپیتو میلو د مسافت په قدر وي د دي خیمي هر کوټ کې به د هغه
زَاوِيَةٍ مِّنْهَا أَهْلٌ مَّا يَرَوْنَ الْآخَرِيْنَ
مؤمن اهل او عیال (اهل خانه) او دیو کوټ سړي به د بل کوټ سړي نشي لیدلی دي ټول اهل خانو ته به
يَطُوْفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُ وَجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيْهِمَا
مؤمن ځي راځي د دې نه علاوه به د مؤمن دپاره به دوه جنتونه د چاندي (سپین زر) وي چې د هغه جنتونو لوښي او
وَجَنَّتَانِ مِنْ ذَهَبٍ آنِيَتُهُمَا
څه چې به په دې جنتونو کې وي ټول به د چاندي وي او دوه جنتونه به د سرو زرو وي چې د هغه جنتونو لوښي
وَمَا فِيْهِمَا وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ
او هر هغه شئ چې په دې کې دي او جنت العدن کې به د جنتیانو او د پروردګار د طرف نه د هغوئ لیدو په منځ کې به
أَنْ يَّنْظُرُوْا إِلٰى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاءِ عَلٰى وَجْهِهٖ فِيْ جَنَّةِ عَدْنٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]
د ذات باري تعالی د عظمت او بزرګۍ او د پردي نه علاوه بل هیڅ شی حائل (مانع) نه وي. [بخاري مسلم]

توضیح: لؤلؤة دا ملغلرې ته ویلی کیږي چې ګرده وي چې د دې عمارت ډیر زړه وړونکی وي او خیمه یې مزیداره وي. **واحدة**: یعني د ډیرو ملغلرو د یوځای کولو نه به یو ځای جوړ شوی نه وي چې په دې کې جوړ راځي بلکې یوه غټه ملغلره به وي، ګول به وي، مینځ به یې خالی وي ډیره خوندوره به وي چې د دینه به زړه وړونکی او بې مثاله مکان جوړ شوی وي. **طولها**: یعني د دې خیمې اوږد والی او پلنوالی به دومره

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۱۸ رقم الحديث ۳۲۴۳ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۸۲ رقم الحديث (۲۸۳۸-۲۳) واحمد في المسند ۴/۴۰۰.

لوی وي چې طول به يې په شپيتو ميلو باندې مشتمل وي نو ددينه اندازه لګيدلی شي چې ددې عرض به ځومره وي، او كه عرض يې شپيته ميله وي نو ددينه اندازه لګيدلی شي چې ددې خيمې پلنوالی والی به ځومره وسيع وي، په هر حال د روايت په دې اختلاف كې هيڅ پيچيدګي (مشكل) نشته، اصل مقصد د خيمې د پراخوالي او وسعت بيانول دي. **في كل زاوية**: يعني ددې خيمې او ددې عظيم الشان عمارت په هر كونج كې به ددغه مؤمن د كوروالا وي. **مايرون**: ما د نفي لپاره ده يعني د يو كونج او يو طرف خلك به د بل كونج خلك ليدلی نشي. په يرون كې د جمع ضمير اهل ته راجع دی، معنوی طور باندې اهل هم جمع ده. **يطوف**: يعني مؤمنان به خپل اهل وعيال ته ځي او راځي معلوميږي چې په دغه اهل و عيال كې به د مؤمنانو بيبيانې هم وي، په **يطوفون** كې خاص اشاره ده. **وجلتان**: دا نوی كلام دی ای و**للمؤمنين جنتان** (**مابين القوم**) په دې جمله كې (**ما**) نافيه دی يعني په كوځای كې يې په دې خيمه كې به د مؤمنينو لپاره د اوسيدلو ځای وي هلته به د الله تعالى په ديدار كې يواځې كبرياء پرده وي ددينه علاوه به هيڅ مانع نه وي، او دا نوراني پرده به هم حجاب نه جوړيږي بس ديدار به وي او هميشه به وي.

د جنت نهرونه

﴿۶﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ
او حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په جنت سل درجې
مِائَةُ دَرَجَةٍ مَّا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ
دي او د هردوو درجو په منځ كې دومره فاصله ده ځومره چې د آسمان او ځمكې په منځ كې ده او
وَالْاَرْضِ وَالْفِرْدَوْسُ اَعْلَاهَا دَرَجَةً
فردوس او د خپلو درجاتو په اعتبار سره د ټولو جنتونو نه اعلى او اچت دی او د دې فردوس نه د
مِنْهَا تُفَجَّرُ اَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْاَرْبَعَةُ وَمِنْ فَوْقِهَا يَكُوْنُ الْعَرْشُ فَاِذَا سَاَلْتُمُ اللهَ
جنت څلور نهرونه راوځي او د فردوس د پاسه عرش الٰهي دی نو هركله چې تاسو د الله! نه جنت غواړئ
فَاسْاَلُوْهُ الْفِرْدَوْسَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَلَمْ اَجِدْهُ فِي الصَّحِيْحَيْنِ وَ لَا فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ. (۱)
نو جنت الفردوس غواړئ دا روايت ترمذي نقل كړی او ما دا حديث نه په صحيحينو كې پيدا كړی دی او نه كتاب حميدي كې

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۳ رقم الحديث ۲۵۳۱ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۴۸ رقم الحديث ۴۳۳۱ وللبخاري نحوه ۶/۱۱ رقم: ۲۷۹۰

توضیح: انهار الجنة: د عرش لپاره فرش د جنت الفردوس چت دی دا د ټولو نه افضل جنت دی ، د جنت الفردوس لاندې څلور نهرونه بهیږي کوم چې په ټولو جنتونو کې چلیږي .(۱) د اوبو نهر (۲) د شهدو نهر (۳) د شرابو نهر (۴) او د شودو نهر . د دینه علاوه درې قسمه نور نهرونه به هم وي د کومو ذکر چې په قرآن کریم کې هم راغلی دی. (۱) تسنیم : دا نرمي اوبه دي چې د جنت په هوا کې به جاري وي . (۲) زنجبیل او سلسبیل : دا د ګرم مزاج اوبه دي لکه څنګه چې قهوه او چائ دئ . (۳) کافور : د دې چینې او نهر مزاج به یخ وي لکه څنګه چې یخ مشروبات وي . په قرآن کریم کې د دغه څلورو مشهورو نهرونو په باره کې دغه رنګ ارشاد دی : ﴿فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاءٍ غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى﴾. سبحان الله ، اللهم ارزقنا جنة الفردوس و نعيمها وانهارها و تسنيمها و زنجبيلها و سلسبيلها !!

د جنت د یو بازار ذکر

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوْقًا

او حضرت انس رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په جنت کې یو بازار دی چې په

يَأْتُوْنَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ فَتَهُبُّ رِيْحُ الشِّمَالِ

هغه کې هر د جمعه خلق جمع کیږي او هلته به شمالي هوا چلیږي چې د جنتیانو په مخونو او کپړو

فَتَحْثُوْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ فَيَزْدَادُوْنَ حُسْنًا

باندې به لګیږي چې هغې سره به هلته د موجوده جنتیانو حسن او جمال کې اضافه کیږي او هر کله

وَجَمَالًا فَيَرْجِعُوْنَ إِلٰى أَهْلِيْهِمْ

چې هغه خلق ډیر حسین او ښائسته شي او خپلو کورونو ته بیرته راشي نو د هغوی کور والا به هغوی

وَقَدِ ازْدَادُوْا حُسْنًا وَّجَمَالًا فَيَقُوْلُ لَهُمْ أَهْلُوْهُمْ وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا

ته وایي چې قسم په الله د مونږ نه جدا کېدو سره تاسو خپل حسن او جمال څومره زیات کړی دی د دې په

حُسْنًا وَّجَمَالًا فَيَقُوْلُوْنَ وَأَنْتُمْ. وَاللهِ لَقَدِ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَّجَمَالًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [(۱)]

جواب کې به هغوئ ووایي او قسم په الله زمونږ د تلو نه روسته تاسو هم خپل حسن او جمال زیات کړی دی [مسلم]

توضیح: لسوقاً د بازار نه مراد د حسن او جمال د زیاتوالي مرکز دی چې هلته به جنتیان **خلک** هره جمعه جمع کیږي او د دوی په حسن کې به زیاتوالی راځي .**فتحثو**: یعنې دغه شمالی هوا به د هغو خلکو په مخونو باندې مشک او عنبر او خوشبویې وشیندي او دې عمل ته د خوشبو سپري هم ویلی شي.**حسناً وجمالاً**: دغه حسن او جمال د دې مشک و عنبر او خوشبو د اسپرې په وجه زیاتیږي ۰ د دې حسن د بازار لپاره به خپل یو رونق وي چې په ډې سره به د ټولو خلکو حسن زیاتیږي ، دلته په کورونو کې به د ښځو حسن هم زیاتیږي نو دواړه به یو بل ته د ښائسته کیدلو خوشخبري ورکوي ۰

د جنت د نعمتونو تفصیلی بیان

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ

او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل کوم خلق چې به په جنت کې

يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ عَلَى صُوْرَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

مخکې داخل شي هغوئ به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان روښانه او منور وي او هغوی نه

ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ عَلَى أَشَدِّ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ

وروسته په چې کوم خلق داخلیږي هغوی به د هغه ستوري په شان روښانه وي کوم چې آسمان کې

فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً قُلُوْبُهُمْ عَلَى قَلْبِ رَجُلٍ وَّاحِدٍ

ډیر تیز ځلیږي د ټولو جنتیانو زړونه به د یو جنتي د زړه په شان وي نه به د هغوی په مینځ کې څه

لَا اِخْتِلَافَ بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ

اختلاف وي او نه به هغوی یو د بل سره څه بغض او عداوت لري په هغوئ کې به هر یو سړي د پاره د حور

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُوْرِ الْعِيْنِ يُرٰى مُخُّ سُوْقِهِنَّ مِنْ وَّرَآءِ الْعَظْمِ

عینو نه دوه دوه بیبیانې وي چې د هغوئ د پنډیو د هډوکو مازغه به د هډوکو او غوښې نه بهر په

وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ يُسَبِّحُوْنَ اللهَ بُكْرَةً وَّعَشِيًّا لَّا يَسْقُمُوْنَ وَلَا يَبُوْلُوْنَ

نظر راځي ټول جنتیان به سهار ماښام الله یاد وی نه به هغوی بیمار کیږي نه به تشې متیازې کوي او نه

وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ وَلَا يَتْفُلُوْنَ وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ اٰنِيَتُهُمُ الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ

به غټ او دس ماتې کوي نه به توکې او نه به پوزه سونډ کوي د هغوئ لوښي به د سرو زرو او سپینو زرو وی

وَأَمْشَاطُهُمُ	الذَّهَبُ	وَوُ	قُوْدُ	مَجَا	مِرِهِمُ	الْأَلُوَّةُ

د هغوئ خوله به د خوشبو خشاک به عود وي د هغوئ د هغوئ کمنځې به د سرو زرو وي او

وَرَشْحُهُمُ	الْمِسْكُ	عَلَى	خُلُقِ	رَجُلٍ	

مشک په شان خوشبوداره وي او ټول جنتيان به د يو سړي په شان وي په عادت او سيرت کې شکل او

وَاحِدٍ عَلَى صُوْرَةِ أَبِيهِمُ آدَمَ سِتُّوْنَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(١)

صورت کې د خپل پلار آدم شپيته گزه اوږد قد به لري. [بخاري او مسلم]

توضيح : **على قلب رجل واحد**: يعنې يو به د بل سره اتفاق وي اختلاف نه وي او ټول به نيکان وي. **الحور العين**: دوه حورې به د دنيا د ښځو نه وي چې د جنت د حورو نه به اعلى وي او باقي او يا حورې به د جنت وي. **يرى مخ**: يعنې دغه حورې به دومره ښايسته او صفا او شفافې وي چې د اويا جوړونو او يا د غوښو او يا د هډوکو په مينځ کې د هغوی په پنډيو کې به د جسم ماغزه (نلي) په نظر راځي، په دې کې د ښايست سره سره ديته هم اشاره ده چې دغه حورو ته په کتلو سره هيڅ کدورت او نفرت به نه پيدا کيږي بلکه رغبت به پيدا کيږي. دلته دا خبره هم عرض کومه چې الله تعالى د جنت د حورو په دغه کيفيت او صفت باندې په دنيا کې د يوه ماهي نسل پيدا کړې دی کوم ته چې شيشه ماهي ويلی کيږي، دغه ماهي ته چې د بهر نه کتونکي کله گوري نو د هغه په خيټه کې کولمې وغيره ټول په نظر راځي، ما په خپله د کلفټن کراچی په ماهي خانه کې دغه ماهي ليدلې دی د کوم نه چې هيڅ شبه باقي نه پاتې کيږي چې د غوښې پوست او هډوکو په مينځ کې ماغزه څنگه په نظر راځي، په هر حال په نظر راتلل کوم محال شی نه دی.

يسبحون: په جنت کې چې خلک کوم عبادت يا تسبيح کوي دا د امور تکليفو نه نه دي بلکه يو طبعي عمل به وي، لکه څنگه چې په ساه اخيستلو کې تکليف نه وي دغه تسبيحات به هم دغه رنگ وي.

لايتغوطون: تغوط لوی اودس ماتي کولو ته ويل کيږي. **لايتفلون**: دا د تفلل نه د توکلو په معنی سره دی يعنې د خولې ټول شيان لکه بلغم او لاړې هيڅ به هم نه وي. **ولايتمخطون**: دا امتخاط د مخاط نه دی د پوزې اوبه خټې وغيره ته ويل کيږي. **امشاط**: دا د مشاط جمع ده ږمنځې ته وايي. **مجامر**: دا د مجمر جمع ده آنگيټې (بخارى) ته وايي. (**وقود**) په واو باندې زوَر دی په اور کې سوزيدونکی خشاکو ته وايي. **الالوة**: اَلُوَّةُ په همزه باندې پيښ دی په لام باندې هم پيښ دی په واو باندې شد دی په آخر کې گول تاء ده.

---

(١) اخرجه البخاري في صحيحه ٦/٣١٨ رقم الحديث ٣٢٤٥ ومسلم في صحيحه ٤/٢١٧٩ رقم الحديث (٢٨٣٤-١٥) واحمد في المسند ٢/٣١٦.

(عود) ته ویل کیږي، دې ته (اګر) هم ویل کیږي، (اګربتی) چې خلک يې د خوشبويي لپاره بلوي دا د الوّ يوه مصنوعي نمونه ده، ددې ترجمه لوبان (ديوې ونې خوشبوداره ماده ده) هم ده.

رشحهم: خوله مراد ده دا بدبوداره نه ده بلکه خوشبوداره د مشک او عنبر پشان به وي. **خلق رجل واحد:** که په خاء باندې ضمه وي نو دا به د اخلاقو په معنی سره وي چې ددې تذکره ددینه مخکې شوې ده، نو ځکه ملا علي القاري رحمه الله فرمايي چې دلته په خاء باندې زور زيات مناسب دی چې د تخلیق په معنی سره دی، مطلب دا چې ټول اهل جنت به هم عمره وي يعنې د ۳۰ او ۳۳ کالو په عمر کې به وي او دا اهل جنت به د خپل پلار جان حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په صورت کې وي يعنې د هغه د قد او قامت پشان ۶۰ ګزه اوږد قد او قامت به لري، په دې طريقه به د حديث آخري جمله د حديث د اولې جملې **على خلق رجل واحد** لپاره وضاحت او تفسير جوړ شي.

﴿۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ									
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل جنتي خلق به په جنت کې بهتر									
يَأْكُلُوْنَ فِيْهَا وَيَشْرَبُوْنَ وَلَا يَتْفُلُوْنَ وَلَا يَبُوْلُوْنَ وَلَا يَتَغَوَّطُوْنَ									
خوري او څکي به ليکن نه به توکل کوي نه به وړې بولې کوي او نه به غټ اودس ماتی او نه به پوزه									
وَلَا يَمْتَخِطُوْنَ قَالُوْا فَمَا بَالُ الطَّعَامِ									
سوڼ کوي بعضو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړو جنتي د خوراک فضله بيا څه شوه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ									
قَالَ جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ									
وفرمايل دخوراک فضله به اوږکی او خوله شي چې د مشکو د خوشبو په شان به وي او د جنتيانو									
يُلْهَمُوْنَ التَّسْبِيْحَ وَالتَّحْمِيْدَ									
په زړونو کې به تسبيح او تحميد او ذکر الهي داسې واچول شي چې هغه به د هغوئ عادت او معمول									
كَمَا يُلْهَمُوْنَ النَّفَسَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۱)									
جوړ شي لکه څنګه چې ساده جاري ده. [مسلم]									
﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَدْخُلُ									
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل کوم سړی چې جنت ته									

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۸۰ رقم الحديث (۲۸۳۵-۱۸) والدارمي في السنن ۲/۴۳۱ رقم الحديث ۲۸۲۸ واحمد في المسند ۳/۳۴۹.

الْجَنَّةَ يَنْعَمُ وَلَا يَبْأَسُ وَلَا يَبْلٰى ثِيَابُهُ

داخليږي عيش او عشرت کې به وي نه به ورسره فکرا و غم وي او نه به يي کپړي خيرنيږي او نه به

وَلَا يَفْنٰى شَبَابُهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (١)

يي ځواني فنا کېږي. [مسلم]

توضیح: لايباس: يعنی جنتيان به په کوم غم فکر کې نه وي او نه ورته څه فقر او لوږه رسيږي ولايبلي: د ابلی يبلی د سمع نه دی د جامو د زړيدلو په معنی دی يعنی داسې به نه وي چې د جنت نعمتونه د دنيا د نعمتونو په شان زاړه او بيا ختم شي

الا كل شيء ما خلا الله باطل   وكل نعيم لا محالة زائلة

﴿١١﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَّأَبِي هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

او حضرت ابو سعيد خدري او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

يُنَادِيْ مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوْا.

په جنت کې به يو اعلان کونکی اعلان وکړي ای جنتيانو! تاسو صحت او تندرستی سره اوسئ

فَلَا تَسْقَمُوْا أَبَدًا وَّإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوْتُوْا

تا سو ته به هيڅ کله بيماري نه لګيږي او تاسو هميشه ژوندي او سلامت اوسئ مرګ به هيڅ کله

أَبَدًا وَّإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوْا فَلَا تَهْرَمُوْا أَبَدًا

تا سو ته نه راځي تاسو هميشه ځوانان اوسئ بوډا توب به هيڅکله درته نه راځي او تا سو د عيش

وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوْا فَلَا تَبْأَسُوْا أَبَدًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ (٢)

او عشرت ژوند تيروئ هيڅ قسمه فکر و غم او رنج او درد به درته نه رسيږی. [مسلم]

﴿١٢﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ نِ الْخُدْرِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ

او حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل جنتيان به د

---

(١) اخرجه مسلم في صحيحه ٤/٢١٨١ رقم الحديث (٢٨٣٨-٢١) والترمذي في السنن ٤/٥٨٠ رقم الحديث ٢٥٢٦ واحمد في المسند ٢/٣٧.
(٢) اخرجه مسلم في صحيحه ٤/٢١٨١ رقم الحديث (٢٨٣٧-٢٢) واخرجه الترمذي في السنن ٥/٤٣٩ رقم الحديث ٣٢٤٦ واحمد في المسند ٣/٩٥.

يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ كَمَا تَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ	خپل ځان نه بره د بالاخانو والا خلق داسې وينې څرنګه چې تاسو روښانه ستوري وينئ چې د
الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ لِتَفَاضُلِ	آسمان مشرقي يا مغربي افق کې وي او د هغه اوچت والى او ښه ښکاره کيدو تعلق به د مرتبو د
مَا بَيْنَهُمْ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ	فرق سره وي چې د اهلِ جنت په منځ کې به پيدا کولی شي صحابو کرامو عرض وکړو يارسول الله! دا
تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ	بالاخاني او ښائسته محلات به آيا د انبياو وي چې هغه ته د بل چا رسيدل نه وي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ	وفرمايل ولې نه قسم دی په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې ځما ساه ده هغه اوچت محلات او
رِجَالٌ آمَنُوا بِاللهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)	بالاخانو ته به د هغه خلقو رسيدل هم وي چې الله! باندې ايمان راوړې او د رسولانو تصديق وکړي.

توضيح: **يتراؤن**: يعنې اهل جنت به د خپلو ځانو نو نه بره بالاخانو ته داسې ګوري لکه څنګه چې تاسو روښانه ستوري ته ګورئ. **الغابر**: يعنې هغه ستوري چې د راختلو نه وروسته نه ډوبيږي بلکه باقي پاتې کيږي. **قال بلى**: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه کرامو په جواب کې وفرمايل چې نه نه! دا مقام صرف د انبياو پورې خاص نه دی چې نور څوک به هلته رسيدلی نشي بلکه کوم کسانو چې ايمان راوړلو او د انبياء کرامو تصديق يې وکړو هغوی به هم د غو ځايونو ته رسيږي او د دې نعمتونو نه به خوند اخلي.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ	او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې به د داسې خلقو
أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.(۲)	ډير جماعتونه داخليږي چې د هغوئ زړونه به د مارغانو په شان وي. [مسلم]

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۲۰ رقم الحديث ۳۲۵۶ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۷۷ رقم الحديث (۲۸۳۱-۱۱).

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۱۸۳ رقم الحديث ۲۸۴۰-۲۷) وأحمد في المسند ۲/۳۳۱.

توضيح : افئدة الطير: يعنې جنت ته به ډير داسې مخلوقات هم ځي چې د هغوی زړونه به په خوف خدا او نرمۍ کې د مرغانو د زړونو پشان نرم وي، مرغان په معمولي ويرې سره تښتي، يا په توکل او اعتماد کې به د هغوی زړونه د مرغانو د زړونو پشان متوکل وي.

په جنت کې د الله تعالی دائمي رضا

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى
او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل الله جل جلاله به جنتيانو
يَقُوْلُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَقُوْلُوْنَ لَبَّيْكَ
ته اواز وکړي ای جنتيانو! ټول جنتيان به جواب ورکړي ای زمونږ پروردګاره! مونږ حاضريو ستا په
رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِيْ يَدَيْكَ
خدمت کې موجود يو مکمل او پوره خير ستا په قبضهٔ قدرت او اراده کې دی الله جل جلاله به
فَيَقُوْلُ هَلْ رَضِيْتُمْ فَيَقُوْلُوْنَ وَمَا لَنَا
فرمايي چې آيا تاسو زما نه راضي او خوشحاله شوئ، هغوئ به عرض وکړي چې آو مونږ به ستا نه
لَا نَرْضٰى يَا رَبِّ وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا مَا لَمْ تُعْطِ
راضي او خوشحاله ولې نه يو تا خو مونږ ته هغه لوی نه لوی نعمت او وچتوالی راکړو چې نور مخلوق
أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ فَيَقُوْلُ أَلَا أُعْطِيْكُمْ
ته دي ندی ورکړي نو الله تعالی به فرمايي آيا زه تاسي ته ددې نه بل بهترين نعمت درنکړم؟ نو
أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ فَيَقُوْلُوْنَ يَارَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ
جنتيان به عرض وکړي ای پروردګاره ددې نه به بل کوم بهترين نعمت وي، نو الله جل جلاله به وفرمايي
أَفْضَلُ مِنْ ذٰلِكَ فَيَقُوْلُ أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِيْ
بل لوی نعمت دا دی چې ما خپله رضا په تاسې خوره کړه زه ستا سو نه راضي او خوشحاله يم. او بيا

فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)
به ستاسو نه هیڅ کله ناراضه نه شم .بخاري ومسلم)

توضیح : احل علیکم: یعنې زه اوس په تاسو باندې خپله رضا او خپله خوشحالي نازلومه ، اوس به زه همیشه ستاسو نه راضي یمه او هیڅکله به هم ستاسو نه نه ناراضه کیږم،دالله تعالی ارشاد دی: ﴿وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللهِ أَكْبَرُ﴾

په جنت کې چې څه غواړئ نووي غواړئ

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل په تاسو کې چې کوم
أَدْنٰى مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ
سړی د ټولونه د ادنٰی درجې او کمتر مقام جنتي وي دهغه به دا مرتبه وي چې الله!به هغه ته فرمايي
أَنْ يَّقُوْلَ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنّٰى
کوم خواهش چې لرې هغه بیان کړه او څه چې غواړې وغواړه هغه به خپلې ارزوګانې او خواهشونه
وَيَتَمَنّٰى فَيَقُوْلُ لَهُ هَلْ
ظاهر کړي او بار بار به یې ښکاره کوي الله !به فرمایي آیا تا خپلې ارزوګانې بیان کړې هغه به عرض وکړو چې
تَمَنَّيْتَ فَيَقُوْلُ نَعَمْ فَيَقُوْلُ لَهُ
هو الله ! به ورته فرمايي تا چې کومې ارزوګانې بیان کړې او څه دې وغوښتل نه صرف هغه بلکه
فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.(۲)
هغومره نور هم تاته مزید درکړی شو. [مسلم]

هغه څلور دریابونه چې د هغو سرچشمه (جرړه) په جنت کې ده

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وايي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل سيحان جيحان فُرات او نيل

وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۱)

د دې ټولو دریابونو تعلق د جنت د نهرونو او چینو سره دی. [مسلم]

توضیح: سیحان وجیحان: دریای نیل په مصر کې دی او دریای فرات د کوفې او بغداد سره دی، په دې کې د هیڅ اختلاف نشته، هو! د جیحون دریاب او د سیحون دریاب په تعیین کې اختلاف دی، په زیر بحث حدیث کې د سیحان او جیحان دوو دریابونو چې کوم نومونه راغلي دا دواړه دریابونه په بلاد عواصم کې د مصیصه او طرطوس په مینځ کې واقع دي او د جیحون او سیحون په نوم سره مشهور دي، دواړه دریابونه د شام په څمکه کې واقع دي او د روم په بحر کې تویږي. د دې برعکس د بلخ او ترک په علاقه کې هم دوه نهرونه دي هغه هم د سیحون او جیحون په نوم سره مشهور دي، دیوه نوم نهر الترک دی او دبل نوم نهر بلخ دی، په دې حدیث کې دغه دوه نهرونه مراد نه دي بلکه د شام والا دوه غټ نهرونه مراد دي.

من انهار الجنة: یعنې دغه څلور نهرونه په فوائدو کې د جنت د څلورو نهرونو سره مشابه دي په دغه وجه دیته انهار الجنة ویلی شوي دي. یا مطلب دا دی چې په څمکه کې د بهیدونکو دغه څلورو نهرونو اصل ماده او مرکز په جنت د بهیدونکو څلورو نهرونو دی چې د عرش لاندې د **سدرة المنتهی** نه جاري کیږي او په جنتونو کې بهیږي بیا د هغو او به دنیا ته راغللې او د **جیحون** او **سیحون** او نیل او فرات په نومونو سره مشهور شول په دغه وجه دیته **انهار الجنة** ویلی شوې دي.

د جنت وسعت او د خلکو کثرت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ	عُتْبَةَ	بْنِ	غَزْوَانَ	قَالَ	ذُكِرَ	لَنَا	
او حضرت عتبه بن غزوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي زمونږ مخکې دا ذکر وشو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل							
أَنَّ	الْحَجَرَ	يُلْقَى	مِنْ	شَفَةِ	جَهَنَّمَ	فَيَهْوِي	
که د دوزخ د غاړې نه یو کاڼی راوغورځول شي نو هغه به اویا کاله پورې لاندې روان وي او د دوزخ							
فِيهَا	سَبْعِينَ	خَرِيفًا	لَا	يُدْرِكُ	لَهَا	قَعْرًا	وَاللّٰهِ
بیخ ته به ونه رسیږي قسم په الله دوزخ به ډک کړی شي او حضرت عتبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي زمونږ مخکې د							
لَتُمْلَأَنَّ	وَلَقَدْ	ذُكِرَ	لَنَا	أَنَّ	مَا	بَيْنَ	مِصْرَا	عَيْنِ
حضور دا ارشاد ګرامي هم ذکر شو چې د جنت د یوې دروازې د دواړو بازوګانو په منځ کې د							

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۸۳ رقم الحديث (۲۸۳۹-۲۰۴) واحمد في المسند ۲/۴۴۰

مِنْ	مَصَارِيْعِ	الْجَنَّةِ	مَسِيْرَةُ	أَرْبَعِيْنَ	سَنَةً	وَلَيَأْتِيَنَّ	
څلو ېښت کاله مسافه او فاصله ده او یوه ورځ به داسې راشي چې جنت به د دومره وسعت باوجود							
عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيْظٌ مِّنَ الزِّحَامِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [1]							
د خلقو نه ډک کړی شي. [روایت کړی دی مسلم]							

توضیح: کظیظ: د کوم شي دومره ډکیدل چې ساه اخیستل سخت شي دیته کظیظ ویلی کیږي، مراد زیات ډکیدل دي، دلته دا بیانول مقصود دي چې د جنت د دروازې دوه پلې د دومره پراخوالي باوجود به یوه ورځ په ده باندې داسې هم راځي چې د خلکو د ازدحام او ګڼې په وجه به دا دروازه دومره ډکه وي چې په دې کې به د خلکو ساه اخیستل سخت شي او د کظیظ صورت به پیدا شي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د کائناتو د پیدا ښت ذکر

﴿۱۸﴾	عَنْ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ	قَالَ	قُلْتُ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ	مِمَّ	خُلِقَ	الْخَلْقُ
حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما عرض وکړو یارسول الله! مخلوق د کوم شي نه پیداشوی دی											
قَالَ	مِنَ	الْمَاءِ	قُلْنَا	الْجَنَّةُ	مَا	بِنَاءُهَا					
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د اوبو نه بیا مونږ پوښتنه وکړه چې جنت د څه شي نه جوړ دی؟											
قَالَ	لَبِنَةٌ	مِّنْ	ذَهَبٍ	وَلَبِنَةٌ	مِّنْ	فِضَّةٍ					
وي فرمائل د جنت تعمیر د خښتونه دی چې یوه خښته د سروزرو او بله خښته د سپینو زرو ده ددې											
وَمِلَاطُهَا	الْمِسْكُ	الْأَذْفَرُ	وَحَصْبَاؤُهَا	اللُّؤْلُؤُ							
مساله به تیز خوشبودار وي او د دې شګې او کاڼي به په رنګ او چمک کې دملغلرو او یا قوتو په											
وَالْيَاقُوْتُ	وَتُرَابُهَا	الزَّعْفَرَانُ	مَنْ	يَدْخُلُهَا	يَنْعَمُ						
شان وي او ددې خاوره دزعفرانو ده څوک چې پکې داخل شي عیش او عشرت کې به وي هیڅ کله											

وَلَا يَبْأَسُ وَ يَخْلُدُ وَلَا يَمُوتُ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ وَلَا
به غم خفګان نه ويني هميشه به ژوندی وي مري به نه نه به يې لباس (جامې) زړېږي کېږي او نه به
يَفْنٰى شَبَابُهُمْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.(۱)
يې ځواني فناء کېږي. [احمد ، ترمذي ، دارمي]

توضيح : **من الماء**: يعنې د هر شي ماده او اصل د اوبو نه دی ، د کائناتو د تخليق ابتداء څنګه وشوه؟ په دې باره کې خو د ټولو نه مخکې هغه حديث دی چې په ابن ماجه وغيره کې دی چې **(كان الله وليس معه شئ)** يعنې صرف د الله تعالى ذات وو، نور څه نه وو. د تورات په سفر اول کې يو روايت دی چې بيا الله تعالى يو شنه ملغلره پيدا کړه او په هغې باندې يې د هيبت نظر واچولو نو هغه ويلې شوه او د هغه نه اوبه وجود ته راغلې. په قرآن کې دغه صورت داسې بيان شوی دی ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾ يعنې پورته عرش وو او لاندې اوبه وې، د دينه وروسته الله تعالى په هغو اوبو باندې د هيبت او رعب نظر واچولو چې په دې سره اوبه په جوش کې راغلې او د سوزيدو سره ترينه لوګی پورته شو ، د دغه لوګی نه الله تعالى اسمانونه پيدا کړل ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ کې همدغه حقيقت ته اشاره ده ، د اوبو د سوزيدو نه وروسته لاندې د ځګ په شکل کې تلچټ (لخه) پاتې شوه چې د بيت الله په مقام باندې ډکه شوې غونډه وه ، د دغه تلچټ نه الله تعالى ځمکې پيدا کړې ﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا﴾ کې همدغه کيفيت ته اشاره ده ، ما دغه قصه څو ځايونو کې ليکل شوې ليدلې ده ، په اشعة اللمعات ج۴ ص۴۳۹ کې هم دغه قصه ليکل شوې ده اګرچې هغه مختصره ده ، ما يې يو څه تشريح او توضيح کړې ده.

وملاطها: د دوو خښتو د يو ځای کولو لپاره چې کومه مسالحه استعماليږي هغې ته ملاط ويل شوی دی، نن سبا ديته پلستر وايي. **الاذفر**: زيات خوشبوداره مشک او عنبر وسره نه پلستر شوی دی.

حصباء: سنګريزې (واړه کاڼي) دا د ښايست او زينت لپاره وي، دا به په پرق مرق کې د ملغلرو پشان وي ، په هر حال په دې حديث کې د کائناتو د تخليق پس منظر او د جنت ټوله نقشه بيان شوې ده.

﴿۱۹﴾وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ
او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په جنت کې چې هره ونه هم

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۰ رقم الحديث ۲۵۲۶ والدارمي ۲/۴۲۹ رقم الحديث ۲۸۲۱ واحمد في المسند ۲/۳۰۵

إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ [۱]

ده د هغې تنه د سروزرو ده. [ترمذي]

﴿۲۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ

او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې به سل درجې وي

مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ. مِائَةُ عَامٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا

او د هرو دوو درجو په منځ کې د سل کاله مسافت فاصله ده دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [۲]

دي چې دا حديث غريب دی

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ

حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې سل درجې

لَوْ أَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي إِحْدَاهُنَّ لَوَسِعَتْهُمْ.

دي که د تمام عالم خلق په هغه يوه درجه کې هم جمع شي نو هغه به د ټولو د پاره کافي وي دا روايت

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [۳]

ترمذيؒ نقل کړی دی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

د جنت فرش

﴿۲۲﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى

او حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله جَلَّ جَلَالُهُ د دې ارشاد :

(وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ) قَالَ ارْتِفَاعُهَا لَكَمَا

وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ او لوړ لوړ فرشونه او تختونه به وي د دې په تفسير کې فرمائيلي دي چې د هغه تختونو

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۷۶ رقم الحديث ۲۵۲۵.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۲ رقم الحديث ۲۵۲۹.

(۳) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۳ رقم الحديث ۲۵۳۲ واحمد في المسند ۳/۲۹

بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ مَسِيْرَةُ

اوچتوالى به دومره وي څومره چې د آسمان او ځمکې په منځ کې مسافت دى يعني د پنځه سوه دى د

خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ. (۱)

پنځو سوو کالو په اندازه دا روايت ترمذي نقل کړى دى او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دى.

توضيح: **فرش مرفوعة**: د فرش نه قالين او بسترې و غيره مراد دي، د دې د اوچتوالى صورت به دا وي چې د لاندې والا خلک چې کله د اوچتو درجو بالاخانو ته ګوري نو د هغه ځاى د فرشونو او د دوى په مينځ کې به دومره فاصله وي چې د پنځو (۵۰۰) سوو کلونو په اندازه به وي.

د جنتيانو ځليدونکې مخونه

﴿۲۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ

او حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د قيامت په ورځ به په

زُمْرَةٍ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوْهِهِمْ

جنت کې چې کوم خلق د ټولو نه مخکې داخل شي د هغوى مخونه به د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ

عَلٰى مِثْلِ ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالزُّمْرَةُ الثَّانِيَةُ

په شان روښانه او ځليدونکي وي او د دوهم جماعت خلق چې به داخليږي د هغوى مخونه به د آسمان

عَلٰى مِثْلِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ

د هغه ستورو په شان روښانه او پرقيدونکي وي چې د ټولو نه زيات چمک کوي او په هغه جنتيانو

لِكُلِّ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ عَلٰى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُوْنَ حُلَّةً

کې به د هرسړي د پاره دوه ښځې وي او د هرې يوې ښځې په جسم به د لباس اويا جوړې وي د هغوى

يُرٰى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۲)

د پنډيو دننه نلى (مغز) به د اويا جوړو لاندې نه په نظر راځي دا حديث امام ترمذى روايت کړى دى

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۶ رقم الحديث ۲۵۴۰ واحمد في المسند ۳/۷۵.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۴ رقم الحديث ۲۵۳۵ وابن ماجه في ۲/۱۴۴۹ رقم الحديث ۴۳۳۳ واحمد في المسند ۳/۱۶.

﴿۲۴﴾ وَعَنْ اَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُعْطَى الْمُؤْمِنُ	
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په جنت کې به مؤمن ته	
فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ	
د جنسي اختلاط دومره دومره قوت ورکړی شي عرض وشو یارسول الله آیا یو سړی به دومره ښځو	
أَوَ يُطِيقُ ذٰلِكَ قَالَ يُعْطَى	
سره د جنسي اختلاط [مباشرت] طاقت درلودلو شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل یوسړي ته	
قُوَّةَ مِائَةٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)	
به د سلو سړو قوت ورکولی شي [ترمذي]	

د جنت د اشیاوو ذکر

﴿۲۵﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ	
او حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ	
قَالَ لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا لَتَزَخْرَفَتْ	
وفرمایل د جنت د څیزونو نه که د نوک برابر هم څه شی دنیا ته راشي نو د آسمان او ځمکې د اطرافو	
لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ	
او جوانبو پوري به د دنیا په هر شي کې رونق راشي او حقیقت دا دی که په جنتیانو کې یو سړی دنیا	
اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْءُهُ ضَوْءَ الشَّمْسِ كَمَا تَطْمِسُ	
طرف ته رابنکاره شي او د هغه د لاسونو کړی ښکاره شي نو د هغه پرق به د نمر رڼا خره کړي څرنګه	
الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ : رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.(۲)	
چې نمر د ستورو رڼا خړه وي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.	

توضیح :**یقل**: دا د اقلال نه دی د پورته کولو او اوچتولو او ظاهرولو په معنی سره دی . **ظفر**: نوک ته وایي ، یعنې د جنت د نعمتونو نه کچیرې د یو نوک په اندازه هغه شی چې نوک یې اوچتوي کوم شی دنیا ته ښکاره کړی شي نو د دنیا څلور طبقې به روښانه شي .

تزخرفت: د ښائسته کیدلو او پړقیدلو په معنی سره دی . **خوافق**: دا جمع ده مفرد یې خافقة دی د طرف او کنارې په معنی سره دی ، مطلب دا دی چې د جنت د دې معمولی نعمت نه د ځمکې او اسمان اطراف مزین کیږي . (اساوره) دا جمع الجمع ده چې د اسورة جمع ده او اسورة د سوار جمع ده ، سوار بنګړي او لاس ته د اغوستلو والا کړیو ته وایي ، د فارس بادشاه به دا اغوستل ، د جنت بادشاه به یې هم اغوندي ، نن سبا د دې نمونه د ساعت (ګړی) په صورت کې ده . (**طمس**) د کوم شي رڼایې او پړقا کمولو او ختمولو ته طمس ویل کیږي ، مطلب دا دی چې د جنتی د بنګړی رڼا کچیرې په دنیا کې ظاهره شي نو د دنیا ټولې رڼاګانې به ختمې شي ، د باقی نعمتونو به لا څه وایي !!

د جنت ځوانان

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كَحْلَى لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ وَلَا يَبْلَى ثِيَابُهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.(۱)

او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل جنتیان به بغیر د ویښتانو ځوانان وي او د هغوئ سترګي به تورې وي او د هغوئ ځواني به هیڅ کله نه فناء کیږي او نه به د هغوی کپړې هیڅکله زړیږي . [ترمذي دارمي]

توضیح : **جرد**: په جیم باندې پیښ دی ، راء ساکنه ده ، دا جمع ده د دې مفرد اجرد دی ، مطلب دا دی چې د جنت په ځوانانو باندې به زیاتي ویښتان نه وي مثلا زیرناف ویښتان او د ږیرې ویښتان او د عام جسم ویښتان به نه وي البته د سر او وروځو ویښتان به وي .

مرد: په میم باندې پیښ دی راء ساکنه ده ، د امرد جمع ده دا هغه کم عمره ځوان ته وایي چې تر اوسه یې په زنه باندې ویښتان راغلي نه وي ، په مطلق حسین باندې یې هم اطلاق کیږي . **کحلی**: **کحیل** په معنی

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۸۶ رقم الحديث ۲۵۳۹ والدارمي ۲/۴۳۱ رقم الحديث ۲۸۲۵ واحمد ...

د مكحول سره دي، د تورو سترګو والا ښايسته ځوان مراد دی چې د هغه سترګې خلقةً توري وي.

﴿۲۷﴾عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

او حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل جنتيان به جنت

يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ

ته داسې داخلیږي چې د هغوئ بدن به د ويښتانو نه صفا وي بې ږيرې ځلمي به وي د هغوی سترګې

ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

به توري وي او ديرش يا درې ديرش كاله عمر به يې وي. [ترمذي]

توضيح: او ثلاثين: دا او د شک لپاره دی، راوی ته په دې کې شک دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دېرش كاله فرمايلي وو او كه يې درې ديرش كاله فرمايلي وو، په هر حال چې كوم يو وي دا عمر د انتهائی ښې ځوانۍ عمر دی او د مخ دغه منظر انتهائی زړه وړونكى وي.

﴿۲۸﴾وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ لَهُ

او اسماء بنت ابي بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي هغه وخت كله چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخكې د سدرة

سِدْرَةُ الْمُنْتَهٰى قَالَ يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّ

المنتهٰى ذكر وشو نو ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل چې سدرة المنتهٰى يوه داسې ونه ده چې

الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةَ سَنَةٍ أَوْ يَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا مِائَةُ

يو تيز رفتار سور به د هغه د ښاخونو په سوري كې به سل كاله پورې ځي يا دايې وفرمايل د هغه په

رَاكِبٍ شَكَّ الرَّاوِيْ فِيْهَا فَرَاشُ الذَّهَبِ

سوري كې په يو وخت سل سواره آرام وكړى شي پر دې و نه باندې به د سرو زرو ملخان وي ګويا د دې

كَأَنَّ ثَمَرَهَا الْقِلَالُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.[2]

ميوې به د منګيو برابر وي دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۹ رقم الحديث ۲۵۴۵ والدارمي ۲/۴۳۱ رقم الحديث ۲۸۲۶ واحمد في المسند ۵/۲۴۳ .

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۷ رقم الحديث ۲۵۴۱.

توضيح : **السدرة المنتهى:** سدرة د بيرې ونې ته وايي ، په اووم اسمان باندې د عرش الهى بنى طرف ته دغه عظيم الشانه ونه ولاړه ده ، ددې پاڼې د فيل(هاتي) د غوږونو پشان غټې دي او ددې ميوه د غټو غټو منګيو برابر ده . **المنتهى:** د انتهاء په معنى سره دی ځکه په دې ونه باندې د لاندې مخلوق انتهاء کيږي ، همدارنګه د پورته مخلوق انتهاء هم وربانديې راځي، نه د پورته مخلوق لاندې راتللی شي او نه د لاندې مخلوق پورته تللی شي، د هر نظام او هر علم او عمل او د هر کار لپاره دغه ونه حد فاصل او انتهاء ده په دغه وجه سدرة المنتهى ده . **الفنن:** دا لفظ مفرد دی د شاخ (ښاخ) (څانګي) په معنى سره دی ددې جمع افنان راځي کقوله تعالى ﴿ذَوَاتَآ أَفۡنَانٍ﴾.

فراش الذهب: دا د فراشة جمع ده په فاء باندې زور دی پتنګ ته ويل کيږي، مطلب دا دی چې په دې ونه کې به د سرو زرو پتنګان وي چې د سرو زرو پشان به پرقيږي يا کيدلی شي چې دې فراش الذهب نه مراد د ملائکو يو نوعه وي چې د هغوی وزرې به د سرو زرو پشان پرقيږي ، همدې ته اشاره ده د الله تعالى په دې فرمان کې ﴿إِذۡ يَغۡشَى ٱلسِّدۡرَةَ مَا يَغۡشَىٰ﴾ **قلال:** دا جمع ده ددې مفرد قلة ده منګى ته وايي ، د ميوو غټوالي ته اشاره ده .

د حوض کوثر ذکر

﴿۲۹﴾ وَعَنۡ أَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ مَا الۡكَوۡثَرُ

او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د کوثر باره کې پوښتنه وشوه چې هغه څه

قَالَ ذٰلِكَ نَهۡرٌ أَعۡطَانِيۡهِ اللهُ يَعۡنِيۡ فِي الۡجَنَّةِ

شی دی؟ نو حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې هغه يو نهر دی چې الله! ماته را کړی دی

أَشَدُّ بَيَاضًا مِّنَ اللَّبَنِ وَأَحۡلٰى مِنَ الۡعَسَلِ

د دې نهر اوبه د پيو نه زياتې سپينې او د عسلو (شاتو) نه زياتې خوږې دي په دې کې داسې مارغان

فِيۡهِ طَيۡرٌ أَعۡنَاقُهَا كَأَعۡنَاقِ الۡجُزُرِ قَالَ عُمَرُ إِنَّ

چې د هغوی څټونه د اوښانو د څټونو په شان اوږده دي ، حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړو چې : هغه

هٰذِهٖ لَنَاعِمَةٌ فَقَالَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ

مارغان خو به ډير چاغ او تندرست وي حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل د هغه مارغانو خوړونکی

أَكَلَتُهَا أَنْعَمُ مِنْهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
به د هغه مارغانو نه هم زیات مظبوط او خوشحال وي. [ترمذی

توضیح : **الجـزر**: دا جمع ده ددې مفرد جزور دی اوښ ته وايي او اعناق غاړو (ځټونو) ته وايي يعني ددې مرغانو غاړې (ځټونه) به د اوښانو د غاړو پشان غټې او اږدې وي پخپله به هم د اوښانو پشان غټې وي. **لناعمة**: يعنې دغه مرغان به غټ چاغ او ډير ښايسته وي. **اكلتها**: د دريواړو حرفو په فتحاتو سره جمع ده ددې مفرد آكل دی، مطلب دا دی چې دغه مرغان اګرچې چاغ غټ او مزيداره وي ليكن ددوی خوړونكې جنتيان به ددې نه هم زيات صحتمند او چاغ او بهتر وي، ددې جملې نه يو خيالی اعتراض هم لرې شو چې كله په جنت كې دغه رنګ چاغ مرغان وي همدارنګه د ډيرې ميوه د منګي برابر وي د انګورو دانه به هم د منګی پشان غټه وي نو د دنيا انسان به دغه څنګه خوري او په دې كې به څه خوند وي؟ جواب همدا دی چې د هغه ځای انسان به هم صحت مند او د جسامت والا وي هغوی به په آسانۍ سره دغه انګور خوري، ددې حديث نه دغه جواب ته اشاره كيدلې شي.

جنتيانو ته به هر هغه شی حاصليږي د کوم چې هغوی خواهش وکړي

﴿۳۰﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ
او حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی يو سړي پوښتنه وکړه يا رسول الله! آيا په جنت کې به آسونه وي؟
قَالَ إِنِ اللهُ أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل که الله! ته په جنت کې داخل کړي او تا په آس د سورلۍ خواهش
أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتٍ
ښکاره کړو نو ته به په جنت کې د سرو ياقوتو په آس سور شې او ته چې په جنت کې چيرته غواړې
حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ إِلَّا فَعَلْتَ
نو هغه آس به تيز رفتارۍ سره تا وزغلوي او الوتو سره به تا بوځي دې نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنَ الْإِبِلِ ؟ فَإِنِّي أُحِبُّ الْإِبِلَ.
نه يو بل سړي پوښتنه وکړه يا رسول الله! آيا په جنت کې به اوښان هم وي؟ ځکه چې اوښان ځما خوښ دي

قَالَ فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مَا قَالَ

حضرت بريده رضي الله عنه وايي نبي عليه السلام هغه سړي ته هغه جواب ورنه کړو کوم چې نبي عليه السلام د

لِصَاحِبِهِ فَقَالَ إِنْ يُدْخِلْكَ اللهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ

هغه ملګري ته ورکړی وو بلکه ورته يې وفرمايل چې که الله ! ته په جنت کې داخل کړې نو هغې کې به

لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۱)

ستاليپاره هر هغه شی وي کوم چې ستا زړه غواړي او ستا سترګه يې خوښوي. [ترمذي]

﴿۳۱﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ

او حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې يو بانډه چې راغی او

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ أَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ

عرض يې وکړو يارسول الله ! ځما آسونه ډير خوښ دي آيا په جنت کې به آسونه هم وي؟

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل که په جنت کې داخل شوې نو تاته به د يو آس ياقوتو درکړی شي

لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ ثُمَّ طَارَ بِكَ

چې د هغه به دوه وزرونه وي بيا به ته په هغه آس سور شې او ته چې چيرته تلل غواړې هغه آس به تا

حَيْثُ شِئْتَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ هٰذَا حَدِيثٌ لَيْسَ

اوځولو سره بوځي دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې د دې حديث اسناد قوي نه دی او

إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَأَبُو سَوْرَةَ الرَّاوِي يُضَعَّفُ

ابو سوره چې د دې حديث راوي دی په څه سبب په فن حديث کې يا اسناد حديث کې ضعيف شميرلی شي

فِي الْحَدِيثِ وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ أَبُو سَوْرَةَ هٰذَا مُنْكَرُ الْحَدِيثِ يَرْوِي مَنَاكِيرَ. (۲)

او ما د محمد بن اسماعيل بخاري نه دا اوريدلي دي چې ابو سوره منکر الحديث دی منکر حديثونه روايت کوي

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۸ رقم الحديث ۲۵۴۴

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۸ رقم الحديث ۲۵۴۴ واحمد في المسند ۵/۳۵۲

اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۸ رقم الحديث ۲۵۴۴ واحمد في المسند ۵/۳۴۷

جنتيانو كې د اُمت محمدي تناسب (كميت)

﴿۲۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ
او حضرت بريده رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د جنتيانو به يوسل شل صفونه وي
وَمِائَةُ صَفٍّ ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هٰذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ .
په هغو كې به اتيا صفونه د دې امت وي او څلويښت صفونه به د نورو امتونو د خلقو وي دا
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ .(۱)
روايت ترمذيؒ او دارمي او بيهقي په كتاب البعث والنشور كې نقل كړى دى.

توضيح : ثمانون صفا: په دې حديث كې د اهل محشر د ۱۲۰ صفونو ذكر دى چې په هغو كې د دې امت د ۸۰ صفونو بيان دى چې دوه چنده زيات دي ، په نورو حديثونو كې د نصف اهل جنت ذكر دى ، دا واضحه تعارض دى ؟ د دې جواب دا دى چې د وحى په ذريعه اول د يو تناسب ذكر وو بيا د الله تعالى په زياتې مهربانۍ سره اضافه شول نو د نصف نه زيات شول ، او س اعتراض پاتې نشو .

﴿۲۳﴾ وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سالم خپل پلار نه نقل كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د جنت په كومه
بَابُ أُمَّتِي الَّذِي يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ
دروازه چې څما امت داخليږي د هغې پلنوالي د هغه سور د منډې دمسافت په اندازه به وي چې آس
الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ ثَلَاثًا ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيُضْغَطُونَ
تيز زغلول بهتر پيژني درې ورځې يا درې كاله بيا به هم څما د امت جنتيان په هغه دروازه داخليدو
عَلَيْهِ حَتّٰى تَكَادُ مَنَاكِبُهُمْ تَزُولُ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
نه ډيره تنګي محسوسوي د دې پورې چې د هغوئ اوږې به د يو بل سره جنګيږي دا روايت ترمذي نقل
وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ ضَعِيفٌ وَسَأَلْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ عَنْ هٰذَا الْحَدِيثِ
كړى دى او ويلي يې دي دا حديث ضعيف دى او ما د محمد بن اسماعيل بخاري رحمه الله نه اوريدلي دى

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۸۹ رقم الحديث ۲۵۴۶ وابن ماجه ۲/۱۴۳۴ رقم الحديث ۴۲۸۹.

فَلَمْ يَعْرِفْهُ وَقَالَ خَالِدُ بْنُ أَبِي بَكْرٍ يَرْوِي الْمَنَاكِير.[1]

چې د دي حديث راوي منکر روايتونه بيانوي

﴿۳۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَسُوْقًا

او حضرت علي رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په جنت کې يو بازار دى چې په

مَا فِيهَا شِرًى وَ لَا بَيْعٌ إِلَّا الصُّوَرَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَإِذَا

هغه کې به آخستل او خرڅول نه ږي بلکه هلته به د سړو او ښځو قسا قسم حسين او جميل صورتونه په نظر

اشْتَهَى الرَّجُلُ صُوْرَةً دَخَلَ فِيهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

راځي څوک چې هلته کوم صورت خوښ کړي په هغه کې به ځاي شي دا حديث ترمذي نقل کړى دى

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ[2]

او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.

﴿۳۵﴾ وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ

او حضرت سعيد بن مسيب تابعي نه روايت دى چې يوه ورځ په بازار کې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه د

فَقَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ أَسْأَلُ اللهَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ

هغه ملاقات وشو نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه وويل زه د الله ! نه دعا غواړم چې يو ځاى کړي ما او تا د

فِي سُوقِ الْجَنَّةِ فَقَالَ سَعِيْدٌ أَفِيهَا سُوْقٌ قَالَ

جنت په بازار کې حضرت سعيد په دي سره وويل آيا په جنت کې به بازار وي ابو هريره رضي الله عنه وفرمايل

نَعَمْ أَخْبَرَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوْهَا

هو ما ته رسول الله صلى الله عليه وسلم خو دلي وو هر کله چې جنتي خلق په جنت کې داخل شي نو د خپلو خپلو

نَزَلُوْا فِيهَا بِفَضْلِ أَعْمَالِهِمْ ثُمَّ يُؤْذَنُ

اعمالو د فضيلت او برترى په لحاظ د جنت منزلونو او درجو کې داخليږي بيا هغوئ ته به د

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۹۰ رقم الحديث ۲۵۴۸.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۹۲ رقم الحديث ۲۵۵۰ واحمد في المسند ۱/۱۵۶.

لَهُمْ فِيْ مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا

دنیاوي ورځو د اعتبار سره د جمعې په ورځ اجازه ورکول شي او هغوی ټول به په هغه ورځ د خپل

فَيَزُوْرُوْنَ رَبَّهُمْ وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدّٰى لَهُمْ فِيْ رَوْضَةٍ

پروردګار زیارت کوي پروردګار به د هغوی مخکې خپل عرش ظاهر کړي او د جنت یو لوی باغ کې به

مِّنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ فَيُوْضَعُ لَهُمْ مَّنَابِرُ مِنْ يَاقُوْتٍ

جلوه وفرمایي نو کېښودلی به شي ورتلونکو جنتیانو ته د نور منبر، د ملغلرو منبر د یاقوتو منبر د

وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ وَمَنَابِرُ مِنْ ذَهَبٍ وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ

سرو زرو منبر او د سپینو زرو منبر کېښودل شي چې په هغه به جنتي کېني چې کوم جنتي د کمې درجې وي

وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيْهِمْ دَنِيٌّ عَلٰى كُثْبَانِ الْمِسْكِ منبرونو وَالْكَافُوْرِ

په هغوئ کې به ځوک معمولي او ذلیل نه وي هغه به د مشکو او کافورو په غونډو باندې کېني لیکن

مَا يُرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا

په ډېرو باندې ناستو خلکو ته به دا احساس نه وي چې په او تختونو باندې ناست خلق د دوی نه بهتر او افضل دي

قَالَ أَبُوْ هُرَيْرَةَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَهَلْ نَرٰى رَبَّنَا

حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي ما عرض وکړو یا رسول الله! آیا مونږ به په هغه ورځ خپل پروردګار وینو؟

قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

حضور علیه السلام وفرمایل هو یقینًا آیا تا سو د لمر او د څوارلسمې سپوږمۍ لیدو کې څه شک کوئ؟

قُلْنَا لَا قَالَ كَذٰلِكَ

مونږ عرض وکړو هیڅ کله نه نو وي فرمائیل دغه شان به تاسو ته په هغه ورځ د خپل پروردګار په لیدو

لَا تَتَمَارَوْنَ فِيْ رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ وَلَا يَبْقٰى فِيْ ذٰلِكَ الْمَجْلِسِ

کې څه شبهه نه وي او د دیدار الهي هغه مجلس کې به هیڅ سړی داسې باقي پاتې نشي کوم سره چې د

رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللهُ

پروردګار د ټولو د حجاب د پردو او چتولو سره براه راست ورسره هم کلام و نه شي ددې پورې چې الله!

مُحَاضِرَةً	وَحَتّٰى	يَقُوْلَ	لِلرَّجُلِ	مِنْهُمْ	يَا	فُلَانَ	بْنَ فُلَانٍ

به حاضرینو کې يوې و سړي مخاطب کړي ورته به وفرمايي اى فلان ابن فلان! آيا تاته هغه ورځ ياده ده

أَتَذْكُرُ	يَوْمَ	قُلْتَ	كَذَا	وَكَذَا

کله چې تا داسې ويلي وو هغه سړى به ددې خبري اوريدو سره توقف وکړي او د خپل کړي گناهونو اظهار

فَيُذَكِّرُهُ	بِبَعْضِ	غَدَرَاتِهِ	فِي	الدُّنْيَا

کې به سوچ وکړي نو پروردگار به هغه ته بعضې عذرونه وزياده کړي چې هغه په دنيا کې کړي وو بيا به

فَيَقُوْلُ	يَارَبِّ	أَفَلَمْ	تَغْفِرْ	لِيْ	فَيَقُوْلُ

هغه سړى عرض وکړي اى څما پروردگاره! آيا تا څما هغه گناهونه بخښلي نه دي الله تعالى به ورته وفرمايي

بَلٰى	فَبِسَعَةِ	مَغْفِرَتِيْ	بَلَغْتَ

يشکه ما ستا هغه گناهونه بخښلي دي او ته نن څما د وسعت فضل په برکت دې مرتبې ته رسيدلى يې

مَنْزِلَتَكَ	هٰذِهٖ	فَبَيْنَمَا	هُمْ	عَلٰى	ذٰلِكَ	غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ

بيا به هغه خلق په هغه حالت او هغه ځاى باندې وي چې يوه وريځ به راتلو سره په هغوى وغوړيږي او په

مِنْ	فَوْقِهِمْ	فَأَمْطَرَتْ	عَلَيْهِمْ	طِيْبًا	لَمْ	يَجِدُوْا	مِثْلَ

هغوى به داسې خوشبو ووروي چې هغوى به هغه شان خوشبو هيڅ کله په څه شي کې نه وي موندلې

رِيْحِهٖ	شَيْئًا	قَطُّ	وَيَقُوْلُ	رَبُّنَا	قُوْمُوْا	إِلٰى

دي نه روسته به زمونږ پروردگار وفرمايي خلقو! لاړشئ او هغه شي طرف ته راشئ چې مونږ د ستاسو

مَا	أَعْدَدْتُ	لَكُمْ	مِنَ	الْكَرَامَةِ	فَخُذُوْا	مَا	اشْتَهَيْتُمْ

د اکرام او اعزاز د پاره تيار کړي دي او تاسو د خپلي خوښي او خواهش مطابق چې څه غواړئ واخلئ

فَنَأْتِيْ	سُوْقًا	قَدْ	حَفَّتْ	بِهٖ	الْمَلَائِكَةُ

حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په دې اوريدو سره به جنتيان خلق هغه بازار ته ورشي چې فرشتي به ترې نه چاپيره

فِيْهَا	مَالَمْ	تَنْظُرِ	الْعُيُوْنُ	إِلٰى	مِثْلِهٖ	وَلَمْ	تَسْمَعِ الْأٰذَانُ

وي په هغه بازار کې به داسې شيان موجود وي چې هغه به نه يوې سترگې ليدلي وي نه به يو غوږ اوريدلي وي

وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوْبِ فَيُحْمَلُ

او نه به د چا په زړه کې د هغه تصور راغلی وي بیا به هغه بازار نه مونږ ته هغه څیزونه راکول شي د کوم

لَنَا مَا اشْتَهَيْنَا لَيْسَ يُبَاعُ فِيْهَا

چې مونږ خواهش کوو حالانکه په هغه بازار کې به د آخستلو او خرخولو په شان کې به ټول جنتي

وَلَا يُشْتَرٰى وَفِيْ ذٰلِكَ السُّوْقِ

خلق په خپلو کې یو د بل سره ملاقات کوي حضور ﷺ وفرمایل دیوې اوچتې مرتبې

يَلْقٰى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا قَالَ فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ

سړی به یو داسې سړي سره ملاقات کوي چې هغه به دده نه کمتر وي لیکن په جنتیانو کې به دانه وي

فَيَلْقٰى مَنْ هُوَ دُوْنَهُ وَمَا فِيْهِمْ دَنِيٌّ فَيَرُوْعُهُ مَا يَرٰى عَلَيْهِ

چې د چا به معمولي او ذلیل خیال کولی شي بهرحال هغه اوچتې مرتبې سړي ته به هغه لباس خوښ

مِنَ اللِّبَاسِ فَمَا يَنْقَضِيْ آخِرُ حَدِيْثِهِ حَتّٰى

شي کوم چې د کمتر درجې هغه سړي اغوستی ووینې او د دواړو ړخبرو سلسله به لاختمه شوې نه وي

يُتَخَيَّلَ عَلَيْهِ مَا هُوَ أَحْسَنُ مِنْهُ وَذٰلِكَ

چې هغه کمترې مرتبې سړی به محسوس کړي چې څما لباس څما د مخاطب دلباس نه هم بهتر دی او

أَنَّهُ لَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ

دا ځکه چې په جنت کې به هیچاته د غمجن کېدو موقع نشي ورکولی حضور ﷺ وفرمایل

فِيْهَا ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلٰى مَنَازِلِنَا

دي نه روسته به مونږ ټول جنتیان خپل خپل محلاتو او مکاناتو طرف ته بیرته راشو او هلته به زمونږ

فَيَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا فَيَقُلْنَ مَرْحَبًا

ښځې زمونږ سره یو ځای شي نو زمونږ استقبال کوي او هره ښځه به خپل خاوند ته وایي چې ته په

وَأَهْلًا لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ بِكَ مِنَ الْجَمَالِ

داسې حال کې بیرته راغلی یې چې دا وخت ستا حسن او جمال د هغه حسن وجمال نه ډېر زیات دی چې

أَفْضَلَ	مِمَّا	فَارَقْتَنَا	عَلَيْهِ	فَنَقُوْلُ	إِنَّا	جَالَسْنَا	
زمونږ نه د تلو په وخت کې په تاکې وو نو مونږ به خپلو بيبيانو ته وايو چې نن مونږ د خپل رب سره د کيناستلو عزت							
الْيَوْمَ	رَبَّنَا	الْجَبَّارَ	وَيَحِقُّنَا	أَنْ	نَّنْقَلِبَ	بِمِثْلِ	
حاصل کړئ چې د جسم او بدن او د حسن او جمال هرې کمۍ نه جوړ ونکی دی نو مونږ خپل دې شان							
مَا	انْقَلَبْنَا	رَوَاهُ:	التِّرْمِذِيُّ	وَابْنُ	مَاجَةَ		
سره د بير ته راتلو لائق يو کوم شان سره چې مونږ راغلي يو دا روايت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی							
وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ. (١)							
او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی.							

توضيح: **كثبان المسك**: كثبان جمع ده په كاف باندې پيښ دی ، ثاء باندې سکون دی ددې مفرد كثيب دی غونډۍ (ډيرۍ) ته وايي ، د مشک او عنبرو غونډۍ مراد ده. **والكافور**: دا په **المسك** باندې عطف دی يعنې د مشکو په غونډۍ ناست وي او د كافورو په غونډيو به ناست وي.

په جنتيانو کې د اولاد خواهش

﴿٣٦﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدْنٰى أَهْلِ الْجَنَّةِ									
او حضرت ابوسعيد رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل په جنتيانو کې چې د ټولو									
الَّذِيْ	لَهُ	ثَمَانُوْنَ	أَلْفَ	خَادِمٍ	وَّاثْنَتَانِ	وَسَبْعُوْنَ	زَوْجَةً		
نه کمې مرتبې کوم سړی وي د هغه به اتيا زره خادمان او دوه اويا ٧٢ ښځې وي او دده د پاره به يوه									
وَتُنْصَبُ	لَهُ	قُبَّةٌ	مِّنْ	لُؤْلُؤٍ	وَّزَبَرْجَدٍ	وَّيَاقُوْتٍ	كَمَا		
خيمه ودرول شي چې هغه به د ملغلرو زبرجدو او ياقوتو نه جوړه وي او ددې خيمې به دومره									
بَيْنَ	الْجَابِيَةِ	إِلٰى	صَنْعَاءَ	وَبِهٰذَا	الْإِسْنَادِ	قَالَ	مَنْ		
اوږدوالی وي څومره فاصله په مابين د جابيه او صنعا کې ده او په دې اسناد سره په يو روايت کې دي									

مَّاتَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيْرٍ أَوْ كَبِيْرٍ
چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل هغه خلق چې هغوئ په جنت کې داخل شي په دنیا کې که لږ عمر کې

يُرَدُّوْنَ بَنِيْ ثَلَاثِيْنَ فِي الْجَنَّةِ لَايَزِيْدُوْنَ عَلَيْهَا
مړ شي یا ډیر په جنت کې به د دیرش کالو په عمر سره داخلیږي او هغوئ به هیڅ کله د دې عمر نه

أَبَدًا وَكَذٰلِكَ أَهْلُ النَّارِ وَبِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ
نه زیاتیږي دا معامله به د دوزخیانو هم وي او دې اسناد سره په یوه روایت کې دا دي چې حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ

إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيْجَانُ أَدْنٰى لُؤْلُؤَةٍ مِّنْهَا لَتُضِيْءُ
وفرمایل د جنتیانو په سرونو چې به کوم تاج وي د هغه د ټولو نه معمولي ملغلره به داسې وي چې

مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَبِهٰذَا الْإِسْنَادِ قَالَ
مشرق نه مغرب پورې به ټول روښانه کړي او دې اسناد سره په یوه روایت کې دا دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

اَلْمُؤْمِنُ إِذَا اشْتَهَى الْوَلَدَ فِي الْجَنَّةِ كَانَ حَمْلُهٗ وَوَضْعُهٗ
وفرمایل که بالفرض یو مسلمان په جنت کې د اولاد خواهشمند شي نو د بچي حمل کېدل د هغه

وَسِنُّهٗ فِيْ سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِيْ وَقَالَ إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيْمَ
ځيګيدل او د هغه د خوښې عمر ته رسیدل هر څه به یو ساعت کې وشي او حضرت اسحاق بن ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ

فِيْ هٰذَا الْحَدِيْثِ إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ الْوَلَدَ
د دې آخري روایت باره کې وایي که یو مومن په جنت کې د اولاد خواهشمند شي نو خواهش به یې یو

كَانَ فِيْ سَاعَةٍ وَّلٰكِنْ لَايَشْتَهِيْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
ساعت کې پوره شي لیکن حقیقت دا دی چې داسې خواهش هیڅوک نکوي دا روایت ترمذي نقل

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَرَوَ ى ابْنُ مَاجَةَ الرَّابِعَةَ
کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی او ابن ماجه څلورم روایت نقل کړی دی او

وَالدَّارِمِيُّ الْآخِيْرَةَ(۱)

دارمي صرف دا آخري حصه نقل کړې ده.

د حورو سندرې

﴿۳۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَمُجْتَمَعًا

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې به د حورعين د اجتماع

لِلْحُوْرِ الْعِيْنِ يَرْفَعْنَ بِأَصْوَاتٍ

يو ځای وي او هلته به په اوچت اواز سره سندرې وايي د هغوی اوازونه به دومره حسين وي چې

لَمْ تَسْمَعِ الخلائق مِثْلَهَا يَقُلْنَ نَحْنُ الْخَالِدَاتُ

مخلوقاتو کې به داسې اواز چا نه وي اوريدلی هغه حورې به داسې سندرې وايي مونږ ته هميشه ژوند

فَلَا نَبِيْدُ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ

حاصل دی مونږ ته به هيڅ کله مرګ نه راځي مونږ عيش او آرام سره اوسيدونکې يو مونږ به هيڅ کله

فَلَا نَبْأَسُ وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا

سختي او پريشاني نه وينو مونږ د خپل پروردګار يا د خپلو خاوندانو نه راضي او خوشحاله يو مونږ

نَسْخَطُ طُوْبٰى لِمَنْ كَانَ لَنَا

هيڅ کله ناراضه کېږو نه هرهغه سړي د پاره مبارک بادي ده چې په جنت کې زمونږ د پاره دی او مونږ

وَكُنَّا لَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۲)

د هغه د پاره يو. [ترمذي]

﴿۳۸﴾ وَعَنْ حَكِيْمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ

او حکيم بن معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنت کې د اوبو درياب دی

بَحْرُ الْمَاءِ وَبَحْرُ الْعَسَلِ وَبَحْرُ اللَّبَنِ وَبَحْرُ الْخَمْرِ

او د شهدو درياب دی او د شيدو درياب دی او د شرابو درياب دی او بيا به هغه دريابونو نه نور

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۹۹ رقم الحديث ۲۵۶۲ وابن ماجه في السنن ۲/۱۴۵۲ رقم الحديث ۴۳۳۸ .

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۰ رقم الحديث ۲۵۶۴ واحمد في المسند ۱/۱۵۶ .

ثُمَّ تَشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ و رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ عَنْ مُعَاوِيَةَ. (۱)

نهرونه وځي [ترمذي] او دارمي دا روايت د معاويه" نه نقل کړی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د جنت د حورو لطافت (باريکي)

﴿۳۹﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ

حضرت ابو سعيد رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم نه نقل کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل جنتي

فِي الْجَنَّةِ لَيَتَّكِئُ فِي الْجَنَّةِ سَبْعِينَ مُسْنَدًا قَبْلَ أَنْ

سړی به په جنت کې د اويا تياګانو ته تکيا لګولو سره به ناست وي مخکې د دې نه چې يو اړخ نه دوهم

يَتَحَوَّلَ ثُمَّ تَأْتِيهِ امْرَأَةٌ فَتَضْرِبُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ

اړخ بدل کړي بيا به د جنت د ښځو نه يوه ښځه راشي او هغه به د هغه اوږه ووهي هغه سړی به هغې

فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِي خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ وَإِنَّ

طرف ته متوجه شي او د هغه په مخ کې به چې د آينې نه به زيات صفا او روښانه وي خپل مخ ويني

أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا تُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ

او حقيقت دا دې که د هغه ښځې په زيور لګيدلې يوه معمولي شان ملغلره دنيا ته راشي نو مشرق نه

وَالْمَغْرِبِ فَتُسَلِّمُ عَلَيْهِ قَالَ

تر مغرب پورې به هرشی به روښانه او منور کړي بهرحال هغه ښځه به هغه سړي ته سلام وکړي او سړی

فَيَرُدُّ السَّلَامَ وَيَسْأَلُهَا مَنْ أَنْتِ فَتَقُولُ أَنَا

به د هغه د سلام جواب ورکړي او پوښتنه به ترې نه وکړي چې ته څوک يې هغه به ورته وايي چې زه

مِنَ الْمَزِيدِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ عَلَيْهَا سَبْعُونَ

د مزيد نه يم او صورت حال به دا وي چې د هغه ښځې په بدن به د اويا کپړو لباسونه وي او د هغه سړي

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۳ رقم الحديث ۲۵۷۱ واحمد في المسند ۵/۵.

ثَوْبًا	فَيَنْفُذُهَا	بَصَرُهُ	حَتّٰى	يَرٰى	مُخَّ
نظر به د هغه ښځي د لباس نه هم تیرشي تردي پوري چې هغه سړی به د هغه ښځي د پنډیو نلی (مغز)					

سَاقِهَا	مِنْ	وَّرَاءِ	ذٰلِكَ	وَإِنَّ	عَلَيْهَا	مِنَ	التِّيْجَانِ	إِنَّ	أَدْنٰى
هم دلباس د لاندې نه ویني او د هغه ښځي په سر به داسې تاجونه ایښي وي چې د هغه تاجونو									

لُؤْلُؤَةٍ	مِّنْهَا	لَتُضِيْءُ	مَا	بَيْنَ	الْمَشْرِقِ	وَالْمَغْرِبِ.	رَوَاهُ	أَحْمَدُ[1]
معمولي شان ملغلره به هم داسې وي چې د مشرق نه مغربه پوري هرشی به روښانه کړي[احمد]								

توضیح : في خدها: خد اننګي ته وایي یعنې د جنتي حورو جسماني لطافت به دومره زیات وي چې د خاوند مخ به د هغې د شیشې غوندې مخ کې منعکس شي خاوند به ویني . دغه حقیقت ته یو ظریف شاعر داسې اشاره کړې ده :

رأيت الخال في خد فقلت الخال افسانا　　　فما كانا وما كان لعين كان انسانا

یعنې ما د خپلې محبوبې په مخ باندې یو تور ټکی ولیدلو نو ما وویل چې دا ټکی آیا افسانه ده ، مګر هغه افسانه نه وه بلکه زما د سترګې کسی وو .

على منكبيه: ددینه معلومیږي چې دغه حوره به د خپل ټولو زیوراتو او ښائست سره د جنتي د اوږو شاته په سر و دریږي او لاندې به ده ته ګوري چې د محبت نهایت زړه وړونکی منظر به وي ، یو چا په پښتو کې ویلي دي :

سترګې راپورته کړه او ګوره　　　د ګلو څانګه دې په سر ولاړه یمه

په جنت کې د زراعت (کرونده) خواهش او د هغه تکمیل

﴿۴۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَدَّثُ وَعِنْدَهُ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ
او حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو دیهاتي (اطرافي) مسلمان

الْبَادِيَةِ	أَنَّ	رَجُلًا	مِّنْ	أَهْلِ	الْجَنَّةِ	اسْتَأْذَنَ
ناست وو او حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په جنتیانو کې به یو سړی د خپل پروردګار نه د کروندې						

(۱) اخرجه احمد في المسند ۳/۷۵ .

رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ فَقَالَ لَهُ أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ

اجازه طلب کړي الله ! به ورته فرمايي اياته چې څه غواړې هغه موجود نه دي هغه سړی به عرض

قَالَ بَلَى وَلٰكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ

وکړي بيشکه دلته هرڅه موجود دي ليکن ځما خواهش دادی چې زمينداري وکړم بهرحال هغه سړي

فَبَذَرَ فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ

ته به د زمينداری اجازت ورکړی شي هغه به په ځمکه کې تخم وکړي او د سترګو رپ کې به شين بوټي

وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ

راشين شي او هرکله چې فصل پخيدو سره ورېبل شي او دغر برابر انبار ولګيږي نو الله ! به هغه

فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ فَإِنَّهُ

سړي ته فرمايې ای ابن آدم اوګوره ستا خواهش پوره شو حقيقت دادی چې ستا د حرص خېټه هيڅ

لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ وَاللهِ لَا تَجِدُهُ إِلَّا قُرَشِيًّا

شی نشي ډکولی راوي وايي هغه ديهاتي ووېل قسم په الله چې هغه سړی به يقينًا يا قريشي وي يا

أَوْ أَنْصَارِيًّا فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ

انصاري ځکه چې دا خلق کرونده کوي او هرچې مونږ د صحرا خلق يو د کروندو سره هيڅ واسطه نشته

فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. (۱)

دې اوريدو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وخندل. بخاري

په جنت کې به د خوب ضرورت نه وي

﴿۴۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يو سړي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه آيا جنتيان به اوده کېږي؟

أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ قَالَ النَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ وَلَا يَمُوتُ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل خوب د مرګ ورور دی او ښکاره ده چې جنتيان به نه مري او

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۵/۲۷ رقم الحديث ۲۳۴۸ وأحمد في المسند ۲/۵۱۱

أَهْلُ الْجَنَّةِ . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.(۱)

هرکله چې هغوئ نه مري نو اوده کېږي به هم نه دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی.

نوټ: په آخر کې د جنت د حصول په باره کې د بنده د زړه یو آواز خو هم واورئ کوم چې د بنده په خپل انداز کې دی:

خدایه جنت زما نصیب کړې — په سینه ګیره ډیر فریاد درته کومه
زما رحمان غفور رحیم دی — زه له هغه د مغفرت دعاء کومه
رسول الله ﷺ به ګټه وکړي — شیطان به پړ کړي مونږ به تهول جنت له ځونه

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

هفته ۱۵ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

---

(۱) رواه البيهقي في شعب الايمان ۲/۱۸۳ رقم الحديث ۲۷۲۵.

باب رؤية الله تعالى
د دیدار الهی بیان

قال الله تعالى: ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾

د اهل السنة والجماعة متفقه عقیده ده چې په قیامت او عالم آخرت کې به مؤمنان د الله تعالی دیدار کوي او دا نه شرعا محال دی او نه عقلا محال دی لهذا بلاوجه د ددیدار الهی نه انکار مکابره او مجادله ده. بل طرفته اهل اهواء خوارج او معتزله دا وایې چې د الله تعالی لیدل او په دنیا او آخرت کې د هغه دیدار محال دی لهذا رؤیت د باری تعالی به نه وي.

سوال: که څوک دا سوال وکړي چې د جسمانی سترګې لپاره دا ضروری ده چې شئ مرئی به جسم وي چې په هغه باندې نظر ودریږي، او دا هم ضروری ده چې د هغه شئ مرئی لپاره به جهت وي چې سترګې هغه طرفته متوجه شي او دا هم ضروری ده چې هغه شئ په کوم خاص مکان او مقام باندې موجود وي تر څو د نظرونو په ګرفت کې راشي او دا ټول شیان د الله تعالی د الوهیت او قدیمی صفت منافی دي لهذا دیدار الهی ناممکن دی.

جواب: ددې جواب دا دی چې الله تعالی قادر مطلق ذات دی د هغه لپاره دا مشکله نده چې هغه د سر په دې موجوده سترګو کې داسې بصیرت پیدا کړي لکه څنګه چې دغه رب په زړه کې بصیرت پیدا کړی دی بیا د سترګو ددغه بصیرت په دولت دغه انسان د جسمانی جسم نه بغیر همدارنګه د مکان او جهت د تعیین نه بغیر په دې سترګو سره د کوم شی ادراک وکړی شي نو په دې کې استحاله نشته.

دلائل: معتزله او خوارج په عدم رؤیت د باری تعالی باندې د قرآن کریم ددې آیت نه استدلال کوي ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾ د دوی په نزد ددې آیت تعلق د دنیا او آخرت دواړو سره دی لهذا په قیامت کې به هم دیدار نه وي، معتزله او خوارج عقل هم په خپل استدلال کې استعمالوي او وایې چې د سترګو مخې ته د جسم وجود ضروری دی او الله تعالی د جسم او جسمانی حوادثاتو نه پاک دی نو ځکه د هغه لیدل هم محال دي.

اهل سنت و الجماعة د دیدار الهی د اثبات لپاره د قرآن کریم آیت ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ په طور د استدلال وړاندې کوي او د مذکوره باب د زیاتو احادیثو نه استدلال کوي. همدارنګه په دیدار الهی باندې اجماع هم منعقده ده ،اهل سنت ددې آیت نه هم استدلال کوي﴿لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ﴾ یعني کومو خلکو چې نیک کارونه وکړل د هغو لپاره

حسنى يعنې جنت هم دى او يو څه زياتې هم دى ، همدغه زياتى ديدار الهى دى .

اهل سنت ددې آيت نه هم استدلال کوي ﴿كَلَّا إِنَّهُمْ عَن رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوبُونَ﴾ طريقه د استدلال داسې چې د کفار به ديدار الهي نه په طور د سزا منع کړى شي لهذا مؤمنانو ته به دا سزا نه وي بلکه ديدار به وي . يو بزرګ يو معتزلى کس ته وويل رښتيا ووايه چې تا ته د ديدار الهى تمنا شته او که نه ؟ هغه وويل تمنا خو شته ، بزرګ وويل بيا خو ديدار محال نه دى بلکه ممکن شو ځکه چې د محال تمنا نه کيږي بلکه د ممکن تمنا کيږي .

جواب : معتزلو خوارجو او مرجئو اهل باطلو چې د کوم آيت نه استدلال کړى دى د هغه يو جواب دا دى چې په دې آيت کې د ديدار د نفى تعلق د دنيا سره دى چې په دنيا کې داسې کيدلى نشي .

دويم جواب دا دى چې په (**لاتدركه الابصار**) کې د احاطه نفى ده چې په الله تعالى باندې د نظر احاطه نشي راتللى ، ليدل يو شى دى او احاطه او ادراک بل شى دى .

دريم جواب : دا دى چې د **لاتدركه الابصار** والا د نفى په آيت کې د ډيرو احتمالاتو ګنجائش شته او د ديدار د اثبات آيت صريح دى په دې کې احتمالات نشته . څلورم جواب په اصل کې د معتزلو او خوارجو د عقلى دليل جواب دى اګرچې د هغوى د عقلى دليل جواب ددې نه مخکې د بحث په شروع کې ورکړى شوى دى ، خلاصه دا ده چې الله تعالى قادر مطلق دى که د رؤيت لپاره جسامت ضرورى دى نو شايد دا به د دنيا د بصارت لپاره وي د آخرت په بصارت کې به نوى قوت راځي ، همدارنګه د رؤيت لپاره جهت ضرورى شى نه دى د هر جهت نه هم رؤيت کيدلى شي لکه څنګه چې علم د هر جهت نه راځي دده لپاره د کوم جهت ضرورت نشته د هر طرفنه علم راتللى شي ، همدارنګه الله تعالى چې کله چا ته ګوري نو ددې لپاره هم جهت ضرورى نه دى لهذا دغه عقلى تصور صحيح نه دى چې د ديدار الهى لپاره د جهت او مکان وجود ضرورى دى .

د ديدار الهى اقسام او مقامات

د حساب او کتاب په وخت کې به د الله تعالى يو عام ديدار کيږي چې د محشر په ميدان کې به وي په دې کې به ټول مخلوقات شامل وي که مسلمان وي او که غير مسلمان وي ، د نفى تعلق ددې رؤيت سره نه دى چې بيا به کله هم ديدار نه کيږي ، د نفى تعلق د ميدان محشر نه بعد ديدار سره کيدلى شي . دويم ديدار به په جنت کې وي دا د مسلمانانو سره خاص دى چې يو وار به نه وي بلکه بار بار به وي ، ددې ثبوت په قرآن او حديث کې دى ، همدارنګه راجح قول دا دى چې جنتيان ښځې به هم په ديدار کې شريکې وي ، همدارنګه د راجح قول مطابق ملائکې او جنات به هم په جنت کې په ديدار الهى سره مشرف کيږي . په دنيا کې ديدار الهى اګرچې ممکن دى مګر غير واقع دى چې کوم کس د

دیدار الهی دعوه کوي هغه به ګمراه کیږي .
اوس پاتې شوه دا خبره چې حضور ﷺ د معراج په شپه د الله تعالی دیدار کړی وو او که نه ؟ نو په دې کې د حضرت عائشه او حضرت ابن مسعود او حضرت ابوهریره رضوان الله علیهم اجمعین رأیه دا ده چې دیدار شوی نه وو لیکن د حضرت ابن عباس حضرت انس او د جمهورو صحابه رأیه دا ده چې دیدار شوی وو او همدا راجح دی . د حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه نه د دیدار نفی او اثبات دواړه منقول دي ، د علامه طیبی رحمه الله په نزد توقف بهتر دی . د معراج متعلق احادیثو کې اګرچې د دیدار د اثبات او نفی دواړه احتماله شته مګر جمهورو صحابهؤ او جمهورو علماؤ رؤیت راجح ګرځولی دی، د معراج د روایاتو اصل حقیقت دا دی چې د الله تعالی انوارات او تجلیات مختلف دي، بعضې تجلیات (**قاصره للبصر**) دي او بعضې (**غیر قاهره للبصر**) دي نو کوم تجلیات چې قاهره للبصر دي د هغوی په وجود کې خو انسان دیدار کولی نشي او بعضې تجلیات چې قاهره للبصر نه دي د هغو په موجودګۍ کې یو قسم دیدار کیدلی شي ، د معراج په شپه کې د حضور ﷺ د دیدار مسئله د دغو تجلیاتو او انواراتو د تنوع او اقسامو په اعتبار سره حل کیدلی شي .لهذا عائشه رضي الله عنها چې په معراج کې د دیدار کوم انکار کړی دی نو هغه د ذات باری تعالی دیدار او د دغو خاصو تجلیاتو انکار دی چې دیته په حدیث کې داسې اشاره شوې ده (**نوراني اراه**) هغه خو یوه تجلی ده زه هغه چیرته لیدلی شم . دلته حضرت ابن عباس رضي الله عنه چې د کوم دیدار اثبات کړی دی هغه ځانته انوارات او تجلیات دي چې دیته په دې حدیث کې اشاره ده (**رأیت نورا**) ما یو خاص نور لیدلی وو .
د تجلیاتو او انواراتو دغه تقسیم ته په آینده حدیث نمبر ۶ کې واضحه اشاره شوې ده چې کافی او شافی ده ، په آخر کې دا خبره ذهن کې کینول پکار دي چې آیا په خوب کې د الله تعالی دیدار کیدلی شي او که نه ؟ نو علماؤ لیکلي دي چې دا ممکنه ده لیکن دا یو تخیل او تصور او علمی مشاهده ده چې په دې سره انسان تسلی حاصلولی شي نور څه کیدلی نشي . حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله فرمایلي چې ما په خوب کې سل کرته د الله تعالی دیدار کړی دی . د امام احمد بن حنبل رحمه الله په باره کې هم دا **ویلی** کیږي چې هغه ویلي دي ما الله تعالی په خوب کې ولیده نو ما پوښتنه ورنه وکړه چې کوم عمل تا ته زیات خوښ دی ؟ الله تعالی وفرمایل چې تلاوت د قرآن ، امام صاحب وپوښتل چې په معانیو او مطالبو باندې پوهیدو سره او که ددې نه بغیر؟ ویې فرمایل که په معانیو باندې پوهیدو سره وي یا ددینه بغیر وي . په هر حال دا مسئله په باب الرؤیا کې په تفصیل سره لیکلی شوې ده او آینده **باب المعراج** کې به هم راشي .

الفصل الاول

﴿۱﴾ عَنْ جَرِيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ

حضرت جریر بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنهُ وایي چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هغه وقت راتلونکی

سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ عَيَانًا وَ فِيْ رِوَايَةٍ قَالَ كُنَّا

دی چې په قیامت کې به تاسو خپل پروردګار په خپلو کولاؤ (غرېدلو) سترګو سره ووینئ په یو

جُلُوْسًا عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

روایت کې حضرت جریر دا بیان وکړو چې یوه ورځ مونږ د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ سره ناست وو چې

فَنَظَرَ اِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ فَقَالَ اِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ

حضور صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ته وکتل او وې فرمائیل تاسو به خپل رب داسې

كَمَا تَرَوْنَ هٰذَا الْقَمَرَلَا تُضَامُّوْنَ فِيْ رُؤْيَتِهٖ فَإِنِ

وینئ څرنګه چې دا سپوږمۍ وینئ او د پروردګار په لیدو کې به تاسو څه بندیز نه محسوسوئ

اسْتَطَعْتُمْ اَنْ لَّا تُغْلَبُوْا عَلٰى صَلَاةٍ قَبْلَ طُلُوْعِ

که تاسو کولی شئ نو هغه مونځ چې د نمر راختو نه مخکې دی یعني د سهار مونځ او هغه مونځ

الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا فَافْعَلُوْا

چې د نمر ډوبېدو نه مخکې دی یعني د مازیګر مونځ مه پرېږدئ او ضروریې داکوئ بیا یې دا

ثُمَّ قَرَءَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ

آیت تلاوت کړو وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ .. او د خپل پروردګار حمد او پاکي بیانوئ یعني مونځ کوئ د

قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ [1]

نمر ختو نه مخکې او د نمر پرېوتو نه مخکې. [بخاري مسلم]

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۳۱/۴۱۹ رقم الحديث ۷۳۳۵ ومسلم ۱/۴۳۹ رقم الحديث (۶۳۳-۲۱۱)

دیدار الهی د ټولو نه لوی نعمت دی

﴿۲﴾وَعَنْ صُهَيْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت صهیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل
قَالَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى
هرکله چې ټول جنتیان په جنت کې خپل خپل ځای ته ورشي نو الله ! به
تُرِيْدُوْنَ شَيْئًا أَزِيْدُكُمْ فَيَقُوْلُوْنَ
وفرمایي د هغې نه زیات څه نور څه تاسو زمانه غواړئ جنتیان به عرض وکړي ای زمونږ پروردګاره!
أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوْهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ
آیا تا زمونږ مخونه روښانه او منور کړي نه دي آیا تا مونږ جنت ته داخل کړي نه یو آیا تا مونږ ته
وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيُرْفَعُ الْحِجَابُ
د دوزخ د اور نه نجات نه دی راکړی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل بیا به د حجاب پرده پورته شي او
فَيَنْظُرُوْنَ إِلٰى وَجْهِ اللهِ تَعَالٰى فَمَا
جنتیان به د الله تعالی ذات اقدس طرف ته وګوري جنتیانو ته به داسې نعمت ورکړی شوی نه وي
أُعْطُوْا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلٰى رَبِّهِمْ
کوم چې د پروردګار طرف ته د هغه د لیدو نه زیات ښه او پسندیده (محبوب) وي بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ثُمَّ تَلَا لِلَّذِيْنَ أَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ(۱)
دا آیت ولوستلو: للذین احسنوا الحسنٰی وزیادة [مسلم]

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۶۳ رقم الحديث (۱۸۱-۲۹۷) والترمذي ۴/۵۹۳ رقم الحديث ۲۵۵۲.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

په جنت کې به صبا او بیګا دیدار الهي وي

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په جنتيانو کې د قدر او مرتبې

إِنَّ أَدْنٰى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلٰى جِنَانِهِ

په اعتبار د ادنٰی سړي هغه مرتبه وي چې خپلو باغونو خپلو ښځو خپلو نعمتونو خپلو خدمتګارو

وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيْمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيْرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ

او د خپلي ناستي (استراحت کولو) تخت او کرسۍ باندې به نظر لري چې د زروکالو د مسافت په

وَأَكْرَمُهُمْ عَلَى اللهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلٰى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً

اندازه رقبه کې به خواره وي او د الله ! په نزد د لويې مرتبې سړی به هغه وي چې سهار او ماښام

ثُمَّ قَرَءَ وُجُوْهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلٰى

د خپل پروردګار ذات اقدس د ديدار سعادت حاصلوي بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت تلاوت کړو

رَبِّهَا نَاظِرَةٌ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

(وُجُوْهٌ) ډير مخونه به په هغه ورځ تروتازه او خوشحاله وي د خپل پروردګار ديدار کوتکي به وي. [ترمذي]

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِيْ رَزِيْنٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَكُلُّنَا يَرٰى

او حضرت ابو رزين عقيلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما عرض وکړو يارسول الله! آيا مونږ کې هريو غير د بل چا

رَبَّهُ مُخْلِيًا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ بَلٰى

مزاحمت نه به خپل پروردګار ويني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هو ابورزين وايي ما بيا ترینه

---

[1] اخرجه احمد في المسند ۲/۶۴ والترمذي في السنن ۴/۵۹۳ رقم الحديث ۲۵۵۳.

قُلْتُ	وَمَا	آيَةُ	ذٰلِكَ	فِي	خَلْقِهِ قَالَ

پوښتنه وکړه آیا د پروردګار د دیدار د دنیاوي مخلوق کې څه مثال شته؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

يَا أَبَا رَزِينٍ أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ لَيْلَةَ

ای ابو رزین! آیا تاسو کې هرسړی په څوارلسمه شپه کې سپوږمۍ بغیر د مزاحمت نه ویني؟

الْبَدْرِ مُخْلِيًا بِهِ قَالَ بَلٰى قَالَ فَإِنَّمَا

ما عرض وکړو بیشکه وینی یي نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې سپوږمۍ خو دینه علاوه نوره

هُوَ خَلْقٌ مِّنْ خَلْقِ اللهِ وَاللهُ أَجَلُّ وَأَعْظَمُ . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. (۱)

هیڅ نه ده چې هغه د پروردګار د مخلوق نه یو مخلوق دی او پروردګار ډیر لوی او اوچت او برتر دی

توضیح : **مخلیا**: په میم باندې ضمه ده لام مکسور دی او په یاء باندې تنوین دی د تخلیة نه دی یوائې او بلا زحمته دیدار مراد دی.

آية ذلک: یعني په دې باندې دلیل څه شی دی داسې شی شته چې مونږ یې په طور د دلیل سره پیش کړو.

خلق: یعني د هغه دیدار مثال د سپوږمۍ او لمر لیدل دي چې کله دا دواړه د الله تعالی د مخلوقاتو نه مخلوق دی او تاسې بلا تکلیف او بلا مزاحمت په آسانۍ سره دا لیدلی شي نو الله تعالی خو رب العلمین دی ډیر لوی دی د هغه په دیدار کې څه تکلیف او څه مزاحمت کیدلی شي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

﴿۵﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه آیا تاسو په شب معراج کې

هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ

خپل پروردګار لیدلی دی؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل پروردګار خو یو نور دی زه هغه

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۹۹ رقم الحدیث ۴۷۳۱ وابن ماجه ۱/۶۴ رقم الحدیث ۱۸۰ واحمد في المسند ۴/۱۱.

نُورٌ أَنِّي أَرَاهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]
څرنګه ليدلی شم. [مسلم]

توضيح : نور أني اراه: كه أَنّي اراه شي نو دا به د ديدار د يو قسم نفې شي چې د ذات او تجلياتو خاص قسم به مراد شي . او كه اِنّي اراه شي نو دا به بيا د يو بل قسم تجلي اثبات شي، او كچيرې نُورٌ اِنّي اَرَاهُ شي نو بيا هم اثبات كيږي ديدار ثابتيږي .

﴿۶﴾	وَعَنِ	ابْنِ	عَبَّاسٍ	مَا	كَذَبَ	الْفُؤَادُ	مَا رَأَى
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ د الله ! د دي ارشاد : مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ الخ او د محمد زړه غلط ونه ويل							
وَلَقَدْ	رَآهُ	نَزْلَةً	أُخْرَى				
د هغه شي باره كې چې هغوئ په خپلو سترګو سره اوليدلو يعني ذاتِ اقدس تعالىٰ او حقيقت دادى							
قَالَ	رَآهُ	بِفُؤَادِهِ					
چې هغوئ پروردګار يو وار بل وليدلي د دي په تفسير كې وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پروردګار							
مَرَّتَيْنِ.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ	وَفِي	رِوَايَةِ	التِّرْمِذِيِّ		
د خپل زړه په سترګو سره دوه واري اوليدلو وو [مسلم] او د ترمذي روايت كې داسې دي چې							
قَالَ	رَأَى	مُحَمَّدٌ	رَبَّهُ	قَالَ	عِكْرِمَةُ		
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ وويل چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل پروردګار اوليدلو حضرت عكرمه رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي							
قُلْتُ	أَلَيْسَ	اللهُ					
چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته مي وويل چې قرآن كريم كې د خپل ذات باره كې الله !							
يَقُولُ	لَا	تُدْرِكُهُ	الْأَبْصَارُ	وَهُوَ	يُدْرِكُ	الْأَبْصَارَ	قَالَ وَيْحَكَ
فرمايلي دي لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ وويل په تا افسوس دى							

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۵۸ رقم الحديث (۱۷۵-۲۸۵) والترمذي في السنن ۵/۳۶۹ رقم الحديث ۳۲۸۲.

ذَاكَ	إِذَا	تَجَلّٰى	بِنُوْرِهِ	الَّذِيْ

دا په هغه وخت کې دی کله چې الله ! خپله تجلي ښکاره کړي او خپل هغه نور سره ښکاره شي کوم

هُوَ	نُوْرُهُ	وَقَدْ	رَآى رَبَّهُ	مَرَّتَيْنِ.[1]

چې د هغه د ذات خاص نور دی او په دي کې څه شک نشته چې حضور ﷺ خپل پروردګار دوه واره ولیدلو

توضيح : رآه بفؤاده: يعنې په زړه سره يې ديدار وکړلو او دوه ځله يې وکړلو ، يو وار د سدرة المنتهى سره او دويم وار يې په عرش عظيم باندې ديدار وکړلو ، په زړه سره د ديدار دا معنى ده چې الله تعالى د نبى كريم ﷺ په زړه کې د ليدلو هغه طاقت پيدا كړلو كوم يې چې په سترګو کې پيدا كړى وو ، نو حضور ﷺ د زړه په سترګو سره الله تعالى وليدلو ، علم او تصور مراد نه دى ، ليدل مراد دي . د سورة نجم په آيتونو کې حضرت ابن عباس رضي الله عنه او د صحابه كرامو لوى جماعت دې ته تګ كړى چې د دې نه د الله تعالى ديدار مراد دى مګر د حضرت عائشه رضي الله عنها او ابن مسعود رضي الله عنه او څه صحابه كرامو خيال دى چې د دې ديدار نه د حضرت جبرائيل عليه السلام ليدل مراد دي، الهى ديدار مراد نه دى ، تطبيق مخکې بيان شوى دى .

د ديدار متعلق د حضرت عائشه رضي الله عنها رايه

﴿۷﴾	وَعَنِ	الشَّعْبِيِّ	قَالَ	لَقِيَ	ابْنُ	عَبَّاسٍ

او حضرت شعبي رحمه الله وايي د عرفي په ورځ په ميدانِ عرفات کې حضرت ابن عباس رضي الله عنه

كَعْبًا	بِعَرَفَةَ	فَسَأَلَهُ	عَنْ	شَيْءٍ

حضرت كعب احبار رضي الله عنه سره ملاقات وكړو او هغه نه يې پوښتنه وكړه چې آيا په دنيا کې د حق تعالى

فَكَبَّرَ	حَتّٰى	جَاوَبَتْهُ

ديدار ممكن دى؟ حضرت كعب رضي الله عنه د الله اكبر نعره ووهله او د هغه د دې زور داري نعرې

الْجِبَالُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ

دبازگشت (راتمبيدلو) نه غرونه وکړنگيدل حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل مونږ د هاشم

إِنَّا بَنُو هَاشِمٍ فَقَالَ كَعْبٌ

اولاد يو حضرت کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل ښه ستا د پوښتنې مقصد اوس ځما په پوهه کې راغلو نو

إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَسَمَ رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ

واوره! الله! خپل ديدار او خپل کلام د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ په

وَمُوسٰى فَكَلَّمَ مُوسٰى مَرَّتَيْنِ

منځ کې تقسيم کړې نو الله! دوه واره دموسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ سره کلام او حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَ رَآهُ مُحَمَّدٌ مَرَّتَيْنِ قَالَ مَسْرُوقٌ

دوه واره الله! اوليدلو حضرت مسروق رحمه الله چې د حديث راوي دی او هغه نه حضرت شعبي رحمه الله

فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ

دا روايت نقل کوي وايي چې زه د بي بي عـائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې حاضر شوم او هغې ته مې

فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ

عرض وکړو آيا حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل پروردگار ليدلى دی؟ بي بي عـائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ بِشَيْءٍ

جواب راکړو اى مسروقه تا داسې خبرې پوښته کړيده چې هغې سره ځما په جسم ويښته ودريدل

قَفَّ لَهُ شَعْرِي قُلْتُ رُوَيْدًا

ما عرض وکړو لږ د توقف نه کار واخلئ بيا ما د ديدارِ الٰهي ثبوت کې دا آيت ووايه: لَقَدْ رَأَى مِنْ

ثُمَّ قَرَأْتُ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى فَقَالَتْ

آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى بي بي عـائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په دې اوريدو سره وفرمايل اى مسروقه! دا آيتونه

أَيْنَ يُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ

تا کوم خوا بو ځي؟ د لویې نښې نه مراد حضرت جبریل) دی کوم سړی چې په تا سو کې دا

جِبْرَئِيْلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا

وایي چې حضرت محمد ﷺ شبِ معراج کې خپل پروردګار لیدلی دی یا دا وایي چې

رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ شَيْئًا مِمَّا

حضور ﷺ د هغه څیزونو نه څه پټ کړي دي چې د هغه د اظهار هغوئ ته حکم ورکړی شوی

أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِيْ

وو یا دا وایي چې حضور ﷺ د هغه پنځه غیبي خبرو علم لرلو چې د هغې باره کې

قَالَ اللهُ تَعَالٰى إِنَّ اللهَ

الله ! د قرآن آیت: إِنَّ اللهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ الخ کې ارشاد فرمائیلی دی نو بلاشبه

عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ

هغه په حضرت محمد ﷺ ډیر لوی تهمت بهتان وتړلو او هر چې د دې آیت مطلب دی کوم

فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلٰكِنَّهُ رَآى جِبْرَئِيْلَ

چې تا وویله دی نو د دې مراد ددې نه علاوه نور هیڅ نه دی چې حضور ﷺ حضرت جبریل

لَمْ يَرَهُ فِيْ صُوْرَتِهٖ إِلَّا مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى

د هغه په اصل صورت کې یو ځل د سدرة المنتهٰی سره نژدې لیدلی دی څرنګه چې د دې آیت: لَقَدْ رَاٰهُ

وَمَرَّةً فِيْ أَجْيَادٍ لَهُ

نَزْلَةً أُخْرٰى عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى) کې فرمائیل شوي دي او یو وار د مکې په اطرافو اجیاد کښلیدلی وو

سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ الْأُفُقَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

چې د هغه شپږ سوه وزرې وې او هغه پوره افق ګیر کړی وو دا روایت د ترمذي دی الفاظو سره او

وَرَوَى الشَّيْخَانُ مَعَ زِيَادَةٍ

بخاري او مسلم څه اضافي او مختلف الفاظو سره نقل کړې دی او د بخاري او مسلم په یوه

وَاخْتِلَافٍ وَفِي رِوَايَتِهِمَا قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ

روایت کې داسې دي چې مسروق رحمه الله بي بي عائشې رضي الله عنها ته وویل که حضور صلی الله علیه وسلم

فَأَيْنَ قَوْلُهُ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ

الله ! نه دی لیدلی نو بیا د الله ! د دې ارشاد محمل او مصداق څه دی: ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ

قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى قَالَتْ ذَاكَ جِبْرَئِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى بي بي عائشې رضي الله عنها جواب ورکړو د دې ټولو ضمیرونو مرجع حضرت جبریل علیه السلام

كَانَ يَأْتِيهِ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ وَإِنَّهُ أَتَاهُ هَذِهِ الْمَرَّةَ

دی چې عام طور سره به حضور صلی الله علیه وسلم ته په انساني شکل کې راتلو او دا ځل هغه په خپل

فِي صُورَتِهِ الَّتِي هِيَ صُورَتُهُ فَسَدَّ الْأُفُقَ. (۱)

شکل او صورت کې راغلی وو کوم چې د هغه اصل صورت دی او هغه پوره اُفق ګیر کړی وو

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه رایه

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ فِي قَوْلِهِ (فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى)

او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د الله ! دې ارشاد: فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى او د الله ! د دې ارشاد

وَفِي قَوْلِهِ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وَفِي قَوْلِهِ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى: او د الله ! د دې ارشاد :لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى) د دې ټولو آیتو نو په

رَبِّهِ الْكُبْرَى قَالَ فِيهَا كُلِّهَا رَأَى جِبْرَئِيلَ

تفسیر کې لیکي چې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت جبریل) د هغه اصل صورت کې اولیدلو چې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۴۷۲ رقم الحديث ۴۸۵۵ والترمذي ۵/۳۱۷ رقم الحديث ۳۲۷۸.

لَهُ سِتُّمِائَةِ جَنَاحٍ [مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ]

د هغه شپږ سوه وزرې وې بخاري ، مسلم او د ترمذي روايت کې داسې دی چې

وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَآى

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دالله ! د دې ارشاد : مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰی په تفسير کې وويل حضور

قَالَ رَآى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَامُ اوليدلو چې د شنو کپړو جوړه يې اغوستې وه او د آسمان او د ځمکې په منځ کې

جِبْرِيْلَ فِيْ حُلَّةٍ مِنْ رَفْرَفٍ قَدْ مَلَأَ مَا بَيْنَ

فضاء ترينه معموره وه او د بخاري په يو بل روايت کې داسې دي چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَلَهُ وَلِلْبُخَارِيِّ فِيْ قَوْلِهٖ لَقَدْ

دالله ! ارشاد : وَلَقَدْ رَاٰی مِنْ اٰيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰی په تفسير کې وويل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامه سبز

رَآى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى قَالَ رَآى رَفْرَفًا أَخْضَرَ سَدَّ أُفُقَ السَّمَاءِ [1]

پوش يعني حضرت جبرائيل يې اوليدلو کوم چې پوره آسماني اُفق يې ګير کړی وو او د

وَسُئِلَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ عَنْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى إِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ

امام مالک بن انس رحمه الله نه د الله ! د ارشاد : إِلٰى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ باره کښې پوښتنه وشوه او هغوئ ته

فَقِيْلَ قَوْمٌ يَقُوْلُوْنَ إِلٰى ثَوَابِهٖ

وويل شوه چې څه خلق په دې آيت کې وائي چې الله ! طرف ته د کتلو نه مراد د هغه ثواب ليدل

فَقَالَ مَالِكٌ كَذَبُوْا فَأَيْنَ هُمْ

مراد دی نو امام مالک رحمه الله وفرمايل هغه خلق دروغجن دي آخر د هغوئ پوهه چيرته ولاړله

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۴۷۶ رقم الحديث ۴۸۵۶ ومسلم ۱/۱۵۸ رقم الحديث ۲۸۱/۱۷۴ .

عَنْ قَوْلِهِ تَعَالٰى كَلَّا اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ
هغوئ د الله ! دا ارشاد : كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ ولي نه ويني بيا امام مالک وفرمايل
لَّمَحْجُوْبُوْنَ. قَالَ مَالِكٌ اَلنَّاسُ
چې مسلمانان خلق به الله ! خپلو سترګو سره ويني او وې فرمايل كه داخبره وي چې اهلِ ايمان
يَنْظُرُوْنَ اِلَى اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِاَعْيُنِهِمْ وَقَالَ لَوْ لَمْ يَرَ الْمُؤْمِنُوْنَ رَبَّهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
به د قيامت په ورځ خپل پروردګار نه ويني نو الله ! به كفاروته د ديدارِ الهي نه د محرومۍ عار
لَمْ يُعَيِّرِ اللهُ الْكُفَّارَ بِالْحِجَابِ فَقَالَ كَلَّا اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ
نه وركولی او دا به يي نه فرمائيل چې : كَلَّآ اِنَّهُمْ عَنْ رَّبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَّمَحْجُوْبُوْنَ دا روايت بغوي رحمه الله
لَّمَحْجُوْبُوْنَ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ[1]
شرح السنه كې نقل كړی دی.

د ديدارِ الهي كيفيت

﴿۹﴾وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا
او حضرت جابر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل كوي هركله چې جنتيان خپلو خاصو نعمتونو
اَهْلُ الْجَنَّةِ فِيْ نَعِيْمِهِمْ اِذْ سَطَعَ لَهُمْ نُوْرٌ
نه لذت او خوند اوچتولو كې مشغول شي نو ناڅاپه به د هغوئ مخكې يو عظيم نور راشي هغوئ
فَرَفَعُوْا رُؤُوْسَهُمْ فَاِذَا الرَّبُّ قَدْ اَشْرَفَ عَلَيْهِمْ مِنْ فَوْقِهِمْ
به خپل سرونه پورته كړي نو څه به ويني چې د هغوئ د پاسه پروردګار جلوه كړ دی او پروردګار به

---

[1] اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۵/۳۳۹.

فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ قَالَ وَذٰلِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى سَلَامٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِيْمٍ

هغوئ ته فرمایي ای جنتیانو ! السلام علیکم او دا سلام کول قرآن کریم کې د دي ارشاد : سَلَامٌ

قَالَ فَنَظَرَ إِلَيْهِمْ وَيَنْظُرُوْنَ

قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ الرَّحِيْمِ نه ثابت دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله ! به جنتیانو طرف ته وګوري او

إِلَيْهِ فَلَا يَلْتَفِتُوْنَ إِلٰى شَيْءٍ

جنتیان به دالله ! طرف ته وګوري او هغوئ به دیدارِ الٰهي کې دومره محو شي چې هغه وقت به

مِنَ النَّعِيْمِ مَا دَامُوْا يَنْظُرُوْنَ إِلَيْهِ حَتّٰى

د جنت نعمتونو کې هیڅ شي طرف ته توجه نه کوي تر دې پورې چې پروردګار به د هغوئ د نظرونو نه

يَحْتَجِبَ عَنْهُمْ وَيَبْقٰى نُوْرُهٗ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.[1]

مخفي شي او د هغه نور به باقي پاتې شي. [ابن ماجه]

١٦ جمادى الثاني ١٤١٨هـ

([1]) اخرجه ابن ماجه ۱/۵۶ رقم الحدیث ۱۸۴.

باب صفة النار واهلها

د دوزخ او د دوزخیانو بیان

قال الله تعالی: ﴿خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ثُمَّ الْجَحِيمَ صَلُّوهُ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ﴾

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د دوزخ د اُور ګرمي

﴿۱﴾عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ستاسو د دنيا اورد
نَارُكُمْ جُزْءٌ مِّنْ سَبْعِيْنَ جُزْءًا مِّنْ نَّارِ جَهَنَّمَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ
دوزخ د اور د اويا و حصو نه يوه حصه ده عرض وشو يارسول الله د دنيا دا اورهم دعذاب
اِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً قَالَ فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ
وركولو د پاره كافي وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دوزخ اور د دنيا د اورنه يوكم اويا ۶۹
بِتِسْعَةٍ وَّسِتِّيْنَ جُزْءً كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا
حصې زياتي شوی دی او دی يوكم اويا حصو كې هره حصه ستاسو د دنيا د اور برابره ده دا
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَاللَّفْظُ لِلْبُخَارِيِّ. وَفِيْ رِوَايَةِ مُسْلِمٍ
روايت بخاري او مسلم نقل كړی دی ليكن دلته مذكوره الفاظ د بخاري دي او د صحيح مسلم
نَارُكُمْ الَّتِيْ يُوْقِدُ ابْنُ آدَمَ
روايت داسې دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ستاسو د دنيا دا اور چې ابن آدم (انسان) يي
وَفِيْهَا عَلَيْهَا وَ كُلُّهَا
بلوي د دوزخ د اور اويا (۷۰) حصو نه يوه حصه ده او د مسلم په يو روايت كې د عليهن او كلهنّ
بَدَلَ عَلَيْهِنَّ وَ كُلُّهُنَّ. (۱)
په ځاي د عليها او كلها الفاظ دي.

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۸۰ رقم الحديث ۳۲۶۵ ومسلم ۴/۲۱۸۴ رقم الحديث (۲۸۴۳-۳۰)

توضيح : سبعين جزأ: يعنې د دنيا د اور حرارت به د دوزخ د اور د حرارت په نسبت اويايم جزء وي ، د دوزخ اور په حرارت کې ۶۹ درجې زيات دی ، ممکنه ده چې د ۷۰ عدد ذکر د تکثير په طريقه باندې وي يعنې د دوزخ د اور حرارت د حساب نه بيرون او ډير زيات دی ، چونکه د دوزخ په اور سره الله تعالى خپل نافرمانه بندګانو ته عذاب ورکوي او د دنيا په اور سره انسان عذاب ورکوي نو په دواړو کې همدا فرق شو ، ورنه د سوزولو لپاره خو د دنيا اور هم کافي او شافي دی ، په راتلونکي حديث کې همدا بيان دی .

ان کانت لکافية: يعنې چې په يوه درجه کې هم وي بيا هم د سوزولو لپاره د دنيا اور کافي وو بيا د ۷۰ درجو زياتولو ضرورت څه وو؟ د دې په جواب کې نبی ﷺ وفرمايل چې د دوزخ د اور حرارت د دې لپاره زيات کړی شو چې په دې سره الله تعالى عذاب ورکوي . **عليها وکلها**: يعنې د امام مسلم رحمه الله په روايت کې د **عليهن او کلهن** په ځای د **عليها او کلها** الفاظ راغلي دي .

د دوزخ خاص ولو ذکر

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د قيامت په ورځ به
يُؤْتٰى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُوْنَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ
دوزخ راوستی شي د هغه به اويا زره واګي [قيزي] وي او هر واګي باندې به اويا زره فرښتي
سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّوْنَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]
مقررې وي چې هغه به راخکلو سره راولي . [مسلم]

توضيح : يؤتى بجهنم: د قيامت په ورځ به ميدان محشر ته به دوزخ راوستلی شي نو دا به په کفارو باندې سخت په غوسه وي ، په دې وجه به ملائکې دې ته د قابو ساتلو لپاره ۷۰۰۰۰ اويا زره ځنځيرونه وراچوي او د هر ځنځير سره به اويا زره ۷۰۰۰۰ ملائکې وي ګويا څلور اربه نوي کروړه ملائکې به د دې په حفاظت باندې مأموري وي ، دا د دې لپاره چې هسې نه چې په غضب او قهر کې راشي او ټول انسانان ختم نه کړي .

---

(۱) اخرجه مسلم ۴/۲۱۸۴ رقم الحديث (۲۸۴۲-۲۹) والترمذي في السنن ۴/۶۰۴ رقم الحديث ۲۵۷۳.

کوم شخص ته به چې په دوزخ کې د ټولو نه کم عذاب وي

﴿۳﴾وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت نعمان بن بشیر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل حقيقت دی چې په
إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَّنْ لَّهُ نَعْلَانِ
دوزخيانو کې کوم سړی د ټولو نه سپک عذاب کې مبتلا وي هغه ته به د اور دوه څپلۍ واچول شي
وَشِرَاکَانِ مِنْ نَّارٍ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ
او د هغه چپلو د تلو او تسمو د حرارت نه به د هغه دماغ داسې جوش وهي څرنګه چې ديګ جوش
کَمَا يَغْلِي الْمِرْجَلُ مَا يُرٰى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا
وهي هغه سړی به د نورو دوزخيانو د حالت او کېفيت نه ناخبره وي ځکه دا خيال به کوي چې د هغه
وَّإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]
نه زيات په عذاب کې مبتلا هيڅوک نشته حالانکه هغه به د ټولو نه سپک عذاب کې مبتلا وي [بخاري، مسلم]
﴿۴﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمايل په دوزخيانو کې د ټولو نه کم
عَذَابًا أَبُوْ طَالِبٍ وَّهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِيْ مِنْهُمَا دِمَاغُهُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]
عذاب ابو طالب ته وي هغه به د اور څپلۍ اچولې وي چې په هغه سره به يې دماغ جوش وهي. [بخاري]

توضيح : ابو طالب د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم سکه تره وو، ده د حضور صلى الله عليه وسلم زيات خدمت او حمايت کړی ؤ د الله تعالى تکويني فيصله وه او دا حکمت هم ؤ چې ابو طالب د حضور صلى الله عليه وسلم او د قريشو په مينځ کې د رابطې کار وکړي او د سپر پشان (ډال) کردار اداء کړي، لکه قريشو په نبي عليه السلام باندې يو وار لاس اوچتولی نشو ځکه ابو طالب د هغوی په مذهب باندې ؤ، په اسلام

([1]) اخرجه البخاري ۱۱/۴۲۴ رقم الحديث ۶۵۶۲-۶۵۶۱ ومسلم ۱/۱۹۶ والترمذي ۴/۶۱۸ رقم الحديث : ۲۶۰۴.

([2]) اخرجه مسلم ۱/۱۹۶ رقم الحديث (۲۱۲-۳۶۲) واحمد في المسند ۱/۲۹۰.

باندې د زړه نه پوهيدو مګر ايمان يې رانه وړو . په آخر وخت کې يو وار د اسلام اقرار وکړو ليکن ابو جهل لعين هغه منع کړو چونکې دابو طالب دظاهری جسم سره دآنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسم مبارک لګيدلی وو نو ځکه به د هغه په ظاهري جسم باندې د دوزخ اور نه اچولی کيږي، البته د هغه د تليو لاندې به دوه سکروټې ايښودلی کيږي يا به د اور څپلی . وراغوستلی کيږي چې د دينه به د هغه دماغ جوشيږي .

د دې حديث نه معلومه شوه چې ابو طالب مسلمان نشو ، دويمه خبره دا معلومه شوه چې په دوزخ کې به د عذاب په اعتبار سره فرق وي چاته به زيات او چاته به کم وي .

د يو دوزخي او يو جنتي قصه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د قيامت په ورځ به په دوزخيانو
يُؤْتَى بِأَنْعَمِ أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ
کې يو داسې سړی راوستل شي چې په دنيا کې به د ټولو نه زيات په عيش او ارام کې به ژوند تيروی
فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ
بيا به هغه ته په دوزخ کې يوه غوپه ورکړی شي او ورته به وويل شي چې ای ابن آدم! آيا تا په دنيا
رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُوْلُ لَا وَاللهِ
کې څه راحت ليدلی وو او څه عيش او عشرت دې کړی وو هغه دوزخی به ووائی نه په الله قسم
يَا رَبِّ وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ
ما ته هيڅ راحت او نعمت نه وو نصيب شوی ! جنتيانو نه به يو داسې سړی راوستل شي چې په دنيا
أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ فَيُقَالُ لَهُ
کې د ټولو نه زيات مشقت او تکليف برداشت کونکی وو بيا به هغه ته په جنت کې يوه غوپه
يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ
ورکول شي او ورته به وويل شي چې ای بني آدمه! ايا ته په دنيا کی د کوم غم مشقت او تکليف

شِدَّةٌ	قَطُّ	فَيَقُوْلُ	لَا	وَاللهِ	يَا	رَبِّ	مَا	مَرَّ	بِيْ

سره مخ شوی وي؟ جواب به ورکړي چې نه ای ځما پروردګاره! قسم په الله ما په دنیا کې هیڅ کله

بُؤْسٌ	قَطُّ	وَ	لَا	رَأَيْتُ	شِدَّةً	قَطُّ	. رَوَاهُ	مُسْلِمٌ[1]

خفګان او وغم نه وو لیدلی او هیڅ مشقت او تکلیف مي نه وو تیرکړی. [مسلم]

توضیح: صبغة: صبغ د رنګ کیدلو په معنی سره دی او صبغة د غوپې ورکولو په معنی سره دی. ددې حدیث نه معلومه شوه چې د دنیا خوشحالیانې او ددې ځای پریشانیانې ټولې عارضي دي اصل معامله د آخرت ده چې دائمي ده. بؤسا: سختی ته بؤس ویل کیږي.

شرک بده بلا ده

﴿۶﴾وَعَنْهُ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت انس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

قَالَ	يَقُوْلُ	اللهُ	تَعَالٰى	لِأَهْوَنَ	أَهْلِ النَّارِ

الله! به د قیامت په ورځ دوزخیانو نه یو سړي ته چې د ټولو نه به کم عذاب کې وي وفرمایي که

عَذَابًا	يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	لَوْ	أَنَّ	لَكَ	مَا	فِي	الْأَرْضِ

تا سره د ځمکې د مخ د څیزونو نه دا شیان وي نو ایا ته به یې په خپله فدیه کې ورکړې هغه

مِنْ	شَيْءٍ	أَكُنْتَ	تَفْتَدِيْ	بِهِ	فَيَقُوْلُ	نَعَمْ	فَيَقُوْلُ

دوزخي به وایي چې هو الله! به ورته فرمایي ای بدنصیبه انسانه! ما خو هغه وقت هرکله چې

أَرَدْتُ	مِنْكَ	أَهْوَنَ	مِنْ	هٰذَا	وَأَنْتَ	فِيْ	صُلْبِ آدَمَ

ته د آدم په شا کې وې له دینه هم آسان شی ستا د پاره مقرر کړی وو او هغه داچې ته ما سره څه شی

أَنْ	لَا	تُشْرِكَ	بِيْ	شَيْئًا	فَأَبَيْتَ

مه شریکوه خو تا دهغې نه انکار وکړو ددې پورې چې د بتانو وغیره د عبادت او تعظیم په

---

[1] اخرجه مسلم ۴/۲۱۶۲ رقم الحدیث (۲۸۰۷-۵۵) واحمد في المسند ۳/۲۰۳.

إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[۱]
ذريعه دي څما سره شريک پيدا کړو [بخاري مسلم]

توضيح: اردت: د حديث ظاهري الفاظ خو د ارادې لپاره دي مگر د دينه حکم ورکول مراد د دی چې ما تا ته د دينه اسانه حکم کړی وو چې کله ته د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ په شا کې وې مگر تا ونه منلو ، علامه طيبی رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې دا (عهد الست) ته اشاره ده.

په عذاب کې تفاوت او درجات

﴿۷﴾وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت سمره بن جندب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل دوزخيانو
مِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ
نه به څه خلق هغه وي چې د هغوی د دواړو ګيټو پورې به اور وي او څه خلق به هغه وي چې د
تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى
هغوی د دواړو زنګنونو پورې به اور وي څني خلق به هغه وي چې د هغوی د ملا پورې به اور وي
حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[۲]
او څه خلق به هغه وي چې د هغوی د مرۍ او غاړې پورې به اور وي. [مسلم]

د دوزخيانو غټ جسمونه

﴿۸﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل په دوزخ کې به د کافر جسم
فِي النَّارِ مَسِيْرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ وَفِي رِوَايَةٍ
دومره غټ او چاغ شي چې د هغه د دواړو اوږو په مينځ کې فاصله به د تيز رفتار سور د درېو

---

[۱] اخرجه البخاري ۶/۳۶۳ رقم الحديث ۳۳۳۴ ومسلم ۴/۲۱۶۰ رقم الحديث (۲۸۰۵-۵۱)

[۲] اخرجه مسلم ۴/۲۱۵۸ رقم الحديث (۲۸۴۵-۳۳) والنسائي ۸/۱۱۲ رقم الحديث ۵۰۱۰ واحمد فی المسند ۵/۱۰

ضِرْسُ	الْكَافِرِ	مِثْلُ	أُحُدٍ	وَغِلَظُ	جِلْدِهِ	مَسِيْرَةُ	ثَلَاثٍ	
ورځو د مسافت برابروي او په یوه روایت کې داسې دي چې په دوزخ کې به د کافر غاښ د اُحد د غره برابر								
رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُكِرَ حَدِيْثُ أَبِيْ هُرَيْرَةَ اِشْتَكَتِ النَّارُ إِلٰى رَبِّهَا فِيْ بَابِ تَعْجِيْلِ الصَّلٰوةِ. [1]								
وي. [مسلم] او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت: **اشتکت النار الٰی ربها په باب تعجیل الصلوٰة** کې تیر شوی دی.								

توضیح: ضرس الکافر: ژامې ته ضرس وايي، ددې حدیث نه معلومیږي چې په قیامت کې به د کافرانو جسمونه به ډیر غټ کړی شي، ددې نه مخکې د جنت متعلق احادیثو کې دا ذکر شول چې د اهل جنت اجسام به هم په جنت کې غټیږي ددې اصل وجه دا ده چې په قیامت کې به د الله تعالی په صفاتو کې د کمال او عروج ظهور راشي نو ځکه به د اهل جنت او اهل جهنم جسمونه به کامل شي ګویا د الله تعالی صفت د تخلیق به کامل شي، دلته سوال دا دی چې په دې حدیث کې د کافرانو د جسمونو غټیدلو بیان دی او په بل حدیث کې دي چې د قیامت په ورځ به د متکبرینو جسم د میږیانو په شان واړه و ذلیل کړی شي دا خو تعارض دی ددې جواب څه دی؟ نو ددې جواب دا دی چې د جسم دغه غټیدل او چاغیدل په په دوزخ کې وي تر څو اور ته صحیح خوراک حاصل شي او د جسم ورکوتي کیدلو ذلت او رسوائی به د محشر په میدان کې وي، نو هیڅ تعارض نشته.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د دوزخ اور درې زره کاله پوري ګرم کړی شوی دی

﴿۹﴾عَنْ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ
حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روایت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل									
أُوْقِدَ	عَلَى	النَّارِ	أَلْفَ	سَنَةٍ	حَتّٰى	احْمَرَّتْ	ثُمَّ	أُوْقِدَ	عَلَيْهَا	أَلْفَ	سَنَةٍ
د دوزخ اور زر کاله بل شو تر دې پوري چې هغه سره سور شو بیا زر کاله نور بل شو ددې پوري									
حَتّٰى	ابْيَضَّتْ	ثُمَّ	أُوْقِدَ	عَلَيْهَا	أَلْفَ	سَنَةٍ	حَتّٰى	اسْوَدَّتْ	
چې هغه سپین شو بیا زر کاله نور بل شو تر دې پوري چې تور شو نو اوس د دوزخ اور بالکل									

---

[1] أخرجه البخاري في صحيحه ۱۱/۴۱۵ رقم الحديث ۶۵۵۱ ومسلم ۲۱۸۹ رقم الحديث (۲۸۵۲-۴۵)

فَهِيَ سَوْدَآءُ مُظْلِمَةٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ(۱)
تک تور او تیاره دی. [ترمذي]

توضیح: ابیضت: اور چې تر ډیره وخته بل شي نو په هغه کې د لوګی ګډوالی ختم شي نو هغه سپین شی د لوګي د ګډوالي په وخت کې اور سور وي بیا د ډیر بلو لو سره تور شي ددې حدیث نه معلومه شوه چې دوزخ د اوس نه تیار دی معتزله وایي چې اوس لا تیار نه دی اهل سنت وایي چې د (أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ) آیت ښایي چې تیار دی معتزله بیکاره دي بهر حال د دوزخ اور دری زره ۳۰۰ کاله ګرم شوی دی اول سور شو بیا سپین شو بیا تور او تیاره شو.

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضِرْسُ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل د قیامت په ورځ به په دوزخ
الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ وَفَخِذُهُ
کې د کافر غاښ د أحد د غره برابر وي او د هغه ورنونه به د بیضاء غر برابر وي او په دوزخ کې د هغه
مِثْلُ الْبَيْضَاءِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ مِثْلُ الرَّبَذَةِ. [رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ](۲)
د ناستې ځای به د دریو ورځو د مسافت په قدر وي څرنګه چې ربذه ده. [ترمذي]

توضیح: البیضاء په مدینه منوره کې د غر نوم دی. **مقعده** یعنې د کښیناستلو ځای به یې دومره ژور وي لکه څومره چې د مدینې منورې نه تر ربذه پورې د دریو ورځو مسافت دی.

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ غِلَظَ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل د کافر دوزخي څرمن به دوه
جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُوْنَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ
څلویښت ۴۲ لاسه پیرړه (ډبله) وي د هغه غاښ به د احد د غره برابر وي او په دوزخ کې د هغه د

(۱) اخرجه الترمذي ۴/۶۱۲ رقم الحدیث ۲۵۹۰ وابن ماجه ۲/۱۴۴۵ رقم الحدیث ۴۳۲۰.

(۲) اخرجه الترمذي في ۴/۶۰۶ رقم الحدیث ۲۵۷۸

مِثْلُ أُحُدٍ وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ مَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

ناستې ځاي به د مکې او مديني د درمياني فاصلې برابر وي. [ترمذي]

توضيح: مابين مكة: په دې حديث کې يې د مجلس ځاى د مکې او مدينې فاصله وښودله او د دينه مخکې حديث کې يې مدينه او ربذه وښودله، ددې وجه دا ده چې د کافرانو د عذاب د تفاوت په وجه په جسم کې تفاوت راځي نو ځکه دغه فرق دى.

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْكَافِرَ

او حضرت ابن عمر، وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل کافر به په دوزخ کې خپله ژبه دری

لَيُسْحَبُ لِسَانَهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ

درې او شپږ شپږ فرسخه يونيم ميل يا دوه ميله پورې راکاږي او خلق به هغه خپلو پښو سره

يَتَوَطَّاهُ النَّاسُ . رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ[2]

پايمال کوي يعني په هغه ژبې به ګرځي [احمد ترمذي] او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دى.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

او حضرت ابو سعيد د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل

اَلصَّعُوْدُ جَبَلٌ مِّنْ نَّارٍ يَتَصَعَّدُ فِيْهِ

صَعُود چې د هغه ذکر د قرآن مجيد دې آيت: (سارهقه صعودًا) کې دى دوزخ کې يو غر دى چې

سَبْعِيْنَ خَرِيْفًا وَيَهْوِيْ بِهِ كَذٰلِكَ

په هغه به کافر او يا کاله پورې خيژول کېږي، او هغه به د غه شان او يا کالو پورې به را غورځول کېږي

فِيْهِ أَبَدًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[3]

او دغه رنګ دا سلسله به جاري وي. [ترمذي]

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۶ رقم الحديث ۲۵۷۷

(2) اخرجه الترمذي ۴/۶۰۶ رقم الحديث ۲۵۸۰ وأحمدفي المسند ۲/۹۲

(3) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۵ رقم الحديث ۲۵۷۶ وأحمدفي المسند ۳/۷۵

په دې حدیث کې د قرآن آیت ﴿سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا﴾ ته اشاره ده.

د دوزخیانو غذا

﴿۱۴﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوهریره، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ فِي قَوْلِهِ كَالْمُهْلِ أَيْ كَعَكَرِ الزَّيْتِ فَإِذَا
د الله! ارشاد کې د لفظ مهل وضاحت کولو سره وویل چې هغه به د زیتون د خیرې په شان یوشی وي هرکله
قُرِّبَ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۱)
چې دا مهل د دوزخي خولې ته قریب یوړل شي د خولې څرمن به یې په هغه کې را ولویږي. ترمذي]

توضیح: فروة: د مخ پوستکي ته فروه وايي، د خولې پوستکی مراد دی، په حدیث نمبر ۱۶ کې د فروة رأسه لفظ هم راغلی دی د هغه نه د سر او تندي پوستکی مراد دی، په دې حدیث کې د قرآن آیت ﴿وَإِن يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ﴾ طرف ته اشاره ده.

د ګرمو اوبو عذاب

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت ابوهریره، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هرکله چې د
إِنَّ الْحَمِيمَ لَيُصَبُّ عَلَى رُؤُوسِهِمْ
دوزخیانو په سربانديې ګرمي اوبه واچول شي نو هغه ګرمې اوبه به ختکته تللو سره خیټې ته
فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ
ورسیږي او هغه څیزونه به پرې کړي کوم چې په خیټه کې وي د دې پورې چې هغه ګرمې اوبه به په
فَيَسْلُتُ مَا فِي جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ
خیټه کې د ننه څیزونه پریکولو او ویلې کولو سره د پښو په لار بهر راووځي او د صَهر هم دا معنٰی

قَدَمَيْهِ وَ هُوَ الصَّهْرُ ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [1]

ده او بيا به هغه دوزخي چې هغه سره د ګرمو اوبو دا عمل شوی وي هغه شان به شي څرنګه چې مخکې وو. [ترمذي]

توضيح: **فيسلت**: د نصر ينصر نه د پريکولو په معنی سره دی، يعنې دغه ګرمی اوبه د ننه په ننوتلو سره به د خيټې کولمې وغيره پرې کړي او خرابې به يې بهر ته وباسي، **يمرق**: د وتلو په معنی سره دی.

من قدميه: يا به حقيقتا د قدمينو نه کولمې وځي يا د قدمينو نه مراد دبر ده دا زيات واضحه دی.

وهو الصهر: په دې جمله کې دې آيت ته اشاره ده ﴿يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ﴾ يعنې په ګرمو اوبو سره به تول شيان ويلي کړی شي، په راتلونکي حديث نمبر ۱۶ کې د دې زيات وضاحت راروان دی.

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو أمامة، د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ د الله ! د دې ارشاد

فِي قَوْلِهِ يُسْقَى مِنْ مَّاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ قَالَ

يُسْقَى مِنْ مَّاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ وضاحت کولو سره وفرمايل هرکله چې هغه اوبه د هغه دوزخي

يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ

خولې ته نزدې کړې نو هغه به پوزه تروه کړي او بيا چې هغه اوبه د هغه په خوله کې واچول شي نو

شَوَى وَجْهَهُ وَ وَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ فَإِذَا

د هغه د مخ غوښه به وريته کړی او د هغه د سر څرمن به ولويږي او هرکله چې هغه دوزخي هغه

شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى

اوبه وڅکي او هغه اوبه يې خيټې ته ورسيږي نو کولمې به يې ټکړې ټکړې کړې تردې چې

يَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ يَقُولُ اللهُ تَعَالَى وَسُقُوا مَاءً

هغه به دده د دبرې د خوا نه ووځي لکه چې الله ! فرمايي: (وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ)

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۷ رقم الحديث ۲۵۸۲ وأحمد في المسند ۲/۳۷۴

حَمِيْمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ وَيَقُوْلُ وَإِنْ يَّسْتَغِيْثُوْا يُغَاثُوْا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ
دغه شان قرآن كريم كې يو بل ځاي كې يي داسې فرمايلي دي : وَإِن يَّسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَآءٍ كَالْمُهْلِ
يَشْوِي الْوُجُوْهَ بِئْسَ الشَّرَابُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
يَشْوِى الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ. [روايت كړي دې ترمذي]

د دوزخ چار ديواري

﴿۱۷﴾وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لِسُرَادِقِ النَّارِ
او حضرت ابوسعيد خدري, د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دوزخ
أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كُثُفُ كُلِّ جِدَارٍ مَسِيْرَةُ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
داحاطې د پاره به چار ديوارې وي چې د هغه نه د هر ديوال پلنوالى به د څلويښتو كالو د مسافت برابر وي. [ترمذي]

توضيح : سرادق پردو ته وايي ، خيمه هم مراد كيدلى شي چار ديوالى مراد ده . كثف د كثافت نه د ديوال پلنوالى مراد دى ، په دې حديث كې د قرآن كريم دې آيت ته اشاره ده ﴿أَحَاطَ بِهِمْ سُرَادِقُهَا﴾

﴿۱۸﴾وَعَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوسعيد ,وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دوزخيانو د زخمونو نه چې كومې
لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِّنْ غَسَّاقٍ يُهْرَاقُ فِي الدُّنْيَا
وينې زوې اوبه بهيږي يعني خرابه وينه او نو كه د هغې نه يو بوقه په دنيا كې توى شي نو
لَأَنْتَنَ أَهْلُ الدُّنْيَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .[3]
يقينًا ټوله دنيا والا به بدبويه شي . [ترمذي]

---

(1) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۸ رقم الحديث ۲۵۸۴ وأحمدفي المسند ۵/۲۶۵

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۸ رقم الحديث ۲۵۸۴ واخرجه في المسند ۳/۲۹ .

(3) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۸ رقم الحديث ۲۵۸۴ وأحمدفي المسند ۳/۲۸

توضيح: غساق: وينو او زوو ته غساق وايي. دا به د دوزخيانو د جسم د ننه کولمې وي همدا مراد دى. **انتن**: د کوم شي د ويلي کيدلو او خرابيدلو نه وروسته چې کومه شديده بدبويي پورته کيږي هغه ته انتن وايي، مطلب دا دى چې ددې په وجه به ټول اهل دنيا په سخته بدبويۍ کې پريوځي، په دې حديث کې د قرآن دې آيت ﴿هَذَا فَلْيَذُوقُوهُ حَمِيمٌ وَغَسَّاقٌ وَآخَرُ مِن شَكْلِهِ أَزْوَاجٌ﴾ ته اشاره ده.

﴿۱۹﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هٰذِهِ الْآيَةَ اِتَّقُوا اللهَ حَقَّ
او حضرت ابن عباس نه روايت دى يوه ورځ رسول الله ﷺ دا آيت اِتَّقُوا اللهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا
تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ تلاوت کړه بيايي وفرمايل که د دوزخ د زقوم ونې نه يوه قطره هم د دې دنيا
لَوْ اَنَّ قَطْرَةً مِّنَ الزَّقُّوْمِ قَطَرَتْ فِيْ دَارِ الدُّنْيَا لَاَفْسَدَتْ عَلٰى اَهْلِ الْاَرْضِ
کور کې وڅڅيږي نو يقيناً د دنيا والو د ژوند سامان به خراب کړي بيا سوچ وکړئ د هغه سړي به
مَعَائِشَهُمْ فَكَيْفَ بِمَنْ يَّكُوْنُ طَعَامُهُ.
څه حال وي چې د هغه خوراک دا زقوم وي دا روايت ترمذي نقل کړى دى او ويلي يې دي چې
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.[1]
او امام ترمذى وايي چه دا حديث حسن صحيح دى.

توضيح: حق تقاته: د الله نه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې د هغه نه د ويريدلو حق دى او د ويريدلو دغه حق داسې اداء کيږي چې انسان د محرماتو نه مکمل اجتناب (پرهيز) وکړي او واجبات په ځاى کړي دا حق تقوى ده، حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ددې تفسير داسې فرمايلي دي: **هو ان يطاع فلا يعصى ويشكر فلا يكفر ويذكر فلا ينسى**، په دې حديث شريف کې د قرآن آيت: ﴿إِنَّ شَجَرَةَ الزَّقُّومِ طَعَامُ الْأَثِيمِ﴾ طرف ته اشاره ده.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۶۰۹ رقم الحديث ۲۵۸۴ وابن ماجه ۲/۱۴۴۶ رقم الحديث ۴۴۰۸

د دوزخيانو د مخونو بدشكلي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او ابو سعيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د دوزخ
وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ قَالَ تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا
اور به د كافر د خولې غوښه پخه كړي چې هغه سره به د هغه برنۍ شونډه پورته وخيژي تردې
حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَيَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى
پورې چې د سر مينځنۍ حصې ته به ورسيږي او لاندې شونډه به يې رازونده شي تردې پورې چې
تَضْرِبَ سُرَّتَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
نامه پورې به ورسي. [ترمذي]

توضيح: كالحون: كوم كس چې شونډه يې پورته شي او غاښونه يې ښكاره شي هغه ته كالح ويلې كيږي، داد كالح يو مفهوم دى، دويم مفهوم دا دى چې د دې دوزخيانو مخونه به خراب شوي وي، دريم مفهوم يې دا دى چې د چاغاښونه په د بدشكلۍ انداز سره خلاص شوي وي هغوى كالحون دي.

دوزخيان به په دوزخ كې د سيلاب پشان اوښكې وبهوي

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت انس د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اى خلقوته
يَاأَيُّهَا النَّاسُ ابْكُوا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِيعُوا فَتَبَاكُوا
وژاړئ ځكه كه تاسو له ژړا نه راځي نو په تكلف سره وژاړئ حقيقت دادى چې دوزخيان به په
فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ يَبْكُونَ فِي النَّارِ
جهنم كې ژاړي او د هغوى اوښكې به ډېرې ژړيدو په وجه د هغوى په مخونو داسې رابهيږي لكه

حَتّٰى تَسِيْلَ دُمُوْعُهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ كَأَنَّهَا جَدَاوِلُ حَتّٰى يَنْقَطِعَ الدُّمُوْعُ
هغه نالۍ (لختۍ) دي او هرکله چې د هغوی اوښکې ختمي شي نوويني بهيدل به شروع شي
فَتَسِيْلَ الدِّمَاءُ فَتَقَرَّحَ الْعُيُوْنُ
او سترګي به د وينو نه زخمي شي د هغوی د سترګو نه بهيدونکې وينې او اوښکې به دومره وي
فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ
که د هغوی د سترګو په اوښکو کې کشتۍ پريښودل شي نو يقينًا هغه به رواني شي دا روايت
فِيْهَا لَجَرَتْ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.[1]
بغوي رَحِمَهُ اللّٰهُ خپلو اسنادو سره شرح السنه کې نقل کړی دی.

توضیح: فتبا کوا: یعنې په تکلف سره د ژړا صورت جوړ کړئ.

جداول: دا د جدول جمع ده وړې ويالې ته ويل کيږي.

فتقرح: قرح زخم ته وايي دا صيغه کچيرې د باب تفعل نه د مضارع صيغه وي نو دا په اصل کې تتقرح وو يوه تاء محذوفه ده په دې صورت کې به العيون د دې لپاره فاعل وي يعنې سترګې به زخمي شي، او کچيرې دا د باب د فتح نه د مضارع صيغه وي نو العيون به د دې لپاره مفعول به وي يعنې دغه وينه به سترګې زخمي کړي. سفنا: د سفينة جمع ده کشتۍ ته وايي.

ازجيت: ازجاء د باب افعال نه دی د کشتۍ د پريښودلو او د چلولو په معنی سره دی.

د دوزخيانو حالت

﴿۲۲﴾وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلْقٰى
او حضرت ابو درداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دوزخيانو باندې به لوږه
عَلٰى أَهْلِ النَّارِ الْجُوْعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيْهِ مِنَ الْعَذَابِ
داسې مسلطه شي چې د هغه لوږې تکليف به د هغه عذاب برابر وي چې په هغه کې هغه دوزخي د

[1] اخرجه ابن ماجه ۲/۱۴۴۶ رقم الحديث ۴۳۲۴.

فَيَسْتَغِيْثُوْنَ فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ مِّنْ ضَرِيْعٍ

مخكې نه ګرفتار وي نو هغوی به د لوږې د تكليف نه په بې تابه كېدو سره فرياد كوي او د هغوی

لَايُسْمِنُ وَ لَا يُغْنِيْ مِنْ جُوْعٍ

فريادرسي به د ضريع [ازغيداريږ ونې] د خوړلو په ذريعه كولې شي چې نه به يې غټوي چاغوي او

فَيَسْتَغِيْثُوْنَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُوْنَ بِطَعَامٍ ذِيْ غُصَّةٍ

نه به يې لوږه دفع كوي بيا به هغوی د خوراک حاصليدو سره په دوهم وار فرياد كوي او دا وار به

فَيَذْكُرُوْنَ أَنَّهُمْ كَانُوْا يُجِيْزُوْنَ الْغُصَصَ

د هغوی فرياد رسي په ستوني كې د مښتونكې طعام په ذريعه كولې شي دا وخت به هغوی ته

فِيْ الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ فَيَسْتَغِيْثُوْنَ

دا را يادشي چې په دنيا كې د طعام خوړلو په وخت د هغوی په ستوني كې چې به څه شی ونښتلو

بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمْ

نو هغوی به د څكونكي شي سره لاندې كولو نو هغوی د څه څكونكي شي التجاء او درخواست

الْحَمِيْمُ بِكَلَالِيْبِ الْحَدِيْدِ فَإِذَا

وكړي نو هغوی ته به تيزې ګرمې اوبه وركړل شي چې د انبورونو په ذريعه نيولو سره به ورپورته

دَنَتْ مِنْ وُجُوْهِهِمْ شَوَتْ وُجُوْهَهُمْ

كړی شي كله چې هغوی مخونو ته نژدې شي نو ورته به شي مخونه د هغوی او هر كله چې په هغه

فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُوْنَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِيْ بُطُوْنِهِمْ

لوښو كې دننه شي د هغوی په خيټه كې داخل شي نو د خيټې د دننه شيزونه به ټكړې ټكړې كړي

فَيَقُوْلُوْنَ اُدْعُوْا خَزَنَةَ

هغه دوزخيان به جهنم باندې مقررو فرشتو ته وايي اې د دوزخ محافظانو! الله! نه دعا

جَهَنَّمَ فَيَقُوْلُوْنَ أَلَمْ تَكُ

وغواړئ چې کم نه کم ديوې ورځې د پاره په مونږ دا عذاب سپک کړي د دوزخ محافظان به ورته

تَأْتِيْكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوْا

وايي آيا د الله رسولان د الله معجزو او واضحو دليلونو سره تاسو ته نه وو راغلي هغوی به ورته

بَلٰى قَالُوْا فَادْعُوْا

وايي بيشکه راغلي وو او د هغوی تعليمات مونږ ته رسيدلي وو د دوزخ محافظان به ورته وايي

وَمَادُعَاءُ الْكَافِرِيْنَ إِلَّا فِيْ ضَلَالٍ

بيا تاسو خپله دعا وغواړئ او د کافرانو دعا د تاوان او بي فائده ګۍ نه علاوه نور هيڅ نه ده

قَالَ فَيَقُوْلُوْنَ ادْعُوْا مَالِكًا فَيَقُوْلُوْنَ يَا مَالِكُ

هغوی به خپلو کې وايي چې د جنت داروغه مالک ته د مدد درخواست وکړئ اى مالکه! خپل

لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ

پروردګار نه دعا وغواړه چې هغه مونږ ته مرګ راکړي چې حضور وفرمايل د دوزخيانو التجاء اوريدو

قَالَ فَيُجِيْبُهُمْ إِنَّكُمْ

سره مالک به خپله يا د ربّ د طرف نه جواب ورکړي چې دې دوزخ نه د نجات يا د مرګ خيال

مَاكِثُوْنَ قَالَ الْأَعْمَشُ

پرېږدئ تاسو به هميشه هميشه دلته په دې عذاب ګرفتار يې حضرت اعمش رحمه الله وايي بعضې

نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ

صحابو رضي الله عنهم ماته بيان وکړو چې مالک ته د دې دوزخيانو التجاء او د مالک د طرف نه جواب

وَإِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ قَالَ

په ورکولو مينځ کې به د زر کالو وقفه وي حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل بيا به هغه دوزخيان وايي چې

فَيَقُوْلُوْنَ ادْعُوْا رَبَّكُمْ فَلَا

اوس مونږ ته براهِ راست خپل پروردګار ته د نجات او خلاصون التجاء کول پکار دي ځکه چې هغه

أَحَدٌ خَيْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

قادر مطلق دی زمونږ په حق کې خير او بهتری فیصله کونکی دی پروردګار نه بهتر بل څوک نشته

فَيَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا

نو هغوی به التجاء وکړي چې ای پروردګاره! زمونږ بدبختۍ مونږ ګیر کړلو او په دې کې شک

وَكُنَّا قَوْمًا ضَآلِّيْنَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا

نشته چې مونږ د توحید د لارې نه ګمراه شوي وو ای پروردګاره! مونږ ته د دوزخ نه نجات راکړې

فَإِنْ عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُوْنَ قَالَ

که مونږ دې نه روسته هم کفر او شرک طرف ته راشو نو خپل ځان باندې به ظلم کونکي يو الله !

فَيُجِيْبُهُمْ اِخْسَئُوْا فِيْهَا

به هغوی ته جواب ورکړي چې شئ کمبختو د سپو په شان ذلیل او خوار اوسئ او په دې دوزخ کې

وَ لَا تُكَلِّمُوْنِ قَالَ فَعِنْدَ

پراته اوسئ او د خلاصون باره کې دې کې ما سره هیڅ خبره مه کوئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل آخر هغه

ذٰلِكَ يَئِسُوْا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ وَعِنْدَ ذٰلِكَ يَأْخُذُوْنَ فِي الزَّفِيْرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ.

دوزخيان به د هر خير نه نا اميده شي او بيا به حسرت او ژړا فرياد شروع کړي عبد الله بن عبد الرحمنؒ وايي

قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَالنَّاسُ لَا يَرْفَعُوْنَ هٰذَا الْحَدِيْثَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۱)

چې علماء دا حديث مرفوع نه ګرځوي ليکن ترمذي دا حديث مرفوع نقل کړی دی

توضیح : فیعدل ما هم فیه: یعني د ولږې دغه عذاب به د هغه عذاب سره برابر وي کوم چې د

مخکې نه هغوی ته وو . **من ضريع**: د اغزيو والا يوه زهريله ونه ده کچيرې يو حيوان هغه وخوري نو فورا مړ کيږي . دلته د ضريع نه مراد هغه د اور اغزي دي چې په دوزخ کې به وي او د مصبر نه به زيات ترخه وي. **يجيزون**: د تيريدلو په معنی سره دی. **الغصص**: په ستونی کې د کوم شي نښليدلو ته غصص وايي، مطلب دا دی چې کله په دنيا کې کوم شي په ستونی کې ونښليدو نو د هغه د تيريدلو لپاره به يې اوبه څکلې، په دغه وجه به دوزخي اوبه غوښتل شروع کړي .

بكلاليب الحديد: يعنې په هغو اوبو کې به د اوسپنې وړې وړې پرزې او ميخونه شامل کړی شوي وي . (اخسئوا) د سپی د تختبولو او شړلو لپاره په عربی کې د اخسأ لفظ استعماليږي (يعنې کورې سپيو) اوس زمونږ سره خبرې مه کوئ .

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امت د دوزخ نه پوره طور سره خبردار کړی دی

﴿۲۳﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي يوه ورځ ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل
يَقُوْلُ أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ فَمَا
ای خلقو ! ماتاسو د دوزخ د عذاب نه ويرولئ ماتاسو د دوزخ د عذاب نه ويريولئ نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ دا
زَالَ يَقُوْلُهَا حَتّٰى لَوْ كَانَ فِيْ مَقَامِيْ
الفاظ بار بار فرمائيل که حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې ځای تشريف فرما وي چيرته چې دا وخت زه ناست يم
هٰذَا لَسَمِعَهُ أَهْلُ السُّوْقِ وَحَتّٰى سَقَطَتْ خَمِيْصَةٌ
نو يقينًا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز به بازاروالاو اوريدلی تردې پورې چې د هغه تالی . وهلو په وجه
كَانَتْ عَلَيْهِ عِنْدَ رِجْلَيْهِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ .[1]
د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کمبله چې په اوږه يې پرته وه په پښو کې راوليدله .

توضيح : **انذرتکم**: يعنې د دوزخ د اور نه ما تاسې ويرولئ .

---

[1] اخرجه الدارمي في السنن ۲/۴۲۵ رقم الحديث ۲۸۱۲ واحمد في المسند ۲۶۸.

في مقامي هذا: یعنې حضور صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه الفاظ په دومره زور زور سره فرمایل کچیرې هغه صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما په دغه ځای کې وی نو د هغه صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز به بازار ته رسیدلی وی.

الخمیصة: منقش څادر ته خمیصه وایي، شاعر وایي:

لبست الخمیصة ابغي الخبیصة   وانشبت شصي في کل شیصة

شارحین د خمیصه ترجمه په تورې شړۍ سره کوي.

د دوزخیانو د تړلو اوږده ځنځیرونه

﴿۲۴﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ
او حضرت عبد الله بن عمرو بن عاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل که د
قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً
قلعي یوه ګوله داسې وي او حضور صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سر طرف ته اشاره وکړه چې د کاسي په شان وي
مِثْلَ هٰذِهِ وَأَشَارَ إِلٰى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ أُرْسِلَتْ
یعنې دسکې هغه ګوله د کاسي په شان ګول او ددرنیدو په وجه ډیره په تیزی سره رغړیونکې وي د
مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ وَهِيَ مَسِيْرَةُ خَمْسِمِائَةِ سَنَةٍ
آسمان نه ځمکې طرف ته وغورځول شي چې د هغو په مینځ کې فاصله د پنځه سوه کاله د مسافت
لَبَلَغَتِ الْأَرْضَ قَبْلَ اللَّيْلِ
برابر ده نو یقینًا هغه ګوله به یوې شپې تیریدو نه سر نه مخکې یعنې ډیره مختصره موده کې به
وَ لَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَّأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ
ځمکې ته راورسیږي لیکن که هغه ګوله د زنځیر د سر نه پریښودل شي نو څلویښت کاله پورې
أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ
مسلسل ورځ او شپه رغړیدو باوجود د هغه زنځیر د ویخ یعنې د هغه آخرې سره پورې یادایي

تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا. [رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ] (١)
وفرمایل د هغه تَل ته به ونه رسیږي. [ترمذي]

توضیح : رصاصة: یعنې د قلعي یوه ټوټه چې د سر او کوپړۍ پشان وي، کچیرې دا د اسمان نه ځمکې ته راپریښودل شي نو په کم وخت کې به دا ځمکې ته را ورسیږي حالانکه د ځمکې او آسمان په مینځ کې د پنځه سوه کالو فاصله ده لیکن که دغه ټوټه د دوزخیانو د ځنځیر په یو سر کې بنده کړی شي او بیا لاندې پریښودلی شي نو دا ځنځیر دومره اوږد دی او د دوزخ ژوروالی دومره زیات دی چې څلویښت کاله بعد به دا ټوټه لاندې ورسیږي.

د سرکشه متکبر په دوزخ کې ځای

﴿٢٥﴾ وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوبرده تابعي رحمه الله خپل د پلار نه نقل کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل په
قَالَ إِنَّ فِي جَهَنَّمَ لَوَادِيًا يُقَالُ لَهُ
دوزخ کې یوه ناله ده چې د هغه نوم هبهب دی په دې ناله کې هر هغه سړی ساتلی شي چې متکبر
هَبْهَبُ يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. (٢)
سرکش د حق نه لرې او مخلوق باندې سختي کونکی وي. [دارمي]

توضیح : هبهب: په جهنم کې یوه کنده ده چې په هغې کې به د دنیا متکبره او بدمعاشان خلق وي په هغې کې کلی دی چې هبهب ورته ویلی شي الله دې پرویز مشرف هغې ته واچوي چې معصوم طالبانو او طالباتو باندې ئې ظلم وکړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د دوزخیانو طویل (اوګد) او عریض (پلن) جسامت

﴿٢٦﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

---

(١) اخرجه الترمذي ٤/٦١١ رقم الحديث ٢٥٨٨ وأحمد في المسند ٢/١٩٧ .

(٢) اخرجه الدارمي ٢/٤٢٧ رقم الحديث ٢٨١٦.

قَالَ	يَعْظُمُ	أَهْلُ	النَّارِ	فِي	النَّارِ	حَتّٰى	إِنَّ بَيْنَ

په دوزخ کې به د دوزخيانو بدن ډير غټ غټ شي چې هغه سره به هغوی ته عذاب هم زيات معلوميږي

شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلٰى عَاتِقِهٖ مَسِيْرَةُ سَبْعِ

ددې پورې چې د يو دوزخي د غوږ د پوستکې نه د هغه د اوږې پورې فاصله به د اوو سوو کالو

مِائَةِ عَامٍ وَ إِنَّ غِلَظَ جِلْدِهٖ سَبْعُوْنَ ذِرَاعًا وَ إِنَّ ضِرْسَهٗ مِثْلُ أُحُدٍ.[1]

د مسافت برابر وي د هغه د څرمن پيړوالی (ډبلوالی) به اويا گزه وي او د هغه غاښ به د احد د غره برابر وي.

د دوزخ ماران او لړمان

﴿۲۷﴾وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عبد الله بن حارث بن جزء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل په دوزخ کې

إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ تَلْسَعُ إِحْدٰهُنَّ اللَّسْعَةَ

د بختي اوښ برابر غټ غټ ماران دي په هغو کې يو مار هم چې ټوک يو وار و چيچي نو د هغه د

فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا وَإِنَّ النَّارِ فِي عَقَارِبَ

چيچلو په شدت کې به څلويښت کاله پورې مبتلا وي د غه شان په دوزخ کې چې کوم لړمانان دي

كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُوْكَفَةِ تَلْسَعُ إِحْدٰهُنَّ اللَّسْعَةَ

هغه د پالان تړلو قچرو په شان دي او هغو نه چې يو لړم يو وار ټوک وچيچي هغه به د هغه د زهرو

فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِيْنَ خَرِيْفًا. رَوَاهُمَا أَحْمَدُ.[2]

او درد په شدت کې څلويښت کاله پورې مبتلا وي دا دواړه روايتونه احمد نقل کړي دي.

توضيح: حيات: يعني ماران به وي.

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۲/۲۶

(۲) اخرجه احمد في المسند ۴/۱۹۱ .

البخت خراساني اوښ ته البخت ويلی کيږي.

عقارب: د عقرب جمع ده لړم ته وايي.

المؤکفة: د أکاف نه دی د اسم مفعول صيغه ده يعنې زين اچول شوی قچر.

حموتها: حموة د تيزۍ او چيچلو سوزش ته وايي يعنې تر څلويښت کاله پورې به د دغه درد اثر باقي وي.

سپوږمۍ او لمر به دواړه اور ته ځي

﴿۲۸﴾ وَ عَنِ الْحَسَنِ قَالَ حَدَّثَنَا اَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ
او حضرت حسن بصري رحمه الله وايي حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونږ ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ الشَّمْسُ وَ الْقَمَرُ
دا حديث بيان کړو چې د قيامت په ورځ به نمر او سپوږمۍ د پنير د وو ټکړو په شان د دوزخ په
ثَوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ الْحَسَنُ
اور کې واچول شي حسن رحمه الله وايي ما دې حديث اوريدو سره د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه
وَمَا ذَنْبُهُمَا فَقَالَ أُحَدِّثُكَ
پوښتنه وکړه چې لمر او سپوږمۍ څه ګناه کړيده حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب راکړو ما چې څه
عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَكَتَ الْحَسَنُ.
بيان کړل دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديث دی حسن بصري رحمه الله دې خبري اوريد وسره خاموش
رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ كِتَابِ الْبَعْثِ وَ النُّشُوْرِ.[1]
شو دا روايت بيهقي په کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی.

توضيح: ثوران مکوّران: ثوران تثنيه ده ددې مفرد ثور دی، د پنير ټکړې ته وايي، مکوّران هم د مکوّر تثنيه ده د تاوولو په معنی سره دی يعنې لمر او سپوږمۍ به د پنيرو د ټکړو په شان تاؤ کړی شي په دوزخ کې به واچولی شي تر څو د دوی په وجه د اور په تيزۍ کې د خاشاک په شان اضافه

([1]) اخرجه المرقاة المفاتيح ۱۰/۳۵۵ رقم الحديث ۵۶۹۲

راشي .او په دې وجه هم چې د دوی دواړو عبادت کېږي نو عابد او معبود دواړه به په دوزخ کې وي تر څو کافر ذليله شي ، همدارنګه دوی دواړو د دنيا او طبقې رونبانه کړې وې بنه شهرت يې حاصل کړی لهذا د دې شهرت يو څه سزا اداکول پکار ده ، هسې هم دا حديث ضعيفه دی .

په دوزخ کې به بدبخته خلک وي

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په دوزخ کې به هغه سړی
لَايَدْخُلُ النَّارَ اِلَّا شَقِيٌّ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَمَنِ الشَّقِيُّ
اچول کېږي چې شقي (يعنی بدبخته وي) پوښتنه وشوه يارسول الله شقي څوک دی ؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ مَنْ لَمْ يَعْمَلْ لِلّٰهِ بِطَاعَةٍ وَلَمْ
وفرمايل شقي هغه دی چې نه خو د الله ! د رضا او خوشحالولو له خاطره او طاعات اختيار وي
يَتْرُكْ لَهٗ بِمَعْصِيَةٍ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ. [۱]
او نه د الله رضا او خوشحالولو د پاره ګناه او معصيت ترک کوي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

[۱] اخرجه ابن ماجه في السنن ۱۴۳۶ رقم الحديث ۴۲۹۸ واحمد في المسند ۲/۳۴۹.

باب خلق الجنة والنار

د جنت او دوزخ د تخلیق بیان

اهل حق د (اهل سنت والجماعة) عقیده ده چې جنت او دوزخ د اوس نه تیار دي، اهل باطل وایي چې جنت منت هیڅ هم نشته او دوزخ هم نشته. مرزا غالب وایي:

ہم کو معلوم ہی جنت کی حقیقت لیکن — دل بہلانی کو غالب یہ خیال اچھا ہے

بهر حال د داسې ملحدانو اقوالو ته څه اعتبار دی درحالیکه له مسلمانانو سره قرآن پاک او حدیث دي او اجماع امت او اصول دین دی لهذا غپیدونکو د غپا هیڅ پروا نشته په ذکری شوي باب کې د داسې موضوع متعلق واضح احادیث بیان شوي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د جنت او دوزخ مناظره

﴿۱﴾ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَاجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ

حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل جنت او دوزخ په خپلو کې

فَقَالَتِ — النَّارُ — أُوْثِرْتُ — بِالْمُتَكَبِّرِيْنَ — وَالْمُتَجَبِّرِيْنَ

بحث او تکرار وکړو دوزخ وویل چې زه په سرکشو متکبرو او ظالمانو د پاره جوړ شوی یم او جنت

وَقَالَتِ — الْجَنَّةُ — فَمَالِيْ — لَا — يَدْخُلُنِيْ — إِلَّا — ضُعَفَاءُ

وویل زه خپل باره کې څه ووایم په ماکې به هم هغه خلق داخلیږي کوم چې ضعیف او کمزوري د

النَّاسِ — وَسَقَطُهُمْ — وَغِرَّتُهُمْ — قَالَ — اللهُ — تَعَالٰى

خلقو په نظر کې راغلي وي او ساده سیده او دهوکه کې راتلونکي وي په دي اوریدو سره الله!

لِلْجَنَّةِ — إِنَّمَا — أَنْتِ — رَحْمَتِيْ — أَرْحَمُ

جنت ته وفرمایل ته څما د رحمت د اظهار ذریعه او څما د کرم ځای یي زه چې خپلو بندګانو کې

بِكِ — مَنْ — أَشَاءُ — مِنْ — عِبَادِيْ — وَقَالَ — لِلنَّارِ

څوک په خپل رحمت سره نازول غواړم دهغه د پاره تا ذریعه جوړوم او دوزخ ته یي وفرمایل ته

إِنَّمَا	أَنْتِ	عَذَابِيْ	أُعَذِّبُ	بِكِ	مَنْ	أَشَاءُ
ځما د عذاب د محل او مظهر کېدو نه علاوه نور هيڅ نه يې زه چې خپلو بندګانو کې چاته عذاب						
مِنْ	عِبَادِيْ	وَلِكُلِّ	وَّاحِدٍ	مِّنْكُمَا	مِلْؤُهَا	
ورکول غواړم هغه د پاره تا ذريعه جوړوم او زه به تا سو دواړه د خلقو نه ډک کړم البته دوزخ سره						
فَأَمَّا	النَّارُ	فَلَا	تَمْتَلِئُ	حَتّٰى	يَضَعَ	اللهُ
خو به دا معامله وي چې هغه به هغه وخته پورې نه ډکيږي د څو پورې چې پر هغه الله ! خپله						
رِجْلَهٗ	يَقُوْلُ	قَطْ	قَطْ	فَهُنَا		
خپه کيږدي هرکله چې الله ! خپله خپه پرکيږدي نو دوزخ به نعري کړي چې بس بس هغه وخت به						
لِكَ	تَمْتَلِئُ	وَيُزْوٰى	بَعْضُهَا	إِلٰى	بَعْضٍ	
دوزخ د الله ! په قدرت سره ډک شي او د هغه حصې به يوه بلې ته نژدې کړي نو هغه به راټول شي						
فَلَا	يَظْلِمُ	اللهُ	مِنْ	خَلْقِهٖ	أَحَدًا	
مطلب دا چې الله ! په خپل مخلوق کې په هيچا باندې ظلم نه کوي او د جنت معامله خو به دا وي						
وَاَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللهَ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)						
چې د هغه ډکېدو د پاره به الله ! نوی خلق پيدا کړي. [بخاري مسلم]						

توضيح: تحاجت: په شد سره دی **أي تخاصمت و تجادلت** يعنې په خپل مينځ کښې يې جګړه وکړه او مناظره او تکرار وکړو ،حجت بيانی يې وکړه او په يو بل باندې يې غټوالی بيان کړلو مګر زياته واضحه خبره دا ده چې د دواړو طرفونو نه د يو قسم شکايت اظهار دی چې دوزخ ووېل زه يې يوائې په غلو ، سرکشو ، او بدمعاشانو ، کفارو اشرارو سره ولې خاص کړی شوم ؟ هر ملعون زما همسايه ولې دی ؟ جنت ووېل چې ته څه شکايت کوې او ستا څه شکايت دی ماته لږ اوګوره ! هر ګمنام ، مفلس، غريب زما همسايه دی ! د دوی دواړو په دغه خبرو او شکايت اوريدلو سره الله

تعالی وفرمایل چې تاسې دواړه زما د جلال او جمال مظهر یاستئ، تاسې دواړه برابر یې، صرف دومره خبره ده چې په تاسو کښې د یوه سره زما عدل او انصاف تعلق لري چې دوزخ دی، او د دویم سره زما انعام او اکرام او فضل او احسان تړلی دی چې جنت دی. **ملؤها**: یعنې زما په ذمه دا وعده ده چې زه به دواړه ډکومه، د جنت لپاره به یو نوی مخلوق پیدا کړی شي ځکه دا به د الله تعالی انعام او احسان وي او د دوزخ لپاره به نوی مخلوق پیدا کولی نشي ځکه بلا وجه به څوک په دوزخ کښې اچولی نشي نو ځکه به په دوزخ باندې الله تعالی خپل قدم کیږدي نو دوزخ به اقرار وکړي چې زه ډک شوم بس دی بس دی !**قط قط**: ای کفی کفی کافي دی کافي دی. **یزوی**: د مجهول صیغه ده ای یضم و یجمع یعنې د دوزخ حصې به سره قریبې کړی شي نو هغه به سره یو ځای کړی شي.

فلا یظلم الله: یعنې الله تعالي به د دوزخ د ډکولو لپاره نوی مخلوق نه پیدا کوي ځکه بغیر د ګناه نه څوک په دوزخ کښې اچول ظاهری صورت کښې د ظلم مترادف دی، الله تعالی د ظلم نه پاک دی نو ځکه به د دوزخ په خوله باندې الله تعالی خپل قدم کیږدي نو دوزخ به د خپل ډکیدلو اقرار وکړي او په دې طریقه د دوزخ سره چې کومه وعده د ډکیدو شوې وه هغه به هم پوره شي.

دوزخ او جنت به ډک شي

﴿۲﴾	وَعَنْ	أَنَسٍ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ		
او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل										
قَالَ	لَا	تَزَالُ	جَهَنَّمَ	يُلْقَى	فِيهَا	وَتَقُوْلُ	هَلْ	مِنْ	مَّزِيْدٍ	
په دوزخ کې به مسلسل خلق اچول کېږي او هغه به وایي چې څه نور هم شته آخر الله عز وجل به په										
حَتّٰى	يَضَعَ	رَبُّ	الْعِزَّةِ	فِيهَا	قَدَمَهُ					
هغه خپله پښه کیږدي نو د دوزخ حصې به یوه بلې ته قریبې راشي چې په هغه سره به دوزخ راټول										
فَيَنْزَوِي	بَعْضُهَا	إِلَى	بَعْضٍ	فَتَقُوْلُ	قَطْ	قَطْ	بِعِزَّتِكَ	وَكَرَمِكَ		
شي بیا به هغه وایي بس بس ستا په عزت او کرم مې دې قسم وي زه ډک شوم د غه شان په جنت										
وَلَا	يَزَالُ	فِي	الْجَنَّةِ	فَضْلٌ	حَتّٰى	يُنْشِئَ	اللهُ			
کې به وسعت وي تر دې پورې چې الله تعالی به د جنت هغه خالي محلاتو او مکاناتو ډکولو د پاره										

لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنُهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَذُكِرَ حَدِيْثُ أَنَسٍ حُفَّتِ

نوی مخلوق پيدا كړي چې هغې كې به آباد شي . بخاري، مسلم)او حديث د انس رضي الله عنه : حُفَّت

الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ فِيْ كِتَابِ الرِّقَاقِ.[1]

الْجَنَّةُ بالمكارِهِ په كتاب الرقاق كې ذكرشوى دى .

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

جنت په مشكلاتو كې او دوزخ په خواهشاتو كې ګېر شوي دي

﴿۲﴾عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل

قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرَئِيْلَ اذْهَبْ

الله ! چې جنت جوړ كړه نو حضرت جبرائيل عليه السلام ته يي وفرمايل لاړ شه او جنت طرف ته

فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَ إِلَى مَا أَعَدَّ اللهُ

نظر وكړه او ګوره نو هغه لاړلو جنت او د هغه ټول څيزونه يي چې الله ! جنتيانو د پاره جوړ

لِأَهْلِهَا فِيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ

كړي دي وليدل نو بيرته راتلو سر ديي عرض وكړو اى پروردګاره ! ستا په عزت مي دې قسم وي

وَعِزَّتِكَ لَايَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا ثُمَّ

چې څوک واوري هغه به په هغه كې د داخليدلو خواهش كوي بيا الله! د جنت څلور طرف ته د

حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ ثُمَّ قَالَ يَا جِبْرَئِيْلُ

هغه څيزونو احاطه قائمه كړه كوم چې نفس ته ناخوښ دي او وي فرمائيل اى جبرائيله ! لاړ شه

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۸/۵۹۴ رقم الحديث ۶۴۸۷ ومسلم ۴/۲۱۸۷ رقم الحديث ۲۸۴۸-۳۷

اذْهَبْ	فَانْظُرْ	إِلَيْهَا	قَالَ	فَذَهَبَ

جنت دوباره اوګوره نو هغه لاړلو او په لیدو سره بیرته راغلي نو عرض یي وکړو ای پروردګاره!

فَنَظَرَ	إِلَيْهَا	ثُمَّ	جَاءَ	فَقَالَ	أَيْ	رَبِّ	وَعِزَّتِكَ	لَقَدْ	خَشِيتُ

ستا په عزت مې دې قسم وي ماته یره ده اوس شاید څوک هم په جنت کې د داخلیدو خواهش ونه

اَنْ	لَّايَدْخُلَهَا	أَحَدٌ	قَالَ	فَلَمَّا	خَلَقَ	اللهُ	النَّارَ	قَالَ	يَا	جِبْرَئِيلُ

کړي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دغه شان الله! چې دوزخ جوړ کړه نو جبرائیل ته یي حکم

اذْهَبْ	فَانْظُرْ	إِلَيْهَا	قَالَ	فَذَهَبَ	فَنَظَرَ	إِلَيْهَا

ورکړو چې لاړ شه دوزخ اوګوره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نو جبرائیل لاړلو او دوزخ کتلو

ثُمَّ	جَاءَ	فَقَالَ	أَيْ	رَبِّ	وَعِزَّتِكَ

سره بیرته راغی نو عرض یي وکړو ای ربه! ستا په عزت او جلال مې قسم څوک چې د دوزخ باره

لَايَسْمَعُ	بِهَا	أَحَدٌ	فَيَدْخُلُهَا	فَحَفَّهَا

کې واوري هغه به هغه ته د تلو کوشش نه کوي بیا الله! د دوزخ څلور طرفه ته د نفس د

بِالشَّهَوَاتِ	ثُمَّ	قَالَ	يَا	جِبْرَئِيلُ	اذْهَبْ

خواهشاتو احاطه قائمه کړه او جبرائیل ته یي وفرمایل ای جبرائیل! لاړ شه دوزخ دوباره

فَانْظُرْ	إِلَيْهَا	قَالَ	فَذَهَبَ	فَنَظَرَ	إِلَيْهَا

وګوره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نو حضرت جبرائیل لاړلو او هغې لیدو سره بیرته راغی نو

فَقَالَ	أَيْ	رَبِّ	وَعِزَّتِكَ	لَقَدْ	خَشِيتُ	اَنْ

عرض یي وکړو ای پروردګاره! ستا په عزت او جلال مې دې قسم وي ماته یره ده چې اوس به

لَايَبْقٰى أَحَدٌ اِلَّا دَخَلَهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ[1]
شاید څوک هم باقي بچ نشي چې دوزخ ته به لاړ نشي [ابوداؤد ترمذي نسائي]

توضیح : **مکاره**: دا د **مکرة** جمع ده چې معنی ده ناخوښه او درانه شیان ،شرعی طور باندې د مکاره نه مراد هغه شرعی امور دي چې د هغې د کولو یا نه کولو شریعت حکم ورکړی دی چې دا امور تکلیفیه دي او پابندي ورباندې ضروري ده . د **مکاره نه** مثلا دا هم ده چې په سخته یخنۍ کې په اوداسه سره لمونځ اداء کړی شي او په سخته ګرمۍ کښې روژه ونیولی شي ، ددې مشکلاتو نه په تیریدلو سره مخې ته د راحتونو والا جنت دی چې په دغو مشکلاتو کښې پټ دی .

همدارنګه د شریعت نه په آزادی او د شرابونو او کبابونو نه په تیریدلو سره مخې ته دوزخ دی چې په دغه راحتونو کښې پټ دی ، د حدیث همدا مطلب دی چې جنت په مشکلاتو سره او دوزخ په خواهشاتو سره پټ کړی شوی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

﴿۴﴾ عَنْ أَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى لَنَا يَوْمًا اَلصَّلَاةَ
د حضرت انس رضي الله عنه بیان دی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته مونځ راکړو بیا منبر ته وختلو
ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ فَأَشَارَ بِيَدِهِ
او د مسجد قبلي طرف ته يې خپل لاس مبارک سره اشارې کولو سره يې وفرمایل چې اوس ما تا
قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ قَدْ أُرِيْتُ الْآنَ
سو ته مونځ درکړو نو ماته د دې دیوال مخامخ طرف کې جنت او دوزخ وښودل شول واقعه داده
مُذْ صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ اَلْجَنَّةَ وَالنَّارَ مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قِبَلِ هٰذَا الْجِدَارِ
چې ما څومره ښه شی او څومره خراب شی نن لیدلی دی داسې ښه او خراب شیان مې دې نه

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن ۵/۱۰۸ رقم الحديث ۴۷۴۴ واخرجه الترمذي ۴/۵۹۸ رقم الحديث ۲۵۶۰.

فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [۱]
مخکې هيڅ کله نه دي ليدلي. [بخاري]

توضيح : قبل هذا الجدار: يعني د دغه ديوال په طرف کې ما جنت او دوزخ وليدلو .

سوال : که څوک دا سوال وکړي چې جنت او دوزخ خو ډير وسيع او عريض دي د مسجد په محدود ديوال کښې هغه حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څنګه وليدل ؟

جواب : ددې لپاره دوه جوابه دي : يو دا چې د يو شي عکس (تصوير) د هغه شي نه ډير وړوکی وي دلته د عکس ذکر دی د اصل ذکر نه دی ، د نن سبا د ميډيا او کمپيوټر په دور کښې دغه سوال بې معنی دی . دويم جواب دا دی چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ديوال په مخامخ حصه کښې جنت او دوزخ په اصلی حالت کښې وليدل ، د لمانځه په حالت کښې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته انکشاف تام کيده د حديث الفاظ دغه مطلب ته زيات نژدې دي .

في الخير: يعني په دې دنيا کښې که کوم انسان کوم ښه شي ته کتلی شي د جنت منظر د هغه نه زيات ښايسته وو او په دې دنيا کښې که يو انسان د بدو نه د بدتر منظر نظاره کولی شي نو د دوزخ منظر د دېنه هم زيات بد وو .

۱۷ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۵۱۵ رقم الحديث ۴۱۹ .

باب بدء الخلق وذکر الانبیاء علیهم الصلوة والسلام

د کائناتو د پیدا کولو او انبیاو بیان

قال الله تعالی ﴿وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ﴾ د کائناتو تخلیق او ددې ابتداء څنګه وشوه ؟ ددې سره متعلق په باب صفة اهل الجنة حدیث نمبر ۱۸ په توضیح کې په پوره تفصیل سره ما لیکل کړي دي ، خلاصه دا چې الله تعالی وو او د هغه سره کوم بل شی نه وو (کان الله ولیس معه شئ) بیا الله تعالی په خپل قدرت سره یوه شنه ملغلره پیدا کړه او هغې ته یې د غضب په نظر سره وکتل هغه ویلې شوه او اوبه ترینه وجود ته راغلې په ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾ کې همدغه کیفیت ته اشاره ده ، بیا الله تعالی اوبو ته د رعب او جلال په نظر سره وکتل نو اوبه جوشیدو سره وچې شوې، لاندې تلچټ پاتې شو ، پاس لوګې پورته شو ، د همدغه لوګې نه الله تعالی اسمانونه جوړ کړل په ﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ کې همدغه حقیقت ته اشاره ده ،بیا الله تعالی ځمکه هواره کړه په ﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا﴾ کې همدغه پس منظر بیان کړی شوی دی ، د ځمکو پیدایش مخکې دی مګر خورل یې وروسته دي او د آسمانونو تخلیق د ځمکې د تخلیق نه وروسته دی مګر تزیین او برابرول یې د ځمکې د برابرولو نه مخکې دي ځکه دا قاعده ده چې د چت صفائی او ښایسته کول مخکې وي او د فرش وروسته وي، په بدائع الزهور فی وقائع الدهور نوم کتاب کې ټول تفصیلات دي،په اشعة اللمعات کې شیخ عبد الحق رح مکمل تفصیل کړی دی .

د بنی آدمو د تخلیق شروع د حضرت آدم علیه السلام نه وشوه ټول اهل حق په دې باندې متفق دي چې دا عالم حادث دی یعنې مخکې نه وو بیا الله تعالی دېته وجود ورکړو ، لوح او قلم یې پیدا کړلو ، ځمکه او آسمان یې جوړ کړل ، په ځمکه یې غرونه نصب کړل ، عرش او کرسی یې پیدا کړله ، ملائکې او جن او انس یې پیدا کړلو بیا به یو وخت د قیامت داسې راځي چې دا ټول به فناء کیږي او صرف د الله تعالی ذات به باقی پاتې کیږي .

ألا کل شئ ما خلا الله باطل وکل نعیم لامحالة زائل

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

په ابتداء کې د الله تعالی ذات وو نور هیڅ نه وو

﴿۱﴾عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمران بن حصین رضی الله عنه وایي یوه ورځ زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وم چې د بنو

إِذْ	جَاءَهُ	قَوْمٌ	مِّنْ	بَنِيْ	تَمِيْمٍ	فَقَالَ

تمیم څه خلق د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شول حضور ﷺ هغوی ته وفرمایل

اِقْبَلُوا	الْبُشْرٰی	يَا	بَنِيْ	تَمِيْمٍ	قَالُوا	بَشَّرْتَنَا

ای د بنو تمیم خلقو! بشارت حاصل کړئ هغوی وویل تا سو خو د دین بشارت مونږ ته راکړی دی

فَأَعْطِنَا	فَدَخَلَ	نَاسٌ	مِّنْ	أَهْلِ	الْيَمَنِ

نو اوس څه سامان راته راکړئ بیا څه وخت روسته د یمن خلق د حضور ﷺ په خدمت کې

فَقَالَ	اِقْبَلُوا	الْبُشْرٰی	يَا	أَهْلَ	الْيَمَنِ

حاضر شول حضور ﷺ هغوی ته وفرمایل ای د یمن خلقو! بشارت حاصل کړئ د بنو

إِذْ	لَمْ	يَقْبَلْهَا	بَنُو	تَمِيْمٍ

تمیم خلقو خو بشارت حاصل نه کړو یمن والو عرض وکړو یارسول الله! مونږ بشارت قبلوو او

قَالُوا	قَبِلْنَا	جِئْنَاكَ	لِنَتَفَقَّهَ	فِي	الدِّيْنِ

مونږ د دې د پاره ستا سو په خدمت کې حاضر شوي یو چې دیني معلومات او فهم حاصل کړو چې

وَلِنَسْأَلَكَ	عَنْ	أَوَّلِ	هٰذَا	الْأَمْرِ

د ابتدائي پیدائش او مبداء عالم باره کې پوښتنه کول غواړو چې د دې کائناتو د وجود نه مخکې

مَا	كَانَ	قَالَ	كَانَ	اللهُ

څه شی موجود وو؟ حضور ﷺ ورته وفرمایل صرف د الله! ذات موجود وو په ازل کې

وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ

د هغه نه مخکې هیڅ شی موجود نه وو او د هغه عرش په اوبو وو بیا الله! آسمان او ځمکه پیدا

وَكَتَبَ	فِي	الذِّكْرِ	كُلَّ	شَيْءٍ	ثُمَّ أَتَانِي
کړل او لوح محفوظ کې يې هرڅه وليکل د حديث راوي حضرت عمران ابن حصين وايي					
رَجُلٌ	فَقَالَ	يَا	عِمْرَانُ	أَدْرِكْ	نَاقَتَكَ فَقَدْ
ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد گرامي بس دې ځای پورې اوريدلی وو چې يو سړی ماته راغی او					
ذَهَبَتْ	فَانْطَلَقْتُ	أَطْلُبُهَا			
هغه وويل چې عمرانه! لاړ شه او خپله اوښه دې ولټوه نو هغه تختيلې دی ددې په اوريدلو سره د					
وَايْمُ	اللهِ	لَوَدِدْتُ	أَنَّهَا	قَدْ	
خپلې اوښې په تلاش کې ووتم او اوس زه د الله قسم کولو سره وايم او ارمان کوم چې کاش چې زه					
ذَهَبَتْ	وَلَمْ	أَقُمْ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ[1]	
هغه وخت د مجلس نبوي نه نه وی تلی اگر که زما اوښه ورکه شوې هم وی. [بخاري]					

توضيح: بشرتنا فاعطنا: حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بنو تميم په راتگ باندې هغوی ته دا بشارت ورکړو چې تفقه في الدين او علمي پوهه حاصله کړئ او بيا ددې په نتيجه کې د جنت نعمتونه او د علم او عمل بشات قبول کړی ، چونکې د هغوی ټول نظر او مکمل رجوع په دنيا باندې وه نو ځکه هغوی وويل چې بشارت خو تا راکړو اوس مونږ ته مال راکړه . شايد هغوی د نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ظاهر الفاظو (البشری) نه دنيا فهم کړې وي ځکه د هغوی نظر په فانی دنيا باندې لگيدلی وو او د دائمی آخرت نه غافله وو ، بيا دغه بشارت اهل يمن والو قبول کړلو او د کائناتو د پيدا ايښت د ابتداء پوښتنه يې وکړه.

كان الله: يعنې الله تعالى د ازل الآزال نه وو او تر ابد الاباد پورې به وي د کائناتو خالق هغه دی، په هر حال د الله تعالى نه مخکې هيڅ هم نه وو.

على الماء: ددې تشريح او تفصيل مخکې ليکل شوی دی، مراد دا نه دی چې د اوبو په سطحه باندې عرش اينبودلی شوی وو بلکه پاس عرش او لاندې اوبه وې، نور څه نه وو . **وكتب في الذكر:** د ذکر نه لوح محفوظ مراد دی او كتبَ په معنی د اثبت سره دی يعنې هرڅه يې په لوح محفوظ کې وليکل.

ايم الله: د قسم لپاره وضع شوی دی ای اقسم بالله.

([1]) اخرجه البخاري ۶/۲۸۶ رقم الحديث ۳۱۹۰ والترمذي ۵/۶۸۸ رقم الحديث ۳۹۵۱ واحمد في المسند ۴/۴۲۶ .

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابتداء پيدائش نه د قيامت دورځې پورې احوال بيان فرمايلى وو

﴿۲﴾وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

و امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبې ورکولو د

مَقَامًا فَأَخْبَرَنَا عَنْ بَدْءِ الْخَلْقِ حَتَّى دَخَلَ

پاره زمونږ په مخکې اودريدلو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه خطبې په دوران کې د ابتداء پيدائش

أَهْلُ الْجَنَّةِ مَنَازِلَهُمْ وَأَهْلُ النَّارِ مَنَازِلَهُمْ

نه جنت او دوزخ کې دداخليدو پورې ټول احوال او کيفيات ذکر کړل کوم سړي چې دا خبرې ياد

حَفِظَ ذٰلِكَ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

وساتلې هغه ته يادې دي او کوم سړي چې هيرې کړي هغه هيرې کړې. [بخاري]

د الله تعالى د رحمت سبقت

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل چې الله! د مخلوق يعني

إِنَّ اللهَ تَعَالَى كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ

ځمکې آسمان پيدا کولو نه مخکې يو کتاب وليکله په هغه کې دي چې زما رحمت زما په غضب

الْخَلْقَ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غَضَبِي فَهُوَ مَكْتُوبٌ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[2]

سبقت کړې دی او هغه کتاب يا مذکوره عبارت د الله! سره په عرش د پاسه ليکلى موجود دی. [بخاري مسلم]

توضيح: سبقت غضبي: ددې جملې لپاره دوه مفهومه دي يو دا چې رحمت د مخکې نه وو چې ددې په برکت کائنات جوړ شول او خاص رحمت موجود وو بيا چا چې سرکشي شروع کړه د هغه لپاره د غضب ظهور وشو ، د حديث همدا مطلب دی چې د رحمت لپاره په غضب باندې سبقت حاصل وو .
دويم مفهوم دا دی چې رحمت خداوندي د غضب الهی نه وسيع تر دی او په هغه باندې مخکې

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۲۸۶ رقم الحديث ۳۱۹۲ أبوداود ۴/۴۴۱ رقم الحديث ۴۲۴۰ .
(۲) اخرجه البخاري ۶/۲۸۷ رقم الحديث ۳۱۹۴ ومسلم ۴/۲۱۰۷ رقم الحديث (۲۷۵۱-۱۴)

شوی دی د دغه رحمت تقاضا ده چې د جنت طبقات د جهنم د طبقاتو نه زيات دي او په كائناتو باندې رحمت محيط دی.

انسان د كوم څيز نه جوړ دی

﴿٤﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ: خُلِقَتِ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُوْرٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ
وفرمايل فرښتې د نور نه پيدا شوې دي او جنات يې د اور د شغلې نه پيدا كړي دي د كوم سره چې
مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]
لوګې ګډ وډ وو لوګې او آدم د هغه شي نه پيدا شوی دی چې تاسو ته بښودل شوی دی [مسلم]

توضيح: من نور: يعنې ملائكې د يو قسم نور نه جوړې شوې دی دا د الله تعالى نور نه دی، كوم بل نور دی. **الجان:** د جان د لفظ معنى خو يا د جن او جناتو ده يا د جناتو د اصل او د هغوی د پلار نوم جان دی چې د هغه نه د جناتو نسل چليدلی دی.

وصف: يعنې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې د كوم شی نه پيدا شوي هغه په قرآن كې بيان شوی دی، ايت دا دی ﴿ خَلَقَهُ مِنْ تُرَابٍ ﴾ يعنې د خاورې نه پيدا كړی شو، په دې حديث كې په بريلويانو باندې سخت رد دی بلكه د هغوی خيالي او د دروغو عمارت دځمی سره خاورې شوی دی ځكه دلته د ملائكو د تخليق نسبت نور ته شوی دی او د انسان د تخليق نسبت خټې ته شوی دی لهذا نور او خټه دواړه يو د بل مقابل شول، اوس وو وايه چې د دغو مشركانو او بدعتيانو د دروغو عقيده چيرته لاړه؟ دا خلك تور زړی او بدبخته دي چې قرآن هم د نظره غور ځوي كوي او احاديثو ته هم نه ګوري بلكه خپل دروغ اجتهادي بيانوي او د كفر فتواګانې لګوي.

د آدم د شكل په باره كې د ابليس خيال

﴿٥﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هركله چې الله! په

---

[1] اخرجه مسلم ۴/۲۲۹۴ رقم الحديث (۲۹۹۶-۶۰) واحمد في المسند ۶/۱۶۸.

صَوَّرَ	اللهُ	آدَمَ	فِي	الْجَنَّةِ	تَرَكَهُ	مَا	شَاءَ	اللهُ

جنت کې د آدم جسم جوړ کړو نو تر څو پورې يې چې غوښتل په جنت کې يې وساتلو په دې موده

أَنْ	يَتْرُكَهُ	فَجَعَلَ	إِبْلِيسُ

کې ابلیس به ددې صورت نه چاپیره چکر لګوه او سوچ به يې کولو چې دا څه شی دی او څرنګه

يُطِيفُ	بِهِ	يَنْظُرُ	مَا	هُوَ	فَلَمَّا	رَآهُ	أَجْوَفَ	عَرَفَ

دی او هر کله چې هغه ولیدل چې دا خاکې (خاورین) صورت د دننه نه خالي دی نو پوهه شو چې دا

أَنَّهُ	خُلِقَ	خَلْقًا	لَا يَتَمَالَكُ.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ. (۱)

یو داسې مخلوق پیداشوی دی چې غیر مضبوط به وي یعنی قابو کې به نه وي . [مسلم]

توضيح : لما صور آدم: د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه صورت د څو مراحلو نه په تیریدلو جوړ شوی دی، اول خټه وه بیا خمیره وګرځول شوه بیا يې وچه کړه بیا يې دانچه جوړه کړی شوه چې د قالب شکل ؤ ابلیس په دغه مرحله کې تلو راتلو او کتل يې. **لايتمالک:** یعني د مینځ نه خالي دی، په ده کې به زما وساوس داخلیږي خپل ځان به د خواهشاتو نه بچ کولی نشي او د یو بل په مدد سره به قوي کیدلی نشي.

د حضرت ابرهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د ختنې ذکر

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمَ اِخْتَتَنَ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ

إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُومِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۲)

د اتیا کالو په عمر کې تر خذ سره خپله ختنه وکړله . [بخاري مسلم]

توضيح : القدوم: قدوم ترخذ (تیشه) ته هم وايي او د یو ځای نوم هم قدوم دی، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالی په حکم سره لویه تیشه واخیستله او په مقام قدوم کې يې خپله ختنه وکړه، بعضو شارحینو ویلي دي که قدوم مشدد وویلی شي نو ددې مصداق د یو مقام نوم او ځای دی، او که دا غیر مشدد وویلی شي نو دا تیشه او ترخذ ته ویلی کیږي، بعضو په دواړو اعرابونو سره ویلی دی والله اعلم.

---

(۱) اخرجه مسلم ۴/۲۱۱۶ رقم الحديث (۱۱۱/۲۶۱۱) واحمد في المسند ۳/۲۲۹.

(۲) اخرجه البخاري ۶/۳۳۸ رقم الحديث ۳۳۵۶ ومسلم ۴/۱۸۳۹ رقم الحديث ۱۵۱/۲۳۷۰ واحمد في المسند ۲/۳۲۲

په دریو شیانو کې د ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ توریه

﴿۷﴾	وَعَنْهُ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	لَمْ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ

يَكْذِبْ	إِبْرَاهِيْمُ	إِلَّا	ثَلَاثَ	كَذَبَاتٍ	ثِنْتَيْنِ	مِنْهُنَّ

هیڅ کله دروغ نه وو ویلي علاوه د دریو دروغو نه او په هغه کې یې هم دوه دروغه د الله !

فِيْ	ذَاتِ	اللهِ	قَوْلُهُ	إِنِّيْ	سَقِيْمٌ

د پاره ویلي وو په هغو کې یو خو د هغوی دا ویل وو چې نن زه ناجوړه یم دوهم یې دا ویلي وو چې

وَقَوْلُهُ	بَلْ	فَعَلَهُ	كَبِيْرُهُمْ	هٰذَا	وَقَالَ

دا کار لوی بت کړې دی او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ د ژبې نه چې

بَيْنَا	هُوَ	ذَاتَ	يَوْمٍ	وَسَارَةُ	إِذْ	أَتٰى	عَلٰى	جَبَّارٍ

کوم دریم دروغ وتلي وو هغه دا ویل وه چې دا زما خور ده او دا هغه واقعه ده هرکله چې

مِّنَ	الْجَبَابِرَةِ	فَقِيْلَ	لَهُ	إِنَّ	هٰهُنَا

حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ او د هغوی ښځه بي بي ساره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هجرت په کولو سره د هغوی تیریدل د

رَجُلًا	مَّعَهُ	امْرَأَةٌ	مِّنْ

یو لوی ظالم حاکم په څمکه وشو هغه حاکم ته وښودل شو چې دلته یو سړی راغلی دی چې د هغه

أَحْسَنِ	النَّاسِ	فَأَرْسَلَ

سره یوه ډیره حسینه ښځه ده هغه حاکم په دې اوریدو سره یو کس د حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ د بللو

إِلَيْهِ	فَسَأَلَهُ	عَنْهَا

د پاره ولیږلو کله چې ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ حاکم ته ورغلو نو هغه ترینه پوښتنه وکړه چې تا سره

مَنْ	هٰذِهِ	قَالَ	أُخْتِيْ

دا ښځه څوک ده او ستا څه ده؟ حضرت ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ جواب ورکړو چې هغه زما خورده به

فَأَتَى سَارَةَ فَقَالَ لَهَا

هغوی بي بي ساره رضي الله عنها ته بيرته راتلو سره و ويل كه هغه ظالم حاكم ته دا معلومه شي چې ته

إِنَّ هٰذَا الْجَبَّارَ إِنْ يَعْلَمْ أَنَّكِ امْرَأَتِي

زما ښځه يې نو تا به زما نه په زبردستۍ سره واخلي نو كه هغه ستا او زما د تعلق باره كښې درنه

يَغْلِبُنِي عَلَيْكِ فَإِنْ سَأَلَكِ فَأَخْبِرِيهِ أَنَّكِ

پوښتنه وكړي نو هغه ته ووايه چې ته زما خوريې او په دې كې څه شبهه هم نشته چې ته د دين د

أُخْتِي فَإِنَّكِ أُخْتِي فِي الْإِسْلَامِ لَيْسَ

رشتې په اعتبار زما خوريې او دا به ځكه چې په دې سرزمين باندې زما او ستا نه علاوه بل

عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرُكِ فَأَرْسَلَ

مؤمن نشته نو هغه ظالم د يو كس په ليږلو سره بي بي ساره رضي الله عنها طلب كړه بي بي ساره رضي الله عنها

إِلَيْهَا فَأُتِيَ بِهَا، قَامَ إِبْرَاهِيمُ يُصَلِّي

هغه ته بوتلل شوه او حضرت ابراهيم عليه السلام خپلې قيامگاه كې مونځ كولو د پاره اودريدلو

فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ ذَهَبَ يَتَنَا وَلُهَا

بي بي ساره رضي الله عنها چې هغه ظالم ته ورسيده نو د هغه حسن وجمال ليدو سره هغه د هوښه اووتلو

بِيَدِهِ فَأُخِذَ وَيُرْوٰى

هغه په هغه باندې لاس اچول غوښتل خو الله ! د بي بي ساره رضي الله عنها مدد وكړو او هغه ظالم

فَغُطَّ حَتّٰى رَكَضَ بِرِجْلِهِ فَقَالَ

ونيول شو په يو روايت كې د فَغُطَّ لفظ هم نقل شوی دی بهرحال هغه د غذاب خداوندي په گرفت

اُدْعِي اللّٰهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ

كې راتلو نه روسته ځمكه باندې پښې وهل شروع كړل بيا هغه بي بي ساره ته وويل زه د خپلې

فَدَعَتِ اللّٰهَ فَأُطْلِقَ

بدنې ارادې نه منع كېږم ته الله ! نه دعا وغواړه چې ما ته دی مصيبت نه خلاصون راكړي زما

ثُمَّ	تَنَاوَلَهَا	الثَّانِيَةَ

درسره وعده ده چې زه به تاته هیڅ نقصان نه رسوم نو بي بي ساره رضي الله عنها دعاوکړه او هغه ظالم

فَأُخِذَ	مِثْلَهَا	أَوْ	أَشَدَّ

خلاصون پیدا کړ لیکن هغه دوباره لاس اوږد کړو نو بیا د مخکې په شان بلکه د هغې نه زیات سخت

فَقَالَ	اُدْعِي	اللَّهَ	لِي	وَلَا أَضُرُّكِ

عتاب خداوندي کې ونیول شو هغه بیا بي بي ساره ته دعا وغواړه د الله نه زه به تاته به هیڅ

فَدَعَتِ	اللَّهَ	فَأُطْلِقَ	فَدَعَا	بَعْضَ	حَجَبَتِهِ

نقصان نه رسوم بي بي ساره د الله! نه دعا وغوښتله او هغه ظالم خلاصون پیدا کړو دي نه روسته

فَقَالَ	إِنَّكَ	لَمْ	تَأْتِنِي	بِإِنْسَانٍ

هغه ظالم خپلو پیره دارانو کې څوک را وغوښتلو او هغه ته یې وویل چې تا ماته انسان نه دی

إِنَّمَا	أَتَيْتَنِي	بِشَيْطَانٍ	فَأَخْدَمَهَا

راوستلی بلکه تا خو څوک جن ماته راوستلی دی چې قابو پیدا کېدو په ځای زه برعکس مصیبت

هَاجَرَ	فَأَتَتْهُ	وَهُوَ

کې مبتلا کېږم دا خو تا زما د پاره د مرګ سامان تیار کړی دی بیا هغه د بي بي ساره د پاره هاجره

قَائِمٌ	يُصَلِّي	فَأَوْمَأَ

نوميوه وينځه هم ورکړه بي بي ساره رضي الله عنها چې حضرت ابراهیم علیه السلام ته راغله نو هغوی په مانځه

بِيَدِهِ	مَهْيَمْ	قَالَتْ

کې مشغول وو مانځه کې د خپل لاس په اشارې سره ترینه پوښتنه وکړه چې څه حال دی او په

رَدَّ	اللَّهُ	كَيْدَ	الْكَافِرِ	فِي	نَحْرِهِ

تاباندې څه تیر شو ؟ بي بي ساره رضي الله عنها وویل الله ! د هغه کافر بده اراده د هغه سینې ته واپس

وَأَخْدَمَ	هَاجَرَ	قَالَ	أَبُو	هُرَيْرَةَ

کړله او هغه د خدمت د پاره هاجره هم راکړې ده حضرت ابو هریره رضي الله عنه د دې حدیث بیانولو نه روسته

تِلْكَ	أُمُّكُمْ	يَا	بَنِيْ	مَاءِ	السَّمَاءِ	.	مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
وويل ای د آسمان د اوبو ځامنو! دغه هاجره بي بي رضي الله عنها ستاسو د ټولو مور ده. [بخاري مسلم][1]							

توضيح : ثلاث كذبات: انبياء كرام د كذب او دروغو ويلو نه معصوم وي، دا دروغ نه وو بلكه توريه وه البته ظاهری صورت ددې د دروغو وو په دغه وجه په دغه حديث کې په دې باندې د كذب اطلاق شوی دی او که نه نو توريه وه نو توريه ديته وايي چې د ظاهری الفاظو مطلب يو شی وي ليکن ويونکی ددينه د بل څه اراده وکړي ګويا معنی قريبه يې پريښې ده او معنی بعيده يې مراد کړې ده لکه د (رجل يهديني السبيل) ظاهری معنی دا ده چې دا زما رهبر دی مګر ددينه د آخرت د لارې د هدايت اراده شوې ده ، دا د هغه وخت خبره ده چې کله حضرت ابوبکر رضي الله عنه عنه د هجرت په شپه د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم په باره کې د يو شخص په پوښتنه باندې جواب ورکړو هغه شخص وويل چې ابوبکر! دا څوک دی؟ حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمايل (**رجل يهديني السبيل**).

دلته د كذب د اطلاق دويم مطلب دا دی چې اګرچې دا كذب نه وو مګر د انبياء کرامو رتبه چونکې ډيره پورته وي نو د (**حسنات الابرار سيئات المقربين**) د قاعدې مطابق په دې باندې د كذب اطلاق وشو ، ګويا ددې ظاهری صورت هم د انبياء کرامو د شان عالی نه لرې وګڼل شو او په دې باندې د كذب اطلاق وشو .

اني سقيم: سقيم مريض ته وايي ددې متبادره (معنی ذهن ته زر راتلونکې) د جسمانی مرض ده مګر حضرت ابراهيم عليه السلام ددينه روحانی اختلاف مراد کړلو چې زه ددې شيانو نه بيزاره يم ګويا مريض يم . علماء ليکي که د ابراهيم عليه السلام دغه کلام بالکل په ظاهر باندې حمل کړی شي نو بيا هم په دې کې هيڅ دروغ نشته ځکه داسې به کوم انسان وي چې د هغه په بدن کې به بالکل هيڅ مرض نه وي . او فرض کړه که نور هيڅ مرض هم نه وي نو بيا د کفارو د کفر د اذيت نه داکومه کمه روحانی او جسمانی مرض دی؟ يقينا لويه بيماری ده .

بل فعله كبيرهم: حضرت ابراهيم عليه السلام دغه جمله د بتانو د ماتولو نه وروسته د بادشاه په مخکې د تفتيش په دوران کې وفرمايله چې کله بادشاه تپوس وکړو ﴿**مَن فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا**﴾ ګويا جواب دا وو (**فعل من فعل كبيرهم هذا**) يعنې کار کړی دی چې هر چا هم کړی ، ته ددې مشر نه پوښتنه

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۳۷ رقم الحديث ۲۴۳۴ واحمد في المسند ۱/۲۸۱ .

وکړه چې دا چا کړی؟ دویم مطلب او جواب دا هم کیدلی شي چې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د کبیرهم نه الله تعالی مراد کړی وي چې دا کار په حقیقت کې لوی رب الله تعالی کړی دی ! دریم مطلب دا اخیستل شوی دی چې ګویا حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل چې زما دعوه ده چې دا کار دغه غټ کړی دی ته په خپله دده نه پوښتنه وکړه چې دا څه وایي ، اوس دعوه کول یو شی دی او خبر ورکول بل شی دی په دعوه کې خبر نشته لهذا په دې کې دروغ نشته .

و سارة: ساره د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ښځه وه هغې ته خور ویل ظاهری طور باندې صحیح نه وو مګر ظاهری معنی مراد کړی شوي نه ده بلکه د دینی ، ملي او روحانی ، مذهبی مفهوم په اعتبار سره ورته خور ویل شوې او په دې مفهوم کې ټول مسلمانان خور او ورور دی . دلته دا هم ویل کیدلی شي چې حضرت ساره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د تره لور وه په دې اعتبار دا نسبی خور وه .

فاخذ: یعنې ونیولی شو ، د هغه ستوني بند شو .

فغط: یعنې خراری یې شروع کړلو ، بې قراره شو .

رکض برجله: یعنې د مرګی د مریض پشان یې په ځمکه باندې د بې عقلانو په شان پښې وهلې .

یا بنی ماء السماء: د آسمان د اوبو د اولاد نه د عربو خلک مراد دي ځکه عرب خلک د اوبو په تلاش کې ګرځي او چې چیرته اوبه ورته حاصلیږي هلته دیره اچوي .بعضو شارحینو ویلي دي چې په دې جملې سره د عربو د نسب او حسب طهارت ته اشاره ده یعنې لکه څنګه چې د آسمان اوبه د هر قسم ګندګیو نه پاکې وي همدارنګه د عربو حسب و نسب پاک دی . بعضو ویلي دي چې دا خطاب انصارو ته دی ځکه د هغو د یو پلار لقب ماء السماء وو ، عرب ټول د حضرت هاجرې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اولاد نه دی مګر د حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ اولاد په نورو قبائلو د عربو باندې غالب راغلل نو په دغه وجه ټولو ته د حضرت ساره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اولاد وویل شول لکه څنګه چې دلته حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ټول د حضرت ساره رضی الله عنها اولاد ګرځولی دی .

پیغمبر علیه السلام په دریو انبیاو باندې تبصره کړې ده

﴿۸﴾ وَعَنْهُ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	نَحْنُ	أَحَقُّ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل مونږ د حضرت ابراهیم نه									
بِالشَّكِّ	مِنْ	إِبْرَاهِيْمَ	إِذْ	قَالَ	رَبِّ	أَرِنِيْ	كَيْفَ	تُحْيِ	
دزیات شک کولو لائق یو هر کله چې هغوی ویلي وو رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِ الْمَوْتٰى ای پروردګاره! ماته									

الْمَوْتٰى	وَيَرْحَمُ	اللهُ	لُوْطًا	لَقَدْ	كَانَ	يَأْوِيْ	إِلٰى	

وبنایه چې ته مړي څرنګه ژوندي کوې؟ او الله! دې په حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ رحم وکړي چې

رُكْنٍ	شَدِيْدٍ	وَلَوْ	لَبِثْتُ	فِي	السِّجْنِ	طُوْلَ	مَا	لَبِثَ

د رکن شدید پناه نیول یې غوښتل او که زه قید خانه کې دومره اوږدې مودې پورې وی څومره

يُوْسُفُ	لَأَجَبْتُ	الدَّاعِيَ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.	[1]

موده چې حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ وو نو ما به یقیناً د بلونکي دعوت قبول کړی وی [بخاري مسلم]

توضیح : نحن احق بالشک: یعنې د رب ارني کیف تحیي الموتی جمله د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ له طرفه د شک په بنیاد نه وه بلکه د علم الیقین او عین الیقین حاصلولو لپاره وه د هغه له طرفه شک څنګه کیدلی شو؟ هغه خو لوی نبی وو! حال دادی چې مونږ ته په دې کې شک نشته، کچیرې په دې مسئله کې د شک ګنجائش وی نو مونږ به زیات حقدار وو په شک کولو باندې چې کله مونږ ته شک نشته نو هغه ته په طریقه اولی شک نه وو، په هر حال د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقصود اعتراض کول نه وو، مفسرینو لیکلي دي چې کله د نمرود ظالم سره د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ مناظره کیدله نو نمرود د خبرو په دوران کې وویل: ته وایې چې ستا رب مړي ژوندي کوي آیا تا په خپله لیدلي دي؟ ددینه وروسته ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د احیاء اموات د مشاهده کولو درخواست وکړلو.

ویرحم الله لوطا: په دې جمله کې هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې اعتراض کول بالکل مقصود نه دی بلکه د هغه د تنګئ او پریشانئ یو کیفیت یې بیان کړی دی چې قوم لوط هغی دومره تنګ کړلو چې هغه په دې ویلو باندې مجبوره شو چې کاشکې! یوه مضبوطه قلا وی یا زما سره ظاهری طاقت وی چې ما ددې قوم مقابله کولی، په دغه مجبورئ کې د حضرت لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ خیال مادی طاقت طرفته لاړو او که نه نو د یو نبی لپاره خو د الله تعالی ذات د ټولو نه زیاته مضبوطه او محفوظه قلا ده ددینه علاوه کومه مضبوطه قلا کیدلی شي؟

لاجبت الداعی: په دې جمله کې هم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې قطعا اعتراض کړی نه دی بلکه د هغه د استقامت او صبر تعریف یې کړی دی چې د دومره اوږدې مودې د قید نه بعد چې کله د جیل نه د ویستلو خبره راغله نو هغه ددې سره مخالفت وکړو او د خپل ذات براءت

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۱۰ رقم الحديث ۳۳۷۲ ومسلم ۴/۱۸۳۹ رقم الحديث (۱۵۱-۱۵۲).

ته يې ترجيح ورکړه . کچيرې ماته د دومره اوږدې مودې نه بعد دا پيشکش شوی وی نو ما به فورا د غوښتونکي خبره منله .

حضرت موسیٰ علیه السلام ته بنی اسرائیلو آذیت ورکړی وو

﴿۹﴾ وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مُوْسٰى

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل موسیٰ عليه السلام يو ډير

كَانَ رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيْرًا لَا يُرٰى مِنْ جِلْدِهٖ

شرم کونکی او د سختې پردې اهتمول کونکی وو د شرم او حياء باندې دومره غلبه وه چې د هغه

شَيْءٌ اِسْتِحْيَاءً فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ

د جسم د څرمن هيڅ حصه به هم نه ښکاره کېدله يو وار د بني اسرائيلو څه خلقو هغه ته تکليف

فَقَالُوْا مَا تَسَتَّرَ هٰذَا التَّسَتُّرَ

رسول وغوښتل نو هغوی مشهوره کړه چې موسیٰ عليه السلام خپل جسم دومره احتياط سره ځکه

إِلَّا مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهٖ إِمَّا بَرَصٌ أَوْ

پټ ساتي چې د هغه جسم کې څه عيب دی يا خوورته برګی مرض دی يايې خصيتين پړسيدلي دي

أُدْرَةٌ وَإِنَّ اللهَ أَرَادَ أَنْ

هر کله چې دا خبره ډيره خوره شوه نو الله ! اراده وفرمايله چې کوم عيب موسیٰ باندې لګولی

يُبَرِّئَهُ فَخَلَا يَوْمًا وَحْدَهٗ

شي د هغه نه هغه محفوظ او مامون وساتي او د هغه بې عيبي ښکاره او ثابته کړي نو يوه ورځ

لِيَغْتَسِلَ فَوَضَعَ ثَوْبَهٗ

چې موسیٰ يو پټ ځای ته د لمبلو دپاره لاړو او خپلې کپړې يې ويستلې او په يو کاڼي يې کيخوې

عَلٰى حَجَرٍ فَفَرَّ الْحَجَرُ بِثَوْبِهٖ

نو هغه کاڼي د هغه د کپړو سره وتختيده موسیٰ د دې واقعې ليدو سره د ډيرې خيرانتيا او پريشانۍ

فَجَمَعَ مُوْسٰى فِيْ إِثْرِهٖ يَقُوْلُ ثَوْبِيْ يَا حَجَرُ

په حالت کې هغه کاڼي پسې دې ويلو سره ورمنډه کړه چې ای کاڼی! زما کپړې راکړه ای کاڼيه!

ثَوْبِيْ يَا حَجَرَ حَتّٰى انْتَهٰى اِلٰى مَلَاٍ مِّنْ بَنِيْ اِسْرَائِيْلَ

زما کپړې راکړه تر دې حضرت موسٰی علیه السلام منډه ووهله چې د بني اسرائیلو یو هجوم ته

فَرَاَوْهُ عُرْيَانًا اَحْسَنَ مَا خَلَقَ اللّٰهُ

ورسیده (هجوم ګڼې چې د حضرت موسٰی) بربنډ جسم اولیدلو نو په مخلوق کې یو

وَقَالُوْا وَاللّٰهِ مَا بِمُوْسٰى مِنْ بَأْسٍ وَاَخَذَ

بهترین او د بې عیبه جسم انسان یې اولیدلو بیا هغوی په یو اواز وویل قسم په الله د موسٰی بدن

ثَوْبَهُ وَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا فَوَاللّٰهِ اِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا

د هرعیب او نقصان نه پاک دی او موسٰی کاڼي لره په همسا سره وهل شروع کړل قسم په الله د موسٰی

مِنْ اَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلَاثًا اَوْ اَرْبَعًا اَوْ خَمْسًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۱]

د وهلو په وجه پر هغه کاڼي باندې نښې شوې وې درې نښې یا څلور نښې یا پنځه نښې [بخاري مسلم]

توضیح : حَيِيًّا: په دویمه یاء باندې شد دی او په اوله یاء باندې کسره ده د مستحیا په معنی کې د مبالغه صیغه ده یعنې ډیر حیاناک وو . **ستیرا**: په سین باندې زور دی د فقیرا په وزن باندې دی ، ملاعلي قاري رحمه الله لیکلي چې ظاهره دا ده چې دا لفظ د سین په کسرې او په تاء مشدده سره دی دا په ساتر کې مبالغه ده یعنې ډیر باپرده وو ، ددغه حیاء او پردې په وجه د ده قوم بني اسرائیلو وویل چې دی زمونږ سره لوڅ ځکه نه لمبیږي چې دده په جسم کې کوم قبیح عیب دی ، دلته د الله تعالی عادت مبارکه دی چې هغه انبیاء کرام کامل رجال پیدا کړي دي او د هر قبیح جسماني عیب نه یې هغوی پاک پیدا کړي دي . **اُدْرَةٌ**: په همزه باندې ضمه ده دال ساکن دی په راء باندې زور دی دا په خصیتینو کې یو مرض وي چې هغه ته اُدْرَةٌ وایي ، قوم د همدې الزام لګولی ؤ نو الله تعالی د موسی علیه السلام ددې الزام نه پاکول وغوښتل نو دغه واقعه پیښه شوه چې په دغه حدیث کې ده .
جمح: د فتح یفتح نه تیزې منډې ته وایي . **من بأس**: یعنې د خصیتینو پړسوب یا کومه بله مریضي نشته . **لندبا** په نون او دال باندې زور دی تازه زخم ته وایي ، په دې کې د معجزې ظهور شوی دی .

---

(۱) اخرجه البخاري ۱/۳۸۵ رقم الحديث ۲۷۸ ومسلم ۴/۱۸۴۱ رقم الحديث (۳۳۹-۱۵۶) .

دالله تعالی د نعمت قدر

﴿۱۰﴾وَعَنْهُ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ بَيْنَمَا

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل چې حضرت ایوب علیه السلام

أَيُّوْبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا

په بربنډه غسل کولو چې الله! د هغه په کور د سروزر ملخانو ورول شروع کړل او هغه

فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِّنْ ذَهَبٍ

د سروزرو ملخان راټولول او په خپلو کپړو کې یې ایښودل شروع کړل الله هغه مخاطب کړه او

فَجَعَلَ أَيُّوْبُ يَحْثِيْ فِيْ ثَوْبِهِ فَنَادَاهُ

ورته وفرمایل ای ایوب! کوم شی چې ته وینې آیا مونږ ته د دینه بې نیازه کړی نه یې حضرت

رَبُّهُ يَا أَيُّوْبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ

ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ عرض وکړو بیشکه ستا په عزت مې دې قسم وي تازه ددې شي نه بې پروا کړی یم

عَمَّا تَرٰى قَالَ بَلٰى وَعِزَّتِكَ وَلٰكِنْ لَا غِنٰى بِيْ عَنْ بَرَكَتِكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

لیکن ستا د نعمت د کثرت او ستا د رحمت د فراخۍ نه هیڅ کله بې احتیاجي نشته. [بخاري]

د مقابلې په طور یو نبي ته به بل نبي فضیلت مه ورکوئ

﴿۱۱﴾وَعَنْهُ قَالَ اِسْتَبَّ رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ وَرَجُلٌ مِّنَ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي په یوه موقع د یو مسلمان او یو یهودي په منځ کې بد کلامي

الْيَهُوْدِ فَقَالَ الْمُسْلِمُ وَالَّذِي اصْطَفٰى مُحَمَّدًا

(لفظي جګړه) وشوه مسلمان وویل په هغه الله قسم چې هغه حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټول

عَلَى الْعَالَمِيْنَ فَقَالَ الْيَهُوْدِيُّ وَالَّذِي

جهان په خلقو کې غوره کړځولی دی د دې په جواب کې یهودي دا وویل په هغه الله مې دې قسم

---

[1] اخرجه البخاري ۱/۳۸۷ رقم الحدیث ۲۷۹ وابن ماجه ۲/۱۴۲۸ رقم الحدیث ۴۲۷۲ .

اصْطَفٰى مُوْسٰى عَلَى الْعَالَمِيْنَ فَرَفَعَ

وي چې حضرت موسیٰ يي د ټول جهان په خلقو کې د ټولو نه غوره ګرځولی دی په دې هغه مسلمان

الْمُسْلِمُ يَدَهٗ عِنْدَ ذٰلِكَ فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُوْدِيِّ فَذَهَبَ

په قهر شو او په هغه يهودي يي لاس پورته کړو او مخ څپېړه يې ورکړه يهودي شکايت سره

الْيَهُوْدِيُّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهٗ

رسول الله ﷺ له ورغلو او د حضور ﷺ مخکې يي خپله او د مسلمان پوره واقعه

بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهٖ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ فَدَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بيان کړله رسول الله ﷺ هغه مسلمان طلب کړو او هغه نه يي د صورت حال تحقيق وکړو

الْمُسْلِمَ فَسَأَلَهٗ عَنْ ذٰلِكَ فَأَخْبَرَهٗ

هغه د يهودي د بيان شوې واقعې ترديد ونه کړه بلکه حضور ﷺ ته يي هغه واقعي خبره

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُخَيِّرُوْنِيْ عَلٰى مُوْسٰى

بيان کړله رسول الله ﷺ وفرمايل ماته په موسیٰ فضيلت مه راکوئ کله چې د قيامت په

فَإِنَّ النَّاسَ يُصْعَقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ورځ د شپېلۍ په پوکلو باندې ټول خلق بېهوشه شي نو هغوی سره به زه هم بېهوشه شم بيا د

فَأُصْعَقُ مَعَهُمْ فَأَكُوْنُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيْقُ

ټولو نه مخکې په هوش کې راتلونکی زه يم ليکن زه چې په هوش کې راشم نو وبه وينم چې

فَإِذَا مُوْسٰى بَاطِشٌ بِجَانِبِ الْعَرْشِ

موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ د عرش پايه نيولې ولاړ دی او زه نشم ويلی چې آيا هغه وخت به داوي چې

فَلَا أَدْرِيْ كَانَ فِيْمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِيْ

موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ به په بېهوشه کېدونکو خلقو کې شامل وي او د هغه بېهوشي به زما نه مخکې

أَوْ كَانَ فِيْمَنِ اسْتَثْنَى اللّٰهُ

ختمه شوې وي يا دا به وي چې الله! هغه مستثنی ګرځولی وي يو روايت کې دا الفاظ دي او

وَفِيْ رِوَايَةٍ فَلَا أَدْرِيْ

زه نشم ویلی چې آیا هغه وخت به داوي چې په طور باندې د موسٰی بې هوشي به د قیامت په ورځ

أَحُوْسِبَ بِصَعْقَةِ يَوْمَ الطُّوْرِ أَوْ بُعِثَ قَبْلِيْ

د دې بیهوشي حساب کې شمیر شي یا دا به وي چې هغه به زما نه مخکې په هوش کې راغلی وي

وَ لَا أَقُوْلُ إِنَّ أَحَدًا أَفْضَلَ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى

بیا حضور عَلَیْهِ السَّلَامُ وفرمایل او زه خو داهم نه وایم چې یو سړی د یونس بن متی نه افضل دی او د

وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ لَاتُخَيِّرُوْا بَيْنَ الْأَنْبِيَاءِ.

ابو سعید په روایت کې دي چې حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل تاسو انبیاو کې یو ته بل ترجیح مه

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ هُرَيْرَةَ

ورکوئ (بخاري او مسلم) او د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د روایت الفاظ داسې دي چې تاسو د

لَا تُفَضِّلُوْا بَيْنَ أَنْبِيَاءِ اللّٰهِ.[1]

الله! په نبیانو کې یو ته په بل فضیلت مه ورکوئ.

توضیح: لاتخیروني: د انبیاء کرامو په مینځ کې د یو نبی په بل نبی باندې داسې فضیلت ورکول جائز نه دي چې د هغه نه د یو نبی په شان کې تنقیص راتللی شي دغه تنقیص حرام او کفر دی، همدارنګه خصوصی طور باندې د کوم یو نبی نوم اخیستل دده په مقابله کې د بل نوم اخیستل او په هغه باندې فضلیت او ترجیح ورکول مناسب نه دی، هو! اجمالی طور باندې کوم یو افضل ګرځول جائز دي مثلا څوک داسې ووایي چې حضرت محمد صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په ټولو انبیاو باندې افضل دی. د زیر بحث حدیث په تشریح کې حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله په خپلو ملفوظاتو کې فرمایلي دي چې: فرض کړه چې یو ځای ټول انبیاء موجود دي ټول مخکې وي په دې وخت کې به کوم کس د ټولو په مخکې د یو نبی ته په بل نبی باندې د فضیلت ورکولو جرأت وکړی شي؟ که داسې کولی نشي نو بیا غائبانه طور باندې هم کول پکار نه دي، حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ چې د دې ناخوښی اظهار فرمایلی دی دا د همدې تقابل او خصومت په صورت کې وو، د جګړې صورت وو

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۴۵ رقم الحديث (۲۳۷۴-۱۶۳) وأبوداؤد ۵/۵۱ رقم الحديث ۴۶۶۸.

ې ددې نه د تحقير صورت راتلو امكان ؤ نو حضور ﷺ منع وفرمايله بيا حضور ﷺ چې د خپل فضيلت په كوم بل نبى باندې د بيانولو نه كوم ممانعت فرمايلى دى دا د ه وخت خبره وه چې كله د الله تعالى له طرفنه د هغه د مطلق فضيلت وحې راغلې نه وه ، وروسته يا د هغه ﷺ د مطلق فضيلت وحى راغله ، لهذا اوس هغه ﷺ د كوم نبى په مقابله ې افضل او اشرف ښودل صحيح دي،د دينه وروسته كچيرې حضور ﷺ د فضيلت وركولو ه ممانعت كړې وي نو دا د هغه په تواضع باندې به حمل كولى شي ، په دې حديث كې د حضرت وسى عليه السلام جزئي فضيلت دى كلي نه دى .

دكوم كس خپل ځان افضل ګرځول ديونس عليه السلام نه جائز نه دى

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْبَغِيْ
او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل دا هيڅ كله مناسب نه دى
لِعَبْدٍ اَنْ يَقُوْلَ إِنِّيْ خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ
چې يوسړى دا ووايي چې زه د يونس بن متّٰى نه ښه يم. [بخاري مسلم]او د بخاري په يوه روايت كې دا الفاظ دي چې
قَالَ مَنْ قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِنْ يُوْنُسَ بْنِ مَتّٰى فَقَدْ كَذَبَ. [1]
حضور ﷺ وفرمايل كوم سړى چې دا ووايي چې زه د يونس بن متّٰى نه ښه يم نو هغه يقيناً دروغجن دى.

توضيح: فقد كذب: يعني په اصل نبوت كې خو ټول انبياء كرام برابر او مساوي دي په دې كې خو هيڅ تفاضل نشته ، هو ! په درجاتو كې فرق او تفاوت دى اوس كچيرې كوم كس **انا خير من يونس** وايي نو ددې يو مطلب دا كيدلى شي چې دغه كس حضور ﷺ د حضرت يونس عليه السلام نه افضل ښائي الانكه په نفس نبوت كې مساوات دى لهذا دغه شخص دروغ وويل ، او كچيرې د انا خير نه دغه كس خپل ځان د حضرت يونس عليه السلام نه افضل ښايي او پخپله نبى نه دى نو دا دروغجن كذّاب دى او كذب په معنى د كفر سره دى دغه شخص كافر شو . د فضيلت په دغه ميدان كې د حضرت يونس عليه السلام د تخصيص وجه دا ده چې په هغه باندې يو امتحان راغلى وو چې د الله تعالى د خاص حكم د راتګ د انتظار نه مخكې د ښار او خلك و نه جدا شو او ووته چې په دې باندې الله تعالى ناراضه شو او د دې وجې نه د اولو العزم انبياؤ په فهرست كې پاتې نشو نو ممكنه وه چې د چا په زړه كې دا خيال راشي چې په حضرت يونس عليه السلام باندې به د كوم نبى فوقيت او فضيلت وركولى شي ، نو ځكه حضور ﷺ په خاص

---

[1] اخرجه البخاري ۶/۳۹۸ رقم الحديث ۳۳۶۵ ومسلم ۴/۱۸۴۶ رقم الحديث (۲۳۷۶-۱۶۶) .

طور باندې منع وفرمایله . (متّٰی) بعضو علماؤ فرمایلي دي چې متّی د حضرت یونس عَلَیْهِ السَّلَامُ د پلار نوم وو ، بعضو ویلي دي چې د هغه د مور نوم وو .

د خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ د غلام حقیقت

﴿۱۳﴾	وَعَنْ	أُبَيِّ	بْنِ	كَعْبٍ	قَالَ	قَالَ رَسُوْلُ	اللّٰهِ صَلَّى	اللّٰهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت ابي ابن کعب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ چې کوم

إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِيْ قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ

هلک وژلی وو هغه د کفر طبیعت اخستو سره پیدا شوی وو که هغه هلک ژوندی پاتې شوی وی

لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

نو یقینًا خپل مور وپلار به یې کفر او سرکشۍ کې مبتلا کړي وو [بخاري مسلم]

توضیح : طبع کافرا: یعنې پیدائشی او طبعی طور باندې کافر وو اګرچې هر ماشوم په اسلام باندې پیدا کیږي مګر د خضر غلام ، د الله تعالی د قدرت کامله د مستثنیاتو نه وو چې الله تعالی داسې هم کولی شي . وایي چې د حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ په اعتراض باندې حضرت خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ د هغه هلک د اوږې نه څرمنه لرې کړه نو لاندې لیکل شوي وو (**هذا کافر مطبوعا**) یعنې دا پیدائشی او طبعي کافر دی .

د حضرت خضر عَلَیْهِ السَّلَامُ وجه د تسمیه

﴿۱۴﴾وَعَنْ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل

قَالَ إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرُ لِأَنَّهُ جَلَسَ

د حضرت خضر نوم خضر (یعني) سرسبزا و شاداب په دې وجه مشهور شو چې هغه یو وچ او

عَلٰى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ فَإِذَا هِيَ تَهْتَزُّ مِنْ

بنجر داګه ځمکه باندې یا بالکل وچو وښو باندې کینا ستلو نو ناڅاپه هغه د هغه نه وروسته

---

(۱) اخرجه مسلم ۴/۱۸۵۰ رقم الحدیث (۲۳۸۰-۱۷۲) وأبوداود ۵/۸۰ رقم الحدیث ۴۷۰۵،

خَلْفِهِ خَضْرَآءَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

ځمکې حرکت وکړو او شنه (رازغونه) شوه.

حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام او د مرګ فرشته

﴿۱۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هرکله چې د حضرت موسٰی

جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلٰى مُوْسَى بْنِ عِمْرَانَ

بن عمران عَلَيْهِ السَّلَام ته د مرګ فرشته راغله او ورته يې وويل د خپل پروردګار د طرف نه د اجل پيغام

فَقَالَ لَهُ أَجِبْ رَبَّكَ قَالَ فَلَطَمَ مُوْسٰى

قبول کړه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل حضرت موسٰی په دې سره د مرګ فرشته په څپېړه ووهله

عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا قَالَ فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللهِ تَعَالٰى

چې په هغې سره يې سترګه ووتله حضور عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل د مرګ فرشته دربارِ الهي ته لاړه او

فَقَالَ إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِيْ إِلٰى عَبْدٍ لَّكَ لَايُرِيْدُ الْمَوْتَ

عرض يې وکړو ای ربه! تا زه روح قبض کولو د پاره يو داسې بنده ته ولېږلم چې مرګ نه غواړي او

وَقَدْ فَقَأَ عَيْنِيْ قَالَ فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ

دا چې هغه څپېړې سره زما سترګه هم وېستله حضور عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل الله! د هغه سترګه روغه

وَقَالَ ارْجِعْ إِلٰى عَبْدِيْ فَقُلْ

کړه او حکم يې ورته وکړه زما بنده موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام ته دوباره ورشه او زما دا پيغام ورته ورسوه

اَلْحَيَاةَ تُرِيْدُ فَإِنْ كُنْتَ تُرِيْدُ الْحَيَاةَ فَضَعْ يَدَكَ عَلٰى مَتْنِ ثَوْرٍ

چې آيا ته اوږد عمر غواړې؟ که اوږد عمر غواړې نو د يو غوائي په شا خپل لاس کېږده ستا د لاس

فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرَةٍ

يا د لاندې چې څومره وېښته راشي په هغې کې به د هر وېښته په عوض کې ستا په ژوند کې د

---

[1] اخرجه البخاري ۳۰۳/۶ رقم [illegible] والترمذي ۵/۲۹۳ رقم الحديث ۳۱۵۱.

فَإِنَّكَ تَعِيْشُ بِهَا سَنَةً قَالَ ثُمَّ مَهْ

یو کال اضافه وشي فرشتې دوباره حاضرېدو سره حضرت موسیٰ علیه السلام ته وویل چې دې نه

قَالَ ثُمَّ تَمُوْتُ قَالَ فَالْآنَ

روسته به بیا څه وي؟ فرشتې جواب ورکړو چې آخر بیا هم مرګ دی نو حضرت موسیٰ علیه السلام

مِنْ قَرِيْبٍ رَبِّ أَدْنِنِيْ مِنَ الْأَرْضِ

وویل نو بیا هغه دې نن ولې را نشي دا دعا زما ضرور ده چې رب کریم د دفن کولو د پاره ما ارض

الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً بِحَجَرٍ قَالَ

مقدسه ته نزدې کړي اګر که د یو ویشتل شوي کاڼي په اندازه وي دې نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَاللّٰهِ لَوْ أَنِّيْ عِنْدَهُ لَأَرَيْتُكُمْ

صحابه رضی الله عنهم مخاطب کړل او ورته وې فرمایل که زه بیت المقدس ته قریب وی نو تا سو ته به

قَبْرَهُ إِلٰى جَنْبِ الطَّرِيْقِ عِنْدَ الْكَثِيْبِ الْأَحْمَرِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۱)

مې د حضرت موسیٰ علیه السلام د قبر نښه خودلې وی چې د یوې لارې په غاړه سرې غونډۍ ته قریب دی. [بخاري مسلم]

توضیح : **فلطم**: په څپېړه وهلو ته لطم ویلی کیږي یعني موسی علیه السلام د مرګ ملائکه په څپېړه ووهله ، اوس دلته یو سوال او جواب ملاحظه کړئ .

سوال : په دې مقام کې څه باطن خرابه او منکرین حدیث او عقل پرست دا اعتراض کوي چې د مرګ ملائکې په څپېړه وهل د یو جلیل القدر نبی نه څنګه ممکن کیدلی شي ، بیا د ملائکی سترګه وتل څه معنی لري لهذا د احادیثو دغه ذخیره نا قابل قبول ده صرف قرآن کریم شافي او کافي دی .

جواب : د ټولو نه مخکې خبره خو دا ده چې دغه ملائکه په انساني شکل کې موسی علیه السلام ته راغلې وه ، یو نقصان خو دا وشو چې هغې د حضرت موسی علیه السلام خلوت ځای ته د داخلیدو لپاره اجازت وانه خیستلو دغه فعل هم د موسی علیه السلام د غوصې لپاره موجب وګرځیده ، دویم نقصان دا وشو چې بلاتعارفه یو انسان موسی علیه السلام ته وویل چې زه ستا د روح اخیستلو لپاره راغلی یم دا خو یوه ځورنه وه چې زه به تا وژنم دا عمل هم د موسی علیه السلام د غوصې لپاره سبب جوړ شو ، دریم

(۱) اخرجه البخاري ۶/۴۴۰ رقم الحدیث ۳۴۰۷ ومسلم ۴/۱۸۴۲ رقم الحدیث (۲۳۷۲-۱۵۸،۱۵۷)

نقصان دا وشو چې یو انسان دا دعوه کوي چې زه د روح قبض کولو قدرت لرم دا خلاف واقع امر وو په دغه وجه هم حضرت موسی عَلَیۡهِ السَّلَامُ ته غوصه راغله او په طور د دفاع هغه یو بې ادبه انسان ته تادیبًا یوه څپیړه رسید ورکړه ، څرنګه چې اصول دا دي چې کله ملائکه د انسان په صورت کې وي نو انساني اثرات په هغه باندې مرتب کیږي لهذا په دغه څپیړه د هغه انسان سترګه ووتله ، دغه د الله بنده اوس هم ونه ویل چې زه ملائکه یم او سیده الله تعالی ته په شکایت ولاړه ، الله تعالی موسی عَلَیۡهِ السَّلَامُ د حق په جانب وګرځولو او د طویل عمر درخواست یې ورته وکړو لیکن چې کله په آخر کې هم مرګ راتلونکی وو نو حضرت موسی عَلَیۡهِ السَّلَامُ د الله تعالی حکم ته لبیک وویلو او مرګ یې قبول کړلو . په دې ټوله قصه کې خو داسې کوم شی نشته چې د هغه په وجه د احادیث مقدسو نه انکار وکړی شي لیکن خوی بد را بهانه بسیار . چې کله په ړندو سترګو اعتراض کول وي نو د هغه لپاره څه علاج کیدلی شي .

متن ثور: متن ملا ته وایي او ثور غویې ته وایي یعني د غویې په شا باندې لاس کیږده . (توارت) یعنې د لاس لاندې چې څومره ویښته راغلل د هر ویښته په مقابل کې به یو کال عمر درکومه دا په لکاوو کلونه جوړیږي . (الارض المقدسة) بیت المقدس مراد دی ، بیت المقدس د بنی اسرائیلو د انبیاؤ قبله وه او مقدسه ځمکه وه لکه څنګه چې د عربو لپاره مکه مکرمه ده په دغه وجه حضرت موسی عَلَیۡهِ السَّلَامُ تمنا وکړه .

رمیة بحجر: یعني انسان چې کله تیږه غورځوي نو هغه دومره لرې نه ځي خو بیا هم څه نا څه ځي او په تللو کې تیزه هم وي ، حضرت موسی عَلَیۡهِ السَّلَامُ د دغه شوق اظهار وکړلو چې څه نا څه د ارض مقدسه طرفته زر زر ولاړ شم . (الکثیب) یعنې د لارې یو طرفته په سره غونډۍ باندې د هغه قبر دی

د انبیاء کرامو علیهم السلام حلیې

﴿۱٦﴾ وَعَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ
او حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې انبیاء زما مخې ته
عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوْسٰى ضَرْبٌ مِّنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِّجَالِ
راوستل شول نو ما ولیدل چې موسٰی د سپک بدن والا دی لکه چې هغه د قبیلې بنو شنوءة یو سړی
شَنُوْءَةَ وَ رَأَيْتُ عِيْسٰى ابْنَ مَرْيَمَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَّأَيْتُ بِهٖ
وي او ما عیسٰی ابن مریم اولیدلو نو هغه زما د لیدلو شوو په خلقو کې د عروه بن مسعو سره د

شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ وَ رَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ
ډیر مشابه په نظر راغلی او ما ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام اولیدلو نو کوم خلق چې ما لیدلی دي په هغوی
بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ وَرَأَيْتُ جِبْرَئِيلَ فَإِذَا أَقْرَبُ
کې ستا سو د دوست یعني ما سره هغه ډیر مشابه په نظر راغلی او ما جبرائیل) اولیدلو نو
مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دِحْيَةُ بْنُ خَلِيفَةَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [1]
هغه په لیدل شوو په خلقوکې د دحیه بن خلیفه سره ډیر مشابه په نظر راغلی . [مسلم]

ضرب : سپک او نری بدن والاته په عربي کې ضرب ویلی شي

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي مُوسٰى رَجُلًا آدَمَ
وفرمایل ما د معراج په شپه کې موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام اولیدلو هغه غنم رنګه او ږد قدوالا دنګ سړی
طُوَالًا جَعْدًا كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ
وو وینښته یې ولول وو او د جسم او بدن د اعتبار نه د قبیلې دشنوءة د یوسړي په شان په نظر راتلو
شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسٰى رَجُلًا مَرْبُوعَ
او ما عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام اولیدلو هغه خلقي طور سره د متوسط قد او قامت والا وو او ږدو نه ډیر لنډ وو
الْخَلْقِ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ سَبِطَ الرَّأْسِ
او نه ډیر پلن رنګ یې سور سپین وو او د هغه د سر وینښته سیده وو او ما د دوزخ مالک او
وَرَأَيْتُ مَالِكًا خَازِنَ النَّارِ وَالدَّجَّالَ
دجال هم ولیدل او د حضور عَلَيْهِ السَّلَام د دې ټولو لیدل د قدرت الٰهي د هغو نښو او علاماتو نه وو

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۵۳ رقم الحديث (۲۷۱/۱۶۸)

فِيْ	آيَاتٍ	أَرَاهُنَّ	اللهُ	إِيَّاهُ،	فَلَا	تَكُنْ	فِيْ
چې الله ! حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ ته شب معراج کې وښودل نو ای د دې حديث ويونکو په دې امر کې							
مِرْيَةٍ	مِنْ	لِقَائِهِ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ. (۱)			
څه شک شبهه مه کوئ چې حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ټول وليدل او ملاقات يې ورسره وشو. [بخاري، مسلم]							

توضيح : ادم: غنم رنګ. طوالا: اوږد قامت. **جعدا**: کوړې ويښته، **ضرب** د سپک بدن والا، مربوع: درميانه قد والا، **سبط الرأس**: د سيده ويښتو والا.

اراهن الله اياه: دا جمله د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام نه دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام د دينه وروسته د فلاتکن نه شروع کيږي يعني دغه څه چې حضور ﷺ وليدل دا د هغو علاماتو نه وو چې الله تعالی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د معراج په شپه ښودلي وو. **مضطرب**: يعني چست وو، **ديماس**: حمام ته وايي، د راتلونکې حديث څو جملې د وضاحت لپاره دلته وليکل شوې.

په شبِ معراج کې د انبياو سره ملاقات او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شرابو پيالې د قبلولو نه انکار

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ								
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ما د معراج په شپه کې								
لَقِيْتُ	مُوْسٰى	فَنَعَتَهُ	فَإِذَا					
حضرت موسٰی سره ملاقات وکړه دې نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ								
رَجُلٌ	مُضْطَرِبٌ	رَجِلُ	الشَّعْرِ					
خصوصياتو بيانولو سره وفرمايل چې هغه يو مضطرب سړی په نظر راغی د هغه د سر ويښته								
كَأَنَّهُ	مِنْ	رِجَالِ	شَنُوْءَةَ	وَلَقِيْتُ	عِيْسٰى			
ول ول وو نه بالکل سيده او داسې لګيدل لکه چې هغه د قبيلې شنوءة يو سړی وي حضرت عيسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ								
رَبْعَةٌ	أَحْمَرُ	كَأَنَّمَا	خَرَجَ	مِنْ	دِيْمَاسٍ	يَعْنِي	الْحَمَّامَ	
سره هم زما ملاقات وشو هغه د درميانه قد او د سور رنګ والا وو ديماس يعنی د حمام نه راوتلی								

(۱) اخرجه البخاري ۶/۳۱۴ رقم الحديث ۳۲۳۹ ومسلم ۱/۱۵۱ رقم الحديث ۶۵/۲۶۷ وأحمد في المسند ۱/۲۳۴

وَرَأَيْتُ	إِبْرَاهِيمَ	وَأَنَا	أَشْبَهُ	وَلَدِهِ	بِهِ

وي او ما حضرت ابراهیم عَلَیهِ السَّلَامُ هم ولیدلو او زه دده په اولاد کې دده سره ډیرزیات مشابه وم،

قَالَ	وَأُتِيتُ	بِإِنَائَيْنِ	أَحَدُهُمَا	لَبَنٌ	وَالْآخَرُ

حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ وفرمایل بیا زما مخې ته دوه پیالې راوړی شوې یوه پیاله کې پې وو او په

فِيهِ	خَمْرٌ	فَقِيلَ	لِي	خُذْ	أَيَّهُمَا	شِئْتَ	فَأَخَذْتُ	اللَّبَنَ

بله کې شراب ماته وویل شو چې په دې کې کومه دې خوښه وي هغه واخله ما د پیو پیاله واخسته

فَشَرِبْتُهُ	فَقِيلَ	لِي	هُدِيتَ	الْفِطْرَةَ	أَمَا	إِنَّكَ

او ومې څکله بیا ماته وویل فرشتو وویل چې تا سو ته د فطرت لار روښودل شوه که تا سو هغه وخت

لَوْ	أَخَذْتَ	الْخَمْرَ	غَوَتْ	أُمَّتُكَ.	مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

شراب څکلي وی نو ستا سو امت به گمراه شوی وی. [بخاري مسلم]

انبیاء ددي دنیا نه در خصتیدو نه روسته هم د خیر اعمال کوي

﴿۱۹﴾ وَعَنِ	ابْنِ	عَبَّاسٍ	قَالَ	سِرْنَا	مَعَ	رَسُوْلِ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي په یو سفر کې چې د مکې او مدینې په مینځ کې وو مونږ د

بَيْنَ	مَكَّةَ	وَالْمَدِيْنَةِ	فَمَرَرْنَا	بِوَادٍ	فَقَالَ

رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ سره ملګري وو مونږ چې په یو ځنګل تیریدو نو حضور عَلَیهِ السَّلَامُ پوښتنه وکړه

أَيُّ	وَادٍ	هٰذَا	فَقَالُوْا	وَادِي	الْأَزْرَقِ

چې دا کوم ځنګل دی؟ مونږ عرض وکړو دا وادي ازرق دی حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ په دې اوریدو سره

قَالَ	كَأَنِّيْ	أَنْظُرُ	إِلٰى	مُوْسٰى	فَذَكَرَ

وفرمایل ګویا چې زه موسٰی عَلَیهِ السَّلَامُ وینم بیا حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ د حضرت موسٰی عَلَیهِ السَّلَامُ د

مِنْ	لَوْنِهِ	وَشَعْرِهِ	شَيْئًا	وَاضِعًا	إِصْبَعَيْهِ

رنګ او ویښتانو څه ذکر یې وکړو هغه خپلې ګوتې غوږونو کې ورکړې او په ژړا زارۍ په لوړ

---

[1] اخرجه البخاري ۶/۴۲۸ رقم الحدیث ۳۳۹۴ ومسلم ۱/۱۵۴ رقم الحدیث (۲۷۲/۱۶۸)

فِيْ أُذُنَيْهِ لَهٗ جُؤَارٌ إِلَى اللهِ بِالتَّلْبِيَةِ مَارًّا

اوازد خپل پروردګار په حضور کې لبیک لبیک ویلو سره حرم طرف ته ځي حضرت ابن عباس رضي الله عنه

بِهٰذَا الْوَادِيْ قَالَ ثُمَّ سِرْنَا حَتّٰى أَتَيْنَا

وايي دي نه روسته دهغه ځای نه تیریدو سره مونږ په مخکې ولاړو او یوې غونډۍ ته ورسیدونو

عَلٰى ثَنِيَّةٍ فَقَالَ أَيُّ ثَنِيَّةٍ هٰذِهٖ قَالُوْا هَرْشٰى

حضور صلى الله عليه وسلم پوښتنه وکړه دا کوم غرا وغونډۍ ده خلقو وویل داهرشی دی لفت غردی

أَوْ لِفْتٌ فَقَالَ كَأَنِّيْ أَنْظُرُ إِلٰى يُوْنُسَ عَلٰى نَاقَةٍ

حضور صلى الله عليه وسلم په دي اوريدو سره وفرمايل ګويا زه يونس عليه السلام وينم چې په سره اوښه

حَمْرَاءَ عَلَيْهِ جُبَّةٌ صُوْفٍ خِطَامُ نَاقَتِهٖ خُلْبَةٌ

باندې سور دی اود غټو وړيو جبه يې اغوستې ده د هغه د اوښې مهار د کجورې درسۍ دی او

مَارًّا بِهٰذَا الْوَادِيْ مُلَبِّيًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

هغه لبیک لبیک ویلو سره دي غونډۍ نه تیریږي. [مسلم]

توضيح : جؤار: په جيم باندې ضمه ده د هغه نه وروسته همزه ده بيا راء ده په اوچت آواز او ژړيدو سره تلبيې ويلو په معنى سره دى. **خطام**: د اوښې په پوزه کې اچول شوې مهار ته خطام ويل کيږي په وزن د زمام لفظا او معنى. **خلبة**: د کجورو د پوستکي نه جوړې شوې رسۍ ته خلبة وايي. **ملبيا**: يعنې تلبيه ويلو سره مخکې روان وو، ددې حديث نه معلومه شوه چې د مرګ نه وروسته په عالم برزخ کې هم نيکان خلک عبادت کوي اګرچې په دې عبادت سره ثواب نه حاصليږي ځکه هغه دار العمل نه دى ليکن نيک خلک د شوق پوره کولو او تسلي حاصلولو لپاره په طور د لذت په عبادت کې مشغول پاتې کيږي. د انبياء کرامو او شهيدانو جسدونه چونکې په قبرونو کې محفوظ وي نو ځکه د هغوى په باره کې خو هيڅ اشکال نشته، همدارنګه د نورو اولياء کرامو جسدونه که محفوظ وي نو هغه به هم همدارنګه په عبادت کې مشغول وي.

---

(1) اخرجه مسلم ۱/۱۵۲ رقم الحديث (۱۶۶-۲۶۹) وأخرجه أحمد في المسند ۱/۲۱۵.

د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ ذکر

﴿۲۰﴾	وَعَنْ	أَبِي	هُرَيْرَةَ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ نه روایت کوي چې رسول الله عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل حضرت									
قَالَ	خُفِّفَ	عَلَى	دَاوُدَ	الْقُرْآنُ	فَكَانَ	يَأْمُرُ	بِدَوَابِّهِ		
داود عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې د زبور تلاوت آسان شوی وو هغه به خپلو ښاروو باندې د زین تړلو حکم کوه او مخکې									
فَتُسْرَجُ	فَيَقْرَأُ	الْقُرْآنَ	قَبْلَ	أَنْ	تُسْرَجَ	دَوَابُّهُ			
د دې نه چې د زین تړلو کار پوره شي هغه به د پوره زبور تلاوت مکمل کوه او حضرت داود عَلَيْهِ السَّلَامُ									
وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدِهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [1]									
به د خپل لاس د محنت روټۍ خوړله [بخاري]									

توضیح: فیقرأ القرآن: قرآن په معنی د مقروء سره دی چې په معنی د لوستلې شوي سره دی، قرآن مراد نه دی بلکه د دینه مراد د زبور لوستل دي، په دومره مختصر وخت کې د زبور لوستل د معجزې په طور باندې وو لکه څنګه چې د طی الارض عمل وي همدارنګه خارق العادة طی الوقت هم وي، د معراج په شپه باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته طی الوقت شوی وو.

دیوې ظالمې ښځې قصه

﴿۲۱﴾	وَعَنْهُ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ	كَانَتِ	امْرَأَتَانِ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل چې دوه ښځې										
مَعَهُمَا	ابْنَاهُمَا	جَاءَ	الذِّئْبُ							
وې او هغوئ دواړو سره یو یو هلک وو یوه ورځ یو شرمخ راغی او هغوئ کې د یوې ښځې هلک یې										
فَذَهَبَ	بِابْنِ	إِحْدٰهُمَا	فَقَالَتْ							
اوچت کړو او وې یې وړلو یوه بلې ته وایې چې شرمخ ستاخوی یووړلو او دوهمې وویل چې نه										

[1] اخرجه البخاري ۶/۴۵۳ رقم الحديث ۳۴۱۷ واحمد في المسند ۲/۲۱۴

صَاحِبَتُهَا	إِنَّمَا	ذَهَبَ	بِابْنِكِ	قَالَتِ	الْأُخْرٰى	إِنَّمَا	ذَهَبَ بِابْنِكِ
ستاځوی یي یووړلو آخر دواړو خپله مقدمه حضرت داود) ته یوړله حضرت موجود هلک د							
فَتَحَاكَمَتَا	إِلٰى	دَاوُدَ	فَقَضٰى	بِهِ	لِلْكُبْرٰى		
لوی عمر والا ښځي ته ورکړو بیا هغه دواړه ښځي حضرت سلیمان) ته راغلي او خپله پوره							
فَخَرَجَتَا	عَلٰى	سُلَيْمَانَ	بْنِ	دَاوُدَ	فَأَخْبَرَتَاهُ	فَقَالَ	
قضیه او د حضرت داود فیصله یي ورته بیان کړله حضرت سلیمان خپلو خادمانو ته وویل چې							
ائْتُونِي	بِالسِّكِّينِ	أَشُقُّهُ	بَيْنَكُمَا	فَقَالَتِ	الصُّغْرٰى		
چاړه راوړئ زه دا هلک په مینځ دوه ټکړي کولو سره په دې دواړو تقسیموم د کم عمر والا ښځي							
لَا	تَفْعَلْ	يَرْحَمُكَ	اللّٰهُ	هُوَ	ابْنُهَا		
وویل الله ! دي په تا سو رحم وکړي داسي مه کوئ هلک د لوی عمر ښځي ته ورکړئ د دې په							
فَقَضٰى	بِهِ	لِلصُّغْرٰى . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]					
اوریدو سره حضرت سلیمان) د کم عمر والا ښځي په حق کې فیصله وکړله .							

توضیح : ابناهما: یعني د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ په وخت کې دوه ښځې یوځای چیرته رواني وې ، ممکنه ده چې دا دواړې په ملګرتیا کې یوځای شوې وې او دا هم ممکنه ده چې دواړې د یوځایِ اوسیدونکې وي ، دا تنازع د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې پیښه شوې وه ، د یوې د غیرېې نه لیوه بچی تختولی وو نو د دواړو په مینځ کې جګړه شوه چې د چا بچی یې وړی دی او د چا پاتې شوی دی ، یوه د زیات عمر وه او بله د کم عمر وه ، د لوی عمر ښځې وویل چې کوم بچی یې وړی دی هغه ستا دی او چې کوم باقي دی هغه زما دی او په دې باندې یې قبضه وکړه ، دغه مقدمه د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ په عدالت کې پیش شوه ، چونکې په دواړو کې د هیچا سره شاهدان نه وو او دواړه دعوه دارې وې نو حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ قبضې ته وکتل او د صاحب ید په حق کې یې فیصله وکړه یا د کوم بل دلیل په بنیاد باندې د مشرې په حق کې فیصله وشوه . مګر دا خبره معلومه ده چې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه فیصله د اجتهاد په بنیاد باندې وه ، آسماني وحی نه وه او اصل حق د

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۵۸ رقم الحديث ۳۴۲۷ ومسلم ۳/۱۳۴۴ رقم الحديث (۲۰/۵۷۱۹)

کشرۍ وو قابضه لویه وه . حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام د حکمت او نفسیاتی طور باندې ددې تنازع معلومولو کوشش وکړلو او معلومه یې هم کړه او فیصله یې د کشرۍ په حق کې وکړه . معلومه شوه چې قاضی ته د ظاهری دلائلو سره د باطنی عواملو جائزه اخیستل هم ضروری دي تر څو حق وپیژندلی شي .

سوال : حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام د مشرۍ په حق کې عدالتی فیصله صادره کړې وه حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام دغه فیصله ماته کړه او د کشرۍ په حق کې یې فیصله وکړه دا څنګه جائز وو اګرچې د یو قاضی فیصله په خالص اجتهاد باندې مبنی وي بیا هم د قضاء د اصولو لاندې نافذ شده قضاء فسخ کیدلی نشي دلته څنګه داسې وشو ؟ حالانکه دا د یو نبی نافذ شده فیصله وه ؟

جواب : د دې یو جواب دا دی چې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام له طرفه دا یوه فتوی وه قضاء نه وه . دویم جواب دا دی چې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام په شریعت کې شاید ددې ګنجایش (امکان) وو چې د یو عدالت فیصله په بل عدالت کې د سره د نوی تحقیق نه وروسته کالعدم ګرځیدله ، ګویا دا د هغه د شریعت خپله معامله وه زمونږ په شریعت کې داسې کیدلی نشي .

حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام د سلو مجاهدینو پیدا کولو تمنا کوي

﴿۲۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سُلَيْمَانُ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل یوه ورځ حضرت سلیمان دا وویل
لَأَطُوْفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِيْنَ امْرَأَةً وَفِيْ رِوَايَةٍ
یعني د اعزم او اراده یې وکړله چې نن شپه به زه خپلو نوي بیبیانو سره او په یوه روایت کې دا دي
بِمِائَةِ امْرَأَةٍ كُلُّهُنَّ تَأْتِيْ بِفَارِسٍ
چې د خپلو سلو ښځو سره به مباشرت کوم او په هغوئ کې به هرې ښځې نه یو سور مرد پیدا شي
يُجَاهِدُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ قُلْ إِنْ شَاءَ اللهُ
چې د الله ! په لار کې به جهاد کوي د دې عزم په وخت کې فرشتې هغه ته وویل چې انشاء الله
فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ فَطَافَ عَلَيْهِنَّ
ووايي لیکن حضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَام نه د ان شاء الله ویل هیر شو بیا هغه د ټولو بیبیانو سره مباشرت

فَلَمْ	تَحْمِلْ	مِنْهُنَّ	إِلَّا	امْرَأَةٌ	وَّاحِدَةٌ			
وکړو او په هغوئ کې د يوې ښځې نه علاوه بله هيڅ يوه حامله نه شوه او هغه هم نيم هلک يعني								
جَاءَتْ	بِشِقِّ	رَجُلٍ	وَّايْمُ	الَّذِيْ				
ناقص الخلقت بچی راوړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي قسم دی په هغه ذات چې د هغه د په لاس کې د								
نَفْسُ	مُحَمَّدٍ	بِيَدِهِ	لَوْ	قَالَ	إِنْ	شَاءَ	اللهُ	لَجَاهَدُوْا
محمد ساه ده سليمان که انشاء الله ويلي وای نو يقينًا د هري ښځې نه به يي يو يو ځوی پيدا شوی وو								
فِيْ	سَبِيْلِ	اللهِ	فُرْسَانًا	أَجْمَعُوْنَ	.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.[1]	
او ټولو به د الله ! په لار کې جهاد کولو او سواره مردان به ثابت شوي وو. [بخاري مسلم]								

توضيح : بمائة: يعني په يوه شپه کې به د سلو بيبيانو سره جماع کومه تر څو سل مجاهدين پيدا شي او د الله تعالى په لاره کې جهاد وکړي ، ملائکې وويل انشاء الله ووايه مگر هغه ونه ويله نو يو ناقص هلک پيدا شو د دينه علاوه هيڅ رانغلل ، خادمې هغه راوړلو او په تخت سليماني باندې يې کيښود ، سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ ته تنبيه وشوله . دا حديث د قرآن د آيت ﴿ وَأَلْقَيْنَا عَلَىٰ كُرْسِيِّهِ جَسَدًا ﴾ لپاره ښه تفسير دی ، جناب ابو الاعلى مودودی صاحب دغه حديث په نهايت حقارت سره د عقل په زور باندې مسترد کړی دی ، په تفهيم القرآن کې د دغه آيت لاندې وګوره ته به حيران پاتې شې ! ښه داخبره ذهن کې کينوه چې د کوم مستند استاد نه د علم نه زده کولو همدا نقصان وي .

کسب د انبياو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ سنت دی

﴿۲۳﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ زَكَرِيَّا نَجَّارًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[2]

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل حضرت زکريا عَلَيْهِ السَّلَامُ نجار وو. [مسلم]

د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باهمي قرب او تعلق

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ

او ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په دنيا او په آخرت کې

---

(۱) اخرجه البخاري ۶/۴۵۴ رقم الحديث ۲۸۱۹ ومسلم ۳/۱۲۷۶ رقم الحديث (۲۵/۱۶۵۴)

(۲) اخرجه مسلم ۴/۱۸۴۷ رقم الحديث (۱۶۹/۲۳۷۹) وابن ماجه ۲/۷۲۷ رقم الحديث ۲۱۵۰

بِعِيْسٰى	بْنِ	مَرْيَمَ	فِيْ	الْأُوْلٰى	وَالْآخِرَةِ	لَأَنْبِيَاءُ	أَ	إِخْوَةٌ
حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ټولو نه زیات قریب او تعلق دار زه یم او ټول انبیاء خپلو کې میرني وروڼه دي								
مِنْ	عَلَّاتٍ	وَأُمَّهَاتُهُمْ	شَتّٰى	وَدِيْنُهُمْ	وَاحِدٌ	وَلَيْسَ		
چې د هغوئ پلار یو دی او مندې یې جدا جدا دي د دې ټولو اصل دین یو دی او زمونږ په مینځ								
بَيْنَنَا نَبِيٌّ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [1]								
کې هیڅ نبي نشته. [بخاري مسلم]								

توضیح: **انا اولى الناس بعيسى:** یعنې په انسانانو کې د قرب په اعتبار سره د ټولو نه زیات زه حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته نږدې یم ، دغه قرب په څو اعتبارونو سره دی ، یو خو دا چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د زمانې په اعتبار سره د ټولو نه زیات قریب دی د دواړو په مینځ کې کوم نبی نشته او صرف د شپږ سوه کاله فاصله ده . دویم قرب دا دی چې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به په آخر کې د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلیفه وي . دریم قرب دا دی چې د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ دین د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دین سره متصل دی . څلورم قرب دا دی چې حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بعثت خصوصی بشارت ورکړی دی . پنځم قرب دا دی چې کله حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ وفات شي نو د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طرف کې به دفن کیږي . شپږم قرب دا دی چې په بعضو روایاتو کې راغلي دي چې په جنت کې به د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ والده حضرت مریم علیها السلام د حضور ﷺ په زوجیت کې راځي ، په هر حال قرب په دنیا کې هم شته او په آخرت کې به هم وي .

اخوة من علاة: یعنې ټول انبیاء په خپل مینځ کې سره وروڼه دي مورګانې یې جدا جدا دي او پلار د ټولو یو دی ، دا کلام په تشبیه باندې محمول دی لهذا د پلار نه مراد د دې ټولو انبیاؤ هغه دین او توحید دی چې په هغه باندې ټول متحد او متفق راغلي دي په (**و دینهم واحد**) کې هم دغه حقیقت واضحه شوی دی ، او د مورګانو نه مراد د دغو پیغمبرانو جدا جدا شریعتونه دي چې په هره زمانه کې ځانته پاتې شوي دي . ملاعلی القاری رحمه الله فرمایي : **والمعنى ان اولاد العلات امهاتهم مختلفة فكذلك الانبياء دينهم واحد و شرائعهم مختلفة** . الحمد لله دې عاجزه بنده د حدیث په

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۴۷۷ رقم الحديث ۳۴۴۳-۳۴۴۲، ومسلم ۴/۱۸۳۷ رقم الحديث (۲۳۶۵-۱۴۵)

پوهه او پوهه کولو کې کوشش کړی دی والحمدلله علی ذلک.

د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ فضیلت

﴿۲۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَنِيْ آدَمَ
او حضرت ابوهریره روایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کله چې یو انسان پیدا کېږي نو
يَطْعَنُ الشَّيْطَانُ فِيْ جَنْبَيْهِ بِإِصْبَعَيْهِ حِيْنَ يُوْلَدُ غَيْرَ عِيْسٰي
شیطان د هغه دواړو تشو کې په ګوتو سره نوکاره ورکوي لیکن عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ د دې نه محفوظ پاتې
ابْنِ مَرْيَمَ ذَهَبَ يَطْعَنُ فَطَعَنَ فِي الْحِجَابِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(1)
شوی دی هغه د هغه په تشي کې هم نوکاره لګول وغوښتل خو هغه صرف پردې ته نوکاره ورکړه. [بخاري مسلم]

د باکماله ښځو ذکر

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِيْ مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
او حضرت ابوموسیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل
كَمُلَ مِنَ الرِّجَالِ كَثِيْرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ
په سړو کې خو ډیر باکماله پیدا شوي دي لیکن په ښځو کې باکماله نه شوې مګر بي بي مریم بنت عمران
وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ وَفَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ
او بي بي آسیه زوجه د فرعون او ټولو ښځو باندې عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته هغه فضیلت حاصل دی څرنګه
الثَّرِيْدِ عَلٰى سَائِرِ الطَّعَامِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَذُكِرَ
چې نورو طعامونو باندې ثرید وره (میده) شوې روټۍ ته حاصل دی [بخاري مسلم] او د
حَدِيْثُ أَنَسٍ يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ وَحَدِيْثُ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَيُّ النَّاسِ أَكْرَمُ وَحَدِيْثُ
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت یا خیر البریه الخ او د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت ای الناس اکرم الخ او

(1) اخرجه البخاري ۶/۲۳۷ رقم الحدیث ۳۲۸۶ ومسلم ۴/۱۸۳۸ رقم الحدیث (۲۳۶۶-۱۴۷)

ابْنِ عُمَرَ اَلْكَرِيْمُ بْنُ الْكَرِيْمِ فِيْ بَابِ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ[1]
د حضرت ابن عمر رضی الله عنه روايت: الكريم ابن الكريم الخ په باب المفاخرة والعصبيه كې نقل شوي دي.

توضیح:الامریم: دلته سوال پیدا کیږي چې دکمال په حصول کې حضرت مریم علیها السلام او حضرت آسیه رضی الله تعالی عنها ته اوله درجه ورکړی شوې ده نو د حضرت فاطمة الزهراء او حضرت عائشه او حضرت خدیجه رضی الله عنهن هغه عالیشان مقام چیرته لاړو ؟ددې جواب دا دی چې دلته د مخکنو امتونو د ښځو د کمالاتو د تکمیل ذکر دی ، د امت محمدیه د ښځو د شان بیان په ابواب مناقب کې راروان دی هلته به انشاء الله په تفصیل سره خبره کیږي لږ انتظار وکړه .

١٨جمادی الثاني ١٤١٨هـ

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د تخلیق کائنات نه مخکې د الله تعالی وجود

﴿٢٧﴾ وَعَنْ أَبِيْ رَزِيْنٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيْنَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ
او د حضرت ابورزین رضی الله عنه بیان دی ما عرض وکړو یارسول الله! صلی الله علیه وسلم ځمونږ پروردګار د مخلوقاتو
خَلْقَهُ قَالَ كَانَ فِيْ عَمَاءٍ مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ
پیدا کولو نه مخکې کوم ځای کې وو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل عماء کې وو نه د هغه نه لاندې هوا وه
وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ يَزِيْدُ بْنُ هَارُوْنَ
او نه د هغه د پاسه هغه خپل عرش او بو باندې پیدا کړو دا روایت امام ترمذي نقل کړی دی او یزید ابن هارون وضاحت
اَلْعَمَاءُ أَيْ لَيْسَ مَعَهُ شَيْءٌ.[2]
کړی دی چې عماء نه مراد دادی چې هغه سره هیڅ شی نه وو.

توضیح : عماء: د عماء اصلی معنی وریځ ده لیکن دلته اصلی معنی مراد نه ده بلکه د عماء معنی دلته د عدم او لیس معه شئ ده یعني الله تعالی وو او د هغه سره هیڅ شی هم نه وو ، مطلب دا چې الله تعالی په خپل ذات محضه کې وو د هغه د صفاتو ظهور تر دې وخته شوی نه وو ، ګویا یوه پټه خزانه

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ٦/٤٤٢ رقم الحديث ٣٤١١ ومسلم ٤/١٨٨٦ رقم الحديث (٢٤٣١/٧٠)
(2) اخرجه الترمذي ٥/٢٦٩ رقم الحديث ٣١٠٩ وابن ماجه في السنن ١/٦٤ رقم الحديث ١٨٢.

وه . ملاعلی القاری رَحِمَهُ اللّٰهُ داسې ليکي : في عمآء بفتح العين ممدودا ای فی غيب هوية الذات بلاظهور مظاهر الصفات کما عبر عنه بقوله کنت کنزا مخفيا فاحببت ان اعرف فخلقت الخلق ،،

صوفيه حضراتو کرامو د عماء مفهوم دا بيان کړی دی (العمآء هي الحضرة الاحدية) يعنې د عماء نه مراد د الله تعالی وحده لاشريک ذات دی . په يوه نسخه او يو روايت کې عمًى په قصر سره راغلی چې د پوشيدګۍ په معنی سره دی ، ددې مطلب دا دی چې د الله تعالی ذات چې چيرته وو هلته په بنی آدم کې نه د چا عقل رسيدلو او نه د کوم عاقل سوچ هلته رسيدلی شو . علامه ازهری رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايلي چې مونږ په دې ظاهری الفاظو باندې ايمان راوړو او ددې کيفيت او حقيقت ته د رسيدلو کوشش نه کوو ، ګويا دغه الفاظ د متشابهاتو څخه دي .

ماتحته هواء: په دې جمله کې ما نافيه ی يعنې په دې عماء کې نه لاندې هوا وه او نه پورته هوا وه ، په دې جملې سره دا بيانول مقصود دې چې وريځ چيرته وي هتله هوا هم وي ، چې کله د پاس او لاندې هوا نفی وشوله نو دا وښودل شو چې د عمآء نه مراد وريځ نه ده بلکه دا د ليس معه شئ په معنی سره دی تر څو د الله تعالی لپاره جهت ثابت نشي چې ددينه حدوث لازميږي .

عرشه علی الماء: ددې مطلب دا نه دی چې عرش الهی د اوبو په سطحه باندې ايښودلی شوی وو بلکه مطلب دا دی چې لاندې اوبه وې پاس په فضاء کې عرش وو او نور څه نه وو ددې تشريح د باب په ابتداء کې شوې ده .

د سماوی نظام عجائبات

﴿۲۸﴾ وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ زَعَمَ أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِي الْبَطْحَاءِ فِيْ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بن عبد المطلب وايي هغه يوه ورځ بطحاء مکه کې يو ځای د خلقو يو
عِصَابَةٍ وَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِيْهِمْ فَمَرَّتْ بِهِمْ سَحَابَةٌ
جماعت سره ناست وو او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم په هغوئ کې تشريف فرماوو اچانک د وريځې يوه
فَنَظَرُوْا إِلَيْهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ټکړه تيره شوه خلقو هغه طرف ته کتل رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوئ نه پوښتنه وکړه تا سو دې وريځ ته

مَا تُسَمُّوْنَ هٰذِهٖ قَالُوْا السَّحَابَ قَالَ وَالْمُزْنَ قَالُوْا وَالْمُزْنَ

څه وایئ هغوئ جواب ورکړو چې اسحاب حضور ﷺ ورته وفرمایل او دې ته مزن هم وایې

قَالَ وَ الْعَنَانَ قَالُوْا وَ الْعَنَانَ

هغوئ وویل چې هو مزن هم ورته وایې بیا حضور ﷺ وفرمایل او دې ته عنان هم وایې دوي وویل چې عنان هم

قَالَ هَلْ تَدْرُوْنَ مَا بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

ورته وایې بیا نبی عَلَیْہِ السَّلَام وفرمایل آیا تاسو خلقو ته معلومه ده چې د آسمان او ځمکې په مینځ کې څومره فاصله ده

قَالُوْا لَا نَدْرِیْ قَالَ

دا او هغه څومره اوږده ده هغوی جواب ورکړو مونږ ته معلومه نه ده حضور ﷺ ورته وفرمایل

إِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ وَّ إِمَّا اِثْنَتَانِ أَوْ ثَلَاثٌ وَسَبْعُوْنَ سَنَةً

د ځمکې او آسمان په مینځ کې فاصله یا خویو اویا کاله یا دوه اویا کاله یا دری اویا کاله د مسافت په قدر ده

وَ السَّمَاءُ الَّتِیْ فَوْقَهَا كَذٰلِكَ

او دې اولني آسمان د پاسه دوهم آسمان دی او د دې دواړو په مینځ کې هم دومره فاصله ده

حَتّٰى عَدَّ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ثُمَّ فَوْقَ السَّمَاءِ السَّابِعَةِ بَحْرٌ بَيْنَ

ان تردې چې اوه آسمانونه یې وشمارل بیا د اووم اسمان نه بره سمندر دی چې د دواړو ترمینځ یعنې

أَعْلَاهُ وَ أَسْفَلِهٖ كَمَا بَيْنَ سَمَآءٍ إِلٰى سَمَآءٍ ثُمَّ فَوْقَ ذٰلِكَ ثَمَانِيَةُ

دهغه سمندر ریخ د سطحې فاصله د دوو اسمانونو ترمینځ فاصله ده او بیا دهغه د پاسه آته فرشتې دي مومي

أَوْعَالٍ بَيْنَ أَظْلَافِهِنَّ وَوَرِكِهِنَّ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَآءٍ إِلٰى سَمَآءٍ

چې دغرونو د چیلو پشان دي چې دهغو د پښو او د کوناتو ترمینځ هم د دوو آسمانونو ترمینځ فاصلې

ثُمَّ عَلٰى ظُهُوْرِهِنَّ الْعَرْشُ بَيْنَ أَسْفَلِهٖ وَأَعْلَاهُ مَا بَيْنَ سَمَآءٍ إِلٰى سَمَآءٍ

په اندازه فاصله ده دهغوی د پاسه د الله تعالی عرش دی چې دهغه لاندینی برنی حصې ترمینځ د دوو آسمانونو ترمینځ

ثُمَّ	اللهُ	فَوْقَ	ذٰلِكَ	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَ	أَبُو	دَاوُدَ[1]
دفاصلې په اندازه فاصله ده او بیا دهغې نه پورته دالله تعالی ذات دی. دا حدیث ترمذی او ابوداود روایت کړی دی.								

توضیح: **زعم انه كان جالسا**: په دغه وخت کې حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان شوی نه وو چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سماوی نظام عجائبات فرمایل چونکه دغه مجمع هم عمومی طور باندې په کفارو مشتمله وه نو حضرت عباس رضی الله عنه ددغه وخت اوریدلی شوی حدیث وروسته فرمایلی دی. **والمزن**؟: یعنې آیا تاسو سحاب ته مزن او عنان هم وایې ؟ ټولو وویل هو!.

اما واحدة او: شک راوی ته دی او د اویا کالو ذکر د تکثیر عدد لپاره دی کوم تعیین نه دی ځکه په ډیرو احادیثو کې دا تصریح موجوده ده چې د هر دوو آسمانو په مینځ کې د پنځه سوه کلونو مسافت لاره ده لهذا دلته دغه عدد په تکثیر باندې محمول دی نو هیڅ تعارض نشته. **بحر**: یعنې یو سمندر دی چې د هغه پاس طرف او لاندې طرف مسافت هم همدارنګه پنځه سوه کاله دی.

اوعال: دا د وعل جمع ده د غره چیلو ته وایي ددې مؤنث ته اروية وایي چې ذکر یې په نورو روایاتو کې هم راغلی دی، دې حیوان ته په پښتو کې (غرڅه) وایي، د ډیر مضبوط جسم والا وي، داسې معلومیږي چې د دوی په پښو کې مقناطیس لګیدلی دي چې د کاڼو سره نخلي، په داسې ګرانو ځایونو کې ګرځي چې هلته یواځې مرغان تللی شي، د غوا نه وړوکی دی او د ګډ نه غټ ویدی، په سر باندې یې دوه اوږده ښکرونه وي، په منډه کې د هوا پشان تیز دی، دلته په دې حدیث کې بعینه همدا حیوان مراد نه دی بلکه ملائکې مراد دي چې ددې حیوان په شکل کې وي.

العرش: یعنې د عرش لاندې او پاس مسافت هم د پنځه سوه کلونو دی.

ثم الله فوق ذلک: د نصوص قرآنیه او احادیثو نه واضحه اشارې حاصلیږي بلکه تصریحات دي چې الله تعالی په آسمانونو باندې دی دلته هم دغه تفصیل دی مګر دا متشابه الفاظ دي چې ددې په باره کې امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمایلي: **الاستواء معلوم والكيفية مجهولة والسؤال عنه بدعة**، د سلف صالحینو عقیده ده چې **(مایلیق بشانه)** چې کوم د الله تعالی اوچت شان

---

(۱) اخرجه ابوداود في السنن ۵/۹۳ رقم الحديث ۴۷۲۳ و الترمذي في سننه ۵/۳۹۵ رقم الحديث ۳۳۲۰.

دی زمونږ په هغه باندې ایمان دی ، په هر حال په دې حدیث کې د الله تعالی عظیم شان بیان شوی دی.

د الله تعالی شان

﴿۲۹﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ
د جبیر بن مطعم رضي الله عنه بیان دی یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې (بانډه چي) راغی او
فَقَالَ جُهِدَتِ الْأَنْفُسُ وَجَاعَ الْعِيَالُ وَنُهِكَتِ الْأَمْوَالُ وَهَلَكَتِ الْأَنْعَامُ
هغه وویل یا رسول الله زمونږ انسانان د قحط ښکار کېږي بال بچ (اولاد) او مال او څاروي مو هلاکېږي
فَاسْتَسْقِ اللهَ لَنَا فَإِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَى اللهِ وَنَسْتَشْفِعُ بِاللهِ عَلَيْكَ
نو تاسو د الله ! نه زمونږ د پاره باران وغواړئ مونږ د الله ! په حضور کې تاسو سفارش کونکی ګرځوو
فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَانَ اللهِ سُبْحَانَ اللهِ
حضور صلی الله علیه وسلم په دې اوریدو سره وفرمایل د الله ! ذات پاک او منزه دی د الله ! ذات پاک او منزه دی
فَمَا زَالَ يُسَبِّحُ حَتّٰى عُرِفَ ذٰلِكَ فِيْ وُجُوْهِ أَصحابو
نبی صلی الله علیه وسلم بار بار د تسبیح دا الفاظ فرمائیل د دې پورې چې د نبی صلی الله علیه وسلم د صحابو رضي الله عنهم د مخونو رنګ
ثُمَّ قَالَ وَيْحَكَ إِنَّهُ لَا يُسْتَشْفَعُ بِاللهِ
بدل شو بیا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل ای سړیه! په تا افسوس دی الله ! چا ته شفیع نشي مقرر کېدی
عَلٰى أَحَدٍ شَأْنُ اللهِ أَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ وَيْحَكَ
او نه هغه وسیله جوړیدی شي په تا آفسوس تا ته معلومه نه ده چې د الله ! عظمت او جلالت څه دی حقیقت دا دی
أَتَدْرِيْ مَا اللهُ إِنَّ عَرْشَهُ عَلٰى سَمٰوَاتِهِ لَهٰكَذَا وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ
چې د هغه عرش د هغه آسمانونه داسي راګیر کړي دي په دې ویلو سره ئي د خپلې ګوتې د بل لاس د تلي د پاسه
مِثْلَ الْقُبَّةِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَيَئِطُّ بِهِ
د قبې په صورت کې و خودلو د غه شان د الله ! عرش دومره وسیع او عریض کېدو باوجود داسي چرچر کوي

أَطِيْطَ	الرَّحْلِ	بِالرَّاكِبِ.	رَوَاهُ	أَبُوْ دَاوُدَ. [۱]	

ځرنګه چې د اوښ پالان کته يا د آس زين د سور کس لاندي چرچر کوي. [ابو داؤد]

توضيح: جهدت الانفس: يعني انسانان د خشک سالۍ د وجې نه هلاک کيږي.

نهكت الاموال: يعني مال او څاروي تباه کيږي . **نستشفع بالله عليک**: يعني الله تعالى ستا په حضور کې شفيع ګرځوو چې ته داسې وکړې، په دې جمله کې چونکې د الله تعالى د شان عالي بې ادبي وه په دغه وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خفه شو او بار بار يې سبحان الله مکرر کړه او د الله تعالى تقدس يې بيان کړلو بيا د دېنه وروسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالى ډير لوی عظمت بيان کړلو .

ما الله: يعني پوهيږم هم چې د الله تعالى شان او عظمت څومره لوی دی ؟

ان عرشه: يعني د الله تعالى عرش په ټولو اسمانونو باندې داسې محيط دی لکه څنګه چې يوه خيمه په کوم شي باندې محيط وي .

هكذا: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ګوتو سره د هغې خيمې او د هغې د احاطې مشاهداتی صورت داسې بيان کړلو چې مثلا د يو لاس تلی لاندې وي او د بل لاس ګوتې د ګنبد په شکل کې په هغه باندې د پاسه محيط وي او ټول تلی يې په احاطه کې اخيستي وي .

ليئط: أط يئط أطا چنګاري ته وايي ، نوې کجاوه يا نوې کټ او پالنګ باندې کيناستلو سره دغه رنګ آواز هغه وخت راوځي چې کله د کيناستونکي وزن ډير زيات وي ، دلته حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول د عرش وسعت او عظمت بيان کړلو او د دېنه وروسته يې د هغه عجز او تنګي او کمزوري بيان کړله چې د الله تعالى د عظمت په مخ کې د هغه نه د چنګهاري آواز وځي ، دا ټول متشابهات دي ، د سلف صالحينو عقيده دا ده چې : مايليق بشانه ، يعني کوم چې د الله تعالى او چت شان وي زمونږ پر هغه باندې ايمان دی .

د عرش پورته کوونکو فرشتو جسامت

﴿۳۰﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت جابر ابن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

([۱]) اخرجه ابوداود ۵/۹۴ رقم الحديث ۴۷۲۶ والنسائي ۳/۱۶ رقم الحديث ۱۵۲۸ واحمد في المسند ۳/۲۵۶.

أُذِنَ	لِيْ	أَنْ	أُحَدِّثَ	عَنْ	مَلَكٍ	مِنْ	مَلَائِكَةِ اللهِ

ماته د الله ! د طرف نه دا اجازه حاصل شوې ده چې زه د الله ! د فرشتو نه د یوې فرشتې حال بیان کړم

مِنْ	حَمَلَةِ	الْعَرْشِ	إِنَّ	مَا	بَيْنَ	شَحْمَةِ	أُذُنِهِ	إِلَى عَاتِقَيْهِ

کومو چې عرش پورته کړې دی د هغه فرشتې د غوږ د نرمۍ نه د هغه د اوږې پورې درمیاني

مَسِيرَةُ سَبْعِمِائَةِ عَامٍ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ. (۱)

فاصله د اووه سوه کاله د مسافت برابر ده . ابوداود

دیدار الهي او حضرت جبریل عَلَيْهِ السَّلَامُ

﴿۳۱﴾ وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجِبْرَئِيْلَ

او حضرت زراره ابن اوفی نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت جبریل) نه پوښتنه وکړه آیا

هَلْ	رَأَيْتَ	رَبَّكَ	فَانْتَفَضَ	جِبْرَئِيْلُ	وَقَالَ	يَا	مُحَمَّدُ	إِنَّ	بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ

تاخپل پروردګار لیدلی دی؟ حضرت جبریل په دې اوریدو سره په ریدو شو بیا یې وویل ای محمد ! زما او د الله په مینځ کې

سَبْعِيْنَ	حِجَابًا	مِنْ	نُوْرٍ	لَوْ	دَنَوْتُ	مِنْ	بَعْضِهَا لَاحْتَرَقْتُ

د نورا ویا پردې دي که زه هغه پردو نه یوې پردې ته نزدې یوه ګوته برابر هم ورمخکې سم نو وبه سوزم په مصابیح کې

هٰكَذَا	فِي	الْمَصَابِيْحِ	(۲) وَرَوَاهُ	أَبُوْ	نُعَيْمٍ	فِي الْحِلْيَةِ

روایت دغه شان دی البته ابونعیم خپل کتاب حلیه کې دا روایت د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل کړی دی او کیدې شی چې

عَنْ أَنَسٍ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ فَانْتَفَضَ جِبْرَئِيْلُ. (۳)

حضرت زراره هم د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نقل کړې وي خو د ابونعیم نقل کړه روایت کې فانتفض د حضرت جبریل) د ریدو الفاظ نشته.

توضیح : سبعین حجابا: دا عدد د تکثیر بیانولو لپاره دی د تحدید او تعیین لپاره نه دی ، د عدد انتخاب هم د شارع په صحیح لیدلو باندې دی . په یو روایت کې اویا زره پردو ذکر دی ، دا خبره یاد

---

(۱) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۹۶ رقم الحديث ۴۷۲۷

(۲) اخرجه مصابيح السنة ۴/۳۰ رقم الحديث ۴۴۵۷

(۳) اخرجه أبونعيم في الحلية .

ساتل پکار دي چې دغه پردې د نور دي چې د کتونکو لپاره حجاب او مانع دی د الله تعالی لپاره حجاب او مانع نه دي، ځکه چې محجوب مغلوب وي الله تعالی مغلوب نه دی نو محجوب نه دی بلکه الله تعالی غالب دی نو حاجب دی.

حضرت اسرافیل علیه السلام چې د کوم وخت نه پیدا دی دهغه وخت نه تیار ولاړ دی

﴿۳۲﴾وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ خَلَقَ إِسْرَافِيْلَ
او حضرت ابن عباس، وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل الله! چې کوم وخت اسرافیل علیه السلام
مُنْذُ يَوْمٍ خَلَقَهُ صَافًّا قَدَمَيْهِ لَا يَرْفَعُ بَصَرَهُ
پیدا کړه هغه د هغه وخت نه خپلې دواړه خپې صف بسته کړي بالکل تیار ولاړ دی نظر نه پورته کوي
بَيْنَهُ وَبَيْنَ الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَبْعُوْنَ نُوْرًا مَا مِنْهَا مِنْ نُوْرٍ
دهغه او بزرګ او برتر پروردګار په مینځ کې د نور اویا پردې حائلې دي که اسرافیل علیه السلام بفرضِ محال دهغه نور د پردو
يَدْنُوْ مِنْهُ إِلَّا احْتَرَقَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.[1]
نه یوې پردې ته نزدې شي نو وبه سوزي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث صحیح دی.

توضیح: صافًّا قدمیه: یعنې د کله نه چې حضرت اسرافیل علیه السلام پیدا شوی دی د هغه وخت نه یې دواړه پښې صف بسته کړي او ولاړ دی، آخوا دیخوا نه ګوري بلکه په صور باندې یې نظر لګولی دی چې کله به د الله تعالی له طرفنه د صور پوک کولو حکم کیږي او هغه په دې باندې عمل وکړي، ددې حدیث نه یوه خبره دا معلومه شوه چې په ملائکو کې څومره لوی اطاعت دی، دویمه خبره دا معلومه شوه چې د قیامت قائمیدلو لمحه د الله تعالی نه علاوه د ټول مخلوق څخه څومره پټه ساتلې شوې ده، دریمه خبره دا معلومه شوه چې د الله تعالی د انواراتو او تجلیاتو قاهرو خواته مقرب ملائکه هم نشي تللی.

د فرښتو په مقابل کې د انسان قدر او قیمت

﴿۳۳﴾وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللهُ آدَمَ
او د حضرت جابر، نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل هر کله چې الله! آدم او د هغه

[1] اخرجه البیهقي ضمن حدیث طویل في شعب الایمان ۱/۱۷۶ رقم الحدیث ۱۵۷.

وَذُرِّيَّتَهُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ يَا رَبِّ خَلَقْتَهُمْ
اولاد پیدا کړل نو فرشتو عرض وکړو ای ربه! تا خو داسې مخلوق پیدا کړه چې خوري او څکي او
يَأْكُلُوْنَ وَيَشْرَبُوْنَ وَيَنْكِحُوْنَ وَيَرْكَبُوْنَ فَاجْعَلْ لَهُمْ
واده کوزده کوي او قسم قسم سورلو باندې سورلی کوي نو څمونږ درخواست دی چې د دنیا نعمتونه
الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لَا أَجْعَلُ مَنْ
دې مخلوق ته ورکړه او د آخرت ټول نعمتونه مونږ ته راکړه الله! ورته وفرمایل کوم مخلوق چې
خَلَقْتُهُ بِيَدَيَّ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ كَمَنْ قُلْتُ
ما په خپل لاس سره پیدا کی او په هغه کې مي خپل روح پیدا کړی دی هغه د هغه مخلوق پشان نه
لَهُ كُنْ فَكَانَ . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.(۱)
دی کوم ته چې ما کُن وویل نو هغه پیدا شو دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی.

توضیح : قالت الملائكة: ملائکو وویل چې په دنیا کې انسانانو مزې وکړلې ، په دغه وجه دې د دوی لپاره دنیا مختص کړی شي او زمونږ لپاره دې آخرت مختص کړی شي تر څو مونږ په جدا جهان کې د دغو نعمتونو نه خوند حاصل کړو .

قال الله: الله تعالی ملائکو ته په جواب کې وفرمایل چې زه داسې نه کوم ، انسان ما په خپلو لاسونو باندې جوړ کړی د هغه په تخلیق کې څو مرحلې تیرې شوې دي ، ډیر محنتونه شوي او تاسې مې صرف په لفظ د (کن) سره پیدا کړي یاستئ لهذا تاسې دواړه برابرېدلی نه شئ . ددې حدیث نه د بنی آدم لوی فضیلت ثابتیږي په دغه وجه ده ته اشرف المخلوقات ویلی شوی دی . چونکې ملائکې یو معصوم مخلوق دی هغوی ته د دوزخ د سزا هیڅ خطره نشته ، ددې په مقابله کې د انسان بیچاره نه د دوزخ ډکول هم دي ، انسان په امور تکلیفو اوامرو او نواهیو باندې د عمل کولو څومره مکلف دی . لهذا د **الغنم بالغرم والخراج بالضمان** د اصل لاندې د انسان مقام د ملائکو نه په هر حال کې څانته دی . د جمهورو مسلک دا دی چې عام مسلمان د عام عامې فرشتې نه افضل دی او خاص مسلمان د خاص ملائکې نه افضل دی ، د عام مسلمان نه مراد د کامل درجې مسلمان دی لکه

خلفاء راشدین ، صحابو کرام ، علماء او اولیاء، هر کس او ناکس د ملائکو نه افضل نه دی ، او د خاص مسلمان نه مراد انبیاء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دي او د خاص ملائکو نه جبرئیل ، میکائیل ، اسرافیل او عزرائیل وغیره عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مراد دي ، په راتلونکي حدیث کې نور تفصیل راځي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

فرشتو باندې د انسان فضیلت

﴿۳۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُؤْمِنُ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د کاملې درجې مؤمن یعني انبیاء
أَكْرَمُ عَلَى اللهِ مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِهِ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.[1]
او اولیاء د الله ! په نزد د هغه د بعضو فرشتو نه افضل او برتر دی. [ابن ماجه]

توضیح : **المؤمن اکرم**: د مؤمن نه د کاملې درجې عام مؤمنان مراد دي او د بعضو ملائکو نه عام ملائکې مراد دي ، شیخ محی السنة د ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴾ لاندې لیکلي دي چې بهتره دا ده چې داسې وویلی شي چې عام مؤمنان د عامو ملائکو نه افضل دي او خاص مؤمنان د خاصو ملائکو نه افضل دي ، علامه طیبی رَحِمَهُ اللهُ وایي چې د مؤمنان نه عام مؤمنان مراد دي او د ملائکو نه هم عام ملائکې مراد دي.ملاعلی قاري رَحِمَهُ اللهُ د دې ټولو اقوالو د نقل کولو نه بعد خپله فیصله دارنګه اوروليٰ ده چې : **ولایخفی ان المراد بخواص المؤمنان الرسل والانبیاء و بخواص الملائکة نحو جبریل و میکائیل و اسرافیل و بعوام المؤمنان الکمل من الاولیاء کالخلفاء وسائر العلماء و بعوام الملائکة سائرهم و هذا التفصیل اولی من اجمال بعضهم** . (مرقات، ج۹ ص۷۲۵)

کوم کوم مخلوق په کومه ورځ پیدا شوی دی

﴿۳۵﴾ وَعَنْهُ قَالَ اَخَذَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِيْ فَقَالَ
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما لاس په نیولو سره راته وفرمایل چې
خَلَقَ اللهُ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيْهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الْأَحَدِ
الله ! خاوره د هفتې په ورځ (یعني د شنبې په ورځ) پیدا کړه او په ځمکه کې یې غرونه د اتوار یعني

[1] اخرجه ابن ماجه ۲/۱۳۰۱ رقم الحدیث ۳۹۴۷.

وَخَلَقَ الشَّجَرَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوْهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ

يکشنبې په ورځ پيدا کړل وني يې د پير يعني دوشنبې په ورځ پيدا کړې بدې او خراب شيان يې د سه شنبې

وَخَلَقَ النُّوْرَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ وَبَثَّ فِيْهَا الدَّوَابَّ

په ورځ پيدا کړل نور او رڼا يې د چهار شنبې په ورځ پيدا کړل حيوانات يې په ځمکه کې

يَوْمَ الْخَمِيْسِ وَخَلَقَ آدَمَ بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ يَّوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ

د زيارت يعني په پنجشنبه پيدا کړل او آدم يې د جمعې په ورځ د ما ځيګر نه وروسته پيدا کړه او دا

وَآخِرِ سَاعَةٍ مِّنَ النَّهَارِ فِيْمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.(۱)

آخري پيدائش يې د ورځې بالکل په آخري حصه کې د مازيګر نه روسته شپې پورې په مينځ کې په عمل کې راوستی. [مسلم]

توضيح: **يوم السبت**: په دې حديث کې په صريح عبارت سره د کائناتو د تخليق تفصيل بيان شوی دی چې کوم مخلوق په کومه ورځ پيدا شوی دی، دلته دا سوال دی چې د کائناتو د تخليق ابتداء د يکشنبې د ورځې څخه شوې ده او انتهاء يې په جمعې باندې شوی ده حالانکه په دې حديث کې يې د هفتې ورځ د تخليق اوله ورځ ګرځولې ده. ددې جواب دا دی چې د هفتې نه مراد د هغې هغه آخري حصه مراد ده چې اصولی طور باندې د يکشنبې شپه جوړېږي نو په حقيقت کې د کائناتو ابتداء د يکشنبې د ورځې نه شوه او په جمعه باندې يې اختتام وشو.

دمخلوقاتو عجائب

﴿۳۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَّأَصْحَابُهُ إِذْ أَتَى

حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرام ناست وو چې د ورېځې يوه

عَلَيْهِمْ سَحَابٌ فَقَالَ النَّبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ

ټکړه تېره شوه حضور صلى الله عليه وسلم د ورېځې هغه ټکړې ته اشاره کولو سره صحابو نه پوښتنه وکړه

تَدْرُوْنَ مَا هٰذَا قَالُوْا اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ

تاسو پېژنئ چې دا څه شی دی؟ صحابو رضي الله عنهم د خپل عادت مطابق جواب ورکړو الله! او د هغه رسول ښه پوهېږي

قَالَ	هٰذِهِ	الْعَنَانُ	هٰذِهٖ	رَوَايَا	الْاَرْضِ

حضور ﷺ وفرمايل دا عَنان يعني وريځ ده او دا وريځ د ځمكې روايا (اوبه كونكې) ده چې

يَسُوْقُهَا	اللهُ	إِلٰى	قَوْمٍ	لَايَشْكُرُوْنَهٗ	وَلَايَدْعُوْنَهٗ	ثُمَّ	قَالَ	هَلْ

الله ! يې هغه خلقو طرف ته شړي چې نه يې شكر اداء كوي او نه يې يادوي بيايې وفرمايل پوهيږئ

تَدْرُوْنَ	مَا	فَوْقَكُمْ	قَالُوْا	اَللهُ	وَرَسُوْلُهٗ

چې ستا سو نه دپاسه چې كوم آسمان دى هغه څه شى دى صحابو رضي الله عنهم جواب وركړو الله ! او د هغه رسول

أَعْلَمُ	قَالَ	فَإِنَّهَا	الرَّقِيْعُ	سَقْفٌ	مَّحفُوْظٌ

ښه پوهيږي حضور ﷺ وفرمايل ستا سو نه بره څيز رقيع دى چې يو محفوظ چت او نه غورځيدونكى

وَمَوْجٌ	مَّكْفُوْفٌ	ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	تَدْرُوْنَ	مَا	بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَهَا	قَالُوْا

موج دى بيايې وفرمايل پوهيږئ چې ستا سو او د آسمان په مينځ كې څومره فاصله ده ؟ صحابو رضي الله عنهم

اَللهُ	وَرَسُوْلُهٗ	أَعْلَمُ	قَالَ	بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَهَا

جواب وركړه الله ! او د هغه رسول ښه پوهيږي حضور ﷺ وفرمايل چې ستاسي او د آسمان په مينځ كې

خَمْسِمِائَةِ	عَامٍ	ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	تَدْرُوْنَ	مَا	فَوْقَ	ذٰلِكَ

د پنځه سوه كاله مسافت په اندازه فاصله ده بيايې وفرمايل خبر يې چې د آسمان دپاسه څه دي

قَالُوْا	اَللهُ	وَرَسُوْلُهٗ	أَعْلَمُ	قَالَ

صحابو رضي الله عنهم جواب وركړو الله ! او د هغه رسول ښه پوهيږي حضور ﷺ وفرمايل ددې

سَمَاءَ	انِ	بُعْدُ	مَابَيْنَهُمَا	خَمْسِمِائَةِ	سَنَةٍ

آسمان نه علاوه بيا بره او لاندې دوه آسمانونه دي او د هغه دوو آسمانونو په مينځ كې هم د پنځه سوه كالو مسافت دى

ثُمَّ	قَالَ	كَذٰلِكَ	حَتّٰى	عَدَّ	سَبْعَ	سَمَاوَاتٍ

دغه شان حضور ﷺ يو بل پسې د هر آسمان ذكر وكړو تر دې پورې چې داوو آسمانونو باره كې يې وښودل چې

مَّا	بَيْنَ	كُلِّ	سَمَائَيْنِ	مَا	بَيْنَ	السَّمَاءِ	وَالْاَرْضِ

په هغو كې د هر آسمان نه دوهم آسمان پورې فاصله هغه ده كومه چې د ځمكې او آسمان په مينځ كې ده يعني د پنځه سوه كالو

ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	تَدْرُوْنَ	مَا	فَوْقَ ذٰلِكَ

د مسافت په قدر دي نه روسته يې وفرمايل معلومه ده درته چې د آخري آسمان د پاسه څه دي؟

قَالُوا	اَللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	أَعْلَمُ	قَالَ	إِنَّ	فَوْقَ	ذٰلِكَ

صحابو رَضِيَ اللهُ عَنهُم جواب ورکړو الله! او د هغه رسول ښه پوهيږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ددې اووم

الْعَرْشُ	وَبَيْنَهٗ	وَبَيْنَ	السَّمَاءِ	بُعْدُ	مَا	بَيْنَ

او آخري آسمان د پاسه عرش دی او د هغه عرش او د هغه نه د لاندي آسمان په مينځ کې هغه فاصله ده

السَّمَائَيْنِ	ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	تَدْرُوْنَ	مَا	الَّذِيْ	تَحْتَكُمْ قَالُوْا

کومه چې ددوو آسمانونو په مينځ کې ده بيا يې وفرمايل پوهيږئ ستاسو لاندي څه دي صحابو رَضِيَ اللهُ عَنهُم

اَللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	أَعْلَمُ	قَالَ	إِنَّهَا	الْأَرْضُ

عرض وکړو الله! او د هغه رسول ښه پوهيږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د تهولو د پاسه ځمکه ده

ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	تَدْرُوْنَ	مَا	الَّذِيْ	تَحْتَ	ذٰلِكَ	قَالُوْا	اَللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ أَعْلَمُ

بيا يې وفرمايل پوهيږئ د هغه لاندي څه دي صحابو رَضِيَ اللهُ عَنهُم عرض وکړو الله! او د هغه رسول ښه پوهيږي

قَالَ	إِنَّ	تَحْتَهَا	أَرْضًا	أُخْرٰى	بَيْنَهُمَا

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د هغې لاندي يوه بله ځمکه ده او د دې دواړو ځمکو په مينځ کې د

مَسِيْرَةُ	خَمْسِمِائَةِ	سَنَةٍ	حَتّٰى	عَدَّ	سَبْعَ	أَرَضِيْنَ

پنځه سوه کالو د مسافت په قدر فاصله ده دغه شان حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اووه ځمکې وشميرلې او وې

بَيْنَ	كُلِّ	أَرَضِيْنِ	مَسِيْرَةُ	خَمْسِمِائَةِ	سَنَةٍ

ښودله چې په دې کې د هرې ځمکې نه دوهمې ځمکې پورې درميانه فاصله د پنځه سوه کالو د

ثُمَّ	قَالَ	وَالَّذِيْ	نَفْسُ	مُحَمَّدٍ	بِيَدِهٖ	أَنَّكُمْ

مسافت ده بيا يې وفرمايل قسم دی په هغه ذات چې د هغه لاس کې د محمد ساه ده که تاسو د

دَلَّيْتُمْ	بِحَبْلٍ	إِلَى	الْأَرْضِ	السُّفْلٰى	لَهَبَطَ

تهولو نه لاندي ځمکې ته رسۍ زوړنده کړئ نو په الله! باندې به ورخکته شي دې نه وروسته

عَلَى اللهِ ثُمَّ قَرَأَ هُوَ الْأَوَّلُ

حضور ﷺ دا آیت وو ایه (هُوَالاَوَّلُ.....) یعني هغه الله اول (قدیم) دی چې د هغه د پاره هیڅ ابتداء

وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ.

نشته او آخر باقي دی چې د هغه د پاره څه انتهاء او اختتام نشته او د ظاهر دی او باطن دی شیان پېژني

رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ قِرَاءَةُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دا روایت احمد رحمه الله او ترمذي رحمه الله نقل کړی دی او ترمذي رحمه الله ویلي دي چې د رسول الله ﷺ

الْآيَةَ تَدُلُّ عَلَى أَنَّهُ أَرَادَ الْهَبْطَ عَلَى عِلْمِ اللهِ

خپل ارشاد نه روسته دا آیت ویل په دې دلالت کوي چې د الله ! د پاسه د رسۍ د خکته کیدو نه مراد

وَقُدْرَتِهِ وَسُلْطَانِهِ وَعِلْمُ اللهِ وَقُدْرَتُهُ

دا دی چې هغه رسۍ به د الله ! په علم ورخکته شي ځکه چې د هغه علم او د هغه قدرت او د هغه حکومت په هر

وَسُلْطَانُهُ فِي كُلِّ مَكَانٍ وَهُوَ عَلَى الْعَرْشِ كَمَا وَصَفَ نَفْسَهُ فِي كِتَابِهِ(۱)

ځای کې دی او هغه بذات خود پر عرش باندې دی څرنګه چې خپله هغه په خپل کتاب کې خپل وصف بیان کړی دی.

توضیح: العنان: حضور ﷺ د سحاب دویم نوم وښودلو چې العنان دی بیا هغه ﷺ ددې کار وښودلو چې دا (روایا الارض) ده دا د راویة جمع ده دا هغې اوښې ته ویل کیږي چې د هغې په واسطه ځمکې ته اوبه ورکول کیږي ، دې وریځې ته روایا الارض ځکه ویل کیږي چې دا هم د راویة اوښې پشان اوبه د یو ځای نه بل ځای ته وړي .

لایشکرونه: یعني دغه وریځ هغو خلکو ته هم اوبه منتقل کوي کوم چې د الله تعالی د نعمتونو شکریه نه اداء کوي بلکه داسې ناشکری یې کوي چې د اوبو نسبت غیر الله ته کوي . کله په شرک کې پریوتلو سره غیر الله ته آواز کوي ، کله الله تعالی پریږدي د بتانو پسې منډې وهي . ددې معاصیو تقاضا خو دا وه چې په دوی باندې اوبه بندې شوې وی لیکن د الله تعالی دسترخوان عام دی ، هغه رحمان دی او ربوبیت عامه او تربیت عامه د هغه په لاس کې دی ، هغه رب العلمین دی په دغه وجه ټولو ته د وړ ی ورکوي .

(۱) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۹۳ رقم الحدیث ۴۷۲۳ والترمذي ۵/۳۷۶ رقم الحدیث ۳۲۹۸.

الرقيع: د دنيا د آسمان نوم رقيع دی او همدا محفوظ چت دی چې د غورځيدلو نه محفوظ دی .

موج مکفوف: يعنې دغه آسمان يو زبردست موج دی مګر د غورځيدو نه محفوظ دی ، د اوبو موج وهونکی سمندر دی ليکن اوبه نه بهيږي ، بند او محفوظ دی . ګويا دا اسمان يو موج دی چې په هوا کې معلق (زوړند) دی .

لهبط على الله: يعنې د انسان د اوسيدلو والا ځمکې نه علاوه لاندې شپږ ځمکې نورې هم دي چې همداسې يو په بل پسې دي چې کچيرې د پاسه نه کوم کس لاندې طرف ته رسی. وغورځوي نو هغه به سيده الله تعالى ته ورسيږي ، مطلب دا دی چې لکه څنګه چې پاس په آسمانونو کې د الله تعالى ذات موجود دی همدارنګه لاندې هم د الله تعالى حکم او د هغه علم دی ، داسې نه ده چې پاس خو د الله تعالى حکم چليږي او لاندې په سفلياتو کې د کوم بل چا حکم نافذ وي چې د الله تعالى د اختيار نه بيرون وي. بعضې علماء وايي لکه څنګه چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاس په آسمانونو کې معراج وشو همدارنګه لاندې په اوومه ځمکه کې په سمندر کې د حضرت يونس عَلَيْهِ السَّلَامُ معراج وشو . په قرآن کې همدغه عموم قدرت او شمول الوهيت ته په دې آيت کې اشاره ده ﴿وَهُوَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ إِلَٰهٌ وَفِي الْأَرْضِ إِلَٰهٌ﴾.

د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ قد

﴿۳۷﴾وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ طُوْلُ آدَمَ
او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ
سِتِّيْنَ ذِرَاعًا فِيْ سَبْعِ أَذْرُعٍ عَرْضًا . (۱)
قد شپيته لاسه اوږد او اوه لاسه پلن وو.

د انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ تعداد

﴿۳۸﴾وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَيُّ الْأَنْبِيَاءِ كَانَ أَوَّلَ
او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما عرض وکړو يا رسول الله! د ټولو نه مخکې نبي څوک دی؟

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۲/۵۳۵

قَالَ اٰدَمُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَنَبِيٌّ كَانَ قَالَ نَعَمْ نَبِيٌّ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل حضرت آدم ما ويا پوښتنه وکړه آيا حضرت آدم نبي وو؟ وې فرمائيل هو نبي وو

مُكَلَّمٌ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ

هغه ته الله رب العٰلمين سره د خبرو کولو شرف حاصل شوی دی دي نه روسته ما پوښتنه وکړه يارسول الله!

كَمِ الْمُرْسَلُوْنَ قَالَ ثَلَاثُمِائَةٍ

انبياوو کې رسولان ځومره تير شوي دي؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل کافي تعداد کې دري سوه

وَبِضْعَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيْرًا وَفِيْ رِوَايَةِ عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ

لس نه بڅه زيات تعداد کې وي او په يوه روايت کې د ابو امامه تابعي رحمه الله نه دا الفاظ منقول دي چې

قَالَ أَبُوْ ذَرٍّ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَمْ وَفَاءُ عِدَّةِ الْأَنْبِيَاءِ

حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو يارسول الله! د ټولو انبياؤ تعداد ځومره دی؟

قَالَ مِائَةُ أَلْفٍ وَأَرْبَعَةٌ وَعِشْرُوْنَ أَلْفًا اَلرُّسُلُ مِنْ ذٰلِكَ ثَلَاثُمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيْرًا. [1]

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل يو لاک ځليريشت زره په دي کې رسولان دري سوه پنځلس دي چې کافي لوی تعداد دی.

توضيح : **مأة الف**: د انبياء کرامو په تعداد کې د احتياط نه کار اخيستل ضروری دي ، د بعضو حضراتو په نبی او ولی کيدلو کې اختلاف راغلی نو د حتمی عدد په ذکر کولو کې خطره ده چې چيرته کوم غيرنبی د انبياو په صف کې داخل نشي او کوم واقعی نبی خارج نشي په دغه وجه د انبياؤ د تعداد سره د کم او زيات لفظ لګول پکار دي مثلا يو لک او ځلورويشت زره کم او زيات ويل پکار دي ، حضرت خضر او ذوالقرنين او د لقمان حکيم په نبی کيدو او نه کيدو کې اختلاف دی ، نو ځکه احتياط ضروری دی .

اوريدل دليدلو په شان نه وي

﴿۳۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د څه شي باره کې اوريدل هغه په

---

(۱) اخرجه أحمد في المسند ۵/۱۷۸

لَيْسَ	الْخَبَرُ	كَالْمُعَايَنَةِ	إِنَّ	اللهَ	تَعَالَىٰ	أَخْبَرَ	مُوسَىٰ	بِمَا
ستر کو سره د لیدو برابر کیدي نشي الله! حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د هغه د قوم د هغه عمل باره کې								
صَنَعَ	قَوْمُهُ	فِي	الْعِجْلِ	فَلَمْ	يُلْقِ	الْأَلْوَاحَ		
خبر ورکړه چې هغوئ د سخي د عبادت په صورت کې کړی وو نو هغه د قهر نه تختي ونه غورځولي								
فَلَمَّا	عَايَنَ	مَا	صَنَعُوا	أَلْقَى	الْأَلْوَاحَ			
لیکن کوم وخت چې خپل قوم ته راغلي او خپلو ستر کو سره یې د قوم هغه عمل اولیدلو نو دومره								
فَانْكَسَرَتْ.	رَوَى	الْأَحَادِيثَ	الثَّلَاثَةَ	أَحْمَدُ.(۱)				
غوسه شو چې تختې یې وغورځولي او هغه ماتې شوې دا دري واړه حدیثونه احمد نقل کړي دي								

توضیح : **لیس الخبر کالمعاینة**: یعنې په خپلو ستر کو سره د لیدلو نه پس یو طبعی اثر پیدا کیږي او که نه د ربنتیا په اعتبار سره د الله تعالی د خبر ورکولو کې څه شبه پاتې کیدلی شي مګر د خبر په وخت کې په موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې هغه اثر ونشو کوم اثر چې په خپلو ستر کو د لیدلو نه بعد وشو،

نو ځکه ویلی شوي دي چې (**شنیده کی بود مانند دیده**) حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د تحقیر او تذلیل او توهین لپاره تختې ونه غورځولې بلکه د الله تعالی په دین باندې د غیرت په بنیاد یې په ځمکه باندې په زور سره کیښودلې چې د هغې په وجه ماتې شولې، حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ کوه طور ته د معراج لپاره تللی وو هلته هغه ته په تختو باندې لیکل شوی تورات ورکړی شو او همالته الله ده ته وویل چې ستا قوم سامری د سخي په عبادت پرستی کې ګمراه کړی دی، هلته دومره غوسه ورته رانغله مګر چې کله یې په خپله مشاهده وکړه نو د غوسې په شدت کې یې تورات په زور سره په ځمکه باندې کیښود چې د دې په وجه د تورات تختې ماتې شوې.

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۱/۲۷۱.

کتاب المناقب

علامه طیبی رَحِمَهُ اللهُ د کتاب الفتن نه بعد موقع په موقع د کتاب د عنوان سره څو مباحث ذکر کړي دي او دلته هغه د **کتاب الفضائل والشمائل** عنوان ایخی دی ، صاحب د مشکاة دلته د باب فضائل سیدالمرسلین عنوان ایخی دی ، ما په **کتاب الفتن** کې دیته اشاره کړې وه چې بعضو شارحینو اعتراض کړی دی چې صاحب د مشکوة د **کتاب الفتن** د عنوان لاندې فضائل او مناقب څنګه درج کړي دي؟ هلته دا جواب ورکړی شوی وو چې تر کومه ځایه چې د فتنو احادیث وي تر هغه ځایه **کتاب الفتن** شامل دی مخکې فتن نشته بلکه د هغې نه بعد فضائل شروع دي ، هلته دا هم لیکل شوي دي چې د بعضو شارحینو وینا ده چې دلته د **کتاب الفتن** عنوان وو لیکن په کاتبینو کې کوم یوه دلته د **کتاب الفضائل** په ځای **باب الفضائل** لیکلی دی . په هر حال زه دلته د **کتاب المناقب** عنوان ږدم ځکه چې د حدیثو په ټولو کتابونو کې که هغه سنن وي یا جوامع وي د **کتاب المناقب** عنوان ایښودلی شوی دی او په آینده ټولو بابونو کې د مناقب لفظ په خپله صاحب د مشکاة غوره کړی دی نو ان شاء الله د **المناقب** عنوان به بې ځایه نه وي بلکه په ځای به وي ، خصوصا چې کله علامه طیبی رحمه الله د **کتاب الفضائل** لفظ اختیار کړی دی نو د **فضائل** لفظ په ځای صرف مونږ ته د **المناقب** لفظ اضافه کولو زحمت پریوځي ، الله تعالی دې ما په دې تصرف کې معاف کړي چې چیرته د بزرګانو په حق کې سوء ادب رانشي دلته ملاعلی قاری رحمه الله هم په مرقات کې د **کتاب الفضائل** عنوان ایخی دی او بیا یې لیکلي دي چې اګرچې په اصل نسخو کې دغه عنوان نشته لیکن مونږ د احادیثو د کتابونو صحاح او سنن په نقش قدم او د ابوابو د مباحثو په پیش نظر سره داسې کړي دي .

المناقب: دا جمع ده ددې مفرد **منقبة** دی په اخلاق حمیده او افعال مرضیه او اوصاف عالیه کمالیه باندې د منقبت اطلاق کیږي ، دلته تر آخره پورې په ټولو احادیثو کې هم دغه اوصاف بیانیږي ، د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مناقبو نه واخله د خلفاء راشدینو او ټول صحابه او صحابیات ، اهل بیتو او عشره مبشرو او د مختلفو قبائلو او ددې امت تر مناقبو پورې ټول مناقب ددې کتاب المناقب لاندې راځي او ټوله معامله به آسانه شي .

باب فضائل سيد المرسلين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د رسولانو د سردار محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فضائلو بيان

د كوم انسان په وس كې نشته چې د آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فضائل او مناقب او صفات حميده كماحقه بيان كړي شي ! په كومه ژبه كې دا طاقت نشته چې د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول فضائل او اوصافو باندې احاطه وكړي ، خو صاحب د مشكوة د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فضائلو سره متعلق يو څو احاديث ددې عنوان لاندې درج كړي دي ګويا دا د مشت نمونه خروار مصداق دي . كوم د الله والا شاعر صحيح نقشه پيش كړې ده او فرمايلي يې دي :

خدا در انتظار حمد ما نيست — محمد چشم بر راه ثنا نيست

خدا مدح آفرين مصطفى بس — محمد حامد حمد خدا بس

محمد از تو مي خواهم خدا را — خدايا از تو عشق مصطفى را

د علماء كرامو په دې باندې اتفاق دى چې هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سيد البشر او سيد ولد آدم دى ، د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس د حضرت ابراهيم خليل الله مقام دى او بيا د حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَام مقام دى بيا علماؤ د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَام او بيا د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَام درجه ښودلې ده ، دغه پنځه اولو العزم انبياء كرام دي، د دوى نه وروسته د تعيين لپاره چا څه ويلي نه دي نو مونږ هم څه ويلى نشو .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خانداني او نسبي فضل او شرف

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُوْنِ بَنِي آدَمَ
او ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل زه يو بل پسې د هرقرن د بني آدمو
قَرْنًا فَقَرْنًا حَتَّى كُنْتُ مِنَ الْقَرْنِ الَّذِيْ كُنْتُ مِنْهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[1]
په ښه طبقو كې منتقل كولى شوم تردې پورې چې زه دې موجوده قرن كې پيدا شوم [بخاري]

توضيح : قرون: د قرن جمع ده ددې اطلاق په زمانې باندې هم كيږي او د انسانانو په يوې طبقې باندې هم كيږي، په سلو كلونو ، شلوېښتو كلونو او اتيا (۸۰) كلونو باندې هم د قرن اطلاق كيږي

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۶ رقم الحديث ۳۵۵۷ واحمد في المسند ۲/۳۷۳ .

دلته د مختلفو زمانو مختلف طبقات مراد دي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې زه د بهترينو طبقو نه په تيريدلو راغلى يم ، په كومې طبقې كې چې زما آباء او اجداد وو هغه بهترينې طبقې وې چې د هغوى ذات او خانداني شرافت او طني عزت او عظمت ، تهذيب او پوهه او متانت ، قوت فيصله او جرأت او شجاعت مشهور او معروف وو ، زه او هغه خلك د معاشرې بهترين افراد شمارل كيدل.د علماؤ متفقه فيصله ده او په دې كې د هيڅا كلام نشته چې په انبياء كرامو كې د ټولو نه افضل د حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذات بابركات دى ، بيا حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ افضل دى بيا د حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ مقام دى د دينه وروسته په تفصيل كې هيڅ تفصيل نشته البته اولو العزم انبياء كرام پنځه دي :(۱) حضرت محمد مصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (۲) حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ (۳) حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ (۴) حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ (۵) او حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ

﴿۲﴾ وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت واثله ابن اسقع وايي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل حقيقت دا دى چې الله !

يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ اصْطَفٰى كِنَانَةَ مِنْ وُّلْدِ إِسْمَاعِيْلَ وَاصْطَفٰى قُرَيْشًا

د حضرت اسمٰعيل) د اولاد نه كنانه چڼ كړل او ددې كنانه د اولاد نه يې قريش منتخب كړل

مِنْ كِنَانَةَ وَاصْطَفٰى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِيْ هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِيْ مِنْ بَنِيْ هَاشِمٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

او د قريشو د اولاد نه يې بني هاشم چڼ كړل او بني هاشمو كې يې زه چڼ كړم. [مسلم]

وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ إِنَّ اللهَ اصْطَفٰى مِنْ وُّلْدِ إِبْرَاهِيْمَ

ترمذي رحمه الله په يوه روايت كې دا الفاظ هم دي چې الله ! د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ په اولاد كې

إِسْمَاعِيْلَ وَاصْطَفٰى مِنْ وُّلْدِ إِسْمَاعِيْلَ بَنِيْ كِنَانَةَ.[1]

اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَامُ انتخاب كړه او د اسمٰعيل اولاد كې يې بني كنانه انتخاب كړه .

توضيح : ملا علي قاري رحمه الله د حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نسب نامه تر عدنان پورې ليكلې ده او فرمايلي يې دي چې د دينه زيات بيانول صحيح نه دي (يعني په دې كې اختلاف دى) لكه هغه فرمايي :

---

(۱) أخرجه مسلم ۴/۱۷۸۲ رقم الحديث (۲۲۷۶.۱) وأخرجه الترمذي ۵/۵۴۴ رقم الحديث ۳۶۰۵.

هو ابو القاسم محمد بن عبدالله بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبدمناف بن قصي بن كلاب بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن نضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن الياس بن مضر بن نزار بن معد بن عدنان ولايصح حفظ النسب فوق عدنان . . . (مرقات)

من ولد ابراهیم: د ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَامُ دوه ځامن وو یو حضرت اسحاق عَلَیْهِ السَّلَامُ وو د بنی اسرائیلو د انبیاؤ سلسله دده نه جاری شوې ده ، دویم حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ وو ، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده په اولاد کې راغلی دی او صرف حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درّ یتیم نبی وو ، الله تعالی د حضرت اسماعیل عَلَیْهِ السَّلَامُ په اولاد کې کنانه منتخب کړلو او د کنانه په اولاد کې یې قریش غوره کړل او د قریشو په اولاد کې یې بنوهاشم غوره کړل او د بنوهاشم نه یې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غوره کړلو او هغه یې سید الاولین والآخرین وګرځولو .

د قیامت په ورځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرداري

﴿۳﴾ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د قیامت په ورځ به زه د ټول اولاد
اَنَا سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاَوَّلُ مَنْ يَّنْشَقُّ عَنْهُ
آدم سرداریم او د ټولو نه مخکې به د قبر نه زه را اوچتیږم او د ټولو نه مخکې به زه شفاعت کوم
الْقَبْرُ وَاَوَّلُ شَافِعٍ وَّاَوَّلُ مُشَفَّعٍ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .(۱)
او د ټولو نه مخکې زما شفاعت به قبلیږي. [مسلم]

توضیح: سید: سید هغه مشر ته ویل کیږي چې په ټولو صفات حمیدو کې یې په خپل قوم باندې سبقت کړی وي .یوم القیامة: دغه سرداری یې د قیامت په ورځ ځکه مقید کړه چې د کمال سردارۍ ظهور په انسانانو باندې هغه وخت راځي چې کله ټول انسانان په یو ځای جمع شي او هغوی به په قیامت کې جمع کیږي لهذا د سردارۍ تکمیل به په قیامت کې کیږي .

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۸۲ رقم الحديث (۲۲۷۸.۳) وأبوداود ۴/۵۴ رقم الحديث ۴۶۷۳.

دپیغمبر علیه السلام دیو څو خصوصیاتو ذکر

﴿۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَكْثَرُ الْأَنْبِيَاءِ
انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د قيامت په ورځ به د پيغمبرانو نه چې د
تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ أَنَا أَوَّلُ
کوم پيغمبر د منونکو تعداد د ټولو نه زيات وي هغه به زه يم او د جنت دريو ازه چې د ټولو نه مخکې
مَنْ يَقْرَعُ بَابَ الْجَنَّةِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
کوم سړی ټکوي هغه به هم زه يم. [مسلم]

توضيح : تبعا: يعنې د قيامت په ورځ به متبعين او پيروي کونکي د ټولو نه زيات د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وي ځکه چې د هغه معجزه قرآن دی او قرآن د عالم لپاره هادي دی نو تر څو پورې چې کائنات باقي وي قرآن به باقي وي چې په دې سره به خلک اسلام ته راځي . ددې باب په دې احاديثو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مختلف خصوصيات بيان شوي دي ، مناسبه معلوميږي چې دغه ټول خصوصيات يو ځای وليکل شي تر څو په يادولو کې آساني وي ، د راتلونکي حديث نمبر۹ توضيح هم همدا ده .(۱) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټولو نه په ښه طبقه کې راغلی دی . (۲) د ټولو انسانانو سردار شو . (۳) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متبعين به د ټولو نه زيات وي (۴) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ټولو نه مخکې د قيامت په ورځ د خپل قبر نه پورته کيږي .(۵) د ټولو نه مخکې شفاعت به هغه کوي . (۶) د ټولو نه مخکې به د جنت دروازه هغه خلاصوي(۷) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاتم النبيين دی(۸) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د قرآن په صورت کې دائمي معجزه ورکړی شوه . (۹) هغه ته داسې رعب او دبدبه ورکړی شوې ده چې ددې په وجه تر يوې مياشتې مسافت پورې په دشمن باندې رعب پريوځي . (۱۰) ټوله ځمکه د هغه لپاره مسجد ګرځولی شوې . (۱۱) خاوره د هغه لپاره د طهارت تيمم ذريعه ګرځولی شوې ده . (۱۲) هغه د ټولې دنيا د ټولو انسانانو لپاره نبي ليږلی شوی دی . (۱۳) هغه ته جوامع الکلم ورکړی شوې دي . (۱۴) د غنيمت مال د هغه لپاره حلال کړی شو . (۱۵) هغه ته د ځمکې د خزانو کلياني (چابيانې) ورکړی شوې . (۱۶) ټوله ځمکه راټوله کړی شوه هغه ته وښودلی شوه . (۱۷) تر کومه ځايه چې هغه ليدلي تر هغه ځايه [redacted] هغه حکومت او دين خوريږي . (۱۸) هغه ته سرې او سفينې

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۸۸ رقم الحديث ۱۹۶/۳۳۱.

دوه قسمه خزانې ورکړې شوې يعنې د فارس او روم فتحه (۱۹) په عامې قحطۍ او د دشمن په عمومي غلبې سره به دده امت نه تباه کيږي. (۲۰) هغه د عربو لپاره پناهګاه ليږلی شوی دی. (۲۱) د ټولو نه مخکې هغه د نبوت په انواراتو سره ونازولی شو. (۲۲) هغه د حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د دعاء په نتيجه کې نبي راغی. (۲۳) د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د بشارت په نتيجه کې راغی. (۲۴) ټول انبياء او ټول مخلوق به د قيامت په ورځ د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنډې لاندې جمع کيږي. (۲۵) حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حبيب الله جوړ شوی دی. (۲۶) د محشر په ميدان کې به صرف هغه خطيب وي. (۲۷) په قيامت کې به هغه د ټول مخلوق لپاره مبشر وي. (۲۸) په محشر کې به يو زر چاغ او تکړه بنايسته خادمان د هغه سره وي. (۲۹) هغه ته به په قيامت کې حُله د کرامت واغوستلی شي او د عرش د پايې سره به ځای ورکړی شي. (۳۰) هغه ته به په جنت کې مقام وسيله ورکړی شي. (۳۱) هغه ته به خصوصي حوض کوثر ورکړی شي. (۳۲) د هغه مخکينی او وروستنی ټولې خطاګانې معاف شوي دي. (۳۳) هغه ته د ثابتت مونځ عطاء کړی شو. (۳۴) که ټول مخلوق يو طرف وي او هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دويم طرف وي نو د هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وزن به زيات شي. خلاصه دا ده چې:

محمد سيد الكونين والثقلين   والفريقين من عرب و من عجم

د جنت دروازه به د ټولو نه مخکې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره خلاصه شي

﴿۵﴾وَعَنْهُ قَالَ. رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هرکله چې د قيامت په ورځ د جنت
آتِيْ بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَسْتَفْتِحُ فَيَقُوْلُ الْخَازِنُ
دروازې باندې راشم او د هغې په خلاصول غواړم نو د جنت نګهبان به زما نه پوښتنه وکړي چې
مَنْ أَنْتَ فَأَقُوْلُ مُحَمَّدٌ فَيَقُوْلُ بِكَ أُمِرْتُ اَنْ لَا
تاسو څوک يې زه به ورته وايم چې زه محمد يم بيا به نګهبان ووايي چې ما ته حکم راکړی شوی
أَفْتَحَ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]
دی چې ستا نه مخکې هيچا ته دريو ازه نه کړم خلاصه (کولاو). [مسلم]

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۸۸ رقم الحديث (۳۳۳.۱۹۷) واحمد في المسند ۳/۱۳۶.

د ټولو نه مخکي به حضور ﷺ شفاعت کوي

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ

او حضرت انس, وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمايل په جنت کې به د ټولو نه مخکې سفارش

شَفِيْعٍ فِي الْجَنَّةِ لَمْ يُصَدَّقْ

کونکی زه يم يعني خپل امت جنت کې د داخلولو يا د اهل جنت د مراتبو درجات د ترقي سفارش

نَبِيٌّ مِّنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ

ز: نوم په انبياو کې چې څومره تصديق زما شوی دی دومره د بل هيڅ نبي نه دی شوی يعني زما

وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا

د نبوت او رسالت تصديق کونکو او په ما باندې د ... د ... ونکو او ايمان لرونکو تعداد د ټولو

مَا صَدَّقَهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا

نه زيات دی دغه شان د ټولو امتونو په مقابله کې زما د امت تعداد د ټولو نه لوی دی. او حقيقت

رَجُلٌ وَّاحِدٌ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

دا دی چې انبياو کې يو نبي داسې هم تير شوی دی چې د هغه تصديق صرف يوه سړي کړی دی.

توضيح : في الجنة: دلته د في حرف د تعليل لپاره دی ای اول **شفيع لاجل الجنة ای لدخولها**.

(**ماصدقت**) دلته ما مصدريه دی ای مقدار تصديقي يعني څومره تصديق چې زما شوی دی د...
تصديق د کوم بل نبي ندی شوی. ددې لپاره اصل وجه دا ده چې د باقي انبياؤ معجزات وختي ود
چې کله ... د دنيا نه لاړلو نو د هغوی نه وروسته د هدايت سامان نه پاتې کيده ليکن حضور
ﷺ ته د قرآن معجزه ورکړی شوې ده چې تر قيامته پورې به برقراره پاتې کيږي په دغه وجه
به د نبي کريم ﷺ منونکي خلک زيات وي.

---

[1] ... في صحيحه ۱/۱۸۸ رقم الحديث (۱۹۶.۳۳۲) وأحمد في المسند ۳/۱۴۰.

د ختم نبوت محل

﴿۷﴾وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل زما او د نورو ټولو انبياو مثال د

مَثَلِيْ وَمَثَلُ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ أُحْسِنَ بُنْيَانُهُ

هغه محل په شان دى چې د هغه در او ديوار ډير شاندار او ښه وي ليکن په هغه ديوال کې د يوې

تُرِكَ مِنْهُ مَوْضِعُ لَبِنَةٍ فَطَافَ بِهِ النُّظَّارُ يَتَعَجَّبُوْنَ

خښتې ځاى خالي پاتې شوى وي او هر کله چې خلق د هغه محل چاپيره ګرځيدو سره د عمارت شان

مِنْ حُسْنِ بُنْيَانِهِ إِلَّا مَوْضِعَ تِلْكَ اللَّبِنَةِ فَكُنْتُ

وشوکت او د در او ديوار خوشنمائي به هغوئ حيرت کې واچوي خو د يوې خښتې په قدر هغه

أَنَا سَدَدْتُ مَوْضِعَ اللَّبِنَةِ خُتِمَ بِيَ الْبُنْيَانُ

خالي ځاى ليدو سره به هغوئ ته تعجب وي نو د هغه خښتى ځاى ډکونکى زه يم د هغه عمارت

وَخُتِمَ بِيَ الرُّسُلُ وَفِيْ رِوَايَةٍ فَأَنَا اللَّبِنَةُ

تکميل زما ذات دى او د انبياو او رسولانو د سلسلي اختتام په ما شوى دى او په يوه روايت کې

وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۱)

دا الفاظ دي چې زه هغه خښته يم او زه د نبيانو سلسله اختتام ته رسونکى يم. [بخارى او مسلم]

د پيغمبر عليه السلام د ټولو نه لويه معجزه قرآن کريم دى

﴿۸﴾وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ

او ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل انبياو کې هريو نبي ته د معجزاتو

(۱) اخرجه البخاري ۶/۵۵۸ رقم الحديث ۳۵۳۵ ومسلم في صحيحه ۴/۱۷۹۰ رقم الحديث (۲۲۸۶-۲۱)

مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أُعْطِيَ مِنَ الْآيَاتِ مَا مِثْلُهُ آمَنَ
نه دو مره ورکړی شوي دي چې په هغه انسان ایمان راوړی شي او کومه معجزه چې ما ته حاصله
عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِيْ أُوْتِيْتُ وَحْيًا
شوه هغه د الله ! وحي ده چې هغه يې زما طرف ته رالیږلي ده او همیشه باقي پاتې کیدونکې ده
أَوْحَى اللهُ إِلَيَّ فَأَرْجُوْ أَنْ أَكُوْنَ أَكْثَرَهُمْ
په دي بناء زما یقین دی چې د قیامت په ورځ به زما د منونکو تعداد د ټولو انبیاو د منونکو د
تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [1]
تعداد نه زیات وي. (بخاری و مسلم)

توضیح : من نبی : دلته لفظ د من زائد دی چې دا علامه روح المعانی د سیف خطیب په نوم سره یادوي تر څو ادب برقراره وي او بې ادبی رانشي ځکه د خطیب توره په کتلو کې خو توره وي لیکن د کار توره نه وي همدارنګه دا حرف هم دی.

من الآیات: د آیات نه معجزات مراد دي یعنې د هر نبی د نبوت د دعوې د اثبات لپاره الله تعالی مافوق العادة معجزات عطاء کړي دي.

ما مثله: ما موصوله دی چې د المقدار الذی په معنی سره دی، د دېنه وروسته مثله مبتدا ده او آمن علیه البشر یې خبر دی، مبتدا سره د خبر نه صله ده د موصول لپاره، موصول سره د خپلې صلې نه د اعطی لپاره مفعول ثانی شو، تقدیر د عبارت داسې دی یعنې **لیس نبی من الانبیاء الا قد اعطاه الله تعالی من المعجزات الدالة علی نبوته المقدار الذی من صفته انه اذا شوهد اضطر الشاهد الی الایمان به. (مرقات بتغییر یسیر)**

د حدیث مطلب دا دی چې الله تعالی نورو انبیاؤ ته په دومره اندازه معجزات ورکړي وو په څومره باندې چې صرف خلکو ایمان راوړی دی یعنې هغه معجزات پایداره او دائمی نه وو بلکه چې کله خلکو ولیدله او په هغه یې ایمان راوړلو نو معجزه به ختمه شوله یا به زیات نه زیات د هغه نبی تر

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۹/۳ رقم الحديث ۴۹۸۱ أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۳۴ رقم الحديث (۱۵۲.۲۳۹)

ژونده هغه معجزه باقی پاتې شوې ده لکه ید بیضاء ، عصا د موسی ، دم عیسی ، او ناقه صالح وغیره، دا معجزات د دغه انبیاء کرامو په دنیا کې تر موجودګۍ پورې باقی وو بیا ختم شول.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ما ته چې کومه معجزه راکړل شوې هغه لوستل کیدونکي وحې ده چې د قرآن کریم په صورت کې ده دا معجزه کله هم ختمیدونکې نه ده بلکه دائمی معجزه ده ، په دې باندې به خلک ایمان راوړي لهذا زما متبعین او زما د امت خلک به د ټولو نه زیات وي ځکه چې دعوت هم عام دی ، معجزه هم ژوندۍ او ترابده کتاب الله دی.

الله تعالی معجزات د زمانې مطابق هر نبی ته ورکړي دي، د کوم نبی په زمانه کې به چې په ماحول باندې کوم شی حاوی او قابض وو د هغه د ماتولو لپاره به نبی ته معجزه ورکول کیدله ، لکه د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې د جادو چرچه وه نو د هغه معجزې ید بیضاء او عصا هغه جادو مات کړلو ، د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې د طب ډیر زیات زور وو نو هغه ته د احیاء اموات وغیره معجزه ورکړی شوه چې طب یې عاجزه کړلو . د حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې ټول نظام د تیږو په تراش و خراش باندې قائم وو هغوی ته معجزه هم د یوې تیږې نه د پیدا شده اوښې په شکل کې ورکړی شوه ، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې عربیت او د هغه عالمی فصاحت او بلاغت د آسمان عروج ته رسیدلی وو لهذا الله تعالی هغه ته د قرآن عظیم په شکل کې هغه فصیح او بلیغ کتاب ورکړلو چې په دې سره د عربو د فصیحو فصاحت د اوچت برج نه په ځمکه راپریوتلو ، د قریشو کفار چې د فصاحت او بلاغت عالمی دعویداره وه د قرآن پاک د وړوکی سورت مقابله ونکړی شوه ، قرآن هغوی ته یو وار نه بلکه څو کرته د مقابلې چیلنج ورکړلو لیکن هغوی د ژبې مقابله ونکړی شوه او میدانونو ته راکښته شول د تورو مقابله یې وکړه ، غاړې یې پرې کړلې او ښځې یې کونډې او ماشومان یې یتیمان کړل مګر په ژبه یې مقابله ونه کړی شوه ! دا د دې خبرې واضح دلیل وو چې دا د انسان جوړ شوی کلام نه دی بلکه د رب العالمین کلام دی چې د دې د نظیر راوړلو نه انسان عاجزه دی ، لکه د فصحاء عربو سره د فصاحت و بلاغت حروف او د مورنۍ ژبې ټول اسباب موجود وو بیا یې هم داسې کلام راوړلی نشو ، په همدې تناظر کې چا ویلي :

ماتحدا کم به خیر الانام   رکب مما ترکبوا الکلام

یعنې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د کوم کلام تاسو ته چیلنج درکړی وو د هغو حروفو نه جوړ شوی وو د کومو چې تاسو خپل کلام جوړوئ .

یو کرت حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سورت کوثر یو آیت ﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾ ولیکلو د بیت الله په پردې باندې یې ځوړند کړلو او چیلنج یې ورکړو چې د دې سره داسې مناسب کلام ولیکئ چې لفظی

او معنوی اعتبار سره مقصود حاصل شي . د فصحاء عربو یو بوډا د ډیر سوچ کولو نه وروسته د شکست اعتراف کولو سره ووېيل (والله ما هذا قول البشر) بوډا په حقیقت باندې لفظی طور سره خو اعتراف وکړو مګر په معنوی طور باندې یې د سورت کوثر حقیقت ته سوچ هم لانه رلو.

د حضور ﷺ یو څو خصائص

﴿۹﴾وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيْتُ خَمْسًا
او ابوهریره رضی الله عنه وايي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ماته پنځه داسې شیان راکړی
لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِيْ نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيْرَةَ
شویدي چې زما نه مخکې هیڅ نبي او رسول ته نه دي ورکړی شوي یو خو ماته د هغه رعب په
شَهْرٍ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُوْرًا
ذریعه نصرت راکړی شوی دی چې د یوې میاشتې د مسافت په لرې والی باندې اثر اندازکیږي
فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِيْ أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ
دوهم ټوله ځمکه زما دپاره جومات او پاکونکې ګرځول شوې ده زما دامت هرهغه سړی چې په هغه
فَلْيُصَلِّ وَأُحِلَّتْ لِيَ الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ
مونځ واجب وي د مونځ وخت ورباندې راشي که اوبه نه وي نو تیمم کولو سره دې مونځ وکړي دریم
لِأَحَدٍ قَبْلِيْ وَأُعْطِيْتُ الشَّفَاعَةَ وَكَانَ
زما دپاره مال غنیمت حلال وګرځول شو چې زما نه مخکې هیچا دپاره حلال نه وو څلورم زه د
النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ
شفاعت عظمٰی عامې مرتبې باندې مشرف شوی یم او پنځم زما نه مخکې هرنبي خاص طور سره

إِلَى النَّاسِ عَامَّةً . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ . (۱)

خپل قوم ته لیږل شوی وو حال دا دی چې زه د ځمکې د مخ ټولو حلقو طرف ته رالیږل شوی یم [بخاري مسلم]

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هریره روایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل ماته د شپږو مخصوصو څیزونو

قَالَ فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ أُعْطِيْتُ

په ذریعه نورو انبیاو باندې فضیلت راکړی شوی دی ماته جامع کلمات راکړی شوه د دشمنانو په

جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَأُحِلَّتْ

زړه کې د رعب اچولو په ذریعه ماته فتح او نصرت راکړی شو مالِ غنیمت زما د پاره حلال شو ټوله

لِيَ الْغَنَائِمُ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا

ځمکه زما د پاره مسجد او پاکونکې وګرځول شوه ټول مخلوق د پاره زه نبي راولیږل شوم او د

وَطَهُوْرًا وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ . [رَوَاهُ مُسْلِمٌ] (۲)

نبوت او رسالت سلسله په ما ختمه شوه . [روایت کړې دې مسلم]

د حضور ﷺ د پاره د خزانو چابیانې

﴿۱۱﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ

او ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول کریم ﷺ وفرمایل زه جامع کلماتو سره مبعوث

بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ وَ نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَ بَيْنَا أَنَا

شوی یم د رُعب په ذریعه ماته نصرت راکړی شوی دی او یوه ورځ کله چې زه او ده ومه نو ما

(۱) اخرجه البخاري ۱/۴۳۵ رقم الحديث ۳۳۵ ومسلم ۱/۳۷۰ رقم الحديث (۳/۵۲۱) والنسائي ۱/۲۰۹ رقم ۴۳۲.

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۷۱ رقم الحديث (۵.۵۲۳) وأحمد في المسند ۲/۴۱۲.

نَائِمٌ	رَأَيْتُنِي	أُتِيتُ	بِمَفَاتِيحِ	خَزَائِنِ	الْأَرْضِ

په خوب کې وليدل چې د ځمکې د خزانو چابياني ماته راکولو د پاره راوړل شوې او زما

فَوُضِعَتْ فِيْ يَدِيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

په مخکې پيش کړې شوې. [بخاري مسلم]

توضيح: خزائن الارض: يعنې د دنيا د خزانو چابيانې زما په لاس کې کيښودلې شوې، ددې کلام نه مقصود دا دی چې دا ټولې علاقې به فتحه شي، زما متبعين صحابه او تابعين به د دغو علاقو په فتح کولو سره خزانې حاصلې کړي، يا مطلب دا دی چې د دغو مفتوحه علاقو معدنيات به دوی ته حاصليږي لکه دا پيش گوئی رښتيا ثابته شوه او د مشرق او مغرب اکثره علاقې د حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنهما په دور کې او ددېنه وروسته د تابعينو د خلفاؤ په لاسونو کې راغلې، نن هم د معدنياتو اکثره خزانې د مسلمانانو په لاسونو کې دي او کچيرې مسلمان حکمرانان جهاد وکړي نو ټولې خزانې به د دوی په لاس کې راشي او دوی به د مشرق او مغرب بلکه د ټولې دنيا مالکان جوړ شي . د راتلونکې روايت او د نورو څو راتلونکو رواياتو تشريح او توضيح هم همدا رنګه ده .

اجتماعي شکل باندې به دا امت نه ختميږي

﴿۱۲﴾وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ زَوٰى لِيَ

او ثوبان رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل الله! زما د پاره مخ د ځمکې ئي

الْأَرْضَ	فَرَأَيْتُ	مَشَارِقَهَا	وَمَغَارِبَهَا	وَإِنَّ

راغونډ شو او بيايي ماته وخودل شوه نو ما روئي زمين د مشرق نه مغرب پوري اوليدلو او زه په

أُمَّتِيْ	سَيَبْلُغُ	مُلْكُهَا	مَا	زُوِيَ	لِيْ	مِنْهَا

يقين سره ويلې شم چې زما امت به عننزدې دريو ئي زمين د هغه ټولو علاقو بادشاهۍ سره سرفراز

---

(۱) اخرجه البخاري ۶/۱۲۸ رقم الحديث ۲۹۷۷ واخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۷۱ رقم الحديث (۶.۵۲۲)

وَ أُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَ الْأَبْيَضَ

شي چې راته لولو سره ماته ښودل شوي دي او دا هم حقيقت دی چې ماته سرې او سپينې دوه خزانې

وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ

راکړې شوې وې دی او ماخپل پروردګار ته التجاء وکړه چې زما د امت خلک عام قحط سره مه

عَامَّةٍ وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ

وژنه يعني داسې قحط ورباندې مه پرمسلط کوه چې په هغه کې مبتلا کيدو سره پوره امت هلاک

سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ

شي او داچې زما امت باندې د مسلمانانو نه علاوه څوک غير مسلم مسلط مه کړې چې د هغوئ

وَإِنَّ رَبِّي قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا

اجتماعيت او د ملي نظام په مرکز قبضه وکړي نو زما رب وفرمايل ای محمد ! هرکله چې زه د

قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ وَإِنِّي أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ

يوې خبرې فيصله وکړم نو هغه بدليدی نشي نوزه ستا د امت په حق کې تاته خپل دا عهد او فيصله

أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ

درکوم چې مسلمانان به نه عام قحط کې هلاک کړم او نه به خپله د هغوئ نه علاوه څه بل دښمن

عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ يَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ

ورباندې مسلط کړم چې د هغوئ اجتماعيت او د ملي نظام په مرکز قبضه وکړي که څه هم هغه

وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا حَتَّى يَكُونَ بَعْضُهُمْ

مسلمانانو باندې د ټول روئې زمين غير مسلم دشمن راجمع کيدو سره حمله راوړې خو دا به وي

يُهْلِكُ	بَعْضًا	وَّ	يَسْبِيْ	بَعْضُهُمْ	بَعْضًا.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ[1]
چي ستا د امت خلق به خپلو کې يو بل قتلوي او يو بل به د قيد او بند تکليفونو کې اچوي. [مسلم]							

توضیح: زوی: د راټولولو او يوځای کولو په معنی سره دی. د ځمکې دغه ټوليدلو او د مشرق او مغرب ښودلو نه مراد همدغه فتوحات دي، د سپينو او سرو خزانو نه مراد سپين او سره زر دي.

سنة عامة: عامه قحطی او عامه خشک سالی مراد ده چې په دې سره د ټول امت بيخ وځي او تباه شي داسې نه شي کيدی. **فيستبيح**: د دينه مباح کول، حلال ګڼل او په کنټرول سره تباه کول مراد دې.

بيضتهم: بيضه مرکزی مقام ته وايې، مرکزيت او اجتماعيت او انتظامی او ملی نظام مراد دی چې دا کوم دشمن ټوټه ټوټه کولی نشي.

ولو اجتمع: په دې کې لو وصليه دی. **باقطارها**: دا جمع ده مفرد يې قطر دی، د دينه اطراف او جوانب مراد دي، په دې حديث کې الله تعالی د حضور صلی الله علیه وسلم د امت د حفاظت او امن او سلامتی لپاره د دوو شيانو وعده فرمايلې ده، يو دا دی چې دا امت به په عامه ولږه او خشک سالی او قحطی سره نه هلاکوي، دويم دا چې د اسلام دشمن ان به په دوی باندې داسې نه مسلط کوي چې د دوی مرکزيت او اساس د سلطنت د بيخ نه اوباسي اګرچې د ټولې دنيا دشمن ان سره يو ځای شي، هو! کچيرې په خپل مينځ کې سره وجنګيږي او بيا د بهر نه دشمن راشي او د دوی مرکز ختم کړي نو هغه ځانته خبره ده. د دې حديث نه معلومه شوه چې د دې امت په خپل مينځ کې اختلاف او نفاق هغه نقصان رسوي کوم چې د ټولې دنيا کفار يې نشي رسولی.

د خپل امت د پاره د حضور صلی الله علیه وسلم دعا

﴿۱۳﴾	وَعَنْ	سَعْدٍ	اَنَّ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	مَرَّ بِمَسْجِدِ
او سعد رضی الله عنه بيان کوي يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د انصارو د يوې قبيلې بني معاويه										
بَنِيْ	مُعَاوِيَةَ	دَخَلَ	فَرَكَعَ	فِيْهِ						
د جومات سره نزدې تير شونو دننه مسجد ته يې تشريف ويوړو او هلته يې دوه رکعاته مونځ وکړو										

---

(۱) اخرجه مسلم ۴/۲۲۱۵ رقم الحديث (۲۸۸۹-۱۹) وأبوداود ۴/۴۵ رقم الحديث ۴۲۵۲.

رَكْعَتَيْنِ	وَصَلَّيْنَا	مَعَهُ

په دي ما نځه کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونږ هم شريک وو دما نځه نه روسته نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل

وَدَعَا	رَبَّهُ	طَوِيْلًا	ثُمَّ

پروردګار نه ډیره اوږده دعا وغوښتله يعني ډير وخته پوري دعا کې مصروف وو بيا چې مونځ

انْصَرَفَ	فَقَالَ	سَأَلْتُ	رَبِّيْ

او دعا نه فارغه شو نو مونږ ته متوجه کيدو سره يي وفرمايل مانن خپله دعا کې دخپل پروردګار

ثَلَاثًا	فَأَعْطَانِيْ	ثِنْتَيْنِ	وَمَنَعَنِيْ

نه دري څيزونه غوښتلي وو په هغې کې دوه څيزونه خوماته راکړی شو او د يوشي منع وشوه د

وَاحِدَةً	سَأَلْتُ	رَبِّيْ	اَنْ	لَّا

يو شي درخواست ما داکړی وو چې زما امت دعام قحط په وجه هلاک نشي او زما دا

يُهْلِكَ	أُمَّتِيْ	بِالسَّنَةِ

درخواست قبول شو او ما درخواست وکړو چې زما امت په غرقيدو سره مه هلاک کوه يعني څرنګه

فَأَعْطَانِيْهَا	وَ	سَأَلْتُ	اَنْ

چې د فرعون قوم دريائي نيل کې غرق کيدو سره هلاک شو يا دنوح قوم د اوبو په طوفان کې مبتلا

لَّا	يُهْلِكَ	أُمَّتِيْ	بِالْغَرَقِ

کيدو سره نيست اونابود شو دغه شان زما امت په دي اوبو کې قرق کيدو سره هلاک نشي اوزما دا

فَأَعْطَانِيْهَا	وَسَأَلْتُهُ	اَنْ	لَّايَجْعَلَ	بَأْسَهُمْ

درخواست هم قبول شو دريم درخواست دا وو چې زما د امت خلک په خپلو کې لاس

بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۱]
او كړيوان په جنګ نه وي ليكن زما دا درخواست قبول نه شو.

په تورات كې د حضور ﷺ د اوصافو ذكر

﴿۱۴﴾ وَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ لَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ
او حضرت عطاء بن يسار مشهور جليل القدر تابعي وايي زه د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص
قُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنْ صِفَةِ
په ملاقات مشرف شوم هغوئ ته مي عرض وكړو چې [د يهوديانو آسماني كتاب] په تورات كې د
رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
رسول الله ﷺ د كومو صفاتو او خصوصياتو ذكر دى د هغه باره كې ماته څه وښايي
فِي التَّوْرَاةِ قَالَ أَجَلْ وَاللهِ إِنَّهُ لَمَوْصُوفٌ
حضرت عبد الله وفرمايل ضرور به درته وښايم قسم په الله په تورات كې د حضور ﷺ د بعضي هغه صفاتو
فِي التَّوْرَاةِ بِبَعْضِ صِفَتِهِ فِي الْقُرْآنِ
او خصوصياتو ذكر دى چې په قرآن كريم كې مذكور دي الله! چې په تورات كې د حضور ﷺ كوم صفات
يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا
او خصوصيات ذكر كړي دي هغه په خپله ژبه او خپل اسلوب كې داسي ييا كيدى شي چې اى نبي! مونږ ته د اهلِ ايمانو دپاره شاهد
وَ مُبَشِّرًا وَ نَذِيرًا وَ حِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ
داجر او انعام خوشخبري وركونكى د عذاب او عتاب نه ويرونكى او اميانو ته پناه وركونكى جوړولو سره ليږلى يي

---

[۱] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۲۱۶ رقم الحديث (۲۸۹۰/۲۰ ،۲۱) واحمد في المسند ۱/۱۸۲.

أَنْتَ	عَبْدِيْ	وَ	رَسُوْلِيْ	سَمَّيْتُكَ	الْمُتَوَكِّلَ

اى محمد! ته زما بنده يي زما خاص رسول يي ما ستا نوم متوكل اينبى دى په دي بناء ته نه خوته

لَيْسَ	بِفَظٍّ	وَّلَا	غَلِيْظٍ	وَّلَا	سَخَّابٍ	فِيْ	الْأَسْوَاقِ

بدخويه يي نه سخت ګيرا ونه سخت زړى يي او نه بازارونو کې شور کونکى يي په تورات کې

وَلَا	يَدْفَعُ	السَّيِّئَةَ	بِالسَّيِّئَةِ

دا هم بيان شوي دي چې هغه محمد به په بدى سره بدى نه لري کوي بلکه معافي به ورته

وَ	لٰكِنْ	يَّعْفُوْ	وَ	يَغْفِرُ

کوي او احسان به وربانديې کوي چې بدي کونکې د پاره به د مغفرت دعاء کوي او الله! به د

وَ	لَنْ	يَّقْبِضَهُ	اللّٰهُ	حَتّٰى

محمد روح هغه وخته پوري نه قبض کوي ترڅو پوري چې د هغوئ په ذريعه کوږ (کج رو) او

يُقِيْمَ	بِهِ	الْمِلَّةَ	الْعَوْجَاءَ	بِأَنْ

ګمراه قوم په سيده لار رانه ولي داسي چې د قوم خلق به اعتراف او اقرار وکړي چې الله! نه

يَقُوْلُوْا	لَا	إِلٰهَ	إِلَّا	اللّٰهُ	وَ	يَفْتَحَ	أَعْيُنًا

ماسوا بل معبود نشته او تر هغه وخته پوري به د هغوئ روح نه قبض کېږي د څو پوري چې د

عُمْيًا	وَ	آذَانًا	صُمًّا	وَ	قُلُوْبًا	غُلْفًا

الله! د کلمې طيبې په ذريعه ړندې سترګې کانه غوږونه او بي حسه زړونه درست نه کړي دا

رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ [1]	وَ	كَذَا	الدَّارِمِيُّ

روايت بخاري د عطاء ابن يسار نه نقل کړى دى او دا حديث دارمي هم د عطاء بن يسار نه نقل کړى

([1]) اخرجه البخاري في صحيحه ۴/۳۴۲ رقم الحديث ۲۱۲۵ وأحمد في المسند ۲/۱۷۴.

عَنْ	عَطَاءِ	عَنْ	ابْنِ	سَلَامٍ
دی البته دارمي کې د عطاء بن يسار دا روايت د عبد الله بن عمرو بن العاص په ځاي د عبد الله بن سلام رحمه الله				
نَحْوَهُ	وَذَكَرَ	حَدِيثُ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ
نه منقول دی او د حضرت ابو هريره ,هغه روايت چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فضائلو متعلق دی او د هغه				
نَحْنُ	الْآخِرُوْنَ	فِيْ	بَابِ	الْجُمُعَةِ .[1]
ابتداء نحن الأخرون الفاظو نه کیږي باب الجمعه کې نقل شوی دی .				

توضیح : حرزا: د محافظ په معنی سره دی یعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله تعالی د عربو لپاره پناگاه جوړ کړه ، مضبوط یې کړه چې په دې سره د شیطان د گرفت یا د عجمو د غلبې نه عرب خلک محفوظ پاتې کیږي .

لیس بفظ: د بد اخلاقه په معنی سره دی **ای لیس بسیئ الخلق او القول** . **ولاغلیظ**: د سخت زړه او غلیظ القلب معنی اخیستل زیات مناسب دي ، د **(ولو کنت فظًا غلیظ القلب)** طرفته اشاره ده .

ولاسخاب: په بازارونو کې د بداخلاقی په وجه آوازونو ویستلو په معنی سره دی ، په دې کې **(فبما رحمة من الله لنت لهم)** طرفته اشاره ده .

الملة العوجاء: د ملت ابراهیمی هغه صورت مراد دی چې هغه د مکې مشرکینو کوږ کړځولی وو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سیده کړلو او د دین اسلام په شکل کې یې پیش کړلو ، والحمد لله علی ذلک .

۱۹ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ
د مسلمانانو خپل منځي جنګونه

﴿۱۵﴾ عَنْ	خَبَّابِ	بْنِ	الْأَرَتِّ	قَالَ	صَلّٰى	بِنَا	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
خباب بن ارت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته مونځ راکړه او هغه يي خلاف												

[1] اخرجه الدارمي في السنن ۱/۱۶ رقم الحديث ۶ .

صَلَاةً	فَأَطَالَهَا	قَالُوْا	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ صَلَّيْتَ

معمول کافي اوږد کړه مونږ د مانځه نه دفارغيدو نه روسته عرض وکړو يارسول الله! نن خو تا

صَلَاةً	لَمْ	تَكُنْ	تُصَلِّيْهَا	قَالَ	أَجَلْ	إِنَّهَا صَلَاةُ

سو دومره اوږد مونځ راکړه چې دومره يې هيڅ کله نه وو راکړی وې فرمايل هو دا مونځ ډير زيات

رَغْبَةٍ	وَ	رَهْبَةٍ	وَ	إِنِّيْ سَأَلْتُ

اوږد په دې وجه سو چې دا د اميد اوخواهش اود خوف او د هشت مونځ وو حقيقت دادی چې ما

اللهَ	فِيْهَا	ثَلَاثًا	فَأَعْطَانِيْ	اثْنَتَيْنِ	وَمَنَعَنِيْ وَاحِدَةً

ما نځه کې د دريو خبرو التجاء وکړه هغې کې دوه ماته عطاء شوې او يوې نه انکار وشو ما الله!

سَأَلْتُهُ	أَنْ	لَا	يُهْلِكَ	أُمَّتِيْ	بِسَنَةٍ

ته يوه التجاء خو دا کړې وه چې هغه زما امت په عام قحط يا داسې څه آفت او بلاکې مبتلا نه کړي

فَأَعْطَانِيْهَا	وَسَأَلْتُهُ	أَنْ	لَا

چې هغه سره پوره امت تباه او هلاک شي زما دا التجاء پوره شوه دوهمه التجاء دا وه چې مسلمانانو

يُسَلِّطُ	عَلَيْهِمْ	عَدُوًّا	مِنْ	غَيْرِهِمْ	فَأَعْطَانِيْهَا	وَسَأَلْتُهُ

باندې څه داسې غير مسلم دشمن مسلط نشي زما دا التجاء هم پوره شوه ما دريمه التجاء دا کړې

أَنْ	لَا	يُذِيْقَ	بَعْضَهُمْ	بَأْسَ	بَعْضٍ

وه چې مسلمانان خپلو کې يوبل سره هلاکت او عقوبت کې مخ نه شي ليکن زما دا التجاء

فَمَنَعَنِيهَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ(۱)
قبوله نه شوه. [ترمذي نسائي]

اهل باطل اهل حق نشي ختمولی

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ نِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ
او ابوموسیٰ اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل مسلمانانو الله! تاسو
عَزَّ وَجَلَّ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ
د ريو ځيزونو نه محفوظ کړي يي يو خو دادی چې ستاسو نبي ستاسو د پاره بد دعائي نه کوي چې
فَتَهْلِكُوا جَمِيعًا وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ وَأَنْ
هغې سره تاسو هلاک شئ دوهم داچي باطل او ګمراه خلق به اهل حقو باندې غالب نه وي دريم
لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.(۲)
داچي زما ټول امت به ګمراهۍ باندې نه جمع کېږي. [ابوداؤد]

توضیح: ان لايظهر: يعنې اهل باطل په اهل حقو باندې داسې غالب کيدلی نشي چې د اهل حقو استيصال (بيخکندې) وشي، اهل حق به هميشه قائم او دائم پاتې کيږي اګرچې مغلوبه وي مګر د اسلام شمعه به روښانه پاتې کيږي:

نور حق ہے کفر کی حرکت پہ خندہ زن — پھونکوں سے یہ چراغ بجھایا نہ جائے گا
حاسد حسد کے آگ میں خود ہی جلا کرے — وہ شمع کیا بجھے جسے روشن خدا کرے

جهاد امت متحد ساتي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَجْمَعَ اللهُ
عوف بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله! به د دې امت خلاف

(۱) اخرجه النسائي في السنن ۳/۲۱۶ رقم الحديث ۱۶۳۸ وأخرجه الترمذي في السنن ۴/۴۰۸ رقم الحديث ۲۱۷۵.
(۲) اخرجه أبوداود ۴/۴۵۲ رقم الحديث ۴۲۵۳.

عَلَى هٰذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ سَيْفًا مِّنْهَا وَسَيْفًا مِّنْ عَدُوِّهَا. رَوَاهُ اَبُوْدَاوُدَ. [۱]
دوه توري نه يو ځاي کوي يوه توره خو خپله د مسلمانانو او دوهمه توره د هغوئ د دشمن انو. [ابوداؤد]

توضیح: سيفين: يعني په يو وخت کې په دې امت باندې دوه توري نه جمع کيږي ، کچيرې د دشمن سره جنګ او جهاد فی سبیل الله وي نو په خپل مينځ کې به جنګ نه وي (خو کچيرې د منافقينو يو جماعت د کفارو سره يو ځاى شول نو بيا دوه توري جمع کيږي) او که د دشمن سره جنګ او جهاد نه وو نو بيا به په خپل مينځ کې جنګيږي لکه يو جاهلي شاعر ويلي :

و احيانا على بكر اخينا اذا ما لم نجد الا اخانا

ددې حدیث نه مسلمانانو ته دا تعليم حاصليږي چې جهاد مقدس هميشه ژوندی او جاری ساتل پکار دي او که نه نو په خپل مينځ کې به جنګيږي.

د حضور ﷺ نسلي او نسبي فضيلت

﴿۱۸﴾وَعَنِ الْعَبَّاسِ اَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّهُ
عباس رضي الله عنه نه روايت کوي چې هغوئ يوه ورځ د کفارو نه د حضور ﷺ په شان کې
سَمِعَ شَيْئًا فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ
بدګوئي کول واوريدل نو د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو حضور ﷺ منبر باندې ودريدو
فَقَالَ مَنْ اَنَا فَقَالُوْا اَنْتَ رَسُوْلُ اللهِ
اوې فرمايل تا سو خلقو ته معلومه ده چې زه څوک يم؟ صحابه وو رضي الله عنهم عرض وکړو ته د الله رسول
قَالَ اَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِاللهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِب
يې حضور ﷺ وويل هو زه د الله ! رسول يم د عبد الله بن عبد المطلب ځوی محمد يم او
إِنَّ اللهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِهِمْ ثُمَّ
حقيقت دا دی چې الله ! مخلوق پيدا کړل نو زه يې په دې مخلوق کې بهترين مخلوق پيدا کړم بيا

(۱) اخرجه أبوداود ۴/۴۸۵ رقم الحديث ۴۳۰۱ وأحمد في المسند ۵۷۵۶.

جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِهِمْ فِرْقَةً ثُمَّ
د دې بهترين مخلوق الله ! او زه يې دي دواړو طبقو نه کې يې بهترينه طبقه عربو کې پيدا کړم بيا
جَعَلَهُمْ قَبَآئِلَ فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِهِمْ قَبِيْلَةً ثُمَّ جَعَلَهُمْ بُيُوْتًا
الله ! دا بهترينه طبقه قبائل قبائل کړل او زه يې دي قبائلو نه بهترين قبيله کې پيدا کړم بيا الله ! دې قبيلې نه قريش مختلفي
فَجَعَلَنِيْ فِيْ خَيْرِهِمْ بَيْتًا
کورنۍ جوړې کړې او زه يې په دغه کورونيو کې د ټولو نه ښه کورنۍ کې پيدا کړم او زه په دې ټول نوع انساني کې
فَأَنَا خَيْرُهُمْ. نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]
د ټولو نه ښه او اعلیٰ يم او د خاندان او کورنۍ د اعتبار نه هم د ټولو نه لوړيم. [ترمذي]

توضيح : **الخلق**: د خلق نه دلته انسان او جنات مراد دي . **خيرهم** : يعني په جناتو او انسانانو کې يې زه په بهتر مخلوق کې پيدا کړی يم چې انسان دی، ددينه معلومه شوه چې انسان د پيريانو نه افضل دی.

(**فرقتين**) د دوو فرقو نه د انسانانو دوه فرقې عجم او عرب مراد دي . (**فی خيرهم**) د دې بهتره فرقې نه مراد عرب دي ، معلومه شوه چې عرب د عجمو نه بهتر دي ځکه چې د حضور ﷺ خاندان دی. چا د خپل ذوق مطابق ويلي دي :

د عاشقۍ بده دستوره مئين په يو يم ناز د ټولو خلقو وړمه

(**جعلهم**) يعني عرب الله تعالى قبائل در قبائل تقسيم کړي دي . (**بيوتا**) يعني مختلف کورونه يې وګرځول . (**بيتا**) يعني زه يې د ټولو نه په عمده او بهتره کور کې پيدا کړم چې د بنی هاشم کور دی لهذا زه په حسب او نسب کې د ټولو نه اعلی او ارفع يم نو زما کاکا عباس هم نسلي او نسبي اعتبار سره د ټولو نه زيات عمده دی . د قبائلو په تقسيم کې دلته يو څو الفاظ ملاحظه کړی : ۱.شعوب ، دا د ټولو نه غټ وي . ۲.بيا قبائل ۳.بيا عماره ۴.بيا بطن ۵.بيا فخذ ۶.بيا فصيله ، لکه خزيمه شعب دی ، کنانه قبيله ده ، قريش عماره ده ، قصی بطن دی . بنو هاشم فخذ دی او بنو عباس فصيله ده .

---

[1] اخرجه الترمذي ۵/۵۴۵ رقم الحديث ۳۶۰۷ واحمد في المسند .

ددې مطلب چې حضور ﷺ د ټولو نه مخکې نبي جوړ شوی دی

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَتٰى وَجَبَتْ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وايي يو ورځ صحابو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه يا رسول الله! نبوت د پاره تاسو
لَكَ النُّبُوَّةُ قَالَ وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ
کوم وخت کانديد (مسمی) شوی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هغه وخت چې آدم د روح او
وَالْجَسَدِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[۱]
بدن په منځ کې وو. [ترمذي]

توضيح : متى وجبت: سائل سوال وکړو چې يا رسول الله! د څه وخت نه ستا نبوت شروع شوی وو؟ نو هغه ﷺ وفرمايل چې زه هغه وخت نبی جوړ شوی وم چې کله آدم علیه السلام لا د روح او بدن تر مينځ وو يعنې لا د هغه په جسم کې روح اچولی شوی نه وو.

سوال: دلته يو ژور سوال دی، هغه دا دی چې په دنيا کې د ظهور په اعتبار سره حضور ﷺ د ټولو نه وروسته ظاهر شوی دی او د نبوت منصب چې کله انبياء کرامو ته عطاء کيده نو په هغه وخت په عالم ارواح کې ټول انبياء کرام يوځای نبيان شوي دي نو دلته په دې حديث کې ددې جملې څه مطلب دی چې زه نبی وم او آدم علیه السلام د روح او جسد په مينځ کې وو، يعنې د پيدائش په مراحلو کې وو؟

جواب: ددې سوال جواب او ددې حديث مطلب دا دی چې په عالم ارواح کې خو نبوت ټولو ته يوځای حاصل شو ليکن د نبوت د انواراتو او د هغه د برکاتو او تجلياتو راتللو سلسله د حضور ﷺ سره په عالم ارواح کې هغه وخت شروع شوه چې کله حضرت آدم علیه السلام لا په هغه وخت کې پيدا شوی نه وو، په دغه اعتبار سره حضور ﷺ په افاضه د برکاتو د نبوت کې د ټولو نه اول نبی دی او د نبوت د ظهور په اعتبار سره هغه د ټولو نه آخری نبی دی، په دغه اعتبار په بعضو رواياتو کې دي چې هر نبی په خپله خپله زمانه کې د حضور اکرم ﷺ د نبوت د نور نه استفاده کړې ده، علامه بوصيری رحمه الله هم دغه حقيقت ته داسې اشاره فرمايلې ده:

وكل آى أتى الرسل الكرام بها فانما اتصلت من نوره بهم

منجدل: يعنې په ځمکه باندې اچولی شوی وو، د دينه په ځمکه باندې بی روحه پاتې کيدل مراد دې.

([۱]) اخرجه الترمذي ۵/۵۴۶ رقم الحديث ۳۶۰۹.

حضرت آمنې څه شئ لیدلی وو ؟

﴿۲۰﴾ وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنِّيْ

عرباض ابن ساریه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل زه د الله!

عِنْدَ اللّٰهِ مَكْتُوْبٌ خَاتِمُ النَّبِيِّيْنَ وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِيْ طِيْنَتِهِ

په نز د هغه وخت نه خاتم النبیین لیکل شوی یم هر کله چې آدم خپلي اغږل شوې ختهٔ او خاوره کې

وَسَأُخْبِرُكُمْ بِأَوَّلِ أَمْرِيْ دَعْوَةُ إِبْرَاهِيْمَ وَبِشَارَةُ عِيْسٰى

پروت وو او زه تاسو ته ښایم زما اولنی امر د حضرت ابراهیم علیه السلام دعاده د حضرت عیسٰی علیه السلام بشارت دی

وَرُؤْيَا أُمِّيَ الَّتِيْ رَأَتْ حِيْنَ وَضَعَتْنِيْ وَقَدْ

او زما د مور خوب دی چې هغه زما د پیدائش په وخت لیدلی وو حقیقت دادی چې زما د مور مخ

خَرَجَ لَهَا نُوْرٌ أَضَاءَ لَهَا مِنْهُ قُصُوْرُ الشَّامِ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ[1]

ته یو نور ښکاره شوی وو چې په هغه سره دې ته د شام محلات روښانه شوی وو دا روایت بغوي شرح السنه کې

وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ مِنْ قَوْلِهَا سَأُخْبِرُكُمْ إِلٰى آخِرِهِ.[2]

نقل کړی دی او امام احمد رحمه الله دا روایت ساخبرکم نه تر آخر پورې د ابو امامه نه نقل کړی دی.

توضیح: رأت: د دې نه د خوب حالت هم مراد اخستلی شي، مطلب به دا چې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د پیدا یښ لږ مخکې حضرت آمنې په خوب کې یوه فرشته لیدلې وه چې هغې ورته وویل چې ته داسې وو ایه چې زه دا ماشوم (چې زما په خیټه کې دی) د هر حسد کونکې د شر نه ورته د الله تعالی پناه غواړم.
او د دې جملې نه د ویښې حالت هم مراد کیدلی شي، د دې مطلب دا کیږي چې لکه څنګه چې په بعضو روایاتو کې راغلي دي چې حضرت آمنې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د ولادت په وخت د بیدارۍ په حالت کې د خپل جسم نه یو نور جدا کیدونکی ولیده چې هغه د شام محلونه روښانه کړل، په دې سره دا ښودل

(۱) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۲۰۷ رقم الحديث ۳۶۲۶.
(۲) اخرجه أحمد في المسند ۴/۱۲۷.

مقصود وو چې دغه پیدا کیدونکی ماشوم به په راتلونکې کې دغه علاقې فتحه کړي.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصائص

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا
او حضرت ابو سعید روایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د قیامت په ورځ به زه د ټولو بني آدمو
سَيِّدُ وُلْدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَ لَا فَخْرَ وَبِيَدِيْ لِوَآءُ الْحَمْدِ وَ لَا فَخْرَ
سردار یم او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم د حمد جنډه به زما په لاس کې وي او زه دا خبره د فخر په طور
وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ
نه کوم په هغه ورځ هر نبي که هغه آدم وي یا بل څوک وي داسي به نه وي چې زما دیرغ لاندې را نشي
لِوَائِيْ وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَ لَا فَخْرَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ(۱)
او د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکې زه د قبر څاودلو سره راولاړېږم او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم. [ترمذي]

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی حبیب دی

﴿۲۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَلَسَ نَاسٌ مِّنْ أَصْحَابِ
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څني صحابه په مسجد نبوي کې ناست وو
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ حَتّٰى إِذَا
په خپلو کې یې خبرې کولې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې حجرې مبارکې نه راووتلو او هر کله چې
دَنَا مِنْهُمْ سَمِعَهُمْ يَتَذَاكَرُوْنَ قَالَ
هغوئ ته نژدې شو نو د هغوئ خبرې یې په غوږ کې وې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو صحابي، نه دا واوریدل

بَعْضُهُمْ إِنَّ اللهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلًا وَ قَالَ آخَرُ مُوْسٰى كَلَّمَهُ اللهُ

چې الله ! حضرت ابراهیم خپل خلیل وګرځوه دوهم صحابي وویل چې حضرت موسیٰ الله ! د تکلم د خبرو

تَكْلِيْمًا وَقَالَ آخَرُ فَعِيْسٰى كَلِمَةُ اللهِ

کولو په شرافت سره ونازوه یو بل صحابي وویل چې حضرت عیسیٰ د الله ! کلمه او د هغه روح دی

وَ رُوْحُهُ وَ قَالَ آخَرُ آدَمُ اصْطَفَاهُ اللهُ

یو صحابي ,دا وویل چې الله ! حضرت آدم غوره کړی دی یعني د اول انسان کیدو د پاره هغه یې منتخب کړه

فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ

حضور ﷺ د هغوئ مجلس ته ورسیده او وې فرمایل ما ستاسو خبرې اوریدلي دي تاسو

وَعَجَبَكُمْ أَنَّ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلُ اللهِ

ته تعجب دی چې حضرت ابراهیم د الله ! خلیل یعني دوست دی نو بیشکه د هغوئ دا شان دی چې

وَهُوَ كَذٰلِكَ وَمُوْسٰى نَجِيُّ اللهِ وَهُوَ كَذٰلِكَ وَعِيْسٰى رُوْحُ اللهِ

الله ! بالذات خبرې ورسره کړې وې نو بیشکه دا هم د هغوئ شان دی او حضرت عیسیٰ) د الله ! روح

وَكَلِمَتُهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ وَآدَمُ اصْطَفَاهُ اللهُ

او د هغه کلمه ده نو بیشکه دا هم د هغوئ شان دی او حضرت آدم الله پاک انتخاب کړه نو بیشکه دا سې ده

وَهُوَ كَذٰلِكَ أَلَا وَأَنَا حَبِيْبُ اللهِ وَلَا فَخْرَ

او دا د هغوئ شان دی لیکن تاسو ته علم پکار دی چې زه د الله ! حبیب یم او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم

وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَهُ آدَمُ فَمَنْ دُوْنَهُ

د قیامت په ورځ به د حمد جنډه زما په لاس کې وي چې د هغه لاندې به آدم) او نور ټول نبیان او رسولان وي

وَلَا	فَخْرَ	وَأَنَا	أَوَّلُ	شَافِعٍ	وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ

او زه داخبره د فخر په طور نه کوم د قیامت په ورځ به د ټولو نه مخکښې شفاعت کونکی زه یم او د ټولو نه مخکې

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ وَ أَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حِلَقَ الْجَنَّةِ

به زما شفاعت قبلیږي او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم د جنت دروازه ټکونکی به زه یم د جنت دروازه

فَيَفْتَحُ اللهُ فَيُدْخِلُنِيهَا وَمَعِيَ فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ وَ لَا فَخْرَ

زما دپاره خلاصه کړي او د ټولو نه به مخکې ما په جنت کې داخل کړي هغه وخت به ما سره مؤمنان فقراء وي او زه

وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ

دا خبره د فخر په طور نه کوم او بلاشبه په ټولو مخکېنو او وروستنیو کې که هغوئ انبیاء وي یا نور خلق د ټولو

عَلَى اللهِ وَلَا فَخْرَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.(۱)

نه افضل او اکرم زه یم او زه دا خبره د فخر په طور نه کوم [ترمذي دارمي]

توضیح: انا حبیب الله: د حبیب الله دغه صفت د ټولو صفاتو نه زیات جامع دی ځکه چې حبیب په معنی د محبوب سره دی او کوم چې محبوب وي هغه خلیل هم وي، مکلّم هم وي او مشرف او معظم هم وي.

په حبیب او خلیل کې یو فرق دا هم دی چې خلیل د طالب په درجه کې وي یعنې سالک او مرید وي او حبیب د مطلوب او مراد په درجه کې وي. یو فرق دا هم دی چې د خلیل مغفرت د امید او طمع په درجه کې وي او د محبوب مغفرت د یقین په درجه کې وي، **وهذا واضح فی القرآن**، وګوره د خلیل په باره کې دا دي **﴿والذی اطمع ان یغفرلی خطیئتی یوم الدین﴾** دلته د حبیب په باره کې دا دي **﴿لیغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تأخر﴾** په دواړو کې لوی فرق دی، په وانا حبیب الله کې دغه ټولو حقائقو ته اشاره ده.

د حضور ﷺ اوچت شان

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحْنُ

عمرو بن قیس رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې رسول کریم ﷺ و فرمایل په دنیا کې مونږ آخریو

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۴۸ رقم الحديث ۳۶۱۶ والدارمي في السنن ۱/۳۹ رقم الحديث ۴۷.

الْآخِرُوْنَ وَنَحْنُ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنِّيْ قَائِلٌ قَوْلًا

لیکن د قیامت په ورځ مونږ اول یو او زه تاسو ته یوه خبره کوم او د دې خبرې کولو نه د فخر اظهار مقصود

غَيْرَ فَخْرٍ إِبْرَاهِيْمُ خَلِيْلُ اللهِ وَمُوْسٰى صَفِيُّ اللهِ وَأَنَا حَبِيْبُ اللهِ

نه دی او هغه دا دی چې ابراهیم د الله! خلیل دی موسیٰ د الله! صفي دی او زه د الله! حبیب یم چې په دنیا او آخرت کې

مَعِيْ لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

زما حیثیت د محب هم دی او د محبوب هم او د قیامت په ورځ به د حمد جنډه ما سره وي او الله! زما امت ته

وَإِنَّ اللهَ وَعَدَنِيْ فِيْ أُمَّتِيْ وَأَجَارَهُمْ مِنْ ثَلَاثٍ لَا يَعُمُّهُمْ

د خیر کثیر عطا کولو او درې څیزونو نه د بچ کولو وعده فرمایلې ده یو خو دا چې مسلمانان به عام قحط کې نه مبتلا کوي

بِسَنَةٍ وَلَا يَسْتَأْصِلُهُمْ عَدُوٌّ

دوهم دا چې هیڅ دشمن به د هغوئ بیخکني نشي کولی یعنې دشمنانِ اسلام به ټول مسلمانان نیست او نابود نشي کولی او دریم

وَلَا يَجْمَعُهُمْ عَلٰى

دا چې ټول مسلمانان به یوې ګمراهۍ باندې اتفاق نه کوي یعنې دا به ممکنه نه وي چې ټوله اسلامي دنیا دې یو داسې خبرې

ضَلَالَةٍ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.[1]

اسلامي دنیا دې یوې داسې خبرې باندې اتفاق وکړي کومه چې د ګمراهۍ باعث وي. [دارمي]

توضیح: نحن الآخرون: یعنې په دنیا کې د ظهور او راتللو په اعتبار سره مونږ د ټولو نه په آخر کې راغلي یو لیکن په قیامت کې جنت ته د داخلیدلو په اعتبار سره به مونږ د ټولو نه مخکې داخلیږو.

وعدني: یعنې د خیر کثیر او بې شماره نعمتونو وعده یې کړې ده. و اجارهم: یعنې د درې خصلتونو او درې آفتونو نه الله تعالی زما امت په امن کې ساتلی دی .۱. د عامې قحطۍ نه به نه هلاکیږي، ۲. دشمن به ټول نه هلاکوي، ۳. په ګمراهۍ باندې به ټول نه جمع کیږي، دینه امت د اجابت مراد دی، د امت دعوت یعنې کفارو سره دغه وعده شوې نه ده.

---

(۱) اخرجه الدارمي في السنن ۱/۴۲ رقم الحديث ۵۴ . وأحمد في المسند ۲/۲۴۳.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قائد المرسلين او خاتم النبين دى

﴿۲۴﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كوي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د قيامت په ورځ به زه د ټولو نبيانو
قَالَ اَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَلَا فَخْرَ وَاَنَا
او رسولانو قائد يم چې ټول نبيان او رسولان به د حشر په ميدان كې ماپسې راځي او زه دا خبره د فخر
خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَلَافَخْرَ وَاَنَا اَوَّلُ شَافِعٍ
په طور نه كوم شفاعت كونكى د ټولو نه مخكنى سړى به زه يم او د ټولو نه مخكې به زما شفاعت
وَّ مُشَفَّعٍ وَلَا فَخْرَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.[1]
قبليږي او زه دا خبره د فخر په طور نه كوم. [دارمي]

د قيامت په ورځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عظمت او برتري

﴿۲۵﴾ وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل د قيامت په ورځ چې خلق را ژوندى شي
اَنَا اَوَّلُ النَّاسِ خُرُوْجًا اِذَا بُعِثُوْا وَ اَنَا قَائِدُهُمْ
نو د ټولو نه مخكې به د قبر نه زه راوځم هر كله چې خلق بارګاه خداوندي كې وړاندې كړې نو د هغوئ
اِذَا وَفَدُوْا وَ اَنَا خَطِيْبُهُمْ اِذَا اَنْصَتُوْا وَ اَنَا
قيادت به زه كوم هر كله چې ټول خلق به خاموش وي نو زما ژبه به د ټولو ترجماني كوي او هر كله چې
مُسْتَشْفِعُهُمْ اِذَا حُبِسُوْا وَاَنَا مُبَشِّرُهُمْ اِذَا
خلق موقف كې حصار شي نو د هغوئ د خلاصون د پاره به شفاعت او سفارش زه كوم هر كله چې خلقو
يَئِسُوْا ، اَلْكَرَامَةُ وَ الْمَفَاتِيْحُ يَوْمَئِذٍ بِيَدِىْ
باندې نا اميدي او مايوسي خوره شوي وي نو اهلِ ايمانو ته به د مغفرت او رحمت بشارت وركونكى

---

(۱) اخرجه الدارمي ۱/۴۰ رقم الحديث ۴۹.

وَلِوَآءُ الْحَمْدِ يَوْمَئِذٍ بِيَدِيْ وَأَنَا أَكْرَمُ وُلْدِ آدَمَ

زه يم د قيامت په ورځ به د جنت چابياني زما په لاس کې وي په هغه ورځ به د پروردګار په نزد آدم

عَلٰى رَبِّيْ يَطُوْفُ عَلَيَّ أَلْفُ خَادِمٍ كَأَنَّهُمْ بَيْضٌ

ځامنو کې د ټولو نه بزرګ او اشرف زما ذات وي زما مخکې او روسته به زر خادمان ګرځي راګرځي

مَكْنُوْنٌ أَوْ لُؤْلُؤٌ مَّنْثُوْرٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ

لکه چې هغوئ ساتل شوي هګۍ يا خورې ورې ملغلرې دي دا روايت ترمذي او دارمي نقل کړې دی

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ[1]

او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

توضيح: انا خطيبهم: په دې سره شفاعت کبرى ته اشاره ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هلته د الله تعالى ښه تعريف وکړي او بيا به د شفاعت کبرى درخواست وکړي، همدارنګه ټول انسانان به د خبرو کولو نه چپ وي، د الله تعالى په مخکې به هيچا ته د خبرو همت نه وي په دغه وخت کې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کلام وفرمايي او د شفاعت لپاره به حمد او ثناء ووايي او د مغفرت بشارت به ورکړي.

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُكْسٰى حُلَّةً

او ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د قيامت په ورځ به ماته د جنت د جوړو

مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ أَقُوْمُ عَنْ يَمِيْنِ الْعَرْشِ لَيْسَ أَحَدٌ

نه يوه جوړه واغوستل شي او بيا به زه د عرش ښي طرف ته ودريږم چې هلته به زما نه ماسوا مخلوق

مِنَ الْخَلَائِقِ يَقُوْمُ ذٰلِكَ الْمَقَامَ غَيْرِيْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِيْ رِوَايَةِ جَامِعِ الْأُصُوْلِ

کې بل هيڅوک ولاړ نه وي (ترمذي) او د جامع الاصول روايت کې د ابو هريره، نه داسې منقول

عَنْهُ أَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ

دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د ټولو نه مخکې به زما قبر کولاو شي او زه به بهر راووځم

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۴۶ رقم الحديث ۳۶۰۱ والدارمي ۱/۳۹ رقم الحديث ۴۸.

عَنْهُ الْأَرْضُ فَأُكْسٰى.(۱)
بیا به ماته یوه جنتي جوړه واغوستل شي الخ.

د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ د پاره د مقام وسیله دعاء

﴿۲۷﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيْلَةَ
او ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ وايي چې رسول کريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ وفرمايل زما د پاره دالله! نه وسيله غواړئ
قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ وَمَاالْوَسِيْلَةُ قَالَ اَعْلٰى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ
صحابو عرض وکړو يارسول الله! دا وسيله څه شی دی؟ حضور صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل د جنت
لَايَنَالُهَا اِلَّارَجُلٌ وَّاحِدٌ وَّاَرْجُوْ اَنْ اَكُوْنَ
د ټولو نه دلوی درجې نوم دی چې صرف يو سړي ته به حاصليږي او زه اميد لرم چې هغه سړی
اَنَا هُوَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۲)
به زه يم. [ترمذي]

توضيح: الوسيلة: مقام محمود او وسيله دواړه يو شی دی، د اذان نه وروسته په دعاء کې د وسيله ذکر دی، حضور اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ د تواضع په انداز کې کلام فرمايلی دی او که نه نو مقام محمود او وسيلې د هغه لپاره مختص کړی شوي دي، په دې دعاء کې د امت لپاره د ثواب حاصلولو بهترينه موقع ده، د ارجو لفظ بعضو شارحينو د اتيقن په معنی سره اخيستی دی يعنې ماته يقين دی چې دغه مقام به ماته حاصليږي.

﴿۲۸﴾ وَ عَنْ اُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او ابي ابن کعب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَسَلَّمَ وفرمايل هرکله چې
قَالَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ كُنْتُ إِمَامَ النَّبِيِّيْنَ
دقيامت ورځ شي نو زه به او د ټولو انبياوو امام او پيشوا به جوړ شم هرکله چې په هغوئ کې هيڅوک

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۴۶ رقم الحديث ۳۶۱۱

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۴۶ رقم الحديث ۳۶۱۲ واحمد في المسند ۲/۲۶۵

وَ خَطِيْبَهُمْ وَ صَاحِبَ شَفَاعَتِهِمْ

به په ويلو-باندې قادر نه وي نو زه به د هغوئ ترجماني كوم او د ټولو شفاعت او سفارش به كوم او

غَيْرَ فَخْرٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)

زه دا خبره د فخر په طور نه كوم. [ترمذي]

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل د هر پيغمبر به د پيغمبرانو

إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ وُلَاةً مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَإِنَّ

نه يو رفيق او ولي وي او پيغمبرانو كې چې كوم پيغمبر زما رفيق او ولي دى هغه زما پلار او د

وَلِيِّيْ أَبِيْ وَخَلِيْلُ رَبِّيْ ثُمَّ قَرَأَ

پروردګار خليل حضرت ابراهيم) دى دې نه روسته حضور صلى الله عليه وسلم دا آيت ووايه: إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ

إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِإِبْرَاهِيْمَ

بابراهيم الخ ترجمه. بلاشبه په ټولو په خلقو كې زيات خصوصيت لرونكى د حضرت ابراهيم سره البته

لَلَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ وَهٰذَا النَّبِيُّ وَالَّذِيْنَ

هغه خلق وو چې هغوئ د هغه په زمانه كې د هغه اتباع كړې وه او دا نبي صلى الله عليه وسلم دى او هغه خلق دي

اٰمَنُوْا وَاللهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِيْنَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۲)

چې ايمان يې راوړى او الله! د ايمان والاو حامي او كارساز دى. [ترمذي]

توضيح: ولاة: دا د ولي جمع ده د دوست په معنى سره دى يعني احباب او محبوبين او د ټولو نه نيږدې

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۴۷ رقم الحديث ۳۶۱۲ واحمد في المسند ۵/۱۳۷ .

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۰۸ رقم الحديث ۲۹۹۵ واحمد في المسند ۱/۴۰۱ .

خلک.(ان ولی ابی) دا نسخه صحیح ده او د ابی نه حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد دی ، په بعضو نسخو کې د ربی لفظ دی هغه نسخه صحیح نه ده ځکه د رب معنی دلته نه صحیح کیږي.

﴿۳۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ بَعَثَنِيْ
او جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل الله ! زه ځکه رالیږلی یم
مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَكَمَالِ مَحَاسِنِ الْأَفْعَالِ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.[1]
چې د ښو اخلاقو تکمیل وکړم او ښه کارونه پوره کړم. [شرح السنه]

په تورات کې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د امت محمدي د اوصافو ذکر

﴿۳۱﴾ وَعَنْ كَعْبٍ يَحْكِيْ عَنِ التَّوْرٰةِ قَالَ نَجِدُ مَكْتُوْبًا مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ
او حضرت کعب احبار رحمه الله نقل کوي چې مونږ په تورات کې داليکلي پيدا کړي دي چې محمد د الله
عَبْدِيَ الْمُخْتَارُ لَافَظٌّ وَ لَا غَلِيْظٌ وَ لَا سَخَّابٌ
رسول او د هغه غوره شوی بنده به وي هغه به نه ترش خویه وي او نه سخت ګو نه به بازارونو کې
فِي الْأَسْوَاقِ وَلَايَجْزِيْ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلٰكِنْ يَعْفُوْ
شور کونکی وي او نه به د بدی بدله بدی سره اخستونکی بلکه معاف کونکی او بخښونکی به وي
وَيَغْفِرُ مَوْلِدُهٗ بِمَكَّةَ وَهِجْرَتُهٗ بِطَيْبَةَ
د هغوئ د پیدائش ځای به مکه وي او د هغوئ د هجرت ځای به طیبه مدینه وي او د هغوئ د
وَمُلْكُهٗ بِالشَّامِ وَأُمَّتُهُ الْحَمَّادُوْنَ يَحْمَدُوْنَ اللهَ
حکومت ځای به د شام ملک وي دهغه امت به د الله ډیر زیات حمد او تعریف کونکی وي چې په هر
فِي السَّرَّاءِ وَ الضَّرَّاءِ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِيْ كُلِّ
حالت کې غم کې به د الله ! حمد او ثناء او شکر اداکوي هغه خلق چې چیرته هم خکته کیږي یا

(۱) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۲۰۲ رقم الحديث ۳۶۲۲.

مَنْزِلَةٍ وَّيُكَبِّرُوْنَهٗ عَلٰى كُلِّ شَرَفٍ رُعَاةٌ

حصاربږي د الله ! حمد او شکر به په ځاي راوړي او چیرته هم چې خیژي نو الله اکبر به وايي او

لِلشَّمْسِ يُصَلُّوْنَ الصَّلَاةَ إِذَا جَاءَ يَتَأَزَّرُوْنَ

د نمر لحاظ به ساتي هرکله چې د مانځه وخت شي مونځ به کوي په خپلو ملاګانو باندې د جسم

عَلٰى أَنْصَافِهِمْ وَيَتَوَضَّئُوْنَ

اعضاوو باندې به اودس کوي يعني لاس پښې او مخ به وينځي او پوره اودس به کوي د هغوئ

عَلٰى أَطْرَافِهِمْ مُنَادِيْهِمْ يُنَادِيْ فِيْ جَوِّ السَّمَاءِ صَفُّهُمْ

منادي کونکی به د ځمکې او آسمان په منځ کې نداء کوي په جنګ کې او په مانځه کې د هغوئ صف

فِي الْقِتَالِ وَصَفُّهُمْ فِي الصَّلَاةِ سَوَاءٌ لَهُمْ

به يو شان وي يعني هغوئ به د اسلام د دشمن انو خلاف د جنګ په میدان کې هم د صف بندي اصولو

بِاللَّيْلِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ. هٰذَا لَفْظُ

او قواعدو پابندي کوي د شپې به د هغوئ اواز خکته وي څنګه چې د شاتو د مچو اوازوي داد

الْمَصَابِيْحِ. وَرَوَى الدَّارِمِيُّ مَعَ تَغْيِيْرٍ يَسِيْرٍ[1]

مصابيح الفاظ دي او دارمي په څه لږ تغير سره نقل کړی دی.

توضیح: کعب: دا کعب احبار تابعی دی د تورات ډیر غټ عالم وو، د هغه ګواهی یو مستند حیثیت لري چې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د نبوت او د هغه د صفاتو لپاره یو تأیید دی.

محمد رسول الله: دا د حضور صلی الله علیه وسلم مشهور نوم دی اګرچې په مخکینیو کتابونو او آسمانونو کې هغه د احمد صلی الله علیه وسلم په نوم سره زیات مشهوره دی. **المختار**: دا د اسم مفعول صیغه ده د اختیار نه ده چې د غوره کړی شوې او خوښ کړی شوې په معنی سره دی، الله تعالی هغه غوره کړی او منتخب کړی دی، د مختار کل معنی دا شوه چې حضور صلی الله علیه وسلم د ټول و کائناتو نه غوره کړی شوی دی،

(1) اخرجه الدارمي ۱/۱۷ رقم الحديث ۸ .

بریلویان ددې غلطه معنی کوي چې دا د دوی د عقیدې غلط عکس بنایې . **فظ:** سخت کلامه او سخت خویه . **غلیظ:** سخت زړی . **سخاب:** شور پورته کونکی . (**مولده بمکة**) د عام الفیل ۲۹ اګست ۵۷۰ عیسوی کې پیدا شو ، ۴۰ کاله د قبل النبوة زمانه یې په مکه کې تیره شوه ، بیا ۱۳ کاله دور د نبوت یې هم په مکه کې تیر شو ، د ۵۳ کلو په عمر یې مدینې منورې ته هجرت وکړلو ، لس کاله یې په مدینه منوره کې جهاد مقدس وکړلو ، په ۸ هجری کې یې مکه فتحه کړله ، په ۹ هجری کې د عربو عام خلک په اسلام کې داخل شول ، په ۱۰ هجری کې حجة الوداع ته د یونیم لک صحابه کرامو سره راغی ، مدینې ته واپس لاړلو په ۱۲ ربیع الاول ۱۰ هجری کې د ۶۳ کلو په عمر کې هغه انتقال وکړو ، د هغه په سر او ږیره کې صرف ۲۰ ویښتان سپین وو ، په حجره دعائشه کې دفن شو او تر ننه پورې په همدغه حجره کې مسجد نبوي کې دننه آرام فرما دی ، په طرف کې یې حضرت ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما په رفاقت کې موجود دي .

وملکه بالشام: د هغه ملکی او خلافتی استحکام به په شام کې وي یعنې اصل حکومت خو به یې په مدینه منوره کې وي لیکن د هغه استحکام او مضبوطی به په شام کې وي . په دې کې دیته اشاره ده چې د شام په ځمکه به لوی جهاد کیږي او د هغه په نتیجه کې به اسلامی خلافت مضبوطیږي لکه چې همداسې وشول یعنې د نبوت آثار او برکات او د اعلاء کلمة الله زمزمې او اوازې به په شام کې ظاهري شي .(**شرف**) یعنې په هر او چت ځای باندې به نعره د تکبیر اوچتوي . دا به د جهاد په میدان کې په خاص طور باندې وي او انشاء الله همیشه به وي . **رعاة للشمس:** یعنې د لمونځونو د وختونو پابندي به کوي ، لمر ته په کتلو سره به د لمانځه وخت معلوموي ګویا د لمر څارونکي به وي . **یتأزرون:** د ازار نه دی ، مراد لنګ او پرتوګ دی یعنې تر نصف ساق پورې به د هغوی پای جامې وي .

علی اطرافهم: یعنې د جسم په اطرافو او جوانبو باندې به اودسونه کوي ، مراد د اودس نه اندامونه دي .

ینادی في جو السماء: یعنې د هغوی مؤذن به په اوچت ځای باندې آذانونه کوي ، د چتونو او منارونو د پاسه به د مونځونو په اوقاتو کې آذانونه کوي ، په دشتو کې به د اذانونو شور وي نو ګویا په دشتو کې به اذان وي . **في القتال:** یعنې لکه څنګه چې په مونځونو کې صفونه تړي او مونځونه کوي همدارنګه د جهاد په میدان کې به هم د دوی صف بندی کیږي . **دوی النحل:** یعنې د شپې د تهجد په لمونځونو او په ذکرالله او تلاوت کې به داسې بنګیدل وي لکه څنګه چې د شاتو د مچیو په آواز کې وي .

حضرت عیسی علیه السلام به د حضور صلی الله علیه وسلم په خوا کې دفن کیږي

﴿۳۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ صِفَةُ مُحَمَّدٍ.
او عبد الله بن سلام رضي الله عنه وايي په تورات کې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اوصاف ذکر دي او دا
وَ عِيسٰى ابْنُ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ
هم لیکل شوي دي چې عیسٰی ابن مریم به د حضور صلی الله علیه وسلم حجره اقدس کې دفن شي د
قَالَ أَبُو مَوْدُودٍ وَ قَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ
حضرت مودود" کوم چې د دې حدیث یو راوي دی بیان دی چې د بي بي عائشي رضي الله عنها حجره مبارکه
مَوْضِعُ قَبْرٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۱)
د یو قبر ځای باقي دی. [ترمذي]

توضیح: یدفن معه: یعنې د حضرت عائشې رضي الله عنها په حجره کې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په مقبره کې به دفن کیږي، د حضور صلی الله علیه وسلم په قدمونو کې وروسته طرفته صدیق اکبر دی، د صدیق رضي الله عنه په طرف کې وروسته طرفته عمر فاروق دی، او د حضرت عمر په طرف کې وروسته طرفته د یو قبر ځای خالي دی هلته به حضرت عیسی علیه السلام دفن کیږي. چې کله حضرت عیسی علیه السلام حج وکړي نو د مکې او مدینې په مینځ کې به د هغه انتقال وشي، د هغه ځای نه به مدینې منورې ته یوړلی شي او هلته به دفن کړی شي، ګویا د دوو نبیانو په مینځ کې به دوه شیخین وي، تصوراتي نقشه داسې کیدلی شي، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه، او حضرت عیسی علیه السلام.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم عمومي او کلي فضیلت

﴿۳۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى فَضَّلَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلٰى
او حضرت ابن عباس نه روایت دي هغه وفرمایل الله! حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته په ټولو

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۳۹ رقم الحديث ۳۶۱۷.

الْأَنْبِيَاءِ وَ عَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ فَقَالُوا

انبياؤ او آسمان والاو فرشتو باندې فضيلت ورکړي دي د مجلس حاضرينو په دې اوريدو سره پوښتنه

يَا ابْنَ عَبَّاسٍ بِمَا فَضَّلَهُ اللهُ عَلَى أَهْلِ السَّمَاءِ

وکړه اې ابن عباس، اهلِ آسمان باندې حضور ﷺ ته الله ! څرنګه فضيلت ورکړې دی

قَالَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِأَهْلِ السَّمَاءِ وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّي إِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهِ

حضرت ابن عباس، وويل الله ! اهل آسمان ته داسې خطاب فرمايي: وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ الخ ... ګويا دې

فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِيْنَ

خطاب کې نه صرف دا چې د ډېر سخت آنداز او رعب او د بدبې اظهار دی بلکه د سخت عذاب خبر

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هم ورکړل شو او هر کله چې حضور ﷺ ته خطاب وفرمايل شو نو حضرت محمد ﷺ ته الله !

إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا لِيَغْفِرَ لَكَ

داسې وفرمايل إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا ... الخ محمد مونږ ستا دپاره د عظمتونو او برکتونو دروازې پوره طور سره

اللهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ

خلاص دی او دا ځکه دي چې الله! ستاسو وروستني مخکني او ټول ګناهونه معاف کړي. خلقو

قَالُوا وَمَا فَضْلُهُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ

عرض وکړو دا اوښايي چې حضور ﷺ ته په ټولو نبيانو الله ! څه طور سره فضيلت

قَالَ قَالَ اللهُ تَعَالَى وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ

ورکړی دی ابن عباس رضي الله عنه وويل : الله ! د نورو انبياو په نسبت داسې وفرمايل: وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ. الأية.

رَّسُوْلٍ إِلَّا بِلِسَانِ قَوْمِهِ لِيُبَيِّنَ

مونږ هر نبي د هغه د قوم ژبې سره وليږه چې هغه د قوم مخکې د الله ! احکام او قوانين بيان کړي

لَهُمْ فَيُضِلُّ اللهُ مَنْ يَّشَاءُ اَلاٰيَةَ وَ قَالَ اللهُ تَعَالٰى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او الله! چې څوک غواړي ګمراه کوي يې. الخ او الله! د حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باره کې دا وفرمايل

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ فَأَرْسَلَهُ

وَمَا اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ يعني اى محمد! مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول رالیږلی يې نو الله! حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ. [1]

د جنّ او انسان دواړو پيغمبر جوړولو سره راليږلی دی.

پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ټولو باندې وزن دار دی

﴿۳۴﴾ وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍّ الْغِفَارِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ عَلِمْتَ أَنَّكَ

او ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مايو وار عرض وکړو يارسول الله! تا سو ته څرنګه معلومه شوه چې تاسو

نَبِيٌّ حَتَّى اسْتَيْقَنْتَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ أَتَانِيْ مَلَكَانِ وَأَنَا بِبَعْضِ

نبي يې او بيا تا سو ته د خپل نبوت يقين څرنګه وشو؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اى ابوذره! زه بطحاء

بَطْحَاءِ مَكَّةَ فَوَقَعَ أَحَدُهُمَا إِلَى الْأَرْضِ وَكَانَ الْآخَرُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

ي مکه کې وځاي کې وم ماته دوه فرشتې راغلي په هغو کې يوه فرشته د ځمکې او آسمان په منځ کې وه بيا په

فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ

هغو کې يوې زما طرف ته اشاره کولو سره خپلې ملګرې فرشتې ته وويل دا هغه سړی دی چې د هغه باره کې الله!

أَهُوَ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَزِنْهُ بِرَجُلٍ

مونږ ته خودنه کړې ده چې زما يو پيغمبر دی هغه ته ورشئ هغه فرشتې جواب ورکړو هو دا هغه سړی دی بيا

(۱) اخرجه الدارمي ۱/۳۸ رقم الحديث ۴۶

فَوُزِنْتُ بِهِ فَوَزَنْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ بِعَشَرَةٍ

مخکښې فرشتې دوهمې فرشتې ته وویل چې د دې پیغمبر د امت نه دیوسړي سره دَي وتلئ نو زه یې دیوسړي

فَوُزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ

سره وتللم او زه د هغه سړي نه درېو ند شوم بیا هغه فرشتې وویل اوس یې لس سړو سره وتلئ نو لس سړو سره

بِمِائَةٍ فَوُزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ ثُمَّ

یې وتللم نو د هغه لس سړو نه هم درېو ند سوم بیا هغه فرشتې وویل سلو سړو سره یې وتلئ نو سلو سړو سره

قَالَ زِنْهُ بِأَلْفٍ فَوُزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ

یې وتللم او د هغه سلو نه هم درو ند شوم بیا د زرو سړو سره وتلل شوم او هغوئ نه هم درو ند شوم او ګویا اوس

كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَنْتَثِرُونَ عَلَيَّ مِنْ

هم زه هغه زر سړي وینم چې هغوئ د ترازو په کومه پله کې وو هغو زما په مقابله کې دومره سپک وختل او

خِفَّةِ الْمِيزَانِ قَالَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا

دومره پورته شول چې ماته داسې ولګېده لکه چې اوس به ټول په ما راوغورځېږي دي نه روسته هغه دواړو

لِصَاحِبِهِ لَوْ وَزَنْتَهُ بِأُمَّتِهِ

فرشتو کې یوې دوهمې ته وویل که ته دا ده د ټول امت سره هم وتلي بیا به هم یقینًا د ټول امت په مقابله کې

لَرَجَحَهَا. رَوَاهُمَا الدَّارِمِيُّ. (۱)

درېو ند وي دا دواړه روایتونه دارمي نقل کړي دي.

توضیح : ینتثرون: یعنې ماته د وزن کولو په وخت داسې معلومېده لکه د هغې پلې نه خلک په ما راغورځېږي ځکه چې د هغوی پله سپکه وه پورته کېدله او زما پله درنه وه نو هغوی ګویا د پاسه په ما

(۱) اخرجه الدارمي في السنن ۱/۲۰ رقم الحدیث ۱۴ .

باندې راغور ځيږي . يو څاڅير ښه ويلي دي :

جہاں کی سارے کمالات ایک تجھ می ہیں — تیرا کمال کسی می نہیں مگر دو چار

حضور ﷺ باندې په هر حالت کې قرباني فرض وه

﴿۳۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُتِبَ عَلَيَّ النَّحْرُ
او ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل په ما په هر حالت کې قرباني فرض شوي ده
وَلَمْ يُكْتَبْ عَلَيْكُمْ وَأُمِرْتُ بِصَلَاةِ
که زه مالي استطاعت لرم يا نه لرم او حال دا چې تاسو باندې داسې فرض نه ده او ماته د چاشت مونځ حکم د وجوب په
الضُّحٰى وَلَمْ تُؤْمَرُوا بِهَا. رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ. (1)
طور شوی دی حال دا دی چې تاسو ته نه دی سوی بلکه دا مونځ يې ستاسو دپاره صرف سنت ګرځولی دی.

توضيح : كتب علي: د فرض کولو په معنی سره دی يعنې که زه مالداره يم يا غير مالداره ، په هر حالت کې په ما باندې قرباني فرض ده ، او تاسې د امت والاو که مالداره نه ياست نو په تاسې باندې قرباني فرض نه ده او د څاښت مونځ په ما باندې واجب دی ، په تاسو باندې واجب نه دی .

سوال : دلته دا سوال پيدا کيږي چې حضور ﷺ د څاښت د مانځه پابندی کړې نه ده نو د فرض کيدلو مطلب څه دی ؟

جواب : ددې جواب دا دی چې په حضور ﷺ باندې يو وار د څاښت مونځ فرض وو چې هغه وکړلو د هميشه لپاره فرض نه وو او په امت باندې هم فرض نه دی صرف سنت دی .

(1) اخرجه الدارقطني في سننه ۴/۲۸۲ رقم الحديث ۴۲ من باب الصيد

باب اسماء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصفاته

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نومونو او د صفاتو بيان

د دې عنوان دوه جزء دي په یو جزء کې د هغه د نومونو ذکر دی، په دویم جزء کې د هغه د صفاتو بيان دی، مګر دا یاد ساتل پکار دي چې د صفاتو نه د هغه اخلاق او شمائل مراد نه دي بلکه د هغه د جسماني ساخت بيان مراد دی چې دیته حلیه ویلی کیږي، نو په دې باب کې به د هغه حلیه مبارکه پیش کیږي او د دینه وروسته به د هغه د اخلاقو بيان راځي .د هغه نومونه سل دي مګر د هغه ذاتي نوم چې د هغه نیکه عبد المطلب د هغه لپاره منتخب کړی وو هغه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو، همدا زیات مشهور دی البته په سابقه ادیانو او سابقه کتابونو کې او همدا رنګه د آسمان په ملائکو کې د هغه زیات مشهور نوم احمد دی.
په عربو کې د محمد نوم اینښودلو ډیر کم رواج وو بلکه د نیست برابر وو . د هغه د نیکه نه هم پوښتنه شوې وه چې تاسو دا نوم ولې کیښودلو ؟ نو هغه وفرمایل چې ما وغوښتل چې د کائناتو ذره ذره زما د دغه ځوی تعریف او مدحه وکړي او دا د ټولو محمود جوړ شي یعني ستوده صفات، تعریف کرده شده جوړ شي.
حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدې حقیقت ته اشاره کړې فرمایلي یې دي:

وضم الاله اسم النبي باسمه   اذا قال في الخمس المؤذن اشهد

فشق له من اسمه ليجله   فذو العرش محمود و هذا محمد

داسې معلومیږي چې د هغه سره دغه نوم تکویني طور باندې مختص وو ، د هغه نه مخکې زیات نه زیات او وو کسانو خپلو ځامنو ته د محمد نوم ایخی وو هغه هم په دې مقصد باندې چې شاید نبی آخر زمان د هغوی ځوی جوړ شي ، ځکه چې د سابقه کتابونو نه هغوی ته معلومه شوې وه چې د نبي آخر زمان نوم به محمد وي، علامه بوصیری رحمه الله فرمايي:

محمد سيد الكونين والثقلين   والفريقين من عرب و من عجم

په هر حال باب فضائل سید المرسلین نه واخله تر باب مناقب قریش پورې په انتهائي بسط او شرحه سره او انتهایي تفصیل سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فضائلو بيان دی، د مظاهر حق د صفحاتو په حساب سره ۲۹۲ صفحاتو باندې مشتمله دغه عظیمه ذخیره د احادیثو صرف او صرف د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مناقبو سره متعلق ده مګر بیا هم تنده وي . حقیقت دا دی چې د الله تعالی د محامدو لپاره محمد عربی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کافي دی او د محمد عربی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدائحو لپاره د الله تعالی ذات کافي دی، مونږ خو صرف د ثواب لپاره د هغوی محامد او مدائح بار بار بیانوو، یو چا ډیر ښه ویلي دي:

خدا در انتظار حمد ما نیست   محمد چشم بر راه ثنا نیست

خدا مدح آفرین مصطفی بس   محمد حامد حمد خدا بس

محمد از تو میخواهم خدا را   خدایا از تو عشق مصطفی را

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مختلف نومونه

﴿۱﴾ عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِنَّ لِيْ أَسْمَاءً
جبیر بن مطعم رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چې ځما متعدد نومونه دي په هغې
أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِيْ الَّذِيْ يَمْحُو اللهُ بِيَ الْكُفْرَ
کې ځما مشهور نومونه محمد دی او احمد دی اوزه ماحي یم چې الله ! ځما په ذریعه کفر ختموي
وَ أَنَا الْحَاشِرُ الَّذِيْ يُحْشَرُ النَّاسُ عَلٰى قَدَمَيَّ وَ أَنَا الْعَاقِبُ
ځما نوم حاشر هم دی چې خلق به ځما په نقش قدم پورته شي او ځما نوم عاقب هم دی یعني هغه سړی
وَالْعَاقِبُ الَّذِيْ لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۱)
چې د هغه نه روسته بل نبي نشته. [بخاري مسلم]

توضیح: **اسماء**: یعني زما ډیر نومونه دي، د حضور صلی الله علیه وسلم د نومونو زیاتوالی د هغه په عظمت او د اوصاف حمیده په کثرت باندې دلالت کوي، د حضور صلی الله علیه وسلم یو نوم اسم ذاتی دی چې محمد صلی الله علیه وسلم دی چې د هغه نیکه ایخی دی، باقي ټول صفتي نومونه دي چې ټول سل نومونه مشهور دي.

الماحی: د باطل ختمونکی، **الحاشر**: جمع کونکی یعني د ټولو نه مخکې به حضور صلی الله علیه وسلم د قبر نه پورته کیږي، د هغه په نقش قدم باندې به نور خلک پورته کیږي او د محشر په میدان کې به جمع کیږي.

العاقب ددې مطلب دادی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دی د هغه نه وروسته هیڅ نبي نه راځي ، حضرت عیسی علیه السلام به د هغه امتي جوړیدلو سره راځي ، ددې نه علاوه دعوه کونکی به دروغجن او دجال وي.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَمِّيْ لَنَا
او ابوموسی اشعري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به ځمونږ مخکې د خپل ذات مبارک

(۱) اخرجه البخاري ۶/۵۵۴ رقم الحدیث ۳۵۳۲ ومسلم في ۱۸۲۸ رقم الحدیث (۲۳۵۴. ۱۲۴) وأحمد في المسند ۴/۴۰۷.

نَفْسَهُ أَسْمَاءً فَقَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ وَالْمُقَفِّي

متعدد نومونه بیانول يوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل زه احمد یم زه محمد یم زه مُقفِّي یم تمام

وَ الْحَاشِرُ وَ . نَبِيُّ التَّوْبَةِ

پیغمبرانو نه روسته راتلونکی یم زه حاشر یم یعني د قیامت په ورځ د تمام خلق جمع کونکی یم زه

وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

د توبي نبي یم او زه د رحمت نبي یم.

توضیح: (المقفى) من القفو بمعنى الآخر، یعنې د ټولو نه په آخر کې راتلونکی نبی، دا د عاقب په معنی سره دی، ګویا د خاتم النبيين په مفهوم سره دی. (نبي الرحمة) هغه د کائناتو لپاره رحمت جوړ شوی راغلی دی، (نبي التوبة) مطلب دا دی چې د هغه په لاس باندې ډیرو خلک و توبه وویستله، یا مطلب دا دی چې هغه په ورځ او شپه کې ډیر استغفار او توبه کوله. د مسجد نبوی په محرابی دیوال باندې د دې سره نبي السيف هم لیکلی دی. او نبي الملاحم هم د هغه د نومونو نه یو نوم دی یعنې د غټو جنګونو والا نبی او د تورې والا نبی.

حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم د کنځلو نه محفوظ دی

﴿۲﴾ وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حضرت جبیر بن او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه ورځ صحابو ته

اَلَا تَعْجَبُوْنَ كَيفَ يَصْرِفُ اللهُ عَنِّيْ شَتْمَ قُرَيْشٍ وَلَعْنَهُمْ يَشْتِمُوْنَ

وفرمائیل آیا تاسو ته پدې حیرانتیا نده چې الله ! زه د قریشو مکهد کنځلو او لعنتونو نه څرنګه

مُذَمَّمًا وَيَلْعَنُوْنَ مُذَمَّمًا وَأَنَا مُحَمَّدٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

محفوظ کړی یم هغوئ مذمم ته کنځل کوي او مذمم باندې لعنت لیږي حال دا چې زه محمد یم. [بخاري]

[1] اخرجه مسلم ۴/۱۸۲۸ رقم الحديث (۲۳۵۵.۱۲۶) وأحمد في المسند ۴/۳۹۵.

[2] اخرجه البخاري ۶/۵۵۴ رقم الحديث ۳۵۳۳ والنسائي في السنن ۶/۱۵۹ رقم الحديث ۳۴۳۸ ...

جَسَدَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۱)

درنګ په شان وو. مسلم

توضیح: شمط: دا د ویښتانو سپینوالي ته ویل کیږي.

شعث: د ویښتانو وچیدلو سره تیت او پرک کیدلو ته شعث ویلی کیږي.

مثل السیف: څنګه چې په توره کې د ځلیدلو سره اوږدوالي او بروي نو دا احتمال پیدا شو چې شاید د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ دارنګه وو، ددې جواب حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورکړو چې داسې نه وه بلکه د هغه مخ د سپوږمۍ پشان سپین او د لمر پشان روښانه وو.

یشبه جسده: یعنې د مهر نبوت غوښه د جسم د غوښې سره مشابه وه چې د عام جسم رنګ یې وو. حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نوعمر صحابی دی او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حلیه مبارکه کوچنیو صحابو بیان کړې ده لویو صحابو دا جرأت کولی نشو چې ددې اعتراف حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل وفات په وخت کې کړی وو چې ما کله هم په خلاصو سترګو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیدار کړی نه دی، ادب او رعب حائل وو.

مهر نبوت تفصیل

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسٍ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْتُ مَعَهُ

او عبد الله بن سرجس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زیارت ملاقات او هغوئ سره د

خُبْزًا وَّلَحْمًا أَوْ قَالَ ثَرِيدًا ثُمَّ دُرْتُ خَلْفَهُ فَنَظَرْتُ إِلَى

طعام خوړلو شرف حاصل کړه طعام روټۍ او غوښه وه یا هغه دا وویل ثرید وو بیا زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خَاتَمِ النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرٰى

شا طرف ته راغلم او مهر نبوت مې اولیدلو چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو اوږو په منځ کې د ګسي اوږې

جُمْعًا عَلَيْهِ خِيْلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيْلِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۲)

نرم هډوکی باندې وو او د هیئت د اعتبار نه د موټي په شان وو او په هغه د زخو په شان تخم وو (مسلم)

---

(۱) اخرجه مسلم ۴/۱۸۲۳ رقم الحديث (۱۰۹.۲۳۴۴) وأخرجه الترمذي في السنن ۵،۵۵۸ رقم الحديث ۳۶۳۶.

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۳ رقم الحديث (۱۱۲.۲۳۴۶) وأخرجه الترمذى فى السنن ۵:۵۶۲ رقم ۳۶۵۴.

توضيح : **خاتم النبوة**: د ختم نبوت دغه مهر د حضور ﷺ په شا باندې د چپې اوږې لاندې وو، د نبوت حاصليدلو نه وروسته دا پيدا شوی وو، دا د غوښې يوه گوله حصه وه چې ددې په باره کښې په سابقه آسماني کتابونو کښې د وخت انبياؤ تفصيل ورکړی وو او د هغه د نبوت علامت گرځولی شوی وو. په دغه وجه حضرت محمد ﷺ هر کتونکي ته دا ورښودله او نه يې پټوله، په هغه باندې ليکل شوي وو (وحده لاشريک له توجه حيث کنت فانک منصور) د هغه د وفات سره مهر نبوت په جسم کښې د ننه شولاړلو.

ناغض کتفه: د اوږې د هډوکی نرمې او باريکي حصې ته ناغض ويلی شوي د چپې اوږې لاندې په دغه مقام کښې زړه وي گويا د زړه د پاسه مهر نبوت وو.

جُمعا: د لاس د ورغوي پشان دغه مهر وو، دا تشبيه په هيئت او کيفيت کښې ده په حجم کښې نه ده، په حجم کښې دغه مهر د کوترې د هگۍ برابر وه، دا خبره په ذهن کښې ساتل پکار دي چې هر کتونکي د دغه مهر جوړښت په يوه اندازه سره ښودلې دی په دغه وجه مختلف الفاظ راغلي دي، بعضو د زرکې د هگۍ بعضو د کوترې د هگۍ بعضو د منې د دانې برابر د دغه مهر ساخت بيان کړی دی او بعضو د لاس د ورغوي برابر ښودلی دی، دا ټولې اندازې دي ديته تعارض نه ويلی کيږي هر يوه خپله اندازه بيان کړې ده.

خيلان: دا جمع ده ددې مفرد خال دی، دا خالونه په غوښه کښې د زخو پشان موجود وو.

ثآليل: د ثالول جمع ده زخې ته وايي، د بن الاثير په نهايه کښې ليکلي دي چې ديته په فارسی کښې (زخ) وايي زمونږ په پښتو ژبه کښې ديته (زخه) وايي، د توضيحات جلد اول باب احکام المياه حديث نمبر ۳ په توضيح کښې هم د مهر نبوت په باره کښې يو څه تفصيل ليکلی شوی دی.

﴿۶﴾ وَعَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيْدٍ قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثِيَابٍ
او د خالد بن سعيد لور اُمِّ خالد وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ ته څه کپړې راغلې په هغه کښې يوه
فِيْهَا خَمِيْصَةٌ سَوْدَاءُ صَغِيْرَةٌ فَقَالَ ائْتُوْنِيْ بِأُمِّ خَالِدٍ
وړه کمبله هم وه حضور ﷺ وفرمائيل ام خالد ماته راولئ نو ام خالد حضور ﷺ ته راوستل
فَأُتِيَ بِهَا تُحْمَلُ فَأَخَذَ الْخَمِيْصَةَ بِيَدِهٖ فَأَلْبَسَهَا
شوه حضور ﷺ هغه کمبله پورته کړه او خپل لاس مبارک سره يې ام خالد ته ور واغوستله او بيا
قَالَ اَبْلِيْ وَأَخْلِقِيْ ثُمَّ اَبْلِيْ وَأَخْلِقِيْ وَكَانَ فِيْهَا عَلَمٌ أَخْضَرُ أَوْ أَصْفَرُ
ام خالد ته يې دا دعا وکړله دا کپړه زړه کړئ او بيايې زړه کړئ هغه کمبل کښې شنې يا زيړې نښې

فَقَالَ	يَا	أُمَّ	خَالِدٍ	هٰذَا	سَنَاهُ	وَهِيَ بِالْحَبَشِيَّةِ

جوړې شوې وې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ام خالد ! داجوړه خوډیره اعلی ده او لفظ سناه د حبشي

حَسَنَةٌ	قَالَتْ	فَذَهَبْتُ	أَلْعَبُ

ژبې لفظ دی چې د هغې معنٰی ده ښه او ښائسته دي ام خالد وايي بيا زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شا

بِخَاتَمِ	النُّبُوَّةِ	فَزَبَرَنِي	أَبِي

مبارکې طرف ته ولاړم او د ماشومتوب د ناپوهي په بناء مهرِ نبوت سره لوبې کولې ځما پلار چې

فَقَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	دَعْهَا.	رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

دا وليدل نو زه يې ورټلم او منع يې کړم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل دا مه منع کوه. بخاری.

توضیح: امر خالد: دا وړه ماشومه وه.

تحمل: يعنې د کوچنيوالي په وجه به اخيستل کيدله.

خميصة: د وړيو نه جوړه شوې وړې ښايسته يمنی کمبلې ته ويلی کيږي چې په هغې کې ګل وي، لکه چې ويلې شوي دي:

لبست الخميصة ابغی الخبيصة وانشنت شمی فی کل شيصة

سناه: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حبشه والاؤ لغت استعمال کړلو چې د سناه لفظ وو چې د هغه ترجمه حسنة وه يعنې ډيره ښايسته ده.

زبرني: يعنې د بی ادبۍ د ويرې په وجه زه خپل پلار منع کړم بلکه ويې نيولم منع يې کړم.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قدوقامت او غيره ذِکر

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيْلِ الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيْرِ

او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قد مبارک نه ډير اوږد وو او نه لنډ رنګ مبارک يې نه

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۰۸۳ رقم الحديث ۳۰۷۱، وأبوداود ۴/۳۱۱ رقم الحديث ۴۰۲۴.

وَلَيْسَ. بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ وَ لَا بِالْآدَمِ وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطِطِ وَ لَا بِالسَّبْطِ

بالکل سپین وو نه بالکل ګندمي د سر مبارک ویښته یې نه بالکل ګولګوتي او نه بالکل سیده وو او

بَعَثَهُ اللهُ عَلٰى رَأْسِ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشَرَ

الله ! هغه وقت را ولیږه کله چې د هغه عمر پوره څلویښت کاله شو بیا حضور صلى الله عليه وسلم لس کاله مکه

سِنِيْنَ وَبِالْمَدِيْنَةِ عَشَرَ سِنِيْنَ وَتَوَفَّاهُ اللهُ عَلٰى رَأْسِ سِتِّيْنَ

معظمه کې قیام وکړه او لس کاله په مدینه منوره کې او الله ! حضور صلى الله عليه وسلم ته د شپیتو کالو په عمر

سَنَةً وَّلَيْسَ فِيْ رَأْسِهٖ وَلِحْيَتِهٖ عِشْرُوْنَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ

کې وفات ورکړه تر هغه وقت د حضور صلى الله عليه وسلم د سر مبارک او ږیرې کې صرف شل ویښته سپین وو په

وَفِيْ رِوَايَةٍ يَصِفُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ

یو بل روایت کې انس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم اوصاف بیانولو سره دا وویل چې حضور صلى الله عليه وسلم به

رَبْعَةً مِّنَ الْقَوْمِ لَيْسَ بِالطَّوِيْلِ وَلَا بِالْقَصِيْرِ أَزْهَرَ اللَّوْنِ

خلقو کې میانه قد وو نه د ننګ وو نه لنډ د حضور صلى الله عليه وسلم رنګ صاف وو ځلانده وو حضرت انس رضي الله عنه

وَقَالَ كَانَ شَعْرُ رَأْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى أَنْصَافِ

دا هم بیان وکړو چې د حضور صلى الله عليه وسلم د سر مبارک ویښته د غوږونو تر نیمایي پورې وو او په یوه روایت

أُذُنَيْهِ وَفِيْ رِوَايَةٍ بَيْنَ أُذُنَيْهِ وَعَاتِقِهٖ.

کې دا الفاظ دي چې د حضور صلى الله عليه وسلم د سر مبارک ویښته د غوږونو او اوږو د منځه پورې اوږده وو.

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّلْبُخَارِيِّ قَالَ كَانَ ضَخْمَ الرَّأْسِ

[بخاري مسلم] او په یو روایت د بخاري کې دی چې انس رضي الله عنه بیان وکړو د حضور صلى الله عليه وسلم سر

وَ الْقَدَمَيْنِ لَمْ أَرَ بَعْدَهُ وَلَا قَبْلَهُ مِثْلَهُ
مبارک غټ وو او پښې د غوښې نه ډکې وې ما د هغه په شان نه خو مخکې لیدلی دی او نه مې
وَكَانَ بَسْطَ الْكَفَّيْنِ وَفِيْ أُخْرٰى لَهُ
روسته او د حضور ﷺ د لاس مبارک وو د بخاري په یوه روایت کې دي انس رضي الله عنه بیان
قَالَ كَانَ شَثْنَ الْقَدَمَيْنِ وَ الْكَفَّيْنِ[1]
وکړو د حضور ﷺ دواړه متې [بازو] او ورغوی هوار او د غوښې نه ډک وو.

توضيح: طويل بائن: د حد نه زیات اوږد نه وو. **الامهق**: د چونې په شان سپین نه وو. (**آدم**) یعنې بلکل سور نه وو. **الجعد القطط**: ډیر کلک ویښتان یې نه وو بلکه معمولی کړکوتي وو. (**قطط**) د تأکید لپاره دی تر څو په جعد کې مبالغه راشي. (**السبط**) یعنې بلکل سوی ویښتان یې هم نه وو، مطلب دا دی چې نه بلکل د حبشو والاؤ پشان کونجي ویښتان وو او نه د انګریزانو پشان سوی وو بلکه معمولی پیچ داره کړکوتي وو.

بمكة عشر سنين: یعنې د څلویښتو کلونو په عمر نبوت ورته حاصل شو او د نبوت زمانه یې په مکه کې لس کاله وه او په مدینه کې هم لس کاله وه او د ۶۰ کالو په عمر کې د هغه وصال وشو، په دې روایت کې په مکه مکرمه کې د حضور ﷺ قیام د نبوت حاصلیدو نه وروسته لس کاله بنودل شوی چې دیته په کتو د وصال عمر ۶۰ کاله جوړیږي مګر په نورو صحیح او واضحه روایاتو کې په مکه مکرمه کې قیام د نبوت نه بعد دیارلس کاله ښودل شوی، په دې طریقه ټول عمر ۶۳ کاله عمر جوړیږي. امام بخاری رح وغیره علماؤ همدا صحیح او راجح ګرځولی. په زیر بحث روایت کې د لسیزو ذکر شوی دی او کسر پریښودل شوی دی، عرب په خپله محاوره کې همداسې کوي، په بعضو روایاتو کې د حضور ﷺ ټول عمر ۶۵ کاله ښودل شوی دی نو په دې کې د ولادت او وفات دوه کلونه شمیرل شوي دي، صحیح هماغه روایت دی چې په هغه کې ۶۳ کاله ذکر دي چې په هغه کې په مکه کې ۱۳ کاله او په مدینه کې لس کاله زمانه بیان شوې ده په دې طریقه ټول عمر ۶۳ کاله کیږي. ربعة: یعنې د درمیانه قد والا وو، نه یې قد ډیر اوږد وو او نه ټیټ وو. لیس بالطویل ولا بالقصیر د همدغه لفظ تفسیر دی. (ازهر اللون) یعنې د واضحه او صفا رنګ مالک وو. په سپین رنګ کې چې کله چمک وي همدغه مراد دی.

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۲ رقم الحديث ۳۵۴۷.۳۵۴۸ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۴ رقم الحديث (۲۳۴۷.۱۱۳)

ضخم الرأس: یعني د اعتدال سره د هغه ﷺ د سر حجم لوی وو. دا د عزت او عظمت او سرداری علامت وي او د عربو په نزد ډیر ممدوح دی. **(شثن القدمین)** یعني د هغه ﷺ لاسونه او پښې دواړه د غوښو نه ډک او سخت مضبوط وو دا هم په عربو کې محمود او ممدوح وو مګر په نارینو کې نه په ښځو کې، د ښځو لپاره شاعر وایي:

وتعطو برخص غیر شثن کأنها اساریع ظبی او مساویک اسحل

د لاسونو او پښو د اطرافو سخت کیدل د تخلیق په اعتبار سره وو، نه دا چې زیږه وو، د زیږ خو نفی ده. مضبوط لاس او مضبوط قدم مراد دی. **ای غلیظ الاطراف من شَثُنَ بالضم والکسر اذا غلظ (مرقات)** ګویا د سبط الکفین او شثن الکفین معنی یوه ده.

﴿۸﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوْعًا بَعِيْدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ
او براء رضي الله عنه وايي د رسول الله ﷺ میانه قد وو او د دواړو اوږو په منځ کې کافي لریوالی
لَهُ شَعْرٌ بَلَغَ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ رَأَيْتُهُ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ
وو د حضور ﷺ د سر مبارک ویښته د غوږونو نرمیو پورې وو او ما حضور ﷺ سور لباس کې
لَمْ أَرَ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ
ولیدلو ما د حضور ﷺ نه زیات حسین هیڅ شی نه دی لیدلی. [بخاري مسلم] او د مسلم په یوه
قَالَ مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِيْ لِمَّةٍ أَحْسَنَ فِيْ حُلَّةٍ
روایت کې دا الفاظ دي چې حضرت براء رضي الله عنه وویل ما هیڅ ویښتانو والا سړی سور لباس کې د
حَمْرَاءَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَعْرُهُ
رسول الله ﷺ نه زیات حسین او وجیه نه دی لیدلی د حضور ﷺ د سر مبارک ویښته دا اوږو
يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيْدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ
پورې وه د حضور ﷺ د دواړو اوږو په منځ کې کافي پراخوالی وو او د حضور ﷺ

لَيْسَ بِالطَّوِيْلِ وَلَا بِالْقَصِيْرِ. (۱)
قد نه ډیر دنګ او نه ټیټ وو.

توضيح: يعني دولو مينځ کې فاصله يې زياته وه ددې نه دسينې کولاو والی معلوميږي چې ممدوح او ښه دی د پيغمبر عليه السلام د ويختانو مکمل تحقيق ددې نه مخکې کتاب اللباس کې تيزشوی دی

﴿۹﴾ وَعَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ
او حضرت سماک بن حرب د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه نه روايت کوي هغه وويل
رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيْعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنِ
رسول الله صلى الله عليه وسلم کولاو خولې والا وو سترګو کې يې سُرخي وه او پوندې يې کمې غوښې ولاوې راوي وايي
مَنْهُوْشَ الْعَقِبَيْنِ قِيْلَ لِسِمَاكٍ مَا ضَلِيْعُ الْفَمِ
چې حضرت سماک نه پوښتنه وشوه چې ضليع الفم نه څه مراد دی؟ نو هغه وويل لويې خولې والا
قَالَ عَظِيْمُ الْفَمِ قِيْلَ مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ قَالَ طَوِيْلُ
هغه نه پوښتنه وشوه چې دأشكل العين څه معنیٰ ده؟ نو جواب يې ورکړو د دې معنیٰ ده د سترګو د دائرې
شَقِّ الْعَيْنِ قِيْلَ مَا مَنْهُوْشُ الْعَقِبَيْنِ قَالَ قَلِيْلُ
لوی والی بيا ترينه پوښتنه وشوه چې د منهوش العقبين څه معنیٰ ده؟ نو جواب يې ورکړه هغه
لَحْمِ الْعَقِبِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۲)
پوندې چې غوښې يې کمې وې. [مسلم]

توضيح: (ضليع الفم) ای وسيعه يعنې د اعتدال سره د هغه خوله مبارکه پراخه وه. عرب خلک پراخه خوله خوښوي، پراخه خوله د فصاحت او بلاغت علامت دی. (**اشكل العينين) هو مافيه حمرة و بياض**

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۵ رقم الحديث ۳۵۵۱ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۸ رقم الحديث (۹۱.۲۳۳۷)

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۰ رقم الحديث (۹۷.۲۳۳۹) والترمذي في السنن ۵/۵۶۳ رقم الحديث ۳۶۴۷.

مختلطة یعنې غټې سترګې یې وې سپینوالی یې زیات سپین او تور والی یې زیات تور وو او په سپینوالی کې یې سره خطونه وې چې دا د نهایت ښایست علامه ده ، سماک راوی چې د اشکل العینین کوم تفسیر کړی دی عامو شارحینو دا غلط ګرځولی دی ، هو ! د سترګو د غټوالی لپاره دا تفسیر صحیح دی.

منهوش العقبین: عقب پوندې ته وایې او منهوش د نهش نه دی نه کمې غوښې ته وایې ، د پوندو باریکوالی د ښایست علامه ده.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو طفیل رضي الله عنه وایې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم اولیدلو چې سپین او خوش رنګ وو او متوسط
كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [1]
القامت او متناسب الاعضاء والا وو. [مسلم]

توضیح: **(مقصدا)** یعنې د افراط او تفریط نه بالاتر د هغه قد مبارک متوسط او معتدل وو، د دینه مخکې د ربعة القوم چې کوم لفظ دی د هغه معنی او د مقصدا معنی یوه ده. **(ملیحا)** یو ساده سپینوالی دی هغه دومره ښایسته نه وی ، د بیاض سره چې د ملاحت والا نمکین رنګ وي هغه زیات او چت ښایست وي ، دلته هم همدا بیانول مقصود دي ، په یو حدیث کې حضور صلى الله عليه وسلم فرمایلي: **انا ملیح و أخي یوسف صبیح.**

حضور صلى الله عليه وسلم خضاب نه دی استعمال کړی؟

﴿۱۱﴾ وَعَنْ ثَابِتٍ سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او ثابت رضي الله عنه وایي چې انس رضي الله عنه نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خضاب باره کې تپوس وشو
فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ
نو هغه وفرمائیل : د حضور صلى الله عليه وسلم عمر دومره چیرته وو چې خضاب یې استعمال کړی وی ، که ما
شَمَطَاتِهِ فِي لِحْيَتِهِ وَفِي رِوَايَةٍ لَوْ شِئْتُ أَنْ
د حضور صلى الله عليه وسلم د ږیرې مبارکې سپین ویښتان شمیرل غوښتل نو یقینًا شمیرلی مې شو په یوه روایت
أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
کې دا الفاظ دي که ما د حضور صلى الله عليه وسلم د سر مبارک سپین ویښتان شمیرل غوښتلی نو شمیرلی مې

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۰ رقم الحديث (۹۹. ۲۳۴۰) وأبوداود ۵/۱۸۶ رقم الحديث ۴۸۶۴.

وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ اِنَّمَا كَانَ الْبَيَاضُ فِيْ عَنْفَقَتِهِ
شو [بخاري مسلم] او په يوه روايت کې داهم دي چې انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل د وېښتانو سپين والى
وَ فِي الصُّدْغَيْنِ وَ فِي الرَّأْسِ نَبْذٌ.(۱)
د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ږيرې مبارکې لاندې حصه کې او څنو کې او څه سر مبارک کې وو

توضيح: **شمطات**: د بوډاوالى په وجه چې په سر او ږيره کې څو سپين وېښتان ظاهره شي هغې ته شمطات وايي. **فعلت**: ددينه په مخکې حديث کې د لو لفظ د شرط لپاره دى د هغه جزا فعلت دى. حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا بيانوي چې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بوډاوالى هغه حد ته رسيدلى نه وو چې ټول وېښتان سپين شوي وي او هغه خضاب ته محتاج شوې وي.

د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ريښمي او عنبري بدن

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْهَرَ اللَّوْنِ كَأَنَّ عَرَقَهُ اللُّؤْلُؤُ
او انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بريښيدونکي رنګ والا وو او ييې د ملغلرو په شان
إِذَا مَشٰى تَكَفَّأَ وَمَا مَسِسْتُ دِيْبَاجَةً وَلَا حَرِيْرًا أَلْيَنَ
وې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به پر لار روان وو نو مخې طرف ته به خکته کېدو سره تللو او ما هيڅ ورېښم هم
مِنْ كَفِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ لَا شَمَمْتُ مِسْكًا وَ لَا عَنْبَرَةً
د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورغيو نه زيات نرم نه دي پيدا کړي او نه ما څه داسې مشک او عنبر بوى کړي دي
أَطْيَبَ مِنْ رَائِحَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ(۲)
چې په هغه کې د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بدن مبارک د خوشبوئي نه زياته خوشبوئي وي [بخاري مسلم]

توضيح: **(ازهر اللون)** د واضحه روښانه او ځليدونکي په معنى سره دى. **(تكفأ)** په تګ کې مخکې طرفته جهکې سره تګ ته تکفاء وايي. **(ديباجة)** يو ډبل قسم ريښم دي. **(عنبرة)** د مشک او عنبر په معنى سره دى.

أم سليم او ام حرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ محارمې وې

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْتِيْهَا فَيَقِيْلُ
او ام سليم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه کره راتلو او قيلوله به ييې کوله ام سليم،

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۵۸۹۵ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۱ رقم الحديث (۲۳۴۱.۱۰۵)

(۲) اخرجه البخاري ۶/۵۶۶ رقم الحديث ۳۵۶۱، ومسلم ۴/۱۸۱۵ رقم الحديث (۲۳۳۰.۸۲) وأحمد في المسند ۳/۲۲۸

عِنْدَهَا فَتَبْسُطُ نِطْعًا فَيَقِيْلُ

به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره د چمړې (څرمنې) بستره غوړوله او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په هغې ارام كوى نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَلَيْهِ وَكَانَ كَثِيْرَ الْعَرَقِ فَكَانَتْ تَجْمَعُ عَرَقَهُ

باندې به خوله ډيره راتله ځكه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كثير الحياء وو ام سليم به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوله جمع

فَتَجْعَلُهُ فِي الطِّيْبِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كولو سره خپلو عطرو كې يو ځاي كوله يو ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه خوله جمع كولو باندې وليده نو

يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا هٰذَا قَالَتْ عَرَقُكَ نَجْعَلُهُ فِي

پوښتنه يې ترينه وكړه ام سليم دا ته څه كوې؟ ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل دا ستا سو خوله مباركه ده چې

طِيْبِنَا وَهُوَ مِنْ أَطْيَبِ الطِّيْبِ

مونږ يې په خپلو خوشبويو كې ګډوو او دا د ټولو خوشبويو نه زياته خوشبو داره ده او په يوه

وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ

روايت كې دا الفاظ دي چې ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل يا رسول الله! دا خوله مباركه مونږ خپلو بچو د پاره

نَرْجُوْ بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا قَالَ أَصَبْتِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

د بركت باعث ګڼو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل تا صحيح وويل او ښه دي وكړل. [بخاري مسلم]

توضيح: (نطعا) د چرم (څرمن) دسترخوان ته وايې دلته د څرمنې بستره مراد ده . ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعى خاله يا عمه ده، ام حرام رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يې هم دا رنګه خپله ده، لهذا دا دواړه ښځې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محارمو نه دي. (يقيل) د قيلوله نه دى د غرمې په وخت آرام او خوب كولو ته وايې.

سوال: دلته دا سوال دى چې ام سليم رض او ام حرام رض د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعى خاله ګانې څنګه شوې حال دا چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدينه منوره كې د كومې ښځې شودې څكلى نه دي او دا انصارى ښځې د مدينې منورې دي؟

جواب: ددې جواب دا دى چې كيدلى شي چې دوى دواړو د عبد الله صاحب سره يې رودلى وي نو دوى د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمه ګانې شوې يا يې د حضرت آمنې سره شودې رودلې وي نو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاله ګانې شوې، عبد الله صاحب او حضرت آمنه په مدينه منوره كې اوسيدل او ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او ام حرام رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په مدينه كې د بنو نجار زنانه دي، بنو نجار د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماماګان وو، علامه طيبى رحمه

[1] اخرجه البخاري ۱۱/۷۰ رقم الحديث ۶۲۸۱ ومسلم ۴/۱۸۱۵ رقم الحديث (۸۳. ۲۳۳۱) واحمد في المسند ۳/۱۳۶.

الله دغه توجیه کړې ده او فرمایلي يې دي چې یو شارح هم دې اهمې نکتې ته اشاره کړې نده ، زه الله تعالی په دې قیمتي ملغلرې سره مشرف کړم او ددې فهم يې راته عطاء کړلو ، بنده عاجز فضل محمد غفرله وايي چې واقعی علامه طيبی رحمه الله په دغه علمی جوهر باندې نازولی دی چې په دې سره لوی سوال حل شو ، د علامه طيبی رحمه الله عربی عبارت داسې دی (**والالی والله اعلم اول من وقفت لذلک فواها لها من درة کنت مستخرجها واثر احمد علی هذه الموهبة السنية**)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْأُوْلٰى

او جابر بن سمره رضي الله عنه وايي یو وخت ما رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د ماپښین مونځ وکړه مانځه

ثُمَّ خَرَجَ إِلٰى أَهْلِهٖ وَخَرَجْتُ مَعَهٗ فَاسْتَقْبَلَهٗ

نه روسته حضور صلى الله عليه وسلم خپل کور ته تلو د پاره مسجد نه بهر راووتلو او حضور صلى الله عليه وسلم سره زه هم بهر

وِلْدَانٌ فَجَعَلَ يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَّاحِدًا وَأَمَّا أَنَا

راغلم اتفاقا د حضور صلى الله عليه وسلم مخ ته څه ماشومان راغلل حضور صلى الله عليه وسلم میني کولو د پاره د هر ماشوم

فَمَسَحَ خَدِّيْ فَوَجَدْتُ لِيَدِهٖ بَرْدًا

په مخ لاس راخکلو کړو او بیا يې ځما په مخ لاس راخکلو هغه وقت ما د حضور صلى الله عليه وسلم د لاس مبارک

أَوْ رِيْحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ

داسې یخوالی او خوشبو محسوسه کړله لکه چې حضور صلى الله عليه وسلم اوس د عطرو د شیشې نه خپل

عَطَّارٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُكِرَ حَدِيْثُ جَابِرٍ سَمُّوْا بِاسْمِيْ فِيْ بَابِ الْأَسَامِيْ[1]

لاس را اوخکلی وي [مسلم] او د حضرت جابر روايت سموا باسمي الخ باب الاسامي کې او د

وَحَدِيْثُ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ نَظَرْتُ إِلٰى خَاتَمِ النُّبُوَّةِ فِيْ بَابِ أَحْكَامِ الْمِيَاهِ.

حضرت سائب بن یزید روایت: نظرت الی خاتم النبوة الخ باب احکام المیاه کې نقل شوی دی

توضیح : واحدا واحدا: ما ددې ترجمه داسې کړې ده لکه څنګه چې پورته ذکر ده ، په دې طریقه حضرت جابر رض خپل فضیلت ثابتوي چې د نورو ماشومانو په یو یو باړخو (مخ) باندې لاس وګرځولو او زما په دواړو باړخوګانو باندې يې لاس وګرځولو ، په یو بل حدیث کې ددې تصریح موجوده ده . (**بردا**) یخوالي ته وايي ، (**او ریحا**) دلته د او کلمه په معنی د واو سره ده یا د بل په معنی سره ده یعنې یخوالی او خوشبو یا

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۴ رقم الحديث (۸۰. ۲۳۲۹)

يخوالی بلکه خوشبو ، دا معنی شوه . (جعرنة عطار) د عطر فروش هغه ډبې ته جونه ويل کيږي چې په هغې کې عطر ساتي ، په جيم باندې ضمه ده د هغه نه بعد همزه ساکنه ده . (ای سلته و حقته) علامه نووی رحمه الله فرمايي چې دا خوشبو د حضور ﷺ د جسم مبارک وه اګرچې هغه عطر هم په کثرت سره استعمالول مګر دا خوشبو د هغه ذاتی خوشبو وه ، يعنې هغه به چې کله د خپلې جبې نه لاس راويستلو نو په هغه کې به يخوالی هم وو او خوشبو به هم وه ، دواړه شيان ذاتی وو .

۲۰ جمادی الثاني ۱٤۱۸هـ

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د حضور ﷺ حُليه

﴿۱۵﴾ عَنْ عَلِيِّ بْنِ اَبِيْ طَالِبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْسَ بِالطَّوِيْلِ وَ لَا بِالْقَصِيْرِ

علي بن ابي طالب رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ نه اوږد قد والا وو نه ټيټ قد والا او غټ

ضَخْمَ الرَّأْسِ وَ اللِّحْيَةِ، شَثْنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ مُشْرَبًا حُمْرَةً

سر او ګڼې ږيرې والا وو د لاسونو تلې او پښې يې غوښنې وې رنګ يې سور او سپين وو د

ضَخْمَ الْكَرَادِيْسِ طَوِيْلَ الْمَسْرُبَةِ إِذَا

هډوکو جوړونه يې غټ وو او د سينې نه نامه پورې د ويښتانو يوه اوږده کرښه وه کوم وقت چې به

مَشٰى تَكَفَّأَ تَكَفُّأً كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ

حضور ﷺ روان وو نو د مخې طرف ته به خکته تلو ګويا کې حضور ﷺ د بلندی نه خکته ته

صَبَبٍ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ

راځي حقيقت دا دی چې ما د په شان هيڅ سړی نه مخکې ليدلی دی او نه د حضور) نه روسته

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

په حضور ﷺ دې د الله ! رحمت او سلامتي وي دا روايت ترمذي نقل کړی دی او

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ .[1]

ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی .

توضيح : مشربا حمرة: يعنې د هغه سپين بدن سره اندازه سور والی ګډ شوی وو يعنې د سور او سپين رنګ

(۱) اخرجه الترمذي ٥/٥٥٨ رقم الحديث ٣٦٣٧ واحمد في المسند ١/٩٦.

آمیزه وو چې نهایت ښایسته رنګ دی. د دوو مختلف رنګونو ګډوالی ته تشریب وایې ګویا یو رنګ د بل رنګ سره ملاو شوی دی.

الکرادیس: دا د کردوس جمع ده هر هغه هډوکي ته وایې چې د بل هډوکي سره په یو جوړ باندې جمع کیږي ای عظیم الاعظاء مطلب دا دی چې د هغه د هډوکو جوړ غټ وو.

ینحط: دا د خکته کیدلو په معنی سره دی، **من صبب**: دا د پاسه نه د لاندې طرفته راتللو په معنی سره دی مطلب دا دی چې ګویا هغه د اوچت ځای نه لاندې کوزیږي. دا د **تکفأ** تفسیر دی.

دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامع صفات

﴿۱۶﴾ وَعَنْهُ كَانَ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او د حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی کله چې به هغوی د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوصاف بیانول
قَالَ لَمْ يَكُنْ بِالطَّوِيلِ الْمُمَغَّطِ وَلَا بِالْقَصِيرِ
نو ویل به یې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ډیر اوږد وو او نه ډیر ټیټ بلکه میانه قد په خلقو کې وو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
الْمُتَرَدِّدِ وَكَانَ رَبْعَةً مِّنَ الْقَوْمِ وَلَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ
ویښتان نه ډیر ولول وو نه بالکل سیده وو بلکه څه لږ ول خوړلو سره وو مخ یې نه بالکل ګول او
الْقَطِطِ وَلَا بِالسَّبْطِ كَانَ جَعْدًا رَجِلًا وَّلَمْ يَكُنْ
دروند وو او نه یې اننګي پړسیدلي وو بلکه پوره مخ او رخسار یې یو شان او برابر وو او تندی یې
بِالْمُطَهَّمِ وَلَا بِالْمُكَلْثَمِ وَكَانَ فِي الْوَجْهِ تَدْوِيرٌ
بلند وو مخ مبارک یې څه قدرې کرد کې وو رنګ یې سور سپین وو سترګي یې توري وې بانوګان
أَبْيَضُ مُشْرَبٌ أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ أَهْدَبُ الْأَشْفَارِ
یې اوږده وو د بندونو هډوکې یې راپورته او د اوږو درمیانه حصه یې چیرته چې د دواړو
جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتِدِ أَجْرَدُ ذُو مَسْرُبَةٍ شَثْنُ
اوږو هډوکې یوځای کیږي مضبوط او غوښن وه په جسم مبارک یې ویښتان نه وو صرف د ویښتانو
الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ إِذَا مَشٰى يَتَقَلَّعُ كَأَنَّمَا يَمْشِيْ
یوه کرښه وو چې سینې نه نامه پورې تلې وه لاس او پښې یې ډک یعني غوښن وو په لار چې به تللو

فِيْ صَبَبٍ وَإِذَا الْتَفَتَ اِلْتَفَتَ مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ

نو قوت سره به يې قدم پورته کوه لکه چې د اوچت ځای نه چې راکوزيږي هر کله چې به نبي يا چپ طرف ته متوجه

خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ أَجْوَدُ

کيده نو پوره جسم سره به متوجه کيده او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوارو اوږو په منځ کې مُهرِ نبوت وو

النَّاسِ صَدْرًا وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً

او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاتم النبيين وو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولو خلقو کې د ټولو نه زيات د زړه

وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيْكَةً وَأَكْرَمُهُمْ

سخي او د ژبې ډير رېښتني وو د طبيعت ته ډير نرم او د ټولو نه معزز او مکرم انسان وو کوم

عَشِيْرَةً مَنْ رَآهُ بَدِيْهَةً هَابَهُ وَمَنْ

سړي چې به په مخکښې وار او ليدلو نو هيبت به ورباندې راتلو او کوم سړي چې به حضور %

خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ يَقُوْلُ نَاعِتُهُ

سره واقفيت او ميل جول درلودلو نو ډير محبت به يې ورسره کوه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اصفات او

لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ

خصوصيات بيانونکی وايي چې د هغه په شان هيڅ سړی ما د هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مخکې ليدلی دی او نه

مِثْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

روسته د الله رحمت او سلامتيا دي وي په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

توضيح: المغط: په ميم اول باندې ضمه ده دويم مفتوح دی په غين باندې شد او کسره ده د حد نه زيات اوږد ته وايي.

المتردد: د حد نه زيات وړوکی قد والا ته وايي ګويا بعضي اندامونه په بعضو کې ننوتلي دي.

ربعة من القوم: د ماسبق لپاره تأکيد دی.

جعدا رجلا: يعني معمولي پيچداره وېښتان يې وه.

المطهم: دا لفظ د اضدادو نه دی د زياتې غوښې والا چاغ ته هم وايي او د کمې غوښې والا خوار ته هم

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۵۹ رقم الحديث ۳۶۳۸.

وايي او د پړسيدلي مخ والا ته هم ويل کيږي.

المكلثم: د معمولي اوږدوالي سره د گرد مخ والا وو (د همدا وضاحت د راتلونکي عبارت دی) چې بالکل گرد مخ يې نه وو يو څه اوږدوالي پکې وو.

ابيض مشرب: يعنې د هغه رنګ سپين وو چې هغه ته سوروالي ورګډ شوی وو يا سپين وو سرخۍ ته مائل وو.

ادعج العينين: ای اسود العينين **مع سعتهما** يعنې غټې غټې سترګې يې وې ډيرې تورې وې د هغې سره سپينوالي مخلوط وو، د **اشكل العينين** په انداز باندې په دې کلام باندې پوهيدل پکار دي.

اهدب الاشفار: اهدب د اوږدو او غټو په معنی سره دی، اشفار د باڼو ويښتانو ته وايې، يعنې د باڼو ويښتان يې اوږده وو.

جليل: د غټ په معنی سره دی. **المشاش**: هډوکي ته وايې مطلب دا دی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هډوکو سر او جوړ لوی او مضبوط او غوښين وه، لکه څنګه چې د زنګنونو، اوږو او مړوندونو د هډوکو جوړوي.

الكتد: د دواړو اوږو په مينځ کې چې کومه حصه ده هغې ته کتد ويلی شوی، يعنې شانه يې هم مضبوطه او غوښينه وه.

اجرد: يعنې په عام بدن باندې يې زيات ويښتان نه وو.

ذومسربة: د غاړې نه واخله تر نامه پورې د ويښتانو يو ښايسته خط وو، همدې ته مسربة ويل شوي، په ماشوموالي کې د شرح صدر نه وروسته د ملائکو د ګنډلو په نښان باندې د ويښتانو خط جوړ شوی وو د هغه ذکر دی.

يتقلع: يعنې د تګ په وخت کې به يې په چالاکۍ سره د ځمکې نه قدم پورته کولو سره تګ کاوه، د ښځو او سستو خلکو پشان د خپلو په راخکلو سره به يې تګ نه کولو، په دغه کيفيت کې د **يتكفأ** کيفيت هم پيدا کيږي چې ذکر يې مخکې هم شوی دی.

التفت معا: يعنې د متکبرو خلکو پشان به يې د سترګو په کونجونو سره نه کتل بلکه کوم طرفته به يې چې کتل نو د ټول مخ په ګرځولو سره به يې کتل.

صدرا: سينې ته صدر وايې دلته په زړه باندې د صدر اطلاق شوی دی يعنې د زړه په اعتبار سره د ټولو نه زيات سخي وو.

لهجة: په خبرو او ژبه کې ريښتوني وو، لهجه ژبې ته ويلی شوې.

عريكة: طبيعت او مزاج او طرف ته وايې.

عشيرة: زندګی او معاشرت مراد دی. **بديهة:** ناڅاپه کتلو ته بدیهة ویلی شي.

هابه: دا د هیبت نه دی یعنې هغه ته چې الله تعالی کوم قدرتي رعب ورکړی وو د هغه په وجه به نوی راتلونکی ویریده.

خالطه: د اختلاط نه دی.

معرفة: یعنې د نړدې لیدلو سره واقف کیدلو باندې د هغه سره مینه کونکی جوړیده. عقلاؤ او حکماؤ ویلي دي چې د کوم شخص ظاهری او باطني ژوند یو قسم وي او دواړه خلاص کتابونه وي کوم طرف یې پټ نه وي د داسې شخص متعلقین د هغه نه جدا کیږي بلکه نوره مینه یې هم ورسره پیدا کیږي. د حضور صلى الله عليه وسلم د زندګۍ ټول جوانب د خلاص کتاب پشان واضحه وو، په دغه وجه چا چې د نړدې لیدلو سره قبول کړلو نو بیا به هغه شخص د حضور صلى الله عليه وسلم شولو، د جسم ټوټې به یې پرې کیدلې خو ځوک به هم نه وروسته کیدلو ددې برعکس اکثر د هغه شخص باره کې خلک دوکه کیږي د چا چې یو جانب خوشنما ظاهره وي مګر بل جانب یې بدنما پټ وي، د نن سبا غلط قسمه خلک همداسې وي که هغه د دنیا په حواله سره غټ شوي وي یا د دین په حواله سره غټ شوي وي.

ناعته: د حضور صلى الله عليه وسلم صفت بیانونکی ته ناعت او نعت ګو ورته ویلی کیږي، دلته حضرت علي رضي الله عنه مراد دی.

د حضور صلى الله عليه وسلم د جسم خوشبو

﴿۱۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْلُكْ
او حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به په یوه لار تیر شو نو حضور صلى الله عليه وسلم نه وروسته
طَرِيْقًا فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا عَرَفَ أَنَّهُ قَدْ سَلَكَهُ
چې به یو سړی هغه لارې باندې تیریده هغه به د حضور صلى الله عليه وسلم د جسم مبارک خوشبو یا دائي وویل
مِنْ طِيْبِ عَرْفِهِ أَوْ قَالَ مِنْ
د حضور صلى الله عليه وسلم د خولې [پسیني] مبارکې خوشبو نه معلوموله چې حضور صلى الله عليه وسلم په دې
رِيْحِ عَرَقِهِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. (۱)
لار تشریف وړی دی. [دارمي]

---

(۱) ... الدارمي في السنن ۱/۴۵ رقم الحديث ۶۶.

توضيح: الاعرف: يعنې د حضور ﷺ قدرتی خوشبو به د هغه پته ورکوله. دا د هغه د جسم ذاتي خوشبو وه. د دې سره سره هغه به زياته خوشبو هم استعمالوله، په هر حال د هغه مبارک معطر بدن به د هغه پته ورکوله، شاعر وايي:

قلق المليحة وهي مسك هتكها · ومسيرها في الليل وهي ذكاء

واذا كتمت وشت بك الآلاء

د حضور ﷺ وجود مبارک د نمر په شان وو

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قُلْتُ لِلرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ
ابوعبيده بن محمد بن عمار بن ياسر رضي الله عنهم وايي چې ما د معوذ بن عفراء لور بي بي ربيع صحابيه رضي الله عنها
صِفِيْ لَنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا بُنَيَّ
ته وويل چې تا سو څما مخکې د رسول الله ﷺ وصف بيان کړئ نو هغې وويل څما ځويه!
لَوْ رَأَيْتَهُ رَأَيْتَ الشَّمْسَ طَالِعَةً. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. (۱)
که تا حضور ﷺ ليدلی وی نو داسې به دې ګڼل لکه چې بريښيدونکی نمر دې ليدلی دی. [دارمي]

توضيح: الشمس طالعة: يعنې د نبی کريم ﷺ مخ به داسې ځليده لکه څنګه چې لمر په نصف النهار کې ځليږي، بعضو صحابو د هغه مخ د سپوږمۍ په شان ښودلی دی، هر يو په خپل خپل انداز سره بيان کړی دی، د دې سره که د تورو زلفو تذکره وشي نو بيا ښه وايې، يو شاعر وايې:

مثالی راکه در شرطيه گفتند · بگو با منطقيان کان هست مردود

رخ وزلفين يارم را نظر کن · که شمس طالع والليل موجود

د سپوږمۍ نه زيات ښائسته وو

﴿۱۹﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او جابر بن سمره رضي الله عنه وايې يو وخت ما د سپوږمۍ په رڼا کې حضور ته کتل او صورت دا وو
فِيْ لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې کله به مې د حضور ﷺ جمال عالمتاب ته کتل او کله سپوږمۍ ته هغه وقت د حضور ﷺ په

وَإِلَى	الْقَمَرِ	وَعَلَيْهِ	حُلَّةٌ	حَمْرَاء	فَإِذَا	هُوَ	أَحْسَنُ	عِنْدِيْ	

جسم مبارک د هغه کپړې لباس وو چې په هغه کې حقیقت دا دی چې ځما په نزد د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مِنَ الْقَمَرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ. (۱)

حسن او جمال د سپوږمۍ نه ډېر زیات وو.

توضیح: اضحیان: د سپوږمۍ والا شپې ته وایې. حلة: جوړې ته وایې چې په هغې کې قمیص او پرتوګ د یو قسم کپړې نه وي. حمراء: د سرې جوړې اغوستل ممنوع دي، دلته د حمراء نه سره جوړه مراد نه ده بلکه داسې کپړه مراد ده چې په هغې کې سره خطونه وي تول سره نه وی. احسن عندی: د عندی مطلب دا ندی چې زما په نیزد داسې وو او د نورو خلکو په نزد داسې نه وو بلکه مطلب دا دی چې حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل ذاتی جذباتو اظهار کړی دی او د عقیدت ظاهرولو په خاطر یې داسې ویلي دي، د دینه کوم منفی جانب مقصود نه دی، حضرت حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایلي:

وأحسن منك لم تر قط عيني ... وأجمل منك لم تلد النساء

خلقت مبرأ من كل عيب ... كأنك قد خلقت كما تشاء

يا صاحب الجمال ويا سيد البشر ... من وجهك المنير لقد نور القمر

لا يمكن الثناء كما كان حقه ... بعد از خدا بزرگ توئی قصه مختصر

اوریدلي مې دي چې ابو علی سینا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سیرت متعلق یو کتاب لیکلی دی په هغه کې یې لیکلي دي چې حسن د تناسب الاعضاء لپاره نوم دی او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکمل طور باندې متناسب الاعضاء وو. د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه واخله تر حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورې هیڅ شخص متناسب الاعضاء پیدا شوی نه دی او نه به تر قیامته پورې پیدا شي، لهذا په حسن او جمال کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو اځې وو.

ګویا د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ کې نمر منډې وهي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه زیات حسین او جمیل هیڅ شی نه دی

كَأَنَّ	الشَّمْسَ	تَجْرِيْ	فِيْ	وَجْهِهِ	وَمَا

لیدلی داسې معلومېده لکه چې یو نمر دی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مخ مبارک نه رڼا راایلېږي او ما د

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۰۹ رقم الحديث ۲۸۱۱ والدارمي في السنن ۱/۴۲ رقم الحديث ۵۷.

رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِيْ مَشْيِهٖ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا
رسول الله ﷺ نه زيات تيز رفتار څوک نه دی ليدلی کوم وقت چې به حضور ﷺ تللو نو داسې
الْأَرْضُ تُطْوٰى لَهٗ إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا
به معلوميده چې د حضور ﷺ نه مخکې ځمکه راټوليږي حقيقت دادی چې مونږ خوبه
وَإِنَّهٗ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۱)
سخت جدوجهد او کوشش کوی ليکن حضور ﷺ به په خپل بې نيازتګ تللو . [ترمذي]

توضيح: الارض تطوى له: دا د هغه لپاره معجزه وه چې د هغه لپاره به ځمکه تاوول کيدله.

لنجهد: يعنې مونږ به په ډير جد او جهد او مشقت سره تيز تيز تللو او هغه (**غيرمكترث**) وو يعنې د خپل عادت مطابق تللو.

اكتراث: د كثرت نه دی د زيات تيز تللو نفې ده.

د حضور ﷺ سترګي توري وې

﴿۲۱﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ فِيْ سَاقَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او جابر بن سمره رضي الله عنه وايې د رسول الله ﷺ پنډۍ سپکې او نازکې وې او نبی ﷺ
حُمُوْشَةٌ وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا وَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ
به عام طور سره نه خندل بلکه مسکی کېدو به او ما چې به حضور ﷺ طرف ته کتل نو په زړه کې
إِلَيْهِ قُلْتُ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ
به مي ويل چې حضور ﷺ رانجه لګولي دي حالانکه حضور ﷺ به رانجه
وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. (۲)
(سرمه) نه وو لګولي. [ترمذي]

توضيح: وليس بأكحل: يعنې د کتلو نه به معلوميده چې آنحضرت ﷺ رانجه استعمال کړي دي حالانکه داسې به نه وو بلکه د هغه سترګې پيدايشي توري وې، همدارنګه حضور ﷺ مختون پيدا شوی دی او نوم پرې پيدا شوی وو، دا د هغه بعضې خصوصيتونه وو.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶۳ رقم الحديث ۳۶۴۸ وأحمد في المسند ۲/۳۵۰.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶۲ رقم الحديث ۳۶۴۵ وأحمد في المسند ۵/۹۷ .

حموشة: د ښنو ښايست په دې کې دی چې په دې کې نازکوالی وي، زياته غوښه نه وي، د دغه مقصد لپاره د حموشة لفظ استعمال شوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حضور ﷺ غاښونه مبارک

﴿۲۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
ابن عباس رضي الله عنه وايي د حضور ﷺ مخکني دوه غاښونه مبارک کولاؤ وو هر کله چې
أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّوْرِ يَخْرُجُ مِنْ
حضور ﷺ به خبرې کولې نو داسې به محسوسېده چې د حضور ﷺ د هغه دوه غاښونو د
بَيْنِ ثَنَايَاهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ. (۱)
منځ نه نور وځي. [دارمي]

توضيح: افلج الثنيتين: يعنې د ثنايا او رباعياتو چې کوم غاښونه وو د هغوی په مينځ کې پراخي وه چې دا د نهايت خوبصورتي وي.

د حضور ﷺ څېره اوکه د سپوږمۍ ټکړه

﴿۲۳﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او کعب بن مالک رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ چې به خوشحاله وو نو مخ مبارک به يې
إِذَا سُرَّ اِسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتّٰى كَأَنَّ وَجْهَهُ قِطْعَةُ
روښانه وو او داسې به معلومېده چې د حضور ﷺ مخ مبارک د سپوږمۍ ټکړه ده او د دې شي
قَمَرٍ وَكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۲)
نه به مونږ د حضور ﷺ کيفيت پېژنده.

(۱) اخرجه الدارمي في السنن ۱/۴۴ رقم الحديث ۵۸ والبغوي في شرح السنة ۱۳/۲۲۳ رقم الحديث ۳۶۴۴.
(۲) اخرجه البخاري رقم الحديث ۴۴۱۸ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۲۰ رقم الحديث ۵۳/۲۷۶۹.

د حضور ﷺ سره د یهودو حسد

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ غُلَامًا يَهُوْدِيًا كَانَ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او انس رضي الله عنه نه روايت دی يو يهودي هلک چې د رسول الله ﷺ خدمت به يې کولے

فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُوْدُهُ

ناجوړه شو نو رسول الله ﷺ د هغه پوښتنې ته د هغه کور ته تشريف يووړلو نبی ﷺ وليد: چې

فَوَجَدَ أَبَاهُ عِنْدَ رَأْسِهِ يَقْرَأُ التَّوْرَاةَ فَقَالَ لَهُ

پلار ورته سرته ناست دی د تورات څه حصه وايې رسول الله ﷺ په دې لېدو سره هغه نه پوښتنه

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا يَهُوْدِيُّ أَنْشُدُكَ بِاللهِ الَّذِيْ

وکړه زه تا ته په هغه الله! قسم درکولو سره پوښتنه درنه کوم چې هغه موسیٰ) باندې

أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلَى مُوْسٰى هَلْ

تورات نازل کړی دی رېښتيا رېښتيا ووايه آيا ته په دې تورات کې څما تعريف وتوصيف او څما

تَجِدُ فِيْ التَّوْرَاةِ نَعْتِيْ وَصِفَتِيْ وَمَخْرَجِيْ قَالَ

د وطن نه د وتلو ذکر پيدا کوې؟ هغه يهودي جواب ورکړو نه ليکن هغه هلک وويل هو يا رسول الله!

لَا قَالَ الْفَتٰى بَلٰى وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا نَجِدُ لَكَ

قسم په الله! په دې تورات کې مونږ ستاسو تعريف او توصيف او ستاسو د وتلو ذکر پيدا کړی دی

فِيْ التَّوْرَاةِ نَعْتَكَ وَصِفَتَكَ وَمَخْرَجَكَ وَإِنِّيْ أَشْهَدُ

او زه يقيني طور سره د دې امر ګواهي ورکوم چې الله! نه ماسوا بل معبود نشته او د دې امر هم ګواهي

أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ فَقَالَ

کوم چې تاسو بلاشبه د الله! رسول يې حضور ﷺ د هغه هلک رشتيا وينا او د هغه

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ

اظهارِ ايمان واسلام ليدو سره خپلو صحابو رضي الله عنهم ته وفرمائيل چې د ده پلار د ده د سر نه

أَقِيمُوا	هٰذَا	مِنْ	عِنْدِ	رَأْسِهِ	وَلُوا
پاڅوئ او تا سو د خپل ددې ديني ورور واليان جوړ شئ او که دا هلک وفات شي نو بيا د ده د کفن					
أَخَاكُمْ.	رَوَاهُ	الْبَيْهَقِيُّ	فِي	دَلَائِلِ	النُّبُوَّةِ. (۱)
دفن او جنازي امور تا سو سرته ورسوئ دا روايت بيهقي رحمه الله دلائل النبوت کې ذکر کړی دی					

توضيح: ولو اخاکم: ولی ولاية د سنبالولو په معنی سره دی يعنې دا مسلمان شوی دی او س خپل ورور په قبضه کې واخلئ، دا او س سنبال وکړئ او علاج يې وکړئ او که وفات شي نو په اسلامی طريقه د هغه تجهيز او تکفين وکړئ او هغه دفن وکړئ، يهود د هغه نه پورته کړئ و ددې حديث نه معلومه شوه چې يهوديان څومره دروغ وايې او نه شرميږي، ځوی د مرض په حالت کې پلار دروغجن کوي.

د حضور صلی الله علیه وسلم د رحمت تحفه ده

﴿۲۵﴾ وَ عَنْ	أَبِي هُرَيْرَةَ	عَنِ النَّبِيِّ	صَلَّى اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَ سَلَّمَ	أَنَّهُ	قَالَ	إِنَّمَا		
او ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت کوي حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائيل حقيقت دا دی										
أَنَا	رَحْمَةٌ	مُهْدَاةٌ.	رَوَاهُ	الدَّارِمِيُّ	وَالْبَيْهَقِيُّ	فِي	شُعَبِ	الْإِيمَانِ. (۲)		
چې زه د الله! هديه کړی شوی رحمت يم دا روايت دارمي او شعب الايمان کې بيهقي نقل کړی دی.										

توضيح: رحمة مهداة: يعنې د الله تعالی له طرفه زه په طور د تحفې سره ليږل شوی رحمت يم لهذا چې څوک ما قبلوي هغه به د الله تعالی د رحمت په سوري کې راځي، په دې روايت کې څو الفاظ اضافه شوي هم دي، هغه الفاظ دا دي: **بُعِثْتُ بِرَفْعِ قَوْمٍ وَ خَفْضِ آخَرِينَ** يعنې چې څوک ما قبول کړي هغه به د عروج آسمان ته ورسيږي او چې څوک مخالفت وکړي هغه به د ذلت په کړنګونو کې وغورځيږي..

---

(۱) اخرجه البيهقي في دلائل النبوة ۶/۲۷۲.

(۲) اخرجه الدارمي في السنن ۱/۲۱ رقم الحديث ۱۵ والبيهقي في شعب الايمان ۲/۶۴ رقم الحديث ۱۴۴۶.

باب في اخلاقه وشمائله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو او عاداتو بیان

(اخلاق) جمع ده ددې مفرد خُلق دی چې طبعی خصلت او باطنی وصف ته ویل کیږي چې ددې لاندې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوصاف حمیده داخل دي. (شمائل) جمع ده مفرد يې شمال دی، په شين باندې کسره ده ددې اطلاق په اخلاقو باندې هم کيږي او په سيرت باندې هم کيږي، که د سيرت په معنی سره واخيستل شي نو ديوې نوې معنی او مفهوم لپاره به عنوان مساعد شي چې دا به ډير ښه شي، په هر حال ددې باب نه په مخکې ابوابو کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جسمانی او شکل او شباهت ظاهری اوصاف بيان کړی شو، ددې باب په احاديثو کې به د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باطنی اوصاف او خصائل بيان کړی شي، يو څو باطنی اوصاف دا دي. مثلاً شجاعت، سخاوت، رحمت او شفقت، مروت او محبت، تواضع او تحمل او حياء وغيره اوصاف مراد دي. په دې بابونو کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو او شمائلو داسې نقشه بيانيږي ګويا چې لوستونکی يې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ديدار سره مشرف کيږي، شاعر ښه ويلي دي:

اخلای ان شتّ الحبیب وداره — وعز تلاقیه ونأت منازله
فان فاتکم ان تبصروا بعیونکم — فما فاتکم منه فهذا شمائله

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

بې مثاله حُسن اخلاق

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَشَرَ سِنِيْنَ			
او حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لس کاله خدمت وکړه په دې پوره موده کې			
فَمَا	قَالَ	لِيْ	أُفٍّ وَلَا
حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته هيڅ کله اُف قدر هم ونه کړه او نه چيري حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمائيل چې			
لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]			
تا دا کار ولې وکړو او دا کار دې ولې ونه کړو.			

توضيح: اُف: دا کلمه د همزې په ضمې سره ويل هم جائز دي، په زير سره ويل هم جائز دي او په زور سره ويل هم جائز دي په فاء باندې شد هم دی او سکون هم دی. علامه نووی په دې کې لس لغاته بيان کړي دي، دا

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۵۶ رقم الحديث ۶۰۳۸ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۰۴ رقم الحديث ۵۱/۲۳۰۹.

کلمه د انسان د ژبې نه هغه وخت وځي چې کله هغه د ناخوښه یا کوم تکلیف رسوونکی صورت حال نه په پریشانی کې واقع شي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د مکې نه مدینې ته هجرت وکړلو نو حضرت ام سلیم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل زوی حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې پیش کړلو او وې فرمایل: (خویدمک فادع له) دا ستا وړوکی خادم دی دا قبول کړئ او ده ته دعاء وکړئ، د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمر په دې وخت کې اته یا لس کاله وو. هغه تر لسو کلونو پورې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت وکړو، حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل خدمت او د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شفقت منظر پیش کوي چې د لس کاله طویل خدمت په دوران کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه کله زورنه راکړې او نه یې کله غوسه کړې ده بلکه اُف یې هم راته ویلی نه دی او نه یې بیا دوباره داسې پوښتنه کړې ده چې دا کار دې ولې وکړو او دا دې ولې ونکړو؟ ددینه که یو خوا ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو نمونه مخې ته راځي بل خوا ته د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ښه کارکردګۍ او خدمت سلیقه هم معلومیږي چې هیڅ کله هم د دغسې زورنې نوبت راغلی نه دی. ملاعلی قاری رحمه الله لیکي چې ددې زورنې او پوښتنې نه کولو تعلق د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ذاتی خدمت او آدابو سره دی او که نه نو په شرعی امورو کې به چې کله هم غلطی کیدله په هغه باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله هم خاموشي اختیار کړې نه ده.

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ
او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخلاقو او عاداتو د خوبۍ په اعتبار سره د ټولو خلقو نه
خُلُقًا فَأَرْسَلَنِيْ يَوْمًا لِحَاجَةٍ فَقُلْتُ
زیات وو یو ورځ داسې وشوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه کار د پاره څما لیږل وغوښتل ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته
وَاللهِ لَا أَذْهَبُ وَفِيْ نَفْسِيْ أَنْ أَذْهَبَ لِمَا أَمَرَنِيْ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ
داسې وویل قسم په الله چې زه نه ځم لیکن په زړه کې مې داوو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم حکم راکړی
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجْتُ حَتّٰى أَمُرَّ عَلٰى صِبْيَانٍ وَّهُمْ يَلْعَبُوْنَ فِي السُّوْقِ
دی د هغه د تعمیل د پاره به ضرور ځم نو زه روان شوم په بازار کې یو ځای وړو لوبې کولې زه هلته
فَإِذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قَبَضَ بِقَفَايَ مِنْ وَّرَائِيْ قَالَ
حصار شوم اچانک رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هلته راغی او د روسته نه یې څما څټ او نیولو ما چې شا ته
فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ يَا أُنَيْسُ ذَهَبْتَ حَيْثُ
نبی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وکتل نو نبی عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ خندل بیا نبی عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ راته وفرمائیل یا أنیس! ته هلته تللې

أَمَرْتُكَ قُلْتُ نَعَمْ أَنَا أَذْهَبُ يَا رَسُوْلَ اللهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۱)

يې كه نه چيرته چې ما ليږلی وې؟ ما عرض وكړو چې هو يارسول الله! زه اوس ځم. مسلم

توضيح : والله لااذهب: حضرت انس رضي الله عنه په ژبه سره دغه كلمات اداء كړل ليكن د هغه د زړه اراده د تللو وه، دويمه جمله **وفي نفسی** په دې باندې دال ده يعنې زما په زړه كې وو چې زه به ځمه، اوس د حضرت انس رضي الله عنه په قول او فعل باندې هيڅ اعتراض نشته، هسې هم چې كله دغه معامله پېښه شوې وه شايد حضرت انس رضي الله عنه دروغ ويلي وی نابالغه هم وو غير مكلف هم وو او په خدمت كې هم نوی وو تجربه هم ورته نه وه، په دغه وجه حضور ﷺ د خفگان اظهار ونكړو او د محبت په طريقه يې هغه د غاړې نه ونيولو او په خندا سره په طور د شفقت يې هغه په صيغه د تصغير انيس سره ياد كړلو.

بې مثاله تحمل او خوش اخلاقي

﴿۳﴾ وَ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ أَمْشِيْ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ عَلَيْهِ

او حضرت انس رضي الله عنه وايي يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره روان وم هغه وخت د رسول الله ﷺ په

بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيْظُ الْحَاشِيَةِ

جسم مبارک د يمن د نجران ښار جوړ شوی كرښې دار څادر وو چې د هغه غاړې د غټو ريښمو وې

فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيْدَةً

اچانک يو بانډه د حضور ﷺ سره يو ځای شو د حضور ﷺ څادر نيولو سره دومره په زور سره

وَرَجَعَ نَبِيُّ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ نَحْرِ الْأَعْرَابِيِّ حَتّٰى

رانښكلو چې رسول الله ﷺ رانښكلو سره د هغه سينې سره قريب ولګيدلو ما نظر اوچتولو سره وكتل

نَظَرْتُ إِلٰى صَفْحَةِ عَاتِقِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ

نو د هغه بانډه چې زور سره څادر رانښكلو سره د رسول الله ﷺ غاړه مباركې باندې د څادر د غاړو

شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ مُرْلِيْ مِنْ مَّالِ اللهِ الَّذِيْ عِنْدَكَ.

نښه راغله بيا هغه بانډه چې وويل ای محمد! ستا سو سره چې د الله! كوم مال دی د هغه نه

فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ
ماته څه راکړه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې خو حیرانتیا سره هغه ته وکتل بیا د مهربانۍ له مخه مسکی شو
ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)
او هغه ته یې د څه ورکولو حکم یې وکړو. [بخاري مسلم]

توضیح: جبذة شديدة: سخت راخکلو او جټکه ورکولو ته ویلی کیږي.

نحر الاعرابي: یعنې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغه راخکلو په وجه د اعرابي سینې ته نژدې شو، شاید دا کوم داسې کوچی وو چې د مؤلفة القلوب نه وو، په دغه وجه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دغه تکلیف رسول برداشت کړل او د هغه خلاف کومه کاروائي یې ونکړه او د لویو اخلاقو مظاهره یې وکړه:

نفسی الفداء لمن اخلاقه شهدت   انه خیر مولود من البشر

د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شجاعت

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ
او حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټولو خلکو نه ښائسته وو د ټولو خلکو
وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ
نه زیات سخي وو او د ټولو و خلقو نه زیات زړه ور او بهادر وو د یوې شپې واقعه ده د مدینې خلقو یو
ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ
طرف نه د غلږ اکو یا څه دښمن اوازه اوریدو سره پریشانه او خو فزده شو او یو بل ته او ازونه ورکول
فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
یې شروع کړل بیا څه خلق جمع کېدو سره د هغه اواز طرف ته ورغلل هلته یې خپل مخې ته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَدْ سَبَقَ النَّاسَ إِلَى الصَّوْتِ
موجود پیدا کړه حقیقت دا دی چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټولو نه مخکې د هغه اواز طرف ته ورغلی وو
وَهُوَ يَقُوْلُ لَمْ تُرَاعُوْا لَمْ تُرَاعُوْا
حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ټولو خلقو ته اطمینان ورکولو سره وفرمائیل ویریږئ مه هیڅ خطره نشته

(۱) اخرجه البخاري ۶/۲۵۱ رقم الحديث ۳۱۴۹ ومسلم في صحيحه ۲/۷۳۰ رقم الحديث (۱۲۸. ۱۰۵۷) واحمد في المسند ۴/۲۲۳

وَهُوَ عَلٰى فَرَسٍ لِأَبِيْ طَلْحَةَ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ وَفِيْ
او نبي علیه السلام دابو طلحه رضي الله عنه په آس سورؤ چې دآس شا توره وه يعني بې زينه ؤ او د حضور صلی الله علیه وسلم
عُنُقِهِ سَيْفٌ فَقَالَ لَقَدْ. وَجَدْتُهُ بَحْرًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
په غاړه کې توره وه بيا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائيل ما دا آس د درياب په شان تيز بيا موندو. بخاري ومسلم

توضيح: (اشجع الناس) د ټولو خلکو نه نبي کريم ﷺ ډير زړه ور وو ، په دغه وجه خو حضرت خالد رض او نورو لويو لويو مشهورو دلاورو خلکو حضور ﷺ د خپل ځانونو نه زيات زړه ور موندلو سره نبي تسليم کړلو که حضور ﷺ د هغوی نه زيات بهادر نه وای نو هغوی به هيڅکله هم د هغه نبي منلو ته تيار نه وو ځکه چې بهادر سړی د بزدله سړي اطاعت نه کوي . (فزع) يعنې د مدينې والا ددې افواه په وجه سخت ويريدل چې دښمن په مدينه باندې ناڅاپه حمله کړې ده د يو څه شور آواز نه هم پورته شوي وو . (لم تراعوا) په يوه نسخه کې د لن تراعو الفاظ دي ، لم جازمه د جحد لپاره ده ددينه مبالغه مقصود ده ، لن هم د نفی د تأکيد لپاره ده ، د عربي په محاوره کې لم او لن دواړه د لا په معنی سره راځي ، مقصود دا دی چې هيڅ ويره نشته ، هيڅ خطره نشته (ای لاتراعوا لاتراعوا) . (عری) يعنې د زين نه بغير په خالی شا آس باندې سور وو .

بحرا: يعنې ما دغه آس په تګ کې د سمندر په شان وموندلو ، په طور د مبالغې د تشبيه سره داسې ويل جائز دي ، ددې حديث نه دا ثابته شوه چې د يو شی په کمال باندې د هغه تعريف کول جائز دي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې که د دښمن له طرفنه معمولی حرکت هم محسوس شي نو مسلمان ته پکار ده چې په يوائې سر د دغه خطرې د ختمولو لپاره سبقت وکړي ، نه داسې چې خپله سينه بنايي او د وهلو لپاره دښمن راغواړي! لکه څنګه چې نن سبا په ټوله دنيا کې د مسلمانانو د حکمرانانو حال دی .

هيڅ کله يي يو سائل ته انکار نه دی کړی

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا
او حضرت جابر رضي الله عنه وايي داسې هيڅ کله نه دي شوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چا سوال کړی
قَطُّ فَقَالَ لَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[2]
وي او حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته انکار کړی وي.

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۵۵ رقم الحديث ۶۰۳۳ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۰۲ (۲۳۰۷.۴۸)

(2) اخرجه البخاري ۱۰/۴۵۵ رقم الحديث ۶۰۳۴،ومسلم ۴/۱۸۰۵ رقم الحديث (۲۳۱۱.۵۶)

توضیح: فقال: یعني حضور صلی الله علیه وسلم د یو سائل د سوال په جواب کې کله هم د (لا) کلمه د انکار لپاره استعمال کړې نه ده. په قرآن کې د ﴿لا اجد ما احملکم علیه﴾ الفاظ موجود دي چې د هغو د دې حدیث سره په ظاهره تعارض معلومیږي.

جواب: ابن حجر رحمه الله د دې سوال جواب داسې کړی چې سائل ته د ورکولو لپاره کوم څه چې د حضور صلی الله علیه وسلم په اختیار کې به وو نو هغه به یې د انکار نه بغیر ورکول، او که په اختیار کې به یې هیڅ نه وو نیا به هم هغه انکار نه کولو بلکه په ښه طریقه به یې جواب ورکولو، خلاصه دا ده چې کله ستا په اختیار کې هیڅ نه وي او ته انکار وکړې د غه انکار د لته مراد نه دی بلکه د حالت اختیار د انکار نفې ده، فرزدق ډیر ښه ویلي دي:

ما قال لا قط الا في تشهده   لولا التشهد لكانت لائه نعم

د حضور صلی الله علیه وسلم سخاوت

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي یو سړي د حضور صلی الله علیه وسلم نه دومره بزي وغوښتي چې د غرونو درمیاني شله یې
فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ فَأَتَى قَوْمَهُ
ډکه کړي وه نو حضور صلی الله علیه وسلم هغو مره بزي ورکړلو دې نه روسته هغه سړی خپل قوم ته راغلي
فَقَالَ أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا فَوَاللهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي
او ورته یې وویل ای څما د قوم خلقو! اسلام قبول کړئ قسم په الله محمد دومره ورکوي چې
عَطَاءً مَّا يَخَافُ الْفَقْرَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [1]
د فقر او افلاس نه هم نه ییریږي. [مسلم]

خُلقِ نبوي صلی الله علیه وسلم

﴿۷﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ بَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت جبیر ابن مطعم رضي الله عنه د هغه وقت واقعه بیانوي هر کله چې هغه رسول کریم صلی الله علیه وسلم
مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ فَعَلَقَتِ الْأَعْرَابُ
سره د غزوه حنین نه بیرته راتلو نو په لار کې یو مقام باندې څه بانډه خلق حضور صلی الله علیه وسلم پورې ونښتل او

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۰۶ رقم الحديث (۲۳۱۲.۵۸) واحمد في المسند ۳/۱۰۸.

يَسْأَلُوْنَهُ	حَتَّى	اضْطَرُّوْهُ	إِلَى	سَمُرَةٍ	فَخَطِفَتْ
مال یې ترینه غوښتلو او دې حده پورې ورپسې ولګیدل چې حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یې د کیکریوې ونې					

رِدَاءَهُ	فَوَقَفَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَقَالَ
ته بو تللو هلته د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ څادر د کیکرې په ازغیو کې ونخته حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په ودرېدو سره فرمائیل							

أَعْطُوْنِيْ	رِدَائِيْ	لَوْ	كَانَ	لِيْ	عَدَدَ	هٰذِهِ	الْعِضَاهِ نَعَمٌ
راوړئ څما څادر خو را کړئ که چیرته ما سره د دې ازغي دارو ونو برابرهم یعني بزي او اوښان							

لَقَسَمْتُهُ	بَيْنَكُمْ	ثُمَّ	لَا	تَجِدُوْنِيْ	بَخِيْلًا
وغیره وی نو ما به هغه ټول په تاسو تقسیم کړي وی او تاسو به پوهه شوي وئ چې زه بخیل نه					

وَلَا	كَذُوْبًا	وَلَا	جَبَانًا.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ. [1]
یم نه دروغو وعده کونکی یم او نه کمزوري زړه والا یم. [بخاري]					

توضیح: **مقفلة**: د غزوه نه واپس کیدلو او کورته واپس کیدلو ته قفلة او قفول وایې د همدینه مقفلة بمعنی قفلة دی.

حنین: مکې مکرمې ته نزدې د یوه وادی نوم دی دلته د فتح مکه نه وروسته یو زبردسته جنګ شوی وو.

العضاة: د غټې مضبوطې ونې ته عضاه ویلی شوی دی دیته شجرة الطرفاء هم ویلی کیږي، په ځنګل کې د یوې مضبوطې ونې نوم دی چې دیته په اردو کې د جهاؤ ونه ویلی کیږي، د حضرت بنوري رحمه الله د کلام نه معلومیږي چې دا د غز ونه ده شارحین دا د کیکر یو قسم ښایې هیڅ تعیین یې شوی نه دی، **(نعم)** حیواناتو ته ویلی کیږي.

د نبوي اخلاقو اعلی نمونه

﴿۸﴾وَعَنْ	أَنَسٍ	قَالَ	كَانَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ چې به د سحر د مانځه نه فارغه شو نو د اهل مدینې خدّام							

إِذَا	صَلَّى	الْغَدَاةَ	جَاءَ	خَدَمُ	الْمَدِيْنَةِ	بِآنِيَتِهِمْ	فِيْهَا الْمَاءُ
به خپلو خپلو لوښو کې او به اخستو سره را رسیدل نو کوم سړی چې به د اوبو لوښي سره راتلو							

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۵ رقم الحديث ۲۸۲۱، والنسائي في السنن ۶/۲۶۲ رقم الحديث ۳۶۸۸.

فَمَا يَاتُوْنَ بِإِنَآءٍ اِلَّا غَمَسَ يَدَهٗ فِيْهَا

حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغه هغه لوښي کې خپل لاس مبارک اچوه اکثره به داسې کېدل چې خلق به د یخنۍ

فَرُبَّمَا جَاءُوْهُ بِالْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهٗ فِيْهَا. رَوَاهُ مسلم[1]

په موسم کې سهار سهار خپل لوښي سره راتلل او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس هغه لوښو کې خکته کولو [مسلم]

توضیح: (الماء) په مدینه منوره کې د اوبو کمي وو، د کورونو خادمانو به چې کله اوبه پوره کولې نو په اوبو کې د برکت په غرض به هغوی خپل لوښي په قطار (لین) کې اېښودل ترڅو حضور ﷺ د سهار د لمانځه نه وروسته په دغو لوښو کې خپل لاس د برکت لپاره خکته کړي، حضور ﷺ هغوی ته د غلامانو په نظر سره کم نه دي کتلي او نه د طویل قطار په وجه یې بوج محسوس کړی دی او نه یې د سختې یخنۍ په وجه انکار کړی دی، دا د نبوی اخلاقو اعلی نمونه ده .

دليونو سره هم عظيم اخلاق

﴿۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ كَانَتْ أَمَةٌ مِّنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ تَأْخُذُ بِيَدِ

او انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي د مديني والاو وينزو کې د يوې وينزو دا معامله وه چې کله به هغه ته

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهِ

څه پريشاني ورسيده نو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس مبارک به يې او نيولو او چيرته چې به د هغه زړه

حَيْثُ شَاءَتْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[2]

غوښته حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يې بو تلو . [بخاري]

توضیح: تأخذ بیدی: ملا علی قاری رحمه الله دغه ټول حدیث په فرضی کلام باندې محمول کړی دی چې فرض کړه کچیرې کومې وینزې د نبی علیه السلام لاس نیولی او چیرته یې بیولو نو د حسن اخلاق په وجه به د هغې سره تللو ، ددې حدیث دویمه توجیه دا ده چې ددې حدیث او د راتلونکې بل حدیث دواړو تعلق د یو داسې ښځې سره دی چې د عقل په اعتبار سره معدوم العقل وه هغې به قسما قسم خبرې او اوږده او لنډ داستانونه به یې حضور ﷺ ته اورول او هغه به د حسن اخلاق په وجه د هغې ټولې خبرې په ولاړه ولاړه اوریدلې ، په راتلونکي حدیث کې دي (في عقلها شيئ) په دې طریقه دغه حدیث په فرضی کلام باندې د حمل

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۲ رقم الحديث (۲۳۲۴.۷۴) وأحمد في المسند ۳/۱۳۷.

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۸۹ رقم الحديث ۶۰۷۲.

کولو نه غوره دا ده چې دا په حقیقت باندې مبني شي او قصه د هماغې بې عقلې ښځې وي، چې د دینه د حضور ﷺ د عظیم اخلاقو پته لګیږي.

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ

او حضرت انس رضی الله عنه وايي په مدینه کې یوه ښځه وه چې د هغې په دماغو کې څه خلل وو هغې

فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ لِيْ إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ يَا أُمَّ فُلَانٍ

یوه ورځ وویل یارسول الله ستا سو سره ځما څه کار دی حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل د فلانی موري!

أُنْظُرِيْ أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتّٰى

ته چې کومه کوڅه او کوره زه تا سره هلته تلوته تیاریم ستا چې څه کار وي زه به یې ضرور وکړم

أَقْضِيَ لَكِ حَاجَتَكِ

یعني ته چې کوم تنها مقام کې ما سره خبره کول غواړي زه به هلته تلو سره ستا خبره واورم نو

فَخَلَا مَعَهَا فِيْ بَعْضِ الطُّرُقِ حَتّٰى فَرَغَتْ

حضور صلی الله علیه وسلم هغه سره یوې کوڅې ته تشریف یوووړلو او هلته تنهایې چې د کې هغه ښځې څه ویل

مِنْ حَاجَتِهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

اوریدل وو هغه یې وویل او واوریدل. [مسلم]

د حضور صلی الله علیه وسلم د اخلاقو یو څو مثالونه

﴿۱۱﴾ وَ عَنْهُ قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَّلَا لَعَّانًا

او حضرت انس رضی الله عنه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خو فحش ګو وو نه لعنت کوونکی نه

وَّلَا سَبَّابًا كَانَ يَقُوْلُ عِنْدَ الْمَعْتَبَةِ

بدکلامه وو کله چې به چاته په قهر شو نو بس دومره قدري به یې فرمائیل په دې څه شوي دي د ده

مَالَهٗ تَرِبَ جَبِيْنُهٗ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[2]

تندی دې په خاوره ککړ شي. [بخاري]

---

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۲ رقم الحديث (۷۶.۲۳۲۶) وأبوداود في السنن ۵/۱۶۱ رقم الحديث ۴۸۱۸.

(2) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۴۵۲ رقم الحديث ۶۰۳۱ وأحمد في المسند ۳/۱۵۸.

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُدْعُ

او ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وشو یارسول الله! د خپلو دښمنانو کافرو په

عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ إِنِّيْ لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا

حق کې بددعا وکړئ چې هلاک شي او بيخ يي ووځي نو وې فرمائيل زه لعنت کونکی نه يم

وَّ إِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

راليږل شوی بلکه زه خو رحمت جوړ شوی سره راليږل شوی يم. [مسلم]

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په پرده کې د پيغلې جينۍ نه هم زيات

أَشَدَّ حَيَآءً مِّنَ الْعَذْرَاءِ فِيْ خِدْرِهَا فَإِذَا رَآى شَيْئًا

حيادار وو هركله چې به څه خلاف مزاج خبره پيښه شوه نو مونږ به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مخ مبارك نه د

يَّكْرَهُهُ عَرَفْنَاهُ فِيْ وَجْهِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[2]

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناخوښي محسوسوله. [بخاري مسلم]

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خوله خلاصولو سره نه خندل

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هيڅ کله په داسې خندا نه دی ليدلی چې د

مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تو له خوله خلاصه شوې وي او ما ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حلق تالو په نظر راغلی وي

وَإِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[3]

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خندا بس مسکا پوري محدوده وه. [بخاري مسلم]

توضيح : مستجمعا: يعني مکمل طور باندې پوره خوله خلاصولو سره چې د دينه د حلق او تالو سوری په

([1]) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۲۰۰۶ رقم الحديث (۲۵۹۹.۸۷)

([2]) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۵۶۶ رقم الحديث ۳۵۶۲ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۰۹ رقم الحديث (۲۳۲۰.۶۸)

([3]) اخرجه مسلم في صحيحه ۲/۶۱۶ رقم الحديث (۸۹۹.۱۵) والبخاري رقم الحديث ۶۰۹۲، وأحمد في المسند ۶/۶۶.

نظر راشي په دغه طريقه هغه کله هم نه خندل! د خندلو څو درجې دي.(۱) **تبسم**: حضور ﷺ به همیشه تبسم کولو دا د هغه اکثر معمول راغلی دی. (۲) **ضحک**: حضور ﷺ به کله کله ضحک هم فرمایلو چې په دې سره به د هغه د اطرافو غاښونه نواجذ به هم ښکاره شول مګر دا يې عام معمول نه وو کله کله به داسې کیدل.

(۳) **قهقهه**: حضور ﷺ هیڅکله هم په قهقهه خندلي نه دي په زیر بحث حدیث کې چې د کومې خندا نفې ده د دې نه مراد قهقهه ده په حدیث کې د دې تأیید هم شته ځکه حلق صرف د قهقهه په وخت ظاهریدلی شي، د تبسم او ضحک په وخت نه ظاهریږي.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خبرو بهترین انداز

﴿۱۵﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيْثَ
او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تیزي تیزي او مسلسل خبرې نه کولي څنګه
كَسَرْدِكُمْ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيْثًا لَوْ
چې تاسو خلق مسلسل لګیا یئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په آرام آرام خبرې کولي که چا شمیرلې
عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]
نو شمیرلی یې شوې. بخاری و مسلم

توضیح: (یسرد الحدیث) تیز تیز او مسلسل خبرو کولو ته سرد الحدیث ویل شوی دی، د حضور ﷺ د خبرو انداز دا رنګه نه وو بلکه مزه مزه په داسې طریقه یې واضح کلام فرمایلو کچیرې چا د هغه شمیرل غوښتل نو شمیرلی یې شو، ګویا د مبارکې خولې نه یې ملغلرې راوتلې.

﴿۱۶﴾ وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت اسود رحمه الله وایي یو ورځ ما د بي بي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يَصْنَعُ فِيْ بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ يَكُوْنُ فِيْ مِهْنَةِ أَهْلِهِ تَعْنِيْ
به په کور کې څه څه کارکوه نو هغې وفرمائیل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل د کور کار کوه کارکوی، او
خِدْمَةَ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ خَرَجَ
کله چې به د مانځه وقت راغی نو د مانځه د پاره به ولاړی او هغه وقت به یې ټول کار پریخوده

(۱) اخرجه البخاري في صحیحه ۶/۵۶۷ رقم الحدیث ۳۵۶۸ ومسلم في صحیحه ۴/۱۹۴۰ رقم الحدیث (۱۶۰.۲۴۹۳)

إِلَى الصَّلَاةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [1]

اود کوروالاوو سره به یې هیڅ کار نه لرلو. [بخاري]

توضیح: مهنة اهله: مهنة خدمت او د کور کار کولو ته ویل کیږي یعني حضور ﷺ به د کور په کار کې لګیا وو لیکن چې کله به د لمانځه لپاره اذان کیدلو نو فورا به مسجد ته تللو او په کور کې به په نظر نه راتللو.

هیڅ کله یې د چا نه ذاتي بدل نه اخسته

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ

او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته به چې کله هم دوه کارونو کې د یو کار کولو اختیار

قَطُّ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا

ورکول شو نو حضور صلى الله عليه وسلم به همېشه هغه کار کوه کوم چې به آسانه وو ترڅو چې به هغه د ګناه کار

فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ

نه وو که کار به د ګناه موجب وونو حضور صلى الله عليه وسلم به د هغه نه د ټولو نه لرې او سیدونکی سړی وو او

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فِيْ شَيْءٍ قَطُّ إِلَّا أَنْ

حضور صلى الله عليه وسلم خپل ذات د پاره هیڅ کله د څه خبرې بدل نه اخستې هو که څه خبره به داسې وه چې الله!

يُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللهِ فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ بِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [2]

حرامه کړې وه نو بیا حضور صلى الله عليه وسلم به د الله! د حکم پیش نظر د هغه سزا ورکوله. [بخاري مسلم]

حضور صلى الله عليه وسلم هیڅ کله څوک نه دی وهلی

﴿۱۸﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي حضور صلى الله عليه وسلم هیڅ کله څه شی یعني یو سړی یې په خپل لاس سره نه

شَيْئًا قَطُّ بِيَدِهِ وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا إِلَّا

دی وهلی ښځه او خادم هم نه، علاوه د هغه صورت نه چې حضور صلى الله عليه وسلم به د الله! په لار کې جهاد

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۲/۱۶۲ رقم الحديث ۶۷۶ والترمذي في السنن ۴/۵۶۴ رقم الحديث ۲۴۸۹.

(2) اخرجه البخاري ۶/۵۶۶ رقم الحديث ۳۵۶۰ ومسلم في ۴/۱۸۱۳ رقم الحديث ۲۳۲۷.۷۷)

أَنْ يُّجَاهِدَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ وَمَا نِيْلَ مِنْهُ شَيْءٌ قَطُّ

كوى او هيڅ كله داسې نه دي شوي چې د يو سړي د طرف نه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته څه تكليف رسيدلى وي

فَيَنْتَقِمُ مِنْ صَاحِبِهِ إِلَّا أَنْ يُّنْتَهَكَ شَيْءٌ

او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه تكليف رسونكي نه انتقام (بدل) اخستى وي هو كه د الله ! د حرام كړى

مِنْ مَحَارِمِ اللهِ فَيَنْتَقِمُ لِلّٰهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. (۱)

شوى څه شي ارتكاب به كيدى نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د الله ! د حكم د تعميل د پاره د هغه سزا وركوله. [مسلم]

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

دخپل خادم سره د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلوك

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي كوم وقت چې زه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې پيش شوم نو هغه وخت

وَأَنَا ابْنُ ثَمَانِ سِنِيْنَ خَدَمْتُهُ عَشَرَ سِنِيْنَ

څما عمر اته كاله وو د هغه وقت نه مسلسل لس كاله پورې ما د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خدمت فرائض سر ته

فَمَا لَامَنِيْ. عَلٰى شَيْءٍ قَطُّ أُتِيَ فِيْهِ عَلٰى يَدَيَّ

رسول په دي پوره موده كې داسې هيڅ كله نه دي شوى چې څما د لاس نه څه شى ضائع شوى وي

فَإِنْ لَامَنِيْ لَائِمٌ مِّنْ أَهْلِهِ قَالَ

او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه ملامته كړى يم كه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل بيتو نه به چا د څه شي په ضائع كيدو زه

دَعُوْهُ فَإِنَّهُ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ.

ملامت كولم نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ورته فرمائيل دا پرېږدئ مه يې ملامته كوئ حقيقت دا دى چې

هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ

كومه خبره كېدونكې وي هغه ضرور كېږي د روايت دا الفاظ د مصابيح دي او بيهقي هم د دې.

فِي	شُعَبِ	الْإِيْمَانِ	مَعَ	تَغْيِيْرٍ.[1]
روایت څه الفاظ تغیر او تبدیل سره شعب الایمان کې نقل کړی دی				

توضیح: ثمان سنین: ددینه معلومیږي چې کله حضرت ام سلیم انصاریه رضی الله عنها حضرت انس رضی الله عنه په طور د خادم د حضور ﷺ په خدمت کې پیش کړلو په دغه وخت کې د حضرت انس رضی الله عنه عمر اته کاله وو.

عشر سنین: یعني تر لسو کلونو ما د حضور ﷺ خدمت کړی دی او د حضور ﷺ همدو مره عمر په مدینه منوره کې تیر شوی دی.

اتی فیه: دا د مجهول صیغه ده د ضائع کیدلو او هلاکیدلو په معنی سره ده یعنې کوم شی چې به زما په لاسونو کې ضائع شو، دا د شئ صفت واقع شوی دی.

یدی: تثنیه ده دواړه لاسونه مراد دي یعنې داسې کله هم شوي نه دي چې زما د دواړو لاسونو نه کوم شی ضائع شوی وي او حضور ﷺ زما په ملامتولو سره لعن او طعن راکړی وي، نورو خلکو به چې کله زه ملامتولم نو هغه به وفرمایل چې دا پریږدئ

لوقضی شیئ کان: یعنې په تقدیر الهی کې چې د کوم شی فیصله شوې وي هغه به ضرور کیږي د مستقبل په اعتبار سره چې کومه خبره کیدونکې وي هغه به ضرور راحي.

د حضور صلی الله علیه وسلم اوصاف حمیده

﴿۲۰﴾	وَعَنْ	عَائِشَةَ	قَالَتْ	لَمْ	يَكُنْ	رَسُوْلُ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَاحِشًا وَلَا
او بي بي عائشه رضی الله عنها وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم نه خو خلقي او طبعي طور سره فحش کوو او نه يي										
مُتَفَحِّشًا	وَ	لَا	سَخَّابًا	فِي	الْأَسْوَاقِ	وَلَايَجْزِيْ	بِالسَّيِّئَةِ	السَّيِّئَةَ		
قصدًا فحش کویي او نه بازارونو کې شور کونکی وو او نه به يې د بدۍ بدله بدۍ سره آخستله										
وَلٰكِنْ	يَعْفُوْ	وَيَصْفَحُ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.[2]						
بلکه په زړه سره معاف کوه د عفو او درگذر معامله کوله [ترمذی]										

توضیح: فاحشا: یعنې د فحش خبرو کولو والا نه وو او په طبعیت کې يې دغه شی نه وو.

---

(۱) اخرجه احمد في المسند ۳/۲۳۱ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۲۵۸ رقم الحديث ۸۰۷۰.

(۲) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۳۲۴ رقم الحديث ۲۰۱۶ وابن ماجه في السنن ۱۳۹۸ رقم الحديث ۴۱۷۸.

ولامتفحشا: يعنې په فحش كلام كې تكلف كونكى هم نه وو چې قصدا او تكلفا فحش كلام اختيار كړي.

ولاسخابا: چغو وهلو سره شور كونكې ته سخاب ويل كيږي.

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يوه موقع د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعلق د بهترينو اخلاقو اوعاداتو ذكر كولو
أَنَّهُ كَانَ يَعُوْدُ الْمَرِيْضَ وَيَتْبَعُ الْجَنَازَةَ وَيُجِيْبُ
سره بيان وكړو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د بيمار پوښتنه كوله جنازي سره به تللو د مملوك او غلام
دَعْوَةَ الْمَمْلُوْكِ وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَوْمَ خَيْبَرَ
دعوت به يې قبلوى او په خره باندې سوريدو كې يې هم څه تكلف نه محسوسوه د غزوه خيبر په ورځ
عَلَى حِمَارٍ خِطَامُهُ لِيْفٌ.
ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يو خره باندې سور اوليدلو چې د هغه واګې د كجورو د پوستكې وو دا
رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ شُعَبِ الْإِيْمَانِ.[۱]
روايت ابن ماجه او شعب الايمان كې بيهقي نقل كړى دى.

توضيح : على حمار: يعنې په غزوه خيبر كې هغه په خر باندې سور وو، حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ په طور د تواضع په خر باندې سوارلى كړې ده، په دې كې يو خو د حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ سره په انكسارى كې مشابهت راغى ځكه حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ به هميشه د خره سوارلي غوره كوله، دوهمه خبره دا وه چې دا جائز وګرځي چې د خره سوارلي جائز ده، په دغه وجه د خره عرق پاک ګرځولى شوى دى، دا د خره فائده هم شوه. دلته دا خبره ذهن نشينه كول پكار دي چې ددې خره نه د عربستان لوى سپين خر مراد دى چې آس ته قريب وي، د افغانستان خره هم همدا رنګه د غټ قد والا وي، ددينه هغه خر مراد نه دى چې په قد كې هم كوچنى وي چې په هغه باندې سوارلى باعث د عار (شرم) ګڼلى كيږي، د حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ سره به دوهم كس هم سريده ددينه هم معلومه شوه چې دا به لوى خر وو.

خطامه: اى لجامه او لګام د هغه.

ليف: يعنې د قيضې رسى به د خرما (كجورې) د ونې د پوستكي نه جوړه وه.

---

(۱) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۹۸ رقم الحديث ۴۱۷۸ والبيهقي في شعب الايمان ۶/۲۸۹ رقم الحديث ۸۱۹۰.

خپلي څپلي به يې په خپله گنډلي

﴿۲۲﴾	وَعَنْ	عَائِشَةَ	قَالَتْ	كَانَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل پيزار گنډل او خپله جامه به يې خپله گنډله او

يَخْصِفُ	نَعْلَهُ	وَيَخِيطُ	ثَوْبَهُ	وَيَعْمَلُ	فِي	بَيْتِهِ كَمَا

د خپل كور كار به يې داسې كوه څرنگه چې په تا سو كې يو سړى خپل كور كې كار كوي او بي بي

يَعْمَلُ	أَحَدُكُمْ	فِي	بَيْتِهِ	وَقَالَتْ	كَانَ	بَشَرًا

عائشي رضی الله عنها مزيد وفرمائيل حضور صلی الله علیه وسلم يو داسې انسان وو څرنگه چې نور انسانان وي

مِنَ	الْبَشَرِ	يَفْلِي	ثَوْبَهُ	وَيَحْلُبُ	شَاتَهُ

حضور صلی الله علیه وسلم به خپلو كپړو كې سپږي خپله كتلي د خپلي بزي پۍ به يې خپله لوشلي او خپل

وَ يَخْدِمُ نَفْسَهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1]

خدمت به يې خپله كوه يعني خپل ذاتي كار به يې خپله كوه . [ترمذي]

توضیح : **يخصف**: د څپلۍ گنډلو په معنى سره دى د دينه خصاف راغلى .

بشرا: بشر انسان ته وايي، حضرت عائشه رضی الله عنها همدا بيانول غواړي چې هغه انسان وو ملائكه او پيرى نه وو لهذا په هغه باندې بشرى عوارض راتلل ، دد ې حديث نه په بريلويانو باندې يو زبردسته علمي څپيړه پريوځي ، كاشكې هغوى پوهه شي! د كفارو دا خيال وو كچيرې هغه (محمد صلی الله علیه وسلم) د الله تعالى رسول وى نو هغه به د عامو انسانانو پشان په وړو وړو كارونو كې نه مشغول كيده بلكه د بادشاهانو پشان به يې د وړو كارونو نه اجتناب كولو لكه په آيت كې دي ﴿مَالِ هَٰذَا الرَّسُولِ يَأْكُلُ الطَّعَامَ وَيَمْشِي فِي الْأَسْوَاقِ﴾ ددې په جواب كې حضرت عائشه رضی الله عنها وفرمايل چې يو انسان وو او په طور د تواضع هغه د انسانانو پشان كار كولو ، هغه د تكبر نه پاك وو هغه بشر وو ﴿قل انما انا بشر مثلكم﴾ . (خلاصه طيبى)

يفلي ثوبه: فلى يفلي تفلية د باب تفعيل نه او تفلى يتفلى تفليا د باب تفعل نه په كپړو او سر وغيره كې د سپږو لټولو په معنى سره دى تر څو هغه ختمې شي .

سوال : مواهب لدنيه كې يې ليكلي دي چې د حضور صلی الله علیه وسلم په جسم يا كپړو كې كله هم سپږي شوي نه دي نو بيا دلته د تلاش كولو څه مطلب دى ؟ همدا رنگه امام فخر الدين رازى رحمه الله ليكلي دي چې د

---

(1) اخرجه أحمد في المسند ۶/۱۶۷ .

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جسم باندې کله هم مچ نه کښيناستلو او نه کله هم کوم ماشي د هغه جسم چيچلی دی دلته د سپږو ذکر څنګه راغلی ؟

جواب : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اظهار بشريت په غرض په طور د تواضع په خپلو کپړو کې د سپږو تلاش کړی دی ، دا صرف د تلاش کولو تر حده پورې وو، د تلاش کولو نه دا نه لازميږي چې په هغه کې سپږې موجودې وې. شيخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کې ليکلي دي اګرچې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جسم کې کله هم سپږې شوې نه وې ليکن چونکه د دغو موذياتو د بدن نه علاوه د کپړو سره د بهر نه لګيدل ممکن وو په د غه وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلاش کولو کوشش کړی دی.

د انسانانو سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمومي تعلق

﴿۲۳﴾ وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلَ نَفَرٌ عَلٰى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ
او حضرت خارجه ابن زيد ابن ثابت وايي يو ورځ د خلقو يو جماعت ځما والد محترم حضرت زيد ابن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
فَقَالُوْا لَهُ حَدِّثْنَا أَحَادِيْثَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ته راغی او ورته يې وويل ځمونږ مخکې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه حديثونه بيان کړه
قَالَ كُنْتُ جَارَهُ فَكَانَ
حضرت زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالکل ګاونډ کې او سيدم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې چې
إِذَا نَزَلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ بَعَثَ إِلَيَّ
کله به وحي نازليدله نو زه به يې راغوښتلم زه به په خدمت کې حاضريدم او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم سره
فَكَتَبْتُهُ لَهُ فَكَانَ إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا
وحي به مې ليکله د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت مبارک دا وو چې کله به مونږ د دنيا ذکر کوو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الْآخِرَةَ ذَكَرَهَا
به زمونږ سره دې دنياوي ذکر کې شامليده او کله چې به مونږ د آخرت ذکر کوه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به
مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الطَّعَامَ ذَكَرَهُ
هم مونږ سره د آخرت ذکر کوه او کله چې به مونږ د خوراک څکاک ذکر کوه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم

مَعَنَا فَكُلُّ هٰذَا أَحَدِّثُكُمْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.[1]

زمونږ سره د هغې ذکر کوه داټولې خبرې زه تا سو خلقو ته د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بنایم. [ترمذي]

توضیح: (عن خارجة) خارجه بن زید بن ثابت جلیل القدر صحابی دی، انصاری دی، مدنی دی، د حضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زمانه یې موندلې ده، د خپل پلار نه یې د حضور ﷺ احادیث اوریدلي دي د مدینې منورې د فقهاء سبعه نه یو وو، د فقهاء سبعه نومونه دا دي، یو شاعر وایې:

الا کل من لایقتدی بائمة فقسمته ضیزی من الحق خارجة

فخذهم عبیدالله عروة قاسم سعید ابوبکر سلیمان خارجه

فکان: حضور اکرم ﷺ د هر مجلس خیال ساتلی دی او د انسانانو سره یې عمومی تعلق ساتلی دی او همدا کمال بشریت وو، داسې سرزوری نه وو چې په هر مجلس کې یې خپله خبره چلوله او د بل چا به یې نه اوریدله بلکه په هغه کې جامع کمال او جمال وو، شاعر ویلي:

جهان تک آپ کی تقلید ہی اسی حد تک سلیقہ بشریت بشر کو ملتا ہی

مصافحه او مواجهه او په مجلس کې د ناستې طریقه

﴿۲۲﴾	وَعَنْ	أَنَسٍ	أَنَّ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ كَانَ
او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به یو سړي سره مصافحه او ملاقات کوه نو خپل لاس									
إِذَا	صَافَحَ	الرَّجُلَ	لَمْ	يَنْزِعْ	يَدَهُ	مِنْ	يَدِهِ	حَتّٰى	
مبارک به یې تر هغه وقته پورې نه جدا کوه تر څو پورې چې هغه سړي به خپل لاس نه وو جدا کړی									
يَكُوْنَ	هُوَ	الَّذِيْ	يَنْزِعُ	يَدَهُ	وَلَا يَصْرِفُ	وَجْهَهُ			
او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل مخ مبارک د هغه سړي د مخ نه د هغې پورې نه اړوه تر څو پورې چې هغه سړی									
عن	وَجْهِهِ	حَتّٰى	يَكُوْنَ	هُوَ	الَّذِيْ	يَصْرِفُ	وَجْهَهُ	عَنْ	وَجْهِهِ
به خپل مخ د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مخ مبارک نه وو اخوا کړی او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هیڅ کله چا په دې حال کې									
وَلَمْ	يُرَ	مُقَدِّمًا	رُكْبَتَيْهِ	بَيْنَ	يَدَيْ	جَلِيْسٍ	لَهُ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.[2]
نه دی لیدلی چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې ګونډې مبارکې د خپل همنشین مخکې کولو سره ناست وي. [ترمذي]									

(1) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۲۴۵ رقم الحديث ۳۶۷۹.

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۶۴ رقم الحديث ۲۴۹۰ وابن ماجه ۲/۱۲۲۴ رقم الحديث ۳۷۱۶.

توضیح : لم ینزع یده: یعنې د مصافحې په وخت کې حضور صلی الله علیه وسلم خپل مبارک لاس د مصافحه کونکي د لاس نه په خپله نه وو لرې کوه ترڅو پورې به چې هغه کس خپل لاس پخپله نه لرې کوه ، همدارنګه د مصافحې په وخت یا د عامو خبرو کولو په وخت ترڅو پورې به چې دویم شخص خپل مخ نه ګرځولو تر هغه وخته به حضور صلی الله علیه وسلم د حسن اخلاق او مروت لاندې خپل مخ نه ګرځولو ، د اخلاقو او مروت او د تواضع او انکسارۍ دا یو اعلی نمونه ده.

ولم یر مقدما: یعنې د حضور صلی الله علیه وسلم په عامو مجالسو کې عام عادت همدا وو چې د خلکو په مخ کې یې خپلې پښې او ځنګنونه نه غځول ځکه دا د متکبرینو عادت او علامت دی ، دلته د ځنګنونو د غځولو الفاظ دي ، بعضو شارحینو د رکبتین نه رجلین مراد کړي دي دا ډیر واضحه او آسانه مطلب دی د ځنګنونو غځول په پوهه کې نه راځي ، عرب خلک خپل طرفته د پښو غځول ډیر لوی عیب ګڼي ، بیت الله طرفته خو پښې غځوي لیکن د انسان طرفته په پښو غځولو باندې جنګ کوي. په هر حال په عامو مجلسونو کې د حضور صلی الله علیه وسلم عام عادت همدا وو ، کچیرې په کوم خاص مجلس کې یې کله کله پښې غځولي وي نو د هغه سره یې هیڅ تعارض نشته او نه کوم فرق پریوځي.

﴿۲۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ . [1]
حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم به هیڅ شی صبا دپاره نه ذخیره کوه ، ترمذی

توضیح : لایدخر: یعنې د خپل ذات لپاره یې کله هم د سبا لپاره ذخیره ایښې نه ده ، دا د حضور صلی الله علیه وسلم خپله ذاتي معامله وه د همدې تذکره په دې حدیث کې ده ، ددې برعکس حضور صلی الله علیه وسلم د خپلو ازواج مطهرات لپاره ذخیره ایښې ده . د بعضو لپاره یې د یو کال انتظام فرمایلی دی لیکن د خپل ځان په باره کې یې په توکل باندې عمل کړی دی.

د حضور صلی الله علیه وسلم خاموشي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَوِيْلَ الصَّمْتِ.
او جابر ابن سمره رضی الله عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم به زیات تر خاموشي اختیاروله دا روایت
رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ. [2]
بغوي رحمه الله په شرح السنه کې نقل کړی دی.

---

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۴/۵۰۱ رقم الحديث ۲۳۶۲.

(۲) اخرجه أحمد في المسند ۵/۸۶ .

د حضور صلى الله عليه وسلم د وینا انداز

﴿۲۷﴾ وَعَنْ كَعْبٍ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ فِي كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْتِيْلٌ وَتَرْسِيْلٌ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ[1]
حضرت جابر رضي الله عنه وايي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د الفاظو په آدائيگی کې به د ترتيل او ترسيل لحاظ وو. [ابوداؤد]

توضیح : ترتیل: حروف او کلمات ظاهرول او په دمه دمه ویلو ته ترتیل ویل کیږي چې د سرد الکلام برعکس وي چې د دې تذکره په وروستي حدیث کې شته او ممدوحه نه ده ، د ترتیل تعلق د قرآن کریم د ویلو سره دی ﴿ورتل القرآن ترتيلا﴾ .

ترسیل: دا د ترسل نه دی چې په دمه دمه کلام ویلو ته ویل کیږي ، علماؤ لیکلي دي چې دا دواړه لفظونه د معنی په اعتبار سره یو شان دي البته د ترسیل تعلق د عام کلام سره دی او د ترتیل تعلق د قرآن د ویلو سره دی ، په وروستي حدیث کې د (بینه فصل) چې کوم لفظ راغلی دی هغه هم په دغه معنی سره دی چې علاحده علاحده واضح کلام به وو او هرڅوک به وربانديې پوهیده .

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او بي بي عائشه رضي الله عنها بيان وکړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم گفتگو به داسې نه وه څرنگه چې تاسو خلق
يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هٰذَا وَلٰكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ
مسلسل خبرې کوئ کله چې به حضور صلى الله عليه وسلم گفتگو کوله نو يو يو حرف او جمله به يې داسې په
بَيِّنَهُ فَصْلٌ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ
آرام آرام اداء کوله چې کوم سړی به حضور صلى الله عليه وسلم سره ناست وو نو پوره خبرې اتري به يې په بنه
إِلَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[2]
شان یادولی شوې . [ترمذي]

په شونډو مبارکو به یې اکثره مسکاوه

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا
او حضرت عبد الله ابن حارث ابن جزء رضي الله عنه وايي ما زيات مسكى كېدونكى هيڅوک نه دی ليدلی

(1) اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۷۱ رقم الحديث ۴۸۳۸ .

(2) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶۰ رقم الحديث ۳۶۳۹ وأحمد في المسند ۶/۲۵۷ .

مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ[1].
د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه. [روایت کړې دې ترمذي]
﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به خبرو کولو ته کينا سته نو اکثره به
إِذَا جَلَسَ يَتَحَدَّثُ يُكْثِرُ أَنْ يَرْفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.[2]
یې نظر آسمان طرف ته پورته کوه. [روایت کړې دې ابوداؤد]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د عظیم شفقت سره عظیم اخلاق

﴿۳۱﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيْدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ
او حضرت عمرو ابن سعید د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي هغوئ وویل ما هیڅوک د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ
نه زیات خپل اهل او عیال باندې مهربانه او مشفق نه دی لیدلی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځوئ
إِبْرَاهِيْمُ ابْنُهُ مُسْتَرْضِعًا فِيْ عَوَالِي الْمَدِيْنَةِ فَكَانَ
ابراهیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مدینې په پورتني اطرافو کې په یو کور کې پی ورکول کیدل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثره
يَنْطَلِقُ وَنَحْنُ مَعَهُ فَيَدْخُلُ الْبَيْتَ وَإِنَّهُ
هغه محلې ته ورتلو مونږ به هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هلته رسیدو سره د دائي کور ته
لَيُدَّخَنُ وَكَانَ ظِئْرُهُ قَيْنًا فَيَأْخُذُهُ
به یې تشریف راوړلو او هلته په هغه کور کې به لوګی وو ځکه چې د دائي (پی ورکونکي) خاوند
فَيُقَبِّلُهُ ثُمَّ يَرْجِعُ
آهینګر وو او د هغه د بټۍ لوګی به په کور کې شلور طرف ته وو خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ځوی په محبت

---
[1] اخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۶۱ رقم الحديث ۳۶۴۱ وأحمد في المسند ۴/۱۹۰.

[2] اخرجه أبوداود في السنن ۵/۱۷۱ رقم الحديث ۴۸۳۸.

قَالَ	عَمْرٌو	فَلَمَّا	تُوُفِّيَ	إِبْرَاهِيمُ	

کې هغه لوګي نه ډک کورته ورتلو صلی الله علیه وسلم بیا ابراهیم رضی الله عنه به یې په غېږه مبارکه کې اخستی مینه

قَالَ	رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

محبت به یې ورسره کوو او بیا به خپل کورته بیرته راغلو حضرت عمرو بیان وکړو چې کوم وقت

إِنَّ	إِبْرَاهِيمَ	ابْنِيْ	وَإِنَّهُ	مَاتَ	فِي	الثَّدْيِ

حضرت ابراهیم رضی الله عنه وفات شونو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل ابراهیم ځما ځوی دی هغه په سینه

وَإِنَّ	لَهُ	لَظِئْرَيْنِ	تُكَمِّلَانِ	رَضَاعَهُ

کې یعني د پیو څکلو زمانه کې وفات شو د هغه د پاره دوه تی ورکونکې مقرر شوي دي چې په

فِي الْجَنَّةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

جنت کې د هغه د پیو موده پوره کوي. [مسلم]

توضیح: ارحم بالعیال: یعني حضور صلی الله علیه وسلم په خپل اهل او عیال باندې د ټولو نه زیات مهربانه او شفقت کونکی وو، وربسې تفصیل دی.

وکان ابراهیم: حضور صلی الله علیه وسلم چې کله د دنیا بادشاهانو ته دعوتي خطوط لیږلي وو په هغو کې د مصر عیسائی بادشاه مقوقس په نوم هم یو خط وو، مقوقس حضور صلی الله علیه وسلم ته په طور د تحفې باندې یو آس او یوه وینځه لیږلې وه د هغې وینځې نوم ماریه قبطیه وو، د هغې د بطن نه په مدینه منوره کې یو بچی پیدا شو چې د هغه نوم ابراهیم وو، د شیدو ورکولو په غرض حضور صلی الله علیه وسلم خپل دغه ځوی ابراهیم په عوالی د مدینه کې د یوه آهنګر کورته ورکړلو، د آهنګر ښځه د حضرت ابراهیم دایه جوړه شوه شودې یې ورکولې، حضور صلی الله علیه وسلم کله کله د خپل دغه ځوی د حال اخیستلو لپاره هلته تشریف وړلو، هغه ځای تنګ وو په نغري کې به لرګی سوځیدل نو لوګی به هم وو، حضور صلی الله علیه وسلم به دغه ټولو مشقت برداشت کولو او په ځوی باندې به یې شفقت کولو او هلته به تللو، اولس اتلس میاشتې بعد د حضرت ابراهیم انتقال وشو.

عوالي: دا د عالیة جمع ده، د مدینې اطرافو ته ویل کیږي، بعضې عوالی څلور میله بعضې شپږ میله او بعضې عوالی د اته میله په فاصله باندې پراته وو.

لیدخن: یعني په دغه ځای کې به لوګی وو.

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۱۸۰۸ رقم الحديث ۶۳/۲۳۱۶، وأحمد في المسند ۳/۱۱۲.

ظئر: په عربی کې تی ورکونکي ښځې ته ظئر ویل کیږي لیکن په دې کې نارینه او ښځه برابر دي ، کچیرې کومه ښځه د چا ځوی ته شودې ورکوي او هغه ظئر جوړیږي نو د دغې ښځې خاوند هم د دغه بچی رضاعی پلار جوړیږي په عربی کې په هغه باندې هم د ظئر اطلاق کیږي دلته هم دا سې شوي دي .

قین: حداد او آهنګر ته وایي، شاید دا د دوګي د زیاتید و وجه بیانیږي ځکه چې د آهنګرانو سره او سپنه ګرمولی شي نو اور بلیږي .

في الثدی: یعنې د رضاعت په موده کې دننه وفات شو ، د شیدو رودلو په وخت کې وفات شو ، حضرت ابراهیم د اولس یا اتلس میاشتو په عمر کې وفات شوی وو په دغه وجه په جنت کې د هغه لپاره د دوو تی ورکونکو انتظام وشو .

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لویو اخلاقو ظهور

﴿۲۲﴾وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ يَهُوْدِيًّا كَانَ يُقَالُ لَهُ فُلَانٌ حَبْرٌ كَانَ لَهُ عَلَى
حضرت علي کرم الله وجهه راوي دی په مدینه کې د فلان نوم یو یهودي عالم وو د هغه څو دیناره
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَنَانِيْرُ فَتَقَاضَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې قرض وو یوه ورځ هغه یهودي راغی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یې د هغه دینارو مطالبه
فَقَالَ لَهُ يَا يَهُوْدِيُّ مَا عِنْدِيْ مَا أُعْطِيْكَ
وکړله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمائیل ای یهودي! تاته درکولو د پاره دا وخت ما سره هیڅ شی نشته
قَالَ فَإِنِّيْ لَا أُفَارِقُكَ يَا مُحَمَّدُ حَتّٰى تُعْطِيَنِيْ
یهودي وویل ای محمد ! زه تر هغه وخته پورې ستا نه نه لیرې کېږم ترڅو پورې چې ځما قرض اداء
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذًا أَجْلِسُ مَعَكَ
نکړې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکړو ښه ده نو بیا زه تا سره کینم تر څو پورې چې ته و نه وایې ستا د
فَجَلَسَ مَعَهُ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ
مخ نه به نه اخواته کېږم او په دې فرمائیلو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سره کېنا ستو د ماپښین مازیګر
وَ الْمَغْرِبَ وَ الْعِشَاءَ الْاٰخِرَةَ وَ الْغَدَاةَ وَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ماښام ماخستن او بیا د راتلونکې سهار مونځ وکړه صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دې صورت حال لیدو سره سخت

يَتَهَدَّدُوْنَهُ وَيَتَوَعَّدُوْنَهُ فَفَطِنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قهر كې شول او بار بار به يې هغه يهودي ويروه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوى منع كړل صحابو عرض

مَا الَّذِيْ يَصْنَعُوْنَ بِهِ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ يَهُوْدِيٌّ يَحْبِسُكَ؟

وكړو يا رسول الله! دا يو يهودي كېدو سره تا سو يې پابند كړي يي او دلته په ناستي باندې يي

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَنَعَنِيْ رَبِّيْ

مجبوره كړي يي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل آيا تا سو ته نه ده معلومه چې الله! زه منع كړى

أَنْ أَظْلِمَ مُعَاهِدًا وَّغَيْرَهُ فَلَمَّا تَرَحَّلَ النَّهَارُ قَالَ الْيَهُوْدِيُّ

يم چې په هغه سړي ظلم وكړم هغه چې هرڅوك وي هركله چې ورځ راوختله نو هغه يهودي وويل

أَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ

زه شاهدي اداكوم چې الله نه ماسوا بل معبود نشته او شاهدي اداكوم چې يقينًا ته د الله! رسول يې

وَشَطْرُ مَالِيْ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ

يارسول الله! زه د خپل مال نيمه حصه د الله! په لاركې صدقه كوم تا سو ته دي معلومه وي

أَمَا وَاللهِ مَا فَعَلْتُ بِكَ الَّذِيْ

قسم په الله ما چې دا وخت ستا سو سره كوم سخته رويه اختيار كړه د هغه سبب دا دي نه علاوه نور هيڅ نه

فَعَلْتُ بِكَ اِلَّا لِأَنْظُرَ

ووچې ما په تا سو كې هغه اوصاف امتحان كول غوښتل د كومو ذكر چې په تورات كې موجود دى

إِلٰى نَعْتِكَ فِي التَّوْرَاةِ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ

او په تورات كې هغه اوصاف دا سې مذكور دي چې د هغه نوم مبارك به محمد وي د عبد الله ځوى

مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ وَ مُهَاجَرُهُ بِطَيْبَةَ وَ مُلْكُهُ

به وي پيدائش به يې په مكه كې وي مدينې طيبې ته به هجرت كوي د هغوئ د مملكت سرحد و نه

بِالشَّامِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيْظٍ وَلَا سَخَّابٍ

به ملك شام او د هغه ګردونواح پوري خواره وي هغه به نه بدزبانه وي نه به سنګدل (سخت زړى)

فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا مُتَزَيِّ بِالْفُحْشِ وَلَا
وي نه به بازارونو کې شور کونکی وي نه به فحش اختیارونکې وي او نه به بیهوده خبره کونکې
قَوْلِ الْخَنَا أَشْهَدُ أَنْ
وي هغه په تورات کې مذکوره داخبراورولو نه روسته یو وار بیا کلمه د شهادت وویله چې زه ګواهي
لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَ أَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَ هٰذَا مَالِيْ
ورکوم چې د الله ! نه ماسوا بل معبود نشته او دا چې یقینًا تا سو د الله ! رسول یاست ای د الله رسوله ! دا ځما مال حاضر دی
فَاحْكُمْ فِيْهِ بِمَا أَرَاكَ اللّٰهُ وَ كَانَ الْيَهُوْدِيُّ
تا سو د الله ! د حکم په رڼا کې د دې متعلق چې څه مناسب ګڼئ فیصله وکړئ د راوي بیان دی چې هغه یهودي
كَثِيْرَ الْمَالِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.[1]
ډېر مال دارو دا روایت بیهقي دلائل النبوة کې نقل کړی دی

توضیح : فلانًا: د یهودی د نوم نه کنایه ده ، **حبر:** د دې جمع احبار ده د یهودو عالم ته ویل کیږي .

دنانیر: د تصغیر او تقلیل لپاره د دغه لفظ راغلی دی یعني یو څو دیناره وه معمولی قرض وو .

ماعندی: په دغه وخت کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دغه رقم نه وو ، شاید د هغه د اداء کولو وخت تر او سه راغلی نه وو یهودی د وخت نه مخکې مطالبه وکړه او داسې معلومیږي چې د کوم صحابی سره هم څه نه وو .

اجلس معک: په ظاهره داسې معلومیږي چې هغه یهودی حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد نبوی کې کېښیناوه او په خپله هم ورسره کېنوه .

الغداة: د دینه مراد د سهار مونځ دی نو پوره پنځه مونځونه یې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې خودلو .

یتوعدونه: ځورنې ته ویل کیږي .

وغیره: دا تعمیم بعد تخصیص دی چې زه نه په کوم معاهد باندې ظلم کوم او نه د دینه علاوه په بل چا باندې ظلم کوم ، زما رب زه د ظلم نه منع کړی یم .

ترجل النهار: د ورځې راخکاره کیدلو او لمر پورته کیدلو ته ویل شوي .

فظ: د ژبې په لحاظ به بداخلاقه نه وي . **غلیظ:** د زړه په اعتبار سره به سخت دله نه وي .

([1]) رواه البیهقي في دلائل النبوة ۶/۲۸۰ .

سخاب: په بازارونو کې به چغې وهونکی نه وي.

ولامتزی: یعني عملي طور باندې به د فحش ارتکاب کونکی نه وي.

قول الخنا: یعني د قول او زباني طور باندې به د فحش او قبیح خبرو کولو والا نه وي، په دې حدیث کې د حضور صلى الله عليه وسلم د هغو اخلاقو ظهور وشو د کومو چې تصور نشو کیدلی، یو چا رښتیا ویلي:

نفسی الفداء لمن اخلاقه شهدت — بانه خیر مولود من البشر

لم یخلق الرحمن مثل محمد — ابدا وعلمی انه لایخلق

فاق النبیین في خلق و خلق — ولم یدانوه في علم ولا کرم

د حضور صلى الله عليه وسلم د فقراو او غریبانو سره تعامل

﴿۳۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِيْ أَوْفٰى قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ

او حضرت عبدالله ابن ابي اوفی رضي الله عنه وایي رسول الله صلى الله عليه وسلم به په ذکر کې زیات مشغول ؤ لغو [فضول]

الذِّكْرَ وَيُقِلُّ اللَّغْوَ وَيُطِيْلُ الصَّلَاةَ وَيُقَصِّرُ الْخُطْبَةَ وَلَايَأْنِفُ أَنْ يَّمْشِيَ

خبرې به یې ډیرې کمې کولې مونځ به یې طویل او خطبه به یې مختصره ویله او کونډې او مسکین

مَعَ الْأَرْمِلَةِ وَ الْمِسْكِيْنِ فَيَقْضِيَ لَهُ الْحَاجَةَ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَ الدَّارِمِيُّ.[1]

سره په تلو کې به یې څه عار نه محسوسوه او د هغوئ کار به یې کوه. [روایت کړې نسائي و دارمي]

توضیح: الذکر: د دینه مراد هر هغه عمل دی چې د الله تعالی د یاد سره متعلق وي، د حضور صلى الله عليه وسلم د زندګۍ هره لمحه په ذکر الله باندې مشتمله وه.

اللغو: د دینه مراد هر هغه عمل دی چې په هغه کې نه د دنیا فائده وي او نه د آخرت فائده وي بلکه هغه عمل د ذکر الله نه علاوه محض د دنیا سره متعلق وي، امام غزالی رحمه الله د بی مقصده او بی مصلحته منطقي او فلسفي تألیفاتو متعلق ویلي دي: **ضیعت قطعة من العمر العزیز في تألیف البسیط والوسیط والوجیز**. په هر حال د ذکر حقیقي په مقابله کې د نورو امورو همدا حیثیت دی.

ویقل: علماؤ لیکلي چې د قلت اطلاق په عدم باندې هم کیږي دلته همدا عدم او معدوم مراد شوی دی یعني حضور صلى الله عليه وسلم د لغوه امورو طرفته بلکل التفات نه کولو.

---

(۱) اخرجه النسائي في السنن ۳/۱۰۸ رقم الحدیث ۱۴۱۴ والدارمي في السنن ۱/۴۸ رقم الحدیث ۷۴.

يانف: نه خوښولو او بدګڼلو ته ويلى کيږي. ارملة: بې خاونده ښځې ته ويل کيږي يعنې د اعلى اخلاقو او اعلى تواضع په بنياد باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کونډې ښځې سره تلل او د غريب او غرباؤ سره راشه درشه بده نه ګڼله.

﴿۳۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ أَبَا جَهْلٍ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت علي کرم الله وجهه نه روايت دى چې ابو جهل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا وويل اى محمد!
إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَلٰكِنْ نُكَذِّبُ بِمَا جِئْتَ بِهِ فَأَنْزَلَ
مونږ ليکن هغه شي ته دروغ وايو کوم چې تا راوړى دى نو الله! د په حق کې دا ايت نازل کړه:
اللهُ تَعَالٰى [فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُوْنَكَ وَلٰكِنَّ الظَّالِمِيْنَ
فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ پس يقينا دوي تا ته دروغجن نه وايي بلکه دا ظالمان
بِآيَاتِ اللهِ يَجْحَدُوْنَ] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)
خو د الله د آيتونو نه انکار کوي. [ترمذي]

سلام په هغه چا باندې چې په بادشاهۍ کې يې فقيرې وکړه

﴿۳۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَا عَائِشَةُ
او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائيل اى عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا! که زه
لَوْ شِئْتُ لَسَارَتْ مَعِيَ جِبَالُ الذَّهَبِ جَاءَنِيْ مَلَكٌ وَإِنَّ
وغواړم نو يقينًا ماسره به د سروزرو غرونه روان شي ماته يوه فرشته راغله چې د ومره غټه وه چې
حُجْزَتَهُ لَتُسَاوِي الْكَعْبَةَ فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ
د هغه ملا د کعبې برابر وه هغه ماته وويل چې ستا سو پروردګار په تا سو سلام وايي او فرمايي
وَيَقُوْلُ إِنْ شِئْتَ نَبِيًّا عَبْدًا وَإِنْ شِئْتَ نَبِيًّا مَلِكًا فَنَظَرْتُ
چې ته بنده پيغمبر جوړيدل غواړې که بادشاه پيغمبر جوړيدل ما پدې اوريدو سره د جبرائيل طرف
إِلٰى جِبْرَائِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَأَشَارَ إِلَيَّ
ته سواليه انداز کې وکتل او ګويا د هغه نه مې مشوره طلب کړه چې ته ووايه زما د پاره به کوم صورت

(۱) اخرجه الترمذي في السنن ۵/۲۴۳ رقم الحديث ۳۰۴۶.

أَنْ ضَعْ نَفْسَكَ[۱] وَفِيْ رَوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ فَالْتَفَتَ

ښه وي؟ نو هغه وويل خپل نفس پست کړه يعني د فقر ژوند اختيار کړه نه د عيش او راحت ژوند.

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جِبْرَائِيْلَ

او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په روايت کی دا دي چی حضور ﷺ جبرائيل عليه السلام ته

كَالْمُسْتَشِيْرِ فَأَشَارَ لَهُ جِبْرَئِيْلُ

متوجه شو، او مشورې غوښتلو آندازکی هغه طرف ته وکتل، نو جبرائيل په خپل لاس سره ځمکې

بِيَدِهِ أَنْ تَوَاضَعْ فَقُلْتُ

طرف ته اشاره کولو سره وښودل، چی خکته والی او انکساری اختيار کړه نو حضور ﷺ وفرمائيل ما وويل

نَبِيًّا عَبْدًا قَالَتْ فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ

چی يقينا زه بنده پيغمبر جوړيدل غواړم، بی بی عائشی رضي الله عنها بيان وکړو چې ددې نه روسته

لَا يَأْكُلُ مُتَّكِئًا يَقُوْلُ آكُلُ كَمَا

حضور ﷺ هيڅ کله تکيه لګولو سره طعام نه دی خوړلی او فرمائيل يې زه داسې طعام خورم، څرنګه

يَأْكُلُ الْعَبْدُ وَأَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ[۲]

چی غلام يې خوري، او داسې کينم څرنګه چی غلام کينی، دا روايت بغوی په شرح السنة کی نقل کړی دی.

توضيح: د الله تعالى له طرفنه دغې خاصې ملائکې دغه خاص پيغام ورکړو چې کچيرې حضور ﷺ وغواړي چې د نبوت سره بادشاهت هم وي نو الله تعالى به داسې وکړي او که وغواړي چې نبوت او عبديت وي نو دا هم د هغه اختيار دی، حضور ﷺ د جبرئيل عليه السلام په مشوره باندې نبوت او عبديت اختيار کړلو او بادشاهت يې منع کړلو، دا په فقيرۍ کې بادشاهی ده.

سلام په هغه چا چې په بادشاهۍ کې يې فقيري وکړه.

۲۲ جمادى الثاني ۱۴۱۸هـ

(۱) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۲۴۷ رقم الحديث ۳۶۸۳.

(۲) اخرجه البغوي في شرح السنة ۱۳/۲۳۸ رقم الحديث ۳۶۸۴.

باب المبعث وبدء الوحي

د نبوي بعثت دور او د نزول وحي بيان

قال الله تعالى ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ﴾ (العلق)

المبعث: دا لفظ د بعث نه دی د پورته کولو ژوندي کولو او لیږلو په معنی سره راځي دلته په همدې آخری د لیږلو په معنی کې استعمال شوی دی. حضور ﷺ ته د ۴۰ کلونو په عمر کې نبوت ورکړی شو، د نبوت حاصلیدو نه درې کاله وروسته هغهٔ د صفا په غونډۍ باندې وختلو او په ښکاره الفاظو کې یې د نبوت اعلان وفرمایلو، د نبوت ۱۳ کاله هغه په مکه کې تیر کړل او لس کاله په مدینه منوره کې پاتې شو، په دغه طریقه چې کله ۲۳ کاله د نبوت پوره شول نو الله تعالی هغه خپل طرفته وبللو او د ۶۳ کلونو په عمر کې د هغه وصال وشو.

د مسجد نبوی سره د حضرت عائشې رضي الله عنها حجره وه په دې کې هغه په ژوند کې هم اوسیده او وصال هم همدلته وشو او قبر یې هم په همدې ځای کې دی او تدفین یې هم همدلته وشو، اوس دغه حجره مسجد نبوی په مینځ کې راغلې ده او روضه د رسول هم په مینځ کې راغلې ده.

بدء الوحي: دا لفظ په همزې سره د ابتداء په معنی سره دی او که همزه نه وي بلکه واو وي نو دا بُدُوٌّ د ظهور وحي په معنی سره راځي دلته په همزې سره راغلی دی. **(الوحی هو الاشارة الخفية)** یعنې د لغت په اعتبار سره وحي رمز او مخفی اشاره او کنایه ده ورو خبره کول، پیغام لیږل او القاء او الهام ته ویل کیږي. په مشارق انوار کې لیکلي دي چې ملا علی القاری رحمه الله د وحي اصطلاحی تعریف داسې کړی دی (و شرعا هو الاعلام بالشرع) یعنې انبیاء کرامو ته د شرعی پیغاماتو رسولو نوم وحي ده، انبیاء کرامو ته د وحي راتللو څو طریقې وې: (۱) کله به ملائکې د انسان په شکل کې وحي راوړله. (۲) کله کله به ملائکه په خپل اصلی صورت کې راتلله. (۳) کله به الله تعالی براه راست د نبی په زړه باندې القاء فرمایله. (۴) کله به الله تعالی د حجاب تر شا نبی سره خبرو کولو سره وحي کوله. (۵) کله به د انسلاخ بشریت په صورت کې وحي راتلله، د انسلاخ بشریت مطلب دا دی چې په حضور ﷺ به یو قسم غشی طاری کیدله، هغه ﷺ به د عالم بشریت نه عالم ملکوتیت طرفته منتقل کیده او په همدغه حالت کې به وحي راتلله، چې کله به هغه په هوش کې راغللو او د عالم بشریت طرفته به واپس راغللو نو هغه وحي به ده ته په یاد کې پاتې وه، د وحي دغه شکل به په حضور ﷺ باندې ډیر درونډ وو ځکه په دې کې انسلاخ بشریت وو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څلویښت کالو په عمر کې په نبوت سره مشرف شو

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بُعِثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لِاَرْبَعِيْنَ سَنَةً
ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څلویښت کالو په عمر کې د رسالت منصب او نبوت
فَمَكَثَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشَرَةَ سَنَةً يُوْحَى اِلَيْهِ ثُمَّ
باندې فائز سو ددې نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیارلس کاله په مکه کې وو چې وحې به ورته کېدله او بیا
اُمِرَ بِالْهِجْرَةِ فَهَاجَرَ عَشَرَ سِنِيْنَ وَ مَاتَ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د هجرت حکم وشو د نو مکې نه يې هجرت وکړو او لس کاله په مدينه کې وو کوم
وَ هُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَّ سِتِّيْنَ سَنَةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)
وخت چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو نو عمر مبارک يې درې شپيته کاله وو. [بخاري مسلم]

توضيح: په دې روايت کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې زندګۍ ۱۳ کاله ښودل شوې ده او مدنۍ لس کاله ښودل شوې ده او ټول عمر ۶۳ کاله بيان شوی دی ، دغه روايت بنيادي حيثيت لري همدېته امام بخاری رحمه الله ترجيح ورکړې ده ، ددينه علاوه د ۶۰ کالو روايت هم شته او د ۶۵ کالو روايت هم شته ، د وفات د غه دواړو روايتونو کې د تأويل ضرورت شته .

﴿۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ اَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِمَكَّةَ خَمْسَ عَشَرَةَ سَنَةً
او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پنځلس کاله په مکه کې وو او په ابتدائي اوه کالو
يَسْمَعُ الصَّوْتَ وَ يَرَى الضَّوْءَ سَبْعَ سِنِيْنَ وَلَا يَرَى شَيْئًا
کې ئې اواز اوريدلو او په تيارو شپو کې به يې يوه عجيبه رڼا لېدله ددې نه علاوه بل شی ورته په نظر
وَّ ثَمَانَ سِنِيْنَ يُوْحَى اِلَيْهِ وَ اَقَامَ بِالْمَدِيْنَةِ عَشْرًا
نه راتلو بيا د او کالو په موده کې ورباندې وحې نازليده ددې نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدينه کې لس

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۷/۱۶۲ رقم الحديث ۳۸۵۱ ومسلم ۴/۱۸۲۶ رقم الحديث (۲۳۵۱ / ۱۱۱۷) .

وَتُوُفِّيَ	وَهُوَ	ابْنُ	خَمْسٍ	وَسِتِّيْنَ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.(۱)
کاله تېر کړل او کوم وقت چې وفات شو نو عمر یې ۶۵ کاله وو. [روایت کړې دې بخاري مسلم]						

توضيح: خمس عشرة سنة: دلته حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ولادت او د هجرت کالونه پوره پوره کلونه شمېرلي دي چې په دې سره د مکی دور نبوت ۱۵ کاله جوړېږي نو ځکه يې د هغه ټول عمر ۶۵ کاله ګرځولی، په پاسني روایت کې د مکی دور نبوت زندګی ۱۳ کاله ښودل شوې لهذا ټول عمر ۶۳ کاله شمېرل شوی دی هغه روایت راجح دی، باقي هغه روایات چې په هغو کې د مکي دور لس کاله بیان شوي او هلته د یوې لسیزې نه زائد ۳ کاله کسر ګڼلو سره ندی شمېرل شوي، عرب همداسې کوي، مدنی دور په لس کاله باندې مشتمل دی په دې کې اختلاف نشته.

يسمع الصوت ويرى: په دې کې حکمت دا وو چې که په ابتداء کې یې ملائکه لیدلې وی نو شاید د وحې تحمل به مشکل شوی وای لهذا اول به یوازې آواز اورېدل کېده او بیا به یوه رڼا په نظر راتلله تر څو اول د وحې سره او د ملائکې سره یو انس او الفت پیدا شي او بیا ملائکه وحې راوړي.

سوال: دلته دا اشکال او سوال دی چې ددې حدیث نه په واضحه طور باندې معلومېږي چې په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د آواز اورېدلو او نور لیدلو کیفیت د نبوت حاصلیدلو نه بعد په مکه مکرمه کې ظاهرېده، حالانکه د وحې راتللو نه بعد د دغه نور د لیدلو او آوازونو اورېدلو ضرورت نه وو او نه دغه قسم واقعات ښکاره شوي دي، بیا ددې حدیث څه مطلب دی چې اوه کاله پورې آوازونه راتلل؟

جواب: ددې جواب دا دی چې د انواراتو لیدلو او د آوازونو اورېدلو دغه واقعات د نبوت حاصلیدلو نه د مخکې زمانې دي، د تاریخی واقعاتو او د احادیثو د تصریحاتو نه ثابتېږي چې د انواراتو لیدل او د آوازونو اورېدل د نبوت د حاصلیدو نه د مخکې دور واقعات دي، د زیر بحث حدیث په مقابله کې هغه نور احادیث قابل ترجیح دي.

دویم جواب دا دی چې د زیر بحث حدیث تعلق د هغه دور سره دی چې په هغه کې وحې منقطع شوې وه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پریشانه وو، د انقطاع وحې په دغه زمانه کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د تسلی ورکولو په خاطر دغه قسم غیبی آوازونه راتلل او رڼاګانې به ځلیدلې تر څو هغه خپل ځان په خطره کې ونه غورځوي، مګر دغه آوازونه او رڼاګانې مسلسل نه وو بلکه کله کله به وو او تر اوو کلونو پورې دغه سلسله روانه وه، اولنی جواب واضح او روښانه دی. (ولايرى شيئا) ددې مطلب دا دی چې آوازونه او رڼاګانې خو وې لیکن ملائکې و غیره به نه ښکاره کېدل.

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۷ رقم الحديث (۲۳۵۳.۱۲۳) والترمذي في السنن ۵/۵۶۴ رقم الحديث: ۳۶۵۱.

﴿وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تَوَفَّاهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

حضرت انس رضي الله عنه وايي الله! حضور صلى الله عليه وسلم د شپيته كالو عمرپوره كېدو باندې وفات كړو. [بخاري مسلم]

د حضور صلى الله عليه وسلم او د خلفاء اربعه عمر

﴿۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ قُبِضَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ

حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د درې شپيتو كالو په عمر كې وفات شو

وَأَبُوْبَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ . وَعُمَرُ

و حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه هم د ۶۳ درې شپيتو كالو په عمر كې وفات شوى دى او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ. قَالَ مُحَمَّدُ ابْنُ إِسْمَاعِيْلَ الْبُخَارِيُّ[2]

هم ۶۳ كالو په عمر كې په حق ورسيدو [مسلم] او محمد بن اسمٰعيل بخاري ويلي دي چې د

ثَلَاثٌ وَسِتِّينَ أَكْثَرُ.

حضور صلى الله عليه وسلم د عمر مبارك باره كې زيات روايتونه د ۶۳ كالو دي.

توضيح: اكثر: يعني د حضور صلى الله عليه وسلم د عمر متعلق د ۶۳ كالو والا روايت ډير صفا او زيات مشهور دى ، او دغه قسم روايات هم زيات دي . تفصيل يې دا دى چې حضور صلى الله عليه وسلم د فيل د واقعې نه پمخوس ۵۰ ورځې وروسته او د حضرت آدم عليه السلام د جنت نه ځمكې ته كښته كيدلو نه شپږ زره يوسل او ديارلس ۶۱۱۳ كاله بعد او د حضرت عيسى عليه السلام نه بعد ۲۹ اگست ۵۷۰ ع د دوشنبى ورځ ۸ ربيع الاول يا ۱۲ ربيع الاول كې په مكه مكرمه كې پيدا شو ، د څلويښتو كلونو په عمر كې په مكه كې نبوت وركړى شو ، اكثر قرآن په مكه كې نازل شو ، د نبوت حاصليدو نه بعد ديارلس كاله په مكه كې پاتې شو ، بيا يې مدينې ته په داسې وخت كې هجرت وكړو چې كله د هغه عمر ۵۳ كاله وو ، لس كاله په مدينه كې تير شول ، په ۱۲ د ربيع الاول كې د ۶۳ كلونو په عمر كې انتقال وفرمايلو او د مسجد نبوى په خوا كې په حجره عائشه كې مدفون شو ، ددې حديث نه

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۳۵۶ رقم الحديث ۵۹۰۰ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۴ رقم الحديث (۲۳۴۷.۱۱۳)

[2] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۲۵ رقم الحديث (۲۳۴۸.۱۱۴) والترمذي ۵/۵۶۵ رقم الحديث ۳۶۵۳.

خکې په ۳نمبر حدیث کې د حضور صلی الله علیه وسلم عمر ۶۰کاله ښودل شوی دی ، په دې روایت کې
کې دور د کسر پرېښودلو سره لس کاله معتبر کړی شوې دي او د ولادت او هجرت کلونه
ښودل شوي دي نو پنځه کاله کم شو ، په دغه وجه شپیته کاله ذکر شوي دي ، زیر بحث روایت
اجح دی ، امام بخاری رحمه الله همدا بیانوي چې د ۶۳کالو روایت راجح دی .

دوحې د شروع تفصیل

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ

او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د وحې د نزول سلسله چې د کوم شي نه شروع

الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرٰى رُؤْيَا

شوه هغه په خوب کې د رېښتینې خوبونو په نظر راتلل وو حضور صلی الله علیه وسلم چې به کوم خوب لیده د هغه

إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ

تعبیر به داسي روښانه کېدو سره مخ ته راتلو لکه د سهار رڼا چې ښکاره وي دي نه روسته چې د

إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُوْ بِغَارِ حِرَاءَ

نبوت د ظهور وخت شو نو حضور صلی الله علیه وسلم د تنهائي شوقي جوړ شو نو حضور صلی الله علیه وسلم په غارِ حرا کې

فَيَتَحَنَّثُ فِيْهِ، وَهُوَ التَّعَبُّدُ اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ

ګوشه نشین شو په دې غار کې به حضور صلی الله علیه وسلم عبادت کوه یعني متعدد شپې به هلته په عبادت کې

الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلٰى أَهْلِهِ

مشغول وو د ښوپوري چې کور والو ته د ورتلو مېنه به یې پیدا نه شوله حضور صلی الله علیه وسلم به د هغه

وَيَتَزَوَّدُ لِذٰلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلٰى

عبادت د شپو د پاره د کور نه د خوراک څکاک څیزونه وړل او هر کله چې به هغه څیزونه ختم شول نو

خَدِيْجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا

بي بي خديجې رضي الله عنها ته به راتلو او د راتلونکو شپو په قدر د څه شیانو اخستو سره به بېرته غارته تلو

حَتّٰى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِيْ غَارِ حِرَاءَ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ

تردې چې حق راغی حضور صلی الله علیه وسلم هغه وقت هم غارِ حراء کې وو حضور صلی الله علیه وسلم ته فرشته راغله

فَقَالَ اِقْرَأْ قَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ

او هغه ورته وویل ووایه حضور صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو ماته ویل نه راځي حضور صلی الله علیه وسلم فرمایي فرشتي

فَأَخَذَنِيْ فَغَطَّنِيْ حَتّٰى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ

ځما دې جواب اورېدو سره زه بنه په زور سره ونیولم تردې چې ماته تکلیف ورسیده بیا فرشتي زه

أَرْسَلَنِيْ فَقَالَ اِقْرَأْ قُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِيْ فَغَطَّنِيْ

پرېښووم او راته یې وویل ووایه ما ورته بیا وویل زه په ویلو نه پوهېږم حضور صلی الله علیه وسلم فرمایي فرشتي

الثَّانِيَةَ حَتّٰى بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِيْ

به دوهم وار زه بنه زور سره ونیولم تردې چې ماته تکلیف ورسیده بیا یې زه پرېښووم او راته یې

فَقَالَ اِقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِيْ فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ، حَتّٰى

وویل ووایه ما ورته بیا وویل زه ویل نه پېژنم فرشتي په دریم وار زه بنه زور سره ونیولم تردې چې

بَلَغَ مِنِّي الْجُهْدُ ثُمَّ أَرْسَلَنِيْ فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ

ماته تکلیف ورسیدي بیا یې زه پرېښووم او راته یې وویل: (اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِىْ خَلَقَ خَلَقَ الخ) یعني

رَبِّكَ الَّذِيْ خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ

د خپل پروردګار په نوم ووایه چې هغه هرشی یې پیدا کړه انسان یې د مور په رحم کې د کلکي شوې

مِنْ عَلَقٍ اِقْرَأْ وَ رَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ

وینې نه پیدا کړه او ووایه او ستا پروردګار ډېر لوی او برتر دی هغه پروردګار چې هغه د قلم

عَلَّمَ الْاِنْسَانَ مَا لَمْ یَعْلَمْ فَرَجَعَ

په ذریعه د علم تعلیم ورکړه او انسان ته یې هر هغه شی وخوده چې هغه ورباندې نه پوهیده ددې نه

بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَرْجُفُ

نه روسته فرښته خو غائبه شوه او حضور صلی الله علیه وسلم دې آیتونو سره مکې ته خپل کور ته راغی هغه وخت

فُؤَادُهٗ فَدَخَلَ عَلٰی خَدِیْجَةَ فَقَالَ زَمِّلُوْنِیْ

یې دا حال وو چې دهشت زده وو حضور صلی الله علیه وسلم بي بي خدیجي رضي الله عنها ته رسید و سره وویل په ما کپړه

زَمِّلُوْنِیْ فَزَمَّلُوْهُ حَتّٰی ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ

واچوه په ما کپړه واچوه خدیجي رضي الله عنها په حضور صلی الله علیه وسلم کپړه واچوله تر دې چې هغه رُعب او هیبت ختم

فَقَالَ لِخَدِیْجَةَ وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ لَقَدْ

شو بیا حضور صلی الله علیه وسلم بي بي خدیجي رضي الله عنها ته پوره واقعه بیان کړه او هغه ته یې دا هم وویل چې

خَشِیْتُ عَلٰی نَفْسِیْ فَقَالَتْ خَدِیْجَةُ کَلَّا

ما سره د خپل ځان خوف دی بي بي خدیجي رضي الله عنها تسلي ورکولو سره ورته وویل تاسو قطعًا خوف مه کوئ

وَ اللّٰهِ لَا یُخْزِیْكَ اللّٰهُ أَبَدًا

قسم په الله ځما پوره یقین دی چې الله ! به تاسو هیڅ کله رسوا او نامراده نه کړي ځکه چې تاسو

اِنَّكَ لَتَصِلُ الرَّحِمَ

قرابت دارو سره د حسنِ سلوک او تعلق معامله کوئ که څه هم هغه قرابت دار ستاسو سره ترکِ تعلق

وَ تَصْدِقُ الْحَدِيْثَ وَ تَحْمِلُ

اودبدسلوکۍ معامله کوي تاسو هيڅ کله چاته دروغ نه وايي بعضي روايتونو کې دلته دا الفاظ هم

الْكَلَّ وَ تَكْسِبُ الْمَعْدُوْمَ

دي چي: تودی الامانة يعني تاسو د امانت په اداء کولو کې کوتاهي نه کوئ او تاسو د نورو بوج

وَ تَقْرِي الضَّيْفَ وَ تُعِيْنُ عَلَى

پورته کوئ تاسو غريبانو او مسکينانو باندې خرچ کوئ تاسو د ميلمنو خاطر مدارات کوئ او د

نَوَائِبِ الْحَقِّ ثُمَّ انْطَلَقَتْ بِهٖ

مدد کوئ او تاسو د خلقو حقيقي حادثات او مصائبو کې د هغوئ مدد کوئ ددې نه روسته

خَدِيْجَةُ اِلٰى وَرَقَةَ بْنِ نَوْفَلِ بْنِ اَسَدِ اِبْنِ عَمِّ خَدِيْجَةَ

بي بي خديجي رضي الله عنها حضور صلى الله عليه وسلم بيولو سره د خپل تره ځوی ورقه ابن نوفل ته ورسيدله او

فَقَالَتْ لَهٗ خَدِيْجَةُ يَا ابْنَ عَمِّ اِسْمَعْ مِنِ ابْنِ اَخِيْكَ

هغه ته يې ووېل ای د تره ځويه! د خپل وراره قصه واوره ورقه حضور صلى الله عليه وسلم ته متوجه شو او ورته

فَقَالَ لَهٗ وَرَقَةُ يَا ابْنَ اَخِيْ مَاذَا تَرٰى فَاَخْبَرَهٗ

يې ووېل ځما وراره! واوروه په تا څه تير شوه او ته څه ويني او محسوسوي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَاٰى.

مخکې هغه ټوله واقعه بيان کړه کومه چې حضور صلى الله عليه وسلم ته پېښه شوې وه ورقه ټولې خبري اوريدو

فَقَالَ لَهٗ وَرَقَةُ هٰذَا النَّامُوْسُ الَّذِيْ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى مُوْسٰى يَا لَيْتَنِيْ

سره ووېل دا خو هغه ناموس فرښته ده چې الله ! حضرت موسٰی) ته رالېږلې ای آرمان چې ستا د

كُنْتُ فِيهَا جَذَعًا يَالَيْتَنِي أَكُونُ حَيًّا

نبوت د اظهار او ستا د دعوت د اعلان په وقت زه طاقتور ځوان وای کاش چې زه هغه وخت ژوندی وی

إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هر كله چې ستا قوم يعني قريشو نه به ستا قرابتدار تا د ښار نه بهر وباسي رسول الله ﷺ

أَوَ مُخْرِجِيَّ هُمْ؟ قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ

پوښتنه وكړه آيا واقعي ځما قوم به ما د ښار نه بهر وباسي ورقه ورته وويل هو ځما يقين دى چې ستا

رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا

قوم به تا د ښار نه بهر وباسي ځكه چې هميشه دا شوي دي چې كله هم يو سړى ستا په شان د نبوت

عُوْدِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ

او شريعت سره دې دنيا ته راغلى دى نو هغه سره دشمني شوې ده او په يوه روايت كې داسي دي

أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا

كله هم چې يو پيغمبر دې دنيا ته راغلى دى نو كافرو هغه سره دشمني كړي ده كه زه هغه ورځو كې

ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ

ژوندى پاتې شوم نو پوره طاقت سره به ستا مدد او حمايت كوم ليكن د دې نه روسته ورقه زياتې

وَفَتَرَ الْوَحْيُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [1]

ورځې ژوندى پاتې نه شو او په حضور ﷺ د وحې راتلو سلسله هم قطع شوه دا روايت

وَزَادَ الْبُخَارِيُّ حَتّٰى

تر دې ځاى پورې بخاري او مسلم دواړو نقل كړى دى ليكن د دې نه روسته بخاري دا الفاظ هم نقل كړي

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۲۳ رقم الحديث ۳ ومسلم في صحيحه ۱/۱۳۹ رقم الحديث (۲۵۲، ۱۶۰)

حَزِنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا بَلَغَنَا

دي چې د وحې د نزول سلسله قطع شوه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې غم او خفګان شو د دې ثبوت مونږ

حُزْنًا غَدَا مِنْهُ مِرَارًا كَيْ

ته د هغه حديثونو نه حاصلېږي کوم چې مونږ ته رسيدلي دي او دا غم او خفګان يې دومره شديد او

يَتَرَدّٰى مِنْ رُءُوسِ شَوَاهِقِ الْجَبَلِ

سخت وو چې څو ځلي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې ارادې سره د غرونو طرف ته به ولاړلو چې خپل ځان د پورته

فَكُلَّمَا أَوْفٰى بِذُرْوَةِ جَبَلٍ لِكَيْ يُلْقِيَ

غرونو د څوکې نه خکته را وغورځوي کله به چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو غر څوکې ته ورسيدو چې خپل

نَفْسَهُ مِنْهُ تَبَدّٰى لَهُ جِبْرَئِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ

ځان را وغورځوي نو اچانک جبرائيل) به ښکاره شو او ويل به يې اى محمد !بلاشبه تا سو د

إِنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ حَقًّا فَيَسْكُنُ

الله !برحق رسول يې په دې اوريدو سره به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زړه پريشاني او دهشت به ختم شو

لِذٰلِكَ جَاشُهُ وَتَقِرُّ نَفْسُهُ[1]

او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مطمئن شو .

توضيح : فلق الصبح: يعنې د هغه د رښتيا خوبونو تعبير به داسې واضحه راتللو لکه څنګه چې سهار روښانه راخيژي ، مطلب دا دى چې لکه څنګه چې د سهار راتلل يقيني وي همدارنګه د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوبونو تعبير به هم يقيني وو .

الخلا: يعنې طبعي طور باندې هغه ته کې کيناستل محبوب شو محبوبه شوله او هغه تنهائي غوره کړه تر څو د مخلوق نه په لرې والي کې د خالق سره د راز او نياز رشته جوړه کړي . (بغار حراء) د مکې

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۲۳ رقم الحديث ۳ واحمد في المسند ۶/۲۳۳ .

مکرمې نه د يو څو کيلو متره فاصله باندې د يوه غره په څنډه باندې دغه غر واقع دی ، دغه غره ته جبل نور ويل کيږي ، د هغه د پاسه ميدان دی چې هلته نن سبا د يوې چترۍ لاندې عارضي هوټل جوړ شوی دی ، ددې غره په خوله کې قبلې طرفته د دوو څوکو په خپل مينځ کې د يوځای کيدلو نه يوه خلا پيدا شوې ده همدا خلا غار حراء دی ، په دې کې دوه کسان کيناستلی شي ، سړی پکې اودريدلی نشي ، مخ طرفته دغه غار پراخه دی چې د هغه ځای نه بيت الله په نظر راځي ، مګر نن سبا عمارتونو بيت الله پټ کړی دی، غار حراء د جاهليت په دور کې هم د مقدسو ځايونو نه شميرل کيده . خلکو به په دې کې عبادت او رياضت کولو ، ابوطالب په خپله مشهوره قصيده لاميه کې د دې داسې ذکر کړی دی :

وثور ومن ارسی ثبيرا مکانه　　　وراق ليرقی فی حراء ونازل

مجذوب رحمه الله ويلي :

ہر تمنا دل کی رخصت ہوگئے　　　اب تو آجا اب توخلوت ہو گی

(يتحنث) حنث ګناه ته ويل کيږي او دلته باب د تفعل د سلب مأخذ لپاره دی يعنې د ګناه ازاله ، او د ګناه ازاله عين عبادت دی لهذا د يتحنث معنی يتعبد ده چې عبادت کولو ته ويل کيږي ، په يو روايت کې يتحنف دی يعنې د ملت حنيفيه مطابق يې عبادت کولو .

(ما انا بقارئ) يعنې د کوم استاد نه مې څه ويلي نه دي ، په خپله طريقه باندې څه ويلی نشم ، جبرائيل امين د تکليف مالايطاق حکم ورته کړی نه وو بلکه د اقرأ تعليمی حکم وو لکه څنګه چې استاد ورکوټي ماشوم ته وايي وايه بچيه! نو دا تعليمي اقرأ ده ، دا امتحاني اقرأ نه وه . **(فغطنی)** دا زور ورکولو ته اوسينې سره لګولو ته ويل کيږي ، دا يې ددې لپاره کيمنده تر څو د ملکوتيت برکات او صفات بشر ته منتقل شي ، اول وار يې زور ورکړو تر څو انس بالملک پيدا شي ،دوباره يې روز ورکړو تر څو انس بالله پيدا شي ، دريم وار يې زور ورکړو تر څو انس بالوحې پيدا شي .

(الجهد) د مشقت او محنت په معنی سره دی ، دا لفظ مرفوع دی چې فاعل واقع شوی دی ای بلغ مني الجهد مبلغة يعنې په ما کې چې څومره طاقت وو هغه خپل انتهاء ته ورسيده . په يو روايت کې الجهد منصوب دی چې مفعول واقع دی ای بلغ جبرئيلُ منی الجهدَ يعنې جبرئيل ع خپل مقدور زور ولګولو او زه يې کيمندلم ، دا يې ځکه وکړل تر څو د وحې سره انس پيدا شي او ملکوتی صفات هغه ته منتقل شي ، ملائکه چې کله د انسان په شکل کې راځي نو د يوه انسان طاقت په هغې کې

وي . **(ما انا بقارئ)** يعنې د کوم استاذ نه مې ويلي نه دي او په خپله يې ويلی نشم . **(زملونی)** آنحضرت ﷺ د محاورې په لحاظ سره د جمعې صيغه استعمال کړه ځکه د ادب په طريقه

باندې خلک د کور والا د جمعې په لفظ سره بلي اګرچې يوه ښځه ولې نه وي ، دلته يې يوائې حضرت خديجې رضى الله عنها ته د جمعې په صيغه سره د دغه قاعدې مطابق خطاب وکړلو ، يا کيداى شي چې په کور کې نور افراد هم وو په دغه وجه يې د جمعې صيغه استعمال کړله . (فرجع بها) دا ضمير آيات ته راجع کيږي ، (يرجف فؤاده) زړه ته فؤاد ويل کيږي او يرجف د لړزيدو په معنى سره دى ، حضرت سيد يوسف بنورى رحمه الله په درس بخارى کې وفرمايل چې کله زړه ته کومه خطره لاحق کيږي نو فورا جسم د هغه د حفاظت کوشش کوي او ټول حرارت د زړه شاوخوا جمع کوي ، ددينه د زړه حفاظت خو کيږي مګر په باقى بدن باندې لړزيدل واقع کيږي ، په دغه وجه په بعضې رواياتو کې د يرجف بوادره الفاظ راغلي دي ، بوادر د بادرة جمع ده د شاه غوښې ته ويل کيږي ، چې کله د شاه غوښه لړزيږي نو باقى جسم نور هم زيات لړزيږي . (الروع) د ويرې په معنى سره دي ، د يو غير جنس شى په ليدلو سره طبعا ويره راځي ، دلته ملائکه ده بيا د وحې بوج دى په دغه وجه ويره راتلل بشرى او طبعي تقاضا وه .

(لقد خشيت على نفسى) يعنې زه د خپل ځان په تلف کيدو باندې ويريږم ، دا خوف په دې وجه نه وو چې هغه ته شک وو چې دا د کوم جن او شيطان حمله ده بلکه ددې خوف اظهار وو چې کچيرې بار بار د وحې بوج په ما باندې همدا رقم راشي نو ددې بوج نه ماته د خپل ځان د تلف کيدلو خطره ده ، دا هم ممکنه ده چې د آينده د نبوت دعوت او د ټولو عربو سره مقابله کولو طرفته اشاره وي . **(تحمل الکل)** کل هغه شخص ته وايې چې په خپل خاندان او معاشره باندې بوج وي او د هغه نه هيڅ ته فائده نه رسيږي بلکه کوم طرفته چې ځي د نقصان سره راځي لکه څنګه چې قرآن کې راغلي دي **﴿وهو کلٌّ على مولاه اينما يوجهه لايأت بخير﴾** د حديث مطلب دا دى چې تاسو د داسې بيکاره او بى ياره او مددګاره خلکو بوج پورته کوئ او د هغوى مدد کوئ مثلا د يتيمانو ، مسکينانو ، کونډو ، کمزورو او بى کسه خلکو کار جوړوئ . **(المعدوم)** داسې کس چې د هغه سره د خوراک او څښاک لپاره هيڅ نه وي ، هغه د معاشرې نه معدوم او ورک وي ، د هغوى لپاره يې ګټې او ورکوې يې . **(تقرى)** دا قرى نه دى د ميلمه پالنې په معنى سره دى ، **(نوائب الحق)** يعنې د حق په حوادثو کې د حق سره ياستئ ، د هغه په مشکلاتو کې د هغه سره کومک کوئ . **(هذا الناموس)** د کوم کس راز ور کوونکي ته ناموس ويل کيږي ، اهل لغت وايې چې ناموس بر وزن جاسوس دى ، ناموس د خير په کارونو کې استعماليږي او جاسوس د شر په کارونو کې استعماليږي ، ملا على القارى رحمه الله ليکلي چې اهل کتابو جبرئيل عليه السلام ته ناموس ويلو ، دا معنى ډيره ښه ده . **(على موسى)** ورقه

بن نوفل د حنفاؤ نه وو بیا هغه عیسائیت قبول کړلو ، هغه ته د موسی عليه السلام په ځای د عیسی عليه السلام نوم اخیستل پکار وو مګر علماؤ لیکلي دي چې چونکې حضرت موسی عليه السلام مشهور وو او اولو العزم هم وو نو ځکه ورقه د هغه نوم واخیستلو . (الا عودِیَ) یعني ستا پشان چې چا هم د حق نعره اوچته کړې او حق یې راوړی دی نو د هغه سره دشمني شوې ده .(شواهق) دا د شاهقة جمع ده د غرا وچتوالي او څوکې ته وایي ، همدیته ذروة الجبل هم وایي یعني د غره په څوکه باندې وخیژي او ځان وغورځوي . غدا منه مرارا: یعني د دغه غم په وجه څو کرته حضور صلی الله علیه وسلم سهار سهار د غره څوکي ته به لاړو تر څو خپل ځان وغورځوي . مؤزرا: د وزیر نه دی پوره او مضبوط تعاون کولو ته وایي . یتردی) خپل ځان د غره نه غورځولو لپاره دا صیغه استعمالیږي .

جأشه) ای اضطرابه ، د جبرائیل علیه السلام په آواز سره به د حضور صلی الله علیه وسلم تسلی کیدله او د هغه اضطراب به په سکون باندې بدلیدلو .

د انقطاع نه روسته بیا وحي

﴿۶﴾وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ عَنْ فَتْرَةِ
او جابر رضی الله عنه نه روایت دي هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دخه ورځو د پاره د وحي قطع کېدو او بیا د
الْوَحْيِ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِيْ سَمِعْتُ
وحې دوباره شروع کېدو حال داسې واوریده چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل یوه ورځ زه روان وم چې
صَوْتًا مِّنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِيْ فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِيْ جَاءَنِيْ بِحِرَاءَ
ناڅاپه ځما په غوږونو کې یو آسماني اواز راغی ما چې پورته وکتل نو هغه فرښته چې غارِ حراء کې
قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ
ماته راغلي وه د ځمکې او آسمان په منځ کې په یو تخت ناسته ده د هغه په نظر راتلو سره ځما په زړه
فَجُئِثْتُ مِنْهُ رُعْبًا حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ
کې دومره سخت رعب او خوف پیدا شو چې زه په ځمکه راولوېدم بیا زه بیرته خپل کوروالو ته راغلم

فَجِئْتُ	إِلَى	أَهْلِي	فَقُلْتُ	زَمِّلُونِي	زَمِّلُونِي	فَزَمَّلُونِي

او ورته مي وويل په ما کپړه واچوئ په ما کپړه واچوئ کوروالو په ما کپړه واچوله او زه هغه کپړه کي

فَأَنْزَلَ	اللهُ	تَعَالَى	«يَا	أَيُّهَا	الْمُدَّثِّرُ	قُمْ	فَأَنْذِرْ	وَرَبَّكَ	فَكَبِّرْ

پريوتم بيا الله ! دا آيت نازل کړه : يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ....] اى کپړه اغوستونکيه! لاړ شه او مخلوق و ويروه

وَثِيَابَكَ	فَطَهِّرْ	وَالرُّجْزَ	فَاهْجُرْ»	ثُمَّ	حَمِيَ	الْوَحْيُ

اود خپل رب لويي بيان کړی او خپلي کپړي پاکي کړه او پليتي پرېږده . ددېنه وروسته وحي پرله

وَتَتَابَعَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

پسي راتلله . [بخاري مسلم]

توضيح : جئثت) د باب د سمع يسمع نه د ويريدلو په معنی سره دی د خلاف جنس شي په ليدلو سره طبعی طور باندې داسې ويره راځي .

رعبا) اى لاجل الرعب ، **(هويت)** د ضرب يضرب نه د غورځيدلو په معنی سره دی ، د سمع نه د محبت په معنی سره راځي ، دلته د ضرب نه دی .

حمي الوحيُ) يعنې د وحې بنديدلو نه بعد بيا راتلل شروع شول او ګرمه شوه يعنې مسلسل راتلل شروع شول .

د وحي يو قسم

﴿۷﴾	عَنْ	وَعَنْ	عَائِشَةَ	أَنَّ	الْحَارِثَ	بْنَ	هِشَامٍ

او بي بي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی چې حارث ابن هشام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د ابو جهل ورور وو او د مکې د

سَأَلَ	رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَقَالَ	يَا	رَسُولَ اللهِ

فتحې نه مخکې يې اسلام راوړی وو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې پوښتنه وکړه يارسول الله! تاسو ته وحي

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۲۷ رقم الحديث ۴ ومسلم في صحيحه ۱/۱۴۳ رقم الحديث (۲۵۵/۱۶۱)

كَيْفَ يَأْتِيْكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څرنګه راځي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل ماته وحي کله د جرس (ټلی) د اواز په شان راځي يعني د

أَحْيَانًا يَأْتِيْنِيْ مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ

وحي الفاظ چې ماته رسولی شي د جرس د اواز په شان صوت لري اودا وحي په ماسخت ترينه وحي

عَلَيَّ فَيَفْصِمُ عَنِّيْ وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ ، مَا قَالَ

وي نو فرشته د وحي چې کوم الفاظ ماته رسوي زه هغه ډېر په محنت او توجه سره اوريدو سره يادوم

وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِيَ الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِيْ فَأَعِيْ

او کله داسي کېږي چې فرشته د انسان شکل اختيارولو سره ما سره هم خبرې کوي او څه چې وايي زه

مَا يَقُوْلُ قَالَتْ عَائِشَةُ وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ

هغه محفوظ او يادوم بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دې بيانولو سره وايي ماليدلی دی چې کله به د سختی

الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيْدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ

يخني ورځي وي او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې به وحي نازليدله او فرشته د وحي به ولاړه نو د

وَ إِنَّ جَبِيْنَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.(۱)

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تندی مبارک به د خولې نه ډک په نظر راتلو. [بخاري مسلم]

توضيح : صلصلة الجرس: په مضبوطه تيره باندې چې کله د وسپنې ځنځير راخکلی شي نو د هغه نه يو آواز پيدا کيږي هغه آواز ته صلصلة الجرس وايي ، او جرس زنګ ته وايې ، دلته د زنګ د آواز سره تشبيه ورکول مقصود دي . اوس دا خبره پاتې شوه چې دا آواز د څه وچې نه وو؟ بعضو شارحينو فرمايلي دي چې دا د الله تعالی د کلام نفسی آواز وو ، بعضې علماء فرمايي چې دا د غه قسم وحي آواز وو لکه څنګه چې د کلام د تياری لپاره اول اعلان کيږي يا د ټيليفون زنګ وهل

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه رقم الحديث ۲ ومسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۶ رقم الحديث (۷۸.۲۳۳۳)

کیږي ، بعضو علماؤ لیکلي دي چې دا د جبرئیل امین د راتګ او د هغه د وزرو د پرقولو آواز وو ، حضرت شاه ولی الله رح فرمایي چې دا د حواسو د تعطل نه وروسته یو آواز پیدا کیده هغه مراد دی لکه څنګه چې د غوږونو د بندولو نه د ننه یو آواز پیدا کیږي .

اشده علیَّ : چونکه په دې کې انسلاخ د بشریت کیده په دغه وجه دغه قسم سخت وو . (**فیفصم**) ای ینقطع یعني چې کله به د وحې دغه کیفیت ختم شو ، (**وعیت**) د ماضی صیغه استعمال شوې ده ځکه هغه ﷺ به په خپل هوش کې نه وو ، په هوش کې راتللو نه مخکې مخکې به ټوله وحې یاده شوه نو د ماضی صیغه مناسبه شوه . (**فاعی**) دلته د مضارع صیغه استعمال شوې ده ځکه د ملائکې د اورولو نه بعد به هغه وحې محفوظ کوله نو مستقبل جوړیده . (**فیفصم عنه**) یعنې د وحې دغه کیفیت به چې کله ختمیده . (**لیتفصد**) په رګ باندې نشتر وهلو سره چې وینه وځي هغې ته فصد ویل کیږي ، مطلب دا دی چې د وحې د شدت په وجه به د یخنۍ په موسم کې به په تندی مبارک باندې د ملغلرو د لړۍ پشان به خوله بهیدله .

دوحې د نزول په وقت د حضور ﷺ کیفیت او حالت

﴿۸﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ

او عباده بن صامت رضي الله عنه وايي هرکله چې رسول الله ﷺ باندې به وحې نازلیدله نو د هغه

عَلَيْهِ الْوَحْيُ كُرِبَ لِذٰلِكَ وَتَرَبَّدَ وَجْهُهُ

په سبب به حضور ﷺ ته سخت غم رسیده او د مخ مبارک رنګ به یې متغیر کیده او په یوه روایت

وَفِيْ رِوَايَةٍ نَكَسَ رَأْسَهُ

کې داسې دي چې کله به حضور ﷺ باندې وحې نازلیده نو خپل سر مبارک به یې ښکته کوی او هغه

وَنَكَسَ أَصحابو رُءُوْسَهُمْ فَلَمَّا أُتْلِيَ

وقت چې کوم صحابو رضي الله عنهم به موجود وو هغوئ به هم سرونه ښکته کول هرکله چې وحې به موقوفه

عَنْهُ رَفَعَ رَأْسَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [1]

شوه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به خپل سرونه پورته کړل. [مسلم]

توضیح: کرب) یعنې سخت تکلیف او بلا او مصیبت او غم به لاحق کیده. (تربد) یعنې د مخ رنګ به یې متغیر کیده. (أُتْلِيَ) په همزه باندې پیښ دی، تاء ساکنه ده، په لام باندې کسره ده او په یاء باندې فتحه ده یعنې چې کله به د وحې دغه کیفیت منقطع کیده، ای اقلع و أُکشف و أُجلی و أُزیل، نکس رأسه) د سر ټیټولو په معنی سره دی، حضور ﷺ به د الله تعالی له طرفه د وحې د حکم راتللو او په هغه باندې د پوهیدلو په وجه سر ټیټ کړلو او صحابو کرامو به د هغهٔ متابعت او ادب په وجه سر ټیټ کړلو.

د صفا په غر د دین اسلام اولنۍ دعوت

﴿۹﴾عَنْ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِيْنَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي کوم وقت چې دا آیت وَأَنْذِرْ عَشِيرَ.... الخ نازل شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او وتلو

حَتَّى صَعِدَ الصَّفَا فَجَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي عَدِيٍّ

او کوهِ صفا باندې وختلو او د قریشو د قبائلو بلل یې شروع کړل چې ای د فهر اولاده! ای د عدي اولاده!

لِبُطُوْنِ قُرَيْشٍ حَتَّى

دغه شان حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قریشو تمام بناخونه نوم په نوم وبلل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې اواز

اجْتَمَعُوْا فَجَعَلَ الرَّجُلُ

د قریشو تمام قبائل او ډلې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چاپیره جمع شوې د دې پورې چې کوم سړی د څه عذر او

إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ أَرْسَلَ

مجبورۍ په سبب خپله هلته ونه رسیده نو هغه دي معلوملو د پاره چې محمد ولې ټول بللي دي

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۸۱۷ رقم الحديث (۸۸.۲۳۳۴)

رَسُوْلاً لِيَنْظُرَ مَا هُوَ فَجَآءَ أَبُوْ لَهَبٍ

څوک خپل نماينده به يې وليږلو غرض دا چې هر کله چې ټول اهلِ قريش او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره ابو لهب

وَ قُرَيْشٌ فَقَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ

راغلل نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوئ مخاطب کولو سره ورته وفرمائيل که زه تاسو ته دا خبر درکړم چې د

أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ مِنْ صَفْحِ

جنګياليو يوه دسته د دې غر د پناه نه ښکاره شوي ده او د يو روايت الفاظ دا دي چې د سورو يوه دسته

هٰذَا الْجَبَلِ وَفِيْ رِوَايَةٍ أَنَّ خَيْلًا تَخْرُجُ

د مکې د ځنګل نه ښکاره شوي ده او د هغوئ مقصد قتل او غارتګرى د پاره د ورځي يا شپي څه

بِالْوَادِيْ تُرِيْدُ أَنْ تُغِيْرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ

حصه کې په تاسو اچانک حمله کول دي نو ووائې چې آيا تاسو خلق به ځما دا خبره ريښتني ومنئ

قَالُوْا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا صِدْقًا

ټولو په يوه اواز وويل هو ضرور رشتيا به يې منو ځکه چې مونږ ته هميشه ريښتني پيدا کړي يي بيا

قَالَ فَإِنِّيْ نَذِيْرٌ لَّكُمْ بَيْنَ يَدَيْ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل نو واورئ زه تاسو خلق د هغه سخت عذاب نه ويروم چې دنيا يا آخرت

عَذَابٍ شَدِيْدٍ فَقَالَ أَبُوْ لَهَبٍ

کې په تاسو راتلونکى دى دا اوريدل وو چې ابو لهب په قهر شو او هغه وويل هلاکت او بربادي دې

تَبًّا لَّكَ أَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ:

وې تا له آيا تا مونږ د دې پاره جمع کړى وو په دې باره کې دا آيت نازل شو تبت يدا ابي لهب وتب.

﴿تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ﴾. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. (۱)

ابولهب دې هلاک شي او هغه هلاک شو.

توضيح: حضور ﷺ ته چې کله د څلويښتو کلونو په عمر کې په مکه مکرمه کې نبوت ورکړی شو نو تر درې کلونو پورې هغه خفيه دعوت وچلولو ، د کور د افرادو او نزدې دوستانو نه علاوه يې هيچا ته دعوت ورنکړو ، بيا چې کله ﴿وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾ آيت نازل شو نو هغه خپل نيزدې خپلوان د ډوډۍ دعوت ته راوبلل او هغوی ته يې د اسلام دعوت ورکړلو ، مګر د ابولهب د شرارت په وجه هيڅوک منلو ته تيار نشو ، د سورت ص، ابتدائی آياتونه د دغې قصې سره متعلق دي، بيا د درې کلونو تيريدلو نه بعد دا آيت نازل شو ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾ (حجر ۹۴) يعنې د الله تعالی له طرفنه چې کوم حکم راغلی دی هغه ښکاره ښکاره بيان کړه او د مشرکينو پرواه مه کوه . په دې باندې حضور ﷺ وغوښتل چې د صفا غونډۍ چې د بيت الله په مخ کې ده په دغه ځای د دين دعوت ورکړی شي ، د عربو عادت وو چې د کوم لوی مصيبت او لويې حادثې په وخت کې به په جګ (اوچت) ځای باندې وختلو او د خپل کومک لپاره به يې خلک بلل، د همدې قاعدې مطابق حضور ﷺ د صفا غونډۍ ته راغی او دا آواز يې وکړلو (يا صباحاه واصباحاه) ای خلکو ! د سهار په وخت يو مصيبت راتلونکی دی! د همدې آواز په اوريدلو د قريشو سردارانو خصوصي توجه ورکړه ځکه حضور ﷺ تر څلويښتو کلونو پورې کله هم د خپل کومک لپاره دغسې عام اعلان کړی نه وو نو ځکه چا چې دغه آواز واوريده په منډه لاړلو يا يې خپل کوم نائب ولیږلو . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چونکې د صفا په اوچت ځای باندې وو نو ځکه يې وفرمايل چې ماته دواړه طرفه په نظر راځي که زه ووايم چې د شا له طرفنه يو لښکر راروان دی تاسې به يې ومنئ؟ او اول دا ووائي چې ما په تاسو کې ډير وخت تير کړلو آيا تاسو زه رشتني وموندلم او که دروغجن؟ قريشو وويل مونږ ته بار بار ازمايلی يې مونږ ته رشتوني موندلی يې ، په دې باندې هغه د توحيد دعوت ورکړلو چې د هغه په وجه خلک و تښتيدل او ابولهب ګستاخي وکړه . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا وفرمايل چې د غره ددې طرفنه دشمن حمله کول غواړي نو ددينه د ابليس لښکر مراد وو چې په انسانانو باندې حمله کوي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د دنيا او آخرت دواړه جانبه په نظر راتلل د قريشو کفارو ته د آخرت پته نه وه نو ټولو انکار وکړو .

---

(۱) اخرجه البخاري ۸/۵۰۱ رقم الحديث ۴۷۷۰ ومسلم في صحيحه ۱/۱۹۳ رقم الحديث (۲۰۸.۳۵۵).

د حق د دعوت په بدله کې د عمائدينِ قريش بدسلوکي او د هغوئ عبرتناک انجام

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ عِنْدَ الْكَعْبَةِ
او عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خانه کعبې ته قريب مونځ کوه
وَجَمْعُ قُرَيْشٍ فِيْ مَجَالِسِهِمْ
او هلته خانه کعبې سره د قريشو د عمائدينو يوې ډلې مجلس لګولی ناست وو اچانک هغوئ کې
إِذْ قَالَ قَائِلٌ أَيُّكُمْ يَقُوْمُ إِلَى
يو سړي ووېل آيا په تاسو کې يو داسې سړی شته چې فلانۍ محله او قبيلې ته ورشي چيرته چې
جَزُوْرِ آلِ فُلَانٍ فَيَعْمِدُ إِلَى فَرْثِهَا وَدَمِهَا
فلانی خاندان يو اوښ ذبح کړی دی او د هغه اوښ د غلاظت نه ډک لړی کولمې د هغه وينه او
وَسَلَاهَا ثُمَّ يُمْهِلُهُ حَتَّى إِذَا سَجَدَ
پوستکی راوړي او هغه ټوله ګندګي او غليظ شيان کوم وخت چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سجده پريوځي
وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ
نو هغه د محمد د دواړو اوږو په منځ کې ورواچوي په دې اوريدو سره يو انتهائي درجه بدبخت
فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ فَلَمَّا سَجَدَ
سړی عقبه ابن ابی معيط د هغه ټيزونو راوړلو د پاره ولاړلو کوم وخت چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سجده شو
وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَ ثَبَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
نو هغه هغه ټوله ګندګي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو اوږو په منځ باندې وغورځوله نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
سَاجِدًا فَضَحِكُوْا حَتَّى مَالَ بَعْضُهُمْ
په سجده کې پاتې شو هغه بدبختانو دې ليدو سره خندا ګانې او ټوقې مسخرې شروع کړې په دې

عَلٰى	بَعْضٍ	مِّنَ	الضِّحْكِ	فَانْطَلَقَ	مُنْطَلِقٌ	إِلٰى	فَاطِمَةَ	

دي خندا کې دومره بد حاله شوه چې په خندا خندا کې پر یو بل ورکاږه شول بیا یو سړي بي بي فاطمه رضی الله عنها

فَأَقْبَلَتْ	تَسْعٰى	وَثَبَتَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

ددې حال نه خبره کړه هغه په منډه راغله اورسول الله هم ترهغه وقته پورې د هغه ګندګۍ لاندې په

سَاجِدًا	حَتّٰى	أَلْقَتْهُ	عَنْهُ	وَأَقْبَلَتْ	عَلَيْهِمْ

سجده پروت وو بي بي فاطمه رضی الله عنها هغه تمام څیزونه د حضور صلی الله علیه وسلم د شا نه پورته کولو سره لري

تَسُبُّهُمْ	فَلَمَّا	قَضٰى	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	الصَّلَاةَ

وغورځول او هغه بدبختانو ته یې بد رد ویل شروع کړل کوم وقت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مانځه نه

قَالَ	اَللّٰهُمَّ	عَلَيْكَ	بِقُرَيْشٍ

فارغه شو نوبد دعائي وکړه ای الله! ته دا قریش سخت ونیسي یعني مشرکین قریش هلاک او

ثَلَاثًا	وَ	كَانَ	إِذَا	دَعَا	دَعَا	ثَلَاثًا

برباد کړي حضور صلی الله علیه وسلم دا دعا دري واره وکړله او کله چې به یې د الله! نه څه غوښتل نو دري واره

وَ	إِذَا	سَأَلَ	سَأَلَ	ثَلَاثًا

به یې درخواست کوه بیا عمومي طور سره د قریشو په حق کې بد دعا کولو نه روسته په خاص طور سره

اَللّٰهُمَّ	عَلَيْكَ	بِعَمْرِو	بْنِ	هِشَامٍ	وَعُتْبَةَ	بْنِ	رَبِيْعَةَ

د هغه ازلي بدبختانو نومونه اخستو سره داسي بد دعایې وکړله ای الله! ته عمرو ابن هشام عتبه ابن ربیعه

وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيْعَةَ وَالْوَلِيْدِ بْنِ عُتْبَةَ وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِيْ مُعَيْطٍ وَعُمَارَةَ بْنِ الْوَلِيْدِ

او شیبه ابن ربیعه ولید بن عتبه امیه ابن خلف عقبه ابن ابي معیط او عماره ابن ابي و لید سخت

قَالَ	عَبْدُ	اللهِ	فَوَاللهِ	لَقَدْ	رَأَيْتُهُمْ	صَرْعٰى
ونیسي حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي روایت بیانولو سره وویل قسم په الله ما د جنګ						
يَوْمَ	بَدْرٍ	ثُمَّ	سُحِبُوْا	إِلَى	الْقَلِيْبِ	قَلِيْبِ بَدْرٍ
بدر په ورځ مذکوره کافران هلاک شده په ځمکه پراته ولیدل بیا هغوئ د میدان نه رابنکلو سره په یو کوهي کې						
ثُمَّ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې د مقامِ بدر کوهی وو په هغه کې وغورځول شول او هغه وقت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلي وو داخلق						
وَأُتْبِعَ أَصْحَابُ الْقَلِيْبِ لَعْنَةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]						
چې په کوهي کې غورځول شوي دي ملعون ګرځول شوي دي.						

توضیح : قال قائل: دا ابوجهل ملعون وو یا کوم بل بدبخته وو.

(جزور) شیخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کې لیکلي دي چې په جزور کې په جیم باندې زور دی بیا په زا باندې پیښ دی، دا هغه اوښ ته ویل کیږي چې د ذبح کولو نه وروسته ټکړه ټکړه شوی وي، مذبح خانه مراد ده.

(ال فلان) د دینه د کوم شخص اولاد مراد دی، مقصود کومه خاصه محلّه او خاصه قبیله ده ،شاید هلته کومه مذبح خانه وه چې هلته به د ذبح شده اوښانو کولمې پرتې وې.

(یعمد) دا د قصد کولو په معنی سره دی .

(فرثها) فرث خوشیانو ته ویل کیږي ، ضمیر د مؤنث جزور ته راجع دی چې دیته د مذکر او مؤنث دواړو ضمیرونه راجع کیدلی شي .

(وسلاها) د حیوان په بچې دانۍ کې یوه باریکه پرده وي چې د ولادت سره بهر راوځي همدې رقیقې پردې ته سلا ویل کیږي .

(فانبعث) د پورته کیدلو په معنی سره دی .

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۳۴۹ رقم الحديث ۲۴۰ ومسلم في صحيحه ۳/۱۴۱۸ رقم الحديث (۱۷۹۴.۱۰۷)

(اشقاهم) ددې مجلس ټول شريکان اشقی او بدبخته وو مگر دغه پورته کيدونکی ډير بدبخته وو، علماؤ ليکلي دي چې ددينه مراد عقبه ابن ابی معيط دی، دا د لويې درجې بی عقله او د ابوجهل چمچه وو، چې څه به ابوجهل ويل ده به هغه کول، په جنگ بدر کې دا نيول شوی وو حضور ﷺ دده د قتل حکم وکړلو نو ده وويل چې زما څه قصور دی چې د نورو قيديانو په شان ما قيدی نه ساتئ او د قتل حکم مې کوئ؟ حضور اکرم ﷺ وفرمايل تا الله تعالی او د هغه رسول ته ايذاء رسولې ده، بيا يو صحابی پورته شو او د هغه غاړه يې ووهله، الحمد لله!

(لقد رايتهم) دا د اکثر په اعتبار سره دی چې ټول په کوهی کې واچول شول حالانکه عماره په کوهي کې ونه غورځولی شو، همدارنگه د عقبه بن ابی معيط معامله وه. (صرعی) دا د صريع جمع ده چې د مصروع په معنی سره دی په ځمکه باندې غورځولی شوی شخص ته ويل کيږي.

(القليب) قليب هغه کوهي ته ويلی کيږي چې د هغه خوله او پاسنی حصه جوړه شوې نه وي يعنې د هغه پښتې يې نه وي، د بدر په مقام کې دا يو خراب او گنده کوهی وو چې په هغه کې دغه گنده خلک واچولی شو او د دوی د تذليل لپاره حضور ﷺ دغه کوهي ته راغی او هغوی يې مخاطب کړل ويې فرمايل چې زما سره چې زما رب کومه وعده کړې وه ما هغه رښتيا وموندله، آيا ستاسو سره چې کومه وعده وه هغه تاسو وموندله او که نه؟ د رسول الله ﷺ د دربار شاعر حسان رضي الله عنه دغه نقشه داسې بيان کړې ده:

فغادرنا اباجهل صريعا وعتبة قد تركنا بالجبوب

ترجمه: مونږ ابوجهل غزيدلی پريښوده او عتبه مو په شگلنه ځمکه باندې مړ شوی پريښوده.

يناديهم رسول الله لما قذفناهم كباكب في القليب

ترجمه: هغوی ته په هغه وخت کې د الله رسول آواز کولو چې کله مونږ هغوی په گنده کوهي کې غورځولي وو.

الم تجدوا كلامي كان حقا وامر الله يأخذ بالقلوب

ترجمه: هغه ﷺ وفرمايل آيا تاسو زما خبرې حق ونه موندلې؟ حالانکه د الله تعالی حکم زړونو ته کوزيږي.

فما نطقوا ولو نطقوا لقالوا صدقت وكنت ذا رأى مصيب

ترجمه: هغو خلکو جواب ورنکړو، که جواب يې ورکړی وی نو دا به يې ويل تا رښتيا ويلي وو او ستا رأيه صحيح وه.

﴿۱۱﴾وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ أَتَى عَلَيْكَ

او بي بي عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی هغه يوه ورځ عرض وکړو يارسول الله آيا د أحد نه هم زيات سخته

يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ فَقَالَ لَقَدْ لَقِيْتُ مِنْ قَوْمِكِ

ورځ په تا سو چيرته تيره شوې ده حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ستا د قوم د طرف نه چې کوم صورت حال

وَكَانَ أَشَدَّ مَا لَقِيْتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ

پيښ شوی وو هغه د أحد د ورځي نه ډير زيات په ما سخت وو او دا د عقبې د ورځي واقعه ده چې ما

إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِيْ عَلَى ابْنِ

ستا د قوم دلاسه داسي سخت تکليفونه پورته کړل چې د هغه نه زيات اذيتونه د هغوئ د طرف نه په

عَبْدِ يَالِيْلَ بْنِ كُلَالٍ

ټول عمر کې ما ته هيڅ کله نه دي رسيدلي داسې وشوه چې زه په هغه ورځ ابن عبد ياليل ابن کلال ته

فَلَمْ يُجِبْنِيْ إِلَى مَا أَرَدْتُّ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُوْمٌ

ورسيدم ليکن هغه څما تلقين ته هيڅ توجه ورنه کړه او زه ترينه خفه روان شوم او تلم تر دې پوري

عَلَى وَجْهِيْ فَلَمْ أَسْتَفِقْ إِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ

چې قرن ثعالب ته رسيدو سره څما حواس قابو کې رانه غلل ما خپل سر پورته کړو نو څه ګورم چې د

فَرَفَعْتُ رَأْسِيْ فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِيْ

وريځي يوه لويه ټکړه ده چې په ما يې سورى کړي دی او بيا اچانک څما نظر د وريځي هغه ټکړي کې

فَنَظَرْتُ فَإِذَا فِيْهَا جِبْرَئِيْلُ فَنَادَانِيْ فَقَالَ إِنَّ اللهَ

په حضرت جبرائيل) راغلي جبرائيل) زه مخاطب کړم راته يې وويل ستا سو پروردګار ستا سو

قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَمَا رَدُّوْا عَلَيْكَ وَقَدْ

د قوم خبره واوریده او د هغوئ هغه جواب يې هم واوريده چې هغوئ تاسو ته درکړی دی. او اوس

بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيْهِمْ

پروردګار ستاسو په خدمت کې د غرونو فرشته چې تاسو ثرنګه غواړئ حکم وکړئ حضور ﷺ

فَنَادَانِيْ مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ

فرمايي ددې نه روسته د غرونو فرشتي ماته يا محمد مخاطب کولو سره راته وويل ای محمد! الله!

قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ أَنَا مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِيْ

ستاسو د قوم خبره اوريدلي ده زه د غرونو فرشته يم زه ستاسو پروردګار تاسو ته را ليږلی يم چې

رَبُّكَ إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِيْ بِأَمْرِكَ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ

تاسو ماته د خپلې فيصلې د تعميل حکم راکړئ که تاسو فرمائي نو زه ستاسو د قوم خلقو باندې

عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دا دواړه غرونه اخشبين راپوځاي کوم رسول الله ﷺ وفرمائيل زه د دوی زه خو دا اميد لرم چې

بَلْ أَرْجُوْ أَنْ يُخْرِجَ اللهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللهَ

الله! به د دوئ په نسل کې داسي خلق پيدا کړي چې صرف د يو الله عبادت به کوي او هيڅ شی به

وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [1]

هغه سره شريک نه ګرځوي . [بخاري مسلم]

توضيح : (اشد من يوم احد) په احد کې د حضور ﷺ اويا صحابو شهيدان شوي وو د هغه د تره حضرت حمزه رض د جسم تکړې د هغه په مخ کې وې ، په خپله هغه غمجن وو ، غاښ مبارک يې

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۱۲ رقم الحديث ۳۲۳۱. ومسلم في صحيحه ۳/۱۴۲۰ رقم الحديث (۱۱۱.۱۷۹۵)

شهید شوی وو، ډیره سخته ورځ وه په دغه وجه حضرت عائشې رضی الله د احد د ورځې د سختې نه د کومې بلې ورځې د سختۍ او مصیبت پوښتنه کړې ده، د حضرت عائشې رضی الله عنها خیال وو چې د دینه زیاته سخته ورځ کومه کیدلی نشي، لیکن حضور ﷺ د طائف ورځ چې هغې ته یوم العقبة ویل شوي هغه یې د احد د ورځې نه زیاته سخته وښودله.

(یوم العقبة) عقبه په حقیقت کې غونډۍ ته ویل کیږي دلته یو مسجد دریافت شوی دی، په همدغه ځای باندې هغه د مدینې والاؤ ته خپل ځان پیش کړلو، په منی کې د مسجد خیف سره

(جمرة العقبة) همدغې غونډۍ ته منسوب ده، په ۲۰۰۷ کې سعودی حکومت د جمراتو توسیع وکړه دلته یو مسجد دریافت شو چې د هغه نوم مسجد العقبة دی. په اصل کې د موسم حج په دوران کې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عربو قبائلو ته دعوت ورکولو، چې کله حالات خراب شول نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حج ته راغلیو مختلفو خلکو ته خپل ځان پیش کړلو چې ما ته تاسې پناه راکړئ، دا په احادیثو کې په عرض نفسه علی القبائل سره یاد شوی دی، په منی کې یې ددې شروع وکړه، بیا په همدغه مقصد کې هغه طائف ته روان شو چې هغوی ازاد قبائل دي، کیدای شي هغوی اسلام قبول کړي او بیا ما ته د پناه ځای پیدا شي! دغه ټوله نقشه په یوم العقبة سره یاده شوې ده.

(عرضت نفسی) یعنې ما خپل ځان پیش کړلو د عربو په دریو سردارانو باندې چې په خپل مینځ کې سره ورونه وو، د یوه نوم عبدیالیل وو، د دویم نوم مسعود او د دریم نوم حبیب وو، دا دریواړه ورونه د عمرو بن عُمیر ځامن وو، په طائف کې د ټولو نه غټ سردار مسعود وو. اهل تاریخ والاؤ دلته ډیر خلط ملط نومونه ذکر کړي دي، ما د البدایه والنهایة خبره ولیکله. ملا علی القاری رحمه الله لیکلي چې عبدیالیل کنیه ده مګر دا د هغه شخص نوم هم دی، (یعنې د عبدیالیل سره یې خبرې وکړې). **(مهموم)** زه د شدت غم په وجه مدهوش ومه. **(استفق)** په هوش کې راتللو ته ویل کیږي. **(قرن الثعالب)** د مخکینې طائف نه چې ووځې جبل هدی طرفته په جدید طائف کې د یو ځای نوم قرن الثعالب دی، قرن المنازل هم په دغه ځای کې دی چې د هغه ځای نه اهل نجد احرام تړلو سره مکې ته راځي د اهل طائف میقات همدا دی.

سوال: په غزوه احد کې پخپله حضور ﷺ زخمي شوی وو د هغه د صحابو اویا لاشونه د ده په مخکې وو د هغه د تره حضرت حمزه رضي الله عنه ټکړه شوی لاش دده په مخ کې پروت وو، دغه سخته صدمه حضور ﷺ د طائف د صدمې او مصیبت نه کمه ولې وګرځوله او د طائف دغه غم او مصیبت یې ولې زیات وګرځولو؟

جواب: ددې جواب دا کیدلی شي چې په احد کې حضور ﷺ د مقابلې په میدان کې وو، د ښمن

سره په مقابله کې چې څومره نقصان هم وشي د هغه دومره تکلیف نه وي ځکه د مقابلې په میدان کې فتحه او شکست دواړه راځي ، ددې برعکس په طائف کې حضور ﷺ د مقابلې په میدان کې نه وو هلته چې څه کیدل هغه ټول یو طرفه ظلم وو چې هغه حضور ﷺ په انتهایې بې پوښتنې عالم کې برداشت کول چې د هغه تکلیف ډیر زیات وو ، په دغه وجه یې د طائف تکلیف او اذیت د احد نه زیات وګرځولو .

(اطبق) یوځای کولو ته وایې . **(الاخشبين)** دا د اخشب تثنیه ده ، مضبوط غر ته اخشب وایې ، ددینه مراد د مکې مکرمې سره مخې ته دوه غرونه دي ، دا دوه غرونه د یو جانب نه خو په مکه کې دي مګر د بل جانب نه د منی سره لګیږي .

اوس سوال دا دی چې د حضور ﷺ سره ګستاخی اهل طائف کړې وو هغوی ظالمان وو نو بیا په اهل مکه باندې د غرونو د یوځای کولو نه څه مطلب دی ؟

جواب : ددې جواب دا کیدی شي چې اصل مجرم خو د مکې کفار وو د هغوی په وجه دا هر څه کیدل ، د طائف سفر هم د هغوی د مظالمو په وجه وو په دغه وجه ددغه اصل ختمولو خبره وشوله .
دویم جواب دا کیدی شي چې د دغو غرونو سلسله په اهل طائف او اهل مکه دواړو باندې محیطه وه نو د دواړو ښارونو د تباهۍ خبره وه ، هیڅ اشکال نشته ،دغه سوال او جواب ما په کومه شرحه کې لیدلی نه دی مګر شارحینو د اخشبینو مصداق جبل ابو قبیس او قعیقعان ګرځولی دی دا دواړه غرونه په مکه کې دي په دغه وجه دا توجیهات وشول ، د محدث العصر حضرت مولانا سید محمد یوسف بنوری رحمه الله د تقریر یوه کیسټه زما سره ده هغه د اخشبین مصداق جبل ابو قبیس او جبل قعیقعان ګرځولی دی .

غزوه أحد کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زخمي کېدو ذکر

﴿۱۲﴾وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی د أحد د جنګ په ورځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه څلورو غاښونو کې یو
رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ فِيْ رَأْسِهِ فَجَعَلَ
غاښ مبارک مات شوی وو کوم ته چې رباعیه وایي او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سر مبارک زخمي شوی وو
يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ وَيَقُوْلُ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوْا
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وینه وچوله او فرمائیل به یې هغه قوم به څرنګه نجات پیدا کړی شي چې د خپل نبي

رَأْسَ نَبِيِّهِمْ وَكَسَرُوْا رَبَاعِيَتَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۱]
سر يې زخمي كړه د هغه غاښ يې مات كې. [مسلم]

توضیح: يسلت: د نصر ينصر نه دى د جسم نه د وينې پاكولو ته ويل كيږي.

شجوا: د سر او مخ زخم ته شج ويل كيږي.

رباعيته: د انياب او ثنايا تر مينځ غاښونو ته رباعى ويل كيږي، د حضور ﷺ غاښ بلكل ماتيدو سره غورځيدلى نه وو بلكه لږ حصه يې ماته شوې وه، د ښي طرف د لاندې غاښونو رباعى مراد ده.

د رسول الله ﷺ په لاس وژل شوى به د الله ! د ټولو نه سخت عذاب کې مبتلاوي

﴿۱۳﴾وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ
او ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمائيل د الله ! سخت ترين غضب په هغه قوم
عَلَى قَوْمٍ فَعَلُوْا بِنَبِيِّهِ يُشِيْرُ اِلٰى رَبَاعِيَتِهِ
دى چې هغوئ خپل نبي سره داسې سلوك وكړي دداسې سلوك نه د حضور ﷺ اشاره خپلو
اِشْتَدَّ غَضَبُ اللهِ عَلٰى رَجُلٍ
غاښونو طرف ته وه چې په هغو كې يو غاښ كفارو د اُحد په جنګ كې شهيد كړى وو او د الله ! سخت ترين غضب په هغه سړي
يَقْتُلُهُ رَسُوْلُ اللهِ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۲] وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِيْ .
دى چې د الله ! رسول يې د الله په لار يعني جهاد كې قتل كړي. [بخاري، مسلم] او په دى باب كى دوهم فصل نشته.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/۱۷۳ رقم الحديث ۵۷۲۲ ومسلم في صحيحه ۳/۱۴۱۷ رقم الحديث (۱۰۴. ۱۷۹۱)

(۲) اخرجه البخاري في صحيحه ۷/۳۷۲ رقم الحديث ۴۰۷۳ ومسلم في صحيحه ۳/۱۴۱۷ رقم الحديث (۱۰۶. ۱۷۹۳)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د ټولو نه مخکې کوم سورت نازل شوی وو

﴿۱۴﴾عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِيْ كَثِيْرٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ
حضرت یحیٰی بن کثیر وایي ما د حضرت ابو سلمه ابن عبد الرحمٰن بن عوف ، نه پوښتنه وکړه د
عَنْ أَوَّلِ مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ. قُلْتُ
قرآن کریم کومه حصه د ټولو نه مخکښې نازله شوه؟ هغه جواب راکړو چې: يٰاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ! ما عرض وکړو
يَقُوْلُوْنَ إِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ قَالَ أَبُوْ سَلَمَةَ
اکثره علماء خو دا وايي چې د ټولو نه مخکې اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ نازل شوی دی حضرت ابو سلمه وفرمائيل
سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ ذٰلِكَ وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ الَّذِيْ
ما د حضرت جابر ، نه دا پوښتنه کړي وه نو هغه هم دا جواب راکړو کوم چې ما تاته درکړی دی نو
قُلْتَ لِيْ فَقَالَ لِيْ جَابِرٌ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا بِمَا حَدَّثَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نو هغوئ ماته وفرمائيل زه ستا مخکې هغه حديث بيانوم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځمونږ مخکې ارشاد
قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءَ شَهْرًا
فرمائيلی وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا وفرمائيل چې زه يوه مياشت پوري په غار حراء کې خلوت نشين او
فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِيْ هَبَطْتُ فَنُوْدِيْتُ
معتکف وم هرکله چې ځما د خلوت نشينۍ او اعتکاف موده پوره شوه او زه د غره نه راکوز شوم نو
فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِيْنِيْ فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِيْ
څوک صاحب ما مخاطب کوي مابنې طرف ته وکتل نو هيڅوک مې و نه ليدل بيا ماکنړ (کس) طرف

فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَّنَظَرْتُ عَنْ خَلْفِيْ فَلَمْ أَرَ شَيْئًا فَرَفَعْتُ

نو ته وکتل اخوا هم هيڅ شی په نظر رانغلو روسته مي نظر وکړه نو هيڅ مي ونه ليدل بيا چې ما پورته

رَأْسِيْ فَرَأَيْتُ شَيْئًا فَأَتَيْتُ خَدِيْجَةَ

نظر وکړه نو ماته څه په نظر راغلل يعني يوه فرشته راته ښکاره شوه بي بي خديجې رضي الله عنها ته راغلم

فَقُلْتُ دَثِّرُوْنِيْ فَدَثَّرُوْنِيْ وَصَبُّوْا عَلَيَّ مَاءً

ورته مي وويل په ما باندې کپړه واچوه بي بي خديجې - سمدستي په ما يوه کپړه واچوله او يخې

بَارِدًا فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ

اوبه يې راباندې واچولې ددې نه روسته دا آيت نازل شو: يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ...الخ يعني کپړه اغوستونکيه!

فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ وَذٰلِكَ قَبْلَ

پاڅيږه او د خپل رب لويې بيان کړه او خپلې کپړې پاکې ساته او د ناپاکۍ نه پرهيز کوه او د وحې د

أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

نزول دا واقعه د مونځ فرض کېدو نه د مخکې ده. [بخاري مسلم]

توضيح: د وحې د نزول په اعتبار سره د ټولو نه مخکې د سورة علق پنځه آيتونه نازل شوي دي بيا د وحې د انقطاع زمانه راغله، د وحې د انقطاع نه بعد چې مکمل سورت نازل شوی دی هغه سورت مدثر دی چې د هغه تذکره په زير بحث حديث کې ده، نو دا د مطلق وحې خبره نه ده بلکه د کامل سورت د نزول خبره ده ګويا دا ابتداء اضافی ده چې د انقطاع وحې نه بعد د ټولو نه د مخکې وحې نه بعد نازل شوی وو.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) اخرجه البخاري في صحيح ۸/۶۷۶ رقم الحديث ۴۹۲۲ ومسلم في صحيحه ۱/۱۴۴ رقم الحديث (۲۵۷.۱۶۱)

باب علامات النبوة

د نبوت د علاماتو بیان

علامات جمع ده د دې مفرد علامة ده ، علامه نښې ته ویل کیږي دلته هغه نښو او علاماتو ته ویل کیږي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نبوت باندې دلالت کوي . شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په اشعة اللمعات کې لیکلي دي چې علامات د نبوت او معجزات یو شی دي په دغه وجه شراح حضرات حیران او پریشانه دي چې صاحب د مشکوة د یو مفهوم شی په دوو جدا بابونو کښې ولې ذکر کړل ؟ هیڅ هم د دې صحیح جواب ورنکړی شو انتهی کلامه.

بنده عاجز فضل محمد غفرله عرض کوي چې زه دومره فرق بیانولی شم چې په معجزاتو کښې زیاتره د هغه شیانو بیان وي چې مقابل انسان عاجز او مجبوره کوي چې معجزه دي ولیدله اوس ایمان راوړه ! او په علاماتو د نبوت کښې داسې نه وي بلکه په هغه کې زیاتره هغه شیان بیانیږي چې فی نفسه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نبوت باندې په طور د علامت دلالت کوي مګر چا لره په ایمان راوړو نه مجبور وي او نه عاجزه کوي .دویم فرق دا چې په علاماتو دنبوت کښې یو څه شیان هغه دي چې د هغو تعلق د نبوت د اعلان نه د مخکې واقعاتو سره دی لکه څنګه چې د دې باب په حدیث نمبر۱ حدیث نمبر۲ وغیره کې خو ظاهره ده چې هغو ته معجزه خو ویل کیدلی نشي مګر دا په نبوت باندې علامت او دلالت دي په دغه وجه باندې شاید صاحب د مشکوة دغه باب د معجزاتو نه علاحده کړی وي او د دې لپاره یې ځانته عنوان ترلی وي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د شق صدر واقعه

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرَئِيْلُ
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماشومانو سره لوبې کولې چې حضرت جبرائیل)
وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ
راغی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې اونیولو سم یې ورجولو بیا هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه ته قریب سینه وڅیرله
عَنْ قَلْبِهِ فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هٰذَا حَظُّ
او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زړه نه یې د جم شوي وینې یوه توره ټکره راوایستله او رته یې وویل دا ستا په
الشَّيْطَانِ مِنْكَ ثُمَّ غَسَلَهُ فِيْ طَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ
جسم کې د شیطان حصه ده د دې نه روسته هغوي د حضو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه مبارک د سرو زرو یو لګن کې

بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لَأَمَهُ وَأَعَادَهُ فِيْ مَكَانِهِ
د زمزم په اوبو سره وینځلو او بیا زړه په خپل ځاي ایښودلو سره سینه مبارکه یې برسیره نه برابره
وَجَآءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلٰى أُمِّهِ
کړله هغه ماشومان چې د حضور ﷺ سره وو دې پوره منظر لیدو سره ویریدل او وتښتیدل او د
يَعْنِيْ ظِئْرَهُ فَقَالُوْا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ
حضور ﷺ مور یعني پی ورکونکې حلیمې رضي الله عنها ته راغلل او ورته یې وویل چې محمد ووژل شو
فَاسْتَقْبَلُوْهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ
چې خلق هغه ځاي ته ورسیدل چیرته چې نبی علیه السلام موجود وو هغوئ نبی علیه السلام صحیح سالم اولیدلو لیکن نبی علیه السلام
اللَّوْنِ قَالَ أَنَسٌ
یې په داسې حال کې اولیدلو چې د خوف او د دهشت نه د نبی علیه السلام د مخ مبارک رنګ بدل شوی وو حضرت انس رضي الله عنه
كُنْتُ أَرٰى كُنْتُ ارٰى الْمَخِيْطَ فِيْ صَدْرِهِ.[1]
دا روایت بیانولو سره وویل چې ما به د نبی علیه السلام په سینه مبارکه د ګنډلو نښه لیدله.

توضیح: فشق عن قلبه: یعني د زړه د پاسه یې سینه څیري کړه او بیا یې د دننه نه زړه وویسته، دزړه نه یې توره جمع شوې وینه وویسته بهر یې وغورځوله، بیا یې زړه وګنډلو او بیا یې سینه وګنډله چې په هغې کښې دګنډلو نشان تر ټول عمر پورې پاتې شو، د شق صدر او شرح صدر واقعه د حضور ﷺ سره څلور ځل پیښه شوې ده، یو کرت خو د حضرت حلیمه سعدیه رضي الله عنها د پرورش په دوران کښې پیښه شوه چې د هغه ذکر په زیر بحث حدیث کښې دی په دغه وخت کې حضور ﷺ د کم عمر وو چې کله حلیمه سعدیه رضي الله عنها د ده پرورش کولو، دویمه مرتبه د شرح صدر واقعه د لسو کلونو په عمر کښې پیښه شوه، دریمه مرتبه د ظهور نبوت په وخت کښې پیښه شوه چې کله د هغه عمر څلویښت کاله وو، څلورم ځل آسمانونو ته د معراج لپاره د تللو په وخت پیښه شوې ده چې کله د هغه عمر ۵۱ کاله وو.

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۱۴۷ رقم الحديث (۱۶۲.۲۱۱) والترمذي في السنن رقم الحديث ۳۶۲۴.

حظ الشیطان: یعنې د انسان په جسم او بیا په زړه کښې دننه دوه قسمه مخلوق کارُکوي او خپل خپل اثر اچوي، یو مخلوق ملائکې دی دویم مخلوق شیاطین دی، په زړه کې دننه خانې جوړې شوې وې چې هلته د وینې حصې هم وي، دغه ځایونه د ملائکو د الهاماتو ځایونه هم دي او د شیاطینو د وسوسو مراکز هم دي، د دغه دوو مخلوقو نه چې د کوم مخلوق کنټرول په دغه ځایونو باندې قائم شو زړه د هغوی په لاسونو کښې چلیږي او د زړه په وجه بیا ټول جسم متأثره کیږي. که د ملائکو په قابو کښې راغی نو د ټول جسم روحانی نظام صحیح کیږي او کچیرې د شیاطینو په کنټرول کښې راغی نو د ټول جسم روحانی نظام خرابیږي، په زیر بحث حدیث کښې حظ الشیطان سره اشاره هم دغه پس منظر ته ده، د حضور ﷺ قلبی روحانی نظام مکمل طور باندې د ملائکو په لاس کښې راغللو او د شیاطینو د وسوسو گنجائش ختم شولو.

سوال: اوس سوال دا دی چې کله د اپریشن په ذریعه د قلب اطهر نه د هغه حصه کټ کول وو نو د تخلیق په وخت کښې هغه په قلب اطهر کښې وَلې پیدا کړی شوه؟ د ابتداء نه به الله تعالی دغه حصه نه پیدا کوله نو د ویستلو ضرورت به هم نه وو.

جواب: الله تعالی انبیاء کرام په کامل بشریت باندې پیدا کړي دي په کوم نبی کښې یې جسمانی نقصان راویستلی نه دی که د تخلیق په وخت کښې یې دغه حصه پیدا کړې نه وای نو د حضور ﷺ په جسم اطهر کښې یو بشری نقص پاتې کیده او په کمال کښې فرق راتلو، په دغه وجه یې اول د اعلی کمال تکمیل وفرمایلو بیا یې د افریشن په ذریعه هغه وویستلو. ددې حدیث نه د انسانانو د زړه د آپریشن راهنمائی حاصله شوې، یو نیم زر کاله وروسته چې دنیا په کوم شی باندې فخر کوي د هغه ابتداء د محمد عربی ﷺ د ذات نه د بی سرو سامان په دور کښې وشوه.

زمزم: د جنت اوبه رانه وړلی شوې، معلومه شوه چې د زمزم د اوبو درجه د جنت د اوبو سره برابره ده یا د هغو نه بهترې دي.

منتقع اللون: یعنې رنګ یې متغیر شوی وو زیړ شوی وو، (**اثر المخیط**) یعنې د شرح صدر نه بعد د ګنډلو نشان د غاړې نه تر نومه پورې موجود وو په هغه باندې د ویښتانو یوه ښایسته لیکه وه. **اللهم صل علی حبیبک محمد في الاولین والآخرین وعلی آله الطاهرین واصحابه اجمعین.**

رسول ﷺ ته د کاڼو سلام

﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّيْ لَاَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ

او جابر ابن سمره رضی الله عنه وايي چې رسول کریم ﷺ و فرمائیل زه هغه کاڼی پیژنم چې په مکه

كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

کې د نبوت د ظهور نه مخکې به يې ماته سلام اچوه زه اوس هم هغه ښه پيژنم. [مسلم]

د شق قمر معجزه

﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او انس رضي الله عنه وايي د مکې کافرو جمع کېدو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه مطالبه وکړه که تا سو د

أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ

نبوت دعوی کې ريښتنی يې نو څه نښه معجزه وښايه نو حضور صلى الله عليه وسلم د خپل لاس مبارک

الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ حَتَّى رَأَوْا حِرَاءَ

اشاري سره د سپوږمۍ دوه ټکړې کولو سره وښودله د دې پورې چې هغه کافرو حراء غر د هغه

بَيْنَهُمَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[2]

دوو ټکړو په منځ کې وليده. [بخاري مسلم]

توضيح: د شق قمر واقعه چونکه په شپه کښې وه په دغه وجه زياته مشهوره نشوه، بل دا چې دا مخصوصو خلکو غوښتې وه نو ضروري نه وه چې تمام اهل دنيا ته وښودلی شي، همدارنګه تمام انسانانو ته عامه هم نه وه ولې که د ټولو د غوښتنې او بيا د ټولو د ليدلو نه بعد که کفارو انکار کړی وای نو بيا عمومي عذاب راتللو لکه څنګه چې د فرمايشي معجزې نه د انکار نه وروسته راځي، په سماوي کائناتو کښې د خرق او التيام نه انکار د څو مخروق الدماغ او محروف الدماغ خلکو کار دی چې ناقابل التفات دی، د الله په حکم سره د حضور صلى الله عليه وسلم په لاس باندې د معجزې په ظهور کښې د محال راتللو ګنجائش نشته، اهل تاريخ والاؤ د شق قمر واقعه په تواتر سره نقل کړې ده په احاديثو کښې ددې ثبوت موجود دی د قرآن اعلان دی ﴿اقتربت الساعة وانشق القمر﴾ اوس انکار په کار نه دی، په وروستي حديث کښې د فرقتين الفاظ دي ددې نه هم مراد دوه ټکړې دي.

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۴/۱۷۸۲ رقم الحديث (۲۲۷۷.۲) والترمذي في السنن ۵/۵۵۳ رقم الحديث ۳۶۲۴.

[2] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۳۶۱ رقم الحديث ۳۶۳۷ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۵۹ رقم الحديث (۲۸۰۲.۴۶).

﴿۴﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ اِنْشَقَّ الْقَمَرُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ابن مسعود رضی اللہ عنہ وايي د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په زمانه کې سپوږمۍ په منځ چاودلو سره شوه

فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُوْنَهٗ فَقَالَ

چې يوه ټکړې د غر په برني باندې وه او دوهمه لاندې طرف ته رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د کافرو په طلب دې

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِشْهَدُوْا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [1]

معجزې ښودلو سره هغوئ ته وفرمائيل چې ځماد نبوت يا ځما د معجزې شهادت ورکړئ. [بخاري مسلم]

د الله تعالى د طرف نه ابوجهل ته تنبيه

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَبُوْ جَهْلٍ هَلْ يُعَفِّرُ

او حضرت ابوهريره رضی اللہ عنہ وايي يو وار ابوجهل د خلقو مخکې ډېر په تحقير سره وويل ايا محمد ستاسو

مُحَمَّدٌ وَجْهَهٗ بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ فَقِيْلَ نَعَمْ فَقَالَ وَاللَّاتِ وَالْعُزّٰى

مخکې خپل مخ خاک آلود کوي يعني مونځ او سجده کوي خلقو وويل هو ابوجهل وويل په لات او عزٰى

لَئِنْ رَّأَيْتُهٗ يَفْعَلُ ذٰلِكَ لَأَطَأَنَّ عَلٰى رَقَبَتِهٖ

دواړو لويو بتانو قسم که ما محمد داسې کولو نو د هغه پرڅټ به پښه کېږدم يو ورځ هرکله چې

فَأَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ هُوَ يُصَلِّيْ

حضور صلی اللہ علیہ وسلم مونځ کوه او سجده کې وو ابوجهل دې ناپاکې ارادې سره چې د حضور صلی اللہ علیہ وسلم

زَعَمَ لِيَطَأَ عَلٰى رَقَبَتِهٖ فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ

څټ مبارک خپلو پښو سره پامال کړي هغه د حضور صلی اللہ علیہ وسلم طرف ته مخکې کېدو کې اچانک او درېدلو او

اِلَّا وَهُوَ يَنْكُصُ عَلٰى عَقِبَيْهِ وَيَتَّقِيْ بِيَدَيْهِ

سمدستي خلقو طرف ته راتاؤ شو او داسې ښکاره کېده چې هغه په خپلو دواړو لاسونو سره څه شی

---

(1) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۳۱ رقم الحديث ۳۶۳۶ ومسلم في صحيحه ۴/۲۱۵۸ رقم الحديث (۲۸۰۰.۴۴).

فَقِيلَ لَهُ مَا لَكَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ

منع کوي خلقو په دې لیدو سره ترې پوښتنه وکړه چې آخر څه قصه ده ابو جهل صفا وویل زه دا وینم

لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَأَجْنِحَةً

چې څما او د محمد صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په منځ کې د اور خندق کنده ده ډیر خوفناک منظر دی او د محافظو فرشتو وزرې او

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ دَنَا مِنِّي

متې دي رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل که ابو جهل ما ته قریب راغلی وی نو فرشتو به د هغه جسم

لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ټکړې ټکړې کړی وای یعني هرې فرشتي به د هغه د بدن یو یو عضو تښتولی وی.

توضیح: **هل یعفر**: د تعفیر نه دی د خاک آلود کولو په معنی سره دی یعني په ځمکه باندې سجده لګولو سره مخ خاک آلوده کوي؟ ابو جهل د انتهائی تحقیر په طور باندې داسې وویل.

زعم: ای طمع یعني د غارې د لاندې کولو په ارادې سره پُر امیده راغی.

فمافجئهم منه: فجأة ناڅاپه راتګ ته وایې، په فجئهم کښې ضمیر ابو جهل ته راجع دی، معنی دا ده چې ابو جهل د حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ له طرفه خپل مجلس والاؤ ته ناڅاپه په داسې حال کښې ورسیده چې دواړه لاسونه یې پورته کړي وو په پښو باندې شاته په بدحواسۍ سره روان وو.

خندقا: یعنې د اور کنده وه. **وهولا**: ای خوفا وامرا شدیدا. **واجنحة**: یعنې د حافظو ملائکو وزرې وې

اختطفته: یعنې ملائکو به د هغه جسم ټکړه ټکړه کړی وو.

یوه پیشن ګوئي چې حرف په حرف پوره شوه

﴿۶﴾ وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ

او عدي ابن حاتم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ زه د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضروم ناڅاپه

أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ ثُمَّ أَتَاهُ آخَرُ

یو سړی راغی او حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ته یې د خپل فقر او فاقې او افلاس شکایت وکړه بیا یو بل سړی راغلي

---

[1] اخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۵۴ رقم الحديث (۲۷۹۷.۳۸)

فَشَكَا إِلَيْهِ قَطْعَ السَّبِيْلِ فَقَالَ يَا عَدِيُّ هَلْ رَأَيْتَ الْحِيْرَةَ

هغه د راهزني (شوکې) شکایت وکړه نو حضور ﷺ وفرمائیل ای عدي! تا خو به حیره لیدلې وي

فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الظَّعِيْنَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيْرَةِ

که ستا عمر زیات شي نو یقینًا به ته ووینې چې یوه ښځه به تنها سوریدو سره د حیره نه روانه شي او

حَتّٰى تَطُوْفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ أَحَدًا إِلَّا اللهَ

مکې ته رسیدو سره د کعبې طواف به اوکړي او سو د الله نه هغه ته به د هیڅ ډاکو او غل یره نه وی

وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوْزُ كِسْرٰى

او که ته زیاتو ورځو پورې ژوندې پاتې شوې نو وبه وینې چې کسری د فارس د بادشاه خزانې به

وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ

مسلمانانو دپاره خلاصې شي او که ستا عمر زیات شو نو وبه وینې چې یو سړې به یو موټې برابر

يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ يَطْلُبُ مَنْ يَقْبَلُهُ

سره زر او سپین زر خیرات کولو دپاره وځي او قبلونکي به تلاش کوی خو داسې سړې به پیدا نه کړی

فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهُ مِنْهُ وَلَيَلْقَيَنَّ اللهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ

چه هغه نه د خیرات مالي واخلي او یاد لره د قیامت په ورځ به تاسو کې یو سړی د الله! په حضور کې

يَلْقَاهُ وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ

داسې پیش شي چې د هغه او د الله! په منځ کې به څوک ترجمان نه وي چې د هغه حال بیان کړی

يُتَرْجِمُ لَهُ فَلَيَقُوْلَنَّ أَلَمْ أَبْعَثْ

بیا به الله! د هغه نه پوښتنه وکړي آیا ما تا ته د دین احکام رسولو او د قیامت د ورځې خبر درکولو

إِلَيْكَ رَسُوْلًا فَيُبَلِّغَكَ فَيَقُوْلُ بَلٰى

دپاره رسول نه وو درلیږلې هغه سړی به وایي بیشکه تا رسول رالیږلې وو دې نه روسته به ترې نه

فَيَقُوْلُ أَلَمْ أُعْطِكَ مَالًا وَأُفْضِلْ

الله! پوښتنه وکړي ما تا ته مال او زر نه وو درکړی او آیا په تا باندې مې فضل او احسان نه وو کړی؟

عَلَيْكَ فَيَقُوْلُ بَلٰى

هغه به وايي بيشكه تا ماته مال هم راكړی وو او په مادي فضل او احسان هم كړی وو ددي نه روسته به

فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِيْنِهٖ فَلَا يَرٰى إِلَّا جَهَنَّمَ وَيَنْظُرُ

هغه سړی خپل ښي طرف ته وګوري نو هغه ته به د دوزخ نه علاوه بل هيڅ په نظر را نشي بيا به هغه

عَنْ يَسَارِهٖ فَلَا يَرٰى إِلَّا جَهَنَّمَ.

خپل چپ طرف ته وګوري نو هغه ته به د دوزخ نه علاوه بل څه په نظر را نشي نو رسول الله ﷺ تمام خلق

اِتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ

مخاطب كولو سره وفرمائيل چې ای خلقو! د دوزخ د اور نه د خيرات په ذريعه خپل ځان بچ كړئ

تَمْرَةٍ فَمَنْ لَّمْ

كه څه هم د خرما د يوې ټكړې خيرات كولو وس ولرئ او كه يو سړی د الله په نوم خرڅ كولو د پاره د

يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ

خرما يوه ټكړه هم نه لري نو نرمي او خوش خلقي سره خبرې كولو سره ځان دي د دوزخ د اور

قَالَ عَدِيٌّ فَرَأَيْتُ الظَّعِيْنَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيْرَةِ

نه بچ كړي حضرت عدی ابن حاتم وويل ماخو دا وليدل چې په اوښه سوره ښځه د خانه كعبې

حَتّٰى تَطُوْفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ إِلَّا اللهَ

طواف كولو د پاره د حيره نه تنها سفر كوي او د الله! نه ماسوا بل هيچا نه نه ويريږي او زه

وَكُنْتُ فِيْمَنِ افْتَتَحَ كُنُوْزَ كِسْرَى بْنِ هُرْمُزَ

خپله په هغه په خلقو كې شامل وم چې هغوئ د كسرٰی ابن هرمز بن نوشيروان د فارس د

وَلَئِنْ طَالَتْ بِكُمْ حَيَاةٌ لَتَرَوُنَّ مَا قَالَ النَّبِيُّ

بادشاه خزانې خلاصې كړې اوس كه تاسو زياتې ورځې ژوندي پاتې شوئ نو د رسول الله ﷺ

أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْرِجُ

دا پيشن ګوئي به هم حرف به حرف پوره كېدونكې ووينئ چې يو سړی به د موټي برابر سونا چاندي

مِلْءَ	كَفِّهِ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ.[۱]

خيرات کولو د پاره وځي او هيڅ سړی به د هغه آخستونکی پيدا نه کړي .

د دين د پاره مشقتونه برداشت کول د ايمان والاؤ صفت دی

﴿۷﴾ وَ عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَهُوَ

خباب ابن ارت رضي الله عنه وايي يو ورځ مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته چې هغه وقت حضور صلى الله عليه وسلم

مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ

د خانه کعبې په سوري کې تر سر لاندې کمبل اېښې پروت وو د کفارو د سخت ترين مخالفت او د ښمنۍ

وَقَدْ لَقِينَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ شِدَّةً

شکايت وکړ چې مونږ ته د دې خلقو نه سخت اذيت او تکليف رسيږي او عرض مو وکړو چې هر کله هغوئ د ايذا رسائي نه

فَقُلْنَا أَلَا تَدْعُو اللّٰهَ فَقَعَدَ

نه منع کېږي نو تاسو د هغوئ په حق کې بد دعا ولې نه کوئ ځمونږ د دې خبرې اوريدو سره نبي عليه السلام راپورته شو

وَهُوَ مُحْمَرٌّ وَجْهُهُ وَ قَالَ كَانَ الرَّجُلُ

او مخ مبارک يې سور شو وي فرمائيل ستاسو نه مخکې چې کوم خلق تير شوي دي په هغوی کې يو هغه څوک وو

فِيمَنْ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ

چې د هغه د پاره به په زمکه کې يو کنده او کينل شوه بيا هغه سړې به په کنده کې کينول شو بيا اوډرول شو او بيا اره

فَيُجْعَلُ فِيهِ فَيُجَاءُ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ

راوړلو سره د هغه پر سر به کيښول شوه او په هغه اره سره به هغه سړې دوه ټکړې کيده ليکن دې سخت

فَمَا يَصُدُّهُ ذٰلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ

عذاب هم هغه د خپل دين نه نه شو ګرځولې او يو سړې هغه وو چې د هغه په جسم به د اوسپنې تيزه ګومنز او چلولې شوه

مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ وَ عَصَبٍ وَمَا يَصُدُّهُ

چې غوښې نه لاندې هډوکو او پلو پورې په خيره شو ليکن دې سخت ترين عذاب هم هغه د خپل

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۱۰ رقم الحديث ۳۵۹۵ وأحمد في المسند ۴/۲۵۷.

ذٰلِكَ عَنْ دِيْنِهٖ وَاللّٰهِ لَيُتِمَّنَّ هٰذَا الْأَمْرُ

دين نه ګرځولې نه شو قسم په الله دا دين به درجه كمال ته رسيږي او تاسو به د مصيبتونو او پريشانئ د دې

حَتّٰى يَسِيْرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ

ختميدونكې دَور نه روسته د آسانئ او اطمينان هغه زمانه ووينئ چې يو سړې به د صنعاء نه

إِلٰى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللّٰهَ أَوْ

حضرموت پورې تنها سفر كوى او د الله نه علاوه به د هيچا نه نه ويريږى يا دا چې يو سړې ته به

الذِّئْبَ عَلٰى غَنَمِهٖ وَ لٰكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُوْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ[1]

د خپلو بزو باره كې د شرمخانو نه هيڅ خطره او خوف نه وى ليكن تاسو جلتي كوئ.

توضيح : منشار: آرې ته منشار وايې. (**يمشط**) كمنځولو ته وايې، د اوسپنى ګومنځه مراد ده، (و عصب) پلو ته ويل كيږي يعنې د اوسپنې تيره ګومنځه به د هغه كس د هډوكو او پلو په مينځ كښې چلول كيدله چې په دې سره به غوښه ختمه شوه هډوكي به پاتې شول مګر د غه مصيبت به هغه كس په دين باندې د عمل كولو او د هغه د خپلولو نه منع نكړلو، حضور ﷺ په دې حديث كښې خپل امت ته په مصائبو باندې د صبر كولو او د دين لپاره د امتحانونو نه د تيريدلو تعليم وركړى دى او د استقامت هدايت يې كړى دى او قسم كولو سره يې وفرمايل چې د دې په بركت به يو مثالى امن راځي تاسې تلوار مه كوئې.

يو خوب او پيشنګوئي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ عَلٰى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ

او حضرت انس رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ به اُم حرام بنت ملحان رضي الله عنها كره تلو چې د

وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَدَخَلَ

حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه ښځه وه يو ورځ حسب معمول حضور ﷺ ام حرام رضي الله عنها كره تشريف راوړو

عَلَيْهَا يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِيْ رَأْسَهٗ

نو اُم حرام رضي الله عنها هغه ورباندې طعام وخوړلو بيا د رسول الله ﷺ په سر مبارك كې د سپږو كتلو د پاره كيناسته په دې

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۶۱۹ رقم الحديث ۳۶۱۲ وأحمد في المسند ۶/۳۹۵.

فَنَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ

دوران کې حضور ﷺ اوده شو بیا څه وقت روسته حضور ﷺ په خندا سره بیدار شو

قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

ام حرام بیان وکړو ما چې حضور ﷺ هغه حالت کې په خندا اولیدلو نو پوښتنه مې ترینه وکړه یا رسول الله! تاسو

قَالَ أُنَاسٌ مِّنْ أُمَّتِيْ عُرِضُوْا عَلَيَّ

په څه باندې وخندل؟ وې فرمائیل په خوب کې ځما د امت یو جماعت په داسې حال کې ځما مخې ته راوستل شو

غُزَاةً فِيْ سَبِيْلِ اللهِ يَرْكَبُوْنَ ثَبَجَ هٰذَا الْبَحْرِ مُلُوْكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ

چې هغوئ د الله! په لار کې جهاد کوي او په سمندر کې داسې سفر کوي لکه بادشاه چې په خپل تخت وي

أَوْ مِثْلَ الْمُلُوْكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ

یا داسې یې وفرمائیل لکه چې د بادشاهانو په شان په تخت جلوه کړوي ما عرض وکړو یا رسول الله!

أُدْعُ اللهَ أَنْ يَّجْعَلَنِيْ مِنْهُمْ

د الله! نه دعا وغواړئ چې په هغه مجاهدینو کې چې د سمندر سینه شلولو سره د الله! په لار کې وځي ماهم په هغوئ کې شامله

فَدَعَا لَهَا ثُمَّ وَضَعَ رَأْسَهُ

کړي حضور ﷺ د ام حرام په حق کې دعاء وکړه دي نه روسته حضور ﷺ په بالښت سر مبارک ایښودلو

فَنَامَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ

سره بیا اوده شو څه ساعت روسته بیا حضور ﷺ په خندا سره را بیدار شو ما عرض وکړو

يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا يُضْحِكُكَ قَالَ أُنَاسٌ

یا رسول الله! تاسو اوس ولې وخندل؟ وې فرمائیل اوس بیا په خوب کې ځما امت کې څه خلق

مِّنْ أُمَّتِيْ عُرِضُوْا عَلَيَّ غُزَاةً

ځما مخې ته داسې حال کې پیش شول چې هغوئ د الله! په لار کې جهاد کوئی څرنګه چې

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ كَمَا قَالَ فِي الْأُوْلٰى

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکني وار فرمائیلي وودا واریې هم هغه الفاظ ارشاد وفرمائیل مادې خبرې

فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اُدْعُ الله

اورید وسره دا وار هم بیا عرض وکړو یارسول الله! تاسو د الله ! نه دعا وغواړئ چې هغه مجاهدینو

أَنْ يَجْعَلَنِيْ مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِيْنَ فَرَكِبَتْ أُمُّ حَرَامٍ

کې ما هم شامله کړي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ته په مخکنی جماعت کې یې نو ام حرام د

الْبَحْرَ فِيْ زَمَنِ مُعَاوِيَةَ

حضرت معاویه په زمانه کې د جهاد په غرض بحري سفر وکړو او کوم وقت چې سمندر نه را ووتله

فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِيْنَ خَرَجَتْ

نو په ښاروي سوره شوه نو ناځا په د ښاروي د شا نه په ځمکه راولویده او د الله ! په لار کې یې د

مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

د شهادت مرتبه پیدا کړه ددې دنیا نه یې سفر وکړو.

توضیح : (تفلی رأسه) یعنې حضرت ام حرام بنت ملحان رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سر کې سپږې کتلې ، اول دا خبره زده کړه چې حضرت ام حرام رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعی خاله یا عمه . مخکې دا خبره په تفصیل سره لیکل شوې ده چې ام سلیم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او ام حرام رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دواړه انصاری ښځې وې، په مدینه منوره کښې هغوی د حضرت آمنې یا عبد الله صاحب سره شودې رودلې وې ، لهذا دغه ښځې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محارمو نه وې . د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جسم کښې به سپږې نه وې نو لټو یو شی دی او پیدا کیدل بل شی دی . (ثبج) د سمندر په مینځ کښې چې کومې غټې چپې وي او بې انتها اوبه وي هغې ته ثبج وایي ، مراد د سمندر سینه او مینځ دی. (او مثل الملوک) دا شک د راوی نه راغلی یعنې په داسې حال کښې به سوریږي لکه څنګه چې بادشاهان په خپلو تختونو باندې سوریږي . (فصرعت د سورلۍ نه غورځیدلو ته صرع ویل کیږي . (حین خرجت) یعنې د بحر سفر مکمل کولو باندې چې

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۶/۱۰ رقم الحديث ۲۷۸۸ ومسلم في صحيحه ۳/۱۵۱۸ رقم الحديث (۱۶۰، ۱۹۱۲)

ساحل ته راغله او په خپلې سورلۍ باندې سوره شوه نو د سورلۍ د ملا نه لاندې وغورځیده او شهیده شوه. د بحری کشتۍ چلولو او په بحر کښې د جهاد کولو ابتداء سیدنا حضرت معاویه رضي الله عنه کړې ده فرضي الله عنه وعنا وعن جميع الصحابة.

د حضور صلی الله علیه وسلم د فصاحت او بلاغت اثر

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ ضِمَادًا قَدِمَ مَكَّةَ وَكَانَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ
او ابن عباس رضي الله عنه وايي چې أَزْدِ شَنُوءَةَ سره تعلق لرونکی یو سړی چې د هغه نوم ضماد وو د
وَكَانَ يَرْقِيْ مِنْ هٰذَا الرِّيْحِ فَسَمِعَ سُفَهَاءَ أَهْلِ مَكَّةَ
مکې ته راغی هغه به د میرګو پیریانو لرې کولو دم چُف کوه هرکله چې هغه د مکې د بیوقوفانو د ژبې نه دا واوریدل
يَقُوْلُوْنَ إِنَّ مُحَمَّدًا مَجْنُوْنٌ فَقَالَ لَوْ أَنِّيْ رَأَيْتُ هٰذَا الرَّجُلَ
چې وائی محمد لیونی شوی دی نو هغه وویل که زه دا سړی یعني محمد وینم نو علاج به ئې
لَعَلَّ اللهَ يَشْفِيْهِ عَلٰى يَدَيَّ
او کړم شاید الله! زما په علاج سره هغه تیک کړی ابن عباس رضي الله عنه وائی دې نه روسته ضماد
قَالَ فَلَقِيَهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّيْ أَرْقِيْ مِنْ هٰذَا
رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې راغې او هغه وویل اې محمد صلی الله علیه وسلم! زه دم چُف په ذریعه
الرِّيْحِ فَهَلْ لَكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
میرګي پیریان لرې کوم که تاسو غواړئ نو زه د خپل دم چُف په ذریعه ستاسو علاج کوم حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل
إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ مَنْ يَّهْدِهِ اللهُ
تمام تعریفونه الله لره دی مونږ د هغه حمد او ثناء وایو او مدد غواړو هغه چې چاته نیغه لاره وښائی
فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ
هغه هیڅوک ګمراه کولې نه شي او څوک چه ګمراه کړی هغه ته څوک هدایت نه شي کولې
وَأَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ
او زه ګواهي ورکوم چې د الله نه ماسوا بل معبود نشته هغه ایک یو دې هیڅوک د هغه شریک نشته

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ أَمَّا بَعْدُ.

او زه ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله بنده او د الله رسول دې بیا ضما د دې نه روسته

فَقَالَ أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هٰؤُلَاءِ فَأَعَادَهُنَّ عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بې ساخته وویل چې دا جملې یو واری بیا زما په مخکې ارشاد او فرمایئ نبی علیه السلام دا جملې بیا دوبارد

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ

بلکې درې ځل ئې وفرمایلې ضماد وویل ما د کاهنانو اقوال اوریدلي دی ما د ساحرانو کلمات اوریدلي ما د

وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ فَمَا سَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هٰؤُلَاءِ وَلَقَدْ

شاعرانو اشعار اوریدلي دی لیکن قسم په الله تر ته ماستاسو د دې کلماتو په شان کلام نه دې اوریدلي حقیقت خو دا دې

بَلَغْنَ قَامُوْسَ الْبَحْرِ هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ

چې ستاسو دا کلمات د علم او کلام د دریاب انتهائي ژوروالي ته رسیدلي دی خپل لاس مبارک رامخکې کړئ زه د

عَلَى الْإِسْلَامِ قَالَ فَبَايَعَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

اسلام بیعت کوم، ابن عباس رضی الله عنه وائي ضماد د حضور صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک بیعت او کړو او مسلمان شو. [مسلم]

وَفِيْ بَعْضِ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ بَلَغْنَا نَاعُوْسَ الْبَحْرِ [1] وَذُكِرَ حَدِيْثَا

د مصابیح په بعضې نسخوکې د بلغن په ځای بلغنا دی او د قاموس البحر په ځای ناعوس البحر دې او

أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ يَهْلِكُ كِسْرٰى وَالْآخَرُ لَتَفْتَحَنَّ عِصَابَةٌ

حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت یهلک کسری الخ او د حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه روایت لفتحن عصابة الخ

فِيْ بَابِ الْمَلَاحِمِ.

باب الملاحم کې نقل شوي دی.

توضیح: ضماد: په ضاد باندې کسره او ضمه دواړه دي، میم ساکن دی، په یو روایت کښې ضمام دی د دغه شخص تعلق د یمن د یوې مشهورې قبیلې (ازدشنؤه) سره وو، دغه شخص د خپل وخت یو لوی طبیب او حکیم هم وو او د عملیاتو او دم چوب غټ ماهر هم وو، د اسلام نه مخکې د هغه د حضور صلی الله علیه وسلم سره معرفت هم وو، چې کله حضور صلی الله علیه وسلم ته نبوت ورکړی شو او دغه شخص مکې ته راغی نو اهل

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۲/۵۹۳ رقم الحديث (۴۶.۸۶۸) واحمد في المسند ۱/۳۰۲.

مکه هغه ته په غټې پرو پیګنډې سره ووېل چې (محمد) لیونی شوی دی ، نو ضماد ووېل کیدای شي هغه ته زما په دم و چوپ سره فائده ورسیږي ، په دغه غرض یې د حضور ﷺ سره ولیدل ، حضور اکرم ﷺ په مختصرو الفاظو سره د هغه په مخ کښې د الله تعالی په وحدانیت باندې مشتمله خطبه ولوسته ، د خطبې په اورېدو سره دغه کس د هشت زده حیران پاتې شو او مسلمان شو. **من هذا الريح**: د جناتو د اثراتو نه چې کومه مریضتیا راشي هغې ته ریح ویل کیږي او دا هم ممکنه ده چې پخپله جنات په ریح سره یادشوي وي ځکه چې جنات هم د هوا پشان چلیدونکی مخلوق دی چې د هوا پشان په نظرهم نه راځي .

قاموس البحر: په بحرکې چې چیرته زیاتې اوبه وي او ډېرلو نه زیات ژورمقام وي هغه زیاتو اوبو ته قاموس ویل کیږي هغه د بحر د بیخ حصه وي ، په هر حال قاموس د بحر مینځ ته ویل کیږي یعنې دغه کلمات په لفظي او معنوي فصاحت او بلاغت کښې د بحر هغه ژور والي ته رسیدلي دي چې د هغه نه زیات ژور والی هیڅ ځای نشته. **هات**: یعنې لاس اوږد کړه او ما مسلمان کړه ، چې په دغه وخت کښې ضمام مسلمان شو ، ملا علی قاری رحمه الله لیکلي چې د نبوت د زمانې نه مخکې ضمام د حضور اکرم ﷺ دوست وو .

وهذا الباب خال عن الفصل الثاني

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

دهرقل قصه

﴿۱۰﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبُوْ سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ مِنْ فِيْهِ إِلٰى فِيَّ
حضرت ابن عباس رضي الله عنه وایي ابوسفیان ابن حرب ماته مخامخ دا بیان وکړو چې د صُلح حدیبیه په
قَالَ انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِيْ كَانَتْ بَيْنِيْ وَ بَيْنَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
موده کې چې ځما او د حضور ﷺ په منځ کې وو ما سفر وکړو او په اتفاق سره هغه وقت هر کله چې
قَالَ فَبَيْنَا أَنَا بِالشَّامِ إِذْ جِيْءَ بِكِتَابٍ مِّنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
د رسول الله ﷺ نامه مبارکه هرقل د روم قیصر ته ورسیده زه د شام په ملک کې مقیم وم ابوسفیان
إِلٰى هِرَقْلَ قَالَ وَ كَانَ دِحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَآءَ بِهٖ فَدَفَعَهٗ إِلٰى
ووېل نامه مبارکه یعنې د اسلام د دعوت خط د حیه کلبي راوړی وه چې هغه د بُصرٰی حاکم ته ورسوی
عَظِيْمِ بُصْرٰى فَدَفَعَهٗ عَظِيْمُ بُصْرٰى إِلٰى هِرَقْلَ قَالَ هِرَقْلُ
او د بصرٰی حاکم هغه دعوت نامه د هرقل په خدمت کې پیش کړه هرقل پوښتنه وکړه آیا دلته دې سړی

هَلْ هَا هُنَا أَحَدٌ مِّنْ قَوْمِ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ

دقوم څوک سړی دلته شته کوم چې دخپل نبي کيدو دعوی کوي دهغه عملي ورته و نبودل هو د دي سړي دقوم سره تعلق لرونکی

قَالُوْا نَعَمْ فَدُعِيْتُ فِيْ نَفَرٍ مِّنْ قُرَيْشٍ

يو سړی شته چې دلته د تجارت په غرض راغلی دی نو زه د قريشو يو جماعت سره چې شل سړو باندې مشتمل وو د هرقل په

فَدَخَلْنَا عَلٰى هِرَقْلَ فَأُجْلِسْنَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ

درباکې طلب شوم کوم وقت چې مونږ هرقل ته ورسيدو نو مونږ د هغه مخکې کېنول شود ټولو نه مخکې هرقل پوښتنه

أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِّنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ قَالَ أَبُوْسُفْيَانَ

وکړه چې په تاسو کې څوک د دي سړي قريبي رشته دار شته کوم چې د نبوت مدعي دی ابوسفيان وويل

فَقُلْتُ أَنَا فَأَجْلَسُوْنِيْ بَيْنَ يَدَيْهِ

د دي سړي د ټولو نه قريبي رشته دار زه يم د دي نه روسته تنها زه د هرقل مخکې تخت شاهي ته قريب کېنول شوم

وَأَجْلَسُوْا أَصْحَابِيْ خَلْفِيْ ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهٖ

او څما ملګري څما شاته کېنول شول بيا هرقل خپل مترجم طلب کړو چې عربي او رومي دواړه ژبې يې پيژندې

فَقَالَ قُلْ لَّهُمْ إِنِّيْ سَائِلٌ هٰذَا عَنْ هٰذَا الرَّجُلِ الَّذِيْ يَزْعَمُ

او هغه ته يې وويل ته د دي سړي ابوسفيان ملګرو ته ووايه چې زه د ابوسفيان نه د هغه سړي حالات معلوم وم

أَنَّهُ نَبِيٌّ فَإِنْ كَذَبَنِيْ فَكَذِّبُوْهُ

چې د نبوت دعوی کوي که دې ابوسفيان ماته څه غلطه خبره وکړه نو تاسو خلق يې بې ترديد کوئ او ماته صحيح خبره وکړئ

قَالَ أَبُوْ سُفْيَانَ وَايْمُ اللهِ لَوْلَا مَخَافَةُ أَنْ يُّؤْثَرَ عَلَيَّ الْكَذِبُ لَكَذَبْتُهُ

د ابوسفيان بيان دی قسم په الله که دا خوف نه وی چې زه به دروغ کو مشهور شم نو يقيناً ما به د هرقل مخکې دروغ ويلي وو

ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهٖ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهٗ

د دي نه روسته هرقل خپل مترجم ته وويل چې ابوسفيان نه پوښتنه وکړه په ستاسو کې د دي سړي حَسب څرنګه دی؟

فِيْكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِيْنَاذُوْ حَسَبٍ. قَالَ

ابوسفيان وايي ما ورته وويل داسړی په مونږ کښې حَسب والادی بيا هرقل پوښتنه وکړه د دي

فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مِنْ مَلِكٍ؟ قُلْتُ لَا. قَالَ

سړي پلار نيکه کښې څوک بادشاه تير شوي دي ما ورته وويل هيڅ کله نه بيا هرقل پوښتنه وکړه اوس چې هغه څه وايي

فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُوْنَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَقُوْلَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا

دي نه مخکښې هم هغه چيرته داسي خبرې کړي وي چې تا سو دروغ گڼلي وي ما ورته وويل نه بيا

قَالَ وَمَنْ يَتَّبِعُهُ أَشْرَافُ النَّاسِ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ

هرقل پوښتنه وکړه د هغه اتباع کونکي او په هغه ايمان راوړونکي کوم خلق دي شرفاء يا کمزوري او ضعيف خلق؟

قَالَ قُلْتُ بَلْ ضُعَفَاءُهُمْ قَالَ

ابوسفيان وويل ما جواب ورکړو د هغه پيروي کونکي کمزوري او ضعيف خلق دي هرقل پوښتنه وکړه

يَزِيْدُوْنَ أَمْ يَنْقُصُوْنَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ

د دي سړي د تابعدار و تعداد ورځ په ورځ زياتيږي يا کميږي ابوسفيان وويل ما جواب ورکړو کميږي؟

يَزِيْدُوْنَ قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِّنْهُمْ

نه بلکه زياتيږي بيا هرقل پوښتنه وکړه د هغه په دين کښې داخليدو نه روسته کوم کس د هغه نه خفه کيدو

عَنْ دِيْنِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيْهِ سَخْطَةً لَهُ قَالَ قُلْتُ لَا

په وجه دين پريږدي هم که نه؟ ابوسفيان وويل ما جواب ورکړو نه هيڅوک د هغه دين نه پريږدي

قَالَ فَهَلْ قَاتَلْتُمُوْهُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ

بيا هرقل پوښتنه وکړه آيا تا سو خلق هغه سره جنگ کوئ ما جواب ورکړو هو، بيا هرقل پوښتنه وکړه هغه سره ستا سو د

كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُوْنُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُ

جنگ انجام څه وي ابوسفيان وويل ما جواب ورکړو څمونږ او د هغه په منځ کښې کېدونکي جنگ د

سِجَالًا يُصِيبُ مِنَّا وَ نُصِيبُ مِنْهُ قَالَ

دوو بوقو په شان وي کله مونږ هغه ته شکست ورکړو او کله هغه مونږ ته شکست راکړي بیا هرقل پوښتنه

فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِيْ هٰذِهِ الْمُدَّةِ

وکړه آیا هغه عهد شکني کوي ماورته وویل نه البته نن صبا څمونږ او د هغه په منځ کې چې

لَا نَدْرِيْ مَا هُوَ صَانِعٌ فِيْهَا قَالَ وَاللهِ مَا

کومه صلح ده د هغه باره کې نه شو ویلی چې د هغه نتیجه به څه وي ابوسفیان وایي قسم په الله

أَمْكَنَنِيْ مِنْ كَلِمَةٍ أُدْخِلُ فِيْهَا شَيْئًا غَيْرَ هٰذِهِ

صرف دا یوه خبره داسي وه چې ما د خپلو جذباتو لاندې علاوه بله څه خبره ما د خپل طرف نه ونه کړه

قَالَ فَهَلْ قَالَ هٰذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ

کړي وه ددي نه بهرحال بیا د هرقل سوال دا وو آیا داسي خبره دي نه مخکې هم چا کړي ده د مشهورو

قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ قُلْ لَهُ إِنِّيْ سَأَلْتُكَ

پیغمبرانو ما جواب ورکړو نه. نو هرقل هغه خپل مترجم ته وویل چې ته دې ابوسفیان ته ووایه چې

عَنْ حَسَبِهِ فِيْكُمْ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ فِيْكُمْ ذُوْحَسَبٍ

ما ستاسو په منځ کې ددي سړي د حَسب باره کښي ستا نه پوښتنه وکړه او تا وښودل چې هغه حسب

وَكَذٰلِكَ الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِيْ أَحْسَابِ قَوْمِهَا وَسَأَلْتُكَ

والا دی نو حقیقت دادی چې رسول او نبي د خپل قوم د اشرافو نه وي، بیا ما پوښتنه وکړه چې د هغه

هَلْ كَانَ فِيْ آبَائِهِ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَقُلْتُ

په پلرونو او نیکونو کې څوک بادشاه وو او تا وښودل چې هیڅوک نه نو ما خپل زړه کې وویل که

لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ رَجُلٌ

د ده پلرونو نیکونو کې څوک بادشاه تیر شوی وی نو ما به دا ګڼله چې دا هم یو داسي سړی دی چې

يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ وَسَأَلْتُكَ عَنْ أَتْبَاعِهِ

د خپل پلار نیکه د حکومت طالب دی بیا ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې د ده اتباع پیروي کوونکي

أَضْعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ

خلق د خپل قوم شرفاء خلق دي یا کمزوري او ضعیف؟ او تا وښودل چې کمزوري خلق د ده تابعدار

وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ كُنْتُمْ

دي نو حقیقت دا دی چې د پیغمبرانو تابعداران عام طور سره کمزوري او ضعیف خلق وي او ما ستا

تَتَّهِمُوْنَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ اَنْ يَقُوْلَ مَا قَالَ

نه پوښتنه کړې وه چې دا وخت هغه څه وایي دې نه مخکې آیا تاته د ده دروغ ویلو تجربه شوې ده ؟

فَزَعَمْتَ اَنْ لَّا فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى

او تا وښودل چې نه نو زه پوهه شوم چې دا ممکنه نده چې یو سړی دې خلقوته دروغ ویلو نه پرهیز

النَّاسِ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبَ عَلَى اللهِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ

کوي او د الله ! په نسبت دې دروغ وایي ما پوښتنه کړې وه چې د ده په دین کې داخلیدونکی

يَرْتَدُّ أَحَدٌ مِّنْهُمْ عَنْ دِيْنِهِ بَعْدَ أَنْ يَّدْخُلَ فِيْهِ سَخْطَةً

کله د ده نه خفه کېدو سره دا دین هم پریږدي ؟ او تا خو دلې وه چې نه نو د رحقیقت د ایمان دا حال دی

لَّهُ فَزَعَمْتَ اَنْ لَّا وَكَذٰلِكَ الْإِيْمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَتُهُ

چې هغه کله په زړونو کې ځای ونیسي او روح د هغه د لذت او حلاوت خوږوالي سره آشنا شي نو بیا

الْقُلُوْبَ وَ سَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيْدُوْنَ أَمْ يَنْقُصُوْنَ

هیڅ کله ترینه نه جدا کېږي او ما ستا نه پوښتنه کړې وه چې د دې سړي د ملګرو تعداد ورځ په ورځ

فَزَعَمْتَ أَنَّهُمْ يَزِيْدُوْنَ وَكَذٰلِكَ الْإِيْمَانُ حَتّٰى

زیاتیږي او که کمیږي تا وویل زیاتیږي نو په حقیقت کې دا د ایمان حال دی چې آخر تکمیل او اتمام

يَتِمَّ وَ	سَأَلْتُكَ	هَلْ	قَاتَلْتُمُوْهُ	فَزَعَمْتَ

ته رسي او ما ستا نه پوښتنه کړي وه چې آیا تاسو خلق د ده سره جنګ جګړه کوئ؟ او تا ویلي

أَنَّكُمْ	قَاتَلْتُمُوْهُ	فَتَكُوْنُ	الْحَرْبُ	بَيْنَكُمْ	وَبَيْنَهُ

وو هو جنګ ورسره کوو او د جنګ انجام د دوو بو قو په شان دی کله هغه تاسو ته مصیبت رسوئ

سِجَالًا	يَنَالُ	مِنْكُمْ	وَتَنَالُوْنَ	مِنْهُ	وَكَذٰلِكَ	الرُّسُلُ	تُبْتَلٰى

او کله تاسو هغه ته مصیبت رسوئ نو حقیقت دادی چې د رسولانو امتحان د غه شان اخستی شي

ثُمَّ	تَكُوْنُ	لَهَا	الْعَاقِبَةُ

لیکن آخري انجام رسولانو او د هغوئ تابعدار و ته کامله فتحه او نصرت حاصلیږي او د هغوئ دین

وَسَأَلْتُكَ	هَلْ	يَغْدِرُ	فَزَعَمْتَ	أَنَّهُ	لَا	يَغْدِرُ

خوریږي. او ما ستا نه پوښتنه کړي وه چې آیا داسړی عهد شکني؟ او تا جواب را کړی وو چې نه نو

وَكَذٰلِكَ	الرُّسُلُ	لَا	تَغْدِرُ	وَسَأَلْتُكَ	هَلْ	قَالَ	هٰذَا	الْقَوْلَ	أَحَدٌ

د غه شان رسولان دهوکه نه کوي او ما در نه پوښتنه کړي وه چا کړي ده یعني د نبوت دعوی یې کړي

قَبْلَهُ	فَزَعَمْتَ	أَنْ	لَا

ده؟ او تا جواب را کړی وو چې نه نو ما خپل په زړه کې وویل چې ستا په قوم کې د ده نه مخکې داسې

فَقُلْتُ	لَوْ	كَانَ	قَالَ	هٰذَا	الْقَوْلَ	أَحَدٌ	قَبْلَهُ	قُلْتُ

خبره که د ده نه مخکې چا د غه شان د نبوت دعوی کړې وی نو کېدی شي چې دا هم د مخکني سړي

رَجُلٌ	اِئْتَمَّ	بِقَوْلٍ	قِيْلَ	قَبْلَهُ	قَالَ	ثُمَّ	قَالَ

پیروي کې د غه شان دعوی کوي د ابوسفیان بیان دی ددې نه روسته هرقل زما نه پوښتنه وکړه بنه

بِمَا	يَأْمُرُكُمْ؟	قُلْنَا	يَأْمُرُنَا	بِالصَّلَاةِ	وَالزَّكَاةِ

داسړی تاسو ته د کومې خبرې حکم در کوي؟ ما ورته وویل هغه مونږ ته وایي چې مونځ کوئ زکات

وَالصِّلَةِ وَالْعَفَافِ قَالَ إِنْ يَّكُ مَا تَقُوْلُ

ورکوئ رشته دارو سره محبت او نیک سلوک کوئ او حرامو څیزونو نه بچ شئ هرقل وویل که ستا

حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ وَّقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ

بیان درست وي نو یقینًا دا سړی پیغمبر دی او ماته د مخکې نه معلومه وه چې په آخره زمانه کې

خَارِجٌ وَّلَمْ أَكُ أَظُنُّهُ مِنْكُمْ وَلَوْ

یو پیغمبر پیدا کېدونکی دی لیکن ځما دا خیال نه وو چې هغه به ستاسو په قوم کې پیدا کېږي که زه

أَنِّيْ أَعْلَمُ أَنِّيْ أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَأَحْبَبْتُ

پوهیدی چې زه به هغوئ ته ورسیږم نو د هغوئ په خدمت کې به حاضر شوی وی او ملاقات به مي

لِقَائَهُ وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ

ورسره کړی وو دا به زما د پاره د ټولو نه زیاته خوښوونکې خبره وه او که زه د هغوئ په خدمت کې

لَغَسَلْتُ عَنْ قَدَمَيْهِ وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ

حاضر شوی وی نو د هغوئ دواړه خپې به مي ینځلې وای او زه تاته بنایم چې د هغوئ د حکومت

مَا تَحْتَ قَدَمَيَّ ثُمَّ دَعَا

او اقتدار دائره به دي ځمکې د شام او روم ملک ته را ورسي کومه چې ځما د قدمونو لاندې ده بیا

بِكِتَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

هرقل د حضور صلی الله علیه وسلم خط مبارک را وغوښتلو او وې لوستلو.

قَدْ سَبَقَ تَمَامُ الْحَدِيْثِ فِيْ بَابِ الْكِتَابِ إِلَى الْكُفَّارِ.

او دا حدیث روسته باب الکتاب الی الکفار کې پوره نقل شوی دی.

توضیح : **حدثنی ابوسفیان:** ابوسفیان رضی الله عنه خپله دغه قصه د اسلام قبلولو نه وروسته د حضرت ابن عباس رضی الله عنه په مخ کې بیان کړې ده. ددې قصې پس منظر دا رنګه دی چې حضور صلی الله علیه وسلم د نبوت

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۱/۳۰ رقم الحديث ۶ ومسلم في صحيحه ۳/۱۳۹۳ رقم الحديث (۱۷۷۳.۷۳)

حاصلیدو نه وروسته دیارلس کاله په مکه کښې تیر کړل ، بیا هغه مدینې ته هجرت وکړلو ، په مدینه کښې د جهاد حکم راغی، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کفارو د بدر په مقام کې جنګ وکړلو ، جنګ احد ، جنګ خندق او ځو نور جنګونه یې وکړل ، په شپږم هجري کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عمرې کولو اراده وکړه مګر د حدیبیه په مقام باندې د قریشو کفارو هغه او د هغه سره یونیم زر صحابه کرام یې مکې ته د داخلیدلو نه منع کړل ، بیا د صلح حدیبیه په نوم د جنګ بندی یوه معاهده وشوه چې په هغې کښې دا ولیکل شول چې لس کاله به په خپل مینځ کښې جنګ نه کوو ، ددې صلحې په وجه چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل حجاز د جنګونو نه فارغه شو نو هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بهرنیو بادشاهانو په نومونو دعوتی خطونه ولیږل ، په دغه وخت کښې په دنیا باندې دوه لویو طاقتونو حکومت کولو ، یو د اهل فارس سپر طاقت وو چې په نیمه دنیا باندې قابض وو بل طرفته د روم د سلطنت طاقت وو چې په باقی نیمه دنیا باندې قابض وو ، د دوی دواړو په مینځ کښې به مسلح جنګونه کیدل ، په یو جنګ کښې د فارس والاؤ رومیانو ته شکست ورکړلو او هغوی یې تر تیټه کړل ، هرقل د خپل مرکز نه وتښتیده او پټ شو ، په دې موقع باندې هرقل نذر ومنلو چې کچیرې زه دوباره په خپلو علاقو باندې قابض شوم نو زه به د پیاده حج لپاره بیت المقدس ته ځمه ، نهه کاله بعد یو بل جنګ وشو چې په هغه کښې رومیان غالبه شول او فارس ته یې شکست ورکړلو ، هرقل د خپل نذر پوره کولو لپاره بیت المقدس ته راغلی وو چې په دغه دوران کښې هغه ته د نبی مکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعوتي خط ورسیده ، هغه د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په احوالو باندې پوهیدلو لپاره خپلو جاسوسانو ته وویل چې تاسو لږ معلومات وکړئ چې ددغه مدعی نبوت د قوم کوم کس که زمونږ علاقې ته راغلی وي نو هغه زما سره ملاؤ کړئ، په دغه وخت کښې ابوسفیان د خپلې قافلې سره د تجارت په غرض باندې بیت المقدس ته راغلی وو ، خلکو هغه د خپلو ملګرو سره د هرقل مخکې پیش کړلو ، هرقل د ابوسفیان نه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعلق تقریبا یوولس سوالونه وکړل ، ابوسفیان هم صحیح صحیح جوابونه ورکړل ، بیا هرقل د هغه په جواباتو باندې لږ تبصره وکړه ، هرقل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رشتینولی او د اسلام د حقانیت اعتراف وکړلو مګر مسلمان نشو ، په زیر بحث حدیث کښې د همدغه پس منظر تفصیلات دي .**سجال**: د کوهي نه د اوبو ویستلو په وخت بوکه کله تښه ځي او کله ډکه راځي ، همدغه مفهوم ته اشاره ده چې به جنګونو کې کله مونږ غالبه او کله هغه غالب راځي د **یصیب منا الخ** جمله د همدغه سجال د وضاحت لپاره ده . (**سخطة له**) یعنې په اسلام کښې د کوم عیب په پیدا کولو سره کوم کس مرتد شوی نه دی ، اګرچې د خپل غرض او لالچ لپاره ډیر خلک مرتد شوي دي .**لم اک اظنه منکم**: هرقل د سابقه آسمانی صحائفو عالم هم وو دا کس نجومی هم وو او د تاریخ نه واقف هم وو ، ویل کیږي چې د هغه سره د ټولو انبیاء کرامو تصویرونه وو او د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تصویر هم وو ، په دغه وجه هغه ویلې وو چې د یو پیغمبر راتلل باقی دي مګر دلته هرقل د یو ځه تعصب نه کار واخیستلو چې زما په خیال کښې دا نه وو چې دا به د عربو نه وي حالانکه هغه ته ښه معلومه وه چې نبی آخر الزمان به د بنی اسماعیل نه وي ، د عربو نه به وي او یا کیدلی شي چې د هغه خیال دا وو چې اکثر او بیشتر انبیاء د ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د اولاد نه په بنو اسرائیلو کښې راغلي دي نو نبی آخر الزمان به هم د هغوی نه راځي .

باب في المعراج
د معراج بیان

قال الله تعالی: ﴿سُبۡحَانَ الَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ لَيۡلٗا مِّنَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ إِلَى ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡأَقۡصَا ٱلَّذِي بَٰرَكۡنَا حَوۡلَهُۥ﴾ (بني اسرائیل) وقال الله تعالی: ﴿مَا كَذَبَ ٱلۡفُؤَادُ مَا رَأَىٰٓ﴾ (سورة النجم)

سریت من حرم لیلا الی حرم   کما سری البدر في داج من الظلم

وبت ترقی الی ان نلت منزلة   من قاب قوسین لم تدرک ولم ترم

د حضور ﷺ د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې چې کوم سفر شوی دی هغه ته (اسراء) ویل کیږي، د حضور ﷺ که فضائل وي یا د علامات نبوت سره متعلق واقعات وي یا د هغه معجزات وي د معراج ددې واقعې تعلق د تمامو مضامینو سره دی، چونکې د معراج واقعه د حضور ﷺ د زندګی لویه واقعه ده او د هغه د نبوت ممتاز باب دی په دغه وجه د تاریخ نه علاوه د احادیثو په کتابونو کښې محدثینو هم دا په ځانته حیثیت سره بیان کړی دی. ددې واقعې لپاره په احادیثو کښې دوه لفظه استعمال شوي دي یو لفظ د (اسراء) دی چې دا په قرآن کښې هم ذکر شوی دی، دویم لفظ (معراج) دی چې د هغه ذکر په احادیثو کښې شو کرته واقع شوی دی.

(اسراء) د سیر نه دی د شپې په ځمکه باندې سفر کولو ته ویل کیږي. د حضور ﷺ چې کوم سفر د مسجد حرام نه مسجد اقصی ته په شپه کښې شوی دی هغې ته اسراء ویل کیږي.

(معراج) د عروج نه دی عروج د ختلو په معنی سره دی، د مسجد اقصی نه تر آسمانونو او د آسمانونو نه تر لامکان پورې چې کوم سفر شوی دی هغه ته معراج وایي، په دې اطلاق کښې کومه قانوني یا شرعي پابندي نشته د یو لفظ په بل باندې اطلاق کیدلی شي البته دا شرعي مسئله ده چې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې د معراج واقعه د قرآن کریم نه ثابته ده ددې نه منکر کافر کیږي، او د مسجد اقصی نه تر بره پورې سفر د احادیثو نه ثابت دی چې منکر یې ګمراه او بدعتي کیږي. حضور اکرم ﷺ په حیات طیبه کښې په ډیرو معراجونو سره مشرف شوی چې په خوب کښې شوي دي لیکن جمهور امت په دې باندې متفق دی چې د کوم معراج ذکر په سورت بني اسرائیل کښې شوی هغه معراج په جسم عنصري سره په حالت دبیداری کښې شوی وو.

د حضور اکرم ﷺ عمر مبارک د ۵۱ یا ۵۲ کالو وو چې په مکه مکرمه کښې د کفارو د لاسونو نه هغه ټول تکلیفونه برداشت کړې وو، د انساني تصور نه بالاتر د مظالمو غرونه د قریشو کفارو په هغه باندې مات کړی وو، په شعب ابی طالب کښې تر درې کالو قید او بند او د سخت

بایکاټ د صعوبتونو برداشت کولو نه بعد حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې خاطر د طائف سفر وکړلو چې کله د طائف قبائلي سردار مسلمان شو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مسلمانان د مکې نه طائف ته منتقل کړي او د دغه رنګ به د مظالمو خاتمه وشي ، لیکن د طائف سردارانو د مکې د مشرانو نه د خوف په وجه د عربو د رواج برعکس انتهائي ظالمانه سلوک وکړلو ، د خبرو کولو نه يې انکار وکړلو او ماشومان او لیونیان یې په هغه پسې کړل او هغه یې په تیږو باندې ویشتلو .

خلاصه دا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ټولو لارو نه تیر شوی وو اوس د هغه ذات بابرکات د دې لپاره بلکل تیار شوی وو چې د احکم الحاکمین سره د راز او نیاز خبرې وشي ځکه چې کله د او سپنې نه د اعلی زیور جوړول مقصود وي نو دغه اوسپنه د ګرمو بټیو نه تیریږي ، روح انساني چې څومره د بدني اثراتو نه آزادیږي هماغومره د هغه پرواز اوچت وي .

د طائف د سفر نه په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د مصائبو انتهاء شوې وه ، چې کله د دنیا یو ادنی انسان د هغه سره د خبرو کولو نه انکار وکړلو نو الله تعالی هغه خپل طرفته وبللو تر څو هغه په ټولو رفعتونو ، عظمتونو او برکتونو سره ونازوي او دنیا والاؤ ته ووایي چې د کومې هستی سره چې تاسې خبرې کول نه غواړئ خالق کائنات په خپله د هغه سره همکلامه کیدل غواړي ، د راجح قول مطابق ۲۷/ رجب ۱۱سنه هـ کښې د حضور ﷺ د زندګی دغه عظیمه واقعه پیښه شوه او د مکې مکرمې نه حضور ﷺ د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ او میکائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ سره په براق باندې سور اول مسجد اقصی ته ورسیدو او د هغه ځای نه آسمانونو ته لاړلو او بیا د الله تعالی سره په لامکان کښې په عرش عظیم باندې همکلامه شو . په زیر بحث باب کښې ټول شپږ احادیث دي مګر بعضې ډیر اوږده دي په هغو کې په پوره تفصیل سره د معراج واقعه بیان شوې ده . په اوو اسمانونو کښې د کومو کومو انبیاؤ سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملاقات شوی دی د دې لپاره د (اعیاهما) الفاظ مد نظر ساتل پکار دي .

د دې جملې اول حرف چې د کوم نبی د نوم اول حرف وي د هغه نبی سره به په اول اسمان کښې ملاقات شوی وي ، همدارنګه د دې جملې دویم حرف چې د کوم نبی د نوم اول حرف وي د هغه نبی سره به په دویم آسمان کښې ملاقات شوی وي ، تر اووم آسمان پورې همدا ترتیب دی .

مثلا د دې جملې اول حرف الف دی نو په اول آسمان کښې د حضرت آدم علیه السلام سره ملاقات وشو چې د هغه د نوم اول حرف هم الف دی ، همدارنګه په دې جمله کې دویم حرف عین دی نو په دویم آسمان کې د حضرت عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ملاقات شوی دی چې د هغه د نوم اول حرف عین دی ، همدارنګه د دې جملې دریم حرف یاء ده نو په دریم آسمان کې د حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ملاقات شوی ، څلورم حرف الف دی نو په څلورم آسمان کې د حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ملاقات

شوی دی ، پنځم حرف هاء ده نو په پنځم آسمان کښې د حضرت هارون علیه السلام سره ملاقات شوی دی ، شپږم حرف میم دی نو په شپږم آسمان کښې د حضرت موسی علیه السلام سره ملاقات شوی دی ، د دې جملې اووم حرف الف دی او په اووم اسمان کښې د حضرت ابراهیم علیه السلام سره ملاقات شوی چې د هغه د نوم اول حرف الف دی . د معراج په شپږو حدیثونو کښې د دې باب اول حدیث چې د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او مالک بن صعصعه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مروی دی د ټولو نه زیات منضبط او مرتب دی د دغه حدیث په بنیاد باندې د (اعیاهما) جملې بنیاد دی .

د معراج په واقعه باندې د ملحدینو اعتراضات

د معراج په واقعې باندې قدیم ملحدینو فلاسفو هم اعتراضونه کړې وو جدید ملحدین فلاسفه او سائنسدانان هم اعتراضونه کوي ، یو څو اعتراضونه مع جوابات ملاحظه کړئ .

اعتراض نمبر ۱ : د معراج واقعه په جسم عنصری سره د بیدارۍ په حالت کښې نه وه لکه د خوب واقعه وه ، د جسد عنصری واقعه څنګه کیدلی شي حالانکه پاس طبقات زمهریریه او طبقات ناریه دي چې د هغو نه تیریدل محال دي .

جواب : دا اعتراض غلط دی ځکه که د معراج واقعه په خوب کې وی نو الله په قرآن کریم کښې په دومره لوی اهتمام سره ولې بیان کړه ؟ چنانچې ارشاد وشو چې (د هر قسم عجز او نقص نه پاک ذات د شپې په لږه حصه کښې خپل خاص بنده د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې بوتللو) په خوب کښې خو هر کس د دنیا د کونج کونج سفر کوي کله په بحرونو باندې پورې وځي او کله په هوا کښې پورته کیږي ، کله اسمانونو ته ځي کله په غرونو باندې خیژي په دې کښې د تعجب څه خبره وه او په دومره اهتمام سره یې د بیانولو څه ضرورت وو؟ او په دغه وخت کې د یو څو کچه عقیدو والا مسلمانانو د مرتد کیدلو څه خبره وه ؟ او په دې کښې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې ویلو څه ضرورت وو چې (**ثم اصبحت بمکة**) کچیرې دا د خوب معامله وی نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې نه کله غائب شوی وو چې بیا یې سهار په مکه کښې تیر کړو ؟ معلومه شوه چې دا جسمانی سفر وو چې په بیدارۍ کې وو چې د هغې په وجه اهل مکو د حد نه زیات شور وکړلو او دا خبره یقینی ده چې د خوب په واقعې باندې څوک تعجب نه کوي او نه د هغه په بحث کښې څوک پریوځي او نه د پریوتلو ضرورت وي ، دلته لفظ د عبد نه یوائې روح ته ویل کیږي او نه صرف بدن ته ویل کیږي بلکه د روح او بدن پر یوځای والی باندې د عبد د لفظ اطلاق کیږي ، باقی د طبقات ناریه او زمهریریه په اعتراض کښې اشاره کول هم غلط دي ځکه چې حضور اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرکاری اعزازی میلمه وو نو الله تعالی هغه د زمهریریه وغیره طبقاتو نه محفوظ تیر کړلو ، دا بې وزنه اعتراض د بې وزنه خلکو کار دی . په اعتراض نمبر ۳ کې ددې جواب راروان دی . د نن صبا په دې

ټیکنالوجی دور کې ددې اعتراض حیثیت ختم شوی دی اوس کفار هم وایي چې مونږ پاس سپوږمۍ ته ختلي یو .
اعتراض نمبر ۲ : په معراج باندې ملحدینو دویم اعتراض دا کړی دی چې دا پاس چې اسمان په نظر راځي دا اسمان نه دی بلکه نیلا رنګ دی چې د بعد مسافت په وجه سترګو ته آسمان معلومیږي چې کله اسمان نشته نو د معراج ټوله قصه نشته .
جواب : د ملحدینو دغه اعتراض هم غلط دی ځکه الله تعالی بار بار انسان په دغه علوی کائناتو کښې غور کولو ته متوجه کړی دی چې دا وګوره اسمان دی ، هغه وګوره ستوری او سپوږمۍ او لمر دي چې د الله تعالی د حکم مطابق چلیږي ، د آسمان اوچتوالي ته وګوره ! هیڅ څیریوالی پکښې نشته د هغه لپاره څه ستن نشته ، کچیرې دغه اسمان نه وي نو الله تعالی د غور کولو لپاره انسان کوم شي ته متوجه کړی دی ؟
همدارنګه که دا نیلا رنګ وي آسمان نه وي نو مونږ وایو چې ددې د پاسه آسمان دی ، ستاسو سره ددې د نفي لپاره کوم دلیل شته؟ د نن سبا په دې ماډرن دور کښې د ملحدینو دغه اعتراض هم ختم شوی بلکه اوس خو دغه ملحد پخپله د اسمان اعتراف کوي او هغه ته د تللو او اوسیدلو فضول خبرې هم کوي .
اعتراض نمبر ۳ : سائنس دانان وایي چې پاس آسمانونو ته هیڅوک تللی نشي ځکه چې په لاره کښې طبقه زمهریریه او طبقه ناریه ده یعنې د اور ګرمه او د واورې یخه طبقه ده ، که څوک لاړ شي هلته به مړ شي لهذا د معراج سفر ممکن نه دی .
جواب : الله تعالی د معراج د واقعې په ابتداء کې لفظ د (سبحان) راوړی دی یعنې هغه پروردګار چې د هر قسمه عجز او عیب او د هر قسم نقص او کمزورۍ نه پاک دی ، هغه چې څه وغواړي کولی یې شي . دویمه خبره دا ده چې نن یو کمزوری انسان د دغه طبقاتو نه د بچ کیدو لپاره داسې آلات او اسباب جوړ کړي دي چې د دوی په قول د دغو آلاتو په استعمالولو سره انسان د دغه طبقاتو نه په حفاظت سره تیریدلی شي ، کچیرې یو کمزوری مخلوق د خپلو آلاتو په ذریعه د دغو طبقاتو د مضر اثراتو نه بچ کیدلی شي نو د قادر مطلق بادشاه لپاره څه مشکل دي چې هغه خپل میلمه د دغو ټولو طبقاتو نه په حفاظت سره تیر کړي ! دا اعتراض هم د نن سبا په دور کښې مهمل پاتې شوی دی .
اعتراض نمبر ۴ : یو اعتراض چې د قدیم او جدید ملحدینو له طرفه د مخکې زمانې نه راروان دی هغه دا دی چې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې د ځمکې لار د یوې میاشتې مسافت دی او د ځمکې نه تر اسمان پورې د پنځه سوه کالو مسافت دی ، پاس د آسمانونو مسافت په زرهاؤ کلونه دی دومره لویه مسافه په یوه شپه کې څنګه طی کړی شوه دا ناممکنه ده ؟

جواب : د قديم زماني فلاسفو ليکلي دي چې د حرکت د تيزئ او سرعت سير لپاره هيڅ حد مقرر نه دی د هر سريع الحرکة شی نه بعد هم ممکنه ده چې د دينه هم د زيات تيز حرکت والا شی راشي ، د نن نه څو سوه کاله مخکې چې هوايي جهاز جوړ شوی نه وو د چا په تصور کښې نه راتلله چې دومره سريع الحرکة شی به راشي چې د هغه په ذريعه به په څو ساعتونو کې انسان د دنيا د يو کونج نه بل کونج ته په هوا لاړ شي ليکن نن د غه سفر مشاهده شوی دی او په طيارو کې هم د ترقئ د پاسه ترقی روانه ده او د حرکت تيزی د تيز نه تيزيږي، همدارنګه مونږ دې په خپل جسم کښې د ننه په خپلو سترګو باندې هم غور وکړو چې د هغو سفر څومره تيز دی په يو څو سيکنډو کښې د غه نظر تر آسمانه پورې هم ځي او واپس هم راځي، په يو څو سيکنډو کښې د الله تعالی ملائکه د آسمان نه دنيا ته راځي ! چې کله د الله تعالی په حکم سره ملائکه داسې کولی شي نو د صاحب معراج لپاره څه مشکل وو چې په يو څو لمحو کښې پاس آسمانونو ته لاړ شي خصوصا چې کله په خپله شاهی ميلمه هم وي ؟ په حديث کښې دي چې د حضور ﷺ سورلی دومره تيزه وه چې چيرته به د هغې نظر لګيده هلته به يې قدم هم لګيده ، همدارنګه د لمر شعاعګانو ته هم وګوره چې د آسمان نه ښکاره کيدلو سره په څو لمحو کښې د دنيا د کوم کونج نه تر کوم کونجه پورې رسيږي . همدارنګه د بجلئ د کرنټ نظام ته وګوره که په مشرق کښې د هغه بټن ووهلی شي نو بغير د کومې وقفې نه په مغرب کښې ګروپ روښانه کيږي ، همدارنګه د ريډيائي لاسلکی نظام مشاهده وکړه چې د مشرق نه مغرب ته بلا وقفه آواز رسيږي ! کچيرې د سرعت سير د غه شواهد زمونږ په مشاهده کښې شته نو بيا په دې کښې د شک کولو څه ګنجائش شته چې د سيد الاولين والاخرين په دغه مبارک سفر کښې دي د رفتار څه مشکل پيدا شي .په هر حال د يورپ او مغرب تعصب ته وګورئ چې کله يې د معراج د عظيمې معجزې او اعزاز نه انکار وکړلو نو د آسمانونو نه يې هم انکار وکړلو او د طبقات ناريه او طبقات زمهريريه مسائل يې راپورته کړل ، او چې کله يې د خپل مطلب خبره راغله نو په سپوږمۍ باندې يې د پلاټ اخيستلو منصوبې جوړې کړې :

فعين الرضا عن كل عيب كليلة ولكن عين السخط تبدي المساويا

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د معراج د واقعې تفصيل

﴿۱﴾ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ
حضرت قتادة تابعي رحمه الله د حضرت انس ابن مالک نه او هغه د حضرت مالک ابن صعصعه نه روايت کوی

أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ عَنْ لَيْلَةِ

کوي چې رسول الله ﷺ د اسراء او د معراج د شپې د احوالو او واقعاتو تفصیل صحابو رضي الله عنهم ته

أُسْرِيَ بِهِ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا فِي الْحَطِيمِ وَرُبَّمَا قَالَ فِي الْحِجْرِ

بیانولو سره وفرمائیل نن شپه زه په حطیم کې پروت وم او په بعضې موقعو حضور ﷺ حجر کې د

مُضْطَجِعًا إِذْ أَتَانِي آتٍ فَشَقَّ

پریوتو ذکر وفرمایلو چې اچانک یو راتلونکی یعنې فرشته ماته راغله او هغه ځما د جسم ددې ځاي

مَا بَيْنَ هٰذِهِ إِلٰى هٰذِهِ يَعْنِي مِنْ

نه دې ځاي پورې حصه وڅیرله راوي وایي ددې ځاي نه دې ځاي پورې د حضور ﷺ مراد د مرۍ

ثُغْرَةِ نَحْرِهِ إِلٰى شِعْرَتِهِ فَاسْتَخْرَجَ

د لاندې نه زیرِ ناف ویښتانو پورې حصه وه بیا حضور ﷺ وفرمائیل هغه فرشتې دا رنګه ځما سینې

قَلْبِي ثُمَّ أُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ مَمْلُوْءٍ إِيْمَانًا

شلولو سره ځما زړه را اوښکلو دې نه روسته ځما مخکې د سروزرو لګن راوړل شو چې د ایمان نه ډک

فَغُسِلَ قَلْبِي ثُمَّ حُشِيَ

وو او په هغه کې ځما زړه وینځل شو بیا ځما زړه د الله ! د عظمت او محبت یا د علم او ایمان ددولت

ثُمَّ أُعِيْدَ وَفِي رِوَايَةٍ

نه ډک کړل شو او بیا زړه په سینه کې پر خپل ځاي کېښودل شو او په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې

ثُمَّ غُسِلَ الْبَطْنُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ مُلِئَ إِيْمَانًا وَحِكْمَةً

ځما په خیټه کې دننه تمام څیزونه یا د زړه ځاي د زمزم په اوبو سره وینځل شو او هغه د ایمان او حکمت

ثُمَّ	أُتِيْتُ	بِدَابَّةٍ	دُوْنَ	الْبَغْلِ	وَفَوْقَ	الْحِمَارِ

نه ډک کړل شو دي نه روسته د سورلۍ يو حيوان راوستل شو چې د قچر نه کوچنی او د خره نه غټ وو

أَبْيَضُ	يُقَالُ	لَهُ	الْبُرَاقُ	يَضَعُ	خَطْوَهُ	عِنْدَ

دا حيوان د سپين رنګ وو او د هغه نوم بُراق وو او چې ترکومه ځايه پورې به د هغه نظر تلو دهغې

أَقْصٰى	طَرْفِهِ	فَحُمِلْتُ	عَلَيْهِ	فَانْطَلَقَ	بِيْ	جِبْرَئِيْلُ	حَتّٰى

پورې به هغه يو قدم ايښوی زه پر هغه سور شوم او جبرائيل) زه روان کړم تر دې پورې چې زه د

أَتَى	السَّمَاءَ	الدُّنْيَا	فَاسْتَفْتَحَ	قِيْلَ	مَنْ

دنيا آسمان ته ورسيدم جبرائيل د دروازې کولاولو غوښتل نو د پيره دارو فرشتو د طرف نه پوښتنه

هٰذَا	قَالَ	جِبْرَئِيْلُ	قِيْلَ	وَمَنْ	مَّعَكَ

وشوه چې څوک يې ؟ جبرائيل) وويل زه جبرائيل يم بيا پوښتنه وشوه او ستا سره څوک دی؟

قَالَ	مُحَمَّدٌ	قِيْلَ	وَقَدْ	أُرْسِلَ	إِلَيْهِ

جبرائيل جواب ورکړو محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی د دې نه روسته پوښتنه وشوه د دوئ بللو د پاره څوک ليږل

قَالَ	نَعَمْ	قِيْلَ	مَرْحَبًا	بِهِ

شوی وو جبرائيل جواب ورکړو بللو سره راغلی دی بيا هغه فرشتو وويل مونږ محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پخير

فَنِعْمَ	الْمَجِيْءُ	جَاءَ	فَفُتِحَ

راغلاست وايو راتلونکې ته دې راتلل مبارک وي د دې نه وروسته د آسمان دروازه کولاؤه شوه او

فَلَمَّا	خَلَصْتُ	فَإِذَا	فِيْهَا	آدَمُ	فَقَالَ

کوم وخت چې زه آسمان ته داخل شوم نو څه ګورم چې حضرت آدم) مخ ته ولاړ دی جبرائيل) وويل

هٰذَا أَبُوْكَ آدَمُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ
دا ستا پلار دہ تہ سلام وکړه ما حضرت آدم) تہ سلام وکړو هغوئ د سلام جواب راکړو او وې فرمایل
مَرْحَبًا بِالْإِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِيْ حَتّٰى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ
زه نیک ځوی او صالح پیغمبر ته پخیر راغی وایم د دې نه روسته جبرائیل زه پورته دوهم آسمان ته راوستم
فَاسْتَفْتَحَ قِيْلَ مَنْ هٰذَا قَالَ جِبْرَئِيْلُ
جبرائیل د دروازې کولاول وغوښتل نو پوښتنه وشوه څوک دی؟ جبرائیل) وویل زه جبرائیل یم
قِيْلَ وَمَنْ مَّعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيْلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ
بیا پوښتنه وشوه تا سره څوک دی؟ هغه وویل محمد دی بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟
قَالَ نَعَمْ قِيْلَ مَرْحَبًا بِهٖ
جبرائیل وویل هو بیا پهره دار فرشتو وویل مونږ محمد ته پخیر راغلی وایو راتلونکې ته دې
فَنِعْمَ الْمَجِيْءُ جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ
راتلل مبارک وي دې نه روسته د آسمان دروازه کولاؤه شوه کوم وخت چې زه په آسمان کې داخل شوم نو چې
إِذَا يَحْيٰى وَعِيْسٰى وَهُمَا ابْنَا الْخَالَةِ قَالَ
گورم حضرت یحیٰی عَلَیْہِ السَّلَامُ) او حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَامُ) ولاړ دي چې یو د بل خاله زاد ورونه وو جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَامُ وویل
هٰذَا يَحْيٰى وَ هٰذَا عِيْسٰى فَسَلِّمْ عَلَيْهِمَا فَسَلَّمْتُ فَرَدَّا
دا یحییٰ عَلَیْہِ السَّلَامُ دی او دا عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَامُ دی دوئ ته سلام وکړه ما دواړو ته سلام وکړی او دواړو ځما د سلام جواب راکولو سره
ثُمَّ قَالَا مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِيْ
وویل نیک بخت ورور او پیغمبرِ صالح ته مونږ پخیر راغلاست وایو د دې نه روسته جبرائیل زه

إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَاسْتَفْتَحَ قِيْلَ مَنْ هٰذَا

آخستو سره پورته بوتلم او دریم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو د پاره وویل نو پوښتنه وشوه څوک دی؟

قَالَ جِبْرَئِيْلُ قِيْلَ وَمَنْ مَّعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ

جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ) وویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوک دی؟ هغه وویل محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی

قِيْلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيْلَ

بیا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل وویل هو بیا پیره دار فرشتو وویل مونږ محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته

مَرْحَبًا بِهٖ فَنِعْمَ الْمَجِيْءُ جَاءَ فَفُتِحَ

پخیر راغلاست وایو راتلونکي ته دي راتلل مبارک وي، دي نه روسته د آسمان دروازه کولاؤه شوه

فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يُوْسُفُ قَالَ

زه چې په دریم آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ مخ ته ولاړ دی جبرائیل وویل

هٰذَا يُوْسُفُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ

دا یوسف دی ده ته سلام وکړه ماهغه ته سلام ووایه هغه ځما د سلام جواب راکولو سره وویل

مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِيْ

زه نیک بخت ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلئ وایم دي نه روسته جبرائیل زه پورته بوتلم

حَتّٰى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ فَا سْتَفْتَحَ قِيْلَ مَنْ هٰذَا قَالَ

او څلورم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو د پاره وویل نو پوښتنه وشوه څوک دی؟ جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ)

جِبْرَئِيْلُ قِيْلَ وَ مَنْ مَّعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيْلَ

وویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوک دی؟ هغه وویل محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی بیا پوښتنه وشوه

وَ قَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيْلَ مَرْحَبًا بِهِ

دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائيل ووئيل هو بيا پيره دارو فرشتو ووئيل مونږ محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پخير راغلي وايو

فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا

راتلونکې ته دي راتلل مبارک وي دي نه روسته د آسمان دروازه کولاؤه شوه او کله چې زه څلورم

خَلَصْتُ فَإِذَا إِدْرِيْسُ فَقَالَ هٰذَا إِدْرِيْسُ

آسمان کې داخل شوم نو حضرت ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ) مخ ته ولاړ دی جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ) ووئيل دا ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ) دی

فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ

ده ته سلام وکړه ما هغه ته سلام وکړو او هغه ځما د سلام جواب راکولو سره ووئيل زه نيک ورور او پيغمبر صالح

وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِيْ حَتّٰى أَتَى السَّمَاءَ الْخَامِسَةَ

ته پخير راغلی وايم د دې روسته جبرائيل پورته بوتلم او پنځم آسمان ته راغلو هغه دروازه کولاؤولو

فَاسْتَفْتَحَ قِيْلَ مَنْ هٰذَا قَالَ جِبْرَئِيْلُ قِيْلَ

د پاره ووئيل نو پوښتنه وشوه څوک دی؟ جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ) ووئيل زه جبرائيل يم بيا پوښتنه وشوه

وَمَنْ مَّعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيْلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ

تا سره څوک دی؟ هغه ووئيل محمد دی بيا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ووئيل هو

قِيْلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ

بيا پيره دارو فرشتو ووئيل مونږ محمد ته پخير راغلی وايو راتلونکې ته دي راتلل مبارک وي دي نه روسته

جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا هَارُوْنُ

د آسمان دروازه کولاؤه شوه زه چې پنځم آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ) مخ ته ولاړ دی

قَالَ	هٰذَا	هَارُوْنُ	فَسَلِّمْ	عَلَيْهِ	فَسَلَّمْتُ	عَلَيْهِ	فَرَدَّ

جبرائیل وویل دا هارون دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته سلام وکړو او هغه ځما د سلام جواب را کولو سره

ثُمَّ	قَالَ	مَرْحَبًا	بِالْأَخِ	الصَّالِحِ	وَالنَّبِيِّ.	الصَّالِحِ	ثُمَّ	صَعِدَ	بِيْ

وویل زه نیک بخت ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلی وایم ددي نه روسته جبرائیل زه پورته بوتلم

حَتّٰى	أَتَى	السَّمَاءَ	السَّادِسَةَ	فَاسْتَفْتَحَ	قِيْلَ	مَنْ	هٰذَا	قَالَ جِبْرَئِيْلُ

شپږم آسمان ته راغلو هغه دروازې کولا وول غوښتل نو پوښتنه وشوه څوک دی؟ جبرائیل)

قِيْلَ	وَمَنْ	مَّعَكَ	قَالَ	مُحَمَّدٌ	قِيْلَ	وَقَدْ

وویل زه جبرائیل یم بیا پوښتنه وشوه تا سره څوک دی؟ هغه وویل محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دی بیا پوښتنه وشوه دوئ

أُرْسِلَ	إِلَيْهِ	قَالَ	نَعَمْ	قَالَ	مَرْحَبًا بِهٖ

راغوښتل شوي دي؟ جبرائیل وویل هو بیا پیره دارو فرشتو وویل مونږ محمد ته پخیر راغلی وایو

فَنِعْمَ	الْمَجِيْءُ	جَاءَ	فَفُتِحَ	فَلَمَّا

راتلونکې ته دي راتلل مبارک وي دي نه روسته د آسمان دروازه کولا ؤه شوه کوم وقت چې شپږم

خَلَصْتُ	فَإِذَا	مُوْسٰى	قَالَ	هٰذَا مُوْسٰى

آسمان کې داخل شوم نو چې ګورم حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَامُ) ځما مخ ته ولاړ دی جبرائیل وویل دا موسیٰ) عَلَیْهِ السَّلَامُ

فَسَلِّمْ	عَلَيْهِ	فَسَلَّمْتُ	عَلَيْهِ	فَرَدَّ	ثُمَّ	قَالَ

دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته سلام ووایه هغه ځما د سلام جواب را کولو سره وویل زه نیک بخت

مَرْحَبًا	بِالْأَخِ	الصَّالِحِ	وَ النَّبِيِّ	الصَّالِحِ	فَلَمَّا	تَجَاوَزْتُ

ورور او پیغمبر صالح ته پخیر راغلی وایم ددي نه روسته چې زه مخکې روان شوم نو

بَکٰی قِيْلَ لَهٗ مَا يُبْكِيْكَ قَالَ أَبْكِي لِاَنَّ غُلَامًا بُعِثَ بَعْدِيْ

حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ) په ژړا شو پوښتنه وشوه ته ولې ژاړې؟ حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ وويل يو ځلمی چې زما نه روسته

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهٖ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِيْ

رسول دنيا ته رالېږل شوی دی د هغه د امت خلق ځما د امت د خلقو نه ډير زيات په جنت کې داخلېږي ،

ثُمَّ صَعِدَ بِيْ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ

بهرحال شپږم آسمان نه تيريدو سره جبرائيل زه پورته بوتلم او اووم آسمان ته راغلو هغه دروازې

فَاسْتَفْتَحَ جِبْرَئِيْلُ قِيْلَ مَنْ هٰذَا قَالَ جِبْرَئِيْلُ قِيْلَ

کولاوول غوښتل نو پوښتنه وشوه څوک دی ؟ جبرائيل) وويل زه جبرائيل يم بيا پوښتنه وشوه

وَمَنْ مَّعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيْلَ وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ

تا سره څوک دی؟ هغه وويل محمد دی بيا پوښتنه وشوه دوئ راغوښتل شوي دي؟ جبرائيل وويل

نَعَمْ قِيْلَ مَرْحَبًا بِهٖ فَنِعْمَ الْمَجِيْءُ جَاءَ

هو بيا پيره دارو فرشتو وويل مونږ محمد ته پخير راغلی وايو راتلونکې ته دې راتلل مبارک وي

فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا إِبْرَاهِيْمُ قَالَ هٰذَا

دې نه روسته د آسمان دروازه کولاوه شوه او زه اووم آسمان کې داخل شوم نو چې گورم حضرت

أَبُوْكَ إِبْرَاهِيْمُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ

ابراهيم ځما مخ ته ولاړ دی جبرائيل) وويل دا ستا پلار ابراهيم دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته

السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ: مَرْحَبًا بِالْاِبْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ

سلام وکړو هغوئ د سلام جواب راکولو سره وويل زه نيک بخت ځوی او نبي صالح ته پخير راغلی

ثُمَّ	رُفِعْتُ	إِلَى	سِدْرَةِ	الْمُنْتَهَى	فَإِذَا	نَبِقُهَا		

وایم دینه پس زه سدرة المنتهٰی ته ورسول شوم ما ولیدل چې د هغه میوې یعنې بیرې د مقام هجر د

مِثْلُ	قِلَالِ	هَجَرَ	وَإِذَا	وَرَقُهَا	مِثْلُ	آذَانِ	الْفِيَلَةِ	قَالَ

لویو لویو منګیو برابرې وې او د هغه پاڼې د فیل د غوږونو برابرې وې جبرائیل) هلته رسیدو سره وویل

هٰذَا	سِدْرَةُ	الْمُنْتَهَى	فَإِذَا	أَرْبَعَةُ	أَنْهَارٍ	نَهْرَانِ	بَاطِنَانِ	وَنَهْرَانِ

دا سدرة المنتهٰی ده ماهلته څلور نهرونه ولیدل دوه نهرونه خو د باطن وو او دوه نهرونه د

ظَاهِرَانِ	قُلْتُ	مَا	هٰذَانِ	يَا	جِبْرَئِيلُ	قَالَ	أَمَّا	الْبَاطِنَانِ

ښکاره وو ماپوښتنه وکړه ای جبرائیل) ! دا دوه نهرونه څرنګه دي؟ جبرائیل وویل دا د باطن دوه

فَنَهْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالْفُرَاتُ ثُمَّ رُفِعَ لِيَ الْبَيْتُ الْمَعْمُورُ

نهرونه د جنت دي او دا دوه ښکاره نهرونه نیل او فرات دي ، بیا ماته بیت المعمور وښودل شو او

ثُمَّ	أُتِيتُ	بِإِنَاءٍ	مِنْ	خَمْرٍ	وَإِنَاءٍ	مِنْ	لَبَنٍ	وَإِنَاءٍ	مِنْ	عَسَلٍ

ددې نه روسته یوه پیاله د شرابو یوه د شودو او یوه پیاله د عسلو ځما مخ ته راوړل شوه او ماته اختیار

فَأَخَذْتُ	اللَّبَنَ	قَالَ	هِيَ	الْفِطْرَةُ

راکړی شو چې دې درې واړو کې کومه پیاله دې خوښه وي هغه واخله نو ما د شودو پیاله واخسته

أَنْتَ	عَلَيْهَا	وَأُمَّتُكَ	ثُمَّ

جبرائیل وویل شودو فطرت دی او یقیناً ته او ستا د امت خلق به په دې فطرت قائم وي ددې نه روسته

فُرِضَتْ	عَلَيَّ	الصَّلَوَاتُ	خَمْسِينَ	صَلَاةً	كُلَّ	يَوْمٍ

هغه مقام راغلي چې هلته په ما باندې په یوه ورځ او شپه کې پنځوس مونځونه فرض شوه بیا چې د

فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلٰى

ملاء اعلی سفر تمام شو او ووم آسمان باندې حضرت ابراهیم) نه رخصت کیدو سره شپږم آسمان

مُوْسٰى فَقَالَ بِمَا أُمِرْتَ قُلْتُ

باندې حضرت موسیٰ ته راغلم هغه پوښتنه وکړه تا ته د کوم عبادت حکم شوی دی ما ورته وښودل

أُمِرْتُ بِخَمْسِيْنَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ

په شپه او ورځ کې د پنځوسو مونځو نو حکم راته شوی دی حضرت موسیٰ) وویل ستا امت

لَا تَسْتَطِيْعُ خَمْسِيْنَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّيْ وَاللهِ قَدْ جَرَّبْتُ

به په شپه او ورځ کې پنځوس مونځونه به ادا نه کړي قسم په الله ما ستا سو نه مخکې خلق آزمائیلي

النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ

دي او د بني اسرائیلو د اصلاح او درستی سخت ترین کوشش مي کړی دی لیکن د هغوئ اصلاح و نه

أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ فَارْجِعْ

شوه باوجود د دي چې د هغوی زیات مضبوط وو ستا د امت نه نو ستا امت به څرنګه برداشت کړي

إِلٰى رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ لِأُمَّتِكَ

ته خپل پروردګار ته او لاړ شه او د خپل امت په حق کې د تخفیف او آسانی درخواست وکړه نو زه د

فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّيْ عَشْرًا

خپل پروردګار بارګاه کې دوباره حاضر شوم او ځما پروردګار ځما عرض او ریدو باندې لس مونځونه

فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى فَقَالَ مِثْلَهُ

کم کړل بیا حضرت موسیٰ) ته راغلم لیکن هغه بیا هغه وویل څه چې یې مخکې ویلي وو نو زه

فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّيْ عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى

دوباره بارګاه خداوندي کې حاضر شوم ځلو ېښتو نه لس مونځونه نور هم کم شوه بیا حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقَالَ مِثْلَهٗ. فَرَجَعْتُ

ته راغلم هغه بیا هغه وویل څرنګه چې یې مخکې ویلي وه نو زه بارګاه خداوندي کې حاضر شوم

فَوَضَعَ عَنِّيْ عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى فَقَالَ مِثْلَهٗ

او دیرشو نه لس مونځونه کم شول بیا زه حضرت موسٰی) ته راغلم هغه بیا هغه وویل څه چې یې

فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّيْ عَشْرًا فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ

مخکې ویلي وونوزه بارګاه خداوندي کې حاضر شوم نو شلو نه دلسو مونځونو حکم وشو په هره

يَوْمٍ فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى فَقَالَ مِثْلَهٗ فَرَجَعْتُ

ورځ کې بیا حضرت موسٰی ته راغلم هغه بیا هغه وویل څنګه چې یې مخکې ویلي وه نو زه بارګاه

فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ فَرَجَعْتُ

خداوندي کې حاضر شوم او د لسو نه آخر د پنځو مونځونو په شپه او ورځ کې د کولو حکم وشو بیا زه

إِلٰى مُوْسٰى فَقَالَ بِمَا أُمِرْتَ قُلْتُ أُمِرْتُ

حضرت موسٰی ته راغلم هغه پوښتنه وکړه اوس درته څه حکم شوی دی ما ورته وویل اوس ما ته په

بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ إِنَّ

شپه او ورځ کې د پنځو مونځونو حکم شوي دي حضرت موسٰی) وویل حقیقت دادی چې ستا د

أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيْعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّيْ قَدْ جَرَّبْتُ

امت اکثره خلق به په پوره پابندۍ سره شپه او ورځ کې پنځه مِونځه هم ونه کړي ما ستا سو نه مخکې

النَّاسَ	قَبْلَكَ	وَعَالَجْتُ	بَنِيْ	إِسْرَائِيْلَ	أَشَدَّ	الْمُعَالَجَةِ	
خلق آزمائيلي دي او د بني اسرائيلو د اصلاح او درست كيدو سخت كوشش مي كړى دى نو ته خپل							
فَارْجِعْ	إِلٰى	رَبِّكَ	فَسَلْهُ	التَّخْفِيْفَ	لِأُمَّتِكَ		
پروردګار ته ورشه او خپل د امت د پاره پنځه مونځونو كې هم د تخفيف درخواست وكړه حضور ﷺ							
قَالَ	سَأَلْتُ	رَبِّيْ	حَتّٰى	اسْتَحْيَيْتُ			
وفرمائيل ما بيا بيا خپل رب ته د تخفيف سوال كړى دى اوس ما ته شرم راځي زه د خپل پروردګار							
وَلٰكِنِّيْ	أَرْضٰى	وَأُسَلِّمُ	قَالَ	فَلَمَّا	جَاوَزْتُ	نَادٰى	
دا حكم په رضا او رغبت سره قبلوم حضور ﷺ فرمايي حضرت موسٰى سره دي ګفتګو نه روسته چې							
مُنَادٍ	أَمْضَيْتُ	فَرِيْضَتِيْ					
زه د هغه ځاي نه رخصت شوم نو د الله ! د طرف نه دا اواز راغی ما مخكې خو خپل فرض جاري كړل							
وَ	خَفَّفْتُ	عَنْ	عِبَادِيْ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.[1]		
بيا د خپل خوږ رسول د پخاطر د پاره د خپلو بندګانو په حق كې مي تخفيف وكړو . [بخاري مسلم]							

توضيح: (البراق) د رنګ پړقيدو په وجه ورته براق ويل كيږي يا د تيز رفتار په وجه ورته براق ويل شوى دى ، په پاكستان كښې په بعضو موټرو او نورو مقاماتو كښې يو تصوير وي چې د هغه عام جسم د آس پشان دى مګر د هغه لپاره وزرشته او د هغه سر د يوې ماډرن جينۍ دى ، په دغه حيوان باندې ليكل شوي وي (براق النبى ﷺ) كومو خلكو چې دغه تصوير جوړ كړى دى هغوى د كبيره ګناه ارتكاب كړى دى ، دغو بدبختانو د يوې ماډرن جينۍ تصوير جوړولو سره دا تأثر وركړى دى چې د مسلمانانو نبى به دغه قسم سفر اختيارولو حال دا چې يو عام شريف انسان هم دغسې سورلي استعمالولى نشي .

(ناستفتح) ددې سوال او جواب نه معلومه شوه چې په آسمانونو باندې ډيره سخته پيره ده ! كوم

---

(۱) اخرجه البخارى فى صحيحه ۷/۲۱۰ رقم الحديث ۳۸۸۷ ومسلم في صحيحه ۱/۱۵۱ رقم الحديث (۱۶۴.۲۶۵)

کفار چې دا وايي چې مونږ د آسمان نه پاس تلي يو يا تلل غواړو دا ټول دروغ وايي . (عیسی و یحیی) په آسمانونو کښې او همدارنګه په مسجد اقصی کښې چې دحضور ﷺ ملاقات د کومو پیغمبرانو سره شوی دی دا ټول د جسم مثالی سره وو ، صرف حضرت عیسی علیه السلام په خپل اصلی جسم سره وو چې په دویم آسمان باندې ورسره یوځای شوی وو . (بکی) د حضرت موسی علیه السلام ژړل د کوم حسد یا عداوت په وجه سره نه وو بلکه د شفقت په وجه دغه بې اختیاره ژړا هغې نقشې ته په کتلو سره وه او د هغه پس منظر مخې ته په راتللو سره وه چې د حضرت موسی علیه السلام څومره زيات محنتونه وو او د قوم يې څومره اوږده عمرونه وو مګر بيا هم د هغه منونکي کم وو او د حضور اکرم محمد عربی ﷺ منونکي زيات وو .

غلام دا الفاظ د تحقير لپاره نه دی بلکه د هر نوجوان لپاره دغه الفاظ استعمالیږي . (خمسین صلوة) اول پنځوس لمونځونه فرض شول مګر په هغو باندې د عمل کولو نه مخکې د هغو حکم منسوخ شو البته د ثواب په اعتبار سره هماغه پنځوس اوس هم باقی دي ، په څمکه باندې پنځه دي په اسمان کښې پنځوس دي .

عالجت بنی اسرائیل: معالجه د مزاوله او ممارسة نه دی ، د اصلاح په غرض د آزمایلو او مشقت پورته کولو په معنی سره دی یعنې ما د بنی اسرائیلو سره د اصلاح په غرض سخت کوشش وکړو ، هغوی مې سخت امتحان کړل مګر هغوی د زياتو طاقت پيدا نکړلو نو ستا امت به يې څنګه طاقت راوړي .

فوضع عشرا: سوال دا دی چې په عامو او مشهورو روایاتو کښې د پنځو پنځو لمونځونو د کمولو ذکر دی دلته د لسو لسو کمولو ذکر دی او دا تعارض دی. ددې جواب دا دی چې د اختصار لپاره د لسو لفظ ذکر شوی دی مراد پنځه پنځه دي یعنې دوه کرته پنځه پنځه کمولو ته لس ویلی شوي دي لکه په يو روايت کښې د شطرا لفظ هم راغلی دی د هغه نه هم پنځه مراد دي ، اوس سوال دا دی چې کله د الله تعالی په نزد باندې د ۴۵ لمونځونو کمول او معاف کول وو نو يو ځل يې ولې کم نکړل ، حضور ﷺ نهه ځله تګ راتګ ولې وکړلو ؟

ددې جواب دا دی چې شاید د بار بار ملاقات لپاره دا يو بهترين تدبير وو لکه د اصل معراج او ملاقات نه وروسته نهه ځلې اضافه ملاقات وشو ، او حضور ﷺ په خپله تشريف يوړلو ، ملائکه يې واسطه جوړه نکړه ، يو شاعر ښه ويلي :

میں نے کہا میں خود جاؤں کہ نکلے مطلبِ دل کچھ نہ کچھ   میرا جانا اور ہے قاصد کا جانا اور ہے

امضیت فریضتی: یعنې ما خپله فريضه په خپلو بندګانو باندې فرض کولو سره جاری کړې وه ليکن

خپل نبی په طفیل باندې مې په خپلو بندګانو باندې تخفیف وکړلو ، اوس په آسمانونو کښې د ثواب په لحاظ سره دا پنځوس لمونځونه دي او د اداء کولو په اعتبار سره پنځه دي . اوس دلته سوال دا دی چې د لمونځونو د کمولو تعلیم او راهنمایي حضرت موسی علیه السلام څنګه وکړه حالانکه د حضور ﷺ درجه لویه ده هغه ته په خپله دا احساس ولې ونشو؟

:دې جواب دا دی چې حضور اکرم ﷺ په انوارات الهیو کښې مستغرق وو لهذا د محبوب له طرفنه چې څه ملاؤ شول هغه یې بلاچون او چرا قبول کړل او په حضرت موسی علیه السلام باندې دغه استغراقی کیفیت نه وو په دغه وجه هغه دا راهنمایي وکړه ، همدارنګه د هغه واسطه د خپل امت بنی اسرائیلو سره راغلې وه ، هغه ته د الله تعالی د مخلوق عملی تجربه حاصله شوې وه په دغه وجه یې راهنمایي وفرمایله .

د معراج د واقعې نور تفصیل

﴿۲﴾ وَعَنْ ثَابِتٍ نِ الْبُنَانِيِّ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ثابت بناني تابعي رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت کوي چې رسول کریم ﷺ

قَالَ أُتِيْتُ بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيْلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ

وفرمائیل څما مخکښې براق راوستل شو چې د یو سپین رنګ اوږد قد والاحیوان وو د خره نه غټ او د

وَدُوْنَ الْبَغْلِ يَضَعُ حَافِرَهُ عِنْدَ مُنْتَهٰى طَرْفِهِ

قچر نه ورکوټی وو ترکومه ځایه چې د هغه نظر رسیده ترهغه ځایه د هغه یو قدم راتلو زه په هغه

فَرَكِبْتُهُ حَتّٰى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمُقَدَّسِ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ

سور شوم او بیت المقدس ته راغلم او ما هغه براق د مسجد په دروازه کې د هغه حلقې سره وتړه چې

الَّتِيْ يَرْبِطُ بِهَا الْأَنْبِيَاءُ قَالَ ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ

مخکښې به په هغه پوري انبیاؤ خپل براقونه یا دا براق تړه حضور ﷺ وفرمائیل بیا زه مسجد اقصیٰ

فَصَلَّيْتُ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِيْ جِبْرَئِيْلُ

ته داخل شوم او دوه رکعاته مونځ مي وکړو بیا زه د مسجد نه بهر را ووتم او جبرائیل) څما

إِنَاءٍ	مِنْ	خَمْرٍ	وَ	إِنَاءٍ	مِنْ	لَبَنٍ	فَاخْتَرْتُ	اللَّبَنَ	فَقَالَ جِبْرَئِيْلُ

خکې يوه پياله د شرابو او يوه پياله د پيو راوړله ماچې د پيئو پياله واخسته نوجبرائيل) ووېل

اخْتَرْتَ	الْفِطْرَةَ	ثُمَّ	عَرَجَ	بِنَا	إِلَى	السَّمَاءِ

تا سو فطرت اختيار کړو او بيايې مونږ آسمان طرف ته وخيژولو ددې نه روسته حضرت انس رضي الله عنه د

وَ	سَاقَ	مِثْلَ	مَعْنَاهُ	قَالَ	فَإِذَا	أَنَا

حديث هغه مضمون بيانولو سره چې په مخکې حديث کې تير شو ووېل چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل ما

بِآدَمَ	فَرَحَّبَ	بِيْ	وَدَعَا	لِيْ	بِخَيْرٍ وَقَالَ

حضرت آدم) وليدو هغوئ مرحبا هرکلي ووايه او زما د پاره يې دعائي خير وکړله بيا حضور صلى الله عليه وسلم

فِي	السَّمَاءِ	الثَّالِثَةِ	فَإِذَا	أَنَا بِيُوْسُفَ	إِذَا	هُوَ	قَدْ	أُعْطِيَ

د دوهم آسمان ذکر کولو سره وفرمائيل هلته ما حضرت يوسف) اوليدلو چې هغه ته نيم حسن

شَطْرَ	الْحُسْنِ	فَرَحَّبَ	بِيْ	وَدَعَالِيْ	بِخَيْرٍ

ورکړې شوی وو هغه هم ماته مرحبا سترې مشي ووېله او زما د پاره يې د خير دعاء وکړه راوي يعني

وَلَمْ	يَذْكُرْ	بُكَاءَ	مُوْسٰى

ثابت بناني رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه نه په دې روايت کې د حضرت موسٰى عليه السلام د ژړا ذکر ونه کړه او

وَقَالَ	فِي	السَّمَاءِ	السَّابِعَةِ	فَإِذَا	أَنَا	بِإِبْرَاهِيْمَ

حضور صلى الله عليه وسلم د اووم آسمان ذکر کولو سره ارشاد وفرمايلو چې هلته ما حضرت ابراهيم عليه السلام) اوليدلو

مُسْنِدًا	ظَهْرَهُ	إِلَى	الْبَيْتِ	الْمَعْمُوْرِ	وَإِذَا	هُوَ	يَدْخُلُهُ

چې بيت المعمور سره يې تکيا لګولې ناست وو او بيت المعمورکې د طواف د پاره هره ورځ

كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُوْنَ أَلْفَ مَلَكٍ لَايَعُوْدُوْنَ إِلَيْهِ

اویا زره ۷۰۰۰۰ فرښتي داخليږي چې دوباره داخليدل ورته نصيب کيږي نه روسته زه سدرة المنتهٰی

ثُمَّ ذَهَبَ بِيْ إِلَى السِّدْرَةِ الْمُنْتَهٰى فَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيَلَةِ

ته بوتلل شوم چې اووم آسمان کې د بيرې يوه ونه ده ما وليدل چې د سدرة المنتهٰی پاڼې د فيل د

وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ اللهِ

غوږونو برابر او د هغه ميوې يعني بيرې د منګيو برابر وې بيا چې سدرة المنتهٰی ته د الله ! په

مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ فَمَا أَحَدٌ مِّنْ خَلْقِ اللهِ

حکم سره پټهونکې شی پټه کړله نو د هغه حالت بدل شو او حقيقت دادی چې د الله ! مخلوق کې

يَسْتَطِيْعُ أَنْ يَّنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا وَأَوْحٰى إِلَيَّ مَا

هيڅوک هم د هغه خوبي او وصف کمال نشي بيانولی بيا الله ! چې کومې وحې غوښتې زما طرف

أَوْحٰى فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ فَنَزَلْتُ

ته يې راوليږلې بيا په ما په ورځ شپه کې پنځوس مونځونه فرض شوه بيا زه هغه بلند مقام نه راکوز

إِلٰى مُوْسٰى فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلٰى أُمَّتِكَ قُلْتُ

شوم او حضرت موسٰی ته راغلم هغه پوښتنه وکړه ستا پروردګار ستا په امت څه فرض کړل؟ ما وويل

خَمْسِيْنَ صَلَاةً فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَّلَيْلَةٍ قَالَ ارْجِعْ إِلٰى

شپه او ورځ کې پنځوس مونځونه حضرت موسٰی) وويل خپل پروردګار ته بيرته لاړ شه او د

رَبِّكَ فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَاتُطِيْقُ ذٰلِكَ

مونځونو تعداد کې تخفيف د کمی درخواست وکړه ځکه چې ستا امت دومره طاقت نه لري ما

فَإِنِّيْ بَلَوْتُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَخَبَرْتُهُمْ قَالَ فَرَجَعْتُ

بني اسرائيل ازمائيلي دي او د هغوئ امتحان مي مخکې آخستی دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل زه بارگاه

إِلٰى رَبِّيْ فَقُلْتُ يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلٰى أُمَّتِيْ

خداوندي کې بيا حاضر شوم ماعرض وکړو ای پروردګاره! ځما د امت په حق کې آساني وکړئی نو

فَحَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى

الله! ځما په وجه ځما د امت په حق کې آساني فرمائيلو سره پنځه مونځونه کم کړل بيا زه حضرت

فَقُلْتُ حَطَّ عَنِّيْ خَمْسًا قَالَ

موسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته راغلم او ورته مي وښودل چې ځما په درخواست پنځه مونځونه کم شول نو

إِنَّ أُمَّتَكَ لَاتُطِيْقُ ذٰلِكَ فَارْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ

حضرت موسٰى) عَلَيْهِ السَّلَامُ وويل ستا امت د دومره مونځونو اداکولو طاقت نه لري ته بيا خپل پروردګار ته ورشه او

فَسَلْهُ التَّخْفِيْفَ قَالَ فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّيْ وَبَيْنَ

د مزيد تخفيف درخواست وکړه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل دغه شان زه د خپل رب او حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلَامُ په

مُوْسٰى حَتّٰى قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّهُنَّ

منځ کې تلم راتلم تردي پورې چې آخري ځل هم تخفيف وشو نو پروردګار وفرمائيل ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ

شپه او ورځ کې فرض خو دا پنځه مونځونه دي ليکن په دې کې د هرمونځ ثواب د لسو مونځونو برابر

فَذٰلِكَ خَمْسُوْنَ صَلَاةً فَمَنْ هَمَّ

دی دغه شان دا پنځه مونځونه په ثواب کې د پنځوسو مونځونو برابر دي کوم سړي چې د نيکۍ قصد

بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ

وکړو نو د هغه په حساب کې صرف د هغه قصد په وجه یوه نیکي لیکلی شي او که د قصد نه وروسته

عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَّمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ

هغه هغه نیکي وکړله نو د هغه په حساب کې هغه نیکۍ لس چنده لیکلی شي او کوم سړي چې د خراب

فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ تُكْتَبْ لَهُ شَيْئًا

کار قصد او اراده وکړه بیا هغه بدکاري ونه کړو نو د هغه په حساب کې هغه بدي نشي لیکلی او

فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ سَيِّئَةً وَّاحِدَةً

که هغه د خپل قصد مطابق هغه خراب کار وکړو نو د هغه په حساب کې د هغه یوه بدي لیکلی شي

قَالَ فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلٰى مُوسٰى

حضور ﷺ وفرمائیل بیا زه د بارګاهِ الهي نه لاندې شپږم آسمان ته بیرته راغلم او حضرت موسٰی علیه السلام ته

فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ارْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ

مې صورت حال و خودو هغه بیا هغه مشوره راکړه چې خپل پروردګار ته ورشه او پنځه مونځونو کې

فَسَلْهُ التَّخْفِيفَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ

هم د تخفیف درخواست وکړو حضور ﷺ وفرمائیل ما حضرت موسٰی ته وویل زه بیا بیا

قَدْ رَجَعْتُ إِلٰى رَبِّيْ حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

خپل رب ته ورغلی یم اوس هغه ته په ورتلو کې ماته شرم راځي.

توضیح: عرج بنا: تر مسجد اقصی پورې سفر په براق باندې شوی دی بیا د آسمان نه د لفټ په

(1) اخرجه مسلم في صحيحه ١/١٥٤ رقم الحديث (٢٥٩. ١٦٢) وأحمد في المسند ٥/٣٩٢.

شان يوه خود کاره زينه راغله په همدې کښې هغه پاس لاړو، په عرج کې همدغې زينې ته اشاره ده .

شطر الحسن: يعنې د نفس حسن نيمه حصه هغه ته ورکړې شوې وه باقي نيمه حصه په ټولې دنيا باندې تقسيم کړې شوه ، يا دا مطلب دی چې د خپلې زمانې د ټولو خلکو نيم حسن حضرت يوسف عليه السلام ته ورکړې شوی وو . وايي حضرت يوسف عليه السلام به خپل لاس کښې د شيشې بشان خپل مخ ليدلو مګر ددې باوجود د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حسن زيات وو ځکه چې د حسن تعلق د اعضاؤ د اعتدال سره دی د اعضاؤ په اعتدال کښې هيڅوک د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مقابله کولی نشي . همدارنګه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل (**انا مليح و اخي يوسف صبيح**) يعنې اصل ښايست په ملاحت کښې دی نه يواځې په صباحت کښې .

(السدرة) د بيرې ونې ته ويل کيږي ، **(المنتهی)** دا آخرې او انتهائی حد دی ددينه لاندې مخلوق پورته تللی نشي او د بره مخلوق لاندې نشي راتللی .

آذان الفيلة: د فيل غوږونه ډير غټ وي د دغې بيرې پاڼې همدارنګه غټې وي .

کالقلال: دا د قلة جمع ده غټ منګی ته وايي يعنې ميوه يې دومره غټه وه لکه غټ منګی چې وي .

د معراج ذکر

﴿۳﴾	وَعَنِ	ابْنِ	شِهَابٍ	عَنْ	أَنَسٍ	قَالَ	كَانَ	أَبُوْ ذَرٍّ
او حضرت شهاب زهري تابعي رحمه الله د حضرت انس ابن مالک نه روايت کوي هغه وويل								
يُحَدِّثُ	أَنَّ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ فُرِجَ عَنِّيْ
حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل زه په مکه کې خپل کور کې وم اچانک								
سَقْفُ	بَيْتِيْ	وَأَنَا	بِمَكَّةَ	فَنَزَلَ	جِبْرَئِيْلُ	فَفَرَجَ	صَدْرِيْ	
د کوټې چت کولاؤ شو او حضرت جبرائيل) عَلَيْهِ السَّلَامُ نازل شولو هغه ځما سينه وشلوله او په آب زمزم سره هغه								
ثُمَّ غَسَلَهُ	بِمَاءِ	زَمْزَمَ	ثُمَّ	جَآءَ	بِطَسْتٍ	مِّنْ	ذَهَبٍ	مُمْتَلِيءٍ حِكْمَةً وَّإِيْمَانًا
وينځله بيا د سوني لګن يې راوړه چې د ايمان او حکمت نه ډک وو هغه ځما سينه کې واچول شو او								

فَأَفْرَغَهُ فِيْ صَدْرِيْ ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِيْ
بيا ئحما د سيني شليدل يې يوځاي كولو سره برابر كړو ددي نه روسته جبرائيل) ځما لاس اونيولو
فَعُرِجَ بِيْ إِلَى السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرَئِيْلُ
او زه يې آسمان طرف ته وخيژولم هركله چې زه د دنيا آسمان ته ورسيدم نو جبرائيل) د آسمان
لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ هٰذَا قَالَ هٰذَا جِبْرَئِيْلُ
داروغه ته وويله دروازه كولاؤه كړه داروغه پوښتنه وكړه ثوك دى؟ جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ) ووېل زه جبرائيل
قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِيَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يم بيا پوښتنه وشوه ستا سو سره نور څوك هم شته؟ جبرائيل) ووېل هو ما سره حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَتَحَ
دى داروغه پوښتنه وكړه رابلل شوى دى؟ جبرائيل) ووېل هو نو دروازه كولاؤه شوه هركله چې
عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا إِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ عَلَى يَمِيْنِهِ أَسْوِدَةٌ
مونږ د دنيا آسمان ته ورسيدو نو چې گورو مخ ته يو صاحب ناست دى او څه خلق د هغه ښي طرف ته
وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِيْنِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ
او څه چَپ طرف ته ناست دي بيا ما داهم وليدل چې هغه خپل ښي طرف ته وگوري نو وخاندي او هركله
بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالْإِبْنِ الصَّالِحِ
چې چَپ طرف ته وگوري نو په ژړاسي ووېل پيغمبر صالح او نيك بخت ځوى ته زه پخير راغلى وايم
قُلْتُ لِجِبْرَئِيْلَ مَنْ هٰذَا قَالَ هٰذَا آدَمُ وَهٰذِهِ الْأَسْوِدَةُ
ما جبرائيل) عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وكړه دا څوك دى جبرائيل ووېل دا آدم) دى او دا خلق چې د هغه ښي

عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ

او ڃپ طرف ته ناست دي د هغه د اولاد روحونه دي په دوئ کې چې کوم خلق ښي طرف ته ناست دي

أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ

هغه جنتيان دي او کوم خلق چې ترينه ڃپ طرف ته ناست دي هغه دوزخيان دی ځکه حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ چې

عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عُرِجَ بِي

ښي طرف ته وګوري نو خاندي او ڃپ طرف ته چې وګوري نو ژاړي دي نه روسته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ) زه

إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ

آخستو سره دوهم آسمان ته وختلو او هغه دروازه کولاؤولو د پاره وويل نو پيردار د هغه نه پوښتنه

لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ

وکړه کوم چې د مخکې آسمان داروغه کړي وه راوي وايې غرض دغه شان حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمٰوَاتِ آدَمَ وَإِدْرِيسَ وَمُوسٰى

تهولو آسمانونو ته ورسيده او هلته حضرت آدم) حضرت ادريس) حضرت موسى عَلَيْهِمُ السَّلَامُ) او

وَعِيسٰى وَإِبْرَاهِيمَ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ مَنَازِلُهُمْ

حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ) او حضرت ابراهيم) عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د ملاقات ذکر يې وفرمايه خو د هغوي د منازلو او

غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمَاءِ الدُّنْيَا وَ

مقاماتو کيفيت او احوال يې بيان نه کړه صرف حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ) سره مخکني آسمان باندې او

إِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ

حضرت ابراهيم) عَلَيْهِ السَّلَامُ سره شپږم آسمان باندې د ملاقات ذکر يې وکړو ابن شهابؒ وايي ماته ابن حزمؒ

أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَّأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ كَانَا يَقُوْلَانِ قَالَ

وښودل چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو حبه انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان وکړو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِيْ حَتّٰى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوًى أَسْمَعُ فِيْهِ صَرِيْفَ

وفرمائیل بیا زه پورته بوتلل شوم تردي پوري چې یو هوار او بلند مقام ته ورسیدم هلته د قلمونو د

الْأَقْلَامِ وَقَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَّأَنَسٌ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لیکلو اوازونه راتلل ابن حزمؒ او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا بیان وکړو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل

فَفَرَضَ اللهُ عَلٰى أُمَّتِيْ خَمْسِيْنَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذٰلِكَ حَتّٰى مَرَرْتُ عَلٰى

بیا د الله ! د طرف نه ځما په امت پنځوس مونځونه فرض شوه نو زه بیرته راغلم لیکن په

مُوْسٰى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللهُ لَكَ عَلٰى أُمَّتِكَ

حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ چې تیر شوم نو هغه پوښتنه وکړه پروردګار ستا په ذریعه ستا په امت باندې څه شی فرض کړل

قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِيْنَ صَلَاةً قَالَ فَارْجِعْ إِلٰى رَبِّكَ

ما ورته وویل پنځوس مونځونه یې فرض کړل هغه وویل خپل پروردګار ته واپس لاړ شه او په دې ځکه

فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيْقُ ذٰلِكَ فَرَاجَعَنِيْ

ستا امت به دومره مونځونه اداء نه کړی شي دغه شان حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ) زه بارګاه رب العزت ته

فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلٰى مُوْسٰى فَقُلْتُ

واپس کړم او په هغه کې د څه مونځونو کمی وشو بیا زه حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راغلم او هغه ته مي

وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ

وښودل چې الله ! په هغوئ نه څه حصه معاف کړي ده حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل خپل پروردګار ته بیرته

فَإِنَّ	أُمَّتَكَ	لَا	تُطِيْقُ	ذٰلِكَ	فَرَجَعْتُ	فَرَاجَعْتُ		
ورشه ځکه چې ستا امت د دومره مونځونو کولو هم طاقت نه لري زه بیا بیرته لاړم او مزید تخفیف د								
فَوَضَعَ	شَطْرَهَا	فَرَجَعْتُ	إِلَيْهِ	فَقَالَ	ارْجِعْ			
پاره مې عرض وکړو نو په هغه کې څه نور مونځونه کم شول د دې نه روسته بیا حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ) ته								
إِلٰى	رَبِّكَ	فَإِنَّ	أُمَّتَكَ	لَا	تُطِيْقُ	ذٰلِكَ		
راغلم نو هغه وویل بیا خپل پروردګار ته ورشه ځکه چې ستا امت د دومره مونځونو کولو طاقت نه								
فَرَاجَعْتُهُ	فَقَالَ	هِيَ	خَمْسٌ	وَهِيَ				
لري نو زه بیا ولاړم او پروردګار ته نو پروردګار وفرمائیل فرض خو دا پنځه مونځونه دي لیکن د اجر								
خَمْسُوْنَ	لَا	يُبَدَّلُ	الْقَوْلُ	لَدَيَّ	فَرَجَعْتُ	إِلٰى	مُوْسٰى	
او ثواب په اعتبار دا د پنځوسو مونځونو برابر دي ځما قول نه تبدیل کېږي زه بیا حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ ته								
فَقَالَ	رَاجِعْ	رَبَّكَ	فَقُلْتُ					
راغلم او هغه ته مې وښودل چې اوس پنځه مونځونه فرض پاتې شوي دي نو هغه بیا ماته بارګاهِ رب								
اسْتَحْيَيْتُ	مِنْ	رَبِّيْ	ثُمَّ					
العزت ته د ورتلو مشوره یې راکړه لیکن ما وویل اوس ماته د خپل پروردګار نه شرم راځي دې نه								
انْطَلَقَ	بِيْ	حَتّٰى	انْتَهٰى	بِيْ	إِلٰى	سِدْرَةِ	الْمُنْتَهٰى	وَغَشِيَهَا
روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل زه سدرة المنتهٰی ته بوتلل شوم چې په هغه دغه شان رنګ خورشوی								
أَلْوَانٌ	لَا	أَدْرِيْ	مَاهِيَ	ثُمَّ	أُدْخِلْتُ	الْجَنَّةَ	فَإِذَا	
وو چې د هغه باره کښې ماته هیڅ نه ده معلومه چې هغه څه شی وو دې نه روسته زه جنت ته بوتلل								

فِيهَا جَنَابِذُ اللُّؤْلُؤِ وَ إِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.[1]

شو م هلته ما د ملغلرو گنبده ولیده او دامي هم ولیدل چې د جنت خاوره مشکو وه.

توضیح: **سقف بیتي**: د حدیث په روایاتو کښې اختلاف دی چې حضور ﷺ د کوم ځای نه ملائکو اوچت کړی وو، په بعضو روایاتو کښې د حطیم ذکر دی، په بعضو کښې د زمزم ذکر دی، په بعضو کښې د شعب ابی طالب ذکر دی. په زیر بحث حدیث کښې د خپل کور ذکر دی نو ددې جواب دا دی چې حضور ﷺ په دغه شپه د حضرت ام هانئ - په کور کښې اوده وو او دا کور په شعب ابی طالب کښې وو نو د کور د چت په لاره یې هغه پورته کړلو او په شعب ابی طالب باندې حطیم ته راوړلی شو او بیا د هغه ځای نه باب الشامیه طرفته چیرته چې زړه ترکی آذان خانه ده هلته براق ولاړ وو د هغه ځای نه مسجد اقصی ته یوړلی شو نو هیڅ تعارض نشته. د ترکی آذان خانې سره یوه ستن ده، ترکیانو په هغې باندې د کیکر د پاڼو نښې جوړې کړې دي، په دې تعمیر کښې دا تعبیر او اشاره ده چې براق دلته تړلی شوی وو.

اسودة: دا د سواد جمع ده تورشي ته ویل کیږي، سواد د شخص په معنی سره دی، اسودة د اشخاصو په معنی سره دی، مراد اولاد دی. **(فعرج بي)** یعنې د مسجد حرام نه تر مسجد اقصی پورې سفر کیدلو نه بعد د راتلونکې مرحلې د سفر لپاره د یوې خودکارې زینې انتظام وشو، پاس اسمانونو ته سفر په همدې سره وشو د نن سبا د لفټ نظام د هغې زینې لپاره یوه ژوندۍ نمونه ده. **من هذا**: یعنې جبریل امین د آسمان څوکیدارۍ ملائکې ته د دروازې د خلاصولو وایي او څوکیداره ملائکه پوره تفتیش کوي، ددینه معلومه شوه چې په آسمانونو باندې د څوکیدارۍ مضبوطه نظام دی، اوس چې کومې سیارې د آسمان د پاسه دي هغو ته د کوم انسان رسیدل محال دي او کومې سیارې چې د آسمان نه لاندې دي هغوی ته په تللو د شریعت کومه ضابطه نه ماتیږي. که څوک دعوه کوي نو ودې کړي که هغه دروغ وایي او که رښتیا وایي زما زړه د ډیر مخکې نه مطمئن نه وو چې دا کفار سپوږمۍ ته تللي دي مگر هغوی د خپلې میډیا او نشریاتو په ذریعه خلک لیونیان جوړ کړل او ویې ویل چې وگورئ په خپلو سترگو یې وگورئ! مونږ څنگه په سپوږمۍ باندې چهل قدمي کوو! وگورۍ خلک سپوږمۍ ته ورسیدل او دا مولویان د اودس او لمانځه خبرې کوي. د هغو کفارو دا وینا غلطه ده چې مسلمان وروسته پاتې شو، مسلمان خو د لمانځه په ذریعه د اووم

---

[1] اخرجه البخاري ۱/۴۵۸ رقم الحدیث ۳۴۹ ومسلم في صحیحه ۱/۱۴۸ رقم الحدیث (۲۶۳.۱۶۳)

آسمان د پاسه د عرش نه لاندې جنت الفردوس ته د تللو عزم لري، یو صحابي چې کله دا شعر وویلو :

بلغنا السماء مجدنا و تراثنا   واننا لنرجو فوق ذلک مظهرا

یعنې مونږ خو د آسمانونو نه پورته تلل غواړو ، نو حضور اکرم ﷺ تپوس وکړو چې پاس کوم ځای ته تلل غواړې؟ نو صحابي وفرمایل چې جنت الفردوس ته تلل غواړم . په هر حال کفارو سپوږمۍ ته د تللو ډیر غټ دروغ ویلي . ما په ۱۹۹۵ کښې کویټې ته یو سفر کړی وو هلته د مشرق اخبار کښې په ۵ستمبر۱۹۹۵ کښې سپوږمۍ ته استونکې د امریکی ادارې (ناسا) متعلق یو ښکاره خبر چاپ شوی وو، د یوولس کالو پخوانی دغه خبر یوه تراشه زما په بټوې کښې اوس هم موجوده ده ! زه دا ناظرینو ته هدیه کوم تر څو د یورپ او مغرب دوکه مخې ته راشي ، اول د اخبار سرخیانې وواياست او بیا عام مضمون ووائي .

ناسا: د خلابازانو استولو په ډرامه کولو باندې ۳۰ کروړه ډالر وخوړل (مشرق) ، ددې مقصد لپاره حکومت ته جعلی فلم وښودل شو چې هغه په نویډا صحراء کښې جوړ شوی وو . د امریکی خلائی ادارې وینا ده چې هغو شپږ ځلې سائنس دانان سپوږمۍ ته لیږلي دي ، حکومت په ډیر مهارت سره په دوکه کښې ساتل شوی دی .(کتاب تهرتی بلین سونډل کی انکشافات)

د واشنګټن (انټرنیشنل ډیسک) امریکائی خلائی تحقیقاتی ادارې ناسا د بدو عنوانونو یوه نوې بدنامي مخې ته راغلې چې د هغې مطابق د (ناسا) حکامو ۳۰ کروړه ډالر خوړلي او همداسې ټولې دعوې یې بی بنیاده ثابتې شوې دي چې هغوی تر اوسه پورې شپږ ځلې هوانوردان (خلابازان) شپوږمۍ ته لیږلي دي. د ترتی بلین سونډل په نوم سره شائع کیدونکی کتاب کښې انکشاف شوی دی چې ناسا حکومت ته رپوټ پیش کړی وو چې هغوی د ۱۹۶۹ نه تر ۱۹۷۲ په زمانه کښې شپږ ځلې خپل سائنسدانان سپوږمۍ ته لیږلي دي ، حالانکه دا مکمل یوه ډرامه وه ، ناسا چې کوم فلم پیش کړی وو هغه د نویډا په صحراء کښې جعلی طور باندې جوړ شوی دی . په څمکه باندې د سپوږمۍ د سطحې سیټ ولګول شو او د حکومت په سترګو کښې خاورې وشیندل شوې، د رپوټ مطابق د ناسا سره سپوږمۍ ته د رسیدلو ټیکنالوجي نشته او نه هم خلائی راکټ موجود دی په دغه صورت کښې د حکومت سره د ۳۰کروړه ډالرو دوکه وشوله . (روزنامه مشرق کوئټه ۵ستمبر۱۹۹۵)

په اوس حال کې روزنامه امت او روزنامه قومی اخبار هم په خپل اشاعت کښې سپوږمۍ د تللو واقعه دوکه ګرځولې لکه روزنامه امت لیکي ، اول سرخی ووایي : (امریکائی ماهر سپوږمۍ باندې د قدم ایښودلو واقعه دوکه ګرځولېده ، د ناسا د دعوې دروغجنې ثابتولو لپاره په میوزیم کښې مختلف شیان د نمایش لپاره پیش) .

او هائیو (امت نیوز) د آرم ایسټرونګ آیر اینډ اسپیس میوزیم ماهر تعلیم اینډ ریا واګ دعوه کړې چې په ۱۹۶۹ کښې په سپوږمۍ باندې د انسان اول پیاده تګ یوه دوکه وه. د ۱۹۶۹ نه تر ۱۹۷۲ پورې زمانه کښې جوړېدونکی دغه ټول تصاویر او ویډیوګانې ناسا په یوې مووی اسټډیو کښې تیارې کړې وې، د غیر ملکی خبر رسان ایجنسی PAP مطابق د واګ وینا ده چې د حقائقو او د سائنس په مدد سره دا ثابتول ډېر آسانه دي چې په سپوږمۍ باندې د خکته کیدلو خبره دروغ وه. هغوی د مثال په ورکولو سره ویلي چې په تصاویرو کښې خلانورد د آرم اسټرونګ او بزایلډرن په ښورولو سره د امریکی جنډې سره ښودل شوی دی حال دا چې د هوا نه بغیر د جنډې رپیدل ممکن نه دي او د افقی تار سره منسلک د جنډې د څنډې سره لاندې مائل کیدل پکار وو، واګ د مقامی اخبار (دی لیمانیوز) سره خبرو کښې ویلي چې د نیل آرم اسټرونګ په نوم سره دغه میوزیم کې د تمامو هغه شیانو نمائش کیږي چې په سپوږمۍ باندې د خکته کیدلو دعوه دروغجنه ثابتوي او ددې نه علاوه د آرم اسټرونګ خلائی لباس او د هغه د مخکینې عمر شیان هم ایښودلی شوي دي. (روزنامه امت ۱۵اپریل ۲۰۱۹)

دا خبر د کراچۍ په یوه مقامی (قومی اخبار) کې هم شائع شوی مګر دویمه ورځ شائع شو او د هغه سرخیانې مختلفې دي مګر مضمون یې یو شان دی، د قومی اخبار صرف سرخیانې ملاحظه کړئ.

(په سپوږمۍ باندې انسانی قدم ایښودل دوکه ده). (قومی اخبار کراچی)

(په سپوږمۍ باندې د پیاده تګ ټول تصاویر او ویډیوګانې د ناسا په سټوډیو کښې جوړې شوې دي، د حقائقو او سائنس په مدد سره دا ثابتول انتهائی آسانه دي ،آرم اسټرونګ امریکائی جنډه وښوروله، د هوا نه بغیر داسې ممکن نه وو، امریکی ماهر د ناسا د دعوې دورغجنې ثابتولو لپاره په میوزیم کښې مختلف شیان ایښې دي. (قومی اخبار کراچی ۱۶اپریل ۲۰۷)

په دې بین الاقوامی دروغو دي د الله تعالی لعنت وي، هغوی دنیا په څه قسمه دوکه کښې ساتلو سره ګمراه کړې ده، په دې سره هغه غلا هم ونیولی شوه چې څو کاله مخکې د امریکې سائنسدانانو د سعودی عرب شهزاده سلطان سپوږمۍ ته وخیژولو. هغه په خپله خپل بیان کښې ویلې وو چې ما ته هیڅ معلوم نه دي، دغه خلک یو ځای د جهاز نه ښکته شول او ما ته یې چای پیش کړلو، ما چای خوړلو او دغه خلک بهر ګرځیدل او ما ته یې وویل چې دا سپوږمۍ ده، دلته مسلمانانو ځوانانو ته وویل شول چې خلک سپوږمۍ ته ورسیدل او تاسې مولوی صاحبانو په اودس او لمانځه کښې مشغوله کړي یاست.

د اهل یورپ او مغرب حسد او عداوت او ضد او عناد ته اوګورئ چې کله د نبی کریم ﷺ د معراج خبره راغله نو هغوی صفا انکار وکړو چې پاس څوک تللی نشي لیکن چې کله د هغوی خپله خبره

راغله نو بيا وايي چې مونږ سپوږمۍ ته د پلاټ اخيستلو لپاره ځو ، زه وايم دوی دروغجن دي دوی دروغجن دي ، دوی دروغجن دي!!

ظهرت: اى علوت يعني زه پاس وختلم ، (لمستوى)دا د اسم مفعول صيغه ده په دې کښې لام د علت لپاره دی يعني د دغه اوچت ځای او هوار مقام ته د رسيدلو لپاره زه پورته لاړم او يو خلاص ځای ته ورسيدلم چې هلته د قلمونو په کاغذ باندې د ليکلو آواز راتللو .

صريف الاقلام: په کاغذ باندې په قلم سره د ليکلو په وخت چې د کش کش آواز راځي هغه مراد دی ، دا د لوح محفوظ نه د مقاديرو نقل کولو والا ملائکې دي ، صرف حضور ﷺ د لته تللی دی او که نه نو دا هغه لامکان دی چې دلته هيڅوک هم تللی نشي ، ملائکې د لوح محفوظ نه روزانه نافذ کيدونکې فيصلې نقل کوي ، د دې مقام پوره حقيقت د الله تعالی نه علاوه هيڅوک نه پيژني .

جنابذ: دا د جنبذ جمع ده کنبد او قبې ته وايي يعني د جواهراتو ګنبدې او قبې جوړې شوې وې .

د سدرة المنتهی ذکر

﴿۴﴾ وَعَنْ	عَبْدِ	اللهِ	قَالَ	لَمَّا	أُسْرِيَ	بِرَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وايي کوم وخت چې حضور ﷺ باندې په شپه کې د بيت المقدس

أُنْتُهِيَ	بِهِ	إِلٰى	سِدْرَةِ	الْمُنْتَهٰى	وَهِيَ	فِي	السَّمَاءِ السَّادِسَةِ

او د آسمانونو سيل وشو نو حضور ﷺ سدرة المنتهی ته ورسول شو او سدرة المنتهی شپږم آسمان

إِلَيْهَا	يَنْتَهِيْ	مَا	يُعْرَجُ	بِهِ	مِنَ	الْأَرْضِ	فَيُقْبَضُ

باندې ده او کوم شی چې د ځمکې نه پورته وړل کيږي هغه سدرة المنتهی باندې منتهي کيږي او بيا د

مِنْهَا	وَإِلَيْهَا	يَنْتَهِيْ	مَا	يُهْبَطُ	بِهِ	مِنْ	فَوْقِهَا

څه واسطې او ذريعې نه بغير پورته رسولی شي دغه شان کوم شی چې د ملاءِ اعلی نه ځمکې ته را

فَيُقْبَضُ	مِنْهَا	قَالَ	إِذْ	يَغْشَى	السِّدْرَةَ

خکته کولی شي هغه هم سدرة المنتهی نه اخستی شي دې نه روسته حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا آيات

مَا يَغْشٰى قَالَ فَرَاشٌ

ووايه: اذ يَغشٰى .. يعني هغه وقت چې سدره يې پټه کړو کوم شی چې پټه کړه او هغه وويل هغه شی

مِّنْ ذَهَبٍ قَالَ فَأُعْطِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې سدره يې پټه کړې ده د سرو زرو پتنګان دي حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا هم وويل چې شبِ معراج

ثَلَاثًا أُعْطِيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ وَأُعْطِيَ خَوَاتِيْمَ

کې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دري څيزونه عطا شو ۱ د پنځه مونځونو فرضيت ورته عطا شو ۲ د

سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَغُفِرَ لِمَنْ

سورة بقرې آخري آيتونه ورته عنايت شو ۳ او د حضور صلى الله عليه وسلم په امت کې د هغه سړي ګناه کبيره

لَا يُشْرِكُ بِاللهِ مِنْ أُمَّتِهٖ شَيْئًا اَلْمُقْحِمَاتُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

د معافۍ پروانه ورته عطا شوه چې د الله ! سره څوک شريک نه ګرځوي. [مسلم]

توضيح: (السادسة) په نورو ټولو روايتونو کښې مذکور دي چې سدرة المنتهى په اووم آسمان کې ده. دلته د شپږم آسمان ذکر دی نو ددې لپاره يو جواب دا دی چې د شپږم ذکر د کوم راوی نه په سهوې سره ذکر شوی دی.

دويم جواب دا دی چې د سدرة المنتهى ريښې په شپږم آسمان کښې دي او پخپله په اووم آسمان کښې ده، لويه ونه ده، ويل کيږي چې په ټولو آسمانونو او جنتونو باندې ددې سايه ده. (فراش) پتنګ ته وايي په يو روايت کښې جراد هم راغلی دی، د الله تعالی د انواراتو د ګرد چاپيره تاويدونکي مخلوق ذکر دی چې د هغه حقيقت الله تعالی ته معلوم دی.

المقحمات: غټو غټو ګناهونو ته مقحمات ويل کيږي يعني د شرک نه علاوه لوی لوی ګناهونه الله تعالی معاف کوي.

---

(۱) اخرجه البخاري في صحيحه ۳۷۴ رقم الحديث ۳۳۴۲ ومسلم في صحيحه ۱/۱۵۷ رقم الحديث (۲۷۹.۱۷۳)

د معراج په واقعه د قريشو اعتراضات

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي الْحِجْرِ

او ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائيل ما خپل ځان په حجر حطيم کې او ليدلو

وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ فَسَأَلَتْنِي

په داسي حال کې چې زه ولاړ وم او د مکې قريشو زمانه ځما د شبِ معراج د سفر باره کښې سوالات

عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ بَيْتِ الْمُقَدَّسِ لَمْ أُثْبِتْهَا

کول او د بيت المقدس هغه ځيزونه او نښې يې معلومولې چې ماته هغه وقت يادې نه وې پاتې شوې

فَكُرِبْتُ كُرْبًا مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ فَرَفَعَهُ اللهُ

زه دومره پريشان او غمجن شوم چې دې نه مخکې هيڅ کله دومره پريشانه او غمجن شوی نه وم نو

لِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ مَا يَسْأَلُوْنِيْ عَنْ شَيْءٍ

الله! ځما مدد وکړو او بيت المقدس يې بلند کړو چې ځما د نظر مخکې راغی او د مکې قريش

إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ

د کوم شی باره کې پوښتنه وکړي زه هغه ورته ښايم نو هغوئ او دا حقيقت دی چې ما خپل ځان د

الْأَنْبِيَاءِ فَإِذَا مُوْسٰى قَائِمٌ يُصَلِّي

انبياء په منځ کې اوليدلو ما هغه وقت حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ اوليدلو چې ولاړ وو مونځ يې کوه

فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوْءَةَ

حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَامُ يو ميانه قد سړی په نظر راغی لکه چې هغه د قبيله شنوء سره تعلق لرونکې يو سړی وي ما

وَ إِذَا عِيْسٰى قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا

حضرت عيسٰی) عَلَيْهِ السَّلَامُ هم اوليدلو چې ولاړ وو مونځ يې کوه د هغه سره زيات مشابهت لرونکی سړی

عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُوْدٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ قَائِمٌ يُّصَلِّيْ
عروه ابن مسعود ثقفي دى بيا ما حضرت ابراهيم) عَلَيْهِ السَّلَامُ هم اوليدلو چې ولاړ وو مونځ يې كوى دوئ
أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ صَاحِبُكُمْ يَعْنِيْ نَفْسَهُ
سره زيات مشابهت لرونكى چې كوم سړى دى هغه ستا سو دوست دى د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مراد خپل ذات
فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَأَمَمْتُهُمْ
مبارک وو بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل هركله چې د مانځه وقت شو نو زه د ټولو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ
فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلَاةِ قَالَ لِيْ قَائِلٌ
امام جوړ شوم او كوم وقت چې زه د مانځه نه فارغه شوم نو يو ويونكي زه مخاطب كړم راته يې
يَا مُحَمَّدُ هٰذَا مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ
وويل اى محمد !دا د دوزخ داروغه موجود دى ته سلام وكړه نو زه سلام كولو د پاره هغه داروغه
فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِيْ بِالسَّلَامِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]
د دوزخ طرف ته متوجه شوم ليكن په سلام كې هغه مخكې شو.

توضيح : **لم اثبتها**: يعني سفر ته د تللو په وجه ما هغه شيان ياد نكړل مگر قريشو د هغو كوچنيو كوچنيو شيانو پوښتنه وكړه مثلا چې د مسجد اقصى كړكيانې څو دي؟ او ستنې يې څومره دي؟ يو مسافر چې په لارې باندې تيريږي هغه دغه شيان چيرته شميري او محفوظ كولو سره ياد كښې ساتي، حضور ﷺ ددې په وجه ډير پريشانه شو .

فكربت: د مكې قريشو د هغه نه اوږده سوالونه شروع كړل چې اهم سوالونه وو ، هغه خو صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپله وكړل او حضور ﷺ په جواب باندې يې تصديق كولو چې (صَدَقْتَ يَارَسُوْلَ اللهِ) ، په دې باندې جبرئيل امين د الله تعالى له طرفنه حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د صديق لقب

---

(١) اخرجه البخاري في صحيحه ٦/٤٢٨٠ رقم الحديث ٣٣٩٤ ومسلم في صحيحه ١/١٥٦ (١٧٢.٢٧٨) .

عطاء کړلو ، په هر حال د قریشو د بیکاره سوالونو نه حضورﷺ بی حده پریشانه شو نو الله تعالی حضورﷺ ته د بیت المقدس نقشه مخامخ کړه حضورﷺ به کتل او جواب به یې ورکولو ، څه خلکو اسلام قبول کړلو مګر څه کچې مسلمان خلک په شک کښې پریوتل ځکه کفارو ډیره سخته پروپیګنډه کړې وه ، دا قصه د بریلویانو په خوله باندې طمانچې ده چې د علم غیب په مسئله کښې ګړبړ کوي .

په باب المعراج کې دویم فصل نشته.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

بیت المقدس د حضور ﷺ مخې ته راوستل

﴿٦﴾ عَنْ جَابِرٍ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَمَّا كَذَّبَتْنِيْ
حضرت جابر ؓ نه روایت دی هغه د رسول الله ﷺ نه واوریدل هرکله چې قریشو زه دروغجن
قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَّى اللهُ لِيْ بَيْتَ الْمُقَدَّسِ
وګڼلم نو زه حجر حطیم کې ودریدم او الله! بیت المقدس زما د پاره ظاهر کړو نو ما به بیت المقدس
فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَأَنَا أَنْظُرُ إِلَيْهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ[1]
طرف ته کتلو کتلو سره د هغه نښې او علامات خلقو ته ښودل.

توضیح : الحجر: ددې نه مراد حطیم دی دیته **حجر اسماعیل** هم وایي ، داسې ویل کیږي چې دلته د حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ قبر هم دی .

[1] اخرجه البخاری فی صحیحه ۷/۱۹۶ رقم الحدیث ۳۸۸۶ ومسلم فی صحیحه ۱/۱۵۶ رقم الحدیث (۱۷۰.۲۷۶)

باب في المعجزات

قال الله تعالى: ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ﴾ ﴿وَإِنْ يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُسْتَمِرٌّ﴾

په معجزاتو باندې د پوهېدلو لپاره دا ضروري ده چې د دینه مخکې څو خارق عادات شیان وپېژندل شي، په توضیحات جلد اول باب الکبائر صفحه نمبر ۲۴۸ کې خوارق عادات شیان په تفصیل سره بیان شوي دي دلته هم د موقع او محل د مناسبت په وجه څه لیکل مناسب معلومېږي:

خارق عادت شیان: ټول خوارق عادت شیان اوه (۷) دي:

۱. اول ارهاصات دي: دا داسې خارق العادة افعال وي چې د کوم نبي د نبوت نه مخکې په طور د تمهید د نبي د راتګ د اعلان لپاره پیښېږي لکه حضور ﷺ ته د نبوت نه مخکې د کاڼو سلام کول، د وریځې سایه کول، د نبي د ولادت په وخت انقلابي واقعات پیښېدل، دا ارهاصات وو.

۲. دویم (معجزات) دي: دا داسې خارق عادت امور دي چې د کوم نبي د دعوت نبوت د اثبات او تصدیق لپاره او د مخالفینو د عاجزکولو لپاره د مدعي نبوت په لاس باندې ظاهرېږي لکه د حضور ﷺ د لاس په اشارې سره د سپوږمۍ دوه ټوټې کېدل، او دلته په زیر بحث باب کې ۷۴ احادیثو کې معجزات په ښه تفصیل سره راځي.

۳. دریم (کرامات) دي: دا داسې خارق عادت امور دي چې د صاحب ایمان متبع سنت شخص په لاس باندې د اعزاز او اکرام په طور باندې ظاهرېږي، پیغمبر ته د خپلې معجزې علم هم وي او د معجزې د ظهور اراده هم وي مګر د ولي لپاره دا ضروري نه ده.

۴. څلورم (معونات) دي: دا داسې خارق عادت امور دي چې د کوم مسلمان د اعانت او مدد لپاره ظاهرېږي لکه په حالت د مخمصه کې د غیبو خوراک راتلل، او به راتلل، یا د ځمکې فاصله کمېدل یا په اوبو باندې تلل وغیره وغیره دا ټول د اعانت او مدد صورتونه دي.

۵. پنځم (استدراجات) دي، دا داسې خارق عادت امور دي چې د کوم کافر یا فاسق او فاجر شخص په لاس باندې د هغه د مقصود مطابق ظاهر شي لکه د دجال په احوالو کې د نااشنا استدراجاتو او تصرفاتو بیان شوی دی. یا د دروغجن مدعي نبوت اسود عنسي په لاس باندې عجائبات ظاهر شوي وو دا ټول د استدراج د قبیلې نه وو.

۶. (اهانات) دي، دا د داسې خارق عادت امورو نوم دی چې د کوم کافر په لاس باندې ظاهرېږي لیکن د هغه د مطلوب او مقصود برعکس ظاهرېږي مثلاً مسیلمة الکذاب د یوې سترګې ړوند سړي په سترګه باندې لاس تیر کړی وو چې دا سترګه جوړه شي مګر د هغه شخص هغه صحیح سترګه هم ړنده شوه. همدارنګه مسیلمه کذاب د خپل اودس اضافه شوي اوبه د برکت لپاره د باغ په ونو کې

وشيندلې نو د باغ ټولې ونې وچې شوې . همدارنګه هغه غرغره وکړه او اوبه يې په کوهي کې وشيندلې تر څو هغه اوبه زياتې شي نو کومې اوبه چې په کوهي کې وې هغه هم وچې شوې .همدارنګه هغه د يوه ماشوم په سر باندې لاس راخکلو نو د هغه ماشوم حافظې کار پرېښودلو ، دا ټول د اهانت صورتونه دي چې ټول تدبيرونه سرچپه شول .

۷.(سحر) او جادو دی : ددې يو تعريف دا دی **(کل ما لطف مأخذه و دق فهو سحر)** ، دويم تعريف يې دا دی (اخراج الحق فی صورة الباطل) ، د جادو نور تفصيل توضيحات جلد اول ۲۴۷ صفحه باندې اوګورئ ، بعضې علماؤ جادو په خارق عادت کې شمار کړی نه دی ځکه په دې کې ظاهری اسباب استعماليږي .په هر حال دا ټول خارق عادت امور دي د هغو نه دلته د معجزې تعريف او تفصيل بيانول مقصود دي .

د معجزې لغوی او اصطلاحی تعريف

د معجزې لغوی معنی (عاجزونکی شی) ښودل شوی دی او د معجزې اصطلاحی تعريف داسې دی **(المعجزة امر خارق للعادة يعجز البشر ان يأتوا بمثله)** يعنې معجزه د هغه امر خارق للعادة نوم دی چې انسان عاجزوي ددينه چې د هغه مثل کوم شی پيش کړی شي ، د خارق عادات د همدې بحث په ابتداء کې د معجزې جامع مانع تعريف شوی دی هلته يې اوګوره . په هر حال د معجزې دوه قسمونه دي يو قسم معجزه هغه ده چې د کوم نبی د نبوت ثابتولو لپاره د الله تعالی له طرفنه راځي او د قوم د هدايت ذريعه جوړيږي، د نبی کريم صلی الله علیه وسلم زياتې معجزې همدا قسم راغلي دي ليکن په هغوی کې د ټولو نه غټه او دائمی معجزه قرآن عظيم دی چې د هغه په ذريعه اربونو انسانانو ته هدايت حاصل شوی دی او حاصليږي . دويمه معجزه فرمايشي وي چې قوم د ايمان راوړلو لپاره فرمايشی معجزه وغواړي په دې کې د نبی ازمايل مقصود وي چې آيا هغه دا کار کولی شي يا نه ؟ ددغې معجزې په غوښتلو کې خلک فضول قسم فرمايشي مطالبې لري مثلا ددې تيږې نه دې يوه بلاربه اوښه راووځي او بيا دې هغه بچی وزيږوي او موږ ټول هغه ووينو بيا به موږ ايمان راوړو ، يا دا مطالبه وي چې ددغه نبی دې لوی باغ وي په هغه کې دې نهرونه وي هغه باغ دې هغسې وي دغسې وي ، يا داسې مطالبه وي چې دا نبی دې آسمان ته وخيژي او د هغه ځای نه دې موږ ته ليکلی خط راوليږي تر څو هغه موږ ووايو او ايمان راوړو ، دغه قسم فرمايشي معجزه کچيرې الله تعالی کوم قوم ته ورکړي او قوم د هغه نه انکار وکړي او ايمان رانه وړي نو بيا د الله تعالی له طرفنه په ټول قوم باندې عمومی عذاب نازليږي لکه څنګه چې قوم ثمود تباه شو .

د قريشو کفارو هم د نبی کريم صلی الله علیه وسلم نه بار بار فرمايشي معجزې وغوښتلې ليکن الله تعالی

ورنکړې کچیرې الله تعالی ورکړې وې او کفارو د هغو نه انکار کړی وی نو ټول به هلاکیدل حالانکه د هماغو خلک و نه زیاتره وروسته مسلمانان شول . په هر حال د معجزاتو سره متعلق په دې باب کې ۷۴ احادیثه دي چې په دې کې د هر قسم معجزاتو بیان دی . زه د ټولو لپاره ځانله ځانله عنوانونه ږدم تر څو د معجزاتو د ظهور صحیح اندازه ولګیږي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د غار ثور سره متعلق د معجزې ظهور

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ أَبَابَكْرٍ الصِّدِّيْقَ
حضرت انس بن مالک رضي الله عنه راوي دی حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فرمائیل کوم وخت چې مونږ په غار
قَالَ نَظَرْتُ إِلٰی أَقْدَامِ الْمُشْرِكِيْنَ عَلٰی رُءُوْسِنَا
ثور کې پټ وو او ما د مشرکینو د پښو طرف ته وکتل چې ګویا ځمونږ په سرونو وي نو ما عرض وکړو
وَنَحْنُ فِي الْغَارِ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ إِلٰی قَدَمَيْهِ أَبْصَرَنَا فَقَالَ
یارسول الله که په دوئ کې دیو نظر هم خپلو پښو طرف ته لاړونو مونږ به ووینې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل د
يَا أَبَابَكْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
هغه دوو سړو باره کې ستا څه خیال دی چې د هغوئ دریم ملګری الله ! دی. [بخاري ، مسلم]

توضیح : في الغار: ددې غار نه مراد غار ثور دی دا غار د مکې مکرمې نه د یو څو میلو په فاصله کې واقع دی په انتهائی اوچت غر باندې واقع دی د هغه غر نوم ثور دی پاس په څنډه باندې دوه غاره جوړ دي په هر یوه باندې یې لیکلي دي چې دا غار ثور دی ، د هغو نه چې کوم زیات مشهوره دی او په غره باندې د مکې طرفته واقع دی زما په خیال هغه یو چا نه یو چا په کومه زمانه کې تراش کړی دی ، اصلی غار ثور شاید نه وي ، ددې بالمقابل د جبل ثور په بل جانب یو غار دی چې د دوو غټو تیږو په بیخ کې دی د پاس طرفنه یې د خکته کیدلو لار ده، یوه تیږه بلکل د ثور یعنې غوائی پشان ده ، بعضو علماؤ ویلي دي چې ثور د یوه انسان نوم وو د هغه په نوم سره دا غار دی .

لو نظر الی قدمه: ددې تشریح هلته په غار ثور کې ذهن ته راځي ځکه په پاس تیږه باندې ولاړ شخص کچیرې خپلو پښو ته وګوري نو دا غار د هغه د قدمونو د لاندې نه په نظر راځي ، حضور صلی الله علیه وسلم

دعاء غوښتې وه (اللهم اعم ابصارهم) ای الله دغه کفار ړانده کړې! الله تعالی هغوی ددې کتلو نه ړانده کړل نو هغوی هیڅ ونه لیدل، د غار په خوله کې کوترې هګۍ واچولې، جولا جال واچوه، په دغه طریقه الله تعالی د دوو حبیبینو حفاظت وکړلو.

علامه بوصیری رحمه الله فرمایي:

فالصدق فی الغار والصدیق لم یریا　　　وهم یقولون ما بالغار من ارم

ظنوا الحمام و ظنوا العنکبوت علی　　　خیر البریة لم تنسج ولم تحم

ثالثهما: الله تعالی خپل ذات دریم ظاهر وفرمایلو دا خالص معونت او معیت طرفته اشاره ده چې په هر حالت کې دریواړه سره یو ځای دي، ددې برعکس حضرت موسی علیه السلام معنا ونه ویله، په دې الفاظو کې په قوم باندې د عدم اعتماد اظهار دی، په هر حال د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم او صدیق، بلکل ښکاره کیدلو سره کفارو ته په نظر نه راتلل معجزه وه.

د هجرت د سفر په دوران کې د دښمن خلاف د معجزې ظهور

﴿۲﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ

او حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه د خپل پلار محترم حضرت عازب رضي الله عنه نه روایت کوي چې هغه د

قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ يَا أَبَا بَكْرٍ حَدِّثْنِيْ كَيْفَ صَنَعْتُمَا حِيْنَ سَرَيْتَ

حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه ای ابوبکر! هرکله چې تا د شپې رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سفر وکړو

مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

نو غار نه وتلو نه روسته تا سو ته څه څه حالات او واقعات پیښ شول حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفرمائیل

أَسْرَيْنَا لَيْلَتَنَا وَمِنَ الْغَدِ حَتَّى قَامَ قَائِمُ الظَّهِيْرَةِ

مونږ ټوله شپه روان وو او د راتلونکې ورځ څه حصه هم په سفر کې تیره کړه تردې پورې چې پخه

وَخَلَا الطَّرِيْقُ لَا يَمُرُّ فِيْهِ أَحَدٌ فَرُفِعَتْ لَنَا صَخْرَةٌ

غرمه شوه او نمر اودریدلو او لار بلکل خالي شوه نو مونږ ته یوه چټر په نظر راغی چې د هغه لاندې

طَوِيْلَةٌ لَهَا ظِلٌّ لَمْ تَأْتِ عَلَيْهَا الشَّمْسُ فَنَزَلْنَا عِنْدَهَا

سوري وو او نمر په هغه نه وو راغلی نو مونږ هغه چتر لاندې خکته شو او ما هلته رسول الله ﷺ د

وَ سَوَّيْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَكَانًا بِيَدَيَّ يَنَامُ عَلَيْهِ

پاره یو ځاې په خپلو لاسونو سره هوار اوصاف کړو چې حضور ﷺ په هغه اوده شي ځرمن وغوړوله

وَبَسَطْتُ عَلَيْهِ فَرْوَةً وَّقُلْتُ نَمْ يَا رَسُوْلَ اللهِ وَأَنَا أَنْفُضُ

او عرض مي وکړو یارسول الله! تا سو دلته اوده شئ زه به ستا سو اخوا دیخوا نګراني کوم چې کوم

مَا حَوْلَكَ فَنَامَ وَخَرَجْتُ

طرف نه د دښمن کوم سړی ځمونږ تلاش کي خو نه دی حضور ﷺ اوده شو او د هغه ځاې نه د وتلو سره

أَنْفُضُ مَا حَوْلَهُ فَإِذَا أَنَا بِرَاعٍ مُّقْبِلٍ

د حضور ﷺ حفاظت د پاره څلور طرف ته نګراني مي کوله چې اچانک ما یو شپون اولیدلو چې

قُلْتُ أَفِيْ غَنَمِكَ لَبَنٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ

مخامخ طرف نه را روان وو نو ما د هغه نه پوښتنه وکړه آیا ستا په بزو کې پئې شته؟ ما ورته وویل

أَفَتَحْلِبُ قَالَ نَعَمْ فَأَخَذَ شَاةً فَحَلَبَ فِيْ قَعْبٍ

آیا ته به پئې لوشلو سره راکړې هغه وویل هو بیا هغه یوه چیلۍ ونیوله او د لرګي پیاله کې یې څه

كُثْبَةً مِّنْ لَّبَنٍ وَّمَعِيَ إِدَاوَةٌ حَمَلْتُهَا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لږ پۍ ولوشل ما سره یو ښتک وو چې ما د حضور ﷺ د استعمال د پاره ساتلی وو په هغه کې

يَرْتَوِيْ فِيْهَا يَشْرَبُ وَيَتَوَضَّأُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

به اوبه وې چې د حضور ﷺ د څکلو او اودس پکار به راتلي ما پۍ اخستو سره رسول الله ﷺ ته

فَکَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُ فَوَافَقْتُهُ حَتّٰی اسْتَيْقَظَ

راغلم هغه اوده وو ما ویښول مناسب ونه ګڼل زه هم کېناستم تردې پورې چې حضور ﷺ خپله بیداره شو

فَقُلْتُ اشْرَبْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

او ما په پیو کې دومره اوبه واچولې چې لاندې پورې یخې شوې بیا مې عرض وکړو یارسول الله! دا

فَشَرِبَ حَتّٰی رَضِيْتُ ثُمَّ قَالَ

اوڅکئ حضور ﷺ هغه پې وڅکل زه ډېر خوشحاله شوم دې نه روسته حضور ﷺ وفرمائیل

أَلَمْ يَأْنِ لِلرَّحِيْلِ قُلْتُ بَلٰی قَالَ فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا

د کوچ وخت نه دی راغلی ما وویل هو راغلی دی حضرت ابوبکر وایې نو مونږ د نمر زوال کیدو نه

مَالَتِ الشَّمْسُ وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ فَقُلْتُ

روسته د هغه ځای نه کوچ وکړو چې دورسته نه سراقه بن مالک راغلي ما سره عرض وکړو

أُتِيْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا

یارسول الله دښمن مونږ نیولو د پاره راغلی دی حضور ﷺ وفرمائیل مه یریږه الله ! زمونږ سره

فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلٰی بَطْنِهَا

روسته حضور ﷺ سراقه د پاره بد دعا وکړه نو د سراقه آس د هغه سره ترخیټې پورې په ځمکه کې

فِيْ جَلَدٍ مِّنَ الْأَرْضِ فَقَالَ إِنِّيْ أَرَاكُمَا دَعَوْتُمَا عَلَيَّ فَادْعُوَا لِيْ

دی دې نه غرق شو سراقه وویل زه پوهېږم تاسو دواړو زما د پاره بد دعا کړې ده اوس ځما د نجات

فَاللّٰهُ لَكُمَا أَنْ أَرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ فَدَعَا

او خلاصون د پاره دعا وکئ چې زه د دې ګرفت نه نجات پیدا کړم نو زه الله ! ګواه جوړولو سره وعده

لَهُ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
کوم چې زه به کفارستاسو د تعاقب کولو نه منع کوم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه د پاره دعا وکړه نو هغه					
فَنَجَا	فَجَعَلَ	لَا	يَلْقَى	أَحَدًا	إِلَّا قَالَ
د ګرفت نه نجات پیدا کړو نو کوم کافر به چې د هغه سره په لار کې یو ځاي کیده نو هغه ته به یې ویل					
كُفِيتُمْ مَا هُهُنَا فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.					
ستا د پاره ځما تلاش کول کافي دی او کوم سړی به چې ورسره مخ کیده هغه به د غه اوریدلو سره بیرته تلو.					

توضیح: **فروة**: پوستین ته وایي. **انفض ما حولك**: نفض تلاش کولو ته وایي ، دلته نګراني مراد ده ، په فوجي اصطلاح کې دغه قسم پیره او په دښمن باندې نظر ساتلو لپاره یو خوا بل خوا ګرځیدلو ته (ګزمه) وایي ، صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د غار شاوخوا د کفارو د راتګ وغیره نګراني شروع کړې وه.

(**قعب**) د لرګی نه جوړه شوې کاسه چې ژوره وي هغې ته قعب ویل کیږي . (**کثبة**) په کاف باندې ضمه ده ثاء ساکنه ده په باء باندې فتحه ده په شئ قلیل باندې یې هم اطلاق کیږي او د کې پیالې ته هم ویل کیږي . دا وزې (چیلۍ) یا خو د صدیق اکبر , وې نو ځکه یې شودې وغوښتلې ، یا یې د قیمت اداء کولو په اراده وغوښتلې ، یا یې د عربو د عام عادت موافق وغوښتلې چې عرب خلک مسافر کس ته د چیلو شوده ورکول ویستل خپله اهمه فریضه ګڼله . (**فوافقته**) کچیرې په وافقته کې فاء مقدمه وي نو دا د موافقت نه دی یعنې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوب سره موافقت وکړو تر دې پورې چې هغه پخپله پورته شو ،او که قاف مقدم وي نو دا به د وقوف نه وي چې د انتظار په معنی سره دی یعنې ما انتظار وکړو تر دې پورې چې هغه بیداره شو . (**اداوة**) د چمړې لوښی مراد دی چې هغې ته چاګل وایي.

یرتوی: ارتوی د روی نه دی د سیراب کیدلو په معنی سره دی یعنې په دغه لوټه کې به د اودس او څښلو لپاره اوبه پرتې وې.

الم یأن: أي ألم يقرب وقت الرحيل یعنې د غار نه د تللو وخت نژدې شوی نه دی ؟ .

سراقة بن مالک بن جعشم مدلجی: دا کس د خپلې علاقې سردار وو د انعام په لالچ کې هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې شوی وو د معجزې په لیدلو سره یې معافي وغوښته ،د خپل ځان لپاره یې یو کاغذ ولیکلو چې د فتح مکه په ورځ ماته امان حاصل شي ، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه سره د

کسرى د بنګړيو وعده وکړله ، چې کله دى مسلمان شو او د کسرى خزانه د عمر فاروق په دور کې مدينې ته راغى نو په مال غنيمت کې د کسرى بنګړې سراقه ته ورکړې شو ، هغه واغوستل او په منبر نبوى باندې وخته خلکو ته يې وښودل .

أتينا: يعني مونږ ونيول شولو . (فارتطمت) يعنې د آس پښې په شګو کې ښخې شوې . (جَلَد) په جيم او لام باندې زور دى سختې ځمکې ته وايي .

فالله لكما: اى الله كفيل عليّ لكما ان لا اهم بعد ذلک لغدركما، يعنې د الله تعالى وعده درکوم چې ستاسو د بدخواهۍ اراده به نکومه .

الطلب: تعاقب او تلاش ته وايي ، ابوجهل د سلو اوښانو انعام ټاکلى وو چې محمد ﷺ ژوندى يا مړ څوک راوړي يا د هغه خبر تر مونږ پورې ورسوي نو دا انعام به هغه ته ملاويږي ، هر طرفته دغه تلاش په همدغه وجه باندې کيده او دغه چاپې په همدغه وجه وهل کيدلې .

د عبدالله ابن سلام د ايمان راوړلو واقعه

﴿۳﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ بِمَقْدَمِ

او حضرت انس رضي الله عنه وايي عبد الله ابن سلام رضي الله عنه يو ځاى کې د ونو نه ميوې شکولې چې هغه

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِيْ أَرْضٍ يَّخْتَرِفُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د رسول الله ﷺ د مکې نه مدينې ته د راتلو خبر واوريده هغه فوراً د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر

وَقَالَ إِنِّيْ سَآئِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ

شو او عرض يې وکړو زه تاسو نه د درې خبرو معلومات کول غواړم چې هغه د نبي نه ماسوا بل څوک نه پيژني

فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

يو خو دا چې د قيامت مخکنۍ علامه به څه وي؟ دوهم دا چې د جنتيانو مخکنى طعام به څه وي

وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدَ اِلٰى اَبِيْهِ اَوْاِلٰى اُمِّهٖ؟ قَالَ أَخْبَرَنِيْ

دريم دا چې هغه کوم شى دى چې اولاد د مور او پلار مشابه کوي حضور ﷺ وفرمائيل اوس

بِهِنَّ جِبْرَئِيْلُ أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ

جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د دي سوالونو د جواب نه آگاه کړی یم د قیامت مخکنی علامه خو به هغه اور وي چې

تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ

خلق به د مشرق طرف نه د مغرب طرف ته جمع کړي او جنتیان چې جنت کې د ټولو نه مخکنی طعام

يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوْتٍ

خوري هغه به د ماهي [مهي] د جگر زائده حصه وي او هر چې په اولاد کې د مور پلار د مشابهت

وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الرَّجُلِ مَاءَ

سوال دی نو که د سړی او به مني د ښځي په اوبو غالبي شي نو سړی اولاد خپل مشابهت طرف ته راکاږي

وَإِذَا الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ

او که د ښځي او به د سړي په اوبو غالبي شي نو ښځه اولاد خپل مشابهت طرف ته راکاږي عبد الله بن سلام

نَزَعَتْ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ

د خپلو سوالونو جوابونو نه اوریدو سره وویل زه شاهدي اداکوم چې د الله! نه ماسوا بل معبود نشته

وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الْيَهُوْدَ قَوْمٌ بُهْتٌ

او داچي تاسو یقیناً د الله! رسول یې عبد الله ابن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض وکړو یا رسول الله دا یهودیان ډېر بهتان تراش دي

وَإِنَّهُمْ إِنْ يَعْلَمُوْا بِإِسْلَامِيْ

که ستا سو د پوښتني نه مخ کې دوئ ته څما مسلمانیدل معلوم شي نو په ما به دروغ بهتان تړي

مِنْ قَبْلِ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُوْنِيْ فَجَاءَتِ الْيَهُوْدُ

نو اتفاقاً یاد حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بلنه هغه وقت څه یهودیان مجلسِ نبوي ته راغلل او عبد الله ابن سلام یو کوټ کې پټ شو

فَقَالَ أَيُّ رَجُلٍ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ فِيْكُمْ
حضور ﷺ دهغه يهوديانو نه پوښتنه وكړه ستاسو ګمان او علم كې عبد الله ابن سلام څرنګه سړى دى؟
قَالُوْا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا
هغوئ جواب وركړو هغه په مونږ كې بهترين سړي دى په مونږ كې د بهترين سړى ځوى دى
فَقَالَ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ
حضور ﷺ پوښتنه وكړه كه عبد الله ابن سلام مسلمان شي نو آيا تاسو به مسلمانان شئ
قَالُوْا أَعَاذَهُ اللهُ مِنْ ذٰلِكَ فَخَرَجَ عَبْدُ اللهِ
يهوديانو ووېل الله! دې هغه د اسلام نه بچ كړي او خپل حفاظت كې دې وساتي نو عبد الله ابن سلام د هغوئ مخ ته راغى
فَقَالَ أَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ
او هغه ووېل زه ګواهي وركوم چې د الله! نه ماسوا بل معبود نشته او دا چې بلاشبه محمد د الله! رسول دى
فَقَالُوْا شَرُّنَا وَابْنُ شَرِّنَا
يهوديانو په دې اوريدو سره ووېل شروع كړل چې دا سړى خو په مونږ كې ډېر خراب دى او د بدترين سړي ځوى دى او په هغه
فَانْتَقَصُوْهُ قَالَ هٰذَا الَّذِيْ كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُوْلَ اللهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .
كې يې قسم قسم عيبونه راوخكل شروع كړل عبد الله ابن سلام ووېل يا رسول الله! تاسو وليدل دا هغه خبره ده چې زه ترې وېريدم

توضيح : (الا لبى) يعنې دا داسې خبري دي چې صرف نبى يې ويلى شي، په همدې كې د معجزې ظهور شوى دى چې حضور ﷺ دغه درې خبرې د وحې په ذريعه صحيح صحيح بيان كړلې . (اول اشراط الساعة) د قيامت نه مخكې ظاهريدونكي علاماتو پوښتنه يې ونكړه بلكې د قيامت د شرروع كيدو سوال دى ځكه چې ددغه اور نه به قيامت شروع شي ، د قيامت علامات خو به ددې نه مخكې ډيرې ظاهرې شوي وي لهذا د هغو سوال نه دى . (زيادة كبد حوت) د ماهى د سينې د طرف

حصه د تږلو نه مخکښ به د اهل جنت په ترکارئ کښ استعماليږي . (وما ينزع الولد) يعني بچی کله د مور هم شکله پیدا کیږي او کله د پلار مشابهت اختیاروي داسې ولې دی؟

(سبق ماء الرجل) يعني د مور رحم ته رسیدونکې نطفه که د نارينه غالبه شوه او د زنانه مغلوبه شوه نو بچی د نارينه مشابه پیدا کیږي ، ملا علی القاری رحمه الله د سبق ترجمه په (علا و غلب) سره کړې ده مګر شیخ عبدالحق رحمه الله په اشعة اللمعات کښ د دې ترجمه په سیقت سره کړې ده او فرمايي : چون پیش میشود آب مرد آب زن را یعني پیشتر در رحم می افتد ، يعني د نارينه نطفه چې کله د مور رحم ته مخکښې ورسيږي نو بچی د نارينه مشابه راځي ، په دې دواړو ترجمو کښ هیڅ تضاد نشته بلکه داسې ويل کیدلی شي چې کله د پلار اوبه د مور رحم ته په رسیدلو سره د زنانه په اوبو باندې غالبه راشي نو بچی د پلار سره مشابه کیږي .

(قوم بهت) په باء باندې ضمه ده او هاء ساکنه ده دا د بهت جمع ده او مفرد یې بهوت راځي چې د مبالغې صيغه د صَبُورٌ او صَبرٌ پشان ده يعني يهود ډیر بهتان ويونکي خلک دي کچیرې زه اسلام قبول کړم نو هغوی به په ما باندې قسما قسم بهتانونه وتړي . حضرت عبدالله بن سلام ، د يهودو ډیر لوی عالم وو ، د تورات حافظ وو ، هغه خپل غلام ته ويلي وو چې کله نبی آخرالزمان د مکې نه مدينې ته راغلی نو ماته اطلاع راکړه ، يوه ورځ دا په خپل باغ کښ په يوې ونې باندې ختلی وو ميوه يې شکوله چې غلام د لاندې نه آواز ورکړو چې نبی آخر الزمان مدينې ته راغلی دی! په ده باندې يو هیبت او رعب طاری شو قریبه وه چې د ونې نه غورځیدلی وی خو بچ شو ، د ونې نه کوزیدو سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طرف روان شو ، چې کله یې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نوراني مخ باندې نظر پریوتو نو وي ویل (والله ماهذا بوجه كذاب) قسم په الله دا مخ د کوم دروغجن کیدلی نشي ! بيا یې د امتحان په طریقه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه درې پوښتنې وکړې ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پخپله جواب ورکولو په ځای د جبرئيل امين انتظار و فرمايلو او بيا يې د وحې په ذريعه جواب ورکړلو ، عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان شو مګر اول یې په يهودو باندې د خپل عظمت اقرار وکړلو تر شو وروسته د بهتان تړلو اثر پاتې نشي .

د جنګ بدر او مقتولينو د بدر سره متعلق د معجزاتو ښکاره کیدل

﴿۴﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ شَاوَرَ حِيْنَ بَلَغَنَا
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يقيناً رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وقت چې مونږ ته د ابو سفیان د راتلو خبر وشو

إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ وَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

مدينه والاوو سره يې صلاح مشوره وکړه سعد ابن عباده اودريدلو او عرض يې وکړو يارسول الله!

وَ الَّذِيْ نَفْسِيْ لَوْ أَمَرْتَنَا

په هغه پاک ذات مې دي قسم وي چې د هغه په قبضه کې ځما ساه ده که تاسو مونږ ته د خپلو سورلو

أَنْ نُخِيْضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَلَوْ أَمَرْتَنَا

د حيوانانو په سمندر کې د اچولو حکم وکړو نو بلاشبه مونږ به داسې کوو او که ستاسو حکم وي چې

أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا إِلٰى بَرْكِ الْغِمَادِ لَفَعَلْنَا

مونږ د خپلو اوښانو او آسونو ځګر برک غماد پورې وهو نو مونږ به بيشکه داسې کوو حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

قَالَ فَنَدَبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وايي دې نه روسته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول خلق جنګ د پاره د جوش او خروش نه ډک کړل او تيارې کړل

النَّاسَ فَانْطَلَقُوْا حَتّٰى نَزَلُوْا بَدْرًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ټول خلق روان شول تر دې پورې چې د بدر مقام ته ورسيدل نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ګورئ

هٰذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ وَيَضَعُ

دا ځاې د فلاني سړي کافر د هلاکيدو او د هغه د جسد د غورځيدو دی د غه شان حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د م کړو

يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ هَاهُنَا وَهَاهُنَا

دکفارو او اشقياو نومونه اخستل او په ځمکه باندې يو يو ځاې لاس ايخودو فرمائيل به يې چې

قَالَ فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ

فلانی سړی به دلته سړ کيدو سره را لويږي او د فلاني سړي بدن به دلته لويږي حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي

رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې چیرته لاس ایخو دلی وو دهغه ځاي نه یو سړی هم متجاوز نه شو. [مسلم]

توضيح: (شاور) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جنګ بدر ته د رسیدلو نه مخکې د خپلو صحابه کرامو نه مشوره وغوښته چې د جنګ میدان ته ولاړ شي او که نه ، صورت حال دا وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابوسفیان د قافلې نیولو لپاره د مدینې منورې نه د څو صحابه کرامو سره بدر ته ورسیده ، په عجلت کې د وتلو په وجه د صحابه کرامو سره اسلحه هم نه وه ، هلته د ابوسفیان قافله د شام نه واپس راغله او د لارې په بدلولو سره مکې ته ورسیدل ، اهل مکه ته پته ولګیده چې د دوی قافله لوټ شوې ده نو ابوجهل زر ۱۰۰۰ مجهز لښکر تیار کړلو او د جنګ لپاره بدر ته ورسیده ، دلته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د انصارو نه د هجرت نه مخکې په لیلة العقبة کې کومه معاهده اخستې وه هغه دا وه چې کچیرې په حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې کوم قوم د مدینې په ښار کې حمله وکړي نو انصار به يې دفاع وکړي لیکن کچیرې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدینې نه بهر د چا په تعاقب کې د جنګ لپاره لاړ شي نو انصار دده سره د تللو پابنده نه دي ، د دغه صورت حال په پیش نظر سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بار بار د انصارو د سردارانو نه مشوره وغوښتله چې ستاسو رایه او مشوره څه ده ، حضرت سعد بن معاذ ، سخت تقریر وکړلو او د وفادارۍ عهد يې وکړلو چې په دې باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر خوشحاله شو او میدان جنګ ته مخکې شو.

سعد بن عبادة: دلته د سعد بن عبادة ، نوم دی شاید د چا نه هیر شوي وي ځکه چې په مشهورو روایاتو کې حضرت معاذ ، ذکر دی ، یا کیدلی شي چې دواړو دا خبره کړې وي . **ان نخيضها**: خوض په اوبو کې د ننوتلو په معنی سره دی ، دلته د باب افعال صیغه ده د ننویستلو په معنی سره دی نخیضها ها ضمیر آسونو او اوښانو ته راجع کیږي اګرچې د هغو ذکر نشته لیکن د قرینه مقام نه معلومیږي چې ها ضمیر د وابو ته راجع کیږي مراد آسونه او اوښان دي. **برک الغماد**: په حبشه کې یو ځای نوم دی ، بعضو ویلي دي چې په یمن کې د یو ښار نوم دی ، ملا علی القاری رحمه الله ویلي دي چې دا د لرې علاقو نه کنایه ده یعنې د دنیا کوم کونج ته چې تاسې ووایي مونږ ځو . **(مصرع)** لویدلو ځای مقتل ګاه ، **(ما ماط)** یعنې په کوم ځای باندې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کوم کافر د قتل کیدلو او لویدلو اشاره فرمایلې وه هغه لږ هم د هغه ځای نه آخوا دیخوا نشو بلکه په هماغه ځای ... په دې کې معجزه ظاهره شوه . بریلوی حضرات دا د علم غیب لپاره دلیل جوړوي نو بیا ...

حضرت عیسی علیه السلام معجزه د مړو ژوندي کول د خدائی دلیل وي ، بریلویانو ته پکار دي چې هغه ته خدای ووایي . (ای ما اخطأ وتجاوز).

د حضور صلی الله علیه وسلم دعا د جنګ بدر په ورځ

﴿۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِيْ قُبَّةٍ يَوْمَ بَدْرٍ							
اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم د جنګ بدر په ورځ یوه خیمه کې دا دعا							
اَللّٰهُمَّ	اَنْشُدُكَ	عَهْدَكَ	وَوَعْدَكَ	اَللّٰهُمَّ	اِنْ	تَشَأْ	
غوښتله ای الله! زه ستا نه ستا آمان غواړم او ستا د وعدي پوره کول غواړم ای الله! که ته دا غواړي							
لَا	تُعْبَدُ	بَعْدَ	الْيَوْمِ	فَأَخَذَ			
نن نه روسته به ستا عبادت نه کېږي هر کله چې حضور صلی الله علیه وسلم ډیري عاجزۍ سره دا دعا غوښتله نو							
اَبُوْ	بَكْرٍ	بِيَدِهٖ	فَقَالَ	حَسْبُكَ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ
حضرت ابوبکر رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم لاس مبارک ونیوه هغه وویل یا رسول الله! بس کړه دومره دعا غوښتل کافی							
اَلْحَحْتَ	عَلٰى	رَبِّكَ	فَخَرَجَ	وَهُوَ	يَثِبُ		
دي تاسو ډیر زاری سره خپل پروردګار نه د فتح او نصرت التجاء کړي ده دي نه روسته حضور صلی الله علیه وسلم							
فِيْ	الدِّرْعِ	وَ	هُوَ	يَقُوْلُ	سَيُهْزَمُ		
زغره اچولي وه په ډیري تیزۍ سره د خپلي خیمي نه او وتلو او دا آیت چې هغه وقت نازل شوی و وحضور صلی الله علیه وسلم							
الْجَمْعُ	وَ	يُوَلُّوْنَ	الدُّبُرَ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ		
لوړ اواز سره ووایه: د کفارو دا جماعت به شکست وخوري او دا تول به شا کولو سره تښتي دا روایت بخاري نقل کړی دی.							

توضیح: (الححت) اصرار عاجزۍ او زارۍ ته ویل کیږي یعنې تا د خپل رب نه په غوښتلو کې ډیره مبالغه او اصرار وکړلو ، دا کافی ده ! حضور صلی الله علیه وسلم چې کله وکتل چې دده یوه صحابی او امتی ته د مدد الهی د نزول شرح صدر شوی دی نو یقینا د الله تعالی کومک رسیدلی دی ، نو هغه د

عریش نه راووتلو او د بشارت آیت یې واورولو او د معجزې ظهور وشو . (یثب) ټوپ وهلو او ټوپ وهلو سره راتللو ته ویل کیږي ، د خوشحالۍ په وجه حضور ﷺ په تیزۍ سره بهر شولو . (في الدرع) یعنې په داسې حال کې چې هغه د جنګ لپاره زغره اچولې وه ، نن سبا د میدان بدر په دغه مقام کې یو مسجد جوړ شوی دی چې د هغه نوم مسجد العریش دی ، حضور ﷺ خو د یو څپرکی (چوپال) لاندې ناست وو ، په هغه وخت کې نه مسجد وو او نه کومه څهار دیواري وه.

په جنګ بدر کې د فرښتو نزول

﴿٦﴾ وَ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ هٰذَا جِبْرَئِيْلُ	
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی رسول الله ﷺ د جنګ بدر په ورځ وفرمائیل دا جبرائیل دی	
آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ	
چې د خپل آس سر نیولو سره جنګ د پاره مستعد ولاړ دی او د جنګ سامان یې اخستی دی. [بخاري]	

توضیح : **هذا جبرئیل**: د بدر په جنګ کې د باقاعده جنګ کولو لپاره زر ۱۰۰۰ ملائکې د آسمان نه راغلې وې، پنځه سوه د حضرت جبرئیل علیه السلام او پنځه سوه د حضرت میکائیل علیه السلام سره وې . **اداة الحرب**: سامان جنګ مراد دی یعنې جبرئیل امین د سامان جنګ سره ولاړ وو . د حضور ﷺ جبرئیل علیه السلام لیدل او بیا د هغه د مدد لپاره د یو زر ملائکو راتلل دا د معجزې ظهور دی .

﴿٧﴾ وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِيْنَ يَوْمَئِذٍ	
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وایي د جنګ بدر په ورځ هرکله چې یو مسلمان د یو مشرک تعاقب کولو	
يَشْتَدُّ فِيْ أَثَرِ رَجُلٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ أَمَامَهُ	
چې په مخه تختیده نو اچانک هغه مسلمان په هغه مشرک باندې د چابک اواز واوریدو بیا هغه	
إِذَا سَمِعَ ضَرْبَةً بِالسَّوْطِ فَوْقَهُ وَصَوْتَ	
دېر سور اواز واوریدو چې دایي ویل حَیزُوم مخکې شه بیا د هغه مسلمان نظر خپل مخ کې	

الْفَارِسِ يَقُوْلُ أَقْدِمْ حَيْزُوْمُ إِذْ نَظَرَ إِلَى الْمُشْرِكِ

تښتیدونکی مشرک طرف ته لاړه نو وي لیدل چې هغه په ځمکه سم راغورځیدلی پروت دی هغه دا

أَمَامَهُ خَرَّ مُسْتَلْقِيًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ قَدْ

هم ولیدل چې د هغه مشرک په پوزه باندې نښان لګیدلي وو او د هغه مخ پرې شوی وو چې د چابک

خُطِمَ أَنْفُهُ وَشُقَّ وَجْهُهُ كَضَرْبَةِ السَّوْطِ

د وهلو علامه وه یعني ځرنګه چې یوځای په کاڼي وغیره لګیدلو سره شین شي دغه شان د هغه د

فَاخْضَرَّ ذٰلِكَ أَجْمَعُ فَجَاءَ الْأَنْصَارِيُّ

پوزې هغه حصه چې په هغه د چابک ځغه نښه په نظر راتله شین شوی وو نو هغه انصاري مسلمان

فَحَدَّثَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې د مذکوره مشرک مذکوره حال یې لیدلی وو حضور ﷺ ته چې راغلي نو دا ټوله واقعې یې

فَقَالَ صَدَقْتَ ذٰلِكَ مِنْ مَّدَدِ السَّمَاءِ

ورته بیان کړله حضور ﷺ پوره واقعه اوریدو سره ورته وفرمائیل ته رېښتیا وایې هغه فرشته چې

الثَّالِثَةِ فَقَتَلُوْا يَوْمَئِذٍ سَبْعِيْنَ

هغه مشرک یې چابک سره هلاک کړه د دریم آسمان د فوځي کومک فرشته وه د هغه ورځې په جنګ

وَ أَسَرُوْا سَبْعِيْنَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

کې مسلمانانو اویا کافران قتل کړل او اویا یې ګرفتار کړي وو.

توضیح: (**یشتد**) تیزې منډې وهلو ته ویل کیږي. (**السوط**) سوط قمچینې (چابک) او کوړې ته ویل کیږي. (اقدم) یعنې مخې ته لاړه شه، (**حیزوم**) **اي حیزوم**! د حضرت جبرئیل یا د کومې بلې ملائکې د آس نوم حیزوم وو. (**خطم انفه**) د مخ ماتولو او دوه ځایه کولو لپاره د خطم لفظ

استعماليږي .(اخضر اجمع) يعني ټول مخ يې شين او تور ګرځيدلی وو ، چونکې دا د ملائکې د لاس کوړه وه نو ځکه يې زهريلا اثر ظاهر شو .

صدقت: يعني د صحابی کرامت د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د برکت نه وو لهذا دا د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حق کې معجزه وه ، يا يې داسې وګڼه چې د ملائکو نزول د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبوت د اثبات لپاره معجزه وه ! په دغه وجه دا حديث په معجزاتو کې راغی .

د احد په جنګ کې د فرشتو د مدد معجزه

﴿۸﴾ وَ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ رَأَيْتُ

او حضرت سعد ابن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د احد په جنګ کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي او ښې طرف ته

عَنْ يَمِيْنِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنْ

سپينو جامو کې دوه سړي وليدل چې هغوئ کې يو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي طرف ته او يو ښې طرف ته

شِمَالِهِ يَوْمَ أُحُدٍ رَجُلَيْنِ عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ بِيْضٌ

وو او هغوئ دواړه ډير په شدت سره ځمونږ د دښمنانو سره جنګيدل هغه دواړه نه ما مخکې چيرته

يُقَاتِلَانِ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَ لَا بَعْدُ.

ليدلی وو او نه مې د هغه نه روسته چيرته وليدل دي نه ثابته شوه چې هغه دواړه دراصل فرشتي يعني

يَعْنِيْ جِبْرَئِيْلَ وَ مِيْكَائِيْلَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ او ميکائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ وو .

توضيح : (كاشد القتال) ملائکه چې کله د انسان په شکل کې راځي نو بيا د انسان په صفاتو سره متصف کيږي ، په حديث کې د سخت جنګ کولو مطلب همدا دی چې د يو انسان پشان جنګيدل او که نه نو د ملائکې اصلی طاقت خو دومره دی چې د قوم لوط کلی يې آسمان ته پورته کړي وو او په ځمکه يې ويشتل، همدارنګه جبرئيل عليه السلام په قوم ثمود باندې يو آواز وکړو چې په هغه سره ټول هلاک شول ، بيا عجيبه خبره دا ده چې د انسان په شکل کې ملائکه د انسان د حملې نښانه هم جوړيدلی شي لکه څنګه چې موسی عليه السلام د ملائکې سترګه راوويستله ، حضرت سعد رضـ نه

شاید حضور ﷺ پخپله ویلي وي چې دا دوه ملائکې جبرائیل او میکائیل دي، په هر حال د ملائکو راتلل او د حضور ﷺ په حفاظت کې د دفاع لپاره جنګېدل د معجزې ظهور دی.

د دابو رافع د قتل په وخت کې د معجزې ښکاره کېدل

﴿۹﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا إِلَى أَبِيْ رَافِعٍ
او حضرت براء رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ د صحابه وو يو جماعت ابو رافع يهودي طرف ته وليږی
فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيْكٍ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ
نو يو صحابي عبد الله ابن عتيک رضي الله عنه د هغه خوب ګاه ته په داسي حال کې چې هغه ويده وه داخل شو
نَائِمٌ فَقَتَلَهُ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عَتِيْكٍ فَوَضَعْتُ السَّيْفَ
او هغه يې مړ کړلو عبد الله بن عتيق بيان کړي چې ما د ابو رافع پر خيټه توره کېښودله تر دې پورې
فِيْ بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِيْ ظَهْرِهِ فَعَرَفْتُ أَنِّيْ قَتَلْتُهُ فَجَعَلْتُ
چې هغه د شا د طرف نه بهر راووتله هر کله چې زه پوهه شوم چې د هغه کار تمام شوی دی نو ما د
أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ فَوَضَعْتُ رِجْلِيْ
قلعه دروازې خلاصول شروع کړل او بيا زه يوې زينې ته ورسيدم ځرنګه چې ما قدم کېخوده د
فَوَقَعْتُ فِيْ لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ سَاقِيْ فَعَصَبْتُهَا بِعَمَامَةٍ
سپوږمۍ خوره رڼا کې داسې راوغورځيدم چې ځما پنډۍ ماته شوه ما په خپلې لنګوټې سره پنډۍ
فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِيْ فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وتړله او خپلو ملګرو ته ورسيدم چې د قلعه لاندي ولاړ وه بيا زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې
فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ ابْسُطْ رِجْلَكَ
حاضر شوم حضور ﷺ ته مې ټوله واقعه بيان کړه حضور ﷺ و فرمائيل خپله پښه وغزوه

فَبَسَطْتُ	رِجْلِيْ	فَمَسَحَهَا	فَكَأَنَّمَا

ما خپله پښه وغزوله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خما په پښه خپل لاس مبارک راتیر کړو نو هغه وقت خما پښه داسې روغه

لَمْ	أَشْتَكِهَا	قَطُّ.	رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

جوړه شوه لکه چې هغې ته څه تکلیف نه وي رسیدلی.

توضیح : په مدینه منوره کې ابورافع یو خبیث یهودي وو . لوی تاجر وو ، معاهد وو مګر هغه د مسلمانانو سره معاهده ماته کړله او د اسلام او اهل اسلام په بدګوئی کې مصروفه شو ، شر او فساد یې خوروه ، د مسلمانانو په مذمت کې یې قصیدې ویلې او په دې قصیدو به یې مجلسونه ګرمول او فتنه یې راپورته کوله ، د هغه کنیه ابوالحقیق وو ، نهایت بد باطن انسان وو ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عبدالله بن عتیک د هغه د قتل لپاره ولیږه ، حضرت عبدالله بن عتیک په یوه حیله سره د هغه قلعه ته داخل شو او چوکیدار به چې چیرته چابیاني ایښودلې هغه یې معلومې کړې او بیا یې کلیانې واخیستلې او پاس بالاخانو ته لاړلو او د ابورافع کوټې ته ورسیدلو او د خوب په حالت کې یې په هغه باندې یوه حمله وکړه چې ناکامه شوه بیا یې دویمه حمله وکړه او ابورافع یې قتل کړلو . په واپسۍ کې د زینو نه وغورځیده چې یوه پښه یې ماته شوه ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی هغه یې دم کړلو پښه یې بلکل صحیح شوه او د معجزې ظهور وشو .

غزوه احزاب کې د طعام معجزه

﴿۱۰﴾ وَعَنْ	جَابِرٍ	قَالَ	إِنَّا	يَوْمَ	الْخَنْدَقِ	نَحْفِرُ	فَعَرَضَتْ	كُدْيَةٌ	شَدِيْدَةٌ	فَجَاءَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایې مونږ خلقو د خندق په ورځ خندق او خکو یو سخت کاڼی راوخته صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

النَّبِيَّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَقَالُوْا	هٰذِهٖ	كُدْيَةٌ	عَرَضَتْ	فِي الْخَنْدَقِ

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې راغلل عرض یې وکړو چې د کیندلو په ځای کې یو سخت کاڼی راختلی

فَقَالَ	أَنَا	نَازِلٌ	ثُمَّ

دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل زه خپله په خندق کې خکنه کیدو سره کورم نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سمدستي

قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ

راپاڅیدو هغه وقت د ولږې نه د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خېټه مبارکه کاڼی تړلی وو او مونږ ټول خلق درې ورځو

لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ

نه په دې حال کې وو چې مونږ هیڅ نه وو خوړلي څه شی د څکلو هم نه وو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کولنګ په لاس

فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ،

مبارک کې واخسته او د خندق کندې ته خکته کیدو سره په کاڼي یې یو داسې سخت ګذار وکړو چې

فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي فَقُلْتُ

هغه کاڼي د بهیدلي ریګ په شان زره زره شو حضرت جابر. وایې دې نه روسته زه خپل کورته

هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّي

راغلم او خپلې ښځې سهیله بنت معوذ انصاریه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه مې پوښتنه وکړه تا سره د خوراک څه شته ما

رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا فَأَخْرَجَتْ

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د ولږې سخت اثر لیدلی دی په دې اوریدو سره څما ښځې یوه تیلۍ راوایستله

جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ

په هغې کې تقریبًا درې نیم سیره اوربشې وې او زمونږ کره د بزې (چیلۍ) یا کورنۍ میږې یو ورکوټی

دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتِ الشَّعِيرَ حَتَّى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ

شان بچی وو ما هغه بچی ذبح کړو او څما ښځې اوړه واغږل بیا ماغوښه په کټوۍ کې اچولو سره په

ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ

نغرې کېښودله بیا زه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورسیدم او پټ مې ورته عرض وکړو یارسول الله! مونږ د

يَا رَسُوْلَ اللهِ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَّنَا وَطَحَنْتُ صَاعًا مِّنْ شَعِيْرٍ

بزي يو ورکوټې بچې ذبح کړی دی او ځما ښځي تقريبًا دري نيم سيره اوربشي وړه کړي دي دغه شان

فَتَعَالَ أَنْتَ وَنَفَرٌ مَّعَكَ فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څه خلقو د پاره خو ما طعام تيار کړی دی تا سو څو کسانو سره تشريف راوړئ په دي اوريدو سره

يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا صَنَعَ سُوْرًا فَحَيَّ هَلًا

حضور ﷺ پورته اواز سره اعلان وکړو خندق والاو ! راځئ جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ستاسو د ميلمستيا د پاره

بِكُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

طعام تيار کړی دی راځئ چي زر ورشو بيا حضور ﷺ ماته وفرمائيل ته لاړ شه د طعام انتظام وکړه

لَاتُنْزِلُنَّ بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِيْنَكُمْ حَتّٰى

ليکن خپله کټوی د نغري نه مه خکته کوه او مه ډوډي پخوه تر څو پوري چي زه رانشم بيا حضور ﷺ

أَجِيْءَ وَجَاءَ فَأَخْرَجْتُ لَهُ عَجِيْنًا

زمونږ کره تشريف راوړه ما اغږلي وړه د حضور ﷺ مخ کي کيښودل نو رسول الله ﷺ په هغه کي

فَبَصَقَ فِيْهِ وَبَارَكَ ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا

لاړې مبارکې واچولي او د برکت دعاءيي وکړه بيا د کټوی طرف ته را مخ کي شو او په هغه کي يې د

فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ أُدْعِيْ خَابِزَةً

خپلي خولي مبارکي لعاب واچول او د برکت د عايي وکړه بيا حضور ﷺ وفرمائيل چي روټۍ

فَلْتَخْبِزْ مَعَكِ وَاقْدَحِيْ مِنْ بُرْمَتِكُمْ

پخونکې را وغواړه چي تا سره روټۍ پخوي او ماته راکوي او په ځمڅۍ سره د کټوي نه ترکاري

وَلَا	تُنْزِلُوْهَا	وَهُمْ	أَلْفٌ	فَأُقْسِمُ

راو باسه ليکن کتهوى دې په انغرى پرته وي حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي هغه وقت خندق والا زر (۱۰۰۰)

بِاللّٰهِ	لَاکَلُوْا	حَتّٰى	تَرَکُوْهُ	وَانْحَرَفُوْا

نفر وو او زه په الله! قسم کوم چې هغه ټولو هغه طعام په وخوړلو ليکن طعام هم هغه شان پاتې

وَإِنَّ	بُرْمَتَنَا	لَتَغِطُّ	كَمَا	هِيَ	وَإِنَّ	عَجِيْنَنَا

شو هرکله چې ټول خلق ولاړل نو کتهوئ دغه شان په انغري پخيدله څرنګه چې مخکې وه او روټۍ

لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

څرنګه چې شروع کې وه . [بخاري مسلم]

توضيح : په کاف باندې ضمه ده او دال ساکن دى او په ياء باندې زور دى ، په ځمکه کې ښکاره کيدونکې سختې او مضبوطې تيږې ته وايي چې په هغې کې کولنګ اثر نه کوى . **(معصوب) اى مربوط بحجر** يعنې په خيټې باندې يې تيږه تړلې وه . **(ذواقا)** د ځکلو لپاره هيڅ نه وو، **(المعول)** کولنګ ته وايي . **(کثيبا)** يعنې د شګو يو ډيرى جوړه شوه . **(اهيل)** د نرمو شګو د ډيرى نه لاندې طرفته چې کومه شګه غورځي هغې ته اهيل وايي ، په قرآن کريم کې دي (وکان الجبال کثيبا مهيلا) خلاصه دا چې د کومې تيږې د ماتولو نه چې صحابه کرام عاجزه راغلل د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو کولنګ وهلو سره هغه ريزه ريزه شو او د معجزې ظهور راغى . **(فانکفأت) اى رجعت** يعنې زه د خپلې ښځې طرفته واپس راغلم . **(خمصا) اى جوعا** يعنې په حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ما سختې ولږې اثرات ليدلى دى لکه د بدن خواريدل ، کمزورى کيدل ، د رنګ زيړيدل . **(بهمة)** د ميږې (ګډې) بچى ته ويل کيږي د وزې (چيلۍ) پر بچى باندې يې هم اطلاق کيږي مګر دلته د ميږې بچى مراد دى . **(داجن)** کور کې تړل شوې وزې (چيلۍ) وغيره ته داجن ويل کيږي يعنې کورنۍ . **(البرمة)** برمة د تيږې نه جوړه شوې کتهوى ته ويل کيږي بيا په مطلق کتهوې باندې ويل شوى که هغه د تيږې نه وي يا نه وي .

(فسار رته) پټو خبرو کولو ته ویل کیږي ، پټې یې ځکه کولې چې خوراک کم وو . (سورا) ای طعاما د فارسي خوراکونو کې د ضیافت یو خوراک ته سور ویل کیږي حضور ﷺ د دغه نوم په اخیستلو سره دې قسم خوراک ته اعزاز وبخښلو .

(فبصق فیه) د تبرک لپاره یې د خولې لاړې په هغه کې واچولې . (و بارک) یعنې د برکت دعاء یې وفرمایله . (اقدحی) یعنې په ځمڅې سره ښوروا اوباسه . (تغط) د جوش وهلو په معنی سره دی یعنې په کټوۍ او خوراک کې د معجزې ظهور راغی ، نو نه اوړه ختمیدل او نه ترکارۍ ختمیدله .

د عمار ابن یاسر رضی الله عنه باره کښې پښن ګوئي

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ لِعَمَّارٍ
او حضرت ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دی چې عمار ابن یاسر رضی الله عنه خندق وستلو او رسول الله ﷺ د هغه
حِيْنَ يَحْفِرُ الْخَنْدَقَ فَجَعَلَ يَمْسَحُ رَأْسَهُ وَيَقُوْلُ بُؤْسَ ابْنِ سُمَيَّةَ
په سر لاس مبارک ګرځولو سره د هغه د سر نه یې خاوره څنډله او دایې فرمائیل های د سمیه د ځویه د
تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
(عمار) ابن یاسر رضی الله عنه سختي او مصیبته تا به د باغیانو یوه ډله قتل کوي .

توضیح : (بؤس عمار) بؤس او بأس د سختۍ و شدت او مصیبت په معنی سره دی . حضرت سمیه رضی الله عنها د حضرت عمار ، د مور نوم دی چې د اسلام اولنۍ شهیده ده . (الفئة الباغية) یعنې د وخت د امام د اطاعت نه وتونکې فرقه به تا قتل کوي . د اطاعت نه وتونکې فرقه د حضرت معاویه رضی الله عنه سره وه چې د حضرت علی رضی الله عنه په لاس باندې بیعت کړی نه وو او بیا د حضرت علی رضی الله عنه په مخالفت کې راپورته شول . حضرت عمار رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه سره وو او د هغه د مخالفینو په لاسونو باندې شهید شو . حضرت علی رضی الله عنه امام برحق وو او د حضرت معاویه رضی الله عنه نه غلطي شوې وه ، دا مشاجرات د صحابه کرامو معاملات دي چې کله الله تعالی زمونږ لاسونه د دغو نفوس قدسیو د وینې نه پاک کړي دي نو په مونږ باندې فرض دي چې مونږ د خپلو مسلمانو وروڼو په مینځ کې کیدونکې دغه خونریزۍ نه خپلې ژبې هم محفوظ کړو . په جنګ جمل کې نهه زره کسان مړه شوي وو ، دغه جنګ د حضرت عائشه رضی الله عنها او حضرت علی رضی الله عنه په مینځ

کې د منافقينو د دوکې په وجه شوی وو، بيا د حضرت معاويه رضي الله عنه او حضرت علی رضي الله عنه په مينځ کې په مقام صفين کې جنګ شوی وو، په هغه کې ۷۵ زره يا ۹۰ زره کسان مړه شوي وو، حضرت معاويه رضي الله عنه به د (الباغية) په الفاظو کې څه تأويل کولو . ملاعلی القاری رحمه الله ليکلي چې دغه تأويلات نقل کول پکار نه دي ، د حضرت عمار رضي الله عنه د شهادت د پيشن ګوئی په پوره کيدلو باندې د حضور صلی الله عليه وسلم د معجزې ظهور وشو .

حضور صلی الله عليه وسلم د اقدامي جهاد پيشن ګوئی وکړه

﴿۱۲﴾وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سليمان ابن صرد رضي الله عنه وايي کوم وقت چې د غزوه احزاب نه د دښمنانو لښکر وتختيده او د
حِيْنَ أُجْلِيَ الْأَحْزَابُ عَنْهُ اَلْآنَ نَغْزُوْهُمْ وَلَا يَغْزُوْنَنَا
مديني منوري محاصره ليري شوه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمائيل اوس د دښمن په مونږ حمله نشي کولی
نَحْنُ نَسِيْرُ إِلَيْهِمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
هو مونږ به د هغوئ سره جهاد کوو او په هغوئ به لښکر کشي کوو .

توضيح : د خوف او خطر په اعتبار باندې غزوه خندق يعنې جنګ احزاب د ټولو نه زيات خطرناک جنګ وو لکه څنګه چې د تنګئ او مشقت په اعتبار غزوه تبوک د ټولو نه د زيات مشقت والا غزوه وه .په جنګ احزاب کې د کفار قريش مختلف قبائل راجمع شوي وو، تر يوې مياشتې د مدينې منورې محاصره پاتې شوه په آخره کې کفار ناکامه واپس شول ، د اجلی الاحزاب مطلب همدا دی چې کله محاصره ختمه شوه او احزاب واپس لاړل نو حضور صلی الله عليه وسلم پيشن ګوئي وفرمايله چې آينده به په جزيرة العرب کې په دغو کفارو باندې مونږ اقدام کوو ، دوی په مونږ باندې اقدام کولی نشي ځکه چې د دوی طاقت اوس مات شوی دی ، لکه څنګه چې د حضور صلی الله عليه وسلم فرمان رشتني ثابت شو او اقدام د مسلمانانو له طرف نه وشو او د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم د معجزې ظهور وشو . په ټول اهل اسلام باندې دا واضح کيدل پکار دي چې الله تعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم په آخر کې مسلمانانو ته د کفارو خلاف د اقدام حکم کړی دی لهذا د دفاعی جنګ معذرت خواهانه پوزيشن د دنيا مخې ته پيش کول په کار نه دی . همدارنګه معجزې ته علم غيب ويل د علم نه د لرې والي نتيجه ده .

د فرشتو د مدد معجزې ښکاره کېدل

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا رَجَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْخَنْدَقِ

او د بي بي عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بيان دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه خندق نه بيرته راتلو سره خپل جسم نه هتيار

وَوَضَعَ السِّلَاحَ وَاغْتَسَلَ أَتَاهُ جِبْرَئِيْلُ وَهُوَ

(اسلحه) خکته کوله او د غسل اراده يې کوله چې حضرت جبرائيل) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت

يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنَ الْغُبَارِ فَقَالَ قَدْ

کې راغی داسي حال کې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل سرمبارک نه گرد او غبار څنډلو او هغه ورته وويل

وَضَعْتَ السِّلَاحَ وَاللهِ مَا وَضَعْتُهُ أُخْرُجْ

تا سو خو اسلحه ايخې ده او قسم په الله ما هتيار نه دی خکته کړی اوس خو پر کافرو باندي لښکر کشي

إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَأَيْنَ فَأَشَارَ إِلَى بَنِيْ

کول دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عرض وکړو چې چيرته؟ حضرت جبرائيل) بني قريظه طرف ته اشاره

قُرَيْظَةَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وکړله نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره بني قريظه طرف ته روان شو [بخاري، مسلم]

وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ قَالَ أَنَسٌ كَأَنِّيْ

او د بخاري په يو حديث کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دا الفاظ هم منقول دي چې گويا زه هغه گرد غبار

أَنْظُرُ إِلَى الْغُبَارِ سَاطِعًا فِيْ زُقَاقِ بَنِيْ غَنْمٍ مَوْكِبَ جِبْرَئِيْلَ

اوس هم وينم چې د بنو غنم په کوڅو کې د حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د تلونکو سپرو فرشتو د جماعت

حِيْنَ سَارَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِلَى بَنِيْ قُرَيْظَةَ.

په سبب هغه وقت پورته کيده کوم وقت چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بنو قريظه طرف ته روان وو.

توضیح: اتاه جبرئیل: یعنې د غزوه خندق نه فارغیدو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ اسباب لرې کړل او د غسل تیاری یې شروع کړو چې په همدې وخت کې جبرئیل علیه السلام راغلو او ګرد آلود او مسلح وو او ویې فرمایل چې تا د جنګ اسباب لرې کړل حالانکه ملائکې تر اوسه مسلح دي؟ نو د ملائکو راتلل او مسلح کیدل د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدد کول دا د معجزې ظهور وو. د غسل مطلب دا نه وو چې هغه غسل کړی وو بلکه د غسل تیاری یې کولو چې جبرئیل علیه السلام راغی.

موکب: دا لفظ منصوب بنزع الخافض دی (**ای من موکب جبرئیل**) یعنې د حضرت جبرئیل علیه السلام د جماعت ملائکو د تګ په وجه د بنوغنم په کوڅو کې ګرد پورته کیده ځکه چې ټولې ملائکې په آسونو سورې وې.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګوتو مبارکو نه د اوبو وتلو معجزه

﴿۱۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایې مقامِ حدیبیه کې یوه ورځ داسې وشو چې د اوبو د شدید قلت په سبب
وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ
خلق سخت تږي شول هغه وقت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یوه لوټه وه هغې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس وکړو او په
مِنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ قَالُوا
هغې کې څه لږ اوبه پاتې شوې خلکو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضریدو سره عرض وکړو چې
لَيْسَ عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ وَلَا نَشْرَبُ
په لښکر کې د څکلو او اودس کولو د پاره اوبه بالکل نشته بس هغه څه لږ اوبه دي چې ستاسو نه په
إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
لوټه کې پاتې شوې دي او ښکاره ده چې په دې سره د ټولو خلقو کار نه کیږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې
يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ
اوریدو سره خپل لاس مبارک هغه لوټه کې دننه کړو نو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوتو مبارکو نه اوبه داسې

كَأَمْثَالِ	الْعُيُوْنِ	قَالَ	فَشَرِبْنَا

جاري شوي لکه د چینې نه چې جاري شوې وي د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان دی مونږ ټولو اوبه وڅکلې

وَتَوَضَّأْنَا	قِيْلَ	لِجَابِرٍ	كَمْ	كُنْتُمْ

او اودس مو وکړو د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وشوه په هغه موقع تاسو څومره کسان

قَالَ	لَوْ	كُنَّا	مِائَةَ	أَلْفٍ	لَكَفَانَا	كُنَّا

وئ هغه وویل که مونږ یو لاک کسان وئ نو هم هغه اوبه کافي کیدې هسې هغه وقت څمونږ تعداد

خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

پنځلس سوه ۱۵۰۰ وو. [بخاري مسلم]

توضیح: (رکوة) د اوبو لوښي ته رکوة ویل شوې که هغه لوټه وي او که مشکیزه وي .د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګوتو نه د چینو په شان اوبه جاري شوې ، په دې سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معجزې ظهور وشو ، دا د حدیبیه واقعه ده .

خمس عشرة مأة: په دې روایت کې د پنځلس سوه ذکر دی او په وربسې روایت کې د څوارلس سوه ذکر دی . احناف پنځلس سوو ته ترجیح ورکوی او شوافع څوارلس سوو ته ترجیح ورکوي ځکه چې په دې عدد باندې د غزوه خیبر د مال غنیمت د تقسیم مسئله متفرع ده چې په کتاب الجهاد کې په تفصیل سره لیکل شوې ده او په دې کې د احنافو او شوافعو اختلاف دی . علامه سیوطی رحمه الله فرمایې چې دغه خلک د څوارلس سوو نه زیات وو بعضو خلک و کسر ذکر کړی نه دی او بعضو کسر پوره شمیرلی دی ، د احنافو په نزد دغه مجاهدین پنځلس سوه وو چې د خیبر په جنګ کې شریک شول .

د خولې د لاړو له برکته وچ کوهي د اوبو نه ډک شو

﴿۱۵﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً
او حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایې په حدیبیه کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونږ څوارلس سوه افراد وو

يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ وَالْحُدَيْبِيَةُ بِئْرٌ فَنَزَحْنَاهَا فَلَمْ

په حدیبیه کې یو کوهی وو چې د هغه اوبه مونږ ټولو را ایستلو سره استعمال کړې وې او په هغه کې

نَتْرُكْ فِيهَا قَطْرَةً فَبَلَغَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یو د قطره اوبه نه وې پاتې شوې رسول الله ﷺ ته چې معلومه شوه نو رسول الله ﷺ کوهي ته

فَأَتَاهَا فَجَلَسَ عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ دَعَا بِإِنَاءٍ مِنْ مَاءٍ

تشریف راوړه او د هغه په غاړه کینا سته بیا حضور ﷺ د اودس د اوبو لوښي غوښتلو سره اودس

فَتَوَضَّأَ ثُمَّ مَضْمَضَ وَدَعَا ثُمَّ

وکړو اودس نه روسته خولې مبارکه کې اوبه واخستې او دعايې وکړله دي نه روسته حضور ﷺ

صَبَّهُ فِيهَا ثُمَّ قَالَ دَعُوهَا سَاعَةً

هغه د خولې اوبه کوهي کې واچولې او وې فرمائیل یو ساعت د پاره کوهي پرېږدئ بیا یو ساعت نه

فَأَرْوَوْا أَنْفُسَهُمْ وَرِكَابَهُمْ

روسته په کوهي کې دومره اوبه جمع شوې چې تمام لښکر والاو خپله هم وڅکلې د هغوئ ښاروي هم

حَتَّى ارْتَحَلُوا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ښه سیرابه شول او د هغه ځاي نه کوچ کولو پوري هغه کوهي نه یي اوبه اخستلې.

توضیح: شفیر د کوهی څنډې ته ویل کیږي.

دمشکیزې په اوبو کې د برکت معجزه

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَوْفٍ عَنْ أَبِي رَجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ

او حضرت عوف تابعي رحمه الله د حضرت ابو رجاء تابعي نه او هغه د حضرت عمران ابن حصین رضي الله عنه صحابي

قَالَ كُنَّا فِيْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نه روايت کوي حضرت عمران رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان وكړو په يو سفر كې مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وو په يوه موقع

فَاشْتَكٰى إِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ

خلقو د اوبو د نشتوالي په سبب حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د تندې شكايت وكړو په دې اوريدو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَنَزَلَ فَدَعَا فُلَانًا كَانَ يُسَمِّيْهِ

راكوز شو او فلانى سړى يې راوبللو د هغه فلاني سړي نوم ابورجاء خو بيان كړى وو ليكن هغه نه

أَبُوْ رَجَاءٍ وَنَسِيَهُ عَوْفٌ

روسته راوي عوف نه د هغه سړي نوم هير شو ځكه هغه هغه سړى په لفظ فلان سره تعبير وكړو او

وَدَعَا عَلِيًّا فَقَالَ اذْهَبَا فَابْتَغِيَا الْمَاءَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم طلب كړو او دواړو ته يې حكم وكړو چې ولاړ شئ اوبه تلاش

فَانْطَلَقَا فَتَلَقَّيَا امْرَأَةً بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ

كړئ نو هغه دواړه د اوبو تلاش كې اخوا ديخوا وګرځيدل هغوئ يو ځاى كې يوه ښځه وليده چې په

أَوْ سَطِيْحَتَيْنِ مِنْ مَّآءٍ فَجَاءَا بِهَا إِلَى

اوښ باندې زوړند د دوو مشكيزو په منځ كې ناسته وه يا داچې د اوبو دوو سطيحو په منځ كې ناسته

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَنْزَلُوْهَا عَنْ

وه دواړو حضراتو هغه ښځه د هغه مشكيزو سره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوسته بيا هغه ښځه ځرنګه چې

بَعِيْرِهَا وَ دَعَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِإِنَاءٍ

بعضي حضراتو ويلي دي هغي مشكيزي يې د اوښ نه خكته كړې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اغږ بنځلو

فَفَرَّغَ فِيْهِ مِنْ أَفْوَاهِ الْمَزَادَتَيْنِ وَنُوْدِيَ فِي النَّاسِ
سره په هغه کې د دواړو مشکیزو د خولو نه د اوبو اچولو حکم وکړو او بیا خلقو ته اواز وشو چې راځئ
اِسْقُوْا فَاسْتَقَوْا قَالَ فَشَرِبْنَا عِطَاشًا
اوبه وڅکئ او په نورو باندې یې وڅکوئ ټولو خلقو اوبه وڅکلې حضرت عمران رضي الله عنه وايي غغه
أَرْبَعِيْنَ رَجُلًا حَتّٰى رَوِيْنَا فَمَلَأْنَا كُلَّ قِرْبَةٍ
وقت مونږ خلق څلویښت کسان وو چې سخت تږي وو مونږ ټولو د هغه لوښي نه ښه په مړه خیټه اوبه
مَعَنَا وَإِدَاوَةٍ وَآيْمُ اللهِ لَقَدْ أُقْلِعَ عَنْهَا وَإِنَّهُ لَيُخَيَّلُ
وڅکلې او خپل خپل مشکونه او ټکان چې زمونږ سره وو هغه موډک کړه قسم په الله هر کله چې اوبو
إِلَيْنَا أَنَّهَا أَشَدُّ مِلْئَةً مِنْهَا حِيْنَ ابْتَدَأَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ
اخستو سره هغه مشکیزې نه لرې شو نو مونږ محسوسه کړه چې مشکیزه د مخ کې نه زیاته ډکه وه.

توضیح: **مزادتین**: د تونبي اینبودلو ظرف ته ویل کیږي دلته مشکیزه مراد ده. **سطیحتین**: دا هم مشکیزې ته ویل کیږي چې په هغې باندې د چرم لاندې او باندې دوه سطحې وي. **مزادة**: لویې مشکیزې ته ویل کیږي. سطیحه وړه وي، دلته د الفاظو په اداء کولو کې راوی ته شک دی، ددې ښځې قصه په بخاری او مسلم کې ډیره لویه ده مګر دلته مختصره ذکر شوې ده. ددې مشکیزې نه څلویښتو صحابو اوبه وڅکلې او ډیر لوښي یې ترینه ډک کړل مګر په اوبو کې کمی رانغی بلکه د معجزې په ظهور سره اوبه اضافه شولې. **اقلع**: یعنې د اوبو اخیستلو والا صحابه چې کله د مشکیزې نه شاته شول، د مؤنث ضمیر مزادة ته راجع کیږي.

دونو د اطاعت معجزه

﴿۱۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى
او حضرت جابر رضي الله عنه وایې یو وار مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره سفر کوی یو ځای ته رسیدو سره یو وسیع

نَزَلْنَا وَادِيًا أَفْيَحَ فَذَهَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او عريض ميدان كې خكته شوا ورسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قضائي حاجت د پاره تشريف يووړ لو هلته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَقْضِيْ حَاجَتَهُ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا يَسْتَتِرُ

ته د پاڼ او غونډي وغيره په شان څه شي په نظر رانغی چې د هغه په پناه كې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلقو د

بِهِ وَ إِذَا شَجَرَتَانِ بِشَاطِئِ الْوَادِيْ

نظر نه پټيدو سره قضائي حاجت د پاره كيني اچانک د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نظر په دوو ونو باندي راغی

فَانْطَلَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِلَى إِحْدٰهُمَا

چې د ميدان په غاړه ولاړي وي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغو كې يوې ونې ته ورسيده او د هغه يوه څانگه

فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِّنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ

نيولو سره يې وفرمائيل د الله! په حكم سره پناه جوړولو د پاره څما اطاعت وكړه په دي اوريدو سره

فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَالْبَعِيْرِ الْمَخْشُوْشِ الَّذِيْ يُصَانِعُ قَائِدَهُ

هغه ونه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته په څمكه داسي راټيټه شوه لكه مهار لگيدلی اوښ چې د خپل شړون

حَتّٰى أَتَى الشَّجَرَةَ الْأُخْرٰى فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِّنْ أَغْصَانِهَا

كې اطاعت كوي بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوهمي ونې ته ورسيده او د هغه يوه څانگه نيولو سره يې وفرمائيل

فَقَالَ انْقَادِيْ عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَانْقَادَتْ مَعَهُ

د الله! په حكم سره څما اطاعت وكړه د مخكې ونې په شان دې ونې هم فورًا اطاعت وكړو

كَذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا كَانَ بِالْمَنْصَفِ مِمَّا

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دواړو ونو درمياني فاصلي منځ ته رسيدو سره وفرمائيل او س تا سو د

بَيْنَهُمَا قَالَ اِلْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللهِ فَالْتَأَمَتَا

الله! په حکم سره یوځاي شئ نو هغه دواړه ونې یوځاي شوې او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دواړو ونو

فَجَلَسْتُ أُحَدِّثُ نَفْسِيْ فَحَانَتْ

پناه کې قضائي حاجت نه فارغه شو جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایې زه دې واقعې لیدو سره حیران وم او دي

مِنِّيْ لَفْتَةٌ فَإِذَا أَنَا بِرَسُوْلِ اللهِ

عجیبې او غریبې کرشمې متعلق مې غور او فکر کولو سره سوچ مې کولو چې الله! د خپل محبوب

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مُقْبِلًا وَّ إِذَا

نبي په ذریعه دا څرنګه معجزه ښکاره کړه یا دا چې دي واقعې نه جدا زه په خپل سوچ کې غرق پروت

الشَّجَرَتَانِ قَدِ افْتَرَقَتَا فَقَامَتْ

وم چې ناڅاپه ځما نظر یو طرف ته پورته شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مې تشریف راوړلو باندي ولیدلو او

كُلُّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُمَا عَلَى سَاقٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ګورم چې هغه دواړې ونې یوې بلې نه جدا کیدو سره په خپل خپل ځاي ولاړې دي.

توضیح: **افیح**: پراخې شیلې ته افیح ویل کیږي. **شجرتین**: منصوب دی فعل ناصب محذوف دی ای وجد شجرتین. **انقادي علي**: یعنې د پردې کولو لپاره په ما باندې راټولې شئ، زما اطاعت وکړئ راشئ او مخالفت مه کوئ، دغه رنګ د معجزې ظهور وشو او ونې راغلې.

البعیر المخشوش: دا لفظ د خشاش نه دی. هغه کوچنی لرګی ته خشاش ویل کیږي چې د اوښ په پوزه کې اینبودل کیږي تر څو هغه مطیع پاتې شي او راخکل یې آسانه وي، د مهار کړی شوي اوښ سره تشبیه ورکړی شوې ده.

یصانع: د اطاعت په معنی سره دی، **(قائده)** د اوښ کشکونکي ته قائد ویل شوی دی، **(اذاکان)** د کان ضمیر حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راجع کیږي.

المنتصف: په ميم باندې زور دی نون ساكن دی او صاد باندې زور دی مينځ ته ويل كيږي يعني چې كله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو ونو په مينځ كې شو نو دواړو ته يې د يوځای كيدلو حكم وكړلو .

التئما: يعني يوځای شئ . (احدث نفسی) ما د زړه سره خبرې كولې يعني ما تعجب كولو .

فحانت: ای ظهرت (لفتة) ای التفاتة يعني يو ناڅاپه زما نظر يو طرفته پريوتو نو ومې كتل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راروان دی او ونې خپل ځای ته تللې دي ، علامه بوصيری رَحِمَهُ اللهُ دې ته ويلي :

جاءت لدعوته الاشجار ساجدة تمشي اليه على ساق بلا قدم

د زخم متعلق معجزه ښكاره كيدل

﴿۱۸﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَثَرَ

او حضرت ابن ابي عبيد تابعي وايي يوه ورځ ما د حضرت سلمه ابن اكوع پنډۍ باندې د زخم نښې

ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ فَقُلْتُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ

ليدو سره د هغه نه پوښتنه وكړه چې ای ابو مسلم ! د زخم دا څرنګه نښه ده هغه وويل دا زخم د خيبر د

مَا هٰذِهِ الضَّرْبَةُ قَالَ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ

جنګ كې راغلی وو او زخم هم ډېر سخت وو چې خلقو كې مشهوره شوه چې د سلمه راغی يعني

خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأَتَيْتُ

د زخم تاب نه راوړلو سره شهيد شو ليكن وشوه داسې چې زه د ي زخم سره د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ فَمَا

حاضر شوم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا زخم درې واره دم كړه او د هغې د بركته زخم يو دم داسې ښه شو چې

اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

بيا تر او سه پورې د دې نه ما ته هيڅ تكليف نه دی شوی .

دنادیده واقعي خبر ورکولو واقعه

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَعَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَّجَعْفَرًا وَّابْنَ رَوَاحَةَ

او حضرت انس رضی اللہ عنہ وايي نبي کريم صلی اللہ علیہ وسلم د زيد رضی اللہ عنہ جعفر رضی اللہ عنہ او ابن رواحه رضی اللہ عنہ د شهادت حال

لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَّأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ

ددي دري وارو باره کي د خبر راتلو نه مخکي خلقو ته اوروليو وو چې زيد رضی اللہ عنہ جنډه اوچته کړه او هغه شهيد شو

ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ

بيا جعفر رضی اللہ عنہ جنډه لوړ کړي او هغه هم شهيد شو بيا ابن رواحه رضی اللہ عنہ جنډه واخسته او هغه هم شهيد شو

وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ الرَّايَةَ

حضور صلی اللہ علیہ وسلم دا بيان کاوه دسترګو نه يې اوښکي جاري وي بيا حضور صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائيل آخر هغه سړي جنډه

سَيْفٌ مِّنْ سُيُوْفِ اللهِ يَعْنِيْ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيْدِ

واخسته چې د الله د تورو نه يوه توره ده حضرت انس رضی اللہ عنہ يا روسته ديور اوي بيان دی چې هغه نه د

حَتَّى فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِمْ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

حضور صلی اللہ علیہ وسلم مراد د خالد ابن وليد رضی اللہ عنہ ذات وو تر دي پورې چې الله تعالی مسلمانانو ته فتحه ور کړه.

توضيح: دا قصه د غزوه موته سره متعلق ده ، په شام کې موته د يو ځای نوم دی ، په دغه ځای کې په سنه۸ھ کې يو سخت جنګ شوی وو ، د دريو زرو صحابو د درې لاکه نه زيات روميانو سره مقابله راغلې وه . حضور صلی اللہ علیہ وسلم په خپله مدينه کې وو مګر د معجزې د ظهور په طور باندې الله تعالی د ميدان جنګ حجابات لرې کړل او حضور صلی اللہ علیہ وسلم په منبر نبوی شريف باندې کيناسته ميدان جنګ يې کتلو . حضور صلی اللہ علیہ وسلم په ترتيب سره حضرت زيد رضی اللہ عنہ، حضرت جعفر رضی اللہ عنہ او حضرت عبد الله بن رواحه رضی اللہ عنہ اميران جوړ کړي وو ، دا درې واړه شهيدان شول ، ددينه وروسته حضرت خالد بن وليد رضی اللہ عنہ جنګ سنبال کړلو او د فتحې حاصلولو سره واپس راغی ، فتحه داسې وه چې د کفارو د محاصرې نه مسلمانان محفوظ راووتل او کفار وروسته شول .

نعي: د یو چا د موت اطلاع او خبر ورکولو ته نعي ویل کیږي. په کتاب الجهاد کې شاید دغه واقعه ما
په تفصیل سره لیکلې وي. اهل بدعت بریلویان وایي وګوره د موت نه مخکې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
خبر ورکړلو نو عرض دا دی چې دا د معجزې ظهور شوی دی، معجزه د یو نبي د نبوت دلیل وي.
معجزه د الوهیت دلیل نه وي.

دغزوه حنین معجزه

﴿۲۰﴾ وَ عَنْ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُّ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ
او حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي زه د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره غزوه حنین کې شریک وم یوه موقع باندې هر کله
فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُوْنَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُوْنَ مُدْبِرِيْنَ
چې د مسلمانانو او کافرو په منځ کې شدید خون ریزي وشوه نو شاکولو سره مسلمانان تیښتې ته تیار
فَطَفِقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ
شول دې په دې وخت کې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې قچرې ته پونده ورکړله او بلا خوف د کفارو طرف ته
وَ أَنَا آخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ورمخکې کېدل یې شروع کړل هغه وقت ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قچرې واګې نیولې وې او په دې خیال مې
أَكُفُّهَا إِرَادَةَ أَنْ لَّا تُسْرِعَ وَأَبُوْ سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ
منع کوله چې هغه تیزي سره چیرته کافرو کې ورننو ځي او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تره زوی ابو سفیان بن الحارث
آخِذٌ بِرِكَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د اظهار عقیدت محبت او حفاظت په طور د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکاب ټینګ نیولی وو د دې دوران کې رسول
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَيْ
کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه مخاطب کولو سره راته وفرمائیل ای عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اصحاب سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اواز وکړه

24

عَبَّاس	نَادِ	أَصْحَابَ	السَّمُرَةِ	فَقَالَ	عَبَّاسُ

حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې يو بلند اوازو الا سړى وو وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حكم په چغه سره وويل چيرته دي

وَكَانَ	رَجُلًا	صَيِّتًا	فَقُلْتُ	بِأَعْلَى	صَوْتِيْ	أَيْنَ	أَصْحَابُ

اصحاب سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اياتاسو خپل هغه بيعت هير كړو چې تاسو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدد او حفاظت د پاره

السَّمُرَةِ	فَقَالَ	فَوَاللهِ	لَكَأَنَّ	عَطْفَتَهُمْ	حِيْنَ	سَمِعُوْا

دوني لاندي كړى وو حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي قسم په الله زما د اواز اوريدو سره اصحاب سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

صَوْتِيْ	عَطْفَةُ	الْبَقَرِ	عَلَى	أَوْلَادِهَا

داسي په منډه را واپس سو څرنګه چې غوا ګاني د زيات محبت او شوق نه خپلو بچو طرف ته په منډه

فَقَالُوْا	يَا	لَبَّيْكَ	يَا	لَبَّيْكَ	قَالَ	فَاقْتَتَلُوْا

واپس راځي او هغه اصحاب سمرو ويل اى قومه مونږ حاضريو ى قومه مونږ حاضريو نو مسلمانان

وَالْكُفَّارَ	وَالدَّعْوَةُ	فِي	الْأَنْصَارِ	يَقُوْلُوْنَ

دنوي سره همت او جوش سره كافرو سره په جنګ شو او انصار صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خپلو كي يو بل بلل او د

يَا	مَعْشَرَ	الْأَنْصَارِ	يَا	مَعْشَرَ	الْأَنْصَارِ

حوصلي وركولو د پاره د غازيانو په شان داسي بلنه شروع كړه چې اى د انصارو ډلي اى د انصارو ډلي

قَالَ	ثُمَّ	قُصِرَتِ	الدَّعْوَةُ	عَلَى	بَنِي	الْحَارِثِ	بْنِ	الْخَزْرَجِ

همت نه كار واخلئ او په دشمن ورپريوځئ بيا دا چغه قبيله بنو حارث بن خزرج پوري محدوده شوه

فَنَظَرَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَ	سَلَّمَ	وَ	هُوَ	عَلَى	بَغْلَتِهِ

دوران كي رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپلي قچرې باندي ديو طاقتور سور په شان جمع شوى وو جنګيدونكو

كَالْمُتَطَاوِلِ	عَلَيْهَا	إِلَى	قِتَالِهِمْ

مسلمانانو باندي نظر اچولو او بعضي حضراتو د كالمتطاول دا معنٰى بيان كړي ده چې قچرې باندي

فَقَالَ	هٰذَا	حِيْنَ	حَمِيَ	الْوَطِيْسُ

گردن لوړولو سره دليدونكو په شان ناست وو يعني خرنگه چې ثوک دځان نه د لرې شى ليدو

ثُمَّ	أَخَذَ	حَصَيَاتٍ	فَرَمٰى	بِهِنَّ

دپاره گردن (څټ) لوړولو سره نظر اچوي بيا حضور ﷺ څه شگي په لاس كي او وچتې كړلي او شاهَتِ

وُجُوْهَ	الْكُفَّارِ	ثُمَّ	قَالَ	انْهَزَمُوْا	وَرَبِّ	مُحَمَّدٍ

الوُجُوْهُ ويلو سره هغه شگي يي د كافرو طرف ته وويشتلي و فرمائيل د محمد ﷺ په رب مي دې قسم

فَوَاللهِ	مَاهُوَ	اِلَّا	أَنْ	رَمَاهُمْ	بِحَصَيَاتِهٖ

وي كافرو ته شكست وشو حضرت عباس رضي الله عنه وايي قسم په الله دا شكست چې كافرو ته وشو د حضور ﷺ

فَمَا	زِلْتُ	أَرٰى	حَدَّهُمْ	كَلِيْلًا

د شگي ويشتلو په سبب وشو شگو ويشتلو نه روسته آخره پوري ما برابر كتل چې د كافرو تيزي او

وَّ	أَمْرُهُمْ	مُدْبِرًا.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ.

شدت سره چليدونكي توري سپكي او پخي كيدلي او د هغوى انجام د ذلت او خوارى نه ډک شوى وو.

توضيح: د مكې د فتحې نه وروسته په سنه ۸ھ كې د حنين غزوه پيښه شوه ، د هغه ځاى خلكو وغوښتل چې په مسلمانانو باندې حمله وكړي ، حضور ﷺ مخكې والى وكړو او د دوولس زره لښكر سره اول په حنين او بيا اوطاس او بيا طائف كې وجنګيده، په وادي حنين كې ابتداءً عارضي شكست راغى ، صحابه كرام تيت او پرک شوي وو ، د حضور ﷺ قريب يو څو صحابه كرام پاتې وو ، هغه يو قدم هم وروسته نشو بلكه مخكې تللو ، حضرت عباس رضي الله عنه د ودرولو كوشش كولو ، بيا د الله تعالى كومک راغى كفارو شكست وخوړو ، حضور ﷺ يو

موتې شکې په کفارو باندې وشيندلې ، په دې سره د معجزې ظهور راغى د آسمان نه ملائکې راغلې په دې سره هم د معجزې ظهور راغى ، همدا قصه حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کړې ده . (يرکض) د آس تيزولو ته رکض ويل کيږي دلته د قچر ذکر دى .

اصحاب السمرة: په حديبيه کې د کيکر د ونې لاندې بيعت کونکي صحابه کرام د اصحاب السمرة په نوم سره ياديږي . (صيتا) يعنې عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اوچت آواز والا شخص وو . (عطفة البقر) عطفة واپس کيدلو ته ويل کيږي، په حيواناتو کې غوا په خپل اولاد باندې بلکل ليونۍ کيږي، کله کله د خپل کور والا تول افراد وهي او په خپل بچي باندې پرته وي ، دلته د صحابه کرامو په تيزۍ سره راتلل او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاوخوا راجمع کيدل او بيا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حفاظت کې لالهانده ودريدلو تشبيه د غوا خپل بچي ته په متوجه کيدلو کې ورکړې شوې ده . (والکفار) دا و او په معنى د مع سره دى ، (الدعوة فى الانصار) يعنې صرف انصارو ته د جنګيدو لپاره دعوت ورکولى کيده چې اى انصارو مخکې ته لاړ شئ او ښه وجنګيږئ . (قصرت الدعوة) يعنې انصارو ته د عام دعوت ورکولو نه بعد ترتيب داسې جوړ شو چې د انصارو خاص خاص قبيلې جنګ ته راوبلل شوې مثلا بنوحارث بن خزرج پورې دا دعوت محدود شو چې تاسې رامخکې شئ او په پوره شور او زور سره وجنګيږئ . (کالمتطاول) د غاړې په پورته کولو سره کوم شي ته کتلو والا ته متطاول ويل کيږي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ منظر کتل غوښتل په دغه وجه يې غاړه مبارکه پورته کړه ميدان جنګ ته يې کتل شروع کړل . (هذا حين حمى الوطيس) وطيس تنور ته هم وايي او په هغه کې د اور شعلو ته هم وايي او حمى ګرميدلو ته وايي او هذا اشاره ده چې مبتدا ده . علامه طيبى رحمه الله فرمايې چې ددې خبر محذوف دى چې القتال دى ، عبارت داسې دى هذا القتال حين حمى الوطيس اى هذا القتال حين اشتد الحرب، ليکن ملا على القارى رحمه الله فرمايې چې زيات واضحه دا ده چې هذا مبتدا شي او حين د هغه لپاره خبر وي ليکن حين مبنى على الفتحه ګرځي ځکه چې دا مبنى اصل فعل ته مضاف دى ، حَمِيَ فعل دى او الوطيس د هغه فاعل دى ، عبارت به داسې شي اى هذا الزمان زمان اشتداد الحرب، يعنې اوس جنګ خپل ګرميدو ته رسيدلى دى ، داسې ويل کيږي چې دا جمله د تولو نه مخکې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استعمال کړې ده ، عربو ته ددې علم نه وو ، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د استعمال نه بعد ډيره عامه شوه . (انهزموا ورب محمد) يعنې د محمد په رب قسم کافرانو ته شکست راغى ، دا جمله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تفاؤلاً وو يله او همداسې وشول . (حدهم) يعنې د کفارو

جنګي شدت او د تورو تيزي. (کليلا) د سستيدلو په معنی سره دی يعنې د هغوی تيزی سسته شوله. (مدبرا) يعنې د هغوی معامله د لويدلو او ذلت طرفته لاړله.

زمونږ بهادر پیغمبر ﷺ

﴿۲۱﴾وَعَنْ أَبِيْ إِسْحَاقَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ يَا أَبَا عُمَارَةَ
او حضرت ابو اسحاق روايت کوي يو سړي حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه ای ابو عماره
أَفَرَرْتُمْ يَوْمَ حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللهِ
آيا تاسو خلق غزوه حنين کي د دشمن د مقابلي نه تښتيدلی وئ حضرت براء رضي الله عنه جواب ورکړو نه قسم په
مَا وَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَلٰكِنْ خَرَجَ شُبَّانُ
الله رسول کريم ﷺ هيڅ کله شا نه وه ګرځولې صرف دومره شوی وو چې د حضور ﷺ ځو ځلمي صحابه
أَصْحَابِهِ لَيْسَ عَلَيْهِمْ كَثِيْرُ سِلَاحٍ فَلَقُوْا قَوْمًا رُمَاةً
چې هغوی سره زيات هتيار [اسلحه] نه وو اچانک يو تير آنداز قوم بنو هوازن سره مقابله وشوه دهغه
لَا يَكَادُ يَسْقُطُ لَهُمْ سَهْمٌ فَرَشَقُوْهُمْ رَشْقًا
قوم خلق داسي خطرناک تير آندازان وو چې د هغوی تير به په ځمکه نه پريوتلو هغه خلقو پرځوانانو
مَا يَكَادُوْنَ يُخْطِئُوْنَ فَأَقْبَلُوْا هُنَاكَ إِلَى
صحابو رضي الله عنهم باندي نيزي ورول شروع کړل نو دهغوی هيڅ تير نه خطا کيده هغه وقت چې ځلمي صحابه
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
کرامو د دشمن د مخي نه اخوا کيدو سره رسول کريم ﷺ له راغلل او حضور ﷺ هغه وقت پر خپل
عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُوْ سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ
سپين قچر باندي سپور وو او ابو سفيان ابن حارث د قچري واګي نيولی مخکي وو حضور ﷺ د جنګ

يَقُوْدُهُ	فَنَزَلَ	وَاسْتَنْصَرَ

دا پریشان کن نقشه او د خپل صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پریشاني لیدو سره د قچري نه راکوز شو او الله تعالیٰ نه یې

وَقَالَ	أَنَا	النَّبِيُّ	لَا	كَذِبْ	أَنَا

دمدد او فتحې دعا وغوښتله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لوړ اواز دا هم وفرمائیل زه نبي یم په دې کې څه دروغ

ابْنُ	عَبْدِ	الْمُطَّلِبْ	ثُمَّ	صَفَّهُمْ.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ.

نشته زه د عبد المطلب زوی یم نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تمامو مجاهدینو صف بندي وکړله مسلم او بخاري

وَلِلْبُخَارِيِّ	مَعْنَاهُ	وَفِيْ	رِوَايَةٍ	لَّهُمَا	قَالَ	الْبَرَاءُ

ددې مضمون روایت نقل کړې دی او د بخاري او مسلم یو بل روایت کې داسې دي چې براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

كُنَّا	وَاللهِ	إِذَا	احْمَرَّ	الْبَأْسُ	نَتَّقِيْ	بِهِ	وَإِنَّ

وویل قسم په الله کوم وخت چې جنګ سخت شو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته رسیدو سره خپل حفاظت به مو کوه بیشکه هغه

الشُّجَاعَ	مِنَّا	لَلَّذِيْ	يُحَاذِيْ	بِهِ	يَعْنِي	النَّبِيَّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

وخت مونږ کې زیات بهادر او شجاع به هغه سړی وو چې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ برابر کې راتلو سره به او دریدلو.

توضیح: (رشقوا) نصر ینصر رشق د غشی ویشتلو ته ویل کیږي . (انا النبی لا کذب) یعني ریښتنی نبی هیڅکله نه تښتي ، زه ریښتونی پیغمبر یم لهذا د تیښتي سوال نه پیدا کیږي ، همدارنګه زه د عبدالمطلب پشان سردار خاندانی فرد یم د داسې خاندان فرد کله هم نه تښتي . (فاقبلوا) په دې جمله باندې سوال دا دی چې ددینه مخکې حدیث نمبر۲۰ کې د **ولی المسلمون مدبرین** الفاظ دي چې مسلمانان وتښتیدل او دلته په دې جمله کې دا دي چې مسلمانان د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرفته متوجه شول او دا تعارض دی . ددې جواب دا دی چې په ابتداء کې نوعمر ځوانان وتښتیدل بیا د پاخه عمر والا هم وتښتیدل بیا چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وبلل نو فورًا راغلل . نو د مدبرین وخت جدا دی او د اقبلوا وخت جدا دی لهذا تعارض نشته . (احمر البأس) ای اشتد الحرب .

په شديد حرب کښې چونکې سره وينه بهيږي په دې وجه هغه ته سور ويل شوی دی ، موت ته هم په دغه وجه (الموت الاحمر) سور مرګ ويل شوی دی .(**نتقي به**) يعنې حضور ﷺ به مو پناهګاه جوړوه او په شدت جنګ کښې د خپل ځان ساتلو لپاره به د هغه شا ته ودريدلو . (**يحاذيه**) دا د محاذات نه دی په برابرۍ کښې ودريدلو ته ويل کيږي يعنې زمونږ نه به ډير بهادر کس هغه وو چې په ميدان جنګ کښې به د نبی کريم ﷺ په برابرۍ د دښمن په مخکښې ودريده ، **اللهم صل علی حبيبک اشجع الناس و اشجع العرب** . د حضور ﷺ دغه بهادري وه چې د عربو لوی لوی بهادرينې دده ګرويده وګرځول ، کچيرې د حضرت خالدبن الوليد رضي الله عنه او ضرار بن ازور رضي الله عنه نه حضور ﷺ زيات بهادر نه وای نو دغو بهادرو د عربو به هيڅکله هم د خپل ځانونو د کمزورې کس په لاس کښې به لاس نه ورکاوه ، د هغه ﷺ يو مداح رښتيا ويلې دي :

ان الرسول لنور يستضاء به — و صارم من سيوف الله مسلول

دشګو په شيندلو کښې د پيغمبر ﷺ معجزه

﴿۲۲﴾ وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا

او حضرت سلمه ابن اکوع رضي الله عنه وايي مونږ د رسول کريم ﷺ سره کافرو سره جهاد د پاره غزوه حنين کښې

فَوَلّٰى صَحَابَةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا غَشُوْا

شريک وو دې غزا کښې چې د رسول کريم ﷺ بعضې صحابو د دشمن د مخې نه تښتيدل او کافرو رسول

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً

کريم ﷺ ګير کړلو نو حضور ﷺ د خپلې قچرې نه را کوز شو او د ځمکې نه يې يو موټې خاوره اوچته کړه

مِّنْ تُرَابٍ مِّنَ الْأَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوْهَهُمْ فَقَالَ

چې هغې کښې شګې هم وې بيا هغه خاورې او شګې يې کافرو طرف ته وويشتلې او وې فرمائيل خراب

شَاهَتِ الْوُجُوْهُ فَمَا خَلَقَ اللهُ مِنْهُمْ إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ

شول د هغوی مخونه نو الله تعالی هغوی کښې داسې هيڅ انسان پيدا کړی نه وو چې د هغه دوا

عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِيْنَ

سترګي الله تعالی هغه یو موټې خاوري نه ډکې کړې نه وې بیا خوتهول کافر وتښتیدل او الله تعالی

فَهَزَمَهُمُ اللهُ وَقَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَائِمَهُمْ

هغوی ته شکست ورکړو ددې نه روسته رسول کریم ﷺ د هغوی مال چې بطور غنیمت حاصل شوی

بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

وو مسلمانانو کي تقسیم کړو . [مسلم]

په يو پيشن ګوئي کې د معجزې اظهار

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا

او حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي مونږ د رسول الله ﷺ سره غزوه حنین کي شریک وو هلته جنګ شروع

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ مَعَهُ يَدَّعِي الْإِسْلَامَ

کیدو نه مخکي میدان جنګ کي رسول کریم ﷺ د خپل لښکر په خلقو کي د یو سړي باره کي چې ځان ته

هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ

یې مسلمان ویل او فرمائیل چې دا سړی دوزخي دی بیا چې جنګ شروع شو نو هغه سړی ډیرې بهادرۍ

وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فَجَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

سره وجنګیده او د هغه جسم د زخمونو نه ډک صحابو کي یو صاحب عرض وکړو یا رسول الله ﷺ د

أَرَأَيْتَ الَّذِيْ تُحَدِّثُ أَنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَدْ قَاتَلَ

هغه سړي حقیقت حال ماته وښایي چې د هغه باره کي تاسو فرمائیلي وو چې هغه دوزخي دی هغه

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ

د الله تعالی په لار کي ډیرې بهادرۍ سره جنګیدلی دی او ډیر زخمونه یې خوړلي دي نه خو د هغه

فَقَالَ	أَمَا	إِنَّهُ	مِنْ	أَهْلِ	النَّارِ	فَكَادَ بَعْضُ

جنتي كيدل معلوميږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل يادلره هغه ددوزخيانو نه دى اوبيا قريب وه چې

الْمُسْلِمِينَ	يَرْتَابُ	فَبَيْنَمَا	هُوَ	عَلَى	ذٰلِكَ

بعضي ضعيف الايمان خلق ميدان جنګ كي دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه ارشاد صداقت كي دشک شبهي ښكار

إِذْ	وَجَدَ	الرَّجُلُ	أَلَمَ	الْجِرَاحِ	فَأَهْوٰى	بِيَدِهِ إِلَى

شي ليكن هغه خلقو وليدل چې هغه سړي دخپلو زخمونو دتكليف نه بي ارامه كيدو سره خپل لاس

كِنَانَتِهِ	فَانْتَزَعَ	سَهْمًا	فَانْتَحَرَ	بِهَا	فَاشْتَدَّ	رِجَالٌ مِّنَ

تركش طرف ته مخكي كړو اويو تير رابنكلو سره خپلې سينې سره يې پيوسته كړو ددې په ليدلو ډير

الْمُسْلِمِينَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ

مسلمانان ويريدل اورسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل اوعرض يې وكړو يارسول الله الله تعالى ستاسو داخبره

صَدَّقَ	اللهُ	حَدِيْثَكَ	قَدِ	انْتَحَرَ	فُلَانٌ	وَقَتَلَ	نَفْسَهُ فَقَالَ

رينښتيا كړله چې هغه سړى دوزخي دى هغه خپله سينه خپله شلولو سره خودكشي كړى ده رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللهُ اَكْبَرُ اَشْهَدُ اَنِّيْ عَبْدُاللهِ وَرَسُوْلُهُ

وفرمائيل الله تعالى ډيرلوى دى زه ګواهي كوم چې زه د الله تعالى بنده او د هغه رسول يم هغه نه

يَا	بِلَالُ	قُمْ	فَأَذِّنْ	لَا	يَدْخُلُ	الْجَنَّةَ	إِلَّا مُؤْمِنٌ

روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حكم وكړو اى بلاله لاړ شه و دريږه او خلق اګاه كړه چې جنت كي به صرف مؤمن

وَإِنَّ اللهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

داخليږي او داچې الله تعالى دادين دفاسق سړي په ذريعه هم مضبوطوي.

توضیح: (لرجل) یعنې د یوه شخص په باره کې حضور ﷺ وفرمایل چې دا به دوزخ ته ځي حالانکه هغه د ټولو نه زیات په میدان جنګ کې د کفارو په مقابله کې جنګیده، اوریدونکو ته تردد پیدا شو چې دا به څنګه دوزخ ته ځي، د دغه شخص نوم قزمان وو دا منافق وو او صرف د قومیت په بنیاد باندې جنګیده، د منافق جهاد هم معتبر نه دی او د قومیت لپاره هم جهاد نه صحیح کیږي، د دغه شخص انجام ښودلو کې د معجزې ظهور وشو. (فانتحر) سوال دا دی چې په یو روایت کې دي چې دغه شخص په توره سره خپل ځان ذبح کړلو او دلته د غشي ذکر دی، دا تضاد دی؟ ددې جواب دا دی چې اول دغه شخص په غشي باندې خپله غاړه پریکړه مګر چې کله د هغه په موت کې تأخیر راتللو نو بیا هغه په توره باندې خپل ځان قتل کړلو، دواړه خبرې صحیح دي هیڅ تضاد نشته.

(بالرجل الفاجر) یعنې الله تعالی کله کله د خپل دین کار د بې دینه کس نه هم اخلي، جهاد خو د دښمن سره د جنګیدلو نوم دی چې د هغه تعلق د جسم سره دی، که جسماني طور باندې سړی صحیح وي نو کافر وهلی شي، چې کافر کله مړ شي نو دین ته به غلبه حاصله شي، اصل مقصود خو د دین غلبه ده او دا د فاسق بلکه منافق بلکه کافر په لاس هم حاصلیدلی شي، چې کله غلبه حاصله شي نو د فاسق او فاجر په لاس به د دین مدد وشي او تبلیغي حضرات به د ایمان جوړولو جوړولو کې پاتې شي.

حضور ﷺ باندې د سحر جادو کولو واقعه

﴿۲۴﴾	وَعَنْ	عَائِشَةَ	قَالَتْ	سُحِرَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
او ام المؤمنین بي بي عائشه ﷺ فرمایي کوم وقت چې رسول کریم ﷺ باندې جادو وشو نو									
حَتّٰى	إِنَّهُ	لَيُخَيَّلُ	إِلَيْهِ	أَنَّهُ	فَعَلَ	الشَّيْءَ	وَمَا	فَعَلَهُ	
د حضور ﷺ دا حالت وو چې د څه کار باره کې به د حضور ﷺ خیال وو چې کړی یې دی حالانکه هغه									
حَتّٰى	إِذَا	كَانَ	ذَاتَ	يَوْمٍ	عِنْدِيْ				
کار به یې نه وو کړی کافي ورځو پورې دا حالت وو تر دې پورې چې یوه ورځ هغه وقت چې حضور ﷺ ما سره وؤ									
دَعَا	اللّٰهَ	وَدَعَاهُ	ثُمَّ	قَالَ	أَشَعَرْتِ	يَا عَائِشَةُ			
حضور ﷺ د الله تعالی نه دعا وغوښتله او بیا یې دعا وکړه بیا حضور ﷺ ماته وفرمائیل ای عائشې ایا									

أَنَّ	اللهَ	قَدْ	أَفْتَانِيْ	فِيْمَا	اسْتَفْتَيْتُهُ	جَاءَنِيْ	رَجُلَانِ	
تا ته معلومه ده چې الله تعالى ماته هغه خبره خو دلې ده چې ما د هغه نه دريافت کړې وه دې نه روسته								
جَلَسَ	أَحَدُهُمَا	عِنْدَ	رَأْسِيْ	وَالْآخَرُ	عِنْدَ	رِجْلِيْ		
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان وکړو چې ماته د سړو په صورت کې دوه فرشتې راغلې هغوى کې يو ه زما سر طرف ته								
ثُمَّ	قَالَ	أَحَدُهُمَا	لِصَاحِبِهِ	مَا	وَجَعُ	الرَّجُلِ		
کښېناستله او دويمه پښو طرف ته بيا هغې کې يوې دويمې نه پوښتنه وکړه دې سړي ته څه بيمارې								
قَالَ	مَطْبُوْبٌ	قَالَ	وَمَنْ	طَبَّهُ				
ده دويمې جواب ورکړو چې جادو پرې شوى دى بيا اولې پوښتنه وکړه چې چا ورباندې کړى دى								
قَالَ	لَبِيْدُ	بْنُ	الْأَعْصَمِ	الْيَهُوْدِيُّ	قَالَ	فِيْمَا	ذَا	
دويمې جواب ورکړو چې لبيد بن اعصم يهودې .اولنى پوښتنه وکړه په څه شي کې جادو شوى دى								
قَالَ	فِيْ	مُشْطٍ	وَمُشَاطَةٍ	وَجُفِّ	طَلْعَةِ			
دويمې جواب ورکړى په ويښتو کې هغه ويښتو کې چې ږمونځې نه غورځيږي او دلوندو خورماوو په								
ذَكَرٍ	قَالَ	فَأَيْنَ	هُوَ	قَالَ				
پوستو کې کې دوړې چاپيره اولنى پوښتنه وکړه دا جادو کړى شوې شيان کوم ځاى کې پراته دي؟								
فِيْ	بِئْرِ	ذَرْوَانَ	فَذَهَبَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فِيْ	أُنَاسٍ
دويمې جواب ورکړو د مدينې يو کوهې ذروان کې دي نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل څو مخصوصو								
مِنْ	أَصْحَابِهِ	إِلَى	الْبِئْرِ	فَقَالَ	هٰذِهِ	الْبِئْرُ	الَّتِيْ	أُرِيْتُهَا
صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره هغه کوهې ته تشريف يوړلو او وې فرمائيل دا هغه کوهى دى چې ماته ښودل شوى								

وَكَأَنَّ	مَاءَ	هَا	نُقَاعَةُ	الْحِنَّاءِ	وَكَأَنَّ	نَخْلَهَا
دی ددي کوهي اوبه د نکریزو په شان سري وي او د خورما وهغه ونې چې په هغه کوهي کي اچول شوی						
رُءُوسُ	الشَّيَاطِيْنِ	فَاسْتَخْرَجَهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.				
وو داسي وو لکه د شیطانانو سرونه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه تول شیزونه د هغه کوهي نه راوښکل.						

توضیح: (سحر رسول الله) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د حدیبیه د صلحې نه واپس مدینې منورې ته راغی نو په ذوالحجة سنه ۶ کې په هغه باندې جادو وشو، د هغه جادو اثر داسې نه وو چې د هغه په وجه په شرعی احکاماتو کې خلل راتللو بلکه د هغه اثر صرف په جسمانی او دنیایي امورو کې وو، د هغه جسم ضعیفه او ډیر کمزوری به وو، ډیر وخت به هغه ته دا خیال وو چې فلانی کار ما کړی دی حالانکه هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هغه کار کړی نه وو، ګویا په هغه باندې د دغه جادو په وجه د نسیان غلبه راغلې وه، د یو یهودی لبید بن اعصم لورګانو دغه جادو کړی وو. په حضور ﷺ باندې د دغه جادو اثر تر څومره وخته پورې وو، په دې سلسله کې روایات درې قسمه دي: (۱) په بعضو روایاتو کې د تر څلویښتو ورځو پورې د اثر پاتې کیدو ذکر دی. (۲) په بعضو روایاتو کې تر شپږو میاشتو د اثر باقی پاتې کیدو ذکر دی. (۳) او په بعضو وروایاتو کې تر یوه کاله پورې د اثر پاتې کیدو ذکر دی. په دې روایاتو کې د تطبیق صورت داسې دی چې د جادو زیات زور تر څلویښتو ورځو پورې وو او د درمیانه درجې اثر تر شپږو میاشتو پورې وو او لږ لږ اثر تر یو کال پورې وو. ددې حدیث نه خو یوه دا خبره هم ثابته شوه چې جادو یو واقعي حقیقت دی چې د هغه نه انکار کیدلی نشي، دا کوم خیالی تصور نه دی بلکه ددې حقیقت نه انبیاء هم متأثره کیدلی شي. معتزلو د سحر نه انکار کړی دی، دا د هغوی د بدعاتو نه یو بدعت دی او د هغوی د باطلو عقائدو نه یوه باطله عقیده ده، ددې حدیث نه دویمه خبره دا ثابته شوه چې انبیاء کرام انسانان او بشر وو، کومه بیماری چې کوم انسان متأثره کولی شي انبیاء کرام هم متأثره کولی شي البته په انبیاء کرامو باندې داسې بیماری نه راځي چې د انسان لپاره باعث د عار یا باعث د نفرت او حقارت وي. ملا علی القاری رحمه الله په انبیاء کرامو باندې د سحر کیدلو په باره کې فرمایي (**لان السحر انما یعمل فی ابدانهم وهم بشر یجوز علیهم من العلل والامراض ما یجوز علی غیرهم**) ملا علی القاری وړیسې لیکي: **وفائدة الحلول (ای حلول السحر) تنبیه علی ان هذا بشر مثلکم وعلی ان السحر تأثیره حق فانه اذا اثر فی اکمل الانسان فکیف بغیره؟** (مرقات ج۱۰ ص۲۱۷)

(و دعاه) د تأکید لپاره دی یعنې د الله تعالی نه یې وغوښتل او مسلسل یې وغوښتل. (مطبوب) ای هو مسحور، یعنې په هغه باندې جادو شوی دی. (من طبه) یعنې دا جادو چا کړی دی؟ مطبوب او طب، دا طب په معنی د علاج سره دی، جادو ته طب په طور د تفاؤل سره ویل شوی دی چې د هغه علاج ګویا شوی دی لکه څنګه چې د مار چیچلی شوي کس ته سلیم ویل کیږي یعنې دا صحیح سالم او محفوظ دی. (الیهودی) د دغه شخص کردار به ضرور وي اصل محرک به همدا خبیث وي مګر هغه به خپلې لورګانې په دې کار باندې لګولي وي، په دغه وجه په قرآن کریم کې په (ومن شر النفاثات) آیت کې د جادو نسبت ښځو ته شوی دی مګر په دې حدیث کې د جادو ذمه واری په دغه شخص باندې اچول شوې ده.

(فیما ذا) یعنې دغه جادو په کوم شي او په کومې ذریعې سره شوی دی. (مشط) په میم باندې ضمه ده شین ساکن هم دی او په دې باندې ضمه هم ویل کیدلی شي، ګومنځې ته ویل کیږي. (مشاطة) د ګومنځولو په وخت چې کوم ویښته لاندې پریوځي هغې ته مشاطه ویل کیږي. (جف) بلکل ابتداء کې چې کله د کجورو غوزه راځي نو په هغه کې غوټۍ وي او د دې سره په هغه باندې خول او غلاف هم وي نو جف همدې خول او غلاف ته وایي، په جیم باندې ضمه ده او په فاء باندې شد دی. (طلعة) دا غوټۍ ته وایي، دا غوټۍ په نر کجور کې هم وي او په زنانه کې هم وي د دغه فرق د ظاهرولو لپاره یې وویل چې د نر کجور د غوټیو په غلاف کې جادو شوی دی، نر کجور په جادو کې استعمال شوی دی. (بئر ذروان) په یو روایت کې بئر ذی اروان هم دی دواړه صحیح دي، په مدینه منوره کې د یو شخص ابو زریق په باغ کې دا کوهی وو. وهی بئر فی المدینة فی بستان ابی زریق) (مرقات)

(نقاعة الحناء) یعنې د دغه کوهي اوبه داسې سرې شوې وې لکه څنګه چې د نکریځو شیره وي چې ډیره سره وي. (نخلها) یعنې د کجورې غوزه وحشت ناکه وه، د نخل نه د باغ د کجورو ونې مراد نه دي بلکه هماغه غوزه مراد ده چې هغه په جادو کې استعمال شوې وه. (رؤس الشیاطین) یعنې په وحشت او دهشت او کراهت او قباحت کې هغه خوشه د شیطان د سرونو پشان وه، عرب خلک چې کله د کوم شي شدید قباحت او وحشت بیانوي نو د هغه تشبیه د شیطان د سر سره ورکوي همدارنګه د شیطان د سر اطلاق په مارانو باندې هم کیږي، بهر حال چې هر څنګه وي مګر یو ویرونکي منظر فهمول کیږي! په دې غوزو باندې یو خو د جادو اثر هم وو او تر ډیره په اوبو کې د دساتلو اثر هم وو په دغه وجه دا د کراهت او قباحت مجموعه جوړه شوې وه.

ددې واقعې متعلق د حضرت ابن عباس رضي الله عنه يو روايت هم دی په هغه کې دا تفصيل دی چې په دې کوهي باندې اطلاع حاصليدلو سره حضور ﷺ حضرت علی رضي الله عنه او حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه دغه کوهي طرفته وليږل ترڅو د جادو دغه شيان را اوباسي چې کله هغوی د کجورو دغه خوشه د کوهي نه وويستله نو د هغه په غلاف کې د موم يوه مجسمه بيدا شوه ، دا د حضور ﷺ مجسمه وه په دغه مجسمه کې ستنې دننه کړې شوې وې او په هرې ستنې باندې يو تار وو چې په مجسمې باندې تاؤ کړې شوی وو چې په هغو کې يوولس غوټې وې . حضرت جبرئيل عليه السلام په دغو يوولس غوټو باندې معوذتين ويل شروع کړل ، د معوذتينو آيتونه هم يوولس دي په يو يو آيت باندې به حضرت جبرئيل عليه السلام يوه يوه غوټه خلاصوله او د مجسمې نه به يې ستنه هم ويسته په دې سره حضور ﷺ ته داسې تسکين حاصليدلو لکه چې د يوې تړلې شوې رسۍ نه چې هغه خلاصيدلو ، وايي حضور ﷺ پخپله هم دغه کوهي ته تللی وو مګر دننه نه وو ورغلی ، په يو څه فاصله باندې پاتې شو ، حضور ﷺ د هغه يهودي په خلاف هيڅ کاروائي ونکړه بلکه هغه ﷺ وفرمايل چې زه فتنه راپورته کول نه غواړم .

په دې حديث کې د ملائکو راتلل د هغه بيماری بيانول بيا د هغه کوهي نشاندهي کول يو قسم د معجزې ظهور وو ، بيا د معوذتينو نازليدل او د جبرئيل امين دم کول او د هغه ﷺ جوړيدل دا بل قسم د معجزې ظاهريدل وو .

د خوارج د فرقې سره متعلق پيشنګوئي کې د معجزې ظهور

﴿٢٥﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي هغه وقت چې مونږ رسول کريم صلى الله عليه وسلم سره وو او حضور صلى الله عليه وسلم مال
وَهُوَ يُقَسِّمُ قَسْمًا أَتَاهُ ذُوْ الْخُوَيْصِرَةِ وَهُوَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ
غنيمت تقسيموه يو سړی چې د هغه نوم ذوالخويصره وو چې د بنو تميم قبيلې سره يې تعلق لرلو د
فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اعْدِلْ فَقَالَ
حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت کې دراتلو سره يې وويل يارسول الله مال غنيمت تقسيمولو کې دعدل او انصاف
وَيْلَكَ فَمَنْ يَّعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ قَدْ خِبْتَ
نه کار واخله ! حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل په تا آفسوس دی چې زه عدل او انصاف نه کوم نو څوک به يې

وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ فَقَالَ عُمَرُ

كوي كه زه د عدل او انصاف نه كار وانخلم نو يقينًا ته به محروم شى او تاوان كي به شي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

ائْذَنْ لِيْ أَنْ أَضْرِبْ عُنُقَهُ فَقَالَ دَعْهُ

بارگاه رسالت كي دهغه سړي دې گستاخانه الفاظو اوريدو سره عرض وكړي يارسول الله اجازه كړئ

فَإِنَّ لَهُ أَصْحَابًا يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ

چې سريې والوزم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل نه دا پەخپل حال پرېږده ځكه چې ځه خلق به دده تابع

صَلَاتَهُ مَعَ صَلَاتِهِمْ وَصِيَامَهُ مَعَ

وي چې دهغوى د مونځونو مقابله كي به تاسو خپل مونځونه او د هغوى د روژو مقابله كي به تاسو

صِيَامِهِمْ يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ

خپلي روژي حقيري سپكي گڼئ دا خلق به قرآن وايي ليكن قرآن به د دوى حلق نه لاندي نه ځي او دوى

يَمْرُقُوْنَ مِنَ الدِّيْنِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

به دين نه داسي اوځي څرنگه چې تير ښكار شلولو سره بالكل تري اوځي كه دهغه تير څوكه وكتل شي

يُنْظَرُ إِلٰى نَصْلِهِ إِلٰى رُصَافِهِ إِلٰى نَضِيِّهِ وَهُوَ قِدْحُهُ إِلٰى

چې دهغه د پاسه حصه وي او كه دهغه وزر وكتل شي چيرته هيڅ هم نه ليدل كيږي حالانكه هغه تير د

قُذَذِهِ فَلَا يُوْجَدُ فِيْهِ شَيْءٌ قَدْ سَبَقَ الْفَرْثَ وَالدَّمَ آيَتُهُمْ

نجاست اوويني نه تيرېږي او ددي سړى ذو الخويصرة د تابعدارو د سردار علامت دادى چې هغه به

رَجُلٌ أَسْوَدُ إِحْدٰى عَضُدَيْهِ مِثْلَ ثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ مِثْلَ

دتور رنگ سړى وي چې دهغه يو اړخ كي به د ښځي تيونو په شان راپورته شوې غوښه يا د غوښي يوه

الْبَضْعَةِ تَدَرْدَرُ يَخْرُجُوْنَ عَلٰى خَيْرِ فِرْقَةٍ مِّنَ النَّاسِ قَالَ

ټکړه وي او هغه به ديوي بهترينې طبقې خلاف بغاوت کوي او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي

أَبُوْ سَعِيْدٍ أَشْهَدُ أَنِّيْ سَمِعْتُ هٰذَا الْحَدِيْثَ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

زه شهادت ورکوم او ما خپله دا حديث د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلى دى او بيا د اشهادت ورکوم چې

وَأَشْهَدُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِيْ طَالِبٍ قَاتَلَهُمْ وَأَنَا

امير المؤمنين حضرت علي کرم الله وجهه د دې فرقې د خلقو سره جنګ وکړو او زه هغه جنګ کې

مَعَهُ فَأَمَرَ بِذٰلِكَ الرَّجُلِ فَالْتُمِسَ فَأُتِيَ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ملګري ووم حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه سړي د تلاش حکم يې وکړو نو مقتولينو کې

بِهِ حَتّٰى نَظَرْتُ إِلَيْهِ عَلٰى نَعْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نه تلاش کولو سره حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته هغه سړى راوړل شو نو ما وليدل چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه کوم

الَّذِيْ نَعَتَهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ أَقْبَلَ رَجُلٌ غَائِرُ

علامات خودلي وو په هغه کې موجود وو او په يو روايت کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ذو الخويصره د راتګ

الْعَيْنَيْنِ نَاتِئُ الْجَبْهَةِ كَثُّ اللِّحْيَةِ مُشْرِفُ

ذکر په ځاى د اسې مذکور دى يو سړى د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو چې د هغه سترګې د ننه

الْوَجْنَتَيْنِ مَحْلُوْقُ الرَّأْسِ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ

ننوتي وي تندى يې راپورته شوي وو ږيره يې ګڼه وه، بارخوګان يې راپورته شوي وو، سريې خريلى

اِتَّقِ اللهَ فَقَالَ فَمَنْ يُّطِيْعُ اللهَ إِذَا عَصَيْتُهُ

وو هغه وويل اى محمده د الله نه وويريږه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل که زه د الله تعالى نافرماني وکړم نو

فَيَأْمَنُنِيَ اللهُ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ وَلَا

بيا څوک به د الله تعالی اطاعت کوي زه الله تعالی د روی زمين په خلقو کي د ټولو نه لوی آمين پيږني

تَأْمَنُوْنِيْ فَسَأَلَ رَجُلٌ قَتْلَهُ فَمَنَعَهُ فَلَمَّا

دا صرف ته يي چي ما امين نه ګڼي او په ما اعتماد نه کوي يو صحابي د هغه سړي د سر پريکولو اجازه

وَلَّى قَالَ إِنَّ مِنْ ضِئْضِئِيْ هٰذَا قَوْمٌ

وغوښتلو ليکن حضور ﷺ هغه منع کړو او هر کله چي هغه سړی بيرته ولاړلو نو وي فرمائيل دډي

يَقْرَءُوْنَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ

سړي د اصل نه به يو قوم پيدا کيږي هغه خلق به قرآن کريم وايي ليکن قرآن کريم به د هغوی د حلق نه

يَمْرُقُوْنَ مِنَ الْإِسْلَامِ مُرُوْقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ

لاندي نه تيريږي د اسلام نه به هغوی داسي اوځي څرنګه چي تير د ښکار نه اوځي بيا به هغه خلق اهل

فَيَقْتُلُوْنَ أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَيَدَعُوْنَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ

اسلام خو به قتل کوي او بت پرست به د هغوی په حال پريږدي که زه هغه خلق بيا ووينم نو هغوی به

لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

داسي قتل کړم څرنګه چي د عاد قوم خلق قتل شوي وو .

توضيح : (يقسم) يعني د جعرانه په مقام باندې حضور ﷺ د غزوه حنين مال غنيمت تقسيمولو .

(اتاه ذوالخويصرة) دا شخص کلک منافق وو د بنوتميم سره د هغه خانداني تعلق وو ، هغه د حضور ﷺ په تقسيم باندې سخت اعتراض وکړلو ، چې کله د حضرت علی رضي الله عنه په زمانه کې د خوارجو ظهور وشو او د نهروان او حروراء مقام کې ډير خوارج جمع شول بيا دغه شخص مکمل طور باندې منظر عام ته راغی ، همدغه شخص خوارج د حضرت علی رضي الله عنه په خلاف بغاوت ته وهڅول او بنيادی طور باندې همدغه شخص د خوارجو بنياد کيښود . بيا حضرت علی رضي الله عنه هغه په بډ

جنګ کې قتل کړلو .

د خوارجو ظهور د حضور اکرم ﷺ او خلفاء ثلثه په دور کې شوی نه وو بلکه د حضرت علی رضي الله عنه په زمانه کې وشو لهذا دا ویل صحیح نه دي چې ذوالخویصره د خوارجو سردار وو ، ځکه دا شخص اول خارجی نه وو ، هو ! کچیرې د خارجیانو د ظهور نه بعد د هغو سردار جوړ شوی وي نو جوړ شوی به وي ، دغه شخص د حضور د مال غنیمت په تقسیم باندې سخت اعتراض نه کړي وو ، کچیرې هغه قتل شوی وای نو قتل یې جائز وو ، که خارجی وای نو حضور اکرم ﷺ قسم خوړلی وو کچیرې کوم خارجی ماته ملاؤ شي نو زه به هغه قتل کړم ، دا اشاره د هغه د اولادونو طرفته وه او د هغه نه وروسته راتلونکي خارجی نسل ته وه لکه څنګه چې حضرت علی رضي الله عنه کاروائی وکړه . (**خبت و خسرت**) د خطاب سره کلام دی یعنې کچیرې ستا دا عقیده وي چې زه عدل نه کوم نو ته د دې عقیدې په وجه تباه او برباد شوې ، ته خو د همیشه لپاره د عدل نه محرومه شوې ځکه که زما سره عدل نه وي نو تا ته به د کوم ځای نه عدل حاصل شي؟ په کوم بل ځای کې خو عدل نشته . (**ان اضرب عنقه**) سوال دا دی چې د حضرت عمر رضي الله عنه د اجازې غوښتلو سره حضور ﷺ د ذوالخویصره د قتل نه منع وفرمایله حالانکه هغه پخپله تمنا کوي که ماته خوارج ملاؤ شي نو زه به هغه قتل کړم . د دې جواب د مخکې نه شوی دی چې ذوالخویصره په دغه وخت کې د خوارجو په صفونو کې ظاهر شوی نه وو او نه په دغه وخت کې د خوارجو زور وو ، دغه شخص پخپله خارجی هم نه وو البته د هغه د نسل نه خوارج پیدا شول بیا دا د هغو مشر جوړ شو ، ددینه وروسته د حضرت علی رضي الله عنه دور وو ، حضور اکرم ﷺ په دغه وروسته راتلونکي دور کې د هغه د قتل کولو وفرمایل .

(**تراق**) دا د ترقوة جمع ده غاړې ته وایي . (**یمرق**) د مروق نه دی د وتلو په معنی سره دی . (**الرمیة**) دا د مرمیة په معنی سره دی ښکار ته وایي . (**نصله**) د غشی څوکې ته وایي . (**ینظر**) دا د مجهول صیغه ده یعنې که وکتل شي نه چیرته به هم د غشی کومه حصه په کوم شی سره ککړ په نظر رانشي حالانکه هغه د وینې او خوشیانو د مینځ نه وځي نو لکه څنګه چې دغه غشی صفا وځي دغه خلک به هم د اسلام نه دغسې صفا صفا وځي . (**رصافه**) رصاف هغه تسمې ته وایي چې د غشی په څوکه او د هغه د لرګي په پیوند باندې تړلی کیږي . (**نضیه**) د غشی د څوکې او د هغه د پر په مینځ کې د لرګي چې کومه حصه ده هغه ته قدح ویل کیږي ګویا قدح د غشي لرګي ټولې حصې ته ویل کیږي ، وهو قدحهٔ دا د همدې نضیة ترجمه ده ، په نضیة کې په نون باندې زور دی په ضاد باندې زیر دی او په یاء باندې شد دی . (**قذذة**) دا جمع ده د دې مفرد قُذَّة ده ، په قاف باندې ضمه ده او ذال باندې شد دی .

[illegible]

[illegible]

[illegible] ... د معجزې ظهور شي.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په مور د اسلام راوړلو کې د معجزې ظهور

۵۸۹۵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فَدَعَوْتُهَا

حضرت ابوهريره رضي الله عنه ... چې ... مشرکه وه ... د اسلام قبولو ته مې کوله ...

يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

... د اسلام قبولو ته مې ... رسول الله صلى الله عليه وسلم په شان مبارک کې ...

مَا أَكْرَهُ فَأَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

داسي ګستاخانه خبره وکړه چې په ماسخته ناخوښه ولګيده په ژړا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کي حاضر

وَأَنَا أَبْكِىْ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُدْعُ اللهَ أَنْ

شوم او عرض مي وکړو يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوس خو تاسو الله تعالیٰ نه دعا وغواړئ. چې دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

يَّهْدِىَ أُمَّ أَبِىْ هُرَيْرَةَ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِىْ هُرَيْرَةَ

مورته هدايت وکړي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعا وکړه اې الله دابو هريره مورته هدايت وکړي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعا

فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نه ډېر خوشحاله او اميد سره د بارګاه نبوت نه بيرته راغلم کوم وقت چې د مور کورته را ورسيدم نو خه

فَلَمَّا صِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ فَسَمِعَتْ أُمِّىْ خَشْفَ قَدَمَىَّ

ګورم چې دروازه بنده ده ليکن زما مور زما د قد مونو اواز اوريدلی وو هغه ددننه نه اواز وکی

فَقَالَتْ مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ قَالَ فَاغْتَسَلَتْ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انتظار وکړه يا ما داو بو غورځيدو اواز واوريده زما مور غسل وکړو کپړې يې واچولي

فَلَبِسَتْ دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا فَفَتَحَتِ الْبَابَ ثُمَّ قَالَتْ

او په تلوار يې د پړوني اچولو بغير دروازه خلاصه کړه او زما ليدو سره يې وويل زه ګواهي کوم چې

يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ

الله نه سوا بل معبود نشته او ګواهي کوم چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالیٰ بنده او رسول دی ما دې ليدو سره

وَرَسُوْلُهٗ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى

چې زما د خوږې مور هدايت نصيب شو او هغې اسلام قبول کړو بيرته د خوشحالۍ نه اوښکي توييولو

رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	وَأَنَا	أَبْكِيْ	مِنَ	الْفَرَحِ

سره درسول کريم ﷺ په خدمت کي حاضر شوم حضور ﷺ د الله تعالیٰ تعريف وکړو اوزما د مور په

فَحَمِدَ اللهَ وَقَالَ خَيْرًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

اسلام يي شکر اداء کړو او د خير خبره يي وکړه.

توضيح: **(مجاف)** يعني دروازه بنده وه. **(خشف)** د قدم کشهاري ته وايي. **(خضخضة الماء)** اوبو ته حرکت ورکولو نه چي کوم آواز پيدا کيږي هغه ته خضخضه ويل کيږي. **(عجلت)** يعني د لوپټې اغوستلو نه مخکي بيرون راغله. د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه مور ته د هدايت دعاء وشوه او هدايت ورته حاصل شو، په دې کي د حضور ﷺ د معجزې ظهور وشو.

دحضرت ابوهريره رضي الله عنه کثير الروايت کيدل ددعاء نبوي ﷺ په طفيل دي

﴿۲۷﴾	وَعَنْهُ	قَالَ	إِنَّكُمْ	تَقُوْلُوْنَ	أَكْثَرَ

اوحضرت ابوهريره رضي الله عنه يوه ورځ تابعين مخاطب کولو سره ياځرنګه چي بعضي حضراتو ويلي دي

أَبُوْ	هُرَيْرَةَ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

متاخرين صحابه مخاطب کولو سره وويل تاسو چي دا وايي چي ابوهريره رضي الله عنه د حضور ﷺ نه ډير

وَاللهُ	الْمَوْعِدُ.	وَإِنَّ	إِخْوَتِيْ	مِنَ

زيات حديثونه نقل کوي نو مخکي په دې پوهه شئ چي د الله تعالیٰ وعده برحق ده بيا دا وارئ زه

الْمُهَاجِرِيْنَ	كَانَ	يَشْغَلُهُمْ	الصَّفْقُ	بِالْأَسْوَاقِ

د زياتو حديثونو بيانولو سبب تاسو ته بنايم چي زما مهاجر وروڼه خو بازار کي خريد او فروخت

كَانَ	يَشْغَلُهُمْ	عَمَلُ	أَمْوَالِهِمْ	وَكُنْتُ	امْرَأً

مشغول کړي وو اوزما انصار وروڼو ته د هغوی ځمکي او جائيداد فرصت نه ورکوی او هرچي زه يم

مِسْكِيْنًا	أَلْزَمُ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَ	سَلَّمَ

نو زه يو مفلس او مسکين سړی وم په مړه خيټه طعام پيدا کولو باندي قناعت کولو سره د رسول کريم ﷺ

عَلَى مِلْءِ بَطْنِي وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په خدمت کي به پروت ووم بيا يوه ورځ داسي وشوه چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل که تاسو کي يو سړی

يَوْمًا لَنْ يَّبْسُطَ أَحَدٌ مِنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتَّى أَقْضِيَ

خپله کپړه خوره کړي او هغه وقته پوري يې خوره کړي وي څو پوري چې زه خپله دعا پوره نه کړم او بيا

مَقَالَتِيْ هٰذِهٖ ثُمَّ يَجْمَعُهُ إِلٰى صَدْرِهٖ فَيَنْسٰى

هغه سړی خپله کپړه راغونډه ولو سره خپلي سيني سره ولګوي نو داهيڅ کله نشي کيدی چې هغه دي

مِنْ مَّقَالَتِيْ شَيْئًا أَبَدًا فَبَسَطْتُ نَمِرَةً لَيْسَ

زما حديث کلي طور سره يا جزوي طور سره کله هم هير کړي نو ما فورًا خپل کسبله خوره کړه چې د

عَلَيَّ ثَوْبٌ غَيْرَهَا حَتّٰى قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه نه علاوه ما سره بله څه کپړه نه وه او هغه مي هغه وقته پوري خوره کړي وه تر څو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مَقَالَتَهُ ثُمَّ جَمَعْتُهَا إِلٰى صَدْرِيْ فَوَالَّذِيْ بَعَثَهُ بِالْحَقِّ

خپله خبره پوره نه کړه او بيا هغه راغونډه ولو سره خپلي سيني سره مي ولګوله قسم دی په هغه ذات

مَا نَسِيْتُ مِنْ مَّقَالَتِهٖ ذٰلِكَ

چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې په حق سره راليږلی دی د هغه نه روسته ترننه پوري څه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِلٰى يَوْمِيْ هٰذَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

نه اورم هيڅ ارشاد يې نه هيروم.

توضيح: حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **متأخر في الاسلام** دی ليکن هغه د ټولو نه زيات احاديث بيان کړي دي، په دې باندې صحابه او تابعينو ته شبه پيدا کيدله چې دومره احاديث ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څنګه بيان کړي دي، حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې سخت جواب ورکړی دی، هغه دوه قسمه جواب کړی دی، اول جواب دا چې انصار او مهاجرين په خپلو کارونو کې لګيا وو او ما د ولږې په تيرولو سره د

حضور ﷺ په دروازه کې به پروت وم او احادیث به مې یادول، په دغه وجه زما حدیثونه زیات شول.
دویم جواب دا دی چې یوه ورځ حضور اکرم ﷺ وفرمایل چې زه یو څه وایم د چا سره چې څادر وي هغه دې وغوړوي زه به هغه دم کړم، هغه شخص دې دا څادر خپلې سینې سره ونښلوي نو هغه به هیڅکله زما خبرې هیرې نکړي، ما داسې وکړل نو د حضور اکرم ﷺ معجزه صادره شوه، او زما حافظه دومره تیزه شوه چې د دینه وروسته ما د حضور ﷺ کوم حدیث هیڅکله هیر نکړلو.

دحضرت جریر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې دعاء

﴿۲۸﴾ وَعَنْ جَرِيْرِبْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا

او حضرت جریر ابن عبد الله بجلي وايي يوه ورځ رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائيل ايا ته به ذو الخلصه

تُرِيْحُنِيْ مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَقُلْتُ بَلٰى

ماتولو سره ماته راحت ونه رسوي ما عرض وکړو چې ها دهغه په ماتولو سره تا سو ته به ضرور راحت

وَكُنْتُ لَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ وَذَكَرْتُ

ورسوم لیکن زه داَس په سورلي پوره طور سره قادر نه ووم او کله کله به تري را وغورځیدم ما

ذَالِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلٰى صَدْرِيْ

نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ددي ذکر وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي اوريدو سره زما په سينه دومره زور سره لاس مبارک راخلکو

حَتّٰى رَأَيْتُ أَثَرَ يَدِهٖ فِيْ صَدْرِيْ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ

چې ما دهغه اثر سيني دننه پوري محسوس کړو او بيايي زما په حق کي د ادعا وکړله ای الله جرير

ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَّهْدِيًّا قَالَ

ثابت او قائم لري او دا هدايت ښودونکی او هدايت پيدا کونکي جوړ کړي حضرت جرير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي

فَمَا وَقَعْتُ عَنْ فَرَسِيْ بَعْدُ فَانْطَلَقَ فِيْ مِائَةٍ وَّ خَمْسِيْنَ

دي دعا نه روسته زه هيڅ کله داَس نه ونه غورځيدم او بيا دا حمس يونيم سل سورو اخستو سره

فَارِسًا مِّنْ اَحْمَسَ فَحَرَّقَهَا بِالنَّارِ

جریر رضی الله عنه ذوالخلصه ماتولو دپاره روان شو هلته رسیدو سره هغوی ذوالخلصه ته اور ورته کړي

وَ كَسَرَهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

او هغه یې دړې وړې کړله.

توضیح: (الاتریحنی) آیا د دې بُت په سوځولو سره به ما ته راحت رانکړې؟ د دینه معلومه شوه چې د الله والا ته د لرې معصیت نه هم تکلیف وي. **(من ذی الخلصة)** دا د خثعم قبیلې مشهوره بت خانه وه چې هغې ته به خلک و کعبة الیمامة ویله. **(فانطلق)** دا د حدیث د راوی کلام دی چې جریر لاړو یا پخپله جریر خپل ځان غائب ګرځولو سره کلام کړی. **(من احمس)** ای من قریش، احمس حموسة حماسة او حماس بهادر ته وایي. قریش په ټولو عربو کې زیات مشهور بهادر وو په دغه وجه دوی د احمس په نوم سره یاد شوي دي، بعضو ویلي چې دا د حضرت جریر بن عبد الله قبیله وه، هیڅ تضاد نشته.

یو بدعائی کې د معجزې ښکاره کیدل

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ رَجلًا كَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَدَّ

او حضرت انس رضی الله عنه وایي یو سړی چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم وحي به یې لیکله مرتد شو او مشرکانو سره

عَنِ الْإِسْلَامِ وَلَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یوځاي شو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چې د هغه باره کې دا اطلاع ورسیده نو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل

إِنَّ الْأَرْضَ لَا تَقْبَلُهُ فَأَخْبَرَنِيْ أَبُوْ طَلْحَةَ

دا به ځمکه قبول نه کړي د حضرت انس رضی الله عنه فیان دی ابو طلحه رضی الله عنه چې زما د مور خاوند وو ماته وښودل کوم وخت

أَنَّهُ أَتَى الْأَرْضَ الَّتِيْ مَاتَ فِيْهَا فَوَجَدَهُ

چې حضرت ابو طلحه رضی الله عنه هغه مقام ته ورسیده کوم ځاي چې هغه سړی مړ او دفن شوی وُ، نو وي لیدل چې هغه د

مَنْبُوْذًا فَقَالَ مَا شَأْنُ هٰذَا فَقَالُوْا
قبر نه بهر پروت دی هغه د خلقو نه پوښتنه وکړه چې ده ته څه شوي دي؟ خلقو جواب ورکړو چې مونږ خوځلي دا
دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
سړی دفن کړی دی ليکن ځمکه يې نه قبلوي هر ځلي داسې وشي اخر تنګ راتلو سره مونږ دده ښخول پرېښي دي.

توضيح: (ان رجلا) ويل کيږي چې دا شخص اول عيسائی وو بيا مسلمان شو بيا مرتد شو او د مشرکينو سره يوځای شو، حضور ﷺ وفرمايل چې ځمکه به دا شخص قبول نکړي، شايد حضور ﷺ په دغه موقع باندې شيرې هم ورته کړې وي، اوس د مړ کيدو نه بعد ځمکې هغه قبول نکړو، ځمکې هغه بهر ته وغورځوه، خلکو بار بار دفن کړلو مگر ځمکې به هغه بهر ته غورځولو بيا خلکو دفن کول پرېښودل. (منبوذا) غورځول شوی بهر پروت وو، په مستقبل کې د خبر ورکولو سره د معجزې ظهور وشو.

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ أَيُّوْبَ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يو وړځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لمر ډوبيدو نه روسته د کور نه اووتلو
وَ قَدْ وَجَبَتِ الشَّمْسُ فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُوْدُ
نو يو آوازيې واوريده هغه اواز اوريدو سره يې و فرمائيل دا يهود دي يعني دا آواز د هغه يهوديانو
تُعَذَّبُ فِيْ قُبُوْرِهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
دی چې قبر کې عذاب ورکول کيږي.

يعنې د قبر عذاب او د هغه احوال په حضور ﷺ باندې منکشف شول په دې کې د حضور ﷺ د معجزې ظهور وشو.

په اخبار بالغيب کې د معجزې ښکاره کيدل

﴿۳۱﴾. وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ فَلَمَّا كَانَ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يو وړځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سفر نه مديني ته بيرته راتلو مديني ته چې قريب

قُرْبَ الْمَدِيْنَةِ هَاجَتْ رِيْحٌ تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ
ورسيده نو سخته سيلۍ راغله او سخته هم دومره چې قريب وو چې سور په ځمكه كې دفن كړي
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثَتْ هٰذِهِ الرِّيْحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ
حضور ﷺ په دې موقع وفرمائيل داسيلۍ ديو منافق د مرګ پسې راليږل شوې ده
فَقَدِمَ الْمَدِيْنَةَ فَإِذَا عَظِيْمٌ مِّنَ الْمُنَافِقِيْنَ قَدْ مَاتَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
حضور ﷺ چې مديني ته داخل شو نو معلومه شوه چې د منافقانو يولوى سردار مړشوى دى . [مسلم]

توضيح: (هاجت ريح) يعنې سخته طوفانى هوا وچليدله ، داسې معلوميدله چې كومې سورلۍ والا به په سورلۍ باندې پرېنږدي بلكه د سورلۍ نه به يې وغورځوي په ځمكه به يې دفن كړي . (لموت منافق) يعنې دغه سخته طوفانى هوا د يو منافق د مرګ په وجه چليدلې ده ، هغه داسې منحوس انسان وو چې د هغه د مرګ دو جې نه د قدرت له طرفنه د بد امنۍ ، وحشت ، ګندګۍ او بدحالۍ خوريدلو قدرتي اظهار وو لكه څنګه چې د بدكرداره حاكم د راتګ په وجه د هغه په خلاف مظاهره كيږي ، ويل كيږي چې د دې منافق نوم رفاعه بن دريد وو ، حضور ﷺ مدينې ته د رسيدلو نه مخكې په طور د معجزې د هغه د مرګ خبر وركړلو ، دا په اخبار بالغيب كې د معجزې ظهور وو .

ياد ساتل پكار دي چې معجزه د نبي د نبوت نښه او دليل وي لكه څنګه چې كرامت د كوم ولي د ولايت دليل او نښه وي ، لكه څنګه چې د يو ولي ولايت د هغه د الوهيت دليل جوړيدلى نشي هم دارنګه معجزه د كوم نبي د الوهيت دليل جوړيدلى نشي ، بريلوى حضراتو ته علم غيب او اخبار بالغيب په مسئله كې لويه غلط فهمي شوې ده چې هغوى ټول معجزات د حضور اكرم ﷺ د عالم الغيب كيدلو لپاره په طور د دليل پيش كوي او د عوامو په مخكې يوه يوه معجزه پيش كولو سره وايي چې وګورئ ! حضور اكرم ﷺ ته علم غيب وو ، بيا دغه حضرات بعضې معجزات د صفت الوهيت ، مشكل كشا او حاجت روا ثابتولو لپاره هم پيش كوي ، كچيرې معجزه د صفت الوهيت ، مشكل كشائى او حاجت روائى لپاره دليل وي نو بيا خو حضرت عيسى عليه السلام په طور د معجزې مړي ژوندي كړې وو ، بيا هغه خداى ومنۍ حالانكه داسې نه كوي ، بيا د حضور اكرم ﷺ سره دا معامله ولې كوئ ؟

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى قَدِمْنَا

او حضرت ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روان شو چې مقام عسفان ته ورسيدو

عُسْفَانَ فَأَقَامَ بِهَا لَيَالِيَ فَقَالَ النَّاسُ مَا نَحْنُ هٰهُنَا فِيْ شَيْءٍ

نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هلته څو شپې قيام وکړو بعضي خلقو وويل مونږ دلته بيکاره ولي پراته يو هر کله چې

وَإِنَّ عِيَالَنَا لَخُلُوْفٌ مَّا نَأْمَنُ

زمونږ اهل او عيال زمونږ نه لرې دهغوی په باره کې اطمينان نشته چې زمونږ د عدم موجودګۍ نه

عَلَيْهِمْ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فائده اخستلو سره دښمن دهغوی لوټ مار ته راخکته نشي د خلقو دا خبره نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم ورسيده

فَقَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ اوده مَافِي الْمَدِيْنَةِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي اوريدو سره وفرمائيل قسم دی په هغه ذات چې دهغه قبضه کې زما ځان دی د مديني

شِعْبٌ وَ لَا نَقْبٌ اِلَّا عَلَيْهِ مَلَكَانِ يَحْرُسَانِهَا

هيڅ لار او هيڅ کوڅه داسې نشته چې په هغه دوه فرشتې مقررنه وي او هغې فرشتې به نګهباني او

حَتّٰى تَقْدَمُوْا إِلَيْهَا ثُمَّ قَالَ اِرْتَحِلُوْا

حفاظت باندې هغه وقته پورې مامورې وي څو پورې چې تاسو مديني ته ونه رسيږئ دې نه روسته

فَارْتَحَلْنَا وَأَقْبَلْنَا إِلَى الْمَدِيْنَةِ فَوَالَّذِيْ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ځاى نه د کوچ کولو حکم وکړو او مونږ روانيدو سره مديني ته ورسيدلو قسم دی په

يُحْلَفُ بِهٖ مَا وَضَعْنَا رِحَالَنَا حِيْنَ دَخَلْنَا الْمَدِيْنَةَ

هغه ذات چې په هغه قسم خوړل کيږي مونږ مديني ته رسيدو سره لا د خپلو اوښانو نه خپل سامان

حَتّٰى	أَغَارَ	عَلَيْنَا	بَنُوْ	عَبْدِ	اللهِ	بْنِ	غَطَفَانَ
خکته کړی نه وو چې اچانک بنو عبدالله بن عطفان پر مونږ باندې راوختل حال دا چې زمونږ دراتلو							
وَمَا	يُهَيِّجُهُمْ	قَبْلَ	ذٰلِكَ	شَيْءٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.			
نه مخکې څه داسې خبره نه وه پیښه شوې چې هغوی دې جنګ ته راوپاروي.							

توضیح: خلوف: یعنې هغه خلک خالی دي چیرته دښمن ورباندې حمله ونکړي، شعب شیلې ته ویل کیږي تنګ لارې ته وایي، بنوعبدالله د غطفان د یوې قبیلې نوم دی.

مایهیجهم: یعنې هغه خلک زمونږ د رسیدو نه مخکې هیڅ شی په حملې کولو باندې باعثه نکړل، دا د حضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزه وه.

د باران متعلق د معجزې ښکاره کیدل

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَصَابَتِ النَّاسَ سَنَةٌ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ									
او حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي د رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې یو وار دوچ کالی په وجه قحط راغی په									
فَبَيْنَا	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	يَخْطُبُ	فِيْ	يَوْمِ الْجُمُعَةِ	قَامَ أَعْرَابِيٌّ
هغه ورځو کې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې په ورځ خطبه ورکوله چې یو باندې چې اودریدلو عرض یې									
فَقَالَ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ	هَلَكَ	الْمَالُ				
وکړو یارسول الله زمونږ مال او اسباب څاروي او د باغات دا وبونه حاصلیدو په وجه برباد شول دي									
وَجَاعَ	الْعِيَالُ	فَادْعُ	اللهَ	لَنَا	فَرَفَعَ				
او اولادونه موږې شول ته الله تعالی ته زمونږ دپاره د الله نه دُعا وغواړه په اوریدو سره حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ									
يَدَيْهِ	وَمَا	نَرٰى	فِيْ	السَّمَاءِ	قَزَعَةً				
دعا دپاره لاس مبارک اوچت کړل هغه وقت په آسمان باندې د وریځې یوه ټکړه مونږ ته په نظر نه									

فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ مَا وَضَعَهَا حَتّٰى ثَارَ

راتله قسم دی په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده حضور ﷺ دعا ختمولو سره اوس

السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ

لاسونه مبارک لانه وو خکته کړي چې اچانک دغرونو په شان وريځ راپورته شوه او حضور ﷺ لا د

عَنْ مِنْبَرِهٖ حَتّٰى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلٰى لِحْيَتِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

منبر نه را کوز شوی نه وو ما وليدل چې داوبو قطري د حضور ﷺ د ږيرې مبارکې نه څڅيدلې ياد

فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذٰلِكَ وَ مِنَ الْغَدِ وَ مِنْ بَعْدِ الْغَدِ

هغه جمعې په ورځ باقي حصه کې باران وشو په دويمه ورځ ووريدلو او په دريمه ورځ او ووريدلو تر

حَتّٰى الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى وَقَامَ ذٰلِكَ

دې پورې چې دويمې جمعې پورې د باران سلسله جاري وه نو په دويمه جمعه د حضور ﷺ د خطبې

الْأَعْرَابِيُّ أَوْ غَيْرُهٗ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ تَهَدَّمَ

په دوران کې هغه ديهاتي يا يو دويم سړی اودريدلو او عرض يې وکړو يا رسول الله مکانات غور

الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ فَادْعُ اللّٰهَ لَنَا

ځيږي مال او اسباب غرقيږي تاسو د الله تعالی نه زمونږ د پاره دعا وغواړئ چې اوس باران اودريږي

فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا

حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه اوچت کړل او دعا يې وکړله ای الله زمونږ په اطرافو باندې يې ووروي

فَمَا يُشِيْرُ بِيَدِهٖ إِلٰى نَاحِيَةٍ مِنَ السَّحَابِ إِلَّا انْفَرَجَتْ

زمونږ په اطرافو کې ووروي پيغمبر چې به کوم ځای ته اشاره کوله وريځ به هغه ځای نه لرې شوه

وَصَارَتِ	الْمَدِيْنَةُ	مِثْلَ	الْجَوْبَةِ	وَسَالَ	الْوَادِيْ	قَنَاةً	شَهْرًا
او مدينه خالي شوه د وريځې نه او د قناة په خوړ کې يوې مياشتې پورې اوبه روانې وې او د اطرافو							
وَلَمْ يَجِئْ	أَحَدٌ	مِّنْ	نَّاحِيَةٍ	إِلَّا	حَدَّثَ	بِالْجَوْدِ	وَفِيْ رِوَايَةٍ
نه به چې کوم سړی مدينې ته راغی نو د کثرت باران خبرې به يې کولې او په يو روايت کې داسې دي							
قَالَ اَللّٰهُمَّ	حَوَالَيْنَا	وَ لَا	عَلَيْنَا	اَللّٰهُمَّ	عَلَى	الْآكَامِ	وَالظِّرَابِ
چې ای الله زمونږ په اطرافو کې وورويږ نه زمونږ د پاسه ای الله غونډيو باندې غرونو باندې ناليو							
وَبُطُوْنِ	الْأَوْدِيَةِ	وَمَنَابِتِ	الشَّجَرِ	قَالَ	فَأُقْلِعَتْ		
کې دننه او د ونو زرغونيدو په ځای کې د انس رضي الله عنه بيان دی چې وريځ بالکل ختمه شوه او							
وَ خَرَجْنَا نَمْشِيْ فِي الشَّمْسِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ							
مونږ په داسې حال کې بهر راووتلو چې په نمر کې روان وو .							

توضيح : **(يتحادر)** د باران اوبه چې کله په ږيره وغيره کوم شي باندې پړيوځي او بهيږي نو هغه ته تحادر وايي . **(اللهم حوالينا)** څنګه چې دغه باران د حضور ﷺ په دعاء سره راغلی وو چې په دې کې برکت او رحمت وو نو ځکه نبی کريم ﷺ د بنديدو دعاء ونه غوښته بلکه ويې فرمايل ای الله ! په اطرافو يې وورووه په مونږ نه . **(مثل الجوبة)** جوبه کنډې ته ويل کيږي بلکه د دې نه بهتر تعبير د حوض دی چې په مدينه باندې د پاسه وريځه پاتې نشوه او په اطرافو کې وريځ وه نو پاس فضاء هم د حوض پشان وه او لاندې ځمکه هم د حوض پشان وه . **(قناة)** اوبه چې کله د ځمکې لاندې لاړې شي نو د نالی شکل اختيار وي دېته قناة وايي ، په فارسی کې دېته **(کاريز)** وايي ، قناة په اصل کې نيزې ته وايي دا اوبه هم د نيزې پشان سيده ځي ، دلته قناة د يوه وادی نوم هم کيدلی شي . **(بالجود)** يعنې ټولو وويل چې ډير ښه باران وشو ، **(الآکام)** دا جمع ده مفرد يې اکمة دی غونډۍ ته وايي . **(والظراب)** جمع ده مفرد يې ظرب په وزن د کتف دی کوچنې غره ته ويل کيږي . **(بطون الاودية)** د خوړونو درمياني

علاقه چې د آبادۍ نه خالي وي.

منابت الشجر: مراد ځنګلونه دي چې هلته ونې وي، د هغو په بيخونو کښې باران وشي تر څو ونې ښه خړوبي شي.

فاقلعت: يعني وريځ لرې شوه، په دې حديث کښې تصريح ده چې د دعاء په وخت کښې لاسونه پورته کول ثابت دي، ابو طالب د غه منظر داسې پيش کړی دی:

وابيض يستسقى الغمام بوجهه ثمال اليتامى عصمة للارامل

په هر حال په دې حديث کښې د باران متعلق د څو معجزاتو ظهور شوی دی.

حنانه ستن کې د معجزې ښکاره کيدل

﴿۳۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَطَبَ
او حضرت جابر رضي الله عنه وايي نبي کريم صلى الله عليه وسلم چې به مسجد نبوي صلى الله عليه وسلم کې خطبه ورکوله نو د کجوري هغه و
اِسْتَنَدَ إِلَى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ
چي تنې سره د څنګ وهلو سره به او دريدلو چې ديوې ستنې په طور مسجد کې ولاړه وه بيا چې منبر
فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِي كَانَ
تيار شو نو حضور صلى الله عليه وسلم خطبې ويلو د پاره په هغه منبر او دريدلو نو د خورما هغه تنه چې هغې سره به
يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَنْشَقَّ
شالګولو سره حضور صلى الله عليه وسلم خطبه ورکوله په زوره زوره په ژړا شوله او قريب وه چې هغه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم
فَنَزَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَخَذَهَا
د فراق جدايي اذيت د شدت نه وچوي نبي کريم صلى الله عليه وسلم منبر نه راکوز شو هغه ته ورغی ونيوله بيا د هغې
فَضَمَّهَا إِلَيْهِ فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِي
د تسلي د پاره هغه يې غاړې سره ولګوله د دې نه روسته هغه ستنې د هغه بچي په شان ژړا شروع

يُسَكَّتُ حَتَّى اسْتَقَرَّتْ قَالَ بَكَتْ عَلَى مَا

کړه چې هغه چپ کولی شي او هغه ژړنه چپ کیږي اخر هغه ستنې ته آرام راغی چپ شوه بیا حضور ﷺ

كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

بیان وکړو چې دې ستنې په دې وجه وژړل چې د الله کوم ذکر یې اوریده د هغه نه محرومه شوه [بخاري]

توضیح : (**صاحت**) د ژړا په وجه یې آواز پورته شو . (**تنشق**) د چاودیدو په معنی سره دی . (**تأن**) أنّ یأنّ ضرب یضرب نه دی ، ماشوم چې کله په ژړا ژړا سره سلګۍ شروع کړي هغه ته انین ویل کیږي ، په دغه ونې کې د معجزې ظهور وشو ، وایي دغه ونه به جنت ته ځي ، لږ سوچ پکار دی چې ونې د حضور ﷺ په فراق کې ژاړي مګر غافل انسان په غفلت کې پروت دی .

سنگی و نباتی کہ درو خاصیتی نیست — بہ از آدمی کہ درو معرفتی نیست

دروغ عذر بیانونکي دخپل لاس توانائي نه محروم شو

﴿۳۵﴾ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت سلمه بن اکوع رضي الله عنه نه روایت دی یو سړي د رسول الله ﷺ مخکې په ګڅ لاس سره طعام

بِشِمَالِهِ فَقَالَ كُلْ بِيَمِيْنِكَ قَالَ لَا

خوړلو حضور ﷺ ورته نصیحت وکړو چې ښي لاس سره خوره هغه سړي جواب ورکړو چې زه ښي

أَسْتَطِيْعُ قَالَ لَا اسْتَطَعْتَ،

لاس سره نشم خوړلی حضور ﷺ وفرمائیل تا ته دې ښي لاس سره خوړلو باندې هیڅ کله قدرت نه وي

مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ قَالَ

[دراصل] هغه سړي غرور کې راتلو سره ښي لاس سره یې طعام نه خوړلو راوي وایي د حضور ﷺ د

فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيْهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

هغه سړی خپل ښي لاس خولې پورې او چتولو باندې هم قادر نه شو .

په يوې سورلۍ کې د معجزې ظهور

﴿۲۷﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَهْلَ الْمَدِيْنَةِ فَزِعُوْا مَرَّةً
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی يو وارد شپې اهل مدينه د غلو يا د دښمن خطرې محسوس ولو سره
فَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِيْ طَلْحَةَ
ويريدل او ژړا فرياد يې شروع کړو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صورت حال تحقيق د پاره د ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په آس
بَطِيْئًا وَ كَانَ يَقْطِفُ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ
باندې چې ډير سست رفتار وو تشريف يوړلو چې روسته راغلی نو ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمائيل
وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هٰذَا بَحْرًا فَكَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ
مونږ خوستا آس د او بو په شان تيز رفتار او کشاده قدم پيدا کړو نو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سورلۍ نه روسته
لَا يُجَارٰى وَفِيْ رِوَايَةٍ فَمَا سُبِقَ بَعْدَ
هغه آس داسې تيز رفتار شو چې هيڅ آس هغه سره تلی نه شو او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې
ذٰلِكَ الْيَوْمِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
د هغه ورځې نه روسته هيڅ آس د هغه نه مخکې کيدی نه شو.

توضيح: بطيئًا: يعنې سست رفتاره آس وو.

يقطف: نږدې نږدې قدمونو ايښودلو سره تلونکي آس ته قطوف ويل کيږي.

بحرا: يعنې دا آس خو د سمندر په شان تيز تګ کوي يا د دې رفتار خو د سمندر په شان مسلسل دی کله ختميږي نه. د دې حديث نه معلومه شوه چې د يو شی په کمال باندې د هغه تعريف جائز دی او دا هم معلومه شوه چې په تعريف کې مبالغه کول هم جائز دي چې کله په محدوده دائره کې وي.

لايجارى: د مجارات نه دی، د مقابلې په معنی سره دی يعنې هيڅ آس د دې مقابله کولی نشي ځکه چې د حضور ﷺ په هغه باندې سوارلی کولو سره په هغه کې د معجزې ظهور راغی.

کهجورو کې د معجزې ښکاره کېدل

﴿۳۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ تُوُفِّيَ أَبِي وَعَلَيْهِ دَيْنٌ

او حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي کوم وقت چې زما پلار وفات شو نو د هغه په ذمه ډېره قرضه وه

فَعَرَضْتُ عَلَى غُرَمَائِهِ أَنْ يَأْخُذُوا التَّمْرَ بِمَا

ما هغه قرضدارو ته پېشکش وکړو چې زمونږ سره څومره خورما دي هغه ټولې زما د پلار د قرض په

عَلَيْهِ فَأَبَوْا فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بدل کې واخلئ ليکن هغوی زما خبرې منلو نه انکار وکړو اخر زه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر

فَقُلْتُ قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ وَالِدِي قَدِ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ

شوم او عرض مې وکړو يارسول الله تاسو ته معلومه ده چې زما پلار په جنګ احد کې شهيد شوی

وَتَرَكَ دَيْنًا كَثِيرًا وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ

دی او هغه ځان پسې ډېر قرض پرېښی دی زه غواړم چې قرض غوښتونکې تاسو ما سره ووينې

فَقَالَ لِي اِذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَةٍ فَفَعَلْتُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائيل لاړ شه او د هر قسم کجورو جدا جدا ډهيرۍ ولګوه نو ما دغه شان وکړل او

ثُمَّ دَعَوْتُهُ فَلَمَّا نَظَرُوا إِلَيْهِ

دې نه روسته مې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د تشريف راوړلو ووېل قرض غوښتونکو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشريف راوړل

كَأَنَّهُمْ أُغْرُوا بِي تِلْكَ السَّاعَةَ

وليدل نو هغه وقت فورًا يې داسې رويه اختيار کړله لکه چې هغوی په ما حاوي شوي وي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَلَمَّا رَآى مَا يَصْنَعُوْنَ طَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا

چې دهغه قرض خواهانو دا رويه وليده نو هغوی ته ثه ويلو نه بغير د ټولو نه دلوی ډهيري نه يې

بَيْدَرًا ثَلٰثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ

چاپيره دري چ[illegible] ولګول او بيا هغه ډهيري باندي کينا ستلو سره ماته يي وفرمائيل خپل قرض خواه

أُدْعُ لِيْ أَصْحَابَكَ فَمَا زَالَ يَكِيْلُ لَهُمْ

راوبله نو د حضور ﷺ په حکم سره د هغه ډهيري نه په ناپ تول سره قرض خواهو ته ورکول شروع

حَتّٰى أَدّٰى اللهُ عَنْ وَالِدِيْ أَمَانَتَهُ وَأَنَا أَرْضٰى

کړل تر دي پوري چې الله تعالی زما د پلار ټوله قرضه ادا کړله اګر که زما د خوشحالۍ د پاره دا څه کم

أَنْ يُؤَدِّيَ اللهُ أَمَانَةَ وَالِدِيْ وَلَا أَرْجِعُ

نه وو چې الله تعالی زما د هغه قجورو نه زما د پلار تمامه قرضه اداء کړله که خپلو خويندو ته ورلو

إِلٰى أَخَوَاتِيْ بِتَمْرَةٍ فَسَلَّمَ اللهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا

د پاره يوه قجوره هم نه وی بچ شوي ليکن الله تعالی خو د حضور ﷺ معجزي سره ټول ډيري محفوظ وساتل او په کوم

وَحَتّٰى إِنِّيْ أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِيْ كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ډهيري چې حضور ﷺ ناست وو ما هغه طرف ته نظر وکړو نو داسي لګيده چې د هغه نه يوه قجوره هم نه ده کمه

كَأَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ

شوي او هر کله چې هغه ډهيري نه هيڅ کم نه شو چې هغه نه د قرض خواهو د مطالبي په قدر ورکړل شو نو باقي ډهيري

تَمْرَةً وَاحِدَةً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

خو بدرجه اولٰی سالم او محفوظ پاته شو.

توضيح : (على غرمائه) يعنې د پلار جان په قرضدارانو باندې ما خپل باغ پيش کړلو مګر هغوی کم کښلو سره انکار وکړو ، دا قرضداران يهوديان وو ، (مرقات) .

يراک الغرماء: يعنې چې کله قرضداران تا ووينې نو لږ رعايت به وکړي . (**فبيدر**) دا د امر صيغه ده د ډيري جوړولو په معنى سره دى ، البيدر د ډيري کولو ميدان ته ويل کيږي يعنې په ميدان کې د خرماؤ د هر قسم ځانته ځانته ډيري جوړه کړه . (**اغروا بي**) دا د اغراء نه دى د چا په خلاف د سپى غفولو ته اغراء ويل کيږي يعنې د حضور اکرم ﷺ په ليدلو سره دغه خلک په ما باندې راګرم شول او په خبرو کې يې سختي پيدا کړله چې تا د سفارش دغه صورت ولې جوړ کړلو ؟ قرضداران يهود وو په دغه وجه ګرم شول چې د دومره زيات قرضدارانو لپاره دې څومره کم مال ايخى دى .

(**اعظمها بيدرا**) حضور ﷺ چې کله وکتل چې يهود بدتميزى کوي نو هغه د غټ ډيري شاوخوا درې ځله تاؤ شو او بيا د هغې سره کيناستلو . (**اصحابک**) يعنې خپل قرضداران يهود راوغواړه چې خپل قرض واخلي . (تمرة واحدة) يعنې ټول قرض يې ورکړو مګر د خرماؤ دغه ډيرئ داسې معلوميدله چې يو دانه خورما هم ددينه کمه شوې نه ده ځکه چې د حضور ﷺ په برکت په هغې کې د معجزې ظهور شوى وو .

دغوړو دمشکيزې متعلق يوه معجزه

﴿۳۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ إِنَّ أُمَّ مَالِكٍ كَانَتْ تُهْدِيْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عُكَّةٍ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي ام مالک رحمه الله به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کي يوي مشکيزي کي دغوړو هديه

لَهَا سَمْنًا فَيَأْتِيْهَا بَنُوْهَا فَيَسْأَلُوْنَ الْأُدُمَ

ليږله چې کله به د ام مالک رحمه الله زامن راتلل او د خوراک د پاره به يې څه سالن او غوښتلو او د هغې سره

وَلَيْسَ عِنْدَهُمْ شَيْءٌ فَتَعْمِدُ إِلَى الَّذِيْ كَانَتْ تُهْدِيْ فِيْهِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

به څه سالن موجود نه وو نو هغه به هغه مشکيزي ته ورتله چې په هغه کي به يې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته غوړي

فَتَجِدُ فِيْهِ سَمْنًا فَمَا زَالَ

ليږل غوړي او د هغې نه به څه غوړي ورته حاصليدل کافي ورځو پوري دا سلسله جاري وه چې هغه

يُقِيمُ	لَهَا	أُدُمَ	بَيْتِهَا	حَتّٰى	عَصَرَتْهُ
مشکيزي سره لګيدلې غوړي پوره کور د پاره کافي کيدل بيا ام مالک رحمه الله هغه ټول را وښکل چې د					
فَأَتَتِ	النَّبِيَّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
هغه اثر داوسو چې هغه د هغه د برکت نه محرومه شوه او کور والو ته روټئ خوړلو د پاره چې د کوم شي					
فَقَالَ		عَصَرْتِيهَا			قَالَتْ
طمعه وه هغه بند شو ام مالک رحمه الله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضره شوه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه ايا					
نَعَمْ	قَالَ	لَوْ			تَرَكْتِيهَا
تا هغه مشکيزه بالکل پخوړ کړې ده ؟ هغې وويل چې ها نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل که تا مشکيزه					
مَا	زَالَ	قَائِمًا.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ.	
داسي نه وی نچوړ کړي نو هميشه به تا ته د دې مشکيزې نه غوړي حاصليدل .					

توضيح : عکة: وړې مشکيزې ته هم عکه وايي او د غوړو لپاره د څرمنې نه جوړ شوې لوښي ته هم عکه وايي ، ملا علی قاری رحمه الله ليکي :**هي وعاء من جلد مستدير و يختص بالسمن والعسل**. (مرقات)

(فتعمد) د قصد او ارادې په معنی سره دی ، ضمير د مؤنث ام مالک ته راجع کيږي ، د حديث مطلب دا دی چې ام مالک رحمه الله به په يوه لوښي کې غوړي اېښودل او حضور ﷺ ته به يې په طور د هديه ليږل ، کله به داسې کيدل چې د ام مالک بچيان به راغلل ترکاري به يې غوښته نو ام مالک به هغه لوښي طرفته لاړه ځکه چې د ترکاري کوم بل انتظام نه وو البته په دغه لوښي کې د معجزې ظهور شوی وو نو په هغه کې به هر وخت غوړي ملاويدل ، دا سلسله روانه وه تر دې پورې چې يو ځل ام مالک رحمه الله د لوښي نه ټول غوړ صفا کړل نو د برکت او معجزې دغه سلسله بنده شوه ، علماؤ ليکلي دي چې معجزه يو غيبي انتظام دی هغه پټه ساتل پکار دي ، د خوراک څښاک شيانو بيخ ظاهرولو سره معجزه موقوف کيږي ، د خوراک او څښاک په شيانو کې خو برکت او اضافه راځي ليکن اصل ماده برقراره ساتل پکار دي . **(عصرتيها)** آيا تا هغه لوښی بلکل نچوړ کړلو ؟ په دې صيغه

كې (ى) د اشباع لپاره ده او په تركيبها كې هم دى، د اشباع لپاره ده ، ددې مفهوم د ترجمې كولو نه ظاهريږي او تعلق يې د كلام د لهجې سره دى .

په طعام كې دبركت معجزه

﴿۲۹﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَبُوْ طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ لَقَدْ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي يوه ورځ ابو طلحه انصاري رضي الله عنه چې زما پلندر وو كورته راتلو سره زما مور
سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعِيْفًا
ام سليم رضي الله عنها ته يې وويل نن مادرسول الله صلى الله عليه وسلم او از كې ډيره كمزوري محسوسه كړه چې هغه سره ماته
أَعْرِفُ فِيْهِ الْجُوْعَ فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَتْ
اندازه وشوه چې حضور صلى الله عليه وسلم وږى دى دې ايا تا سره د خوراک څه شى شته ام سليم رضي الله عنها جواب وركړو
نَعَمْ فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِّنْ شَعِيْرٍ ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا
چې شته بيا هغه داوربشو ځوروټۍ راوښكلي خپل څادر يې رواخسته او د هغه يوه حصه كې يې روټۍ
فَلَفَّتِ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ يَدِىْ وَلَا ثَتْنِيْ بِبَعْضِهِ
ونغښتلي او بلې حصې سره يې زما سرپټ كړو او بيا پړوني كې انغښتي روټۍ زما تر لاس لاندې پټې
ثُمَّ أَرْسَلَتْنِيْ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَذَهَبْتُ بِهِ
كړې او زه يې د رسول كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې وليږلم زه هغه ډوډيو سره ورسيدم رسول كريم صلى الله عليه وسلم هغه
فَوَجَدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَ مَعَهُ النَّاسُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِمْ
وقت په مسجد كې تشريف فرما وو او ډير خلق د حضور صلى الله عليه وسلم سره ناست وو ماټولو ته سلام وكړو
فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَرْسَلَكَ
رسول كريم صلى الله عليه وسلم د سلام جواب راكولو نه روسته زما نه پوښتنه وكړه ايا ته ابو طلحه رضي الله عنه راليږلې يې ؟

أَبُوْ طَلْحَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِطَعَامٍ قُلْتُ نَعَمْ

اعرض وکړو چي هو حضور ﷺ پوښتنه وکړه چې روټۍ درکړي ده را لیږلي یي ما ووېل چې هو

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَنْ مَّعَهُ

رسول کریم ﷺ زما جواب اورید وسره هغه خلقو ته چې رسول کریم ﷺ سره ناست وو وفرمائیل

قُوْمُوْا . فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ

ر اپاځئ دابو طلحه رضي الله عنه کورته ورځو ددي نه روسته حضور ﷺ او هغه تمام خلق دابو طلحه رضي الله عنه دکور

حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ

طرف ته روان شول او زه هم د حضور ﷺ مخکي روان شوم ابو طلحه رضي الله عنه ته مي خبر ورکړو نو هغه

أَبُوْ طَلْحَةَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ

ووېل ای ام سلیم رضي الله عنها رسول الله ﷺ تشریف راوړی او حضور ﷺ سره صحابه کرام هم دي حال دا چې

وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ فَقَالَتْ اَللهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ

زمونږ سره ددي ډوډو نه علاوه څه شی نشته ام سلیم رضي الله عنها جواب ورکړو الله او د هغه رسول ښه پوهیږی یا

فَانْطَلَقَ أَبُوْ طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابو طلحه رضي الله عنه د حضور ﷺ د استقبال دپاره دکور نه بهر ووتلو او حضور ﷺ سره یي ملاقات

فَأَقْبَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُوْ طَلْحَةَ مَعَهُ

وکړو ددي نه روسته رسول کریم ﷺ دابو طلحه رضي الله عنه کورته تشریف راوړو او کورته رسیدو سره یي

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمِّيْ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَّا عِنْدَكِ

وفرمائیل ای ام سلیم رضي الله عنها څه چې تا سره وي هغه راوړه ام سلیم رضي الله عنها هغه روټۍ چې هغه سره وي

فَأُتِيَ بِذٰلِكَ الْخُبْزِ فَأَمَرَ بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

راوړي: حضور ﷺ مخکي يې کښيخودلي حضور ﷺ حکم وکړو چې هغه روټۍ ميده کړي نو هغه

فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ عُكَّةً فَأَدَمَتْهُ

ميده کړې شوې او ام سليم رضي الله عنها د غوړو مشکيزه نچوړولو سره غوړي را وبنکل او هغه يې د سالن

ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْهِ

په طور کيخودل، روسته رسول کريم ﷺ د هغه روټۍ سالن (ترکاري) په باره کې هغه څه وفرمائيل

مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقُوْلَ ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَأَذِنَ

چې الله تعالى غوښتل بيا حضور ﷺ حکم وکړو چې لس سړي را وغواړه نو لس سړي را وغوښتي

لَهُمْ فَأَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا ثُمَّ خَرَجُوْا ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ

شول هغوی په مړه خېټه طعام وخوړلو بيا چې هغوی ولاړل نو حضور ﷺ وفرمائيل لس لس کسان

ثُمَّ لِعَشَرَةٍ فَأَكَلَ الْقَوْمُ كُلُّهُمْ

راوبللو سره پرې خوروي نو لس لس سړي بللو سره مو پرې طعام وخوړلو تر دې پورې چې هغه ټولو په

وَشَبِعُوْا وَالْقَوْمُ سَبْعُوْنَ أَوْ ثَمَانُوْنَ رَجُلًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ

مړه خېټه طعام وخوړلو او دا ټول اويا يا اتيا سړي وو [بخاري ومسلم] او د مسلم يو روايت کې دا الفاظ

أَنَّهُ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَدَخَلُوْا

دي چې حضور ﷺ وفرمائيل لس خلق د طعام د پاره را وبلئ هر کله چې هغه لس خلق راغلل

فَقَالَ كُلُوْا وَسَمُّوا اللهَ فَأَكَلُوْا

نو حضور ﷺ هغوی ته وفرمائيل د الله تعالى نوم آخستو سره خورئ نو هغوی د الله تعالى نوم اخستو سره طعام وخوړلو

حَتّٰى فَعَلَ ذٰلِكَ بِثَمَانِيْنَ رَجُلًا ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دغه شان اتيا سړو باندې طعام وخوړل شو هركله چې ټولو طعام وخوړلو نو آخر كې نبي كريم ﷺ
وَأَهْلَ الْبَيْتِ وَتَرَكَ سُؤْرًا وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ
اود كور خلقو طعام وخوړلو اوبيا هم پسخورده باقې پاتې شوه. او د بخاري يو بل روايت كې داسې دي
أَرْبَعِيْنَ ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نبي ﷺ وفرمائيل لس كسان ماته راولېږ دغه شان ثلويښت كسان يې شمير كړل دهغوى نه روسته خپله نبي ﷺ
فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ هَلْ نَقَصَ مِنْهَا شَيْءٌ
طعام وخوړلو او ما مسلسل كتل چې د طعام نه څه كم شوي دي يانه ليكن ماته قطعًا څه كمى په نظر نه راتلو
وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ ثُمَّ أَخَذَ مَا بَقِيَ فَجَمَعَهُ ثُمَّ دَعَا فِيْهِ بِالْبَرَكَةِ
او د مسلم په يو بل روايت كې دا الفاظ هم دي چې حضور ﷺ پسخورده او چتولو سره جمع كړه او هغې كې د بركت دعا
فَعَادَ كَمَا كَانَ فَقَالَ دُوْنَكُمْ هٰذَا.
وكړله نو هغه هغه شان شوه څرنګه چې مخكې وه بيا حضور ﷺ وفرمائيل دا و ساتئ او بيا يې وخورئ.

توضيح: **اقراصاً**: دا د قرص جمع ده روټۍ ته ويل كيږي.

خمارا: لوپټې ته ويل كيږي، **ببعضه**: يعنې د لوپټې په يوه حصه كې يې روټۍ تاؤ كړه ويې تړله.

ودسته: دس يدس د نصر ينصر نه د منډلو او پټولو په معنى سره دى خاصكر په خاوره كې د پټولو لپاره استعماليږي.

لاثتني: د نصر ينصر نه لوث د تاوولو او عمامه جوړولو په معنى سره راځي، حضرت انس رضي الله عنه دا ويل غواړي چې مور مې د خپلې لوپټې يوه حصه كې يې روټۍ وتړله زما په بغل كې يې ومنډله او د لوپټې دويمه حصه يې زما په سر باندې تاؤ كړه، داسې معلوميږي چې دا د يخنۍ موسم وو.

بطعام: د ويلو نه مخكې حضور ﷺ د خوراك خبره ظاهره كړه ممكنه ده چې دلته د معجزې ظهور

شوي وي.

قوموا: اګرچې حضور ﷺ يې كور ته غوښتى نه وو مګر حضور ﷺ مناسبه وګڼله چې هلته لاړ شي تر څو په كور كې بركت راشي او د معجزې ظهور راشي.

الله و رسوله اعلم: د ام سليم رضي الله عنها ايماني قوت ته او ګوره هيڅ پريشانه نشوه بلكه ابوطلحه رضي الله عنه ته يې تسلي وركړه چې دا د رسول الله ﷺ مليمانه دي هغه پوهيږي او ميلمانه يې پوهيږي، مونږ ولې پريشانه شو، يعنې د هغه ځاى نه به ټول انتظام كيږي. **(ففتّ)** ډوډى ماته كړى شوه.

ان يقول: په رواياتو كې دي چې هغه دا دعاء وويله **(بسم الله اللّهم اعظم فيه البركة)**.

ائذن لعشرة: دا د مخكې زمانې د دعوتونو رواج وو، اوس هم په عربو او قبائلو كې بلكه زمونږ په علاقه كې هم دا رواج دى چې لسو كسانو ته په يوه لويه كاسه باندې يو ځاى خوراك وركول كيږي، ددې مجموعې نوم (پينډه) وي، په هر حال د دوه څلورو كسانو خوراك اتيا كسانو وخوړو او بيا هم پاتې شو، په دغه طريقه په دې خوراك كې د معجزې ظهور راغى.

ګوتو مباركو نه داوبو وتلو معجزه

﴿۲۰﴾	وَعَنْهُ	قَالَ	أُتِيَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ بِإِنَاءٍ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي په يوه موقع چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم زوراء مقام كې تشريف فرماوو								
وَهُوَ	بِالزَّوْرَاءِ	فَوَضَعَ	يَدَهُ	فِي	الْإِنَاءِ			
د حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت كې داوبو يو لوښى راوړل شو حضور صلى الله عليه وسلم خپلې ګوتې مباركې هغه لوښي كې كېښودې								
فَجَعَلَ	الْمَاءُ	يَنْبُعُ	مِنْ	بَيْنِ	أَصَابِعِهِ	فَتَوَضَّأَ	الْقَوْمُ	
كړې او د ګوتو مباركو نه يې داوبو فواره بهيدل شروع شو پوره جماعت هغه اوبو سره اودس وكړو								
قَالَ	قَتَادَةُ	قُلْتُ	لِأَنَسٍ	كَمْ	كُنْتُمْ			
حضرت قتاده رضي الله عنه وايي ما حضرت انس رضي الله عنه نه پوښتنه وكړه په هغه موقع تاسو څو مره وئى؟								

قَالَ ثَلَاثُمِائَةٍ أَوْ زُهَاءَ ثَلَاثِمِائَةٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

حضرت انس رضي الله عنه جواب دري سوه يا اندازًا دري سوه كسان وو. [بخاري مسلم]

﴿۲۱﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ كُنَّا نَعُدُّ الْاٰيَاتِ بَرَكَةً

او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغوی وويل مونږ صحابه رضي الله عنهم خو ايات د بركت او

وَأَنْتُمْ تَعُدُّوْنَهَا تَخْوِيْفًا كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خوشحالۍ سبب ګڼلو او ای خلقو تاسو يې د خلكو د ويرلو دپاره ګڼئ، چې مونږ رسول كريم صلى الله عليه وسلم سره

فِيْ سَفَرٍ فَقَلَّ الْمَاءُ فَقَالَ أُطْلُبُوْا فَضْلَةً

يو سفر كي وو چې په لار كي داوبو د قلت مسئله پيدا شوه حضور صلى الله عليه وسلم حكم وكړو چاسره چې لوښي

مِنْ مَّاءٍ فَجَاءُوْا بِإِنَاءٍ فِيْهِ مَاءٌ

كي لږې اوبه هم بچ شوي وي هغه ماته راوړئ نو صحابو رضي الله عنهم يو داسي لوښی راوړو چې په هغه كي

قَلِيْلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهٗ فِي الْإِنَاءِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ

ديرې لږې اوبه وي حضور صلى الله عليه وسلم خپل لاس مبارک هغه لوښي كي ختته كړو او وي فرمائيل زر راځي

عَلَى الطَّهُوْرِ الْمُبَارَكِ وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللّٰهِ

او دا پاكي او بابركته اوبه حاصلي كړئ او دا بركت دی د الله تعالی د طرف نه نازل شوی دی او

وَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وويل هغه وقت د رسول كريم صلى الله عليه وسلم د ګوتو مباركو نه د فواري په شان اوبه

وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

بهيدلي ما خپله وليدل او همدا شان مونږ د طعام د تسبيح اواز اوريده. [بخاري]

توضیح : (الآیات) یعنې تاسې خو معجزات هغه ته وایي چې په هغه کې تخویف او ویرول او عذاب وي حالانکه مونږ به معجزات رحمت او برکت ګڼلو ، اوس صورت حال داسې دی چې عوامو ته هماغه معجزه فائده ورکوي چې په هغه کې تخویف وي او خلک په زوره لارې ته راولي مګر د معجزې خواصو ته په کتلو خپله ځې ایمان راوړي ځکه هغوی دا برکت ګڼلو .

﴿۴۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ
او حضرت ابو قتاده رضي الله عنه بیان کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم زمونږ مخکې خطبه وویله او ارشاد یې وفرمایلو
إِنَّكُمْ تَسِيْرُوْنَ عَشِيَّتَكُمْ وَلَيْلَتَكُمْ وَتَأْتُوْنَ الْمَاءَ
چې تا سو به ددې شپې په اوله حصه کې او آخره حصه کې سفر کوئ ان شاء الله صباته به تا سو او به
إِنْ شَاءَ اللهُ غَدًا فَانْطَلَقَ النَّاسُ لَا يَلْوِىْ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ
پیدا کړئ نو ټول خلق د غه شان بې پروا روان وو چا ته د چا پروانه وه بلکې هر سړی جدا جدا روان وو
قَالَ أَبُوْ قَتَادَةَ فَبَيْنَمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيْرُ حَتَّى ابْهَارَّ
ابو قتاده رضي الله عنه وایي په دغه شپه رسول کریم صلی الله علیه وسلم هم روان وو کوم وقت چې نیمه شپه تیره شوه نو
اللَّيْلُ فَمَالَ عَنِ الطَّرِيْقِ فَوَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ
حضور صلی الله علیه وسلم د لارې یوې غاړې باندې خکته شو او سر مبارک ایښودلو سره ځملاستو مخکې هدایت
قَالَ احْفَظُوْا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا
یې وفرمایلو چې زمونږ د مونځ خیال ساته چې داسې نه وي ټول خلق بې خبره اوده شي او سحر وقت
فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
سترګې نه غړیدو په سبب مونځ قضاء شي لیکن دغه شان وشوه بیاد ټولو نه مخکې رسول کریم صلی الله علیه وسلم بیدار شو
وَالشَّمْسُ فِيْ ظَهْرِهٖ ثُمَّ قَالَ
هر کله چې نمر د حضور صلی الله علیه وسلم په شا مبارکه ولګیده حضور صلی الله علیه وسلم ټولو بیدار ولو سره وفرمائیل فوراً تیار

ارْكَبُوْا فَرَكِبْنَا فَسِرْنَا

شئ اوددي ځاي نه روان شئ نو مونږ خلق په تلوار تلوار خپلو سورلو باندي کينا ستلو او د هغه ځاي

حَتّٰى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ

نه روان شو تردي پورې چې نمر زيات اوچت شو نو حضور ﷺ د سورلي نه راکوز شو بيا د اودس

دَعَا بِمِيْضَأَةٍ كَانَتْ مَعِيْ فِيْهَا شَيْءٌ مِنْ مَّاءٍ

لوښي يې وغوښتلو چې ما سره وو او په هغه کي لږ اوبه باقي وي او هغه سره حضور ﷺ

فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوْءًا دُوْنَ وُضُوْءٍ قَالَ وَبَقِيَ فِيْهَا شَيْءٌ مِنْ مَّاءٍ

اودس وکړو ابو قتاده رضي الله عنه وايي د اودس نه روسته څه لږ اوبه هغه لوښي کي بچ پاتې شوې وې

ثُمَّ قَالَ احْفَظْ عَلَيْنَا مِيْضَأَتَكَ فَسَيَكُوْنُ لَهَا

حضور ﷺ وفرمائيل ددي لوښي اوبه حفاظت سره وساتئ ځکه چې نزدي وخت کې به دې اوبو نه به

نَبَأٌ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يوه لويه خبره ښکاره کيږي دي نه روسته بلال رضي الله عنه مانځه د پاره اذان وکړو او رسول کريم ﷺ سنت

رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ وَرَكِبَ وَرَكِبْنَا مَعَهُ

ادا کړل دوه رکعاته د سحر قضاء مونځ يې باجماعت اداء کړو روسته حضور ﷺ سور شو او مونږ هم

فَانْتَهَيْنَا إِلَى النَّاسِ حِيْنَ امْتَدَّ النَّهَارُ وَحَمِيَ

په خپلو سورلو کينا ستلو تر دي پورې چې مونږ د قافلي خلقو سره يو ځاي شو هغه وقت نمر برہ

كُلُّ شَيْءٍ وَهُمْ يَقُوْلُوْنَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلَكْنَا

راختلی وو چې هغه سره هر شي ته ګرمي رسيده خلقو وويل يارسول الله ﷺ مونږ خو هلاک کړو

عَطِشْنَا فَقَالَ لَا هُلْكَ عَلَيْكُمْ وَ دَعَا بِالْمِيْضَأَةِ

زمونږ تندي حضور ﷺ وفرمائيل ستاسو د پاره هلاکت نشته بيا حضور ﷺ داو

فَجَعَلَ يَصُبُّ وَأَبُو قَتَادَةَ يَسْقِيهِمْ

اوبو هغه لوښي طلب کړو او هغه لوښي نه يي اوبه اچول شروع کړل او ابو قتاده رضي الله عنه خلقو باندي څکول شروع کړل او

فَلَمْ يَعْدُ أَنْ رَأَى النَّاسُ مَاءً فِي الْمِيضَأَةِ

قافلې والاو چې څرنګه وليدل چې هغه لوښي نه اوبه غورځيدي نود ټولو نه مخکي يو دم رامات شول

تَكَابُّوا عَلَيْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسِنُوا

او يو په بل اوړيدل شروع شو . حضور صلی الله علیه وسلم دهغوی بي صبري ليدو سره و فرمائيل ښه طريقه اختيار

الْمَلَأَ كُلُّكُمْ سَيَرْوَى قَالَ فَفَعَلُوا

کړئ او د اخلاقو نه کار واخلئ تا سو ټول به دي اوبو سره سيراب شئ نو سمدستي خلقو ښه طريقه

فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَصُبُّ

اختيار کړه او جدا جدا کيدو سره په وقار او قطار سره ودريدل بيا رسول کريم صلی الله علیه وسلم اوبه اچول او ما په

وَأَسْقِيهِمْ حَتَّى مَا بَقِيَ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلقو اوبه څکول شروع کړل تر دي پورې چې ټول خلق سيراب شول او زما او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه سوا

ثُمَّ صَبَّ فَقَالَ لِي إِشْرَبْ فَقُلْتُ لَا أَشْرَبُ

هيڅوک باقي پاتې نه شول نو حضور صلی الله علیه وسلم اوبه واچولي او ماته يي و فرمائيل او څکه ما عرض وکړو زه

حَتَّى تَشْرَبَ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ إِنَّ سَاقِيَ

هغه وقته پورې نشم څکلی څو پورې چې تاسو يي ونه څکئ رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمائيل د خلقو ساقي

الْقَوْمِ آخِرُهُمْ قَالَ فَشَرِبْتُ وَ شَرِبَ

دهغوی آخري سړی وي حضرت ابو قتاده رضي الله عنه وايي ما اوبه وڅکلي بيا حضور صلی الله علیه وسلم اوبه نوش کړي

قَالَ فَأَتَى النَّاسُ الْمَاءَ جَامِّيْنَ
ابو قتاده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي دي نه روسته اهل قافله داوبو ځاي ته داسي حال کي ورسيدل چې اوبه شوي وو او
رِوَاءً. رَوَاهُ مُسْلِمٌ. هٰكَذَا فِيْ صَحِيْحِهِ
راحت يي پيدا کړی وو دا روايت مسلم نقل کړی دی، او صحيح مسلم کي داسي منقول دی او کتاب
وَكَذَا. فِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَجَامِعِ الْأُصُوْلِ وَزَادَ فِي الْمَصَابِيْحِ بَعْدَ
حميدي او جامع الاصول کي هم دا روايت دي الفاظو سره منقول دی البته مصابيح کي إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ
قَوْلِهِ آخِرُهُمْ لَفْظَةَ شُرْبًا.
آخِرُهُمْ: نه روسته شربًا لفظ مزيد دی.

توضيح: (ابهار الليل) يعني نيمه شپه شوله، ستوري وځليدل، (ميضأة) لوټې ته وايي. (فلم يعد) يعني خلکو آخوا ديخو تجاوز ونکړو بلکه چې کله يې اوبه وليدلې نو په اوبو باندې راپريوتل.

تكابوا: په اوبو باندې ازدحام جوړولو سره راپريوتل.

احسنوا الملاء: يعني ښه اخلاق وساتئ. (اتى الناس) يعني د معجزې ظاهريدو والا اوبه يې ښه وڅښلې او بيا خلک په سفر باندې روان شول او د اوبو چينې ته ورسيدل. (جامين) يعني خلک ډېر په راحت او خوشحالۍ کې وو. (رواء) ښه سيرابه وو.

تبوک کې د طعام د برکت معجزه

﴿۴۳﴾ وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ غَزْوَةِ تَبُوْكَ أَصَابَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي د غزوه تبوک په ورځ د توښې د کمي په سبب هر کله چې سختي لوږې
النَّاسَ مَجَاعَةٌ فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُدْعُهُمْ
خلق تنگ کړل نو حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عرض وکړو يا رسول الله لږه ډېره توښه چې د خلقو سره بچ شوې ده

فَقَالَ بِالْبَرَكَةِ عَلَيْهَا لَهُمْ اللهَ ادْعُ ثُمَّ أَزْوَادِهِمْ بِفَضْلِ
هغه راوغواړئي او بيا په هغه تو بنه هغوی د پاره الله تعالى نه د برکت دعا وکړئ حضور ﷺ وفرمائيل
نَعَمْ فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبَسَطَهُ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ
بنه بیا حضور ﷺ د څمړې دستر خوان راوغوښته نو هغه خور کړل شو او خلقو ته يې د بچ شوي تو بنې
قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَفِّ
راوړلو د پاره وويل نو خلقو شيان راوړل شروع کړل چا يو موټي برابر جوار يې راوړل چا د موټي برابر
تَمْرٍ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكِسْرَةٍ حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ شَيْءٌ يَسِيرٌ
خورما راوړي چا د روټۍ ټکړه راوړه د غه شان پر هغه دستر خوان څه لږ څيزونه جمع شول نو رسول
فَدَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ قَالَ خُذُوْا
کريم ﷺ د نزول برکت دعا وکړه بيا يې خلقو ته وفرمائيل لوښي ډک کړي نو خلقو خپلو خپلو لوښو
فِيْ أَوْعِيَتِكُمْ فَأَخَذُوْا فِيْ أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوْا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً اِلَّا مَلَأُوْهُ
آخستل شروع کړل تر دې پورې چې لښکر کي هيڅ داسي لوښي پاتي نه شو چې ډک نه شو
قَالَ فَأَكَلُوْا حَتَّى شَبِعُوْا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ
حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي بيا ټول لښکر په ډکه خېټه طعام وخوړلو بيا هم ډير طعام پاتې شو دي نه روسته
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَأَنِّيْ
رسول کريم ﷺ وفرمائيل زه شاهدي کوم چې د الله تعالى نه سوا بل معبود نشته او دا چې بلا شبه زه
رَسُوْلُ اللهِ لَا يَلْقَى بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرُ
دالله تعالى رسول يم داسي هيڅ کله نشي کيدی چې يو سړی د دې دوو ګواهيو سره چې هيڅ شک

شَاكٍ فَيُحْجَبُ عَنِ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

شبه پکي نشته د الله تعالى سره يو ځاي شي او بيا هغه جنت ته د تلو نه منع کړل شي.

توضيح: (نطع) د څرمنې دسترخوان ته نطع ويل کيږي. (**بكف ذرة**) يعني کوم کس به يو موټی جوار راوړل، (كسرة) يعني کوم کس به د روټۍ ټکړه راوړه، چا به يو موټی کجورې راوړلې، بيا په مندرجه بالا شيانو باندې حضور ﷺ د برکت دعاء وکړله نو د معجزې ظهور وشو او لوښې پې ډک يوړلو.

دام المؤمنين بي بي زينب رضي الله عنها وليمه کي دبرکت معجزه؟

﴿۴۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوْسًا بِزَيْنَبَ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي د نبي صلى الله عليه وسلم ام المؤمنين بي بي زينب رضي الله عنها سره نکاح وشو نو [د واده د شپې نه
فَعَمِدَتْ أُمِّيْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى تَمْرٍ وَسَمْنٍ وَأَقِطٍ فَصَنَعَتْ حَيْسًا
روسته] زما مور ام سليم رضي الله عنها خورما، غوړي او کورت پنير اخستو سره ماليده جوړه کړه او بيا
فَجَعَلَتْهُ فِيْ تَوْرٍ فَقَالَتْ يَا أَنَسُ اِذْهَبْ بِهٰذَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
پياله کي واچوله او ماته يي وويل انس رضي الله عنه د ادرسول کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کي يوسه او ورته ووايه چې
فَقُلْ بَعَثَتْ بِهٰذَا إِلَيْكَ أُمِّيْ وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ
زما مور دا حقيره شان هديه ستاسو په خدمت کي راليږلې ده او تاسو ته يي سلام عرض کړی دی او
وَتَقُوْلُ إِنَّ هٰذَا لَكَ مِنَّا قَلِيْلٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ فَذَهَبْتُ
ويلي يي دي چې يارسول الله دا لږ هديه زمونږ د طرف نه ستاسو د پاره ده زه د حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت کي
فَقُلْتُ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَالَ اذْهَبْ فَادْعُ
حاضر شوم او څه چې زما مور ويلي وو عرض مي کړل حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل دا کيږده او بيا يي

لِيْ فُلَانًا وَّفُلَانًا رِجَالًا سَمَّاهُمْ وَادْعُ

وفرمائيل فلاني فلاني سړي چې د هغوی نومونه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وښودل ورشه رابې وله

لِيْ مَنْ لَقِيْتَ فَدَعَوْتُ مَنْ سَمّٰى وَمَنْ لَقِيْتُ

اوګوره لار کې چې کوم سړی درسره ملاؤ شي هغه هم دځان سره راوله نو زه لاړم او هغه خلق او کوم

فَرَجَعْتُ فَإِذَا الْبَيْتُ غَاصٌّ بِأَهْلِهِ

چې په لار کې راسره ملاؤ شول هغه مې راوستل کوم وقت چې زه کورته بيرته راغلم نو پوره کور د

قِيْلَ لِأَنَسٍ عَدَدُ كَمْ كَانُوْا قَالَ زُهَاءَ

خلقونه ډک وو حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وشوه تاسو څومره خلق وئ حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب ورکړو

ثَلَاثِمِائَةٍ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَضَعَ يَدَهُ عَلٰى

درې سووته قريب بيا ما وليدل چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه (ماليده) باندې لاس مبارک ايښودلو سره هغه

تِلْكَ الْحَيْسَةِ وَتَكَلَّمَ بِمَا شَاءَ اللهُ ثُمَّ جَعَلَ يَدْعُوْ عَشَرَةً عَشَرَةً

څه وويل څه چې الله تعالى غوښتل ددې نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لس لس سړي رابلل شروع کړل او هغوی .

يَأْكُلُوْنَ مِنْهُ وَيَقُوْلُ لَهُمْ اذْكُرُوا اسْمَ اللهِ

يوبل پسې راتلل او څوک چې به طعام دپاره راتلل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ورته وفرمائيل د الله تعالى نوم آخستو

وَلْيَأْكُلْ كُلُّ رَجُلٍ مِمَّا يَلِيْهِ قَالَ فَأَكَلُوْا حَتّٰى شَبِعُوْا

سره خورئ او هر سړي ته د خپلې مخې نه خوړل پکار دي حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د لس سړو جماعت چې

فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتّٰى أَكَلُوْا كُلُّهُمْ

به طعام خوړلو نه فارغ شو نو دلسو سړو بل جماعت به راتلو تر دې پورې چې ټولو خلقو طعام وخوړلو

قَالَ لِيْ يَا أَنَسُ اِرْفَعْ فَرَفَعْتُ فَمَا أَدْرِيْ حِيْنَ
بیا حضور ﷺ ماته وفرمائیل ای انس داکاسه اوچته کړه ماکاسه اوچته کړه زه نشم ویلی چې کوم
وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ حِيْنَ رَفَعْتُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ
وخت داکاسه ایښې وه هغه وقت (مالیده) زیاته وه یا هغه وخت چې اوچته کړه

توضیح: (حیسا) کجورې غوړي او پنیر یوځای کولو سره یوې حلوی نما حریرې ته حیس وایي، ددې لپاره مختصر نوم (مالیده) دی. (تور) د ډبرې کټوی یا پیاله، (ومن لقیت) یعنې د کومو خلکو نوم چې مې واخیسته هغه هم راوغواړه او د کومو سره چې ملاؤ شوې هغه هم راوغواړه.

غاص: یعنې د خلک و نه کوټه ډکه شوې وه. دغه لږه مالیده درې سوه خلکو وخوړه او بیا هم پاتې شوه ځکه چې په دې کې د معجزې ظهور شوی وو، د مالیدې واقعه جدا ده او د حضرت زینب رضی الله عنها د ولیمې واقعه جدا ده، دا مالیده د زوم او ناوې دعوت وو چې حضرت ام سلیم رضی الله عنها تیاره کړې وه.

د اوښ سره متعلق معجزه

﴿۴۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت جابر رضي الله عنه وایي زه په یو سفر کې د رسول کریم ﷺ سره ملګری وم او اوبو راویستونکي
وَأَنَا عَلَى نَاضِحٍ قَدْ أَعْيَى فَلَا يَكَادُ يَسِيْرُ
اوښ باندې سپور وم هغه اوښ دومره زیات ستړی شوی وو چې ځرنګه هغه ته تلل پکار وو هغه شان
فَتَلَاحَقَ بِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ
تلو باندې قادر نه وو یوځای ته رسیدو سره زه نبي کریم ﷺ سره ملګری شوم حضور ﷺ وفرمائیل
مَا لِبَعِيْرِكَ قُلْتُ قَدْ عَيِيَ فَتَخَلَّفَ
ستا په اوښ څه شوي دي چې ښه نه ځي ما عرض وکړو ستړی شوی دی نو حضور ﷺ زما د اوښ نه

رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَزَجَرَهُ	فَدَعَا

شا طرفته راغلی او په څه شي سره ووهلو بیا دهغه په حق کي دتیز تلو دعا وکړه د هغه اثر دا شو چې

لَهُ	فَمَا	زَالَ	بَيْنَ	يَدَيِ	الْإِبِلِ	قُدَّامَهَا	يَسِيْرُ	فَقَالَ	لِيْ

زما اوښ دټولو نه مخکي شو بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه وکړه وایه ستا داوښ څه حال دی ما عرض وکړو

كَيْفَ	تَرٰى	بَعِيْرَكَ	قُلْتُ	بِخَيْرٍ	قَدْ	أَصَابَتْهُ	بَرَكَتُكَ	قَالَ	أَفَتَبِيْعُنِيْهِ بِوُقِيَّةٍ

ستاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددعا له برکته اوس هغه بنه تیزځي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ایا ته دا اوښ په څلو ښت درهمه

فَبِعْتُهُ	عَلٰى	أَنَّ	لِيْ	فَقَارَ	ظَهْرِهِ	إِلَى	الْمَدِيْنَةِ

خرڅوي ما عرض وکړو زه په دي شرط باندي دا اوښ په تاسو خرڅوم چې مدیني پوري به دا اوښ

فَلَمَّا	قَدِمَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَ	سَلَّمَ	الْمَدِيْنَةَ

زما سورلی کې وي بیا رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مونږ مدیني ته راورسیدو نو د راتلونکي ورځ په سحر کي

غَدَوْتُ	عَلَيْهِ	بِالْبَعِيْرِ	فَأَعْطَانِيْ

ما اوښ اخستو سره درسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کي حاضر شوم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته قیمت

ثَمَنَهُ وَ رَدَّهُ عَلَيَّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

عطاء کړو او دمهربانۍ له مخه هغه اوښ یې هم ماته عطاء کړو .

توضیح: (ناضح) د اوبو ویستلو او راوړلو والا اوښ ته ناضح ویل کیږي .

قد اعیی: یعني د تګ نه عاجزه شوی وو . **فتلاحق**: حضور ﷺ د وروسته نه زما سره ملاؤ شو .

فتخلف: یعني حضور ﷺ د اوښ شا ته راغی .

فزجره: په آواز سره یا په قمچینې سره یې وشړلو .

فقار ظهره: یعني تر مدینې پورې به ماته په دې باندې د سوریدلو حق حاصل وي، دا شرط د اصول

بیع خلاف وو لیکن دا په صلب عقد کې نه وو په دغه وجه جائز شو ، یا دا د مخکې واقعه ده چې وروسته منسوخ شو ، یا حضور ﷺ د دغه محتاج صحابي په طور د عزت تعاون کول غوښتل نو صورةً یې د بیعې صورت جوړ کړلو په حقیقت کې دا هبه وه.

د غزوه تبوک په موقع دوه نورې معجزې

﴿۳۶﴾ وَعَنْ أَبِيْ حُمَيْدِ نِ السَّاعِدِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو حمید ساعدي رضی الله عنه وايي موږ د رسول کریم ﷺ سره د غزوه تبوک د پاره د مدینې نه روان
غَزْوَةَ تَبُوْكَ فَأَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرٰى عَلٰى حَدِيْقَةٍ
شو کوم وقت چې مدینې نه د دري ورځو په مسافت کې واقع وادي القری ته ورسیدو نو په یو باغ تیر
لِامْرَأَةٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
شو چې د یوې ښځې وو رسول کریم ﷺ هغه باغ ته ورسیدو سره موږ خلقو ته و فرمائیل اندازه کولو سره
اخْرُصُوْهَا فَخَرَصْنَاهَا وَخَرَصَهَا
وښائي چې په دې باغ کې به څو مره میوه وي موږ ټولو خپله خپله اندازه وښودله د چا اندازه څه وه
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ
او د چا څه وه بیا رسول کریم ﷺ هم اندازه وکړله او وې فرمائیل په دې باغ کې به لس وسقه میوه وي دي
وَقَالَ أَحْصِيْهَا حَتّٰى نَرْجِعَ إِلَيْكِ
نه روسته هغه ښځې ته یې و فرمائیل کله چې میوه وشکوې او وزن یې کړې نو هغه وزن یاد ساته تر دې
إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَانْطَلَقْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا تَبُوْكَ
پورې چې موږ روسته راشو انشاءالله د هغه ځای نه روانیدو سره چې موږ تبوک ته ورسیدو نو

فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَهُبُّ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَةَ رِيْحٌ

رسول کریم ﷺ وفرمائیل نن شپه به په تاسو سخته سیلۍ راځي هغه وقت دې هیڅ سړی د خپل ځایه نه

شَدِيْدَةٌ فَلَا يَقُمْ فِيْهَا أَحَدٌ

پاڅي او چا سره چې اوښ وي هغه دې په رسۍ سره مضبوط وتړي مطلب دا چې سیلۍ نه د حفاظت

فَمَنْ كَانَ لَهٗ بَعِيْرٌ فَلْيَشُدَّ عِقَالَهٗ فَهَبَّتْ

پیش نظر هلته دې نه څوک سړی ګرځي راګرځي او نه دې خپل اوښ خلاص ځاي باندې پرېږدي نو دغه

رِيْحٌ شَدِيْدَةٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَحَمَلَتْهُ الرِّيْحُ حَتّٰى

شان وشو د شپې دومره سخته سیلۍ راغله چې یو سړی چې د حضور ﷺ د هدایت خلاف ودریدلی وو

أَلْقَتْهُ بِجَبَلَيْ طَيِّءٍ ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا

هغه یې والوځوه او د طی غرونو په منځ کې یې وغورځوه مونږ چې غزوه تبوک نه فارغ شو او مدینې

وَادِيَ الْقُرٰى فَسَأَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ته روسته راتلو او وادي قرى ته راورسیدو نو رسول کریم ﷺ د هغه ښځې نه د باغ په باره کې پوښتنه

الْمَرْأَةَ عَنْ حَدِيْقَتِهَا كَمْ بَلَغَ ثَمَرُهَا فَقَالَتْ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وکړه چې وښایه څومره میوه وشوه هغې وویل لس وسقه. بخاري مسلم.

توضیح: (جبلی طی) د دینه د آجا او سلمی دوه غرونه مراد دي چې د طی قبیلې لپاره دوه مورچې وې، د بنو طی شاعر ویلي:

لنا الحصنان من آجا و سلمی ... وشرقیاهما غیر التحال

په دې حدیث کې د دوو معجزو ظهور شوی دی یو خو د باغ د میوو متعلق د هغو مقدار بیانول او دویم د شپې طوفان راتلل چې د هغې نه هغه تباهي رامنځته شوه چې هغه یې پورته کړو او ویې غورځوه.

د مصر د فتح پيشنګوئي

﴿۴۷﴾وَعَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُوْنَ مِصْرَ

ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل يقيناً هغه وقت قريب دی چې تاسو به مصر فتح كړئ

وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمّٰى فِيْهَا الْقِيْرَاطُ فَإِذَا فَتَحْتُمُوْهَا

او مصر هغه ځمكه ده چې هلته د قيراط ذكر په كثرت سره كيږي هركله چې تاسو مصر فتح كړئ نو د

فَأَحْسِنُوْا إِلٰى أَهْلِهَا فَإِنَّ لَهَا ذِمَّةً وَرَحِمًا أَوْ

هغه ځاي خلقو سره نيک سلوک کوئ ځکه چې هغوی ته امان دی او هغوی سره قرابت دی يا دايي

قَالَ ذِمَّةً وَصِهْرًا فَإِذَا رَأَيْتُمْ

وفرمائيل هغوی ته آمان دی او هغوی سره د سخرګنۍ رشته ده او هركله چې تاسو خلق ووينئ چې

رَجُلَيْنِ يَخْتَصِمَانِ فِيْ مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا قَالَ

هلته دوه سړي ديوي ښختي په ځاي جګړه كوي نو تاسو د هغه ځاي نه راوځئ حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي

فَرَأَيْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ شُرَحْبِيْلَ بْنِ حَسَنَةَ وَأَخَاهُ رَبِيْعَةَ

ما دخپل قيام مصر په دوران كي عبدالرحمٰن بن شرحبيل ابن حسنه او د هغه ورور ربيعه ديوي خښتي په

يَخْتَصِمَانِ فِيْ مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَخَرَجْتُ مِنْهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ځاي جګړه كولو وليدل نو د مصر د سرزمين نه راووتلم. [مسلم]

توضيح : ستفتحون مصرا: ددې پيشنګوئۍ مطابق مصر فتحه شو او د معجزې ظهور وشو حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه د ډيرو مشقتونو نه وروسته مصر فتح كړلو .

فيها القراط: يعني د حرص او لالچ نه ډكه علاقه ده ، هلته به د مال دومره محبت وي چې د خلكو ژبه به د قيراط قيراط ګردان جاري وي . په دغو خلكو كې به د مال محبت انتهاء ته رسيدلی وي په هر وخت هره معامله كې به د قيراط قيراط تذكره كيږي . علامه طحاوی رحمه الله چونكې په خپله

مصری دی هغه فرمايې چې د قيراط نه کنځل مراد دي ځکه چې د **قيراط** لفظ په طور د کنځلو هم استعماليږي، د مصر خلک وايي **اعطيت فلاناً القراريط** يعنې ما فلانی ته کنځل وکړل . مطلب دا شو چې په دغو خلکو کې به کنځل او پوچ او فحش ويل وي ، بد زبانه به وي او بيکاره خلک به وي ،ددې باوجود که تاسې هغه فتحه کړئ نو زما د صلې او سخرګنی خيال به ساتئ ، صله خو د هاجره رضي الله عنها په وجه سره ده او سخرګنی د ماريه قبطيه رضي الله عنها په وجه سره ده دا د حضور ﷺ وينځه وه د دې د بطن نه ابراهيم بن محمد ﷺ پيدا شوی وو .

لبنة: خښتې ته وايي يعنې چې کله د يوې خښتې سره دې د دوو کسانو جنجال وليدلو نو د هغه ځای نه و تښته ، په دې حديث کې يو خو د مصر د فتح کيدلو خبره ده په دې کې هم د معجزې ظهور وشو ، دويمه خبره حضور ﷺ د جګړې وويله هغه هم ابوذر رضي الله عنه وليدله په دې کې دويمه معجزه ظاهره شوه ، د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په دور کې د همدغه مصر نه ابن سبا په مدينه منوره باندې راغلی وو او د حضرت عثمان رض د شهيد کولو منصوبه يې جوړه کړې وه . په هر حال مصر اګرچې ام الدنيا ده او د اسلام قديم ښار دی مګر عامې فتنې د همدغه ځای نه پيدا شوي دي او پيدا کيږي به ،نن سبا مصر د امريکې غلام دی او عوام يې تباه دي .

يوې پيشن ګوئي کې د معجزې ظهور

﴿۲۸﴾ عَنْ جَابِرٍ اَنَّهُ . وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ أَصْحَابِيْ

او حضرت حذيفه رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل زما صحابو کې

وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ فِيْ أُمَّتِيْ اِثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدُوْنَ رِيْحَهَا

او په يو روايت کې دا دی چې زما په امت کې دولس منافقين دي چې په جنت کې به نه داخليږي بلکې د جنت

حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ ثَمَانِيَةٌ مِّنْهُمْ

بوی به هم ونه مومي ، څو پورې چې دستنې په سورې کې اوښ تير نشي او په دې دولسو کې به اته

تَكْفِيْهِمُ الدُّبَيْلَةُ سِرَاجٌ مِّنْ نَّارٍ يَّظْهَرُ فِيْ أَكْتَافِهِمْ

منافقان خو دبيله ختم کړي يعنې هغوی به هلاک کړي او د هغوی شر او فتنه به ختمه کړي هغه [دبيله]

حَتّٰى	تَنْجُمَ	فِيْ	صُدُوْرِهِمْ.	رَوَاهُ	مُسْلِمٌ.		وَسَنَذْكُرُ
به داور يوه شعله وي چې دهغوی اوږو کي به پيدا شي او بيا به سينو يعني خيټو ته ورسيږي [مسلم]							
حَدِيْثَ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ غَدًا فِيْ مَنَاقِبِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ							
او مونږ به د حضرت سهل ابن سعد روايت لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مناقبو. کي اوډ							
وَحَدِيْثَ جَابِرٍ مَّنْ يَّصْعَدُ الثَّنِيَّةَ فِيْ جَامِعِ الْمَنَاقِبِ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ تَعَالٰى.							
حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت من يصدع الثنية جامع المناقب کي نقل کړو انشاء الله تعالى							

توضيح: **اثنا عشر منافقا**: د غزوه تبوک نه په واپسۍ کې دولسو منافقينو د شپې حضور ﷺ ته د شهيد کولو لپاره کمين اچولی وو، دا اشاره هغو ته ده.

الدبيلة: دا يوه زهريله دانه ده چې هغې ته سرخ باده او لمبه وايي.

سراج من نار: دا د دبيله تفسير او تعارف دی يعني د اور د شعلې په شان به وي، په اوږو باندې به ظاهريږي.

تنجم: نجم د ظهور په معنی سره دی يعني سينې ته په تللو سره به ظاهري شي. په هر حال دا يوه طاعونی دانه ده چې يو آفت او هلاکت دی ديته په آنګريزی کې پليګ وايي، دا پيشنګوئي چې څنګه وشوه همداسې واقعه پيښه شوه او د معجزې ظهور وشو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

نبی کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د نبوت ملاويدو مخکې د نبوت ملاويدو اشارې

﴿۴۹﴾عَنْ	أَبِيْ	مُوْسٰى	قَالَ	خَرَجَ	أَبُوْ	طَالِبٍ	إِلَى	الشَّامِ
حضرت ابو موسٰی اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان کوي يو وار ابو طالب د تجارت په غرض د شام سفر وکړو نو								
وَخَرَجَ مَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ أَشْيَاخٍ مِّنْ قُرَيْشٍ فَلَمَّا أَشْرَفُوْا								
نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم ورسره لاړو چې هغه وقت د دولسو کالو وو دا تجارتي قافله د شام ملک يو مقام بصری								

عَلَى الرَّاهِبِ هَبَطُوْا فَحَلُّوْا رِحَالَهُمْ فَخَرَجَ إِلَيْهِمُ الرَّاهِبُ

کي ديو راهب سره پاتې شوه او ټولو خپلي کجاوي خلاصي کړي راهب د هغوی ملاقات ته خپله

وَكَانُوْا قَبْلَ ذٰلِكَ يَمُرُّوْنَ بِهٖ فَلَا يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ

راغی دي نه مخکي چې کله دا خلق اخوا تير يدل نو هغه راهب سره به يې قيام کوه هغه چيرته هم دهغوی

قَالَ فَهُمْ يَحُلُّوْنَ رِحَالَهُمْ فَجَعَلَ يَتَخَلَّلُهُمُ

سره ملاقات نه وو کړی راوي وايي دي خلقو خپلي کجاوي خلاصولي او راهب دهغوی په منځ کي

الرَّاهِبُ حَتّٰى جَاءَ فَأَخَذَ بِيَدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

څوک تلاش کولو تر دي پوري چې هغه راتلو سره د نبي کريم ﷺ لاس مبارک او نيولو او هغه ويل

هٰذَا سَيِّدُ الْعَالَمِيْنَ هٰذَا رَسُوْلُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

دادی د ټولو جهانونو سردار دادی د تمامو جهانونو د پروردګار رسول چې د انسانيت عامه د هدايت

يَبْعَثُهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِيْنَ فقَالَ لَهُ أَشْيَاخٌ

د پاره راغلی دا هغه سړی دی چې الله تعالی د تمام جهان د پاره د رحمت راليږلي دی د قريشو شيخانو چې راهب نه دا

مِّنْ قُرَيْشٍ مَا عِلْمُكَ فَقَالَ إِنَّكُمْ

واوريدل نو يو شيخ د هغه نه پوښتنه وکړه دا ټولي خبري د کوم ځاي نه پيژنې؟ راهب جواب ورکړو هر کله چې تاسو

حِيْنَ أَشْرَفْتُمْ مِّنَ الْعَقَبَةِ لَمْ يَبْقَ شَجَرٌ وَ لَا حَجَرٌ إِلَّا خَرَّ سَاجِدًا

د دوو غرونو د منځ والا لاري نه راوتلو سره مخ ته راغلئ نو هيڅ ونه او کاڼي داسي نه وو چې په سجده نه وي پريوتلي

وَلَا يَسْجُدَانِ إِلَّا لِنَبِيٍّ وَإِنِّيْ أَعْرِفُهُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ

او ونې او کاڼي د لويي پيغمبر نه علاوه بل چاته سجده نه کوي او ما دا سړی د هغه مهر نبوت په ذريعه هم پيژندلی دی

أَسْفَلَ مِنْ غُضْرُوْفِ كَتِفِهِ مِثْلُ التُّفَّاحَةِ ثُمَّ رَجَعَ

چې دهغه داوږي دهډوکي لاندي دسيب (مڼې) په شان واقع دی بیاهغه راهب خپل کور ته لاړ

فَصَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا فَلَمَّا أَتَاهُمْ بِهِ

اوقافلي والو دپاره يي طعام تیار کړو اوهرکله چې هغه طعام اخستو سره هغوی ته راغی

وَكَانَ هُوَ فِيْ رِعْيَةِ الْإِبِلِ فَقَالَ أَرْسِلُوْا إِلَيْهِ فَأَقْبَلَ

نوحضور ﷺ اوښان څرول راهب قافلي والو ته وويل داسړی راوغواړئ نو کوم وقت چې

وَعَلَيْهِ غَمَامَةٌ تُظِلُّهُ فَلَمَّا

حضور ﷺ راتلو نود وريځي يوي ټکړي په حضور ﷺ سوری کړی وو بیا چې

دَنَا مِنَ الْقَوْمِ وَجَدَهُمْ قَدْ سَبَقُوْهُ

حضور ﷺ خلقوته را ورسيده نو وي ليدل داسي ځايونو باندي چيرته چې د ونو سوری وو

إِلَى فَيْءِ شَجَرَةٍ فَلَمَّا جَلَسَ

هغه خلقو قبضه کړي وو نو حضور ﷺ يوغير سايه دار ځاي باندي کيناستلو نو سمدستي

مَالَ فَيْءُ الشَّجَرَةِ عَلَيْهِ فَقَالَ:

د ونو دښاخونو په حضور ﷺ سوري وکړو دي ليدو سره هغه راهب قافلي والؤته وويل د

انْظُرُوْا إِلَى فَيْءِ الشَّجَرَةِ مَالَ عَلَيْهِ فَقَالَ

وني سايي ته اوګورئ چې دي سړي باندي راکوز شوی دی بیاهغه وويل زه تاسو خلقوته د قسم

أَنْشُدُكُمْ اللهَ أَيُّكُمْ وَلِيُّهُ قَالُوْا أَبُوْ طَالِبٍ

درکولو سره درنه پوښتنه کوم چې تاسو کي کوم سړی ددي نوعمر سرپرست دی خلقو وويل ابوطالب

فَلَمْ	يَزَلْ	يُنَاشِدُهُ	حَتّٰى	رَدَّهُ	أَبُوْ	طَالِبٍ

راهب ډیر وخته پورې ابو طالب په دې خبره پوهولو او قسم یې ورکولو چې حضور ﷺ مکې ته بیرته

وَ	بَعَثَ	مَعَهُ	أَبُوْبَكْرٍ	بِلَالًا

ولیږي آخر ابو طالب حضور ﷺ مکې ته بیرته ولیږلو او ابوبکر رضي الله عنه او بلال رضي الله عنه حضور ﷺ

وَ	زَوَّدَهُ	الرَّاهِبُ	مِنَ	الْكَعْكِ	وَ	الزَّيْتِ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.

سره ملګرې کړو او راهب د غنمو روټۍ او د روغن زیتون توښه حضور ته ﷺ ورکړه [ترمذي]

توضیح: **اشرفوا**: اشراف ظاهریدلو ته ویل کیږي یعنې د قریشو قافله چې کله د بحیرا راهب مخې ته راغله هما لته کښته شول او کجاوې یې خلاصې کړلې.

یتخللهم: یعنې راهب د دې قافلې په مینځ کې ګرځیده او حضور اکرم ﷺ یې تلاش کولو، د حضور ﷺ عمر په دې وخت کې دیارلس کاله وو. **غضروف**: کچې او خام هډوکي ته وایي.

مثل تفاحة: دا یو تمثیل دی، یو نظیر دی، حقیقي کلام نه دی یعنې د خاتم النبوة حجم د وړې مڼې په اندازه وو.

ابوبکر بلالا: یعنې ابوبکر رضي الله عنه حضرت بلال رضي الله عنه د حضور ﷺ سره مکې ته واپس روان کړلو. سوال دا دی چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د حضور ﷺ نه دوه کاله کشر دی په دغه وخت کې ابوبکر رضي الله عنه د یوولس کالو وو او حضرت بلال شاید بلکل پیدا شوی هم نه وو نو بیا د لیږلو او ورسره استولو د خبرې څه مطلب دی، ددې جواب دا دی چې ابن حجر رحمه الله فرمایلي چې باقي حدیث صحیح دی صرف دغه جمله د کوم راوی له طرف نه مدرج ده چې مقبوله نه ده، ددې حدیث او واقعې نه د مستقبل معجزه خو ثابتیدلی شي او د حضور اکرم ﷺ د نبوت طرفته اشاره کیدلی شي مګر فی الحال چې کوم خارق العادة امور پیښ شوي دي دا د ارهاص تو له قبیلې نه دي چې د هغو ذکر شوی دی، په راتلونکي روایت نمبر ۵۰ کې هم د ارهاص ذکر دی.

﴿۵۰﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِيْ طَالِبٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ
او حضرت علي رضي الله عنه وایي زه نبي کریم ﷺ سره مکه کې وم یوه ورځ چې مونږ د مکې اطرافو

فَخَرَجْنَا فِيْ بَعْضِ نَوَاحِيهَا فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَ لَا شَجَرٌ اِلَّا وَهُوَ يَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ

کي يو طرف ته لاړو نو کوم غر [يعني کاڼي او ونی] چې مخ ته راتلې هغي به ويل السلام عليک

يَا رَسُوْلَ اللهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

يا رسول الله [روايت کړې دي ترمذي دارمي]

دبراق متعلق معجزه

﴿۵۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِالْبُرَاقِ

او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دی شب معراج کي چې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم د سورلی دپاره براق راوستل شو

لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ مُلْجَمًا مُسْرَجًا فَاسْتَصْعَبَ عَلَيْهِ

چې هغه زين شوی او قيزي لګيدلی وي او حضور صلى الله عليه وسلم په هغه سپريده نو هغه شوخي کول شروع کړل

فَقَالَ لَهُ جِبْرَئِيْلُ أَبِمُحَمَّدٍ تَفْعَلُ هٰذَا فَمَا رَكِبَكَ

نو جبرائيل عليه السلام هغه براق مخاطب کولو سره وويل ايا د محمد صلى الله عليه وسلم سره دا شوخي کوي داهغه

أَحَدٌ أَكْرَمُ عَلَى اللهِ مِنْهُ قَالَ فَارْفَضَّ عَرَقًا.

ذات ګرامي ذی چې دالله په نظر کي دده نه بهتر هيڅوک په تاسور شوی نه دی دراوي بيان دی براق خوله

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

خوله شو دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

توضيح : (فارفض عرقا) يعني ددې جملې د اوريدلو نه براق خوله خوله شو ، په دې کې د معجزې ظهور وشو ددينه مخکې خو براق سرکشي کوله.

﴿۵۲﴾ . وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلٰى بَيْتِ الْمُقَدَّسِ

او حضرت بريده رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل د معراج په شپه چې زه بيت المقدس ته

قَالَ	جِبْرَئِيْلُ	بِإِصْبَعِهٖ	فَخَرَقَ	بِهٖ	الْحَجَرَ

ورسيدم نو حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ خپلې ګوتې سره اشاره وکړله او دهغه اشارې په ذريعه کاڼې کې

فَشَدَّ بِهِ الْبُرَاقَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

سورى وشو او بيا ماهغه سوري کړى کاڼي سره براق وتړلو.

توضيح: (فخرق) چونکې سورى د خاورو په وجه سره بند شوى وو په دغه وجه يې خلاص کړلو، کچيرې حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په اشارې سره سورى خلاص کړى وي نو دا يوه معجزه وه چې ددې تعلق د حضور ﷺ سره کيدلى شي، علماؤ ليکلي دي دغه ځاى کې اوس د پيتلو يوه حلقه ده او دغه ځاى په مسجد اقصى کې چپ طرفته واقع دى، اوس دغه ځاى زير زميني دى، تياره وي رڼايې کولو سره نفل اداء کيدلى شي، په دې باندې د اسرائيلو کنټرول دى، د مسجد انتظام د مسلمانانو په لاس کې دى.

د يو اوښ او هلک متعلق د معجزې ښکاره کيدل

﴿۵۳﴾ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ الثَّقَفِيِّ قَالَ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ رَأَيْتُهَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت يعلي ابن مره ثقفي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي د رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزاتو کې درې څيزونه وليدل هغه داسې

بَيْنَا	نَحْنُ	نَسِيْرُ	مَعَهُ	إِذْ	مَرَرْنَا	بِبَعِيْرٍ	يُسْنٰى	عَلَيْهِ

چې مونږ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روان وو چې اچانک د اوبو راويستونکي اوښ باندې تير شو هغه اوښ چې

فَلَمَّا رَآهُ الْبَعِيْرُ جَرْجَرَ فَوَضَعَ جِرَانَهُ فَوَقَفَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او ليدلو نو بړبړ کولو سره خپل ګردن يې په ځمکه کيخودو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه سره ودريدو

فَقَالَ	أَيْنَ	صَاحِبُ	هٰذَا	الْبَعِيْرِ	فَجَاءَهُ فَقَالَ

اوبونتنه يې وکړه ددې اوښ مالک چيرته دى مالک حاضر شو نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل دا اوښ

بِعْنِيْهِ	فَقَالَ	بَلْ	نَهَبُهُ	لَكَ	يَا	رَسُوْلَ	اللّٰهِ

په ما خرخ کړه هغه عرض وکړو يا رسول الله زه دا اوښ خو خرڅولى نه شم هو ستا سو خدمت کې نذر کوم

وَإِنَّهُ لِأَهْلِ بَيْتٍ مَا لَهُمْ مَعِيشَةٌ غَيْرُهُ قَالَ

هسي دی دا اوښ زما دکور والو دی چې ددې اوښ نه علاوه نور هیڅ د معاش ذریعه نشته حضور ﷺ وفرمائیل

أَمَا إِذْ ذَكَرْتَ هٰذَا مِنْ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ شَكَا

هر کله چې تا ددې اوښ حقیقت حال بیان کړو نو دې اوښ درحقیقت ماته شکایت کړی دی چې دده

كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ فَأَحْسِنُوا إِلَيْهِ ثُمَّ

نه کار زیات اخستل کیږي او خوراک کم ورکولی شي نو د سره ښه سلوک کوه دي نه روسته حضرت یعلی رضي الله عنه

سِرْنَا حَتّٰى نَزَلْنَا مَنْزِلًا فَنَامَ

دویمه معجزه بیان کړه چې بیا مونږ روان شو تر دې پورې چې یو ځای کې خکته کیدو سره آرام موکوه

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتّٰى غَشِيَتْهُ

اونبي کريم ﷺ اوده شو هغه وقت ماولیدل چې یوه ونه ځمکه شلولو سره او په نبي ﷺ راکوزه شوله

ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَكَانِهَا فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ

او بیا خپل ځاي ته بیرته لاړه کوم وقت چې راغله رسول کريم ﷺ بیدار شو نوما

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ

حضور ﷺ ته د هغه ونې دراتلو او بیرته تلو ذکر وکړو حضور ﷺ پوره واقعې اوریدو سره وفرمائیل

هِيَ شَجَرَةٌ اِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا فِي أَنْ تُسَلِّمَ عَلٰى

دا هغه ونه ده چې خپل پروردګار نه یي دي باره کي اجازه غوښتی وه چې هغه رسول الله ﷺ ته سلام

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنَ لَهَا

وکړي نو الله تعالی هغه ته اجازه ورکړه او هغه زما په سلام کولو راغلي وه حضرت یعلی رضي الله عنه دريمه

قَالَ ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَآءٍ فَأَتَتْهُ

معجزې بيانولو سره وايي بيا مونږ مخي ته لاړو اويو داسي ابادۍ ته ورسيدو چې هلته اوبه وي هلته

امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَّهَا بِهِ جِنَّةٌ فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يوي ښځي خپل زوی اخستو سره رسول الله ﷺ ته راغله په هغه هلک ليونتوب خوروو حضور ﷺ

بِمَنْخِرِهِ ثُمَّ قَالَ اُخْرُجْ إِنِّي مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ثُمَّ

هغه هلک د پوزې نه نيولو سره هغه جن يا شيطان ته يې وويل او زه محمد د الله رسول يم. دې نه روسته

سِرْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مَرَرْنَا بِذٰلِكَ الْمَاءِ فَسَأَلَهَا

مونږ مخته سفر پوره کړو واپسی کي هغه اوبو واله ابادي باندي بيا را تيريدلو نو حضور ﷺ د هغه

عَنِ الصَّبِيِّ فَقَالَتْ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ

ښځي نه د هغه د زوی حال معلوم کړو هغې عرض وکړو په هغه ذات مي دې قسم وي چې تاسو يې په

بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا

حق سره راليږلي يې مونږ ستا سو د تلو نه روسته په دې هلک کي هيڅ د پريشانۍ خبره نه ده ليدلې

بَعْدَكَ رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

او تهول بد اثرات تري زائل شوي دي دا روايت بغوي شرح السنه کي نقل کړی دی.

توضيح: (يسنی) يعنې د هغه اوښ نه د اوبو راوړلو کار اخيستل کيده. (جرجر) د اوښ غرغړو ته ويل کيږي. (حرانه) غارې ته جران ويل کيږي. (لاهل بيت) په دې سره هغه کس خپل کور والا مراد کړي دي ګويا هغه د نه خرڅولو د وجهې طرفته خفيفه اشاره وکړه. چونکې د دغه اوښ متعلق د معجزې ظهور شوی وو په دغه وجه حضور ﷺ مبارک ګڼلو سره د اخيستلو اراده وکړه. (اما ما ذکرت) يعنې تا چې کومه وجه بيان کړې ده هغه معقوله ده، هغه مه خرڅوه ليکن اوښې شکايت وکړو چې کار زيات دی، و اښه کم دي، لهذا کار کم کړه او خوراکه ورزياته کړه.

تشق الارض) یعنې ځمکه یې څیرې کړه او ونه راغله ، سلام یې وکړو بیا لاړله ، علامه بوصیری رحمه الله په قصیده برده کې فرمایلي دي :

جاءت لدعوته الاشجار ساجدة تمشي الیه علی ساق بلاقدم

(بمنخره) یعنې د پوزې د کرپندوکي نه نبی کریم ﷺ هغه مجنون ونیولو او جنی ته یې حکم وکړو چې ووځه . (ربیا) یعنې ددې علاج نه بعد مونږ په هغه هلک کې هیڅ د تشویش کومه خبره ونه لیدله . په دې حدیث کې اوله معجزه د اوښ متعلق ظاهره شوه ، دویمه د ونې نه او دریمه د مجنون هلک متعلق ظاهره شوه نو ټولې درې معجزې ظاهرې شوې چې د هغو بیان په دې حدیث کې راغی .

د یو بل هلک شیطاني اثر نه د نجات پیدا کولو معجزه

﴿۵۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ بِابْنٍ لَّهَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي یوه ښځې خپل زوی آخستو سره د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضره

فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ ابْنِيْ بِهِ جُنُوْنٌ وَإِنَّهُ لَيَأْخُذُهُ عِنْدَ غَدَائِنَا

شوه او هغې وویل یا رسول الله زما په دې زوی د جنون اثر دی چې د هغه دوره پرې هره ورځ د غرمې

وَعَشَائِنَا فَمَسَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په وقت او د شپې د طعام خوړلو په وقت کې پرې راځي حضور ﷺ دې او ریدو سره د هغه هلک په

صَدْرَهُ وَدَعَا فَثَعَّ ثَعَّةً وَّخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ

سینه خپل لاس مبارک کیخودو او دعایې ورته وکړله نو هغه هلک یو لوی قی وکړو چې د هغه په

مِثْلُ الْجِرْوِ الْأَسْوَدِ يَسْعٰى. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ

ذریعه د هغه د نس نه داسې هیبتناک شی را ووتلو لکه چې منډې وهونکی تور کوترې وي . [دارمي]

توضیح : (به جنون) د غه هلک باندې د لیونتوب دورې راتللې داسې معلومیدلې لکه چې د میرګو دورې وي . (غدائنا) د سهار د خوراک په وخت . (عشائنا) د بیګاه د خوراک په وخت یعنې سهار او ماښام د ده ته د جنون دوره راځي یا د سهار د خوراک په وخت او د ماښام د خوراک په وخت دوره شروع

کیږي. (فثع ثعة) ای قاء قیئة هغه هلک قی کړلو، (الجرو) د سپی بچی ته ویل کیږي یعنې د قی په ذریعه د هغه هلک د خولې نه تور کوتری ووتلو، همدا د هغه هلک بیماری وه، په دې واقعه کې د لوېې معجزې ظهور راغلی دی.

دونې متعلق د معجزې ظهور

﴿۵۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَآءَ جِبْرَئِيْلُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ حَزِيْنٌ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر غمګین او دزخمونو په وینه کي رنګ شوی ناست وو چي
قَدْ تَخَضَّبَ بِالدَّمِ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ مَكَّةَ
اهل مکه ورته رسولی وو دي کي حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کي حاضر شو او هغه
فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ تُحِبُّ أَنْ نُرِيَكَ آيَةً قَالَ نَعَمْ
وویل یارسول الله که تاسو خوښوئی تاسو ته یوه معجزه ښایم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل ضرور وښایي
فَنَظَرَ إِلَى شَجَرَةٍ مِّنْ وَّرَاءِهٖ فَقَالَ ادْعُ
نو جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه ونی طرف ته وکتل چي د هغه شا ته وه بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یي وویل دا ونه را وبلئ
بِهَا فَدَعَا بِهَا فَجَاءَتْ فَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ونه راوبلله نو هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکي د تابعدارو په شان راتلو سره ودریدله
فَقَالَ مُرْهَا فَلْتَرْجِعْ فَأَمَرَهَا فَرَجَعَتْ فَقَالَ
حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وویل او س دي ته بیرته د تلو حکم وکی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته د واپسی حکم وکړه نو
رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْبِيْ حَسْبِيْ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.
هغې بیرته لاړله رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي لیدو سره وفرمائیل ماته کافي ده ماته کافي ده. [دارمي].

توضیح: (تخضب) په وینه باندې رنګین کیدلو ته ویل کیږي.

اهل مکة: د اهل مکه نه د قریشو کفار مراد دي هغوی حضور ﷺ د جنګ احد په موقع باندې په وینو

د حضور ﷺ په مخ مبارک باندې د تورې رنګ کړې وو ، علامه سيوطی رحمه الله ليکلي دي چې ددې واقعې نه بعد حضور ﷺ اويا ګذاره کفارو کړي وو مګر الله تعالى د هغه حفاظت وفرمايلو ، ددغه وخت کې جبرئيل عليه السلام د الله تعالى له طرف نه د تسلى ورکولو غمجن ناست وو چې په دغه وخت کې جبرئيل عليه السلام د الله تعالى له طرف نه د تسلى ورکولو لپاره راغى او وېې فرمايل چې دغه ونه ځانته وبله ، هغه ځانته راوبللو ونه د هغه طرف ته راغلله، بيا يې د واپس تللو ورته وويل نو واپس لاړه ، حضور ﷺ وفرمايل بس بس کافى ده تسلى وشوه ، په دې واقعه کې د حضور ﷺ د معجزې ظهور وشو . علامه بوصيرى رحمه الله په قصيده برده کې فرمايي :

جاءت لدعوته الاشجار ساجدة تمشى اليه على ساق بلاقدم

دونې متعلق يوه معجزه

﴿۵۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَأَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ
اوحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د جهاد په يو سفر کې وو چې لښکر ته يو اعرابي
فَلَمَّا دَنٰى قَالَ لَهٗ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
راغى کوم وقت چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته قريب را ورسيده نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل
تَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ وَأَنَّ
اياته ددې امر شاهدي کوې چې الله نه سوا بل معبود نشته چې يو دى او د هغه څوک شريک نشته او دا چې
مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ قَالَ وَمَنْ يَّشْهَدُ
محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه بنده او رسول دى .ديهاتي وويل تا سو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې څه ويلي دي ددې شهادت
عَلٰى مَا تَقُوْلُ قَالَ هٰذِهِ السَّلَمَةُ
ګواهي ورکونکى بل څوک هم شته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل دا دکيکر ونه چې مخې ته ولاړه ده شاهدي به وکړي
فَدَعَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِشَاطِئِ الْوَادِيْ
بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کيکر ونه راوبلله هغه وقت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ديوې وادي په غاړه ايسار شوى وو۔ کيکر ونه

فَأَقْبَلَتْ	تَخُدُّ	الْأَرْضَ	حَتّٰى	قَامَتْ	بَيْنَ	يَدَيْهِ
د حضور ﷺ حکم اوريدو سره ځمکه شلولو سره راغله او د حضور ﷺ مخې ته ودريده						
فَاسْتَشْهَدَهَا	ثَلَاثًا	فَشَهِدَتْ	ثَلَاثًا	أَنَّهُ	كَمَا	قَالَ
حضور ﷺ هغه ته درې سره ځکه ګواهي ورکړه نو هغې درې ځله ګواهي اداء کړه دې نه روسته						
ثُمَّ رَجَعَتْ إِلٰى مَنْبَتِهَا. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.						
هغه ونه خپل ځاي ته بيرته لاړه [دارمي]						

توضيح: (من يشهد) يعنې د معجزې او خرق عادت په طريقې کوم شی ستا د نبوت ګواهي ورکوي؟

(هذه السلمة) هغه ونه چې د هغه پاڼو ته قرظ ويل کيږي او د پوستکي د دباغت کار ترينه اخيستل کيږي د همدغې ونې نوم سلمه دی، د دې ترجمه د جاؤ په ونې سره هم کيدلی شي او د کيکر په ونې سره هم کيدلی شي. (شاطئ) کنارې ته وايي، (تخد) د ځمکې په څيرلو سره راتللو ته ويل کيږي. (فاستشهد) يعنې حضور ﷺ د هغې نه ګواهی طلب کړله، ونې درې ځله ګواهی ورکړه او واپس لاړه او د معجزې ظهور وشو.

جاءت لدعوته الاشجار ساجدة تمشي اليه على ساق بلا قدم

د کهجورو د خوشې متعلق د معجزې ظهور

﴿۵۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي يو ورځ د نبي کريم ﷺ په خدمت کې يو اعرابي راغی						
قَالَ	بِمَا	أَعْرِفُ	أَنَّكَ	نَبِيٌّ	قَالَ	
او هغه و ويل زما دپاره په دې خبره د پوهيدلو ذريعه څه ده چې ته د الله نبي يې حضور ﷺ ورته وفرمائيل په						
إِنْ	دَعَوْتُ	هٰذَا	الْعِذْقَ	مِنْ	هٰذِهِ	النَّخْلَةِ
دې ذريعې سره چې زه اوس د خورما وو دې ونې باندې لګيدلې غنچک را وبلم هغه به دلته راتللو سره						

يَشْهَدُ أَنِّي رَسُوْلُ اللهِ فَدَعَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

شاهدي وكړي چې زه د الله نبي او رسول يم نو حضور صلی اللہ علیہ وسلم هغه غنچک د خورماوو د ونو نه راوبللو هغه

فَجَعَلَ يَنْزِلُ مِنَ النَّخْلَةِ حَتّٰى سَقَطَ

په جدا كيدو سره راكوزشو او د نبي كريم صلی اللہ علیہ وسلم قريب په ځمكه راپريوتو او د حضور صلی اللہ علیہ وسلم

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ ارْجِعْ فَعَادَ

د نبوت او رسالت شاهدي يې وركړه بيا حضور صلی اللہ علیہ وسلم ورته حكم وكړو چې بيرته لاړ شه نو هغه غنچک بيرته

فَأَسْلَمَ الْأَعْرَابِيُّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

لاړو نو هغه ديهاتي (باندې) چې فوراً اسلام قبول كړو. دا روايت ترمذي نقل كړى او صحيح يې ګرځولى دى

توضيح: (بما اعرف) يعنې ستا د كومې معجزې په بنياد باندې به زه وپيژنم چې ته د الله تعالى ن

يې. (العذق) د خرما خوشې ته عذق ويل كيږي.

د شرمخ د ويلو معجزه

﴿۵۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ ذِئْبٌ إِلَى رَاعِي غَ

او حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ وايي يو شرمخ د بزو په يوه رمه كي چې د هغه شپانه هم موجود وو راننو

فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً فَطَلَبَهُ الرَّاعِيُّ حَتّٰى انْتَزَعَهَا

او هغه نه يې يوه بزه وتښتوله شپانه د هغه پسې شو او آخر هغه بزه يې د شرمخ نه خلاصه ك

قَالَ فَصَعِدَ الذِّئْبُ عَلٰى تَلٍّ فَأَقْعٰى وَا

حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ بيان دى بيا هغه شرمخ يوې غونډۍ ته وختلو او دواړه پښې يې ودرولې خپل

وَقَالَ عَمِدْتُ إِلٰى رِزْقٍ رَزَقَنِيْهِ اللهُ

يې د دواړو پښو په منځ كي داخله كړه او ووېل ما خپل هغه رزق اخستى چې الله تعالى ما ته ع

ثُمَّ انْتَزَعْتَهُ مِنِّيْ فَقَالَ الرَّجُلُ تَاللهِ إِنْ رَأَيْتُ

دی ليکن تا زما رزق زما نه په زور واخست شپانه شرمخ مخاطب کولو سره ورته وويل قسم په الله

كَالْيَوْمِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ الذِّئْبُ

څرنګه عجيبه واقعه چې مانن ليدلي ده داسي مي هيڅ کله نه ده ليدلي شرمخ ورته وويل دي نه زياته

أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا رَجُلٌ فِي النَّخَلَاتِ بَيْنَ الْحَرَّتَيْنِ

عجيبه واقعه خود هغه سړي حضرت محمد ﷺ حال دی چې دخورماوود و نو شاته ددوه خوړونو په

يُخْبِرُكُمْ بِمَا مَضٰى وَمَا هُوَ كَائِنٌ بَعْدَكُمْ

منځ کي هغه سړی به تاسو ته هغه خبري وښايي چې تاسو نه مخکي تيري شوي وي او هغه خبري به

قَالَ فَكَانَ الرَّجُلُ يَهُوْدِيًّا

درته وښايي چې ستاسو نه روسته واقع کيدونکي دي. حضرت ابو هريره وايي هغه سړی چې يو يهودي وو

فَجَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ

د شرمخ خبري په اوريدو سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر شو او د حضور ﷺ مخکي د شرمخ

وَأَسْلَمَ فَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ

واقعه بيانولو سره مسلمان شو. نبي کريم ﷺ د هغه بيان کړ ده قصه درست تسليم کړله بيا نبي کريم ﷺ

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا أَمَارَاتٌ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ

وفرمائيل داسي خبري د قيامت نه مخکي هغه وقت عنقريب دی چې سړی به د خپل کور نه بهر وځي

قَدْ أَوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَخْرُجَ فَلَا يَرْجِعَ حَتّٰى يُحَدِّثَهُ

او هر کله چې بيرته کور ته راشي نو د هغه پيزار او د هغه کوړه وغيره به هغه ته هغه تمامي خبري ښايي

نَعْلَاهُ وَسَوْطُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

چې دهغه کوروالؤ دهغه په عدم موجودګۍ کې کړي وي. [شرح السنة]

توضیح: (راعی غنم) دا شپونکي یهودي وو. (تل) دا مفرد دی ددې جمع تلول ده غونډۍ او اوچتې ځای ته ویل کیږي. (فأقعی) سپي وغیره درنده چې کله په خپل دبر باندې کښیني هغه ته اقعاء وایي په لمانځه کې دغسې کښیناستل منع دي.

واستثفر: د سپي وغیره درندګانو عادت دی چې کله په دبر باندې کښیني نو لکۍ د لاندې نه د پښو په مینځ کې مخې ته اوباسي همدا استثفار دی.

فقال الذئب: د لیوه په دغه خبره کې د حضور ﷺ معجزه ظاهره شوه چې د حضور ﷺ په باره کې لیوه د نبی کیدلو ګواهي ورکوي. (**النخلات**) د مدینې منورې نخلستان مرادی دی.

الحرتین: د دوو شګلنو ځمکو اطرافو ته اشاره ده ای ارض ذات حجارة سود.

بما مضی: ای بما سبق من خیر الاولین من قبلکم د قرآن کریم د واقعاتو او قصصو په ذریعه حضور ﷺ د مخکنیو قومونو احوال د خپل امت مخ ته کیښودل.

بما هو کائن: یعني د راتلونکو خلکو احوال او د آخرت احوال یې د قرآن او معجزاتو په ذریعه بیان وښودل، چې کله د وحې په ذریعه حضور ﷺ وښودل نو هغه علم غیب پاتې نشو. یو طرف ته دا علوم دي چې په هغه کې د مخلوق نه د علم غیب نفی شوې ده، دویم طرف ته د لیوه مجمله خبره ده اوس دي بریلوی حضرات انتخاب وکړي چې هغوی د لیوه مجمله خبره اخلي او که د قرآن او حدیث مفصله خبره اخلي.

دطعام د کاسې متعلق د معجزې ښکاره کیدل

﴿۵۹﴾ وَعَنْ أَبِي الْعَلَاءِ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو العلاء د سمره ابن جندب رضی الله عنه نه روایت کوی هغه بیان وکړو مونږ تولو نبي کریم صلی الله علیه وسلم

نَتَدَاوَلُ مِنْ قَصْعَةٍ مِنْ غُدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ

سره یوې لویې کاسې نه لس لس سړي وار په وار د سهار نه تر ماښامه پورې داسې چې لس سړي به

يَقُوْمُ عَشَرَةٌ وَيَقْعُدُ عَشَرَةٌ قُلْنَا

طعام خوړلو نه روسته پاسيدل او دهغوی په ځاي به نور لس سړي راتلو سره کينا ستل مونږ د

فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ قَالَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَعْجَبُ

سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه آخر څه شی وو چې د هغه په ذريعه مدد کيده حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب ورکړو

مَا كَانَتْ تُمَدُّ إِلَّا مِنْ هٰهُنَا

ستا دپاره دي کي دتعجب څه خبره ده ؟ هغه پياله کي د طعام ډيريدل د هغه ځاي نه کيده دې ويلو سره

وَأَشَارَ اوده إِلَى السَّمَاءِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالدَّارِمِيُّ.

هغه اسمان طرف ته اشاره وکړله . [ترمذي دارمي]

توضيح: نتداول: د پېټولو او ګرځولو په معنی سره دی ، ليکن دلته مطلب دا دی چې مونږ به د سهار نه ترماښامه پورې د يوې کاسې شاوخوا جمع کيدلو ، لس کسانو به چې وخوړه پورته به شول نو لس کسان به نور راتلل ، دا تداول دی ، په دې باندې يو تابعی سوال وکړو چې دا اضافه خوراک به د کومه راتللو .

تمد: د همدې مدد او اضافه په معنی سره دی ، صحابو جواب ورکړو چې د آسمان نه راتللو ځکه چې د وفي السماء رزقكم وعده ده ، راجحه دا ده چې دغه سوال او جواب د صحابی او تابعی په مينځ کې راغلی ، چونکه دا واقعه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عهد کې وه په دغه وجه دا معجزه وګرځيده چې په دې کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معجزې ظهور وشو .

دجنګ بدر متعلق دمعجزې ظهور

﴿۶۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِي ثَلَاثِمِائَةٍ

او حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنګ بدر په ورځ دري سوه

وَخَمْسَةَ عَشَرَ قَالَ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ

پنځلس سړو آخستو سره ووتلو ... عايي وکړله ای الله هغه چې ستا په لار کي وتلي دي لوڅي پښي دي

فَاحۡمِلۡهُمۡ إِنَّهُمۡ عُرَاةٌ فَاكۡسُهُمۡ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُمۡ جِيَاعٌ

دوي ته سورلي ور كړه اى الله دوى بربنډ دي دوى ته لباس ور كړه اى الله دوى اوږي دي دوى ماړه

فَأَشۡبِعۡهُمۡ فَفَتَحَ اللهُ لَهُ فَانۡقَلَبُوۡا

كړي نو الله تعالى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مكي د مشركينو مقابله كي فتح ياب او دا اسلام مجاهدين داسي حالت

وَمَا مِنۡهُمۡ رَجُلٌ إِلَّا وَقَدۡ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوۡ جَمَلَيۡنِ

كي راواپس شول چي هغوى كي هيڅ سړى داسي نه وو چي هغه سره يو يا دوه اوبنان نه وي او د ټولو

وَاكۡتَسَوۡا وَشَبِعُوۡا. رَوَاهُ أَبُوۡ دَاوُدَ.

لباس هم نصيب شو او ټول په خيټه هم ماړه شول.

توضيح: (ثلاثمأة و خمسة عشر) په جنګ بدر كې ټول تعداد ۳۱۳ وو مګر ممكنه ده چې د خادمانو په شميرلو سره دا تعداد ۳۱۵ شوى وي.

حفاة: د حافى جمع ده لوڅې پښې مراد دي. (**عراة**) لوڅ بدن، (**جياع**) وږي خيټې، عراة د عاري او جياع د جائع جمع ده، كومه دعاء چې غوښتلې شوې وه هغه قبوله شوه چې په دې كې د معجزې ظهور وشو.

په يوې پيشنګوئى سره د معجزې ښكاره كيدل

﴿۶۱﴾ وَ عَنِ ابۡنِ مَسۡعُوۡدٍ عَنۡ رَسُوۡلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَ سَلَّمَ

او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې نبى عَلَيْهِ السَّلَام آينده زمانه كي د واقع كيدونكو واقعاتو

قَالَ إِنَّكُمۡ مَنۡصُوۡرُوۡنَ

پيش خبري او د هغه واقعاتو په نتيجه كي د حاصليدونكو فائدو د بشارت په توګه صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مخاطب كولو سره وفرمائيل

وَ مُصِيۡبُوۡنَ وَ مَفۡتُوۡحٌ لَكُمۡ

يقيناً تاسو ته به مدد او نصرت دركړى شي تاسو ته به د مال غنيمت صورت كي ډيرڅه حاصل شي او ستاسو په لاس به ډيري لوې

فَمَنْ	أَدْرَكَ	ذٰلِكَ	مِنْكُمْ

علاقي او د مال او دولت نه ډک ښارونه فتح شي نو تاسو کي چې کوم سړی دې څېزونو سره سرفراز شي هغه ته پکار دي

فَلْيَتَّقِ	اللّٰهَ	وَلْيَأْمُرْ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَلْيَنْهَ	عَنِ	الْمُنْكَرِ.	رَوَاهُ	أَبُوْ	دَاوُدَ.	

چې هغه د الله تعالی نه ویره کوي خلقوته د نیکۍ هدایت او تلقین کوي او د خرابو خبرو نه یې د بچ کولو کوشش کوي.

توضیح :منصورون: یعنې تاسو ته به فتوحات حاصل شي.

مصيبون: د رسيدلو او حاصلولو په معنی سره ده یعنې مالونه او غنیمتونه به حاصل شي لهذا تاسو خدای مه هیره وئ او امر بالمعروف یعنې جهاد کوئ، جهاد مه پریږدئ. د امر بالمعروف تفسیر شاه عبد القادر رحمه الله او فخر الدين رازی رحمه الله او علامه جصاص رحمه الله په خپلو تفسیرونو کې په جهاد سره کړی دی. یعنې د فتوحاتو حاصلیدو نه بعد تاسې امر بالمعروف مه هیره وئ ځکه چې د فتوحاتو منشاء معروف عام کول او منکر ختمول دي، شاعر وايي:

جنگ شاہان فتنہ و غارت گری است جنگ مؤمن سنتِ پیغمبری است

د زهرونه ککړې غوښې متعلق د معجزې ظهور

﴿۶۲﴾	وَعَنْ	جَابِرٍ	أَنَّ	يَهُوْدِيَّةً	مِنْ	أَهْلِ	خَيْبَرَ	سَمَّتْ	شَاةً

او حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی اهل خیبر کي یوې یهودي ښځې پخه کړې بزه (چیلۍ) کي زهر

مَصْلِيَّةً	ثُمَّ	أَهْدَتْهَا	لِرَسُوْلِ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	

یو ځای کړل او بیا هغه یې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کي بطور هدیه پیش کړه رسول کریم صلی الله علیه وسلم د هغه

فَأَخَذَ	رَسُوْلُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	الذِّرَاعَ	فَأَكَلَ	مِنْهَا	وَأَكَلَ	رَهْطٌ

بزې (چیلۍ) نه یو ورون اخستو سره خپله یې هم خوړل شروع کړل او حضور صلی الله علیه وسلم سره د صحابه رضی الله عنهم یو

مِنْ	أَصْحَابِهِ	مَعَهُ	فَقَالَ	رَسُوْلُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	اِرْفَعُوْا

جماعت هم خوړل شروع کړل بیا یو دم رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل لاس ونیسئ دې نه هیڅ مه خورئ دي

أَيْدِيكُمْ وَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا فَقَالَ

نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه يهودنۍ را بللو د پاره يو سړي وليږه هغه راغله نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل

لَهَا أَسَمَمْتِ هٰذِهِ الشَّاةَ فَقَالَتْ مَنْ أَخْبَرَكَ

ايا تا دي چيلۍ كي زهر يو ځاي كړي دي ښځي وويل تا سو ته څرنګه معلومه شوه ستا سو الله تعالى درته خو دلي

قَالَ أَخْبَرَتْنِي هٰذِهِ فِي يَدِي لِلذِّرَاعِ

دي يا مخلوق كي يو چا؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل ماته دي را خو دلي دي چي زما په لاس

قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ إِنْ كَانَ

كي دی د ورون طرف ته اشاره وكړه بيا هغه ښځي وكړه هو ما دا بزه (چيلۍ) زهر الوده كړي وه او ما سوچ

نَبِيًّا فَلَنْ تَضُرَّهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا

كړي وو كه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي وي نو زهر آلوده بزه ورته هيڅ نقصان نشي رسولی او كه نبي نه وي نو د زهرو

اسْتَرَحْنَا مِنْهُ فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اثر سره به ختم شي او مونږ ته به تري نجات او راحت حاصل شي نو رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ښځه معاف كړله

وَلَمْ يُعَاقِبْهَا وَتُوُفِّيَ أَصْحَابُهُ الَّذِينَ أَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ

او هيڅ سزا يي ورنه كړله او صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كي چي چا د هغه بزي غوښه خوړلي وه هغوی كي يو صحابي

وَاحْتَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى

حضرت بشر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيد شو او رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم د هغه زهر آلود بزي (چيلۍ) غوښه خوړلي وه د هغه

كَاهِلِهِ مِنْ أَجْلِ الَّذِي أَكَلَ مِنَ الشَّاةِ حَجَمَهُ أَبُو هِنْدٍ

د اثراتو دفع كولو د پاره د اوږو په منځ كي ويني ويستلو د پاره ښكر ولګوه او ابو هند رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چي د هغه

بِالْقَرْنِ	وَالشَّفْرَةِ	وَهُوَ	مَوْلًى	لِبَنِيْ	بَيَاضَةَ	مِنَ

اصل نوم يسار حجام وو او ديو انصاري قبيلي بنو بياضه ازاد كرده غلام وو دښكر او پلني چاړه په

الْأَنْصَارِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ.

ذريعه وينه ويستله [ابوداؤد دارمي]

توضيح: (ان يهودية) ددې ښځې نوم زينب بنت حارث وو، دا د مشهور پهلوان مرحب خوروه، دا د خيبر د يوه يهودى ښځه وه. (مصلية) په اور باندې كباب كړى شوې غوښې ته ويل كيږي. (فعفا عنها) حضور ﷺ دغه ښځه معاف كړله، اوس سوال دا دى چې په بعضو رواياتو كې ددغې ښځې د قتل ذكر دى دا خو تعارض دى! نو ددې جواب دا دى چې اول حضور ﷺ دغه ښځه معاف كړله ليكن چې كله بشر بن علاء رضي الله عنه ددې زهرو د خوړلو نه شهيد شو نو بيا قصاصا حضور ﷺ دغه ښځه قتل كړله. (احتجم) يعنې د زهرو د اثر ختمولو لپاره حضور ﷺ د اوږو په مينځ كې وينه وويستله. (القرن) د وينو ويستلو لپاره چې كومه آله استعماليږي هغه ته القرن ويل شوى دى. (الشفرة) هغه چاړه چې د وينې ويستلو لپاره په زخمي كولو كې استعمال شوي وي. (ابوهند) د بنو بياضه د خاندان آزاد كرده غلام وو.

غزوه حنين كي دفتح دپيش ګويي ذكر

﴿۶۳﴾ وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ حَنْظَلِيَّةَ أَنَّهُمْ سَارُوْا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ						
او حضرت سهل ابن حنظليه رضي الله عنه نه روايت دى چې د غزوه حنين په موقع حنين مقام ته تلو د پاره صحابه كرام رضي الله عنهم						
فَأَطْنَبُوا	السَّيْرَ	حَتَّى	كَانَتْ	عَشِيَّةً		
رسول كريم ﷺ سره روان شول نو د سفر سلسله اوږده شوه تلو تر دې پورې چې شپه راغله						
فَجَاءَ	فَارِسٌ	فَقَالَ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ	إِنِّيْ
نو يو سور سړى د رسول كريم ﷺ په خدمت اقدس كي حاضر شو او عرض يې وكړو يا رسول الله زه په						

طَلَعْتُ عَلٰى جَبَلٍ كَذَا وَكَذَا فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ

وداسې او داسې غرا و ختلم او د دښمن جائزه مې اخسته چې اچانک ما وليدل چې هوازن چې مشهوره

عَلٰى بَكْرَةِ اَبِيْهِمْ بِظُعُنِهِمْ وَنَعَمِهِمْ

وډيره لويه قبيله ده د خپل پلار په اوښ راغلي دي هغوى سره د هغوى ښځې هم دي او د هغوى څاروي

اِجْتَمَعُوْا إِلٰى حُنَيْنٍ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هم دي او هغوى ټول د حنين په مقام جمع شوي دي حضور ﷺ مسکی شو او ويې فرمائيل انشاء الله

وَقَالَ تِلْكَ غَنِيْمَةُ الْمُسْلِمِيْنَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللهُ ثُمَّ

دا ټول څيزونه به صباله د مسلمانانو مال د غنيمت وي د دي نه روسته حضور ﷺ تمام اهل لښکر

قَالَ مَنْ يَحْرُسُنَا اللَّيْلَةَ قَالَ أَنَسُ بْنُ أَبِيْ مَرْثَدِ نِ الْغَنَوِيْ

مخاطب کولو سره و فرمائيل نن شپه زمونږ د نګهباني ذمه څوک اخلي يو صحابي حضرت انس ابن ابي مرثد و ويل

أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ ارْكَبْ

دا ذمه واري زه اخلم حضور ﷺ دي اوريدو سره و فرمائيل نبه ده بيا ته سور شه انس رضي الله عنه

فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَقَالَ اِسْتَقْبِلْ هٰذَا الشِّعْبَ حَتّٰى تَكُوْنَ فِيْ

چې خپل آس باندي سور شو نو حضور ﷺ ورته فرمائيل ته دي غريزه لار باندي تللو سره د هغه غر

اَعْلَاهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى مُصَلَّاهُ

څوکي ته ورسيږه او هلته په دښمن نظر ساته بيا چي سهار شو نو رسول کريم ﷺ د مونځ کولو ځاي ته

فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ هَلْ حَسِسْتُمْ فَارِسَكُمْ

تشريف راوړلو حضور ﷺ د سهار سنت دوه رکعاته وکړل او وي فرمائيل ايا تاسو د خپل سور څه کش

فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللهِ مَاحَسَسْنَا

کړپ اوريدلی دی يوسړی عرض وکړو يارسول الله په مونږ کي هيچا دهغه کش کړپ نه دی اوريدلی

فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَجَعَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّيْ

پدي کي دسهار د مونځ تکبير وشو د رسول کريم ﷺ دمانځه په دوران کي به يي هم دستر کو په کوتو نو

يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ حَتَّى إِذَا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ أَبْشِرُوْا

ئي هغه غريزي لاري طرف ته کتل تر دي پوري چي دمانځه نه فارغ شو نو وي فرمائيل خوشحاله شئ

فَقَدْ جَاءَكُمْ فَارِسُكُمْ فَجَعَلْنَا نَنْظُرُ إِلَى خِلَالِ الشَّجَرِ فِي

ستاسو هغه سوار راروان دی چي ستاسو نگهباني يي کوله نو مونږ خلقو هغه دغريزي لاري په ونو کي

الشِّعْبِ فَإِذَا هُوَ قَدْ جَاءَ حَتَّى وَقَفَ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کتل شروع کړل تر دي پوري چي هغه سور راتلونکي وليدل شو او بيا هغه راتلو سره د رسول کريم ﷺ

فَقَالَ إِنِّي انْطَلَقْتُ حَتَّى كُنْتُ فِيْ أَعْلَى هٰذَا الشِّعْبِ

مخ ته اودريدلو او بيان يي وکړو چي زه دلته د روانيدو سره په غريزي لار تلو سره دغر هغه څوکي ته

حَيْثُ أَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ طَلَعْتُ الشِّعْبَيْنِ

ورسيدم چيرته د تلو چي راته رسول کريم ﷺ حکم کړی وو بيا چي سهار سو نو زه دغر په دواړو لارو

كِلَيْهِمَا فَلَمْ أَرَ أَحَدًا فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ

او دهغه خوا وشا کښو ونو کي راغلم ليکن ما هلته هيڅوک ونه ليدل رسول کريم ﷺ انس بن مرثد رضي الله عنه

نَزَلْتَ اللَّيْلَةَ قَالَ لَا إِلَّا مُصَلِّيًا أَوْ قَاضِيَ حَاجَةٍ

ندپوښتنه وکړه ايا ته دشپي داس نه ښکته شوی يي؟ هغه وويل صرف مانځه د پاره يا تقاضي د پاره

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا عَلَيْكَ

خکته شوی وو مګني پوره شپه دا سی په شانا ست نګراني مي کوله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل بيا خو دي کي

أَلَّا تَعْمَلَ بَعْدَهَا. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

هيڅ حرج نشته چې دي شپي نه روسته هيڅ عمل ونه کړې [ابو داؤد]

توضيح: **علی بکرة ابيهم**: علی په معنی د مع سره دی ای **مع بکرة ابيهم**، دا د عربو محاوره ده د ټولو خلک و د راتللو لپاره يې استعمالوي، ملاعلی القاری رحمه الله فرمايي: **کلمة للعرب يريدون بها الکثرة. وقال القاضی جاء القوم علی بکرة ابيهم ای جاؤا بأجمعهم**، بکرة په اصل کې ځواني اوښې ته وايي، ددې ضرب المثل سبب او شان ورود داسې دی چې د يو ځای نه عرب ووتل، د هغوی يو فرد هم وروسته پاتې نشو تر دې پورې چې د هغوی د پلار يوه اوښه وه هغه يې هم د ځان سره وويستله نو نورو عربو وويل چې **جاءوا علی بکرة ابيهم** يعنې د خپل پلار اوښه يې هم د ځان سره راوستله.

ظعنهم: ښځې مراد دي.

نعمهم: چار پايان مراد دي، دا د افغان کوچيانو د تړک پشان دي چې په هغه کې هر څه وړي حتی چې بيکاره سپی هم پکې وړي.

الاتعمل بعدها: يعنې د نن نه بعد که ته د نوافلو نه هيڅ عمل هم ونه کړې ستا هيڅ نقصان نشته، ددې عمل نه فرائض مراد نه دي، نوافل مراد دي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغه صحابی د راتګ نه مخکې اطلاع ورکړه په دې کې د معجزې ظهور وو.

خورماوو کې د برکت معجزه

﴿٦٤﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمَرَاتٍ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ ز د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو څو خورماوو اخستو سره ورغلم

فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُدْعُ اللهَ فِيْهِنَّ بِالْبَرَكَةِ

او عرض مي وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په دي خورماوو کي د برکت دعا کړ: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَضَمَّهُنَّ ثُمَّ دَعَالِيْ فِيْهِنَّ بِالْبَرَكَةِ

هغه خورما (کجورې) خپل لاس مبارک کې واخستې یا داچې په هغه یې خپل لاس مبارک کېخودو او بیا یې زما دپاره هغه

قَالَ خُذْهُنَّ فَاجْعَلْهُنَّ فِيْ مِزْوَدِكَ

خورماوو کې دبرکت دعا وفرمایله اودې نه روسته یې وفرمائیل واخله اودا خورما خپل توښه دان

كُلَّمَا أَرَدْتَّ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ فِيْهِ يَدَكَ

کې کېږده هر کله چې ته د دې نه څه اخستل غواړې نو توښه دان کې خپل لاس ننباسه او را اله یې

فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذٰلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا

اودا توښه دان هیڅ کله مه خلاصوه حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وائي چې ما دومره دومره وسقه خورماوې

مِنْ وَسْقٍ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ وَكَانَ لَا

خومې د الله تعالی په لار کې خرچ کړې او مونږ به د هغه خورماوو نه خوړلي هغه توښه دان به زما د ملا

يُفَارِقُ حَقْوِيْ حَتّٰى كَانَ يَوْمُ قَتْلِ عُثْمَانَ

سره تړلی وو هغه مې هیڅ وخت نه جدا کوه تر دې پورې چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شهید کیدو په

فَإِنَّهُ انْقَطَعَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ورځ هغه توښه دان زما د ملا نه خلاصیدو سره وغورځیده او ضائع شو.

توضیح: (ولا تنثره) یعنې دا مه خوروه ،کخوړه مه خالي کوه ، د معجزې ظهور دی چې د غیب نظام دی پټ یې ساتل پکار دي.

حقوي: نرۍ ملا ته حقوه وایي . معلومه شوه چې ډیره وړه کخوړه وه او په دې کې ټولې ۲۱ دانې کجورې وې.

یوم قتل عثمان: یعنې چې په کومه ورځ حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شهید شو په هماغه ورځ دغه کخوړه خپله کټ شوه او ورکه شوه ، په خپله حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په طور د افسوس به دا شعر ویلو :

للناس همٌّ ولی همّان فقد جرابي و موت شيخ عثمان

د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت په وجه ډير برکتونه د امت نه پورته شول، چې د هغو برکتونو نه يو د غه تيلي وه.

الفصل الثالث

دغار ثو متعلق د معجزې ښکاره کيدل

﴿۶۵﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَشَاوَرَتْ قُرَيْشٌ لَيْلَةً بِمَكَّةَ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي د مکي قريش يو وارد شپي وقت دارالندوه کي خپل مجلس مشاورت

فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِذَا أَصْبَحَ فَأَثْبِتُوْهُ بِالْوَثَاقِ يُرِيْدُوْنَ

منعقد کړو بعضو دا مشوره ورکړه چې سهار کيدو سره د دي سړي لاسونه وتړي دي سړي نه دهغوی

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلِ اقْتُلُوْهُ

مراد د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ذات گرامي وو بعضو دا رايي ورکړه چې نه بلکي قتل يي کړئ او بعضو په حقارت

وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ أَخْرِجُوْهُ فَأَطْلَعَ اللهُ

سره دا وويل چې دا د خپل سر زمين نه ويستلو سره بهر کړئ الله تعالى د حضرت جبرائيل عليه السلام په

نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ذٰلِكَ فَبَاتَ عَلِيٌّ عَلَى فِرَاشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ذريعه خپل نبي صلى الله عليه وسلم نه اګاه کړو نو په د غه شپه حضرت علي رضي الله عنه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په بستره اوده شو

تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى لَحِقَ بِالْغَارِ وَبَاتَ

نبي صلى الله عليه وسلم د مکي نه ووتلو او غار ثور ته ورسيدل. علي رضي الله عنه اوده شوی وو او د مکي قريشو ټوله شپه په

الْمُشْرِكُوْنَ يَحْرُسُوْنَ عَلِيًّا يَحْسَبُوْنَهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دي خيال چې دلته نبي صلى الله عليه وسلم اوده دی د کور نګراني کوله تر دي پورې چې سهار شو نو د مکي قريشو

فَلَمَّا	أَصْبَحُوا	ثَارُوا	عَلَيْهِ	فَلَمَّا	رَأَوْا	عَلِيًّا

حمله پرې وكړله خو هغوى چې هلته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ځاي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوليدلو او

رَدَّ	اللهُ	مَكْرَهُمْ	فَقَالُوْا	أَيْنَ	صَاحِبُكَ	هٰذَا

الله د هغوى بدخواهي پر هغوى وروګرځوله او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه يې پوښتنه وكړه چې ستا دوست چيرته لاړو

قَالَ	لَا	أَدْرِيْ	فَاقْتَصُّوا	أَثَرَهُ	فَلَمَّا	بَلَغُوا

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب وركړو ماته نه ده معلومه د مكې قريش د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قدمونو د نښو پسې

الْجَبَلَ	اِخْتَلَطَ	عَلَيْهِمْ	فَصَعِدُوا	الْجَبَلَ

ووتل تر دې پورې چې هغه خلق جبل ثور ته ورسيدل د هغوى ګمان وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پدې غره كې

فَمَرُّوا	بِالْغَارِ	فَرَأَوْا	عَلٰى	بَابِهٖ	نَسْجَ	الْعَنْكَبُوْتِ	فَقَالُوْا

پټ شوى وي ليكن هغوى چې د غار په خوله د غنې جاله وليده نو هغوى وويل كه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پدې غار

لَوْ	دَخَلَ	هٰهُنَا	لَمْ	يَكُنْ	نَسْجُ	الْعَنْكَبُوْتِ	عَلٰى	بَابِهٖ

كې داخل شوى وې نو د دې پر خوله به د غنې جاله نه وى د غه شان هغه خلق د هغه ځاي نه نا اميده

فَمَكَثَ	فِيْهِ	ثَلَاثَ	لَيَالٍ	. رَوَاهُ	أَحْمَدُ.

كيدو سره روسته شو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې شپې ورځې هغه غار كې پټ وو. [احمد]

توضيح : اثاروا عليه: يعنې حمله يې وكړه . **فاقتصوا**: يعنې قريش د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قدم د نښانانو او علاماتو لټولو پسې شول. **نسج العنكبوت** : جولا جاله اچولې وه او كوترې هګۍ وركړې وې. علامه بوصيرى رحمه الله فرمايي :

فالصدق فى الغار والصديق لم يريا   وهم يقولون ما بالغار من ارم

ظنوا الحمام وظنوا العنكبوت على   خير البرية لم تنسج ولم تحم

د خيبر د يهوديانو متعلق معجزه

﴿٦٦﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي کوم وقت چې خيبر فتح شو نو د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې

شَاةٌ فِيْهَا سَمٌّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يوه پخه بزه (چيلۍ) ډالۍ په طور پيش کړل شوه چې په هغه کې زهر اچول شوي وو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم

اِجْمَعُوْا لِيْ مَنْ كَانَ هٰهُنَا مِنَ الْيَهُوْدِ فَجُمِعُوْا لَهٗ

وکړو دلته خيبر کې چې څومره يهوديان دي ټول ماته راولئ نو ټول يهوديان جمع کولو سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّيْ

په خدمت کې پيش کړل شو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه يهوديانو ته وفرمائيل زه ستاسو نه ديوې خبرې

سَآئِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ عَنْهُ

پوښتنه کوم؟ تاسو زما د سوال غلط جواب راکړئ او زه د هغه ترديد وکړم نو تاسو به زما په خبره باور

قَالُوْا نَعَمْ يَآ اَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

وکړئ يهوديانو وويل هو ابو القاسم نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغوی نه پوښتنه وکړه چې ستاسو پلار

مَنْ أَبُوْكُمْ قَالُوْا فُلَانٌ قَالَ كَذَبْتُمْ بَلْ

څوک دي؟ يهوديانو وويل چې فلانی سړی دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل تاسو غلط وايئ ستاسو

أَبُوْكُمْ فُلَانٌ قَالُوْا صَدَقْتَ وَ بَرَرْتَ قَالَ

پلار خو فلانی سړی دی يهوديانو وويل تاسو رينښتيا وفرمائيل او په ځای مو وفرمائيل بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَهَلْ أَنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ

هغوی ته وفرمائيل که زه در نه څه بل سوال وکړم نو آيا تاسو به زما په هغه خبره باور وکړئ يهوديانو

قَالُوا	نَعَمْ	يَا	أَبَا	الْقَاسِمِ	إِنْ	كَذَبْنَا	عَرَفْتَ

وویل هو ای ابو القاسم که مونږ دروغ وویل او تا سو ته زمونږ دروغ معلوم شو څرنګه چې تا سو ته

كَمَا	عَرَفْتَهُ	فِيْ	أَبِيْنَا	فَقَالَ	لَهُمْ	مَنْ	أَهْلُ النَّارِ

زمونږ د پلار باره معلوم شوی وو نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغوی نه پوښتنه وکړه چې ونبایي دوزخي څوک دی؟

قَالُوا	نَكُوْنُ	فِيْهَا	يَسِيْرًا	ثُمَّ	تَخْلُفُوْنَا فِيْهَا

یهودیانو جواب ورکړو څو ورځي خوبه مونږ خلق یو او بیابه زمونږ جانشین به تا سو خلق یې

قَالَ	رَسُوْلُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	اِخْسَئُوْا	فِيْهَا	وَاللّٰهِ	لَا نَخْلُفُكُمْ

رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل قسم په الله مونږ به دوزخ کي هیڅ کله ستا سو جانشین نه یو دي نه

فِيْهَا	أَبَدًا	ثُمَّ	قَالَ	هَلْ	أَنْتُمْ	مُصَدِّقِيَّ	عَنْ	شَيْءٍ	إِنْ	سَأَلْتُكُمْ	عَنْهُ

روسته حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته وفرمائیل که زه ستا سو نه څه بل سوال وکړم نو آیا تاسو به زما د خبري باور

فَقَالُوْا	نَعَمْ	يَا	أَبَا	الْقَاسِمِ	قَالَ	هَلْ	جَعَلْتُمْ	فِيْ	هٰذِهِ	الشَّاةِ سَمًّا

وکړئ یهودیانو وویل هو ای ابو القاسم حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغوی نه پوښتنه وکړه. ایا تا سو دې بزي کي زهر

قَالُوْا	نَعَمْ	قَالَ	مَا	حَمَلَكُمْ	عَلٰى	ذٰلِكَ

اچولي دي؟ هغوی جواب ورکړو هو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تري پوښتنه وکړه تاسو څه شی پردی ذلیل حرکت باندې

قَالُوْا	أَرَدْنَا	إِنْ	كُنْتَ	كَاذِبًا	اَنْ	نَسْتَرِيْحَ

آماده کړلئ؟ هغوی وویل مونږ سوچ کړی وو که ستا سو دعوٰی دنبوت دروغ وي نو دا زهر به ستاسو

مِنْكَ	وَإِنْ	كُنْتَ	صَادِقًا

دهلاکت سبب جوړ شي او مونږ به ستا سو نه نجات او راحت حاصل کړو او که تا سو خپله دعوٰی کي ریښتیني

لَمْ يَضُرَّكَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

يې نو دا زهر تا سو ته هیڅ ضرر نشي رسولی .

توضیح : (اخسئوا) دا لفظ د سپیانو د شړلو لپاره استعمالیږي یعنې (کورې سپیانو) .

حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم په نوم د هغوی د پلرونو بیان وکړو چې په دې سره د هغه د معجزې ظهور وشو.

قیامته پورې د پیښیدونکو تمامو اهمو واقعاتو او حوادثو خبر ورکولو معجزه

﴿۶۷﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أَخْطَبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا

حضرت عمرو بن اخطب انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي يو ورځ نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د سهار مونځ راکړو او بیا منبر

الْفَجْرَ وَصَعِدَ عَلَى الْمِنْبَرِ. فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتِ الظُّهْرُ

ته ختلو سره زمونږ مخکې یې وعظ ارشاد وفرمایلو چې دهغه سلسله ماسپخین پورې جاري وه بیا

فَنَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى

منبر نه خکته شو د ماسپخین یې مونځ راکړو بیا منبر ته ختلو سره وعظ یې ارشاد فرمایلو تر دې پورې

حَضَرَتِ الْعَصْرُ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ

چې د مازیگر وخت شو نو منبر نه خکته شو د مازیگر مونځ یې راکړو بیا منبر ته ختلو وعظ یې فرمایلو او

حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَأَخْبَرَنَا بِمَا هُوَ

د وعظ سلسله لمر ډوبیدو پاندې ختمه شوه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه ټولو خبرو نه مونږ اګاه کړلو چې

كَائِنٌ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ

قیامته پورې پیښیدونکې دي د دې روایت بیانولو نه روسته حضرت عمرو بن اخطب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل په

قَالَ فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

مونږ کې د دې تمامو خبرو د ټولو نه زیات یادلرونکې هغه سړی دی چې نن صبا په مونږ کې بنه عالم دی (مسلم)

﴿۶۸﴾ وَعَنْ مَعْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِيْ قَالَ
او حضرت معن ابن عبد الرحمٰن وايي ما د خپل پلار حضرت عبد الرحمٰن نه واوريدل فرمائيل يې هر کله
سَأَلْتُ مَسْرُوْقًا مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې ما د جليل القدر تابعي حضرت مسروق نه پوښتنه وکړه چې په هغه شپه کې چې جناتو قرآن مجيد
بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ فَقَالَ حَدَّثَنِيْ
واوريده د هغه جناتو د راتګ اطلاع نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چا ورکړې وه نو حضرت مسروق وويل ماته
أَبُوْكَ يَعْنِيْ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ مَسْعُوْدٍ أَنَّهُ قَالَ آذَنَتْ
ستا پلار يعني حضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بيان وکړو چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د جناتو (پيريانو)
بِهِمْ شَجَرَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
د راتلو خبر يوې ونې ورکړې وو.

توضيح: (معن) **معن** د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لمسی دی، هغه د خپل والد نه بيانوي، د هغه د والد نوم عبد الرحمن دی (**قال**) يعنې معن وويل (**سمعت ابي**) يعنې د عبد الرحمن نه ما واوريدل چې زما پلار دی (**قال**) يعنې عبد الرحمن وويل (**مسروقا**) مسروق لوی تابعی دی د حضرت عائشې رضی الله عنها نه يې علم ويلی دی. (**آذن**) يعنې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د جناتو په راتګ باندې چا اطلاع ورکړې وه. ايذان د اطلاع په معنی سره دی.

فقال: يعنې مسروق په جواب کې وويل چې ستا اباجان ما ته ويلي وو چې يوې ونې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اطلاع ورکړې وه چې په دې کې د معجزې ظهور وشو.

د جنګ بدر د مقتولينو متعلق د معجزې ظهور

﴿۶۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيْنَ مَكَّةَ
او حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي ديو سفر په موقع مونږ خلقو د حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره د مکې

وَالْمَدِيْنَةِ	فَتَرَاءَيْنَا	الْهِلَالَ	وَكُنْتُ						

او مديني په منځ کي په يو ځاي پراو اچولی وو چې هلته مونږ دنوي مياشتي ليدلو کوشش وکړو زه يو

رَجُلًا	حَدِيْدَ	الْبَصَرِ	فَرَأَيْتُهُ	وَلَيْسَ	أَحَدٌ	يَزْعُمُ	

تيز نظره سړی وم نو ما مياشت وليده زما نه علاوه بل سړی داسي نه وو چې هغه داويلي وی چې هغه

أَنَّهُ	رَآهُ	غَيْرِيْ	قَالَ	فَجَعَلْتُ	أَقُوْلُ	لِعُمَرَ	أَمَا	تَرَاهُ

مياشت ما ليدلي ده ما حضرت عمر رضي الله عنه ته د مياشتي ښودلو کوشش کولو سره هغوی ته وويل چې آيا

فَجَعَلَ	لَا يَرَاهُ	قَالَ	يَقُوْلُ	عُمَرُ	سَأَرَاهُ

تاس ته مياشت په نظر نه راځي کوره ليکن هغوی مياشت نه ليده حضرت انس رضي الله عنه وايي هغوی وويل

وَأَنَا	مُسْتَلْقٍ	عَلَى	فِرَاشِيْ	ثُمَّ

بس پرېږده زه به عنقريب په خپله بستره پروت دا مياشت به ووينم دي نه روسته حضرت عمر رضي الله عنه زمونږ

أَنْشَأَ	يُحَدِّثُنَا	عَنْ	أَهْلِ	بَدْرٍ	قَالَ	إِنَّ

مخکي د کافرو نه د هغو اهل بدر ذکر شروع کړو چې جنګ بدر کي وژل شوی وو او بيان يي وکړو چې

رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	كَانَ	يُرِيْنَا	مَصَارِعَ	أَهْلِ	بَدْرٍ

رسول کريم صلى الله عليه وسلم د جنګ نه يوه ورځ مخکي د قتليدونکو مشرکينو ځايونه مونږ ته وښودل حضور صلى الله عليه وسلم

بِالْأَمْسِ	يَقُوْلُ	هٰذَا	مَصْرَعُ	فُلَانٍ	غَدًا	إِنْ	شَاءَ	اللهُ	

يو يو ځاي طرف ته اشاري کولو سره فرمائيل چې ګوره دا هغه ځاي دی چيرته چې به صباله انشاالله

وَهٰذَا	مَصْرَعُ	فُلَانٍ	غَدًا	إِنْ	شَاءَ	اللهُ

فلانی مشرک وژل کيږي او دا هغه ځاي دی چيرته چې به ان شا الله فلانی مشرک وژلی پروت وي ګويا

قَالَ عُمَرُ وَالَّذِىْ بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا أَخْطَأُوا الْحُدُوْدَ

یا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل قسم دی په هغه ذات چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې په حق سره رالیږلی متعین کولو

الَّتِیْ حَدَّ هَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دی رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کوم ځایونه سره بیان کړي وو قتلیدونکي مشرکان هغه نه ذره هم اخوا دیخوا

قَالَ فَجُعِلُوْا فِىْ بِئْرٍ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ فَانْطَلَقَ

نه شول بیا چې د هغه مشرکانو لاشونه یو د بل دپاسه اچولو سره په یو کوهي کې وغورځول شو نو رسول

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ حَتّٰى انْتَهٰى إِلَيْهِمْ فَقَالَ

کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کوهي ته راغی او د هغه مشرکانو نومونو اخستو سره یې هغوی مخاطب کړل او وې

يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَّ يَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ هَلْ وَجَدْتُّمْ

فرمائیل ای فلان ابن فلان او ای فلان ابن فلان ایا تاسو هغه شی حق او رښتیا پیدا کړو چې د هغه

مَّا وَعَدَكُمُ اللهُ وَ رَسُوْلُهٗ حَقًّا فَإِنِّیْ قَدْ وَجَدْتُّ مَا وَعَدَنِیَ اللهُ

ستاسو سره الله او د الله رسول وعده کړي وه ما خو هغه شی حق پیدا کړو چې د کوم شي ما سره زما الله

حَقًّا فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا

وعده کړي وه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو داسې جسمونو ته څرنګه مخاطب یې

لَّا أَرْوَاحَ فِيْهَا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ

چې روحونو نه خالي دي؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل زه چې څه وایم د هغې تاسو د دوی نه زیات اوریدونکي

لِمَا أَقُوْلُ مِنْهُمْ غَيْرَ أَنَّهُمْ

نه یې هو هغوی د جواب راکولو قدرت نه لري مطلب دا چې زما دا خبره څرنګه چې تا اوریدلې ده هغه

لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ أَنْ يَّرُدُّوْا عَلَیَّ شَيْئًا . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

شان دوی هم اوریدلې ده بس فرق دا دی چې د جواب ورکولو قدرت دوی ته حاصل نه دی.

توضیح : (مستلق على فراشي) يعنې اوس سپوږمۍ کوچنۍ ده په نظر نه راځي زه ولې محنت وکړمه! سبا ته چې غټه شي نو زه به ملاست يم چې سپوږمۍ به مخې ته راشي ، ددې کلام د مکمل کيدو نه بعد بيا حضرت عمر رضي الله عنه د جنګ بدر قصه بيان کړه او د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د معجزې ظهور يې بيان کړلو . (يافلان يافلان) د بدر د مقتولينو نه ۲۱ يا ۲۲ لوی لوی صناديد د قريشو جمع کړی شوي وو او د بدر په خراب کوهي کې غورځول شوي وو . د هغوی د مزيد تذليل لپاره حضور صلی الله علیه وسلم د کوهي خولې ته راغی د هغوی سره يې خبرې وکړې ، حضرت حسان رضي الله عنه په خپلې يوې قصيدې کې دغه منظر پيش کړی دی څو ابيات ملاحظه کړئ :

فغادرنا اباجهل صريعا	وعتبة قد تركنا بالجبوب
ابوجهل مو غورځيدلی پريښودلو	او عتبه مو په کاږجنه ځمکه پريخودلو
ينادیهم رسول الله لما	قذفناهم كباكب في القليب
د الله پيغمبر ورته آواز وکړو کله چې هغوی لره	مونږ په کوهي کې نسکور وغورځول
الم تجدوا كلامي كان حقا	وامر الله يأخذ بالقلوب
ايا تاسو زما خبره محق ونه موندله	او د الله خبره زړونو ته کوزيږي
فما نطقوا ولو نطقوا القالوا	صدقت وكنت ذا رأي مصيب
دوئ خبره ونکړه که خبره يې کړې وای نو ويل به يې	چې تا رښتيا ويلي وو او ته د صحيح رايې مالک يې

دنابينا کيدلو متعلق د پيشن ګوئي معجزه

﴿۴۰﴾ وَعَنْ أُنَيْسَةَ بِنْتِ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ عَنْ أَبِيهَا أَنَّ	
او د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه لوربي بي انيسه رضي الله عنها د خپل پلار حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت کوي	
النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى زَيْدٍ يَعُوْدُهُ مِنْ مَرَضٍ كَانَ بِهِ	
چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم د زيد بن ارقم عيادت پوښتنې د پاره تشريف يوړی چې بيمار شوی وو حضور صلی الله علیه وسلم	
قَالَ لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْ مَّرَضِكَ بَأْسٌ وَّلٰكِنْ	
هغه ته تسلي تشفي ورکولو سره وفرمائيل ددې مرض تا ته هيڅ خوف کول نه دي پکار ليکن هغه وقت	

كَيْفَ لَكَ إِذَا عُمِّيَتْ بَعْدِي فَعَمِيتَ قَالَ

به ستا څه حال وي هر کله چې ته زما نه روسته ړوندې پاته شي او ستا بینایي ولاړه شي زید بن ارقم رضي الله عنه

أَحْتَسِبُ وَأَصْبِرُ قَالَ إِذًا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ

عرض وکړو زه به د ثواب ارزو مندیم او صابر او راضي به یم حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل بیا به بي حسابه او بي

بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالَ فَعَمِيَ بَعْدَ مَا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کتابه جنت ته ځي راوي بیان کړی چې زید بن ارقم رضي الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات نه روسته ړوند شوی وو

ثُمَّ رَدَّ اللهُ عَلَيْهِ بَصَرَهُ ثُمَّ مَاتَ

بیا ډیره زمانه روسته الله تعالی دهغه بینایي دوباره کړله او بیا هغه وفات شو.

د دروغو حدیث بیانونکی باره کې عذاب

﴿۷۱﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ تَقَوَّلَ عَلَيَّ

او حضرت اسامه ابن زید رضي الله عنه وايي د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی کوم سړی چې قصداً زما طرف ته څه

مَالَمْ أَقُلْ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ

داسي خبره منسوب کړي چې مانه وي کړي نو هغه ته پکار دی چې خپله ټیکانه دوزخ کي تیاره وګنړي

وَ ذٰلِكَ أَنَّهُ بَعَثَ رَجُلًا فَكَذَبَ عَلَيْهِ

او ددې ارشاد ګرامي پس منظر دادی چې حضور صلی الله علیه وسلم یو سړی لیږلی ؤ هغه د حضور صلی الله علیه وسلم د طرف نه څه

فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

دروغ خبره جوړولو سره وکړله حضور صلی الله علیه وسلم چې ددې خبري نه خبر شو حضور صلی الله علیه وسلم د هغه سړي په حق

فَوُجِدَ مَيِّتًا وَقَدِ انْشَقَّ بَطْنُهُ وَ لَمْ تَقْبَلْهُ

کي بد دعا وکړله نو هغه سړي په داسي حال کي مرده پیدا شو چې دهغه خیټه شلیدلي وه او هر کله

الْأَرْضَ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

چې هغه دفن كړل شو نو ځمكې هغه قبول نه كې دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوة كې نقل كړې دي.

د بركت معجزه

﴿۷۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دې د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې يو سړې حاضر شو او طعام يې وغوښتو

جَآءَهُ رَجُلٌ يَسْتَطْعِمُهُ فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسَقِ شَعِيْرٍ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته نيم وسق اوربشې عطاء كړلې هغه وربشې آخستو سره كور كې كنبيخو دلې او بيا،

فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا

نه صرف خپله هغه سړي بلكې د هغه ښځې او د هغوى ميلمنو به هم د هغه وربشو نه خوړلې ليكن يوه

حَتّٰى كَالَهُ فَفَنِيَ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ورځ هغه وربشې تول كړلې بيا هغه ډير ژر ختمې شوې دي نه روسته هغه سړې د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په

فَقَالَ لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ

خدمت كې حاضر شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته و فرمائيل كه تا هغه وربشې نه وې تللې نو تا سو به

وَ لَقَامَ لَكُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

هميشه د هغه وربشو نه اخستلو سره خوړلې هغه به هم هغه شان تا سره باقي پاتې وې.

مشتبه طعام د حلق نه خكته نه شو

﴿۷۳﴾ وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ رَجُلٍ مِّنَ الْأَنْصَارِ قَالَ

او حضرت عاصم ابن كليب د خپل پلار نه او هغه د يو انصاري صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كوي هغه بيان

خَرَجْنَا	مَعَ	رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فِيْ	جَنَازَةٍ
كوي يوه ورځ مونږ رسول كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ديوې جنازې مونځ او دفن كولو كې شركت دپاره ولاړو قبرستان									
فَرَأَيْتُ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	وَهُوَ	عَلَى الْقَبْرِ	يُوْصِي الْحَافِرَ
ته رسيدو سره ما رسول كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوليدلو چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قبر په غاړه كناستلو او ګوركن ته فرمايې									
يَقُوْلُ	أَوْسِعْ	مِنْ	قِبَلِ	رِجْلَيْهِ	أَوْسِعْ	مِنْ	قِبَلِ	رَأْسِهِ	فَلَمَّا
چې پښنو طرف ته قبر كولاو كړه او سر جانب ته يې نور كولاو كړه بيا چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيرته تلو نو مخ ته									
رَجَعَ	اِسْتَقْبَلَهُ	دَاعِيْ	امْرَأَتِهِ	فَأَجَابَ					
ورته يو سړى راغى حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې دمړې د ښځې د طرف نه د طعام دعوت وركړو چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبول									
وَنَحْنُ	مَعَهُ	وَجِيْءَ	بِالطَّعَامِ						
كړو او مونږ هم ورسره شو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هركله چې طعام راوړل شو نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طعام طرف ته لاس									
فَوَضَعَ	يَدَهُ	ثُمَّ	وَضَعَ	الْقَوْمُ	فَأَكَلُوْا	فَنَظَرْنَا	إِلَى		
ور مخكې كړو او طعام خوړل يې شروع كړل بيا مونږ هم طعام خوړل شروع كړل مونږ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ									
رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	يَلُوْكُ	لُقْمَةً	فِيْ	فِيْهِ
اوليدلو چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كومه اولنۍ مړۍ خولې مباركې كې اچولې وه هغه يې ميده كوله يعني خپله									
ثُمَّ	قَالَ	أَجِدُ	لَحْمَ	شَاةٍ	أُخِذَتْ	بِغَيْرِ			
خوله مباركه كې اخوا ديخوا تاووله حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل زه داغوښه ديوې داسې بزې محسوسوم									
إِذْنِ	أَهْلِهَا	فَأَرْسَلَتِ	الْمَرْأَةُ	تَقُوْلُ					
چې د مالك د اجازې نه بغير اخستل شوې ده هغه ښځې سړى ليږلو سره صورت حال عرض كړو چې									

يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ أَرْسَلْتُ إِلَى النَّقِيْعِ وَهُوَمَوْضِعٌ يُبَاعُ فِيْهِ

يارسول الله ما د بزي (چيلۍ) دپاره يو سړى نقيع ته ليږلي وو نقيع ديو ځاي نوم دى چيرته چې دبزو

الْغَنَمُ لِيُشْتَرٰى شَاةٌ فَلَمْ تُوْجَدْ فَأَرْسَلْتُ إِلٰى جَارٍ لِّيْ

خريد و فروخت کيږي ليکن هلته بزه پيدا نه شوه نو ما خپل همسايه ته سړى وليږه چې هغه يوه

قَدِ اشْتَرٰى شَاةً أَنْ يُرْسِلَ بِهَا إِلَيَّ بِثَمَنِهَا

بزه (چيلۍ) ورکړي او ورته مي وويل چې هغه په کوم قيمت بزه آخستي ده په هغه قيمت دي هغه بزه

فَلَمْ يُوْجَدْ فَأَرْسَلْتُ إِلٰى امْرَأَتِهِ فَأَرْسَلَتْ

په ما خرخه کړي ليکن هغه همسايه هم خپل کور کي نه وو بيا ما د هغه همسايه ښځي ته سړى وليږلو

إِلَيَّ بِهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعِمِيْ هٰذَا الطَّعَامَ الْأَسْرٰى.

او هغي دغه بزه ماته را وليږله نو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل داطعام قيديانو باندي وخوره.

رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ

دا روايت ابوداؤد او دلائل النبوة کي بيهقي نقل کړى دى.

توضيح: (داعى امرأته) يعني د ميت د کور نه د هغه د ښځې قاصد ډوډۍ ته د دعوت ورکولو لپاره راغى. حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم لاړلو او څه صحابه هم لاړل، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوله کې مړۍ واچوله او ژوول يې شروع کړل مګر تيرولى يې نه شو او ويې فرمايل چې دا غوښه د داسې ګډه ده چې د مالک د اجازت نه بغير حاصل شوې دى د کور د ښځې نه معلومات واخيستل شو نو هغې د عدم اجازت اعتراف کولو سره وجه هم بيان کړله. په دې طريقه د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معجزې ظهور وشو.

ددريمې وغيره حکم

سؤال: دلته سوال دا دى چې په امرأته کې چې کوم ضمير راجع کيږي دا مړي طرفته راجع کيږي نو د مړي ښځي په همدغه ورځ په کومه ورځ چې د هغه د خاوند انتقال شوى وو د خوراک اهتمام

وکړلو حالانکه فقهاؤ د مړي د کور خوراک خوړل مکروه لیکلی دی او ظاهره ده چې مکروه تحریمی به وي ، ملاعلی القاری رح لیکي چې د مړي د خوراک په باره کې چې د فقهاء کرامو کوم اقوال دي هغه ددې حدیث خلاف دي او دا حدیث په ظاهره د هغو اقوالو خلاف دی مثلا په بزازیه کې لیکلی دي چې د میت د ورشو د جانب نه اوله ورځ یا دریمه ورځ او اوومه ورځ خوراک ورکول مکروه دي ، همدارنګه په خلاصة الفتاوی کې دي چې دریمه ورځ د خوراک اهتمام کول او خلک ډوډۍ ته راغوښتل مباح نه دي ، زیلعی ویلي دي چې تر دریو ورځو پورې د غمرازۍ کولو لپاره کیناستلو کښې هیڅ مضائقه نشته په دې شرط چې د ممنوع شیانو ارتکاب نه وي لکه د قالینو خورول او د ضیافت اهتمام کول ، همدارنګه ابن همام هم لیکلي دي چې د اهل بیت ضیافت کول مکروه دي ، ابن همام دا هم لیکلي دي چې دغه ضیافت بدعت سیئه دی ، د حضرت جریر بن عبدالله په روایت کې صفا ذکر دي چې د میت ضیافت مونږ د نوحه پشان حرام ګڼلو ، یو طرف ته د فقهاؤ دغه فتواګانې دي چې د میت د کور خوراک ورکول منع کوي او دویم طرف نه د زیر بحث حدیث نه د جواز اشاره معلومیږي ددې لپاره څه جواب دی ؟

جواب : ددې حدیث واضح جواب دا دی چې دا زنانه د هغه مړي ښځه نه وه بلکه د جنازې نه په واپسۍ کې د کومې بلې ښځې قاصد راغلی وو د میت د ښځې نه وو ، لکه په ابوداؤد جلد ۲ ص ۱۱۷ کې د **داعی امرأة** لفظ دی چې د یوې ښځې قاصد راغلی وو لهذا د مشکوة په دې روایت کې د کوم کاتب نه لږ سهوه شوې ده چې په دې سره د اهل بدعاتو خوشحالیانې د خاورو سره خاورې شوې چې ددې روایت نه شومه دریمه ثابتوي ، اکابرو لیکلي دي چې **(طعام المیت یمیت القلب)** .

الاسری: دا قیدیان چونکې کفار وو لهذا په هغوی باندې یې خوړل مناسب وو معلومه شوه چې ، دریمه ، او اومه د مسلمان د خوراک شی نه دی .

دام معبد رضی الله عنها بزې (چیلۍ) سره متعلق دیوې معجزې ظهور

﴿۴۷﴾ وَ عَنْ حِزَامِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيْهِ عَنْ جَدِّهِ حُبَيْشِ بْنِ خَالِدٍ وَّ هُوَ
او حضرت حزام ابن هشام د خپل پلار حضرت هشام نه او هغه د حزام دنیکه نه حبیش رضی الله عنه نه چې د
أَخُ أُمِّ مَعْبَدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أُخْرِجَ مِنْ مَكَّةَ
ام معبد ورور دی روایت کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته د مکې د پرېښوو حکم وشو او هجرت د پاره

خَرَجَ مُهَاجِرًا إِلَى الْمَدِيْنَةِ هُوَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَمَوْلَى أَبِيْ بَكْرٍ

مدیني ته روان شو نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حضرت ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ازاد کړده غلام

عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ وَدَلِيْلُهُمَا عَبْدُ اللهِ اللَّيْثِيُّ مَرُّوْا

عامر ابن فهیره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او دي دواړو ته لاربښوونکی عبد الله لیثي د دي ځلورو تیریدل د مدیني په لار

عَلَى خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدٍ فَسَئَلُوْهَا لَحْمًا وَتَمْرًا لِيَشْتَرُوْا

یو ځاي دام معبد په دوو خیمو وشول دي حضراتو دا هل خیمه نه څه غوښه او خورما اخیستل وغوښتل

مِنْهَا فَلَمْ يُصِيْبُوْا عِنْدَهَا شَيْئًا مِّنْ ذٰلِكَ وَكَانَ

لیکن دواړو حضراتو ته دام معبد سره هیڅ شی پیدا نکړل ځکه چې په هغه زمانه کي عام طور سره

الْقَوْمُ مُرْمِلِيْنَ مُسْنِتِيْنَ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلق د قحط زدکي او بې سرو ساماني ښکاروو دي کي اچانک د رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نظر په یوي بزي

إِلَى شَاةٍ فِيْ كَسْرِ الْخَيْمَةِ فَقَالَ مَا هٰذِهِ

(چیلی) ولګیده چې د خیمي یو جانب ته تړلې ولاړه وه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه وکړه چې ام معبد دي

الشَّاةُ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ قَالَتْ شَاةٌ خَلَّفَهَا الْجَهْدُ

بزي څه شوي دي ام معبد جواب ورکړو د دي کمزوري دا د رمې نه جدا کړې ده حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه

عَنِ الْغَنَمِ قَالَ هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ. قَالَتْ هِيَ

ورنه وکړه ایا دا شوده کوي ام معبد وویل کوم مصیبت کي چې دا مبتلا ده په هغه کي پئی د کوم

أَجْهَدُ مِنْ ذٰلِكَ قَالَ أَتَأْذَنِيْنَ لِيْ أَنْ أَحْلِبَهَا قَالَتْ

ځایه دي حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل ما ته اجازه را کوي چې زه د دي پئی ولوشم ام معبد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وویل

بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي إِنْ رَأَيْتَ بِهَا حَلَبًا فَاحْلُبْهَا

زما مور او پلار دې په تاسو ﷺ قربان وي که تاسو ﷺ ته په دې کې پئی معلومیږي نو ضرور وې یې

فَدَعَا بِهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ

ولوشئ رسول کریم ﷺ دې اوریدو سره بزه راوغوښتله بیا حضور ﷺ د هغه په غلانزه خپل لاس

يَدَهُ ضَرْعَهَا وَسَمَّى اللهَ تَعَالَى وَدَعَا لَهَا فِي شَاتِهَا

مبارک راخکلو بسم الله یې وویله او ام معبد رضي الله عنها د پاره د هغه بزې په حق کې د برکت دعا وکړله نو بزې

فَتَفَاجَّتْ عَلَيْهِ وَدَرَّتْ وَاجْتَرَّتْ فَدَعَا

پئی ورکولو د پاره خپلې پښې د حضور ﷺ مخکې خلاصې کړلې بیا هغه بزې پئی بهیول او شخوند

بِإِنَاءٍ يُرْبِضُ الرَّهْطَ فَحَلَبَ فِيهَا

وهل شروع کړل حضور ﷺ یو دومره لوی لوښی وغوښتی چې دیو جماعت خیټه به مړه کړي او هغه

ثَجًّا حَتَّى عَلَاهُ الْبَهَاءُ

لوښی کې به بهیدونکې پئی ولوشل تر دې پورې چې د شیدو زګ د لوښي په سر راغلی دې نه

ثُمَّ سَقَاهَا حَتَّى رَوِيَتْ وَسَقَى أَصْحَابَهُ

روسته حضور ﷺ پئی مخکې ام معبد رضي الله عنه باندې وڅکلې چې هغې به ډیرې وڅکلې بیا یې په هغه

حَتَّى رَوَوْا ثُمَّ شَرِبَ آخِرَهُمْ

ملګرو باندې وڅکلې هغوی هم په ښه شان ماړه شول او بیا د ټولو نه روسته حضور ﷺ په خپله وڅکلې

ثُمَّ حَلَبَ فِيهِ ثَانِيًا بَعْدَ بَدْءٍ حَتَّى مَلَأَ الْإِنَاءَ

بیا په اولنی وار د لوشلو نه روسته حضور ﷺ دوباره هغه لوښي کې بزه ولوشله چې هغه لوښي د

ثُمَّ	غَادَرَهُ	عِنْدَهَا	وَبَايَعَهَا.	وَارْتَحَلُوا

شیدو نه ډک شو او هغه یئی یې ام معبد سره پریښودلي بیا حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ام معبد مسلمانه کړه او دهغې

عَنْهَا رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ وَابْنُ عَبْدِ الْبَرِّ فِي الْإِسْتِيْعَابِ وَابْنُ الْجَوْزِيِّ

نه روان شو دا روایت بغوي شرح السنه کي ابن عبدالبر استیعاب کي او ابن جوزي کتاب الوفاء کې

فِيْ كِتَابِ الْوَفَاءِ وَفِي الْحَدِيْثِ قِصَّةٌ

نقل کړی دی او حدیث کي دواقعي نورهم تفصیل شته.

توضیح : ام معبد: د یوې ښځې کنیه ده چې د هغې خوا ته حضور اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د هجرت په سفر کې د غار ثور نه بعد ورغلی وو او د هغې په چیلو کې د معجزې ظهور وشو.

مسنتین: یعنې په خشک سالی کې مبتلا قحط زده وو.

مرملین: د چا چې د سفر توښه ختمه وي هغه مرمل وي.

خلفها الجهد: یعنې په خپله د کمزورۍ په وجه د باقی وزو نه پاتې شوې ده په دې کې به شودې د کوم ځای نه شي؟

تفاجت: د شودو ورکولو لپاره یې دواړې پښې آزادې کړې.

درت: زیاتې شودې ورکولو ته وایي.

واجتر: شخوند یې شروع کړو.

یربض: دومره غټ لوښی چې د دریو نه تر نهو کسانو پورې د ښنبلو لپاره کافی وي.

ثجا: په زور داره طریقه سره د شودو ویستلو ته ویل کیږي.

البهاء: د شودو ویستلو په وخت چې شودو د پاسه ځګ راځي هغه مراد دی.

رویت: د سیراب کیدلو په معنی سره دی.

غادره: ای ترکه د پریښودلو په معنی سره دی، د برکت لپاره یې دوباره معجزاتی شودې وویستلې د هغوی سره یې پریښودلې، ام معبد مسلمانه شوه. خاوند یې چې کله راغی په کور کې یې شودې

وليدلې نو ويې پوښتل دا څه دي؟
ام معبد قصه ورته واوروله نو هغه وويل قسم په الله! دا په مکه کې ښکاره شوی پیغمبر دی، ما اراده کړې وه چې د هغه سره ملګری شم مګر هغه وخت ونه شو.
اوس کچیرې هغه وموموم نو په هغه باندې به ایمان راوړم، هلته د اهل مکه مخته یو غیبي هاتف په زورزور سره اشعار وویل چې اهل مکهو واو ریدل.

د ام معبد رضي الله عنها په واقعې باندې د غیبي هاتف منظوم کلام

حضور اکرم صلی الله علیه وسلم چې کله د حضرت صدیق رضي الله عنه سره د مکې نه مدینې ته هجرت وفرمایلو او د اهل مکو تفتیش ناکامه شو نو په مکه مکرمه کې د جبل ابو قبیس نه په اوچت آواز سره غیبي هاتف ډېر معنی خیز او عمده اشعار وویل! زه بلا ترجمه هغه نقل کوم، ملا علي القاري رحمه الله هغه په مرقات کې ذکر کړي دي:

جزی الله رب الناس خیر جزائه ... رفیقین حلا خیمتی ام معبد
هما نزلا بالهدی واهتدت به ... فقد فاز من امسی رفیق محمد
لیهن بنی کعب مقام فتاتهم ... ومقعدها للمؤمنین بمرصد
سلوا اختکم عن شاتها وانائها ... فانکم ان تسئلوا الشاة تشهد

د جناتو دغه قصیده چې کله د مکې مسلمانانو واوریده نو هغو ته یقین راغی چې حضور صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت فرمایلی دی.
د هجرت واقعې او د ام معبد قصې ته حضرت حسان رضي الله عنه هم اشاره کړې ده، یو څو اشعار ملاحظه کړئ:

لقد خاب قوم غاب عنهم نبیهم ... وقدس من یسری الیهم ویغتدی
لقد نزلت منه علی اهل یثرب ... رکاب هدی حلت علیهم باسعد
نبی یری ما لا یری الناس حوله ... ویتلوا کتاب الله فی کل مسجد
لیهن ابابکر سعادة جده ... بصحبته من یسعد الله یسعد
لیهن بنی کعب مقام فتاتها ... ومقعدها للمؤمنین بمرصد

ددې عاشقانه اشعارو په پیش نظر او د معجزاتو د اختتام نه بعد مناسبه معلومیږي چې د حضرت لعل شهباز قلندر رحمه الله فارسي کلام د عشق او فدائیت او جوش او فنائیت په حواله سره پیش کړی شي. لکه هغه فرمایې:

زعشق دوست هر ساعت درون نار می رقصم گهی در خاک می غلطم گهی بر خار می رقصم
نمی دانم چون مستانه دم دیدار می رقصم مگر نازم بدین ذوقی که پیشِ یار می رقصم
تو آن قاتل که از بهر تماشه خونِ من ریزی من آن بسمل که زیر خنجر خونخوار می رقصم
اگرچے قطره شبنم نه پوید بر سر خارے منم آن قطره شبنم به نوکِ خار می رقصم
شدم بدنام در عشقش بیا ای پارسا اکنون نمی ترسم زِرسوائی سر بازار می رقصم
منم عثمان مروندی که یارِ خواجه منصورم ملامت می کند خلقی ومن بر دار می رقصم

اللهم صل علی حبیبک و نبیک محمد صلی الله علیه وسلم

باب الکرامات

د کرامتونو بیان

قال الله تعالى: ﴿وَهُزِّيٓ إِلَيۡكِ بِجِذۡعِ ٱلنَّخۡلَةِ تُسَٰقِطۡ عَلَيۡكِ رُطَبٗا جَنِيّٗا﴾ (سورة مريم)

وقال الله تعالى: ﴿قَالَ ٱلَّذِي عِندَهُۥ عِلۡمٞ مِّنَ ٱلۡكِتَٰبِ أَنَا۠ ءَاتِيكَ بِهِۦ قَبۡلَ أَن يَرۡتَدَّ إِلَيۡكَ طَرۡفُكَ﴾ (سورة النمل)

کرامات جمع ده د دې مفرد کرامة دی چه د اکرام او تکریم په معنی سره دی ، په لغت کې کرامت د عزت او عظمت او توقیر په معنی سره دی لیکن په اصطلاح کښې کرامت د هغه خارق عادت کار نوم دی چه د یو نیک کاره او پرهیزګاره موو من په لاس باندې ظاهر شي لیکن هغه د نبوت دعویدار نه وي بلکه متبع سنت وي . د اهل سنت والجماعة په دې باندې اتفاق دی چه د اولیاء الله کرامت حق دی ، البته معتزله د کرامت د ظهور څخه انکار کوي . په قرآن کریم کښې الله تعالی د غیر انبیاوو کرامتونه ذکر کړي دي لکه د حضرت خضر کرامات دي په دې شرط چه هغه نبی نه وي او که نه نو هغه به معجزه وي ، واضحه دا ده چه خضر علیه السلام د یوه خفیه نظام نبی وو . همدارنګه د آصف بن برخیا کرامت دی ، همدارنګه د حضرت مریم کرامت او د ذوالقرنین کرامات دي ، د اصحاب کهف کرامات دي ، همدارنګه په زیر بحث احادیثو کښې د صحابه کرامو د کراماتو بیان دی . کرامت د یو ولی د ولایت علامت وي ، د هغه د الوهیت نښه نه وي لکه څنګه چه اهل بدعت کرامات د اولیاوو د الوهیت په طریقه باندې پیش کوي ، همدارنګه کرامت د کوم ولی په اختیار کښې نه وي ، کله کله خو یو ولی ته د خپل کرامت پته هم نه وي ، د بعضو علماوو خیال دی چه ممکنه ده چه کله کوم کرامت د یو ولی په اختیار کښې وي مګر عام طور باندې داسې نه وي . په هر حال اهل بدعت بریلویان لکه څنګه چه د حضور ﷺ د معجزاتو په وجه د علمي غلطی ښکار شوي دي او هغه یې د الوهیت په طریقه زده کړي دي همدارنګه هغوی ته په کراماتو کښې هم غلطی شوې ده او هغوی هر کرامت د ولی لپاره د صفت الوهیت دلیل ګڼي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د دوو صحابه کرامو کرامت

﴿۱﴾عَنْ	أَنَسٍ	أَنَّ	أُسَيْدَ	بْنَ	حُضَيْرٍ	وَ	عَبَّادَ	بْنَ	بِشْرٍ
حضرت انس رضي الله عنه بیان کوي یو ورځ دوه جلیل القدر صحابه حضرت أسید بن حُضیر رضي الله عنه او حضرت عباد بن بشر رضي الله عنه									
تَحَدَّثَا	عِنْدَ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فِي	حَاجَةٍ	لَهُمَا
د نبي کریم ﷺ په خدمت کې ناست وو خپلې اهمې معاملې کې یې خبری کولې او هغه خبرې									

حَتّٰى ذَهَبَ مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ فِيْ لَيْلَةٍ
دومره اوږدې شوې چه دهغه سلسله ډیر ساعت یعني د شپې تر ډیرې حصې پورې جارې وه او هغه
شَدِيْدَةِ الظُّلْمَةِ ثُمَّ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
شپه هم ډیره تیاره وه کله چه دا دواړه حضرات خپلو کورونو ته دبیرته تلو دپاره دنبي کریم ﷺ
يَنْقَلِبَانِ وَبِيَدِ كُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا عُصَيَّةٌ فَأَضَاءَتْ عَصَا
نه پاسیدو سره دباندې ووتل نو هغه وقت دهغو دواړو سره دهر یوه په لاس کې همسا وه هغو دواړو نه
أَحَدِهِمَا لَهُمَا حَتّٰى مَشَيَا فِيْ ضَوْئِهَا حَتّٰى إِذَا افْتَرَقَتْ
دیوه په لاس کې همسا روښانه شوه او دهغې په رڼا کې هغوی تلل تر دې پورې چه د دواړو لارې جدا
بِهِمَا الطَّرِيْقُ أَضَاءَتْ لِلْآخَرِ عَصَاهُ فَمَشٰى كُلُّ وَاحِدٍ
شوې نو د هغه دویم همسا هم روښانه شوه بیا هغوی دواړه دخپلې خپلې امسا په رڼا کې تلو سره خپل
مِّنْهُمَا فِيْ ضَوْءِ عَصَاهُ حَتّٰى بَلَغَ أَهْلَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
اهل او عیال یعني خپلو کورونو ته ورسیدل. [بخاری]

توضیح : ینقلبان: یعنې د حضور ﷺ د مجلس نه واپس کور ته تلل ، تر څو پورې چه د دیوې آمسا په رڼا باندې کار کیدلو نو په دویمې کښې رڼا نه وه ، دا دې خبرې ته اشاره ده چه اسراف جائز نه دی لیکن چه کله جدا کیدل نو اوس د بلې د رڼا ضرورت پیښ شو نو د هغه په آمسا کښې هم رڼایې راغله او کرامت ظاهره شو . کرامت د یو ولي د ولایت او عظمت دلیل وي ، نه د هغه د خدایې .

دجابر رضي الله عنه پلار چې څه ویلي ؤ هغه رنګ وشول

﴿۲﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ لَمَّا حَضَرَ أُحُدٌ دَعَانِيْ أَبِيْ مِنَ اللَّيْلِ
او حضرت جابر رضي الله عنه وایی ، کوم وقت چې جنګ احد پیښ شو ، نو دشپې زه خپل پلار را وغوښتلم او
فَقَالَ مَا أُرَانِيْ إِلَّا مَقْتُوْلًا فِيْ أَوَّلِ مَنْ يُّقْتَلُ مِنْ أَصْحَابِ
هغه راته وویل ، زما خیال دی ، چې په دې جنګ کې دنبی کریم ﷺ کوم صحابه وژل کیږي په هغوی
النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنِّيْ لَا أَتْرُكُ بَعْدِيْ
کې دټولو نه اول وژل شوی سړی به زه یم او په دې کې شک نشته چې زه په ځان پسې هیڅ داسې سړی نه پریږدم

أَعَزَّ عَلَيَّ مِنْكَ غَيْرَ نَفْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چې ما ته د تا نه زيات عزيز وي، په غير د رسول کريم ﷺ د ذات گرامي نه، نو تا ته ويل غواړم چې
وَ إِنَّ عَلَيَّ دَيْنًا فَاقْضِ وَ اسْتَوْصِ
ځما په ذمه ډيره قرضه ده هغه زر تر زره اداء کړه، او د خپلو خويندو په حق کې ځما دا وصيت واوره چې د
بِأَخَوَاتِكَ خَيْرًا فَأَصْبَحْنَا فَكَانَ أَوَّلَ قَتِيْلٍ
هغوی سره ښه سلوک کوه جابر رضي الله عنه وايي د هغه شپې نه روسته چې سهار شو نو ځما پلار شهيد کيدونکو کې اول سړی و
وَدَفَنْتُهُ مَعَ آخَرَ فِيْ قَبْرٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
او ما هغه ديو بل سړی سره په قبر کې يو ځای دفن کړو.

توضيح : اول من يقتل: يعني د شپې د حضرت جابر رضي الله عنه والد صاحب حضرت عبدالله رضي الله عنه خپل ځوی ته وويل چه د سبا په مقتولينو کښې به د ټولو نه اول زه يم او همداسې وشول، په دې جمله کښې کرامت ظاهر شو ځکه کوم څه يې چه ويلي وو هماغسې وشول.

په طعام کې د زيات والي کرامت

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ إِنَّ أَصْحَابَ الصُّفَّةِ كَانُوْا أُنَاسًا فُقَرَاءَ
او حضرت عبدالرحمٰن ابن ابي بکر رضي الله عنهما وايي چه اصحاب صفه رضي الله عنهم مفلس خلق وو يو ورځ
وَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ اثْنَيْنِ
رسول الله ﷺ صحابو رضي الله عنهم ته وفرمائيل کوم سړي سره چې دوو کسانو طعام وي هغه دي
فَلْيَذْهَبْ بِثَالِثٍ وَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ طَعَامُ أَرْبَعَةٍ فَلْيَذْهَبْ بِخَامِسٍ
دريم سړی د اصحاب صفه نه بوځي او کوم سړی سره چه د څلورو کسانو طعام وي هغه دي پنځم سړي
أَوْ سَادِسٍ وَ إِنَّ أَبَا بَكْرٍ جَاءَ بِثَلَاثَةٍ وَانْطَلَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يا شپږم سړی نه بوځي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دري کسان بوتلل او نبي کريم ﷺ
بِعَشَرَةٍ وَأَبَابَكْرٍ تَعَشَّى عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ لَبِثَ
لس ۱۰ کسان بوتلل او ابوبکر، د نبي ﷺ سره طعام وخوړلو وروسته د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر وو

حَتّٰى صُلِّيَتِ الْعِشَاءُ ثُمَّ رَجَعَ فَلَبِثَ حَتّٰى

تردې چه د ماخستن مونځ وشو روسته هم د حضور ﷺ کور ته راغی او هغه وقته پورې خدمت اقدس کې

تَعَشّٰى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَ

حاضر وو ترڅو چې نبي کريم ﷺ طعام نه وو خوړلی دغه شان حضرت ابوبکر، چې خپل کور ته اورسيدو

بَعْدَ مَا مَضٰى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ

نو د شپې څو مره حصه چه الله! غوښته تيره شوې وه او تر هغه وقته پورې نه صرف د هغه اهل او

قَالَتْ لَهٗ اِمْرَأَتُهٗ وَمَا حَبَسَكَ عَنْ

عيال بلکه د هغه ميلمنو هم کور کې انتظار کولو د داخليدو سره ښځې ورته ووېل څه شی ته د خپلو

اَضْيَافِكَ قَالَ أَوَمَا عَشَّيْتِيْهِمْ قَالَتْ

ميلمنو نه منع کړې حضرت ابوبکر، ووېل آيا تا تر اوسه پورې ميلمنو ته ډوډې نه ده ورکړې ښځې ووېل

أَبَوْا حَتّٰى تَجِيءَ فَغَضِبَ

دې ميلمنو ستا راتلو پورې د خوړلو نه انکار کړی وو حضرت ابوبکر، سخت غوسه شو ځکه چه د هغوئ

وَ قَالَ وَ اللّٰهِ لَا اَطْعَمُهٗ اَبَدًا

دا خيال راغی چه د کور والو کوتاهي ده نو هغوئ ووېل قسم په الله زه دا طعام هيڅ کله نه خورم بيا

فَحَلَفَتِ الْمَرْأَةُ اَنْ لَّا تَطْعَمَهٗ وَحَلَفَ الْاَضْيَافُ

د هغه ښځې هم قسم وخوړلو چه هغه هم هيڅ کله دا طعام نه خوري او ميلمنو هم قسم وکړو چه هغوئ هم

اَنْ لَّا يَطْعَمُوْهُ قَالَ اَبُوْبَكْرٍ كَانَ هٰذَا مِنَ

هغه طعام نه خوري بيا څو لمحو نه روسته ابوبکر رضی الله عنه ووېل زما داسې غوسه کيدل او قسم خوړل

الشَّيْطَانِ فَدَعَا بِالطَّعَامِ فَاَكَلَ وَاَكَلُوْا

د شيطان د وسوسې په سبب وه هغه طعام را وغوښته او بيا ټولو خلقو طعام وخوړو حضرت ابوبکر رضی الله عنه

فَجَعَلُوْا لَا يَرْفَعُوْنَ لُقْمَةً اِلَّا رَبَتْ مِنْ اَسْفَلِهَا اَكْثَرُ مِنْهَا فَقَالَ

او د هغوی ميلمنو چې به لو ښې نه خولې ته مړی او چتوله د هغې په ځاې به طعام نور زياتيدلو حضرت ابوبکر رضی الله عنه

لِامْرَاَتِهٖ	يَآاُخْتَ	بَنِيْ	فِرَاسٍ	مَا	هٰذَا	قَالَتْ

خپله ښځه مخاطب کولو سره وویل ای د بنو فراس خور! لړاو ګوره دا څه عجیبه معامله ده ښځې ورته وویل

وَقُرَّةِ	عَيْنِيْ	اِنَّهَا	الْاٰنَ	لَاَكْثَرُ	مِنْهَا	قَبْلَ	ذٰلِكَ	بِثَلَاثِ	مِرَارٍ

د خپلو سترګو په یخوالی دا د طعام لوښي څو مره چه مخکې ډک وو هغي نه دری چنده اوس زیات ډک دي

فَاَكَلُوْا	وَبَعَثَ	بِهَا	اِلَى	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

بهر حال ټولو طعام وخوړه بیا حضرت ابوبکر ,هغه طعام د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کي هم ولیږه

فَذُكِرَ	اَنَّهُ	اَكَلَ	مِنْهَا.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.	وَذُكِرَ	حَدِيْثُ	عَبْدِ	اللهِ	بْنِ مَسْعُوْدٍ

اوبیان کیږي چه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم د هغي طعام نه وخوړلو. [بخاری و مسلم] او د حضرت عبد الله ابن. مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ فِي الْمُعْجِزَاتِ.

روایت: كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ: باب المعجزات کي نقل شوی دی

توضیح: **اصحاب الصفة**: دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدرسې د طالب علمانو تعارف دی ،نن سبا په مسجد نبوی کښې یو مربع شکل ځای دی د هغه نوم صفه دی ، دا ځای د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روضې شاته دی ، دا مدرسه د مختلفو اغراضو لپاره قائم شوې وه ، په ایمرجنسی کښې دا جهادی مدرسه وه ، طالبان به جهاد ته وتل ، ګویا دا د محاذ جنګ لپاره قطعه منتظره وه ، کچیرې د جنګ زمانه به نه وه نو دغو طالبانو به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه علم زده کولو ، د خپلې خیټې پاللو لپاره به یې د ځنګل نه لرګي راوړل او په بازار کښې به یې خرڅول ، ددې طالبانو تعداد به کله ۸۰ او کله به د ۴۰۰ پورې رسیده ، حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دلته طالب العلم وو . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کلی په خلکو باندې ددوی خوراک مقرر کړی وو چه په کوم کور کښې د څومره کسانو خوراک تیاریږي هغه دې د اصحاب صفه نه یو طالب العلم هم د ځان سره بوځي او ډوډۍ دې ورې وخوري ، په زیر بحث قصه کښې حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل ځان سره درې کسان بوتلل او نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لس بوتلل، د نن سبا د طالبانو د وظیفو جمع کولو او د کورونو څخه د راوړلو فی الجمله ثبوت ملاویږي لکه څنګه چه په صوبه سرحد وغیره کښې دي ، اګرچه اصحاب صفه یې کورونو ته بیول لیکن په کلیوالو باندې د هغوی وظیفه مقرروه ، په هر حال یو څه ثبوت ملاویږي چه دا کافی ده .

اوماعشیتیهم: یعني تر اوسه پورې دې د ماښام ډوډۍ ورباندې خوړلې نه ده ؟

ابوا: يعني ميلمنو انکار وکړو چه تر څو پورې ته راغلې نه يې دوی ډوډۍ نه خوري.

لا اطعمه: يعني ابوبکر رضي الله عنه قسم وخوړ او ويې ويل چه زه به اوس د دوی سره ډوډۍ نه خورم، ام رومان رضي الله عنها هم وويل چه قسم په الله زه به هم ډوډۍ نه خورم، مليمنو هم د نه خوړلو قسم وکړو.

ربت: يعني د پاسه نه مونږ خوړلو او لاندې به ډوډۍ پيدا کيدله.

يا اخت بني فراس: حضرت ام رومان رضي الله عنها د ابوبکر صديق رضي الله عنه بي بي وه او د حضرت عائشې رضي الله عنها مور وه او د بني فراس قبيلې سره د هغې تعلق وو په دغه نسبت سره ابوبکر صديق رضي الله عنه ورته آواز وکړو، په دې قصه کښې کرامت ظاهره شو.

د نجاشي په قبر د نور کرامات ظاهر شو

﴿٤﴾عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا مَاتَ النَّجَاشِيُّ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ لَا يَزَالُ
بي بي عائشه رضي الله عنها وايي د نجاشي د وفات نه روسته زمونږ په منځ کې د دې خبرې چرچا وه چه د
يُرٰى عَلٰى قَبْرِهٖ نُوْرٌ. رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ.
نجاشي په قبر هميشه نور ښکاريږي.

توضيح: نجاشي د حبشې بادشاه وو، مسلمان شوی وو د صحابو خدمت يې کړی وو. په وفات کيدو باندې يې حضور صلی الله عليه وسلم جنازه وکړه، ملائکو يې جنازه د هغه مخې ته ايښې وه يا حجابات لرې شوي وو، د هغه د وفات کيدو نه بعد د هغه د قبر نه شعلې پورته کيدلې، د مدينې منورې خلکو په تلو راتلو کښې دغه نور وليدلو، همدا حضرت عائشې رضي الله عنها بيانوي، په دې کښې کرامت ظاهر شو.

جسد اطهر ته غسل ورکونکو ته د غيب نه رهنمايي

﴿٥﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ لَمَّا أَرَادُوْا غُسْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالُوْا
او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم جسد اطهر ته د غسل ورکولو اراده وکړی شوه نو هلته
لَا نَدْرِيْ أَنُجَرِّدُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثِيَابِهٖ
دا سوال راپورته شو چه آيا د رسول الله صلی الله عليه وسلم کپړې دې هم داسې وايستل شي لکه څرنګه چه مونږ
كَمَا نُجَرِّدُ مَوْتَانَا أَمْ نَغْسِلُهُ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ فَلَمَّا اخْتَلَفُوْا أَلْقَى اللّٰهُ
کله چه دې سوال باندې صحابه، کې دا ختلاف رايې اظهار وشو، نو الله تعالى هغه ټولو

عَلَيْهِمُ النَّوْمَ حَتّٰى مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلَّا وَذَقَنُهُ فِي صَدْرِهِ

خلقو باندې خوب راوسته تردې پورې چه هلته هیڅ یو سړی پاتې نه شو چه د هغه زنه د هغه سینه

ثُمَّ كَلَّمَهُمْ مُكَلِّمٌ مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ لَا يَدْرُوْنَ

باندې نه وې راغلې او بیا خلقو د کور دیو ګوټ نه داسې آواز واوریده چه هغه نه خلق بالکل نا واقف

مَنْ هُوَ اِغْسِلُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثِيَابُهُ

وو هغه وویل نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کالو کې د ننه غسل ورکړئ نو ټول خلق د ې آواز اوریدو سره هوښیار

فَقَامُوْا فَغَسَلُوْهُ وَعَلَيْهِ قَمِيْصُهُ يَصُبُّوْنَ

شو او راپاڅیدل او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام جسم مبارک ته یې کپړو کې د ننه داسې غسل ورکړلو چه هغه وقت

الْمَاءَ فَوْقَ الْقَمِيْصِ وَيَدْلُكُوْنَهُ بِالْقَمِيْصِ.

جسم اطهر باندې کوم قمیص وو په هغه به یې اوبه اچولې او په قمیص به یې بدن مبارک مښلو دا

رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

روایت بیهقي د لائل النبوة کې نقل کړی دی

توضیح: (اغسلوا) کوم شخص چه په غائبانه طور باندې راهنمائي کړې وه علماوو لیکلې دي چه حضرت خضر علیه السلام وو، په صحابه کرامو باندې د خوب طاری کیدل او د کور د کونج نه واز راتلل دا ټول کرامات دي، که د دې نسبت حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وکړې نو دا د هغه معجزه ده او که د دې نسبت صحابه کرامو ته وکړې نو دا کرامت دی.

علماوو لیکلي دي چه د امت د یو فرد نه د کرامت ظاهریدل د نبي لپاره د معجزې حیثیت لري، په زیر بحث حدیث کښې تصریح ده چه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د کپړو سره غسل ورکړی شو اګرچه علامه نووی رحمه الله لیکلي دي د کپړو سره حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته غسل ندی ورکړی شوی زیر بحث حدیث ضعیف دی، په هر حال دا د علامه نووی رحمه الله خیال دی او د هغوی تحقیق دی. ملا علي قاری رحمه الله وغیره په دې باندې هیڅ لیکلي نه دي.

د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د آزاد کړده غلام سفینه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ کرامت

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ أَنَّ سَفِيْنَةَ مَوْلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن منکدر رَحِمَهُ اللّٰهُ بیان کوي یو وار د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد کړده غلام حضرت سفینه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

أَخْطَأَ	الْجَيْشَ	بِأَرْضِ	الرُّومِ	أَوْ	أُسِرَ	فَانْطَلَقَ	هَارِبًا

رومی علاقه کي د لښکر لار تري غلطه شوه يا د دښمن په لاس ونيول شو بيا هغه د دښمن د قبضي نه

يَلْتَمِسُ	الْجَيْشَ	فَإِذَا	هُوَ	بِالْأَسَدِ

وتختيدو او د خپل لښکر په تلاش پسي شو دي دوران کي [يو ځنګل کي] هغه يو لوئی زمري سره

فَقَالَ	يَا	أَبَا	الْحَارِثِ

مخ شو هغه نه صرف دا چي خپل کيفيت يي بحال وساته بلکه د کنيت په ذريعه وويل ای ابو حارث!

أَنَا مَوْلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مِنْ أَمْرِيْ كَيْتَ وَكَيْتَ

زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم آزاد کړده غلام يم او ماته دا واقعه پيښه شوې ده چه زمانه د خپل لښکر لار

فَأَقْبَلَ	الْأَ	سَدُ	لَهُ	بَصْبَصَةٌ	حَتّٰى	قَامَ	إِلٰى جَنْبِهِ	كُلَّمَا

ورکه شوی ده زمري د دي اوريدو سره لکئ و خوځوله راغی د هغه سره اودريدلو بيا چه ديو

سَمِعَ	صَوْتًا	أَهْوٰى	إِلَيْهِ	ثُمَّ	أَقْبَلَ	يَمْشِيْ

طرف نه به د څه خوفناک درنده وغيره آواز راغی نو زمري به د هغه آواز طرف ته ورغروهل او بيا به

إِلٰى جَنْبِهِ	حَتّٰى	بَلَغَ	الْجَيْشَ

وروسته راتلو د غه شان هغه زمری د سفينه, سره څنګ په څنګ ورسره تلو تر دي چه سفينه رضی الله عنه

ثُمَّ رَجَعَ الْأَسَدُ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.

خپل لښکر ته ورسيده او زمری بيرته ترينه لاړو.

توضيح: سفينة: د حضرت ام سلمه رضی الله عنها يو غلام وو ، ام سلمه رضی الله عنها وغوښتل چه هغه آزاد کړئ مګر شرط يې دا کيښودو چه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې به پاتې کيږي ، هغه وويل چه تاسو ما آزاد کړې او شرط مه لګوئ د شرط نه بغير به د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې پاتې کيږم ، هغه غلام حضرت سفينه رضی الله عنه وو ، په هر حال حضرت سفينه رضی الله عنه ته آزادی ملاوو شوه بيا په شام کښې د صحابه کرامو سره په يوه جهاد کښې د هرقل فوجيانو د يو څو صحابه کرامو سره يو ځای بندی کړو ، د شپې حضرت سفينه رضی الله عنه په څه طريقه د کفارو د قيد نه آزاد شو او د مسلمانانو د کيمپ په طرف روان شو ، د شپې تياره وه لاره ترينه غلطه شوه هلته ورته د ځناورو خطره لاحقه شوه نو حضرت سفينه رض د زمری سره کلام وکړو او صورت حال يې ورته وويلو، چه

ای ابو الحارث ! زه د رسول الله ﷺ غلام یم لاره مې هیره کړې ده ، په دې سره زمرې لکۍ خوځوله او د هغه د حفاظت لپاره یې پیره شروع کړله ،کله به مخکې تللو او کله به وروسته شولو تر څو کوم ځناور ورته نقصان ونه رسوي تر دې چه هغه یې فوجي کیمپ ته ورسولو چه پدې سره د حضور اکرم ﷺ د آزاد کرده غلام حضرت سفینه رضی الله عنه کرامت ظاهره شو .

د حضرت سفینه رضی الله عنه اصلی نوم هیچا ته معلوم نه دی د جهاد په یو سفر کښې هغه د خپل سامان سره د ملګرو سامان هم پورته کړلو او بیا یو د ملګري مخې ته راتللو او خپل سامان به یې په ده باندې راوړلو او ده به پورته کولو ، په دغه حالت کښې حضور ﷺ و فرمایل (الت السفینة) یعنې په سامان پورته کولو کښې خو ته کشتۍ یې ، د همدې وخت نه د هغه نوم غائب شو او همدا لقب مشهوره شو ، تبلیغی حضرات په خپلو بیانونو کښې وایې چه حضرت سفینه رضی الله عنه د تبلیغ لپاره تللی وو او وګورئ د تبلیغ په لاره کښې ځناور څرنګه کومک کوي ؟ د دغو حضراتو دا بیان غلط دی هغوی ته په حدیث کښې تحریف کول پکار نه دي او که نه نو د الله په حضور کې به د غلط بیانۍ جواب ورکوي او جواب جوړیدلی نشي . په حدیث کښې د لشکر ذکر دی .

له بصبصة: سپی یا زمری یا ځناور چه کله د اطاعت او خوشحالۍ اظهار کوي نو هغه لکۍ خوځوي همدې ته بصبصة وایې ، یعنې زمری لکۍ خوځوله او راغی او هغه یې په حفاظت سره ښار ته ورساوه ، علامه بوصیری رحمه الله په قصیده برده کښې فرمایې :

ومن تکن برسول الله نصرته ان تلقه الاسد فی آجامها تجم

د حضور ﷺ د روضې نه کرامت ظاهر شو

﴿۷﴾ وَعَنْ	اَبِي	الْجَوْزَاءِ	قَالَ	قُحِطَ	أَهْلُ	الْمَدِيْنَةِ	قَحْطًا	شَدِيْدًا
او ابو الجوزاء وایي یو ځل د خشک سالۍ په وجه مدیني والا سخت قحط کي مبتلا شو نو هغوی.								
فَشَكَوْا	إِلَى	عَائِشَةَ	فَقَالَتِ	انْظُرُوْا	قَبْرَ			
ام المومنین بي بي عائشي رضی الله عنها ته د خپل مُصیبتونو او پریشانیو ذکر او کړو بي بي عائشي ورته								
النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	فَاجْعَلُوْا	مِنْهُ	كُوًى	
وویل چه تاسو نبي کریم ﷺ قبر مبارک ته رجوع وکړئ او د حجري د بام نه څه سوری [سوراخ]								
إِلَى	السَّمَاءِ	حَتَّى	لَايَكُوْنَ	بَيْنَهُ	وَبَيْنَ	السَّمَاءِ		
آسمان طرف ته داسي خلاص پریږدئ چه د قبر شریف او آسمان په منځ کي بام حائل نشي نو خلقو د								

سَقْفٌ	فَفَعَلُوْا	فَمُطِرُوْا	مَطَرًا	حَتّٰى	نَبَتَ	الْعُشْبُ

بي بي عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دوينا مطابق عمل وکړو ، بيا چه باران وشو نو دومره شينکي راشنه شوه [چه بنه

وَسَمِنَتِ	الْإِبِلُ	حَتّٰى	تَفَتَّقَتْ	مِنَ	الشَّحْمِ	

ډيرو خوړلو سره] او ښان څاربه شول تردې پورې چه دوازګي د زياتي په وجه د هغوی تشي اوپړسيدل

فَسُمِّيَ عَامَ الْفَتْقِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

او دهغه کال نوم [فتق] کيخودل شو.

توضيح : (کوی) ورکوټي کړکۍ ته وايي ، حضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت عائشي - په حجره کښي مدفون دی ، د حجرې لپاره چت دی په دغه چت کښي يوه وړوکې کړکۍ خلاصه شوې وه تر څو د آسمان او قبر تر مينځ کوم حائل نه وي ، د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مطلب يا خو دا وو چه کله آسمان د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر وګوري نو وبه ژاړي نو باران به وشي چه ديته د (**فمابكت عليهم السماء**) څخه اشاره ملاويږي چه په انبياوو او صلحاوو باندې آسمان ژړيږي. يا د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مطلب دا وو چه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغه په ژوند کښي په طور د سفارش پيش کولی شو نو باران به کيده اوس په طور د شفاعت قبر چه کله ظاهر کړی شي نو باران به وشي، لکه همداسې وشول ، په دې کښي د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا کرامت هم دی ، د روضه اطهر کرامت هم دی چه په حقيقت کښي د نبی معجزه وي .

(**تفتقت**) فتق چاودیدلو او خوريدلو ته ويل کيږي ، د زياتو شنو خوړلو په وجه د حيواناتو خيټې پړسيږي ګويا هغه چوي ، بيا د دغه کال نوم هم په دغه وجه عام الفتق شو .

د روضه اطهر نه يو بل کرامت ښکاره شوی ده

﴿۸﴾ وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ قَالَ لَمَّا كَانَ أَيَّامُ الْحَرَّةِ لَمْ يُؤَذَّنْ فِيْ مَسْجِدِ

او حضرت سعيد ابن عبد العزيز رَحِمَهُ اللّٰهُ بيان کوي چه د واقعه حرّه ورځو کي درې ورځو پورې مسجد

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا وَلَمْ يُقَمْ وَلَمْ يَبْرَحْ

نبوی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کي نه اذان وشو او نه تکبير وشو او نه حضرت سعيد ابن مسيب رَحِمَهُ اللّٰهُ مسجد نه د باندې

سَعِيْدُ ابْنُ الْمُسَيِّبِ الْمَسْجِدَ وَكَانَ لَا يَعْرِفُ وَقْتَ الصَّلَاةِ إِلَّا بِهَمْهَمَةٍ

راوتلای شو حضرت سعيد ابن مسيب رَحِمَهُ اللّٰهُ به د مونځ وخت صرف هغه کرار [آهسته] ګنګڼ په

يَسْمَعُهَا مِنْ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ .

شان آواز نه شناخت کوه چه د حضور ﷺ د قبر مبارک داخل نه راتلو سره به يې اوريده . [دارمی]

توضيح : (ايام الحرة) يزيد بد قسمته د شام نه يو لښکر ليږلی وو تر څو د اهل مدينه څخه د يزيد لپاره بيعت واخلي او که نه نو په هغو باندې به حمله کوي او مدينه به تاراج کوي . د حره په واقعه کښې د اهل مدينه سره د شاميانو سخت جنګ وشو او د مدينې لوی لوی صحابه شهيدان شول . په دغه موقع باندې مدينه په تاريکيو کښې ډوبه شوه ، نه به د ورځې پته لګيدله او نه د شپې ، په دې کښې د لمونځونو د اوقاتو مسئله پيدا شوله نو د روضه اطهر نه به د لمانځه په وخت کښې به د فرياد آواز پورته کيده چه د دينه به پته لګيدله چه د لمانځه وخت شو .

همهمة: کمزوري آواز ته ويل کيږي يعنې د فرياد پشان آواز به کيدلو .علامه الوسی رحمه الله په خپل تفسير روح المعانی کښې پاره ۲۶ ص ۷۲ باندې د يزيد مظالم ذکر کړي دي او په کربلا کښې د شهيدانو سرونه په شام کښې يزيد ته ليږل او د يزيد خوشحاليدل بلکه کلمه د کفر ويل په دې شان بيان شوي دي ، يو څو اشعار ملاحظه کړئ :

لما بدت تلک الحمول و اشرفت　　تلک الرووس علی شفا جيرون

ترجمه : چه کله د جيرون علاقې په کناره باندې دغه سوارلۍ او په هغو باندې راوړلی شوی سر ظاهره شو .

لعب الغراب فقلت قل او لا تقل　　فقد اقتضيت من الرسول ديونی

ترجمه : نو کارغه کاغ کاغ شروع کړو ، ماهغه ته وويل که ته کاغ کاغ کوې يا نه ما د رسول څخه د خپلو مقتولينو بدله واخيستله .

د علامه آلوسی رحمه الله خيال دی چه دا اشعار ثابت دي لهذا يزيد کافر دی ليکن د جمهورو علماوو په نزد يزيد کافر نه دی ، فاسق او فاجر دی ، دا اشعار يې په تفسير مظهری جلد ۵ صفحه ۲۷ کښې هم ليکلي دي .

د قسطنطنيه په جهاد کښې حضرت معاويه , يزيد وليږلو مګر هغه بهانه وکړه او ويې ويل چه زه مريض يم . هلته لښکر ته سخت تکليف ورسيده نو يزيد په طور د خوشحالۍ دا اشعار وويل :

لست ابالی بما لاقت جموعهم　　بفرقدونة من حُمّی و من حوم

ترجمه : په مقام فرقدونه کښې چه مجاهدينو ته کومه تبه ورسيده او د هغوی شونډې وچاودې ما ته د هغې هيڅ پرواه نشته .

اذا جلست علی الانماء متکأً　　بدیر مروان عند ام کلثوم

ترجمه : چه کله زه په دیر مروان کښې په قالینونو باندې د ام کلثوم سره تکیه کونکې کینم .
حضرت معاویه , ته چه کله معلومه شوه چه هغه په دوکې سره پاتې شوی دی نو هغه دوباره حکم جاری کړلو او هغه یې په دغه غزوه کښې ولیږه ، دا امیر هم پاتې شو مګر اعتبار آخری انجام ته دی ! هغه ته څه حق حاصل وو چه د حضرت حسین , په شهادت رسولو سره حکومت وکړي او په بیت الله باندې بمباري کولو سره حکومت حاصل کړي . د حره دغه واقعه په سنه ۶۳ هـ کښې پیښه شوې وه او څه وخت بعد یزید مړ شو ، یو څه تفصیلات په آینده کښې د فضائل حسین , لاندې راځي .

د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه کرامت ښکاره شو

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي خَلْدَةَ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي الْعَالِيَةِ سَمِعَ أَنَسٌ
او حضرت ابو خلده رَحِمَهُ اللهُ وایي ما د حضرت ابو العالیه رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه وکړه آیا حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ
مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ خَدَمَهُ
د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه حدیثونه آوریدلي دي؟ حضرت ابو العالیه رَحِمَهُ اللهُ جواب راکړو ، حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ
عَشْرَ سِنِيْنَ وَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کي د لس ۱۰ کاله پاتي کیدو شرف حاصل شوی دي او هغه ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وَكَانَ لَهُ بُسْتَانٌ يَحْمِلُ فِي كُلِّ سَنَةٍ اَلْفَاكِهَةَ مَرَّتَيْنِ
دُعا قبوله شوې ده د هغه چه کوم باغ وو هغه به په کال کي دوه واره میوه کوله او هغه باغ کي چه کوم
وَكَانَ فِيهَا رَيْحَانٌ يَجِيءُ مِنْهُ رِيحُ الْمِسْكِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
ګلونه وو هغه نه به د مشکو په شان خوشبويي راتله دا روایت ترمذی رَحِمَهُ اللهُ نقل کړی دی او ویلي
وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.
يي دي چه دا حدیث حسن غریب دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حضرت سعید ابن زید رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کرامت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ سَعِيْدَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو
حضرت عروه ابن زبیر بن العوام بیان کوي چه اروی بنت اُوس ته حضرت سعید ابن زید بن عمرو

بْنِ نُفَيْلٍ خَاصَمَتْهُ أَرْوَى بِنْتُ أَوْسٍ إِلَى مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ
بن نفیل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره جګړه وشوه نو د هغه خلاف فرياد اخستلو سره د مروان ابن حکم عدالت ته ورغله
وَادَّعَتْ أَنَّهُ أَخَذَ شَيْئًا مِنْ أَرْضِهَا فَقَالَ سَعِيدٌ
اروی دعوه وکړه چه سعيد ابن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما يوه ټوټه ځمکه په زور لاندې کړې ده حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
أَنَا كُنْتُ آخُذُ مِنْ أَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِي سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دې دعوې آوريدو سره وويل د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارشاد آوريدو نه روسته دا څرنګه کيدی شي چه
قَالَ مَاذَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
زه د دې ښځې ځمکه لاندې کړم مروان پوښتنه وکړه تا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه څه اوريدلي دي
قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ أَخَذَ شِبْرًا
حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته بيان وکړو ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا آوريدلي دي که يو سړی د چا يوه لويشت اندازه
مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ إِلَى سَبْعِ أَرَضِينَ
ځمکه هم په زور سره ونيسي نو الله تعالى د هغه ځمکې د اوو (۷) طبقو طوق جوړولو سره د هغه سړې
فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ لَا أَسْأَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هٰذَا
په غاړه کې واچوی مروان حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل دې دليل نه روسته زه د دې څه ضرورت نه
فَقَالَ سَعِيدٌ اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَاعْمِ بَصَرَهَا
لرم چه ستا نه نوره ګواهي طلب کړم او هغه وويل ای الله! که دا ښځه دروغجنه وي نو بينايي يې
وَاقْتُلْهَا فِي أَرْضِهَا قَالَ فَمَا مَاتَتْ حَتَّى ذَهَبَ بَصَرُهَا
واخله او د دې په ځمکه کې مرګ ورکړې حضرت عروه رَحِمَهُ اللهُ بيان کوي د مرګ نه مخکې هغه ښځه
وَبَيْنَمَا هِيَ تَمْشِيْ فِيْ أَرْضِهَا إِذْ وَقَعَتْ فِيْ حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ.
ړنده شوې وه يوه ورځ مذکوره ځمکه کې روانه وه اچانک يوه کنده کې وغورځيده او هم هلته مړه
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ
شوه. [بخاری و مسلم] او مسلم يو روايت کې چه حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بن زيد بن عبد الله

31

بْنِ	عُمَرَ	بِمَعْنَاهُ	وَإِنَّهُ	رَآهَا

ابن عُمر نه دا روایت هم معنٰی منقول دی داسي چه محمد رَحِمَهُ اللّٰه ابن زید یوه ورځ ولیدل چه

عَمْيَاءَ	تَلْتَمِسُ	الْجُدُرَ	تَقُوْلُ	أَصَابَتْنِيْ	دَعْوَةُ	سَعِيْدٍ

هغه ښځه ړنده شوې وه او دیو دیوال په سهاره روانه وه او ویل یې چه ماته د سعید ابن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بد دُعا

وَأَنَّهَا	مَرَّتْ	عَلٰى	بِئْرٍ	فِيْ	الدَّارِ	الَّتِيْ	خَاصَمَتْهُ

رسیدلي ده او بیا داسي وشو چه یوه ورځ هغه هغه کوهي [یعني ژوري کندې] سره تیریدله چه

فِيْهَا	فَوَقَعَتْ	فِيْهَا	فَكَانَتْ	قَبْرَهَا.

هغه مذکوره ځمکه کي واقع وو ناڅا په هغه کي ولویده او هغه کوهي د هغي قبر جوړ شو.

توضیح: حضرت سعید بن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شان والاصحابی دی، د عشره مبشره څخه دی، مذکوره ښځې په هغه باندې دعوه کړې وه چه ده زما ځمکه قبضه کړې ده. **لااسئلک بینة**: یعني زه منمه چه ددې حدیث یاد ساتلو سره تا ځمکه قبضه کړې نه ده (لیکن د قانون کاروائی ضروری ده یا به ګواه وي یا به قسم وي) په دې باندې حضرت سعید بن زید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ځمکه ترک کړه او دغې بد قسمته ښځې ته یې ښیرا وکړه، نتیجه یې دا شوه چه هماغه ځمکه د هغې ښځې لپاره قبر شو او بی ګور و کفنه ړنده په یوې ګنده کندې کې ولویده او مړه شوه. علامه طیبی رحمه الله چونکې شافعی دی هغه فرمایې چه کله د حضرت سعید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره ګواه نه وو نو د هغه نه قسم وغوښتلی شو او مروان وویل چه اوس بینه نشته نو صرف قسم کافی دی، په هرحال خبره هماغه ده چه حضرت سعید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قصه ختمه کړه، هائې افسوس! مروان حاکم دی او صحابي چې د عشره مبشره څخه دی د عدالت په ځای کې ولاړ دی.

د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ کرامت

﴿۱۱﴾	وَعَنِ	ابْنِ	عُمَرَ	أَنَّ	عُمَرَ	بَعَثَ	جَيْشًا	وَأَمَّرَ	عَلَيْهِمْ	رَجُلًا	يُدْعٰى

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راوی دي چه حضرت عمر, کوم لښکر لیږلي وو د هغه دفوج سپه سالار

سَارِيَةُ	فَبَيْنَمَا	عُمَرُ	يَخْطُبُ	فَجَعَلَ

ساریه نومي یو سړی جوړ کړی وو [یوه ورځ] چه فاروق اعظم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ [مسجد نبوی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کي] خطبه

يَصِيْحُ	يَا	سَارِيَ	الْجَبَلَ

ارشاد فرمائیله نو هغوئ [دوران خطبه کي] اچانک په چغه ویل شروع کړل چه ساریه! دغره طرف

فَقَدِمَ	رَسُوْلٌ	مِّنَ	الْجَيْشِ		
ته ولاړ شه دې آوریدو سره خلقو ته ډیر تعجب وشو او بیا چې کله د لښکر نه یو قاصد راغی او هغه					
فَقَالَ	يَا	أَمِيْرَ	الْمُوْمِنِيْنَ	لَقِيْنَا	عَدُوَّنَا
وویل چه امیرالموو منین! دښمن خو مونږ راګیر کړي وو او مونږ شکست سره مخ کیدونکي وو چه					
فَهَزَمُوْنَا	فَإِذَا	بِصَائِحٍ	يَصِيْحُ	يَاسَارِيَ	الْجَبَلَ
اچانک زمونږ په غوږونو کې د یو سړي آواز راغی چه په چغه یي وویل ساریه! د غره طرف ته ولاړ شه					
فَأَسْنَدْنَا	ظُهُوْرَنَا	إِلَى	الْجَبَلِ		
مونږ خپله مورچه پریښنو ده او غره طرف ته تللو سره غرمو خپل پشت پناه جوړ کړلو او بیا الله تعالیٰ					
فَهَزَمَهُمُ	اللهُ.	رَوَاهُ	الْبَيْهَقِيُّ	فِيْ دَلَائِلِ	النُّبُوَّةِ.
دشمنانو ته شکست ورکړلو . دا روایت بیهقي د لائل النبوة کي نقل کړی دی.					

توضیح : **یاساري**: د دغه صحابي نوم سارية وو ليکن دلته د ترخيم المنادي په طور باندې د هغه نوم یاساري اخیستل شوی دی. **الجبل**: یعني د غره خواته شه، غرډ شا خواته کړئ، د فارس په معرکو کې د قادسيې معرکه او د نهاوند معرکه د مشهور ترينو معرکو څخه دي، د نهاوند په معرکه کښې دښمن د شا له طرفنه حمله کولو والا وو چه حضرت عمر، د خطبې په دوران کښې په منبر نبوی باندې آواز وکړو چه د غره خواته شا کړئ يا يې وفرمايل د غره لخوا خطره ده، خلک ددې بې جوړه خبرې نه حیران شول چه د جمعې په خطبه کښې ددې کلام څه مطلب دی ؟ لیکن چه کله د هغه ځای نه خلک راغلل او په میدان جنګ کې یې د آواز اوریدلو قصه بیان کړه نو بیا په حقیقت باندې پوهه شو. په دې یوه واقعه کې د حضرت عمر رضي الله عنه څو کرامات ظاهره شو، اول کرامت دا چه هغه په نهاوند کښې د میدان جنګ نقشه د زړها وو میله لرې نه ولیده، دویم کرامت دا چه د مدینې څخه د هغه آواز دومره لرې ورسیده، دریم کرامت دا چه د جنګ نقشه هغه د مدینې منورې نه بدله کړه چه د هغې په برکت سره الله تعالی فتحه عطاء کړه. معلومه شوه چه د مسلمانانو عبادت لکه څنګه چه لمونځ، روژه او حج دي همدارنګه جهاد هم سنت پیغمبری او عبادت دی، یو چا رښتیا ویلي :

جنگ شاہان فتنہ و غارت گری است　　جنگ مومن سنت پیغمبری است

د حضرت کعب احبار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ کرامت

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ نُبَيْهَةَ بْنِ وَهْبٍ أَنَّ كَعْبًا دَخَلَ عَلٰى عَائِشَةَ

او حضرت نبیهه بن وهب بیان کوي چه یوه ورځ حضرت کعب احبار د اُم المومنین بي بي عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا

فَذَكَرُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ كَعْبٌ

په خدمت کي حاضر شو او هر کله چه هغه مجلس کي د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر وشو نو حضرت کعب وویل

مَا مِنْ يَوْمٍ يَّطْلَعُ اِلَّا نَزَلَ سَبْعُوْنَ اَلْفًا مِّنَ الْمَلَائِكَةِ

هیڅ ورځ داسي نه تیریږي مګر نمر ختو سره اویا زره ۷۰۰۰۰ فرشتي د آسمان نه راخکته کیږي

حَتّٰى يَحُفُّوْا بِقَبْرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

او هغه فرشتي د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر شریف باندي راکوزې شي قبر په خپله دائره کې واخلي

يَضْرِبُوْنَ بِأَجْنِحَتِهِمْ وَ يُصَلُّوْنَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

او خپلو وزرونو سره قبر وهي او رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود شریف وایي تردي پورې چه

حَتّٰى إِذَا أَمْسَوْا عَرَجُوْا وَهَبَطَ مِثْلُهُمْ فَصَنَعُوْا مِثْلَ ذٰلِكَ

مابنام شي نو هغه فرشتي آسمان ته ولاړې شي او [د هغوئ په شان اویا زره ۷۰۰۰۰] نوري فرشتي

إِذَا انْشَقَّتْ عَنْهُ الْأَرْضُ خَرَجَ فِيْ سَبْعِيْنَ اَلْفًا

راخکته کیږي چه د هغه ورځي واله فرشتو په شان سحر پوري دغه شان کوي دا سلسله به هغه وقته پورې وي چې

مِّنَ الْمَلَائِكَةِ يَزُفُّوْنَهُ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

شریف وچوي او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قبر نه راپورته کیږي او اویا زره ۷۰۰۰۰ فرشتي محبوب حبیب ته ورسوي.

توضیح : فقال کعب: کعب احبار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د تورات حافظ او د یهودو لوی عالم وو بیا د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه وروسته مسلمان شوی ؤ لهذا تابعی دی صحابی نه دی، کچیرې کعب احبار نه د کشف په ذریعه د دغو ملائکو پته لګیدلې وي نو دا د هغه کرامت دی او کچیرې د سابقه آسماني کتابونو څخه ورته معلومه شوې وي نو بیا کرامت نه دی بلکه علم دی . ددې روایت د کراماتو په باب کې د ذکر کولو نه معلومه شوه چه کعب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته په کشف سره معلومه شوه . **یزفونه:** یعني لکه څنګه چه یو محبوب بل محبوب ته د جلوس په شکل کې وړلی کیږي همدارنګه به ملائکې د قیامت په ورځ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی طرفته په د وقار نه ډک جلوس کښې وړي .

باب وفات النبي ﷺ

د نبي کريم ﷺ دوفات بيان

دلته دا باب د عنوان نه بغير اينبودلی شوی دی . صاحب د مشکوة کله کله دا سې کوي ، دغه قسم بلاعنوان باب اکثر او بيشتر د سابقه باب په ذيلي مضمون باندې مشتمل وي ليکن دلته دې باب ته د سابقه باب ذيلي مضمون ويل کيدلی نه شي ځکه سابقه باب په کرامتونو باندې مشتمل دی او دا باب د وفات النبی ﷺ په احاديثو باندې مشتمل دي لهذا تمامو شارحينو ويلي دي چې ددې بلاعنوان باب عنوان يقينا همدا دی باب وفات النبي ﷺ ، ددينه وروسته هم يو باب بلاعنوان راځي ليکن د هغه عنوان پخپله احاديثو ته په کتلو سره فهميږي چې ددې باب عنوان باب ترکة النبی ﷺ دی لهذا هغه باب ددې مذکوره باب سره بالکل ملحق او مناسب دی ، د هغه تمام احاديث د ترکې سره متعلق وي ،هغه باب د سابقه باب لپاره د ذيل په طريقه دی .

د نبي مکرم عليه السلام دوفات تاريخي پس منظر

۲۸ د صفر سنه ۱۱ هجری کې د حضورﷺ دبيمارۍ ابتداء وشوه او څوارلس ورځې بيمار وو ۱۲ د ربيع الاول د دوشنبې په ورځ د هغه وصال وشو ، په دې تاريخ کې هيڅ اختلاف يا هيڅ تردد نشته،په دغه وجه د ربيع الاول نوم مخکينو خلکو کې په باره وفات باندې مشهور وو . د حضور ﷺ د ولادت باسعادت تاريخ ۸ربيع الاول دی، بعض اهل تحقيق علماوو ۹ ربيع الاول ښودلی، ۹ربيع الاول د تاريخ سند په لحاظ سره اګرچې راجح دی ليکن د عوام الناس عمل ۱۲ربيع الاول متعين کړی دی ولې په تاريخي لحاظ باندې دا تاريخ کمزوری دی مګر وفات او ولادت که په يو تاريخ باندې شي نو په دې سره شايد امت مسلمه ته دا پيغام ورکول مقصود وي چې نه به دا ورځ په طور د ماتم لمانځل کيږي او نه به په طور د جشن لمانځل کيږي ځکه کوم شخص چې د حضور ﷺ په وفات باندې ماتم کول غواړي هغه ته به وويل شي چې ماتم مه کوه په دې ورځ خو د حضورﷺ د ولادت خوشحالی هم ده ، او کوم شخص چې جشن لمانځل غواړي هغه ته به وويل شي چې جشن مه لمانځه ځکه په دې ورځ کې خو د حضورﷺ انتقال هم شوی دی . په هر حال د بيمارۍ په دغو ورځو حضورﷺ په خپله لمونځونه ورنکړل بلکه حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د امامت لپاره مقرر کړو ، د ۱۷ المونځونو امامت حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه وکړو د وفات نه مخکې حضورﷺ د غزواتو په سلسله کې اخری لښکر جيش اسامه روان کړو او په خپل لاس سره يې د هغه جنګي جنډا وتړله،د امت لپاره د حضور ﷺ آخری جمله د لمانځه متعلق دا وه (الصلوة وماملکت ايمانکم) يعنې د لمانځه پابندی کوئ او په ماتحتو باندې ظلم مه

کوئ، ددېنه وروسته حضور صلی الله علیه وسلم د خپل رب سره مناجات وکړلو او ويې فرمايل : اللّٰهم الرفيق الاعلى، دا د هغه د مبارکې ژبې نه آخرى وتونکې کلمه ده . د هغه د وصيتونو څخه آخرى درې وصيتونه دا وو : (۱) د جزيرة العرب څخه يهودان وباسئ .(۲)جيش اسامه روان کړئ . (۳) وفد په داسې اعزاز او اکرام سره واپس کوئ لکه څنګه چې يې زه واپس کوم ، هغه ته په درېو سپينو کپړو کې کفن ورکړى شو او دفن کړى شو ،د دوشنبې او سې شنبې دوه ورځې د جنازې کولو اهتمام وشو او د چې ارشنبې په شپه هغه صلی الله علیه وسلم قبر شريف ته خکته کړى شو ، د هغه قبر د لحد په صورت کې وو ، په حجره عائشه کې چيرته چې وفات شو هملته دفن کړى شو ، د هغه په جنازه کې کوم امام مقرر نکړى شو بلکه هغه پخپله امام وو خلک به راتلل او انفرادى طور باندې به يې جنازه لوستله او تلل . د ټولو نه مخکې ملائکې راغللې بيا انسانانو جنازه وکړه ، جناتو هم جنازه ولوستله او بيا دفن کړى شو .

الا انما كانت وفات محمد	دليل على ان ليس لله غالب
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے	یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د حضور صلی الله علیه وسلم په راتګ باندې د اهل مدينو خوشحالى

﴿۱﴾عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ
حضرت براء ابن عازب رضی الله عنه وايي د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابو کې چې کوم حضرات د ټولو نه مخکې
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَابْنُ أُمِّ مَكْتُوْمٍ
مونږ ته راغلل هغه حضرت مصعب ابن عمير رضی الله عنه او حضرت ابن أم مکتوم رضی الله عنه وو دواړو حضراتو
فَجَعَلَ يُقْرِئَانِنَا الْقُرْآنَ ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ وَبِلَالٌ
راتلو سره مونږ ته د قرآن تعليم راکول شروع کړى وو بيا حضرت عمار ابن ياسر رضی الله عنه حضرت بلال ابن رباح رضی الله عنه
وَسَعْدٌ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ
او حضرت سعد ابن ابى وقاص رضی الله عنه راغلل او بيا حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه د نبى کريم صلی الله علیه وسلم
فِيْ عِشْرِيْنَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
شل صحابو رضی الله عنهم سره تشريف راوړه دوئ نه روسته نبى کريم صلی الله علیه وسلم راوړه حقيقت دادى

ثُمَّ جَآءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِيْنَةِ
په هغه ورځ چې د اهل مدینه نصیب وېښ شوی وو ما مدینې والې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تشریف آوري
فَرِحُوْا بِشَيْءٍ فَرَحَهُمْ بِهِ
خومره خوشحاله لیدلي وو دومره خوشحالي د څه لوی خوشحالۍ په موقع هم ورته نه وه حاصله شوې
حَتّٰى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا
مادي پورې ولیدل چې وړو وړو هلکانو او انجونو ډیرې خوشحالۍ نه دا نعرې وهلې دا د الله !
رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ
رسول دی چې زمونږ کلي ته یې تشریف راوړی دی او ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تشریف اوړئ نه مخکې
حَتّٰى قَرَأْتُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى فِيْ سُوَرٍ مِّثْلِهَا مِنَ الْمُفَصَّلِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ
د مفصل [یعني اوساط مفصل] هم مثلو سورتونو نه سورة سبح اسم ربک الاعلی زده کړې وو [بخاری]

توضیح : (الولائد) د ولیدة جمع ده ماشومانو ته وایي . په خوشحالۍ کې عامو خلکو د (جاء رسول الله هذا رسول الله قد جاء) په الفاظو سره استقبال کولو ، ماشومان به هم ورسره وو او ټولو به دا اشعار ویلو :

طلع البدر علینا من ثنیات الوداع وجب الشکر علینا ، ما دعا لله داع

ایها المبعوث فینا لقد جئت بالامر المطاع

بعضو ماشومانو به دا ویل :

نحن جوار من بنی النجار یا حبذا محمدا بجار

صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو نه زیات علم والا وو

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ
او حضرت ابو سعید خدری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر باندې تشریف کیناستلو او مونږ
فَقَالَ إِنَّ عَبْدًا خَيَّرَهُ اللهُ بَيْنَ أَنْ يُّؤْتِيَهُ مِنْ
ته یې وفرمائیل الله تعالی یو بنده ته د دوو ۲ څیزونو په منځ کې اختیار ورکړی دی که هغه د دې

زَهْرَةِ الدُّنْيَا مَا شَاءَ وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ فَاخْتَارَ مَا عِنْدَهُ

دنیا زیب او زینت اختیار کړي یا هغه شی اختیار کړي چې د الله تعالی سره دی حضرت ابوبکر رضی الله عنه

فَبَكٰى أَبُوْ بَكْرٍ قَالَ فَدَيْنَاكَ

یو دم په ژړا شو او عرض یې وکړو یا رسول الله! که زمونږ نذرانه څه په کار راتلی شي مونږ او

بِآبَائِنَا وَ أُمَّهَاتِنَا فَعَجِبْنَا لَهُ

زمونږ مور او پلار دې په تا سو قربان وي نو مونږ ته په حضرت ابوبکر رضی الله عنه سخت تعجب وشو ځني

فَقَالَ النَّاسُ انْظُرُوْا إِلٰى هٰذَا الشَّيْخِ يُخْبِرُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلقو یو بل ته وویل لږ دې مشر سړي ته وګورئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خو دیو بنده حال بیانوي چې

عَنْ عَبْدٍ خَيَّرَهُ اللهُ بَيْنَ أَنْ يُؤْتِيَهُ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا

الله تعالی هغه ته د دوه څیزونو اختیار ورکړی دی که د دنیا بهار اختیار کړي که د الله تعالی سره

وَبَيْنَ مَا عِنْدَهُ وَهُوَ يَقُوْلُ فَدَيْنَاكَ بِآبَائِنَا وَأُمَّهَاتِنَا

نعمتونه او دا مشر سړی وایي چې یا رسول الله مونږ او زمونږ مور او پلار دې په تا سو قربان وي

فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَالْمُخَيَّرُ

لیکن روسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وو بلاشبه حضرت ابوبکر رضی الله عنه زمونږ ټولو خلقو نه زیات پوهه وو

وَ كَانَ أَبُوْبَكْرٍ أَعْلَمَنَا . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(هغه په دې راز پوهیدو چې کوم بنده ته اختیار ورکړل کیږي هغه آنحضرت صلی الله علیه وسلم دی).

توضیح: د سوره نصر په نزول سره حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې الله تعالی یو بنده ته په دنیا کې د پاتې کیدو یا د تللو اختیار ورکړی دی دا حضور صلی الله علیه وسلم خپل متعلق فرمایل، عامو صحابو دا وګڼل چې د کوم بل بنده ذکر کوي مګر په اصل کې د سوره نصر نزول دې خبرې ته اشاره کوله چې د حضور صلی الله علیه وسلم دعوتی مشن په جزیره عرب کې تکمیل ته ورسیده او س هغه ته په ځمکه باندې د پاتې کیدو په ځای آسمانونو ته پورته کول پکار دي تر څو : رفیق اعلی سره ملاقات وشي. دغه اشاره او دقیق او عمیق علم حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه وپیژنده لهذا په ژړا شو، په دې سره صحابو ته معلومه شوه چې په دوی کې ابوبکر صدیق رضی الله عنه د زیات علم والا دی.

آخري مونځ او آخري خطاب

﴿۳﴾ وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ صَلّٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

او حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ديو داسي سړی په شان چې ژوندو

عَلٰى قَتْلٰى أُحُدٍ بَعْدَ ثَمَانِ سِنِيْنَ كَالْمُوَدِّعِ لِلْأَحْيَاءِ وَالْأَمْوَاتِ ثُمَّ طَلَعَ الْمِنْبَرَ

او مړو نه رخصت کيږي د اُحد شهيدانو باندې دهغوی دتدفين نه اته ۸ کاله روسته مونځ وکړو بيا منبرته

فَقَالَ إِنِّيْ بَيْنَ أَيْدِيْكُمْ فَرَطٌ وَأَنَا عَلَيْكُمْ شَهِيْدٌ

ختو سره مونږ ته فرمائيل زه ستا سو مخکي ستا سو امير منزل يم زه ستا سو شاهد يم ستا سو سره

وَإِنَّ مَوْعِدَكُمُ الْحَوْضُ وَإِنِّيْ لَأَنْظُرُ إِلَيْهِ

کړې وعدې پوره کولو ځاي حوض کوثر دی او يقين وکړئ زه دا وقت هم خپل منبر باندې ناست

وَ أَنَا فِيْ مَقَامِيْ هٰذَا وَإِنِّيْ قَدْ أُعْطِيْتُ مَفَاتِيْحَ خَزَائِنِ الْأَرْضِ وَإِنِّيْ لَسْتُ

حوض کوثر وينم او دي کي څه شک شبه نشته چې ماته دځمکي دخزانو چابيانې راکړی شوې دي

أَخْشٰى عَلَيْكُمْ أَنْ تُشْرِكُوْا بَعْدِيْ وَلٰكِنِّيْ

او زه دي خبري نه خونه يېريږم چې تا سو به زما نه روسته کفر او شرک اختيار کړئ البته ما سره دا

أَخْشٰى عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا أَنْ تَنَافَسُوْا فِيْهَا وَزَادَ

ويره ضرور ده چې دُنيا کي به ستا سو دلچسپي زياته شي بعضي راويانو دلته دا الفاظ هم نقل

بَعْضُهُمْ فَتَقْتَتِلُوْا فَتَهْلِكُوْا كَمَا هَلَكَ

کړي دي چې تا سو به ديو بل قتلول شروع کړئ او بيا به داسي دهلاکت او تباهی ښکار شئ څرنګه

مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

چې مخکني خلق هلاک او تباه شوی وو.

توضيح: صلی علی قتلی: د تدفين نه بعد د دريو ورځو نه زيات تيريدلو نه بعد د چا په قبر باندې جنازه نه کيږي، همدارنګه د چا په قبر باندې چې جنازه شوې وي د هغه په قبر باندې هم جنازه نه کيږي، دلته چې څه شوي دي دا د حضور صلی الله علیه وسلم د خصوصياتو څخه دي. بعضو صلی په معنی د دُعا سره اخسيتی دی بيا خو هيڅ خبره نشته.

کالمودع: د ژوندیو رخصتول خو واضحه دي او د مړو رخصت کولو مطلب دا دی چې د مړو قبرونو ته راتلل او هغوی ته دعاء کول دا سلسله اوس ختمه شوه ګویا هغه دا ټول رخصت کړل.

فرط: هغه شخص ته ویل کیږي چې د راتلونکې لپاره د مخکې نه د ځای او سامان تیارولو سره انتظام وکړي. حضور ﷺ د ټول امت لپاره په طور د شفیع المذنبین مخکې لاړه.

شهید: د دې معنی د حاضر ناظر نه ده بلکه دا امت چې کله په سابقه امتونو باندې ګواهي وکړي نو هغوی به جرحه وکړي او وبه وایې چې دا خلک خو زمونږ په زمانه کې نه وو، په مونږ باندې د دوی ګواهي غلطه ده، د دغې جرحې د تزکیې لپاره به حضور اکرم ﷺ ګواهي ورکوي چې زما امت صحیح ویلي لکه په قرآن کې چې دي ﴿لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾ کچیرې د شهید معنی د حاضر او ناظر وي نو بیا به دا امت د خپل نبی نه زیات حاضر ناظر شي ځکه امت خو په ټولو انسانانو باندې ګواه دی او نبي مکرم ﷺ صرف په خپل امت باندې ګواه دی. **خزائن الارض:** یعنې د دنیا خزانې به زما امت ته حاصلې شي ځکه دوی به جهاد کوي نو خزانې به ورته ملاؤ شي، مال غنیمت به لاس ته ورشي.

د حضور اکرم ﷺ ژوند مبارک وروستني لمحات

﴿۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ إِنَّ مِنْ نِعَمِ اللهِ تَعَالَى عَلَيَّ أَنَّ
او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي الله تعالى چې خپلو کومو انعاماتو سره زه خصوصي طور سره ونازولم
رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُوُفِّيَ فِي بَيْتِي
هغه کې یو دا هم دی چې رسول الله ﷺ زما کور کې او زما د واره په ورځ وفات شو، حضور ﷺ زما
وَفِي يَوْمِي وَبَيْنَ سَحْرِي وَنَحْرِي وَأَنَّ اللهَ
د سیني او اوږې په منځ کې خپل ځان حق تعالی ته وسپاره او الله تعالی د حضور ﷺ د وفات په
جَمَعَ بَيْنَ رِيقِي وَرِيقِهِ عِنْدَ مَوْتِهِ
وقت زما او د حضور ﷺ لعاب لاړې جمع کړې وې چې هغه آخري لمحاتو کې زما ورور روح
دَخَلَ عَلَيَّ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ وَ بِيَدِهِ سِوَاكٌ
مبارک يې پرواز وکړو عبد الرحمن ابن ابي بکر رضي الله عنه چې ماته راغلي نو د هغه لاس کې مسواک وو

وَ أَنَا مُسْنِدَتُهُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ

اورسول الله صلى الله عليه وسلم زما سينې سره تکيه لګولې ناست وو ما وليدل چې د حضور صلى الله عليه وسلم نظر بار بار

إِلَيْهِ وَ عَرَفْتُ أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ

عبد الرحمٰن طرف ته يا دهغه د مسواک طرفته پورته کيده زه په دې خبره پوهيدم چې حضور صلى الله عليه وسلم به

آخُذُهُ لَكَ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ

مسواک ډير خوښوه ما وويل آيا عبد الرحمٰن نه دا مسواک ستا سو د پاره واخلم حضور صلى الله عليه وسلم

فَتَنَاوَلْتُهُ فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ

د سر په اشارې سره وښودل چې هو راوائې خله ما د عبد الرحمٰن نه مسواک واخستلو او هغه ته مې

وَ قُلْتُ أُلَيِّنُهُ لَكَ

ورکړو حضور صلى الله عليه وسلم وهل وغوښتل او د مشکل احساس يې وکړو ما عرض وکړې آيا نرم يې

فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ أَنْ نَعَمْ فَلَيَّنْتُهُ فَأَمَرَّهُ وَ بَيْنَ

[پوست] اکړم حضور صلى الله عليه وسلم د سر په اشاره سره يې اجازه راکړه نو ما مسواک نرم کړو او حضور صلى الله عليه وسلم

يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فِيْهَا مَاءٌ فَجَعَلَ

هغه مسواک خپلو غاښونو مبارکو باندې راتيروه د حضور صلى الله عليه وسلم مخ ته د اوبو لوښي ايښودل

يُدْخِلُ يَدَيْهِ فِي الْمَاءِ فَيَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهُ

شوي وو هغه ابوکي به يې خپل دواړه لاسونه مبارک لمده ول او په خپل مخ مبارک راتيرول او

وَيَقُوْلُ لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ إِنَّ لِلْمَوْتِ سَكَرَاتٍ ثُمَّ نَصَبَ

فرمائيل به يې: لااله الاالله: د مرګ په وقت سختي وي بيا حضور صلى الله عليه وسلم د دُعا د پاره لاس مبارک يې

يَدَهُ فَجَعَلَ يَقُوْلُ فِي الرَّفِيْقِ الْأَعْلٰى حَتّٰى قُبِضَ

پورته کړو او دا ويل يې شروع کړه اى الله! ما رفيق اعلىٰ کې شامل کړه تر دې حاله چې روح يې

وَ مَالَتْ يَدُهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

پرواز وکړو او لاس مبارک يې لاندې وغورځيدل

توضیح: حضرت عائشه رضی الله عنها په دې باندې فخر کوي چې د حضور ﷺ د حیات آخری لمحات او آخری خدمات حضرت عائشي رضی الله عنها سر ته ورسول.

في بيتي: یعنې په حجره د عائشه رضی الله عنها کې یې انتقال وشو.

يومي: یعنې زما په وار کې یې انتقال وشو، د حضور اکرم ﷺ په خوښه ازواج مطهرات خپل نوبتونه حضرت عائشي رضی الله عنها ته ورکړل مګر د الله تعالی خوښه داسې وه چې د حضور ﷺ انتقال په هغو ورځو کې وشو چې د حضرت عائشه رض نوبت راغی.

بين سحري و نحري: سحر سینې ته وایې او نحر غاړې ته وایې، مطلب دا دی چې الله تعالی د حضور ﷺ آخری لمحاتو کې ماته د هغه سره هغه قرب عطاء کړلو چې زما د سینې په مینځ کې هغه ﷺ آرام فرمایلو. د غاړې هډوکې ته نحر ویل شوی دی، غاړه مراد ده.

ريقي: د جسمانی قرب سره الله تعالی روحانی قرب عطاء کړلو چې زما لاړې او د حضرت لاړې یې د مسواک په واسطه جمع کړلې. **امرّه**: په خوله کې یې مسواک وګرځولو. استعمال یې کړلو.

انبیاو ته د مرګ نه مخکې اختیار

﴿۵﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَا مِنْ نَّبِيٍّ يَّمْرَضُ
بي بي عائشه رضی الله عنها وایې ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل هر نبي ته د هغه په مرض الموت کې د دنیا
إِلَّا خُيِّرَ بَيْنَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَكَانَ فِيْ شَكْوَاهُ الَّذِيْ
او آخرت په منځ کې اختیار ورکول کیږي بیا چې حضور ﷺ په مرض الموت مبتلا شو او آواز یې
قُبِضَ أَخَذَتْهُ بُحَّةٌ شَدِيْدَةٌ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ مَعَ
سخت درون شونو هغه وقت ما واوریدل چې د حضور ﷺ په ژبه مبارکه دا الفاظ وو الهٰی! ما په هغه
الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ
خلقو کې شامل کړې چې تا پرې فضل او انعام کړی دی چې هغه انبیاء صدیقین شهداء او صالحین
فَعَلِمْتُ أَنَّهُ خُيِّرَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
دي دې دعائیه الفاظو نه زه پوهه شوم چې حضور ﷺ ته اختیار ورکړی شوی دی.

توضیح: **خير**: دنیا ته چې څومره انسانان راغلي دي ټولو ته د مرګ په وخت کې ملائکه روح اخلي او هیڅ مهلت نه ورکول کیږي، صرف انبیاء کرامو ته دا اعزاز حاصل دی چې د مرګ نه

مخکې هغه ته ملائکه د الله تعالی پیغام راوړي چې د نبی څه خیال دی، زما طرفته راځي او که په دنیا کې پاتې کیدل غواړي؟ ټولو انبیاوو الله تعالی طرفته تلل غوره کړي دي، دا اجازت صرف یو اعزاز او اکرام دی، همدا معامله د حضور ﷺ سره هم وشوه لکه څنګه چې په آینده حدیث کې به راشي.

بحة: په باء باندې ضمه ده په حاء باندې شد دی ټوخي ته هم وایې او په ستوني کې د تکلیف په وجه آواز کې غټوالی راتللو ته هم ویل کیږي.

د حضور ﷺ په وفات باندې د بي بي فاطمه رضي الله عنها غم

﴿۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت انس رضي الله عنه بیان کوی کله چې نبي کریم ﷺ حالت ډیر بدل شو او د مرض د سختۍ نه به

جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ الْكَرْبُ فَقَالَتْ فَاطِمَةُ وَا كَرْبَ أَبَاهُ

په هغه بیهوشي راتله نو بي بي فاطمي رضي الله عنها به دا ویل های زما بابا جان څرنګه سختۍ نیولی دی

فَقَالَ لَهَا لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ

حضور ﷺ د هغې مخاطب کولو سره وفرمائیل د نن ورځې نه روسته ستا بابا جان ته

كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ

هیڅ سختی نشته مطلب دا وو چې سختۍ د مرض د شدت دوجې نه ده او د دې سختۍ احساس او اظهار جسم سره د تعلق

فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ

لرلو په سبب دی لیکن د نن ورځې نه روسته هر کله چې د دې جسم سره تعلق ختم شي او صرف روحاني او معنوي علائق پاتي شي نو

يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ

یا به سکون او سکون وي او بیا چې نبی علیه السلام وفات شو نو د بي بي فاطمي رضي الله عنها د ژبې نه دا الفاظ ووتل ای زما بابا جانه!

يَا أَبَتَاهُ مِنْ جَنَّةِ الْفِرْدَوْسِ

الله! ته ځان ته وبللي او تا سو خپل پروردګار ته ولاړې ای زما بابا جانه! ای هغه مقدس ذاته! چې د هغه مستقر جنت الفردوس

مَأْوَاهُ يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرَئِيلَ نَنْعَاهُ

دې ای زما بابا جانه! مونږ ستا سو د وفات خبر جبرایل علیه السلام ته رسوو روسته چې

فَلَمَّا	دُفِنَ	قَالَتْ	فَاطِمَةُ	يَا	أَنَسُ	أَطَابَتْ	أَنْفُسُكُمْ

حضور صلی الله علیه وسلم د فن کړل شو نو بي بي فاطمي رضي الله عنها بې اختیاره کیدو سره وویل ای انس رضي الله عنه تاسو

أَنْ تَحْثُوْا عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

خلقو دا څرنګه برداشت کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې مو خاوري واچولي.

توضیح : یتغشاه الکرب: کرب ناقابل برداشت سخت غم ته ویل کیږي دلته بیهوشه کیدل مراد دي او **یتغشی** د راګیرولو په معنی سره دی . په حضور صلی الله علیه وسلم باندې به چې کله د مرض د شدت په وجه غشی طاری کیدله نو فاطمة الزهراء رضي الله عنها به فریاد شروع کړلو او ویل به یې : واکرب اباه، هائ د اباجان مصیبته! حضرت فاطمة رضي الله عنها په دریو مرحلو کې د حضور صلی الله علیه وسلم نه په جدا جدا انداز کې د غم اظهار فرمایلی دی ،یو د مریضتیا په مرحله کې ، دویم د وفات نه بعد ، او دریم د تدفین نه بعد ، په دریو واړو مرحلو کې یې د انتهائی درد انداز سره د غم اظهار کړی دی .

لیس علی ابیک: حضور صلی الله علیه وسلم حضرت فاطمه رضي الله عنها ته تسلي ورکړه چې د نن نه بعد به ستا په اباجان باندې هیڅ تکلیف نه وي ، دا جسماني بوج دی چې کله ختم شي نو د همیشه لپاره به ختم شي .

یاابتاه: په دې جمله کې الف د ندبې لپاره دی یعنې هائ زما خوږه پلاره ! **(الی جبرئیل ننعاه)** یعنې ستا د موت خبر مونږ جبرئیل امین ته ورکوو ځکه په دنیا کې د غه دواړه محبوبه یو د بل په غم کې سره شریک وو .

اطابت انفسکم: یعني ای انس رضي الله عنه! ستاسو زړونو دا څنګه قبوله کړه چې په خپلو لاسونو باندې مو د حضور صلی الله علیه وسلم په قبر باندې خاورې واچولې . وایې حضرت فاطمه رضي الله عنها د حضور صلی الله علیه وسلم د تدفین نه بعد قبر ته لاړه او په ژړا ژړا یې دا اشعار وویل :

ماذا علی من شم تربة احمد — ان لایشم مدی الزمان غوالیا

صبت علی مصائب لو انها — صبت علی الایام صرن لیالیا

وایې د حضرت فاطمه رضي الله عنها په دغه سخت غم باندې د حضور صلی الله علیه وسلم د تره زوی ابوسفیان بن حارث په طور د تسلی حضرت فاطمه رضي الله عنها ته داسې تعزیت ورکړو :

افاطم ان جزعت فذاک عذر — وان لم تجزعی ذاک السبیل

فقبر ابیک سید کل قبر — وفیه سید الناس الرسول

یو عاشق رسول روضه اقدس ته حاضری ورکړه نو د حضور صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په مخاطب کولو سره يې وويل، ترننه پورې دغه اشعار په روضه اقدس باندې ليکلي دي، د ترجمې سره يې ملاحظه کړئ:

یا خیر من دفنت بالقاع اعظمه فطاب من طیبهن القاع والاکم

ترجمه: ای رسول صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ! د چا جسد مبارک چې په خلاص ميدان کې دفن شوی دی، چې د هغه د خوشبو نه ميدان او غونډۍ خوشبوداره شوي دي.

نفسي الفداء لقبر انت ساكنه فيه العفاف وفيه الجود والكرم

ترجمه: زما نفس دې په هغه قبر باندې قربان وي په کوم کې چې ته آرام کوې. ګويا په قبر کې شرافت و سخاوت او عظمت موجود دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

داهل مدينه لپاره د حضور اکرم صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د راتګ خوشحالی او د وفات غم

﴿۷﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ لَعِبَتِ الْحَبَشَةُ

حضرت انس رَضِيَاللهُعَنْهُ وايي کله چې رسول الله صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ په مدينه کې نزول اجلال فرمائيلی وو نو حبشيانو

بِحِرَابِهِمْ فَرَحًا لِقُدُوْمِهِ رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَفِيْ رِوَايَةِ الدَّارِمِيِّ

د نيزه بازۍ کرتب خو دلی وو دا روايت ابوداود نقل کړی دی او دارمي چې کوم روايت نقل

قَالَ مَا رَأَيْتُ يَوْمًا قَطُّ كَانَ أَحْسَنَ

کړی دی هغه کې داسې دي چې حضرت انس رَضِيَاللهُعَنْهُ وويل ما دهغه ورځې نه زياته حسينه

وَلَا أَضْوَءَ مِنْ يَوْمٍ دَخَلَ عَلَيْنَا فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او روښانه ورځ هيڅ کله نه وه ليدلي په کومه ورځ چې مدينه کې زمونږ په منځ رسول الله صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ

وَمَا رَأَيْتُ يَوْمًا كَانَ أَقْبَحَ وَأَظْلَمَ مِنْ يَوْمٍ

تشريف راوړو او ما دهغه ورځې نه زياته خرابه او تياره [تاريکه] ورځ بله نه وه ليدلي په کومه ورځ

مَاتَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ لَمَّا كَانَ الْيَوْمُ

چې رسول الله صَلَّاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ وفات شو او د ترمذی روايت کې دي حضرت انس رَضِيَاللهُعَنْهُ وويل هر کله چې

الَّذِيْ دَخَلَ فِيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ أَضَاءَ مِنْهَا كُلُّ شَيْءٍ
هغه ورځ راغله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدیني ته تشریف راوړو نو د مدیني هر شی باندې نُور وغوړیده او
فَلَمَّا كَانَ الْيَوْمُ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ أَظْلَمَ كُلُّ شَيْءٍ
هر کله چې هغه ورځ راغله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو نو هر شی تیاره [تاریکی] کې غرق شو او د.
وَمَا نَفَضْنَا أَيْدِيَنَا عَنِ التُّرَابِ وَإِنَّا
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دفن کولو نه روسته مونږ خپلو لاسونو نه خاوري هم لا نه وي څنډلي بلکه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
لَفِيْ دَفْنِهِ حَتّٰى أَنْكَرْنَا قُلُوْبَنَا.
دفن کولو کي مشغول وو چې خپلو زړونو کي مو دیوبل نه نا آشنایي محسوسه کړې وه

توضیح: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وفات سره دومره روحاني اثر وشو چې د خاورو نه د لاسونو د ټک وهلو نه مخکې مخکې د ژوندیو خلکو په زړونو باندې اثر وشو او د مخکې پشان روحانیت پاتې نشو نو نن سبا یو نیم زر کاله وروسته به د خلکو څه حال وي ... ؟

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تدفین ځای د الله تعالی خوښ وو

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا قُبِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَلَفُوْا فِيْ دَفْنِهِ
او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي رسول الله چې وفات شو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تدفین باره کښې د صحابو
فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
په منځ کې اختلاف راپیدا شو نو ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل چې ما په خپله د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یوه
شَيْئًا قَالَ مَا قَبَضَ اللهُ نَبِيًّا إِلاَّ فِي الْمَوْضِعِ
خبره آوریدلې وه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلي وو الله تعالی د هر نبي روح هغه ځاي کې قبض کوي چیرته
الَّذِيْ يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيْهِ اِدْفِنُوْهُ
چې هغه نبي وغواړي نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ځاي کي دفن کول پکار دي چیرته چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د
فِيْ مَوْضِعِ فِرَاشِهِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
مرګ په بستره باندې وو اوچیرته چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شوی دی.

توضیح: اختلفوا: یعني د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تدفین په باره کې د صحابه کرامو رضی الله عنهم به

مینځ کې اختلاف راغی، بعضو وویل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې په مکه مکرمه کې دفن کړی شي، بعضو په بیت المقدس کې د دفن کولو مشوره ورکړه، بعضو په مدینه کې په بقیع غرقد کې د دفن کولو وویل، بیا صحابه کرامو د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه نو هغه حدیث ورته واورولو . . .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند آخرنۍ خبره

﴿۹﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَهُوَ صَحِيْحٌ

د بي بي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا یان دی د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې تندرستۍ په زمانه کې به يې فرمائيل د

إِنَّهُ لَنْ يُّقْبَضَ نَبِيٌّ حَتّٰى يُرٰى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ

هیڅ نبي روح هغه وقته پورې نه قبض کيږي څو پورې چې جنت کې د هغه مستقر نبودلو سره هغه ته

ثُمَّ يُخَيَّرُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَلَمَّا نَزَلَ بِهِ

اختيار ورنه کړی شي د دې نه روسته بي بي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا یان وکړو هر کله چې مرض الموت کې د

وَرَأْسُهُ عَلٰى فَخِذِيْ غُشِيَ عَلَيْهِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات وخت نژدې راغی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سر مبارک زما پر ورانه وو او هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بار

ثُمَّ أَفَاقَ فَأَشْخَصَ بَصَرَهُ إِلَى السَّقْفِ ثُمَّ قَالَ

باربیهوشه کیدو یو وار چې هوش کې راغی نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چت طرف ته نظر پورته کړو وي فرمائيل

اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْأَعْلٰى قُلْتُ إِذَنْ لَا يَخْتَارُنَا قَالَتْ وَعَرَفْتُ

الٰهي! زه رفيق اعلٰی خوښوم ما وويل اوس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ یعني د دُنیا ژوند ناخوښه کړو ځکه

أَنَّهُ الْحَدِيْثُ الَّذِيْ كَانَ يُحَدِّثُنَا بِهِ وَهُوَ صَحِيْحٌ

چې ماته هغه ارشاد گرامی رایاد شو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تندرستۍ په زمانه کې فرمائيلي وو چې د

فِيْ قَوْلِهٖ أَنَّهُ لَنْ يُّقْبَضَ نَبِيٌّ قَطُّ حَتّٰى يُرٰى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ ثُمَّ

هیڅ نبي روح هغه وقته پورې نه قبض کيږي څو پورې چې جنت کې د هغه مستقر ورته نبودلو سره

يُخَيَّرُ قَالَتْ عَائِشَةُ فَكَانَتْ آخِرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَ بِهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اختيار ورنه کړی شو بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا یان کوي د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې نه چې کوم آخری

قَوْلُهُ اَللّٰهُمَّ الرَّفِيْقَ الْاَعْلٰى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

الفاظ وختل هغه دا اللهم رفيق الاعلى الفاظ وو.

توضیح: (افاق) په هوش کې راتللو ته افاقه ویل کیږي. **(اشخص بصره)** چت چونکې د آسمان په جهت کې وو ځکه یې هغه ته وکتل ولې مقصود د آسمان طرفته نظر پورته کولو سره کتل وو، په دې حدیث کې د هغه آخري کلمه ذکر ده، په بل روایت کې .یوه کلمه د امت لپاره ده چې لمونځ کوئ او په ماتحت خلک باندې ظلم مه کوئ، د پیدا کیدو په وخت هغه اوله کلمه الله اکبر اداء کړې وه او په عهد د الست کې ټولو نه مخکې هغه د (بلی) لفظ اداء کړلو او یوه کلمه یې د خپل رب لپاره ده چې پدې حدیث کې ده.

مرض وفات کې د زهرو اثر ښکاره شو

﴿۱۰﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ

او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل د وفات مرض کي [ماته] فرمائيل

يَا عَائِشَةُ مَا اَزَالُ اَجِدُ اَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِيْ اَكَلْتُ بِخَيْبَرَ وَهٰذَا اَوَانُ

ای عائشي رضي الله عنها! خیبر کي چې ما کوم زهر آلود طعام خوړلی وو اوس دي مرض کي راته داسي

وَجَدْتُ انْقِطَاعَ اَبْهَرِيْ مِنْ ذٰلِكَ السُّمِّ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

معلومیږي چې د هغه زهرو د اثر نه به زما د زړه رګ پرې کړل شي.

توضیح: (الم) درد او تکلیف ته الم ویل کیږي.

بخیبر: د جنګ خیبر په موقع باندې یوې یهودۍ ښځې د ګډ په غوښه کې د زهرو په ګډولو سره حضور اکرم صلی الله علیه وسلم باندې خوړلی وو، الله تعالی زهرو ته د اثر نه کولو حکم وکړلو نو د هغه تر یو مقرر وخته پورې په یوې محدودې پیمانې باندې موقوفه شو مګر چې کله د هغه د ژوند ورځې پوره شولې نو الله تعالی د هغه زهرو پوره اثر ظاهره کړلو چې د دې په وجه د هغه رګ کټ شو او وفات شو. همدارنګه د خاموش زهرو په وجه د صدیق اکبر رضي الله عنه مرګ هم واقع شو، دا که رفاقت ته اشاره ده.

اَبْهَرِيْ: دا د هغه رګ نوم دی چې د هغه تعلق د زړه سره دی د دې په کټ کیدلو سره انسان مړ کیږي دیته رګ جان وایې، ملا علي قاري رحمه الله د دې رګ دویم تفسیر دا کړی دی چې دا رګ په ... کې تر قدمه پورې تللی دی بیا د دینه واړه واړه رګونه په ټول بدن کې خواره شوي دي، دا رګ کله په دماغو کې وي نو دیته (نامه) وایې، او چې کله دا رګ غاړې ته راځي نو دیته (ورید) وا...

کله دغه رګ د غاړې نه لاندې سینې ته رسیږي نو هغه ته (ابهر) ویل کیږي، او چې کله دغه رګ لاندې پونډۍ ته ځي نو هغه ته ضافن ویل کیږي . بعضو ویلي دي چې دغه رګ چې کله په غاړه کې وي نو دیته ابهر ویل کیږي ، چې کله په لاس کې وي نو هغه ته اکحل ویل کیږي او چې کله په پنډۍ کې وي نو هغه ته عرق النساء ویل کیږي ، په هر حال دغه رګ جان دی .

د حدیث قرطاس قصه

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا حُضِرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات وقت قریب شو او کور کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَفِي الْبَيْتِ رِجَالٌ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د مرض د بسترې ته نژدې حضرت عمر خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ډیر خلق موجود وو نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل

هَلُمُّوا أَكْتُبْ لَكُمْ كِتَابًا لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُ

راوړئ چې زه ستاسو د پاره یو تحریر ولیکم چې د دې نه روسته ستاسو د ګمراهۍ څه سوال پیدا

فَقَالَ عُمَرُ قَدْ غَلَبَ عَلَيْهِ الْوَجَعُ

نشي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هلته موجود خلقو ته وویل دا وخت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د مریضتیا شدیده

وَعِنْدَكُمُ الْقُرْآنُ حَسْبُكُمْ كِتَابُ اللهِ

غلبه ده تاسو خلقو سره قرآن مجید شته او تاسو ته د الله تعالی دا کتاب ډیر کافي دی لیکن هغه خلق

فَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْبَيْتِ وَاخْتَصَمُوا فَمِنْهُمْ مَنْ

چې د اهل بیتو نه هم وو او د نورو صحابوو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه هم بحث مباحثه کول یې شروع کړل، هغوکې ځني

يَقُوْلُ قَرِّبُوْا يَكْتُبْ لَكُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلقو دا خبره کوله چې د لیکلو سامان راوړلو سره مخې ته ایښودل پکار دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَمِنْهُمْ مَنْ يَقُوْلُ مَا قَالَ عُمَرُ فَلَمَّا

ستاسو د پاره څه او څه خلقو هغه خبره کوله کومه چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړې وه او بیا چې د هغه خلقو

أَكْثَرُوا اللَّغَطَ وَ الْاِخْتِلَافَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

د اختلاف رایه اظهار زیاتیده او کافي شور جوړ شو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل بنه اوس تاسو خلق

قُوْمُوْا عَنِّیْ قَالَ عُبَیْدُ اللهِ فَکَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ یَقُوْلُ إِنَّ الرَّزِیَّةَ کُلَّ الرَّزِیَّةِ

زمانه ولاړ شي عبید الله رحمه الله وائي چې ابن عباس رضي الله عنه به ویل مصیبت دی پوره مصیبت چې د دي

مَا حَالَ بَیْنَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَبَیْنَ أَنْ یَکْتُبَ لَهُمْ ذٰلِكَ الْکِتَابَ

خلقو د اختلاف او شور په صورت کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغوی صلی الله علیه وسلم د وصیت نامې لیکلو

لِاخْتِلَافِهِمْ وَلَغَطِهِمْ وَفِیْ رِوَایَةِ سُلَیْمَانَ بْنِ أَبِیْ مُسْلِمٍ الْأَحْوَلِ

د ارادي په منځ کي حائل شوی وو او د سیلمان ابن مسلم احول رحمه الله روایت کي داسې دي چې

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ یَوْمُ الْخَمِیْسِ وَمَا یَوْمُ الْخَمِیْسِ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه وویل آه د جمعرات ورځ هغه د زیارت ورځ څه عجیبه وه هر کله چې یوه زبردسته المیه

ثُمَّ بَکٰی حَتّٰی بَلَّ دَمْعُهُ الْحَصٰی

واقع شوې وه او دی ویلو سره هغه په ژړا شو او دونه یې وژړل چې هلته پرتي شګي هم د هغه په وښکو

قُلْتُ یَا ابْنَ عَبَّاسٍ وَمَا یَوْمُ الْخَمِیْسِ

سره لمدي شوې ما عرض وکړو [راوی وایي] ابن عباس رضي الله عنه! د زیارت په هغه ورځ څه شوی وو

قَالَ اشْتَدَّ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَجَعُهُ

حضرت ابن عباس رضي الله عنه و فرمائیل هر کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مریضتیا ډیر خطرناک صورت حال

فَقَالَ ائْتُوْنِیْ بِکَتِفٍ أَکْتُبْ لَکُمْ کِتَابًا

اختیار کړی وو. او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو، ماته داوړې هډوکي راوړئ چې زه ستاسو د پاره یوه

لَا تَضِلُّوْا بَعْدَهُ أَبَدًا فَتَنَازَعُوْا

داسي څه ولیکم چې د هغه نه روسته تاسو هیڅ کله ګمراه نه شئ موجود خلقو اختلاف او نزاع اظهار

وَلَا یَنْبَغِیْ عِنْدَ نَبِیٍّ تَنَازُعٌ فَقَالُوْا

شروع کړو حالانکه د یو نبی په مخکي د اختلاف او نزاع اظهار مناسب نه دی هغوی کي څه خلقو ویلي وو

مَا شَأْنُهُ أَهَجَرَ اسْتَفْهِمُوْهُ

چې خبره د حضور صلی الله علیه وسلم د کوم حالت غمازه ده؟ آیا حضور صلی الله علیه وسلم دُنیا پریږدي او بیا هغوی

فَذَهَبُوْا يَرُدُّوْنَ عَلَيْهِ فَقَالَ دَعُوْنِيْ
کي بعضي خلقو حضور صلى الله عليه وسلم سره تکرار شروع کړی وو. آخر رسول اکرم صلى الله عليه وسلم و فرمائيل ما په خپل
ذَرُوْنِيْ فَالَّذِيْ أَنَا فِيْهِ خَيْرٌ مِّمَّا تَدْعُوْنَنِيْ إِلَيْهِ
حالت پرېږدئ ځکه چې دا وقت زه کوم حالت کي يم د هغه حالت نه بهتر او افضل دی چې هغه طرف
فَأَمَرَهُمْ بِثَلَاثٍ فَقَالَ أَخْرِجُوْا الْمُشْرِكِيْنَ
ته تاسو ما متوجه کوی دي نه روسته حضور صلى الله عليه وسلم ورته د دري خبرو حکم وکړو يو خو دا چې مشرکان
مِنْ جَزِيْرَةِ الْعَرَبِ وَأَجِيْزُوا الْوَفْدَ بِنَحْوِ مَا
د جزيره عرب نه وباسئ دويم دا چې د نورو ملکونو او حکومتونو کوم قاصدان راشي نو هغه سره د
كُنْتُ أُجِيْزُهُمْ وَسَكَتَ عَنِ الثَّالِثَةِ
عزت او احترام سلوک کوئ څرنګه چې به ما کوه. او دريمه خبره باندي ابن عباس رضي الله عنه خاموشي اختيار
أَوْ قَالَهَا فَنَسِيْتُهَا قَالَ سُفْيَانُ هٰذَا مِنْ
کړه يا دا چې هغه دريمه خبره هم بيان کړې وه ليکن ما نه هيره شوه سفيان ابن عيينه رحمه الله وايي
قَوْلِ سُلَيْمَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
دا الفاظ د سليمان احول رحمه الله دي.

توضيح: **اکتب لکم کتابا**: يعني يو کاغذ راوړئ چې زه تاسو ته يو تحرير تيار کړم تر څو تاسو ګمراه نشئ، دا مشهور حديث دی چې د حديث قرطاس په نوم سره مشهور دی، اوس سوال دا دی چې دا تحرير د کوم شي سره متعلق وو؟ په دې کې ډير اقوال دي مګر په خلکو کې مشهوره دا ده چې دا تحرير د خلافت سره متعلق وو اګرچې ملا علی القاری دیته ډيره بعيده ويلې ده.

سوال: شيعه شنيعه زيات شور کوي چې دلته د حضرت علی رضي الله عنه لپاره د خلافت وصيت ليکل کيده مګر عمر رضي الله عنه پرې نخودو.

جواب (۱): ددې جواب دا دی چې شيعه خو وايي چې حضرت علی رضي الله عنه ته په غدير خم کې خلافت ملاوو شوی وو بيا دلته کوم خلافت ورته ملاويده چې شيعه ورباندې ژاړي؟

جواب (۲): دا دی چې څه په دغه وخت حضرت عمر فارق رض د ليکلو نه منع کړلو نو ددينه بعد خو هم تر دريو ورځو رسول الله صلى الله عليه وسلم په دنيا کې موجود وو بيا کوم شي د ليکلو نه مانع شو،

دا واقعه د پنجشنبې ده او حضور صلى الله عليه وسلم درې ورځې بعد د دوشنبې په ورځ وفات شوی دی کچیرې دا کوم ضروری او واجب حکم وای نو حضور صلى الله عليه وسلم به وروسته لیکلو .

جواب (۳): دا دی چې دا د خلافت د لیکلو معامله وه مګر د حضور صلى الله عليه وسلم رأیه بدله شوه او دا د خلافت لیکلو اراده د حضرت علی رضي الله عنه لپاره نه وه بلکه د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لپاره وه چې په هغه باندې ډیر روایات واضح دلالت کوي لکه **یأبی الله والموو منون الا ابابکر**، کچیرې حضور اکرم صلى الله عليه وسلم د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لپاره د خلافت تحریر لیکلو او د هغه نه بعد شیعه ګانو انکار کولی نو شیعه به ډېر کافر کیدل ، شیعه روافضو ته خو د عمر فاروق رضي الله عنه شکریه اداء کول پکار وو چې هغوی یې د ډېر کافر کولو نه بچ کړل ، اوس دوی سنګل کافر پاتې شول ! په هر حال د صحابه کرامو په رأیې سره د حضور صلى الله عليه وسلم رأیه بدله شوه ، هسې هم موافقات عمر خو مشهور دي ، دا هم د موافقات عمر نه یو دی ، چونکې الله تعالی ته دا منظوره وه چې د خلافت معامله داسې حل شي چې په آزادانه طور باندې په خپله مسلمانان د هغه فیصله وکړي او ابوبکر صدیق مسلمانان په خپله منتخب کړي ، پخپله حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې الله تعالی او مسلمانان د ابوبکر صدیق نه علاوه کوم بل څوک نه منتخب کوي .

څلورم جواب دا دی چې ددې تحریر په منع کولو کې حضرت عمر رضي الله عنه یوازې نه وو په کور کې د اهل بیتو نه نور خلک هم وو نو یوازې حضرت عمر رضي الله عنه ولې نشانه جوړول کیږي . د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه خیال خو دا وو چې شریعت مکمل شوی دی ، قرآن نازل شوی دی ، د احادیثو ذخیره موجوده ده ، اوس کوم ضروری کار هم باقی نه دی چې د هغه لیکل په دې وخت کې ضروری دي، دلته حضور صلى الله عليه وسلم ته تکلیف وو ، دیته په کتلو سره حضرت عمر فاروق رضي الله عنه منع وکړه ، په دې نیکه اراده کې په هغه باندې طعن ویل داسې دی لکه چې شاعر ویلي :

فعین الرضا عن کل عیب کلیلة ولکن عین السخط تبدی المساویا

ترجمه : یعنې چې کله نیت ښه وي نو سترګې د هرې بدۍ نه ړندې کیږي لیکن کچیرې نیت بد وي نو د سترګو مخ ته صرف بدۍ وي .

سوال : د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم چې کله حکم وو نو عمر فاروق رضي الله عنه انکار ولې وکړو ؟ آیا داسې کول ناجائز نه دي ؟

جواب : حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم د راحت په غرض انکار وکړو او منع یې وکړه کچیرې دا نقصان وي او ناجائز وي نو په صلحه د حدیبیه کې چې کله حضرت علي رضي الله عنه ته حضور اکرم صلى الله عليه وسلم د معاهدې د تحریر نه د ځه الفاظو ختمولو وویل نو حضرت علي رضي الله عنه

ولې انکار وکړو ؟ هغه انکار خو ددې انکار نه زیات وو ، د شیعو په نزد باندې خو هلته هیڅ نه وو شوي او دلته هر څه کیږي دا بغض او عناد ولې دی ؟باقی د حضرت ابن عباس رضي الله عنه ژړا د حضور صلى الله عليه وسلم د آخری ورځو په یاد راتللو باندې وه ، په دې باندې نه وه چې لیکل یې ولې ونه کړل، او کیدلی شي چې د کومې بلې وجهې نه یې ژړلي وي، د ژړا اسباب خو مختلف وي .

الرزیة کل الرزیة: مصیبت ته رزیة وایې یعنې مکمل مصیبت په دغه وخت راغلی وو .

ما حال: یعنې چې کله خلک سره مختلف شول .

لغطهم: دا هغه شور ته ویل کیږي چې د هغه په مفهوم باندې سړی نه پوهیږي صرف د شور آوازونه اوریدل کیږي . (بل دمعه الحصی) بل لمدیدلو ته ویل کیږي ، دمع اوښکو ته ویل کیږي ، او الحصی شګو ته ویل کیږي یعنې د هغه په اوښکو باندې شګې لمدې شوې .

کتف: په هغه زمانه کې به کاغذ نه وو په څرمني یا د ونې په پوستکي یا تیږې یا هډوکي باندې به لیکل کیدل دلته همدا هډوکی مراد دی د ګډ د مخې خپې هډوکی برداره وي چې د لیکلو لپاره مناسب وي د شانې بل هډوکی هم مراد کیدلی شي .

اهجر استفهموه: د اهجر په لفظ کې صحیح روایت همدا دی چې همزه د استفهام موجوده ده ، په دې باندې فتحه ده ، په هاء باندې هم زور دی او په جیم او راء باندې هم فتحه ده ، په دې لفظ باندې پوهیدلو او پوهولو کې ډیر دقت مخې ته راځي ، چونکې دلته د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه نوم راغلی دی په دغه وجه شیعه شنیعه ددې حدیث نه د خپلو مذمومو اغراضو او مقاصدو راویستلو او د نیل بغض او عداوت ظاهرولو لپاره پوره پوره کوشش کوي ، په کوم صحیح محمل باندې حمل کولو په ځای هغه په داسې محمل باندې حمل کوي چې په دې سره په صحابه کرامو بالخصوص حضرت عمر فاروق رضي الله عنه باندې د طعن کولو موقع په لاس کې راځي حالانکه په دې ټوله قصه کې اهل بیت هم شریک دي . دغه لفظ په غلط مفهوم باندې حمل کولو سره دا مطلب بیانولی شي چې خلکو وویل چې آیا حضور صلى الله عليه وسلم لغویات ویل؟ په کوم بحرانی کیفیت کې مبتلا دی ؟ په کوم هذیان کې مصروفه دی ؟ دا مفهوم د نبی معصوم په باره کې بلکل غلط دی او نه داسې نسبت کوم مسلمان خپل نبی ته کولی شي چې ددې څه ځای دی چې په سیدنا عمر فاروق رضي الله عنه باندې دا الزام ولګولی شي یا په کوم بل صحابی باندې بهتان وتړلی شي .

دویم مفهوم دا دی چې دا کلام په استفهام انکاری باندې محمول دی او ددې کلام ویونکی هغو خلکو ته تنبیه او توبیخ ورکوي او وایې چې آیا نبی مکرم کومه غلطه خبره کوي یا د کوم بحرانی

كيفيت خبره كوي؟ يا كومه فضوله خبره كوي؟ داسې نه ده بلكه دا د نبي معصوم خبره ده دا واورئ! او په دې باندې د پوهيدو كوشش وكړئ.

دريم مفهوم دا دى چې دا د عربو د محاورې او د عربو د دستور مطابق كلام دى چې په هغه كې خو خبرې كيږي مگر په پوهه كې نه راځي په دغه قسم كلام كولو كې د مريض هيڅ توهين نه وي بلكه د تبې د شدت په وجه كله كله مريض داسې كلام كوي، ديته په پښتو كې (ګاګيرى) وايې. مطلب دا دى چې ويونكى وايې چې لږ د پوهيدو كوشش وكړه آيا نبي مكرم (كاكيرى) وايې. ملاعلى قاري رحمه الله په مرقات كې ليكلي دي (**والمراد به هنا مايقع من كلام المريض مما لاينتظم**) دا كلام په حقيقت كې د قاضي عياض دى اگر چې دا هم رد كړى شوى دى مگر زه پوهيږم چې د دې توجيه نه بهتره كومه توجيه نشته په دې باندې قبائل خلك ښه پوهيږي. د (**استفهموه**) مطلب دا دى چې په دې خبره ځان پوهه كړئ او د پوهيدلو كوشش وكړئ. (**يردون عليه**) يعنې صحابه او اهل بيت چې په دې كور كې موجود وو هغوى د حضور ﷺ كلام په هغه باندې واپس كولو چې د دې كلام ضرورت نشته. واخله وروره! دا د عامو اهل بيتو او په كور كې موجوده صحابه كرامو خبره ده په دې كې خو تصريح ده حال دا چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه صرف اشاره كړې ده.

خلفاء راشدينو د حضور ﷺ د متعلقينو خيال ساتلو

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَبُوْبَكْرٍ
او حضرت انس رضي الله عنه بيان كوي د رسول الله ﷺ د وفات نه روسته يوه ورځ حضرت ابوبكر رضي الله عنه
لِعُمَرَ بَعْدَ وَفَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته وويل راځه چې أم ايمن رضي الله عنها ته ورشو څرنگه چې رسول الله ﷺ به د
انْطَلِقْ بِنَا إِلٰى أُمِّ أَيْمَنَ نَزُوْرُهَا كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
هغه ملاقات ته تشريف وړلو نو مونږ درې واړه ايعني زه او حضرت ابوبكر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه ا
يَزُوْرُهَا فَلَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَيْهَا بَكَتْ فَقَالَا لَهَا مَا
أم ايمن رضي الله عنها ته ورسيدو هغه زمونږ ليدو سره په ژړا شوه حضرت ابوبكر او حضرت عمر رضي الله عنه دواړو
يُبْكِيْكِ اَمَا تَعْلَمِيْنَ اَنَّ مَاعِنْدَ اللهِ خَيْرٌ لِّرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ورته وويل ولې ژاړې آيا تا ته معلومه نه ده چې د الله! د رسول ﷺ د پاره د الله! په نزد چې

فَقَالَتْ اِنِّيْ لَاأَبْكِيْ أَنِّيْ لَا أَعْلَمُ أَنَّ مَا عِنْدَ اللهِ

څه دي هغه بهتر نه بهتر دي أم يمن رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وويل زما د ژړا سبب دا نه دی چې زه دې خبري نه لاعلمه

خَيْرٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنْ أَبْكِيْ

يم چې د الله! په نزد رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دپاره چې څه دي هغه بهتر نه بهتر دي بلکه زه څکه ژاړم

أَنَّ الْوَحْيَ قَدِ انْقَطَعَ مِنَ السَّمَاءِ فَهَيَّجَتْهُمَا عَلَى الْبُكَاءِ

چې آسمان نه دوحي راتلو سلسله ختمه شوی ده د أم ايمن رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دې الفاظو حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او

فَجَعَلَا يَبْكِيَانِ مَعَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې هم رقت وغوړوی او هغه دواړه حضرات هم په ژړا شول. [مسلم]

توضيح: **نزورها:** ام ايمن رضی الله عنها د نبی مکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعی مور ده او د حضرت اسامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ والده ده ، دا د عبدالله صاحب وينځه وه . چې کله د بی بی آمنې انتقال وشو نو د مدينې منورې څخه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ام ايمن د خپل ځان سره مکی مکرمې ته راوسته ، د ام ايمن اصلی نوم برکة وو، دا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په طور د ميراث ورسيده نو هغه دا آزاده کړه . حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د هغې ډير تعظيم او توقير او عزت او احترام کولو ،د هغه احترام په وجه حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغې احترام کولو او کله کله به د هغې د زيارت لپاره تللو ، په زير بحث حديث کې د همدې بيان دی ، حضرت ام ايمن رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا داسې دردناکه جمله وفرمايله چې دواړه خلفاء يې بنه وژړول او پخپله هم وژړيده .

په منبر نبوي باندې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخرنی خطبه

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوحضرت ابوسعيد خدری رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوفات په مرض کې د خپلې حجرې نه وتلو

فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ وَنَحْنُ فِي الْمَسْجِدِ

سره مسجد نبوی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته تشريف راوړو چيرته چې مونږ ناست وو هغه وقت حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل سر

عَاصِبًا رَأْسَهُ بِخِرْقَةٍ حَتّٰى أَهْوٰى نَحْوَ الْمِنْبَرِ فَاسْتَوٰى

مبارک په کپړه تړلی وه بيا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر طرف ته ولاړه او په هغه باندې او دريدلو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عَلَيْهِ	وَاتَّبَعْنَاهُ	قَالَ	وَ	الَّذِيْ	نَفْسِيْ

سره مونږ هم حضور صلى الله عليه وسلم مخ ته کېنا ستلو هغه وقت حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل قسم دی په هغه ذات

بِيَدِهِ	إِنِّيْ	لَأَنْظُرُ	إِلَى	الْحَوْضِ	مِنْ	مَقَامِيْ	هٰذَا	ثُمَّ

چې د هغه قبضه کي زما ساه ده زه دا وقت پردي خپل ځاي باندې ولاړ حوض کوثر وينم بيايي

قَالَ	إِنَّ	عَبْدًا	عُرِضَتْ	عَلَيْهِ	الدُّنْيَا	وَزِيْنَتُهَا

وفرمائيل يو بنده دی چې د هغه مخکي دنيا زيب او زينت پيش شو ليکن هغه دُنيا باندې د آخرت

فَاخْتَارَ	الْآخِرَةَ	قَالَ	فَلَمْ	يَفْطَنْ	لَهَا	أَحَدٌ	غَيْرَ	أَبِيْ	بَكْرٍ

نعمتونو ته ترجيح ورکړه حضرت ابو سعيد رضي الله عنه وايي د دي ارشاد گرامي په راز باندې د ابوبکر رضي الله عنه

فَذَرَفَتْ	عَيْنَاهُ	فَبَكَى	ثُمَّ	قَالَ

نه سوا بل څوک پوه نه شو نو د ابوبکر رضي الله عنه د سترګو نه وښکي جاري شوی او په ژړا شو بيايي

بَلْ	نَفْدِيْكَ	بِآبَائِنَا	وَ	أُمَّهَاتِنَا	وَ	أَنْفُسِنَا	وَ أَمْوَالِنَا

وويل [نه] داسي دلسوزه خبره مه کوي] مونږ خپل پلرونه خپلي ميندی خپل ځانونه او خپل مالونه

يَا	رَسُوْلَ	اللهِ	قَالَ	ثُمَّ	هَبَطَ	فَمَا	قَامَ عَلَيْهِ

په تا سو صلى الله عليه وسلم صدقه کوو حضرت ابو سعيد رضي الله عنه وايي دي نه روسته حضور صلى الله عليه وسلم منبر نه خکته

حَتَّى السَّاعَةِ . رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

کيدو سره تشريف يوړلو او تر دي وخته پوري بيا هيڅ کله په دي منبر ونه درېده .

توضيح : عاصبا رأسه: مريض چې کله په سر باندې د سر د درد په وجه پلنه ټوټه وتړي هغې نه عصابه ويل کيږي ، عاصب د اسم فاعل صيغه ده چې په سر باندې کپړه تړونکي شخص ته ويل کيږي .

اهوی: د متوجه کيدلو په معنی سره ده .

حتى الساعة: يعنې د هغه نه وروسته تر اوسه پورې حضور اکرم صلى الله عليه وسلم په منبر باندې ونه دريده ، په دې صورت کې به د الساعة ترجمه په يو ساعت سره کيږي ، يا مطلب دا دی چې د دينه بعد به تر قيامته حضور صلى الله عليه وسلم په منبر باندې ونه دريږي ، دا د هغه آخری قيام او خطبه وه .

بي بي فاطمي رضي الله عنها د حضور صلى الله عليه وسلم د خپل وفات کیدو خبر ورکړی وو

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه بیان کوي کوم وقت چې سورة اذا جا نصر الله والفتح نازل شو نو

وَالْفَتْحُ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاطِمَةَ قَالَ نُعِيَتْ

رسول الله صلى الله عليه وسلم بي بي فاطمه رضي الله عنها را وغوښته او ورته یې وفرمائیل ماته زما د مرګ خبر را کول شوی

إِلَيَّ نَفْسِيْ فَبَكَتْ قَالَ لَا تَبْكِيْ فَإِنَّكِ

دی بي بي فاطمه رضي الله عنها په ژړا شوه حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائیل ژاړه مه زما په اهل بیتو کې به

أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ فَضَحِكَتْ فَرَآهَا بَعْضُ أَزْوَاجِ

د ټولو نه مخکې ته زما سره یو ځای شې فاطمه رضي الله عنها په خندا شوه بعضې ازواج مطهراتو چې

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ يَا فَاطِمَةُ

بي بي فاطمه رضي الله عنها د غسې ولیده نو پوښتنه یې ترې وکړه چې فاطمې! دا څه خبره وه چې مونږ ته مخکې

رَأَيْنَاكِ بَكَيْتِ ثُمَّ ضَحِكْتِ قَالَتْ إِنَّهُ أَخْبَرَنِيْ

په ژړا او بیا په خندا ولیدلې بي بي فاطمې رضي الله عنها ورته وویل حضور صلى الله عليه وسلم مخکې ماته داوښودل چې

أَنَّهُ قَدْ نُعِيَتْ إِلَيْهِ نَفْسُهُ فَبَكَيْتُ

حضور صلى الله عليه وسلم ته د مرګ خبر ورکول شوی دی آوریدو سره زه په ژړا شوم او بیا راته حضور صلى الله عليه وسلم

فَقَالَ لِيْ لَا تَبْكِيْ فَإِنَّكِ أَوَّلُ أَهْلِيْ لَاحِقٌ بِيْ فَضَحِكْتُ

وفرمائیل چې ژاړه مه زما اهل بیتو کې به ته د ټولو نه مخکې زما سره یو ځای شې نو زه په خندا شوم

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ، وَجَاءَ أَهْلُ الْيَمَنِ

او رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائیل هر کله چې د الله تعالی مدد او د مکې فتح حاصله شوه او د یمن خلق

هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَالْإِيْمَانُ يَمَانٍ وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

راغلل چې په زړونو نرم دي ایمان یمنی دی او حکمت هم یمنی دی. [دارمی رحمه الله روایت کړې دی]

توضیح: یعنې ما ته زما د مرګ خبر راکړل شوی دی. **بعض ازواج**: د دینه حضرت عائشه رضي الله عنها

مراد ده . **فقلن:** ددینه هم حضرت عائشه رضي الله عنها مراد ده مگر جمع د احترام او اکرام په طور ده ، دا احتمال هم شته چې نور ازواج هم هلته موجودې وې .**والایمان یمان**: یعنې ایمان خو د اهل یمن دی . د اهل یمن څخه کوم خلک مراد دي او دا مدحه د کومو خلکو ده په دې کې څو اقواله دي : (۱) یو قول دا دی چې ددینه د یمن خلک مراد دي په دوی کې څه خصوصیات دي د دغو خصوصی امتیازاتو په وجه د دوی د ایمان صفت شوی، مگر یاد ساتل پکار دي چې دا د هغې زمانې د یمن د مسلمان خلکو مدحه ده تر قیامته پورې د راتلونکي اهل یمن والا تعریف نه دی . (۲) دویم قول دا دی چې د اهل یمن څخه مراد اهل مکه دي او چونکې دا حدیث حضور صلى الله عليه وسلم د تبوک په مقام باندې فرمایلی وو او د یمن طرفته یې اشاره هم وفرمایله هغه طرفته مکه او مدینه واقع دي نو د یمن هیرولو سره مکه او مدینه مراد کړی شوي دي، هسې هم یمان جانب یمین ته وایې او مکه او مدینه په جانب یمین کې وو، په دغه وجه د یمان څخه اهل مکه او اهل مدینه مراد دي ، په دې توجیه سره د هغه حدیث مطلب هم په پوهه کې راځي او تعارض هم ختمیږي په کوم حدیث کې چې دا الفاظ دي :**الایمان فی الحجاز**. (۳) دریم قول دا دی چې د یمان څخه د مدینې انصار مراد دي ځکه چې د هغوی نسل او د هغوی اصل د یمن څخه دی گویا دا د انصارو تعریف دی ، په هر حال اول قول حقیقت دی باقی مجاز دي . په یمن کې خیر دی ، نن سبا اسامه بن لادن حفظه الله هم د یمن دی .

والحکمة: د مستقبل په باره کې په سوچ کولو سره فیصلې کولو ته حکمت وایې . حکمت د دانشمندۍ عقل او تدبر نوم دی او د حقائقو بیخ ته د رسیدلو او د علم او معرفت نوم دی ، د یمن په خلکو کې دا شیان زیات دي .

مرض وفات کې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د خلافت باره کښې وصیت

﴿۱۵﴾	وَ	عَنْ	عَائِشَةَ	اَنَّهَا	قَالَتْ	وَارَأْسَاهُ

او حضرت عائشي رضي الله عنها نه روایت دی چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناسته وه د سر درد د سختې اظهار

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ذَاكِ لَوْ كَانَ وَ اَنَا حَيٌّ

یې وکړو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وویل که هغه مرگ دا سې صورت کې راغی چې زه ژوندی پاتې شوم

فَاَسْتَغْفِرُ لَكِ وَ اَدْعُوْلَكِ

نو ستا د پاره به د مغفرت او بخشش دُعا غواړم او ستا د درجاتو د بلندۍ د پاره به هم دُعا کوم

فَقَالَتْ عَائِشَةُ وَا ثُكْلِيَاهُ وَاللّٰهِ إِنِّيْ لَأَظُنُّكَ تُحِبُّ مَوْتِيْ

بي بي عائشي رضي الله عنها وويل هاى زما د سر درد مصيبته! قسم په الله زما خو خيال دى چې تا سو زما

فَلَوْ كَانَ ذٰلِكَ لَظَلِلْتَ آخِرَ يَوْمِكَ مُعَرِّسًا بِبَعْضِ أَزْوَاجِكَ

مرګ خوښوئ كه داسي وشو نو تاسو ﷺ به د هغه ورځي آخري حصه كي خپلي يوي بي بي......

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَنَا وَارَأْسَاهُ لَقَدْ هَمَمْتُ أَوْأَرَدْتُّ

شپه تيرول وفرمايې نبی كريم ﷺ ورته وفرمائيل. بلكه زما د سر درد افسوس دى زما قصد

أَنْ أُرْسِلَ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ وَابْنِهِ وَأَعْهَدَ

يا اراده وه چې زه ستا پلار ابوبكر رضي الله عنه او د هغه زوى را وغوارم او د هغوى په حق كي وصيت وكړم

اَنْ يَقُوْلَ الْقَائِلُوْنَ أَوْ يَتَمَنَّى الْمُتَمَنُّوْنَ

چې يا څوک ويونكي هيڅ ونه وايې يا حضور ﷺ دا وفرمائيل چې متمني خلق د آرزو اظهار ونه كړي يا ما په

ثُمَّ قُلْتُ يَأْبَى اللّٰهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْ مِنُوْنَ

خپل زړه كي وويل چې خپله به الله تعالى منظور نه كړي او مسلمانان به هم مدافعت كوي يا حضور ﷺ

أَوْ يَدْفَعُ اللّٰهُ وَيَأْبَى الْمُؤْمِنُوْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

داسي وفرمائيل چې خپله به الله تعالى مدافعت كوي او مسلمانان به هم بل څوک نه مني. [بخاري]

توضيح: (وارأساه) هائ زما سر خو د درد له لاسه چوي. (وا ثكلياه) ثكل موت او هلاكت ته هم ويل كيږي او د بچي يا محبوب وركيدلو ته هم ويل كيږي، مطلب دا دى چې هائ زما مصيبته، دا كلمه د مصيبت په وخت كې ويل كيږي. (معرسا) دا د عروس څخه دى يعنې زما خو خيال دى كچيرې زه مړه شم نو د ورځې په آخري حصه كې به ته د كومې بى بى سره واده برابروې. (بل وانا وارأساه) حضور ﷺ وفرمايل چې په حقيقت كې زما سر د درد نه چوي، په دې كې يوه پټه اشاره ده چې په حقيقت كې مرګ زما په سر باندې ولاړ دى، په راتلونكې حديث كې د دې تفصيل دى. ملاعلى قاري رحمه الله ليكلي دي چې د حضور ﷺ او د حضرت عائشه رضي الله عنها د سر درد يو ځاى شروع كيدلو كې د دواړو په مينځ كې كمال محبت ته اشاره ده چې د يو په سر كې د درد په وجه د بل په سر كې هم درد پيدا شو، دا داسې وشول لكه څنګه چې په كمال محبت كې د مجنون د جسم نه پخپله وينه وبهيده كله چې ليلى د خپل جسم نه رګ

وهلو سره وینه وویسته لکه څنګه چې په عوامو کې مشهوره ده.

(واعهد) یعني د صدیق اکبر رضی الله عنه لپاره د خلافت وصیت وکړم بیا ما سوچ وکړو چې الله تعالی او بیا مسلمانان به د ابوبکر نه علاوه کوم بل څوک خلیفه جوړ نکړي.

ان یقول: دلته لا محذوفه دی ای لئلا یقول القائلون او لئلا یتمنی المتمنون.

د مرض وفات ابتداء

﴿۱۶﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ رَجَعَ اِلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مِّنْ جَنَازَةٍ

او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي تشريف راوړو ماته يوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د يوې جنازې دفن کولو نه

مِنَ الْبَقِيْعِ فَوَجَدَنِيْ وَاَنَا اَجِدُ صُدَاعًا وَاَنَا اَقُوْلُ وَارَاْسَاهُ

وروسته په بقيع کې نو زه يې دې حالت کې وليدم چې زه د سر په درد مبتلا وم او ما ويل هاى زما سر

قَالَ بَلْ اَنَا يَاعَائِشَةُ!

چوى حضور صلی الله علیه وسلم زه دې حالت کې ليدو او زما دې الفاظ واوريدو سره وفرمائيل اى عائشې رضی الله عنها زه

وَارَاْسَاهُ قَالَ وَمَا ضَرَّكِ لَوْ مِتِّ قَبْلِيْ

وايم چې زما سر درد کوي حضور صلی الله علیه وسلم وويل دې کې نقصان څه دى که ته زما نه مخکې مړه شوې

فَغَسَّلْتُكِ وَكَفَّنْتُكِ وَصَلَّيْتُ عَلَيْكِ وَدَفَنْتُكِ

نو زه به غسل درکړم او کفن به درکړم او د جنازې لمونځ به درباندې وکړم او دفن به دې کړم، دې

قُلْتُ لَكَاَنِّيْ بِكَ وَاللهِ لَوْ فَعَلْتَ

اوريدو سره ما وويل قسم په الله دا خو ماته ستا سو باره کې داوس نه په نظر راځي که تا سو داسې

ذٰلِكَ لَرَجَعْتَ اِلٰى بَيْتِيْ

وکړل او تا سو زما تجهيز او تکفين او تدفين وغيره وکړو نو تا سو دې امورو نه فارغيدو سره زما

فَعَرَّسْتَ فِيْهِ بِبَعْضِ نِسَائِكَ

کورته واپس بلې ښځې سره به شپه تيره کړئ حضور صلی الله علیه وسلم زما دې الفاظو آوريدو سره چې زما

فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللهِ ثُمَّ بُدِئَ فِيْ وَجَعِهِ الَّذِيْ

غيرت او حميت باندې دلالت کوي په خندا شو او بيا د حضور صلی الله علیه وسلم د مرضتيا سلسله شروع شوه

مَاتَ فِيْهِ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

چې هغې کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو.

دوصال نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته د حضرت خضر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تعزيت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّ رَجُلًا مِّنْ قُرَيْشٍ

او حضرت امام جعفر صادق ابن محمد رَحِمَهُ اللهُ د خپل والد نه روايت کوي چې قريشو نه يو سړی د هغه

دَخَلَ عَلَى أَبِيْهِ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ

والد حضرت امام علی زين العابدين ابن حسين رَحِمَهُ اللهُ په خدمت کې حاضر شو نو حضرت امام علی زين العابدين رَحِمَهُ اللهُ

فَقَالَ أَلَا أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

هغه ته يې وويل آيا زه ستا مخکې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حديث بيان کړم هغه سړي وويل هو

بَلَى حَدِّثْنَا عَنْ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

زمونږ مخکې د حضرت ابو القاسم حديث ضرور بيان کړه نو امام علی زين العابدين رَحِمَهُ اللهُ ورته

لَمَّا مَرِضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرَئِيْلُ

بيان وکړې کوم وقت چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مريض سو نو حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِيْ إِلَيْكَ تَكْرِيْمًا لَّكَ

ته راغی او عرض يې وکړو ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله تعالی ستا سو د تکريم او تعظيم د پاره زه ستا سو

وَتَشْرِيْفًا لَّكَ خَاصَّةً لَّكَ يَسْئَلُكَ

په خدمت کې رالیږلي يم او دا صرف ستا د پاره مخصوص دی الله تعالی ستا نه د هغه شي پوښتنه

عَمَّا هُوَ أَعْلَمُ بِهِ مِنْكَ يَقُوْلُ كَيْفَ تَجِدُكَ قَالَ

چې هغه يې ستا نه زيات پيژني هغه پوښتنه کوي چې تاسو خپل ځان څرنګه پيدا کړو؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَجِدُنِيْ يَا جِبْرَئِيْلُ مَغْمُوْمًا وَّ أَجِدُنِيْ يَا جِبْرَئِيْلُ

وفرمائيل جبرائيل! زه خپل ځان غم زده پيدا کونکي وينم او ای جبرائيل! زه خپل ځان مضطرب او

مَکْرُوْبًا	ثُمَّ	جَاءَهُ	الْيَوْمَ	الثَّانِيْ

پریشانی کي وینم حضرت جبرائیل بیا په دویمه ورځ د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خدمت کي حاضر شو او هغه

فَقَالَ	لَهُ	ذٰلِكَ	فَرَدَّ	عَلَيْهِ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	كَمَا

الفاظ یې وویل کوم چې په اولنی ورځ یې ویلي وو نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ هم جواب کي هغه خبره وکړه کومه

رَدَّ	أَوَّلَ	يَوْمٍ	ثُمَّ	جَاءَهُ	الْيَوْمَ	الثَّالِثَ

چې یې مخکي کړې وه په دریمه ورځ حضرت جبرائیل علیه السلام بیا د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ په خدمت کي

فَقَالَ	لَهُ	كَمَا	قَالَ	أَوَّلَ	يَوْمٍ	وَرَدَّ	عَلَيْهِ

حاضر شو او هغه الفاظ یې وویل کوم چې یې مخکي ویلي وو نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ هم هغه خبره وکړه کومه

كَمَا	رَدَّ	عَلَيْهِ	وَجَاءَ	مَعَهُ	مَلَكٌ	يُقَالُ	لَهُ	إِسْمَاعِيلُ

چې یې مخکي کړې وه او په هغه ورځ یا د هغه نه روسته حضرت جبرائیل سره یوه بله فرشته اسمٰعیل

عَلٰى	مِائَةِ	أَلْفِ	مَلَكٍ	كُلُّ	مَلَكٍ	عَلٰى	مِائَةِ	أَلْفِ

هم وه چې د اسې دیو لاکه فریشتو افسره ده چې په هغو کي یوه یوه فریشته د یو یو لاکه فریشتو

مَلَكٍ	فَاسْتَأْذَنَ	عَلَيْهِ	فَسَأَلَهُ	عَنْهُ

افسره وه هغه اسمٰعیل فریشتې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خدمت کي د حاضریدو اجازت وغوښته حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ

ثُمَّ	قَالَ	جِبْرَئِيلُ	هٰذَا	مَلَكُ	الْمَوْتِ

اسماعیل فریشتې ته د حاضریدو اجازت ورکړو او بیا حضرت جبرائیل وویل دا د مرګ فریشته

يَسْتَأْذِنُ	عَلَيْكَ	مَا	اسْتَأْذَنَ	عَلٰى	آدَمِيٍّ	قَبْلَكَ

[عزرایل] هم حاضر دی او د حاضریدو اجازت غواړي حالانکه هغه فریشتې د مرګ نه د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ

وَلَا يَسْتَأْذِنُ	عَلٰى	آدَمِيٍّ	بَعْدَكَ

نه مخکي اجازت غوښتي او نه به دینه روسته د هیڅ چانه اجازه وغواړي نورو خلقو خو اچانک

فَقَالَ	ائْذَنْ	لَهُ	فَأَذِنَ	لَهُ

راځي او روح یې قبض کوي حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وفرمائیل هغه ته اجازه ورکړه نو حضرت جبرائیل عَلَیْہِ السَّلَام

فَسَلَّمَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ

ملک الموت دي اجازت نه خبر کړو او هغه د حاضریدو سره سلام عرض کړو او وویل ای محمد ﷺ

إِنَّ اللهَ أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ فَإِنْ أَمَرْتَنِي أَنْ أَقْبِضَ

الله تعالی زه ستاسو خدمت کي را لیږلي یم که تاسو د روح قبض کولو حکم را کوئ نو قبض به يي

رُوحَكَ قَبَضْتُ. وَ إِنْ أَمَرْتَنِي أَنْ أَتْرُكَهُ تَرَكْتُهُ فَقَالَ

کړم او که تاسو دا حکم را کوئ چي زه تاسو پریږدم نو زه مو پریږدم حضور ﷺ ورته وفرمائیل

وَ تَفْعَلُ يَا مَلَكَ الْمَوْتِ قَالَ نَعَمْ بِذٰلِكَ

ای د مرګ فریشتي! آیا ته به هغه کوي څه چي زه در ته حکم درکړم د مرګ فریشتي جواب ورکړو

أُمِرْتُ وَ أُمِرْتُ أَنْ أُطِيعَكَ قَالَ

بیشکه ماته خو حکم دا راکړی شوی چي تاسو اختیار درکړم او څه چي تاسو فرمایي د هغه اطاعت

فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى جِبْرَئِيلَ

کوم امام علی زین العابدین رحمه الله وایي نبی کریم ﷺ د جبرائیل طرف ته وکتل حضرت جبرائیل علیه السلام

فَقَالَ جِبْرَئِيلُ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللهَ قَدِ اشْتَاقَ إِلَى لِقَائِكَ

عرض وکړو ای محمد ﷺ! حقیقت خو دادی چي الله تعالی ستاسو د ملاقات مشتاق دی

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لِمَلَكِ الْمَوْتِ اِمْضِ لِمَا

حضور ﷺ چي دا واوریدل نو بلا تامل د مرګ فریشتي ته وفرمائیل د کومي خبري چي تا ته

أُمِرْتَ بِهِ فَقَبَضَ رُوحَهُ فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حکم شوی دی په هغه عمل وکړه نو فریشتي د حضور ﷺ روح قبض کړو کله چي د رسول الله ﷺ

وَ جَاءَتِ التَّعْزِيَةُ سَمِعُوا صَوْتًا مِنْ نَاحِيَةِ الْبَيْتِ

وصال وشو خلقو د کور د یو ګوټ نه آواز را تلو سره واوریدل چي یو سړی وایي ای اهل بیتو! کوم

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ

خلق چي دلته موجود دي په تاسي دي سلامتیا وي او د الله تعالي رحمت دي وي او د هغه برکتونه دي

إِنَّ فِي اللهِ عَزَاءً مِّنْ كُلِّ مُصِيبَةٍ وَّخَلَفًا مِّنْ كُلِّ هَالِكٍ
وې بیشکه د الله تعالى په یادولو کې تسلي ده د هر مصیبت نه او الله تعالى د هر هلاک کیدو شي
وَّدَرَكًا مِّنْ كُلِّ فَائِتٍ فَبِاللهِ
بدله ورکونکی او د هر فوت کیدونکی شي تدارک کونکي دي هر کله چې صورت دادی نو د الله
فَاتَّقُوا وَإِيَّاهُ فَارْجُوا فَإِنَّمَا الْمُصَابُ مَنْ حُرِمَ الثَّوَابَ
مدد سره تقوی حاصله کړئ هغه نه اُمید ساتئ مصیبت زده حقیقت کې هغه سړی دی چې دثواب نه
فَقَالَ عَلِيٌّ أَتَدْرُونَ مَنْ هٰذَا؟ هُوَ الْخَضِرُ عَلَيْهِ السَّلَامُ.
محروم کړی شي حضرت علی رضي الله عنه وویل تا سو خلق پوهیږئ دا سړی څوک دی دا حضرت خضر علیه السلام
رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ
دی دا روایت بیهقي د لائل النبوة کې نقل کړی دی.

توضیح : کیف تجدك: یعنې ته خپل ځان په دې مریضتیا کې څنګه مومې؟ (اجدنی) یعنې خپل ځان مغموم او محزون مومم لیکن دا شکایت د الله تعالى په مخ کې کوم (إِنَّمَا أَشْكُو بَثِّي وَحُزْنِي إِلَى اللهِ) بیا هم په هر حال کې د الله تعالى شکر اداء کوم او وایم **الحمدلله**.

هذا ملك الموت: یعنې د ارواحو قبض کولو باندې مقرو ملائکو نه یوه عظیم الشانه ملائکه ده چې ددینه مخکې هیچا ته راغلې نه ده او نه به آینده چا ته راشي او نه هغې د چا نه د راننوتلو اجازه غوښتې ده او نه به په آینده کې د چا نه اجازت غواړي صرف ستا نه د راتللو اجازه غواړي.

و تفعل؟: ای اوتفعل؟ یعنې کوم حکم چې زه درکوم ته به هغسې وکړې؟ ملائکې وویل چې هو ماته دغسې حکم شوی دی.

ان في الله عزاء: یعنې د الله تعالى په دین او د هغه په شریعت کې د هر مصیبت په وخت کې د تسلی او تسکین سامان شته.

و خلفا: خلف قائم مقام ته وایي او عوض ته هم وایې دلته عوض مراد دی یعنې الله تعالى بدله عطاء کونکی دی.

و درکا: ای تدارکا دا د موندلو په معنی سره دی یعنې الله تعالى د هر فوت کیدونکي شی تدارک

کولو والا دی.

فبالله: يعنې د الله تعالى په مدد سره تقوی اختيار کړه.

المصاب: يعنې مصيبت زده په حقيقت کې هغه شخص دی چې د ثواب نه محروم کړی شو.

فقال علی: د دینه زین العابدین هم مراد کیدلی شي او حضرت علی مرتضی رضي الله عنه هم مراد کیدلی شي ثانی زيات واضحه دی چې حضرت علي رضي الله عنه مراد دی.

هو الخضر: علامه طيبی رحمه الله ليکلي **فيه دلالة بينة على ان الخضر موجود.** (مرقات جلد ۱۰ ص ۳۲۵)
د حضرت خضر په حيات او ممات کې د امت د علماوو اختلاف دی، د عامو مشائخو او صوفيو په نزد هغه ژوندی دی مګر نور علماء د هغه د موت قائل دي، دواړو طرفته دلائل دي، د زير بحث حديث نه واضحه کيږي چې حضرت خضر ژوندی دی او هغه د رجال الغيب د افرادو څخه دی، د تکوينی نظام سره متعلق دی په هغه باندې ظاهری نظام او د ظاهری شريعت احکام نافذ کيدلی نشي.کوم علماء چې د هغه د وفات قائل دي هغوی وايې کچيرې هغه ژوندی وای نو د حضور صلى الله عليه وسلم سره به يې ملاقات شوی وو، په هغه باندې به يې ايمان راوړو او په غزواتو کې به شريکيده، همدارنګه په يو حديث کې دي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې نن د ځمکې په مخ چې کوم ژوندی دی هغه به سل کاله بعد ختميږي، خضر که په هغه وخت کې ژوندی وو نو يقينا سل کاله بعد به هغه مړ شوی وي.
صوفياء کرام جواب ورکوي چې وګوره وروره د حضرت خضر د ظاهری نظام سره هيڅ تعلق نشته هغه د باطنی او تکوينی نظام سړی دی، په هغه باندې ظاهری نصوص نه نافذيږي.
زه وايم چې ډير مخلوق وفات شوی دی کچيرې حضرت خضر ته الله تعالى يو طويل عمر عطاء کړی وي تر څو د الله تعالى د قدرت يو ه نمونه جوړه شي نو په دې کې هيڅ استبعاد نشته، همدارنګه د هغه د وفات لپاره د دلائلو د تلاش کولو څه ضرورت دی، کوم خلک چې وفات شوي دي د هغو لپاره استغفار کول پکار دي.

الله تعالى لکه څنګه چې **قادر على الاماتة** دی همدارنګه **قادر على ابقاء الحياة** هم دی، ملا علی قاری رحمه الله ليکلي چې څلور انبياء په دې وخت کې ژوندي دي، دوه په آسمانونو کې دي يعنې حضرت عيسى او حضرت ادريس عليهما السلام او دوه په ځمکه باندې دي يعنې حضرت الياس او حضرت خضر عليهما السلام.

باب ترکۃ النبي صلی اللہ علیہ وسلم

د حضور اکرم صلی اللہ علیہ وسلم د ترکې په بیان کې

دلته دا باب د عنوان نه بغیر دی ګویا دا د باب وفات النبی صلی اللہ علیہ وسلم لپاره په طور د تابع او په طورد تکمیل دی لیکن په دې باب کښې چه څومره احادیث دي د هغو ټولو تعلق د حضور صلی اللہ علیہ وسلم د ترکې سره دی په دغه وجه شارحینو دلته د باب ترکۃ النبی صلی اللہ علیہ وسلم باب تړلی دی، ما هم داسې وکړل، په دې باب کښې فصل ثانی او فصل ثالث نشته.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

حضور صلی اللہ علیہ وسلم هیڅ مالی وصیت نه دی کړی

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ دِيْنَارًا وَلَا
بي بي عائشه رضی اللہ عنہا وايي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم د خپل وفات نه روسته نه څه دينار پريښودل نه څه
دِرْهَمًا وَ لَا شَاةً وَ لَا بَعِيْرًا وَ لَا أَوْصٰى بِشَيْءٍ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
درهم نه څه چيلۍ پريښودلې او نه اوښ او نه حضور صلی اللہ علیہ وسلم د څه شي وصيت وکړو [مسلم]

توضیح: ولا اوصی: يعنې حضور صلی اللہ علیہ وسلم کوم داسې وصيت ندی کړی چه د هغه تعلق د مال او جايداد سره وي، هو! د دين سره متعلق هغه په آخرى وخت کښې وصيتونه فرمايلي دي، چونکې هغه د خپل ځان سره کوم مال ايخى نه وو په دغه وجه د وصيت ضرورت نه وو، کوم څه چه د هغه سره وو هغه يې په خپل ژوند کښې صدقه کړي وو، صرف څو جهادى سلاح ګانې يې پريښودې. همدارنګه حضور صلی اللہ علیہ وسلم د خپل وفات نه بعد کوم څوک وصي مقرر کړى نه وو او نه يې د خلافت لپاره غوره کړی وو، په دې جملې سره د شيعه ګانو هغه غلطه عقيده رد کول مقصود دي چه په هغې کښې شيعه وايي چه حضرت علی رضی اللہ عنہ د حضور اکرم صلی اللہ علیہ وسلم مالی وصی وو او د خلافت وصيت هم د هغه لپاره شوی وو لکه څنګه چه شيعه په خپلو آذانونو کښې د دغې غلطې عقيدې ترويج کوي او وايې اشهد ان علياً ولی الله و وصی رسول الله (علی الرافضة لعنة الله).

حضور صلی اللہ علیہ وسلم د جهادی اسلحې نه علاوه هيڅ ترکه [ميراث] نه دی پريخی

﴿۲﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ أَخِيْ جُوَيْرِيَةَ قَالَ مَا تَرَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عمرو ابن حارث چه د ام المؤمنين بي بي جويريه رضی اللہ عنہا ورور دی وايي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم

عِنْدَ مَوْتِهِ دِينَارًا وَلَا دِرْهَمًا وَلَا عَبْدًا وَلَا أَمَةً وَلَا
د خپل وفات په وقت نه څه دینار او درهم پریښودل نه څه غلام او وینزې یې پریښودې او نه څه بل
شَيْئًا إِلَّا بَغْلَتَهُ الْبَيْضَاءَ وَسِلَاحَهُ وَأَرْضًا
شی البته د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه سپینه قچره وه د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه هتیاروو او څه ځمکه وه چه
جَعَلَهَا صَدَقَةً. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
هغه هم حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صدقه کړې وه [بخاری]

توضیح: ارضاً: دا وقفی ځمکه وه چه د فدک او بنو نضیر په علاقه کښې وه چه د هغې نه د هغه د اهل او عیال خرچه وتله.

د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ترکې کې میراث نه چلیږي

﴿۲﴾وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَقْتَسِمُ وَرَثَتِي
او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل زما د وفات نه روسته زما وارثان
دِينَارًا، مَا تَرَكْتُ بَعْدَ نَفَقَةِ نِسَائِي وَمَئُونَةِ
به دینار نه تقسیموي زما چه څه میراث وي هغه به د ښځو د خرچ او د عامل د اُجرت نه روسته باقي
عَامِلِي فَهُوَ صَدَقَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ټول صدقه وي. [بخاری او مسلم]

توضیح: **نفقة نسائي**: حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په فدک کښې او همدا رنګه د بنو نظیر په علاقه کښې څه ځمکه اخیستې وه چه د هغې نه به د هغه د اهل او عیال خرچه کیدله او د هغې نه به چه څه پاتې کیدل هغه به په مسلمانانو باندې تقسیمیدله، د هغه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ازواجو لپاره د هغه د وفات نه بعد نکاح کول منع وو ځکه چه د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حیات برزخی اثر په دنیا باندې پریوځي لهذا د ازواج مطهرات حیثیت داسې وو چه ګویا هغوی په عدت کښې ناستې دي نو ځکه د هغوی خرچه د ده په ذمه باندې وه. **مؤنة عاملي**: مؤنة بوج ته وایي او د عامل نه مراد د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته خلفاء دي لکه ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغې وقفی ځمکې سرپرستي

وکړه ، بیا حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سرپرستي وکړه ، بیا حضرت عثمان رض د هغه تولیت مروان ته حواله کړو ، بیا په دې کې څه ذاتي قبضه راغله ، بیا حضرت عمربن عبدالعزیز دغه قبضه لرې کړه او وقفي یې وګرځوله ، هر څه چه وشول هغه الله تعالی ته معلوم دي ، ددې حدیث نور تفصیل به انشاء الله په مناقب عمر رضي الله عنه کښې راشي .

د نبي علیه السلام په ترکه کې میراث نه جاري کیږي

﴿۴﴾ وَ عَنْ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او حضرت ابوبکر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمائیل مونږ انبیاء] چه څه څمکه
لَا نُوْرَثُ مَا تَرَكْنَاهُ صَدَقَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
جائیداد پریږدو هغه کي میراث نه جاري کیږي بلکه هغه صدقه ده. [بخاری و مسلم]

توضیح : لانورث: یعني مونږ د انبیاؤ جماعت نه د چا وارث کیږو چه د میراث مال واخلو او نه څوک زمونږ وارث کیدلی شي چه زمونږ د مال څخه د میراث حصه واخلي ، مونږ چه کومه ترکه پریښودله هغه د عامو مسلمانانو لپاره وقفي صدقه ده ، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دغه حدیث په طور د دلیل بیان کړی وو چه کله حضرت فاطمه رضي الله عنها د حضور ﷺ د فدک د باغ او بنو نظیر د مالونو مطالبه وکړه ، د حضرت صدیق رضي الله عنه دغه فیصله د هغه خپله ذاتی رأیه نه وه بلکه د صحابه کرامو جم غفیر دغه فیصله منظور کړې وه او حدیث په دې باندې دلالت کولو .

ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښې چیرته لیکلي چه د حضور ﷺ په مال کښې میراث د دې لپاره نه چلیږي چه هغه ﷺ ژوندی دی ګویا د هغه د لاس نه مال وتلی نه دی ، همدا وجه وه چه د ازواج مطهراتو سره نکاح کول حرام وو .ملا علی قاری رحمه الله دا بحث هم چیړلی دی چه آیا دا حکم د ټولو انبیاؤ دی او که تر حضور اکرم ﷺ پورې خاص دی راجح او معتمد قول همدا دی چه دا د ټولو انبیاؤ لپاره عام حکم دی ، علماؤ لیکلي دي چه د حضور اکرم ﷺ په مال کښې میراث ددې لپاره هم نه جاری کیده تر څو کوم شخص د نبی په مرګ باندې ددې لپاره خوشحالی ونکړي چه هغه ته به د نبی د مال څخه میراث ملاؤ شي .

د امت نه مخکې د نبي وفات د امت لپاره بهتر وي

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوي چه حضور ﷺ

قَالَ إِنَّ اللّٰهَ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِّنْ عِبَادِهٖ

وفرمائيل الله تعالىٰ چه خپلو بندګانو كې د كوم اُمت باره كې د خپل رحمت او مهربانۍ اراده وكړي

قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا فَجَعَلَهُ لَهَا فَرَطًا وَسَلَفًا بَيْنَ

نو د هغه اُمت نبي د اُمت نه مخكې پورته كوي د غه شان الله تعالىٰ هغه نبي د اُمت امير منزل او پيش

يَدَيْهَا وَإِذَا أَرَادَ هَلَكَةَ أُمَّةٍ عَذَّبَهَا وَنَبِيُّهَا

رو جوړوي او هر كله چه الله تعالىٰ يو اُمت هلاكول غواړي نو هغه اُمت باندې د هغه نبي په ژوند كې

حَيٌّ فَأَهْلَكَهَا وَهُوَ يَنْظُرُ فَأَقَرَّ عَيْنَيْهِ

عذاب مسلط كوي نو هغه اُمت د هلاكت او تباهۍ ښكار كيږي او هغه نبي د خپل اُمت هلاكت او

بِهَلَكَتِهَا حِيْنَ كَذَّبُوْهُ

تباهي په خپلو سترګو سره ويني او خپلې سترګې پرې يخوي يعني خوشحاليږي ځكه چه هغه اُمت

وَ عَصَوْا أَمْرَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

به خپل نبي دروغجن كولو او د هغه نافرمانۍ به يې كوله. [مسلم]

ذات رسالت سره په امت كې دعقيدت او محبت پيشن ګوئي

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمائيل قسم دى په هغه ذات چه د هغه په

نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ لَيَأْتِيَنَّ عَلٰى أَحَدِكُمْ يَوْمٌ وَّلَا يَرَانِيْ

قبضه كې د محمد ﷺ ساه ده. يوه ورځ به په تاسو باندې داسې راشي چه كوم سړى ما ونه ويني

ثُمَّ لَأَنْ يَرَانِيْ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ أَهْلِهٖ وَمَالِهٖ مَعَهُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

او بيا هغه ته به د هغه د مال او اهل او عيال نه ډېر خوښ وي. [مسلم]

توضيح: ليأتين: دا خطاب صحابه كرامو ته دى او بيا ټول امت ته هم دى يعني يوه زمانه به داسې راشي چې زما د وفات نه وروسته زما سره محبت كونكي به داسې خلك وي چې دا خبره به خوښوي

چې د هغوی اهل او عیال او مال او منال ټول قربان شي مګر د حضور ﷺ دیدار هغوی ته نصیب شي.

معهم: دا لفظ یې په طور د تأکید لګولی دی یعنې د اهل او عیال سره به مال هم قربان کړي، په دې سره موجوده صحابو ته ترغیب ورکول دي چه ددې دولت کبری او نعمت عظمی نه پوره پوره فائده واخلئ! او سستي مه کوئ! ولې سبا ته به پښیمانه یاستئ.

یو شاعر ویلي دي:

تمتع من شمیم عرار نجد فما بعد العشیة من عرار

ترجمه: د نجد د ګلستان د عرارنامو د ګلابو د بویولو نه فائده پورته کړه ځکه د ماښام نه وروسته چه کله سفر وشي بیا به دا نه پیدا کیږي.

زه حقیر بنده عاجز چه کله خپل زړه ته ګورمه نو زه د غه سودا باعث د سلو افتخارونو ګڼم.

فلیتک تحلو والحیات مریرة ولیتک ترضی والانام غضاب

کـه چـا وویـل چـه جـانـان راغـی

کـه مـې پـانـسي کـړي سـلامـی لـه بـه یـې ځـمـه

باب مناقب قريش وذكر القبائل

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (الحجرات)

[وهذا الدرس كتبت بعد رجوعي من بلدتي وقريتي راشنگ من مضافات بتگرام الائي وفي غرة رجب ۱۴۱۸ سنة ۲ نوفمبر ۱۹۹۷ء وقعت واقعة فاجعة وحدثت حادثة كارثة في الجامعة حين استشهد رئيس الجامعة مولانا حبيب الله المختار ومعه متاع الجامعة وناظمها المفتي عبدالسميع رحمهما الله رحمة واسعة ووقفت الدراسة طيلة الاسبوع وهذا اوان بداية الدراسة ۷ رجب ۱۴۱۸هـ]

مناقب قريش: مناقب د منقبة جمع ده، منقبت هغه فضيلت او برتري او بزرگۍ ته ويل کيږي چه د هغه په ذريعه انسان د الله تعالى په نزد د عظمت او شرافت والا جوړ شي او د مخلوق خدا په نزد هم عزت، کاميابي، رفعت او بلندي حاصله کړي. کوم شخص چه د الله تعالى په نزد د عزت او شرافت مقام پيدا کوي هغه د مخلوق په نزد هم لوی مقام حاصلوي، البته د مخلوق سره معزز کيدل د الله تعالى سره د مقبول کيدلو دليل نه دی بلکه چه کله د الله تعالى سره د قبوليت مقام پيدا شي نو د مخلوق سره به هم د مقبوليت اعتبار وي او که نه نو نه به وي. قريش د عربو د يوې مشهورې او معروفې قبيلې نوم دی، په حقيقت کې (قريش) د بحر هغه لوی ماهی ته ويل کيږي چه په بحر کې په ټولو ماهيانو باندې غالب پاتې کيږي دا قبيله هم په ټولو قبيلو باندې غالبه وه، لفظ د قريش د نضر بن کنانه لقب وو د هغه په اولاد کې چه څومره قبائل وو نو په هغو باندې د قريش اطلاق وشو، کوم عرب چه د نضر بن کنانه په اولاد کې نه دي هغه قريش نه دي.

وذكر القبائل: قبائل جمع ده مفرد يې قبيلة دی دلته په دې باب کې د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د اولاد مختلفو قبائلو خصوصيات او امتيازات، نيکي او بدي اجمالي طور باندې بيان شوي دي. چونکې د هرې قبيلې لپاره مشروي او هغه د خپل ماتحت لپاره قواعد او قوانين او طريقې مقرروي لکه شاعر وايي:

من معشر سنت لهم آباء هم ... ولكل قوم سنة وامامها

په دغه اعتبار سره هره قبيله خپل مشر پلار ته منسوبيږي او د دغه قسم خصوصياتو بيان کيږي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

په قيادت او سيادت کې د قريشو فضيلت

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلنَّاسُ تَبَعٌ لِقُرَيْشٍ

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل په دې خبره کې خلق د قريشو تابع

فِيْ هٰذَا الشَّأْنِ مُسْلِمُهُمْ تَبَعٌ لِمُسْلِمِهِمْ وَكَافِرُهُمْ تَبَعٌ لِكَافِرِهِمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

دي غیر قریشي مسلمانان د قریشي مسلمانانو او غیر قریشي کافران د قریشي کافرانو تابع دي. [بخاری ، مسلم]

توضیح: الناس تبع: یعنې ټول خلک د قریشو تابع دي د قریشو مسلمان د غیر قریشو مسلمانانو سردار او خلیفه دی او د قریشو کافر د هغو د کافرانو سردار دی ، د دې مطلب دا دی چه کله قریشو اسلام قبول کړی نه وو نو عرب په دې انتظار کې وو چه آیا قریش به اسلام قبول کړي او که نه ، چه کله قریشو اسلام قبول کړلو او مکه فتحه شوه نو ټول عرب په اسلام کې داخل شول ، د دې نه معلومه شوه چه قریش په حالت کفر کې هم مشران دي ګویا د قیادت او سیادت او د حکومت او خلافت صلاحیت او استعداد الله تعالی په قریشو کې ایخی دی لهذا ټول غیر قریش د دوی تابع دي ، په دې حدیث کې امامت کبری یعنې حکومت او خلافت ته اشاره ده چه په دې کې به خلک د قریشو تابع وي ، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د انصارو په مخ کې په دغه حدیث سره د قریشو په قیادت باندې استدلال فرمایلی وو چه الائمة من قریش. په دې حدیث کې د قریشو د تقدم او مقدم کولو ترغیب دی چه خلکو ته پکار دي چه د قریشو د قیادت خیال وساتي ، کچیرې چا د دې خصوصیت خیال ونه ساتلو نو د دې مطلب دا نه دی چه د غیر قریشي قیادت صحیح نه دی ، قیادت او خلافت صحیح دی البته د کومو خصوصیاتو حامل چه یو قریشي کیدلی شي غیر قریشي کیدلی نشي.

نو په دې حدیث کې د قریشو خصوصیات ، امتیازات او د لیاقت ذکر دی او د قریشو د اهمیت او اهلیت او د هغوی د صفاتو ذکر دی ، د دې مطلب دا نه دی چه غیر قریش دې د هغه اهل ونه ګڼل شي بلکه په حدیث کې د قریشو د یو استحقاق او ترجیح ذکر دی چه کچیرې دوه کسان هم په دنیا کې قریش پاتې شي نو یو دې امیر جوړ شي او دویم دې مامور جوړ شي دا هم د دغه حدیث یوه تشریح ده ، مګر نورو علماوو او فقهاوو لیکلي دي چه د خلیفه لپاره قریشي کیدل لازم دي د غیر قریشي بادشاه جوړول د مسلمانانو لپاره جائز نه دي ځکه په دې باندې اجماع شوې ده ، صحابه کرامو داسې فیصله کړې ده فقهاوو هم همداسې لیکلي دي لهذا د قریشي په وجود کې غیر قریشي صحیح نه دی ، هو ! کچیرې قریشي موجود نه وو نو بیا دې د کنانه څخه کوم فرد خلیفه جوړ کړی شي ، او کچیرې هغه پیدا نشو بیا به په عربو بنو اسماعیل کې کوم یو خلیفه وګرځول شي ، کچیرې د هغوی نه څوک پیدا نشو نو بیا به کوم عجمي کس راوړلی شي . په هر حال د خلیفة المسلین لپاره د قریشي کیدلو شرط په ټولو کتابونو او احادیثو کې شته البته بعضو شیعو ، متعزلو ، مبتدعینو ، مودودینو ، د دغه شرط نه انکار کړی دی .

قریش سرداران دي

﴿۲﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلنَّاسُ تَبَعٌ

او حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل چه خلق په خیر او شر کې د

لِقُرَيْشٍ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
قریشو تابع دي. دا حدیث مسلم روایت کړی

د خلافت حق قریشو ته حاصل دی

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَايَزَالُ هٰذَا الْأَمْرُ فِيْ قُرَيْشٍ
او حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی نبی کریم صلی الله علیه وسلم و فرمائیل دا امر یعني خلافت به همیشه قریشو
مَا بَقِيَ مِنْهُمُ اثْنَانِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
کې وي څو پورې چه هغوی کې دوه خلق هم پاتې وي. [بخاری مسلم]

د امیر اطاعت د نفاذ شریعت سره مشروط ده

﴿۴﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ هٰذَا الْأَمْرَ
او حضرت امیر معاویه رضي الله عنه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا واورید ل بلا شبه دا امر یعني منصب
فِيْ قُرَيْشٍ لَا يُعَادِيْهِمْ أَحَدٌ إِلَّا كَبَّهُ اللهُ عَلَى وَجْهِهِ
خلافت به قریشو کې وي څو پورې چه هغوی په دین قائم وي او کوم سړی چه د قریشو سره د ښمني
مَا أَقَامُوا الدِّيْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.
او عداوت لري الله تعالی به هغه پر مخې وغورځوي [بخاری]

توضیح: (ما اقاموا الدین) یعنې د قریشو استحقاق خلافت د دې خبرې سره مشروط دی چه هغوی به تنفیذ د شریعت کوي، د دین د حدودو حفاظت به کوي ځکه د خلافت اصل مقصود د دین تنفیذ او د اسلام بیرغ پورته کول دي کچیرې قریشو دا کار پریښودو نو بیا د خلافت مستحق نه پاتې کیږي بلکه واجب العزل به وي، په بعضو روایاتو کې د ما اقاموا الصلوة الفاظ راغلي دي لهذا شارحینو لیکلي دي کچیرې کوم بادشاه په خپله لمونځ نه کولو او د لمانځه لپاره یې کوم نظام هم نه قائمولو نو هغه هم واجب العزل دی، نو تنفیذ شریعت او اقامت الصلوة کچیرې په کوم بادشاه کې نه وي نو هغه واجب العزل دی او د هغه په خلاف خروج او بغاوت ضروري دی، نن سبا مسلمانان حکمرانان اقامة الصلوة خو څه کوې لمونځ کونکي د لمانځه څخه منع کوي د داسې منافقینو او معاندینو په خلاف د بغاوت بیرغ اوچتول په مسلمانانو باندې لازم دي مګر مسلمانان کمزوري شوي دي. (لایعادیهم) دا د عداوت او د ښمنی په معنی سره دی.

(کبه الله) پړمخې په دوزخ کې غورځولو او د سرچپه ځوړندولو په معنی سره دی.

قریشو نه د دولس ۱۲ خلفاوو د راتګ مطلب

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ
او حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل اسلام ته به دولس ۱۲ خلفاوو
لَايَزَالُ الْإِسْلَامُ عَزِيْزًا إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيْفَةً كُلُّهُمْ مِّنْ قُرَيْشٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ
پورې قوت او غلبه حاصليږي او ټول به قريشو نه وي يو روايت كې داسې دي د نظام كار سلسله به
لَا يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِيًا مَّا وَلِيَهُمْ اِثْنَا عَشَرَ رَجُلًا كُلُّهُمْ مِّنْ قُرَيْشٍ
هغه وقته پورې قائمه وي ښو پورې چه د هغوي دولس حاكمان وي او د هغوي ټولو تعلق به د قريشو
وَفِيْ رِوَايَةٍ لَا يَزَالُ الدِّيْنُ قَائِمًا حَتّٰى تَقُوْمَ السَّاعَةُ أَوْ يَكُوْنَ
سره وي او يو روايت كې داسې دي دين به برابر قائم وي تر دي چه قيامت راشي او يا په خلقو د دي
عَلَيْهِمْ اثْنَا عَشَرَ خَلِيْفَةً كُلُّهُمْ مِّنْ قُرَيْشٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
دولسو خليفه ګانو حكومت قائم وي چه هغه به قريشو نه وي. [بخاري ومسلم]

توضیح: (اثنى عشر خليفة) يعنې قيامت تر هغه وخته پورې نه راځي تر ښو چه د قريشو دولس خليفه ګان ظاهر نشي، په دې حديث باندې پوهيدل او د دې مصداق متعين كول ډير مشكل دی په دغه وجه لږ د تفصيل ضرورت شته، لهذا پوهيدل پكار دي چه په دې حديث كې د مذكوره دولس خليفه ګانو نه دا مراد نه دی چه هغوی به د حضور صلى الله عليه وسلم پسې متصل يو د بل پسې راځي ځكه د حضور صلى الله عليه وسلم نه بعد متصل خلافت على منهاج النبوة خو د حديث د پيشنګوئی مطابق صرف دېرش كاله پاتې شوی دی، د هغه نه بعد د خلافت على طريق العموم سلسله شروع شوی وو ، لهذا په دې حديث كې د دولس خليفه ګانو نه داسې خلفاء مراد دي چه تر قيامته پورې به په مختلفو اوقاتو كې راځي چه د هغوی د عدل او انصاف چرچه به وي. په همدې تناظر كې دلته د دې حديث په تشريح كې ښو اقوال هم دي:

اول قول: قاضی عياض مالكي فرمايي چه د دولس خليفه ګانو نه مراد هغه خلفاء دي چه د حضور صلى الله عليه وسلم نه بعد واخله د بنوامیه تر دورې پورې دولس خليفه ګان جوړ شوي دي د هغوی مجموعی حالات ښه وو او اګرچه په هغو كې بعضې خراب راغلي دي ليكن هغو ته اعتبار نشته. دويم قول: دويم قول دا دی چه د دې دوولس خلفاوو ښخه هغه خلفاء مراد دي چه عادلان متقيان پرهيزګاران به وي، په تسلسل سره به نه وي بلكه تر قيامته پورې به د غه رنګه دوولس

خلفاء پوره کیږي، د پوهې په اعتبار دا قول آسانه دی. دریم قول: دریم قول دا دی چه د دې دوولس خلفاوو نه هغه خلفاء مراد دي چه د امام مهدی نه بعد به شروع کیږي د مهدی په اولاد کې به وي او تر یونیم سل کاله پورې به په نهایت عدل وانصاف سره حکومت قائموي ګویا دا د قیامت د علاماتو څخه یوه علامه ده چه د قرب قیامت په وخت کې به ظاهرېږي. څلورم قول: څلورم قول دا دی چه د دې دوولس خلفاوو نه د یوې زمانې داسې خلفاء مراد دي چه په مختلفو بلاد اسلامیو کې به حاکم وي د هغوی وجود به باعث د اتفاق او اتحاد نه وي بلکه باعث د شورش او نزاع به وي، د حدیث مطلب به دا شي چه د هغوی د راتګ نه مخکې به عدل او انصاف وي مګر د هغوی د راتګ نه بعد به د ملوک الطوائفی دور شروع شي او اختلافات به وي.

اوس سوال دا دی چه شیعه حضرات چه خپل دوولس امامان د دې حدیث مصداق بنایي آیا هغه صحیح ده؟ د دې جواب دا دی چه شیعه ګان غلط وایي، په حدیث کې د دوی د دوولس امامانو ته اشاره هم نشته، صرف د اثناعشر لفظ دی دوی خپل ځان ته اثناعشر وویل او د دیوې پارټۍ (ډلې) بنیاد یې کیښود، دغه خلک په دې حدیث کې تحریف کوي او ظلم کوي، تعجب خو په دې باندې دی چه د دوی په دوولسو امامانو کې د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت حسن رضی الله عنه نه علاوه څوک خلیفه شوی نه دی، کوم شخص چه یوه ورځ هم خلافت کړی نه دی هغه ته خلیفه ویل څومره غټ دروغ دي، که حقیقت ته وکتلی شي نو د روافضو د مذهب بنیاد په دروغو باندې کېښودلی شوی دی، د کومو خلکو قرآن چه تر اوسه غائب دی نو د هغو دین به چیرته وي؟ (او یکون علیهم) دلته او په معنی د واو سره دی د عطف لپاره دی ای ویکون علیهم الخ.

د څو عربو د څو قبائلو ذکر

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِفَارٌ									
او حضرت ابن عمر رضی الله عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل [قبیله] غفار ته دي الله تعالی									
غَفَرَ	اللّٰهُ	لَهَا	وَأَسْلَمُ	سَالَمَهَا	اللّٰهُ	وَعُصَيَّةُ	عَصَتِ		
مغفرت وفرمایي او قبیله اسلم دي الله سلامته ولري عصیه [خو هغه قبیله ده] چه د الله ! او د الله									
اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.									
د رسول الله صلی الله علیه وسلم معصیت کې مبتلا شوه.									

توضیح: (غفار غفرها الله) غفار په غین باندې کسره ده د عربو یوه مشهوره قبیله ده چه په هغې کې یو مشهور صحابی ابوذر غفاری رضی الله عنه پیدا شوی وو، حضور صلی الله علیه وسلم د دې قبیلې د نوم مبدء اشتقاق غفران ته په کتو هغوی ته د مغفرت دعاء وفرمایله. (اسلم) اسلم هم د عربو یوه مشهوره قبیله ده دې قبیلې د جنګ نه بغیر اسلام قبول

کړې وو، حضور ﷺ د دوی د نوم مبدأ اشتقاق ته وکتل د هغوی لپاره يې د سلامتيا دعاء وفرمايله.

(عصية) دا د هغې بدبختې قبيلې نوم دی چه هغوی او يا صحابه قاريان په بئر معونه کې په چل او دوکې سره شهيدان کړي وو. حضور ﷺ د دوی د نوم مبدأ اشتقاق ته وکتل د هغوی لپاره يې د معصيت په وجه بد دعائي وفرمايله.

د څو قبايلو فضيلت

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُرَيْشٌ وَّالْأَنْصَارُ وَجُهَيْنَةُ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ وفرمائيل قريش انصار او قبيله جهينه [مسلمانان]
وَمُزَيْنَةُ وَأَسْلَمُ وَغِفَارٌ وَّأَشْجَعُ مَوَالِيَّ لَيْسَ لَهُمْ مَوْلًى
او قبيله اسلم او قبيله غفار او قبيله اشجع [مسلمانان] زما دوستان او مدد ګاران دي د هغوی مدد
دُوْنَ اللهِ وَرَسُوْلِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ګار او دوست د الله ! او د رسول الله ﷺ نه ماسوا بل څوک نشته. [بخاری و مسلم]

توضيح: (قريش) يعنې د قريش قبيلې چه کوم مسلمانان دي. (الانصار) د دينه د مدينې انصار مراد دي. (موالي) ياء د متکلم ته مضاف دی دا د مولی جمع ده د دوست په معنی سره يعنې دغه قبائل زما دوستان دي او د هغوی دوست يوازې الله او د هغه رسول دی.

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمُ وَغِفَارٌ وَّمُزَيْنَةُ وَجُهَيْنَةُ
او حضرت ابوبکره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمائيل اسلم غفار مزينه او جهينه دا ټولې
خَيْرٌ مِّنْ بَنِيْ تَمِيْمٍ وَّمِنْ بَنِيْ عَامِرٍ وَّالْحَلِيْفَيْنِ بَنِيْ أَسَدٍ وَّغَطْفَانَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
قبيلې د بنو تميم او بنو عامر رضي الله عنه د دواړو حليفو قبيلو يعني بنو اسد او غطفان نه بهتر دي. [بخاری مسلم]

توضيح: ومن بني عامر: يعنې د بنو تميم او بنو عامر دواړو قبيلو نه اسلم او غفار او جهينه او مزينه قبيلې بهترې دي همدا رنګه په خپل مينځ کې چه دوه قبيلې حليفې جوړې شوې يعنې بنو اسد او غطفان د هغه نه هم دغه مندرجه بالا څلور قبيلې ښې دي ځکه هغوی د اسلام په قبلولو کې سبقت اختيار کړی دی او د هغوی د مستقبل احوال به هم ښه پاتې کيږي.

من بنى اسد و عطفان: من د بيان لپاره دی چه د الحليفين لپاره بيان واقع شوی دی، په زمانه د جاهليت کې د بنو اسد او غطفان معاهده وه لهذا د الحليفين څخه بنو اسد او غطفان مراد دي.

د بنو تميم درې خصوصيات

﴿۹﴾ وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ مَا زِلْتُ أُحِبُّ بَنِيْ تَمِيْمٍ مُنْذُ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمايي زه بنو تميم د هغه وقت نه هميشه عزيز او دوست لرم هر کله چه ما

ثَلَاثٍ سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دهغوی د درې خاصو خوبيانو ذکر د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه آوريدلی دی حضور صلى الله عليه وسلم نه مي دا واوريدل

يَقُوْلُ فِيْهِمْ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ هُمْ أَشَدُّ أُمَّتِيْ عَلَى الدَّجَّالِ

چه زما په اُمت کې بنو تميم هغه خلق دي چه د دجال مقابله کې به د ټولو نه زيات سخت او زړور ثابت

قَالَ وَجَاءَتْ صَدَقَاتُهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذِهٖ

شي د بني تميمو صدقات راغلل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل دا زمونږ د قوم د طرف نه راغلی

صَدَقَاتُ قَوْمِنَا وَكَانَتْ سَبِيَّةٌ مِنْهُمْ عِنْدَ عَائِشَةَ

صدقات دي او بنو تميم سره تعلق لرونکې يوه وينزه بي بي عائشي رضي الله عنها سره وه د هغې باره کې

فَقَالَ أَعْتِقِيْهَا فَإِنَّهَا مِنْ وُلْدِ

حضور صلى الله عليه وسلم بي بي عائشې رضي الله عنها ته وفرمائيل چه دا وينزه آزاده کړه ځکه چه دا د

إِسْمَاعِيْلَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

حضرت اسمٰعيل عليه السلام د اولاد نه ده.

توضيح: (من ولد اسمعيل) ټول عرب د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه دي مګر د بنو تميم د قدر او منزلت د ظاهرولو په غرض حضور اکرم صلى الله عليه وسلم هغو ته (من ولد اسمعيل) وفرمايلو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د قريشو بې عزتي مه کوئ ذليله به شی

﴿۱۰﴾ وَعَنْ سَعْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ يُرِدْ هَوَانَ

حضرت سعد رضي الله عنه د نبی کريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې نبی کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل کوم سړی چه

قُرَيْشًا	هَانَهُ	اللهُ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ
د قریشو ذلت او سپکاوی وغوښته الله تعالی به هغه ذلیل او خوار کړي. [ترمذی]				

توضیح: من يرد: دا ارادة د باب افعال څخه دی او د شرط په وجه مضارع مجزومه ده یعني د قریشو تذلیل او اهانت مه کوئ که هغه حاکم وي یا محکوم وي، کچیرې تاسو د هغوی تذلیل وکړئ نو الله تعالی به ناراضه شي او تاسې به ذلیله او رسوا کړي.

د قریشو په حق کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دُعا

﴿۱۱﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ اَللّٰهُمَّ		
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې دعا وکړه ای الله تا قریشو باندې ابتداء کې		
أَذَقْتَ	أَوَّلَ	قُرَيْشٍ
د غزوه بدر او غزوه احزاب په موقع د شکست او تباهي] عذاب او څکولو [خو اوس چه هغوی اسلام		
نَكَالًا	فَأَذِقْ	آخِرَهُمْ
قبلولو سره او ستا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اطاعت اختیار ولو سره دین او مسلمانانو ته تقویت او مدد		
نَوَالًا.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.
رسولی دی نو آخر کې هغوی په عطاء او بخشش سره ولمانځه. [ترمذی]		

توضیح: اول قریش: د قریشو ابتدائی خلک او ابتدائی حصه د هغو خلکو وه چه بدر ته راغلل او هغوی ته عبرتناکه سزا ملاو شوه. **نکالا:** نکال بَلا و مصیبت او عبرتناکې سزا ته ویل کیږي په قحط سالۍ او د شیانو په قلت باندې یې هم اطلاق کیږي، دا ټولې سزاگانې قریشو ته رسیدلي وې. **نوالا:** عطایا او انعامات او فتوحات مراد دي، د قریشو آخری حصې ته دغه نعمتونه د اسلام د غلبې په وجه حاصل شوي وو، قریش چونکې د بیت الله متولیان وو په دغه وجه د دوی لپاره یو مقام وو چه کله د کفر څخه تائب شول نو د دعاء مستحق شول.

د اشعریه قبیلې فضیلت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ عَامِرِ نِ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الْحَيُّ الْأَسْدُ
او حضرت ابو عامر اشعری رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کوي چی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل اَسد او اشعری ډیری ښې

وَالْأَشْعَرُوْنَ لَايَفِرُّوْنَ فِي الْقِتَالِ وَلَايَغُلُّوْنَ، هُمْ
قبیلي دي دا دواړه قبیلي نه د کفارو مقابله کښ د جنګ نه تښتي او نه مال غنیمت کښ خیانت کوي هغوی
مِنِّيْ وَأَنَا مِنْهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
زما نه دي او زه د هغوی نه یم دا روایت ترمذی نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث غریب دی.

توضیح: **الاسد والاشعرون**: د یمن د یوې قبیلې د لوی سردار نوم اسد وو، د همدغه شخص په نوم سره د اسد قبیله متعارف او مشهوره شوه. همدې قبیلې ته ازد هم ویل کیږي او ازدشنوئة هم ویل کیږي، د مدینې د انصارو تمامو عربو تعلق د همدې قبیلې سره وو، په همدې قبیلې کښ یو بل سردار وو چه د هغه نوم عمرو بن حارثه وو او لقب یې اشعر وو، همدغه اشعر ته منسوبو خلکو ته اشعري، اشعرون او اشعریون ویل کیږي، حضرت ابوموسی اشعری رضي الله عنه همدې قبیلې څخه وو، ګویا اسد، ازد، ازدشنوئة، ازدالله او اشعرون ټول د یوې قبیلې نومونه دي.

لایغلون: په مال غنیمت کښ یې خیانت نه کولو.

ازد ازدُ الله ! دي [یعني د الله لښکر دی]

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَ لْاَزْدُ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل د قبیله ازد خلق د ځمکې په مخ باندي
أَزْدُ اللهِ فِي الْأَرْضِ. يُرِيْدُ النَّاسُ أَنْ يَضَعُوْهُمْ
دالله ازد [یعني د الله لښکر او د هغه د دین معاون او مددګار] دي خلق دا قبیله ذلیل او خوار کول غواړي
وَيَأْبَى اللهُ إِلَّا أَنْ يَرْفَعَهُمْ وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ
او الله تعالی د هغوی بر خلاف د دې قبیلي خلقو ته عزت او بلندي ورکول غواړي یقینًا خلقو باندي
زَمَانٌ يَقُوْلُ الرَّجُلُ يَا لَيْتَ أَبِيْ كَانَ أَزْدِيًا وَيَا لَيْتَ
هغه زمانه راتلونکې ده هر کله چه سړی به دي ویلو باندې په نظر راځي چه ارمان چې زما پلار آزدي
أُمِّيْ كَانَتْ أَزْدِيَّةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
وی او ارمان زما مور د قبیله ازد نه وی دا روایت ترمذی نقل کړی دی او ویلي یې دي چه دا حدیث غریب دی.

د دري قبيلو باره کې د حضور ﷺ دنا خوښۍ اظهار

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَكْرَهُ ثَلَاثَةَ أَحْيَاءٍ
او حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ د دريو قبيلو ثقيف، بنو حنيفه او بنو اميه نه
ثَقِيفٍ وَبَنِي حَنِيفَةَ وَبَنِي أُمَيَّةَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.
ناراضه ددي دنيا نه تشريف يوړو دا روايت ترمذی نقل کړی دی او ويلي يې دي چه دا حديث غريب دی.

توضيح : **ثقيف**: په دې قبيله کې مشهور ظالم حجاج بن يوسف پيدا شوی وو چه هغه يو لک شل زره بې ګناه انسانان ترلې قتل کړي وو، او س آينده کې د هغه حالات راتلونکي دي.

بنوحنيفة: په دې قبيلې کې مشهور کذاب او په دروغه دنبوت دعويدار مسيلمة الكذاب پيدا شوی وو. **بنوامية**: په دې قبيلې کې عبدالله بن زياد او يزيد او نور کذابين پيدا شوي دي، د دغو ناخوښو افرادو په وجه حضور ﷺ ته دغه قبائل ناخوښه وو.

د ثقيف بدي او د حجاج احوال

﴿۱۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي ثَقِيفٍ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمائيل د ثقيف قبيله کې به دا انتها درجې يو
كَذَّابٌ وَمُبِيرٌ قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عِصْمَةَ
دروغجن سړی پيدا شي او ديو انتها درجې مفسد او هلاکو حضرت عبيد الله ابن عصمه تابعي رحمه الله
يُقَالُ الْكَذَّابُ هُوَ الْمُخْتَارُ بْنُ أَبِي عُبَيْدٍ وَالْمُبِيرُ
وايي چه د علماوو وينا دا: چه د دروغجن سړي نه مراد مختار ابن ابي عبيد دی او د مفسد او
هُوَ الْحَجَّاجُ بْنُ يُوسُفَ وَقَالَ هِشَامُ بْنُ حَسَّانٍ
هلاکو نه مراد حجاج ابن يوسف دی او د هشام ابن حسان رضي الله عنه بيان دي چه حجاج ابن يوسف چه
أَحْصَوْا مَا قَتَلَ الْحَجَّاجُ صَبْرًا فَبَلَغَ
څو مره خلق دغه شان نيولو نيولو سره او قيد خانه کې اچولو سره قتل کړي دي د هغوی تعداد خلقو

مِائَةَ	أَلْفٍ	وَعِشْرِيْنَ	أَلْفًا.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَرَوٰى	مُسْلِمٌ
شمیرلی دی چه یو لاک شل زره [۱۲۰۰۰۰] دي دا روایت ترمذی نقل کړی دی او امام مسلم رَحِمَهُ اللهُ							
فِي الصَّحِيْحِ	حِيْنَ	قَتَلَ	الْحَجَّاجُ	عَبْدَ	اللهِ	بْنَ	الزُّبَيْرِ
خپل صحیح کښ دا روایت نقل کړی دی چه کومه ورځ حجاج ابن یوسف حضرت عبد الله ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ							
قَالَتْ	أَسْمَاءُ	إِنَّ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
شهید کړی نو بي بي اسماء [چه د حضرت عبد الله ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور وه ویل مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ							
حَدَّثَنَا	أَنَّ	فِيْ	ثَقِيْفٍ	كَذَّابًا	وَمُبِيْرًا	فَأَمَّا	
بیان کړی وو چه بنو ثقیف کښ به د انتها درجي یو دروغجن سړی پیدا کښ ږي او یو لوی مفسد او							
الْكَذَّابُ	فَرَأَيْنَاهُ	وَأَمَّا	الْمُبِيْرُ	فَلَا	إِخَالُكَ	إِلَّا	إِيَّاهُ..
هلاکو هر چه دروغجن سړی دی نو هغه مونږ اولیدلو اوس پاتي شو د مفسد او هلاکو خبره نو زما							
وَسَيَجِيْءُ	تَمَامُ	الْحَدِيْثِ	فِيْ	الْفَصْلِ	الثَّالِثِ		
خیال دی چه ای حجاج! هغه مفسد او هلاکوته یي دا پوره حدیث دریم فصل کښ را روان دي.							

توضیح : **المختار**: د مختار بن عبید ثقفی تفصیل د دینه مخکښ په ملاحمو کښ تیر شوی دی .او حجاج بن یوسف د ثقیف قبیلي سره تعلق لرلو ، اول دا د عبد الملک بن مروان ګورنر وو . عراق او خراسان د هغه ماتحت وو بیا په حجاز کښ هم دا ګورنر شو ، د عبد الملک نه وروسته د ولید بن عبد الملک په بادشاهت کښ هم حجاج ګورنر پاتي شو او ظلم يي کولو ، بیا په سنه ۷۵هـ کښ د ۵۴ کلونو په عمر کښ د هغه انتقال وشو . وايي چه کله حجاج پیدا شو نو هغه د مور شودي نه ځکلي ،ابلیس د یو حکیم په شکل کښ راغی او د هغه مور ته يي وویل چه یوه توره وزه (چیلی) ذبحه کړه او د هغي په وینو کښ حجاج لت پت کړه او یو څه وینه ورباندي وڅټه بیا به دا شودي وڅښي، مور يي هم داسي وکړل چه د دي په وجه سره حجاج د انساني وینې تږی شو ، پخپله به يي ویل چه ما ته خوراک هغه وخت مزه راکوي چه مخکښ څوک قتل کړم ، یو ځل په مسجد کښ یو کس پروت وو حجاج د هغه په سینې باندي کښیناسته او هغه يي ذبحه کړلو ، هغه کس وویل چه په قیامت کښ به د الله په مخکښ څه جواب ورکوي ، حجاج د یوې لمحې لپاره شاته شو او سوچ يي وکړو بیا راغی او

ویې ویل چه زه به الله ته ووایم چه دې شخص په مسجد کې خوب کولو چه ګناه ده دا یې وویل او هغه یې ذبحه کړو، دا شخص پخپله ډیر بې زړه وو مګر ډیر ظالم وو . په قرآن کریم باندې د اعراب او رکوعاتو لګلو لپاره هغه علماء مأمور کړل په هغې کې یې هم خلک قتل کړل، یو کرت یې یو عالم ته وویل چه د (غرفة) په غین باندې څو اعرابه راتللی شي، هغه وویل ماته مهلت راکړه، حجاج وویل درې ورځې مهلت دی جواب راکړه او که نه نو مرګ دی، هغه شخص د ښتې ته لاړلو تر څو د دغه اعراب تلاش وکړي، په ځنګل کې یو شپونکي دا شعر ویلو :

ربما تکره النفوس من الامر   لها فرجة کحل العقال

هغه عالم د دغه خالص بدوي نه پوښتنه وکړه چه په دې شعر کې د فرجة په فاء باندې څو حرکات راتللی شي هغه وویل چه د فعلة په وزن باندې چه کومه کلمه وي د هغه په فاء کلمه باندې درې واړه حرکات راتللی شي، عالم ډیر خوشحاله شو او بیا یې پوښتنه وکړه چې دا شعر ولې وویلو ؟ هغه کس وویل چه دا اوس اوس خبر راغی چه حجاج مړ شو، ما په دغه مناسبت دا شعر وویلو چه کله کله یو انسان په انتهائی کرب او غم کې مبتلا پاتي کیږي لیکن ناڅاپه د مصیبت نه داسې خلاص شي لکه څنګه چه د اوښ د ځنګون نه رسی خلاصه شي، هغه عالم وویل چه ما ته معلومه نشوه چه د دې لغت په پیدا کیدو زیات خوشحاله شوم او که د حجاج په مرګ زیات خوشحاله شوم .

یو ځل حجاج بن یوسف د خلیفه عبد الملک سره په کمره کې یواځې ناست وو، د خلیفه عبد الملک ښځې خپل خاوند وغوښته او د خطرې اظهار یې وکړو، عبد الملک وویل هیڅ خطره نشته د خپل کس حجاج سره ناست یم، ښځې یې وویل چه ماته د عزرائیل سره په ناسته کې دومره خطره نه وي څومره خطره چه د حجاج بن یوسف سره په یواځې ناسته کې وي . حجاج بن یوسف یو لک شل زره بیګناه افراد مړه کړي دي چه هغوی یې اول په جیل کې بندي کړل او بیا به یې لاسونه او پښې ورله وتړل او قتل به یې کړل، د حجاج د جیل لپاره به چت نه وو بلکه په ګرمۍ او یخنۍ کې به قیدیانو آسمان لاندې ژوند تیرولو، په جنګونو کې چه حجاج څومره خلک وژلي دي د هغو حساب لګول مشکل دی، وایې ابو مسلم خراسانی شیعه شپږ لکه انسانان بیګناه قتل کړي وو لیکن [illegible] حوالې سره حجاج د هغه نه زیات وو . وویل کیږي چه د حجاج د جیل نه د پنځ[illegible] زره کس نو لاشونه صرف په یو وخت کې وتلي وو . دغه کس ډیر صحابه کرام هم شهید[ان] کړي وو او د سید التابعین حضرت سعید بن جبیر رضي الله عنه د قتل واقعه خو مشهوره ده . حضرت ابن عمر رضي الله عنه چه کله په دار باندې د زوړند شوي حضرت عبد الله بن زبیر رضي الله عنه د لاش تعزیت وکړلو نو حجاج غوسه شو او په چل کې یې حضرت ابن عمر رضي الله عنه شهید کړلو . د ابن زبیر رضي الله عنه د شهادت نه وروسته حجاج حضرت اسماء بنت ابی بکر رضي الله عنها ته کس ولیږه چه زما دفتر ته راشه، هغې انکار وکړو، بیا

ځي چې په چپله لاړو او ويې ويل چه ما ستا بچي څنګه قتل کړلو ؟ هغې په جواب کې ورته وويل چه تا زما د بچي دنيا برباده کړه او زما بچي ستا آخرت برباد کړلو او بيا يې زير بحث حديث واورو. نور تفصيل د فصل ثالث په حديث نمبر ۲۴ کې دی.

چه کله حجاج مريض شو نو د هغه په خيټه کې به سوزش وو ، هغه طبيبان راوغوښتل، يو طبيب په تار پورې غوښه ځوړنده کړه او د هغه خيټې ته يې کوزه کړه ، چه کله يې هغه راوويسته نو د هغې سره چينجي نښتي وو ، طبيب ورته وويل چه دا ستا مرض دی، بيا به حجاج خپله خيټه اور ته نيږدې کوله تر څو ګرمه شي او چينجي و تښتي ، يو ځل حسن بصری رَحِمَهُ اللّٰهُ د هغه خوا ته لاړلو او هغه ته يې وويل چه ما ته منع کړې وې چه صحابه کرام به نه تنګوې! اوس ستا عذاب شروع شو ، د مرګ نه وروسته د هغه جنازه چا نه ورکوله ، صرف حسن بصری رَحِمَهُ اللّٰهُ د جنازې ورکولو ته تيار شو او ويې فرمايل چه د موت په وخت کې هغه استغفار ويلی دی ، څه بعيده ده چه بالآخر الله تعالی هغه معاف کړي ، وايې د موت په وخت کې هغه د الله تعالی سره عجيب مناجات وکړو ، په جرم باندې اعتراف کولو سره يې د الله تعالی نه بخښنه غوښته ، د مرګ نه وروسته چا په خوب کې وليدلو او پوښتنه يې ترينه وکړه چه الله تعالی ستا سره څه معامله وکړه ؟ په جواب کې هغه وويل چه د هر مقتول په بدل کې يو يو وار زه قتل کيږم ليکن د سعيد بن جبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په بدله کې يې اويا ځله قتل کړلم او بيا ژوندی شوم ، سوال کونکي پوښتنه وکړه چه ستا څه ګمان دی ، ويې ويل چه اميد لرم چه په آخر کې به زما رب ما وبخښي . په هر حال د حجاج خاتمه که په ايمان باندې شوې وي نو په آخر کې به کامیابه کيږي . علامه ابی رَحِمَهُ اللّٰهُ د مسلم په شرحه کې څه داسې جملې نقل کړې دي چه د هغو نه د حجاج انجام خطرناکه معلوميږي . په سنن ابی داود کې هم د حجاج متعلق تفصيل مذکور دی ، په دې باب کې هم راتلونکي حديث نمبر ۲۴ لاندې کافي تفصيل دی .

د ثقيف لپاره د هدايت دُعاء

﴿۱۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ أَحْرَقَتْنَا نِبَالُ ثَقِيْفٍ
او حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ ځني صحابو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ عرض وکړو يا رسول الله ! د قبيله ثقيف
فَادْعُ اللهَ عَلَيْهِمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ
غشو مونږ وسوځولو د هغوی دپاره د الله ! نه بد دُعا وغواړه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ای الله !
اهْدِ ثَقِيْفًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
قبيله ثقيف ته د هدايت او توفيق ورکړې . [ترمذی]

(د غزوه حنین نه بعد د طائف قلعه محاصره شوې وه د دننه نه د ثقیف والاوو غشي ویشتل)

قبیلهٔ حمیر د پاره دُعاء

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّزَّاقِ عَنْ أَبِيهِ عَنْ مِيْنَاءَ
او حضرت عبد الرزاق ابن همام رَحِمَهُ اللهُ خپل والد مکرم نه او هغه د حضرت میناء رَحِمَهُ اللهُ نه او هغه د
عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوی چه هغوی بیان وکړو چې مونږ خلق د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس
فَجَاءَ رَجُلٌ أَحْسِبُهُ مِنْ قَيْسٍ
مبارک کې حاضر وو یو سړی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی زما ګمان دی چه د هغه قبیله قیس سره تعلق
فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ الْعَنْ حِمْيَرًا
لرلو هغه ووېل یا رسول الله ! قبیله حمیر باندې لعنت ووایه یعني د هغوي په حق کې بد دُعا وکړه
فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه سړی نه مخ واړوه هغه سړی بیا د بل طرف نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ ته راغی
فَأَعْرَضَ عَنْهُ ثُمَّ جَاءَهُ مِنَ الشِّقِّ الْآخَرِ فَأَعْرَضَ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې خوا نه هم مخ واړوه بیا هغه سړی دویم طرف نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ ته رالي نو
عَنْهُ . فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللهُ حِمْيَرًا
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه طرف نه هم مخ واړوه او بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل الله تعالی دې حمیر باندې
أَفْوَاهُهُمْ سَلَامٌ وَأَيْدِيهِمْ طَعَامٌ وَهُمْ أَهْلُ أَمْنٍ
خپل رحمت نازل کړي د هغوی خولې سلام دي د هغوی لاسونه طعام دي او هغوی اهل امن هم
وَإِيمَانٍ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ
دي او اهل ایمان هم دا روایت ترمذی رَحِمَهُ اللهُ نقل کړی دی او ویلي يې دي چه دا حدیث غریب دی دا

لَا نَعْرِفُهُ اِلَّا مِنْ حَدِيْثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ وَيُرْوٰى عَنْ مِيْنَاءَ
روايت مونږ ته د عبد الرازق ابن همام رَحِمَهُ الله نه علاوه بل هيڅ ذريعي سره معلوم نه دی او ميناء رَحِمَهُ الله
هٰذَا اَحَادِيْثُ مَنَاكِيْرُ.
نه نقل کې دونکی روايتونه منکر دي

توضيح :(افواههم سلام) يعنې د دوی په ژبو به هر وخت د سلام چرچه وي او په لاسونو به يې د ډوډی ورکولو دسترخوانونه هواريږي او په زړونو کې به يې د ايمان څراغ روښانه وي ، لهذا دوی د ښيرو مستحق نه دي .

حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د هغوی قبيله دوس

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ أَنْتَ
حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما نه پوښتنه وکړه ته د کومې قبيلې نه يې ما عرض
قُلْتُ مِنْ دَوْسٍ قَالَ مَا كُنْتُ أُرٰى أَنَّ فِيْ دَوْسٍ
وکړو دوس سره تعلق لرم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ما ته ګمان هم نه وو چه قبيله دوس کې څوک داسې
أَحَدًا فِيْهِ خَيْرٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
هم کې دی شي چه هغه کې خير او نيکی وي . [ترمذی

توضيح : يعنې ای ابوهريرة ! تا ته په کتلو سره ما ته دا اندازه وشوه چه د دوس په قبيله کې څه ناڅه خير شته ولې د دينه مخکې زما دا خيال وو چه په دې خلکو کې هيڅ خير او ښيګړه نشته .

د عربو سره بغض او عداوت د ايمان زوال دی

﴿۱۹﴾ وَعَنْ سَلْمَانَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته وفرمائيل زما سره د ښمنی مه ساته کنې ته به خپل
لَا تُبْغِضْنِيْ فَتُفَارِقَ دِيْنَكَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ
دين نه جدا شي ما عرض وکړو يا رسول الله ! دا څرنګه کې دی شي چه زه ستا سو سره د ښمنې څه

كيف	أُبْغِضُكَ	وَبِكَ	هَدَانَا

چه د دښمنۍ تصور هم او ساته په داسې حال کې چې الله ستاسو په ذریعه باندې مونږ ته

قَالَ	تُبْغِضُ	الْعَرَبَ	وَ

او ښودله حضور ﷺ و فرمائیل که ته د عربو سره د ښمني کوي نو لکه ته چې زما سره د ښمن

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ .

دا روایت ترمذی رحمه الله نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث غریب دی.

توضیح : چونکې حضرت سلمان فارسی رضي الله عنه د فارس ؤ او د فارس د ژبې او وطنی
چه د عربو سره د هغوی بغض او عداوت پیدا شي که هغه په مستقبل کې ولې نه وي، یا د
ده چه په حضرت سلمان رضي الله عنه کې څه شائبه لیدل شوې وي، په دې باندې حضور ﷺ
عربو سره بغض او عداوت د ایمان د زوال ذریعه وښودله ، د حدیث نه دا معلومه شو
سره بغض د حضور ﷺ سره بغض دی لهذا هر مسلمان ته د عربو احترام کول
راقم الحروف عرض کوي چه ما لیدلي دی چه کوم خلک د دین اسلام دښمنان وي ه
خلاف په بدګوئی کې مصروفه وي ، نن سبا عرب پناه اخیستونکي په وزیرستان او د
نورو علاقو کې شته ،تجربه ګواه ده چه کوم خلک بې ایمانه وي هغوی د دې عربو سره ب

د عربو سره دوکه کول لوی جرم دی

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَ

او حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ و فرمائیل کوم سړی چه عربو

لَمْ	يَدْخُلْ	فِي	شَفَاعَتِي	وَلَمْ	تَنَلْهُ

او دهوکه بازی کوي هغه به زما شفاعت کې نه داخليږي او نه به هغه ته زما د دوستی سعا

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ

شي دا روایت ترمذی رحمه الله نقل کړی دی او ویلي دي چه دا حدیث غریب دی دا روایت مو

بْنِ عُمَرَ وَلَيْسَ هُوَ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ بِذَاكَ الْقَوِيِّ. رَوَاهُ ال

ابن عمر نه علاوه بل هیڅ ذریعي سره نه پیژنو او د محدثینو په نزد د دې درجي قوي نه دی

توضیح : (غش) دوکې او فریب او چلبازۍ ته غش ویل کیږي، د عربو سره دوکه دا ده چه د هغوی سره ذاتي طور باندې خیانت وکړی شي یا اجتماعی طور باندې د هغوی سره خیانت وکړی شي، د هغوی خارجه پالیسی بدله کړی شي د کافرو تابع وګرځولی شي یا د هغوی په داخله پالیسۍ کې رد و بدل کولو سره د کفارو همنوا وګرځولی شي یا داسې بین الاقوامی معاهدې وشي چه په هغو سره عرب د غلامۍ په ځنځیرونو کې وتړل شي، یا عرب په قالبونو باندې تقسیم کړی شي چه څه د امریکی په قالب کې راشي او څه د روس په قالب کې شامل شي لکه څنګه چه د روس حکمرانانو داسې وکړل، بیا د فلسطین قیادت داسې خیانت وکړو او تر اوسه جاری دی. د (غش) مطلب دوکه او فریب هم کیدلی شي او بغض او عداوت هم کیدلی شي، د عجمو نه علاوه خلک عرب دي که هغه په ښارونو کې اوسیږي یا په دشتو کې وي. (**بذلک القوی**) یعنې د محدثینو په نزد دا حدیث زیات قوی نه دی بلکه ضعیفه دی، علماوو لیکلي دي چه په فضائل اعمالو کې ضعیف حدیثونه قبول دي. همدارنګه ملاعلی قاری رحمه الله لیکلي چه د عربو سره د محبت ساتلو متعلق ډیر حدیثونه دي چه د هغو په وجه دا حدیث د حسن په درجه کې قوی کیږي. مثلا په مستدرک د حاکم کې دي (**حب القریش ایمان وبغضهم کفر و حب العرب ایمان وبغضهم کفر فمن احب العرب فقد احبنی و من ابغض العرب فقد ابغضنی**) .

په طبرانی کې یو حدیث دی (**احبوا قریشا فانه من احبهم احبه الله**) او یو مشهور حدیث دی (**احبوا العرب لثلاث**) چه په آینده حدیث نمبر ۲۷ کې راځي. لهذا ملاعلی قاری رحمه الله د زیر بحث حدیث په باره کې فرمایي **واقل مرتبة اسانیده ان یکون حسنا فالحدیث حسن لغیره**. (مرقات ج۱ ص۳۴۶)

د عربو تباهی د قرب قیامت نښه ده

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أُمِّ حَرِيْرٍ مَوْلَاةِ طَلْحَةَ بْنِ مَالِكٍ قَالَتْ سَمِعْتُ مَوْلَايَ
او بي بي اُم حریر چه د یو صحابی حضرت طلحه ابن مالک رضی الله عنه آزاد کړه وینزه ده وایي ما د خپل
يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اِقْتِرَابِ السَّاعَةِ
آقا (حضرت طلحه رضی الله عنه) نه واوریدل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد ګرامي دی د قرب قیامت د
هَلَاكُ الْعَرَبِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
اهل عربو هلاک کې دل دي [ترمذی]

د عربو په قبائلو باندې د مناصبو تقسیمول

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْمُلْكُ فِيْ قُرَيْشٍ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمائيل خلافت او بادشاهي قريشو کې ده
وَالْقَضَاءُ فِي الْأَنْصَارِ وَالْأَذَانُ فِي الْحَبَشَةِ وَالْأَمَانَةُ فِي الْأَزْدِ
قضاء انصارو کې ده آذان حبشانو کې دی او امانت په ازد [يعني ازد شنوه] کې دی د ازد نه د
يَعْنِي الْيَمَنَ وَفِيْ رِوَايَةٍ مَوْقُوْفًا
حضور صلى الله عليه وسلم مراد ټول اهل يمن وو يو روايت کې دا حديث د حضرت ابو هريره رضي الله عنه موقوف حديث
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ هٰذَا أَصَحُّ.
په طور منقول دی او ترمذی رحمه الله دي ويلي دي دا خبره زياته صحيح ده.

توضیح: الملك في قريش: حکومت په قريشو کې دی، صحابه وو همداسې فيصله وکړه او حکومت يې ابوبکر صديق رض ته حواله کړو چه د قريشو څخه وو. (قضاء او عدالت په انصارو کې دی) صحابه وو همداسې وکړه او حضرت معاذ بن جبل د يمن قاضي مقرر شو چه انصاری وو. (آذان په حبشه کې دی) صحابه وو همداسې وکړل او حضرت بلال رض د آذان په منصب باندې مقرر شو چه حبشي وو. (امانت په ازد کې دی) ازد قبيله د يمن مشهوره قبيله ده، د دې نه مراد اهل يمن دي او د يمن ديانت مشهوره دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د قريشو باره کې يو حکم

﴿۲۳﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُطِيْعٍ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت عبد الله ابن مطيع تابعی رحمه الله خپل پلار حضرت مطيع روايت کوي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم
يَقُوْلُ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ لَا يُقْتَلُ قُرَشِيٌّ صَبْرًا بَعْدَ هٰذَا
نه د مکې د فتح په ورځ آوريدلي دي چه نن نه روسته د قيامت د ورځې پورې هيڅ قريشي به
الْيَوْمِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
حبس او قيد ولو سره نه شي ووژل [مسلم

توضیح: صبرا: يعني كوم قريشي به تړل شوی نه قتل كيږي نو ځكه د نن فتحه مكې نه بعد تر قيامته كوم قريشي به صبرا نه قتل كيږي ، ددې روايت يو مطلب علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ بيان كړی دی هغه دا دی چه دلته نفي د نهي په معنی سره ده يعني چه كوم قريشي په جيل كې اول بندی كړی شي او بيا تړلو سره قتل كړی شي داسې به نه كوی . ملاعلي قاری رَحِمَهُ اللهُ په دې توجيه باندې سخت اعتراض كړی دی او بيا يې د حديث دا مطلب بيان كړی دی چه په دې حديث كې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو پيشنګوئي بيان كړې ده چه داسې به اوس نه كيږي چه كوم قريشي اسلام ته د راتګ نه وروسته مرتد شي او د ارتداد نه وروسته هغه قيد كړی شي او صبرا قتل كړی شي داسې به نه كيږي ، ملاعلي قاری رَحِمَهُ اللهُ دا مطلب ځكه اختيار كړی دی چه په تاريخ كې دا خبره په كثرت سره پيدا كيږي چه قريشي تړلي قتل كړی شوی وي مګر دا خبره نه پيدا كيږي چه د اسلام نه بعد قريشي مرتد شوی وي او بيا هغه تړلي شوي وي او قتل كړی شوی وي . په هر حال په ظاهره د علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ خبره حديث ته زياته قريبه معلوميږي ، د ملا علي قاری رح خبره بعيده معلوميږي.

د حجاج بن يوسف ظلم او د حضرت اسماء جرأت

﴿۲۴﴾ وَعَنْ أَبِيْ نَوْفَلٍ مُعَاوِيَةَ بْنِ مُسْلِمٍ قَالَ رَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ
حضرت ابونوفل معاويه ابن مسلم رَحِمَهُ اللهُ بيان كوي ما د حضرت عبدالله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مديني
عَلَى عَقَبَةِ الْمَدِيْنَةِ قَالَ فَجَعَلَتْ قُرَيْشٌ تَمُرُّ عَلَيْهِ
لاركې [تخت دار باندې سولی] وليده ابونوفل رَحِمَهُ اللهُ وايي قريشو هغه لاش ته تلل راتلل كړه او
وَالنَّاسُ حَتَّى مَرَّ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ
نور خلق هم ورتلل تردې چه حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم هلته راغی او د لاش مخكې ودريدو
فَقَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَبَا خُبَيْبٍ
او داسې وويل السلام عليك ای ابوخبيب! السلام عليك اي ابوخبيب! السلام عليك اي ابوخبيب!
أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا
خبر شه قسم په الله ما ته ددې كار نه منع كولي خبر شه قسم په الله ما ته ددې كار نه منع كولي بلاشبهه
أَمَا وَاللهِ لَقَدْ كُنْتُ أَنْهَاكَ عَنْ هٰذَا أَمَا وَاللهِ إِنْ كُنْتَ مَا عَلِمْتُ صَوَّامًا قَوَّامًا
ته هغه سړی وې چه ما پيژندلې چه ته ډير زيات روژې نيونكی وې ډير زيات شب بيداري كونكې

وَصُوْلًا لِلرَّحِمِ أَمَا وَاللهِ لَأُمَّةٌ أَنْتَ شَرُّهَا لَأُمَّةٌ

او اهل قرابت سره ډیر زیات احسان او سلوک کونکی وې خبر شه په الله قسم چه هغه ډله چه د عغه پد

سُوْءٍ وَفِيْ رِوَايَةٍ لَأُمَّةٌ خَيْرٍ

نظر کې ته ډیر خراب یې یقیناً یوه خرابه او بدتره ډله ده او یو روایت کې [لامة سوء] په ځای لامة خیر

ثُمَّ نَفَذَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَبَلَغَ الْحَجَّاجَ

الفاظ دي دي نه روسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه ځای نه ولاړی بیا چه دا خبره حجاج ته ورسیدله چه

مَوْقِفُ عَبْدِ اللهِ وَقَوْلُهُ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ فَأُنْزِلَ

عبدالله ابن عمر رضي الله عنه د ابن زبیر د نفس خواته داسي ودیلي دي نو هغه فوراً یو سړی ولیږه او لاش

عَنْ جِذْعِهِ فَأُلْقِيَ فِيْ قُبُوْرِ الْيَهُوْدِ ثُمَّ

یې د هغه لرګي نه خکته کولو سره د یهودیانو په قبرستان کې وغورځوه بیا حجاج د ابن زبیر رضي الله عنه

أَرْسَلَ إِلَى أُمِّهِ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِيْ بَكْرٍ فَأَبَتْ أَنْ

والده بي بي اسماء رضي الله عنها ته یو سړی ورولیږی بي بي اسماء هغه ته د ورتللو نه انکار وکړو حجاج

تَأْتِيَهُ فَأَعَادَ عَلَيْهَا الرَّسُوْلَ لَتَأْتِيَنِّيْ أَوْ لَأَبْعَثَنَّ

دوهم وار بیا سړی ورولیږه ورته یې وویل یا خو سمدستي په سمه راشه ګني زه به یو داسي سړی

إِلَيْكِ مَنْ يَّسْحَبُكِ بِقُرُوْنِكِ قَالَ فَأَبَتْ

درولیږم چه هغه به دې د سرد کمڅو نه نیولي په راښکلو راښکلو به دې دلته راولي ابو نوفل رحمه الله

وَقَالَتْ وَاللهِ لَا آتِيْكَ حَتّٰى تَبْعَثَ

وایي بي بي اسماء رضي الله عنها بیا انکار وکړو او حجاج ته یې جواب ولیږه چه قسم په الله زه تا ته هیڅ کله

إِلَيَّ مَنْ يَّسْحَبُنِيْ بِقُرُوْنِيْ قَالَ

نه درځم اوس ته یو داسي سړی پیدا کړه چه هغه ما د سرد کونڅو نه نیولي درولي راوي وایي حجاج

فَقَالَ أَرُوْنِيْ سِبْتَيَّ فَأَخَذَ نَعْلَيْهِ

چه دا واوریدل نو وویل زما پیزار راوړئ او زما په مخ کې یې کې ږدی بیا هغه خپل پیزار په پښو

ثُمَّ انْطَلَقَ يَتَوَذَّفُ حَتَّى دَخَلَ عَلَيْهَا فَقَالَ كَيْفَ

کړو واچول او په کِبر سره تیز تیز تللو بي بي آسماء ته ورسیدو او هغې ته یې وویل تا زه دنې

رَأَيْتِنِيْ صَنَعْتُ بِعَدُوِّ اللهِ قَالَتْ

الله د دښمن (یعني خپل زوئ ابن زبیر) سره څنګه سلوک کولو والا ولیدم؟ حضرت آسماء ورته رضي الله عنها

رَأَيْتُكَ أَفْسَدْتَ عَلَيْهِ دُنْيَاهُ وَأَفْسَدَ عَلَيْكَ آخِرَتَكَ بَلَغَنِيْ

وویل زه خو تا داسي وینم چه تا د هغه دنیا تباه کړه او هغه ستا آخرت تباه کړو او ماته معلومه ده

أَنَّكَ تَقُوْلُ لَهُ يَا ابْنَ ذَاتِ النِّطَاقَيْنِ أَنَا وَاللهِ ذَاتُ النِّطَاقَيْنِ

چې زما ځوی ابن زبیر د کمربند والا ښځې ځوی سره مخاطب کوي نو واوره قسم په الله چې زه

أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكُنْتُ بِهِ أَرْفَعُ طَعَامَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بیشکه دوه کمربند والا ښځه یم داسې دوه کمربنده چې یو د هغه په سبب آنحضرت صلی الله علیه وسلم او

وَطَعَامَ أَبِيْ بَكْرٍ مِنَ الدَّوَابِّ وَأَمَّا الْآخَرُ فَنِطَاقُ الْمَرْأَةِ الَّتِيْ

حضرت ابوبکر رضي الله عنه خوراک له ځنارو محفوظ ساتلو او دویم کمربند د ښځې هغه کمربند دی چې له هغه

لَا تَسْتَغْنِيْ عَنْهُ أَمَا إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنَا

نه هیڅ ښځه بې ... کیدای نشي او یاد لره ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث ارشاد فرمائیلی وو چې

أَنَّ فِيْ ثَقِيْفٍ كَذَّابًا وَمُبِيْرًا فَأَمَّا الْكَذَّابُ

په ثقیف قبیله کې به یو نهایت دروغجن سړی پیدا کیږي او یو نهایت مفسد او قاتل بهر حال د روغجن

فَرَأَيْنَاهُ	وَأَمَّا	الْمُبِيْرُ	فَلَا	إِخَالُكَ	إِلَّا	إِيَّاهُ	قَالَ	
خو مونږ وليده چې ابو عبيد ثقفي وو او مفسد او قاتل نو هغه زما خيال دی چې ته يې د راوی ابو نوفل								
فَقَامَ	عَنْهَا	فَلَمْ	يُرَاجِعُهَا.	رَوَاهُ مُسْلِمٌ.				
بيان دی چې حجاج د اسماء بی بی نه پاسيدو او هغې ته هيڅ جواب ورنکړو								

توضيح: (عقبة المدينة) ددينه هغه لاره مراد ده چه د مکې نه مدينې ته ځي دا ځای په مکه کې دی په مدينه کې نشته. (لامة سوء) يعنې (لامة انت شرها) يعنې هغه خلک چه د هغه په نظر کې ته ډير بد سړی وې هغه خلک ډير بد دي يعنې د حجاج بن يوسف خلکو ته ډير بد ګڼلې مګر هغوی خپله بد دي، په يو روايت کې د (لامة خير) الفاظ راغلي دي يعنې کوم خلک چه تا بد سړی ګڼي هغوی ډير ښه خلک دي يعنې حجاج بن يوسف او د هغه ډله، په دې کلام کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په حجاج باندې سخريه کول غواړي چه ابن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ داسې بد سړی وو چه هغه ژوندی پريښودل پکار نه وو او چه کوم خلکو قتل کړی دی هغوی خو ډير متقيان خلک دي

(جذعة) د ونې تنې ته ويل کيږي چه په هغې باندې حضرت عبد الله بن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دار کړی شوی وو، ددغو خبرو په وجه حجاج بن يوسف د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په لاره کې زهر آلود خنجر کيښوده هغه يې شهيد کړلو.

قبور اليهود: ددينه مراد هغه قبرونه دي چه په هغو کې به په هغه زمانه کې يهود دفن کيدل، د اسلام د راتګ نه وروسته هلته يهود پاتې نشول، مسلمانانو وروسته عبد الله بن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغه ځای نه وويسته په جنت المعلا کې يې دفن کړو، د هغه د والدې حضرت اسماء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قبر هم د هغه سره دی. قرون: د قرن جمع ده مراد د سر د ويښتانو کوڅې دي. (يسحبك) د ويښتانو په نيولو سره راخکلو ته ويل کيږي. (سبتى) دا د سبتية تثنيه ده هغې څپلې ته ويل کيږي چه د دباغت شده څرمنې څخه جوړه شوې وي، سبت د ويښتانو ازالې ته ويل کيږي، مضاف دی د ياء متکلم طرفته څپليو ته ويل کيږي. (يتوذف) ای يسرع نزدې نزدې قدم ايښودلو سره تيز تللو ته يتوذف وايي، وقيل يتبختر يعنې په غرور غرور سره تګ کولو ته يتوذف وايي.

(يا ابن ذات النطاقين) يعنې ما ته معلومه شوې چه ته زما ځوی په ذات النطاقين د ښځې ځوی سره

آواز ورته کوي؟ نطاق کمربند ته وايي ، په عربو کې به دغه رقم دوه کمربنده ښځو تړل چه د بل چا خادمانې به وې ، د حجاج مطلب همدا وو مګر حضرت اسماء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د اصل مطلب وضاحت وکړلو چه په دې کې د هغې اعزاز وو ، په دې باندې به عبد الله بن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فخر کولو او ويل به يې :

اِيْـهًـا وَالْاِلَـــهِ تِلْكَ شَكَاةٌ ظَاهِرٌ عَنْكَ عَارُهَا

په عام شورش کې د شرکت کولو نه د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ انکار

﴿۲۵﴾ وَعَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ اَتَاهُ رَجُلَانِ فِيْ فِتْنَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ

او حضرت نافع رَحِمَهُ اللّٰهُ روايت کوي چه حضرت عبد الله ابن زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره متعلق د هنګامه آرائي

فَقَالَا اِنَّ النَّاسَ صَنَعُوْا مَاتَرٰى وَاَنْتَ ابْنُ عُمَرَ

زمانه کې دوه کسان حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته راغلل وويل چه خلقو چه څه کړي دي هغه

وَصَاحِبُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا

تاسو وليدل تاسو د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زوی يې او ته د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابي هم يې يا څه مانع

يَمْنَعُكَ اَنْ تَخْرُجَ فَقَالَ يَمْنَعُنِيْ اَنَّ

دي چه تاسو خروج نه کوئ حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وفرمائيل کوم شی چه زما د پاره مانع

اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيَّ دَمَ اَخِيْ الْمُسْلِمِ

دی هغه زما داعلم دی چه د مسلمان ورور وينه تويول الله تعالٰی زما د پاره حرام کړې دي هغه

قَالَا اَلَمْ يَقُلِ اللّٰهُ تَعَالٰى وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

دواړو وويل آيا الله تعالٰی دانه دي فرمائيلي چې: خلقو سره تر دي حاله پوري جنګيږئ تر څو فتنه

فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ قَدْ قَاتَلْنَا حَتّٰى لَمْ تَكُنْ فِتْنَةٌ وَكَانَ

ختمه شي حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته وفرمائيل : مونږ و جنګيدو تر دي پوري چه فتنه يعني د کفر

الدِّيْنُ لِلّٰهِ وَاَنْتُمْ تُرِيْدُوْنَ اَنْ تُقَاتِلُوْا حَتّٰى تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

او شرک خاتمه وشوه او صرف د الله دين اسلام پاتې شو او اوس تاسو داغواړئ چه تاسو جنګ

وَيَكُوْنَ	الدِّيْنُ	لِغَيْرِ	اللهِ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ

وجدال کوئ تر دي چه په مسلمانانو کې فتنه خوره شي او د غير الله دين قائم شي. بخاری.

توضیح: ان تخرج: دا د خروج څخه دی د بغاوت په معنی سره دی، په حقیقت کې د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په موجودګۍ کې عبدالملک بن مروان خلیفه وو او د هغه له طرفه حجاج بن یوسف ګورنر مقرر وو، صحابه کرامو او تابعینو حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته مشوره ورکړه چه ددې ظالم حجاج بن یوسف په مقابله کې ته ولې خروج نه کوې؟ ستا په خروج سره به د حجاج ظلم ختم شي او د عبدالملک په ځای به ته خلیفه جوړ شې، حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دوو الفاظو کې جواب ورکړو چه داسې کیدلی نشي، د هغه نظریه دا وه چه د کور مخې ته چه کله جنګ راشي نو بیا دفاع وکړه او بس، څه صحابه داسې وو چه د دفاع قائل هم نه وو، او څه صحابه د حق سره میدان جنګ ته د وتلو قائل وو، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مختلفو فرمانونو باندې صحابه کرامو عمل کولو، تفصیل لیکل شوی دی.

صنعوا ماترى: د زیر بحث حدیث خلاصه دا ده چې خلکو حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وویل چې په خلکو کې چې کومه فتنه راولاړه شوې ده او مسلسله تنازعه چلیږي هغه ته وینې، بیا ته د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځوی یې، ته د عبدالله بن زبیر رضی الله عنه د خلافت حمایت ولې نه کوې؟ او د حجاج په خلاف خروج ولې نه کوې؟ حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا معذرت وکړو چه دا د مسلمانانو په خپل مینځ کې جګړې دي زه د کوم مسلمان قتل نه خوښوم، چې کله د کفارو فتنه وه هغه مونږ ختمه کړه! او س تاسې څکه جنګیږئ چې فتنه نوره هم راپورته شي او دین د الله په ځای د غیر الله لپاره شي.

د قبیله دوس په حق کې دُعا

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ الطُّفَيْلُ بْنُ عَمْرِو نِ الدَّوْسِيُّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ								
اوحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چه طفیل بن عمرو دوسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر								
فَقَالَ	إِنَّ	دَوْسًا	قَدْ	هَلَكَتْ	وَعَصَتْ	وَأَبَتْ	فَادْعُ	اللهَ
شو او عرض یې وکړو یا رسول الله! ماته یقین دی چه قبیله د دوس هلاکه شوه نو تاسو دې قبیلې								
عَلَيْهِمْ	فَظَنَّ	النَّاسُ	أَنَّهُ	يَدْعُوْ	عَلَيْهِمْ			
د پاره بد دُعا وکړئ خلقو دا آورید و سره خیال وکړو چه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دې قبیلې د پاره بد دُعا								

فَقَالَ	اَللّٰهُمَّ	اهْدِ	دَوْسًا	وَأْتِ

وکړي ليکن حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دُعا وفرمائيله چه الهي! قبيله دوس ته سيدها لار وښائي او د دي قبيلي

بِهِمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

خلق مديني جانب ته را ولي:

د عربو سره د محبت کولو وجه

﴿۲۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحِبُّوا الْعَرَبَ

او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل د دري اسبابو په بناء تاسو ته د عربو سره

لِثَلَاثٍ	لِأَنِّيْ	عَرَبِيٌّ	وَالْقُرْآنُ	عَرَبِيٌّ	وَكَلَامُ	أَهْلِ

محبت ساتل پکار دي يو خو په دي وجه چه زه د عربو نه يم دويم په دي وجه چه قرآن عربي ژبه کي

الْجَنَّةِ	عَرَبِيٌّ.	رَوَاهُ	الْبَيْهَقِيُّ	فِيْ	شُعَبِ	الْإِيْمَانِ.

دی او دريم په دي وجه چه د جنتيانو ژبه عربي ده [دا روايت بيهقي شعب الايمان کي نقل کړی دی.

باب مناقب الصحابة رضي الله عنهم

د صحابه کرامو رضي الله عنهم د مناقبو بیان

قال الله تعالی: ﴿مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ (سورة الفتح)

مناقب: جمع ده ددې مفرد منقبة ده ، منقبت د هغه فضیلت او ښه خصلت نوم دی چه د هغه په واسطه انسان ته د خالق او مخلوق په نزد عزت و شرف او منزلت او رفعت حاصلیږي، لیکن دا خبره ملحوظ کول پکار دي چه دغه شرف او عزت او دغه منقبت او رفعت ته هغه وخت اعتبار شته چه د الله تعالی په نزد دغه مقام هغه شخص ته حاصل وي، کچیرې د الله تعالی په نزد هغه ته دغه مقام حاصل نه وي نو صرف د مخلوق په نزد دغه شرف او مقام ته هیڅ اعتبار نشته . بیا دا خبره هم ضروري ده چه ددغه منقبت او شرف او منزلت تعیین حضور صلی الله علیه وسلم فرمایلی وي چه دا کار باعث د فضیلت دی ، د عوام الناس تعیین ته هیڅ اعتبار نشته ، ددینه مخکې باب مناقب قریش کښې تفصیل لیکل شوی دی .

الصحابة: دا جمع ده مفرد یې صحابی دی او صحابی هغه وي چه هغه په حالت د بیدارۍ کښې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم لیدلی وي او بیا تر وفاته پورې په ایمان باندې قائم پاتې شوی وي ، تابعی هغه وي چه هغه په دغه حالت کښې صحابی لیدلی وي او تبع تابعی هغه وي چه هغه په دغسې حالت کښې تابعی لیدلی وي. صحابه ټول عادلان دي او د انجام په اعتبار سره ټول مأمون او محفوظ او اهل جنت دي . د الله تعالی او د هغه د رسول په نزد او د قرآن او حدیث د تعلیماتو مطابق د هغوی لېاره ډیر لوی شان دی . د ټولو نه افضل حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی ، بیا خلفاء راشدین دي، بیا عشره مبشره دي، بیا اهل بدر دي، بیا د بیعت رضوان حدیبیه والا دي ، بیا اهل قبلتین دي، بیا د فتح مکه نه مخکې اسلام قبلونکي صحابه دي .

د السابقون الاولون والا هم د شان والا صحابه دي ، په صحابه کرامو کښې السابقون الاولون څوک دي؟ نو یو قول دا دی چه د بیعت عقبه والا دي، دویم قول دا دی چه د بدر د واقعې نه مخکې صحابه دي، دریم قول دا دی چه د فتح مکه نه مخکې والا صحابه دي، څلورم قول دا دی چه ټول صحابه کرام سابقین اولین دي . صحابه کرام ټول عادلان دي او زمونږ د دین ګواهان دي، د دوی په واسطه مونږ ته کلمه طیبه او قرآن رسیدلی دی ، کچیرې صحابه کرامو ته خراب یا العیاذ بالله ګمراه وویل شي نو نو قیامته به ټول خلک خراب او ګمراه شي ، ځکه د حوض او به کچیرې خرابې شي نو په نیالیو کښې خرابې اوبه راځي، د قرآن په نقل کولو کښې د صحابو ټوله طبقه شریکه ده ، کچیرې د صحابو طبقه

بې اعتماده شي نو په قرآن باندې به اعتماد ختم شي ، د څو کسانو په ګواهۍ باندې د قرآن اعتماد نه بحال کیږي . صحابه کرام براه راست د حضور صلی الله علیه وسلم شاګردان دي، کچیرې صحابو ته خراب وویل شي نو دا په حضور صلی الله علیه وسلم باندې اعتراض دی که په ۲۳ کاله کښې حضور صلی الله علیه وسلم قابل اعتماد شاګرد پیدا نه کړې شو، په دې وجه د اهلسنت والجماعة عقیده ده چه صحابه کرام د هدایت مناري او د امت لپاره د حق معیار ول، د صحابو سره چه د چا بغض پاتې شوی هغوی کفار وو ، یو چا ډیر ښه ویلي دي :

حب النبي رسول الله مفترض	وحب اصحابه نور ببرهان
من كان يعلم ان الله خالقه	لايرمين ابابكر ببهتان
ولا اباحفص الفاروق صاحبه	ولا الخليفة عثمان بن عفان
اما على فمشهور فضائله	والبيت لايبتغى الا باركان

باقي د صحابو په مینځ کښې اختلاف هم راغلی دی ، جنګونه هم شوي دي داد صحابو مشاجرات دي د هر فریق نیت ښه وو ، ګویا د دوو ورونړو اختلاف ؤ ، د کوم دریم کس په مینځ کښې راتلل او د یوه ورور حمایت او د بل مخالفت غیر معقول دی ، بل دا چې په اجتهادی غلطۍ باندې مؤاخذه نه کیږي که یوه ډله په حق باندې وه نو بله دا جتهادی غلطۍ ښکار شوې وه ، د جمهور اهل حق همدا مسلک دی باقي د صحابه کرامو په شرعی مسائلو کې هم اختلاف راغلی دی ، دا اختلاف باعث د رحمت دی قابل د ګرفت نه دی ، د صحابو بزرګی صرف د امت مسلمه لپاره نه ده بلکه په کائناتو کښې مسلمه ده شاعر ښه ویلي :

فلو ان السماء دنت لمجد ومكرمة دنت لهم السماء

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

صحابو رضي الله عنهم ته د کنځلو کولو شرعی حکم

﴿١﴾ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ نِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَسُبُّوْا أَصْحَابِيْ
حضرت ابو سعید خدری رضي الله عنه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل تاسو زما صحابو ته بد مه وائي
فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا
حقیقت دا دی که په تاسو کې یو سړی دأحد دغره برابر سونا [سره زر] د الله په لارکې مصرف کړي نو د هغه ثواب
مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَ لَا نَصِيْفَهُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
زما صحابو دیو صاع غلور مي حصې د ثواب برابر هم نشي رسیدی او نه د صاع دنیمایي حصې ثواب ته. [بخاري و مسلم]

توضیح : (لاتسبوا اصحابي) دا خطاب د صحابو رضي الله عنهم جماعت ته هم کیدلی شي چه په تاسو کښې بعضې پورته شي بعضو نورو صحابو ته بد مه وائي . وایې چه حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته حضرت خالد رضي الله عنه یو څل ډیر سخت کلمات وویل په هغه باندې حضور صلی الله علیه وسلم دا ممانعت وفرمایلو . لیکن راجح او واضحه دا ده چه دا خطاب د صحابه کرامو نه بعد راتلونکې ټول امت ته عام دی چه تاسې زما صحابو ته بد مه وائي ! ځکه چه د صحابو شان ډیر اوچت دی . د حضور صلی الله علیه وسلم د ارشاد په رڼایې کښې د حدیث شارحینو لیکلي دي چه صحابه کرامو ته بد ویل حرام او د لویو فواحشو څخه دی ، د جمهورو علماؤ دا مذهب دی چه کوم شخص صحابه کرامو ته کنځل وکړي هغه ته به په طور د تعزیر سزا ورکولی کیږي ، بعضو مالکیو ویلي چه هغه به قتل کیږي ، علامه طیبی رحمه الله هم داسې لیکلي ، قاضی عیاض مالکی رحمه الله ویلي چه هر صحابی ته بد ویل ګناه کبیره او حرام دي دغسې شخص ته به سخته سزا ورکولی کیږي .د احنافو بعضو علماؤ ویلي دي چه کوم شخص شیخینو ته کنځل وکړي هغه واجب القتل دی ، په الاشباه والنظائر کښې یې لیکلي دي چه کوم شخص شیخینو ته کنځل کوي یا په هغوی باندې لعنت وایې هغه کافر دی او کوم شخص چه حضرت علی، ته په شیخینو فضیلت ورکوي هغه مبتدع دی ، په الاشباه والنظائر کښې یې دا هم لیکلي چه کوم کافر هم د خپل کفر نه توبه کوي نو د هغه توبه مقبوله ده لیکن کوم شخص چه یو نبی یا شیخینو ته د کنځلو په وجه کافر شوی وي د هغه توبه قبوله نه ده او نه د هغه د معافی لپاره کوم صورت شته. (کذا فی المرقات بتغییر)

د ائمه احنافو او جمهورو فقهاؤ دا مسلک دی چه صحابه کرامو ته کنځل کونکي شخص ته به د تعزیراتو لاندې سزا ورکول کیږي او د تعزیر نوبت تر قتل پورې هم رسیدلی شي ، په اجمالی طور باندې ددې روایاتو ذکر د ملاعلی قاری رحمه الله په کتاب مرقات کښې هم شته . دار قطنی کښې یو حدیث منقول دی چه د هغه الفاظ داسې دي : **وعن علي عن النبي صلی الله علیه وسلم قال سیأتي من بعدي قوم یقال لهم الرافضة فان ادرکتهم فاقتلهم فانهم مشرکون قال قلت یا رسول الله ما العلامة فیهم قال یفرطونک بما لیس فیک ویطعنون علی السلف . (دار قطنی) وفی روایة و ذلک یسبون ابابکر و عمر ومن سب اصحابي فعلیه لعنة الله والملئکة والناس اجمعین . (دار قطنی)**

حضرت شاه عبدالعزیز رحمه الله لیکلي چه په دې کښې هیڅ شبه نشته چه د فرقه امامیه خلک د حضرت ابوبکر صدیق د خلافت څخه منکر دي او د فقهې په کتابونو کې لیکلي دي چه کوم شخص د خلافت صدیق نه انکار وکړي هغه د اجماع قطعی منکر ګرځي او د اجماع قطعی منکر کافر کیږي لکه په فتاوی عالمګیریه کښې دارنګه فتوی ده : **الرافضی اذا کان یسب الشیخین ویلعنهما و العیاذ بالله**

فهو كافر وان كان يفضل عليا على ابي بكر لايكون كافرا لكنه مبتدع ولو قذف عائشة كفر بالله تعالى.
(فتاوى عالمگيريه)

ابن عساکر دا روایت نقل کړی دی (ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال حب ابي بكر و عمر ايمان و بغضهما كفر)، اما ابوزرعه رازی رحمه الله فرمایي کچیرې کوم شخص د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابو څخه د کوم یو تنقیص او توهین وکړي نو بلاشبه هغه زندیق دی. د حضرت عبدالله تستری رحمه الله قول دی چه کوم شخص د صحابو تعظیم او توقیر ونکړي هغه شخص ته پر نبی کریم صلى الله عليه وسلم باندې ایمان راوړونکی نه ویل کیږي.

په محیط کتاب کښې د امام محمد رحمه الله دا قول منقول دی چه د رافضو پسې لمونځ کول جائز نه دی ځکه چه هغوی د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خلافت څخه منکر دي. په خلاصة الفتاوی کښې لیکلي دي: من انكر خلافة الصديق فهو كافر. قاضی عیاض رحمه الله په شفاء کښې لیکلي دي چه د امام مالک رحمه الله مسلک دی چه من ابغض الصحابة و سبهم فليس له في فيئ المسلمين حق. یعني کوم شخص چه د صحابو سره بغض وساتي او هغوی ته کنځل وکړي نو د مسلمانانو په بیت المال او مال غنیمت کې د هغه حق نشته. قاضی عیاض رحمه الله نور لیکي چه د امام مالک رحمه الله قول دی چه: من غاظه اصحاب محمد صلى الله عليه وسلم فهو كافر قال الله تعالى ليغيظ بهم الكفار. د امام مالک رحمه الله یوه فتوی دا سې هم ده: فان قال (قائل) كانوا على ضلال او كفر قتل. دا ټول تفصیلات او د هغه حواله جات په مظاهر حق جدید کې شته.

مد احدهم: مُد د یوې پیمانې نوم دی لکه څنګه چه نن سبا کیلو ده. نصیفه: یعني نیم مد او نیم سیر.

د صحابه رضي الله عنهم وجود د امت لپاره رحمت دی

﴿۲﴾ وَ عَنْ أَبِيْ بُرْدَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَفَعَ يَعْنِيْ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابوبرده خپل والد حضرت ابوموسیٰ اشعري رضي الله عنه نه روایت کوي چه هغوی یعني
رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ وَكَانَ كَثِيْرًا مِمَّا
حضرت ابوموسیٰ بیان وکړو چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم اسمان طرف ته سر مبارک او چت کړو او حضور صلى الله عليه وسلم به
يَرْفَعُ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ فَقَالَ النُّجُوْمُ أَمَنَةٌ لِلسَّمَاءِ
اکثر اسمان طرف ته کتل او فرمائیل به یې ستوري د اسمان دپاره د امن او سلامتیا باعث دي کوم وقت

فَإِذَا ذَهَبَتِ النُّجُومُ أَتَى السَّمَاءَ مَا تُوعَدُ وَأَنَا أَمَنَةٌ لِأَصْحَابِي
چه داستوري لاړ شي نو اسمان ته به هغه شی راشي چه موعود او مقدر دی اوزه د خپلو صحابو رضي الله عنهم
فَإِذَا ذَهَبْتُ أَتَى أَصْحَابِي مَا
دپاره دامن او سلامتیا باعث یم کله چه ددې دنیا نه لاړ شم نو زما صحابو رضي الله عنهم ته به هغه شي راشي
يُوعَدُونَ وَأَصْحَابِي أَمَنَةٌ لِأُمَّتِي فَإِذَا ذَهَبَ
چه ددوي سره وعده شوې ده اوزما صحابه زما دامت دپاره دامن او سلامتیا باعث دي هر کله چه زما
أَصْحَابِي أَتَى أُمَّتِي مَا يُوعَدُونَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
صحابه رخصت شي نو زما امت باندې به هغه شی راشي چه هغوي لپاره موعود او مقدر دی [مسلم]

دصحابو رضي الله عنهم په برکت سره علاقې فتحه کیدلې

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ
اوحضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل په خلقو به یوه داسي زمانه راشي
فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيَقُولُونَ هَلْ فِيكُمْ
چې دخلقو یو جماعت به جهاد دپاره ووزي او بیا به هغه خلق یو بل نه پوښتنه کوي ایا تاسو کي څوک
مَنْ صَاحَبَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
داسي سړی هم موجود دي چه هغه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دصحبت شرف حاصل وي هغوی به جواب کي
فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ
وایي چه هو شته نو هغه خلقو دپاره به دقلعه او ښار دروازي خلاصي شي بیا به په هغوی داسي
زَمَانٌ فَيَغْزُو فِئَامٌ مِنَ النَّاسِ فَيُقَالُ
زمانه راشي چه دخلقو یو جماعت به جهاد دپاره ووزي او هغوی خپلو کي یو بل نه پوښتنه کوي ایا
هَلْ فِيكُمْ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ستاسو منځ کي څوک داسي سړی موجود دي چه هغه ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم دصحابو رضي الله عنهم دصحبت

فَيَقُوْلُوْنَ نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ

شرف حاصل شوی وي هغوی به جواب کي وايي هو شته نو د ښار او قلعه دروازي خلاصي شي بيا

يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ فَيَغْزُوْ فِئَامٌ مِّنَ النَّاسِ

به داسي زمانه راشي چه د خلقو يو جماعت به جهاد د پاره ووزي هغوی به خپلو کي يو بل نه پوښتنه

فَيُقَالُ هَلْ فِيْكُمْ مَّنْ صَاحَبَ مَنْ صَاحَبَ أَصْحَابَ

کوي آيا ستاسو منځ کي څوک داسي سړی هم شته چه هغه د حضور ﷺ د صحابو د تربيت يافته

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُوْلُوْنَ

حضراتو تابعينو د صحبت شرف حاصل کړی وي چه هغه ته تبع تابعين وايي هغوی به جواب ورکړي

نَعَمْ فَيُفْتَحُ لَهُمْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ

چه هو هغه خلقو د پاره د قلعه او ښار دروازي خلاصي شي. [بخاري مسلم] او د مسلم يو روايت کي داسي

قَالَ يَأْتِيْ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ يُبْعَثُ مِنْهُمْ

دي چه حضور ﷺ وفرمائيل په خلقو به يوه داسي زمانه راشي چه هغه وقت به د خلقو نه يو

الْبَعْثُ فَيَقُوْلُوْنَ انْظُرُوْا هَلْ

لښکر د جنګ د پاره وليږل شي او بيا به هغه اهل لښکر خپلو کي يو بل نه پوښتنه کوي لږ وګوری چه

تَجِدُوْنَ فِيْكُمْ أَحَدًا مِّنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ستاسو منځ کي د رسول کريم ﷺ د صحابو رضي الله عنهم نه څوک موجود دي يا نه؟ روسته

فَيُوْجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ

معلومه شي چه لښکر کي يو صحابي رضي الله عنه موجود دي نو هغه لښکر ته فتح حاصله شي د دي نه پس يوه

يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّانِيْ فَيَقُوْلُوْنَ هَلْ فِيْهِمْ

زمانه کي به يو دويم لښکر وليږلی شي او بيا به هغه اهل لښکر خپلو کي يو بل نه پوښتنه کوي لږ

مَنْ رَآى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وګوری ستاسو منځ کي څوک موجود دی يانه چه هغه صحابه رضي الله عنهم ليدلی وي تلاش کولو باندي به

فَيُوْجَدُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ ثُمَّ يُبْعَثُ الْبَعْثُ الثَّالِثُ

معلومه شي چه موجود دی بيا به لښکر ته فتح حاصله شي بيا د دي نه روسته به يو دريم لښکر

فَيُقَالُ أُنْظُرُوْا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ مَنْ رَآى

وليږل شي او بيا به هغه اهل لښکر خپلو کي يو بل ته وايي لږ وګوری ستاسو منځ کي څوک داسي

مَنْ رَآى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

موجود دي يانه چه هغه يو داسي سړی ليدلی وي چه هغه د رسول کريم صلی الله عليه وسلم صحابه رضي الله عنهم ليدلي وي

ثُمَّ يَكُوْنُ الْبَعْثُ الرَّابِعُ

چې معلومه شي چه يو داسي سړی موجود دی نو هغه لښکر ته به فتح حاصله شي بيا يو څلورم لښکر

فَيُقَالُ انْظُرُوْا هَلْ تَرَوْنَ فِيهِمْ أَحَدًا

وليږلی شي او اهل لښکر خپلو کي يو بل ته وايي لږ وګورئ ستاسو منځ کي څه داسي سړی موجود

رَآى مَنْ رَآى أَحَدًا رَآى أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دي يانه چه هغه سړي يو داسي سړی ليدلی وي چه هغه د رسول کريم صلی الله عليه وسلم صحابه رضي الله عنهم ليدونکی څوک

فَيُوْجَدُ الرَّجُلُ فَيُفْتَحُ لَهُمْ بِهٖ.

سړی ليدلی وي بيا به معلومه شي چه لښکر کي يو داسي سړی شته نو هغه لښکر ته فتح حاصله شي

توضيح: (فئام) په فاء باندي زير دی په همزه باندې زور دی د انسانانو لوی جماعت ته ويل کيږي، په دې حديث کښې د صحابو د دور بيا د تابعينو بيا د تبع تابعينو د دور برکت او فضيلت بيان دی، د دينه بعد به اهل خير عموما نادره شي په دغه وجه د هغو ذکر نشته.

البعث: د فوج يو دسته (جماعت) چه دښمن طرفته استولی کيږي، پاس دواړو روايتونو کښې دومره فرق دی چه په اول روايت کښې د دريو قرنونو ذکر دی او په دويم روايت کښې د څلورم قرن ذکر هم دی، مګر ياد ساتل پکار دي چه پدې کښې خير او برکت د نادر په درجه کښې وو په دغه وجه په اول روايت

کښې د دریو قرنونو په بیان باندې اکتفاء شوې ده او دغه نادره ذکر شوې نه ده او دا زیات واضح دی، د مسلم دغه روایت شاذ دی قال ابن حجر.

د دریم قرن نه وروسته به فساد راشي

﴿٤﴾ وَ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ أُمَّتِيْ

او حضرت عمران ابن حصین رضي الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل زما د امت بهترین خلق زما د

قَرْنِيْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ

پیړۍ خلق دي بیا هغه خلق چه هغوی ته متصل دي بیا هغه خلق چه هغوی ته متصل دی او بیا د دي

ثُمَّ إِنَّ بَعْدَهُمْ قَوْمٌ يَّشْهَدُوْنَ

پیړیو نه روسته چه د کومو خلقو زمانه راځي هغوی. کي به داسي خلق هم وي چه خپله به ګواهي

وَ لَا يُسْتَشْهَدُوْنَ وَيَخُوْنُوْنَ

ورکوي او خوک به د هغوی ګواهي نه غواړي داسي خلق به هم وي چه خیانت به کوي او د هغوی په

وَلَا يُؤْتَمَنُوْنَ وَيَنْذُرُوْنَ وَلَا يَفُوْنَ

دیانت او امانت به اعتماد نه کیږي داسي خلق به هم وي نذر به مني او خپل نذر به نه پوره کوي او

وَيَظْهَرُ فِيْهِمُ السِّمَنُ وَفِيْ رِوَايَةٍ

هغوی کي به چاغ والی پیدا کیږي او یو روایت کي دا هم دي او داسي خلق به وي چه بلاضرورته او

وَيَحْلِفُوْنَ وَ لَا يُسْتَحْلَفُوْنَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

بلاوجهي به قسمونه خوري حالانکه هغوی نه به قسم نوي اخستل شوی. [بخاري مسلم] او د مسلم

وَفِيْ رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ثُمَّ يَخْلُفُ

به یو روایت کي چه د حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه منقول دی دا الفاظ دي چه بیا د هغه خلقو نه روسته به

قَوْمٌ يُّحِبُّوْنَ السَّمَانَةَ

داسي خلق پیدا شي چه چاغ والی او غټوالی به خوښوي

توضیح : (قرنی) قرن عهد یا زمانې ته ویل کیږي ، د قرن مقدار د بعضو علماؤ په نزد څلویښت کاله دی ، بعضو اتیا کاله ښودلی دی ، بعضو سل کاله ښودلی دی ، مګر د بعضو علماؤ خیال دی چه په قرن کښې هیڅ تحدید نشته بلکه د یو دور نوم قرن دی ، نو د حضور صلی اللہ علیہ وسلم د قرن نه مراد هغه زمانه ده چه په هغې کښې آخری صحابی موجود وو ، هغه تر ۱۲۰ هجری پورې عهد دی ، ددینه بعد دویم قرن د تابعینو دی چه د ۱۲۰هجری نه تر ۱۷۰ هجری پورې زمانې باندې مشتمل وو ، بیا دریم قرن د تبع تابعینو وو چه د ۱۷۰ هجری څخه شروع تر ۲۲۰ هجری پورې زمانې باندې مشتمل وو ، ددینه وروسته د عمومی خیر او برکت زمانه ختمه شوه او د بدعتونو او بدعقیدګۍ دور شروع شو ، په دې کښې د خوارجو او معتزلو زور شو ، د عقل پرستو واک شو او باطلو فلسفو دنیا راګیر کړله ، د خیر یوائې نوم پاتې شو ، دروغجن خلک پیدا شول او په ختیه مین خلکو دین مسخ کړلو .

(یشهدون) یعنې د شاهدۍ لپاره به بغیر د راغوښتلو نه راځي ، په دې جمله باندې دا اعتراض دی چه په یو حدیث کښې پخپله شاهدۍ ته د مخکې کیدلو والا ډیر لوی فضیلت بیان شوی دی او دلته مذمت دی دا خو ښکاره تعارض دی ، ددې جواب دا دی چه کچیرې د یو چا حق ختمیږي او د یوه کس سره د ریښتیا شاهدي وي هغه راشي او ګواهي ورکړي چه په دې سره د غریب حق د ضائع کیدلو نه بچ شي د دغسې ګواهۍ تعریف شوی دی ، لیکن چه کوم ګواه په دروغه ګواهي ورکوي او د کوم حقدار حق ضائع کوي نو د هغه لپاره همدا وعید دی چه په زیر بحث حدیث کښې دی .

(السمانة) چاغوالي ته سمانة ویل شوی دی ، ددینه د عیش او تنعم او د سستی و مستۍ ژوند مراد دی ، یو چاغوالی خلقی او طبعی وي هغه مذموم نه دی دویم چاغوالی د ناز او تنعم او عیش او عشرت په وجه پیدا کیږي دلته همدا مراد دی چه په دې سره انسان د سستۍ ښکار کیږي ، د حماقت او بلادت په ګرفت کښې راځي ، د دغسې چاغوالی په باره کښې حضور صلی اللہ علیہ وسلم یو یهودی عالم ته وفرمایل ان الله یبغض الحبر السمین الله تعالی چاغ ملا نه خوښوي ، په هر حال چاغوالی د قیامت د علاماتو نه یو علامت دی ، نن سبا علماء هم ددې ښکار شوي دي ، د تبلیغ والا هم په دې کښې اخته دي ، عوام الناس هم په دې مرض کښې مبتلاء دي ، په عربی دنیا باندې ددې تباهۍ لویه حمله راغلې ده.

الفصل الثاني

د صحابو رضی اللہ عنہم تعظیم او تکریم په امت باندې لازم دی

﴿۵﴾ عَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْرِمُوْا أَصْحَابِيْ

حضرت عمر رضی اللہ عنہ وایي چې رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائیل زما د اصحابو رضی اللہ عنہم تعظیم او تکریم کوئ

فَإِنَّهُمْ خِيَارُكُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ

ځکه چه هغوی ستاسو برګزیده او بزرګترین خلق دي بیا هغه خلق چه هغوی ته قریب دي یعني تابعین او بیا

ثُمَّ يَظْهَرُ الْكَذِبُ حَتَّى إِنَّ

هغه خلق چه تابعینو ته قریب دي یعني تبع تابعین دي نه روسته به دروغ ظاهر شي تر دي پورې چې

الرَّجُلَ لَيَحْلِفُ وَلَا يُسْتَحْلَفُ وَيَشْهَدُ

یو سړی به قسم خوري حالانکه هغه نه به د قسم خوړلو مطالبه نه وي شوي او ګواهي به ورکوي حالانکه

وَلَا يُسْتَشْهَدُ أَلَا مَنْ سَرَّهُ بُحْبُوحَةُ الْجَنَّةِ

هغه ته به د ګواهۍ کولو دپاره نوي ویل شوي یاد لرئ کوم سړی چه بالکل د جنت په منځ کي چه د

فَلْيَلْزَمِ الْجَمَاعَةَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ مَعَ

جنت بهترین ځای دی او سیدل غواړی نو هغه ته پکار دی چه جماعت لازم ونیسي ځکه چه شیطان د

الْفَذِّ وَهُوَ مِنَ الْاِثْنَيْنِ أَبْعَدُ

هغه سړي ملګری جوړیږي چې د جماعت نه جدا او تنهاوي شیطان خو د دوو کسانو نه هم لري تختي

وَلَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ فَإِنَّ

او خبردار هیڅ سړی دي د یوي اجنبي ښځي سره په تنهایي کي هیڅ کله نه او سیږي ځکه چه د هغوی

الشَّيْطَانَ ثَالِثُهُمْ وَمَنْ سَرَّتْهُ حَسَنَتُهُ وَسَاءَتْهُ سَيِّئَتُهُ

دریم ملګری شیطان وي او کوم سړي ته چه د هغه نیکی خوشحالي او اطمینان و بخښي او د هغه

فَهُوَ مُؤْمِنٌ . رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ وَرِجَالُهُ

بدی یي غمګین او مضطرب کړي هغه مؤمن دی. نسائي او اسناد د دي حدیث صحیح دی او د دي

رِجَالُ الصَّحِيحِ إِلَّا إِبْرَاهِيمَ بْنَ الْحَسَنِ الْخَثْعَمِيَّ . لَمْ يُخْرِجْ عَنْهُ الشَّيْخَانِ

راویان د بخاري او مسلم راویان دي صرف ابراهیم بن الحسن چه دی د هغه نه شیخینو روایت نه

وَهُوَ ثِقَةٌ ثَبْتٌ
دی کړی خو ثقه او مضبوط دی،

توضیح: الفذ: د تنها او جدا په معنی سره دی یعنې د اهل حق د رأیې څخه یې جدا رأیه قائمه کړې ده.

بحبوحة: وسط الجنة مراد دی، عمده تر جنت مراد دی یعنې که څوک بهترینه او عمده جنت غواړي نو هغه ته پکار دي چه د اهل حقو سره وابسته پاتې شي.

د صحابو او تابعینو فضیلت

﴿۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَمَسُّ النَّارُ
او حضرت جابر رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل هغه مسلمان
مُسْلِمًا رَآنِي أَوْ رَآى مَنْ رَآنِي. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
ته به د دوزخ اور نه رسیږي چاچي زه لیدلی یم یا هغه سړي یې لیدلی وي چه هغه زه لیدلی یم [ترمذي]

د صحابو رضي الله عنهم سره بغض او محبت د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د بغض او محبت نتیجه ده

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللهَ
او حضرت عبدالله ابن مغفل رضي الله عنه وایي رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل الله نه ویریږی بیا الله نه ویریږی
اَللهَ فِيْ أَصْحَابِيْ اَللهَ اَللهَ فِيْ أَصْحَابِيْ - لَا تَتَّخِذُوْهُمْ غَرَضًا
زما د صحابو رضي الله عنه په حق کي زما نه روسته صحابو رضي الله عنهم د ملامتیا نښه مه جوړوی. یا دلرئ کوم سړی
مِنْ بَعْدِيْ فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّيْ أَحَبَّهُمْ وَمَنْ
چه هغوی مینه کوي نو زما په وجه یې ورسره مینه کوي او څوک چه ورسره دشمني کوي نو ما سره
أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِيْ أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ
د دشمنی په سبب یې ورسره دشمني ساتي او کوم سړی چه هغوی ته تکلیف رسوي هغه ګویا ماته
فَقَدْ آذَانِيْ وَمَنْ آذَانِيْ فَقَدْ آذَى اللهَ وَمَنْ
تکلیف ورسوه او چاچي ماته تکلیف ورسوه هغه ګویا الله ته تکلیف ورسوي او کوم سړی چه الله ته

آذی	الله	فَيُوْشِكُ	أَنْ	يَأْخُذَهُ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ
تکلیف ورسوي نو هغه ورځ لري نه ده چه الله به هغه ونیسي دا روایت ترمذي نقل کړی دی ویلي يي						
وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.						
دي چي دا حديث غريب دی.						

توضیح: **الله الله: ای اتقوا الله اتقوا الله** يعني زما د صحابو په باره کښي د الله تعالی څخه ووېرېږئ

غرضا: غرض نشاني ته ويل کيږي يعني هغوی د اعتراض لپاره نشانه مه ګرځوئ.

فببغضی ابغضهم: يعني اول زما سره بغض ساتي د هغه عکس او نتيجه دا وځي چه زما د صحابو سره بغض ساتي، نو د صحابه کرامو سره بغض ساتل دا د حضور صلی اللہ علیہ وسلم سره د بغض ساتلو نتيجه او اثر دی.

صحابه کرام رضی اللہ عنہم د أمت لپاره په منزله د مالګي دي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أَصْحَابِيْ فِيْ أُمَّتِيْ						
اوحضرت انس رضی اللہ عنہ وايي چي رسول کريم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائيل زما د امت په منځ کي زما د صحابو رضی اللہ عنہم						
كَالْمِلْحِ	فِي	الطَّعَامِ	لَا	يَصْلُحُ	الطَّعَامُ	إِلَّا بِالْمِلْحِ
مثال په طعام کي د مالګي په شان دی طعام هغه وقته پوري ښه شوپوري چه هغه کي مالګه نمک نه وي						
قَالَ	الْحَسَنُ	فَقَدْ	ذَهَبَ	مِلْحُنَا	فَكَيْفَ	
حضرت حسن بصري دي حديث اوريدو سره وفرمائيل چه زمونږ نمک لاړلو نو بيا مونږ به ښه څرنګه						
نَصْلُحُ. رَوَاهُ فِيْ شَرْحِ السُّنَّةِ.						
شو دا روايت بغوي خپل اسناد سره شرح السنه کي نقل کړی دی.						

دقيامت په ورځ چي کوم صحابي دکوم ځایه پورته کیږي دهغه ځای خلک به جنت ته بوځي

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اوحضرت عبد الله ابن بريده رضی اللہ عنہ د خپل پلار نه نقل کوي هغوی بيان وکړو چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم

مَامِنْ	أَحَدٍ	مِنْ	أَصْحَابِيْ	يَمُوْتُ	بِأَرْضٍ

وفرمائیل زما صحابو رضي الله عنهم کې چې کوم سړی کومه ځمکه کې وفات شي هلته به په داسې حال کې

إِلَّا	بُعِثَ	قَائِدًا	وَنُوْرًا	لَهُمْ

رااوچتول کیږي دخپل قبرنه چه د هغه ځمکې خلق به جنت طرف ته بوځي او هغوی لپاره به نوروی

يَوْمَ	الْقِيَامَةِ	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ	هٰذَا	حَدِيْثٌ	غَرِيْبٌ.

دقیامت په ورځ دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چه دا حدیث غریب دی او د

وَذُكِرَ	حَدِيْثُ	ابْنِ	مَسْعُوْدٍ	[لَا	يُبَلِّغُنِيْ

حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روایت شوی حدیث: لایبلغني احدٌ: چه هغه کې دصحابو رضي الله عنهم ذکر دی

أَحَدٌ]فِيْ	بَابِ	[حِفْظِ	اللِّسَانِ].

اوصاحب مصابیح هغه باب کې نقل کړی ؤ وروسته باب حفظ اللسان کې نقل شوی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

صحابو رضي الله عنهم ته بدویونکي مستوجب لعنت دی

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الَّذِيْنَ

حضرت ابن عمر رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل هرکله چه تاسو هغه خلق وینئ چې زما

يَسُبُّوْنَ أَصْحَابِيْ فَقُوْلُوْا لَعْنَةُ اللهِ عَلَى شَرِّكُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

صحابو رضي الله عنهم ته بد وایي نو تاسو ووائی چه ستاسو پربدترین دې دالله لعنت وي [ترمذي]

په خپل مینځ کې د اختلاف باوجود دصحابو رضي الله عنهم اقتداء د هدایت ذریعه ده

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوحضرت عمر ابن الخطاب رضي الله عنه وایې مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل چه وې فرمائیل

يَقُوْلُ	سَأَلْتُ	رَبِّيْ	عَنْ	اِخْتِلَافِ	أَصْحَابِيْ

چې ما د خپل پروردګار نه د صحابو رضی الله عنهم په منځ کې د اختلاف باره کې پوښتنه وکړه چه د شریعت په فروعي

مِنْ	بَعْدِيْ	فَأَوْحٰى	إِلَيَّ	يَا	مُحَمَّدُ

مسائلو کې زمانه روسته واقع کیږي نو الله تعالی د وحي په ذریعه زه خبر کړم چه ای محمد صلی الله علیه وسلم

إِنَّ	أَصْحَابَكَ	عِنْدِيْ	بِمَنْزِلَةِ	النُّجُوْمِ	فِي	السَّمَاءِ

حقیقت دا دی چه ستا صحابو رضی الله عنهم زما په نزد داسي دي لکه آسمان کې ستوري څرنګه چه هغه ستورو

بَعْضُهَا	أَقْوٰي	مِنْ	بَعْضٍ	وَلِكُلٍّ	نُوْرٌ

کي اګر که بعضي زيات قوي یعني زيات روښانه دي لیکن رڼا په هر یو کي ده نو کوم سړی چې

فَمَنْ	أَخَذَ	بِشَيْءٍ	مِمَّا	هُمْ	عَلَيْهِ	مِنْ	اِخْتِلَافِهِمْ	فَهُوَ	عِنْدِيْ	عَلٰى هُدًى

علمي او فقهي مسائلو کې د هغه اختلاف نه څه شی هم اختيار کړل زما په نزد هغه په هدايت دی

قَالَ	وَ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	أَصْحَابِيْ كَالنُّجُوْمِ

حضرت عمر رضی الله عنه وايي او رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائيل چې زما صحابو رضی الله عنهم د ستورو په شان دي نو تاسو

فَبِأَيِّهِمْ	اقْتَدَيْتُمْ	اِهْتَدَيْتُمْ.	رَوَاهُ	رَزِيْنٌ.

د هغوی پیروي کوئ هغوی کي چه د کوم یو تاسو پیروي کوئ هدايت به پیدا کوئ [رزین]

توضیح : عن اختلاف اصحابي: حضور صلی الله علیه وسلم ته د صحابو رضی الله عنهم په خپل مینځ کښې د اختلاف نه زيات تشويش وو، بیا هم په دې باره کښې هغه د خپل رب نه سوال کړی دی چې دا به څه جوړیږي؟ الله تعالی وفرمايل چې ستا صحابه د ستورو پشان دي چې د بعضو ستورو نور د بعضو نه تيز وي د دينه په ظاهره اختلاف په نظر راځي لیکن نور په ټولو کښې شته، لهذا د خپل مینځي جنګونو باوجود صحابه د هدايت مينار وه، د دوی دغه جنګړنه په بدنیتی باندې مبنی نه وو، اجتهادی اختلاف دی چې معاف دی، کوم بغض او عداوت او عناد نه دی.

مثلاً تولو ورځ حضرت ابو هريرة رضی الله عنه د حضرت علي رضی الله عنه سره يو ځای د حضرت معاويه رضی الله عنه په خلاف جنګیږي او مابنام د حضرت معاويه رضی الله عنه دسترخوان ته ځي، حضرت معاويه رضی الله عنه

وپوښتل چې ابوهريره ! دا څه کوې؟ هغه جواب ورکړو چې دا جنګ د کوم عداوت و عناد په بنياد باندې نه دی ، زه چونکې حضرت علي رضي الله عنه په حقه ګڼم نو د هغه سره يم ، ليکن ډوډۍ د لته ستا ښه ده نو ځکه د لته راځمه .

همدارنګه حضرت علي رضي الله عنه او حضرت عائشه رضي الله عنها په جنګ جمل باندې ټول عمر ژړل .

همدارنګه چه د روم بادشاه د حضرت علي رضي الله عنه په خلاف د حضرت معاويه رضي الله عنه مدد کول غوښتل نو حضرت معاويه رضي الله عنه خط وليکلو او ويې ويل چې ای د روم سپيانو ! که تا په حضرت علي رضي الله عنه باندې حمله وکړه نو ستا په خلاف د حضرت علي رضي الله عنه د لښکر اول عسکر به معاويه وي او زه به تا ونيسم په ځنګل کښې د خنزير د بچيانو په فرورش باندې به دې مقرر کړم ، ياد ساته چې علي زما ورور دی ! زمونږ دغه جنګ يو اجتهادی جنګ دی ، د دوو ورونو تنازع ده ، خبردار ! مينځ ته مه راځه .

واضحه دې وي چې د اصحابي کالنجوم والاحديث ته عامو علماؤ ضعيف ويلی دی او بعضو قابل قبول ويلی دي .

باب مناقب ابي بکر رضي الله عنه

دحضرت ابوبکر رضي الله عنه دمناقبو اوفضائلو بیان

قال الله تعالی: ﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّىٰ﴾ . (الیل: ۱۷ – ۱۸)

وقال الله تعالی: ﴿مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾ (الفتح: ۲۹)

نوم او نسب: د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نوم عبدالله دی ، لقب یې صدیق او عتیق دی دواړه لقبونه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ورکړي وو ، د هغه کنیت ابوبکر دی ، په اتم پشت کې یې نسب د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره یو ځای کیږي ، هغه تیمی دی د حضور صلی الله علیه وسلم نه دوه کاله کشر ؤ همدغه دوه کاله د حضور صلی الله علیه وسلم نه بعد ژوندی وو او د ۶۳ کلونو په عمر کې وفات شو .

د هغه رنګ : سپین او په جسم خوار وو ، په باړخوګانو باندې یې غوښه کمه وه تندی یې راوتلی وو ، زیات بردباره او نرم زړه والا وو ، د ټولو نه زیات د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره په رفاقت کې پاتې شو ، په ژوند باندې د حضور صلی الله علیه وسلم وزیر وو او د وفات نه وروسته د هغه خلیفه شو ، د خلیفه رسول خطاب هغه ته حاصل شو ، دوه کاله درې میاشتې نهه ورځې یې خلافت وکړو ، سنه ۱۳ هـ ۲۲ جمادی الثانی کې د ماښام او ماسخوتن په مینځ کې د دار فنا نه رخصت شو او د خپل محبوب په قدمونو کې تر قیامته آرام فرما شو .

هغه د قریشو د اشرافو نه وو ، د عربو په معاشره کې هرچا ته خوښ وو ، د اهل عربو د انسابو ماهر وو ، د لویې پایې تاجر وو ، نهایت فصیح او بلیغ وو ، په زمانه د جاهلیت کې یې هیڅکله هم شراب ونه څښل او نه یې کله بت پرستي کړې ، د وړوکوالي نه یې د حضور صلی الله علیه وسلم سره فدایانه محبت وو ، د ټولو نه یې مخکې په حضور صلی الله علیه وسلم باندې ایمان راوړلو او تر آخری ساه پورې یې د مال او جان قربانی ورکړه .

په ټولو غزواتو کې د حضور صلی الله علیه وسلم سره شریک شوی وو او د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته یې دا امت سنبال کړلو ، د مرتدینو سرکوبی یې وکړه او د دروغو مدعیان د نبوت یې ختم کړل ، بیا یې د فارس او روم په خلاف په دوو محاذونو باندې د جهاد آغاز وکړو ، په حیات او ممات کې د حضور صلی الله علیه وسلم سره په هر عمل کې مماثلت حاصل کړلو ، یار غار پاتې شوی دی ، په هجرت کې یې د سفر ملګری وو ، حضرت حسان رضي الله عنه فرمایلي :

ثانی اثنین فی الغار المنیف وقد طاف العدو به اذ صعد الجبلا
وکان حب رسول الله قد علموا خیر البریة لم یعدل به الرجلا

قال الشاعر:

من كان يعلم ان الله خالقه — لا يرمين ابابكر ببهتان

فرضي عنه وعنا — وعن جميع الصحابة.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د حضرت ابوبكر رضي الله عنه مقام

﴿١﴾ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل انسانانو كې

مِنْ أَمَنِّ النَّاسِ عَلَيَّ فِيْ صُحْبَتِهٖ

كوم سړي چې ما سره ملګرتيا وكړله او زما په خدمت كې او زما په خوشحالولو كې يې خپل وخت

وَمَالِهٖ أَبُوْ بَكْرٍ وَعِنْدَ الْبُخَارِيِّ أَبَا بَكْرٍ

او خپل مال هر څه يې زيات ولګول هغه ابوبكر رضي الله عنه دى او د بخاري د روايت مطابق ابابكر رضي الله عنه دى

وَلَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا

كه ما يو څوك خپل خليل يعني ريښتني ځاني دوست جوړولو غوښتلى نو يقينًا ابوبكر رضي الله عنه به مې داسې

وَلٰكِنْ أُخُوَّةُ الْإِسْلَامِ وَمَوَدَّتُهٗ لَاتُبْقَيَنَّ فِي الْمَسْجِدِ

دوست جوړ كړى وو خو اسلامي اخوت او محبت په خپل ځاى بلند تر دى مسجد نبوي صلى الله عليه وسلم كې د

خَوْخَةٌ إِلَّا خَوْخَةَ أَبِيْ بَكْرٍ وَفِيْ

ابوبكر د كور د كړكۍ يا د روشندان نه علاوه دې بله څه كړكۍ يا روشندان باقي پرې نه ښودل شي

رِوَايَةٍ لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا غَيْرَ رَبِّيْ

او يو روايت كې دا الفاظ دي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل كه ما د الله نه سوا بل څوك خپل خليل

لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

جوړولو نو يقينًا ابوبكر رضي الله عنه به مې خليل جوړ كړى واى. [بخاري مسلم]

توضیح: (امن الناس) دا اسم تفضیل صیغه ده یعني زما سره د ټولو نه زیات احسان کونکی شخص ابوبکر رضی الله عنه دی.

(ابابکر) لفظ د ابوبکر چونکې د ان لپاره اسم واقع کیږي نو ځکه منصوب کیدل پکار دي لکه د امام بخاری په روایت کې منصوب راغلی چې د قاعدې مطابق دی، لیکن دلته په مشکوة کې لفظ د ابوبکر مرفوع واقع دی شاید دا د کتابت غلطي وي او که نه نو په دې کې لوی اشکال دی.

(خلیلا) د خلیل د لفظ مبدأ اشتقاق مختلف دی، دا لفظ د خلة یعني دوستی نه هم مشتق دی چې معنی یې داسې قلبی تعلق وي چې د انسان زړه ته سرایت وکړي او د هغه د قلب په ظاهری او باطنی احساساتو او خیالاتو باندې قابض شي، د خلة دغه معنی د الله تعالی نه علاوه د کوم بل چا لپاره مناسب نه ده، په دغه وجه حضور صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق رضی الله عنه نه ددې نفی وفرمایله هو! دایې وفرمایله چې اسلامی اخوت، د صدیق سره په درجه کمال موجود دی، کچیرې لفظ د خلیل خلة د خاء په فتحې سره وي او د همدې مادې نه مشتق وي نو دا به د احتیاج او اعتماد په معنی سره وي، مطلب به داشي چې کچیرې ما څوک خپل داسې دوست جوړولو چې هغه ته ما په خپلو حاجتونو او ضرورتونو کې رجوع کوله او په خپلو ټولو مهماتو او تمام معاملاتو کې مې په هغه باندې اعتماد کولو نو هغه به ما ابوبکر ګرځولو لیکن په داسې امورو او معاملاتو او مهماتو کې زما کامله بروسه او اعتماد صرف د یو الله په ذات باندې وي او زما مرجع صرف هغه الله دی په دغه وجه ما په دې معنی سره ابوبکر خلیل جوړنکړو، هو! اسلامی اخوت د هغه سره په درجه د کمال موجود دی. **لا تبقین**: دا د مجهول صیغه ده یعنې هیڅکله دې پاتې نه کړی شي.

خوخة: روښن دان ته هم ویل کیږي او هغې وړې دروازې ته هم ویل کیږي چې د هغې نه سړی صرف بل طرفته تیر شي، د مسجد نبوی سره د صحابه کرامو کورونه متصل وو، په ابتداء کې صحابه کرامو د مسجد طرفته روښن دانونه پریښي وو تر څو د حضور صلی الله علیه وسلم د راتګ پته ولګیږي او د هغه دیدار وشي او که وړه دروازه وي نو په هغې سره رفت او آمد وشي، حضور صلی الله علیه وسلم په مرض وفات کې د داسې ټولو کړکیو د بندولو حکم وکړو صرف د ابوبکر صدیق رضی الله عنه کړکۍ خلاصې پریښودلو اجازت یې ورکړو چې د هغې نښان تراوسه پورې موجود دی او په مسجد نبوی کې د باب السلام سره باب رحمت دی د هغه د پاسه د دیوال په اوږدو لیکلي (هذه خوخة ابی بکر) په دې ارشاد عالی سره د صدیق اکبر رضی الله عنه د شان اظهار هم مقصود وو او دا اشاره هم وه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه به د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نه وروسته خلیفه هم وي.

سوال: اوس دلته یو سوال راپورته کیږی چې د حضرت سعد بن ابی وقاص په حواله سره یو روایت

نسائی او مسند احمد نقل کړې دی چې د هغه مفهوم دا دی چې حضور صلی الله علیه وسلم د ټولو صحابو روښن دانونه او کړکیانې بندې کړلې چې د مسجد نبوی طرفته وې صرف د حضرت علی رضي الله عنه کړکۍ یې پریښوده ، همدارنګه یو روایت د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه هم مسند احمد او نسائی نقل کړې د کثرت طرق په وجه حدیث صحیح هم دی لهذا په زیر بحث حدیث او د نسائی او احمد په حدیث کې تعارض راغی چې آیا دا خصوصی حکم د صدیق لپاره وو او که د حضرت علی رضي الله عنه لپاره وو ؟

جواب : علامه ابن حجر عسقلانی رحمه الله په دې باندې طویل کلام فرمایلی دی او د دواړو حدیثونو صحیح تسلیمولو نه بعد یې دا جواب ورکړی دی چې د دې دواړو روایتونو زمانه جدا جدا ده ، د حضرت علی رضي الله عنه په باره کې چې کوم حدیث دی هغه بلکل د ابتدائی دور خبره وه چې کله حضرت حمزه رضي الله عنه ژوندی وو ،حضرت حمزه رضي الله عنه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته ګیله هم وکړه چې تاسو کاکا ته اجازت ورنکړه او د تره ځوی ته مو اجازت ورکړو ، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې ما هر څه د الله تعالی په حکم سره کړي ، د دینه بعد حضور صلی الله علیه وسلم په مرض وفات کې د انتقال نه درې ورځې مخکې بیا حکم صادر کړلو او د صدیق اکبر رضي الله عنه نه علاوه یې هیچا ته مسجد طرف ته د کړکۍ پریښودلو اجازت ورنکړو لهذا دا خصوصیت صرف د حضرت ابوبکر رضي الله عنه لپاره دی چې په دې کې خلافت طرفته اشاره ده ، په مظاهر حق کې تفصیل موجود دی .

حضرت ابوبکر رضي الله عنه افضل د صحابو رضي الله عنهم وو

﴿۲﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د نبي كريم صلی الله علیه وسلم نه روايت كوي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائيل كه
لَوْ كُنْتُ مُتَّخِذًا خَلِيْلًا لَاتَّخَذْتُ أَبَا بَكْرٍ خَلِيْلًا وَّلٰكِنَّهٗ أَخِيْ
ما څوک خلیل جوړولای نو ابوبکر به مي خپل خلیل جوړ کړی وی لیکن هغه زما ورور دی او زما
وَصَاحِبِيْ وَقَدِ اتَّخَذَ اللهُ صَاحِبَكُمْ خَلِيْلًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
رفیق او ملګری دی او حقیقت دا دی چې ستاسو صاحب یعني زه الله خپل خلیل جوړ کړی یم [مسلم]

توضیح : (لكنه اخي) د مسند احمد په یو روایت کې دي : لكنه اخي في الدين و صاحبي في الغار. د حضرت ابن عباس رضي الله عنه یو روایت په مسند ابویعلی کې داسې منقول دی : ابوبکر صاحبي د

مؤنسي في الغار سدوا كل خوخة في المسجد غير خوخة ابي بكر . (مسند ابويعلى)

دحضرت ابوبكر رضي الله عنه په حق کې دخلافت وصيت

﴿۲﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَرَضِهٖ
اوام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم خپل مرض وفات کې يوه ورځ ماته
اُدْعِيْ لِيْ أَبَابَكْرٍ أَبَاكِ، وَأَخَاكِ، حَتّٰى أَكْتُبَ كِتَابًا
وفرمائيل خپل پلار ابوبكر او خپل ورور عبدالرحمن ماته راوغواړه چې زه يو تحرير وليکم. دراصل
فَإِنِّيْ أَخَافُ أَنْ يَتَمَنّٰى مُتَمَنٍّ
ماته انديښنه ده که ماد ابوبكر دخلافت باره کې ونه ليكل) نوچيرته دخلافت څوک ارزومند ارزو
وَيَقُوْلَ قَائِلٌ: أَنَا، وَلَا، وَيَأْبَى اللهُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ
ونه کړي اوڅوک ويونکی دا ونه وايي چې دخلافت مستحق زه يم او د ابوبكرنه علاوه د بل چا
إِلَّا أَبَا بَكْرٍ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَفِيْ كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ
خلافت به نه الله وغواړي اونه څوک اهل ايمان به يي تسليم کړي [مسلم] اوکتاب حميدي کې
أَنَا أَوْلٰى بَدَلَ أَنَا وَلَا.
د أَنَا وَلَا په ځاي أَنَا أَوْلٰى دخلافت دټولو نه لوی مستحق زه يم الفاظ دی.

توضيح: (انا و لا) يعني خپل پلار او ورور راوغواړه تر څو زه يو تحرير وليکم چې بيا زما د وفات نه بعد د ابوبكر رضي الله عنه په مقابله کې د خلافت كوم دعوه داره دا دعوه ونکړي چې زه د خلافت لپاره زيات حقدار يم ، شايد حضور صلى الله عليه وسلم دا اراده فرمايلې وي مګر بيا يې معامله الله تعالى او مسلمانانو ته پريښوده ، ددې حديث نه معلومه شوه چې په واقعه د قرطاس کې هم د حضور صلى الله عليه وسلم مقصد د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خلافت تحرير ليکلو وه بيا د هغه اراده بدله شوه ، دا حديث نص صريح دی چې خلافت بلافصل حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ته حاصل شوی وو ، په دې باندې د صحابو اجماع هم راغلې وه او تر دوو کلونو پورې حضرت ابوبكر رضي الله عنه خلافت هم وکړو او حضرت علی رضي الله عنه د هغه په لاس باندې بيعت هم وکړو ، د هغه پسې

يې لمونځونه هم وكړل، هغه يې د خليفه په نوم سره تسليم هم كړلو او په دغه نوم سره يې هغه بللو هم او د خپل خلافت دعوه يې هم ونكړله، اظهار يې هم ونكړو، د هغه نه د كوم خفيه وصيت پوښتنه هم وشوه نو هغه وفرمايل ماته هيڅ وصيت شوى نه دى، د دينه وروسته هم كه شيعه ګان شور كوي چې خلافت د حضرت على رضي الله عنه حق وو او هغه وصى جوړ شوى وو، هغه خليفه بلافصل وو نو دا د دغو حضراتو بى عقلى ده، په ظاهره خو د حضرت علي رضي الله عنه سره هيڅ هم نه وو كه په باطن كې څه وو نو شيعه دي هغه وښائي، هسې د كافر جوړيدلو څه ضرورت دى چې د صحابو د اجماع نه انكار كوي او د دغو احاديثو تكذيب كوي.

ولا: دا يو لغت دى چې د اولى په معنى سره دى يعنې زه زيات مستحق يم، لكه د حميدى په كتاب كې د انا اولى صريح الفاظ هم راغلي دي.

دحضرت صديق اكبر رضي الله عنه خلاف طرف ته واضحه اشاره

﴿۴﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امْرَأَةٌ									
او حضرت جبير ابن مطعم وايي يوه ورځ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كې يوه ښځه حاضره شوه او څه									
فَكَلَّمَتْهُ	فِيْ	شَيْءٍ	فَأَمَرَهَا	أَنْ	تَرْجِعَ	إِلَيْهِ			
معامله كې يې د حضور صلى الله عليه وسلم سره خبرې وكړې حضور صلى الله عليه وسلم هغې ته حكم وكړو چې څه بل وخت هغه ته									
قَالَتْ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ	أَرَأَيْتَ	إِنْ	جِئْتُ	وَلَمْ		
راشي هغه ښځې عرض وكړو يا رسول الله څكه كه روسته زه راشم او تاسو پيدا نكړم نو بيا به څرنګه									
أَجِدْكَ	كَأَنَّهَا	تُرِيْدُ	الْمَوْتَ	قَالَ	فَإِنْ	لَمْ			
خبره جوړيږي راوي دي ويلو نه د هغه ښځې مقصد د حضور صلى الله عليه وسلم وايو فات طرف ته اشاره كول وو									
تَجِدِيْنِيْ	فَأْتِيْ	أَبَا	بَكْرٍ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.				
حضور صلى الله عليه وسلم هغې ته وفرمائيل كه ته ما پيدا نه كړې نو بيا ابو بكر ته ورشه. [بخاري مسلم]									

توضيح: **فأتي ابابكر**: يعنې زمانه وروسته به ابو بكر رضي الله عنه خليفه وي، مسئول به هغه وي ته هغه ته لاړه شه، تا ته به ستا حق ملاو شي، دا روايت ګويا صريحى نص دى چې د حضور صلى الله عليه وسلم نه وروسته به د هغه جانشين حضرت ابو بكر رضي الله عنه وي. امام نووى رح فرمايې چې په دې حديث كې د خلافت هيڅ تصريح نشته، هو! دا اخبار بالغيب او د مستقبل پيشنګوئي ده، مګر ملا علي قاري

رحمه الله فرمایلي دي چې دا حدیث خلافت ته اشاره ده بلکه په یو روایت کې تصریح ده، هغه داسې ده چې یو ځل یوه ښځه راغله او د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نه یې څه وغوښتل، حضور صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې وروسته راشه! هغې وویل چې یارسول الله! کچیرې په هغه وخت کې ته نه وې، هغې د دېته اشاره کوله چې ته به وفات شې نو بیا به څه کیږي؟ حضور اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کچیرې تا زه ژوندی ونه موندلم نو ابوبکر رضي الله عنه ته راشه! هغه به زما نه بعد زما خلیفه وي.

ملا علی قاری رحمه الله یو بل حدیث هم دلته لیکلی دی چې د هغه خلاصه داسې ده چې یو کوچی د حضور صلی الله علیه وسلم په لاس څه اوښان خرڅ کړل او قیمت یې پاتې شو، حضرت علي رضي الله عنه کوچي ته وویل چې لاړ شه د حضور صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې که ته موجود نه وې نو دا قرض به څوک اداء کوي؟ حضور صلی الله علیه وسلم د بانډه چې په جواب کې وویل چې ابوبکر به یې اداء کړي، حضرت علی رضي الله عنه دوباره بانډه چې ولیږه چې کچیرې ابوبکر پاتې نه وو نو څوک به قرض اداء کوي؟ ویې فرمایل چې عمر رضي الله عنه ته راشه هغه به یې اداء کړي، حضرت علی رضي الله عنه بیا بانډه چې ولیږه چې که عمر نه وو بیا به یې څوک اداء کوي؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې عثمان رضي الله عنه ته راشه هغه به یې اداء کړي، حضرت علی رضي الله عنه بیا بانډه چې ولیږه چې کچیرې د عثمان رضي الله عنه موت واقع شي بیا به یې څوک اداء کوي؟ حضور اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې کله د ابوبکر و عمر و عثمان موت واقع شي نو بیا ته هم مړ شه ستا څه کار دی؟ دغه روایت اسماعیلی رحمه الله په خپل معجم کې نقل کړی دی. (مرقات ج۱۰ ص۳۷۴)

په خلاصة الفتاوی کې یې لیکلي دي: **من انکر خلافة الصدیق فهو کافر**. په هر حال د عام امت د علماؤ دا فتوی ده چې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه په خلافت باندې اجماع راغلې ده لهذا د اجماع منکر کافر دی نو صدیق د خلافت منکر کافر دی، شیعه خو د دې انکار نه علاوه د نورو په سوونو عقائدو په وجه هم کافر دي مگر هغوی خپلو ځانو نو ته مؤمنان وایې او عامو مسلمانانو ته منافقان وایې.

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره د حضور صلی الله علیه وسلم د ټولو نه زیات محبت خلقو کې

﴿۵﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم هغه د یو لښکر
بَعَثَهُ عَلَى جَيْشِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ قَالَ فَأَتَيْتُهُ
امیر قومندان جوړ لو سره ذات السلاسل ته ولیږه هغه بیان کوي چې روستنه زه د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت کې حاضر

فَقُلْتُ	أَيُّ	النَّاسِ	أَحَبُّ	إِلَيْكَ	قَالَ
شوم نو ما پوښتنه وکړه چې ستاسو د ټولو نه زیات د چا سره محبت دی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل د					
عَائِشَةُ	قُلْتُ	مِنَ	الرِّجَالِ	قَالَ	أَبُوهَا
عائشي رضی الله عنها سره ما عرض وکړو زما سوال د سړو باره کې وو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل د عائشي پلار					
قُلْتُ	ثُمَّ	مَنْ؟	قَالَ	عُمَرُ	فَعَدَّ
ما پوښتنه وکړه هغوی نه روسته حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل عمر دي نه روسته زما د پوښتني مطابق					
رِجَالًا	فَسَكَتُّ	مَخَافَةَ	أَنْ	يَجْعَلَنِي	
حضور صلی الله علیه وسلم د متعددو خلقو ذکر وکړو او بیا د دې خوف نه خاموش شوم چې چیرته زما نوم د ټولو					
فِي	آخِرِهِمْ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.		
نه آخر کې را نشي. [بخاري مسلم]					

توضیح: حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه حضور صلی الله علیه وسلم په غزوه ذات السلاسل کې د لښکر امیر کړځولی وو، په واپسۍ کې هغه په طبقه د صحابو کې خپل مقام معلومول غوښتل نو د حضور صلی الله علیه وسلم نه یې داسې سوال وکړو لکه څنګه چې پدې حدیث کې دي، چې کله هغه ته داسې جواب ملاؤ شو نو دا چپ شو.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د افضلیت شهادت د حضرت علي رضی الله عنه د ژبې نه

﴿۶﴾	وَعَنْ	مُحَمَّدِ	بْنِ	الْحَنَفِيَّةِ	قَالَ	قُلْتُ	لِأَبِي أَيُّ
او حضرت محمد ابن حنفیه د خپل والد ماجد حضرت علي رضی الله عنه نه پوښتنه وکړه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه							
النَّاسِ	خَيْرٌ	بَعْدَ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
روسته کوم سړی د ټولو نه بهتر او افضل دی نو هغوی وفرمائیل حضرت ابوبکر رضی الله عنه بیا تري ما							
قَالَ	أَبُو	بَكْرٍ	قُلْتُ	ثُمَّ	مَنْ؟	قَالَ	
پوښتنه وکړه چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه روسته څوک د ټولو نه بهتر او افضل دی وي فرمائیل							

عُمَرُ وَخَشِيتُ اَنْ يَقُوْلَ عُثْمَانُ

حضرت عمر رضي الله عنه! ما سره خدشه شوه که ما پوښتنه وکړه د چیرته هغوی دا و نه وایي چې حضرت عثمان رضي الله عنه

قُلْتُ ثُمَّ اَنْتَ قَالَ مَا اَنَا اِلَّا رَجُلٌ

نو ما داسي وویل چې بیا د حضرت عمر رضي الله عنه نه روسته د ټولو نه بهتر او افضل تاسو یې هغوی دي

مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

خبره اورید و سره و فرمائیل زه خو بس د مسلمانو یو فرد یم [بخاري]

توضیح: د صدیق اکبر رضي الله عنه د فضیلت اعتراف په خپله حضرت علی رضي الله عنه کوي، د دینه وروسته د شیعو د پښو برقراره پاتې کیدو هیڅ موقع نشته، حضرت علی رضي الله عنه دا هم وفرمایل چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه زمونږ د دین امام وګرځولو نو اوس زمونږ د دنیا امام هم دی.

صحابو رضي الله عنهم د صدیق د افضلیت اقرار کړی وو.

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا فِيْ زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وایي مونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم زمانه کې صحابو رضي الله عنهم کې هیڅوک د

لَانَعْدِلُ بِأَبِيْ بَكْرٍ أَحَدًا ثُمَّ عُمَرُ ثُمَّ

حضرت ابوبکر برابر نه ګڼلو د هغوی نه روسته د حضرت عمر برابر مو هیڅوک نه ګڼلو او هغوی نه روسته

عُثْمَانُ ثُمَّ نَتْرُكُ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عثمان رضي الله عنه برابر مو هیڅوک نه ګڼلو او بیا د حضرت عثمان رضي الله عنه نه روسته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم

لَانُفَاضِلُ بَيْنَهُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَفِيْ رِوَايَةٍ

صحابه رضي الله عنهم به مو په خپل حال پریښودل چې د هغوی منځ کې چا ته په چا مو فضیلت نه ورکولو [بخاري] او د

لِأَبِيْ دَاوُدَ قَالَ كُنَّا نَقُوْلُ وَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ابوداؤد په روایت کې داسي دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه وویل مونږ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم حیات مبارک

حَيٌّ	أَفْضَلُ	أُمَّةِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	بَعْدَهُ
کې ويل چې دنبي کريم صلى الله عليه وسلم امت کې د حضور صلى الله عليه وسلم نه روسته د ټولو نه افضل								
أَبُوْ بَكْرٍ	ثُمَّ عُمَرُ	ثُمَّ عُثْمَانُ	رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ .					
حضرت ابوبکر رضي الله عنه دی بيا عمر رضي الله عنه او بيا حضرت عثمان رضي الله عنه .								

الفصل الثاني

پيغمبر عليه السلام د صديق احسان د ټولو نه زيات ښودلی دی

﴿۸﴾	وَعَنْ أَنَسٍ	عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ	قَالَ	قَالَ	رَسُوْلُ اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ		
حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل داسي هيڅ سړی نشته چې هغه مونږ ته څه											
مَا	لِأَحَدٍ	عِنْدَنَا	يَدٌ	اِلَّا	وَقَدْ	كَافَيْنَاهُ	مَا	خَلَا	أَبَا	بَكْرٍ	فَإِنَّ
راکړي وي يا زمونږ امداد يې کړی وي او مونږ د هغه بدله نه وي ورکړي علاوه د ابوبکر نه دا حقيقت											
لَهُ	عِنْدَنَا	يَدًا	يُكَافِيْهِ	اللهُ	بِهَا	يَوْمَ	الْقِيَامَةِ				
دی چې ابوبکر رضي الله عنه زمونږ سره د عطا کوم عظيم الشان سلوک کړی دی د هغه بدله به د قيامت په											
وَمَا	نَفَعَنِيْ	مَالُ	أَحَدٍ	قَطُّ	مَا	نَفَعَنِيْ	مَالُ				
ورځ الله تعالى هغوی ته عطا کوي د هيڅ سړي مال ماته دومره فائده نه ده رسولي څومره چې د											
أَبِيْ	بَكْرٍ	وَلَوْ	كُنْتُ	مُتَّخِذًا	خَلِيْلًا	لَاتَّخَذْتُ	أَبَا	بَكْرٍ			
ابوبکر مال راته رسولي ده که ما څوک خپل خليل يعني خالص دوست جوړولای نو يقينًا ابوبکر رضي الله عنه											
خَلِيْلًا أَلَا وَإِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيْلُ اللهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ											
به مي خليل جوړ کړی وای يادلرئ ستاسو صاحب د الله حقيقي دوست دي[ترمذي]											

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اعتراف

﴿۹﴾ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ: اَبُوْبَكْرٍ سَيِّدُنَا وَخَيْرُنَا

او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی هغوی وفرمائیل حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زمونږ سردار دی د

وَاَحَبُّنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

زمونږ ټولو نه افضل دی او رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د ټولو نه زیات خوښ دی [ترمذي]

د صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو اعزاز

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا «عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِاَبِيْ بَكْرٍ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته داسي وفرمائیل

اَنْتَ صَاحِبِيْ فِي الْغَارِ وَصَاحِبِيْ عَلَى الْحَوْضِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ته زما یارِ غار یعني د غار رفیق او ملګری یې او حوض کوثر باندې به زما مصاحب یې [ترمذي]

ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د امت امام دی

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايَنْبَغِيْ لِقَوْمٍ فِيْهِمْ اَبُوْ بَكْرٍ

او بي بي عائشه وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل کوم قوم او جماعت کې ابوبکر موجود وي

اَنْ يَّؤُمَّهُمْ غَيْرُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

هغوی د پاره موزون نه دی چې د هغوی امامت د ابوبکر نه علاوه بل سړی وکړي د اروایت ترمذي

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه بل څوک نشي او چتیدلی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ اُمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَّتَصَدَّقَ

او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کوي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صدقي کولو مونږ ته حکم وکړو او د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَوَافَقَ ذٰلِكَ عِنْدِيْ مَالًا فَقُلْتُ اَلْيَوْمَ

داحکم د مال د اعتبار نه زما موافق پریوته نو ما خپل زړه کې وویل که زه په څه ورځ د ابوبکر نه

أَسْبِقُ أَبَا بَكْرٍ إِنْ سَبَقْتُهُ يَوْمًا قَالَ

مخکې شم نو هغه نن ورځ ده چې دي معامله کې به هغوی روسته پریږدم حضرت عمر رضي الله عنه وايي

فَجِئْتُ بِنِصْفِ مَالِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما خپل نیم مال راوړلو سره د نبي صلی الله علیه وسلم خدمت کې پیش کړلو نبي صلی الله علیه وسلم زما نه پوښتنه وکړه

مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ فَقُلْتُ مِثْلَهُ

په کورکي دي څه پریښې دي؟ ما وویل ددې په اندازه مي کور والو دپاره پریښي دي دی نه

وَأَتٰى أَبُوْبَكْرٍ بِكُلِّ مَا عِنْدَهُ

روسته حضرت ابوبکر رضي الله عنه راغی او هغوی سره چې څه وو هغه ټول یې راوړو د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت

فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا أَبْقَيْتَ لِأَهْلِكَ فَقَالَ

کې پیش کړل حضور صلی الله علیه وسلم تري پوښتنه وکړه کوروالو دپاره دي څه پریښي دي حضرت ابوبکر رضي الله عنه

أَبْقَيْتُ لَهُمُ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ قُلْتُ

عرض وکړو هغوی دپاره مي الله او د هغه رسول پریښي دي حضرت عمر رضي الله عنه وايي ما په خپل زړه

لَا أَسْبِقُهُ إِلٰى شَيْءٍ أَبَدًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ.

کې وویل په ابوبکر رضي الله عنه زه هیڅ کله فضیلت نشم وړلی. [ترمذي ابوداؤد]

صدیق رضي الله عنه ته د نجات پروانه ملاو شوې ده

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ أَبَا بَكْرٍ دَخَلَ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او بي بي عائشي رضي الله عنها نه روایت دی یوه ورځ حضرت ابوبکر رضي الله عنه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې

فَقَالَ	أَنْتَ	عَتِيْقُ	اللهِ	مِنَ	النَّارِ	فَيَوْمَئِذٍ

حاضر شو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته وفرمائیل ته د دوزخ د عذاب نه د الله تعالیٰ ازاد کړه یې نو د هغه

سُمِّيَ عَتِيْقًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ورځې نه د هغوی نوم عتیق وګرځول شو. [ترمذي]

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روسته به حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو نه مخکې د قبر نه پورته کیږي

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل دي خلقو کې به د ټولو نه اولنی سړی زه

مَنْ	تَنْشَقُّ	عَنْهُ	الْأَرْضُ	ثُمَّ	أَبُوْبَكْرٍ	ثُمَّ

یم چې د ځمکې نه به راپورته کیږم زما نه روسته به ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او هغوی نه روسته به

عُمَرُ	ثُمَّ	آتِيْ	أَهْلَ	الْبَقِيْعِ	فَيُحْشَرُوْنَ

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلو خپلو قبرونو نه راپورته کیږي بیا به زه د بقیع قبرستان د فن شوو ته راشم او هغوی

مَعِيَ	ثُمَّ	أَنْتَظِرُ	أَهْلَ	مَكَّةَ	حَتّٰى	أُحْشَرَ

به د خپلو قبرونو نه راپورته کولو سره به ما سره جمع شي او بیا به زه د اهل مکه انتظار کوم تر دې پورې

بَيْنَ الْحَرَمَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

چې زه به د حرمینو یعني د اهل مکه او اهل مدینه په منځ کې میدان حشر ته ورسول شم [ترمذي]

د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته به د ټولو نه مخکې ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جنت ته داخلیږي

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِيْ جِبْرَئِيْلُ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته راغی

فَأَخَذَ	بِيَدِيْ	فَأَرَانِيْ	بَابَ	الْجَنَّةِ	الَّذِيْ

او زما لاس یې په خپل لاس کې اونیولو او بیا ماته یې د جنت هغه دروازه وښودله چې په هغه به زما د

يَدْخُلُ	مِنْهُ	أُمَّتِيْ	فَقَالَ	أَبُوْبَكْرٍ	يَا	رَسُوْلَ	اللهِ

اُمت خلق جنت ته داخليږي حضرت ابو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ارشاد اوريدو سره عرض وكړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وَدِدْتُ	أَنِّيْ	كُنْتُ	مَعَكَ	حَتّٰى	أَنْظُرَ	إِلَيْهِ

زما زړه كي ډ حسرت نه ډك داخواهش ګرځي چې كاش هغه وقت زه ستا سو سره واى نوزما به

فَقَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	أَمَا	إِنَّكَ	يَا	أَبَا	بَكْرٍ

هم د جنت دروازه ليدل نصيب شوې وى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل اى ابو بكر خبر شه چې زما په

أَوَّلَ	مَنْ	يَدْخُلُ	الْجَنَّةَ	مِنْ	أُمَّتِيْ.	رَوَاهُ	أَبُوْ	دَاوُدَ.

اُمت كي كوم خلق جنت كي داخليږي هغوى كې به د ټولو نه اولنى سړى ته يي [ابوداؤد]

دحضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه عملونه چې دنور ژوند په ټولو اعمالو باندي درانه دي؟

﴿۱۲﴾	وَ	عَنْ	عُمَرَ	ذُكِرَ	عِنْدَهُ	أَبُوْ	بَكْرٍ

سيدنا عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي يوه ورځ دهغوى مخكي د حضرت ابو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذكر وشو نو هغه

فَبَكٰى	وَقَالَ	وَدِدْتُ	أَنَّ	عَمَلِيْ	كُلَّهُ	مِثْلُ

په ژړا شو بيا يي وويل زما ارزو ده چې كاش زما د پوره ژوند اعمال د حضرت ابو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صرف د

عَمَلِهٖ	يَوْمًا	وَّاحِدًا	مِّنْ	أَيَّامِهٖ

هغه ورځي دعمل برابروي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زمانه حيات د ورځو نه يوه ورځ ده يا د هغوى د هغه

وَلَيْلَةً	وَّاحِدَةً	مِّنْ	لَيَالِيْهِ	أَمَّا	لَيْلَتُهٗ

يوي شپي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زمانه حيات د شپو نه يوه شپه وه نو دا د هغه شپي ذكر دى چې په هغې

فَلَيْلَةٌ	سَارَ	مَعَ	رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كې هغوى رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سفر هجرت باندي روان شو او غار ثور د هغوى اولنى منزل جوړ

إِلَى الْغَارِ فَلَمَّا انْتَهَيَا إِلَيْهِ قَالَ وَاللهِ

شوی وو هر کله چې نبی صلی الله علیه وسلم ابوبکر رضي الله عنه غار ته ورسيدل او نبی صلی الله علیه وسلم غار کې داخليدل وغوښتل

لَا تَدْخُلُهُ حَتَّى أَدْخُلَ قَبْلَكَ

حضرت ابوبکر رضي الله عنه ورته وويل قسم په الله تاسو به غار کې نه داخليږئ تر دې پورې چې مخکې

فَإِنْ كَانَ فِيهِ شَيْءٌ أَصَابَنِي دُونَكَ

زه دننه ورشم که دې کې څه موذي شی وي نو ماته به ضرر ورسوي نه تاسو ته او دي ويلو سره

فَدَخَلَ فَكَسَحَهُ وَوَجَدَ فِي جَانِبِهِ

حضرت ابوبکر رضي الله عنه مخکې غار کې داخل شو او هغه يې څنډلو سره صافا کړو هغوی د غار يو کونج

ثُقْبًا فَشَقَّ إِزَارَهُ وَسَدَّهَا بِهِ وَبَقِيَ

کې څو سوري هم ليدلی وو هغه کې زيات سوري يې په خپل تهبند شلولو سره بند کړل او دوه

مِنْهَا اثْنَانِ فَأَلْقَمَهُمَا رِجْلَيْهِ

سوري په دې وجه باقي پاتې شوې وو شوې د هغو خولو کې د خپلو دواړو پښو پوندی کيخو

ثُمَّ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دلې چې د څه زهريلا او موذي څناور دراو تلو څه لار باقي پاتې نشي بيا هغوی رسول کريم صلی الله علیه وسلم

اُدْخُلْ فَدَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ته عرض وکړو چې اوس دننه تشريف راوړئ نو نبي کريم صلی الله علیه وسلم غار کې داخل شو او خپل

وَوَضَعَ رَأْسَهُ فِي حِجْرِهِ وَنَامَ فَلُدِغَ

سر مبارک يې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په غيږ کې ايخودو سره اوده شو د دې دوران کې د غار دننه نه مار

أَبُوْبَكْرٍ فِي رِجْلِهِ مِنَ الْجُحْرِ وَلَمْ يَتَحَرَّكْ

حضرت ابوبکر رضي الله عنه په پښه وچيچې ليکن هغوی د غه شان ناست وو او د دې ويرې نه خپل ځای نه يي

مَخَافَةَ أَنْ يَنْتَبِهَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حرکت هم ونه کړو چې چيرته حضور صلی الله علیه وسلم راويښ نشي آخر شدت تکليف نه د هغوی د سترګو نه

فَسَقَطَتْ دُمُوْعُهُ عَلَى وَجْهِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بي اختياره اوښکي ووتلي چې د رسول چې د هغوی سترګو کې اوښکې وليدي نو پوښتنه يې وکړه

فَقَالَ مَالَكَ يَا أَبَا بَكْرٍ قَالَ لُدِغْتُ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ

ابوبکر په تا څه شوي دي؟ هغوی عرض وکړو زما مور او پلار دي په تا سو قربان وي څه زهريلا

فَتَفَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

شي چيچلی يم اوريدو سره د خپلي خولي لاړي مبارکي د هغوی په پښه ولګولي نو کوم تکليف

فَذَهَبَ مَا يَجِدُهُ ثُمَّ انْتَقَضَ عَلَيْهِ وَكَانَ

چې هغوی ته محسوسيده هم سمدستي دفع شو د هغه مار هغه زهر وو چې په حضرت ابوبکر رضي الله عنه

سَبَبَ مَوْتِهِ وَأَمَّا يَوْمُهُ فَلَمَّا قُبِضَ

دوباره اثرانداز شو او د هغه په سبب د هغوی مرګ واقع شو او د هغوی هغه ورځ وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارْتَدَّتِ الْعَرَبُ وَقَالُوْا

ددې دنيا نه رحلت وفرمايلو او بعضي عرب قبائل مرتد شوې وو او د هغه قبائلو خلقو ويلي وو چې

لَا نُؤَدِّيْ زَكَاةً فَقَالَ لَوْ مَنَعُوْنِيْ عِقَالًا

مونږ زکاة نه ادا کوو په دې موقع د حضرت ابوبکر رضي الله عنه وينا وکړه که دا خلق زکاة کې د اُوښ د پښې

لَجَاهَدْتُهُمْ عَلَيْهِ فَقُلْتُ

تړلو په قدر رسۍ راکولو نه هم انکار کوي نو يقيناً زه به ورسره جهاد کوم ما ورته عرض کړی وو

يَا خَلِيْفَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَأَلَّفِ النَّاسَ

ای خليفه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ډيره نازکه موقع ده تا سو ته د خلقو سره محبت او نرم سلوک کول پکار

وَأُرْفُقْ	بِهِمْ	فَقَالَ	لِيْ	أَجَبَّارٌ	فِيْ	الْجَاهِلِيَّةِ
دي حضرت ابوبکر رضي الله عنه ماته جواب راکړو ایاته په زمانه جاهلیت کې غیور او بهادر او قوي او غسه						
وَخَوَّارٌ	فِيْ	الْإِسْلَامِ	إِنَّهُ	قَدِ	انْقَطَعَ	الْوَحْيُ
ورو ي او اوس په زمانه اسلام کې بزدله او پست همته شوې دا حقیقت مه هیروه چې دوحي سلسله						
وَتَمَّ		الدِّيْنُ				أَيَنْقُصُ
منقطع شوې ده او دین کامل شوی دی په دې صورت کې چې دین دې کمزوری او ناقص شي دا سي						
وَ أَنَا		حَيٌّ.		رَوَاهُ رَزِيْنٌ.		
زه خپل ژوند کې هیڅ کله کونکی نه یم [رزین]						

توضیح: (الی الغار) ددې غار نه مراد غار ثور دی چې د مکې مکرمې نه په زیاته فاصله باندې یو مشکل ترین اوچت غر باندې دی ، ما دغه غار لیدلی دی بلکه په دې غر باندې دوه غاره دي : یو د مکې طرفته په غره باندې واقع دی مشهور همدا دی مګر یو غار بل جانب ته په همدې غر باندې واقع دی چې دوو لویو تیږو کې دننه دی او د پاسه نه لاندې کښته کیدل راځي چې هلته دوه کسان په مشکله سره کښیناستلی شي ، په دې غار باندې یوه لویه تیږه بلکل د غوایي په شان ده شاید ددغې وجې نه ورته غار ثور وایي ، ثور په عربي کې غوایي ته وایي ، د مکې نه د هجرت په شپه حضور صلی الله علیه وسلم دغه غار ته راغی تر دریو ورځو پټ ؤ ، زما په خیال دغه دویم غار غار ثور دی ، اولنی مصنوعی تراش شوی معلومیږي .

فکسحه: جارو کولو او صفا کولو ته کسحه ویلی شوی دی ، (ثقبا) سورو ته ثقب ویل شوی دی .
(القمهما) یعنې د پښو ګوتي یې لقمه وګرځولې په دغو دوو سورو کې تر څو سوري بند شي .
(مالک) یعنې ولې ژاړې؟ د سترګو نه اوښکې ولې تویږي ؟ (فتفل) هغه صلی الله علیه وسلم د خولې لاړې په چیچل شوي ځای باندې ولګولې . (ثم انتقض) یعنې د زهرو اثر ظاهر شو او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د دغو زهرو په وجه وفات شو ، د صدیق اکبر رضي الله عنه عجیب شان ته وګوره چې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره کامل رفاقت او موافقت دی تر دې چې د موت په کیفیت کې هم موافقت راغی .

عقالا: رسۍ ته عقال ویل کیږي ، په یو روایت کښې د عناقا لفظ دی یعني د وزې بچې که منع کړی شو هم به زه د هغوی سره جهاد کومه . د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د وفات نه بعد په جزیره عرب کښې تقریبا اویا فیصده خلک د اسلام نه واپس شوي وو ، په هغو کښې مختلف قسم خلک وو ، یو قسم خو هغه خلک وو چې هغوی دین پریښودو او کافر کیدلو سره د کافرانو سره یوځای شول ، دویم قسم خلک هغه وو چې هغوی د دروغو مدعیانو د نبوت تابعداري وکړه او مرتد شول ، دریم قسم خلک هغه وو چې هغوی د زکوة د اداء کولو نه انکار وکړو بلکل منکر شول یا صدیق اکبر رضی الله عنه ته یې ورکول نه غوښتل ، د دغسې قسم خلک و په باره کښې د حضرت عمر فاروق رض او حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه اختلاف راغی ، حضرت عمر رضی الله عنه وفرمایل چې دغه خلک کلمه وایي ، لمونځ اداء کوي ، دین مني ، صرف زکوة نه ورکوي ، ته نرمي وکړه ، حضرت صدیق رضی الله عنه وفرمایل کوم شخص چې د لمانځه او زکوة په مینځ کښې فرق وکړي زه به د هغه خلاف توره اوچتومه او جنګیږم به ، صدیق اکبر رضی الله عنه حضرت عمر رضی الله عنه ته زور نه ورکړه او د بې زړه کیدلو طعنه یې ورکړه .

اجبار في الجاهلية: یعنې د اسلام د قبلولو نه مخکښې ته ډیر دلاور او باهمته وې .

وخوار: یعنې اوس د اسلام قبلولو نه بعد ته بزدله او کمزوری او بې همته جوړیږې؟ د وحی سلسله د حضور صلی الله علیه وسلم په وفات سره منقطع شوې ده ، د دین تکمیل شوی دی ، اوس چې خلک د اسلام یو حکم هم ماتوي او زه ژوندی یم داسې به نه کیږي ، که زما سره څوک نه ځي نو زه به د مرتدینو سره د جنګ کولو لپاره یوائې لاړ شم ، صدیق اکبر رضی الله عنه د مرتدینو خلاف ټینګه کاروائي وکړه او تقریبا د یو کال په موده کښې د اسلام دین په جزیره عرب کښې بیا هغسې قائم شو لکه څنګه چې حضور صلی الله علیه وسلم پریخې وو .

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایې چې مونږ په ابتداء کښې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه خبره عجیبه وګڼله لیکن په آخره کښې مونږ د همدې رأیې تعریف وکړو . حضرت ابوهریرة رضی الله عنه به فرمایل چې د مرتدینو په مقابله کښې صدیق اکبر رضی الله عنه د انبیاؤ په مقام کښې ودریدلی ؤ چې یوائې وو مګر مقابله یې وکړه (**قام في الردة مقام الانبياء**) . حضرت عائشې رضی الله عنها به فرمایل چې د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات نه بعد زما په پلار باندې دومره لوی مصیبتونه راغلل کچیرې هغه په غرباندې راغلي وای نو غر به ریزه ریزه شوی وو ، یو څا بنه ویلي :

من كان يعلم ان الله خالقه   **لا يرمين ابا بكر ببهتان**

فلو ان السماء دنت لمجد   **و مكرمة دنت لهم السماء**

باب مناقب عمر رضي الله عنه

د حضرت عمر رضي الله عنه د مناقبو او فضائلو بیان

قال الله تعالى: ﴿ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ ﴾

حب النبی رسول الله مفترض — و حب اصحابه نور ببرهان

من كان يعلم ان الله خالقه — لا يرمين ابابكر ببهتان

ولا اباحفص الفاروق صاحبه — ولا الخليفة عثمان بن عفان

اما علیؓ فمشهور فضائله — والبيت لا يبتنى الا باركان

فلو ان السماء دنت لمجد — و مكرمة دنت لهم السماء

خود نہ تھے جو راہ پر اوروں کے ہادی بن گئے — کیا نظر تھی جس نے مردوں کو مسیحا کر دیا

نوم او نسب: د هغه مبارک نوم عمر دی ، لقب يې فاروق دی او كنيت يې ابو حفص دی ، لقب او كنيت دواړه د حضور صلی الله علیه وسلم څخه ورته عطاء شوي دي ، په نهم پشت کې د هغه نسب د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره یو ځای کیږي ،په نهم پشت کې د کعب دوه ځامن وو يو مره او دويم عدی ، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د مره په اولاد کې دی او حضرت عمر رضي الله عنه د عدی په اولاد کې دی په دغه وجه هغه عدوی دی .

د حضرت عمر رضي الله عنه ولادت د واقعه فيل نه دیارلس کاله وروسته شوی، ۱۳کاله د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم څخه کشر وو ، په شپږم هجری نبوی کې مشرف په اسلام وګرځیده ، د ده نه مخکې څلوېښت نارینو او یوولس زنانو اسلام قبول کړی وو .

حليه مبارکه : د هغه رنګ سپين مائل سرخی ته وو ، په رخسارونو باندې یې غوښه کمه وه ، قد مبارک يې اوږد وو زيات بهادر او طاقتور وو ، د اسلام نه مخکې لکه څنګه چې يې شدت په کفر کې وو د اسلام نه بعد هماغسې شدت د اسلام لپاره وو، د هغه په اسلام قبلولو سره مسلمانانو ته ډېر قوت حاصل شو ، د نبی مکرم صلی الله علیه وسلم په عهد کې په منصب د وزارت باندې وو ، په عهد صديقی کې د وزارت سره د قضاء په منصب باندې هم فائز شو ، د صدیق اکبر رضي الله عنه د وفات نه وروسته د مسلمانانو خليفه شو ، انتخاب يې پخپله صديق اکبر رضي الله عنه وکړو ، د خلافت په دوران کې چې څومره قدری خدمت او اشاعت ده وکړو کوم بل چا کړی نه دی ، او څومره اندازه فتوحات چې ده ته حاصل شوي وو د هغه لپاره نظير په اسلام کې نه پیدا کیږي . د شام نه واخله تر مصر پورې او د مصر نه واخله تر دیار بکر پورې او د دیار بکر څخه واخله تر عراق و ایران او فارس پورې د مشرق او مغرب او

جنوب او شمال ټولو علاقو باندې يې د الله تعالی د دين بيرغ ورپاوه.

۱۰۳۶ لوی ښارونه سره د مضافاتو يې فتحه کړي، کومه علاقه چې به د اسلام لاندې راغله فورا به يې حکم وکړو چې په هغې کې دې مسجد جوړ کړی شي، په دغه طريقه هغه څلور زره عام مسجدونه جوړ کړل او نهه سوه جامع مسجدونه يې قائم کړل، په عدل او انصاف کې هغه ضرب المثل وو، د نادارانو، محتاجو، مظلومو او بی کسه خلکو د خبر اخيستلو لپاره به يې د شپې ګشت کولو او په موقع باندې به يې امداد فرمايلو.

په بيت المال کې به يې داسې احتياط کولو چې د هغه نظير په دنيا کې نه ملاويږي. د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره په ټولو غزواتو کې شريک شوی وو، هغه د تکوين د خلکو څخه وو کوموته چې براه راست د الله تعالی له طرفه الهامات کيدل، هغه په کشف او کراماتو کې مشهوره وو، د هغه خلافت د اسلام او مسلمانانو لپاره باعث د برکت او ذريعه د رحمت وو. د حضرت عمر رضی الله عنه موافقات تر ۲۰ پورې دي، لس کاله شپږ مياشتې او پنځه ورځې يې خلافت وکړو او بيا د سهار په مانځه کې د مسجد نبوی په محراب کې د ۲۷ ذی الحجة په سهار د مغيره بن شعبه رضی الله عنه غلام ابولؤلؤه مجوسی ايرانی په هغه باندې حمله وکړه چې د هغې نه زيات سخت زخمی شو، او په اول د محرم الحرام ۲۴ھ کې د ۶۳ کالو په عمر باندې د دې دار فانی نه دار بقاء ته رخصت شو او د حضور صلی الله علیه وسلم او حضرت ابوبکر رضی الله عنه په قدمونو کې مدفون شو.

الفصل الاول

حضرت عمر رضی الله عنه مُلهَم او محدَّث وو

﴿۱﴾	عَنْ	أَبِيْ	هُرَيْرَةَ	قَالَ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ

حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمائيل ستاسو نه مخکې د سابقه امتونو خلقو کې

كَانَ	فِيْمَا	قَبْلَكُمْ	مِنَ	الْأُمَمِ	مُحَدَّثُوْنَ	فَإِنْ	يَكُ	أَحَدٌ

به محدث وو که زما امت کې څوک سړی محدث وي نو هغه به بس عمر رضی الله عنه وي. [بخاري، مسلم]

فِيْ	أُمَّتِيْ	فَإِنَّهٗ	عُمَرُ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.

محدث ويل کيږي هغه انسان ته چې څه د خير خبری متعال پروردګار په ذهن کی الهام په طريقه اچوی

توضيح: (محدثون) ای مُلهمون و مکلّمون، محدّث د باب تفعيل نه د اسم مفعول صيغه ده دلته د ملهم په معنی سره دی چې د الهام څخه دی يعنې هغه شخص چې د هغه په زړه کې د الله تعالی له طرفه براه

راست نيکه خبره اچول کيږي بيا هغه شخص د نور ايماني په ذريعه دغه خبره تر نورو پورې رسوي، بعضې حضرات وايې چې محدث هغه شخص ته ويل کيږي چې د هغه ظن او ګمان په يوه اختلافي نزاعي مسئله کې هغه جانب اختياروي چې هغه صحيح وي يعنې د هغه رأيه هميشه د حق طرفته ځي او د حق سره پاتې کيږي .بعضې حضراتو ليکلي دي چې د محدّث اطلاق په هغه شخص باندې کيږي چې د هغه سره ملائکې خبرې کوي د وحې په طور باندې نه بلکه د خبرو تر حده پورې کلام کوي . په بعضو رواياتو کې د محدثون په ځاى باندې د متکلمون لفظ ددې تأييد کوي، په دغو دريو واړو معناګانو کې چې کومه معنى واخلې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د هغه مصداق وو، د باطن علماء وايې چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د رجال تکوين څخه وو ، مطلب دا چې په تکوينياتو باندې هغه ته لوى لاس رسى حاصل وو يعنې د غيب نظام د افرادو څخه وو لکه څنګه چې حضرت خضر او د هغه د جماعت خلک د رجال تکوين څخه وو .

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه په باره کې د حضور صلى الله عليه وسلم دا ارشاد چې عمر محدّث دى او زما نه بعد که نبي واى نو عمر به وو همدې رجال تکوين ته اشاره ده ، عملي طور باندې هم عمر فاروق رضي الله عنه په تکوينياتو کې د عمل دخل مظاهر کړې ده .

د مصر بحيره قلزم ته خط ليکل او په نهاوند کې ساريه کماندر ته د مسجد نبوى څخه د ياسارية الجبل نعره کول او شل موافقات عمر ظاهريدل او د حضور صلى الله عليه وسلم دا فرمايل چې الله تعالى د عمر په ژبه او زړه باندې حق جاري کړى دى او شيطان د عمر څخه تښتي او د صحابو دا عقيده ساتل چې سکينه د حضرت عمر رضي الله عنه په ژبه باندې کلام کوي دا ټولې اشارې دي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د رجال تکوين څخه وو او هغه موفّق من الله وو، د الله تعالى توفيق د هغه سره شامل حال وو چې په هره لمحه کې يې د هغه راهنمائى کوله .

فأن يک: ددې کلام نه ظاهرى طور باندې تردد او شک مترشح کيږي مګر ياد ساته! دا کلام په طور د شک سره نه دى بلکه په دې کې د حضرت عمر رضي الله عنه په باره کې مبالغه او تأکيد دى چې په دې امت کې ملهمين زيات دي مګر عمر فاروق رضي الله عنه ته په دې کې خصوصي امتياز حاصل دى ، دا کلام په داسې طرز باندې دى لکه يو څوک ووايې چې که په انسانانو کې زما کوم دوست وي نو هغه فلانى دى، په دې سره د نورو نفى مقصود نه وي بلکه د مذکوره شخص اختصاص مقصود وي .

د حضرت عمر رضي الله عنه مخې ته شيطان نشې راتلى

﴿۲﴾ وَعَنْ سَعْدِبْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ اِسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ
او حضرت او حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه بيان کوي يو ورځ حضرت ... خطاب رضي الله عنه د حجره

عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

نبوي په دروازه ودریدو سره د رسول کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کي د حاضریدو اجازت یي طلب کړو هغه وقت

وَعِنْدَهٗ نِسْوَةٌ مِّنْ قُرَیْشٍ یُکَلِّمْنَهٗ

حضور صلی الله علیه وسلم سره د قریشو ښځي یعني ازواج مطهرات ناستي وې خبري یي کولي د هغوی د خبرو

وَیَسْتَکْثِرْنَهٗ عَالِیَةً أَصْوَاتُهُنَّ فَلَمَّا

موضوع هغه خرچې کي د اضافي مطالبه وه او هغوی خبري هم په زور زور سره کولي هر کله چې

اسْتَأْذَنَ عُمَرُ قُمْنَ فَبَادَرْنَ الْحِجَابَ

حضرت عمر رضی الله عنه اجازت طلب کولو سره دننه داخلیده نو هغه ښځي پټیدو د پاره حضور صلی الله علیه وسلم نه پاسیدلو

فَدَخَلَ عُمَرُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَضْحَكُ

سره د پردي تر شا شوې حضرت عمر رضی الله عنه چې دننه داخل شو نو وي لیدل چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم مسکی

فَقَالَ أَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

کیده حضرت عمر رضی الله عنه حضور صلی الله علیه وسلم په مسکا لیدو سره وویل الله دي ستا سو غاښونه همیشه په

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

خندا لري هغه کومه خبره ده چې تاسو یي په خندا کړی یي؟ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل ماته په دي

عَجِبْتُ مِنْ هٰؤُلَاءِ اللَّاتِيْ كُنَّ عِنْدِيْ فَلَمَّا

خبره خندا راغله چې هغه ښځي اول خو ما سره ناستي وي شور یي کوه او چې کله ستا اوازیې

سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ

واوریده نو د ویرې نه د پردي شاته وتښتیدي حضرت عمر رضی الله عنه چې دا واوریدل نو هغو ښځو مخاطب

وَلَا تَهَبْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عُمَرُ یَا عَدُوَّاتِ

کولو سره یي وویل ای د خپل ځان دشمنو ښځو دا څرنګه چپه خبره ده چې زما نه خو د ومره ویریږئ

أَنْفُسِهِنَّ   أَتَهَبْنَنِيْ   فَقُلْنَ
اودرسول الله صلی الله علیه وسلم نه یوه ذره هم نه ویرېږئ چې ورسره ناستي وئ شور موجوړ کړی وو هغه ښځو
نَعَمْ   أَنْتَ   أَفَظُّ   وَأَغْلَظُ
جواب ورکړو هو ستا نه خو ویریدل پکار دي ځکه چې ته ډیر سخت خویه ګویه یې
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِيْهٍ يَاابْنَ الْخَطَّابِ
رسول کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل ابن خطاب دوي پرېږده بله څه خبره مکوه هغه ښځوچې کوم جواب
وَالَّذِيْ   نَفْسِيْ   بِيَدِهِ
درکړي دی هغه ته د اهمیت ورکولو څه ضرورت نشته قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې
مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا قَطُّ اِلَّا سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ
زما ساه ده ته هغه سړی یې که شیطان تا ووینې نو هغه دلار نه اخوا کیدو سره دویمه لار به اختیار
فَجِّكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَقَالَ الْحُمَيْدِيُّ زَادَ الْبَرْقَانِيُّ
کړي په کومه چې ته ځې [بخاري مسلم] او حمیدي ویلي دي چې برقاني د حضرت عمر رضي الله عنه دا الفاظ
بَعْدَ قَوْلِهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ، مَا أَضْحَكَكَ.
هم نقل کړي دي چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم کوم شي تاسو خندولی یې ؟

توضیح: (عداوات انفسهن) یعنې د خپلو ځانونو دښمنانې! (اتهبنني) یعنې زما څخه ویرېږئ او تښتی پټیږئ او د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم څخه خوف نه کوئ او شور کوئ ؟ (انت افظ و اغلظ) افظ د سخت خُلق او سخت خویه په معنی سره دی . اغلظ دا د سخت ګویه په معنی سره دی یعنې ته سخت خویه هم یې او سخت ګویه هم یې او رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې نه دی .اوس سوال دا دی چې دغو ښځو په فظاظت او غلاظت کې د اسم تفضیل صیغه استعماله کړه ددینه معلومیږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوی او کلام کې هم څه سختی وه حالانکه د قرآن د اعلان مطابق حضور صلی الله علیه وسلم نهایت نرم خویه وو ؟ددې آسانه جواب دا دی چې دلته دا اسم تفضیل صیغه د اصل فعل په معنی سره استعمال شوې ده ، د حضور صلی الله علیه وسلم سره ددې تقابل نشته یعنې فظاظت او سختی په تا کې ده په حضور صلی الله علیه وسلم کې نشته . اسم تفضیل په اصل فعل کې استعمالیږي لکه **العسل احلی من الخل** .

الصيف احر من الشتاء حالانکه په سرکه کې هيڅ خوږوالی نه وي او دژمي په موسم کې هيڅ ګرمی نه وي (ایه) دا لفظ د همزې په کسرې سره دی او یاء ساکنه ده او په هاء باندې د زیر په صورت کې تنوین دی. کله په هاء باندې سکون هم وي او دا کلمه ایها هم ویلی شوې ده لکه عبد الله بن زبیر رضي الله عنه فرمایلي:

ایـهـا و الالـه لکه شکاة ظاهر عنک عارها

ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کې لیکلي دي چې ددې کلمې ترجمه دا رنګه ده (حدث حديثا ولاتلتفت الی جوابهن) ، ملا علی قاری رحمه الله ددې نه بعد لیکلي دي چې ، وقيل هو اسم فعل يطلب له الزيادة ای استزد علی ما انت عليه من التصلب ، د ملا علی قاری د مخکیني عبارت مطلب دا دی چې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم عمر فاروق رضي الله عنه ته وفرمایل چې عمره! ددې ښځو په جواب باندې پروا مه کوه ! او مه هغې ته توجه کوه بلکه کومه بله خبره وکړه ! د ملا علی قاری رحمه الله د دویم عبارت مطلب دا دی چې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته وویل چې کوم کلام تا دغو ښځو ته وکړو هغه جاری وساته او په هغې باندې اضافه وکړه ځکه ستا شان دومره عالیشان دی چې په کومه لاره باندې ته ځې په هغې لاره باندې شیطان تللی نشي بلکه هغه بله لاره اختیاروي . ابوزید سروجی دغه لفظ د ائت په معنی سره استعمال کړی دی لکه هغه وایي ایه بلاتمویه ای ائت بلا کذب. په قاموس الوحید کې یې د دغه لفظ اسم فعل ګرځولو سره معنی دا لیکلې ده (هو خبرې کوه) لیکن کچیرې دا لفظ ایهًا وي نو دا د کف کف منع کولو لپاره استعمالیږي، علامه فرمایي چې په زیر بحث حدیث کې لفظ د ایهًا کیدل پکار دي چې د بس بس په معنی سره کیږي ای کف یا ابن الخطاب، د علامه توربشتی رحمه الله انداز بهتره معلومیږي.

په جنت کې دعمر رضي الله عنه محل

﴿۲﴾	وَعَنْ	جَابِرٍ	قَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	
او حضرت جابر رضي الله عنه بیان کوي رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل د معراج په شپه کې هر کله چې زه جنت ته									
دَخَلْتُ	الْجَنَّةَ	فَإِذَا	أَنَا	بِالرُّمَيْصَاءِ	امْرَأَةِ				
داخل شوم نو اچانک مې ولیدل چې رمیصاء زوجه د ابو طلحه رضي الله عنه موجود ده بیا ما د قدمونو اواز									
أَبِي	طَلْحَةَ	وَسَمِعْتُ	خَشْفَةً	فَقُلْتُ	مَنْ	هٰذَا	فَقَالَ	هٰذَا	بِلَالٌ
واوریده پوښتنه مې وکړه دا څوک دی چې دهغه دتلو اواز راځي ماته وښودل شو چې دا بلال دی									

وَ رَأَيْتُ قَصْرًا بِفِنَائِهِ

دي نه روسته يو ځاي ته رسيدو سره مايو عاليشان محل اوليدلو چې د هغه يو کوټ کي ياصحن کي

جَارِيَةٌ فَقُلْتُ لِمَنْ هٰذَا فَقَالُوْا

يو ځوانه ښځه يعني د جنت حوره ناسته ده ماپوښتنه وکړه دا محل د چا دی ماته جنتيانو وښودل چې

لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فَأَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَهُ

دامحل د عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی دي اوريدو سره ما وغوښتل چې محل ته ورشم او د دننه نه يې هم

فَأَنْظُرَ إِلَيْهِ فَذَكَرْتُ غَيْرَتَكَ فَقَالَ

وګورم ليکن بيا ماته ستا د غيرت خيال راغی حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا واوريدل نو عرض يې وکړو

عُمَرُ بِأَبِيْ وَأُمِّيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلَيْكَ أَغَارُ؟. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما مور پلار دي په تا سو قربان وي ايا زه به ستا سو په مقابل کی غيرت کوم؟ [بخاري، مسلم]

توضيح: (رميصاء) ام سليم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته رميصاء ويل کيږي او غميصاء هم ورته ويل کيږي، دا د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مور ده، اول د مالک بن نضر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نکاح کې وه چې د هغه نه حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پيدا شو، په احد کې چې کله حضرت مالک بن نضر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيد شو نو بيا حضرت ابوطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغې سره نکاح وکړه، د لوی شان والا ښځه ده، د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعی خاله وه.

د دين په اعتبار سره د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان

﴿۴﴾ وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل يوه ورځ هر کله چې زه اوده ووم

بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ رَأَيْتُ النَّاسَ يُعْرَضُوْنَ عَلَيَّ وَعَلَيْهِمْ

خوب کي وينم چې زما د اُمت څه خلق زما مخکي پيش کړی کيږي هغوی ټولو قميصونه اغوستي

قُمُصٌ مِنْهَا مَا يَبْلُغُ الثُّدِيَّ وَمِنْهَا مَا دُوْنَ

دي چې هغوی کي د بعضو قميصونه خو د هغوی سيني پوري وو او د بعضو قميصونه د هغه نه هم

ذٰلِكَ وَعُرِضَ عَلَيَّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَعَلَيْهِ

وارہ وہ بیا چي عمر بن خطاب رضي الله عنه زما مخ ته پیش شو نو دهغه قمیص دومره اوږد وو چې دزمکې

قَمِيْصٌ يَجُرُّهٗ قَالُوْا فَمَا اَوَّلْتَ ذٰلِكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

سره یې راخکلو بعضو صحابو رضي الله عنهم دي خبري اوریدو سره پوښتنه وکړه یارسول الله دعمر ددي اوږد

قَالَ الدِّيْنُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

قمیص تعبیر تاسو څه بیان کړی دی فرمائیل دین او مذهب. [بخاري مسلم]

توضيح: (الدين) په عالم مثال کې د قمیص مثال دین دی، د حضرت عمر رض زمانه د خلافت اوږده وه په دغه وجه د دین خدمت د ټولو نه زیات ده کړی دی نو ځکه د هغه دین زیات وو او قمیص یې اوږد وو، دغه قسم فضائل جزئی وي کلی نه وي.

دحضرت عمر رضي الله عنه علمي بزرګي

﴿۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وایي ما د رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه واوریدل زه اوده وم چې خوب کې د شیدو نه

يَقُوْلُ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ اُتِيْتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ فَشَرِبْتُ

ډک پیاله ماته راکړی شوه ما هغه پئ وڅکل بیا ما ولیدل چې د ډیر والي په سبب د هغه پیو ترو

حَتّٰى اِنِّيْ لَاَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِيْ اَظْفَارِيْ ثُمَّ اَعْطَيْتُ

تازګي زما د نوکانو نه راوځي بیا ما خپل پاتې شوي پی عمر بن خطاب رضي الله عنه ته د څکلو دپاره ورکړل

فَضْلِيْ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَالُوْا فَمَا اَوَّلْتَهٗ يَا رَسُوْلَ اللهِ

بعضو صحابو دي خبري اوریدو سره عرض وکړو یارسول الله ددي پیو تعبیر کې تاسو څه فرمایي؟

قَالَ الْعِلْمُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وي فرمائیل علم [بخاري ومسلم]

توضيح: الري: سیرابه کیدو ته ری ویل کیږي. (العلم) په عالم مثال کې د علم مثال د شودو دی دغه قسم فضیلت شارحین جزئی فضیلت ګرځوي، کلی فضیلت د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه دی.

د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه متعلق د حضور صلى الله عليه وسلم يو خوب

﴿۶﴾ وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل زه اوده ووم چې په خوب کې مې وليدل

يَقُوْلُ بَيْنَا اَنَا نَائِمٌ رَاَيْتُنِيْ عَلٰى قَلِيْبٍ عَلَيْهَا

چې زه بغير غاړې يو کوهي باندې يم چې هلته يو بوقه هم ايښودل شوې ده ما د بوقې په ذريعه هغه

دَلْوٌ فَنَزَعْتُ مِنْهَا مَا شَآءَ اللهُ ثُمَّ اَخَذَهَا ابْنُ

کوهي نه اوبه راوښکلې څومره چې الله تعالى وغوښتلې زما نه روسته ابن ابي قحافه يعني ابوبکر رضي الله عنه

اَبِيْ قُحَافَةَ فَنَزَعَ مِنْهَا ذَنُوْبًا اَوْ ذَنُوْبَيْنِ وَفِيْ

بوقه واخسته او کوهي نه يې اوبه راوښکلې ليکن هغوی يو ياد وه بوقو نه زياتې اوبه را ونه ښکلې

نَزْعِهٖ ضَعِيْفٌ وَاللهُ يَغْفِرُ لَهٗ ضُعْفَهٗ ثُمَّ

هغه سست او کمزوری شو او د هغه سستي او کمزورې دې الله تعالى معاف کړي بيا هغه بوقه په يوه

اسْتَحَالَتْ غَرْبًا فَاَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ

غټه بدله شوه او عمر ابن خطاب رضي الله عنه هغه واخسته حقيقت دا دی چې ما هيڅ ځوان او قوي د هغه په

فَلَمْ اَرَ عَبْقَرِيًّا مِّنَ النَّاسِ يَنْزِعُ نَزْعَ عُمَرَ

شان ندی ليدلی چې د هغه غټې بوقې په ذريعه اوبه راوکاږي نو هغه دومره اوبه راوښکلې چې نه

حَتّٰى ضَرَبَ النَّاسُ بِعَطَنٍ وَفِيْ رِوَايَةِ

صرف تمام خلق ورباندې اوبه شول او هغوی اوښان هم اوبه کړل بلکې خلقو دا وبو د فراخۍ په سبب

ابْنِ عُمَرَ قَالَ ثُمَّ اَخَذَهَا ابْنُ الْخَطَّابِ

هغه ځای کې دا وښانو د ناستې ځای جوړ کړو او د ابن عمر رضي الله عنه روايت دا سې دی چې بيا د ابوبکر رضي الله عنه

مِنْ	يَدَايَ	بَكْرٍ	فَاسْتَحَالَتْ	فِيْ	يَدِهِ
دلاس نه هغه بو قه عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واخسته چې دهغوی لاس ته رسید و سره ترې غټه بو قه جوړه					
غَرْبًا	فَلَمْ	أَرَ	عَبْقَرِيًّا	يَفْرِيْ	
شوه حقیقت دادی چې ماهیڅ ځوان او قوي سړی داسې ندی لیدلی چې د اوبو راویستلو په دې کار					
فَرِيَّهُ	حَتّٰى	رَوِيَ	النَّاسُ		
کې دعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان چست او چالاک او کار والا وي نو هغوی دومره اوبه راوښکلې چې خلق یې					
وَضَرَبُوْا	بِعَطَنٍ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.		
اوبه کړل او داوبو د فراخۍ په سبب خلقو هغه ځاي داوښانو دناستې ځاي جوړ کړو . [بخاري مسلم]					

توضیح : (قلیب) د غاړې نه بغیر چې کوم کوهی وي هغه ته قلیب ویل کیږي یعنې خراب کوهی ، دلته مطلق کوهی مراد دی یا د خرابه کوهی په ذکر کولو سره دیته اشاره ده چې اهل عزم او حوصلې والا خلک خرابه مقام آبادولو سره ډیر څه حاصلولی شي . (ذنوبا) د اوبو ویستلو ډولچې ته ذنوب ویل کیږي په ذال باندې زور دی .

او ذلوبین: یایې دوه ډولچې وویستلې ، دا شک د راوی له طرف څخه دی یا د (او) لفظ د بل په معنی سره دی ، په دې جمله کې د حضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه کاله خلافت ته اشاره ده .

(وفی لزعه ضعف) په دې جملې سره د حضرت صدیق اکبر رض تنقیص مقصود نه دی او نه په هغه باندې د حضرت عمر فاروق رض فضیلت بیانول مقصود دي بلکه اصلا د صدیق اکبر رض د خلافت زمانې قلت ته اشاره ده او د حضرت عمر فاروق رض د خلافت د مدت کثرت او طوالت ته اشاره ده ، ددې جملې دویم مطلب دا دی چې په دې کې دیته اشاره ده چې د صدیق اکبر رض په زمانه خلافت کې به د خلکو د ارتداد فتنه راشي چې په دې سره د دین او حکومت کمزورۍ ته اشاره وشوه . په هر حال د حضرت عمر رض د دور خلافت دوه چونکې طویله وه نو ځکه په هغه کې د مخلوق خدا او دین اسلام ډیر زیات خدمت وشو . (غربا) په غین باندې زور دی په راء باندې سکون دی لویې ډولچې ته ویل کیږي چې د غوایې د پوستکي نه جوړیږي ، هغه ته چرس هم ویل کیږي ، په دې جملې سره د حضرت عمر فاروق رض

د خلافت استحکام او د دين مضبوطی ته اشاره ده او د مخلوق خدا خدمت ته اشاره ده .

(عبقريا) قوی او پهلوان نابغه روزګاره شخص ته عبقری ويل کيږي . **(بعطن)** د نصر او ضرب څخه عطن د اوښانو د چوکولو ځای ته ويل کيږي چې هلته اوښان په اوبو باندې سيرابه سيرابه کيدو سره د آرام لپاره چوکړی شي يا د اوبو څښلو لپاره کيني . **(اعطان الابل)** د اوښانو د اوسيدو ځای ته ويل کيږي يعنې دومره زياتې اوبه راغلې چې خلکو د دغه کوهي سره د اوښانو د اوسيدو ځايونه جوړ کړل چې د اوبو د زياتوالي په وجه اوس دغه ځای د اوسيدو لپاره قابل دی .

(يفری فريه) ای يعمل عمله د ضرب يضرب څخه دی ، په فريه کې په فاء باندې فتحه ده او راء ساکنه ده او په ياء باندې فتحه ده تعجبی او حيرت انګيز کار ته ويل کيږي ، په راء باندې کسره او په ياء باندې شد هم ويل شوی دی ، د همدې څخه دا آيت دی **(لقد جئت شيئا فريا) ای عجيبا** ، مطلب دا دی چې ما د اوبو ويستلو په کار کې د عمر پشان نابغه روزګاره شخص او د حيرت انګيز کار کولو والا هيڅوک ليدلی نه دی .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

دحضرت عمر رضي الله عنه په ژبه او زړه د حق ښکاره کيدل

﴿۷﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ جَعَلَ
حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم وفرمائيل الله تعالی د عمر په ژبه او
الْحَقَّ عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ وَقَلْبِهٖ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِيْ رِوَايَةِ
دهغوی په زړه باندې يې حق او صداقت جاري کړی دی [ترمذي] او د ابوداؤد يو روايت کې چې
أَبِيْ دَاوُدَ عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ إِنَّ اللهَ وَضَعَ الْحَقَّ
حضرت ابوذر رضي الله عنه نه دی داسې دي چې حضور صلی الله عليه وسلم وفرمائيل الله تعالی د عمر رضي الله عنه په
عَلٰى لِسَانِ عُمَرَ يَقُوْلُ بِهٖ.
ژبه حق ايښی دی ځکه هغه حق خبره کوي حق نه علاوه بله څه خبره دهغوی د ژبې نه نه وزي .

توضيح : (علی لسان عمر) يعنې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د رجال تکوين څخه وو په تکويني امورو کې هغه ته لوی لاس رسي حاصله وه لکه څنګه چې الله تعالی د هغه په ژبه او زړه باندې حق جاری کړی وو ، د حق تکانه يې د هغه په ژبه او قلب او دماغ کې ايښې وه .

ددې نه حدیث نه وروسته والا حدیث کې هم د دغه قسم تکوین خبره شوې ده . لکه حضرت علي رضي الله عنه فرمایې چې مونږ به دا خبره لرې نه ګڼله چې کومه ملائکه د حضرت عمر رضي الله عنه په ژبه باندې خبرې کوي ، حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمایې چې ما حضرت عمر رضي الله عنه ته وکتل نو داسې محسوسه شوه چې کومه ملائکه د عمر رضي الله عنه د دواړو سترګو په مینځ کې ناسته ده چې ده ته د صحیح لارې راهنمائی کوي.

(سکینة) د دینه پرسکونه او مدلل قابل اطمینان کلام هم مراد کیدلی شي ، د عمر رضي الله عنه په خبره به مکمل اعتماد او تسلی راتلله.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم حضرت عمر رضي الله عنه د الله پاک نه غوښتی وو

﴿۸﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا كُنَّا نُبْعِدُ أَنَّ السَّكِيْنَةَ تَنْطِقُ عَلٰى لِسَانِ
او حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي مونږ به دا خبره بعیده نه ګڼله چې د حضرت عمر رضي الله عنه په ژبه.
عُمَرَ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ
سکینه او طمانیه جاري کیږي دا روایت بیهقي دلائل النبوة کي نقل کړی دی
﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي یوه شپه حضور صلی الله علیه وسلم دعا وکړله
اَللّٰهُمَّ أَعِزَّ الْإِسْلَامَ بِأَبِيْ جَهْلِ بْنِ هِشَامٍ أَوْ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ
الٰهي د ابو جهل ابن هشام یا د عمر بن الخطاب په ذریعه اسلام سربلند او غالب کړې یعني دې دواړو کي یو ته د
فَأَصْبَحَ عُمَرُ فَغَدَا عَلَى
مسلمان جوړیدو توفیق عطا کړې چې د هغه په سبب د اسلام دین ته طاقت نصیب شي نو په بله ورځ
النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَسْلَمَ ثُمَّ صَلّٰى فِي
چې سحر سو عمر ابن الخطاب رضي الله عنه د رسول کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کي حاضریدو سره مسلمان شو
الْمَسْجِدِ ظَاهِرًا. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.
او بیا حضور صلی الله علیه وسلم مسجد حرام کي علانیه مونځ وکړو [احمد ترمذي]

د آسمان د لاندې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو نه افضل دی

﴿۱۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ عُمَرُ لِأَبِي بَكْرٍ يَا

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ سیدنا عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې الفاظو

خَيْرَ النَّاسِ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سره مخاطب کړو ای هغه ذاته چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روسته د ټولو انسانانو نه بهترېي

فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ أَمَا إِنَّكَ إِنْ قُلْتَ ذٰلِكَ فَلَقَدْ سَمِعْتُ

سیدنا ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې واورېدو سره ورته وفرمائیل عمر که ته زما باره کې دا وايې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه روسته

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ

د ټولو نه بهتر انسان زه یم نو ته خپله باره کې هم پوهه شه ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا اورېدلي دي نمر په یو

عَلٰى رَجُلٍ خَيْرٍ مِّنْ عُمَرَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

داسې سړي نه دی راختلی چې د عمر نه بهتروي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: د دې حدیث نه معلومیږي چې د آسمان لاندې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو نه افضله دی حالانکه د امت اجماع ده چې **افضل البشر بعد الانبیاء بالتحقیق ابوبکر الصدیق** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی؟ د دې اشکال یو جواب دا دی چې دا فضیلت د حضرت صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دور نه بعد د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دور سره متعلق دی ګویا عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپل دور کې د ټولو نه افضل وو. دویم جواب دا دی چې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه فضیلت د هغه د عدالت او سیاست او تدبیر او تدبر سره متعلق دی ګویا دا جزئی فضیلت دی د صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت کلي دی.

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انتهائي منقبت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْكَانَ بَعْدِي نَبِيٌّ لَّكَانَ

او حضرت عقبه ابن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل که زما نه روسته بل څوک

عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

نبي وی نو هغه به عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: (لکان عمر) لکه څنګه چې مخکې تفصیل لیکل شوی دی چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د

غیبي نظام او د تکوینیاتو سړي وو، دلته د هغه چې کوم منقبت بیان شوی دی په دې کې همدې ته اشاره کیدلی شي چې د استعداد په حواله سره حضرت عمر رضی الله عنه د نبوت د وادي کس وو مګر نوی نبوت ختم شوی دی نو ځکه نبی راتللی نشي او چې کله حضرت عمر رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم څخه وروسته پیغمبر جوړیدلی نشي نو د کوم بل یوه ځو سوال نه پیدا کیږي لهذا غلام احمد قادیانی دروغجن دجال دی.

دحضرت عمر رضی الله عنه رعب او دبدبه

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَعْضِ مَغَازِيْهِ
او حضرت بریده رضی الله عنه بیان دی یو وار رسول کریم صلی الله علیه وسلم جهاد ته تشریف وړی وو کوم وقت چې
فَلَمَّا انْصَرَفَ جَاءَتْ جَارِيَةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ
حضور صلی الله علیه وسلم بیرته تشریف راوړو نو یوه توررنګې انجلۍ خدمت اقدس کې حاضره شوه او وویل
يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّيْ كُنْتُ نَذَرْتُ إِنْ رَدَّكَ اللّٰهُ صَالِحًا
یارسول الله ما نذر منلی دی که الله تعالی تا سو دجهاد د سفر نه فتح او سلامتي سره بیرته راوستئ
أَنْ أَضْرِبَ بَيْنَ يَدَيْكَ بِالدُّفِّ وَأَتَغَنّٰى فَقَالَ لَهَا
نوزه به ستا سو په مخکې دریا (تمبل) وهم سندري به وایم حضور صلی الله علیه وسلم هغې ته وفرمائیل که تا واقعي
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كُنْتِ نَذَرْتِ فَاضْرِبِيْ
نذر منلی دی نو دریا (تمبل) وږغوه کني داسې مه کوه هغې جینۍ واقعي نذر منلی وو ځکه دریا
وَإِلَّا فَلَا فَجَعَلَتْ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُوْ بَكْرٍ وَهِيَ تَضْرِبُ
(تمبل) وهل شروع کړل دې کې ابوبکر رضی الله عنه داخل شو لیکن هغه جینۍ دریا (تمبل) وهلو کې مشغوله
ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ وَهِيَ تَضْرِبُ، ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ
و، بیا علي رضی الله عنه راغی او هغې هغه وقت هم دریا (تمبل) وږغولو بیا عثمان رضی الله عنه راغی بیا هم هغې خپل
وَهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَأَلْقَتِ الدُّفَّ
دریا (تمبل) وږغول جاري وساتلو بیا چې عمر رضی الله عنه راغی نو هغې دهغه دهیبت نه دریا (تمبل)

تَحْتَ اِسْتِهَا ثُمَّ قَعَدَتْ عَلَيْهَا فَقَالَ
خپلو کوناتو لاندې کړه اودکوتو په زور داسي کیناسته چې دریا (تمبل) لاندې پټه شي په دي
رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَخَافُ
رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل عمر ستا نه خو شیطان هم خوفزده وي دي جینۍ زما په موجودګۍ کي
مِنْكَ يَا عُمَرُ إِنِّيْ كُنْتُ جَالِسًا وَّهِيَ تَضْرِبُ فَدَخَلَ أَبُوْ بَكْرٍ وَّهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عَلِيٌّ
دریا (تمبل) وهل بیا ابوبکر رضي الله عنه راغی نو هغه وقت یي هم وهلو بیا علي رضي الله عنه راغي نو هغه وقت یي
وَّهِيَ تَضْرِبُ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ وَّهِيَ تَضْرِبُ فَلَمَّا دَخَلْتَ أَنْتَ يَا عُمَرُ
هم دریا (تمبل) وهلو بیا عثمان رضي الله عنه راغی نو هغه وقت یي هم دریا (تمبل) وهلو خو ای عمره
أَلْقَتِ الدُّفَّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ
هرکله چې ته راغلي نو دي جینۍ دریا (تمبل) پټه کړو دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي
هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ
یي دي چې دا حدیث غریب دی.

توضیح: (الدف) په فصیح لغت کې د دَفْ په دال باندې زور ویل کیږي او فاء ساکنه ده دلته د دې حدیث د مضمون څخه دوه سواله پیدا کیږي.

سوال (۱): اول سوال دا دی چې دریا وهل عبادت نه دی د دې نذر څنګه ومنل شو؟ نذر خو د هغه شی منل کیږي چې د هغه نظیر په عباداتو او مأموراتو کې موجود وي.

جواب: د دې سوال جواب دا دی چې چونکې دا معامله د جهاد وه نو جهاد ته تلل، فتحه حاصلول، دښمن وهل او تېښتول، د الله تعالی په ځمکه باندې د الله تعالی قانون نافذ کول، دا ټول عبادات دي په دغه وجه د هغې نذر صحیح وګرځولی شو او تر یوه حده د دریا (تمبل) وهلو او نذر پوره کولو برداشت وکړی شو، دا معامله د ناجائز څخه ووته د مباح په ډله کې راغله.

سوال (۲): اوس سوال دا دی چې دریا وهل په لهو او لغوه کارونو کې شمیرل کیږي نو د حضور صلی الله علیه وسلم په مخ کې دریا څنګه ووهل شوه؟

جواب: د دې سوال جواب دا دی چې د جهاد په خوشحالۍ کې همدارنګه د حضور صلی الله علیه وسلم په

صحيح او سالم واپس كيدلو او د فتحې حاصلولو په خوشحالۍ كې دريا(وهل) وهل د لهو او لعب څخه خارج شوله او هغې وينځې په يو ښه بنياد او اخلاص سره دا كار وكړو ، په دغه وجه تر يو حده پورې يې برداشت وشو ليكن د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د راتللو په وخت شايد د دغه اباحت وخت ختم شوى وو نو ځكه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان كې ووېل چې ستا نه شيطان خوفزده كيدلو سره دويمه لاره غوره كوي.

جلال فاروقي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا فَسَمِعْنَا
او بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما سره ناست وو اچانک يو د شور نه ډک اواز زمونږ
لَغَطًا وَصَوْتَ صِبْيَانٍ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
غوږونو ته راغى بيا مونږ د بچو شور واوريدلو نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودريدلو نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليدل چې
فَإِذَا حَبَشِيَّةٌ تَزْفِنُ وَالصِّبْيَانُ حَوْلَهَا
بهر يوه حبشي ښځه ټوپونه وهي رقص كوي او د هغه څلور طرف ته بچي ولاړ دي تماشه كوري نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقَالَ يَا عَائِشَةُ تَعَالَيْ فَانْظُرِي فَجِئْتُ
زما مخاطب كولو سره وفرمائيل اى عائشي راشه دا تماشه ته هم اوګوره نوزه راپاڅيدم نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَوَضَعْتُ لَحْيَيَّ عَلَى مَنْكِبِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
سره ودريدم او خپل اننګي مي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوږې اېښودلو سره د نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوږې او د سر په منځ كې
فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهَا مَا بَيْنَ الْمَنْكِبِ إِلَى
مې د هغه ښځې تماشه كتله لږ لږ ساعت روسته به نبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما نه پوښتنه كوله ايا ته مړه شوې نه
رَأْسِهِ فَقَالَ لِي أَمَا شَبِعْتِ أَمَا شَبِعْتِ
يې ايا اوس لا ستا زړه موړ شوې نه دى او ما به جواب وركوى نه اوس لا زه نه يم مړه شوې دراصل ما
فَجَعَلْتُ أَقُولُ لَا لِأَنْظُرَ مَنْزِلَتِي عِنْدَهُ
دا معلومول غوښتل چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زړه كې زما څه مقام دى او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما سره څومره محبت

إِذْ	طَلَعَ	عُمَرُ	فَارْفَضَّ	النَّاسُ	عَنْهَا	فَقَالَ	

کوی بیا اچانک عمر رضي الله عنه راښکاره شو نو هغه خلق چې دهغې ښځې تماشه يې کتله محض دهغه د

رَسُوْلُ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	إِنِّيْ

هيبت نه يادهغه د يري نه چې عمر رضي الله عنه به داتماشه کتل خوښه نه کړي دهغه ليدو سره تس نس شول

لَأَنْظُرُ	إِلٰى	شَيَاطِيْنِ	الْجِنِّ	وَالْإِنْسِ

دي ليدو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمائيل زه وينم چې دانسانانو او جناتو شيطانان دعمر رضي الله عنه دخوف نه

قَدْ	فَرُّوْا	مِنْ	عُمَرَ	قَالَتْ	فَرَجَعْتُ.

ځرنګه اخوا ديخوا تښتي بي بي عائشه رضي الله عنها وايي دي نه روسته زه هم دهغه ځايه ليري شوم دا

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ.

روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چې داحديث حسن صحيح غريب دی .

توضيح : (لغطا) داسې زور داره او دشور نه ډک آواز ته لغط ويل کيږي چې دهغه نه هيڅ خبره نه فهميږي صرف شور وي .

حبشية: اى امرأة منسوبة الى الحبش يوه تکه توره حبشی ښځه وه .

تزفن: د ضرب يضرب څخه د مؤنث صيغه ده لوبو کولو ته زفن ويل کيږي او رقص کولو ته هم ويل کيږي مګر د رقص کولو معنی دلته نه صحيح کيږي . په دې حديث کې چې څه بيان شوي دي ممکنه ده چې د حد جواز په درجه کې کومه تماشا وه يا د جهاد مشق وو نو ځکه نبی کريم صلى الله عليه وسلم هم وکتلو او حضرت عائشه رضي الله عنها ته يې هم وښودلو ، په حضور صلى الله عليه وسلم باندې د جمال او کمال رنګ غالبه وو نو تماشه روانه وه ، په حضرت عمر رضي الله عنه باندې رعب او جلال غالبه وو او هسې هم دغه ساتيرى د ضرورت نه زياتيدله نو ځکه د حضرت عمر رضي الله عنه په راتګ باندې ټول تيت او پرک شول .

فارفض الناس: ارفضاض تيښتې او تيت او پرک کيدلو او منتشر کيدلو سره خپلو ځايونو نه تيښتې کولو ته ويل کيږي .

الفصل الثالث

دعمر رضي الله عنه موافقات

﴿۱۴﴾ عَنْ أَنَسٍ وَ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ عُمَرَ قَالَ

حضرت انس رضي الله عنه او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي چې حضرت عمر رضي الله عنه وفرمائيل دري

وَافَقْتُ رَبِّي فِي ثَلَاثٍ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ

خبرو کي زماد پروردګار حکم زما د رايي مطابق نازل شو اولنی خو دا چي ما عرض کړی وو يا رسول الله که

لَوِ اتَّخَذْنَا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى

مقام ابراهيم د مونځ کولو ځاي جوړ کړل شي نو بهتر به وي نو دا آيت نازل شو [وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى]

فَنَزَلَتْ وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى وَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ

او مقام ابراهيم د مونځ کولو ځاي جوړ کړئ او دويمه خبره دا چي ما عرض کړی وو يا رسول الله د ازواج

يَدْخُلُ عَلَى نِسَائِكَ الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ

مطهراتو مخکي نيک او بد هر قسم خلق راځي که تاسو ازواج مطهراتو ته پرده کي د اوسيدو حکم

فَلَوْ أَمَرْتَهُنَّ يَحْتَجِبْنَ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْحِجَابِ

ورکړئ نو بهتر به وي نو زما په دي عرض کولو د پردي آيت نازل شو او دريمه خبره دا چي کوم وقت

وَاجْتَمَعَ نِسَاءُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْغَيْرَةِ

دنبي کريم صلی الله عليه وسلم بيبيانو درشک او غيرت واله معامله باندي اتفاق کړی وو نو ما هغوی ټولي مخاطب

فَقُلْتُ عَسَى رَبُّهُ إِنْ طَلَّقَكُنَّ أَنْ

کولو سره ورته ويلي وو که حضور صلی الله عليه وسلم تاسو له طلاق درکړی نو د هغوی پروردګار به ډير ژر ستاسو

يُبْدِلَهُ أَزْوَاجًا خَيْرًا مِنْكُنَّ فَنَزَلَتْ كَذٰلِكَ

بدله کي هغوی ته ستاسو نه ښې بيبياني ورکړي نو زما دي الفاظو او مفهوم کي آيت نازل شو او د

وَ	فِيْ	رِوَايَةٍ	لِابْنِ	عُمَرَ	قَالَ	عُمَرُ	

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو بل روایت کي داسي دي دهغوی بیان دی چي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل

وَافَقْتُ	رَبِّيْ	فِيْ	ثَلَاثٍ	فِيْ	مَقَامِ	إِبْرَاهِيْمَ	وَفِيْ

دري خبرو کي زما د پروردګار حکم زما د رايي مطابق نازل شو یو خو مقام ابراهيم باره کي دويم د

الْحِجَابِ	وَ	فِيْ	أُسَارٰى	بَدْرٍ	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبیبیانو دپردي باره کي اودريم دبدر د قيديانو باره کي. [بخاري ومسلم]

توضيح: **وافقت ربي**: د موافقت مطلب دا دی چي کومه خبره او کوم حکم د الله تعالی په نزد د غیب په پرده کي مقرره وو او د الله تعالی د مرضی او ارادي موافق وه د هغي د ظاهریدو نه مخکي د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ژبه باندي د هغي ظهور وشو او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغي اظهار او مطالبه وکړه بيا الله تعالی د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرضی مطابق هغه حکم د وحی په ذريعه په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي ظاهر وفرمايلو ، ددي معاملي نه هم ظاهريږي چي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تکوينياتو د خلکو څخه وو ، دلته که د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ادب ته وکتلی شي نو عقل حیرانه پاتي کيږي ځکه هغه وافقني ربی ونه ويل حالانکه حقيقت همداسي وو مګر په طور د ادب يي وفرمايل چي وافقت ربي يعني ما په څو امورو کي د خپل رب د مرضی مطابق خبره وکړه او زما رأيه زما د رب د رأيي سره موافقه شوه.

في ثلاث: دلته د دري خبرو ذکر دی په دي سره د حصر بيانول مقصود نه دي بلکه په دي حديث کي د موقع او محل په اعتبار سره د دريو بيانول مطلوب وُ ځکه چي موافقات عمريه د پنځلسو نه زيات دي ، دامت علماؤ په موافقات عمر باندي ډير کتابونه ليکلي دي ، علامه سيوطی رَحِمَهُ اللهُ شل موافقات عمر ذکر کړي دي. **في الغيرة**: په دي لفظ کي د شهدو واقعي ته اشاره ده چي مشهوره واقعه ده ، په دي کي د سورة تحريم ابتدائی آياتونه نازل شول ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چي د آيتونو د نزول نه مخکي د ازواج مطهراتو په مخ کي څه اورولي وو وروسته د قرآن آيت هماغسي نازل شو همدارنګه په واقعه دافک کي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل (سبحانک هذا بهتان عظيم) وروسته په قرآن کي آيت همداسي نازل شو.

هغه څلور خبري چي هغي کي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته فضيلت حاصل شو

﴿۱۵﴾	وَعَنِ	ابْنِ	مَسْعُوْدٍ	قَالَ	فُضِّلَ	النَّاسَ	عُمَرُ	بْنُ	الْخَطَّابِ	بِأَرْبَعٍ

اوحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي حضرت عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته په نورو خلکو د څلور خبرو په سبب

بِذِكْرِ الْأُسَارٰى يَوْمَ بَدْرٍ أَمَرَ بِقَتْلِهِمْ فَأَنْزَلَ

فضیلت حاصل دی یوه خبره خو دجنګ بدر دقیدیانو باره دهغوی رایي وه دهغوی داوینا وه چې هغه

اللّٰهُ تَعَالٰى لَوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ

قیدیان دي قتل کړی شي او الله تعالی داآیت نازل کړو [لَوْلَا كِتَابٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ

فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ وَبِذِكْرِهِ

عَذَابٌ عَظِيمٌ] که الله تعالی یوه نوشته مقرر کړي نه وی چې د اجتهادي خطا مرتکب به مستوجب

الْحِجَابَ أَمَرَ نِسَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عذاب نه وي نو په تاسو څه لویه سزا واقع کیده دویمه خبره دپردي باره کي دهغوی مشوره ورکول

أَنْ تَحْتَجِبْنَ فَقَالَتْ لَهُ زَيْنَبُ وَإِنَّكَ

وو هغه دنبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ازواج مطهرات پرده کي اوسیدو ته متوجه کړی وو ام المؤمنین بي بي زینب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

عَلَيْنَا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ

هغه ته ویلي وو چې ای عمر ابن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پرده کي داوسیدو خبره ته مونږ ته کوي حالانکه وحي

فِي بُيُوتِنَا فَأَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا

زمونږ کور کي نازلیږي او بیا الله تعالی داوحي نازله کړه [وَ إِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ

فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ

او هر کله چې تاسو دازواج مطهراتو نه څه شی غواړئ نو دپردي نه یې آخوا غواړئ دریمه خبره هغه

وَبِدَعْوَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ أَيِّدِ

دعاوه چې دهغه په حق کي نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غوښتلي وه چې الهي دعمر په ذریعه اسلام ته تقویت عطا

الْإِسْلَامَ بِعُمَرَ وَبِرَأْيِهِ فِي أَبِي بَكْرٍ كَانَ أَوَّلَ

کړي او څلورمه خبره دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کي دهغوی رایه وه چې هغوی دټولو نه مخکي د هغه په

النَّاسِ بَايَعَهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

لاس بیعت وکړو [احمد]

توضیح: **اساری یوم بدر**: په سنه ۲ھ کې د بدر واقعه پیښه شوه نو الله تعالی مسلمانانو ته عظیمه فتحه ورکړه، لوی لوی اویا کافران مړه شو او اویا بندیان شول، په مدینه منوره کې حضور صلی الله علیه وسلم د دغو قیدیانو په باره کې د صحابه کرامو څخه مشوره وغوښته چې د هغو نه فدیه واخیستلی شي پرېښودلی شي او که قتل کړی شي، حضرت عمر فاروق رضي الله عنه وفرمایل چې یارسول الله دغه خلک د کفر مشران دي، ته زما د خاندان خلک زما په لاسونو کې راکړه تر څو زه هغوی قتل کړم بلکه د هر خاندان والا دې خپل خپل رشته داران قتل کړي په دې طریقه به په کفارو باندې د اسلام رعب کېنې او د کفر جرړې به کټ کړی شي. د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د رأیې برعکس د عامو صحابو او د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم رأیه دا وه چې د هغو نه دي فدیه واخیستلی شي پرې دې یخودلی شي، الله تعالی په فدیه اخیستلو او قتل کولو کې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته اختیار ورکړی ؤ مګر دا شرط ؤ چې په آینده کال کې به ستاسو نه اویا کسان شهیدانیږي، په دې باندې حضرت عمر رضي الله عنه سخت ناراضه وو مګر د عامو خلکو په رأیه باندې عمل وشو چې په دې باندې الله تعالی د سختې ناخوښۍ اظهار وفرمایلو او د حضرت عمر رضي الله عنه د رأیې موافق حکم یې ولیږلو چې داسې کول پکار وو. حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل کچیرې عذاب راتلی نو د عمر نه علاوه به هیڅوک نه بچ کیدو. **کتاب من الله**: یعنې په لوح محفوظ کې یې لیکلي وو چې د مجتهد په غلطۍ باندې مؤاخذه نه وي، یا دا چې اهل بدر د مخکې نه معاف دي د هغوی مؤاخذه نه کیږي، یا دا چې د دواړو خبرو اجازه الله تعالی ورکړې وه چې فدیه واخلئ یا قتل وکړئ. په دغه وجه عذاب بند شو او که نه نو عذاب ښکاره شوی وو. د قرآن آیت دی ﴿ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَكُونَ لَهُ أَسْرَى حَتَّى يُثْخِنَ فِي الْأَرْضِ ﴾ الی ان قال ﴿ لَوْلَا كِتَابٌ مِنَ اللَّهِ سَبَقَ لَمَسَّكُمْ فِيمَا أَخَذْتُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾. **وبرأیه**: یعنې د عمر فاروق رضي الله عنه رأیه دا وه چې د حضور صلی الله علیه وسلم نه پس د هغه خلیفه دي ابوبکر صدیق رضي الله عنه شي هغه په سقیفه بنی ساعده کې څو دلائل ورکړل او بیا یې د ابوبکر صدیق رضي الله عنه لاس ونیوه او بیعت یې ورسره وکړو بیا ټولو بیعت وکړلو.

حضرت عمر رضي الله عنه به جنت کي بلند ترین مقام پیدا کوي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ	أَبِيْ سَعِيْدٍ	قَالَ	قَالَ رَسُوْلُ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	ذٰلِكَ الرَّجُلُ
او حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل دغه سړی زما په امت کي							
أَرْفَعُ	أُمَّتِيْ	دَرَجَةً	فِي	الْجَنَّةِ	قَالَ	أَبُوْ سَعِيْدٍ	وَاللهِ
د جنت بلند ترمقام او مرتبه لرونکی دی دابوسعید رضي الله عنه بیان دی چې په الله قسم چې زمونږ خیال دي نه							

مَا	كُنَّا	نَرٰى	ذٰلِكَ	الرَّجُلَ	اِلَّا	عُمَرَ	بْنَ	الْخَطَّابِ حَتّٰى

علاوه بل څه نه وو چې دي نه د حضرت عمر رضي الله عنه ذات مراد دی او حضرت عمر رضي الله عنه چې څو پوري دي

مَضٰى لِسَبِيْلِهٖ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.

دنيا کي وو مونږ په دي خيال قائم وو. [ابن ماجه]

نيکو کارونو کي د عمر رضي الله عنه چستي

﴿۱۷﴾	وَعَنْ	اَسْلَمَ	قَالَ	سَأَلَنِي	ابْنُ	عُمَرَ

او حضرت اسلم چې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ازاد کرده غلام او تابعي دی وايي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه

بَعْضَ شَأْنِهٖ يَعْنِيْ عُمَرَ فَأَخْبَرْتُهٗ فَقَالَ

يو ورځ زمانه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څه احوال او خصائل معلومول وغوښتل نو ما هغوی ته

مَا رَأَيْتُ أَحَدًا قَطُّ بَعْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ديري خبري وښودلې نو هغه وويل چې د رسول اکريم صلى الله عليه وسلم د رحلت نه روسته ما د حضرت عمر رضي الله عنه

مِنْ حِيْنَ قُبِضَ كَانَ أَجَدَّ وَأَجْوَدَ حَتّٰى

نه زيات هيڅ سړی نه دی ليدلی چې د خپل ژوند آخري لمحو پوري نيکو کارونو کي د ټولو نه زيات

انْتَهٰى مِنْ عُمَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

سرګرم (چست) او د ټولو نه زيات نيک وي [بخاري]

توضيح : اسلم: حضرت اسلم رضي الله عنه د حضرت عمر رضي الله عنه غلام او خاص خادم وو په دغه وجه حضرت ابن عمر رضي الله عنه د هغه ځخه د خپل پلار جان عمر رضي الله عنه د خصوصي احوالو معلومول وغوښتل ځکه دير کرته خادم ته هغه څه معلوميږي چې ځوی ته نه معلوميږي. **فقال:** د دي قال فاعل اسلم دی او دا جمله د اخبرته تفصيل دی، په بعضو نسخو کې قال دی کچيري دا لفظ فقلت وای نو دا به آسانه وو، په هر حال ټول بيان د اسلم دی. **اجد:** يعنې په دين کې د زيات جد او جهد کولو والا نور څوک نه وو حضرت عمر رض د ټولو نه زيات جدو جهد کونکی وو. **و اجود:** ای احسن په طلب اليقين يعنې په نيکو کارونو کې يې په محنت باندې عمده يقين ساتلو، په محنت سره او شوق او چستۍ سره يې نيک اعمال کولو. **حتى انتهى من عمر:** په دې جمله باندې د پوهيدو لپاره اصل عبارت کتل پکار دي، اصل

بارت داسې دی: **ما رأیت احدا اجد و اجود من عمر حتی انتهی عمر ای مضی لسبیله** .یاد ساتل پکار
ي چې د حضرت عمر رضي الله عنه دغه فضیلتونه د هغې زمانې سره تعلق لري چې کله د حضرت ابوبکر
دیق رضي الله عنه انتقال شوی وو ، (**قال السیوطي ای في زمن خلافته لیخرج ابوبکر**).

یم جواب دا دی چې دا تمام فضائل جزئیه دي ، جزئي فضیلت د عمر فاروق رضي الله عنه دی او عام
ضیلت د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه لپاره دی.

د حضرت عمر رضي الله عنه شهادت

﴿۱۸﴾ وَعَنِ الْمِسْوَرِبْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ لَمَّا طُعِنَ عُمَرُ

حضرت مسور ابن مخرمه رضي الله عنه وايي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه زخمي شو نو دبې آرامۍ اظهار يې

جَعَلَ يَأْلَمُ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَكَأَنَّهُ

کوه نو حضرت عبد الله ابن عباس رضي الله عنه گويا د حضرت عمر رضي الله عنه ته تسلي او تشفي ورکړله او ورته يې

يُجَزِّعُهُ يَا أَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَلَا كُلُّ ذٰلِكَ

وويل امير المؤمنين د دې بې قرارۍ او بې ارامۍ اظهار ستاسو د شان سره مناسب نه دی تاسو خو

لَقَدْ صَحِبْتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه هستي يې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحبت او رفاقت شرف درته حاصل او ډير ښه صحبت درته حاصل

فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَ

شوی دی تاسو د رفاقت رسول کامل حق ادا کړی دی او رسول کريم صلى الله عليه وسلم داسې حالت کې ستاسو نه

وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ صَحِبْتَ أَبَا بَكْرٍ

جدا شو چې ستاسو نه خوشحاله وو بيا د ابوبکر رضي الله عنه رفاقت ملگرتيا او مجالست تاسو ته نصيب

فَأَحْسَنْتَ صُحْبَتَهُ ثُمَّ فَارَقْتَهُ

شو او هغوی سره هم ستاسو ملگرتيا ډيره ښه وه تر دې پورې چې هغوی ستاسو نه جدا شول نو

وَهُوَ عَنْكَ رَاضٍ ثُمَّ صَحِبْتَ الْمُسْلِمِيْنَ

ستاسو نه خوشحاله وو او بيا د خپل خلافت په زمانه کې تاسو ته د مسلمانانو د خدمت او رفاقت

فَأَحْسَنْتَ	صُحْبَتَهُمْ	وَلَئِنْ

موقع حاصله شوه او د هغوی د خدمت او رفاقت فریضه هم تاسو ډیره ښه شان سره ادا کړله او س که

فَارَقْتَهُمْ لَتُفَارِقَنَّهُمْ وَهُمْ عَنْكَ رَاضُونَ

د مسلمانانو نه جدا کیږې په داسي حال کي جدا کیږې چې مسلمانان تاسو نه راضي او خوشحاله دي

قَالَ أَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِضَاهُ

فاروق اعظم رضی الله عنه وفرمائیل تا د حضور صلی الله علیه وسلم د صحبت او د هغوی د رضا او خوشحالي چې کوم

فَإِنَّمَا ذٰلِكَ مَنٌّ مِّنَ اللهِ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ

ذکر کړی دی نو بلا شبه دا د الله تعالی یو ډیر لوی احسان دی چې هغه محض خپل فضل او کرم سره

وَأَمَّا مَا ذَكَرْتَ مِنْ صُحْبَةِ أَبِي بَكْرٍ وَرِضَاهُ

په ما کړي دی د غه شان تا د حضرت ابو بکر رضی الله عنه د صحبت او رفاقت او د هغوی د رضا چې کوم ذکر

فَإِنَّمَا ذٰلِكَ مَنٌّ مِّنَ اللهِ مَنَّ بِهِ عَلَيَّ

کړی دی نو هغه هم د الله تعالی یو لوی احسان دی چې د هغه په ذریعه هغه محض خپل فضل او کرم

وَأَمَّا مَا تَرَى مِنْ جَزَعِيْ فَهُوَ مِنْ أَجْلِكَ وَأَجْلِ

سره زه سرفراز کړم پاتې شوه زما بې صبري او بې قراري چې ته وینې نو دي تعلق د رحقیقت د استا

أَصْحَابِكَ وَاللهِ لَوْ أَنَّ لِيْ طِلَاعَ الْأَرْضِ ذَهَبًا

او ستا د دوستانو په سبب دی قسم په الله که ما سره د ټولي ځمکي برابر سونا سره زر وي زه به هغه د

لَافْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ عَذَابِ اللهِ قَبْلَ أَنْ أَرَاهُ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

الله تعالی د عذاب بدل کي قربان کړم دي نه مخکي چې زه الله یاد الله عذاب ووینم . صحیح البخاری.

توضیح: **لما طعن**: یعني چې کله حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په نیزه ووهلی شو ، مختصره قصه داسې ده چې په مدینه منوره کې د مغیره بن شعبه رضی الله عنه یو مجوسی غلام وو چې د هغه نوم فیروز وو او کنیه یې ابولؤلؤ وه ، هغه شکایت کړی وو چې زما مولی مغیره بن شعبه رضی الله عنه په ما باندې

زیات تیکس لګولی دی، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د هغه څخه پوښتنه وکړه چې ستا کسب څه شی دی؟ هغه څو کسبونه او هندونه وښودل، عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمایل چې دا ټیکس خو دومره نه دی، نه خو ډیر ماهره کاریګر یې، ستا ګټه زیاته ده، ما اوریدلي دي چې ته ډیرې ښې ژرندې جوړوې زما لپاره یوه ژرنده جوړه کړه، ابولؤلؤه چونکي په غصه کې وو نو ویې ویل چې صحیح ده زه به تاته داسې ژرنده تیاره کړمه چې دنیا به یې یادوي، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله دا واوریدل نو ویې فرمایل هدد نی العبد دې غلام خو ما ته د مرګ زورنه راکړه، بیا د سهار په لمانځه کې ابولؤلؤ په حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې حمله وکړه، دا د چې ارشنبې ورځ وه او د ذوالحجه ۲۷ سنه ۲۳ھ تاریخ وو، تر دریو ورځو پورې هغه زخمي وو او په اول د محرم الحرام سنه ۲۴ھ کې هغه د شهادت جام نوش کړلو، په دغه وخت کې د هغه عمر ۶۳ کاله وو.

یألم: الم درد ته ویل کیږي یعنې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د زخم په وجه د شدید کرب او فریاد اظهار کولو، عامو شارحینو همدا مطلب بیان کړی دی زه هم دا منم لیکن د دغه ټول حدیث د کتلو او د هغه په مضمون کې د غور کولو نه معلومیږي چې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خلافت په امورو او د حقوق الله او حقوق العباد په باره کې د بی صبرۍ اظهار کولو، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه ته په صحیح طریقه تسلی ورکړه.

وکأنه یجزعه: عام شارحین لیکي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دغه تکلیف او درد باندې ملامتولو مګر شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللّٰهُ د دې مطلب دا بیان کړی دی چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه درد او پریشاني لرې کوله او تسلی یې ورکوله، دا مطلب زیات واضحه دی او د دې حدیث سره بلکل موافق دی او د یألم مطلب چې ما بیان کړی دی د دې سره عین مطابق دی، راتلونکي ټولې جملې په همدې باندې موافق راځي.

ولا کل ذلک: یعنې ای امیر المؤمنین! د دې ټولو پریشانیانو هیڅ ضرورت نشته او نه دا بی قراری او د مستقبل دومره خوف ستا د شان سره مناسب دی، ته خو هغه هستي یې چې د حضور پاک صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دې رفاقت کړی دی، د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره دې رفاقت کړی دی هغه دواړه ستا نه خوشحاله وو، بیا تا د مسلمانانو خدمت وکړلو، د انتقال نه بعد به ان شاء الله ټول مسلمانان هم ستا نه راضی او خوشحاله وي لهذا د پریشانۍ ضرورت نشته.

منٌ من الله: یعنې د حضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت یا د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خدمت دا خو د الله تعالی له طرفه محض احسان وو چې په ما باندې شوی وو، زما سره چې کومه پریشاني ده هغه ستاسو د خلکو په وجه ده.

من اجلک: عامو شارحينو ليکلي دي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمايلي چې زما د وفات نه وروسته به د فتنو دروازې خلاصي شي لهذا ما ته د ستاسو فکر لاحق دی په دغه وجه زه د بې صبرۍ او اضراب په کيفيت کې يم چې ستاسو به څه حال وي؟

د شارحينو ليکل په خپل ځای دي مگر ما دې حديث په پوهيدو کې د ابتداء نه چې کوم کوشش کړی دی د هغه مطابق مطلب دا دی چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت د امورو په باره کې بې صبري ظاهروله او په دې جمله کې يې هم هماغه ظاهره کړې ده چې د خلافت په امورو کې چيرته په حقوق الله او حقوق العباد کې کومه کوتاهي راغلې نه وي، لکه په نورو رواياتو کې راغلي چې ده وفرمايل چې په دې خلافت کې په ثواب او عتاب کې چې معامله سر په سر شي نو دا به زما لپاره ښه وي، لالي و لا علی نه ما ته ثواب حاصل شي او نه عذاب حاصل شي.

طلاع الارض: دا د طلوع څخه دی يعني زما سره دومره سره زر وي چې په هغې سره د ځمکې سر ډک شي زه هغه د عذاب الهی د کتلو نه مخکې مخکې خرچ کړم مگر د عذاب شکل ونه گورم. ملاعلي قاري رحمه الله ليکلي چې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سر د هغه د ځوی په سينه باندې وو او هغه د الله تعالی سره په مناجات کې دا شعر ويلو:

ظَلُوْمٌ لِنَفْسِيْ غَيْرَ اَنِّيْ مُسْلِمٌ اُصَلِّيْ صَلٰوۃً کُلَّهَا وَ اَصُوْمُ

ترجمه: ما په خپل ځان باندې ډير ظلم کړی دی مگر بيا هم زه مسلمان يم، خپل ټول لمونځونه کوم او روژه نيسم.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خوف او رجاء نمونه وه، فرمايل به يې چې کچيرې په قيامت کې دا اعلان وشي چې ټول انسانان به جنت ته ځي او يو کس به دوزخ ته ځي نو ما ته به خطره وي چې چيرته هغه زه نه يم، او کچيرې دا اعلان وشي چې ټول خلک به دوزخ ته ځي صرف يو کس به جنت ته ځي نو زما به اميد وي چې هغه يو کس به زه يم. شيعه او روافضو د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د دغه خوف او رجاء جذبې او دغه اخلاص ته په غلط نظر سره کتلي دي او د هغه د مورد طعن گرځولو کوشش يې کړی دی، رښتيا دي:

فعين الرضاء عن کل عيب کليلة ولکن عين السخط تبدی المساويا

ترجمه: سړی چې کله د يو چا نه خوشحاله وي نو سترگې يې هر وخت د عيب نه ړندې پاتې کيږي مگر ناراضه سترگې ته صرف بد په نظر ورځي.

باب مناقب ابي بكر و عمر رضي الله عنهما

د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنهما مناقب

د صاحب مشکوة دا طریقه پاتې شوې ده چه هغه انفرادی مناقب د متعلقه صحابی سره بیان کړي دي لیکن د مناقبو احادیث مشترکه هم وي ، صاحب د مشکوة مشترکه مناقب په جدا بابونو کې جمع کړي دي ، نو د صدیق اکبر او عمر فاروق رضي الله عنهما د انفرادی مناقبو نه فارغیدو نه پس اوس د دواړو مشترکه مناقب بیانوي ، دا ښه ترتیب دی .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په صدیق او عمر رضي الله عنهما باندې اعتماد

﴿١﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا
حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل یو سړی خپلې غوا شړلو سره بوتله تلو تلو
رَجُلٌ يَسُوْقُ بَقَرَةً إِذْ أَعْيَيٰ فَرَكِبَهَا فَقَالَتْ إِنَّا لَمْ نُخْلَقْ
کې چه هغه ستړی شو نو غوا باندې سور شو غوا ورته وویل زمونږ تخلیق دی کار د پاره نه دی شوی
لِهٰذَا إِنَّمَا خُلِقْنَا لِحِرَاثَةِ الْأَرْضِ فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللهِ
مونږ خو د زراعت او کاشتکاري کار د پاره پیدا شوی یو خلقو د اظهار تعجب په طور وویل سبحان الله
بَقَرَةٌ تَكَلَّمُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
غوا هم خبري کوي په دې وخت کې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل زه په دې خبره ایمان راوړم
فَإِنِّي أُوْمِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ
او ابوبکر او عمر هم ایمان راوړي او حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هغه مجلس کې موجود نه وو
وَمَا هُمَا ثَمَّ. وَقَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ فِيْ غَنَمٍ
او حضرت ابوهریره رضي الله عنه بیان وکړو چه یو سړی د خپلو چیلیو درمي منځ کې وو اچانک یو شرمخ راغی
لَهُ إِذْ عَدَا الذِّئْبُ عَلٰى شَاةٍ مِنْهَا فَأَخَذَهَا
او د رمي نه یې یوه بزې وتښتوله د چیلیو مالک د شرمخ تعاقب کولو سره خپله چیلۍ یې د هغه نه

فَأَدْرَكَهَا صَاحِبُهَا فَاسْتَنْقَذَهَا فَقَالَ لَهُ الذِّئْبُ

خلاصه کړله شرمخ هغه ته وویل تاخو خپله چیلۍ زمانه خلاصه کړه لیکن دا راته ووایه چه د سبع

فَمَنْ لَهَا يَوْمَ السَّبُعِ يَوْمَ لَا رَاعِيَ لَهَا غَيْرِي

په ورځ چیلیو حفاظت کونکی به څوک وي زمانه علاوه خلقو دي واقعه اوریدو سره اظهار تعجب

فَقَالَ النَّاسُ سُبْحَانَ اللهِ ذِئْبٌ يَتَكَلَّمُ فَقَالَ

وکړو او هغوی وویل سبحان الله شرمخ او خبري وکړي حضور ﷺ وفرمائیل زه په دي ایمان راوړم

أُومِنُ بِهِ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ

او ابوبکر او عمر هم ایمان راوړي حالانکه هغه وقت حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه کي

وَمَا هُمَا ثَمَّ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

هیڅوک هم هلته موجود نه وو. [بخاري مسلم]

توضیح: اعیی: یعنې چه کله هغه سړی ستړی شو نو په غوا باندې سور شو، غوا انکار وکړو او خبرې یې وکړې، خلکو تعجب وکړو. فاني اومن: دا په شرط محذوف باندې متفرع ده چه جزاء واقع ده یعنې کچیرې خلک د غوا په خبرو باندې تعجب کوي نو ودې یې کړي، زه او ابوبکر او عمر فاروق په دې خبرو باندې ایمان لرو چه معجزه ظاهره شوه، حضور ﷺ د خپل یقین سره د شیخینو یقین یوځای کړو دا نهایت قرب او قوت ایمان او اطمینان او اعتماد ته اشاره ده او په همدې سره د شیخینو فضیلت دی. عدا الذئب: دا د عدوان او تجاوز څخه دی یعنې لیوانو په ګډو باندې حمله وکړه.

یوم السبع: په دې کلمه کې په باء باندې پیش هم دی او سکون هم، که پیش وي نو ددې ورځې نه مه داسې د فتنې ورځ مراد ده چه په هغې کې به انسان د فتنو په وجه سره خپل مال او څریدونکې حیوانات پرېږدي او وبه تښتي او ټول حیوانات به د لیوانو رحم او کرم ته پاتې شي، یا ددینه کومه داسې ورځ مراد ده چه په هغې کې به ټول خلک مړه شي او ګډې به یوائې پاتې شي، یا ددینه د قیامت ابتدائی احوال مراد دي چه د هغو د خوف په وجه به انسانان او حیوانات سره یوځای شي په وَاِذَا النفوس زوجت کې همدېته اشاره ده، ملا علی قاری رحمه الله دغه توجیه کمزورې ګرځولې

بعضو ویلي چه السبع داهل جاهلیت داخترونو څخه داختریوه ورځ وه چه په هغې کې به خلک اخترته ووتل حیوانات به یې یوائې پرېښودل، په دې صورت کې د سبع په باء باندې سکون هم ویلي شي.

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنِّي لَوَاقِفٌ فِي قَوْمٍ

اوحضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چه دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه دوفات په ورځ هغه وقت زه هم د هغه

فَدَعَوُا اللهَ لِعُمَرَ وَقَدْ وُضِعَ عَلَى سَرِيرِهِ

خلقو منځ کې ولاړوم هرکله چه دحضرت عمر رضي الله عنه جسد خاکې لمبولو دپاره تخته مرګ باندې اېښودل

إِذَا رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي قَدْ وَضَعَ

شوی وو او خلق ولاړ وو او د هغه په حق کې یې دعا د خیر او مغفرت غوښتلو اچانک ما محسوسه کړه

مِرْفَقَهُ عَلَى مَنْكِبِي يَقُولُ يَرْحَمُكَ اللهُ

چه زما شاته ولاړ یو سړي خپله زنه زما په اوږه اېښې ده هغه سړي ویل شروع کړل د الله تعالی رحمت

إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَجْعَلَكَ اللهُ مَعَ صَاحِبَيْكَ

دې په تاسو نازل شي بیشکه زه پوره امید لرم چه الله تعالی به تاسو د خپلو دواړو دوستانو سره یو ځای

لِأَنِّي كَثِيرًا مَا كُنْتُ أَسْمَعُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لري ځکه چه مابه درسول الله صلی الله علیه وسلم دژبې مبارکې نه اکثر دا الفاظ اوریدل چه زه فلانی ځای وم

يَقُولُ كُنْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَفَعَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ

اوابوبکر او عمر هم ما سره وو ما فلانی کار وکړو او ابوبکر او عمر هم زما شریک کار وو زه فلانی مقام

وَانْطَلَقْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَدَخَلْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَخَرَجْتُ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ

ته ولاړم او ابوبکر او عمر هم ما سره وو زه فلانی مکان یا فلانی ځای نه بهر راووتم او ابوبکر او عمر هم ما سره

فَالْتَفَتُّ فَإِذَا عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وو ماچې روسته تاوید سره او کتل نو ددې الفاظ ویونکی علی ابن ابی طالب رضي الله عنه وو. [بخاری ومسلم]

لپاره دعاګانې غوښتلې.

توضیح: (فادعوا الله) يعني خلکو انفرادي طور باندې د عمر رضي الله عنه لپاره دعاګانې غوښتلې.

(کنت و ابوبکر و عمر) په دې ټولو جملو کې د اسم ظاهر عطف په اسم ضمیر باندې راغلی دی حالانکه نحویان په ضمیر متصل باندې د اسم ظاهر عطف ته بغیر د تأکید نه په منفصل سره جائز نه وايي بلکه هغه ته ضعیف وايي، هو! په اشعارو کې ګنجائش شته، ددې جواب دا دی چه علامه مالکي رحمه الله فرمايي چه دغسې عطف په نظم او نثر دواړو صورتونو کې د راجح قول مطابق جائز دی. (مرقات)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

﴿۳﴾عَنْ أَبِي سَعِيدِ نِ الْخُدْرِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ لَيَتَرَاءَوْنَ
حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل جنتي خلق به عليين والا ډيرې
أَهْلَ عِلِّيِّينَ كَمَا تَرَوْنَ الْكَوْكَبَ الدُّرِّيَّ فِي أُفُقِ السَّمَاءِ وَإِنَّ أَبَا بَكْرٍ
بلندئ باندې داسې ويني څرنګه چه تاسو دآسمان په غاړه ډير روښانه ستوري وينئ او ابوبکر
وَعُمَرَ مِنْهُمْ وَأَنْعَمَا. رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ
او عمر په عليين والاؤ کې دي بلکې دخپل اعزاز اورتبې داعتبار نه هغوی نه زیات دي دا روایت بغوي خپل
وَرَوَى نَحْوَهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.
اسناد سره شرح السنه کې نقل کړی دی او دغه شان روایت ابوداؤد ترمذي او ابن ماجه هم نقل کړی دی

توضیح: وانعما: يعني په اعلی عليين کې به دواړه د ټولو نه مخکې په اعلی مقام باندې فائز وي، يا مطلب دا دی چه دا دواړه به د جنت په نعمتونو کې داخليږي (ای دخلا في النعيم) لکه څنګه چه عرب وايي اشأم ای دخل في الشام.

ابوبکر او عمر رضي الله عنهما به د جنت سرداران وي

﴿۴﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ سَيِّدَا كُهُولِ
او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل جنت کې چه څومره هم پوخ عمر والاوي
أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ إِلَّا النَّبِيِّينَ وَالْمُرْسَلِينَ.
بنايي هغه مخکنو کې وي یا وروستنو کې دهغوی ټولو سرداران به ابوبکر او عمر وي سوا د نبیانو

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ عَنْ عَلِيٍّ.
اورسولانو نه .[ترمذي] ابن ماجه دارو ایت دحضرت علي رضي الله عنه نه نقل کړی دی.

توضیح: (کهول) په کاف او هاء باندې ضمه ده، دا جمع ده مفرد یې کهل دی، د ۳۰ کلو نه چه کوم کس زیات شي هغه ته کهل ویل کیږي د زیات عمر خلک مراد دي.

اوس سوال پیدا کیږي چه په جنت کې خو به ټول خلک ځوانان وي نو د هغوی د سردار کیدلو مطلب څه دی؟ ددې جواب دا دی چه د زیات عمر والاؤ څخه هغه خلک مراد دي چه ددې دنیا نه په زیات عمر کې رخصت شوي وي، ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضي الله عنهما به د دې ټولو سردار وي، ددینه معلومه شوه چه کوم خلک په ځوانۍ کې ددې دنیا نه تللي وي نو شیخین به په طریق اولی د هغوی سرداران وي.

من الاولین: ددینه د سابقه امتونو دغه قسم خلک مراد دي او د (الاخرین) څخه ددې امت خلک مراد دي بغیر د انبیاء کرامو نه که هغه د سابقه امتونو انبیاء کرام وي یا آینده راتلونکی حضرت عیسی علیه السلام وي.

دحضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه خلافت طرف ته اشاره

﴿۵﴾وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
اوحضرت حذیفه رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل ماته نه ده معلومه چه ستا سو منځ کې زما
إِنِّيْ لَا أَدْرِيْ مَا بَقَائِيْ فِيْكُمْ فَاقْتَدُوْا بِالَّذَيْنَ مِنْ بَعْدِيْ
ژوند اوس څومره باقي پاتې شوی نو لهذا تا سو خلق زما نه روسته ددې دوو خلقو پیروي کوي چه
أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
یوبل نه روسته به زما جانشین او خلیفه ګان وي او هغه ابوبکر او عمر دي. [ترمذي]

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه یوبل خصوصیت

﴿۶﴾وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ
اوحضرت انس رضي الله عنه بیان کوي رسول کریم صلی الله علیه وسلم چه به مسجد ته دا خلیدو هیڅ یا به خپل سر نه شو لوړ

لَمْ يَرْفَعْ أَحَدٌ رَأْسَهُ غَيْرَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ كَانَا

ولای سوا دابوبکر او عمر رضي الله عنهما نه صرف دا دوه صحابه رضي الله عنهم وه دي ادواړه به حضور صلی الله علیه وسلم ليدو سره

يَتَبَسَّمَانِ إِلَيْهِ وَيَتَبَسَّمُ إِلَيْهِمَا رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

مسکي کيدل او حضور صلی الله علیه وسلم به دهغوی ليدو سره مسکي کيدو دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

يي دي چه دا حديث غريب دی.

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ ذَاتَ يَوْمٍ وَدَخَلَ الْمَسْجِدَ

حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت کوي نبي کريم صلی الله علیه وسلم خپلي حجري شريفي نه راووتلو مسجد نبوي کې داسي

وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ أَحَدُهُمَا عَنْ يَمِيْنِهِ وَالْآخَرُ عَنْ شِمَالِهِ

داخل شو چې ابوبکر او عمر د حضور صلی الله علیه وسلم ښي طرف ته وو او دويم صاحب يي چپ طرف ته ووا و

وَهُوَ آخِذٌ بِأَيْدِيْهِمَا فَقَالَ هٰكَذَا نُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

حضور صلی الله علیه وسلم د دواړو لاسونه خپلو لاسونو کې نيولي وو هغه وقت حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائيل د قيامت په ورځ

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

به مونږ دغه شان ولاړيږو دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چه دا حديث غريب دی.

﴿۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَنْطَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى أَبَا بَكْرٍ

او حضرت عبد الله ابن حنطب تابعي روايت کې دي چه يوه ورځ نبي کريم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه او

وَعُمَرَ فَقَالَ هٰذَانِ السَّمْعُ وَالْبَصَرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

حضرت عمر رضي الله عنه ليدو سره وفرمائيل دا دواړه په منزله د غوږ او سترګي دي دا روايت ترمذي په طريقې ارسال نقل کړی دی.

توضيح: (هذان السمع والبصر) شارحينو د دې څو مطلبونه بيان کړي دي، يو دا لکه څنګه چه د جسم په اعضاؤ کې د ټولو نه عمده عضوه سترګه او غوږ دی همدارنګه د دين اسلام لپاره ابوبکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما په منزله د سترګی او غوږ عمده او مفيد ثابتيږي ګويا په دين کې د دوی حيثيت په جسم کې د سترګې او غوږ پشان دی. دويم مطلب دا دی چه دا دواړه زما لپاره

سترګې او غوږ دي، زه د هغوی په ذریعه اوریدل کوم او کتل کوم یعنې دا زما لپاره مطیع او فرمانبرداره وزیران او مشیران دي، دا مطلب زیات واضحه دی، محاوره هم همداسې ده. دریم مطلب دا دی چه ابوبکر صدیق او عمر فاروق کائناتو کې غور کولو سره حق اوري او د حق مشاهده کوي.

دوه وزیران په اسمان کې او دوه په ځمکه کې

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ
حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائیل هیڅ نبي داسې نه دی تیر شوی چه
إِلَّا وَلَهُ وَزِيْرَانِ مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ وَوَزِيْرَانِ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَمَّا وَزِيْرَايَ
دهغه دوه وزیران اسمان والاؤ نه او دوه وزیران ځمکې والاؤ نه نه وي نو آسمان والاؤ نه زما دوه
مِنْ أَهْلِ السَّمَاءِ فَجِبْرَئِيْلُ وَمِيْكَائِيْلُ وَأَمَّا وَزِيْرَايَ مِنْ أَهْلِ الْأَرْضِ فَأَبُوْبَكْرٍ
وزیران خو جبرائیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام دي او ځمکې والاؤ نه زما دوه وزیران ابوبکر رضي الله عنه
وَعُمَرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
او عمر رضي الله عنه دي [ترمذي]

د خلافت علی منهاج النبوة موده

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ
او حضرت ابي بکره رضي الله عنه نه روایت دی چې د رسول کریم صلى الله عليه وسلم خدمت کې حاضر یدو سره یو سړي عرض
كَأَنَّ مِيْزَانًا نَزَلَ مِنَ السَّمَاءِ فَوُزِنْتَ أَنْتَ
وکړو یارسول الله ما خوب لیدلی دی چه ګویا یو ترازو تله آسمان نه راکوز شوه او هغه ترازو کې تاسو
وَأَبُوْ بَكْرٍ فَرَجَحْتَ أَنْتَ وَوُزِنَ أَبُوْ بَكْرٍ وَعُمَرُ فَرَجَحَ أَبُوْبَكْرٍ
او ابوبکر رضي الله عنه وتلل شوئ نو ستاسو وزن زیات شو بیا ابوبکر او عمر رضي الله عنهما وتلل شول نو د ابوبکر رضي الله عنه
وَوُزِنَ عُمَرُ وَعُثْمَانُ فَرَجَحَ عُمَرُ ثُمَّ رُفِعَ الْمِيْزَانُ
وزن زیات شو بیا عمر رضي الله عنه او عثمان رضي الله عنه وتلل شول نو د عمر رضي الله عنه وزن زیات شو دي نه روسته ترازو

فَاسْتَآءَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِيْ فَسَآءَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ خِلَافَةُ
اوچت کړی شوه، رسول کریم صلی الله علیه وسلم د هغه سړي دي خوب سره غمجن شو حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائیل دا خلافت
نُبُوَّةٍ ثُمَّ يُؤْتِي اللهُ الْمُلْكَ مَنْ يَّشَآءُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْ دَاوُدَ .
نبوت دی دي نه روسته چه الله تعالی څوک غواړي ملک به ورته عطا کوي . [ترمذي وابوداؤد]

توضیح: فساء: د خوب لیدونکې د خوب نه معلومه شوه چه د خلافت علی منهاج النبوة دوربه د عمر فاروق رضی الله عنه په وفات او شهادت باندې ختم شي په دې باندې حضور ﷺ خفه شو ، او په دې باندې هم خفه شو چه د عمر فاروق رضی الله عنه د شهادت نه بعد به د فتنو دور شروع شي . د خلفاء راشدینو د خلافت لپاره شاه ولی الله رحمه الله دا اصطلاح فرمایلې ده چه د حضور ﷺ عهد يې په عهد نبوت سره یاد کړی دی ،د هغه د وفات نه بعد د حضرت ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضی الله عنهما دور يې په خلافت علی منهاج النبوة بطریق خاص سره یاد کړی دی او د حضرت عثمان رضی الله عنه او د حضرت علی رضی الله عنه خلافت يې په خلافت علی منهاج النبوة بطریق عام یاد کړی دی لیکن د دینه وروسته يې په ملک عضوض سره یاد کړی دی ، د دغه ملک عضوض څخه يې د حضرت معاویه رض خلافت او بیا د عمر بن عبدالعزیز خلافت مستثنی کړی دی . په دې حدیث کې د خلافت د الفاظو څخه د حضرت صدیق او حضرت عمر فاروق رضی الله عنهما خلافت علی منهاج النبوة ته اشاره ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

دحضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه دجنتي کیدو بشارت

﴿۱۱﴾ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ
حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ و فرمائیل کورئ اوس به ستاسو
رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ أَبُوْبَكْرٍ ثُمَّ قَالَ يَطَّلِعُ عَلَيْكُمْ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ
مخکې یو جنتی سړی راشي نو ابوبکر راغی بیا يې و فرمائیل اوس به ستا سو مخ ته یو جنتی سړی
الْجَنَّةِ فَاطَّلَعَ عُمَرُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
راشي نو بیا حضرت عمر راغی. دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي يې دي چه دا حدیث غریب دی

د حضرت ابوبكر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه نيكۍ

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ بَيْنَا رَأْسُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها بيان كوي دسپوږمۍ يوه شپه كې چه د حضور صلى الله عليه وسلم سر مبارك زما په
فِيْ حَجْرِيْ فِيْ لَيْلَةٍ ضَاحِيَةٍ إِذْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ يَكُوْنُ لِأَحَدٍ
غيږ كې وو ما عرض وكړو يا رسول الله ايا د چا دومره نيكې هم شته څومره چه د آسمان ستوري دي
مِنَ الْحَسَنَاتِ عَدَدَ نُجُوْمِ السَّمَاءِ قَالَ نَعَمْ عُمَرُ قُلْتُ
حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل هو هغه عمر دى چه د هغه نيكۍ د آسمان دستورو برابر دي بيا ما عرض وكړو او د
فَأَيْنَ حَسَنَاتُ أَبِيْ بَكْرٍ قَالَ إِنَّمَا جَمِيْعُ حَسَنَاتِ عُمَرَ كَحَسَنَةٍ
ابوبكر رضي الله عنه د نيكې وڅه حال دى حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل د عمر تمامي نيكۍ د ابوبكر د نيكۍ و نه
وَّاحِدَةٍ مِّنْ حَسَنَاتِ أَبِيْ بَكْرٍ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ.
ديوې نيكۍ برابر دي [روايت كړې دې رزين]

باب مناقب عثمان رضي الله عنه

د حضرت عثمان رضي الله عنه د مناقبو بیان

حب النبي رسول الله مفترض ‌ ‌ ‌ وحب اصحابه نور ببرهان
من كان يعلم ان الله خالقه ‌ ‌ ‌ لايرمين ابابكر ببهتان
ولا اباحفص الفاروق صاحبه ‌ ‌ ‌ ولا الخليفة عثمان بن عفان
اما علي فمشهور فضائله ‌ ‌ ‌ والبيت لايبتغى الا باركان
فلو ان السماء دلت لمجد ‌ ‌ ‌ ومكرمة دلت لهم السماء

نوم او نسب: نوم يې عثمان دی ، د پلار نوم يې عفان دی ، لقب يې ذوالنورين دی ، په پنځم پشت کې يې د نبی اکرم صلی الله علیه وسلم سره نسب یوځای کیږي ،هغه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم نزدې رشته داروو .

حلیه مبارکه : د هغه ولادت د فیل د واقعې نه شپږ کاله وروسته وشو ، د صدیق اکبر رضي الله عنه په محنت سره په اسلام باندې مشرف شو ، د هغه قد متوسط وو او رنګ يې سپین مائل زیړوالي ته وو، په مخ باندې يې د دانو یو څو نشانه وو، د هغه سینه خلاصه او ږیره يې ګڼه وه ، د اسلام نه مخکې هم په قریشو کې لوی معزز ګڼل کیدلو . په حیاء کې يې نظیر پخپله دی وو، په سخاوت کې هغه ضرب المثل وو، د نبی مکرم صلی الله علیه وسلم دوه لورګانې حضرت رقیه رضي الله عنها او حضرت ام کلثوم رضي الله عنها یو د بل پسې دده په نکاح کې راغلي ،د حضرت عمر فاورق رضي الله عنه نه بعد هغه د خلافت لپاره منتخب کړی شو او دوولس کاله مسند د خلافت ته د رونق ورکولو نه بعد په ۱۸ذوالحجة سنه ۳۵ھ کې په ډیر مظلومیت سره د باغیانو په لاس شهید کړی شو او د مدینې منورې په مشهور قبرستان بقیع غرقد کې دفن کړی شو ، د هغه قبر بلکل ښکاره په نظر راځي ، هرزائر د هغه زیارت کولی شي .

یو څه حالات : د اسلام د قبلولو نه مخکې يې کله هم شرابو ته لاس وروړی نه دی ، نه يې کله زنا کړې او نه يې کله د بت مخې ته سجده لګولې ده ، د حیا غلبه وه ورباندې ، د غسل لپاره به يې چې کپړې لرې کولې نو کمره به يې بنده کړه په ناسته به يې په غسل خانه کې غسل کولو ، د ودریدو جرأت به يې کولی نشو ، په بیعت اسلام کې يې چې کله د حضور صلی الله علیه وسلم سره لاس ولګیدلو نو مرګه پورې يې هغه لاس شرمګاه سره ونه لګولو . په ټولو غزواتو کې د حضور صلی الله علیه وسلم سره شریک پاتې شوی، د بدر په جنګ کې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په حکم وروسته پاتې شو مګر

بدري شمار کړی شو ، په اسلام باندې یې خپل ذاتي مال بې دریغه خرچ کړلو ، د مسجد نبوي په توسیع او د بئر رومه په اخیستلو او د جیش عسره په تیاری کې یې خپل ډېر مال د الله تعالی په رضا کې مصرف کړلو ، د فاروق اعظم نه وروسته یې د اسلام دین سنبال کړلو او د فارس په اطرافو او د افریقه په حدودو کې یې لویې غزاګانې وکړې او ډیرې علاقې د اسلام د بیرغ لاندې راغلې، د ایران بادشاه یزدګرد دده په عهد کې قتل کړی شو ، هغه په عشره مبشرو کې حسابیږي ،د هغه خلافت په ابتدائی شپږو کلونو کې په سکون سره روان وو ، بیا د عبدالله بن سبا یهودي په منافقانه پروپیګنډو سره د مصر خلک راغلل او د اعتراض کونکو یوه ډله مدینې منورې ته راغله ، څلویښت ورځې یې د هغه کور محاصره کړلو او بیا په ۸ ذوالحجة سنه ۳۵ هـ کې په کور کې د ۸۸ کالو په عمر د غاړې له طرفه ذبح کړی شو چې په دې سره د الله تعالی د غضب توره د پوښ نه بهر شوله چې تر اوسه په امت کې چلیږي ۔

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

(۱) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُضْطَجِعًا فِيْ بَيْتِهِ

ام المؤمنین بي بي عائشه رضي الله عنها بیان کوي یوه ورځ رسول کریم ﷺ خپل کور کې خپل ونونه یا

كَاشِفًا فَخِذَيْهِ أَوْ سَاقَيْهِ فَاسْتَأْذَنَ أَبُوْبَكْرٍ

پونډۍ خلاصې پروت وو چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د حاضریدو اجازت وغوښتو حضور ﷺ هغه

فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ عَلَى تِلْكَ الْحَالِ فَتَحَدَّثَ

دننه راوغوښته او هغه حالت کې پروت وو حضرت ابوبکر رضي الله عنه څه وقته پورې ناست وو خبرې یې

ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ فَأَذِنَ لَهُ وَهُوَ كَذٰلِكَ

کولې بیا حضرت عمر رضي الله عنه د حاضریدو اجازت وغوښته حضور ﷺ هغه دننه را وبللو او هغه شان

فَتَحَدَّثَ ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عُثْمَانُ فَجَلَسَ

پروت وو حضرت عمر رضي الله عنه د حضور ﷺ سره خبرې کولې بیا حضرت عثمان رضي الله عنه د حاضریدو اجازت

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَوّٰى ثِيَابَهُ

وغوښته نو رسول کریم ﷺ راپورته کیدو شه او کیناسته او خپلې کپړې یې سمې کړلې

خَرَجَ قَالَتْ عَائِشَةُ دَخَلَ أَبُوْبَكْرٍ فَلَمْ تَهْتَشَّ

بي عائشي رضی اللہ عنہا عرض وکړو یا رسول الله حضرت ابوبکر دننه راغی نو تا سونه څه حرکت وکړو او نه

وَلَمْ تُبَالِهِ ثُمَّ دَخَلَ عُمَرُ فَلَمْ تَهْتَشَّ

ود هغوی پروا وکړه دغه شان حضرت عمر رضی اللہ عنہ دننه راغی نو تا سو هغه وقت هم نه حرکت وکړو

لَهُ وَلَمْ تُبَالِهِ ثُمَّ دَخَلَ عُثْمَانُ فَجَلَسْتَ

اونه مو دهغه پروا وکړه خو څه وقت چې حضرت عثمان رضی اللہ عنہ دننه داخل شو نو تا سو فورًا پورته کیدو

وَسَوَّيْتَ ثِيَابَكَ فَقَالَ أَلَا أَسْتَحْيِيْ مِنْ رَجُلٍ

سره کیناستئ او خپلي کپړي مو درستي کړلي حضور صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائیل ایا زه دهغه سړي نه حیا ونه کړم

تَسْتَحْيِيْ مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ. وَ فِيْ رِوَايَةٍ قَالَ إِنَّ

چې دهغه نه فرښتي هم حیا کوي اویو روایت کي دا الفاظ دي چې حضور صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائیل حقیقت

عُثْمَانَ رَجُلٌ حَيِيٌّ وَّ إِنِّيْ خَشِيْتُ إِنْ أَذِنْتُ

دادی چې عثمان رضی اللہ عنہ دیر حیادار سړی دی ما محسوسه کړه که عثمان رضی اللہ عنہ دي حالت کي راوبلم هغه

لَهُ عَلَى تِلْكَ الْحَالَةِ أَنْ لَّا يَبْلُغَ إِلَيَّ

به زما نه خپل مقصود پوره نه کړي یعني که هغه ما دي حالت کي ووینی نو دغلبه ادب شرم او حیا نه

فِيْ حَاجَتِهِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

به ما سره نه کیني او کوم مقصد دپاره چې راغلی دی دهغه پوره کولو نه بغیر به بیرته لاړ شي [مسلم]

توضیح: **کاشفا عن فخذیه**: دا بی تکلفه کیناستلو ته اشاره ده ، ددې مطلب دا نه دی چې د حضور صلی اللہ علیہ وسلم ورنونه بلکل ښکاره وو ، هغه صلی اللہ علیہ وسلم پخپله ورنونو ته عورت ویلو سره د پټولو حکم کړی دی .

تهتش: ای لم تتحرک لاجله یعني تا هیڅ اهتمام ونکړو لکه څنګه چې په بې تکلفانه انداز کې وې هماغسې پاتې شو. بعضو ددې لفظ ترجمه په هشاش بشاش سره کړې ده یعنې د هغو لپاره هشاش

بشاش نه شو ولم تبأله: يعني هيڅ پروا او اهتمام دي ونکړو.

تستحي منه الملائكة: وايې يو ځل په مدينه منوره کې د يوې قضيې په موقع باندې د حضرت عثمان رضي الله عنه سينه خلاصه شوه نو ملائکي وروسته شوې، حضور صلی الله علیه وسلم حضرت عثمان رضي الله عنه ته د سينې پټولو حکم وکړو نو ملائکي واپس راغلې، د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په پوښتنې باندې ملائکو وويل چې د هغه د سينې خلاصيدو په وجه د هغه نه د حياء په بناء باندې مونږ وروسته شو، د حضور صلی الله علیه وسلم د اهتمام يوه وجه خو همدا د عثمان رضي الله عنه حياء وه، دويم مطلب دا چې حضرت عثمان رضي الله عنه د کوم حاجت لپاره راغلی وو، کچيرې حضور صلی الله علیه وسلم همداسې بې تکلفه پاتې شوی وای نو حضرت عثمان رضي الله عنه خپل خواست (غوښتنه) پيش کولی نشو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

حضرت عثمان رضي الله عنه دحضور صلی الله علیه وسلم رفیق جنت دی

﴿۲﴾ عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت طلحه ابن عبيد الله رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائيل دهر نبي يو رفيق يعني مهربان
لِكُلِّ نَبِيٍّ رَفِيْقٌ وَرَفِيْقِيْ يَعْنِيْ فِي الْجَنَّةِ عُثْمَانُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
ملګری او دوست وي او زما رفيق يعني په جنت کې عثمان رضي الله عنه دی دا روايت ترمذي نقل کړی دی
وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ
او ابن ماجه هم دا روايت د حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه نقل کړی دی او ترمذي ويلي دي چې دا حديث
غَرِيْبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَهُوَ مُنْقَطِعٌ.
غريب دی او ددې اسناد قوي نه دی او دا منقطع دی.

توضیح: حضرت عثمان رضي الله عنه کچيرې د حضور صلی الله علیه وسلم په رفاقت کې په جنت کې وي نو دا د هغه لوی ذاتي اعزاز دی، ددې مطلب دا نه دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم به کوم بل رفيق نه وي دا د اعزازاتو او نوازشاتو د تحفو ځانته ځانته تقسيم دی يوه تحفه د بلې تحفې منافي نه ده:

یہ رتبہ بلند ملا جس کو مل گیا ہر مدعی کے واسطے دار و رسن کہاں؟

دجهاد په لاړ کې مالي قرباني

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ خَبَّابٍ قَالَ شَهِدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت عبدالرحمٰن بن خباب رضي الله عنه بيان کوي هغه وقت زه هم دنبي کريم صلى الله عليه وسلم مجلس مبارک کې

وَهُوَ يَحُثُّ عَلَى جَيْشِ الْعُسْرَةِ

حاضر وم کوم وقت چې حضور صلى الله عليه وسلم د جيش عسره د مالي امداد دپاره خلقو ته جذبه ورکوله

فَقَامَ عُثْمَانُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلَيَّ مِائَةُ

حضرت عثمان رضي الله عنه او دريدلو او عرض يې وکړو يارسول الله دالله تعالى په لاړ کې په کار راتلو دپاره سل

بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ

اوښان سره دهغوی دجهولونو او پالانونو زه په خپله ذمه اخلم حضور صلى الله عليه وسلم بيا خلق هغه جنګ دپاره

حَضَّ عَلَى الْجَيْشِ فَقَامَ عُثْمَانُ فَقَا

دامداد او معاونت طرف ته متوجه او راغب کړل نو حضرت عثمان رضي الله عنه او دريدلو او عرض يې وکړو

عَلَيَّ مِائَتَا بَعِيْرٍ بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَا

چې دمخکنو سل اوښانو نه علاوه مزيد دوه سوه اوښان دهغوی دجهولونو او پالانونو يعني پوره

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ ثُمَّ حَضَّ عَلَى الْجَيْ

سازاو سامان سره دالله په لاړ کې په خپله ذمه اخلم بيا دريمه موقع هم داسې وه چې نبي صلى الله عليه وسلم خلقو

فَقَامَ عُثْمَانُ فَقَالَ عَلَيَّ ثَلَاثُ مِائَةِ بَ

ترغيب ورکاوه نو بيا حضرت عثمان رضي الله عنه او دريدلو او عرض يې وکړو چې درې سوه اوښان سر

بِأَحْلَاسِهَا وَأَقْتَابِهَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ

هغوی دجهولونو او پالانونو دالله په لاړ کې پخپله ذمه اخلم عبدالرحمٰن بن خباب رضي الله عنه وايي

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْزِلُ عَنِ الْمِنْبَرِ
ليدل چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر نه خكته شو وي فرمائيل يې چې د دې عمل نه روسته چې عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
وَهُوَ يَقُوْلُ مَا عَلَى عُثْمَانَ مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهٖ مَا عَلَى عُثْمَانَ
څه كوي دهغه نه به ورته هيڅ نقصان نه وي د دې نه وروسته چې عثمان څه كوي كوم نقصان به
مَا عَمِلَ بَعْدَ هٰذِهٖ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
ورته نه وي . [روايت كړې دې ترمذي]

توضيح: **جيش العسرة**: جيش لښكر ته ويل كيږي او العسرة تنګئ ته ويل كيږي د دې نه غزوه تبوک مراد ده چې د يوې مياشتې په مسافت باندې وه ، د سختې ګرمۍ موسم وو ، لرې سفر وو ، په مدينه كې د ميوو او فصلونو د كټ كولو زمانه وه ، نفير عام هم وو ، د ډيرش زره لښكر ، د سوارليو مسئله وه ، د ځپليو مسئله وه ، د خوراک د شيانو مسئله وه ، هلته د جنګيدو نكي درې لكه رومي عسكرو سره مقابله وه په دغه وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ډير اهتمام سره د چندې بار بار ګذارش وكړو او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اعزاز حاصل كړلو . (احلاس) د حلس جمع ده د اوښ پالان او د كجاوې نه لاندې چې كومه پرده وي هغه مراد ده .

اقتاب: د قتب جمع ده پالان ته ويل كيږي اوښ سره د ساز و سامان مراد دی .

علي: دا د نذر لپاره استعماليږي چې په ما باندې نذر ده چې دومره به وركوم ، ابوعمرو فرمايلي چې حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې غزوه كې نهه سوه پنځوس اوښان وركړل او پنځوس آسونه يې وركړل ترڅو زر پوره شي .

ماعلى عثمان: دا د دربار نبوی نه حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته اعزازی تحفه ملاؤ شوه چې د نن نه بعد كه حضرت عثمان هيڅ عمل هم ونكړي نو هغه ته به هيڅ نقصان نه وي يعنې د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ټول سابقه او لاحقه خطاګانې معاف دي ، په دې كې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حسن خاتمه او جنتی كيدلو بشارت دی . علماؤ ليكلي دي چې د دې اعمالو نه د نوافلو اعمال مراد دي چې د فرائضو نه علاوه كه حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر مرګه پورې كوم نفلي نيک كار ونكړي نو پرواه نشته ، دغه نيكې د ټولو نوافلو قائم مقام ده . صحابه كرام د دې اعزازا تو نه وروسته كمزوري شوي نه دي بلكه د هغوی اعمال به نور هم تيز شولو ، د دې حديث ته په كتلو د هغو خلكو سترګي خلاصيدل پكار دي

چې په حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې هر قسم اعتراضونه کوي حالانکه د حضرت عثما
خطاګانې د مخکې نه کالعدم ګرځول شوي دي ، په خلافت او ملوکیت کې ابوالاعلی مو
صاحب د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خلاف سخت قلم استعمال کړی دی. په راتلونکي حدیث
دغسې اعزازی جمله ده په هغه حدیث کې دي چې حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو زر اشرفۍ ورکړ

دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ایثار او قرباني

﴿۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ جَاءَ عُثْمَانُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ

او حضرت عبد الرحمٰن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي هغه وقت چې جیش عسره دجهاد سامان تیار اوج

بِأَلْفِ دِينَارٍ فِي كُمِّهِ حِينَ جَهَّزَ جَيْشَ الْعُسْرَةِ فَنَ

کیده حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو هزار دینار دخپل قمیص په لستوڼي کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوړل

فِي حَجْرِهِ فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په غېږ کې یې کېښودل ما ولیدل چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه دینار خپلې غېږې کې اړول

فِي حَجْرِهِ وَهُوَ يَقُولُ مَا ضَرَّ عُثْمَانُ مَا

اړولو سره کتل او فرمائیل یې دنن ورځ دي مالي ایثار نه روسته که عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه څه ګناه و

بَعْدَ الْيَوْمِ مَرَّتَيْنِ . رَوَاهُ أَ

نو هغه ته به څه نقصان نه وي دا الفاظ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه واره ارشاد وفرمائیل [ا

د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیعت رضوان اعزاز

﴿۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللهِ بِبَيْعَةِ الرِّ

او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي کوم وقت چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دبیعة الرضوان حکم و

كَانَ عُثْمَانُ رَسُولَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى

نو هغه وقت حضرت عثمان د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خصوصي نماینده په حیثیت سره مکې ته تل

فَبَايَعَ النَّاسَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلقو نه دځان قربانولو بیعت اخستلو او هر کله چې تمامو مسلمانانو بیعت وکړ

إِنَّ عُثْمَانَ فِيْ حَاجَةِ اللهِ وَحَاجَةِ رَسُوْلِهٖ
حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هلته موجود نه وو نو رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دالله د دین او دالله
فَضَرَبَ بِإِحْدٰى يَدَيْهِ عَلَى الْأُخْرٰى فَكَانَتْ يَدُ
درسول په کار باندې تلی دی او دې ویلو سره خپل یو لاس یې بل لاس باندې ووهلو نو د رسول
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعُثْمَانَ خَيْرًا
کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه لاس چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د طرف نه وو د باقي تمامو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د لاسونو نه
مِّنْ أَيْدِيْهِمْ لِأَنْفُسِهِمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
زیات بهتر او افضل وو کوم چې د هغوی د خپل طرف نه وو .[ترمذي]

توضیح: په صلحه د حدیبیه کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په طور د سفیر قریشو ته لیږلی وو ، قریشو هغه د څه وخت لپاره محبوس وساته ، دلته مشهوره شوه چې عثمان شهید کړی شو ددې بدل اخیستلو لپاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کیکر یوې ونې لاندې د یونیم زر صحابه کرامو نه بیعت واخیستلو ،حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چونکې نه وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه لپاره هم بیعت واخیستلو مګر خپل یو لاس یې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس وګرځولو او بیعت یې واخیسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لپاره د غه بیعت ځکه واخیستلو چې د هغه ډیر لوی فضیلت راتلونکی وو . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې احتمال بیعت واخیستلو چې کچیرې هغه ژوندی وي نو هغه هم په دې بیعت کې شریک شي او د بیعت رضوان فضیلت پیدا کړي لکه همداسې وشوه ، یو صحابی فرمایي چې مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په لاس باندې د مرګ بیعت کړی وو .

د دار په واقعه کې د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جرأت

﴿۶﴾ عَنِ وَعَنْ ثُمَامَةَ بْنِ حَزْنِ نِ الْقُشَيْرِيِّ قَالَ شَهِدْتُ الدَّارَ
او حضرت ثمامه ابن حزن قشیري بیان کوي زه هغه وقت د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مکان کې موجود
حِيْنَ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ عُثْمَانُ فَقَالَ أَنْشُدُكُمُ اللهَ وَالْإِسْلَامَ
وم کله چې هغه د باغیانو ته مخاطب وو او ورته یې وفرمائیل زه دالله او اسلام واسطه ورکولو سره

هَلْ تَعْلَمُوْنَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ستا سو نه پوښتنه کوم ایا تا سو ته معلومه ده چې کله رسول الله صلی الله علیه وسلم د مکي نه په هجرت کولو

قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ وَلَيْسَ بِهَا مَاءٌ يُّسْتَعْذَبُ غَيْرَ بِئْرِ

مديني ته تشريف راوړی وونو هغه وقت مدينه کي د رُومه کوهي نه علاوه د خوږو اوبو کوهی نه وو

رُوْمَةَ فَقَالَ مَنْ يَّشْتَرِيْ بِئْرَ رُوْمَةَ يَجْعَلُ دَلْوَهٗ

اوبیا چي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل کوم سړی دی چې رومه کوهي واخلي او خپله بوقه د مسلمانانو بوقي

مَعَ دِلَاءِ الْمُسْلِمِيْنَ بِخَيْرٍ لَّهٗ مِنْهَا فِي

سره جوړه کړی د دي نیکی او بهتر اجر په بدله کې چې دا کوهي خرید کولو او وقف کولو والا ته به

الْجَنَّةِ فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِيْ

ددي کوهي په سبب جنت حاصليږي نو هغه زه وم چې په خپل اصل او خالص مال باندي مي دا کوهي

وَأَنْتُمُ الْيَوْمَ تَمْنَعُوْنِيْ أَنْ أَشْرَبَ مِنْهَا حَتّٰى

واخسته اونن تا سو ما د دي کوهي د اوبو څکلو نه منع کوئ د دي پوري چې زه د سمندر یعني د

أَشْرَبَ مِنْ مَّاءِ الْبَحْرِ فَقَالُوْا اَللّٰهُمَّ نَعَمْ

سمندر په شان ترخي اوبو څکلو باندي مجبور کیږم خلقو وویل (هو ای الله مونږ ته د دي علم دی

فَقَالَ أَنْشُدُكُمُ اللهَ وَالْإِسْلَامَ هَلْ

بیا حضرت عثمان رضی الله عنه وفرمائیل زه د الله او اسلام واسطه درکولو سره ستا سو نه پوښتنه کوم ایا

تَعْلَمُوْنَ أَنَّ الْمَسْجِدَ ضَاقَ بِأَهْلِهٖ

تا سو ته معلومه ده چې کوم وقت مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم د مونځ کونکو د زیاتیدو په سبب تنګیدلونو

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّشْتَرِيْ بُقْعَةَ آلِ فُلَانٍ

رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل کوم سړی دی چې د فلاني سړي د اولاد نه ځمکه خرید کړی او د هغه په

فَيَزِيْدُهَا فِي الْمَسْجِدِ بِخَيْرٍ لَّهُ مِنْهَا فِي الْجَنَّةِ

ذریعه مسجد له توسیع ورکړي وقف کونکي ته به دي ځمکې په سبب جنت حاصلیږي نو دا زه

فَاشْتَرَيْتُهَا مِنْ صُلْبِ مَالِيْ فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ

وم چې هغه ځمکه مي په خپل اصل او خالص مال سره خرید کړه او نن تاسو ما مسجد کې د دوه

تَمْنَعُوْنَنِيْ أَنْ أُصَلِّيَ فِيْهَا رَكْعَتَيْنِ فَقَالُوْا اَللّٰهُمَّ نَعَمْ

رکعاته مونځ کولو نه منع کوی خلقو دي اوریدو سره وویل هو (ای الله مونږ ته ددي علم دی) بیا

قَالَ أَنْشُدُكُمُ اللهَ وَالْإِسْلَامَ هَلْ

حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمائیل زه د الله او اسلام واسطه درکولو سره ستاسو نه پوښتنه کوم ایا تاسو

تَعْلَمُوْنَ اَنِّيْ جَهَّزْتُ جَيْشَ الْعُسْرَةِ مِنْ مَالِيْ

ته معلومه ده چې هغه زه وم چې د جیش عسرة تیاري مي په خپل مال سره کړی وو او خلقو دي

قَالُوْا اَللّٰهُمَّ نَعَمْ قَالَ أَنْشُدُكُمُ اللهَ

اوریدو سره وویل (هو ای الله مونږ ته معلومه ده) بیا حضرت عثمان رضي الله عنه وفرمائیل زه د الله او

وَالْإِسْلَامَ هَلْ تَعْلَمُوْنَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اسلام واسطه درکولو سره ستاسو نه پوښتنه کوم ایا تاسو ته دا معلومه ده چې یو ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم

كَانَ عَلٰى ثَبِيْرِ مَكَّةَ وَمَعَهُ أَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ وَأَنَا

د مکې په ثبیر غره ولاړ وو او حضور صلی الله علیه وسلم سره حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه او زه هم وم او

فَتَحَرَّكَ الْجَبَلُ حَتّٰى تَسَاقَطَتْ حِجَارَتُهُ بِالْحَضِيْضِ فَرَكَضَهُ بِرِجْلِهِ

دغه خوزیدو سره کاڼي لاندي طرف ته او رغړیدل په غورځیدو سو نو حضور صلی الله علیه وسلم غره ته لغته

قَالَ اسْكُنْ ثَبِيْرُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيْقٌ

ورکړه ورته یې وفرمائیل په آرام شه حرکت مه کوه داوقت پر تا باندي یو نبي دی یو صدیق دی او دوه

وَشَهِيْدَانِ	قَالُوْا	اَللّٰهُمَّ	نَعَمْ	قَالَ	اَللّٰهُ	اَكْبَرُ	

حقیقي شهیدان دي خلقو وویل هو (ای الله مونږ ته دي علم دی) حضرت عثمان رضي الله عنه دا الله اکبر

شَهِدُوْا	وَرَبِّ	الْكَعْبَةِ	اِنِّيْ	شَهِيْدٌ

نعره ولګوله او وي ويل دي خلقو زما د خبرو تصديق کړی د کعبي په رب قسم زه يقيناً شهيدیم

ثَلَاثًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

دا الفاظ هغوی دري واره وفرمائيل. [ترمذي نسائي دارقطني]

توضيح: (الدار) د حضرت عثمان رضي الله عنه اول شپږ کاله ډير ښه تير شول بيا د هغه نه هغه ګوته په بير ادريس کې وغورځيده چې د نبی کريم صلی الله علیه وسلم وه او د حضراتو شيخينو نه بعد د حضرت عثمان رضي الله عنه ته لاس کې راغلې وه ،د خلافت په باقی شپږ کلونو کې قسما قسم شورشونه شروع شول ، عبد الله بن سبا به د :روغو الزاماتو په لګولو سره د هغه د جنرالانو نه خلک بدګمانه کول، په مکه او مدينه کې د هغه پروپيګنډه ناکامه شوه نو شام ته لاړه بيا کوفې ته لاړه مګر په يو ځای کې هم ده ته په زړه پورې کاميابی ملاؤ نشوه ، بيا دا خبيث مصر ته لاړه او هلته دده پروپيګنډه کاميابه شوه ، هغه يوه ډلګۍ تياره کړه او مدينې ته يې روانه کړه ، د اعتراض کونکو دغه ډله کې محمد بن ابی بکر هم وو ، اول مذاکرات وشول او کاميابه شول ، د مصر ګورنر عبد الله بن ابی سرح لرې کړی شو او د ګورنرۍ واک د محمد بن ابی بکر په لاس کې ورکړی شو چې د هغه په رسيدلو به هغه د مصر ګورنر مقرر کيږي ، دلته مروان بن حکم يو سازشي سړی وو ، هغه د حضرت عثمان رضي الله عنه په آس باندې د هغه غلام سپور کړو او مصر ته يې روان کړلو او د مصر د ګورنر عبد الله بن ابی سرح په نوم يې خط وليکلو چې څنګه محمد بن ابی بکر مصر ته ورسيږي نو هغه قتل کړه . په لاره کې دغه غلام ونيول شو په تفتيش باندې د هغه د لاس نه يو خط ووته چې په هغه باندې د حضرت عثمان رضي الله عنه د ګوتې مهر وو ، محمد بن ابی بکر خپلو ملګرو ته وويل چې اوس واپس لاړ شئ ددې خبرې تحقيق وکړئ ، نو دغه معترضين مدينې ته واپس راغلل او د حضرت عثمان رضي الله عنه نه يې پوښتنه وکړه چې دا آس د چا دی؟ هغه وفرمايل زما دی ! دا مهر د چا دی؟ ويې فرمايل چې زما د ګوتې دی! دا خط د چا دی؟ ويې فرمايل چې په الله قسم ما ته معلومه نه ده چې دا خط د چا دی؟ چې کله د مدينې د خلکو د خطونو نمونې حاصلې کړی شوې نو معلومه شوه چې دا خط مروان بن حکم ليکلی دی ، اعتراض کونکو وويل چې مروان مونږ ته حواله کړه ، حضرت عثمان رضي الله عنه نرم مزاجه وو ، ويې فرمايل چې داسې کولی نشم ، په دې باندې اعتراض کونکو د هغه کور محاصره

کړو ، تر څلویښتو ورځو پورې یې خوراک او اوبه بندي کړې او محاصره یې جاري وساتله ، په دغه دوران کې حضرت عثمان رضی الله عنه څو کرته د معترضینو او نورو خلکو سره د کور د کړکۍ نه خطاب وکړلو او په ده باندې د لګیدلو الزاماتو معقول جوابونه یې ورکړل ، زیر بحث حدیث د دغه خطاب یوه حصه ده مګر په دې کې حضرت عثمان رضی الله عنه خپل منقبت ، بشارت او خپل حیثیت او بیا شهادت واضحه کړې دی ، بیا هم بلواګرو او باغیانو هغه محصور وساتلو او د څلویښتو ورځو محاصرې نه بعد محمد بن ابی بکر او نورو معترضینو د کور د شا دیوال کې سورې کولو سره د ننه داخل شول او هغه یې شهید کړلو .

بئر رومة: دا په وادی عقیق کې د مسجد قبلتین سره یو لوی کوهی وو چې د یو یهودی ؤ ، حضرت عثمان رضی الله عنه هغه واخیسته او د مسلمانانو لپاره یې وقف کړلو ، یهودی به د هغه کوهی اوبه په مسلمانانو باندې په ګرانه خرڅولې .

حضرت عثمان رضی الله عنه په حق باندې ؤ

﴿۷﴾	وَ	عَنْ	مُرَّةَ	بْنِ	كَعْبٍ	قَالَ	سَمِعْتُ	مِنْ	رَسُوْلِ اللهِ	صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

او حضرت مره ابن کعب رضی الله عنه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ارشادات اوریدلي چې واقع کیدونکو

وَ	ذَكَرَ	الْفِتَنَ	فَقَرَّ	بَهَا

فتنونه د ډکو حادثاتو پیشنګوئي ذکر فرمائیلي وو د هغه فتنو تعلق یې بالکل قریبي زمانه کې

فَمَرَّ	رَجُلٌ	مُقَنَّعٌ	فِيْ	ثَوْبٍ

قائم کړو دی او د وقت چې د حضور صلی الله علیه وسلم د دې ارشاداتو سلسله جاري وه یو سړي پر سر کپړه اچولي

فَقَالَ	هٰذَا	يَوْمَئِذٍ	عَلَى	الْهُدٰى

مخ ته تیر شو نو حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائیل دا سړی به دې پر فتن او پر اشوب ورځو کې پر حق باندې

فَقُمْتُ	إِلَيْهِ	فَإِذَا	هُوَ

وي حضرت مره رضی الله عنه وایي د حضور صلی الله علیه وسلم د دې الفاظو اوریدو سره زه پاځیدم او هغه سړی طرف چې

عُثْمَانُ	بْنُ	عَفَّانَ	قَالَ	فَأَقْبَلْتُ	عَلَيْهِ

وګورم دا سړی حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه دی د حضرت مره رضی الله عنه بیان دی بیا ما د حضرت عثمان رضی الله عنه

بِوَجْهِهِ	فَقُلْتُ	هٰذَا	قَالَ

مخ تاوولو سره حضور صلی الله علیه وسلم ته وبنودلو او پوښتنه مي وکړه چې دا صاحب دی حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائیل

نَعَمْ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ ذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

هو. دا روایت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی دی او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دی.

د خلافت نه پریخودل

﴿۸﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ يَا عُثْمَانُ

اوام المؤمنین بي بي عائشه رضي الله عنها وايي يو ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم و فرمائیل ای عثمان! دي کې

إِنَّهُ لَعَلَّ اللهَ يُقَمِّصُكَ قَمِيصًا فَإِنْ أَرَادُوكَ

شک نشته چې الله تعالی به شاید تاته یو قمیص یعني قمیص د خلافت واغوندي که خلق ستا هغه

عَلَى خَلْعِهِ فَلَا تَخْلَعْهُ لَهُمْ.

قمیص او خکل غواړي او تا په دي مجبوروي نو د هغوی په وجه هغه قمیص هیڅ کله مه اوباسه دا

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ.

روایت ترمذي او ابن ماجه نقل کړی او ترمذي ویلي دي د دي حدیث ضمن کي یو طویله قصه ده

﴿۹﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِتْنَةً

او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي یو ورځ رسول کریم صلی الله علیه وسلم مستقبل قریب کې د واقع کیدونکو پرفتن

فَقَالَ يُقْتَلُ هٰذَا فِيهَا مَظْلُومًا لِعُثْمَانَ .

حادثاتو ذکر وکړو او د حضرت عثمان رضي الله عنه په حق کي یي و فرمائیل چې دا سړی به هغه حادثاتو کي

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ هٰذَا

مظلومانه طور سره ووژلی شي (شهید شي) دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې

حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

دا حدیث د اسناد و د اعتبار نه حسن غریب دی.

زه به صبر کوم

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَهْلَةَ قَالَ لِي عُثْمَانُ يَوْمَ الدَّارِ إِنَّ
ابو سهله فرمایی چې عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ورځ چې په کومه ورځ هغه شهید کړی شو وفرمائیل
رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عَهِدَ إِلَيَّ عَهْدًا وَأَنَا
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته یو صیت کړی وو یعنی دایی ویلی وو چې خلافت ترک نه کړې او زه پر هغه وصیت
صَابِرٌ عَلَيْهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.
صبر کولو والایم ترمذي وایی چې دا حدیث حسن صحیح دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

یو مصري ته دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوله ماتوو کونکي جواب

﴿۱۱﴾ عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ عَبْدِاللهِ ابْنِ مَوْهَبٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ مِّنْ أَهْلِ مِصْرَ يُرِيْدُ حَجَّ
او حضرت عثمان ابن عبد الله ابن موهب بیان کوي چې یو مصري سړی د حج بیت الله شریف په
الْبَيْتِ فَرَآى قَوْمًا جُلُوْسًا فَقَالَ مَنْ هٰؤُلَاءِ الْقَوْمُ
اراده مکي ته راغی هغه یو ځای کي څه خلق ناست ولیدل نو پوښتنه یي وکړه دا کوم خلق دي هغه
قَالُوْا هٰؤُلَاءِ قُرَيْشٌ قَالَ فَمَنِ الشَّيْخُ فِيْهِمْ قَالُوْا
ته وښودل شوه چې دا اکابر قریش دي بیا هغه پوښتنه وکړه ددوی شیخ څوک دی؟ خلقو جواب
عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ يَا ابْنَ عُمَرَ إِنِّيْ سَائِلُكَ عَنْ
ورکړ وعبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیا هغه مصري شخص وویل ای ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زه ستا سونه څو سوالات
شَيْءٍ فَحَدِّثْنِيْ هَلْ تَعْلَمُ أَنَّ عُثْمَانَ فَرَّ يَوْمَ أُحُدٍ
کول او د هغه جواب غواړم ایاتا سو ته معلومه ده چې عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د احد د جنګ په ورځ تښتیدلي وو
قَالَ نَعَمْ قَالَ تَعْلَمُ أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَدْرٍ
بیا هغه سړي پوښتنه وکړه ایاتا سو ته معلومه ده چې عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بدر په جنګ کي غائب وو او معرکه

وَلَمْ يَشْهَدْهَا قَالَ نَعَمْ قَالَ تَعْلَمُ

كي شريک نه شو حضرت ابن عمر رضي الله عنه جواب وركړو هو بيا هغه سړي وويل اياتا سو ته معلومه ده

أَنَّهُ تَغَيَّبَ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَمْ يَشْهَدْهَا

چې عثمان رضي الله عنه حديبيه كي د بيعت رضوان په موقع غائب وو او هغه بيعت كي شريک نه شو

قَالَ نَعَمْ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ قَالَ ابْنُ عُمَرَ

حضرت ابن عمر رضي الله عنه ورته وويل هو هغه سړي وويل الله اكبر نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه ورته وفرمائيل

تَعَالَ أُبَيِّنْ لَكَ أَمَّا فِرَارُهُ يَوْمَ أُحُدٍ

راشه زه يې تاته په وضاحت سره بنايم د جنګ احد په ورځ د عثمان رضي الله عنه د تښتيدو باره كي خوزه

فَأَشْهَدُ أَنَّ اللهَ عَفَا عَنْهُ وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَدْرٍ

ګواهي وركوم چې د هغوى دا خبره الله تعالى معاف كړې ده او جنګ بدر كي چې عثمان رضي الله عنه شريک

فَإِنَّهُ كَانَتْ تَحْتَهُ رُقَيَّةُ بِنْتُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

شوى نه وو نو د هغه وجه دا پېښه شوې وه چې بي بي رقيه رضي الله عنها بنت رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغوى نكاح كي

وَكَانَتْ مَرِيْضَةً فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وه او هغه ورځو كي هغه سخته ناروغه وه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم عثمان رضي الله عنه جنګ بدر ته د تلو نه منع كړى

إِنَّ لَكَ أَجْرَ رَجُلٍ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا وَسَهْمَهُ

وو او هغوى ته يې فرمائيلي وو چې تاته به هم هغه شان ثواب او حصه حاصليږي كومه چې دي جنګ

وَأَمَّا تَغَيُّبُهُ عَنْ بَيْعَةِ الرِّضْوَانِ فَلَوْ كَانَ أَحَدٌ

كي شريكيدونكي يو سړي ته حاصليږي او س پاتې شو بيعة الرضوان كي د عثمان رضي الله عنه نه شريكيدل

أَعَزَّ بِبَطْنِ مَكَّةَ مِنْ عُثْمَانَ لَبَعَثَهُ فَبَعَثَ

نو مخكي دا حقيقت په نظر كي وساته كه صحابو رضي الله عنهم كي بل سړى د عثمان رضي الله عنه نه زيات عزت

رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَ	سَلَّمَ

او اثر لرونکي ځوک واي نو حضور صلی الله علیه وسلم به یقینًا هغه ته لیږلی وو ځکه رسول کریم صلی الله علیه وسلم

عُثْمَانَ وَكَانَتْ بَيْعَةُ الرِّضْوَانِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ عُثْمَانُ إِلَى مَكَّةَ

عثمان رضي الله عنه مکي ته ولیږه او د عثمان رضي الله عنه مکي ته تللو نه روسته د بیعت رضوان واقعه پېښه شوه یا د بیت الرضوان

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُمْنٰى هٰذِهِ

په وقت رسول کریم صلی الله علیه وسلم خپل ښي لاس طرف ته اشاري کولو سره فرمائیلي وو چې زما دا لاس د

يَدُ عُثْمَانَ فَضَرَبَ بِهَا عَلَى يَدِهِ

عثمان رضي الله عنه د لاس قائم مقام دی او بیا حضور صلی الله علیه وسلم خپل هغه ښي لاس خپل چپ لاس باندي وهلو سره

وَقَالَ هٰذِهِ لِعُثْمَانَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ اِذْهَبْ

وفرمائیل دا بیعت د عثمان رضي الله عنه د طرف نه دی دي نه روسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه هغه مصري سړی

بِهَا الْآنَ مَعَكَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ته وویل ستا د سوالاتو جواب کي اوس چې ماخه ویلي دي هغه ځان سره یوسه.

ځان يي ورکړو خود حضور صلی الله علیه وسلم د وصیت نه يي انحراف ونه کړو

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَهْلَةَ مَوْلٰى عُثْمَانَ قَالَ جَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

او حضرت عثمان رضي الله عنه ازاد کرده غلام حضرت ابو سهله رضي الله عنه وايي نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت عثمان رضي الله عنه

يُسِرُّ إِلٰى عُثْمَانَ وَ لَوْنُ عُثْمَانَ يَتَغَيَّرُ فَلَمَّا كَانَ

سره پټې پټې خبري کولي او د حضرت عثمان رضي الله عنه د مخ رنګ به متغیر کیده هر کله چې د کور د محاصري

يَوْمُ الدَّارِ قُلْنَا أَلَا

ورځ راغله نو مونږ حضرت عثمان رضي الله عنه ته عرض وکړو چې آیا مونږ لره مناسب نه دي چې مونږ دي

نُقَاتِلُ قَالَ لَا إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

خلقو سره جنګ وکړو حضرت عثمان رضي الله عنه جواب راکړو نه ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته د یوي خبري

عَهِدَ إِلَيَّ أَمْرًا فَأَنَا صَابِرٌ نَفْسِي عَلَيْهِ

وصيت کړی وو او زه د حضور صلى الله عليه وسلم هغه وصيت باندي صابر او شاکريم.

د حضرت عثمان رضي الله عنه د اطاعت حکم

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي حَبِيبَةَ أَنَّهُ دَخَلَ الدَّارَ وَعُثْمَانُ

او حضرت ابو حبيبه رضي الله عنه نه روايت دی چې هغه حضرت عثمان رضي الله عنه ته هغه وقت ورغلی وو کوم وقت

مَحْصُورٌ فِيهَا وَأَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ يَسْتَأْذِنُ

چې هغه کور کي محصور کړی شوی وو هغه واوريدل چې حضرت ابو هريره رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه

عُثْمَانَ فِي الْكَلَامِ فَأَذِنَ لَهُ فَقَامَ

نه د څه خبرو کولو اجازت غوښتی حضرت عثمان رضي الله عنه اجازت ورکړو نو ابو هريره رضي الله عنه او دريدلو هغه

فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د الله تعالى حمد او ثنا بيان کړه او بيايي وويل يوه ورځ ما د رسول الله نه واوريدل چې زما نه روسته

يَقُولُ إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي فِتْنَةً وَاخْتِلَافًا أَوْ

به تاسو خلق د فتنو او د باهمی اختلافاتو ازمائش سره مخ شئ يا حضور صلى الله عليه وسلم مخکي د اختلافاتو او

قَالَ اخْتِلَافًا وَ فِتْنَةً فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مِنَ النَّاسِ

يا د فتنو لفظ ارشاد و فرمايلو هغه ارشاد اوريدو سره هلته موجود خلقو کي يو سړي پوښتنه وکړه

فَمَنْ لَنَا يَا رَسُولَ اللهِ أَوْ مَا تَأْمُرُنَا بِهِ قَالَ

يا رسول الله د هغه د فتنو او اختلافاتو زمانه کي مونږ له څه کول پکار دی حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائيل

عَلَيْكُمْ بِالْأَمِيرِ وَ أَصْحَابِهِ وَهُوَ يُشِيرُ إِلَى عُثْمَانَ

امير او د هغه جماعت لازم ونيسئ او امير لفظ باندي زور ورکولو سره يې حضرت عثمان رضي الله عنه طرف

بِذَلِكَ. رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

ته اشاره وکړه دا دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوة کي نقل کړي دي.

باب مناقب هؤلا الثلاثة رضي الله عنهم

د دری واړو خلفاء رضي الله عنهم د مناقبو بیان

ما د دینه مخکښې هم لیکلي دي چه بعضې احادیث هغه دي چه په هغو کښې د مشترکه مناقبو بیان دی، صاحب د مشکوة کمال کړی دی چه خلط ملط مناقب یې جمع کړي نه دي بلکه اول یې انفرادی ذاتي مناقب بیان کړل او بیا یې مشترکه مناقب ذکر کړل لکه په زیر بحث باب کښې هم د غه رنګ د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر او حضرت عثمان رضي الله عنهم خلفاء ثلاثه ؤ د مناقب مشترکه ؤ احادیث جمع کړي دي چه پیش خدمت دي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

دریواړو خلفاؤ ته د جنت بشارت

﴿۱﴾	عَنْ	اَنَسٍ	اَنَّ	النَّبِيَّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	صَعِدَ اُحُدًا وَّاَبُوْبَكْرٍ
حضرت انس رضي الله عنه روایت کوي چې یوه ورځ نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه									
وَعُمَرُ	وَعُثْمَانُ	فَرَجَفَ	بِهِمْ						
حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه احد ته وختل نو په خوزیدو شو حضور صلی الله علیه وسلم پر هغه									
نَضَرَبَهُ	بِرِجْلِهِ	فَقَالَ	اُثْبُتْ	اُحُدُ	فَإِنَّمَا	عَلَيْكَ			
خپله پښه مبارکه ووهله او ورته یې وفرمائیل [اُثْبُتْ اُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيْقٌ وَشَهِيْدَانِ رَوَاهُ]									
نَبِيٌّ	وَصِدِّيْقٌ	وَشَهِيْدَانِ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ					
ای احد په رام شه مه ښوره پر تا باندې خوزیږه په یو نبي دی یو صدیق دی او دوه شهیدان دي [بخاري]									

دري واړو ته د جنت بشارت

﴿۲﴾ وَعَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم فِيْ حَائِطٍ مِّنْ حِيْطَانِ الْمَدِيْنَةِ
او حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه وایي یوه ورځ زه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د مدیني یو باغ کي وم

فَجَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اچانک یو سړی د بهر نه راغی بیا هغه د باغ د دروازي د خلاصولو غوښتنه وکړه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائیل

اِفْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا أَبُوبَكْرٍ

ورشه دروازه کولاوه که او راتلونکي سړی ته د جنت بشارت ورکړه زما ورتلو سره دروازه مي .

فَبَشَّرْتُهُ بِمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خلاصه کړه څه گورم چه هغه ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وینا مطابق هغوی ته د جنت بشارت

فَحَمِدَ اللهَ ثُمَّ جَاءَ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَحَ

وا وروه او هغوی د الله شکر ادا کړو روسته بیا یو سړی راغی دروازې کولاویدو د پاره یې وویل

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِفْتَحْ لَهُ وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائیل ورشه دروازه کولاوه کړه او راتلونکي سړي ته د جنت خوشخبري ورکړه

فَفَتَحْتُ لَهُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ

ورتلو سره ما دروازه کولاؤه کړه نو ومي لیدل چه هغه عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وینا مطابق

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَمِدَ اللهَ ثُمَّ

هغوی ته د جنت زیري ورکړو او هغوی هم د الله تعالی شکر ادا کړو بیا لږ وخت روسته یو بل سړي

اسْتَفْتَحَ رَجُلٌ فَقَالَ لِيَ افْتَحْ لَهُ

دروازې د کولاویدو د پاره وویل رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ورشه دروازه کولاوه کړه او راتلونکي

وَبَشِّرْهُ بِالْجَنَّةِ عَلَى بَلْوَى تُصِيبُهُ

سړي ته د هغه عظیم آفات او مصائبو نه روسته د جنت بشارت ورکړه چې د هغه خپل ژوند کي مبتلاوي

فَإِذَا عُثْمَانُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما دروازه کولاو کړه نو ومي لیدل چې هغه حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو ما ورته هغه خبر واورولو چې

فَحَمِدَ	اللهَ	ثُمَّ	قَالَ

نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائيلي وو حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله تعالى شكريه ادا كړه او بيايي وويل د الله نه

اَللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

مدد طلب كول پكار دي يعني زه د الله نه د مدد طلبګار يم.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

زمانه نبوت كي ددي دري واړو ذكر په كوم ترتيب سره كيده

﴿۲﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا نَقُوْلُ وَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان كوي چې د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حيات كي به مونږ داسي ويل

حَيٌّ أَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الله دي دهغوى نه راضي وي [ترمذي]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د خلفاء ثلاثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د خلافت ترتيب خلافت غيبي اشاره ده

﴿۴﴾ عَنْ جَابِرٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيَ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى يوه ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل نن شپه يو نيك سړى ته خوب

اللَّيْلَةَ رَجُلٌ صَالِحٌ كَاَنَّ أَبَا بَكْرٍ نِيْطَ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كي وښودل شو چې ګرنګه ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره پيوست شوى دى دغه شان عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَنِيْطَ عُمَرُ بِأَبِيْ بَكْرٍ وَنِيْطَ عُثْمَانُ بِعُمَرَ قَالَ

ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره پيوست لګيدلى دى او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره پيوست لګيدلى دى حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

جَابِرٌ فَلَمَّا قُمْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وايي هركله چه مونږ خلقو دي خبري اوريد وسره د رسول كريم ﷺ د مجلس مبارک نه لاړلو نو د خپل

قُلْنَا أَمَّا الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَرَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اجتهاد او ظن مطابق مونږ خپلو كي وويل چه نيک سړي نه مراد خو خپله د رسول كريم ﷺ ذات ګرامي

وَأَمَّا نَوْطُ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ فَهُمْ وُلَاةُ

دي او يا ته شوه د بعضو بعضو سره پيوست لګيدل نو دا دي طرف ته اشاره ده چه دا دري واړه حضرات

الْأَمْرِ الَّذِيْ بَعَثَ اللهُ بِهِ

به د مذكوره ترتيب مطابق يو بل پسي د هغه مِشن سربراه وي چه هغه د پاره الله تعالى خپل

نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

نبي كريم ﷺ دي دنيا ته راليږلى دى. [ابو داود]

توضيح: نيط: پيوسته كيدلو ته نيط ويل شوى دى. دا ترتيب د خلافت ته اشاره ده.

باب مناقب علي بن ابي طالب رضي الله عنه
د حضرت علي رضي الله عنه د مناقبو بيان

علي فمشهور فضائله والبيت لايبتنى الا بأركان ، يعني د حضرت علي رضي الله عنه فضائل خو ډير مشهوره دي او د ايمان عمارت د خلفاؤ د څلورو ستنو نه علاوه او دريدلی نشي.

نوم او نسب: د څلورم خليفه مبارک نوم علي رضي الله عنه دی او کنيه يې ابوالحسين او ابوتراب دی او لقب يې اسد الله او حيدر او المرتضى دی ، د ابوتراب لقب د حضور صلی الله علیه وسلم څخه ورته عطاء شوی دی ، د هغه نسب حضور صلی الله علیه وسلم ته ډير نږدې دی ځکه چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تره زوی دی او د ابوطالب ځوی دی ، هغه د پلار او مور دواړو له جانب څخه هاشمی دی ، د هغه والد ابوطالب خو مسلمان نشو ليکن د هغه مور محترمه فاطمه بنت اسد مسلمانه شوې وه او مدينې طرفته يې هجرت هم کړی وو . حضرت علي رضي الله عنه د وړوکوالی نه د حضور صلی الله علیه وسلم په پرورش او تربيت کې پاتې شوی وو ، حضور صلی الله علیه وسلم هغه د ځوی پشان وپاله او بيا يې حضرت فاطمه رضي الله عنها هغه ته په نکاح کړه د زومتوب شرف يې هم ورته وبخښه ، حضرت علی رضي الله عنه په صحابو کې د ټولو نه زيات فصيح او د اعلی درجې خطيب وو او په شجاعت او بهادرۍ کې د ټولو نه ښکاره منلی کيده . په ۳۵ سنه هـ کې د حضرت عثمان رضي الله عنه د شهادت نه بعد په مسند د خلافت باندې فائز شو او درې ورځې کم پنځه کاله په مسند خلافت باندې پاتې کيدو سره د ۶۳ کلو په عمر کې ۱۸ د رمضان ۴۰ سنه هـ کې د عبدالرحمن بن ملجم خارجی په لاس سره په کوفه کې د سهار په وخت د شهادت جام نوش کړلو او د هميشه لپاره يې خلافت راشده رخصت کړلو . د کوفې په مقام نجف کې د هغه قبر ښودل کيږي، په نجف کې اګرچه د هغه مزار جوړ شوی دی مګر د هغه حقيقت همدومره دی چه په حيوة الحيوان کې يې ليکلی دي چه يو ځل هارون الرشيد په دغه ځای باندې تيريده چه يو بوډا سړی د قبر سره ناست دی او ژاړي ، هارون الرشيد پوښتنه وکړه نو بوډا وويل چه دا د حضرت علی رضي الله عنه قبر دی ، هارون الرشيد د هغه د مرمت کولو او حفاظت حکم وکړلو . د خوارجو شاعر عمران بن حطان د حضرت علی رضي الله عنه د قاتل عبدالرحمن بن ملجم خارجی په مدحه کې يو و قصيده ويلې وه چه د هغې په جواب کې د اهل سنتو يو شاعر زبردسته جواب ورکړی وو ، د دواړو له طرفه يو څو اشعار ملاحظه کړئ :

يَا ضَرْبَةً من تقى ما أَرَادَ بِهَا ... إِلَّا لِيبلغ من العرش رضوانا

إِنِّي لَأَذْكُرُهُ يَوْمًا فَأَحْسِبُهُ ... اوفى البرية عند الله ميزانا

اكرم بقوم بطون الارض اقبرهم ... لم يخلطوا دينهم بغيا و عدوانا

فأجابه القاضی ابو طیب الطبری رحمه الله من اهل السنة:

انی لأبرأ مما انت قائله — فی ابن ملجم ن الملعون بهتانا
انی لاذکره یوما فالعنه — دینا و العن عمران بن حطانا
علیک ثم علیه الدهر متصلا — لعائن الله اسرارا و اعلانا
فانتم من کلاب النار جاء لنا — نص الشریعة برهانا و تبیانا

حلیه: د هغه قد خکته وو، جسم یې چاغ وو، ږیره یې لویه او ګڼه وو، تټوله سینه به یې د ږیري لاندې راتلله، غنم رنګه وو، د حضرت فاطمې رضي الله عنها په ژوند کې یې بله نکاح ونکړه، د حضرت فاطمه رضي الله عنها څخه دده دوه ځامن حسن او حسین رضي الله عنهما وو او دوه لورګانې یې وې، د غزوو تبوک نه علاوه په ټولو غزاګانو کې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره وو او ډیرې لویې کارنامې یې انجام کړلې، حضور صلی الله علیه وسلم ته حضرت علی رضي الله عنه غسل ورکړلو، د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په دور خلافت کې د هغه وزیر او مشیر پاتې شو او په قضاء اسلامی باندې فائز شو، د خپلې لور ام کلثوم نکاح یې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره وکړه او په خپل دور خلافت کې یې دا فرمان جاری کړلو چه کوم شخص ما ته په ابوبکر صدیق او عمر فاروق رضي الله عنهما باندې فضیلت راکوي نو زه به په هغه باندې د بهتان ترلو حد جاری کوم. په حضرت عثمان رضي الله عنه باندې چه کله باغیانو حمله وکړه نو حضرت علی رضي الله عنه مکمله دفاع وکړه او حضرات حسنین رضي الله عنهما یې په حفاظت باندې مأمور کړل، دده په دور خلافت کې د داخلی جنګونو په وجه د کفارو سره بیرونی جنګونه موقوف شول، هغه به دې ټولو جنګونو کې په حق باندې وو، د طرف مقابل نه اجتهادی غلطی وشوو چه ان شاء الله معاف کیږي به، هو خوارج خو باغیان اهل النار وو، هغه لوی زاهد، تهجد ګزاره او پرهیزګاره وو، شپه به یې رونولو او په ژړا ژړا کې به یې شپه تیروله.

خپله ږیره به یې ونیوله او وبه یې ویل چه ای دنیا! ته غداره یې، زما مخې ته سفر ډیر اوږد دی، هائ افسوس! سفر اوږد دی او د سفر خرچه کمه ده په همدې حالت کې به سهار شو. هغه د عشره مبشرو څخه وو، یو ځل حضرت معاویه رضي الله عنه ده ته یو خط راولیږه چه په هغه کې حضرت معاویه رضي الله عنه په خپل فضیلت کې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم سره خپل قرب بیان کړی وو. ده هغه ته په اشعارو کې جواب ورکړو، د ناظرینو د لطف لپاره یې هدیه کوم:

حکی ان معاویة کتب إلي علي فقال یا ابا الحسین ان لي فضائل. انا صهر رسول الله و کاتبه للوحي فقال علي والله ما اکتب الیه الا شعرا فکتب:

محمّد النّبيّ أخي وصهري وحمزة سيّد الشّهداء عمّي

وجعفرنا الّذي يمسي ويضحي يطير مع الملائكة ابن أمّي

وبنت محمّد سكني وعرسي توسّط لحمها بدمي ولحمي

وسبطا أحمد ولديّ منها فأيّكم له قسم كقسمي

سبقتكم إلى الإسلام طرّا صغيرا ما بلغت أوان حلمي

نقال اخفوا هذه الاشعار من اهل الشام لئلا يميلوا الى علي .(شرح وقايه، جلد۲ ص۳۲۰)

په هر حال د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ فضائل ډير زيات دي ، ددې لپاره دوو وجهې دي ، يوو دا چه د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ په شان کې خوارجو وغيره غلط قسم خبرې وکړې ، قسما قسم طعنونه يې پرې ولګول په دغه وجه صحابو د هغه ټول فضائل واضحه کړل او عام يې کړل نو احاديث محفوظه شول . دويمه وجه دا ده چه شيعو روافضو د هغه په فضائلو کې د دروغو روايتونه نو يستل ، په هر حال په ماشومانو کې د ټولو نه مخکې حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ د اتو کالو په عمر اسلام قبول کړلو .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په قرب منزلت کې تشبيه

﴿۱﴾عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته وفرمائيل ته زما
لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُّوْسٰى إِلَّا
دپاره داسې يې څرنګه چه موسىٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ دپاره هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ وو بس فرق دادی چه زما نه روسته به
أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
څوک نبي نه وي . [بخاري مسلم]

توضيح : (بمنزلة هارون) حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه کله د تبوک لپاره روان شو نو حضرت عبدالله بن ام مکتوم يې په مدينه باندې خپل نائب مقرر کړلو ، چونکې د تبوک سفر اوږد وو نو ځکه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل او عيال د نګرانۍ ضرورت وو ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل اهل او عيال د نګرانۍ لپاره حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ مقرر کړلو ، په دې باندې منافقينو دا اعتراض وکړو چه علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ يې د وروولۍ په وجه وروسته پرېښودو چه تر څو د سفر د مشقت نه بچ شي ، بل دا چه د مرګ د خطرې نه

محفوظ پاتې شي ، چه کله حضرت علی رضی الله عنه ته ددې علم وشو نو هغه پریشانه شو ، هسې هم هغه پریشانه وو چه د جهاد د میدان څخه وروسته پاتې شو ، هغه فرمایې چه زه به کله په مدینه منوره کې وتلم نو یا به معذور خلک په نظر راتلل یا به ښځې او ماشومان وو یا به منافق خلک ګرځیدل ، د دغه حالت نه پریشانه حضرت علی رضی الله عنه په ژړا حضور صلی الله علیه وسلم ته لاړو ، حضور صلی الله علیه وسلم د مدینې نه لږ بهر په مقام جرف کې افواج اسلامیه ته په ترتیب ورکولو کې مصروفه وو ، حضرت علی رضی الله عنه د خپلې پریشانۍ اظهار یې وکړو ، په دې باندې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه ته تسلي ورکړه او په جواب کې یې وفرمایلو چه آیا ته په دې خوشحاله نه یې چه ته زما نه شاته پاتې کیدلو کې داسې یې لکه څنګه چه حضرت موسی علیه السلام د معراج الهی لپاره تللی وو او حضرت هارون علیه السلام یې وروسته پریخی وو ، په دې کلام کې د حضرت علی رضی الله عنه هغه فضیلت ته اشاره ده چه په قرب منزلت کې حضور صلی الله علیه وسلم حضرت علی رضی الله عنه خپل وررور ګرځولی دی او دا تشبیه په دغه قرب منزلت کې ده مګر په دې کې هم تشبیه کیدلی شوو چه حضرت علی رضی الله عنه هم د حضرت هارون علیه السلام پشان نبی جوړ شي ، ددغه وو م د لرې کولو لپاره حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایلو چه دا تشبیه صرف په اخوت کې ده په نبوت کې نه ده ځکه چه زما نه وروسته هیڅ نبی نشته.

سوال : ددې حدیث نه شیعه شنیعه او رافضه مرفوضه په ډیر زور او شور سره دا استدلال کوي چه په دې کې د حضرت علی رضی الله عنه د خلافت خبره شوې ده چه د حضور صلی الله علیه وسلم نه بعد علی رضی الله عنه با خلیفه بلافصل وي، نورو خلفاؤ د حضرت علی رضی الله عنه څخه خلافت غصب کړلو ، امت مزاحمت ونکړ لهذا ټول ګمراه شول ، علی رضی الله عنه خو د تقیه څخه کار واخیستلو باقی ټول کافر شول .

جواب : ددې بی ځایه سوال جواب دا دی چه شیعه خو وایې چه حضرت علی رضی الله عنه ته په غدیر خ کې خلافت سپارل شوی وو ، په دغه وخت کې هغه خلیفه جوړ شوی وو ، چه کله هغه ته د مخکې خلیفه وو نو په دې موقع باندې هغه ته کوم خلافت ورکړی شو ؟ معلومه شوو چه شیعه دروغجن دي

دویم جواب دا دی چه دلته تشبیه صرف په قرب منزلت کې ده ، نه په نبوت کې ده او نه په خلافت کې ځکه چه حضرت هارون علیه السلام د حضرت موسی علیه السلام نه څلویښت کاله مخکې انتقال شو وو ، حضرت هارون علیه السلام چه کله وروسته پاتې نشو ، او نه د یوې لمحې لپاره خلیفه جوړ شو نو دې سره د حضرت علی رضی الله عنه خلافت ته څنګه اشاره کیدلی شي ، معلومه شوو چه رافضي دروغجن دي .

دریم جواب دا دی چه ددې حدیث د ارشاد فرمایلو نه بعد حضور صلی الله علیه وسلم تر زیات وخته پورې دنیا کې حیات وو ، د هغه صلی الله علیه وسلم په ژوند کې نه حضرت علی رضی الله عنه خلیفه شو او نه کیدلی شو معلومه شوه چه شیعه دروغجن دي .

ځلورم جواب دا دی چه کچیرې دغه قسم د خلافت تصریح او وصیت د حضرت علی رضي الله عنه لپاره وای نو هغه ته د حضور صلی الله علیه وسلم نه وروسته د هغه دعوو کول پکار وو او عوامو ته ویل پکار وو چه خلافت زما حق دی ،تاسې زما نه زما حق مه غصب کوئ او که نه نو زه به ستاسو سره په خپل حق باندې جنګ وکړم ، چه کله د حضرت علی رضي الله عنه څخه په خاص یا عام مجلسونو کې دغې خبرې ته اشاره هم شوې نه ده نو نن سبا شیعو دغه عظیم بهتان او لوی طوفان په سر باندې ولې پورته کوی ؟ معلومه شوو چه شیعو دروغجن دي! کچیرې شیعو دا وایې چه حضرت علی رضي الله عنه تقیه وکړه نو عرض دا دی چه په دومره لویه مسئله کې او د شریعت دومره لوی حکم که حضرت علی رضي الله عنه د ویرې په وجه پټ کړی وو او په ژبې سره د خپلو ملګرو په حلقه کې هم د هغه اظهار کولی نشو نو داسې علی خو بیا د خلافت مستحق هم نه وو او معاذ الله هغه د لویې ګناه مرتکب هم شو ، بیا کچیرې داسې وو نو حضرت علی رضي الله عنه د خپل خلیفه برحق کیدلو په زمانه کې ولې تقیه ونکړه او د حضرت عثمان بن عفان رض نه وروسته چه کله هغه برحق ځلورم خلیفه جوړ شو نو هغه په دغه حق باندې جنګ جمل ولې وکړو ؟ او هغه په دغه حق باندې جنګ صفین ولې وکړو چه په هغه کې په زرهاؤ انسانان ختم شول ؟ !! معلومه شوو چه شیعو شیطانان دي او صرف د شیطان لپاره شیطانی کوي .

ملاعلی قاری رحمه الله د دغه حدیث په شرحه کې لیکلي دي چه د شیعو روافضو دغه اعتراض د دې قابل نه دی چه جواب یې وشي او د دغه حدیث په بنیاد باندې شیعو ګانو ټولو صحابو ته کافر ویلي دي لهذا د شیعو په کافر کیدلو کې هیڅ شک نشته . عبارت ملاحظه کړئ : **ولاشك فى تكفير هؤلاء لان من كفر الامة كلها والصدر الاول خصوصاً فقد ابطل الشريعة وو دم الاسلام ولاحجة فى الحديث لهم.** (مرقات جلد نمبر ۱۰ ص ۴۵۵)

د حضرت علي رضي الله عنه سره محبت د ایمان نښه ده

﴿۲﴾ وَعَنْ زِرِّ بْنِ حُبَيْشٍ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ وَالَّذِي فَلَقَ الْحَبَّةَ وَبَرَأَ النَّسَمَةَ
اوحضرت زرّبن حبیش وایي سیدنا علي وفرمائیل قسم دی په هغه ذات چه دانه یې چولې ده راشنه
إِنَّهُ لَعَهِدَ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِلَيَّ اَنْ لَا يُحِبَّنِيْ
کړې یې ده او ذی روح یې پیدا کړې ده درحقیقت نبي امي صلی الله علیه وسلم ماته یقین راکړی وو چه څوک کامل
إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضَنِيْ إِلَّا مُنَافِقٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
مؤمن وي هغه به ما سره او څوک چه منافق وي هغه به ما سره عداوت ساتي.[مسلم]

توضيح : (فلق) د دانې چولو او د هغې نه غوټۍ راويستلو په معنیٰ سره دی . (برأ) د پيدا کولو په معنی سره دی . (نسمة) روح ته ويل کيږي (انه) يعنې شان دا دی (عهد) تأکيدی حکم او پخې خبرې ته ويل کيږي . (ان لايحبنی) د حضرت علی رضي الله عنه معامله عجيبه پيچيده پاتې شوې او تر ننه پورې همداسې پيچيده ده او هغه داسې چه د انسانانو يو فريق هغه د خپل مقام نه لاندې راوغورځاوو او هغه ته يې سب و شتم وکړل او يو فريق هغه دومره پورته کړلو چه هغه يې د خدای په مقام باندې ودرولو، عامو منافقينو خو د صحابو سره حسد ساتلو مګر د حضرت علی رضي الله عنه سره يې يو څه زياتی کولو . بيا خوارج چه د منافقينو يو قسم دی هغو حضرت علی رضي الله عنه ته تر کافره پورې وويل او کنځل يې ورته وکړل ، هلته بل جانب ته د حضرت علی رضي الله عنه په وفادارانو کې يوو ډله داسې پيدا شوله چه هغو هغه د خدائی مقام ته ورسولو چه نن سبا هغوی د شيعو او روافضو په نوم سره پيژندل کيږي، شريعت مطهره د هغه په باره کې معتدله لاره وښودله چه د هغه سره دې محبت وساتلی شي او هغه ته دې کنځل بد و رد ونه ويلی شي ، په زير بحث حديث کې د افراط او تفريط تر مينځ د درميانه لارې نشاندهی شوې ده ، په دې باب کې مخکې حديث نمبر ۱۶ راځي په هغه کې خو په واضح طور باندې حضور اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چه ای علی! ستا مثال د حضرت عيسی عليه السلام پشان دی چه په هغه باندې يهودو بهتان وتړلو سب او شتم يې ورته وکړلو او نصاراؤ هغه دومره لوی کړلو چه د خدائی مقام ته يې ورسولو ، په دې احاديثو کې د حضرت علی رض سره د محبت ساتلو ترغيب ، د اعتدال لاره خپلولو او د مخالفت او عداوت نه د بچ کيدلو ترغيب دی چه خارجي او ناصبي مه جوړيږه ! د اهل سنت پشان پاتې شی . شيعو او رافضيه د حضرت علی رضي الله عنه سره د محبت ساتلو دغه ترغيب ته هم غلط رنګ ورکړی دی او هغوی ګمان کوي چه د حضرت علی رضي الله عنه سره د محبت چه کوم ترغيب په احاديثو کې دی دا د نورو صحابو سره د بغض او عداوت دعوت دی، دا د هغوی شيطانی خيال دی او که نه نو د محبت دغه ترغيب د نورو صحابو لپاره هم دی ، ابن عساکر يو حديث نقل کړی دی چه د هغه الفاظ دا دي .د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چه حضور صلی الله عليه وسلم وفرمايل : **حب ابي بكر و عمر من الايمان و بغضهما كفر و حب الانصار من الايمان و بغضهم كفر و حب العرب من الايمان و بغضهم كفر و من سب اصحابي فعليه لعنة الله** . (ابن عساکر)

ياد ساتئ ! محبت يو شی دی او د رتبې او چتوالی بل شی دی ، د حضرت علی رضي الله عنه د محبت مطلب دا نه دی چه نورو صحابوو ته کنځل وکړه ، يا د ابوبکر او عمر رتبه کمه کړه .

د غزوه خيبر په ورځ د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اعزاز

﴿۲﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ خَيْبَرَ

او سهل بن سعد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غزوه خيبر په ورځ وفرمائيل

لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ غَدًا رَجُلًا ، يَفْتَحُ اللهُ عَلٰى

صبا به زه دا بيرغ يو داسي سړي ته وركوم چه د هغه په لاس به الله تعالى فتح را كړي او هغه سړی الله

يَدَيْهِ يُحِبُّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ وَيُحِبُّهُ اللهُ وَرَسُوْلُهُ

او د الله د رسول دوست لري، او الله او د هغه رسول هغه دوست لري ، نو تمامو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دي

فَلَمَّا أَصْبَحَ النَّاسُ غَدَوْا عَلٰى

انتظار او شوق كي ټوله شپه په وينښه تيره كړه چه ګورو صبا له به دا سرفرازي د چا په حصه كي راځي

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّهُمْ يَرْجُوْنَ

كله چې سهار شو نو هر سړی دي ارزو سره د رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت كي حاضر شو چه جنډه به هغه

أَنْ يُعْطَاهَا فَقَالَ أَيْنَ عَلِيُّ بْنُ أَبِيْ طَالِبٍ

ته حاصليږي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ باندي نظر اچولو سره وفرمائيل علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن ابي طالب

فَقَالُوْا هُوَ يَا رَسُوْلَ اللهِ يَشْتَكِيْ

چيرته دی صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وكړو يا رسول الله د سترګو خوږ هغه پريشان كړی دی او د دي عذر

عَيْنَيْهِ قَالَ فَأَرْسِلُوْا إِلَيْهِ فَأُتِيَ

په بنا دلته موجود نه دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل هغه راوغواړئ نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوستل شو

بِهٖ فَبَصَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ عَيْنَيْهِ

رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لعاب دهن د هغوی په سترګو كي واچول نو د هغوی سترګي يو دم داسي ښې

فَبَرَأَ كَأَنْ لَمْ يَكُنْ بِهٖ وَجَعٌ فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ

شوي لكه چه په هغې كي څه تكليف او خرابي د سره نه وه ودي نه روسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوی ته جنډه

فَقَالَ عَلِيٌّ يَا رَسُوْلَ اللهِ أُقَاتِلُهُمْ حَتّٰى

وركړه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل يا رسول الله زه به هغه خلقو د ښمنانو سره هغې پوري جنګيږم څو پوري

يَكُوْنُوْا مِثْلَنَا قَالَ انْفُذْ عَلٰى رِسْلِكَ

چه هغوی زمونږ په شان مسلمانان نشي حضور ﷺ وفرمائيل ځه خونرمي او بردباري سره د دښمنانو

حَتّٰى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَأَخْبِرْهُمْ

علاقي ته ورشه بيا دهغوی نه مخکي هغوی ته د اسلام دعوت ورکړه او هغوی ته د الله هغه حقوق

بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللهِ فِيْهِ فَوَاللهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ

وښايه چه اسلام يې په هغوی عائد کوي ای علي قسم په الله که الله تعالى ستا په ذريعه يو سړي ته

بِكَ رَجُلًا وَّاحِدًا خَيْرٌ لَّكَ مِنْ أَنْ يَّكُوْنَ لَكَ حُمْرُ النَّعَمِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

هم هدايت وکړی زياته بهتر دي. [بخاري مسلم] نو ستا دپاره د حاصليدونکو سرو اوښانو نه او

وَذُكِرَ حَدِيْثُ الْبَرَاءِ قَالَ لِعَلِيٍّ أَنْتَ مِنِّيْ وَأَنَا مِنْكَ

حديث د براء رضي الله عنه چې نبي ﷺ علي رضي الله عنه ته وفرمائيل ته زما نه يي او زه ستا نه يم په

فِيْ بَابِ بُلُوْغِ الصَّغِيْرِ.

باب بلوغ الصغير کي ذکر شوي دی.

توضيح: (يوم خيبر) په سنه ۷ هـ کې د غزوو خيبر واقعه پيښه شوې وو، پينځلس سوو صحابو کرامو په هغې غزوو کې حصه اخيستې وو، په خيبر کې د يهودو څو مضبوطې کلاګانې او مضبوط ځايونه وو، تر يوې مياشتې پورې حضور اکرم ﷺ او صحابو کرام په مورچو کې وو، په دې قلعه ګانو کې کې د قموص يوو مضبوطه قلعه وو، څو کرته صحابو کرامو د هغې د ماتولو کوشش وکړو مګر قلعه فتحه نشوله، په دغه موقع باندې حضور ﷺ وفرمايل چه زه به سبا ته بيرغ د هغه چا په لاس کې ورکړم چه د هغه په لاس باندې به الله تعالى فتحه راولي، هغه شخص به د الله تعالى سره مينه ساتي او الله تعالى به د هغه سره مينه ساتي، هر صحابی د بيرغ حاصلولو تمنا لرله مګر حضور ﷺ دغه اعزاز د حضرت علي رضي الله عنه په لاس کې ورکړو، حضرت علي رضي الله عنه هغه قلعه قموص فتحه کړه او د فاتح خيبر په لقب سره ملقب شو.

(يکونوا مثلنا) د دې مطلب دا دی چه هغه خلک زمونږ په شان مسلمانان شي، يهوديت پريږدي مسلمانان شي، په مثلنا کې تشبيه صرف په مسلمان کيدو کې ده، په ايماني کيفيت کې نه ده ځکه چه د دغه کيفيت تعلق د انسان د خپل خپل اخلاص سره دی، د تبليغي جماعت خلک دا دليل ګرځوي چه په ايماني کيفيت کې تر څو پورې خلک د صحابو په معيار باندې رانشي تر هغه وخته به جهاد نه کيږي، د

. هغوی دا خیال غلط دی ځکه غیر صحابی کله هم د کوم صحابی د ایمان کیفیت حاصلولی نشي او که نه نو بیا د صحابی شان چیرته پاتې شو ؟

د تبلیغی جماعت خلک ددې حدیث نه دا استدلال هم کوي چه دعوت ورکول او د یو چا په هدایت باندې راتلل د سرو اوښانو نه بهتر دي لهذا دعوت ورکوئ ، د جهاد خبره پریږدئ ، د دې خلکو دغه خیال هم غلط دی ځکه حضرت علی رضي الله عنه یوو ساعت مخکې دعوت ورکړو او بیا فورا وجنګیده، هغه رضي الله عنه جهاد پرینښودو سره د دعوت په امید باندې اویا کاله کښیناستلی نه وو لکه څنګه چه د تبلیغی جماعت والا ناست دي او دا واقعه د جهاد منسوخ کیدلو لپاره بیانوي . د حضرت علی رضي الله عنه په دې جمله کې دا اراده وکړه چه د دعوت ورکولو نه بغیر په توره چلولو سره تول مړه کړم او ترڅو پورې چه هغوی مسلمانان شوي نه وي نه به وروسته کیږم ، یعنې په توره سره دعوت وي په ژبه سره نه وي ، حضور صلی الله علیه وسلم په جواب کې وفرمایل (ثم ادعهم) یعنې اول د اسلام دعوت ورکړه ، که قبول یې نکړلو نو بیا د جزیې دعوت ورکړه ، که قبول یې نکړه نو بیا په میدان کې د جنګیدو لپاره تیار شه ، بیا حضور صلی الله علیه وسلم د دعوت فائده بیان کړله چه کچیرې یو کس هم ستا په لاس باندې هدایت ته راشي دا به ستا لپاره د سرو اوښانو نه زیات بهتره وي .

هر مسلمان ته په دې باندې پوو یدل پکار دي چه د خیبر یهودو ته د اسلام دعوت د دینه مخکې رسیدلی وو ، د جهاد په میدان کې د نوی سر نه دغه قسم دعوت ورکول د مستحب په درجه کې دی چه دا د جهاد د آدابو څخه دی، حضرت علی رضي الله عنه چونکې د یو وار حمله کولو جذبه ظاهره کړې وو په دغه وجه حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته د جهاد د آدابو څخه د دعوت ادب بیان کړلو ، کچیرې دلته دعوت واجب وای نو حضور صلی الله علیه وسلم په خیبر کې تقریبا ۲۵ ورځې وجنګیده هغه صلی الله علیه وسلم دا دعوت ولې مخکې نه ورکولو ؟ چه نن حضرت علی رضي الله عنه ته د دعوت ورکولو حکم کولی کیږي ، اصل حقیقت هماغه دی چه د خیبر یهودو ته واجب دعوت رسیدلی وو دا استحبابی دعوت وو کله به ورکولی کیده او کله به نه ورکولی کیده باقی د تبلیغی جماعت والؤ د دعوت د جهاد د دعوت سره څه کار دی ، د هغوی د دعوت خو اول دعوت نه دی بلکه التماس دی چه د مسلمانانو سره خاص دی په دې باندې جهاد موقوف نه دی ، د جهاد نه مخکې چه کوم دعوت وي د هغه درې جملې دي : (۱) مسلمانان شئ (۲) جزیه قبوله کړئ (۳) میدان ته راشئ وجنګیږئ . په دې حدیث کې شیعو هم غلطی کوي چه خیبر صرف حضرت علی رضي الله عنه فتحه کړلو ! دا غلطه ده! حضرت علی رضي الله عنه صرف یوو اهمه قلعه قموص فتحه کړله باقی یو نیم زر صحابو کرامو تر یوې میاشتې پورې جنګ وکړو ، زخمیان او شهیدان شوي وو ، بیا هغوی ته مال غنیمت حاصل شوی وو ، دا څنګه ویل کیدلی شي چه صرف حضرت علی رضي الله عنه خیبر فتحه کړو ، حضرت علی رض خو په احد کې هم وو هلته عارضی شکست ولې راغی ؟

حضرت همدارنګه د حنين په جنګ کې هم وو هلته عارضي شکست ولې راغی؟ غلطه خبره مه کوی! د حضرت علي رضي الله عنه لوی شان دی مګر هغه ته خدای مه وايې، د الله بنده ورته ووايا ست!.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره د حضرت علي رضي الله عنه کمال قرب حاصل ؤ

﴿۴﴾ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ
حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل حقيقت دادی چه
عَلِيًّا مِنِّيْ وَأَنَا مِنْهُ وَهُوَ وَلِيُّ كُلِّ مُؤْمِنٍ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
علي رضي الله عنه زمانه دی اوزه د علي رضي الله عنه نه يم او هغه علي رضي الله عنه د تمام اهل ايمان دوست او مدد ګار دی [ترمذي]

توضيح: (وانا منه) په دې جملې سره حضور صلى الله عليه وسلم د حضرت علي رضي الله عنه سره د کمال قرب او تعلق او اخلاص او اتفاق او په نسب او حسب کې اشتراک طرفته اشاره کړې ده، مطلب دا دی چه علي رضي الله عنه سره زما قرابت هم دی مصاهرت هم دی، محبت هم دی، بيا ياد ساتل پکار دي چه دغه جمله حضور صلى الله عليه وسلم يوائې د حضرت علي رضي الله عنه لپاره فرمايلې نه ده بلکه د سلمان فارسي رضي الله عنه لپاره شته (سلمان مني وانا منه) (عباس مني وانا منه) وغيره وغيره.

وهو ولي: د ولي څو معناګانې راځي چه په هغو کې يو د محبوب معنی هم ده، د حضرت علي لپاره همدا معنی استعمال شوې ده، په راتلونکي حديث کې هم دغه لفظ د همدې محبوب په معنی کې استعمال شوی دی، ددې باب په حديث نمبر ۱۷ کې ددې تفصيل ان شاء الله راځي.

زه چه د چا محبوب يم علي د هغه محبوب دی

﴿۵﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ
حضرت اوزيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل زه چه د چا دوست يم
كُنْتُ مَوْلَاهُ فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.
علي رضي الله عنه هم د هغه دوست دی [احمد او ترمذي]

زما معاهدات به حضرت علي رضي الله عنه پوره کوي

﴿۶﴾ وَعَنْ حُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيٌّ مِنِّيْ
او حضرت حبشي بن جناده رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمائیل علي رضي الله عنه زما نه دی
وَأَنَا مِنْ عَلِيٍّ وَلَا يُؤَدِّيْ عَنِّيْ إِلَّا أَنَا أَوْ عَلِيٌّ.
او زه د علي رضي الله عنه نه یم زما د طرف نه د نبذ عهد ذمه واري دي هیڅوک نه ادا کوي علاوو زما او د علي رضي الله عنه نه
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أَبِيْ جُنَادَةَ.
ترمذي او احمد د اروایت د ابو جناده نه نقل کړی دی.

توضیح: ولا یؤدی عنی: په دې حدیث کې هم حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت علی رضي الله عنه سره خپل کمال قرب بیان کړی دی او په لا یؤدی سره هغه حقیقت ته اشاره ده کوم چه د عربو دستور وو چه کوم شخص به کومه معاهده یا معامله کوله نو هغه به په خپله هغه شخص ختمولی شوله یا د هغه کوم نږدې رشته دار به ختمولی شوه، حضور صلی الله علیه وسلم د خپلو معاملاتو او معاهداتو جوړولو او ماتولو ذمه واری په حضرت علي رضي الله عنه باندې اچولې وو لکه د هجرت په شپه چه حضور صلی الله علیه وسلم حضرت علي رضي الله عنه خپل په ځای پریخی وو تر څو د اماتونو د سپارلو معاملات ختم کړي، بیا د قریشو سره چه کومې معاهدې شوي وې د هغو د ختمولو یا تجدیدولو د اعلان لپاره یې حضرت علي رضي الله عنه د صدیق اکبر رضي الله عنه پسې لیږلی وو.

په دې سفر کې حضرت علی رضي الله عنه **امیر الحج** نهٔ بلکه صرف د اعلان کولو لپاره مکې ته راغلی وو، امیر الحج خو قانوني صدیق اکبر رضي الله عنه وو، په زیر بحث حدیث کې هم حضور صلی الله علیه وسلم واضحه کړه چه زه او علی یو شان یو، زما معاملات او معاهدات زما او د علی نه سوا بل څوک اداء کولی نه شي ،د مولی د لفظ تفصیل په آینده حدیث نمبر ۱۷ کې راځي.

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ آخٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابن عمر رضي الله عنه بیان کوي چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم د خپل صحابو رضي الله عنهم په منځ کې ورورولي قائمه
بَيْنَ أَصْحَابِهٖ فَجَاءَ عَلِيٌّ تَدْمَعُ عَيْنَاهُ فَقَالَ آخَيْتَ
کړه نو حضرت علي رضي الله عنه حضور صلی الله علیه وسلم ته راغی او سترګو نه یې اوښکي رواني وې او عرض یې وکړو

بَيْنَ أَصْحَابِكَ وَلَمْ تُوَاخِ بَيْنِي وَبَيْنَ أَحَدٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يارسول الله تاسو د خپلو صحابو رضي الله عنهم منځ کي ورورولي قائمه کړه ليکن زما ورورولي مو د چاسره
أَنْتَ أَخِيْ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.
قائمه نه کړه دي اوريدو سره رسول کريم صلی الله علیه وسلم هغوی ته وفرمائيل ته زما وروربي په دنيا کي هم او آخرت
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.
کي هم دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چه دا حديث حسن غريب دی.

حضرت علي رضي الله عنه د الله محبوب وُ

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَيْرٌ
او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چي يوه ورځ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم مخ ته پخه کړي مرغۍ ايښو دل شوي وو
فَقَالَ اَللّٰهُمَّ ائْتِنِيْ بِأَحَبِّ خَلْقِكَ إِلَيْكَ يَأْكُلُ مَعِيَ
حضور صلی الله علیه وسلم دعا وغوښتله ای الله ستا مخلوقاتو کي چه څوک تا ته زيات محبوب وي هغه ما ته راوليږې
هٰذَا الطَّيْرَ فَجَاءَهُ عَلِيٌّ فَأَكَلَ مَعَهُ.
چه ما سره د دي مرغۍ غوښه وخوري نو حضرت علي رضي الله عنه راغی او هغوی حضور صلی الله علیه وسلم سره هغه مرغۍ
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
وخوړه دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چه دا حديث غريب دی.

توضيح : (بأحب خلقك) محبوب کيدل يو شی دی او د مقام او چتوالی بل شی دی ، د حضرت علی رضي الله عنه د محبوب کيدلو مطلب دا نه دی چه د هغه نه علاوه د بل چا خليفه جوړول منع وو ، دا شيعو شنيعه د خرافاتو څخه دي، آخر دا حديث خو هم دی چه به انسانانو کي حضور صلی الله علیه وسلم ته حضرت عائشه رضي الله عنها محبوبه وه او په سړيو کي هغه ته د هغې پلار صديق اکبر رضي الله عنه محبوب وو ·

﴿۹﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كُنْتُ إِذَا سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت علي رضي الله عنه وايي ما چي رسول کريم صلی الله علیه وسلم نه کله هم څه شی غوښتی دی نو ما ته يي راکړی دی

أَعْطَانِيْ	وَإِذَا سَكَتُّ	اِبْتَدَأَنِيْ.

او کله چه به زه خاموش وم یعني غوښتلو نه به مي حجاب کولو نو حضور صلی الله علیه وسلم به خپله را کولو

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث غریب دی.

حضرت علي رضي الله عنه د علم دروازه وه

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا دَارُ الْحِكْمَةِ وَعَلِيٌّ بَابُهَا.

او حضرت علي رضي الله عنه وایي د رسول کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی زه د حکمت کور یم او علي د دي کور دروازه ده

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَقَالَ رَوٰى بَعْضُهُمْ

دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث غریب دی هغوی دا هم وویل چه بعضي

هٰذَا الْحَدِيْثَ عَنْ شَرِيْكٍ وَلَمْ يَذْكُرُوْا فِيْهِ عَنِ الصُّنَابِحِيِّ

راویانو دا حدیث د شریک تابعي نه نقل کړی دی لیکن دهغوی د دي حدیث اسنادو کي د صنابحي ذکر نشته څرنګه

وَ لَا نَعْرِفُ هٰذَا الْحَدِيْثَ عَنْ أَحَدٍ مِّنَ الثِّقَاتِ غَيْرَ شَرِيْكٍ.

چه هغوی د نورو روایتونو سلسله اسناد کي د هغه نوم ذکر راځي او دا روایت. د شریک نه علاوه د بل چا نه مونږ نه پیژنو

توضیح: وعلي بابها: په دي حدیث کي د حضرت علی رضي الله عنه فضیلت بیان شوی دی، په علم او قضاء کي الله تعالی حضرت علی رضي الله عنه ته اعلی مقام ور کړی وو لیکن د دي مطلب دا نه دی چه حضرت علي رضي الله عنه یو و دروازه وو او باقی د هیڅ ځای نه د علم د حصول لپاره کومه لاره نه وو ځکه چه د علم لپاره یو و دروازه نه ده ډیري دروازي کیدلی شي په هغو کي حضرت علی رضي الله عنه هم یو و وو او نور صحابو هم وو، آخر حضرت ابن مسعود او حضرت معاذ او حضرت ابی بن کعب هم د قرآن په اعلی ماهرینو کي شمیرل شوي دي.

د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په باره کي دي (وکان اعلمنا) یعني د ټولو نه لوی عالم ابوبکر صدیق رضي الله عنه وو، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم و فرمایل: **اصحابي کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم** د دینه معلومه شوه چه د علم ډیري دروازي دي یو و دروازه نه ده. د جنت اته دروازي دي نو د علم هم ډیري دروازي راتللی شي هر صحابی به د علم او هدایت روښانه مناره وو، محدثینو د زیر بحث حدث نه

تفصیل کې دا الفاظ هم نقل کړي دي : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل : (أَنَا مَدِيْنَةُ الْعِلْمِ وَأَبُوْبَكْرٍ أَسَاسُهَا وَعُمَرُ حِيْطَانُهَا وَعُثْمَانُ سَقْفُهَا وَعَلِيٌّ بَابُهَا)
یعني زه د علم ښار یم او ابوبکر د هغه بنیاد دی ، عمر یې څهار دیواری ده ، عثمان یې چت دی او علی د هغه دروازه ده.

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا يَوْمَ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بیان کوي د غزوو طائف په ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوبللو

الطَّائِفِ فَانْتَجَاهُ فَقَالَ النَّاسُ لَقَدْ طَالَ نَجْوَاهُ مَعَ
او د هغه سره یې په غوږ کې خبرې شروع کړې یعني داسې په نظر راتلو چه څه خاص مسئله باندې یې هغه سره

ابْنِ عَمِّهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
پټې پټې خبرې کولې خلقو وویل د خپل اکاد زوی سره خو رسول الله ډیر وخته پورې په غوږ کې خبرې

مَا انْتَجَيْتُهٗ وَ لٰكِنَّ
وکړې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چه دا واؤ ریدل نو وې فرمائیل چه د علي سره پټې خبرې نه دې کړې بلکې

اللهَ انْتَجَاهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
الله تعالی ورسره کړې دي [ترمذي]

خصوصي فضیلت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ يَا عَلِيُّ
او حضرت ابو سعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته فرمائیلي وو ای علي زما او

لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يُجْنِبُ فِيْ هٰذَا الْمَسْجِدِ غَيْرِيْ وَغَيْرُكَ قَالَ
ستا نه سوا چا له جائز نه دي چه هغه د جنابت حالت کې مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راشي د علي ابن منذر بیان

عَلِيُّ بْنُ الْمُنْذِرِ فَقُلْتُ لِضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ مَا مَعْنٰى هٰذَا
دی چه ما د ضرار ابن صرد نه پوښتنه وکړه د دې حدیث څه مطلب دی نو وغوی راته وښودل د دې معنی

الحَدِيْث	قَالَ	لَا	يَحِلُّ	لِأَحَدٍ	يَّسْتَطْرِقُهٗ	جُنُباً	غَيْرِيْ	
داده چه زما او ستا نه سوا هيڅ سړي د پاره جائز نه دي چه هغه د جنابت په حالت کي مسجد ګزرګاه								
وغيرك	.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ	هٰذَا	حَدِيْثٌ	حَسَنٌ	غَرِيْبٌ.
جوړ کړي او دهغه د ننه ځي راځي دا حديث ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چه دا حديث غريب دی								

توضيح: (لايحل) مطلب دا دی چه د جنابت په حالت کې صرف زه او علی د مسجد په لاره تيريدلی شو کوم بل شخص ته حلال نه دي چه د جنابت په حالت کې په مسجد نبوی کې تير شي ، چونکې د حضور اکرم صلى الله عليه وسلم او د حضرت علی رضي الله عنه د تيريدو لاره په مسجد کې وو د باقی خلکو نه وو په دغه وجه دا خصوصی اجازت ورکړی شو ، همدا وجه ده چه اجازت يې صرف په مسجد نبوی پورې خاص کړو او مسجدی يې وفرمايل بل کوم مسجد ته تګ جائز نه وو ځکه دا مجبوری په بل ځای کې نه وو .

د پيغمبر عليه السلام د حضرت علي رضي الله عنه سره خاص محبت

[illegible]	وَعَنْ	أُمِّ	عَطِيَّةَ	قَالَتْ	بَعَثَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	جَيْشًا فِيْهِمْ
اوبې ام عطيه رضي الله عنها وايي يو وار رسول کريم صلى الله عليه وسلم څه جنګي مهم باندي يو لښکر وليږه چه هغه کي											
[illegible]	قَالَتْ	سَمِعْتُ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ			
حضرت علي رضي الله عنه هم شامل وو د بي بي ام عطيه رضي الله عنها بيان دی په هغه موقع چه حضور صلى الله عليه وسلم لښکر											
[illegible]	رَافِعٌ	يَدَيْهِ	يَقُوْلُ								
[illegible] ليږلو يا د لښکر د وايسي ورځ قريب وو ما رسول کريم صلى الله عليه وسلم لاس او چتولو سره دا دعا کول											
[illegible]	لَا	تُمِتْنِيْ	حَتّٰى								
يا الله [illegible] وريدل الهي ماته هغه وقته پوري مرګ مه راولي څو پوري چه ته علي رضي الله عنه سلامتيا سره بيرته											
تُرِيَنِيْ عَلِيًّا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ											
راتلو سره ماته ونه ښايې [ترمذي]											

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

حضرت علي رضي الله عنه سره محبت د ایمان نښه ده

﴿۱۴﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايُحِبُّ عَلِيًّا مُنَافِقٌ
بي بي ام سلمه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائيل علي رضي الله عنه سره منافق محبت نه لري او كامل
وَلَا يُبْغِضُهُ مُؤْمِنٌ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ
مؤمن علي رضي الله عنه سره بغض او دښمني نه لري دا روايت احمد او ترمذي نقل کړی دی او ترمذي
وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ إِسْنَادًا
ويلي دي چه دا حديث په اعتبار د اسنادو سره غريب دی.

توضیح : (مؤمن) يعنې د حضرت علي رضي الله عنه سره محبت ساتل د هر مسلمان د ايمان علامت دی، دلته دا خبره ملحوظ نظر ساتل پکار دي چه د محبت ساتلو لپاره شريعت يو معيار مقرر کړی دی، په دغه معيار باندې چه کوم محبت وي هغه به د ايمان علامت وي، هغه محبت هرګز مطلوب نه دی چه د شريعت د قواعدو منافي وي لکه څنګه چه د شيعو روافضو مصنوعی محبت وي چه حضرت علی رض د الوو يت په درجه باندې فائز کوي، د هغه نه مدد غواړي بلکه هغه د انبياؤ څخه اعلی مني، هغه وصی رسول الله مني او نور نور خرافات وايې او د هغه په نقش قدم يعنې شريعت باندې تګ نه کوي، د روافضو لوی لوی امامان او حجت الله ډيرې کموي، چه کله د دوی د امامانو دا حال دی نو د مقتديانو به يې څه حال وي.

حضرت علي رضي الله عنه ته کنځل کول حضور صلی الله علیه وسلم ته کنځل کول دي

﴿۱۵﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَبَّ عَلِيًّا
او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمائيل کوم سړی چه د علي رضي الله عنه ته بد وويل
فَقَدْ سَبَّنِيْ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.
هغه در حقيقت ماته بد وويل [احمد]

توضیح : (سبنی) يعنې حضرت علی رضي الله عنه ته کنځل کول حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته د کنځل کولو مترادف دي او حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ته کنځل کول کفر دی لهذا علی رض ته کنځل کول کفر دی،

کچیرې څوک دغه کنځل حلال وګڼي نو دا کفر دی او که ګناه یې ګڼي نو دا ګناه کبیره ده بیا دا کلام په وعید شدید او تغلیظ او تشدید باندې محمول دی، په یو بل حدیث کې دي (مَنْ سَبَّ اَصْحَابِيْ فَعَلَيْهِ لَعْنَةُ اللهِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِيْنَ) او په یو حدیث کې دي (مَنْ سَبَّ الْاَنْبِيَاءَ قُتِلَ وَمَنْ سَبَّ اَصْحَابِيْ جُلِدَ).

د حضرت علي رضي الله عنه یو مثال او یوه پیشنګویي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْكَ مَثَلٌ مِّنْ عِيْسٰى

او حضرت علي رضي الله عنه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وفرمائیل پتا کې د عیسی علیه السلام سره یو قسم مشابهت

اَبْغَضَتْهُ الْيَهُوْدُ حَتّٰى بَهَتُوْا اُمَّهٗ

دی یهودیانو د هغه سره بغض او عناد وساته نو دومره زیات یې وساته چه د هغه مور باندې بهتان وتړه

وَاَحَبَّتْهُ النَّصَارٰى حَتّٰى اَنْزَلُوْهُ بِالْمَنْزِلَةِ

او عیسایانو هغه سره محبت او تعلق قائم کړه نو دومره زیات او دغلو سره یې قائم کړه چه هغه یې

الَّتِيْ لَيْسَتْ لَهٗ ثُمَّ قَالَ يَهْلِكُ

هغه مقام ته ورسولو چه هغه دپاره ثابت نه ده دې حدیث بیانولو نه روسته حضرت علي رضي الله عنه وویل

فِيَّ رَجُلَانِ مُحِبٌّ مُفْرِطٌ يُقَرِّظُنِيْ

دوو سړیو یعني دوو ډلې داسې هلاک شي چه هغوی کې به یو خو زما سره محبت لري او هغه محبت کې

بِمَا لَيْسَ فِيَّ وَمُبْغِضٌ يَحْمِلُهٗ

به د حد نه متجاوز شي ما به د هغه خوبیانو او لوییو حامل ګرځوي چې په ما کې به نه وي او یوه ډله

شَنَاٰنِيْ عَلٰى اَنْ يَبْهَتَنِيْ. رَوَاهُ اَحْمَدُ.

به ما سره بغض او عناد لري زما دښمنې نه مغلوب کیدو سره په ما به بهتان تړي [روایت کړې دې احمد]

توضیح: (محب مفرط) محبت هغه معتبر دی چه معتدل وي او د قاعدې او قانون مطابق وي، د بعضو شخصیاتو سره خلکو داسې معامله کړې چه یو فریق د محبت په جوش کې هغه د عابد د مقام څخه پورته کړی د معبود په مقام باندې یې درولی او دویم فریق د عداوت په جذبه کې د عابد او بندګۍ د درجې نه هم غورځولی، د حضرت عیسی علیه السلام سره یهود او نصاری همدا سې د افراط تفریط

معامله وکړه ، بیا د حضرت علی رضي الله عنه سره شیعو او خوارجو همداسې د افراط او تفریط معامله وکړه ، په زیر بحث حدیث کې حضور صلی الله علیه وسلم همدې حقیقت ته اشاره فرمایلې ده چه د حضرت علی رضي الله عنه په باره کې به دوو فریقه وي لکه څنګه چه د حضرت عیسی علیه السلام په باره کې دوو فریقه شول ، دواړو د افراط او تفریط نه کار واخیستلو او ګمراه شول ، حضرت علی رضي الله عنه پخپله ددې نور وضاحت فرمایلی دی چه زما په باره کې به دوو فریقه هلاک شي ، د هغو څخه یوو یې شیعو روافض دي چه د محبت نعره لګولو کې ګمراه او هلاک شول ، دوو م خوارج او ناصبه دي چه په بغض او عداوت کې ګمراه شول ، اهل سنت والجماعة په لاره د اعتدال باندې محفوظ او سالم پاتې شول.

(یقرظنی) دا د باب تفعیل تقریظ څخه دی ای یمدحنی یعنې د حد نه زیات زما تعریف کولو والا به وي او زما شان به د انبیاؤ او عامو صحابو څخه لوی پیش کونکي یا ما به د الوو یت درجې ته رسونکي وي کوم شیان چه زما د شایان شان سره لائقه نه وي هغه به ما ته منسوبوي . (شنآنی) یعنې په زړه کې زما سره نفرت او بغض ساتلو والا حتی چه په ما باندې بهتان تړلو والا وي . په مسند احمد کې امام احمد رحمه الله یو روایت نقل کړی دی چه د هغه الفاظ دا دي : قال علی یحبنی اقوام حتی یدخلوا النار فی حبی و یبغضنی اقوام حتی یدخلوا النار فی بغضی ، د حضرت علی رضي الله عنه یو دعاء هم امام احمد رحمه الله داسې نقل کړې ده : **قال علی اللهم العن کل مبغض لنا و کل محب لنا غال** ، په دې روایاتو سره به شیعو په ډیر مشکل کې پریوځي کچیرې هغوی عقل لري.

د غدیر خم واقعه

﴿۱۷﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا نَزَلَ بِغَدِيْرِ						
حضرت براء بن عازب رضي الله عنه او زید بن ارقم رضي الله عنهم روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم چه غدیر خم کې پړاؤ واچوو						
خُمٍّ	أَخَذَ	بِيَدِ	عَلِيٍّ	فَقَالَ	أَلَسْتُمْ	
نو حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت علي رضي الله عنه لاس خپل لاس کي ونیوه او وي فرمایل ای زما اصحابو په دې خو						
تَعْلَمُوْنَ	أَنِّيْ	أَوْلٰى	بِالْمُؤْمِنِيْنَ	مِنْ	أَنْفُسِهِمْ	قَالُوْا
تاسو پوهیږئ چه د اهل ایمانو په نزد زه د هغوی د ځانونو نه هم ورته زیات عزیزیم ټولو عرض وکړو						
بَلٰى	قَالَ	أَلَسْتُمْ	تَعْلَمُوْنَ	أَنِّيْ	أَوْلٰى	بِكُلِّ مُؤْمِنٍ
چه هو دي نه روسته حضور صلی الله علیه وسلم داسي وفرمائیل تاسو پوهیږی چه زه د یو یو مؤمن په نزد د هغه د ځان						

مِنْ نَفْسِهِ قَالُوْا بَلٰى فَقَالَ اَللّٰهُمَّ مَنْ كُنْتُ مَوْلَاهُ
نه هم زيات عزيزيم صحابو رضي الله عنه عرض وکړو چه هو يا حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل اى الله د کوم سړى چه زه
فَعَلِيٌّ مَوْلَاهُ اَللّٰهُمَّ وَالِ مَنْ وَّالَاهُ وَعَادِ مَنْ عَادَاهُ
دوست يم علي رضي الله عنه د هغه دوست دى الٰهي ته هغه سړى دوست وساتي چه علي رضي الله عنه دوست لري او ته
فَلَقِيَهُ عُمَرُ بَعْدَ ذٰلِكَ فَقَالَ هَنِيْئًا
هغه سړي خپل دښمن وګرځوي چه علي رضي الله عنه سره دښمني ساتي دې واقعي نه روسته حضرت عمر رضي الله عنه
يَا ابْنَ أَبِيْ طَالِبٍ أَصْبَحْتَ وَأَمْسَيْتَ
چې حضرت علي رضي الله عنه سره يو ځاي شو نوو غوى ته يي وويل اى ابن ابي طالب مبارک دي وي ته خو
مَوْلٰى كُلِّ مُؤْمِنٍ وَّمُؤْمِنَةٍ. رَوَاهُ اَحْمَدُ.
سهار وخت کي هم او ماښام وقت کي هم د هر مسلمان سړي او ښځي دوست او محبوب يي .[احمد]

توضيح : (بغدير خم) د مکې او مدينې په مينځ کې يو ځاى جحفه دى چه هغه ته نن سبا رابغ وايې ، ددې رابغ سره يو ځاى دى هغه ته (غدير خم) وايې ، دا د شارع قديم بدر په لاره چه تير شې مکه مکرمه ته تقريبا د ۹۰ کلو ميټر په فاصله باندې واقع دى . (**من كنت مولاه فعليٌّ مولاه**) دغه قسم الفاظ د دينه مخکې حديث نمبر ۵ کې هم تير شوي، دا حديث د حضرت على رضي الله عنه په فضيلت کې دى، په دې کې يو لفظ (اولى) او بل لفظ (مولى) دى .

سوال : شيعو په دې روايت کې لفظ د مولى د اولى بالخلافة او د خليفه په معنى سره اخلي ، هغوى وايې چه حضرت على رض خليفه هم وو يعنې د حضور صلى الله عليه وسلم نه بعد د هغه خلافت وو خلفاء ثلاثو او صحابو د هغه نه دغه حق غصب کړلو ، شيعو وايې چه دغه حديث د على رضي الله عنه په خلافت باندې نص صريح او دليل قاطع دى آيا واقعى هم همداسې ده ؟

جواب : د شيعو د دغه غلط سوچ يو جواب دا دى چه د مولى لفظ په ډيرو معناګانو کې استعماليږي مثلا مالک ، ناصر ، محب، رب ، آقا ، دوست ، آزاد شوى غلام ، او د تره په ځوى باندې هم د مولى د لفظ اطلاق کيږي، اوس دلته په دې حديث کې د دغو معانيو څخه د محب او محبوب معنى اخيستل زيات واضحه او د حديث سياق او سباق ته نږدې دى او د نورو رواياتو سره هم موافقه ده چيرته چه د حضرت على رضي الله عنه سره د محبت ساتلو حکم دى ، مطلب دا شو چه حضور صلى الله عليه وسلم فرمايې چه

کوم شخص زما سره محبت ساتي هغه دي د علی رضي الله عنه سره هم محبت وساتي ، ای الله ! چه څوک د علی سره محبت ساتي ته هم د هغه سره محبت وساته او څوک چه د علی سره بغض ساتي ته هم د هغه سره بغض وساته . په دې مطلب کې د چا اختلاف کیدی شي ؟

دویم جواب دا دی چه د ولایت علی د ثبوت لپاره د شیعو د اصولو او قواعدو مطابق د نص قطعی او حدیث متواتر ضرورت وي حالانکه دا حدیث متواتر نه دی او نه قطعی نص دی ځکه چه د اهل لغت والاؤ څخه هیچا هم د مولی معنی خلافت اخیستی نه دی .

دریم جواب دا دی چه ځه فرضه کړه چه د مولی معنی د حاکم او خلیفه ده نو بیا ددې حدیث دا معنی کول پکار دي چه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایې چه زه د چا خلیفه یم علی هم د هغه خلیفه دی ، ای الله ! ته هم د هغه شخص والی جوړ شه څوک چه د علی والی او حاکم وي ، حالانکه دا ترجمه غلطه ده ، د نقصان ددینه راغی چه مولی د حاکم او خلیفه په معنی سره واخستلی شو ، کچیرې مولی د محب او محبوب په معنی سره واخیستلی شي نو د ټول حدیث مطلب صحیح کیږي .

څلورم جواب دا دی چه کله په دې لفظ کې د علی رضي الله عنه د ولایت او حاکمیت تصریح وو نو حضرت علی رضي الله عنه د خلفاء ثلثو په دور کې په دې سره د خپل خلافت لپاره استدلال ولې ونکړو؟ حالانکه د حضرت عثمان رضي الله عنه سره خو په شوری کې باقاعده منتخب شوی وو ، په دغه وخت کې ددې حدیث د پیش کولو ضرورت خو هم وو او بل مانع هم موجود نه وو ، معلومه شوو چه په لفظ د مولی کې د خلافت مفهوم نشته البته د محبت او محبوب معنی په دې کې شته او د همدې محبت تذکره حضور صلی الله علیه وسلم کړې ده ځکه په آینده کې راتلونکي واقعاتو کې د حضرت علی رضي الله عنه ذات متنازع جوړیدونکی وو او د خوارجو او منافقینو له طرفه د هغه سره د عداوت فضاء پیدا کیدونکې وو چه دیته په کتلو حضور صلی الله علیه وسلم د مخکې نه تنبیه وفرمایله . په هر حال د اسلام په باره کې د شیعو ګانو علم غلط شوی دی او د علم غلط کیدو سره انسان ګمراه کیږي حالانکه په عملی ګناه سره انسان صرف ګناهګار جوړیږي .

د فاطمي رضي الله عنها سره د حضرت علي رضي الله عنه نکاح

﴿۱۸﴾	وَعَنْ	بُرَيْدَةَ	قَالَ	خَطَبَ	أَبُو	بَكْرٍ	وَعُمَرُ	فَاطِمَةَ	فَقَالَ

او حضرت بریده رضي الله عنه وایي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه فاطمي رضي الله عنها سره د نکاح پیغام

رَسُولُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	إِنَّهَا صَغِيْرَةٌ

ورکړو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل چه هغه کم عمره ده او بیا چي حضرت علي رضي الله عنه فاطمي رضي الله عنها

...مَ	خَطَبَهَا	عَلِيٌّ	فَزَوَّجَهَا	مِنْهُ.	رَوَاهُ	النَّسَائِيُّ.

...سره د خپلي نکاح پیغام ورکړو نو حضور صلی الله علیه وسلم هغوی سره د فاطمې رضي الله عنها نکاح وکړله [نسايي]

...ضیح: په تفصیلی روایاتو کې دي چه کله د حضرت فاطمه رض رشته د حضرت ابوبکر او عمر ...اروق رضي الله عنهما سره ونشوو نو دوی دواړو حضرت علی رضي الله عنه آماده کړلو چه ته لاړ شه د نکاح پیغام ...رکړه، حضرت علی رضي الله عنه چه کله د نکاح پیغام ورکړو نو حضور اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل چه د الله ...عالی هم همدا حکم دی چه زه د فاطمې نکاح د علی سره وکړم، بیا هغه صلی الله علیه وسلم د دواړو نکاح ...تړله، په دې حدیث کې د حضرت علی رضي الله عنهما د فضیلت او شان بیان دی، په بعضو روایاتو کې دي ...په ام ایمن حضرت علی رضي الله عنه ته ترغیب ورکړلو، په هرحال د الله تعالی همدا حکم وو چه د فاطمه ...رضي الله عنها نکاح د حضرت علی رضي الله عنه سره وشي.

مسجد کې د حضرت علي رضي الله عنه دروازه

﴿۱۹﴾	وَعَنِ	ابْنِ	عَبَّاسٍ	أَنَّ	رَسُوْلَ	اللّٰهِ	صَلَّى	اللّٰهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	أَمَرَ
او حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم مسجد نبوي کې دننه د حضرت علي رضي الله عنه											
بِسَدِّ	الْأَبْوَابِ	إِلَّا	بَابَ	عَلِيٍّ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ				
د دروازي نه علاوو نوري ټولي دروازي بندي کړلي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي يي دي											
هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.											
چه دا حدیث غریب دی.											

توضیح: د دینه مخکې په مناقب ابی بکر کې دغه قسم یو حدیث تیر شوی دی چه حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه علاوو د نورو ټولو هغو دروازو بندولو حکم وکړلو کومې چه مسجد ته خلاصیدلې، صرف د حضرت ابوبکر رضي الله عنه دروازه يې باقی پاتې کړه، دلته په دې حدیث کې د حضرت علی رضي الله عنه په باره کې دي چه د هغه د دروازې نه علاوو دي ټولې بندي شي په دواړو حدیثونو کې دا واضح تضاد دی. مګر علماؤ دا جواب ورکړی دی چه د زیر بحث حدیث تعلق د مخکې زمانې سره دی او د دینه بعد په مرض وفات کې يې چه هغه نوی حکم وفرمایلو نو په هغه کې يې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د دروازې نه علاوو د ټولو د بندولو حکم وفرمایلو، بل دا هم ممکنه ده چه په یوو زمانه کې د حضرت علی رضي الله عنه د دروازې خلاصې پرېښودو اجازت شوی وي هغه اجازت باقی وو چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته هم اجازت ورکړی شو نو د دې نوي اجازت تعارض د هغه

ځکني اجازت سره نشته، دواړه اجازتونه په خپل خپل ځای باندې وو هیڅ تعارض نشته.

دقربت او بې تکلفي خصوصي مقام

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ كَانَتْ لِيْ مَنْزِلَةٌ مِّنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ

او حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دی هغوی بیان وکړو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نظر کې ماته یو داسې قدر

تَكُنْ لِأَحَدٍ مِّنَ الْخَلَائِقِ آتِيْهِ بِأَعْلٰى سَحَرٍ

او منزلت حاصل وو چه خلقت کې بل چاته حاصل نه وو زه به حضور صلی الله علیه وسلم ته سحر دوخته بالکل تیاره

فَأَقُوْلُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللهِ فَإِنْ

کې ورتلم ویل به مې السلام علیک یانبي الله که حضور صلی الله علیه وسلم به زما سلام اوریدو سره غاړه تازه کړله

تَنَحْنَحَ انْصَرَفْتُ إِلٰى أَهْلِيْ

نو مابه دې ګڼلو سره چې داوقت حضور صلی الله علیه وسلم څه مشغولیت کې دی نو کورته به بیرته راتلم او که

وَإِلَّا دَخَلْتُ عَلَيْهِ. رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

حضور صلی الله علیه وسلم به غاړه تازه نه کړله نو زه به بې تکلفه حضور صلی الله علیه وسلم ته ورتلم. [نسايي]

﴿۲۱﴾ وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ شَاكِيًا فَمَرَّ بِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت علي رضي الله عنه بیان کوي چې یو وار زه سخت مریض شوم حضور صلی الله علیه وسلم په ماتیریدلو هر کله چې

وَأَنَا أَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَجَلِيْ قَدْ حَضَرَ فَأَرِحْنِيْ

مرض د شدت نه بې تابه کیدو سره په لوړ اواز دادعا مې کوله الهي که زما د مرګ وخت راغلی وي

وَإِنْ كَانَ مُتَأَخِّرًا فَارْفَعْنِيْ وَإِنْ كَانَ بَلَاءً فَصَبِّرْ

نو ماته نجات او ابدي سکون راته عطا کړې او که اوس وخت نه دی راغلي نو صحت بحال کولو سره

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْ

ماته راحت او آرام راکړې او که دا بیماري امتحان او ازمائش دي نو ماته د صبر او آزمائش برداشت

قُلْتَ قَالَ فَأَعَادَ عَلَيْهِ مَا قَالَ

کولو قوت راکړې چه زه د بې تابۍ او بې قرارۍ اظهار ونه کړم رسول الله صلی الله علیه وسلم چې زمانه داد

فَضَرَبَهُ بِرِجْلِهِ وَقَالَ
واوريده نو وي فرمائيل چې تا څه دعا غوښته ما ددعا الفاظ د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکي بيا راوګرځول
اَللّٰهُمَّ عَافِهِ أَوِ اشْفِهِ شَكَّ
حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددعا الفاظ اوريدو نه روسته خپلي پښې سره علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ديکه ورکړه او بيا داسي
الرَّاوِيْ قَالَ فَمَا اشْتَكَيْتُ
دعايي وفرمائيله الٰهي علي ته عافيت عطا کړي يا دايي وفرمائيل چه ده ته شفا ورکړي دا دراوي
وَجَعِيْ بَعْدُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
اظهار شک دی حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روسته بيا ماته هغه بيماري هيڅ
وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ
کله لاحق نشوو دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې چه دا حديث حسن صحيح دی.

حب النبي رسول الله مفترض — و حب اصحابو نور ببرهان

من كان يعلم ان الله خالقه — لايرمين ابابكر ببهتان

ولا اباحفص الفاروق صاحبه — ولا الخليفة عثمان بن عفان

اما علي فمشهور فضائله — والبيت لايبتنى الا باركان

باب مناقب العشرة المبشرة رضي الله عنهم
د عشره مبشرو د مناقبو بيان

العشرة لسو ته ويل کيږي او المبشرة د بشارت او خوشخبرۍ په معنی سره دی ، مطلب دا دی چې هغه لس خوش قسمته او خوش نصيبه نفوس قدسيه چې هغو ته د هغوی په ژوند کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنت خصوصی بشارت اوروليو ، په دې سلسله کې صاحب د مشکوة ټول احاديث جمع کړي دي او د يو عنوان لاندې يې درج کړي دي چې ډير عمده انداز دی ، په دې ترتيب کې دا خفی اشاره پرته ده چې د صحابو په جماعت کې د ټولو نه افضل خلفاء راشدين دي او بيا عشره مبشره دي ، د دغو نفوس قدسيو نومونه په راتلونکي حديث نمبر ۱۱ کې په دې ترتيب سره ذکر دي (۱) حضرت ابوبکر (۲) حضرت عمر فاروق (۳) حضرت عثمان (۴) حضرت علی (۵) حضرت طلحه (۶) حضرت زبير (۷) حضرت عبدالرحمن بن عوف (۸) حضرت سعد بن ابی وقاص (۹) حضرت سعيد بن زيد (۱۰) حضرت ابوعبيده بن الجراح رضی الله عنهم.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ
د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وروسته د خلافت قابل خلک

﴿۱﴾ عَنْ عُمَرَ قَالَ مَا أَحَدٌ أَحَقَّ بِهٰذَا الْأَمْرِ مِنْ هٰؤُلَاءِ
حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی هغوی فرمائيلي وو دې امر يعني د منصب خلافت د دې خلقو
النَّفَرِ الَّذِيْنَ تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَنْهُمْ رَاضٍ
نه زيات څوک مستحق نه دی چې هغوی نه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راضي او خوشحاله د دې دنيا نه تشريف
فَسَمّٰى عَلِيًّا وَعُثْمَانَ وَالزُّبَيْرَ وَطَلْحَةَ وَسَعْدًا
يو وړو او بيا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا نومونه واخستل [۱] علي [۲] عثمان [۳] زبير [۴] طلحه [۵] سعد
وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .
[۶] عبدالرحمٰن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ [بخاري]

توضيح: په حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې چې کله قاتلانه حمله وشوله نو هغه د ځان نه وروسته د خلافت لپاره د شپږو اشخاصو يوه شورا جوړه کړه چې د دوی نه دې يو خليفه جوړ کړی شي ځکه د دغو خلکو نه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راضی ؤ ، هغه خپل ځوی عبد الله بن عمر په طور د مبصر

دکیناستلو اجازت وفرمایلو مګر د چا د رأیې اخیستلو یا ورکولو یا د انتخاب په کومه معامله کې د هغه شرکت منع کړی وو، هغه څو مسلح افراد د شوری د کوټې نه بهر اودرول او ویې فرمایل چې تر څو پورې د خلافت کار تمام شوی نه وي چا ته د بهر وتلو اجازت ورنه کړئ.

د حضرت طلحه رضي الله عنه جانثاري

﴿۲﴾ وَعَنْ قَيْسِ بْنِ خَازِمٍ قَالَ رَأَيْتُ يَدَ طَلْحَةَ شَلَّاءَ	
او حضرت قيس بن ابي حازم رضي الله عنه وايي ما د حضرت طلحه رضي الله عنه هغه لاس اوليدلو چې هغه بالکل	
وَقَى بِهَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.	
بیکاره او شل وو هغه په دې لاس د غزوه احد په ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم د کفارو نه بچ کړی وو [بخاري]	
﴿۳﴾ وَعَنْهُ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	
او حضرت جابر رضي الله عنه وايي د غزوه احزاب يعني غزوه خندق په موقع يوه ورځ نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل	
مَنْ يَأْتِينِي بِخَبَرِ الْقَوْمِ يَوْمَ الْأَحْزَابِ قَالَ الزُّبَيْرُ أَنَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	
کوم سړی دی چې د دښمن خلقو خبر ماته راوړي زبير رضي الله عنه وويل زه به يې راوړم بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم	
إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَحَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.	
وفرمائيل د هر نبي حواري وي او زما حواري زبير رضي الله عنه دی [بخاري ومسلم]	

توضیح: (یوم الاحزاب) د دینه د جنګ خندق واقعه مراد ده، د قریش کفارو تقریبا تر یوې میاشتې مدینه منوره محاصره کړې وه، حضور ﷺ وغوښتل چې کوم صحابي لاړ شي او د کفارو خفیه خبر راوړي تر څو مونږ ته معلومه شي چې د هغوی څه اراده ده، هغه د دې مقصد لپاره اعلان وفرمایلو چې څوک تللو ته تیار دی، د سختې یخنۍ ورځې وې، د شپې وخت وو، تیاره وه، د دښمن خطره وه نو په بار بار اعلان باندې به صرف حضرت زبیر رضي الله عنه پورته کیده او د تګ لپاره به تیاریده، د حضور ﷺ اراده د کوم بل چا د لیږلو وه نو حضرت زبیر رض به یې کیناوه بیا به یې اعلان وکړو، په آخر کې هغه د حضرت حذیفه بن یمان نوم واخیستلو او هغه یې روان کړلو او د حضرت زبیر رضي الله عنه په تعریف او اعزاز کې وفرمایل چې دا زما حواری دی، حواری خاص دوست ته ویل کیږي، د حضرت عیسی علیه السلام خاصو ملګرو ته حواریون ویل کیږي، حضرت زبیر رضي الله عنه په جنګ جمل کې شهید شوی وو او په بصره کې د هغه قبر دی، ابن جرموز ملعون هغه شهید کړو.

﴿۴﴾ وَعَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَأْتِيْ بَنِيْ قُرَيْظَةَ

او حضرت زبير رضي الله عنه وايي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل څوک دى چي دبني قريظه يهوديانو ته لاړ شي

فَيَأْتِيْنِيْ بِخَبَرِهِمْ فَانْطَلَقْتُ فَلَمَّا رَجَعْتُ جَمَعَ لِيْ

او دهغوى باره كي ضروري معلومات ماته راوړى نو دحضور صلى الله عليه وسلم دي ارشاد اوريدو سره زه روان شوم

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَوَيْهِ

او هركله چي دهغوى په باره كي معلوماتو حاصلولو سره بيرته راغلم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل مور او

فَقَالَ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

پلار دواړه په ماجمع كړل حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل زما مور پلار دي په تا قربان وي. [بخاري ومسلم]

توضيح: (فانطلقت) د بنو قريظه په واقعه كې حضرت زبير رضي الله عنه خبر راوړلو لپاره تللى وو ليكن په غزوه احزاب كې حضرت حذيفه رضي الله عنه تللى وو، حضرت زبير رضي الله عنه ته حضور اكرم ﷺ اجازت وركړې نه وو، د بنو قريظه سره د جنګ واقعه د جنګ خندق نه وروسته پيښه شوې وه.

دحضرت سعد رضي الله عنه فضيلت

﴿۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَعَ أَبَوَيْهِ

او حضرت علي كرم الله وجهه وايي ما دنبي كريم صلى الله عليه وسلم نه دچا دپاره خپل مور پلار جمع كول نه دى

لِأَحَدٍ إِلَّا لِسَعْدِ بْنِ مَالِكٍ. فَإِنِّيْ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ يَوْمَ

اوريدلي علاوه دسعد بن مالک رضي الله عنه نه چنانچي دجنګ احد په ورځ ما دحضور صلى الله عليه وسلم نه دا فرمائيل

أُحُدٍ يَا سَعْدُ ارْمِ فِدَاكَ أَبِيْ وَأُمِّيْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

واوريدل سعد تير چلوه زما مور پلار دي په تا صدقه وي. [بخاري ومسلم]

دالله په لاركي دټولو نه مخكي تير حضرت سعد چلولى وو

﴿۶﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ إِنِّيْ لَأَوَّلُ الْعَرَبِ رَمٰى بِسَهْمٍ

او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وايي زه اولنى عرب مسلمان يم چاچي دالله تعالى په لاركي

فِيْ سَبِيْلِ اللهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

تير ويشتلى دى. [بخاري ومسلم]

توضیح: حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د عشره مبشره څخه دی ، د عراق فاتح دی ، د کوفې گورنر وو ، یو څو خلکو په هغه باندې بې ځایه اعتراضونه وکړل ، حضرت عمر رضی الله عنه تفتیش لپاره راوغوښته ، هغه د خپل ځان څو خصوصیات ذکر کړل ، د هغو خصوصیاتو نه یو دا وو چې زه اول هغه شخص یم چې په جهاد فی سبیل الله کې په کفارو باندې ما غشی استعمال کړلو ، مونږ د اسلام لپاره ډیر مشقتونه تیر کړي دي نن دغه خلک په ما باندې د اسلام په باره کې د کوتاهۍ الزام لگوي ، کچیرې داسې وي بیا خو زما تباهي ده . په هر حال په سنه ۱ھ کې د عبیدبن حارث سریه د اسلام اوله سریه وه ، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل لاس د هغو لپاره جنگي بیرغ وتړلو او شپیته کسان یې د جهاد لپاره ولیږل ، په هغې کې حضرت سعد رضی الله عنه اول غشی په کفارو باندې وچلولو .

فداک ابي وامي: حضور صلی الله علیه وسلم د بعضو صحابو لپاره د فداک ابی لفظ استعمال کړی دی لیکن د امی لفظ یې استعمال کړی نه دی ، د حضرت سعد رضی الله عنه او حضرت زبیر رضی الله عنه لپاره یې د امی لفظ هم استعمال کړی دی ، په دغه وجه به دغو حضراتو دا د خپل ځان لپاره لوی اعزاز گرځولو .

﴿۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَهِرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْدَمَهُ الْمَدِيْنَةَ
اوبي بي عائشه رضی الله عنها بیان کوي رسول کریم صلی الله علیه وسلم یو واریو غزا نه مدینې ته بیرته راتلو سره د دین د

لَيْلَةً فَقَالَ لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا يَحْرُسُنِيْ
دښمنانو نه د خطري په سبب د شپې اوده نه شو او بیا حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل کاش چې یو نیک بخت

اِذْ سَمِعْنَا صَوْتَ سِلَاحٍ
سړی نن شپه زما څوکیدار کړي وی حضور صلی الله علیه وسلم دا فرمائیلي وو چې اچانک مونږ د اسلحو اواز

فَقَالَ مَنْ هٰذَا قَالَ اَنَا سَعْدٌ قَالَ
واورېدو حضور صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه څوک دی؟ جواب وشو زه سعد رضی الله عنه یم حضور صلی الله علیه وسلم پوښتنه ورنه

مَا جَاءَ بِكَ قَالَ وَقَعَ فِيْ نَفْسِيْ خَوْفٌ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
وکړه دلته ته څرنگه راغلی ؟ سعد رضی الله عنه وویل زما زړه کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نسبت خوف پیدا شو نو زه

فَجِئْتُ أَحْرُسُهُ فَدَعَا لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
دلته حاضر شوی یم چې ستاسو څوکیداري وکړم دي اورېدو سره حضور صلی الله علیه وسلم سعد رضی الله عنه ته دعاگاني وکړي

ثُمَّ نَامَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
او اطمینان سره اوده شو .

﴿۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِيْنٌ وَأَمِيْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ
او حضرت انس رضی الله عنه وايي چې رسول كريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل د هر اُمت يو امين وي او ددې امت امين
أَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
ابو عبيده بن الجراح دی. [بخاري ومسلم]

توضيح: د حضرت ابو عبيده نوم عامر بن عبدالله بن الجراح دی، په رشته کې د حضور صلى الله عليه وسلم ماما دی، خپل پلار يې په جنګ بدر کې قتل کړی وو په دې باندې هغه ته د امين هذه الامة لقب ورکړلی شو، د عمر رضی الله عنه په دور کې په شام کې په طاعون عمواس کې وفات شو.

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ أَبِيْ مُلَيْكَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَائِشَةَ وَسُئِلَتْ
او حضرت ابن ابي ملكيه وايي ما د بي بي عائشې رضی الله عنها نه هغه وقت واوريدل كله چې هغه نه پوښتنه
مَنْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْلِفًا لَوِ
وشوه چې فرض كه كه رسول الله صلى الله عليه وسلم خلافت دپاره صراحةً څوک کاندید کولی نو ستا نظر انتخاب
اسْتَخْلَفَهُ قَالَتْ أَبُوْ بَكْرٍ فَقِيْلَ ثُمَّ مَنْ بَعْدَ أَبِيْ بَكْرٍ؟
به په چا پريوته بي بي عائشې رضی الله عنها جواب كي وويل په حضرت ابو بكر رضی الله عنه بيا پوښتنه وشوه د ابو بكر رضی الله عنه
قَالَتْ عُمَرُ قِيْلَ مَنْ بَعْدَ
نه روسته به يې څوک کاندید فرمائيل بي بي عائشې رضی الله عنها وويل په عمر رضی الله عنه بيا پوښتنه ورنه وشوه
عُمَرَ؟ قَالَتْ أَبُوْ عُبَيْدَةَ ابْنُ الْجَرَّاحِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
د حضرت عمر رضی الله عنه نه روسته د چا نمبر راځي؟ بي بي عائشې رضی الله عنها وويل د ابو عاوده بن الجراح رضی الله عنه [مسلم]

د حرا په غر باندې نبي او شهيدان

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلٰى حِرَاءٍ هُوَ وَأَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ
او حضرت ابو هريره رضی الله عنه روايت دی يو وړځ رسول كريم صلى الله عليه وسلم حضرت ابو بكر رضی الله عنه عمر فاروق رضی الله عنه
وَعُثْمَانُ وَعَلِيٌّ وَطَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ فَتَحَرَّكَتِ
حضرت عثمان رضی الله عنه حضرت علي رضی الله عنه حضرت طلحه رضی الله عنه و حضرت زبير رضی الله عنه حرا غر باندې ولاړ وو
الصَّخْرَةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهْدَأْ
چې د هغوی د پښو لاندې كاڼي حركت شروع كړو رسول كريم صلى الله عليه وسلم هغه كاڼي مخاطب كولو سره ورته

فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ أَوْ صِدِّيقٌ أَوْ شَهِيدٌ وَزَادَ بَعْضُهُمْ
وفرمائيل قرار شه پرتا باندي ځوك نور ولاړ نه دي يا نبي دی يا صديق دی يا شهيد دی او بعضو
وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ وَلَمْ يَذْكُرْ عَلِيًّا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
راويانو د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه اضافه کړې ده او د حضرت علي رضي الله عنه ذکر يې نه دی کړی [مسلم]

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

دعشره مبشرو ترتيب

﴿۱۱﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه روايت دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل
أَبُوبَكْرٍ فِي الْجَنَّةِ وَعُمَرُ فِي الْجَنَّةِ وعُثْمَانُ فِي الْجَنَّةِ
[۱] ابوبكر رضي الله عنه جنت كي دی [۲] عمر رضي الله عنه جنت كي دی [۳] عثمان رضي الله عنه جنت كي دی
وَعَلِيٌّ فِي الْجَنَّةِ وطَلحَةُ فِي الْجَنَّةِ وَالزُّبَيْرُ فِي الْجَنَّةِ
[۴] علي رضي الله عنه جنت كي دی [۵] طلحه رضي الله عنه جنت كي دی [۶] زبير رضي الله عنه جنت كي دی
وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ فِي الْجَنَّةِ وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ فِي الْجَنَّةِ
[۷] عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه جنت كي دی [۸] سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه جنت كي دی
وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ فِي الْجَنَّةِ وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فِي الْجَنَّةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
[۹] سعيد بن زيد رضي الله عنه په جنت کي دی، [۱۰] او ابوعاوده بن الجراح رضي الله عنه په جنت کي دی. [ترمذي]
وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ.
او ابن ماجه دا روايت د سعيد بن زيد رضي الله عنه نه نقل کړی دی.

د ځو صحابو رضي الله عنهم د خصوصي امتيازاتو ذکر

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
او حضرت انس رضي الله عنه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل
أَرْحَمُ أُمَّتِي بِأُمَّتِي أَبُوبَكْرٍ
زما په امت کي ابوبكر رضي الله عنه زما د امت د خلقو په حق کي د ټولو نه زيات مهربان او د ټولو نه لوی درد مند دی او زما د

وَأَشَدُّهُمْ	فِيْ	أَمْرِ	اللهِ	عُمَرُ

امت په خلقو کي عمر رضي الله عنه د الله د دين په معاملاتو کي د ټولو نه زيات سخت دی چې ډيري سختۍ او مضبوطۍ سره

وَ	أَصْدَقُهُمْ	حَيَاءً	عُثْمَانُ

امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه انجام کوي او زما دامت خلقو کي عثمان رضي الله عنه د ټولو نه زيات رښتني حيادار دی

وَ	أَفْرَضُهُمْ	زَيْدُ	بْنُ	ثَابِتٍ

اوزما دامت خلقو کي د ټولو نه زيات په ميراث پوهه زيد بن ثابت دی اوزما امت کي د

وَ	أَقْرَأُهُمْ	أُبَيُّ	بْنُ	كَعْبٍ

ټولو نه زيات قرآن ويونکي او د ټولو نه لوی ماهر تجويد قرآن کي ابي ابن کعب دی او زما امت کي

وَ أَعْلَمُهُمْ بِالْحَلَالِ وَ الْحَرَامِ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَ لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِيْنٌ وَ أَمِيْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

حلال وحرام د ټولو نه زيات پيژندونکی معاذ بن جبل دی او د هر امت يو امين وي او د دي امت امين

أَبُوْ عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ

ابو عبيده بن الجراح رضي الله عنه دی احمد او ترمذي، او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دی او دا حديث

وَ	رُوِیَ	عَنْ	مَعْمَرٍ	عَنْ	قَتَادَةَ مُرْسَلًا

معمر هم قتاده نه بطريق ارسال نقل کړی دی او د معمر دې روايت کي دا الفاظ هم شته چې زما دامت

وَ فِيْهِ وَ أَقْضَاهُمْ عَلِيٌّ.

په خلقو کي د حق مطابق فيصله کونکی علي رضي الله عنه دی

نوټ: په دې حديث کې چې د کومو صحابه کرامو ذکر دی د هغو نه بعضې د عشره مبشره څخه نه دي مګر د خصوصی امتيازاتو په وجه د هغو نوم په دې باب کې راغلی دی.

حضرت طلحه رضي الله عنه د پاره د جنت بشارت

﴿۱۳﴾ وَ عَنِ الزُّبَيْرِ قَالَ كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ،

او حضرت زبير رضي الله عنه وايي د جنګ احد په ورځ د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په جسم مبارک د وه زغرې وې د

فَنَهَضَ إِلَى الصَّخْرَةِ

جنګ د دوران په موقع حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه ګاڼي باندي ختل وغوښتل چي د دښمن د لښکر جائزه واخلي او د

فَلَمْ يَسْتَطِعْ فَقَعَدَ

اسلام مجاهدینو ته د بلندۍ نه ښکاره شي لیکن د دواړو زغرو د بوج په وجه پورته ختلو کي کامیاب نه شو.

طَلْحَةُ تَحْتَهُ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ فَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لاندي کیناستو چي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه پر شا ختلو سره کاڼي

يَقُولُ أَوْجَبَ طَلْحَةُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ته ورسیدو او بیا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمائیل واوریدل طلحه جنت واجب کړو [ترمذي]

د حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فضیلت

﴿۱۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ نَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طلحه بن عبید الله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طرف ته وکتل

قَالَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ يَمْشِيْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ وَقَدْ

او وي فرمائیل د کوم سړي چي خواهش وي چي هغه انسان ووینی چي ځمکه باندي ګرځي لیکن حقیقت

قَضٰى نَحْبَهُ فَلْيَنْظُرْ إِلَى هٰذَا وَفِيْ رِوَايَةٍ مَّنْ سَرَّهُ أَنْ

کي هغه خپل وخت پوره کړی دی نو هغه ته پکاردي چي هغه هغه انسان طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ووینی او یو

يَنْظُرَ إِلَى شَهِيْدٍ يَمْشِيْ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ فَلْيَنْظُرْ

روایت کي داسي دی چي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل څوک چي د داسي شهید دیدار کول غواړي

إِلَى طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

چي په ځمکه ګرځي نو هغه دي طلحه بن عبید الله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وګوري [ترمذي]

توضیح: وقد قضی نحبه: یعني په حقیقت کي هغه مړ دی هغه خپل مطلوب چي شهادت دی هغه یې موندلی دی یعني چي کوم شخص یو ژوندي شهید ته کتل غواړي هغه دي طلحه ته وګوري، چونکي په جنګ احد کي د حضرت طلحه په جسم باندي دومره زخمونه لګیدلي وو چي د جسم کومه وړوکي یا غټه حصه یې سالمه پاتې شوې نه وه، په دومره کثرت سره زخم لګیدلو نه بعد ګویا هغه ژوندی تلونکی او ګرځیدونکی شهید دی، حضرت طلحه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په جنګ جمل کي شهید شوی وو.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعَتْ أُذُنِي مِنْ فِي رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ طَلْحَةُ وَالزُّبَيْرُ
او حضرت علي رضي الله عنه وايي زما غوږونو د رسول الله صلى الله عليه وسلم د خولي مبارکي نه واوريدل طلحه رضي الله عنه
جَارَايَ فِي الْجَنَّةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
او زبير به جنت کي زما همسايه ګان وي دا روايت ترمذي نقل کړی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی

حضرت سعد رضي الله عنه فضيلت او خصوصيت

﴿۱۶﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَئِذٍ
او حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه په حق کي
يَعْنِي يَوْمَ أُحُدٍ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ رَمْيَتَهُ
د غزوه احد په ورځ داسي دعا وکړله خداونده د سعد رضي الله عنه تير آندازۍ کي شدت او قوت عطا کړې
وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ . رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ .
او د هغه دعا قبوله کړي [شرح السنه] .

﴿۱۷﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَللّٰهُمَّ
او حضرت سعد رضي الله عنه بن ابي وقاص نه روايت دی رسول کريم صلى الله عليه وسلم دعا فرمائيلي وه خداونده
اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ إِذَا دَعَاكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
سعد رضي الله عنه چې ستا نه دعا وغواړي نو هغه قبوله کړي . [ترمذي]

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ مَا جَمَعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبَاهُ وَأُمَّهُ
او حضرت علي رضي الله عنه وايي رسول کريم صلى الله عليه وسلم خپل مور پلار د سعد رضي الله عنه نه علاوه بل هيڅ چا د پاره نه
إِلَّا لِسَعْدٍ قَالَ لَهُ يَوْمَ أُحُدٍ اِرْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي
دي جمع کړي د غزوه احد په ورځ هغه مخاطب کولو سره ورته فرمائيلي وو تير چلوه زما مور پلار دي په تا صدقه
وَقَالَ لَهُ اِرْمِ أَيُّهَا الْغُلَامُ الْحَزَوَّرُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .
وي او په هغه ورځ سعد رضي الله عنه مخاطب کولو سره يي ورته داسي فرمائيلي وو تير چلوه ای طاقتور ځوانه [ترمذي]

توضيح : الغلام الحزور: د ځوان هلک په معنی سره دی ، چست او چالاکه او هوښيار ځوان ته حَزَوّر ويل کيږي ، د احد په ورځ حضور صلى الله عليه وسلم حضرت سعد رض ته فداک ابی و امی فرمايلي وو .

سوال : دلته دا سوال دی چې رسول کریم ﷺ د فداک ابی و امی الفاظ حضرت زبیر رضي الله عنه ته هم فرمايلي دي بيا دلته يې د نورو څخه نفي شوې ده ؟

جواب : ددې يو جواب دا دی چې حضرت علی رضي الله عنه دا خبره د خپل سماع او خپل معلوماتو په بنياد کړې ده ، دويم جواب دا دی چې د احد په ورځ حضور ﷺ دغه الفاظ صرف د سعد لپاره جمع کړي وو ، د حضرت زبير رضي الله عنه لپاره يې په جنګ بنو قريظه کې جمع کړي وه لکه څنګه چې ددې باب په حديث نمبر ۵ کې دي .

د حضور اکرم ﷺ ماما

﴿۱۹﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ أَقْبَلَ سَعْدٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اوحضرت جابر رضي الله عنه وايي يو ورځ سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه حضور ﷺ مجلس مبارک ته راغی

هٰذَا خَالِيْ فَلْيُرِنِيْ امْرُءٌ

نونبي کريم ﷺ د هغه طرف ته اشاره کولو سره وفرمائيل دا زما ماما دی که څوک داسې ماما لري

خَالَهُ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ كَانَ سَعْدٌ مِنْ بَنِيْ زُهْرَةَ

نوماته دې وښائي دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې سعد رضي الله عنه د قريشو د يوې قبيلې بني زهره

وَكَانَتْ أُمُّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ بَنِيْ زُهْرَةَ فَلِذٰلِكَ

نه وو او د حضور ﷺ صاحب مور محترمه هم د بني زهرو نه وه په دې اعتبار حضور ﷺ

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا خَالِيْ وَفِي الْمَصَابِيْحِ

د هغوی باره کې وفرمائيل چې دا زما ماما دی او مصابيح کې د فليرني نو هغه دې ماته وښائي په ځای فليکرمن نو هغه دې د

فَلْيُكْرِمَنَّ بَدَلَ فَلْيُرِنِيْ.

خپل د مامات کريم کوي الفاظ نقل کړی دی ليکن ابن حجر دی تبديلۍ ته تصحيف ويلي دي (۱) بلکي ملا علي قاري رحمه الله خو تحريف ګرځولی دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

اسلام کي د ټولو نه اولنی تير حضرت سعد رضي الله عنه وچلوه

﴿۲۰﴾ عَنْ قَيْسِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ سَمِعْتُ سَعْدَ بْنَ أَبِيْ وَقَّاصٍ

حضرت قيس بن ابي حازم رضي الله عنه وايي ما د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه واوريدل يقيناً زه په

يَقُوْلُ	إِنِّيْ	لَأَوَّلُ	رَجُلٍ	مِّنَ	الْعَرَبِ	رَمٰى	بِسَهْمٍ	فِيْ	سَبِيْلِ اللهِ

عربو كي اولنى سړى يم چاچي دالله په لار كي اولنى تيرو چلوه او مونږ هغه زمانه ليدلي ده كله چي مونږ به

وَرَأَيْتُنَا	نَغْزُوْ	مَعَ	رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په جهاد كي مصروف وو او زمونږ سره به د خوراك هيڅ شى نه وو صرف د

وَمَا	لَنَا	طَعَامٌ	إِلَّا	الْحُبْلَةُ	وَوَرَقُ	السَّمُرِ	وَإِنْ كَانَ

كيكر پلى او د كيكر پاڼي به حاصليدي چي مونږ به خوړلي او دي كي څه مبالغه نشته چي مونږ به د بزي

أَحَدُنَا	لَيَضَعُ	كَمَا	تَضَعُ	الشَّاةُ	مَا لَهُ	خِلْطٌ	ثُمَّ

ديچو په شان وچي تقاضا كوله چي هغه كي به دلوند والي نوم هم نه وو او س هغه زمانه هم وينو چي

أَصْبَحَتْ	بَنُوْ	أَسَدٍ	تُعَزِّرُنِيْ	عَلَى	الْإِسْلَامِ

بنواسد ماته د اسلام يعني مونځ باره كي نصيحت يا تنبيه كوي او زه او س هم د بنو اسد د نصيحت محتاج

لَقَدْ	خِبْتُ	إِذًا	وَضَلَّ	عَمَلِيْ

او د دين په باره كي د هغوى نه كمتريم نو بيا دي كي څو څه شك شبه نشته چي زه بيا نامراد شوم او زما

وَكَانُوْا	وَشَوْا	بِهٖ	إِلٰى	عُمَرَ وَقَالُوْا

كړي اعمال برباد شول د اصل كي دوي حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته د سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلاف چغل خوري او شكايت

لَا	يُحْسِنُ	يُصَلِّيْ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.

كړى وو او ورته يي ويلي وو چي هغه مونځ په ښه طريقه نه كوي. [بخاري و مسلم]

توضيح :رمى بسهم: دا د عبيد بن حارث سريې ته اشاره ده، دا د اسلام اوله ډلګۍ وه چي حضور اكرم ﷺ په سنه ۱ھ كې د ابوسفيان په قافلې باندې د حملې كولو لپاره ليږلې وه، حضور ﷺ په خپلو مباركو لاسونو باندې بيرغ وتړلو. په ۶۰ سړيو باندې مشتمله دغه سريه كې حضرت سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم وو، په دې موقع باندې د كفارو سره باقاعده جنګ خو ونشو مګر حضرت سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د اسلامى تاريخ او جهاد في سبيل الله په ميدان كې په كفارو باندې اول غشى وچلولو، د همدې خصوصيت تذكره هغه دلته كوي، ددينه مخكې مې هم اشاره كړې ده دلته څه تفصيل ليكم چې

حضرت عمر رضي الله عنه حضرت سعد رضي الله عنه د کوفې والي مقرر کړی وو ، د کوفې د خلکو لخوا په حضرت سعد رضي الله عنه باندې څه اعتراضات شوي وو ، په باطن کې دا خراب خلک وو ، هغوی وویل چې سعد رضي الله عنه په لمونځونو کې سستي کوي ، د غنیمت مال په تقسیم کې انصاف نه کوي ، جهاد ته نه ځي ، حضرت عمر رضي الله عنه هغه مدینې ته راوغوښته ورته یې وفرمایل چې سعد ! ستا شکایتونه شته تر دې چې د لمانځه شکایت هم راغلی دی ؟ حضرت سعد رضي الله عنه په خپله تزکیه کې خپلې څو کارنامې ذکر کړلې او بیا یې وویل کچیرې ددې خلکو الزامات صحیح وي نو بیا خو زما اعمال ضائع شول ، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل چې ستا په باره کې زما ګمان داسې وو لکه څنګه چې ته خپله صفائي پیش کوي لیکن د اهل کوفه څخه به زما نماینده کور په کور پوښتنه کوي تر څو حقیقت حال واضحه شي ، نو دوه سرکاری کسان د حضرت سعد رضي الله عنه سره کوفې ته روان شول او د کور کور نه یې د حضرت سعد رضي الله عنه متعلق پوښتنه وکړه ، ټولو د حضرت سعد رض تعریف وکړلو مګر یو بوډا وویل چې کله تاسې په قسم ورکولو سره پوښتنه کوئ نو زه به وو ایم چې سعد رضي الله عنه په لمونځونو او د مالونو په تقسیم کې ګړبړ کوي ، په دې باندې حضرت سعد رضي الله عنه وویل کچیرې تا دا اعتراض د شهرت حاصلولو لپاره کړی وو نو ستا لپاره په بددعائی کې وایم چې ای الله ! ددې شخص عمر زیات کړې ، او په تنګ دستئ کې یې مبتلا کړې او خوار او ذلیل یې کړې! دا درې واړه بددعائی د هغه شخص په حق کې قبولې شوې ، عمر یې دومره اوږد شو چې وریځې یې په سترګو راپریوتې چې کله به یې د چا سره خبره کوله نو په لاسونو به یې وریځې پورته کړې او وبه یې کتل ، په غربت او تنګدستئ کې به یې ورځې تیریدلې، مرګ نه ورته راتللو ، مګر په هسې حالت کې به یې ماشومانې نجونې نیولې او په ځان پورې به یې مښلې او ذلیل او خوار به شو چې کله به د هغه څخه چا پوښتنه وکړه چې شرم وکړه دا څه کوې؟ نو ویل به یې چې څه وکړم ؟ د سعد بددعائی راباندې لګیدلې ده . په زیر بحث حدیث کې د (**فاصبحت بنو اسد تعزرني**) الفاظو کې هسې قصې ته اشاره ده ، تعزرني د زجر او توبیخ په معنی سره دی . عام مسلمانانو ته پکار دې چې هغه بلاوجه د مساجدو په امامانو باندې اعتراضات ونکړي ، د بعضو د زړه آزارولو سره تباهي راځي .

الحبلة: د کیکر په ونه کې یو قسم بیکاره پلي وي چې د انسان د خوراک لپاره نه وي هغه مراد دي او د ورق السمر څخه د همدې کیکر پاڼې مراد دي ،د الزام لرې کولو لپاره خپل فضائل بیانول جائز دي .

ورق السمر: په دې الفاظو سره سریه خبط ته اشاره ده چې په هغې کې صحابه کرامو پاڼې خوړلې وې او د پاخانې په ځای به د ګډو پشان پچې کیدلې .

خلط: پیوست او قوام ته ویل کیږي ، چې کله په غذا کې چکناهټ (تلاصق) نه وي نو پاخانه یوځای کیږي نه بلکه د پچو پشان پاخانه راځي ·

﴿۲۱﴾ وَعَنْ	سَعْدٍ	قَالَ	رَأَيْتُنِيْ	وَأَنَا	ثَالِثُ	الْإِسْلَامِ	
او حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل زه د خپل ځان باره کي د نورو نه زیات پوهیږم د اسلام فهرست کي زما المبر دریم دې							
وَمَا	أَسْلَمَ	أَحَدٌ	إِلَّا	فِي	الْيَوْمِ	الَّذِيْ	أَسْلَمْتُ فِيْهِ
په کومه ورځ چې ما اسلام راوړلو په هغه ورځ هیڅ کس دائره اسلام کي داخل شوی نه وو							
وَلَقَدْ مَكَثْتُ سَبْعَةَ أَيَّامٍ وَإِنِّيْ لَثُلُثُ الْإِسْلَامِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.							
او بیا اوه ورځو پوري زه د اسلام دریمه حصه جوړ شوی وم [بخاري]							

توضیح: د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مخکې حضرت خدیجه رض او صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اسلام قبول کړی وو ، حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دریم کس وو چې اسلام یې قبول کړلو او بیا تر اوو ورځو پورې کوم بل یو مسلمان نشو ، ګویا حضرت سعد ثلث اسلام یعنې د اسلام دریمه حصه وه . حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلو معلوماتو په بناء داسې وویل او د احرارو په اعتبار سره یې داسې وفرمایل او که نه نو دده نه مخکې څو غلامان هم مسلمانان شوي وو بیا خو دده نمبر دریم نه جوړیده ، او دا هم ممکنه ده چې حضرت عمار وغیره احرار هم دده نه مخکې مسلمانان شوي وي لهذا بیا هماغه جواب کیږي چې هغه د خپل علم په بناء چې څه فرمایلي هغه یې صحیح فرمایلي .

د حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مالی قرباني

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ	أَنَّ	رَسُوْلَ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	كَانَ	يَقُوْلُ لِنِسَائِهِ
او بی بی عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایی [یوه ورځ] رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو بیبیانو ته وفرمائیل ستاسو معامله څه ددې							
إِنَّ	أَمْرَكُنَّ	مِمَّا	يَهُمُّنِيْ	مِنْ	بَعْدِيْ	وَلَنْ	يَصْبِرَ عَلَيْكُنَّ
نوعیت ده ، چې ما څما د وفات نه روسته په فکر کې اچوي او ستاسو خرچې باندې هغه کسان صبر کوي							
إِلَّا	الصَّابِرُوْنَ	الصِّدِّيْقُوْنَ	قَالَتْ	عَائِشَةُ	يَعْنِيْ		
چې صابرین دی او صدیقین دي ، بی بی عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایی ، چې [صابرینو او صدیقینو نه [د							
الْمُتَصَدِّقِيْنَ	ثُمَّ	قَالَتْ	عَائِشَةُ				
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مراد هغه خلق دي چې صدقه ورکونکي او د خیر کار کونکي دي ، بیا بی بی عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ،							

لِأَبِيْ	سَلَمَةَ	بْنِ	عَبْدِ .	الرَّحْمٰنِ				
د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه زوی د حضرت ابو سلمه تابعي مخکښ وويل الله تعالی دی								
سَقَى	اللّٰهُ	أَبَاكَ	مِنْ	سَلْسَبِيْلِ	الْجَنَّةِ	وَكَانَ	ابْنُ عَوْفٍ	قَدْ
ستا پلار د جنت د سلسبيل نه سيراب کړی ، او حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه د حضور صلی الله عليه وسلم								
تَصَدَّقَ	عَلٰى	أُمَّهَاتِ	الْمُؤْمِنِيْنَ	بِحَدِيْقَةٍ	بِيْعَتْ	بِأَرْبَعِيْنَ	أَلْفًا .	رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
د ازواج مطهراتو د خرچې د پاره يو باغ ورکړی وو ، چې په څلويښت زره [۴۰۰۰۰] ديناره خرڅ شوی وو .								

توضيح: الصديقون: يعني صدقه کونکي خلک مراد دي ، دا لفظ د صدقې څخه دی د صدق څخه نه دی .سلسبيل الجنة: د جنت د نهرونو څخه د يو نهر نوم دی ، حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ډير لوی تاجر او لوی فياض، تارک الدنيا صحابی وو ، د حضور صلی الله عليه وسلم د وفات نه بعد يې په ازواج مطهرات باندې په خلاص زړه سره لوی مال خرچ کړلو ، د څلويښت زره دينارو قيمت والا باغ يې ازواج مطهرات ته ورکړو بلکه په ترمذی کې دي چې د څلور لکه درهمو يا دينارو باغ هغه د ازواج مطهراتو د مصارفو لپاره وقف کړی وو ، په يو روايت کې دي چې د حضور اکرم صلی الله عليه وسلم په زمانه کې حضرت عبدالرحمن بن عوف يو ځل خپل د ټول مال نيمه او د نقدو څخه يې څلور زره دينار يا درهم د حضور صلی الله عليه وسلم مخې ته پيش کړل بيا يې څلور زره ديناره ورکړل بيا يې پنځه آسونه په جهاد کې ورکړل بيا يې په جهاد فی سبيل الله کې يونيم زر اوښان پيش کړل، په يو روايت کې دي چې يو ځل هغه يونيم لک دينار په صحابه کرامو باندې تقسيم کړل .

يوځلې کله شپه شوه نو هغه قلم او کاغذ راواخيسته د خپل مال يو فهرست يې جوړ کړلو چې دا مال د انصارو او مهاجرينو لپاره دی چې کله د مال حساب وشو نو هغه د خپل بدن د کپړو باره کې ليکلي دي چې قميص دي فلانی ته ورکړی شي ، عمامه دي فلانی ته ورکړی شي په دغه طريقه هغه ټول مال د الله د رضاء لپاره حساب کړلو او ويده شو ، سهار چې کله د لمانځه لپاره لاړلو نو حضور صلی الله عليه وسلم ته جبرئيل امين راغی او ويې فرمايل چې يا رسول الله ! الله تعالی فرمايي چې عبدالرحمن بن عوف ته زما سلام وايه او د هغه نه هغه فهرست واخله قبول يې کړه کوم چې هغه د شپې جوړ کړی دی او بيا دغه فهرست هغه ته واپس کړه او ورته ووايه چې الله تعالی ستا مال قبول کړلو ، اوس ته په دې مال باندې نګران او وکيل شه چيرته چې دي خوښه وي هلته يې خرچ کړه ، او هغه ته د جنت بشارت واوروه ، حضرت عبدالرحمن بن عوف ډيرش زره غلامان آزاد کړي وو ، د دغه سخا او جود په وجه حضرت عائشه رضي الله عنها حضرت عبدالرحمن بن عوف ته دعاء کوي او حضور

اکرم ﷺ خاصه دعاء وفرمایله چې په راتلونکي حدیث کې ذکر ده . (یحثوا) د سخاوت کولو په معنی سره دی ، دا د راتلونکي روایت لفظ دی .

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لِأَزْوَاجِهِ
او بي بي ام سلمه رضي الله عنها وايي ما د رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه خپلو بیبیانو ته دا فرمائیل واوریدل حقیقت دا دی
إِنَّ الَّذِيْ يَحْثُوْ عَلَيْكُنَّ بَعْدِيْ هُوَ الصَّادِقُ الْبَارُّ اَللّٰهُمَّ
چې زما د وفات نه روسته چې کوم سړی چې موتې ډکولو سره په تاسو به خرچ کوي یعني په پوره
اسْقِ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ عَوْفٍ مِنْ
فراخه زړه او کامل سخاوت سره ستاسو اخراجاتو کې خپل مال خرچ کوي هغه صادق الایمان
سَلْسَبِيْلِ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.
صاحب احسان دی خداونده عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه جنت د نهر سلسبیل نه شیراب کړې [احمد]

د حضرت ابو عاوده رضي الله عنه فضیلت

﴿۲۴﴾ . وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ جَاءَ أَهْلُ نَجْرَانَ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه وایي د نجران خلقو د رسول کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کې حاضر یدو سره
فَقَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ابْعَثْ إِلَيْنَا رَجُلًا أَمِيْنًا
عرض وکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته یو داسې سړی راولیږه چې امانتدار وي یعني زمونږ حقوقو کې
فَقَالَ لَأَبْعَثَنَّ إِلَيْكُمْ رَجُلًا أَمِيْنًا
څه خیانت نه کوي حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل یقینًا زه به یو داسې سړی حاکم او قاضي جوړولو
حَقَّ أَمِيْنٍ فَاسْتَشْرَفَ لَهَا
سره تاسو ته دراولیږم چې امین دی او ددې لائق دی چې هغه ته امانت دار وویل شي دې اوریدو
النَّاسُ قَالَ فَبَعَثَ
سره خلقو ددې شرف د حصول تمنا او انتظار کولو حضرت حذیفه رضي الله عنه وایي چې حضور صلی الله علیه وسلم
أَبَا عُبَيْدَةَ بْنَ الْجَرَّاحِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ابو عبیده بن الجراح رضي الله عنه ولیږه . [بخاري و مسلم]

د خلافت لپاره موزون ترین صحابه

﴿۲۵﴾ وَ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ نُّؤَمِّرُ بَعْدَكَ قَالَ إِنْ

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چا سوال وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ستا سو نه روسته مونږ څوک خپل امير

تُؤَمِّرُوْا أَبَا بَكْرٍ تَجِدُوْهُ أَمِيْنًا زَاهِدًا فِي الدُّنْيَا رَاغِبًا

او سربراه جوړ کړو ؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائيل که تاسو زما نه روسته ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل امير او سربراه

فِي الْآخِرَةِ وَإِنْ تُؤَمِّرُوْا عُمَرَ تَجِدُوْهُ قَوِيًّا

جوړ کړئ نو هغه به امانت دار دنيا نه بې پروا او آخرت طرف ته راغب پيدا کوئ که عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل امير

أَمِيْنًا لَا يَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وَإِنْ

او سربراه جوړ کړئ نو هغه به بارِ امانت اوچتولو کې ډير مضبوط او د ملامتيا کونکو د ملامت نه نه

تُؤَمِّرُوْا عَلِيًّا وَلَا أُرَاكُمْ فَاعِلِيْنَ

ويريږي او که علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل امير او سربراه جوړ کړئ خو زما په خيال کې به تاسو هغه خپل امير او

تَجِدُوْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا يَأْخُذُ بِكُمُ

سربراه جوړونکي نه يئ خو که جوړيې کړئ نو هغه به سيده لار ښودونکی يعني مکمل مرشد هم

الطَّرِيْقَ الْمُسْتَقِيْمَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

پيدا کوئ او کامل هدايت يافته هم چې تاسو به په صراط مستقيم روان کړي [احمد]

توضيح: ولا اراکم فاعلين: د دې جملې ترجمه خو دا ده چې زه نه وينمه چې تاسې به داسې وکړئ، په دې جمله کې د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خلافت باندې تبصره ده او مطلب دا دی چې تاسو به حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نزاع نه بغير خليفه جوړ نه کړئ لکه د دې په ضمن کې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت ته اشاره راغله چې د حضرت علی او حضرت عثمان د خلافت د انتخاب په موقع باندې به تاسې علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خليفه جوړ نه کړئ بلکه عثمان به خليفه جوړ کړئ. د دې جملې دويم مطلب دا هم کيدلی شي چې تاسې به زما نه بعد متصل بلافصل حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خليفه جوړ نه کړئ ځکه چې په تقدير الهی کې داسې مقرره ده چې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به اول خليفه ګان کيږي، ځکه که حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اول خليفه جوړ شي نو د هغه عمر اوږد دی

هغه به تر هغه وخته خليفه وي چې ابوبکر صديق او عمر فاروق او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُم به وفات شي نو د هغوی د خلافت موقع به پيدا نشي حالانکه د هغوی خلافت مقرر شوی دی لهذا زما خيال نه دی بلکه يقين دی چې تاسې به علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ مخکې خليفه نه جوړوئ ، لهذا خليفه بلا فصل به ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنهُ وي ، د هغه نه بعد به حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنهُ خليفه جوړيږي ، بيا به حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ خليفه کيږي او په آخر کې به حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته خلافت رسيږي.

د څلورو خلفاؤ رَضِيَ اللهُ عَنهُم فضائل

﴿۲۶﴾ وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَحِمَ اللهُ أَبَا بَكْرٍ
او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل الله تعالى دي ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنهُ باندي خپل رحمتونه
زَوَّجَنِي ابْنَتَهُ وَحَمَلَنِي إِلَى دَارِ الْهِجْرَةِ وَصَحِبَنِي
نازل کړي هغه د خپلي لور عائشې نکاح ما سره وکړله خپلي اوښي باندي سورولو سره زه يي دار هجرت
فِي الْغَارِ وَاَعْتَقَ بِلَالًا مِنْ مَالِهِ
مديني ته راوستم د هجرت د سفر په دوران کي د ثور غار کي ما سره وو او خپل مال سره بلال رَضِيَ اللهُ عَنهُ
رَحِمَ اللهُ عُمَرَ يَقُوْلُ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا
ئې واخستلو او ازاديي کړو الله تعالى دي په عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ رحمتونه نازل کړي هغه چې کو مه خبره کوي اګر
تَرَكَهُ الْحَقُّ وَ مَالَهُ مِنْ صَدِيْقٍ
که په چا ترخه لګيږي او حق ګويي هغه دي حد ته ورسولو چې د هغه هيڅوک دوست نشته الله تعالى
رَحِمَ اللهُ عُثْمَانَ يَسْتَحْيِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ
دي په عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ خپل رحمتونه نازل کړي هغه نه خو فرشتي هم حيا کوي او الله تعالى دي په
رَحِمَ اللهُ عَلِيًّا اَللّٰهُمَّ أَدِرِ الْحَقَّ مَعَهُ حَيْثُ دَارَ.
علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ رحمتونه نازل کړي اى الله علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ د حق سره لري چې چيرته علي وي هلته حق وي
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ
دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

توضیح : د حضرت علي رضي الله عنه په ژوند کې څو نزاعی صورتونه پیښ شوي دي : اول صورت : جنګ جمل دی په دې کې حضرت علي رضي الله عنه په حق باندې وو ، په طرف مقابل کې یې لوی لوی صحابه په اجتهادی خطاء باندې وه ، بیا د جنګ صفین واقعه پیښه شوه په هغې کې هم حضرت علي رضي الله عنه په حق باندې وو د طرف مقابل خلک په اجتهاد باندې وو ، بیا د خوارجو سره د اوږدو جنګونو سلسله پاتې شوې ده په هغو کې هم حضرت علي رضي الله عنه په حق باندې وو او طرف مقابل خوارج په باطل باندې وو . په زیر بحث حدیث کې لکه څنګه چې حضور صلی الله علیه وسلم د حضرت علی رضي الله عنه لپاره دعاء فرمایلې ده هماغسې د هغه ژوند پاتې شوی و په دې حدیث کې د حضرت علی رضي الله عنه حقانیت په عجیبه مؤثر انداز سره بیان شوی دی ، دا یې ونه ویل چې علي رضي الله عنه به د حق سره ګرځي بلکه دا یې وفرمایل چې چیرته علی وي هلته به حق د هغه سره ګرځي ! سبحان الله څومره لوی اعزاز دی .

یو ویونکي حق ویلي دی :

اما علي فمشهور فضائله والبیت لا یبتنی الا بارکان

باب مناقب اهل بيت النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د كور والاوو د مناقبو بيان

قال الله تعالى ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾ (الاحزاب ۳۳)

قال الامام الشافعي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ:

لو كان رفضا حب آل محمد   فليشهد الثقلان انی رافض

ياد ساتل پكار دي چې صاحب د مشكوة د مذكوره عنوان لاندې د عموم او خصوص دواړو ځخه كار اخيستى دى ، بعضې روايات هغه دى چې د هغو نه معلوميږي چې بنو هاشم په اهل بيت نبی کې داخل دي همدارنګه د دې باب لاندې يې هغه يو څو هغه احاديث نقل كړي دي چې خصوصی طور باندې صرف د حضرت على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، او حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورې خاص دي ، ددينه دا اندازه كيږي چې اهل بيت صرف همدا ځلور افراد دي ، عام بنو هاشم نه دي ، د همدې عنوان لاندې صاحب د مشكوة د حضرت زيد او حضرت اسامه ذكر هم كړى دى ، ددينه معلوميږي چې په اهل بيت النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كې ډير وسعت دى او اهل محبت او اهل قرابت هم په دې کې داخل دي ، ددې سره سره صاحب د مشكوة د ازواج مطهراتو لپاره يې ځانته عنوان قائم كړى دى او د هغوى يې ځانته تذكره كړې ده ، ددې ټول متفرقاتو او د څه تضاداتو يو ځاى كولو لپاره علماؤ ويلي دي چې د لفظ بيت درې حيثيتونه دي او درې اطلاقات دي :(۱) اول بيت نسب دى . (۲) دوهم بيت ولادت دى ، (۳) او دريم بيت سكنى دى .

ددې تفصيل داسې دى چې د بنو هاشم يعنې عبد المطلب اولاد د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره اهل بيت نسب دی چې دې ته كورنى او خاندان ويل كيږي ، ددينه وروسته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولاد ته اهل بيت ولادت ويل كيږي چې په هغو كې حضرت على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت فاطمه رض حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سرفهرست دي ، اګرچې حضرت على رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اهل بيت نسب کې هم راځي ليكن علماؤ هغه په اهل بيت ولادت کې شمار كړى دى ، دا سلسله د ولادت ده ، ياد ساتل پكار دي چې د شهرت په وجه دوى ته د ځلورو نوم په خصوصى طور باندې په سلسله ولادت کې اخيستلى كيږي او كه نه نو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نورې درې لوركانې وغيره ټول په اهل بيت ولادت کې داخلې دي لكه حضرت زينب رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، حضرت رقيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ، او حضرت ام كلثوم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دي . بيا ددينه بعد ازواج مطهراتو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اهل بيت سكنى ويل كيږي چې دويته اهل خانه ويل كيږي ، ټول ازواج مطهرات په دغه بيت سكنى کې داخل دي ، اګرچې د اهل بيت اول مصداق ازواج مطهرات او اهل خانه وي ليكن په دغه تقسيم سره په قرآن

کریم او احادیثو کې استعمال شده لفظ اهل البیت مفهوم په آسانۍ سره فهمیږي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د مباهلې دعوت

﴿۱﴾ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ فَقُلْ تَعَالَوْا نَدْعُ أَبْنَآءَنَا وَأَبْنَاءَكُمْ
حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه بیان کوي کوم وقت چې دا آیت [قُل تَعَالَوا نَدعُ اَبنَاءَنَا وَاَبنَاءَکُم]
دَعَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلِيًّا وَّفَاطِمَةَ وَحَسَنًا وَّحُسَيْنًا
نازل شو نو رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه فاطمه رضي الله عنها حسن رضي الله عنه و حسین رضي الله عنه راوبلل
فَقَالَ اَللّٰهُمَّ هٰؤُلَاءِ أَهْلُ بَيْتِيْ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .
او وي فرمائیل خداونده دا زما اهل بیت دي [مسلم]

توضیح : (**ثم نبتهل**) ابتهل د ابتهال څخه دی په زاریو سره دعاء غوښتلو ته ویل کیږي او باهل د مباهله څخه دی یو په بل باندې د لعنت لیږلو په معنی سره دی ، د عربو رواج وو چې کله به په یوه معامله کې تنازع راغله نو طرفینو به خپلې خپلې ښځې او بچیان د کور څخه وویستل کولاو میدان ته به یې راویستل او یو په بل باندې به یې د هلاکت دعاء غوښتله . د حضور ﷺ په زمانه کې د نجران نه څه عیسائي پادریان د حضور ﷺ سره د بحث او مباحثې لپاره مدینې منورې ته راغلل ، تر څو ورځو پورې بحث روان وو ، په همدې دوران کې الله تعالى د مباهلې آیت نازل کړلو او حضور اکرم ﷺ ته یې حکم وکړلو چې دغه عیسائیانو ته د مباهلې دعوت ورکړه ، نو حضور ﷺ د خپل کور نه حضرت حسن او حسین رضی الله عنهما او حضرت فاطمه رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه د ځان سره کړل او هغوی ته یې د مباهلې دعوت ورکړلو ، د هغوی پادریان هم میدان ته راغلل مګر د حضور ﷺ سره یې چې کله دغه نوراني مخونه ولیدل نو د هغوی مشر وویل چې خبردار مباهله ونکړې ، ځکه دغه خلک کچیرې د الله نه دا وغواړي چې فلانی غر د خپل ځای نه لرې شي نو غر به ټکړه ټکړه شي ، کوشش وکړئ چې معاهده وشي . جزیه قبوله کړئ او واپس لاړ شی او همداسې وشو ، عیسائیانو جزیه قبوله کړه او واپس لاړل ، حضور اکرم ﷺ وفرمایل کچیرې دغه خلکو مباهله کړې وای نو ټول به مسخ شوي وو او اور به دوی سوزولي وو خاوري شوي به وو .

د همدې مباهلې په موقع باندې حضور ﷺ حضرت حسن او حضرت حسین او حضرت علي او فاطمه رضي الله عنهم ته په اشارې کولو سره وفرمایل چې دا زما اهل بیت دي ، پاس چې ولیکل شول

چې د اهل بیت درې اطلاقات دي نو دا د اهل بیت ولادت والا اطلاق دی صحیح یې زده کړه!

د اهل بیت ولادت یو بل اطلاق

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدَاةً

او بي بي عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا یان کوي یوه ورځ په سهار کي حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ را ووتلو هغه وقت د

وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مُرَحَّلٌ مِنْ شَعْرٍ أَسْوَدَ

حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بدن مبارک د تورو ویښتو یو کمبل وه چې په هغه د اوښ د کجاوو تصویرونه جوړ شوي وو

فَجَاءَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ جَاءَ الْحُسَيْنُ فَأَدْخَلَ مَعَهُ

دي کې حسن بن علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغی او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه خپل کمبل کې دننه کړو بیا حسین رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغی

ثُمَّ جَاءَتْ فَاطِمَةُ فَأَدْخَلَهَا

حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه هم حسن رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره کمبل کړو دننه کې بیا فاطمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راغله هغه یې هم هغوی سره

ثُمَّ جَاءَ عَلِيٌّ فَأَدْخَلَهُ ثُمَّ قَالَ

کمبل کې دننه کړه بیا علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغی هغه یې هم هغوی سره کمبل کې دننه کړو بیا حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آیت وواینه

إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ

إِنَّمَا يُرِيدُ اللهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا [ایت] یعني ای اهل بیتو الله تعالی غواړي چې

أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

تا سو د ګناهونو او دبدیو د پلیتۍ نه بچ کړي ځرنګه چې پاک صاف کیدل پکار دي. [مسلم]

ابراهیم بن محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شان

﴿۳﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي کوم وقت چې ابراهیم وفات شو نو رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل

إِنَّ لَهُ مُرْضِعًا فِي الْجَنَّةِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

جنت کي هغه دپاره یوه پیۍ ورکونکي یعني دایه مقرر شوي ده چې د هغه د شیدو ورکولو زمانه به پوره کوي. [بخاري]

توضیح: حضرت ابراهیم د ماریه قبطیه د خیټي ځخه پیدا شوی وو، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د مصر بادشاه مقوقس په طور د عطیه یوه وینځه ورکړې وه د هغې نوم ماریه قبطیه وو، د دې د بطن ځخه ابراهیم پیدا شوی وو، د شپاړلس اولس میاشتو په عمر کې د هغه انتقال شوی وو، د هغه متعلق حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایې چې چونکې د هغه د شودو خوړلو زمانه وه لهذا الله تعالی د هغه لپاره

يوه شوده وركونكې مقرره كړه چې ابراهيم ته په جنت كې شودې وركوي ، ددې حديث نه معلومه شوه چې جنت د اوس څخه موجود دى او پاكيزه خلك اوس هم جنت ته داخلولى شي .

دبي بي فاطمي رضي الله عنها فضيلت

﴿۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كُنَّا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهُ

اوبي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې دنبي كريم ﷺ بيبياني د حضور ﷺ سره ناستي وو

فَأَقْبَلَتْ فَاطِمَةُ مَا تَخْفٰى مِشْيَتُهَا مِنْ مِشْيَةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې فاطمه (راغله دهغه دتګ وضع او هيئت د رسول كريم ﷺ دتګ دوضع او هيئت نه ذره هم مختلف نه وو

فَلَمَّا رَآهَا قَالَ: مَرْحَبًا بِابْنَتِيْ

بهرحال حضور ﷺ چې فاطمه (راتلونكې وليده نو وي فرمائيل زما لورې په خير راغلې بيا

ثُمَّ أَجْلَسَهَا ثُمَّ سَارَّهَا فَبَكَتْ

حضور ﷺ هغه خپله خواكې كينوله او پټې پټې يې هغه سره خبرې وكړې دې كې فاطمه (په ژړا شوه

بُكَاءً شَدِيْدًا فَلَمَّا رَأٰى حُزْنَهَا سَارَّهَا الثَّانِيَةَ

او په زوره زوره يې وژړل حضور ﷺ وليدل چې فاطمه (ډيره غمجنه شوې ده نو بيا يې هغې سره غوږكې

فَإِذَا هِيَ تَضْحَكُ فَلَمَّا قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا

خبرې وكړې نو فاطمه يو دم په خندا شوه بيا چې رسول الله نو ماد فاطمې نه پوښتنه وكړه چې ستا سره

عَمَّا سَارَّكِ قَالَتْ مَا كُنْتُ لِأُفْشِيَ

حضور ﷺ پټې پټې څه خبرې كولې فاطمې (جواب راكړو د رسول الله ﷺ راز زه ښكاره كونكې

عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِرَّهُ فَلَمَّا تُوُفِّيَ قُلْتُ

نه يم كله چې حضور ﷺ وفات شو ددې دنيا نه پرده وفرمائيله نو ما فاطمې (ته وويل چې زما په

عَزَمْتُ عَلَيْكِ بِمَا لِيْ عَلَيْكِ مِنَ الْحَقِّ

تا كوم حق دى دهغه واسطه او قسم دركوم چې زه ستا نه ددې نه علاوه نور هيڅ نه غواړم چې ماته د

لَمَّا أَخْبَرْتِنِيْ قَالَتْ أَمَّا

هغه غوږكې دخبرو باره كې وښايه چې په هغه ورځ حضور ﷺ ستا سره كړې وې فاطمې (وويل

الْآنَ فَنَعَمْ أَمَّا حِيْنَ سَارَّنِيْ فِي الْأَمْرِ الْأَوَّلِ فَإِنَّهُ أَخْبَرَنِيْ

هو اوس زه درته ښایم چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اولنی وار ماسره غوږ کي خبري کړي وي نو ماته يې دا

أَنَّ جِبْرَئِيْلَ كَانَ يُعَارِضُنِيْ الْقُرْآنَ كُلَّ سَنَةٍ مَرَّةً وَإِنَّهُ عَارَضَنِيْ

فرمائيل چې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ به ما سره کالو سر کي يو وار دقرآن دوره کوله ليکن سږ کال هغه ما سره

بِهِ الْعَامَ مَرَّتَيْنِ وَلَا أُرَى الْأَجَلَ إِلَّا قَدِ اقْتَرَبَ

دوه واره دوره وکړله او ددي مطلب ما دا راويستلو چې زما دمرګ وخت قريب راغلی دی نو ای فاطمه!

فَاتَّقِي اللهَ وَاصْبِرِيْ فَإِنَّ نِعْمَ السَّلَفُ أَنَا لَكِ

(زه تاته وصيت کوم چې الله نه ويره کوه صبر کوه بلاشبه زه ستا دپاره بهتر مخکي تلونکی يم

فَبَكَيْتُ فَلَمَّا رَآى جَزَعِيْ سَارَّنِيْ الثَّانِيَةَ

دې سره زه په ژړا شوم او بيا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه زياته پريشانه وليدم نو دوباره يې ما سره غوږ کي

قَالَ يَا فَاطِمَةُ أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ تَكُوْنِيْ سَيِّدَةَ نِسَاءِ

خبري وکړي دا يې وفرمائيل ای فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ايا ته په دي خبره خوشحاله نه يې چې ته به جنت کې

أَهْلِ الْجَنَّةِ أَوْنِسَاءِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَفِيْ رِوَايَةٍ

دتمامو ښځو يا خاص طور سره ددې امت دښځو سرداره جوړه شي او يو روايت کي د بي بي فاطمي

فَسَارَّنِيْ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ

(دا الفاظ منقول دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اولنی وار ما سره غوږ کي خبري وکړي نو هغې کي

يُقْبَضُ فِيْ وَجَعِهِ فَبَكَيْتُ

يې دا فرمائيلي وه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دي بيمارۍ کي وفات کيږي او دي اوريدو سره زه په ژړا شوم

ثُمَّ سَارَّنِيْ فَأَخْبَرَنِيْ أَنِّيْ أَوَّلُ

بيا په دويم وار چې حضور ما سره غوږ کي خبري وکړي نو هغې کې يې ماته دا خو دلي وه چې د

أَهْلِ بَيْتِهِ أَتْبَعُهُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اهل بيتو کي به دټولو نه مخکي زه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يو ځای کيږم نودي

فَضَحِكْتُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

اوريدو سره زه په خندا شوم.

توضيح: (سارها) يعنې په پټه يې په غوږ کې خبره ورته وکړه (سره) يعنې حضور صلى الله عليه وسلم چې کله په غوږ کې خبره ورته وکړه نو دا د راز خبره جوړه شوه او د راز افشاء کول جائز نه دي.

عزمت عليک: يعنې زه تا ته په الله قسم درکوم او د مور کيدلو واسطه هم درکوم چې ما ته ووايه چې حضور صلى الله عليه وسلم څه فرمايلي وو، اوس خو د حضور صلى الله عليه وسلم د وفات نه وروسته راز خو راز پاتې شوی نه وو.

نعم: يعنې د حضور صلى الله عليه وسلم د وفات نه وروسته يې اوس درته وايم اوس راز پاتې نشو.

(سيدة نساء اهل الجنة) د حضرت فاطمې رضي الله عنها او حضرت عائشې رضي الله عنها او بيا حضرت خديجة الكبرى رضي الله عنها په خپل مينځ کې د فضيلت په باره کې د علماؤ اقوال مختلف دي چې په دوی کې على الاطلاق کومه افضله ده؟ علامه سيوطي رحمه الله ليکلي دي چې د حضرت فاطمې رضي الله عنها او حضرت عائشې رضي الله عنها په افضليت کې د علماؤ درې مسلکه دي، د ټولو نه راجح مسلک دا دی چې حضرت فاطمې رضي الله عنها د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه افضله ده، بعضې علماؤ د دواړو رتبه يوه ګرځولې او بعضې علماؤ په دې باره کې سکوت اختيار کړی، د امام مالک رحمه الله څخه چې کله د دغه افضليت په باره کې پوښتنه وشوه نو هغه وفرمايل چې فاطمې رضي الله عنها د پيغمبر د غوښې ټکړه ده او زه د پيغمبر په ټکړې باندې هيچا ته فضيلت ورکولی نشم. علامه سبکي رحمه الله او نورو علماؤ د دغو ښځو په باره کې ليکلي دي چې معتبر مسلک دا دی چې حضرت فاطمه رضي الله عنها د ټولو نه افضله ده بيا حضرت خديجه رضي الله عنها ده او بيا حضرت عائشه رضي الله عنها ده. بعضو نورو علماؤ ډيره ښه خبره ليکلې ده چې په اصل کې حيثيات او اعتبارات مختلف دي د دغه حيثياتو او اعتباراتو په بنياد فضيلت ورکولو کې تعبيرات مختلف راغلي دي، حضرت خديجه رضي الله عنها اقدم ايمانا ده، حضرت عائشة رضي الله عنها اشدها حبا ده، او حضرت فاطمه رضي الله عنها بضعة جسدا ده.

په هر حال د حضرت فاطمه رضي الله عنها نکاح په ۲ سنه هـ کې شوې وه او حسن او حسين او زينب او رقيه او ام کلثوم د هغې د بطن څخه پيدا شوي وو، وروسته د ام کلثوم نکاح د حضرت عمر رضي الله عنه سره وشوه، نو حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت علي رضي الله عنه زوم دی اګرچې شيعه ګان به سوزي.

چاچې فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم

﴿۵﴾ وَعَنِ الْمِسْوَرِبْنِ مَخْرَمَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاطِمَةُ بِضْعَةٌ

او حضرت مسور ابن مخرمه نه روايت دی چې رسول کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل فاطمه ځما د غوښې

مِنِّيْ فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِيْ

ټکړه ده چاچې فاطمه خفه کړه هغه زه خفه کړم او په يوه روايت کې دا الفاظ هم دي کوم شی چې

وَفِيْ رِوَايَةٍ يُرِيْبُنِيْ مَا أَرَابَهَا وَيُؤْذِيْنِيْ

فاطمې ته بد معلوميږي هغه ماته هم بد معلوميږي او کوم شی چې فاطمې ته تکليف ورکوي هغه]

مَا آذَاهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ماته هم تکليف راکوي. [بخاري مسلم

توضيح: حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ابو جهل د لور سره د نکاح کولو اراده کړې وه، په دې باندې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عامه خطبه کې دا کلام فرمايلی وو، دا نکاح منعه نه وه مګر حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د الله د دښمن لور او د الله د رسول لور يوځای په يوه نکاح کې جمع کول مناسب نه دي او په دې کې د فاطمې په فتنه او امتحان کې پريوتلو خطره ده، د حضور اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه ته د درد رسيدلو خطره ده، نو د دغه عارضی امورو په وجه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وفرمايله او که نه نو په اسلام کې منع نه وه.

کتاب الله او اهل بيت مظبوط ونيسئ

﴿۶﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فِيْنَا

او حضرت زيد بن ارقم وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه ورځ د مکې او مدينې په منځ کې اوبو والا

خَطِيْبًا بِمَاءٍ يُدْعٰى خُمًّا بَيْنَ مَكَّةَ

مقام باندې چې هغه ته يې خم ويل خطاب عام د پاره ځمونږ منځکې ودريدو سره د الله تعالى حمد او

وَالْمَدِيْنَةِ فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ وَوَعَظَ وَذَكَّرَ

ثناء وکړه بيا خلقو ته يې د ښو خبرو او نيکو خبرو او نيکو اعمالو نصيحت وفرمايه هغوی ته يې د الله

ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ آلا أَيُّهَا النَّاسُ فَإِنَّمَا أَنَا

د ثواب او عذاب ياد ورکړو او د غفلت او کوتاهۍ خلاف ئې آګاه کړل بيايې وفرمائيل ای خلقو! زه

بَشَرٌ	يُوْشِكُ	أَنْ	يَأْتِيَنِيْ	رَسُوْلُ

ستاسو په شان یو انسان یم هغه وقت قریب دی چې څما د پروردګار استازي راشي او زه د خپل

رَبِّيْ	فَأُجِيْبَ	وَأَنَا	تَارِكٌ	فِيْكُمْ	ثَقَلَيْنِ

پروردګار حکم قبول کړم زه ستاسو په منځ کي هغه عظیم او نفیس شیان پرېږدم چې په هغه کي

أَوَّلُهُمَا	كِتَابُ	اللهِ	فِيْهِ	الْهُدٰى	وَالنُّوْرُ

یو کتاب الله دی چې په هغه کي هدایت او نور دی نوتاسو کتاب الله مضبوط ونیسئ غرض

فَخُذُوْا	بِكِتَابِ	اللهِ	وَاسْتَمْسِكُوْا	بِهٖ

داچي حضور صلى الله عليه وسلم خلقو ته د کتاب الله په حقله ښه جذبه ورکړه او هغه طرف ته یې راغب کړل بیا یې

فَحَثَّ	عَلٰى	كِتَابِ	اللهِ	وَرَغَّبَ	فِيْهِ	ثُمَّ

وفرمائیل او دي دوه عظیم څیزونو کي دوهم شی څما اهل بیت دی زه تاسو ته د الله هغه عذاب یادوم

قَالَ	وَأَهْلُ	بَيْتِيْ	أُذَكِّرُكُمُ	اللهَ

چې څما د اهل بیتو د حقوقو په آدائیګي کي د کوتاهۍ او تقصیر په سبب به وي زه دوباره تاسو ته د

فِيْ	أَهْلِ	بَيْتِيْ	أُذَكِّرُكُمُ	اللهَ

الله هغه عذاب رایادوم چې څما د اهل بیتو د حقوقو په آدائیګي کي د کوتاهي په سبب به وي او په

فِيْ	أَهْلِ	بَيْتِيْ	وَفِيْ	رِوَايَةٍ

یوه روایت کي چې په هغه کي د کتاب الله په ځاي دا الفاظ دي کتاب الله د الله رسۍ ده کوم سړی

كِتَابُ.	اللهِ	هُوَ	حَبْلُ	اللهِ	مَنِ اتَّبَعَهٗ

چې د کتاب الله اطاعت کوي یعني په هغه ایمان راوړي هغه یادوي اخلاص سره د هغه علم حاصلوي

كَانَ	عَلَى	الْهُدٰى	وَمَنْ	تَرَكَهٗ	كَانَ

او په هغه عمل کوي، نو هغه به پر حق وي او کوم سړی چې هغه پرېږدي یعني نه وربانديې ایمان راوړي

عَلَى	الضَّلَالَةِ.	رَوَاهُ مُسْلِمٌ

نه یې یادوي نه د هغه علم او عمل کي مخلص وي نو هغه به ګمراه وي.

د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لقب

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ إِذَا سَلَّمَ عَلَى ابْنِ جَعْفَرٍ قَالَ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ
حضرت ابن عمر، وايي چې هغه به کله د حضرت جعفر بن ابي طالب ځوی عبد الله ته سلام کولو
يَا ابْنَ ذِي الْجَنَاحَيْنِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ
نو داسې به يې ويل ای د دوو وزرو والا ځويه! په تا دې سلامتيا وي.

توضيح: د روميانو سره په سنه ۸ھ کې په مقام موته باندې جنګ موته شوی دی، په دې مشهور جنګ کې د حضرت زيد بن حارثه، د شهادت په وجه وروسته د امير کيدلو په حيثيت سره جنګی بيرغ د حضر جعفر، په لاس کې وو، يو کافر په هغه باندې حمله وکړه او لاس يې ترينه پرې کړلو، په بل لاس کې يې ونيوله هغه يې هم پرې کړلو. هغه بيا بيرغ په خوله او سينه ونيولو هغه کافر دده په ملا باندې حمله وکړه ذ هغه جسم يې دوه ټکرې کړو او شهيد يې کړلو، الله تعالى هغه ته دوه وزرې په جنت کې عطاء کړلې چې د هغو په واسطه دا پورته کيږي، په دغه اعتبار سره ده ته ذوالجناحين يعنې د دوو وزرو والا ويل کيږي، دلته د جعفر ځوی عبد الله مراد دی.

د حضرت حسن او حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فضيلت

﴿۸﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ
او حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما يوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې حال کې اوليدلو چې حسن ابن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د
عَلَى عَاتِقِهِ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ إِنِّي
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اوږه سور وو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ای الله! زه ده سره ډير محبت کوم ته
أُحِبُّهُ فَأَحِبَّهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
هم ده سره محبت وکړه.

د حضرت حسن سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعلق داري

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ورځې يوه حصه کې ووتم هر کله چې
فِيْ طَائِفَةٍ مِنَ النَّهَارِ حَتّٰى أَتٰى خِبَاءَ فَاطِمَةَ فَقَالَ أَثَمَّ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بي بي فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کور ته ورسيده نو پوښتنه يې وکړه آيا دلته کوچنی ماشوم شته آيا

لُكَعُ أَثَمَّ لُكَعُ يَعْنِيْ حَسَنًا فَلَمْ يَلْبَثْ أَنْ جَآءَ

دلته ککی شته؟ د حضور ﷺ مراد حضرت حسن وو چې د هغه تلاش کولو ته حضور ﷺ راغلی

يَسْعٰى حَتّٰى اعْتَنَقَ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا

وو او س لا حضور ﷺ څو لمحې تيرې کړي وې چې حسن په منډه راغلی بيا حسن حضور ﷺ سره

صَاحِبَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُحِبُّهُ

او حضور ﷺ هغه سره غاړه په غاړه شول بيا رسول الله ﷺ وفرمائيل خدايه! زه د ده سره محبت کوم

فَأَحِبَّهُ وَأَحِبَّ مَنْ يُّحِبُّهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ته هم د ده سره محبت وکړې او هغه سړي سره هم محبت وکړې چې د ده سره محبت کوي. [بخاري مسلم]

توضيح: لکع: د اصل لغت په اعتبار سره خو لکع د لام په ضمه او د کاف په زور سره غلام ته ويل کيږي، بيا په احمق او خسيس باندې يې اطلاق وشو، بيا په وړو ماشومانو کې هم استعمال شو، دلته په طور د شفقت د ورکوټي ماشوم لپاره استعمال شوی دی يعنې دلته وړوکی شته؟ دلته مُنّا شته؟

﴿۱۰﴾ وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي يو ورځ ما رسول الله ﷺ په داسې حال کې په منبر باندې خطبې

عَلَى الْمِنْبَرِ وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ إِلٰى جَنْبِهِ وَهُوَ يُقْبِلُ

ويلو سره او ليدلو چې حسن ابن علي د حضور ﷺ ښي يا چپه اړخ کې وو کله به حضور ﷺ په وعظ او

عَلَى النَّاسِ مَرَّةً وَّعَلَيْهِ أُخْرٰى وَيَقُوْلُ إِنَّ ابْنِيْ هٰذَا

نصيحت کې مخاطب کولو سره خلقو طرف ته کتل او کله به د مينې محبت نه ډک نظر سره حسن بن علي طرف ته کتل

سَيِّدٌ وَّلَعَلَّ اللهَ أَنْ يُّصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيْمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

او فرمائيل يې ځما دا ځوی سيد دی اميد دی چې الله د ده په ذريعه د مسلمانانو دوو لويو ډلو کې صلح وکړي. [بخاري]

توضيح: (ان يصلح) دا د صلح ځخه اخيستل شوی دی، د حضور ﷺ د ارشاد مطلب دا دی چې حسن کومه معمولي هستي نه ده، دا لوی سردار دی، د ده په وجه به ان شاء الله د مسلمانانو د دوو لويو جماعتونو په مينځ کې صلحه راځي او دا به خپله صلحه وکړي، دا پيشن ګوئي هغه وخت پوره شوه چې کله حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهيد کړی شو او حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلافت سنبال

کړلو ، تقریبا تر شپږو میاشتو هغه خلیفه پاتې شو بیا هغه د حضرت معاویه رضي الله عنه سره صلحه وکړه او د خلافت څخه یې لاس واخیستلو او مسلمانان تر یوه بیرغ لاندې جمع شول ، د حضرت حسن رضي الله عنه سره څلویښت زره مسلح مسلمانان ودریدلي وو او د هر قسم جنګ او مقابلې عهد یې کړی وو لیکن حضرت حسن رضي الله عنه وفرمایل چې ددې امت د یوې قطرې وینې تویول هم نه غواړم ، بغیر د کومې مجبورۍ او بغیر د کوم لالچ نه هغه خلافت پرېښودلو او مسلمانان یې سره متحد کړل ، اګرچې د هغې زمانې منافق رقمه خلک و دغه اقدام ته د نفرت په نظر سره وکتل او حضرت حسن رضي الله عنه ته یې بد رد وویل او د هغه په مخ کې یې وویل (السلام علیک یا عار المؤمنین) حضرت حسن رضي الله عنه په نهایت صبر او تحمل سره وفرمایل : اختار العار علی النار! نن شیعه ددغه معاهدې په وجه د حضرت حسن رضي الله عنه څخه ناراضه دي او شاید ددغې معاهدې په نتیجه کې شیعه ګانو هغه ته زهر ورکولو سره شهید کړی وي او تر ننه پورې د هغه په حمایت کې یو جلوس ونه وتلو څکه دننه دوی په دې باندې خوشحاله دي. په دې حدیث کې د حضرت علي او حضرت معاویه دواړه جماعتونه د مسلمانانو لوی جماعتونه وګرځول ، ددې څخه دا اندازه کیږي چې دواړه جانبه مسلمانان وو ، حضرت علي رضي الله عنه په حق باندې وو او حضرت معاویه رضي الله عنه په اجتهادي خطاء باندې وو .

حسن او حسین څما د دنیا دوه ګلان دي

﴿۱۱﴾	وَعَنْ	عَبْدِ	الرَّحْمٰنِ	بْنِ	أَبِيْ	نُعْمٍ	قَالَ سَمِعْتُ
حضرت عبد الرحمٰن بن ابي نعم وايي ما د حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه نه واوریدل هر کله چې							
عَبْدَ	اللهِ	بْنَ	عُمَرَ	وَسَأَلَهُ	رَجُلٌ	عَنِ	الْمُحْرِمِ قَالَ
اهل کوفې نه یو سړي د محرم باره کښې پوښتنه کړې وه دا روایت حضرت عبد الرحمٰن نه روایت کونکی							
شُعْبَةُ	أَحْسِبُهُ	يَقْتُلُ	الذُّبَابَ	قَالَ	أَهْلُ:		الْعِرَاقِ
راوي حضرت شعبه وايي څما خیال دی چې پوښتنه کونکی د مچ وژلو حکم دریافت کړی وو په دې							
يَسْأَلُوْنِيْ	عَنِ		الذُّبَابِ		وَقَدْ		قَتَلُوا
حضرت ابن عمر رضي الله عنه وفرمائیل د عراق یعني کوفې خلق زما نه د مچ وژلو باره کښې شرعي حکم							
ابْنَ بِنْتِ	رَسُوْلِ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	وَقَالَ	رَسُوْلُ اللهِ	صَلَّى اللهُ	عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دریافت کوي حالانکه دوی د رسول الله صلى الله عليه وسلم د لور څوی وژلي چې د هغه متعلق رسول الله صلى الله عليه وسلم							

هُمَا رَيْحَانَيَّ مِنَ الدُّنْيَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

دا فرمائيلي وو چې دا دواړه ځما د دنيا دوه ګلان دي. [بخاري]

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د حسنينو جسماني مشابهت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَشْبَهَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ټولو نه زيات مشابهت لرونكى د حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه

وَقَالَ فِي الْحُسَيْنِ أَيْضًا كَانَ أَشْبَهَهُمْ

علاوه بل څوک نه وو او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره كښې هم ووئيل چې هغه هم

بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زيات مشابه وو. [بخاري]

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پاره د علم و حكمت دعا

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ ضَمَّنِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَدْرِهِ فَقَالَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا بيان كوي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه خپلې سينې مباركې سره ولګوم او وې فرمائيل

اَللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْحِكْمَةَ وَفِي رِوَايَةٍ

خداونده! ده ته حكمت عطاء كړې او په يوه روايت كې د دعا دا الفاظ راغلي دي چې خداونده! ده

عَلِّمْهُ الْكِتَابَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ته د كتاب الله علم عطاء كړې. [بخاري]

سيدنا ابن عباس ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دُعا

﴿۱۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْخَلَاءَ

او دوئ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيت الخلاء ته داخل شو نو ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا فَلَمَّا خَرَجَ قَالَ مَنْ وَضَعَ هٰذَا

او دس د پاره او به كيښودلي بيا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بهر راووتلو نو وې فرمائيل دا او به چا اينبي دي

فَأُخْبِرَ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبر شو نو وې فرمائيل اى الله! ده ته د دين پوهه عطاء كړه. [بخاري، مسلم]

د حضرت اسامه بن زید رضي الله عنه فضیلت

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَأْخُذُهُ وَالْحَسَنَ

سامه بن زید رضي الله عنه نه منقول دی چې حضور ﷺ اسامه رضي الله عنه او امام حسن رضي الله عنه نیولی وو

فَيَقُولُ اَللّٰهُمَّ أَحِبَّهُمَا فَإِنِّي أُحِبُّهُمَا وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ كَانَ

او فرمایل به یې اې الله دې دواړو سره محبت وکړې چې زه هم دې دواړو سره محبت کوم او په یوه روایت

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْخُذُنِي فَيُقْعِدُنِي عَلَى فَخِذِهِ وَيُقْعِدُ

کې دي چې اسامه وویل رسول الله ﷺ به زه ونیولم او په خپل ورون مبارک به یې کینولم او

الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ عَلَى فَخِذِهِ الْأُخْرٰى ثُمَّ يَضُمُّهُمَا ثُمَّ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُمَا

حضرت حسن بن علي به يې دوهم ورون مبارک باندې کینولو فرمائیل ای الله! په دې دواړو رحم وکړې

فَإِنِّي أَرْحَمُهُمَا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

زه هم په دوئ مهربانه یم. [بخاري]

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دی حضور ﷺ یو فوج ولیږه او په هغه یې

بَعَثَ بَعْثًا وَّأَمَّرَ عَلَيْهِمْ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ فَطَعَنَ بَعْضُ النَّاسِ فِي إِمَارَتِهٖ

اسامه بن زید رضي الله عنه امیر لښکر جوړ کړو ځني خلقو د هغه په امارت اعتراض وکړه

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ كُنْتُمْ

رسول الله ﷺ وفرمائیل که تاسو خلقو د د اسامه په امارت معترض شوي نو دي نه مخکې تاسو

تَطْعَنُوْنَ فِي إِمَارَتِهٖ فَقَدْ كُنْتُمْ تَطْعَنُوْنَ فِي إِمَارَةِ أَبِيْهِ مِنْ قَبْلُ وَأَيْمُ اللهِ إِنْ كَانَ لَخَلِيْقًا

د ده د پلار زید په امارت هم اعتراض کړی وو او قسم په الله هغه زید د امارت قابل هم وو او تمامو خلقو نه ماته

لِلْإِمَارَةِ وَإِنْ كَانَ لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ وَإِنَّ هٰذَا لَمِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ بَعْدَهٗ.

زیات محبوب او عزیز تر هم وو او هغه نه روسته دا اسامه هم ماته د تمامو خلقو نه زیات محبوب او عزیز تر دی.

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِّمُسْلِمٍ نَّحْوَهٗ وَفِي آخِرِهٖ

[بخاري مسلم] او د مسلم په یوه روایت کې داسې دي او د هغه په آخر کی دومره اضافه هم چې خلقو

أُوْصِيكُمْ بِهِ فَإِنَّهُ مِنْ صَالِحِيكُمْ.
زه تاسو ته وصيت کوم چې يقيناً دا ستاسو د نيکو خلقو نه دی.

توضيح: حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه ظالمانو د والدينو نه غلا کولو سره غلام ګرځولی وو او په مکه کې يې خرڅ کړی وو چې کله د حضرت خديجې رضي الله عنها په لاس کې راغلو نو هغې په طور د تحفې حضور اکرم ﷺ ته ورکړلو ، هغه د حضور ﷺ په خدمت کې وو چې د هغه رشته دارانو ته معلومه شوه ، هغوی راغلل او د حضور اکرم ﷺ څخه يې وغوښتلو چې دا غلام نه دی بيا هم مونږ به تاسو ته معاوضه درکړو ، ته دا پرېږده ، حضور ﷺ وفرمايل که هغه پخپله ځي نو زما اجازت دی ،مفت يې بوځئ مګر زه په هغه باندې جبر کولی نشم . حضرت زيد خپلو خپلوانو ته وويل چې زه نه ځم ، هغوی ورته وويل چې دلته په غلامۍ باندې راضي يې هلته آزادي ده او والدين دې څه خبره کوې؟ هغه وويل چې د حضور اکرم ﷺ غلامی د بادشاهت نه بهتره ده ، هغه خلک لاړل ، د حضرت زيد رضي الله عنه څخه حضور ﷺ دومره خوشحاله شو چې هغه يې آزاده هم کړو او خپل ځوی يې وګرځولو او هميشه به يې هغه د جهاد امير جوړولو سره رخصت کولو . په سنه ۸ هـ کې يې هغه امير وګرځولو غزوه موته ته يې واستولو ، هغه هلته شهيد شولو . د هغه ځوی اسامه وو ، هغه يې د موته مقام ته د روميانو سره د جهاد کولو لپاره امير وګرځولو او ويې ليږه ، په دې باندې بعضو خلک و اعتراض وکړو چې دا کشر هم دی او ناتجربه کار هم دی هغه يې په مشرانو خلک و باندې څنګه امير جوړ کړلو ، په دغه موقع باندې حضور ﷺ وفرمايل **(ان كنتم تطعنون)** يعنې که نن تاسو ته د هغه په امارت او قيادت باندې اعتراض دی نو دده د پلار په امارت باندې هم تاسو اعتراض کړی وو ، اسامه د امارت قابل دی او زما د هغه سره محبت دی ، په راتلونکي حديث نمبر ۴۰ کې پوره تفصيل را روان دی ، په دغه وخت کې د حضرت اسامه رضي الله عنه عمر ۱۷ کاله وو .

﴿۱۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ إِنَّ زَيْدَ بْنِ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا كُنَّا نَدْعُوْهُ
د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی وايي مونږ به هغه ته زيد بن محمد ويلو سره بللي ددي
إِلَّا زَيْدَ بْنَ مُحَمَّدٍ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ أُدْعُوْهُمْ لِآبَائِهِمْ»
پوري چې په قرآن کريم کي دا آيت نازل شو تاسو هغه د هغه د پلار د نوم نسبت سره بولي.
مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَ ذُكِرَ حَدِيْثُ الْبَرَاءِ قَالَ لِعَلِيٍّ
[بخاري مسلم] او د. حضرت براء حديث چې په هغه کي حضور ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته وفرمائيل

أَنْتَ مِنِّيْ فِيْ بَابِ بُلُوْغِ الصَّغِيْرِ وَحِضَانَتِهِ.
اَنتَ مِنّی ته زمانه يي باب لوغ الصغير وحضانته کي تير شوی دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

كتاب الله او زما اهل بيت مظبوط ونيسئ

﴿۱۸﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّتِهِ يَوْمَ عَرَفَةَ
حضرت جابر رضي الله عنه نه منقول دی هغوی وويل ما د رسول الله ﷺ نه د حج په موقعه د عرفي په ورځ
وَهُوَ عَلَى نَاقَتِهِ الْقَصْوَاءِ يَخْطُبُ فَسَمِعْتُهُ يَقُوْلُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّيْ قَدْ تَرَكْتُ
خپلي د قصواء نوم اوښې باندې خطبې ورکولو سره واوريدل وي فرمائيل خلقو! زه ستاسو په منځ
فِيْكُمْ مَا إِنْ أَخَذْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوْا كِتَابَ اللهِ
کي هغه شی پرېږدم که تاسو دا مضبوطې سره ونيسئ نو هيڅ کله به گمراه نه شئ يعني د الله کتاب
وَعِتْرَتِيْ أَهْلَ بَيْتِيْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
او ځما اولاد ځما اهل بيت. [ترمذي]
﴿۱۹﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه نه روايت دی هغوئ وويل چې رسول الله ﷺ و فرمائيل زه په تاسو کي
إِنِّيْ تَارِكٌ فِيْكُمْ مَا إِنْ تَمَسَّكْتُمْ بِهِ لَنْ تَضِلُّوْا بَعْدِيْ
دوه څيزونه پريښودلو سره درنه ځم زمانه روسته چې د ځوپوري تاسو هغه نيولي وي هيڅ کله به گمراه نشي
أَحَدُهُمَا أَعْظَمُ مِنَ الْآخَرِ كِتَابُ اللهِ حَبْلٌ مَّمْدُوْدٌ مِّنَ السَّمَاءِ
هريو په هغه کي د دوهم نه عظيم تردی يو خو د الله کتاب دی د الله د آسمان نه ځمکي طرف ته راځکته شوي
إِلَى الْأَرْضِ وَعِتْرَتِيْ أَهْلُ بَيْتِيْ وَلَنْ يَّتَفَرَّقَا حَتّٰى يَرِدَا عَلَيَّ
رسي دی او دوهم ځما اولاد ځما کوروالا دی او هغوئ به جدا جدا نه وي د دي پوري چې حوض کوثر باندې ماته
الْحَوْضَ فَانْظُرُوْا كَيْفَ
راورسي نو تاسو خلق سوچ وکړئ چې تاسو به زمانه روسته هغوی سره څه معامله کوئ او څرنګه

تَخْلُفُوْنِيْ فِيْهِمَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
به ورسره پيش راځئ. [ترمذي]

د څلور تنو دښمن ګويا د حضور صلى الله عليه وسلم دښمن دی

﴿۲۰﴾ وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَلِيٍّ وَفَاطِمَةَ وَالْحَسَنِ وَالْحُسَيْنِ		
حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د علي فاطمه حسن او حسين رضي الله عنهم		
أَنَا	حَرْبٌ لِمَنْ	حَارَبَهُمْ
په حق کي وفرمائيل چاچي د دوئ سره جنګ وکړو زه به هغه سره جنګ کوم او چاچي دوئ سره		
وَسِلْمٌ لِمَنْ سَالَمَهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ		
مصالحت وساته زه به د هغه سره مصالحت ساتم. [ترمذي]		

د حضرت علي رضي الله عنه او بي بي فاطمې (رضي الله عنها) سره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم محبت

﴿۲۱﴾ وَعَنْ جُمَيْعِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ عَمَّتِيْ عَلٰى عَائِشَةَ		
او حضرت جميع بن عمير وايي يوه ورځ زه خپلي عمې سره د ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها په خدمت		
فَسَئَلْتُ أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		
کي حاضر شوم نو ما ترينه پوښتنه وکړه رسول الله صلى الله عليه وسلم د ټولو نه زيات محبت چاسره درلودلو؟		
قَالَتْ	فَاطِمَةُ فَقِيْلَ	مِنَ الرِّجَالِ
بي بي عائشې رضي الله عنها جواب راکړو فاطمې سره بيامي ترينه پوښتنه وکړه او په سړو کي يې د ټولو نه زيات		
قَالَتْ	زَوْجُهَا. رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.
محبت چاسره وو بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمائيل د فاطمې خاوند علي مرتضى سره. [ترمذي]		

توضيح: قالت فاطمة: د حضرت عائشه رضي الله عنها د منصف مزاج کيدلو اندازه ولګوئ چې حضرت فاطمه رضي الله عنها او حضرت علي رضي الله عنه يې حضور صلى الله عليه وسلم ته تر ټولو زيات محبوب وګرځول حالانکه هغې دا هم ويلی شو چې حضور اکرم صلى الله عليه وسلم ته تر ټولو زياته محبوبه زه يم او زما پلار وو او دا خبره په خپل ځای صحيح هم وه ځکه په صحيح حديث کې همداسي وارد شوي دی مګر حضرت عائشې رضي الله عنها د نهايت انصاف او وسعت قلبي مظاهره وکړه او د دغه اعزاز مستحق يې حضرت علي رضي الله عنه او حضرت فاطمې رضي الله عنها وګرځول.

اوس سوال دا دی چې ددې حدیث او د هغه حدیث په مینځ کې تعارض دی چې په هغه کې د سوال کونکي په جواب کې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما ته په زنانو کې تر ټولو محبوب عائشه ده او په نارینو کې د هغې پلار محبوبه دی!

ددې جواب دا دی چې اصل خبره خو د حضور پاک صلی الله علیه وسلم ده، حضرت عائشې رضي الله عنها خو په خپل انداز سره فرمایلي دي، هغې ته همداسې ویل پکار وو، لهذا په دې کې هیڅ تعارض نشته. باقی د چا محبوب کیدل یو شی دی او د مقام او رتبې والا کیدل بل شی دی، ډیر خلک محبوب وي مګر رتبه د نورو لویه وي.

د حضرت عباس رضي الله عنه فضیلت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ بْنِ رَبِيْعَةَ أَنَّ الْعَبَّاسَ دَخَلَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبد المطلب بن ربیعه بیان کوي یوه ورځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ناست وم چې

مُغْضَبًا وَأَنَا عِنْدَهُ فَقَالَ مَا أَغْضَبَكَ

حضرت عباس رضي الله عنه د قهر نه ډک راغلو حضور صلی الله علیه وسلم ترینه پوښتنه وکړه څه خبره ده چې هغه ته

قَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ مَا لَنَا وَلِقُرَيْشٍ إِذَا

دومره په قهر کړی یې حضرت عباس وویل ای د الله رسوله! څه دي مونږ او قریشو لره چې هرکله

تَلَاقَوْا بَيْنَهُمْ تَلَاقَوْا بِوُجُوْهٍ مُّبْشِرَةٍ وَإِذَا لَقُوْنَا

هغوئ قریش خپلو کې یو ځای کیږي نو په روڼ تندي سره یو ځای کیږي او هرکله چې زمونږ سره

لَقُوْنَا بِغَيْرِ ذٰلِكَ فَغَضِبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

یو ځای کیږي نو هغه شان نه یو ځای کیږي رسول الله صلی الله علیه وسلم سخت په قهر شو ددې پورې چې د قهر د

حَتّٰى احْمَرَّ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ

شدت نه د حضور صلی الله علیه وسلم مخ مبارک سور شو بیا حضرت عباس رضي الله عنه مخاطب کیدو سره یې وفرمائیل

وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَا يَدْخُلُ قَلْبَ رَجُلٍ الْإِيْمَانُ

قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې زما ځان دی د یو سړي په زړه کې ایمان نه داخلیږي چې

حَتّٰى يُحِبَّكُمْ لِلّٰهِ وَلِرَسُوْلِهٖ ثُمَّ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ مَنْ

هغه تاسو سره د الله او د الله د رسول لپاره محبت ونه ساتي بیا یې وفرمائیل خلقو! یو هم شئ کوم سړی

آذی	عَنِّيْ	فَقَدْ	آذَانِيْ	فَإِنَّمَا	عَمُّ	الرَّجُلِ	صِنْوُ	أَبِيْهِ

چې خصوصًا ځما تره ته تكليف وركوي هغه ګويا ماته تكليف راكوي ځكه چې تره د پلار په مثل

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي الْمَصَابِيْحِ عَنِ الْمُطَّلِبِ.

دی (ترمذي) او مصابيح كي مطلب بن ربيعه دی .

د حضرت عباس رضي الله عنه فضيلت

﴿۲۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْعَبَّاسُ مِنِّيْ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمائيل عباس زما نه دی

وَأَنَا مِنْهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

او زه د هغه نه يم. [ترمذي]

د حضرت عباس رضي الله عنه او اولاد عباس د پاره دُعاء

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلْعَبَّاسِ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ ځما پلار حضرت عباس ته وفرمائيل

إِذَا كَانَ غَدَاةُ الْإِثْنَيْنِ فَأْتِنِيْ أَنْتَ وَوَلَدُكَ حَتّٰى

چې د پير دوشنبي په ورځ ته خپل اولاد سره ماته راشه چې زه ستا سو د پاره دعا وكړم چې د هغه په

أَدْعُوَ لَكُمْ بِدَعْوَةٍ يَنْفَعُكَ اللهُ بِهَا وَوَلَدَكَ

سبب الله تعالى تا ته او ستا اولاد ته نفع ورسوي نو دوشنبي ورځ چې راغله د سهار په وقت كي

فَغَدَا وَغَدَوْنَا مَعَهُ وَأَلْبَسَنَا كِسَاءَهُ

حضرت عباس او هغه سره مونږ ټول د هغه اولاد د حضور ﷺ په خدمت كي حاضر شو حضور ﷺ

ثُمَّ قَالَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْعَبَّاسِ وَوَلَدِهِ مَغْفِرَةً ظَاهِرَةً

خپل څادر مبارک مونږ ټولو باندي واچوه او بيا دعايي وفرمائيله خداونده! عباس او د هغه اولاد وبخښي او

وَبَاطِنَةً لَا تُغَادِرُ ذَنْبًا اَللّٰهُمَّ احْفَظْهُ فِيْ

د ظاهر او باطن داسي بخشش ورته عطاء كړي چې هيڅ ګناه ورباندي نه پريږدي الهی عباس د

وَلَدِهِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ رَزِيْنٌ وَاجْعَلِ الْخِلَافَةَ

هغه اولاد کي قائم او محفوظ ولري [ترمذي] او رزين د دي دعاء په آخر کي دا الفاظ هم نقل کړي

بَاقِيَةً فِيْ عَقِبِهٖ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

دي چي امارت او بادشاهي هم د هغه په اولاد کي باقي وساتي ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی

﴿۲۵﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ رَآى جِبْرَئِيْلَ مَرَّتَيْنِ وَدَعَا لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی هغه دوه واره حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام وليدلو او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د

مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

هغه په حق کي دوه واره دعا وفرمائيله. [ترمذي]

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د عطائي حکمت دُعا

﴿۲۶﴾ وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ دَعَا لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُّؤْتِيَنِيَ اللهُ

حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی هغه بيان وکړو چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما د پاره

الْحِكْمَةَ مَرَّتَيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

دوه واره دا دعا وکړه چي الله ما ته حکمت عطاء کړي. [ترمذي]

د حضرت جعفر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کنيت

﴿۲۷﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَانَ جَعْفَرٌ يُحِبُّ الْمَسَاكِيْنَ وَيَجْلِسُ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چي جعفر بن ابي طالب به مساکينو سره ډير زيات محبت درلودلو

إِلَيْهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ وَيُحَدِّثُوْنَهٗ

د هغوئ سره به کيناستلو او پاځيدلو او د هغوئ سره به يي د دلجوئي او غم خوارۍ خبري کولي او

وَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مساکينو به هغه ته د خپل غم درد خبري کولي او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دي بناء د هغه کنيت

يُكَنِّيْهِ بِأَبِي الْمَسَاكِيْنِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ابو المساکين ايښی وو. [ترمذي]

﴿۲۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ جَعْفَرًا يَطِيْرُ فِي الْجَنَّةِ
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ما جعفر په جنت كې فرشتو
مَعَ الْمَلَائِكَةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
سره آلوتونكى ليدلى دى دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.

د جنت د ځوانانو سردار

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ
او حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل حسن او حسين دواړه د
سَيِّدَا شَبَابِ أَهْلِ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
جنت د ځوانانو سرداران دي. ترمذی.

توضيح: سيدا شباب اهل الجنة: عام خيال هغه طرفته ځي چې كوم خلك په ځوانۍ كې شهيدان كيږي حسن او حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا به په جنت كې د هغوى سرداران وي، علامه طيبي هم دا خبره ليكلې ده مګر بعضې نور علماء فرمايي چې د حديث مطلب دا دى چې په جنت كې به ټول خلك ځوانان وي د دغو ټولو اهل جنتو سرداران به حسن او حسين وي، دا خبره ډيره ښه ده مګر په دې باندې دا اعتراض دى چې حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د اهل جنت د زيات عمر والاؤ سرداران ګرځولى شوي دي نو اوس تضاد پيدا شو چې څوك به سردار وي. د دې لپاره جواب دا دى چې دا اعزازات دي ډيرو خلك و ته به اعزازات وركولى كيږي لهذا په سلهاؤ خلك هم سرداران كيدلى شي، دا هم سرداران دي او هغوى هم سرداران دي هيڅ منافات نشته.

حسن او حسين ځما د دنيا دوه ګلان دي

﴿۳۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَسَنَ
او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دى چې رسول كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل حقيقت دا دى چې حسن
وَالْحُسَيْنَ هُمَا رَيْحَانَايَ مِنَ الدُّنْيَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَدْ سَبَقَ فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ.
او حسين ځما د دنيا دوه ګلان دي. [ترمذي] دا روايت اول فصل كې تير شوى دى.

حسين سره محبت او تعلق

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ طَرَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه وايي زه يو وارد شپي خپل څه ضرورت د پاره د رسول الله صلى الله عليه وسلم

ذَاتَ لَيْلَةٍ فِيْ بَعْضِ الْحَاجَةِ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

په خدمت كي حاضر شوم نو حضور صلى الله عليه وسلم د خپل كور دننه نه داسي حال كي دباندې تشريف راوړه چې

وَهُوَ مُشْتَمِلٌ عَلَى شَيْءٍ لَاأَدْرِيْ مَا هُوَ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنْ

څه شى يې ځان نه چاپېره كړى وو او زه نه پوهيدم چې هغه څه شى وو بيا چې ما خپل ضرورت حضور صلى الله عليه وسلم ته

حَاجَتِيْ قُلْتُ مَا هٰذَا الَّذِيْ أَنْتَ مُشْتَمِلٌ عَلَيْهِ

عرض كړو نو پوښتنه مې وكړه چې دا څه شى دى چې حضور صلى الله عليه وسلم ځان نه چاپېره كړى دى حضور صلى الله عليه وسلم

فَكَشَفَهُ فَإِذَا حَسَنٌ وَالْحُسَيْنُ

هغه شى خلاص ولو څه گورم چې هغه حسن او حسين دى چې د حضور صلى الله عليه وسلم په دواړو ورنونو مباركو

عَلٰى وَرِكَيْهِ فَقَالَ هٰذَانِ اِبْنَايَ

وو يعني حضور صلى الله عليه وسلم هغوئ دواړه غيږ كي اخستو سره څادر كي پټ كړى وو بيا حضور صلى الله عليه وسلم وفرمائيل

وَابْنَا ابْنَتِيْ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُحِبُّهُمَا فَأَحِبَّهُمَا

دا دواړه حكمًا ځما ځامن دي او حقيقتًا ځما د لور ځامن دى خداونده! زه دا دواړه محبوب لرم ته هم

وَ أَحِبَّ مَنْ يُحِبُّهُمَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

دوئ محبوب لرې. اوځوک چې ددې دواړوسره محبت كوي هغه سره محبت وكړه [ترمذي]

د أم سلمه خوب او د حسين رضي الله عنه شهادت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ سَلْمٰى قَالَتْ دَخَلْتُ عَلٰى أُمِّ سَلَمَةَ

اوحضرت سلمٰى بيان كوي يوه ورځ زه دام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها په خدمت كي حاضره شوم

وَهِيَ تَبْكِيْ فَقُلْتُ مَا يُبْكِيْكِ قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

څه گورم چې هغه ژاړي ما ترينه پوښتنه وكړه ولي ژاړې هغې جواب راكړو ما رسول الله صلى الله عليه وسلم

تَغْنِيْ فِي الْمَنَامِ وَعَلٰى رَأْسِهٖ وَلِحْيَتِهِ التُّرَابُ فَقُلْتُ

په خوب کي اوليدلو چې د هغوئ سر مبارک او ږيره ګرد آلود وه ما پوښتنه وکړه يارسول الله!

مَالَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ شَهِدْتُ

تاسو ګرد الود ولي ياست؟ وي فرمائيل زه اوس د حسين قتل ګاه کي موجود وم او هلته مي ليدل

قَتْلَ الْحُسَيْنِ اٰنِفًا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

چې څما د جګر تکړه يعني لمسي ظالمانو څومره بي دردۍ سره شهيد کړو دا روايت ترمذي نقل کړی دی

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ

او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

دحسين رضي الله عنه د شهادت تفصيل به راتلونکی حديث نمبر ۴۶ کې راځي

دحسينو سره حضور صلى الله عليه وسلم محبت

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّ أَهْلُ بَيْتِكَ

حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وشوه اهلِ بيتو کي څوک تاسو

أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ وَ يَقُوْلُ لِفَاطِمَةَ

ته زيات عزيز او محبوب دی حضور صلى الله عليه وسلم و فرمائيل حسن او حسين فاطمي رضي الله عنها ته ئې فرمائيل

اُدْعِيْ لِيَ ابْنَيَّ فَيَشُمُّهُمَا وَيَضُمُّهُمَا إِلَيْهِ.

چې څما دواړه ځامن راوغواړه بيا به د هغه دواړو جسمونه بُويول او هغوئ به يې خپلي غاړي سره لګول

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترمذي دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

﴿۲۴﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُنَا

او حضرت بريده رضي الله عنه بيان کوي يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم څمونږ مخکي خطبه ارشاد فرمائيله

إِذْ جَاءَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ وَعَلَيْهِمَا قَمِيْصَانِ أَحْمَرَانِ يَمْشِيَانِ

چې اچانک حسن او حسين راغلل دواړو سره قميصونه اغوستي وو داسي راتلل چې په څمکه به

وَيَعْثُرَانِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمِنْبَرِ فَحَمَلَهُمَا وَوَضَعَهُمَا
غورځیدل پاسیدل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغوئ په لیدو سره د منبر نه راکوز شو او هغوئ دواړه خپل په غیږ
بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ صَدَقَ اللهُ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَ أَوْلَادُكُمْ
کي آخستو سره يي کينول بيايي وفرمائيل الله تعالي حق فرمائيلى دى چي: (إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ
فِتْنَةٌ فَنَظَرْتُ إِلَى هٰذَيْنِ الصَّبِيَّيْنِ يَمْشِيَانِ
فِتْنَةٌ) ما دا دواړه بچي وليدل چې تلى نشي او غورځيدو پاسيدو سره راځي نو د هغوئ محبت کې
وَيَعْثُرَانِ فَلَمْ أَصْبِرْ حَتَّى قَطَعْتُ حَدِيثِي
زما نه صبر ونه شو او ما خپله خبره ديني وعظ او نصيحت او د بيان احكام و مسائلو سلسله منقطع
وَرَفَعْتُهُمَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.
کړله او منبر نه راخکته کيدو سره مي دوى په غيږ کي واخستل. [ترمذي ابوداود نسائي]

توضيح: (فِتْنَةٌ) د فِتْنَةٌ اطلاق په څو معناګانو باندې کيږي ، د محبت په طور باندې په اولاد باندې هم کيږي لکه دلته چې شوى دى . (**يعثران**) مخې خواته غورځيدلو ته عثر ويل کيږي دلته همدا مراد دى ، يعنې کله راروان شي او کله وغورځيږي لکه څنګه چې ماشوم وي .

﴿۲۵﴾ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُسَيْنٌ مِنِّي وَأَنَا مِنْ حُسَيْنٍ
حضرت يعلى ابن مره وايي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل حسين زما نه دى او زه د حسين نه يم
أَحَبَّ اللهُ مَنْ أَحَبَّ حُسَيْنًا حُسَيْنٌ سِبْطٌ مِنَ الْأَسْبَاطِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .
ربه دي هغه چا سره محبت وساتى چاچي حسين سره محبت وساتو حسين دا سباطو نه يو سبط دى. [ترمذي]

توضيح : (سبط) په سين باندې زير دى او باء ساکنه ده شاخ ته هم وايې او اولاد ته هم ويل کيږي ، قبيلې ته هم ويل کيږي ، ټول امت ته هم ويل کيږي يعنې حسين اګرچې يو دى ليکن هغه د امتونو څخه يو امت دى ، د هغه نسل به خور شي ، دلته دغه معنى ډيره راجحه معلوميږي .

د حسنينو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مشابهت

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ الْحَسَنُ أَشْبَهَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ
او حضرت علي کرم الله وجهه نه روايت دى هغوئ وويل حسن خود رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سر نه واخله

الصَّدْرِ إِلَى الرَّأْسِ وَالْحُسَيْنُ أَشْبَهَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د سيني حصي پوري مشابه دی او حسين د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سيني نه لاندي د جسم باقي

مَا كَانَ أَسْفَلَ مِنْ ذٰلِكَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

حصې يعني د پنډي او پښو وغيره کي مشابه دی. [ترمذي]

توضيح: (اشبه) د باب افعال څخه د ماضی صيغه ده چې د شابه په معنی سره ده يعني حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چونکې مشر وو نو په مشابهت کې هغه ته پورتنۍ حصه ملاؤ شوه او حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کشر وو نو هغه ته لاندې حصه د پښو پوري مشابهت حاصل شو ، د دينه معلومه شوه چې دواړه وروڼه د خپل مور او پلار سره مشابه نه وو بلکه د نيکه سره مشابه وو .

د بي بي فاطمي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او حسينو فضيلت

﴿۲۷﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قُلْتُ لِأُمِّي دَعِينِي آتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت حذيفه بن اليمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي يوه ورځ ما خپلي مور ته وويل که ماته اجازه راکوئ نو

فَأُصَلِّيَ مَعَهُ الْمَغْرِبَ وَأَسْأَلُهُ

زه به نن مابنام مونځ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وکړم او بيا به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته درخواست وکړم

أَنْ يَسْتَغْفِرَ لِي وَلَكِ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

چې هغوئ زما او ستا د پاره د بخشش او مغفرت دعا وغواړي نو ځما مور ماته اجازه راکړه او زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَصَلَّيْتُ مَعَهُ الْمَغْرِبَ فَصَلَّى حَتَّى صَلَّى الْعِشَاءَ ثُمَّ انْفَتَلَ

په خدمت کي حاضر شوم او د مابنام مونځ مي وسره وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مابنام مانځه نه روسته نفلونه

فَتَبِعْتُهُ فَسَمِعَ صَوْتِي فَقَالَ

دَ ل ددي پوري چې د ماخستن مونځ يي وکړو او کوم وقت چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه نه فارغيدو سره

مَنْ هٰذَا؟ حُذَيْفَةُ؟ قُلْتُ نَعَمْ

کور طرف ته روان شو نو زه وروسته شوم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځما اواز او اواز هم واوريده نو پوښتنه يي وکړه څوک دی؟

قَالَ مَا حَاجَتُكَ غَفَرَ اللهُ لَكَ وَلِأُمِّكَ إِنَّ هٰذَا مَلَكٌ لَمْ يَنْزِلِ الْأَرْضَ قَطُّ قَبْلَ

چې دا وقت خپل کور ته د تلو په خاي په ما پسي راروان دی الله دي تا او ستا د مور عفو او بخشش وکړي.

هٰذِهِ	اللَّيْلَةِ	اِسْتَأْذَنَ	رَبَّهُ
ګوره دا يوه فرښته ده چې د دې شپې نه مخکې هيڅ کله ځمکې ته نه وه راکوزه شوې دې فرښتې د			
أَنْ	يُسَلِّمَ	عَلَيَّ	وَيُبَشِّرَنِيْ
خپل پروردګار نه د دې خبرې اجازت اخستی دی چې ځمکې ته راخکته کيدو سره ماته سلام وکړي			
بِأَنَّ فَاطِمَةَ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَأَنَّ الْحَسَنَ وَالْحُسَيْنَ سَيِّدَا شَبَابِ			
او ماته دا خوشخبري واوروي چې فاطمه د جنتيانو ښځو سرداره ده او حسن او حسين د جنتيانو ځوانانو سرداران دي			
أَهْلِ الْجَنَّةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.			
دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی			

ښه سور لي ښه سور

﴿۳۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَامِلَ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ عَلٰى عَاتِقِهٖ						
او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی وايي يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حسن بن علي په خپلې اوږې باندې						
فَقَالَ	رَجُلٌ	نِعْمَ	الْمَرْكَبُ	رَكِبْتَ	يَا غُلَامُ	فَقَالَ
کينولی وو چې يو سړي وويل ای خوش نصيبه ماشومه! څرنګه ښې سورلۍ باندې سپور يې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنِعْمَ الرَّاكِبُ هُوَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.						
په دې اوريدو سره وفرمائيل او هغه سور هم څومره ښه دی. [ترمذي]						

توضيح: (ونعم الراكب) ويونکي کس فضيلت د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره خاص کړلو چې دا مرکب او سورلۍ ډيره ښه ده ځکه دا د الله رسول دی چې په هغه باندې ای حسنه ته سور يې، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه فضيلت تر حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ طرفته منتقل کړلو او ويې فرمايل چې د مرکوب سره سره دغه راکب حسن هم بهترين او ډير ښه دی.

د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۳۹﴾	وَعَنْ	عُمَرَ	أَنَّهُ	فَرَضَ	لِأُسَامَةَ	فِيْ	ثَلٰثَةِ آلَافٍ
او حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی هغوی په خپله زمانه خلافت کې د اسامه بن زيد سالانه تنخواه درې زره							

وَخَمْسِ مِائَةٍ وَفَرَضَ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ فِيْ ثَلَاثَةِ آلَافٍ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ لِأَبِيْهِ

پنځه سوه ۳۵۰۰ درهم مقرر کړي وه او د خپل فرزند عبد الله يې دري زره ۳۰۰۰ درهم، په دي عبد الله خپل پلار ته عرض وکړو

لِمَ فَضَّلْتَ أُسَامَةَ عَلَيَّ

تاسو اسامه ته په ما ولي ترجيح ورکړه چې ځما تنخواه د هغه نه پنځه سوه درهمه کمه مقرره کړله

فَوَاللهِ مَا سَبَقَنِيْ إِلَى مَشْهَدٍ قَالَ

حالانکه په الله قسم چې اسامه هيڅ ميدان کي په ما سبقت او بازي نه ده حاصله کړي حضرت عمر رضي الله عنه ورته و فرمائيل

لِأَنَّ زَيْدًا كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَبِيْكَ

د دي وجه داده چې د اسامه پلار زيد رسول الله ﷺ ته ستا تر پلار يعني ځما نه زيات عزيز او محبوب وو

وَكَانَ أُسَامَةُ أَحَبَّ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكَ فَآثَرْتُ

او خپله اسامه رسول الله ﷺ ته ستا نه زيات عزيز او محبوب وو نو ما د رسول الله ﷺ

حِبَّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. عَلَى حِبِّيْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

محبوب اسامه ته پر خپل محبوب يعني په تا باندې ترجيح ورکړله. [ترمذي]

د حضرت زيد بن حارثه رضي الله عنه فضيلت

﴿۲۰﴾ وَعَنْ جَبَلَةَ بْنِ حَارِثَةَ قَالَ قَدِمْتُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ

او حضرت جبله بن حارثه رضي الله عنه بيان کوي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر يدو سره عرض مې وکړو

يَا رَسُوْلَ اللهِ اِبْعَثْ مَعِيَ أَخِيْ زَيْدًا قَالَ

يا رسول الله! ځما ورور زيد ما سره وليږئ حضور ﷺ ورته و فرمائيل دا زيد موجود دی

هُوَ ذَا فَإِنِ انْطَلَقَ مَعَكَ لَمْ أَمْنَعْهُ قَالَ زَيْدٌ

او د خپلي مرضي مختار دی که تا سره تلل غواړي نو زه يې له دينه منع کوم زيد په دي اوريدو

يَا رَسُوْلَ اللهِ وَاللهِ لَا أَخْتَارُ عَلَيْكَ

سره وويل يا رسول الله! قسم په الله زه ستا سو صحبت او په خدمت کي د پاتې کيدو په سعادت چا ته

أَحَدًا	قَالَ	فَرَأَيْتُ	رَأْيَ	أَخِيْ

ترجيح نه ورکوم که هغه وروروي يا والدين وي جبله وايي ماچي د زيد دا مضبوطه فيصله واوريده

أَفْضَلَ	مِنْ	رَأْيِيْ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ.

نو مي منله چې ځما د ورور عقل ځما د عقل نه زيات دی. [ترمذي]

توضيح: ددېنه مخکې د حديث نمبر ۱۶ لاندې هم د حضرت زيد رضي الله عنه متعلق څه ليکل شوي بيا په اشاره وکړم چې حضرت زيد رضي الله عنه د يمن او سيدونکی وو ، په ورکوتې والي کې د اتو کالو په عمر خلکو هغه غلا کړو د مکې په بازار کې يې غلام کرځولو سره خرڅ کړلو . د حضرت خديجې رضي الله عنها وراره حکيم بن حزام د حضرت خديجې رضي الله عنها لپاره واخيسته ، چې کله د حضرت خديجې رضي الله عنها نکاح د حضور صلی الله علیه وسلم سره وشوه نو هغې په طور د خادم حضرت زيد رضي الله عنه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کې پيش کړلو ، حضرت زيدبن حارثه رضي الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې د غلامی ژوند تيرولو او د هغه والدين د هغه لپاره بی انتهاء ژړيدل ، هغوی ته معلومه نه وه چې زيد چيرته دی ؟

د حضرت زيد رضي الله عنه والد ثابت په طور د فرياد يوه قصيده وويله يو څو اشعار ملاحظه کړئ :

بَكَيْتُ عَلَى زَيْدٍ وَلَمْ أَدْرِ مَا فَعَلَ　　أَحَيٌّ فَيُرْجَى أَمْ أَتَى دُوْنَهُ الْأَجَلُ

ترجمه : زه په زيد باندې ژړيږم مګر ماته معلومه نه ده چې هغه ژوندی دی او که مړ دی .

فَوَاللهِ مَا أَدْرِيْ وَإِنِّيْ لَسَائِلٌ　　أَغَالَكَ بَعْدِيَ السَّهْلُ أَمْ غَالَكَ الْجَبَلُ

ترجمه : په الله قسم! ماته هيڅ معلومه نه ده مګر زه پوښتنه کوم چې تا ته په ميدانې علاقه کې موت راغلی او که په غره کې مرګ راغلی دی .

وَيَا لَيْتَ شِعْرِيْ هَلْ لَكَ الدَّهْرُ أَوْبَةٌ　　فَحَسْبِيْ مِنَ الدُّنْيَا رُجُوْعُكَ لِيْ بَجَلْ

ترجمه: ای کاشکې! ماته دا معلومه شي چې په ژوند کې کله هم ته راځې نو ماته د دنيا په ټولو نعمتونو کې ستا ژوندي راتلل کافي دي .

د پلار دغه اشعار چې کله زيد وو اوريدل نو په جواب کې د دغه مندرجه ذيل اشعار وويل :

أَحِنُّ إِلَى أَهْلِيْ وَإِنْ كُنْتُ نَائِيًا　　بِأَنِّيْ قَعِيْدُ الْبَيْتِ عِنْدَ الْمَشَاعِرِ

ترجمه : زه اګر چې لرې يم او د بيت الله سره مقيم يم مګر بيا مې هم د کور والا يادېږي .

فَإِنِّيْ بِحَمْدِ اللهِ فِيْ خَيْرِ أُسْرَةٍ　　كِرَامُ مَعَدٍ كَابِرًا بَعْدَ كَابِرِ

ترجمه : د الله تعالی په فضل سره زه د معد بن عدنان په بهترينه او معززه کورنی کې مقيم يم

فَكُفُّوا مِنَ الْوَجْدِ الَّذِي قَدْ شَجَاكُمْ   وَلَا تَعْلَمُوا فِي الْأَرْضِ نَصَّ الْأَبَاعِرِ

ترجمه: نو تاسې د هغه غم کولو نه واپس شئ په کوم کې چې تاسې مبتلا یاست او په ځمکه کې زما د تلاش لپاره اوښ مه ځغلوئ. د الله کول داسې وو چې دا اشعار د هغه والد ته ورسیدل. په اشعارو کې هغه ویلی وو چې زه د حرم سره اوسیږم، بیا د حضرت زید ورور جبله بن حارثه مکې ته راغی او حضرت زید رضی الله عنه یې وغوښته لکه مخکې چې مې ولیکل، حضرت زید رضی الله عنه د تللو څخه انکار وکړو، حضور اکرم صلی الله علیه وسلم هغه خپل ځوئ جوړ کړلو او د حضرت زینب رضی الله عنها سره یې د هغه نکاح وتړله. هغه رشته ماته شوه بیا حضور صلی الله علیه وسلم د هغه نکاح د ام ایمن سره وتړله د هغې د بطن نه حضرت اسامه رضی الله عنه پیدا شو، بیا حضور صلی الله علیه وسلم حضرت زید امیر جوړ کړلو غزوه موته ته یې واستولو. هلته حضرت زید په سنه ۸ هـ کې د ۵۵ کلونو په عمر شهید کړی شو.

د حضور صلی الله علیه وسلم د اسامه رضی الله عنه سره محبت

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت اسامه بن زید رضی الله عنه بیان کوي هغه ورځو کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مرض وفات کې ډیر
هَبَطْتُ وَهَبَطَ النَّاسُ الْمَدِينَةَ
زیات کمزوری شوی وو زه او نور خلق په مدینه کې خکته شو زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې
فَدَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حاضر شوم هغه وقت حضور صلی الله علیه وسلم باندې خاموشي خوره وه یعني د شدت مرض او ضعف په
وَقَدْ أُصْمِتَ فَلَمْ يَتَكَلَّمْ فَجَعَلَ
سبب د یې د خبرو طاقت باقي نه وو پاتې شوی نو ځما په لیدو سره حضور صلی الله علیه وسلم ژبې مبارکې سره هیڅ
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَيْهِ عَلَيَّ
ونه ویل بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم دا ضرور وکړل چې خپل دواړه لاسه به یې په ما اینښودل بیا به یې
وَيَرْفَعُهُمَا فَأَعْرِفُ أَنَّهُ يَدْعُو لِي.
او چتول د نور ولایت او ظهور فراست په سبب زه پوهه شوم چې حضور صلی الله علیه وسلم ځما په حق کې دعا
رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ
فرمایي دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

توضيح: ثقل: د مرض الموت شدت ته اشاره ده.

هبط: د ملاقات او عيادت لپاره راتللو او خکته کيدلو به معنی سره دی.

اصمت: يعني د شدت مرض په وجه هغه د بې هوشئ په حالت کې وو او خبرې يې بندې شوي وي، دا د يوه حالت واقعه ده او که نه نو په بل حالت کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لپاره جنګی بيرغ تړلی وو او رخصت کړی يې وو او دا آخری ملاقات وو، ليکن شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په اشعة اللمعات کې ليکلي دي چې کله د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لښکر د مدينې څخه بهر پړاؤ اچولی وو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرض کې شدت راغی نو په دغه وخت کې حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عيادت لپاره حاضر شوی وو، دا د هغه وخت خبره ده چې د مرض د شدت په وجه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبره نشوې کولی.

يرفعها: يعني لاس يې د آسمان طرفته پورته کولو او اشاره يې کوله چې ددينه ما اندازه ولګوله چې حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ماته دعاء کوي.

﴿۴۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُنَحِّيَ مُخَاطَ أُسَامَةَ
او ام المؤمنين بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بيان کوي چې يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسامه په ماشوم توب
قَالَتْ عَائِشَةُ دَعْنِيْ حَتّٰى أَنَا الَّذِيْ أَفْعَلُ
کې د هغه پوزه صاف کول او نو ما عرض وکړو يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو دا کار پرېږدئ دا به زه وکړم نو
قَالَ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّيْهِ فَإِنِّيْ أُحِبُّهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ای عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا! ته اسامه سره محبت ساته ځکه چې زه دي عزيز او محبوب لرم. [ترمذي]

(مخاط) ګرنګو [خټو] ته مخاط ويل کيږي.

﴿۴۳﴾ وَعَنْ أُسَامَةَ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا إِذْ جَاءَ عَلِيٌّ وَالْعَبَّاسُ
او حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې زه ناست وم چې حضرت علي او حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راغلل د
يَسْتَأْذِنَانِ فَقَالَا لِأُسَامَةَ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې د حاضرۍ د اجازت طلبګار وو هغو دواړو اسامه ته وويل چې هغه ورځو کې
اسْتَأْذِنْ لَنَا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ عَلِيٌّ
د لږ عمر وو چې ته زمونږ د پاره د حاضرۍ اجازت طلب کړه ما عرض وکړو يا رسول الله! حضرت علي

وَالْعَبَّاسُ	يَسْتَأْذِنَانِ	فَقَالَ

او حضرت عباس د حاضرۍ د اجازت طلبګار دي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمانه پوښتنه وکړه تاته معلومه ده

أَتَدْرِي	مَا	جَاءَ	بِهِمَا	قُلْتُ	لَا	قَالَ

چې هغه دواړه کوم مقصد دپاره راغلي دي؟ ما عرض وکړو ماته معلومه نه ده حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل

لَكِنِّي	أَدْرِي	إِئْذَنْ	لَهُمَا	فَدَخَلَا	فَقَالَا	يَا	رَسُولَ	اللهِ

لیکن زه پوهیږم ورشه هغوئ دننه راوله دواړه حضرات دننه راغلل او هغوئ وویل یارسول الله!

جِئْنَاكَ	نَسْأَلُكَ	أَيُّ	أَهْلِكَ	أَحَبُّ

مونږ ستاسو په خدمت کي دي سوال راوړلو سره راغلي یو چې ستا سو اهل بیتو کي کوم سړی ستا سو په

إِلَيْكَ	قَالَ	فَاطِمَةُ	بِنْتُ	مُحَمَّدٍ

نزد زیات محبوب دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل ځما لور فاطمه بنت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته زیاته

قَالَا	مَا	جِئْنَاكَ	نَسْأَلُكَ

عزیزه او محبوبه ده هغه دواړو حضراتو عرض وکړو ځمونږ د سوال تعلق ستا سو کورو الاوو یعني

عَنْ	أَهْلِكَ	قَالَ	أَحَبُّ	أَهْلِي

ستا سو اولاد او ازواجو سره نه دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل ځما کورو الاوو نه هغه سړی ځما په نزد

إِلَيَّ	مَنْ	قَدْ	أَنْعَمَ	اللهُ	عَلَيْهِ

زیات عزیز او محبوب دی چې الله ورباندې خپل انعام او فضل کړی دی په ایمان سره او ماهم

وَأَنْعَمْتُ	عَلَيْهِ	أُسَامَةُ	بْنُ	زَيْدٍ

په هغه انعام او احسان کړی دی په آزادولو سره او هغه اسامه بن زید دی حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او

قَالَا	ثُمَّ	مَنْ؟	قَالَ

حضرت عباس پوښتنه وکړه اسامه نه روسته څوک زیات محبوب او عزیز دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل

عَلِيُّ	ابْنُ	أَبِي	طَالِبٍ	فَقَالَ	الْعَبَّاسُ	يَا	رَسُولَ	اللهِ	جَعَلْتَ	عَمَّكَ

بیا علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن ابي طالب په دي او رید و سره حضرت عباس وویل یارسول الله! تاسو خپل تره یعني

آخِرَهُمْ	قَالَ	إِنَّ	عَلِيًّا	سَبَقَكَ بِالْهِجْرَةِ.

زه خپل کورو الو کي په آخر کي واچولم حضور ﷺ ورته و فرمائيل علي په هجرت کي په تا سبقت

رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَذُكِرَ	أَنَّ	عَمَّ	الرَّجُلِ	صِنْوُ	أَبِيهِ

کړی دی. [ترمذي] او روايت: انّ عمّ الرّجل صنو ابيه: د حضرت عباس رضی الله عنه منقبت کي مخکي په

فِيْ	كِتَابِ	الزَّكَاةِ.

كتاب الزكوة كي نقل شوی دی.

توضیح : **(ماجئناك نسألک)** یعني موږ ستا څخه ستا د اولاد د محبوبیت په باره کې سوال نه کوو بلکه ستا د نورو اقاربو او رشته دارانو په باره کې معلومات کوو چې په هغو کې تا ته تر ټولو زیات محبوب څوک دي؟ حضور ﷺ وفرمایل اسامه او بیا علی، په دې باندې حضرت عباس رضی الله عنه وفرمایل چې تا خپل تره وروسته کړلو، حضور ﷺ وفرمایل چې علی رضی الله عنه ستا نه مخکې هجرت کړی دی په دغه وجه یې سبقت کړی دی، همدې سبقت ته حضرت علی رضی الله عنه داسې اشاره کړې ده:

سبقتکم الی الاسلام طرا   زمانا ما بلغت اوان حلمی

الفصل الثالث

حضرت حسن د حضور ﷺ سره ډیر مشابه وو

﴿۴۴﴾ عَنْ	عُقْبَةَ	بْنِ	الْحَارِثِ	قَالَ	صَلَّى	أَبُوْبَكْرٍ	الْعَصْرَ	

حضرت عقبه بن حارث بيان کوي چې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د ماز يګر مونځ کولو سره بهر راووتلو

ثُمَّ	خَرَجَ	يَمْشِيْ	وَمَعَهُ	عَلِيٌّ	فَرَأَى

او چيرته تلو د پاره روان شو هغه وقت د هغوئ سره حضرت علي هم وو په لار کي حضرت ابوبکر رضی الله عنه

الْحَسَنَ	يَلْعَبُ	مَعَ	الصِّبْيَانِ	فَحَمَلَهُ	عَلَى عَاتِقِهِ

چې حسن اوليدلو چې د ږو سره يي لوبي کولې نو اوچتولو سره يې خپله اوږه باندې کينولو او د

وَقَالَ	بِأَبِيْ	شَبِيْهٌ	بِالنَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ

خوش طبعي له مخه يي وويل څما پلار دي په تا قربان شي دا حسن د رسول الله ﷺ سره ډير مشابه

لَيْسَ	شَبِيْهًا	بِعَلِيٍّ	وَعَلِيٌّ	يَضْحَكُ.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ

دی علي سره نه دی په دي اوريدو سره حضرت علي د اظهار خوشۍ په طور وخندل. [بخاري]

توضيح: ليس شبيها بعلي: يعني حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل نيكه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مشابه دی، د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مشابه نه دی، ددينه معلومه شوه چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مينځ کې مشابهت جسماني نه وو لهذا په دې حديث سره د شيعه شنيعه په فرقه غرابيه باندې رد راغی چې هغوی وايي چې حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپل مينځ داسې سره مشابه وو لکه څنګه چې يو کارغه د بل کارغه سره مشابه وي، په دغه وجه جبرئيل عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرق نشو کولی او وحی به يې د علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ځای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راوړله او نبوت دې طرفته لاړو، بعضې بدبخته شيعه دا هم وايي چې حضور اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپلې لور فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نکاح د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره وکړه او د دې په بدله کې يې د هغه څخه نبوت واخيستلو، **فلعنة الله علی هؤلاء الكفرة الفجرة لعنًا كبيرًا** و دمرهم تدميرا.

دقاتل حسين حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اويزيد حيثيت د ابن زياد بدبختي

﴿۲۵﴾ وَعَنْ	أَنَسٍ	قَالَ	أُتِيَ	عُبَيْدُ	اللهِ	بْنُ	زِيَادٍ	بِرَأْسِ	الْحُسَيْنِ	
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي کوم وقت چې د حضرت حسين سرمبارک د عبيد الله بن زياد مخې										
فَجُعِلَ	فِيْ	طَسْتٍ	فَجَعَلَ	يَنْكُتُ	وَقَالَ	فِيْ	حُسْنِهِ	شَيْئًا		
ته يولګن کې کېخودل شو نو هغه بدبخت خپلې لښتې سره د هغه سرمبارک وهل شروع کړل بيا هغه										
قَالَ	أَنَسٌ	فَقُلْتُ	وَاللهِ	إِنَّهُ	كَانَ					
د هغوئ د حسن باره کې څه وويل حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما وويل قسم په الله دا هغه مقدس انسان دی										
أَشْبَهَهُمْ	بِرَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ				
چې اهل بيتو کې د ټولو نه زيات د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مشابه وو هغه وقت د حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ										
وَكَانَ	مَخْضُوْبًا	بِالْوَسْمَةِ	. رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ	وَفِيْ	رِوَايَةِ	التِّرْمِذِيِّ	قَالَ		
سرمبارک وسمې سره رنګ شوی وو [بخاري] او د ترمذي په روايت کې داسې دي حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ										

كُنْتُ عِنْدَ ابْنِ زِيَادٍ فَجِيْءَ بِرَأْسِ الْحُسَيْنِ فَجَعَلَ يَضْرِبُ بِقَضِيبٍ
بيان وكړو چې هغه وقت زه ابن زياد سره موجود وم چې د حضرت حسين سرمبارک د هغه مخ ته
فِيْ أَنْفِهِ وَيَقُوْلُ مَا رَأَيْتُ مِثْلَ هٰذَا حُسْنًا فَقُلْتُ
راوړل شو ابن زياد به هغه په پوزه باندې په لښتې سره وهلو او ويل به يې داسې حسن ما هيڅ كله نه
أَمَا إِنَّهُ كَانَ مِنْ أَشْبَهِهِمْ بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دى ليدلى ما ورته وويل تا ته معلومه ده دا هغه سړى دى چې رسول الله ﷺ سره د ټولو نه زيات
وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.
مشابه وو ترمذي ويلي دي دا حديث صحيح حسن غريب دى.

توضيح : (عبيدالله بن زياد) د يزيد له طرفه عبيدالله بن زياد د بصرې والى وو مګر يزيد د حضرت حسين رضي الله عنه د مقابلې لپاره په خاص طور عبيد الله بن زياد فورا د بصرې څخه لرې كړو او د كوفې والى يې مقرر كړلو تر څو ابن زياد په ذاتي دلچسپۍ سره حسين رضي الله عنه قتل كړي ، دا بدبخته كوفې ته راغلو ، اول هغه مسلم بن عقيل شهيد كړلو او په قصر امارت باندې يې قبضه وكړه او د هغه نه وروسته يې د فوج قيادت په خپل لاس كې واخيسته حضرت حسين رضي الله عنه يې د كربلا په ميدان كې شهيد كړلو ، د حضرت حسين رضي الله عنه سر يې د تن څخه جدا كړلو او په كاسه كې كېښودلى شو او په ابن زياد باندې پيش كړى شو ، ددې بدبخته په لاس كې يوه امسا وه هغه يې د حضرت حسين رضي الله عنه په پوزه او سترګه كې وهله او په طور د استهزاء يې ويلو چې څومره ښايسته دى ؟ حسين ډير ښايسته دى؟ ښه دا ښايسته دى؟ په دې باندې حضرت انس رضي الله عنه هغه ته زورنه وركړه . (فى حسنه شئ) ددې لفظ همدا مطلب دى چې په طور د استهزاء هغه د حسين په حسن كې بد رد ويل ، ويل كيږي چې څه وخت بعد مختار بن عبيد ابن زياد لره قتل كړلو او د هغه سر يې راوړو د همدې مسجد په برنده كې كېښوده ، ناڅاپه شور شو چې راغى راغى! چې كله وكتل شو نو يو مار راغى او د ابن زياد په پوزه كې ننوته او بيا ووتو ، دوه درې ځله داسې وشول او خلكو تبنتيدل . په حضرت حسين رضي الله عنه باندې واركو ونكي شخص نوم سنان بن انس نخعى دى ، دغه بدبخت چې كله د حسين رضي الله عنه سر د ابن زياد په مخ كې كېښوده نو دا شعر يې وويلو :

اوقر ركابى فضة و ذهبا

انى قتلت الملك المحجبا

قتلت خير الناس اما و ابا

ترجمه : زما سورلی د سرو او سپینو څخه ډکه کړئ، ما ډیر محفوظ بادشاه قتل کړلو چې په حسب او نسب کې د ټولو نه بهتر وو .

وایې چې کله د حضرت حسین رضي الله عنه سر د یزید په مخ کې کېښودلی شو نو یزید دا شعر وویلو :

نفلق هاما من رجال اعزة　　علينا وكانوا اعق واظلما

ترجمه : مونږ د باعزتو خلکو کوپړی جدا کوو ، ځکه چې هغوی زموږ په حق کې ډیر نافرمانه او لوی ظالمان وو .

د یزید په باره کې د صاحب روح المعاني علامه آلوسی رحمه الله تحقیق

د سورة محمد د آیت نمبر ۲۳ په تفسیر کې علامه روح المعانی د یزید او قاتلانو د حسین رضي الله عنه په باره کې ډیر څه لیکلي دي ، لکه هغه لیکلي دي چې د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځوی عبد الله د خپل پلار نه پوښتنه وکړه چې په یزید باندې لعنت ویل څنګه دي؟ امام احمد رحمه الله په جواب کې وفرمایل چې په کوم شخص باندې چې الله تعالی په خپل کتاب کې لعنت ویلی په هغه دي ولې لعنت ونه ویلی شي ، ځوی یې وویل چې پلاره ما خو ټول قرآن ویلی په دې کې خو چیرته هم په یزید باندې لعنت نشته ، امام احمد رحمه الله وویل چې د الله تعالی فرمان دی : **فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِنْ تَوَلَّيْتُمْ أَنْ تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ) أُولَئِكَ الَّذِينَ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فَأَصَمَّهُمْ وَأَعْمَى أَبْصَارَهُمْ** . په دې آیت کې الله تعالی په فساد کونکي او صله رحمي کټ کونکي باندې لعنت فرمایلی دی او یزید چې کوم څه د حضرت حسین رضي الله عنه سره وکړل د هغه نه غټ فساد څه کیدلی شي او د دینه زیات صله رحمی کټ کول چیرته راتللی شي . (روح المعانی جلد ۹ صفحه ۷۲)

علامه روح المعانی بیا لیکي چې د دینه معلومه شوه چې په یو شخص باندې معین کولو او نامزد کولو سره لعنت ویل جائز دي مګر په دې کې یو څه اختلاف شته ، نو د جمهورو په نزد په کوم معین شخص باندې لعنت ویل جائز نه دي که هغه فاسق وي یا غیر فاسق او که هغه ژوندی وي یا وفات شوی وي چې کله د هغه کفر یقیني نه وي . هو ! د چا چې مرګ یقیني طور په کفر باندې راغلی وي په هغه باندې لعنت ویل جائز دي لکه ابو جهل وغیره ، مګر شیخ الاسلام علامه بلقینی رحمه الله دیته تللی دی چې په یو یقیني فاسق فاجر شخص باندې هم لعنت ویل جائز دي ، په ډیرو احادیثو کې ددې شواهد موجود دي .

علامه روح المعانی لیکي چې مونږ به د علامه بلقیني د تحقیق په رڼا کې په یزید باندې لعنت ویلو کې هیڅ تردد ونکړو ځکه چې د یزید صفات خبیثه او د کبائرو ارتکاب د حد نه زیات دي ،

هغه چې په خپل دور اقتدار کې د اهل مکه او اهل مدینه سره کوم څه وکړل ، د حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په قتل باندې د کومې خوشحالی اظهار وکړو د هغه د کور والاؤ يې چې کوم توهین وکړو دا د هغه د لعنت لپاره کافې دي . علامه بیا لیکي چې په یزید باندې لعنت ویلو او د هغه په کفر باندې د علماؤ د يوه جماعت تصریحات موجود دي ، د هغوی نه حافظ ابن الجوزی رَحِمَهُ اللهُ دی او د هغه نه مخکې قاضی ابویعلی رَحِمَهُ اللهُ دی .

علامه تفتازانی لیکلي دي چې موږ د یزید په لعنت کې بلکه د هغه په ایمان کې هیڅ توقف نه کوو، په هغه او د هغه په اعوانو دي د الله تعالی لعنت وي، علامه الوسی بیا لیکي چې د یزید په لعنت باندې د علامه سیوطی تصریح هم موجوده ده ، او د ابن وردی په تاریخ کې او په کتاب الوافی بالوفیات کې لیکلي دي چې کله د عراق څخه د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پس ماندګان ښځې او ماشومان قید کړی شول او یزید ته ورسول شول نو یزید د هغو د کتلو لپاره تر مقام جیروان پورې بهر راغی ، د حضرت حسین او علی بن حسین ماشومان او ښځې ګرفتار وو ، د حسین او د هغه د ملګرو سرونه په نیزو باندې پورته کړی شوي وو چې یوه کارغه د کاغ کاغ آوازونه شروع کړل ، په دې باندې یزید دا شعر وویلو :

لما بدت تلک الحمول و اشرفت تلک الروس علی شفا جیرون

ترجمه : چې کله دغه سورلې نږدې ښکاره شوې او د مقام جیرون څنډو ته په نیزو پورته کړی شوي سرونه راغلل .

نعب الغراب فقلت قل او لاتقل فقد اقتضیت من الرسول دیونی

ترجمه : نو یوه کارغه د نحوست آواز وکړو ، ما کارغه ته وویل ته آواز کوه یا مه کوه ما د رسول څخه د خپلو مقتولینو بدله واخیستله .

علامه روح المعانی رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې د بدر په جنګ کې د یزید نیکه عتبه غیره قتل کړی شوي وو، یزید په دغو اشعارو کې د همدې بدلې ذکر کړی دی ، علامه لیکي کچیرې دغه اشعار صحیح ثابت شي نو په دې سره به یزید کافر شي ، همدارنګه څو نور اشعار هم یزید ویلي دي په هغو سره هم د یزید کافر کیدل ثابتیږي .

په هر حال د جمهورو علماؤ د اهلسنت موقف دا دی چې د یزید په کفر باندې مړ کیدل یقینی نه دي لهذا په هغه باندې د مرګ نه وروسته لعنت ویل جائز نه دي ، لکه علامه روح المعانی په خپل تحقیق کې بیا فرمایي چې بل طرفته امام غزالی رَحِمَهُ اللهُ دیته تګ کړی چې په یزید باندې لعنت ویل حرام دي بلکه د مسلمانانو دعاګانې هغه ته شاملې دي ځکه هغه مسلمان وفات شوی دی .

علامه سفارینی رَحِمَهُ اللهُ د امام غزالی قول رد کړی دی ، علامه روح المعانی د علامه سفارینی قول

غوره کړي دي چې په هغه کې ده د امام غزالی قول رد کړی دی ، شیخ الاسلام علامه ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ لیکلي دي چې د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نزد په یزید باندې لعنت ویل مکروه دي، هلته ابوبکر بن العربی المالکی د یزید ډیر حمایت کړی دی او لیکلي یې دي چې **(ان الحسین قتل بسیف جده)** یعنې د حضور ﷺ د فرمان مطابق د بغاوت لاندې حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قتل کړی شو ، د دغه کلام په وجه علامه آلوسی رَحِمَهُ اللهُ په یزید باندې د تنقید نه زیات په سخت انداز کې په ابن عربی باندې تنقید کړی دی (ابن عربی د دغه تنقید مستحق هم دی) .

علامه آلوسی د دغه ټول اختلاف خلاصه دا رنګه ویستلې ده چې کوم څه د یزید په باره کې ویل شوي دي د هغه خلاصه دا ده چې بعضې حضرات د یزید په باره کې وایې چې هغه مسلمان دی په هغه باندې لعنت ویل صحیح نه دي خو بیا هم هغه د اهل بیتو په باره کې د معصیت مرتکب شوی دی هغه د دې مجرم دی. د علماؤ دویمه طبقه وایې چې یزید مسلمان دی مګر سره د کراهت نه په هغه باندې لعنت ویل جائز دي یا بغیر د کراهت نه هم جائز دی . دریمه طبقه وایې چې یزید کافر او ملعون دی په هغه باندې لعنت ویل جائز دي . څلورمه طبقه وایې چې یزید پاک او صفا دی هغه چې څه کړي دي هغه ګناه نه وه .

علامه آلوسی بغدادی رَحِمَهُ اللهُ لیکي چې زه خو دا وایم چې زما په غالب ګمان سره یزید خبیث د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رسالت تصدیق کړی نه وو او هغه چې د کوم مکروه افعالو ارتکاب کړی وو لکه د بیت الله او د هغه د اوسیدونکو سره یې چې څه وکړل او د مدینې او اهل مدینو سره یې چې څه وکړل او د نبی پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اهل بیتو سره یې چې څه وکړل او ذاتی طور باندې چې هغه د کومو قبائحو مرتکب کیده دا د هغه په عدم تصدیق باندې د دېنه لوی دلیل دی چې څوک د قرآن پاک اوراق په ګندګۍ او غلاظت کې وغورځوي او کافر شي ، ما ته هیڅ شک هم نشته بلکه یقین دی چې د یزید د دغه کافرانه افعال د هغه زمانې په بزرګانو او لویو مسلمانانو باندې پټ نه وو لیکن هغوی په دې وجه صبر وکړو چې هغوی مجبور او مغلوب وه او هغوی د صبر نه علا وو هیڅ کولی نشو تر څو د الله تعالی مقرر کړده حکم خپل انجام ته ورسیږي .

او که دا تسلیم کړی شي چې یزید خبیث مسلمان وو او کافر نه وو نو هغه داسې مسلمان وو چې خپل په ځان باندې یې دومره ګناهونه انبار کړي وو چې د هغو بیانول د بیان په احاطه کې نه راځي . زه خو په ښکاره په یزید د لعنت قائل یم او په هغه باندې په خصوصی تعیین سره لعنت جائز ګڼم او ظاهره همدا ده چې یزید د دغه کبائرو د ارتکاب نه بعد کومه توبه هم کړې نه ده او د هغه د توبې احتمال د هغه د ایمان د احتمال څخه زیات کمزوری دی ، په دې لعنت کې د یزید سره ابن زیاد او

ابن سعد او د هغه جماعت برابر شریک دي ، **فلعنة الله عزوجل علیهم اجمعین و علی انصارهم و اعوانهم و شیعتهم و من مال الیهم الی یوم الدین.** (روح المعانی جلد ۹ صفحه ۷۲)

علامه روح المعانی نور لیکي چې که کوم شخص په یزید باندې خصوصیت سره لعنت ویلو نه ویریږي نو هغه دي اجمالی طور باندې داسې لعنت ولیږي چې : لعن الله من رضی بقتل الحسین و من آذی عترة النبی صلی الله علیه وسلم ، دغه قسم عمومی لعنت ویلو کې د هیڅا اختلاف هم نشته او یزید به د دغه عموم اول مصداق جوړ شي .

د علامه روح المعانی تحقیق د ناظرینو مخ ته دی په دې باندې د کومې تبصرې ضرورت نشته ، البته دوه خبرو ته اشاره کومه : یوه دا چې د مرګ نه وروسته په چا باندې لعنت ویل یا نه ویل د هغه متعلقه شخص په خاتمې باندې مبني ده، کچیرې هغه شخص په کفر باندې مړ شوی وي نو په هغه باندې لعنت ویل جائز دي او که په ایمان باندې مړ شوی وي نو لعنت وړباندې جائز نه دی ، جمهور امت په دې باندې قائم دی چې د یزید خاتمه په کفر باندې یقینی نه ده لهذا لعنت وړباندې ویل صحیح نه دي . دویمه دا خبره په ذهن کې ساتل پکار دي چې د کوم شخص په کافر کیدلو او نه کیدلو کې د علماؤ اختلاف وي نو د هغه شخص فاسق او فاجر کیدل یقینی کیږي د یزید معامله همداسې ده ، ددې نظیر دا پیش کولی شي چې د کوم شخص په نبی کیدلو یا نه کیدلو کې د علماؤ اختلاف راشي نو هغه شخص په کامل طور باندې ولی ګرځي لکه څنګه چې د حضرت لقمان معامله ده لهذا د یزید فاجر او فاسق کیدل یقینی دي او د حضرت لقمان ولی کیدل یقینی دي .

سوال : دلته یوه دا شبه کیږي چې یزید د حضرت معاویه رضی الله عنه ځوی دی ، حضرت معاویه رضی الله عنه هغه ولی عهد جوړ کړی وو لهذا یزید ته بد ویل جائز نه دي ؟

جواب : دا شبه غلطه ده ځکه چې ډیر داسې انبیاء تیر شوي دي چې د هغوی ځامن کافر شوي وو په دې سره د هغه په پلار باندې کوم طعن راتللی نشي لکه څنګه چې د حضرت نوح علیه السلام ځوی کنعان کافر وو او کافر مړ شوی دی ، یزید به مخکې ښه وو د بادشاه جوړیدو نه وروسته به خراب شوی وي ، په دې کې د حضرت معاویه رضی الله عنه څه قصور دی ؟ دویمه شبه دا پیش کولی شي چې د بخاری شریف په یو حدیث کې په غزوه قسطنطینیه کې شرکت کونکو لپاره د مغفرت بشارت ورکړی شوی دی حال دا چې په هغه غزا کې یزید شریک وو لهذا د هغه لوی مقام دی .

ددې جواب دا چې ددې حدیث بشارت په دغه غزا کې د شریک کیدونکو مجاهدینو په مستقبل کې د صالح او متقی پاتې کیدو پورې مشروط دی او که نه نو فرض کړه چې کوم شخص په دغه غزا کې شریک شو او بیا وروسته مرتد شو نو آیا هغه به اوس په مغفورلهم کې شمیرل کیږي ؟

دي سوال یو جواب دا هم دی چې کله حضرت معاویه رضي الله عنه د قسطنطینیه لښکر روان کړلو نو یزید ته یې حکم وکړلو چې ته هم لاړ شه ! هغه بهانه وکړه چې زه مریض یم او ولاړ نشو ، وروسته چې کله لښکر والاؤ ته تکلیف ورسیدو نو یزید په خوشحالۍ کې دا اشعار وویلو :

لست ابالي بما لاقت جموعهم بفرقدونة من حمى و حوم

ترجمه :ماته هیڅ پرواه نشته چې د مجاهدینو دغه جماعت باندې د فرقدونه په مقام کې تبه راغله وپه جسم کې دانې راووتلې .

اذا جلست على الانماء متكئا بدير مران عند ام كلثوم

ترجمه : چې کله زه په دیر مران مقام کې د ام کلثوم سره په بالښتونو باندې تکیه کونکی ناست یم .

یزید دغه اشعار چې کله حضرت معاویه رضي الله عنه ته ورسیدل نو هغه په زوره یزید په دغه غزا کې شرکت لپاره روان کړلو ، ګویا یزید غزوه قسطنطینیه ته د تللو قائل هم نه وو نو بشارت به څنګه ورته حاصل شي؟ په هر حال په کربلا کې چې د حضرت حسین رضي الله عنه څه وشو هغه د اسلام په سپین څادر باندې یو تور داغ دی چې ددینه یزید بری الذمه کیدلی نشي ، نن نه یزید شته او نه د هغه حکومت شته ! او د حسین رضي الله عنه د قتل وینه د هغه په غاړه باندې ده ،د رسول ﷺ لمسي که حکومت هم غوښتلو نو د یزید څه حق وو چې هغه په حکومت باندې قائم پاتې کیږي ! دا د یزید لویه غلطي وه ، علامه اقبال ویلي دي :

قتل حسین اصل میں مرگ یزید ہے اسلام زندہ ہوتا ہے ہر کربلا کے بعد

د شهادت حسین رضي الله عنه سره متعلق یو خوب او یو پیشنګوئي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او ام فضل بنت حارث چې د حضرت عباس زوجه او د حضور ﷺ د تره ښځه ده روایت کوي چې

فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ رَأَيْتُ حُلْمًا مُنْكَرًا اَللَّيْلَةَ قَالَ

هغه حضور ﷺ په خدمت کې یوه ورځ حاضره شوه او ورته یې وویل یا رسول الله ! نن شپه ما یو ویره ونکی

وَمَا هُوَ قَالَتْ إِنَّهُ شَدِيْدٌ قَالَ وَمَا هُوَ قَالَتْ رَأَيْتُ كَأَنَّ

خوب لیدلی دی رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه هغه څه دی ام فضل عرض وکړو سخت ویره ونکی

قِطْعَةً مِنْ جَسَدِكَ قُطِعَتْ وَ وُضِعَتْ فِيْ حِجْرِيْ

دی حضور ﷺ ورته وفرمائیل ماته خو یې واوروه آخر هغه څه دی ام فضل وویل ما ولیدل چې

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتِ

ګویا ستاسو د جسم مبارک نه یوه ټکړه پرې شوې ده او ځما په غېږ کې اېښودل شوې ده په دې

خَيْرًا تَلِدُ فَاطِمَةُ إِنْ شَاءَ اللهُ غُلَامًا يَكُوْنُ فِيْ

او ویدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل تا ډیر ښه او مبارک خوب لیدلی دی د دې تعبیر دادی چې

حِجْرِكِ فَوَلَدَتْ فَاطِمَةُ الْحُسَيْنَ وَكَانَ فِيْ حِجْرِيْ

انشاءالله د فاطمې به یو ځوی پیدا شي او هغه هلک به ستا په غېږ کې درکولی شي نو د فاطمې ځوی

كَمَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلْتُ

حسین پیدا شو او څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي وو هغه هلک ځما په غېږ کې راکړل شو بیا

يَوْمًا عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ

یوه ورځ زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم او حسین د حضور صلی الله علیه وسلم په غېږ کې ورکولو سره دلږ دوهم طرف ته

فِيْ حِجْرِهِ ثُمَّ كَانَتْ مِنِّي الْتِفَاتَةٌ فَإِذَا عَيْنَا رَسُوْلِ

متوجه شوم او بیا راتاویدو سره چې ما حضور صلی الله علیه وسلم طرف ته نظر وکړو نو څه ګورم چې د

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تُهْرِيْقَانِ الدُّمُوْعَ قَالَتْ فَقُلْتُ

رسول الله صلی الله علیه وسلم د سترګو مبارکو نه اوښکې جاري دي ام فضل وایي ماترې پوښتنه وکړه

يَا نَبِيَّ اللهِ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ مَالَكَ قَالَ أَتَانِيْ

اې د الله نبي! ځما مور او پلار دې په تاسو قربان يي تاسو ته څه وشوه چې ژاړئ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل

جِبْرَئِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَأَخْبَرَنِيْ أَنَّ أُمَّتِيْ سَتَقْتُلُ

اوس ماته جبرائیل علیه السلام راغلی وو هغه ماته وښودل چې ځما امت عنقریب قتل کړي ما ډیر په حیرت سره

ابْنِيْ هٰذَا فَقُلْتُ هٰذَا قَالَ نَعَمْ وَأَتَانِيْ

پوښتنه وکړه آیا دا ځوی؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل هو داځوی بلکه جبرائیل ماته د هغه خاورې

بِتُرْبَةٍ مِّنْ تُرْبَتِهِ حَمْرَاءَ.

راخستو سره راغلی وو او هغه خاوره سره وه.

توضيح: حلما: خوب ته حلم ويل كيږي خصوصا چې كله خوب ګډوډ وي.

منكرا: ويرونكى، هيبتناك خوب مې ليدلى دى.

انه شديد: يعني دومره ويرونكى او سخت دى چې زه يې بيانولى نشم.

حجري: سينې ته حجر ويل كيږي، د پرورش په معنى سره هم راځي دلته سينه مراد ده، په راتلونكي لفظ كې د واړه معنا ګانې اخيستل كيدلى شي.

التفاتة: يعني زما نظر بل طرفته لاړلو.

تهريقان: يعني دواړو سترګو يې اوښكې تويولې.

(ستقتل ابني) د حضور ﷺ دغه پيشګوئي حرف بحرف پوره شوه او د يزيد په حكم عبيدالله بن زياد د بصرې نه فورا راغى او د كوفى والي جوړ شو او هغه د ذاتي دلچسپي او بغض او عداوت په بناء باندې حضرت حسين رضي الله عنه شهيد كړلو، د هغه ۸۰ ملګري په مقام كربلا كې د هغه سره شهيدان كړى شو، د اسلام په سپين څادر باندې د حسين رضي الله عنه قتل يو بدرنګه تور داغ دى چې د يزيد په غاړه باندې پروت دى.

قتل حسين اصل ميں مرگ يزيد ہے — اسلام زنده ہوتا ہے ہر كربلا كے بعد

د شهادت حسين نه بعد يو غيبي هاتف دا اشعار واورول:

مَاذَا تَقُوْلُوْنَ اِنْ قَالَ الرَّسُوْلُ لَكُمْ — مَاذَا فَعَلْتُمْ وَاَنْتُمْ آخِرُ الْاُمَمِ

ترجمه: كه ستاسو نه رسول الله ﷺ دا سوال وكړي چې تاسو د حسين سره دا څه وكړل حالانكه تاسې په بهترين امت كې وئ.

بِعِتْرَتِيْ وَاَوْلَادِيْ بَعْدَ مُفْتَقَدِيْ — مِنْهُمْ اُسَارٰى وَمِنْهُمْ ضَرَجُوْا بِدَمِ

ترجمه: زما د وفات نه بعد تاسو زما د اهل بيت او زما د اولاد سره څه وكړل؟ چې د هغو نه څه قيديان دي او څه په وينو كې لت پت پراته دي.

شهادت حسين رضي الله عنه او د ابن عباس رضي الله عنه خوب

﴿۴۷﴾ وَعَنْهُ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّهُ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ					
او حضرت ابن عباس نه روايت دى د هغوئ بيان دى يوه ورځ په غرمه كې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې					
فِيْمَا	يَرَى	النَّائِمُ	ذَاتَ	يَوْمٍ	بِنِصْفِ
اوليدلو لكه څوك اوده چې څوكويني يعني په خوب كې مې اوليدلو چې د حضور صلى الله عليه وسلم وينبته					

النَّهَارِ	أَشْعَثَ	أَغْبَرَ	بِيَدِهٖ		قَارُوْرَةٌ
مبارک پرېشانه او ګرد آلود دي او د حضور ﷺ په لاس مبارک کي يو بوتل دی چې د وينو نه ډک دی					
فِيْهَا	دَمٌ	فَقُلْتُ	بِأَبِيْ		أَنْتَ
ماعرض وکړو ځما مور پلار دي په تاسو قربان وي دا څه دي يعني څه حادثه پيښه شوي ده چې تاسو					
وَأُمِّيْ	مَا	هٰذَا	قَالَ		هٰذَا
دومره پرېشانه حاله او ګرد آلود يې او يو بوتل د ويني نه ډک دی حضور ﷺ وفرمائيل دا د					
دَمُ		الْحُسَيْنِ			وَأَصْحَابِهٖ
حسين او د هغه د ملګرو وينه ده چې زه يي نن قتل ګاه حسين نه د سهار نه تر او سه پوري په يوه بوتل					
وَلَمْ	أَزَلْ		أَلْتَقِطُهٗ		مُنْذُ
کي جمع کوم حضرت ابن عباس وايي چې د دي خوب نه روسته زما سترګي راوغړيدی او بيا ما دا					
الْيَوْمِ		فَأُحْصِيْ			ذٰلِكَ
وخت ياد ساته کوم وقت چې ما دا خوب ليدلی وو هر کله چې د قتل حسين خبر راغلي نو ماوليدل					
الْوَقْتَ	فَأُجِدُ	قُتِلَ	ذٰلِكَ		الْوَقْتُ..
چې د شهادت حسين المیه په هغه ورځ او هغه وقت پيښه شوي وه هر کله چې ما مذکوره خوب					
رَوَاهُمَا	الْبَيْهَقِيُّ	فِيْ	دَلَائِلِ	النُّبُوَّةِ	وَأَحْمَدُ الْأَخِيْرَ
ليدلی وو دا دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوت کي او دا دوهم روايت احمد هم نقل کړی دی.					

توضيح: فاحصى ذلک الوقت: دا د حضرت ابن عباس رضی الله عنه کلام دی ،هغه فرمايې چې کوم وخت ما خوب ليدلی وو د هغه تاريخ ما ياد کړلو بيا چې کله د حضرت حسين رضی الله عنه د شهادت خبر راغلو نو معلومه شوه چې په همدغه تاريخ کې هغه شهيد کړی شوی وو په کوم وخت کې چې ما خوب ليدلی وو.

التقطه: دا د حضور ﷺ کلام دی چې په خوب کې شوی دی.

فاجد: د مضارع صيغه يې راوړه تر څو د دينه يو غريب او عجيب کيفيت مخې ته راشي.

د الله او رسول ﷺ او د اهل بيتو سره محبت وساتئ

﴿۴۸﴾ وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَحِبُّوا اللهَ لِمَا
او حضرت ابن عباس رضی الله عنه وايي چې رسول كريم ﷺ وفرمائيل تاسو د الله سره محبت ساتئ ځكه
يَغْذُوْكُمْ مِنْ نِعْمَةٍ وَأَحِبُّوْنِيْ لِحُبِّ اللهِ وَأَحِبُّوْا
چې هغه تاسو ته د خپلو نعمتونو نه رزق رسوي او ستاسو پرورش كوي او په دې بناء تاسو د رسول الله ﷺ
أَهْلَ بَيْتِيْ لِحُبِّيْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
سره محبت لرئ او ځما اهل بيت ځما د محبت په وجه عزيز او محبوب لرئ. [ترمذي]

توضيح : يغذوكم: اى يرزقكم هغه تاسو ته رزق دركوي، د انسان سره چې كله بل انسان احسان كوي نو د هغه غلام جوړيږي همدا رنګه د الله تعالى احسان منل پكار دي.

لحب الله: يعني د الله تعالى سره د محبت په بنياد زما سره محبت وساتئ ځكه زه د هغه رسول يم، او زما سره د محبت په وجه زما د اهل بيتو سره محبت ساتئ ځكه زه ستاسو رسول يم.

اهل بيتو مثال د نوح كشتئ پشان دى

﴿۴۹﴾ وَ عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ آخِذٌ بِبَابِ الْكَعْبَةِ سَمِعْتُ
او حضرت ابوذر رضی الله عنه روايت دى چې يوه ورځ هغه د كعبې دروازې نيولو سره دا بيان وكړو ما د]
النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ أَلَا إِنَّ مَثَلَ أَهْلِ
رسول الله ﷺ نه دا واوريدل يادلرئ ستاسو په حق كې ځما د اهل بيتو هغه اهميت دى كوم چې
بَيْتِيْ فِيْكُمْ مَثَلُ سَفِيْنَةِ نُوْحٍ مَنْ رَكِبَهَا نَجَا
د نوح عليه السلام د كشتئ دى چې څوك د نوح كشتئ كې سور شو هغه نجات خلاصون پيدا كړو
وَ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهَا هَلَكَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.
او كوم سړى چې د هغه په كشتئ كي سوريدو نه پاتې شو هغه هلاک شو.

توضيح : مثل سفينة نوح: د اهل بيت تشبيه د نوح عليه السلام د كشتئ سره ځكه وركړى شوه چې د حضرت نوح عليه السلام كشتئ ټول سواره د الله تعالى په حكم سره بچ كړل او د كشتئ مخالفين ټول غرق شول، دلته هم چې كوم خلک چې د اهل بيت سره عقيدت ساتي هغه به بچ كيږي

او څوک چې د عقیدت په دغه کشتۍ کې نه کښیني هغه به غرق شي لیکن دلته د اهل بیت سره د محبت او تعلق ساتلو مطلب دا دی چې د دین اسلام د حکم مطابق تعلق وي ، د خپلو خواهشاتو مطابق تعلق نه وي لکه څنګه چې د شیعو محبت دی چې په حقیقت کې محبت او عقیدت نه دی بلکه یو قسم عداوت دی ، د ټول شریعت انکار یې وکړو او د اهل بیتو محبت یې د دې لپاره ډال وګرځولو . حضور اکرم ﷺ د اهل بیت تشبیه د نوح علیه السلام د کشتۍ سره ورکړې دی او د صحابو تشبیه یې د ستورو سره ورکړې ده ، په دې کې اشاره ده چې کشتۍ په صحیح سمت باندې هغه وخت تللی شي چې کله د ستورو څخه راهنمائی حاصله شي یعنې د اهل بیتو او صحابو دواړو سره محبت وساتئ .

هلته د تبلیغی جماعت والا هم وایې زمونږ جماعت د نوح علیه السلام د کشتۍ پشان دی څوک چې دیته راغی هغه بچ شو او که نه نو هغه غرق شو ، د دوی دا خبره غلطه ده ځکه دوی پخپله د نوح علیه السلام کشتۍ جوړ شوي نه دي ، کوم قرآن او حدیث دویته سفینه نوح ویلي ؟ دا خو صرف د هغوی تمناګانې دي او بېځایه خپل تعریفونه دي حقیقت بل څه دی .

د ملاعلی قاری څو الفاظ ملاحظه کړئ چې هغه د دې حدیث په تشریح کې لیکلي دي ، فرمایې :

و توضیحه ان من لم یدخل السفینة کالخوارج هلک مع الهالکین في اول وهلة ومن دخلها ولم یهتد بنجوم الصحابة کالروافض ضل ووقع فی ظلمات لیس بخارج منها . یعنې د دې حدیث وضاحت دا دی چې کوم خلک په دې کشتۍ کې سواره نشول هغوی هلاک شول ، مګر کوم خلک چې د اهل بیتو په کشتۍ کې سواره شول مګر د صحابو د ستورو نه یې راهنمائی حاصله نکړه نو هم په داسې تیارو کې ډوب شول چې وتل یې ممکن نه دي .

باب مناقب ازواج النبي صلى الله عليه وسلم

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ازواج مطهراتو د مناقبو بيان

قال الله تعالى: ﴿اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ وَاَزْوَاجُهٗۤ اُمَّهٰتُهُمْ﴾ (الاحزاب: ٦)

ازواج مطهرات د اهل سكنى قسم اهل بيتو كې داخلې دي، صاحب د مشكوة د مناقب اهل بيتو نه بعد په مستقل باب كې د ازواج مطهراتو ذكر كړى دى، ددې مطلب دا نه دى چه ازواج مطهرات د اهل بيت څخه خارجې دي، د اهل بيت اول مصداق خو ازواج مطهرات دي ليكن د ازواجو د مناقبو سلسله ډيره اوږده وه ځانته احاديث يې وو په دغه وجه صاحب د مشكوة په اهتمام سره د ځانته عنوان لاندې هغه ذكر كړل.

حضور صلى الله عليه وسلم ډيرې ښځې كړې وې او خپل امت ته يې د څلورو ښځو اجازت وركړى دى لهذا په دې امت كې د ښځو د حقوقو وضاحت او د هغه اهتمام د ټولو امتونو څخه زيات دى. حضرت عيسى عليه السلام واده كړى نه وو لهذا د هغه په مذهب كې د ښځو د حقوقو هغه تفصيل نه ملاويږي كوم تفصيل چه د حضور اكرم صلى الله عليه وسلم په امت كې ملاويږي.

د ازواج مطهرات تعداد او نومونه:

د حضور صلى الله عليه وسلم د ټولو بيبيانو تعداد يوولس وو او د هغه د وفات په وخت ٩ نهه بيبيانې موجودې وې، د هغه ټولې ښځې يوولس وې چه د هغو نومونه دا دي:

﴿١﴾ حضرت خديجه رضي الله عنها، د هغې سره د حضور صلى الله عليه وسلم نكاح په مكه مكرمه كې شوې وه، د هجرت نبوي څخه درې كاله مخكې په مكه كې د هغې انتقال وشو.

﴿٢﴾ حضرت سوده رضي الله عنها، د هغې سره په مكه كې د حضور صلى الله عليه وسلم نكاح وشوه، په ٥٤ سنه هـ كې د هغې انتقال وشو.

﴿٣﴾ حضرت عائشه رضي الله عنها، د هجرت نه يو نيم كال مخكې ورسره د حضور صلى الله عليه وسلم په مكه مكرمه كې نكاح وشوه او په سنه ٢هـ كې ورسره يوځاى شو، په ٥٧هـ كې په مدينه منوره كې د هغې انتقال وشو، حضرت عائشة رضي الله عنها د سيدنا ابوبكر رض لور وه.

﴿٤﴾ حضرت حفصه رضي الله عنها، د هغې سره د حضور صلى الله عليه وسلم نكاح په سنه ٣هـ كې په مدينه منوره كې وشوه او په سنه ٤٥هـ كې د هغې انتقال وشو.

﴿٥﴾ حضرت زينب بنت خزيمه رضي الله عنها، د هغې سره د حضور صلى الله عليه وسلم نكاح په سنه ٣هـ كې وشوه، څو مياشتې بعد د هغې انتقال وشو.

﴿۶﴾ حضرت ام سلمه رضي الله عنها، ددې سره د حضور ﷺ نکاح په سنه ۴ھ کې وشوه او د هغې انتقال په سنه ۵۹ھ کې وشو او د یو قول مطابق په سنه ۶۲ھ کې وشو .

﴿۷﴾ حضرت زینب بنت جحش رضي الله عنها، د هغې سره د حضور ﷺ نکاح په سنه ۵ھ کې وشوه او د هغې انتقال په سنه ۲۰ھ کې وشو .

﴿۸﴾ حضرت ام حبیبه بنت ابی سفیان رضي الله عنها، د هغې سره د حضور ﷺ نکاح په حبشه کې د نجاشي بادشاه په ذریعه وشوه، نجاشي ۴۰۰۰ درهم ورکړل او نکاح یې ولوستله، په سنه ۴۴ھ کې په مدینه منوره کې د هغې انتقال وشو .

﴿۹﴾ حضرت جویریه رضي الله عنها، په غزوه بنی المصطلق کې په قید کې راغله، په سنه ۶ھ کې دغه غزوه وشوه، حضور ﷺ هغه آزاده کړه او په سنه ۶ھ کې یې د هغې سره نکاح وکړه، د هغې د خاندان په سلګونو خلک غلامان وو صحابه کرامو ټول آزاد کړل چه دا خلک اوس د حضور ﷺ خسرګنۍ جوړ شول، په سنه ۵۶ھ کې د حضرت جوریریه رض انتقال شوی .

﴿۱۰﴾ حضرت میمونة رضي الله عنها، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه خاله وه، په سنه ۷ھ کې حضور ﷺ د هغې سره نکاح وکړه، د مکې او مدینې په مینځ کې د وادی فاطمه سره په مقام سرف کې نکاح وشوه، په همدې ځای کې یې د واده شپه وه، په همدې ځای کې یې په سنه ۶۱ھ کې د هغې انتقال وشو او په همدې ځای کې د سړک په غاړه د هغې قبر جوړ شوی دی، بنده عاجز د هغې د قبر زیارت کړی دی .

﴿۱۱﴾ حضرت صفیه بنت حیی بن اخطب رضي الله عنها، په سنه ۷ھ کې په غزوه خیبر کې قید شوله او حضور ﷺ هغه آزاده کړه او بیا یې د هغې سره د خیبر نه په واپسۍ په لاره کې نکاح وکړه، په سنه ۵۲ھ کې د هغې انتقال وشو .

ددې یوولس ازواج مطهراتو څخه صرف د دوو یعنې خدیجة الکبری او زینب بنت خزیمة انتقال د حضور ﷺ په موجودګۍ کې شوی، د باقي نهو انتقال د حضور ﷺ نه بعد شوی دی، د ازواج مطهرات نه علاوه د حضور ﷺ څلور وینځې هم وې د هغو نه د یوې نوم حضرت ماریه قبطیه وه، د دویمې نوم حضرت ریحانه وه او دوه نورې وې .

د ازواجو د تعدد حکمت :

د حضور ﷺ په کثرت ازواجو باندې هم اعداء الاسلام او ملحدین اعتراض کوي چه دومره زیات ودونه کول د دنیا د محبت او د عیش او عشرت علامه ده، د یو نبي لپاره دا څه مناسبه ده چه دومره زیات ودونه وکړي؟ ددې یو جواب دا دی چه حضور ﷺ چه څومره زیات ودونه کړي دي هغه یې صرف د خپل نفسي خواهش لاندې کړي نه دي بلکه ددې نور نیک مقاصد وه،

کچیرې هغه صرف د خپل نفسي خواهش لپاره ودونه کول نو هغه ﷺ به د خپلي ځواني په عمر کې اول واده د داسې ښځې سره نه کولو چه د هغې عمر څلویښت کاله وو او دوه ځلې کونډه شوې وه، بیا تر څو پورې چه هغه ژوندۍ وه حضور ﷺ بل واده کړی نه دی، د هغې د وفات نه وروسته هم حضور ﷺ دویم واده د یوې کونډې سره وکړو تر دې پورې چه د حضور ﷺ د یوولس بیبیانو نه صرف یوه زوجه محترمه پیغله وه چه د هغې نوم عائشه رضي الله عنها وو.

دویم جواب دا دی چه د حضور ﷺ د ځوانۍ او پیغمبرانه طاقت تقاضا خو دا وه چه هغه ددینه زیات ودونه کړي وی ځکه چه الله تعالی هغه ته د څلویښتو جنتیانو طاقت ورکړی وو، ددې باوجود هغه د څو کونډو ښځو سره په اوسیدو اکتفاء وکړه دا د هغه لویه قرباني وه، یهودیانو خو په حضرت داؤد او حضرت سلیمان علیهما السلام باندې اعتراض ونکړو چه هغو د سلو سلو ښځو سره ودونه کړي وو او د محمد عربي ﷺ په یو څو ودونو باندې اعتراض کوي حال دا چه په عربو کې د دغسې ودونو عام رواج وو.

دریم جواب دا دی چه حضور ﷺ د عربو د کومې قبیلې څخه واده وکړو هغه قبیله به اسلام نږدې شوه او د اسلام او مسلمانانو سره به د هغو د عداوت کمی راغلو او ډیر به مسلمانان شول، د حضرت جویریه رضي الله عنها په نکاح سره د هغې د خاندان درې سوه غلامان آزاد کړی شول.

څلورم جواب دا دی چه حضور ﷺ یو عظیم پیغمبر وو، د هغه تعلیمات عام وو، د کورني تعلیماتو پیش کولو لپاره د ازواج مطهراتو ضرورت وو تر څو د ازدواجي زندګۍ د مخفي جوانب متعلق عائلي شرعي نظام او د تدبیر منزل سره متعلق ټول جوانب بیروني معاشرې ته په آسانۍ سره ورسیږي او چونکه دغه کار اسلامي نظام او د هغه په مسائلو باندې مشتمل ډیر لوی کار وو چه دا یوې یا دوو ښځو سرانجام کولی نشو په دغه وجه عقلي او شرعي تقاضا وه چه ددې کار د سنبالولو لپاره خاص یو ښه جماعت وي، ددغه مقصد او دغه حکمت لپاره حضور ﷺ زیات ودونه وکړل او الحمد لله دغه کار په ډیر ښایسته طریقه باندې اختتام او تکمیل ته ورسیده حال دا چه ددې ټول مبارک نظام څخه عیسائي او مسیحي اقوام محروم دي، د هغوی سره نه د ښځو د حقوقو کوم تعیین شته او نه ښځو متعلق د حیض او نفاس او طلاق او نکاح او عدت او نفقات زوجات کوم معقول نظام شته ځکه چه د هغوی نبي حضرت عیسی علیه السلام کوم واده کړی نه وو لهذا هغه ددغه نظام عملي نمونه د خپل امت مخې ته پیش نکړی شوه، د تعلیماتو تذ ځده به څه وي مګر نن هغه هم د عیسائیانو په لاسونو کې نشته، په دغه وجه هغوی دغه قوانین د خپل ځان نه جوړ کړي

دي . مونږ د خپل مبارک پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغو مبارکو طريقو باندې د ټولې دنيا په مخ کې فخر کوو او وايو چه: تر کومه ځايه چه ستا تقليد دى تر هغه حده د بشريت سليقه بشر ته حاصليږي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د بي بي خديجة الکبرى رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فضيلت

﴿۱﴾ عَنْ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خَيْرُ
حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل مريم بنت عمران د خپلې زمانې او د خلقو د
نِسَائِهَا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيْجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ټولو نه بهتره ښځه ده او خديجه بنت خويلد په دې امت کې د ټولو نه بهتره ښځه ده [بخاري مسلم]
وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ أَبُوْ كُرَيْبٍ وَأَشَارَ
او په يوه روايت کې ابو کريب دا بيان وکړو چې آسمان او ځمکې طرف ته اشاره کولو سره يې وښودل
وَكِيْعٌ إِلَى السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ.
چه د دې حديث مطابق دا دواړه ښځې خپلو خپلو امتونو کې د ټولو د ښځو نه اشرفې او افضلې دي.

توضيح: (خير نسائها مريم) دلته په مضاف اليه کې د مؤنث ضمير دى چه مرجع يې مخکې نشته نو دا اضمار قبل الذکر دى ، د دې لپاره څه جواب دى ؟ د ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د کلام څخه د دې دوه جوابه معلوميږي :

اول جواب دا دى چه دا ضمير دنيا ته راجع دى او دنيا د هغو الفاظو څخه ده چه د هغو طرفته اضمار قبل الذکر جائز دى نو اصل عبارت داسې دى : **خير نساء الدنيا اى فى زمانها مريم** ، د خپلې زمانې په ښځو کې حضرت مريم د دنيا د ټولو ښځو نه افضله وه . ملا علي قاري د دينه وروسته دويم جواب دا ورکړى دى چه **خير نسائها** خبر مقدم دى او مريم مبتداء مؤخره ده ، اصل عبارت داسې دى (**مريم خير نساء زمانها**) په دې طريقه د اضمار قبل الذکر اعتراض ختم شولو ، ملا علي قاري دا غوره کړې دى ، په دې سره هغه سوال هم ختم شو چه کله حضرت مريم ته د ټولې دنيا په ښځو باندې فضيلت ورکړى شو نو د حضرت خديجة الکبرى فضيلت چيرته لاړو ؟ ځکه چه کله د خپلې خپلې زمانې خبره شوه نو هيڅ اعتراض پاتې نشو . ملا علي قاري د دې ښځو په مينځ کې د فضيلت فيصله په يو روايت سره هم کړې ده ، هغه روايت دا دى : **خديجة خير نساء عالمها و مريم خير نساء**

عالمها وفاطمة خير نساء عالمها. (ترمذي ونسائي مرسلا) يعني خديجة رضي الله عنه په خپله زمانه کې د ټولو نه بهتره وه او فاطمه رضي الله عنه په خپلې زمانه کې د ټولو نه بهتره ده.

واشار وكيع الى السماء والارض: په دې سره راوي د دغه اشکال لرې کولو ته اشاره کړې ده چه وکيع آسمان او ځمکې ته اشاره وکړه چه دا ضمير آسمان او ځمکې يعني دنيا او زمانې ته راجع کيږي.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَى جِبْرَئِيلُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ
او ابو هريره رضي الله عنه وايي چه حضرت جبرائيل رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغلي او هغه وويل يا رسول الله!
هٰذِهِ خَدِيجَةُ قَدْ أَتَتْ مَعَهَا إِنَاءٌ فِيهِ إِدَامٌ
اوس خديجه راځي هغې سره يو لوښى دى چه په هغه کې ترکاري او خوراک هرکله چه هغې تاسو
وَطَعَامٌ فَإِذَا أَتَتْكَ فَاقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنْ رَبِّهَا
ته راورسيږي نو تاسو د هغه د پروردګار د طرف نه او ځما د طرف نه هم هغه ته سلام ووايي او
وَمِنِّي وَبَشِّرْهَا بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ
هغه ته په جنت کې د يو محل خوشخبري واوروئ چه د ګول ملغلري دى او په هغه محل کې نه شور
لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
شته نه تکليف او نه ستړيوالى. [بخاري مسلم]

توضيح: (قصب) اى لؤلؤ مجوف واسع كالقصر المنيف يعني د يوه عاليشانه محل بشارت ورکړه چه د ګول ملغلرې نه جوړ شوى دى.

لاصخب: چغو او شور ته صخب ويل کيږي.

ولانصب: ستړتيا ته نصب ويل کيږي، دا شيان به هلته نه وي.

﴿۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا غِرْتُ عَلَى أَحَدٍ مِنْ نِسَاءِ
او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي د رسول الله صلى الله عليه وسلم بيبيانو کې چه څومره غيرت او رشک ما
النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا غِرْتُ عَلَى خَدِيجَةَ وَمَا رَأَيْتُهَا
بي بي خديجې رضي الله عنها سره کوه دومره مې بل هيڅ بي بي سره نه کوه حالانکه ما بي بي خديجه ليدلې هم نه وه
وَلٰكِنْ كَانَ يُكْثِرُ ذِكْرَهَا وَرُبَّمَا ذَبَحَ الشَّاةَ
البته حضور صلى الله عليه وسلم به هغه ډيره ياد وله اکثره به داسې کيدل چه حضور صلى الله عليه وسلم به چيلى ذبحه

ثُمَّ يُقَطِّعُهَا أَعْضَاءً ثُمَّ يَبْعَثُهَا فِي صَدَائِقِ

کړه او هغه به يي ټکړي ټکړي کړه نو بيا به يي هغه غوښه هغه ښځو ته ليږله چه د بي بي خديجي ملګري به

خَدِيْجَةَ فَرُبَّمَا قُلْتُ لَهُ كَأَنَّهُ لَمْ تَكُنْ فِي الدُّنْيَا

وي اکثره وقتونو کي به ما حضور صلى الله عليه وسلم ته ويل چه تا سو د بي بي خديجي په حقله دومره محبت کوئ

امْرَأَةٌ إِلَّا خَدِيْجَةُ فَيَقُوْلُ إِنَّهَا كَانَتْ

لکه چه په دنيا کي يوي خديجي نه علاوه دومره خو بيوو الا بله ښځه نه وه حضور صلى الله عليه وسلم به ځما ددي

وَكَانَتْ وَكَانَ لِيْ مِنْهَا وَلَدٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

خبري په جواب کي فرمائيل هغه خو واقعي داسي وه او بيا ځما اولاد هم د هغي نه وو. [بخاري مسلم]

توضيح : ماغرت: غيرت د ذلت کارونو نه د انکار کولو په معنی سره دی .

ماغرت على خديجة: په اوله جمله کې چه کوم لفظ د (ما) دی هغه د نفی په معنی سره دی او په دويمه جمله کې (ما) موصوله يا مصدريه دی (**اى ماغرت مثل الذى غرتها او مثل غيرتى عليها**).

صدائق: د صديقة جمع ده ملګرې ته ويل کيږي .

انها كانت و كانت: يعني خديجه همداسې وه ،د هغې به څه درته ووايم ، ته چه څه وايې هغه همداسې وه ، حضور صلى الله عليه وسلم دا جمله د تأکيد لپاره مکرره راوړه اى كانت صوّامة قوامة محسنة مشفقة.

منها ولد: په دې جمله په نفسياتی انداز سره حضور صلى الله عليه وسلم حضرت عائشې رضي الله عنها ته جواب ورکړی دی چې هر څه وي د خديجې نه زما اولاد شته ، ستا خو هيڅ اولاد نشته ، د حضور صلى الله عليه وسلم ټول اولاد د حضرت خديجې رضي الله عنها د بطن څخه وو .

د بي بي عائشي رضي الله عنها فضيلت

﴿۴﴾ وَعَنْ أَبِيْ سَلَمَةَ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوسلمه نه روايت دی ام المؤمنين بي بي عائشي صديقي رضي الله عنها وويل يوه ورځ ماته

يَا عَائِشُ هٰذَا جِبْرَئِيْلُ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ قَالَتْ وَعَلَيْهِ

رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل اى عائشي دا جبرائيل دی په تا سلام وايي عائشي رضي الله عنها د هغه سلام

السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللهِ قَالَتْ وَهُوَ

جواب کي وويل وعليه السلام ورحمة الله وي بي بي عائشي رضي الله عنها وايي حضور صلى الله عليه وسلم هغه

يَرٰى مَا لَا أَرٰى. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ليدلو او ما هغه نه ليده.

توضيح: (هذا جبرائيل يقرئك السلام) حضور اكرم صلى الله عليه وسلم د دې سلام لپاره واسطه جوړ شو دا ځانته مصلحت دی، او حضرت جبرئيل عليه السلام سلام كونكي جوړ شو دا ځانته فضيلت دی، حضرت خديجه رض ته جبرئيل عليه السلام په خپله سلام ونكړلو بلكه پيغام يې وركړلو، ظاهره همدا ده چه د الله تعالى له طرفنه به جبرئيل امين ته د سلام كولو حكم ملاؤ شوی وي، د دينه اندازه لګول كيدی شي چه د حضرت عائشې رضي الله عنها څومره لوړ مقام دی. (هو يرى) يعنې حضور اكرم صلى الله عليه وسلم هغه څه ګوري چه زه يې كتلی نشم.

د بي بي عائشې رضي الله عنها باره كې د حضور صلى الله عليه وسلم خوب

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرِيْتُكِ
او بي بي عائشه رضي الله عنها بيان كوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه ورځ ماته وفرمائيل دري شپې
فِي الْمَنَامِ ثَلَاثَ لَيَالٍ يَجِيْءُ بِكِ الْمَلَكُ
مسلسل ته ماته په خوب كې راوستل شوې د هغه صورت دا وو چه يوې فرشتې به ډيرې شانداري
فِيْ سَرَقَةٍ مِّنْ حَرِيْرٍ. فَقَالَ لِيْ هٰذِهٖ اِمْرَأَتُكَ
كپړه كې ستا تصوير څما مخ ته راوستلو او ماته به يې ويل دا تصوير ستا د كيدونكې ښځې دی او
فَكَشَفْتُ عَنْ وَّجْهِكِ الثَّوْبَ فَإِذَا أَنْتِ
هر كله چه به ما د هغه تصوير پرده اوچتولو سره ستا مخ ليده نو هو بهو به ستا مخ وو بيا به ما د هغه
هِيَ فَقُلْتُ إِنْ يَّكُنْ هٰذَا مِنْ
فرشتې په جواب كې ويل كه دا خوب د الله د طرف نه وی نو هغه به خپله دا پوره كوي يعنې دا معامله
عِنْدِ اللهِ يُمْضِهٖ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
به تكميل ته هم هغه ورسوي او دي ښځي.سره به څما د نكاح اسباب پيدا كړي. [بخاري مسلم]

توضيح: (اريتک) يعنې درې شپې مسلسل ته ماته په خوب كې وښودل شوې.

في سرقة من حرير: په سرقة كې په سين، راء، او قاف درېواړو حروفو باندې زور دی، د ريښمي كپړې يوې ټوټې ته ويل كيږي.

فقال لي: يعنې ملائكي ما ته وويل چه دا په دنيا او آخرت كې ستا ښځه ده.

فاذا انت هي: یعنې یو تصویر ما ته په ریښمي کپړې کې راکړلی شو ، چه کله ما کپړه خلاصه کړه نو هغه تصویر ستا وو .

یمضه: یعنې ما ملائکې ته وویل چه کچیرې دا خوب د الله له طرفه وي نو الله تعالی به دغه خوب پوره کړي او دا نکاح به وشي لکه همداسې وشول .

د ازواجو مطهراتو رضي الله عنهن دوه ډلې

﴿۶﴾وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ النَّاسَ كَانُوْا يَتَحَرَّوْنَ
او بي بي عائشه رضي الله عنها بیان کوي خلقو به دې خبرې ته ترجیح ورکوله چه هغوئ خپلې هدیې او
بِهَدَايَاهُمْ يَوْمَ عَائِشَةَ يَبْتَغُوْنَ بِذٰلِكَ
تحفې په هغه ورځ پیش کولې هرکله چه د بي بي عائشې رضي الله عنها د وار ورځ وي او دې نه د هغوئ
مَرْضَاةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَتْ
مقصد صرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم خوشحالي وه بي بي عائشه وايي د حضور صلی الله علیه وسلم
إِنَّ نِسَاءَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ حِزْبَيْنِ
بیبیانې دوه ډلو کې تقسیم وې او په هغه کې هر یو ټولې یوشان مزاج یوشان رایه او یوشان طرز
فَحِزْبٌ فِيْهِ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ وَصَفِيَّةُ
معاشرت او اختلاط لرونکو بیبیانو باندې مشتمل وو یو ټولي خو هغه وو چه په هغه کې عائشه حفصه صفیه رضي الله عنهن
وَسَوْدَةُ وَالْحِزْبُ الْآخَرُ أُمُّ سَلَمَةَ وَسَائِرُ
او سوده رضي الله عنها وې او دویم ټولي هغه وو چه په هغه کې ام سلمه رضي الله عنها او د رسول الله صلی الله علیه وسلم
نِسَاءِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَلَّمَ حِزْبُ أُمِّ سَلَمَةَ فَقُلْنَ لَهَا
باقي تمامې بیبیانې وې نو د ام سلمه رضي الله عنها ډلې یو ورځ ام سلمه سره خبرې وکړې او ورته یې وویل
كَلِّمِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
چه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړه چه تاسو خلقو ته دا وفرمائې که څه هدیه او تحفه پیش
يُكَلِّمُ النَّاسَ فَيَقُوْلُ مَنْ أَرَادَ أَنْ يُهْدِيَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
کول وي که تاسو کوم ځای کې یې خواه هغه د عائشې کور وي یا د بلې بي بي چه د عائشې رضي الله عنها

فَلْيُهْدِهِ إِلَيْهِ حَيْثُ كَا

او نورو بيبيانو په منځ کي هغه امتياز ليري شي چه د هغه سره هغه بيبيانو ته غيرت محسوس کيږي

فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ لَهَا لَا تُؤْذِيْنِي

بي بي ام سلمه په دي باره کي حضور ﷺ سره خبره وکړه نو حضور ﷺ ورته وفرمائيل ته ماته د

فِيْ عَائِشَةَ فَإِنَّ الْوَحْيَ لَمْ يَأْتِنِيْ

عائشي رضي الله عنها باره کښي تکليف مه رسوه ته شايد نه پوهيږي چه هغه وقت ماته وحي نه راځي کله

وَأَنَا فِيْ ثَوْبِ امْرَأَةٍ إِلَّا عَائِشَةَ قَالَتْ

چه زه د يوې بلې بي بي لحاف يا څادر کي يم ماسوا د عائشي رضي الله عنها نه په دي بي بي ام سلمه رضي الله عنها وويل

أَتُوْبُ إِلَى اللهِ مِنْ ذَاكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

يارسول الله! زه د الله په حضور کي دي خبري نه توبه کاږم چه تا سو ته تکليف ورسوم بيا د ام سلمه رضي الله عنها

ثُمَّ إِنَّهُنَّ دَعَوْنَ فَاطِمَةَ فَأَرْسَلْنَ

د دې ښځو فاطمه را وغوښتله او هغه يې د رسول الله ﷺ په خدمت کي وليږله نو فاطمي رضي الله عنها

إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضور ﷺ سره خبره وکړه او کيدی شي چې هغه ناخبره وه چه دي نه مخکي ام سلمه د حضور ﷺ

فَكَلَّمَتْهُ فَقَالَ يَا بُنَيَّةُ

په خدمت کي حاضره شوي ده او حضور ﷺ هغه ته کومو الفاظو کي جواب ورکړی بهرحال حضور ﷺ

أَلَا تُحِبِّيْنَ مَا أُحِبُّ

د فاطمي رضي الله عنها خبري اوريدو سره هغه ته وفرمائيل ای ځما لوري! آيا ته هغه چاسره محبت نه ساتی چاسره

قَالَتْ بَلٰى قَالَ فَأَحِبِّيْ هٰذِهِ

چه زه محبت ساتم هغې وويل ولي نه حضور ﷺ وفرمايل بيا ته عائشي رضي الله عنها سره

مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَ ذُكِرَ حَدِيْثُ

محبت ساته او د څه داسې خبري مه کوه چه هغه عائشي رضي الله عنها ته ناخوښه وي. [بخاري مسلم]

أَنَسٍ	فَضْلُ	عَائِشَةَ	عَلَى	النِّسَاءِ	فِيْ	بَابِ بَدْءِ
او د حضرت انس رضي الله عنه روايت كرده حديث: فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الاطعمة باب						
الْخَلْقِ	بِرِوَايَةِ	أَبِيْ	مُوْسٰى.			
بدء الخلق كي د ابو موسىٰ عليه السلام روايت نه نقل شوى دى.						

توضیح: **يتحرون**: تحرّى سوچ او د بهتر شي طلب ته ويل كيږي، مراد انتظار دى چه عامو خلكو به د خپلو تحفو په ليږلو كې د حضرت عائشې رضي الله عنها د نوبت انتظار كولو تر څو حضور صلى الله عليه وسلم زيات خوشحاله شي.

حزبين: حزب گروه او ډلې ته ويل كيږي، مطلب دا دى چه د ميلان طبع او هم مزاجه كيدو په اعتبار سره د ازواج مطهراتو دوه فريقه وو، دا د كوم عداوت او حسد په بنياد باندې نه وو بلكه د دينى او دنيوى فوائدو د حصول لپاره پخپله دغسې تقسيم جوړ شوى وو او چونكه ازواج مطهرات په صفت د بشريت سره متصف وې او په خپل مينځ كې سره بنې وې نو كه بشريت كوم شى وي او هغه نظر انداز كيدلى نشي نو په كورني نظام كې دغسې دوه فريقه جوړيدل هم كوم عيب نه دى لكه څنګه چه په فريق اول كې حضرت عائشه، حضرت حفصه، حضرت سوده او حضرت صفيه رضي الله عنهن وې، په دوى كې د حضرت عائشه رضي الله عنها حيثيت ښكاره وو، او په فريق ثانى كې حضرت ام سلمه، حضرت زينب، حضرت ام حبيبه، حضرت ميمونة، او حضرت جويريه رضي الله عنهن وې چه په دوى كې حضرت ام سلمه رضي الله عنها ظاهري طور باندې ښكاره وه مګر اصل خبره به د زينب رضي الله عنها سره كيدله

وسائر نساء: سائر د باقى او نورو په معنى سره دى، د باقى ازواج مطهراتو تعداد پنځه وو ليكن په دوو فريقينو كې حضرت زينب بنت حزيمه شريكه نه وه د هغې انتقال هم ژر شوى وو لهذا د سائر نساء څخه د فريق ثانى ازواج مراد دي. ددې حديث د ظاهر نه چه څه معلوميږي هغه دا دي چه د فريق ثانى مطالبه دا وو چه خلك دې خپل هدايا د حضرت عائشې رضي الله عنها په نوبت پورې نه خاص كوي ځكه په دې كې د باقى ازواج مطهرات په قدر او قيمت باندې څه ناځه اثر پريوځي، همدارنګه د كمترى احساس كې د پريوتو خطره هم ده ليكن حضور صلى الله عليه وسلم د غه تهول مفروضات رد كړل او د حضرت عائشې رضي الله عنها عظيم فضيلت يې وفرمايلو چه دا دومره پاكيزه ښځه ده چه ددې سره په يوه بستره كې ما ته وحى راځي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

ددنیا په ښځو کي افضل ترین ښځي

﴿٧﴾ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی چه رسول کریم ﷺ وفرمائیل د تمام جهان په ښځو کي د څلورو
حَسْبُكَ مِنْ نِّسَاءِ الْعَالَمِيْنَ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ
ښځو مناقب پېژندل ستا د پاره کافي دي او هغه دي ۱ مریم بنت عمران یعني د حضرت عیسٰی علیه السلام مور محترمه
وَخَدِيْجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ وَآسِيَةُ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
۲ خدیجه رضي الله عنها بنت خویلد ۳ فاطمه رضي الله عنها بنت محمد ﷺ ۴ بي بي آسیه د فرعون ښځه. [ترمذي]

توضیح: مریم: دلته یو مسئله د هغه فضیلت ده چه د دنیا د ټولو ښځو په مینځ کې دی چه په هغو کې د ټولو نه افضله څوک ده؟ بیا دوهمه مسئله د هغه فضیلت ده چه په ازواج مطهرات کې د ټولو نه افضله څوک ده؟ علامه سیوطی رحمه الله په نقایه کې لیکي چه زمونږ دا عقیده ده چه د ټول جهان د ښځو نه په ټولو کې افضله حضرت مریم او حضرت فاطمه دي او په ازواج مطهرات کې د ټولو نه افضله حضرت خدیجه او حضرت عائشه دي بیا د دوی نه په خپل مینځ کې کومه افضله ده؟ نو یو قول دا دی چه حضرت خدیجه د ټولو نه افضله ده، دویم قول دا دی چه حضرت عائشه افضله ده، دریم قول دا دی چه په دې مسئله کې سکوت اختیارول بهتره دي، د صحیح بخاری ج۱ ص۵۳۲ په حاشیه کې یې همدا سې لیکلي دي.

شیخ عبدالحق رحمه الله په لمعات کې لیکلي دي چه د حضرت عائشې رضي الله عنها او حضرت خدیجې رضي الله عنها تر مینځ په فضیلت کې او بیا د حضرت فاطمه او حضرت عائشې رضي الله عنها په فضیلت کې د علماؤ اختلاف دی، امام مالک رحمه الله خو مطلقا حضرت فاطمه افضله ګرځولي ده، د امام سبکی رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه نو هغه وفرمایل چه زما عقیده او اختیار کرده قول دا دی چه د ټولو نه افضله حضرت فاطمه ده بیا حضرت خدیجه ده او بیا حضرت عائشه ده، د بخاری محشي ویلي دي چه زه خو دا وایم چه په دې مسئله کې سکوت بهتره دی، ځکه دلته کوم قطعي دلیل نشته، چه کوم دي هغه ظنیات دي چه متعارض دي لهذا فیصله کول مشکل دي، دا مسئله ما مخکې په صفحه ۳۷۹ باندې هم لیکلې ده هسې هم افضل او غیر افضل یو نوعه ده ددې لاندې ډیر افراد راتللی شي، وایې په جنت کې به حضرت مریم د حضور ﷺ په نکاح کې راځي.

د بي بي عائشي رضي الله عنها فضيلت

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ جِبْرَئِيْلَ جَاءَ بِصُوْرَتِهَا فِيْ خِرْقَةِ حَرِيْرٍ
او د بي بي عائشي رضي الله عنها بيان دی چه حضرت جبرائيل عليه السلام شين وريښمي کپړه باندي د هغي

خَضْرَاءَ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هٰذِهِ
بي بي عائشه رضي الله عنها تصوير رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په خوب کي ښودلو د پاره راوړه او ورته يې وويل دا

زَوْجَتُكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
ستا سو زوجه ښځه ده په دنيا کي هم او په آخرت کي هم. [ترمذي]

د بي بي صفيه رضي الله عنها فضيلت

﴿۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ بَلَغَ صَفِيَّةَ أَنَّ حَفْصَةَ قَالَتْ
او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي يو وار ام المؤمنين بي بي صفيه ته معلومه شوه چه ام المؤمنين بي بي حفصه رضي الله عنها

بِنْتُ يَهُوْدِيٍّ فَبَكَتْ فَدَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حفصي هغه ته د يهودي لور ويلي دي نو هغه په ژړا شوه کوم وقت چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته تشريف

وَهِيَ تَبْكِيْ فَقَالَ مَا يُبْكِيْكِ فَقَالَتْ قَالَتْ لِيْ
راوړو نو هم هغي ژړل حضور صلى الله عليه وسلم څني پوښتنه وکړه ولي ژاړئ؟ هغي ورته وويل ځما باره کښي

حَفْصَةُ إِنِّي ابْنَةُ يَهُوْدِيٍّ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حفصي رضي الله عنها ويلي دي چه زه د يهودي لور يم په دي اوريدو سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائيل ته

إِنَّكِ لَابْنَةُ نَبِيٍّ وَإِنَّ عَمَّكِ لَنَبِيٌّ وَإِنَّكِ لَتَحْتَ نَبِيٍّ
د هغه په وينا غم مه کوه حقيقت خو دادی چه ته د پيغمبر لور يي ستا اکا هم پيغمبر وو او اوس د

فَفِيْمَ تَفْخَرُ عَلَيْكِ ثُمَّ قَالَ
يو پيغمبر يعني ځما ښځه يي بيا هغه په تا باندي په څه فخر کوي بيا حضور صلى الله عليه وسلم حفصه متنبه کړه چه

اِتَّقِي اللهَ يَا حَفْصَةُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.
ای حفصه د الله نه ويريږه. [ترمذي ونسائي]

توضيح : بنت يهودي: حضرت صفيه رضي الله عنها په جنګ خيبر کښي د حضور په لاس کښي راغلي وه، حضور صلى الله عليه وسلم هغه آزاده کړه او په ازواجو کښي يې داخله کړه، د ښو په مينځ کښي کشمکش په هر حال يو غير اختياري بشري معامله ده، حضرت حفصه رض هغې ته بنت يهودي وويل ځکه د هغې پلار حيي بن اخطب يو مشهور سردار يهودي وو چه د حضرت هارون عليه السلام په اولاد کښي

و لکه څنګه چه حضرت صفیه د خپل ذات په اعتبار سره د یوه سردار خاندان معززه ښځه وه ، همدارنګه حضرت صفیه په دینی اعتبار سره هم د یو جامع شخصیت مالکه وه ، د حضرت حفصې په نسبي طعن ورکولو باندې حضور ﷺ د حضرت صفیه د خاطرداری لپاره وفرمایل چه ستا سره خو هغه اعزازات شته چه د بل چا سره نشته ، ته یو د نبي هارون علیه السلام لوریې ، دویم د نبي موسی علیه السلام وریره یې ، دریم د نبي محمد ﷺ ښځه یې ، اوس هغې ته په تا باندې کوم فخر پاتې شو ؟ وایې حضرت صفیه رضی الله عنها په ترکاریه پخولو کې هوښیاره وه .

فاطمه رضی الله عنها د جنت د ښځو سرداره ده

﴿۱۰﴾. وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا
او د بي بي ام سلمه رضی الله عنها بیان دی چه د مکې د فتح په موقع یوه ورځ رسول الله ﷺ
فَاطِمَةَ عَامَ الْفَتْحِ فَنَاجَاهَا فَبَكَتْ ثُمَّ حَدَّثَهَا فَضَحِكَتْ
بي بي فاطمه رضی الله عنها خپل قریب وبلله او هغې سره یې پټې پټې څه خبرې وکړې فاطمې هغه خبرې
فَلَمَّا تُوُفِّيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَأَلْتُهَا
اوریدو سره په ژړا شوه بیایې په غوږ کې د خبروپه اندازکې خبرې وکړې نو هغه په خندا سوه
عَنْ بُكَائِهَا وَضِحْكِهَا فَقَالَتْ أَخْبَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بیا چې رسول الله ﷺ وفات شو نو یوه ورځ ما د هغې نه د ژړا او بیا د خندا سبب دریافت کړو
أَنَّهُ يَمُوْتُ فَبَكَيْتُ ثُمَّ أَخْبَرَنِيْ
نو هغې ووېل مخکې خو رسول الله ﷺ د خپل مرګ باره کې زه آګاه کړم چه د هغې اوریدو سره زه
أَنِّيْ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا مَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ
په ژړا شوم بیا حضور ﷺ ماته وښودل چه زه د مریم بنت عمران نه ماسوا د جنت د ټولو ښځو
فَضَحِكْتُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
سرداره یم نو زه په خندا شوم. [ترمذي]

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د بي بي عائشي رضی الله عنها علمي فضیلت

﴿۱۱﴾ عَنْ أَبِيْ مُوْسٰى قَالَ مَا أَشْتَكَلَ عَلَيْنَا أَصْحَابَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حضرت ابو موسٰی اشعري رضی الله عنه وایي مونږ اصحابِ رسول الله ﷺ ته به چه کله د یو

حَدِيْثٌ	قَطُّ	فَسَأَلْنَا	عَائِشَةَ

حدیث یادیني مسائلو سره متعلق څه خبره کي څه اشکال پیښ شو نو مونږ به بي بي عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته رجوع

إِلَّا	وَجَدْنَا	عِنْدَهَا	مِنْهُ	عِلْمًا.

کوله او مونږ ته به د هغه حدیث یا مسئلي متعلق کافي علم د بي بي عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه حاصلیدی

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ.

دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث حسن صحیح غریب دی

د بي بي عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه زيات فصيح مو هيڅوک نه دی ليدلی

﴿۱۲﴾ وَعَنْ مُوْسَى بْنِ طَلْحَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَفْصَحَ مِنْ عَائِشَةَ

او حضرت موسٰی بن طلحه تابعي وایي ما د عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه زیات فصیح هیڅوک نه دی لیدلی

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ غَرِيْبٌ.

دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چه دا حدیث حسن صحیح غریب دی.

باب جامع المناقب
د اجتاعي مناقبو بیان

یعنې د کوم شخص چې کومه خوبی هم وي هغه به په دې باب کې بیانولی شي لکه بغیر د کوم خاص تخصیص نه په دې باب کې د مهاجرینو د فضیلت خبره کیږي ، د انصارو د فضیلت بیان کیږي ، د عشره مبشرو او خلفاء راشدینو او اهل بیتو او ازواجو مطهراتو او د نورو مشهورو صحابو تذکره به کیږي ، ګویا د تمام صحابو او اهل بیتو د اجتماعی مناقبو بیان دی ، دا باب ډیر اوږد دی او په دې کې ټول ۷۰ احادیث جمع دي .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّل

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فضیلت

﴿۱﴾عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ رَأَيْتُ فِي الْمَنَامِ كَأَنَّ فِيْ يَدِيْ سَرَقَةً مِّنْ حَرِيْرٍ
حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه وایي ما یوه ورځ په خوب کې ولیدل چې ګویا ځما په لاس کې د وریښمو
لَا أَهْوِيْ بِهَا إِلَى مَكَانٍ فِي الْجَنَّةِ إِلَّا طَارَتْ
د کپړې یوه ټکړه ده او زه د هغه ریښمي کپړې په ذریعه د جنت کوم محل طرف ته چې تلل غواړم
بِيْ إِلَيْهِ فَقَصَصْتُهَا عَلَى حَفْصَةَ فَقَصَّتْهَا حَفْصَةُ عَلَى
هغه ټکړه ما آلوځولو سره هلته رسوي بیا ما دا خوب خپلې خور ام المؤمنین بي بي حفصې ته بیان
النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ أَخَاكِ رَجُلٌ
کړو او هغې د دې ذکر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړو نو حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائیل حقیقت دا دی چې ستا
صَالِحٌ أَوْ إِنَّ عَبْدَ اللهِ رَجُلٌ صَالِحٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ورور نیک سړی دی یا دا الفاظ یې وفرمائیل چې عبد الله نیک سړي دی. [بخاري مسلم]

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فضیلت

﴿۲﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ إِنَّ أَشْبَهَ النَّاسِ دَلًّا وَسَمْتًا وَهَدْيًا
او حضرت حذیفه وایي چې په وقار ، میانه روی او درست روئ کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ټولو نه زیات مشابهت
بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَابْنُ أُمِّ عَبْدٍ مِّنْ حِيْنَ
لرونکی سړی د ام عبد ځوی دی د هغه وقت نه چې د خپل کور نه بهر راوځي او تر هغه وقته پورې
يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى أَنْ يَّرْجِعَ إِلَيْهِ لَا نَدْرِيْ
چې خپل کور ته ځي د کور والو په منځ کې یعنې په کور کې د اهل او عیال سره هغه کوم حال کې

مَا يَصْنَعُ فِي أَهْلِهٖ إِذَا خَلَا . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ .
وي دا مونږ ته معلومه نه ده. [بخاري]

توضیح: اشبه الناس: يعني د حضور اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ټولو نه زيات مشابه وو.

دلا: په دال باندې زور دی په لام باندې شد دی په اصل کې خوی او عادت ته ویل کیږي. قاضی عیاض رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي چې دلته د سنجیدګۍ او وقار په معنی سره دی.

سمتا: په سین باندې زور دی میم ساکن دی سیرت او عادت ته ویل کیږي مګر د قاضی عیاض د قول مطابق دلته د دینه په ټولو امورو کې میانه روی مراد ده.

هدیا: سیرت او حالت او هدایت و راهنمائی ته ویل کیږي، د قاضی عیاض د قول مطابق دلته دا لفظ د حسن سیرت سره په سیده لارې باندې تللو په معنی سره دی، شارحین د حدیث لیکي چې دا درې واړه الفاظ د معنی او مفهوم په اعتبار سره یو بل ته قریب دي او عام طور باندې د یو په بل باندې اطلاق کیږي.

لابن ام عبد: د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د مور نوم ام عبد وو، د ابن ام عبد څخه عبد الله بن مسعود مراد دی. د (لابن) په لفظ کې لام ابتدائیه د تأکید لپاره دی. **(من حین یخرج)** دا جار مجرور د دینه مخکې د اشبه لفظ سره متعلق دي، په دې جملې سره حضرت حذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا ویل غواړي چې په دغو صفاتو کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د هغه مشابهت تر هغه وخته پورې مسلسل جاری پاتې کیږي تر څو پورې به چې هغه زمونږ په مخ کې وو او تر څو پورې به چې هغه کور ته داخل شوی نه وو، لیکن چې کله به خپل کور ته داخل شو او خالی به پاتې شو نو د دینه وروسته به مونږ نه پوهیدلو چې هغه په خپل کور کې د ننه څنګه او سیږي؟ آیا په دې صفاتو باندې باقی پاتې کیږي او که نه؟ دا د غیب خبره ده په دې باندې الله نه پوهیږي مګر ظاهری ژوند د هغه ډیره ښه او پاکیزه وو او د نبی سره مشابه وو.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَدِمْتُ أَنَا وَأَخِي مِنَ الْيَمَنِ فَمَكَثْنَا
او حضرت ابو موسٰی اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي چې زه او ځما ورور د یمن نه مدینې منورې ته راغلو نو
حِينًا مَا نَرَى إِلَّا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ
دلته دربار نبوت باندې یوه موده مقیم وو په دې دوران کې مونږ همیشه دا خیال کولو چې عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
مِنْ أَهْلِ بَيْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَا نَرَى مِنْ دُخُولِهٖ
د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کور والو نه یو سړی دی ځکه چې مونږ به هغه او د هغه والده
وَ دُخُولِ أُمِّهٖ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ .
مور د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کی وخت بې وقته تلونکی راتلونکی لیدل. [بخاري مسلم]

هغه څلور صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې هغوئ نه د قرآن د زده کولو حکم وو

﴿۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِسْتَقْرِءُوا

او حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص نه روایت دی چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل قرآن د دي

الْقُرْآنَ مِنْ أَرْبَعَةٍ مِنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ وَسَالِمٍ مَوْلَى أَبِيْ حُذَيْفَةَ

څلورو سړو نه حاصلوئ او د دوئ نه يې وايي ۱ د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۲ د ابو حذیفه د آزاد کرده غلام سالم نه

وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۳ د ابي بن کعب نه ۴ او د معاذ بن جبل نه. [بخاري مسلم]

د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت

﴿۵﴾ وَعَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ قَدِمْتُ الشَّامَ

او حضرت علقمه بیان کوي زه چې د شام ملک ته ورسیدم او د دمشق جامع مسجد کې حاضر شوم

فَصَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قلت اَللّٰهُمَّ يَسِّرْ لِيْ جَلِيْسًا صَالِحًا

نو هلته مې دوه رکعاته مونځ وکړو بیا مې دعا وغوښتله چې ای الله! ماته یو نیک همنشین (ملګری)

فَأَتَيْتُ قَوْمًا فَجَلَسْتُ إِلَيْهِمْ فَإِذَا شَيْخٌ قَدْ جَاءَ حَتّٰى جَلَسَ إِلٰى

میسر کړې بیا زه یو مسجد کې ناست وم چې اچانک یو بزرګ راغی او څما په خواکې کې ناسته

جَنْبِيْ قُلْتُ مَنْ هٰذَا قَالُوْا أَبُو الدَّرْدَاءِ

ما خلقو نه پوښتنه وکړه دا بزرګ څوک دی هغوئ راته وښودل دا مشهور صحابي حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

قُلْتُ إِنِّيْ دَعَوْتُ اللهَ أَنْ يُيَسِّرَ لِيْ

دی په دې او رید و سره د خوشحالی نه حضرت ابو درداء ته مې وویل چې ما د الله تعالی نه دعا غوښتې

جَلِيْسًا صَالِحًا فَيَسَّرَكَ لِيْ

وه چې ماته یو نیک همنشین میسر کړي نو الله ستا سو په شان نیک همنشین راته میسر کړو په

فَقَالَ مَنْ أَنْتَ قُلْتُ

حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ما نه پوښتنه وکړه ته څوک يې او د کوم ځای نه راغلی یې؟ ما جواب ورکړو زه د

مِنْ أَهْلِ الْكُوْفَةِ قَالَ أَوَلَيْسَ عِنْدَكُمْ

کوفې او سیدونکی یم او د هغه ځای نه راغلی یم حضرت ابو درداء وویل آیا ستا سو سره په کوفه کې

ابْنُ أُمِّ عَبْدٍ صَاحِبُ النَّعْلَيْنِ وَالْوِسَادَةِ

ابن ام عبد یعني عبد الله ابن مسعود نشته چې هغه ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پیزار تکیه او بتک ساتلو

وَالْمُطَهَّرَةِ وَفِيكُمُ الَّذِي أَجَارَهُ اللهُ مِنَ الشَّيْطَانِ

شرف حاصل وو آیا ستا سو سره هغه صاحب نشته چې هغه ته الله د خپل پیغمبر په ژبه مبارکه د شیطان

عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ يَعْنِي عَمَّارًا أَوْ لَيْسَ فِيكُمْ

نه پناه او امان عطاء کړی یعني عمار او آیا تاسو کې هغه صاحب نشته چې هغه ته د رسول الله ﷺ

صَاحِبُ السِّرِّ الَّذِي لَا يَعْلَمُهُ غَيْرُهُ يَعْنِي حُذَيْفَةَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

د هغه صاحب راز کې دو شرف حاصل دی چې هغه نه ماسوا بل چاته نه دی معلوم یعني حذیفه. [بخاري]

توضیح: (من انت) ای من این انت ته د کوم ځای څخه راغلی یې او ته څوک یې؟

اولیس فیکم: حضرت ابو الدرداء په خپل جواب کې هغه سائل ته وویل چې په کوفه کې دومره غټې هستۍ موجودې دي، د هغوی په موجودګۍ کې زما مجلس غنیمت ګڼل په عقل کې نه راځي، هغوی خو ډیر غټ خلک دي، تا ته د هغوی څخه فیض حاصلول پکار دي، په دې جواب کې د متعلم لپاره دا ادب بیان شوی دی چې هغه د ټولو نه مخکې د خپل کلي او د خپل ښار د لوی عالم نه علم حاصل کړي او بیا بل ځای ته سفر وکړي.

د حضرت بلال رضی الله عنه او د ام سلیم رضی الله عنها فضیلت

﴿۶﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُرِيتُ الْجَنَّةَ

او حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول کریم ﷺ وفرمائیل ماته جنت وښودل شو نو ما په

فَرَأَيْتُ امْرَأَةَ أَبِي طَلْحَةَ وَسَمِعْتُ خَشْخَشَةً

هغه کې د ابو طلحه ښځه ولیده بیا ما ځان نه مخکې د قدمونو اواز واوریده څه ګورم چې بلال دی

أَمَامِي فَإِذَا بِلَالٌ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

چې مخکې مخکې په جنت کې روان دی. [مسلم]

کوم مسلمان ته به د حقارت په نظر سره نشي کتلی

﴿۷﴾ وَعَنْ سَعْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِتَّةَ

او حضرت سعد بن ابي وقاص چې عشره مبشرو نه دی بیان کوي چې رسول الله ﷺ سره مونږ شپږ

نَفَرٍ فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سړي وو د مکې مشرکینو کې بعضې سردارانو د رسول الله ﷺ نه مطالبه وکړه چې تاسو دا خلک

اُطْرُدْ هٰؤُلَاءِ لَا يَجْتَرِءُوْنَ عَلَيْنَا قَالَ وَكُنْتُ

لرې کړئ دې لپاره چې دغه خلک په مونږ جرئ او زړه ور نشي حضرت سعد رضی الله عنه وایي هغه شپږ سړو

أَنَا وَابْنُ مَسْعُوْدٍ وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلَالٌ وَرَجُلَانِ
کې يو خو زه وم يو عبد الله بن مسعود وو يو سړی د قبيلې هذيل وو او دوه سړي نور وو چې د هغوئ
لَسْتُ أُسَمِّيْهِمَا فَوَقَعَ فِيْ نَفْسِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نومونه زه نه ښايم بهرحال د هغه سردارانو مطالبې اوريدو سره د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خيال کې هغه
مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَقَعَ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ
خبره راغله کومه چې الله غوښتله چې راشي بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې باره کې په سوچ کې وو چې
فَأَنْزَلَ اللهُ. وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ
دا آيت نازل شو: {وَلَا تَطْرُدِ.} يعنې دا خلق د ځان نه مه لرې کوه چې سهار ماښام خپل رب يادوي
يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
او ددې عبادت او ذکر نه د دوئ مقصد د خپل رب خوشنودي نه ماسوا نور هيڅ نه دي. [مسلم]

توضيح: **اطرد**: دا امر صيغه ده د شړلو په معنی سره دی.

لايجترؤن: يعنې ستا په مجلس کې کچيري دغه خلک وي او مونږ ستا سره د ايمان متعلق خبري وکړو نو دا خلک به هم خبري وکړي، که خبري هم ونکړي بيا به هم زمونږ سره په مجلس کې برابر ناست وي، مونږ نه غواړو چې دغه حقير خلک په خبره کولو يا مجلس کې زمونږ سره د يوځای کيناستلو جرأت وکړي.

ورجلان لست اسميهما: يعنې دوه کسان نور هم وو مګر زه د هغو نوم اخيستل نه غواړم، علماؤ ليکلي دي چې دغه دوه کسان حضرت خباب او حضرت عمار وو، حضرت سعد د کوم مصلحت په وجه د هغو د نوم اخيستلو نه پرهيز وفرمايلو.

فحدث: يعنې د حضور اکرم ﷺ په قلب مبارک کې دا خيال تير شو چې کچيرې ددې فقيرانو په لرې کولو او شړلو سره د کفارو مشران مسلمانان کيدی شي نو آيا هغوی د مجلس نه ليرې کيدلی شي او که نه؟ او داسې کول پکار دي او که نه؟ په دغه موقع باندې د قرآن دا آيات نازل شول ﴿ولاتطرد الذين يدعون ربهم بالغداة والعشي يريدون وجهه الخ﴾.

د حضرت ابوموسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوش اوازي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِيْ مُوْسٰى أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ يَا أَبَا مُوْسٰى
او حضرت ابوموسیٰ اشعري نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمائيل ای ابوموسیٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تاته
لَقَدْ أُعْطِيْتَ مِزْمَارًا مِنْ مَزَامِيْرِ آلِ دَاوُدَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
داسې خوش اوازی عطاء شوي ده چې د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ د خوش اوازي يوه حصه ده. [بخاري مسلم]

توضیح : مزمار: په اصل کې مزمار د سرود هغه ساز ته ویل کیږي چې د دریا او طنبور سره وي مګر دلته صرف خوش آوازي او خوش الحاني مراد ده.

من آل داؤد: په دې جمله کې د آل لفظ زائد دی چې دیته مقحم ویل کیږي ، ځکه چې خوش آوازي الله تعالی حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَام ته ورکړې وه آل داؤد ته یې نه وه ورکړې.

د قرآن حافظان صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُم

﴿۹﴾ وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ جَمَعَ الْقُرْآنَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَةٌ :
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې چې کومو څلورو صحابو قرآن جمع کړو
أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَأَبُوْ زَيْدٍ
یعني پوره قرآن یې حفظ یاد وو هغه دادی: ۱ ابي بن کعب ۲ معاذ بن جبل ۳ زید بن ثابت ۴ او ابوزید
قِيْلَ لِأَنَسٍ مَنْ أَبُوْ زَيْدٍ قَالَ أَحَدُ عُمُوْمَتِيْ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وشوه چې ابوزید څوک دی نو هغه وویل ځما په ترونو کې یو دی. [بخاري مسلم]

توضیح : جمع القرآن: یعني چې قرآن یې مکمل طور باندې حفظ کړی وو هغه څلور کسان وو، دا دیو خاص شهرت په وجه سره ویل شوي دي ولې د حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې د صحابه کرامو لوی تعداد د قرآن حافظان وو، په دې کلام کې حصر هم نشته او نه د دې مفهوم مخالف اخیستل کیدلی شي چې بل کوم حافظ نه وو. د صحیح احادیثو څخه ثابت دي چې کوم اویا صحابه او قراء چې په بیر معونه کې شهیدان کړی شول هغوی د قرآن حافظان وو ، په جنګ یمامه کې په سلهاؤ صحابه د قرآن حافظان شهیدان شوي وو ، همدارنګه خلفاء راشدین حافظان قرآن وو لهذا دلته حصر نشته.

عمومتي: عم طرفته منسوب دی مراد کاکا دی.

د مصعب بن عمیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْاَرَتِّ قَالَ هَاجَرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَغِيْ وَجْهَ اللهِ تَعَالٰى
او حضرت خباب بن ارت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ځمونږ هجرت کول د الله تعالی د رضا
فَوَقَعَ أَجْرُنَا عَلَى اللهِ
او خوشحالی د جذبې نه علاوه نور څه مقصد نه لرلو ځمونږ د دې عمل اجر او ثواب د الله تعالی په نزد
فَمِنَّا مَنْ مَضٰى لَمْ يَأْكُلْ مِنْ أَجْرِهٖ شَيْئًا
ثابت او قائم شو په مونږ کې بعضي خلق خو هغه دي چې د دنیا څه اجر او انعام پیدا کیدو نه بغیر
مِنْهُمْ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ
د دنیا نه رخصت شول چې په هغوئ کې یو مصعب بن عمیر دی هغه د احد په ورځ شهید شو او د هغه

فَلَمْ	يُوجَدْ	لَهُ	مَا	يُكَفَّنُ	فِيْهِ		
47 د پاره څه داسي کپړه میسر نه شوه چي په هغه کي هغه پوره طور سره کفن شي د هغه په جسم د پړانګ							
إِلَّا	نَمِرَةٌ	فَكُنَّا	إِذَا	غَطَّيْنَا			
د څرمن په شان سپینو او تورو کرښو والا صرف یو کمبل وو او هغه هم دومره مختصر چي مونږ به							
رَأْسَهُ	خَرَجَتْ	رِجْلَاهُ	وَإِذَا	غَطَّيْنَا	رِجْلَيْهِ		
هغه کمبل سره د کفن کولو په وقت د مصعب سر پټولو نو پښي به یي بنکاره پاتي کیدي او که پښي							
خَرَجَ	رَأْسُهُ	فَقَالَ	النَّبِيُّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
به موور پټولي نو سر به یي بربنډ پاتي کي دي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل چي کمبل سره							
غَطُّوْا بِهَا	رَأْسَهُ	وَاجْعَلُوْا	عَلَى	رِجْلَيْهِ	مِنَ	الْإِذْخِرِ	وَمِنَّا مَنْ أَيْنَعَتْ لَهُ
یي سر پټ کړو او پښو باندي ورته اذخر وابنه واچوئ او په مونږ کي بعضي خلق هغه دي چي د هغوی							
ثَمَرَتُهُ	فَهُوَ	يَهْدِبُهَا.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ.			
میوه پخه شوه او هغوئ هغه میوه شوکوي. [بخاري مسلم]							

توضیح : اینعت: د باب افعال څخه ایناع د میوو پخیدلو ته ویل کیږي، مراد د فوائدو او منافعو حصول دی. **یهدبها**: د ضرب او نصر څخه د میوو شلولو او په انتخاب سره کټ کولو ته ویل کیږي.

حضرت مصعب بن عمیر قریشی، عبدری. د اکابر صحابه کرامو څخه وو، بلکل په ابتداء کي یي اسلام قبول کړی وو، حبشي ته یي هجرت وکړلو بیا یي دویم هجرت مدینې منورې ته وفرمایلو د حضور ﷺ په حکم سره مدینې منورې ته لاړو او هلته یي د اسلام دین خور کړلو، د حضور ﷺ د راتګ نه مخکي یي اول په مدینه منوره کي د جمعي لمونځ اداء کړلو. په مکه کي به یي شاهانه لباس اغوستلو، د اسلام د قبلولو نه وروسته یي فقیرانه زندګي غوره کړه. په جنګ احد کي د حضور ﷺ په دفاع کي ولاړ وو چي شهید شو.

الاذخر: دا یو قسم بوټی دی چي هغه اهنګر په خپلې پټی کي ږدي او اورورباندي بلوي، خلک یي په قبرونو کي د مري لاندي اچوي او په مسجدونو کي یي د لمونځ ګذارو لپاره اچوي، په پښتو کي دیته (بروزه) وایي شاید هغه وي په کالا ډاکه کي ما دا وابنه لیدلي دي، دا د بروزې سره مشابه یو قسم وابنه دي (از راقم).

د حضرت سعد بن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضیلت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اهْتَزَّ الْعَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ وَفِيْ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوریدل د سعد بن معاذ په مرګ عرش وخوزیدی

رِوَايَةٍ اِهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمٰنِ بِمَوْتِ سَعْدِبْنِ مُعَاذٍ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

او په یوه روایت کې داسې دي چې د سعد بن معاذ په مرګ د رحمٰن عرش وخوزیده. [بخاري مسلم]

توضیح : اهتز عرش الرحمن: اهتزاز خوزیدو ته ویل کیږي ، د حضرت سعد رضی اللہ عنہ په شهادت باندې عرش د خوشحالۍ نه خوزیدو چې اوس به د سعد مبارک روح پاس آسمانونو ته راځي ، ددینه د حضرت سعد رضی اللہ عنہ لوړ شان معلومیږي ، هغه د انصارو سردار وو ، په جنګ خندق کې په هغه باندې غشی لګیدلی وو . د بنو قریظو په باره کې حضرت سعد رضی اللہ عنہ فیصله کړې وه ، په سنه ۵ ه کې شهید شو او په بقیع غرقد کې دفن کړی شو ، د هغه په جنازه کې اویا زره ملائکې راغلي وې .

﴿۱۲﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ أُهْدِيَتْ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُلَّةُ حَرِيْرٍ

او حضرت براء بن عازب رضی اللہ عنہ بیان کوي چې د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم په خدمت کې د یوې ریښمي کپړې

فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَمَسُّوْنَهَا

جوړه بطور هدیه پیش شوه نو د حضور صلی اللہ علیہ وسلم صحابو رضی اللہ عنہم په هغه جوړې لاس ګرځولو دا ګرځولو

وَيَتَعَجَّبُوْنَ مِنْ لِيْنِهَا فَقَالَ أَتَعْجَبُوْنَ

سره د هغه نرم والی او پوست والی باندې د تعجب او حیرانتیا اظهار کول شروع کړل حضور صلی اللہ علیہ وسلم

مِنْ لِيْنِ هٰذِهٖ لَمَنَادِيْلُ

هغوئ ته وفرمائیل تاسو د دې کپړې په نرمۍ او پوست والي څه تعجب کوئ په جنت کې چې

سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِّنْهَا وَأَلْيَنُ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

سعد رضی اللہ عنہ ته کوم د سمالونه حاصل شوي دي هغه دي نه زیات نرم او پاسته دی. [بخاري مسلم]

د حضرت انس رضی اللہ عنہ په حق کې مستجابه دعا

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّهَا قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَنَسٌ خَادِمُكَ

او بي بي ام سلیم رضی اللہ عنہا یارسول الله! دا انس , دی چې ستاسو خادم جوړ ولو دپاره یې ستا سو

اُدْعُ اللهَ لَهٗ قَالَ اَللّٰهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهٗ وَوَلَدَهٗ وَبَارِكْ لَهٗ فِيْمَا

خدمت اقدس کې پیش کوم ده ته دعا وفرمایي نو حضور صلی اللہ علیہ وسلم ورته دا دعا وفرمائیله خدایه! د

أَعْطَيْتَهٗ قَالَ أَنَسٌ فَوَاللهِ إِنَّ مَالِيْ لَكَثِيْرٌ

انس رضی اللہ عنہ مال زیات کړې دده اولاد زیات کړې او د خپل طرف نه چې کوم نعمتونه تا ده ته عطاء کړي

وَإِنَّ وَلَدِيْ وَوَلَدَ وَلَدِيْ لَيَتَعَادُّوْنَ عَلٰى.

دي په هغه کې برکت واچوې انس رضی اللہ عنہ وایي قسم په الله د حضور صلی اللہ علیہ وسلم د دې دعا په سبب

نَحْوِ	الْمِائَةِ	الْيَوْمَ.	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ
څما مال ډير زيات دی او څما اولاد او څما د اولاد اولاد نن سلو نه زيات دي . [بخاري مسلم]				

توضيح : ليتعادون: د تجاوز په معنی سره دی .

على نحو المأة اليوم: يعنې نن زما اولاد د سلو نه څه زيات دي ، حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې څه وخت دا تعداد بيان کړی دی د هغه نه وروسته هم د هغه د اولاد سلسله جاري وه لکه هغه خپله په يو روايت کې فرمايي چې الله تعالی چې ماته کوم صلبي اولاد عطاء کړی دی د هغو تعداد يو سل پنځه ويشت ۱۲۵ دی د دينه علاوه دوه بچيان دي ، په يو بل روايت کې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې په بصره کې د حجاج بن يوسف د راتګ نه مخکې مخکې ما د خپل اولاد څخه ۱۲۰ په خپل لاس دفن کړي وو ، او د مال د کثرت په باره کې هغه فرمايي چې د ميوو دومره کثرت وو چې زما باغونو به په کال کې دوه ځلې ميوه ورکوله . د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اولاد د تعداد په باره کې د راويانو په مينځ کې اختلاف دی په دغه وجه د پريشانۍ ضرورت نشته .

د حضرت عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۱۳﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ مَا سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ
او حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه علاوه د يو بل سړي باره کې چې په
لِأَحَدٍ يَمْشِي عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ إِلَّا لِعَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
ځمکه باندې ګرځي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمائيل نه دي اوريدلي چې هغه جنتي دی. [بخاري مسلم]

توضيح : **يمشي على وجه الارض**: يعنې چې په دې وخت کې ژوندی وي او د ځمکې په مخ ژوندی ګرځي.

الا لعبد الله بن سلام: يعنې د عبد الله بن سلام نه علاوه ژوندی ګرځيدونکی کس په دې وخت کې نشته چې هغه ته حضور ﷺ د جنت بشارت ورکړی وي . دلته دا سوال راپورته کيږي چې د عبد الله بن سلام نه علاوه ډير صحابه داسې دي چې هغو ته د جنت بشارت د هغو په ژوند کې ورکړی شوی وو ، خاصکر عشره مبشره خو مشهور وو نو حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په عبد الله بن سلام کې حصر کولو سره نورولې ذکر نکړل؟ د دې جواب دا دی چې شايد په دغه وخت کې عشره مبشرو ته د جنت زيری ورکړی شوی نه وو او عبد الله بن سلام ته ورکړی شوی وو . دويم جواب دا دی چې د عبد الله بن سلام د جنت بشارت اجمالی او استنباطی دی ، دا د عشره مبشره پشان صريحی بشارت نه دی د راتلونکي حديث په قصه کې د استنباطی بشارت تفصيل دی لهذا د عشره مبشره د بشارت سره يې تعارض نشته .

دريم جواب دا دی چې حضرت سعد د خپل سماعت نفی کړې ده ، په دې سره د نورو د بشارت نفی نه راځي.

د حضرت عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب او هغه ته د جنت بشارت

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ كُنْتُ جَالِسًا فِي مَسْجِدِ الْمَدِيْنَةِ
او حضرت قیس بن عباد بیان کوي زه یوه ورځ د مدینې په مسجد کې ناست وم یو صاحب مسجد ته
فَدَخَلَ رَجُلٌ عَلَى وَجْهِهِ أَثَرُ الْخُشُوْعِ فَقَالُوْا هٰذَا رَجُلٌ
راغلي چې د هغه د مخ نه خشوع ښکاره وه کې بعضو وویل چې دا صاحب د جنت والؤ نه دی هغه
مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ تَجَوَّزَ فِيْهِمَا ثُمَّ خَرَجَ
دوه رکعاته مونځ وکړو او دواړه رکعاته یې مختصر وکړل بیا د مسجد نه بهر اووتلو زه هم د مسجد
وَتَبِعْتُهُ فَقُلْتُ إِنَّكَ حِيْنَ دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ
نه وتلو سره هغه پسې روسته روسته روان شوم او یو ځای ته رسیدو سره هغه ته مې وویل چې کوم
قَالُوْا هٰذَا رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ
وقت تا سو په مسجد کې داخل شوی وې نو بعضې خلقو ویلې وه چې دا صاحب جنتي دی هغه
قَالَ وَاللهِ مَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ اَنْ يَّقُوْلَ مَا لَا يَعْلَمُ
صاحب وویل په الله قسم چې زه د دې تصدیق نشم کولی ځکه چې یو سړي د پاره دا مناسب نه دي
فَسَأُحَدِّثُكَ لِمَ ذَاكَ رَأَيْتُ رُؤْيَا عَلٰى عَهْدِ
چې هغه هغه خبره وکړي چې هغې باندې نه پوهیږي او زه تا ته د دې وجه ښایم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په
رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَصَصْتُهَا عَلَيْهِ
زمانه کې یوه ورځ ما یو خوب لیدلی وو او هغه خوب ما رسول الله! ته بیان کړی وو ما په خوب کې
وَرَأَيْتُ كَأَنِّيْ فِيْ رَوْضَةٍ ذَكَرَ مِنْ سَعَتِهَا وَخُضْرَتِهَا
لیدلي وو چې زه ګویا یو باغ کې یم بیا هغه صاحب د هغه باغ د کشادګۍ او تروتازګۍ او شادابۍ
وَسَطَهَا عَمُوْدٌ مِنْ حَدِيْدٍ أَسْفَلُهُ فِي الْأَرْضِ
ذکر وکړو او د هغه باغ په منځ کې د اوسپنې یوه ستن وه چې د هغې لاندې سر په ځمکه کې دننه
وَأَعْلَاهُ فِي السَّمَاءِ فِيْ أَعْلَاهُ عُرْوَةٌ فَقِيْلَ لِيَ ارْقَهْ
دی او د هغه بره سر آسمان کې دی او د هغه ستني بره یوه حلقه ده بیا ماته وویل شو چې پورته
فَقُلْتُ لَا أَسْتَطِيْعُ فَأَتَانِيْ مِنْصَفٌ فَرَفَعَ ثِيَابِيْ مِنْ
وخیژه ما ورته وویل زه د ختلو طاقت نه لرم بیا یو خادم ماته راغلي چې هغه د روسته نه ځما کپړې

خَلْفِيْ فَرَقِيْتُ حَتّٰى كُنْتُ فِيْ أَعْلَاهُ فَأَخَذْتُ
پورته کړي او زه پورته وختم تردي پوري چې د هغه ستني آخري بلندي ته ورسيدم او هغه حلقه مي
بِالْعُرْوَةِ فَقِيْلَ اسْتَمْسِكْ فَاسْتَيْقَظْتُ
ونيوله بيا ماته وويل شوه چې دا حلقه مضبوطه ونيسه بيا ځما سترګې وغړيدي په داسي حال کې چې
وَإِنَّهَا لَفِيْ يَدِيْ فَقَصَصْتُهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
هغه حلقه ځما په لاس کې وه هرکله چې د حضور صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې ما دا خوب بيان کړونو حضور صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
فَقَالَ تِلْكَ الرَّوْضَةُ اَلْإِسْلَامُ وَذٰلِكَ الْعَمُوْدُ عَمُوْدُ الْإِسْلَامِ
راته وفرمائيل هغه باغ دين اسلام دی د هغه خوب تعبير او هغه ستن د اسلام ستن ده او هغه حلقه چې
وَتِلْكَ الْعُرْوَةُ عُرْوَةُ الْوُثْقٰى فَأَنْتَ عَلَى
تا وليده او ودي نيوله عروه وثقٰی ده نو په دي خوب کې دي طرف ته اشاره ده چې ته به د خپل ژوند آخري لمحي
الْإِسْلَامِ حَتّٰى تَمُوْتَ وَذٰلِكَ الرَّجُلُ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَلَامٍ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
پوري په اسلام ثابت يې او قيس بن عباد وايي چې هغه صاحب حضرت عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو. [بخاري مسلم]

توضيح: **اثر الخشوع**: يعني د تقوی او د خوف خدا اثر ښکاره وو.

تجوز فيها: يعني په اختصار سره يې دوه رکعته لمونځ ژرژر وکړو.

مايلبغي: يعني د هيچا لپاره دا مناسبه نه ده چې د آخرت په باره کې کومه قطعی فيصله وکړي چې فلانی شخص جنتي دی يا دوزخي دی، دا د هغه د علم نه بهر دی.

عروة: حلقې ته ويل کيږي يعني د هغې ستنې په آخر کې يوه حلقه وه.

ارقه: يعني په دې ستنې باندې وخيژه، دا د سمع يسمع نه د امر صيغه ده او هاء د سکتې لپاره ده، يا هاء د ضمير ده چې عمود ته راجع کيږي.

منصف: په ميم باندې زير دی نون ساکن او په صاد باندې زور دی نوعمر او ځوان غلام ته ويل کيږي.

د خطيب صحابه ثابت بن قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۱۶﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ خَطِيْبَ الْأَنْصَارِ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چې ثابت بن قيس بن شماس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د انصارو خطيب وو هرکله
فَلَمَّا نَزَلَتْ (يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ)
چې دا آيت نازل شو يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا الاية ای ايمان والاوو خپل اوازونه د نبي صَلَّىٰ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اواز باندي

إِلَى آخِرِ الْآيَةِ جَلَسَ ثَابِتٌ فِي بَيْتِهِ وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مه پورته کوئ الخ نو ثابت رضی الله عنه خپل کورکې کې ناسته او د نبي صلی الله علیه وسلم په خدمت کې تلل راتلل
فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ فَقَالَ
يې بند کړل رسول الله صلی الله علیه وسلم يوه ورځ سعد بن معاذ رضی الله عنه نه وکړه ثابت رضی الله عنه ته څه شوي دي آيا
مَا شَأْنُ ثَابِتٍ أَيَشْتَكِي فَأَتَاهُ سَعْدٌ فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
هغه ناجوړه دی؟ سعد رضی الله عنه چې ثابت رضی الله عنه ته ورسيده او د هغه مخکې يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم
فَقَالَ ثَابِتٌ أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْآيَةُ وَلَقَدْ
الفاظ نقل کړل نو ثابت رضی الله عنه وويل دا آيات: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا الخ نازل شوی دی چې د حضور صلی الله علیه وسلم
عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى
مخکې بلند اواز خبرو اترو نه منع کوي او ته پوهيږي چې په تاسو کې د ټولو نه زيات ځما اواز د
رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَذَكَرَ ذٰلِكَ سَعْدٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
رسول الله صلی الله علیه وسلم د اواز نه پورته دی نو زه خو دوزخي يم سعد رضی الله عنه راتلو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم
فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
ته د ثابت رضی الله عنه الفاظ نقل کړل نو نبي صلی الله علیه وسلم وفرمائيل داسي نه ده بلکه ثابت رضی الله عنه خو جنتي دی. [مسلم]

توضيح: ثابت بن قيس رضی الله عنه د صحابو خطيب ؤ طبعي طور باندې د هغه آواز اوچت وو لهجه يې هم درنه وه په دغه وجه هغه ددې آيت د نزول نه وروسته ويريده او په کور کښيناسته چې زه خو تباه شوم، په دې باندې حضور صلی الله علیه وسلم هغه ته د جنت بشارت واورولو. په حديث کې په ظاهره دا اشکال دی چې حضرت معاذ رضی الله عنه چې ددې حديث راوی دی په سنه ۵ هـ کې وفات شوی وو او دا آيت په سنه ۹ هـ کې نازل شوی دی نو دغه واقعه هغه څنګه بيانوي؟ ددې جواب دا دی چې د آيت دغه حصه مخکې نازله شوې وه او د ﴿ياايها الذين امنوا لاتقدموا الخ﴾ چې کومه حصه ده هغه وروسته په نهمه هجری کې نازله شوې ده.

د حضرت سلمان فارسي رضی الله عنه فضيلت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ نَزَلَتْ
او حضرت ابو هريره رضی الله عنه بيان وکړو مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو چې اچانک سورة جمعه
سُورَةُ الْجُمُعَةِ فَلَمَّا نَزَلَتْ وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا
نازل شو او کوم وقت چې دا آيت راغی: (وَآخَرِينَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ) او په هغوئ کې څه نور خلق

يَلْحَقُوْا بِهِمْ قَالُوْا مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ

هغه دي چې اوس لا هغوئ سره نه دي يوځاي شوي نو صحابو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه يارسول الله!

وَفِيْنَا سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ قَالَ

هغه کوم خلق دي چې اوس لا هغوئ سره نه دي يوځاي شوي او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي هغه

فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ عَلَى سَلْمَانَ

وقت څمونږ په منځ کې سلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم وو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابو دې سوال اوريدو

ثُمَّ قَالَ لَوْ كَانَ الْإِيْمَانُ عِنْدَ الثُّرَيَّا

سره خپل لاس مبارک په سلمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې کيخوده او ويې وفرمائيل که ايمان ثريا ستوری

لَنَالَهُ رِجَالٌ مِّنْ هٰؤُلَاءِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

باندې هم وي نو بلاشبه په دې خلقو کې به ډيرو هغه پيدا کړي او حاصل کړي وو. [بخاري مسلم]

توضيح: **اذا نزلت**: يعنې د سورة جمعه آيت نمبر ۳ چې کله نازل شو چې په دې کې آينده راتلونکي خلک د صحابه کرامو په صفاتو کې شامل کړی شوي دي، تو ل آيت داسې دی ﴿**وَآخَرِيْنَ مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوْا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ**﴾ په دې باره کې صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ پوښتنه وکړه چې يارسول الله! دا کوم خلک دي چې هغوی زمونږ په صفاتو کې شامل کړی شوي دي؟ حضور ﷺ د حضرت سلمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طرفته اشاره وفرمايله چې دده د اولاد څخه به دغه خلک وي.

الثريا: کهکشان ستورو ته ثريا ويل کيږي په اوچتوالي کې د هغو سره تشبيه ورکولی کيږي.

حضرت سلمان فارسی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د فارس د يو ښار (رامهرمز) د اوسيدونکو سره تعلق لرلو، مذهبا مجوسی وو د هغه پلار لوی جاگيردار او د ايران د آتشکده ساتونکی وو، د هغه اسلامی نوم سلمان دی او کنيت يې ابوعبدالله دی، د پلار د مذهب سره يې نفرت وو و تښتيده او يهودی شو بيا عيسائی شو، د حق په تلاش کې به يې د خپل استاد نه معلومات حاصلولو هغه ده ته وويل چې اوس هدايت د دنيا نه رخصت شوی دی، د هدايت نوې مناره به د حجاز څخه روښانه کيږي، ته مدينې ته لاړ شه او هلته د نبی آخرزمان د راتگ انتظار کوه. د هغه د نبوت ننبه يوه خو د ختم نبوت مهر دی او دويمه علامه يې دا ده چې هغه به صدقه نه قبلوي. مدينې ته روان شو په لاره کې څو ظالمانو هغه ونيوه او غلام يې جوړ کړلو او د مدينې په يهودو باندې يې خرڅ کړو، په خپله فرمايي چې زه د لسو بادارانو په لاسونو کې خرڅ شوی يمه. حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه په اهل بيتو کې شامل کړلو، هغه به خپل ځان ته سلمان الاسلام ويلو، حضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی صدقه يې راوړه، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه پخپله ونخوړه صحابو ته يې ورکړه دويمه ورځ يې تحفه راوړه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله هم وخوړه او په نورو يې هم وخوړه، سلمان فارسی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مهر نبوت هم وکتلو نو مسلمان شو، د هغه مولی يهودی هغه مکاتب وگرځولو مگر بدل د کتابت

یې داکیښنودلو چې د کجورو سل ونې کښینوه چې کله په هغو کې میوه راشي ته به آزاد شې.په دې خو ډیره زمانه لګیدله په دغه وجه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل لاس سره ونې ولګولې نو په یو کال کې یې میوه ورکړه او سلمان آزاده شو، وایي د هغه ټول عمر درې سوه کاله ؤ، هغه د حضرت عیسی علیه السلام یو صحابي حواري هم لیدلی دی، بعضې وایي چې د دوه نیم سوه کلو په عمر په مدائن کې وفات شوی دی.

د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په حق کې محبوبیت دُعا

﴿۱۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هٰذَا يَعْنِيْ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وایي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعا و فرمائیله ای الله! خپل کوچنی بنده یعني
أَبَا هُرَيْرَةَ وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَحَبِّبْ إِلَيْهِمُ الْمُؤْمِنِيْنَ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د ده مور د خپلو مؤمنانو بندګانو محبوب جوړ کړې او اهل ایمان د دوئ محبوب جوړ کړې.[مسلم]

د کمزورو مسلمانانو شان

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ عَائِذِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ أَبَا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ
او حضرت عائذ بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې ابو سفیان صحابو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ یو جماعت سلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ
وَ صُهَيْبٍ وَ بِلَالٍ فِيْ نَفَرٍ فَقَالُوْا
صُهیب رومي او بلال حبشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا مخکې تیر شو نو هغه درې واړو حضراتو ابو سفیان لیدو سره ووېل
مَا أَخَذَتْ سُيُوْفُ اللهِ مِنْ عُنُقِ عَدُوِّ اللهِ
آیا د الله! د هغه بندګانو تورو چې د الله په تعمیل کې سرګرم او سیرې ادائي حق کې د دې دښمن خدا څټ
مَأْخَذَهَا فَقَالَ أَبُوْبَكْرٍ
لاترا و سه پورې نه دی الوځولی حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې دا واوریدل نو هغه درې واړه حضرات مخاطب کولو
أَتَقُوْلُوْنَ هٰذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ
سره یې ورته ووېل تاسو د قریشو د دې لوی سړې باره کښې داسې خبره کوئ چې د خپل قوم سردار هم دی
فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى . اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ
بیا حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې راغی او حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یې د دې واقعې اطلاع
فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ
ورکړه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول تفصیل اوریدو سره وفرمائیل ای ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ !تا شاید هغه درې واړه خفه کړې وي
لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ فَأَتَاهُمْ فَقَالَ
او که تا دغوي ناراضه کړې وي نو قسم په الله تا خپل پروردګار ناراضه کړو حضرت ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغو درې واړو

اللهُ	يَغْفِرُ	لَا	قَالُوا	أَغْضَبْتُكُمْ إِخْوَتَاهُ

...بيل اې څما ورونو! آيا تا سو زما نه ناراضه شوي خونه يې هغو درې واړو جواب ورکړو نه اې

لَكَ يَا أخِيْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

زمونږ وروره! الله دې تا معاف کړي.

...يح: ما اخذت سيوف الله: يعني د مسلمانانو په لاسونو کې چې د الله تعالى توري د جهاد لپاره ...ې دي آيا تر اوسه پورې دغو تورو د الله تعالى د دښمن ابوسفيان غاړه وهلې نه ده؟ صحابه کرامو ... دغه خبره په هغه وخت کې وکړه چې کله ابوسفيان د مکې مکرمې نه د صلح حديبيه د تجديد ...ه مدينې منورې ته راغلى وو، په دغه وخت کې ابوسفيان مسلمان شوى نه وو، په دغه وخت کې دغو ...انو جهاد د جذبې لاندې دغه جمله وويله، په دې باندې حضرت ابوبکر رضي الله عنه د ناراضګۍ اظهار ...اوبيا لاړو حضور اکرم صلى الله عليه وسلم ته يې د دې تذکره وکړه، حضور اکرم صلى الله عليه وسلم و فرمايل چې ...غه غريبان او فقيران ناراضه کړي دي، ته ياد ساته چې تا خپل رب ناراضه کړى دى، په دې باندې ...يق اکبر رضي الله عنه د هغوى خواته لاړو او په معذرت کولو سره يې معافي وغوښته، هغوى د زړه په ...ن سره معاف کړلو، په دې سره د دغو فقيرانو شان واضحه شو! رښتيا ده:

اس دور میں کچھ خاک نشینوں کی بدولت — باقی اسلام کی عظمت کا نشان ہے

په څو احاديثو کې د انصارو فضيلت

﴿۲۰﴾ وَعَنْ	أَنَسٍ	عَنِ	النَّبِيِّ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	قَالَ	آيَةُ	الْإِيْمَانِ

حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي رسول الله صلى الله عليه وسلم و فرمائيل د ايمان يعني د

حُبُّ	الْأَنْصَارِ	وَآيَةُ	النِّفَاقِ	بُغْضُ	الْأَنْصَارِ.	مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

کامل ايمان نښه تمام انصارو سره محبت ساتل دي او د نفاق نښه انصارو سره بغض او دښمني ساتل دي. [بخاري و مسلم]

﴿۲۱﴾ وَعَنِ	الْبَرَاءِ	قَالَ	سَمِعْتُ	رَسُوْلَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ.

حضرت براء بن عازب انصاري رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل انصارو سره هغه

يَقُوْلُ	لِلْأَنْصَارِ	لَا	يُحِبُّهُمْ	إِلَّا	مُؤْمِنٌ	وَلَا يُبْغِضُهُمْ

خلک محبت ساتي چې کامل مؤمن وي او انصار سره هغه سړى دښمني ساتي چې منافق وي کوم

إِلَّا	مُنَافِقٌ	فَمَنْ	أَحَبَّهُمْ	أَحَبَّهُ	اللهُ	وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ

سړي چې انصار محبوب لري الله! هغه محبوب لري او کوم سړى چې انصارو سره دښمني ساتي

أَبْغَضَهُ اللهُ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

الله! هغه سره دښمني ساتي. [بخاري مسلم]

﴿۲۲﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ أَنَّ نَاسًا مِّنَ الْأَنْصَارِ قَالُوْا حِيْنَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د انصارو بعضو خلقو هغه وقت د شکايت اظهار وکړو هرکله چې
أَفَاءَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مِنْ أَمْوَالِ هَوَازِنَ مَا أَفَاءَ فَطَفِقَ
الله خپل رسول ته د قبيله هوازن هغه مال غنيمت ورکړو کوم چې عطاء کول وو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
يُعْطِيْ رِجَالًا مِّنْ قُرَيْشٍ اَلْمِائَةَ مِنَ الْإِبِلِ فَقَالُوْا
قريشو کې ځو ځو خلقو ته سل سل اوښان ورکول شروع کړل نو په انصارو کې هغه بعضې خلقو ويل
يَغْفِرُ اللّٰهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ يُعْطِيْ قُرَيْشًا
الله دې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وبخښي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قريشو ته خو دومره زيات عطاء کوي او
وَيَدَعُنَا وَسُيُوْفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَآئِهِمْ فَحُدِّثَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مونږ ته زيات نه راکوي حالانکه ځمونږ د تورو نه د دښمن وينه څاڅي هرکله چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
بِمَقَالَتِهِمْ فَأَرْسَلَ إِلَى الْأَنْصَارِ فَجَمَعَهُمْ فِيْ قُبَّةٍ مِّنْ
په علم کې د دې خلقو شکايت راغی نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تمام انصار را وغوښتل او خپلې هغه خيمه کې
أَدَمٍ وَلَمْ يَدَعْ مَعَهُمْ أَحَدًا غَيْرَهُمْ فَلَمَّا اجْتَمَعُوْا
يې راجمع کړل کومه چې د څرمن نه جوړه شوې وه هغوئ سره يې نور خلق را نه بلل هرکله چې ټول
جَآءَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا
انصار راجمع شول نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوئ ته تشريف راوړو او ورته يې وفرمائيل څه خبره ده
حَدِيْثٌ بَلَغَنِيْ عَنْكُمْ فَقَالَ فُقَهَآؤُهُمْ أَمَّا ذَوُو
کومه چې ستاسو د طرف نه ماته رارسول شوې ده هغه انصارو کې چې کوم عقلمند او دانا خلق وو
رَأْيِنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَلَمْ يَقُوْلُوْا شَيْئًا وَأَمَّا أُنَاسًا مِنَّا
هغوئ وويل يا رسول الله! په مونږ کې عقلمند او ذي رايې خلقو هيڅ نه دي ويلي هو په مونږ کې څه
حَدِيْثَةٌ أَسْنَانُهُمْ قَالُوْا يَغْفِرُ اللّٰهُ لِرَسُوْلِ
نوعمر او ځوانانو ناپوهۍ سره دا خبره ضرور کړې ده چې الله دې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وبخښي چې
اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْطِيْ قُرَيْشًا وَيَدَعُ الْأَنْصَارَ
قريشو ته خو دومره زيات عطا کوي او مونږ انصارو ته زيات نه راکوي حالانکه ځمونږ د تورو نه د
وَسُيُوْفُنَا تَقْطُرُ مِنْ دِمَآئِهِمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دښمن وينه څاڅي بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل حقيقت دا دی چې کوم خلق اوس اوس لږ ورځې

قَرَيْنِي	أُعْطِي	رِجَالًا	حَدِيثِي	

خلکي ته ورکوم: هغوئ ته زه دا مال ورکوم دي د پاره چې د هغوئ زړونه اسلام ته راماڼل کړم

بِكُفْرٍ أَتَأَلَّفُهُمْ أَمَا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ

ته علاوه بل هیڅ مقصد نه نشته او ای انصارو! آیا تاسو په دې راضي نه یي چې ستاسو نه

النَّاسُ بِالْأَمْوَالِ وَتَرْجِعُوْنَ إِلَى رِحَالِكُمْ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

علاوه: هغه خلق چې مؤلفة القلوب دي مال او اسباب اخستو سره بیرته ځي او تاسو خلق رسول الله صلی الله علیه وسلم

قَالُوْا بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ

اخستو سره: خپلو ځایونو ته بیرته ولاړشئ انصارو د حضور صلی الله علیه وسلم دې پر اثر ارشاد اوریدو

قَدْ رَضِيْنَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

سره وویل هو یارسول الله! مونږ په دې راضي یو.

توضیح: په جنګ حنین کې په مال غنیمت کې د نغد مالونو نه علاوه شلو یښت زره ګډې هم راغلې وې او یا څلیریشت زره اوښان لاسته راغلي وو، او شپږ زره کسان قیدیان شوي وو، د جعرانه مقام باندې چې کله حضور صلی الله علیه وسلم دغه مال تقسیم کړلو نو بعضې نومسلم قریشو ته یې ډیر مال ورکړو، ابوسفیان ته یې سل اوښان ورکړل، هغه د خپل ځوی معاویه لپاره وغوښتل نو سل نور یې ورکړل، بیا هغه د خپل بل ځوی لپاره وغوښتل نو سل اوښان یې نور ورکړل، چې کله د انصارو نوجوان مجاهدینو دغه شفقت او مهربانی وکتله نو حیرانه پاتې شول چې د کومو خلکو په تورو باندې زمونږ توري رنګینې دي تراوسه وچې شوي نه دي او حضور صلی الله علیه وسلم مونږ پریږدي او په هغوی باندې احسان کوي، دا شکایت حضور صلی الله علیه وسلم ته ورسیدو نو هغه ټول په یو ځای کې راجمع کړل او یوه بلیغه خطبه یې وفرمایله او حقیقت حال یې واضح کړلو، په دې باندې انصارو سخت وژړل، حضور صلی الله علیه وسلم هغو ته دا هم وویل چې په تاسو باندې به په آینده کې هم نورو ته ترجیح ورکولی کیږي مګر تاسې صبر وکړئ ترڅو زما سره په حوض کوثر باندې ملاقات وکړئ، د انصارو متعلق احادیثو کې به د دې خطبې ځو ځو جملې وروسته راځي، عجیبه خطبه ده.

د انصارو فضیلت

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمائیل که هجرت نه وی نو زه به

لَوْلَا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِّنَ الْأَنْصَارِ وَلَوْ سَلَكَ

هم انصارو کې یو سړی وم که خلق یو وادي کې ځي او انصار به بله لار باندې ځي نو زه به په هغه

النَّاسُ وَادِيًا وَّسَلَكَتِ الْأَنْصَارُ وَادِيًا أَوْ شِعْبًا لَسَلَكْتُ

لاره باندې ځم کومه چې د جماعت انصار لاره ده انصار خو د (شعار) لاندې کپړې په شان دی او

وَادِيَ الْأَنْصَارِ وَشِعْبَهَا أَ لَأَ نْصَارُ شِعَارٌ وَّالنَّاسُ دِثَارٌ

نور خلق د دثار پورته کپړې په شان دي ای انصارو تاسو به زمانه روسته ووینئ چې داسې امراء به

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ بَعْدِيْ أُثْرَةً فَاصْبِرُوْا

راشي چې نورو خلقوته به د دنيا او مال باره کښې پر تاسو باندې ترجيح ورکوي، نو تاسو صبر کوئ

حَتّٰى تَلْقَوْنِيْ عَلَى الْحَوْضِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

تردې پورې چې ما سره په حوض کوثر يو ځای شئ. (بخاری)

توضيح: په دې حديث کې د دغې بليغې خطبې څو جملې دي.

شعبا: شيلې او درې ته ويل کيږي، ددې جمع **شعوب** ده.

شعار: دا د **شعر** څخه ده ويښتانو ته ويل کيږي، د جسم د ويښتانو سره لګيدلې کپړه مراد ده چې عموما زيرپيراني يا قميص وي.

دثار: دا د **دثر** څخه ده دبلې کپړې ته ويل کيږي چې عام طور د کپړو د پاسه اغوستلې کيږي لکه کورتی، واسکټ، څادر وغيره، ددې کلام مقصد دا دی چې انصار د قرب او منزلت په اعتبار سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ترټولو زيات نزدې دي ګويا انصار د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه او ګردې دي او باقی خلک د ظاهری اعضاؤ پشان دي.

﴿۲۴﴾ وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي دمکې د فتح په ورځ مونږ خلق د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ملګرتيا کې وو

يَوْمَ الْفَتْحِ فَقَالَ مَنْ دَخَلَ دَارَ أَبِيْ سُفْيَانَ

په هغه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعلان کړی وو چې مشرکې نو کې کوم سړی د ابوسفيان په کور کې داخل شی

فَهُوَ آمِنٌ وَّمَنْ أَلْقَى السِّلَاحَ فَهُوَ آمِنٌ فَقَالَتِ الْأَنْصَارُ

هغه په امن کې دی او مشرکې نو کې چاچې اسلحه وغورځوله هغه په امن کې دی بعضې انصارو دې اعلان

أَمَّا الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ رَأْفَةٌ

اوريدو سره خپلو کې وويل چې دې سړې يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د خپل قوم په حقله

بِعَشِيْرَتِهِ وَرَغْبَةٌ فِيْ قَرْيَتِهِ وَنَزَلَ الْوَحْيُ عَلَى

مروت او مهرباني او خپل کلی والاو يعني د اهل مکو په حقله د رغبت او شوق جذبه طبعي طور سره

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

غالبه راغلي ده نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي وحي نازله شوه چي د هغه په ذريعه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قُلْتُمْ أَمَّا رَسُوْلِ الرَّجُلُ فَقَدْ أَخَذَتْهُ

خبر شو چي انصار داسي وايي په دي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انصار را وبلل او هغوئ ته يي وفرمائيل

رَأْفَةٌ بِعَشِيْرَتِهِ وَ رَغْبَةٌ فِيْ قَرْيَتِهِ

تاسو داسي ويلي دي چي دي سړي باندي د خپل قوم د مروت مهرباني او د خپلو كلي والو په حقله د رغبت او شوق

كَلَّا إِنِّيْ عَبْدُ اللّٰهِ وَ رَسُوْلُهُ هَاجَرْتُ إِلَى اللّٰهِ وَإِلَيْكُمْ

جذبه غالب راغلي ده نه داسي نه ده حقيقت دا دی چي زه د الله بنده او د الله! رسول يم ما د الله طرف ته او ستاسو طرفته هجرت

اَلْمَحْيَا مَحْيَاكُمْ وَالْمَمَاتُ مَمَاتُكُمْ

كړی دی او س خو ځما ژوند ستاسو ژوند سره دی او ځما مرګ هم ستاسو مرګ سره دی په دي او ريدو

قَالُوْا وَاللّٰهِ مَا قُلْنَا إِلَّا ضِنًّا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ

سره انصارو عرض وكړو په الله قسم چي مونږ دا خبره صرف ځكه وكړه چي الله او د الله رسول مونږ ته بخل وو

قَالَ فَإِنَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ يُصَدِّقَانِكُمْ

حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل الله او د هغه رسول ستاسو تصديق كوي او تاسو درست ګڼي او

وَ يُعْذِرَانِكُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ستاسو دا معذرت قبلوي. [مسلم]

توضيح : **يوم الفتح**: د دينه د فتح مكه ورځ مراد ده.

دار ابي سفيان: په سنه ۸ھ كي نبي اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل لس زره مجاهدينو صحابه كرامو سره د مكي د فتحه كولو لپاره تشريف يوړو ، ابوسفيان ته اندازه وه چي اهل مكه مقابله كولی نشي نو ځكه هغه د صلحي په غرض د مذاكراتو لپاره او د خپل قوم قريشو د بچ كولو لپاره د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طرف روان شول . حضرت عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اوبنه باندي سور كړلو او مكي ته قريب يو ځاى مرالظهران پوري يي بوتللو چيرته چي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پړاؤ اچولی وو ، چي كله ابوسفيان زباني طور باندي اسلام قبول كړلو نو حضرت عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل چي يا رسول الله ! دا سړی رتبه پسند دی د قوم مشر هم دی ده ته څه اعزاز وركړه تر څو دا خپل قوم ته وويلی شي چي د هغوی د بچ كولو لپاره د غد كارنامه ابوسفيان سرته ورسوله ، په دغه موقع باندي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل (**من دخل دار ابي سفيان فهو آمن**) يعني چي څوک د ابوسفيان كور ته داخل شو هغه به په امن كي وي ،

ابوسفیان وویل دا امن کافی نه دی زما په کور کې زما ټول قوم چیرته ځاییږي، حضور اکرم ﷺ وفرمایل چې کوم شخص په مسجد حرام کې داخل شو هغه په امن کې دی ، ابوسفیان وویل چې مسجد حرام کې هم ټول خلک راتللی نشي ، نو دغه وخت کې حضور ﷺ وفرمایل (**من اغلق علیه الباب فهو آمن**) یعنې چا چې د کور دروازه بنده کړه هغه په امن کې دی ، چا چې توره وغورځوله هغه په امن کې دی نو په دې وخت کې ابوسفیان وویل چې هو دا امن مکمل دی . په دې باندې انصارو وویل چې حضور خپل قومي او خانداني او معاشرتي محبت ونیولو ، اوس مونږ پاتې شو ، حضور اکرم ﷺ په خپلو کې لاړو . په دې باندې حضور ﷺ جواب ورکړو چې زما ژوند او زما مرګ د نن نه بعد ستاسو سره دی ، ژوند به هم ستاسو سره تیروم او مرګ به مې هم ستاسو سره راځي .

الا ضنا بالله : یعنې مونږ دغه جمله د کوم دنیوی مقصد یا خود غرضۍ لپاره ونه ویله ، بلکه د دې حرص لاندې مو وویله چې ته زمونږ څخه جدا نشې او د دې عظیم رحمت نه مونږ محرومه نشو .

یصدقانکم: یعنې الله او د هغه رسول ستاسو تصدیق کوي او په دې مقصد کې تاسو معذور ګڼي .

﴿۲۵﴾ وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى
او حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دی یو ورځ رسول الله ﷺ د انصارو ماشومان او ښځې دیو
صِبْيَانًا وَنِسَاءً مُقْبِلِيْنَ مِنْ عُرْسٍ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
دعوت طعام نه روسته راتلونکې ولیدل نو نبي ﷺ اودریدلو او هغوئ مخاطب کولو سره یې
فَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ
وفرمائیل خداونده! زه تا ګواه کولو سره د انصارو دې ښځو او بچوته وایم چې ای انصارو ! په تمامو
اَللّٰهُمَّ أَنْتُمْ مِنْ أَحَبِّ النَّاسِ إِلَيَّ
خلقو کې تاسو ځما په نزد محبوب ترین یې خداونده! په ټولو خلقو کې تاسو ځما په نزد محبوب ترین
يَعْنِي الْأَنْصَارَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
یې د حضور ﷺ مراد تمام انصارو و .

توضیح : من عرس: د واده د دعوت نه د انصارو ماشومان او ښځې راتللې، حضور اکرم ﷺ مخې ته ودریده او ویې فرمایل : **اللّٰهم انتم** . په دې جمله کې التفات دی اصل عبارت داسې دی (**اللّٰهم انت تعلم صدق فیما اقول فی حق الانصار**) د دې جملې نه بعد حضور ﷺ په طور د التفات انصار مخاطب کړل او ویې فرمایل : **انتم من احب الناس الیّ**.

د حبيب صلى الله عليه وسلم په فراق باندې د انصارو ژړا

﴿۲۶﴾ وَ عَنْهُ قَالَ مَرَّ أَبُوْ بَكْرٍ وَ الْعَبَّاسُ بِمَجْلِسٍ مِنْ مَجَالِسِ

او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي د حضور صلى الله عليه وسلم د مرضِ وفات په دوران کې يو ورځ حضرت ابوبکر او عباس رضي الله عنهما

الْأَنْصَارِ وَ هُمْ يَبْكُوْنَ

د انصارو يو مجلس باندې تير شول نو وي ليدل چې هغه اهل مجلس والا ناست وو ژړل يې هغه

فَقَالَا مَا يُبْكِيْكُمْ قَالُوْا ذَكَرْنَا مَجْلِسَ

دواړو حضراتو د هغوئ نه پوښتنه وکړه تاسو ولې ژاړئ هغوئ وويل ځمونږ په منځ کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَّا فَدَخَلَ أَحَدُهُمَا

مجلس مونږ ته راياد شو په دې او ريدو سره هغه دواړو کې يو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو

عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِذٰلِكَ

او حضور صلى الله عليه وسلم يې دې خبرې نه خبر کړو چې د انصارو جماعت ستاسو مجلس مبارک يادولو سره ژاړي

فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ عَصَبَ عَلٰى رَأْسِهٖ

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې حالت کې حجرې مبارکې نه بهر تشريف راوړو چې د سر درد د کمولو د پاره

حَاشِيَةَ بُرْدٍ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ

د څادر يو ځاک د پټې په طور سر مبارک باندې تړلې وو تړلې وو بيا خطبې ورکولو د پاره منبر باندې کې ناسته

وَلَمْ يَصْعَدْ بَعْدَ ذٰلِكَ الْيَوْمِ

چې د هغه ورځې نه روسته بيا حضور صلى الله عليه وسلم ته منبر ته ختل نصيب نه شو مخکې حضور صلى الله عليه وسلم

فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أُوْصِيْكُمْ بِالْأَنْصَارِ

د الله! حمد او د هغه ثناء بيان کړه بيا يې وفرمائيل اى مهاجرو! زه تاسو ته د انصارو باره کښې وصيت

فَإِنَّهُمْ كَرِشِيْ وَعَيْبَتِيْ وَقَدْ قَضَوُا الَّذِيْ عَلَيْهِمْ وَبَقِيَ الَّذِيْ لَهُمْ

کوم ځکه چې په هغوئ کوم حق وو هغه هغوئ ادا کړې دى او څه چې د هغوئ حق دى هغه د الله سره باقي دى

فَاقْبَلُوْا مِنْ مُحْسِنِهِمْ وَتَجَاوَزُوْا عَنْ مُسِيْئِهِمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

نو د هغوئ د نيکو خلقو قبلوئ او د هغوئ د خرابو خلقو د خرابو کارونو نه درګذر (معافي) کوئ. [بخاري]

توضيح : ذكرنا مجلس النبي: يعنې چې کله حضور صلى الله عليه وسلم مريض نه وو مونږ به تهول يو ځاى کيناستلو اوس د بيمارۍ په وجه حضور صلى الله عليه وسلم بهر راتللى نشي ، د هغه مجلس چې مونږ ته ياد شو

نو ژړا راغله.

عصب: په سر باندې پټۍ تړلو او کپړې تاوولو ته ویل کیږي.

حاشیة بردة: یعني د خپل څادر څنډه یې په طور د پټۍ په سر باندې تړلې وه.

کرشي: په کاف باندې زور دی په راء باندې زیر دی په یوه نسخه کې په کاف باندې کسره ده او راء ساکنه ده ای بطانتی یعنې انصار زما باطن دی چې په دې کې زړه، ګرده، کولمې ټول راځي، دا د عربی محاورې لاندې خاص الخاص، رازدار او قریب ته اشاره وي.

و عیبتي: عیبة په اصل کې صندقچې ته ویل کیږي چې په هغه کې ضروری سامان ایښودل کیږي، عرب خلک د عیبة په ویلو سره زړه او سینه مرادوي چې په دې سره رازدارۍ ته اشاره وي ځکه د انسان رازد هغه په زړه او سینه کې وي.

﴿۲۷﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِيْ مَرَضِهِ

او حضرت ابن عباس رضي الله عنه بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې بیمارۍ په دوران کې چې په

الَّذِيْ مَاتَ فِيْهِ حَتّٰى جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ

هغه کې ورته وفات راغلو یوه ورځ حجرې مبارکې نه بهر راووتلو منبر باندې تشریف فرما شو اول

فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ النَّاسَ

حضور صلی الله علیه وسلم د الله ! حمد او ثناء بیان کړل بیایې وفرمائیل پوهه شئ د خلقو یعنې مسلمانانو

يَكْثُرُوْنَ وَيَقِلُّ الْأَنْصَارُ حَتّٰى يَكُوْنُوْا فِي النَّاسِ

تعداد ورځ په ورځ زیاتیږي او د انصارو تعداد به کم شي تر دې پورې چې په نورو خلقو کې به د انصارو

بِمَنْزِلَةِ الْمِلْحِ فِي الطَّعَامِ فَمَنْ وَّلِيَ مِنْكُمْ

تناسب طعام کې د مالګې برابر پاتې شي نو ای مهاجرینو په تاسو کې چې کوم سړی د څه اقتدار

شَيْئًا يَّضُرُّ فِيْهِ قَوْمًا وَّيَنْفَعُ فِيْهِ

مالک جوړ شي او د هغه په سبب څه خلقو ته (یعني نیکو کارو خلقو ته) فائده رسولو او څه خلقو ته

آخَرِيْنَ فَلْيَقْبَلْ مِنْ مُّحْسِنِهِمْ

(یعني بدکارو خلقو ته) د نقصان رسولو اختیار لري نو هغه سړي ته پکار دي چې د انصارو د نیکو کارو

وَيَتَجَاوَزْ عَنْ مُّسِيْئِهِمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

نیکي قبوله کړي او د هغوئ د بدکارو د بدۍ نه درګذر معافي وکړي.

توضیح : ویقل الانصار: چونکې انصار د نصرت څخه دی او د نصرت څخه د محمد عربي صلی الله علیه وسلم

.

او مهاجرينو نصرت مراد دی نو انصار کیدل داسې وصف دی چې چا ته دا حاصل شو بس هماغه ته حاصل شو ، کومو خلک و چې د حضور ﷺ نصرت کړی وو هغه خلک تر هغې زمانې پورې خاص وو د کوم بل چا په نصرت سره د انصار وصف نه حاصلیږي ، نو ځکه د انصارو ښخه چې څوک مړ کیږي د هغوی جماعت کمیږي ، یو وخت داسې راځي چې د انصارو نه هیڅوک نه پاتې کیږي . دا هم ممکنه ده چې په دې حدیث کې د انصارو د خلک و ښخه په جهاد کې د زیاتو شهید کیدلو طرفته اشاره وي او واقعي انصار په هره معرکه کې زیات شهیدان شوي دی ، پاتې شو مهاجرین نو هجرت تر کومې زمانې پورې خاص نه دی لهذا مهاجرین نه ختمیږي تر قیامته پورې چې څوک هجرت کوي هغه به د مهاجر په وصف سره متصف کیږي .

فمن ولی: یعنې ستاسو نه کچیرې کوم کس صاحب د اقتدار وي او هغه د نفع او نقصان په حیثیت کې راشي هغه ته پکار دي چې د انصارو سره ښه سلوک وکړي هغو ته عفوه وکړي .

﴿۲۸﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ
او زید بن ارقم رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ دعا وفرمائیله ای الله! انصار او د انصارو
وَلِأَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ وَلِأَبْنَاءِ أَبْنَاءِ الْأَنْصَارِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
ځامن او د انصارو لمسي وبخښې . [مسلم]
﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِيْ أُسَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَيْرُ دُوْرِ الْأَنْصَارِ بَنُوْ
او حضرت ابو اسید رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمائیل د انصارو بهترين کور يعني د هغوی افضل قبائل
النَّجَّارِ ثُمَّ بَنُوْ عَبْدِ الْأَشْهَلِ ثُمَّ بَنُو الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ ثُمَّ بَنُوْ سَاعِدَةَ وَفِيْ كُلِّ دُوْرِ الْأَنْصَارِ خَيْرٌ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
بنو نجار بیا بنو عبد الاشهل بیا بنو حارث بن خزرج بیا بنو ساعده دي او د انصارو تمامو قبیلو کې خير او نیکي ده.

د حاطب بن ابي بلتعه رضي الله عنه فضيلت او قصه

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ بَعَثَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَالزُّبَيْرَ وَالْمِقْدَادَ وَفِيْ رِوَايَةٍ
او حضرت علي کرم الله وجهه بیان کوي چې رسول الله ﷺ ما ته زبیر ته او مقداد ته او په یوه روایت
وَأَبَا مَرْثَدٍ بَدَلَ الْمِقْدَادِ فَقَالَ انْطَلِقُوْا حَتّٰى تَأْتُوْا رَوْضَةَ خَاخٍ
کې د مقداد په ځای د ابو مرثد ذکر وو کړو د روانګي حکم وکړو چې تاسو روضه خاخ ته ورشئ
فَإِنَّ بِهَا ظَعِيْنَةً مَعَهَا كِتَابٌ فَخُذُوْهُ مِنْهَا
هلته به یوه ښځه بیا مومئ چې د اوښ په سورلۍ په کجاوه به ناسته وي هغې سره یو خط دی تاسو

فَانْطَلَقْنَا تَعَادٰی بِنَا خَيْلُنَا حَتّٰى اَتَيْنَا

هغه خط د هغې نه واخلی او رايې وړئ نو مونږ فورًا روان شو او خپل آسونه په تيز رفتارۍ سره

إِلَى الرَّوْضَةِ فَإِذَا نَحْنُ بِالظَّعِينَةِ فَقُلْنَا أُخْرِجِي

زغلولو سره روضه خاخ ته ورسيدو او هغه ښځه مو را لاندي کړه مونږ هغه ښځي ته وويل راوړه هغه

الْكِتَابَ قَالَتْ مَا مَعِيَ مِنْ كِتَابٍ فَقُلْنَا

خط را او باسه او مونږ ته يي حواله کړه هغه ښځي وويل ما سره هيڅ خط مط نشته مونږ ورته وويل

لَتُخْرِجِنَّ الْكِتَابَ أَوْ لَنُلْقِيَنَّ الثِّيَابَ فَأَخْرَجَتْهُ مِنْ عِقَاصِهَا

ته خط را او باسه يا به مونږ ستا نه کپړي او باسو بيا هغه ښځي هغه خط د خپلي کوڅۍ نه را وايسته

فَأَتَيْنَا بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا

مونږ ته يي حواله کړو او مونږ هغه خط اخستو سره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلو هغه خط خلاصولو سره

فِيهِ مِنْ حَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ إِلَى نَاسٍ مِنَ الْمُشْرِكِينَ

وکتل شو نو په هغه کي ليکلي وو د حاطب بن ابي بلتعه د طرف نه اهل مکو کې د مشرکينو په نوم

مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يُخْبِرُهُمْ بِبَعْضِ أَمْرِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بيا مخکي حاطب د مکې مشرکينو ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بعضي اقداماتو او منصوبو باره کې

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا حَاطِبُ

معلومات فراهم کړي وو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاطب طلب کړو او هغه ته يي وفرمائيل اى حاطب! دا څه

مَا هٰذَا فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَا تَعْجَلْ عَلَيَّ

دي؟ حاطب وويل يا رسول الله! څما باره کښې تادی مه کوئ (يعني څما پوره خبرو اوريدو نه بغير

إِنِّي كُنْتُ امْرَأً مُلْصَقًا

د دي حرکت په بدله کې څما متعلق د کفر او سزا فيصله مه کوئ) دراصل زه يو داسې سړی يم چې

فِي قُرَيْشٍ وَلَمْ أَكُنْ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَكَانَ مَنْ مَعَكَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ

د قريشو خلقو سره د بهر نه راتلو سره يو ځاي شوی يم هر کله چې ستا سو سره کوم نور مهاجرين دي

لَهُمْ قَرَابَةٌ يَحْمُونَ بِهَا أَمْوَالَهُمْ وَأَهْلِيهِمْ بِمَكَّةَ

هغوئ مکې والاو سره قرابت لري او د مکې مشرکين د هغه قرابت لحاظ کولو سره په مکه کې د

فَاَحْبَبْتُ إِذْ فَاتَنِيْ ذٰلِكَ

هغه مهاجرینو د مال و جائیداد او د هغوئ د اهل او عیال حفاظت کوي نو په دې بناء چې څما او د مکې

مِنَ النَّسَبِ فِيْهِمْ أَنْ اَتَّخِذَ

د مشرکې نو په منځ کې نسبي او قرابتي تعلق نشته دی ما وغوښتل چې د هغوئ د پاره څه داسې

فِيْهِمْ يَدًا يَحْمُوْنَ بِهَا قَرَابَتِيْ

کارنامه و کړم چې د هغه په بدله کې هغوئ په مکه کې څما د قرابتدارو حفاظت کوي تاسو ته د

وَمَا فَعَلْتُ كُفْرًا وَّلَا ارْتِدَادًا عَنْ دِيْنِيْ

زړه په صدق سره یقین درکوم چې ما دا حرکت په دې وجه نه دی کړی چې زه د سره په دائره ایمان او

وَلَا رِضًى بِالْكُفْرِ بَعْدَ الْإِسْلَامِ

اسلام کې داخل شوی نه یم او کافریم او نه په دې وجه چې د اسلام نه روسته اوس کفر ماته ښه لګي

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهُ قَدْ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل په دې کې شک نشته چې حاطب ستاسو مخکې بالکل ربښتیا

صَدَقَكُمْ فَقَالَ عُمَرُ دَعْنِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ

بیان کړی دی حقیقت حال هغه دی چې هغه خو دلی لیکن عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل یارسول الله!

أَضْرِبْ عُنُقَ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ماته اجازت را کړئ چې زه د دې منافق څټ ووهم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائیل دې حقیقت نظر

إِنَّهُ قَدْ شَهِدَ بَدْرًا وَّمَا يُدْرِيْكَ لَعَلَّ

له چې حاطب غزوه بدر کې شریک شوی دی بیا ورته نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل او تاته د حقیقت حال

اللهَ اِطَّلَعَ عَلٰى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ

څه علم دی ممکنه ده الله! اهل بدر خپل خصوصي نظر کرم او مغفرت سره نازولي وي د بدر د غازیانو

اعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ

په حقله الله! فرمائیلي دي تاسو چې څه غواړئ کوئ حقیقت خو دادی چې جنت ستاسو د پاره

وَفِيْ رِوَايَةٍ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكُمْ فَأَنْزَلَ

واجب شوی دی او په یوه روایت کې دي چې ستاسو د پاره جنت واجب شوی دی په ځاي دادی چې تاسو

اللهُ	تَعَالٰی	يَا	اَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا	تَتَّخِذُوْا	عَدُوِّیْ	
مي بخښلي يې دي نه روسته الله ! دا آيت نازل کړو چې د هغه ترجمه داده اې ايمان والاوو ځما او									
وَعَدُوَّكُمْ	اَوْلِيَاءَ .	مُتَّفَقٌ	عَلَيْهِ .						
خپل دښمنان دوستان مه جوړوئ الخ . [بخاري مسلم]									

توضيح :**ابامرثد الغنوی**: په يو روايت کې دي چې حضور ﷺ حضرت مقداد وليږلو ، په بل روايت کې دي چې حضور ﷺ ابو مرثد وليږلو ، نو دا په ظاهره تعارض دی ، ددې جواب دا دی چې حضور ﷺ ځلور کسان ليږلي وو يعنې حضرت علی ، حضرت زبير ، حضرت مقداد ، او حضرت ابو مرثد رضی الله عنهم اجمعين نو په بعضو رواياتو کې د ابو مرثد ذکر دی د مقداد نشته او په بعضو کې د مقداد ذکر دی د ابو مرثد نشته دا تعارض نه دی ، روايت بيانولو والاؤ کله يو ذکر کړی دی او کله يې ذکر کړی نه دی .

روضة خاخ: مدينې منورې ته نزدې د يو ځای نوم دی چې د مکې په لاره کې واقع دی .

ظعينة: کومه ښځه چې په اوښ سفره شي په سفر ووځي هغې ته ظعينه ويل کيږي ، ددغې ښځې نوم ساره وو يا ام ساره وه د قريشو د آزاد کړه ښځو څخه يوه وه .

يتعادی: د منډو وهلو او ځغلولو په معنی سره راغلی دی .

لتلقين: دغې ښځې د خط د وجود څخه انکار وکړو نو صحابو هغې ته وويل چې خط را اوباسه او که نه نو مونږ به تا بربنډه وو ځکه چې د حضور ﷺ فرمان دروغ کيدلی نشي ، ته دروغ وايې ، ددينه معلوميږي چې د صحابه کرامو ايمان دومره مضبوط وو چې د حضور ﷺ د فرمان په مقابل کې د هيڅ شی قبلولو ته تيار نه وو .

من عقاصها: عقاص د عقيصة جمع ده د سر د ويښتانو کوڅۍ ته ويل کيږي ، امرأ القيس د خپلې محبوبې په باره کې ويلي دي :

غدائرها مستشزرات الی العلی تضل العقاص فی مثنی و مرسل

په يو روايت کې دي چې (**اخرجته من حجزتها**) يعنې د خپلې وروسته حصې د دبر خواته د کمربند څخه خط را وويسته ، په دواړو رواياتو کې تطبيق دا دی چې د دغې ښځې ويښته اوږده وو ، هغې اول خط د ويښتانو په کوڅۍ کې وتړه او بيا يې هغه د کمربند لاندې کړو ، نو دواړه اطلاقه صحيح دي که **عقاصها** ووايې او که **عجزتها** ووايې .

ببعض امر رسول الله: د مکې د فتحې په موقع باندې حضور ﷺ خپله اراده دومره پټه وساتله چې حضرت عائشې رضي الله عنها ته هم پته نه وه چې حضور ﷺ چيرته د جهاد لپاره ځي ؟ بلکه د

مدینې په لارو باندې پیرې ودرولی شوې وې تر څو کوم کس د اهل مکه په مخ کې د حضور ﷺ د مهم سره متعلق راز افشاء نکړي، ځکه که قریشو ته مخکې پته لګیده نو هغو به ښه تیاري کولو نو ښه جنګ به کیده او زیاته وینه به بهیدله. حضور ﷺ وغوښتل چې په بې خبرۍ کې په قریشو باندې حمله وشي تر څو د کم نه کمه وینه وبهیږي او د حرم شریف تقدس برقراره پاتې شي، د امر رسول الله نه مراد دا دی چې حضرت حاطب د اندازې نه وویل چې رسول الله ﷺ کوم مهم ته روان دی کیدای شي په مکه باندې حمله وي نو یاد ساتئ چې تاسې د حق دغه سیلاب بندولی نشئ مګر زه تاسو خبروم چې د خپل ځان د حفاظت انتظام وکړئ.

یدا: د دې جمع ایادی ده احسان او انعام ته ویل کیږي.

ومایدریک: ای ای شیئ یعلمک انه مستحق للقتل.

علی اهل بدر: یعنې حاطب بدری صحابی نه دی او شاید الله تعالی د مخکې نه معلومه کړې وې چې د اهل بدر اعمال ګمراه کن کیدلی نشي نو الله تعالی وفرمایل چې ما تاسو وبخښلئ چې څه غواړئ کوئ یې، الله تعالی ته معلومه وه چې دوی به کوم غلط کار نه کوي، د جواب خلاصه دا ده چې اهل بدر داسې شهزادګان دي چې الله تعالی د هغوی هر ناز و انداز بخښي بس د هغوی د محبوبیت په مخ کې زر ګناهونه معاف دي. شاعر د دې مکمل تصویر داسې ویستلی:

واذا الحبیب اتی بذنب واحد جاءت محاسنه بالف شفیع

ترجمه: چې کله معشوق د عاشق په مخ کې یوه جرم وکړي نو د هغه محاسن زر سفارشګر راولي د هغه جرم معافوي.

په بدر کې د شریکو صحابو شان

﴿۲۱﴾ وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ جِبْرَئِيْلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ						
رفاعه بن رافع رضي الله عنه بیان کوي چې جبرائیل علیه السلام رسول الله ﷺ ته راغي او پوښتنه یې						
فَقَالَ	مَا	تَعُدُّوْنَ	أَهْلَ	بَدْرٍ	فِيْكُمْ	قَالَ
وکړه چې غزوه بدر کې شریکې دونکی تا سو په خپل منځ کې د کومې طبقې خلقو نه شمیر کوئ						
مِنْ	أَفْضَلِ		أَوْ	الْمُسْلِمِيْنَ	كَلِمَةً	نَحْوَهَا
حضور ﷺ ورته وفرمائیل مونږ هغوئ د ټولو نه اعلی او د ټولو نه ښه مسلمانانو کې شمیرو یا						
قَالَ	وَكَذٰلِكَ		مَنْ	شَهِدَ		بَدْرًا
حضور ﷺ د غه شان څه نورو الفاظو سره جواب ورکړو حضرت جبرائیل) وویل دغه شان د						
مِنَ	الْمَلَائِكَةِ.	رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ				
هغه فرشتو مقام اوچت دی کومې چې په غزوه بدر کې شریکې شوې وې.						

دبیعت الرضوان فضیلت

﴿۳۲﴾ وَ عَنْ حَفْصَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
او ام المؤمنین بي بي حفصه رضي الله عنها بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل زه امید لرم چې کوم
إِنِّي لَأَرْجُوْ أَنْ لَّا يَدْخُلَ النَّارَ إِنْ شَآءَ اللهُ أَحَدٌ
سړی بدر او حدیبیه کې شریک شوی دی هغه به انشاء الله د دوزخ په اور کې نه داخلیږي ما دي
شَهِدَ بَدْرًا وَ الْحُدَيْبِيَةَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ
خبري اوریدو سره عرض وکړو یارسول الله! آیا الله ! دانه دي فرمائیلي چې په تا سو کې هیڅ
أَلَيْسَ قَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا
سړی داسي نشته چې په دوزخ به نه وارد کیږي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل آیا تا دا نه دي اوریدلي چې
وَارِدُهَا قَالَ فَلَمْ تَسْمَعِيْهِ يَقُوْلُ ثُمَّ نُنَجِّي
الله ! دي نه روسته داهم فرمائیلي دي چې بیا به مونږ هغه خلق دوزخ ته تلو نه بچ کړو چې هغوئ
الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَفِيْ رِوَايَةٍ لَّا يَدْخُلُ النَّارَ
تقوی اختیار کړه او په یوه روایت کې داسي دي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل اصحاب شجره کې به
إِنْ شَآءَ اللهُ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ أَحَدٌ الَّذِيْنَ
هیڅ سړی انشاء الله د دوزخ په اور کې نه داخلیږي او اصحاب شجره نه مراد هغه خلق دي کوم چې
بَايَعُوْا تَحْتَهَا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
د وني لاندي بیعت کړی وو. [بخاري مسلم]

توضیح : اصحاب الشجرة: د حدیبیه د صلحې په موقع باندې بیعت رضوان چې د کومې ونې لاندې شوی وو هغه د کیکر ونه وه ، د کیکر دغه ونه په قرآن کریم کې د تحت الشجرة په نوم سره یاده شوې ده ، لته د همدې بیعت او بیعت کونکو ذکر دی ، دا بیعت په هغه وخت کې واخیستلی شو چې کله حضور صلی الله علیه وسلم ته وویلی شو چې اهل مکو حضرت عثمان رضي الله عنه بندی کړی دی او بیا یې قتل کړی دی ، حضور صلی الله علیه وسلم د انتقام اخیستلو او د کفارو سره د جنګ کولو لپاره د صحابو څخه بیعت واخیستلو ، وروسته معلومه شوه چې حضرت عثمان صحیح سالم دی .

ددې بیعت لوی فضیلت دی حضرت ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي چې (بایعناه علی الموت) یعنې مونږ په دې باندې بیعت کړی وو چې د حضرت عثمان بدله به اخلو او که نه نو د ځان نه به تیریږو .

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ كُنَّا يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ أَلْفًا وَ أَرْبَعَ مِائَةٍ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنهُ وايي د حديبيه په ورځ څمونږ تعداد يو زر او څلور سوه ۱۴۰۰ وو او څمونږ
قَالَ لَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْتُمُ الْيَوْمَ خَيْرُ أَهْلِ الْأَرْضِ . مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
متعلق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائيلي وو نن ورځ تاسو په ځمکې والو کې د ټولو نه بنه خلق ياست. [بخاري مسلم]

﴿۲۴﴾ وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَّصْعَدُ
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنهُ بيان کوي د حديبيه د سفر په دوران کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې دا وفرمائيل
الثَّنِيَّةَ ثَنِيَّةَ الْمُرَارِ فَإِنَّهُ يُحَطُّ عَنْهُ مَا حُطَّ
چې ټولو نه مخکې چې کوم خلق هغه ثنية المرار باندې وختل نو دهغه به دومره ګناهونه معاف شي
عَنْ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ وَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ صَعِدَهَا
څومره چې د بني اسرائيلو ګناهونه معاف شوي وي نو د ټولو نه مخکې چې کوم خلق هغه ثنية
خَيْلُنَا خَيْلُ بَنِي الْخَزْرَجِ ثُمَّ تَتَامَّ النَّاسُ
المرار باندې وختل هغه څمونږ آسونه يعني د قبيله خزرج آس سواره وو هغوئ نه روسته مخکې
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّكُمْ
روسته ټول خلق وختل نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل تاسو ټول وبخښل شوئ علاوه د هغه سړي نه
مَغْفُوْرٌ لَهُ إِلَّا صَاحِبَ الْجَمَلِ الْأَحْمَرِ فَأَتَيْنَاهُ
چې سور اوښ والا دى يعني د منافقانو سردار عبد الله بن ابي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دي ارشاد اوريدو سره
فَقُلْنَا تَعَالَ يَسْتَغْفِرْلَكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
مونږ هغه سور اوښ والا سړي ته ورغلو او هغه ته مو وويل زمونږ سره راځه چې مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ لَأَنْ أَجِدَ ضَالَّتِيْ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ
نه ستا په حق کې هم د بخښش او مغفرت درخواست وکړو خو هغه بدبخت وويل حقيقت دا دى چې
يَسْتَغْفِرَ لِيْ صَاحِبُكُمْ.
زه خپل ورک شوى شى پيدا کړم نو دا ځما په نزد د هغه خبرې نه زيات پسنديده او عزيز دى چې ستا سو
رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُكِرَ حَدِيْثُ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
صاحب زما د پاره بخښش او مغفرت وغواړي. [مسلم] او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنهُ حديث: قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لِأُبَيِّ	بْنِ	كَعْبٍ	إِنَّ	اللهَ	أَمَرَنِيْ	أَنْ	أَقْرَأَ	عَلَيْكَ	

لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ إِنَّ اللهَ أَمَرَنِيْ أَنْ أَقْرَءَ عَلَيْكَ فضائل قرآن نه روسته والا باب کې نقل شوی دی یعني صاحب مصابیح

فِيْ	بَابٍ	بَعْدَ	فَضَائِلِ الْقُرْآنِ.

دا حدیث هلته دې باب کې نقل کړی وو لیکن دې حدیث کې د قرآن کریم ذکر وو ځکه مؤلف مشکوة دا هلته نقل کړو

توضیح: من یصعد: دا د صعود څخه دی د ختلو په معنی سره دی.

الثنیة: د دوو غرونو په مینځ کې غونډۍ ته ثنیة ویل کیږي او مرار د یو ځای نوم دی چې د مکې او حدیبیه په مینځ کې دی، دا غونډۍ همدغه ځای ته منسوبه ده په دغه وجه ثنیة المرار ویل شوی دی، په ۶ هـ کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عمرې لپاره مکې ته روان شو یو نیم زر صحابه کرام ورسره وو لیکن چې کله هغه د حدیبیه مقام ته ورسیدو نو د قریشو کفارو هغه د عمرې کولو څخه منع کړلو، یوه ځانته تفصیل طلبه قصه ده لیکن په زیر بحث حدیث کې چې کومه تذکره ده هغه دا ده چې ثنیة المرار یوه سخته او اوچته غونډۍ وه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دا اندیښنه پیدا شوه چې چیرته ددې شاته د قریشو کفارو مورچې جوړه کړې نه وي او ناڅاپه حملې کولو سره نقصان ونه رسوي نو ځکه یې په طور د ترغیب او په طور د انعام یې دا وفرمایل چې په دې غونډۍ باندې که کوم شخص وخیژي او د دښمن احوال معلوم کړي نو د هغه به دومره ګناه ساقطه شي لکه څومره ګناه چې د بني اسرائیلو معاف شوې وه، او س سوال دا دی چې د بني اسرائیلو ګناه چیرته معاف شوې وه؟ په تاریخ کې ددې لپاره کومه پته نشته نو علماؤ جواب ورکړی چې بني اسرائیلو ته الله تعالی د اریحا ښار ته د اخلیدو حکم کړی وو او فرمایلي یې وو چې کچیرې تاسو په عجز او انکسارۍ او توبې کولو سره او د حطة نعرې لګولو سره سرټیټي داخل شوی نو وعده ده چې ستاسې ګناه به معاف کړم، بني اسرائیلو په دې وعده باندې عمل ونکړو او اریحا ته د داخلیدو په وخت د سجدې په ځای په کناټو ښنبیدلو سره داخل شول او د حطة په ځای د حنطة الفاظ ویل یې شروع کړل، الله تعالی هغوی ته سزا ورکړله.

دلته حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د **(ماحط عن بنی اسرائیل)** الفاظو سره د هغوی د ګناه معاف کولو وعدې ته اشاره وفرمایله چې کچیرې بني اسرائیلو دغه وعده پوره کړې وای نو د هغې ټوله ګناه معاف کیدله مګر هغوی داسې ونکړل او وعده خلافي یې وکړه لهٰذا ستاسو نه چې کوم کس په ثنیة المرار باندې وخیژي او د دښمن حال معلوم کړي نو د هغه ګناه به ټوله معاف شي.

خیل بني الخزرج: حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپله د بنو الخزرج سره تعلق لري هغه فرمایي چې په ثنیة المرار باندې د ختلو سعادت د ټولو نه مخکې زمونږ د قبیلې شهسوارو حاصل کړو.

ثم تتامّ الناس: دا صیغه د تمام په معنی سره ده ای تتابع یعني ددینه وروسته خلک په کثرت سره لاړل، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بشارت واوروه چې څوک په دې کې تللي وي هغوی ټول د ګناه څخه پاک شول.

(الا صاحب الجمل الاحمر) د سره اوبن د مالک مغفرت نه کیږي، د سره اوبن د مالک نه رئیس المنافقین عبدالله بن ابی ابن سلول مراد دی، حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي چې مونږ هغه ته وویل چې راشه او د حضور صلی الله علیه وسلم څخه د استغفار دعاء وغواړه، په جواب کې عبدالله بن ابی بن سلول وویل چې زما اوبنه ورکه شوې ده، زه د هغه په تلاش کې روان یم کچیرې ماته زما ورکه اوبنه ملاؤ شوه نو هغه به زما لپاره د دینه زیاته بهتره وي چې ستاسو نبی زما لپاره استغفار وغواړي.

د صاحبکم کومه اصطلاح چې په هغه وخت کې وه دا به کفارو استعمالوله، هغوی به مسلمانانو ته ویل چې دا نبی ستاسو ملګری او مشر دی زمونږ نه دی، دغه منافق هم د کفارو والا اصطلاح استعمال کړه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

د شیخینو رضی الله عنهما د ابن مسعود رضی الله عنه فضیلت

﴿۳۵﴾ عَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمائیل

قَالَ اِقْتَدُوْا بِالَّذَيْنَ مِنْ بَعْدِيْ مِنْ اَصْحَابِيْ

تاسو د هغه دواړو تابعداري کوئ چې څما د صحابو رضی الله عنهم نه دي او زما نه روسته به خلفاء وي

اَبِيْ بَكْرٍ وَّعُمَرَ وَاهْتَدُوْا بِهَدْيِ عَمَّارٍ وَّتَمَسَّكُوْا

او هغه ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه دی د عمار بن یاسر رضی الله عنه سیرت او د هغه نقش قدم اختیارولو سره

بِعَهْدِ ابْنِ اُمِّ عَبْدٍ وَ فِيْ رِوَايَةِ حُذَيْفَةَ

سیده لاري باندې ځئ او د ام عبد د ځوی عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه عهد مضبوط ونیسئ او په یوه

مَا حَدَّثَكُمْ ابْنُ مَسْعُوْدٍ فَصَدِّقُوْهُ

دوهم روایت کې چې حضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دی د ام عبد د ځوی عهد مضبوط ونیسئ په ځاي

بَدَلَ وَ تَمَسَّكُوْا بِعَهْدِ ابْنِ اُمِّ عَبْدٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

دا الفاظ دي چې: ابن مسعود رضی الله عنه تاسو ته کوم حدیث بیان کړي په هغه کې هغه ریښتني ګڼئ. [ترمذي]

توضیح: اقتدوا: یعنې زما نه وروسته د شیخینو اقتداء وکړئ، معلومه شوه چې حضور صلی الله علیه وسلم په ډیرو اشاراتو او بعضو تصریحاتو کې د حضرت صدیق او حضرت عمر خلافت بیان کړی دی، په دې حدیث کې هم واضحه اشاره ده.

بعهد ابن ام عبد: د عهد څخه وصیت او نصیحت او دیني احکام او مسائل مراد دي، په یو بل حدیث

کې دي : ما حدثكم ابن ام عبد فصدقوه ، په يو روايت کې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :
رضيت لامتي ما رضي به ابن ام عبد.
د زير بحث حديث او دغه قسم نورو رواياتو په وجه حضرت امام اعظم ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ د خپل اجتهادي مسائلو او فقهي بنياد د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په رواياتو او د هغه په ترجيحاتو باندې ايخي دی،
حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شيخينو خلافت بلاچون و چرا قبول کړی وو.

﴿۳۶﴾	وَعَنْ	عَلِيٍّ	قَالَ	رَسُوْلُ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ
او حضرت علي کرم الله وجهه بيان کوي چې په يوه موقعه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائيلي وو که ماد									
لَوْ	كُنْتُ	مُؤَمِّرًا	أَحَدًا مِّنْ	غَيْرِ	مَشْوَرَةٍ	لَأَمَّرْتُ	عَلَيْهِمْ		
مشوري نه بغير څوک امير او حاکم جوړولای نوپر خلقو امير او حاکم به مي د اُمِّ عبد ځوي يعني									
ابْنَ أُمِّ عَبْدٍ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ.									
عبد الله ابن مسعود ,جوړ کړی وو. [ترمذي ابن ماجه]									

توضيح : مؤمرا: د امير جوړولو په معنی سره دی ، يعنې کچيرې د کومې عامې مشورې نه بغير ما څوک په کوم کار باندې مقررولی نو د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کمالاتو او صفاتو په پيش نظر سره ما هغه امير جوړولو ، اوس سوال دا دی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه بعد خلفاء اربعه اميران جوړ شوي دي حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کله هم امير جوړ شوی نه دی نو د زير بحث حديث مطلب څه دی ؟ ددې جواب دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل وفات نه بعد امارت ته اشاره کړې نه ده بلکه په دې کې د امير عام په ځای کوم بل امارت ته اشاره ده لکه څنګه چې په جهادی مهماتو او د غزواتو په تشکيلاتو کې څوک امير ګرځولی کيږي ، مطلب دا دی چې که عامه مشوره نه وای نو زما رأيه به دا وه چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هميشه د جماعت امير جوړ کړی شي.

ديو څو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مخصوص فضائل

﴿۳۷﴾	وَ	عَنْ	خَيْثَمَةَ	بْنِ	أَبِيْ	سَبْرَةَ	قَالَ	أَتَيْتُ	الْمَدِيْنَةَ
او حضرت خيثمه بن ابي سبرة رَحِمَهُ اللهُ بيان کوي چې زه کله مدينې ته راغلم نو ما د الله نه دعا وغوښتله									
فَسَأَلْتُ	اللهَ	أَنْ	يُّيَسِّرَ	لِيْ					
چې ماته يو نيک هم نشين ميسر حاصل شي يعنې ماته يو داسې نيک کس حاصل شي چې د هم نشين									
جَلِيْسًا	صَالِحًا	فَيَسَّرَ لِيْ							
جوړيدو کامل استعداد او صلاحيت لري او ذ هغه د هم نشينۍ نه استفاده کيدی شي نو حق تعالی									

أَبَا هُرَيْرَةَ فَجَلَسْتُ إِلَيْهِ

د حضرت ابو هریره په شان هستي زما د پاره میسر وفرمائیله چې د هغه صحبت او هم نشیني ما اختیار کړه

فَقُلْتُ إِنِّيْ سَأَلْتُ اللهَ أَنْ يُّيَسِّرَ لِيْ

هغه ته عرض وکړو چې ما د الله تعالى نه دعا غوښتې وه چې ماته یو هم نشین حاصل شي او الله تعالى

جَلِيْسًا صَالِحًا فَوُفِّقْتَ لِيْ فَقَالَ

ځما دعا قبلو لو سره ستاسو په شان همنشین ماته عطا کړو حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما نه پوښتنه

مِنْ أَيْنَ أَنْتَ قُلْتُ مِنْ أَهْلِ الْكُوْفَةِ

وکړه ته د کوم ځای او سیدونکی یې ما عرض وکړو زه د کوفې او سیدونکی یم د لته ځکه راغلی یم د

جِئْتُ أَلْتَمِسُ الْخَيْرَ وَأَطْلُبُهُ فَقَالَ

خیر لټونکي او خپل نفس د پاره د خیر طلبګار یم ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل ایا ستاسو په منځ کې

أَلَيْسَ فِيْكُمْ سَعْدُ بْنُ مَالِكٍ مُجَابُ الدَّعْوَةِ

یعني ستاسو په ښار کې سعد بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نشته چې مستجاب الدعوات دی آیا ستاسو په منځ

وَابْنُ مَسْعُوْدٍ صَاحِبُ طَهُوْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَعْلَيْهِ

کې عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نشته چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ځان سره ساتل آیا په تاسو کې

وَحُذَيْفَةُ صَاحِبُ سِرِّ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَمَّارُ الَّذِيْ

حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نشته چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صاحب راز وو آیا په تاسو کې د عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان

أَجَارَهُ اللهُ مِنَ الشَّيْطَانِ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهٖ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

هستي نشته چې الله د خپل رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې په ذریعه د شیطان نه امن او تحفظ ورته

وَسَلْمَانُ صَاحِبُ الْكِتَابَيْنِ يَعْنِي الْإِنْجِيْلَ

عطاء کړي وو او آیا ستاسو په منځ کې سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نشته چې د دوو کتابونو یعني انجیل

وَالْقُرْآنَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

او قرآن منونکی دی . [ترمذي]

﴿۳۸﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُوْ بَكْرٍ

او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل ابو بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ډیر ښه سړی

نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ نِعْمَ الرَّجُلُ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ نِعْمَ الرَّجُلُ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ

دی عمر رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی ابو عبیده بن الجراح رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی اسید بن حضیر رضی الله عنه

نِعْمَ الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ نِعْمَ الرَّجُلُ

هم ډیر ښه سړی دی ثابت بن قیس بن شماس هم ډیر ښه سړی دی معاذ بن جبل رضی الله عنه هم ډیر ښه سړی دی

مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ

عمرو بن الجموح هم ډیر ښه سړی دی دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دی.

هغه دري صحابه چې جنت د هغوی مشتاق دی

﴿۳۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْجَنَّةَ تَشْتَاقُ إِلَى ثَلَاثَةٍ

او حضرت انس رضی الله عنه بیان کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم و فرمائیل حقیقت دا دی چې جنت د دریو

عَلِيٍّ وَ عَمَّارٍ وَ سَلْمَانَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

سړو ډیر مشتاق دی او هغه علي رضی الله عنه عمار رضی الله عنه سلمان فارسي رضی الله عنه دی. [ترمذي]

د حضرت عمار رضی الله عنه فضیلت

﴿۴۰﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ اِسْتَأْذَنَ عَمَّارٌ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت علي کرم الله وجهه بیان کوي چې یو ورځ عمار رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت اقدس کې

فَقَالَ ائْذَنُوا لَهُ مَرْحَبًا بِالطَّيِّبِ

د حاضري اجازه طلب کړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمائیل دا دننه راولئ پاک او پاکې زه شخصته

الْمُطَيَّبِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

پخیر راغلی دی. [ترمذي]

توضیح: الطیب: د ذات په اعتبار سره پاکیزه مراد دی.

المطیب: د صفاتو او عاداتو او اخلاقو په اعتبار سره پاکیزه مراد دی، مطلب دا دی چې حضرت عمار رضی الله عنه ظاهرًا او باطنًا پاکیزه انسان دی.

د حضرت عمار رضی الله عنه فضیلت

﴿۴۱﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَا خُيِّرَ عَمَّارٌ بَيْنَ

او بي بي عائشه رضی الله عنها بیان کوي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم و فرمائیل عمار رضی الله عنه ته چې کله

الْأَمْرَيْنِ إِلَّا اخْتَارَ أَشَدَّهُمَا . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
دوو کارونو کې د يو کار اختيار ورکړل شو نو هغه هميشه به سخت ترين او مشکل کار اختيار کړو. [ترمذي]

توضيح: اشدهما: په يو روايت کې أَيسرهما دی يعنې آسانه کار به يې اختيارولو. په دې دواړو روايتونو کې په ظاهره تعارض معلوميږي نو ددې جواب دا دی چې د اشدهما تعلق د حضرت عمار د ذات سره دی چې هغه به د زيات ثواب د حصول لپاره سخترينه کار د خپل ذات لپاره غوره کولو ليکن د نورو اشخاصو په اعتبار سره به يې آسانه کار غوره کولو تر څو د نورو خلکو لپاره هغه کار باعث د مشقت و نه ګرځي.

د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه جنازې ته فريشتې راغلې وې

﴿۲۲﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ لَمَّا حُمِلَتْ جَنَازَةُ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ
او حضرت انس رضي الله عنه بيان کوي چې هر کله چې د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه جنازه اوچتولو
قَالَ الْمُنَافِقُوْنَ مَا أَخَفَّ جَنَازَتَهُ وَ ذٰلِكَ لِحُكْمِهِ فِيْ بَنِيْ
سره خلق روان شول نو منافقانو وويل چې د ده جنازه څومره سپکه ده دا د هغه فيصلې په وجه چې
قُرَيْظَةَ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّ
هغه د بنو قريظو په باره کې کړې وه د منافقانو دا خبره چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورسيده نو
الْمَلَائِكَةَ كَانَتْ تَحْمِلُهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائيل د هغه جنازه فرشتو پورته کړي وه. [ترمذي]

توضيح: لحكمه في بني قريظة: بنو قريظة په مدينه کې د اوسيدونکو بااثره يهوديانو د يوې قبيلې نوم دی د حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه هغو خلکو سره مخکنی تعلقات وو، د جنګ خندق نه وروسته چې کله د دغو يهودو محاصره وشوه نو هغوی حضرت سعد بن معاذ رضي الله عنه خپل حکم ومنلو چې هغه کومه فيصله وکړي نو هغه مونږ ته قبوله ده، هغه راغی او د تورات مطابق يې فيصله واوروله چې ښځې، بوډاګان او ماشومان دې غلامان وګرځولی شي او جنګيدونکي ځوانان دې قتل کړی شي، چې کله دغه فيصله نافذه شوه نو منافقين ډير ناراضه شول، چې کله د حضرت سعد رضي الله عنه انتقال وشو او جنازه يې پورته کړی شوه نو منافقينو وويل چې د سعد جنازه درنه نه ده سپکه ده ګويا د هغه په ايمان کې فرق راغلی دی ځکه هغه چې د بنو قريظه په باره کې کومه فيصله کړې وه هغه ظالمانه فيصله وه، ددې خبرې د اطلاع په جواب کې حضور ﷺ وفرمايل چې جنازه ددې لپاره سپکه معلوميږي چې ملائکو جنازه پورته کړې ده، وايي چې د هغه د جنازې په لمانځه کې اويا زره ملائکي راغلې وې.

د حضرت ابوذر رضي الله عنه فضيلت

﴿۴۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل د ابوذر رضي الله عنه نه زيات د
يَقُوْلُ مَا أَظَلَّتِ الْخَضْرَآءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَآءُ
رښتني ژبي سړي باندې نه شين آسمان سورى کړى دى او نه غبار الود ځمکې د هغه نه زيات]
أَصْدَقَ مِنْ أَبِيْ ذَرٍّ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
رښتني سړى پورته کړى. [ترمذي]

توضيح: اصدق: زيات رښتيني ته اصدق ويل کيږي.

اظلت: د سورى کولو په معنى سره دى.

الخضراء: شين (نيله) آسمان ته خضراء ويل کيږي.

الغبراء: گردآلود ځمکې ته غبراء ويل کيږي، ابوذر غفارى د دې امت د ټولو نه زيات زاهد او تارک الدنيا انسان وو، هغه د يو وخت نه د بل وخت لپاره خوراک اېښودل جائز نه گڼل، په دې باندې به يې خلک په آمسا باندې وهل، د اسلام نه مخکې د حنفاؤ څخه وو، د حضرت امير معاويه رضي الله عنه سره په شام کې څه وخت پاتې شو، حضرت امير معاويه رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه ته درخواست وکړو چې هغه مدينې ته وغواړي، چې کله حضرت ابوذر غفارى رضي الله عنه مدينې ته راغى نو د حضراتو صحابو او تابعينو سره يې شور کولو، حضرت عثمان رضي الله عنه هغه ته د مدينې نه څو ميله بهر د (زبده) مقام ته د تللو وويل، هغه لاړو او هلته يې انتقال وشو او هلته دفن دى، هغه په زهد کې د حضرت عيسى عليه السلام سره مشابه وو.

﴿۴۴﴾ وَ عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَا أَظَلَّتِ
او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل څه داسي ويونکي باندې نه خو شين
الْخَضْرَاءُ وَلَا أَقَلَّتِ الْغَبْرَآءُ مِنْ ذِيْ لَهْجَةٍ أَصْدَقَ
آسمان سورى وکړه او نه ځمکې هغه پورته کې چې ابوذر نه زيات ريشتني وي او الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم
وَلَا أَوْفَى مِنْ أَبِيْ ذَرٍّ شِبْهِ عِيْسَى بْنِ مَرْيَمَ
د حق د ابوذر رضي الله عنه نه زيات اداکونکى وي هغه ابوذر رضي الله عنه چې د عيسىٰ بن مريم مشابه دى
يَعْنِيْ فِي الزُّهْدِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
يعني په زهد کې. [ترمذي]

توضيح: اقلت: پورته کولو ته اقلال ويل کيږي دا د باب افعال څخه دى په قرآن کې حتى اذا اقلت سحابا

همدې څخه دی .

دعلم څلور اوچتې منارې

﴿۴۵﴾ وَعَنْ مُعَاذِبْنِ جَبَلٍ لَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ قَالَ الْتَمِسُوا الْعِلْمَ
او حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روایت دی د هغه د مرګ وخت چې قریب شو نو وصیت یې وکړو
عِنْدَ أَرْبَعَةٍ عِنْدَ عُوَيْمِرٍ أَبِي الدَّرْدَآءِ وَعِنْدَ سَلْمَانَ
چې علم څلورو سړو نه حاصلوئ عویمر رضي الله عنه نه چې د هغه کنیت ابودرداء رضي الله عنه دی سلمان
وَعِنْدَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ وَعِنْدَ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ اَلَّذِيْ كَانَ يَهُوْدِيًّا
فارسي رضي الله عنه نه او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه او عبدالله بن سلام رضي الله عنه نه چې مخکې یهودي
فَأَسْلَمَ فَإِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ
وو او بیا اسلام یې قبول کړو ما رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې هغه عبدالله بن سلام د
إِنَّهُ عَاشِرُ عَشَرَةٍ فِي الْجَنَّةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
جنت د لس سړو نه لسم سړی دی. [ترمذي]

توضیح : عاشر عشرة: د لسو اشخاصو څخه لسم شخص دی . ددې جملې مطلب دا دی چې عبدالله بن سلام ګویا د لسو اشخاصو څخه چې عشره مبشره دي د هغو څخه د یو پشان دی ، دویم مطلب دا بیان کړی شوی دی چې عبدالله بن سلام په جنت کې د داخلیدونکو کسانو څخه لسم کس دی ، یا دا مطلب دی چې د یهودو څخه چې کوم لوی لوی سرداران جنت ته ځي د هغوی نه به یو عبدالله بن سلام وي .

د حذیفه رضي الله عنه او ابن مسعود رضي الله عنه فضیلت

﴿۴۶﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ قَالَ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ
او حضرت حذیفه بن الیمان رضي الله عنه بیان کوي چې یو ورځ څو صحابو رضي الله عنهم وویل یارسول الله!
لَوِاسْتَخْلَفْتَ قَالَ إِنِ اسْتَخْلَفْتُ
که تاسو پخپله صحابو نه څوک خپل خلیفه مقرر کړی وی نو ښه به وو حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائیل
عَلَيْكُمْ فَعَصَيْتُمُوْهُ عُذِّبْتُمْ وَلٰكِنْ مَا حَدَّثَكُمْ
که زه څوک په تاسو باندې خپل خلیفه مقرر کړم او بیا تاسو د هغه نافرماني وکړئ نو په عذاب کې
حُذَيْفَةُ فَصَدِّقُوْهُ وَمَا أَقْرَأَكُمْ
به ونیول شئ بیا هم زه تاسو ته وصیت کوم چې حذیفه رضي الله عنه تاسو ته څه وایي یا کوم حدیث بیان

عَبْدُ اللّٰهِ فَاقْرَءُوْهُ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
کړي نو هغه رېښتني وګڼئ او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه چې تاسو ته څه ولولي هغه لولئ.

توضیح : **لو استخلفت: ای لو جعلت احدا بعدک خلیفة لکان حسناً** ، یعنې صحابو سوال وکړو چې یارسول الله! کچیرې ته یو څوک د خپل ځان نه وروسته خلیفه مقرر کړې نو دا به ښه وي ، حضور صلی الله علیه وسلم د اسلوب حکیم لاندې جواب ورکړو چې ستاسو دا سوال ښه نه دی او نه تاسو ته په دې کې د پریوتلو ضرورت دی ، دا د الله تعالی په لاس کې ده هغه په مناسب وخت کې چې څوک مقرروي تاسې به هغه منئ او ستاسو به په هغه باندې اتفاق راځي لیکن فرض کړه کچیرې زه د اوس نه څوک خلیفه مقرر کړم او وروسته ستاسو رأیه د دینه مخالفه شوه نو تاسې به په سخت عذاب کې مبتلاء شئ، نو ځکه په دې سوال کې مه پریوځئ او مه د خلافت خبره کوئ بلکه د الله تعالی کتاب او سنت مضبوطې سره ونیسئ، د کتاب او سنت په خپلولو کې د حذیفه رضی الله عنه او عبد الله بن مسعود رضی الله عنه اقتداء وکړئ. د دې دواړو تخصیص د دې لپاره وشو چې حضرت حذیفه صاحب سر رسول الله وو او حضرت ابن مسعود په احکامو د شریعت کې ممتاز حیثیت لرلو ، په دې کې د دواړو د فضیلت ذکر دی.

د حضرت محمد بن مسلمه رضی الله عنه فضیلت

﴿۴۷﴾ وَ عَنْهُ قَالَ مَا أَحَدٌ مِّنَ النَّاسِ تُدْرِكُهُ الْفِتْنَةُ
او حضرت حذیفه رضی الله عنه وایي هر کله چې فتنه خلق راګیر کړي نو ما سره خوف دی چې هیڅ سړی به
إِلَّا أَنَا أَخَافُهَا عَلَيْهِ إِلَّا مُحَمَّدَ بْنَ مَسْلَمَةَ فَإِنِّي سَمِعْتُ
د هغه د اثر نه محفوظ پاته نشي علاوه د محمد بن مسلمه رضی الله عنه نه ځکه چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه
رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا تَضُرُّكَ الْفِتْنَةُ.
محمد بن مسلمه ته دا فرمائیل اوریدلي دي چې فتنه به تا ته ضرر نه رسوي دا روایت ابو داود نقل کړی دی او په
رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَسَكَتَ عَنْهُ وَاَقَرَّهُ عَبْدُ الْعَظِيْمِ الْمُنْذِرِيُّ.
دې باره کې سکوت یې اختیار کړی دی بیا هم محدث عبد العظیم منذري رحمه الله دا حدیث ثابت کړی دی.

د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه فضیلت

﴿۴۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى
او بي بي عائشه رضی الله عنها بیان کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د زبیر په کور کې ځراغ بل او لیدلو نو وي
فِيْ بَيْتِ الزُّبَيْرِ مِصْبَاحًا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ مَا أُرٰى
فرمائیل ای عائشې رضی الله عنها څما خیال کې د بي بي اسماء رضی الله عنها بچی پیدا شوی دی ځکه چې د

أَسْمَاءَ	إِلَّا	قَدْ	نُفِسَتْ	وَلَا	تُسَمُّوْهُ
هغه په نزد ولادت قريب وو او دا وقت خلاف معمول د ځراغ بليدل د دي خبري علامه ده تا سو خلق د					
حَتّٰى	أُسَمِّيَهُ	فَسَمَّاهُ	عَبْدَ	اللّٰهِ	وَحَنَّكَهُ
دي بچي نوم مه ږدئ تر دي پوري چي زه يي نوم کيږدم نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه بچي نوم عبد الله کيخودو					
بِتَمْرَةٍ بِيَدِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.					
او د کجورو په ذريعه يي د هغه تحنيک وکړو.					

حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۴۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عَمِيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ					
او حضرت عبد الرحمن بن ابي عميره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د					
أَنَّهُ	قَالَ	لِمُعَاوِيَةَ	اَللّٰهُمَّ	اجْعَلْهُ	هَادِيًا
حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کي داسي دعا وکړله اي الله دا سيده لار ښوونکی او سيده لار پيدا					
مَهْدِيًّا وَاهْدِبِهِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.					
کونکی جوړ کړي او د ده په ذريعه خلقو ته هدايت وکړي. [ترمذي]					

د حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۵۰﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْلَمَ النَّاسُ						
او حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل خلقو خو اسلام قبول کړو او						
وَآمَنَ	عَمْرُو	بْنُ	الْعَاصِ.	رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ
عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ايمان راوړی دی دا روايت ترمذي نقل کړی دی او ويلي يي دي چي						
هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.						
دا حديث غريب دی او د دي اسناد قوي نه دی.						

توضيح: اسلم الناس و آمن عمرو بن العاص: د دي کلام يو مطلب دا دی چي د نور خلکو سره خو جنګونه وشول نو بيا مسلمانان شول ليکن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو په رضا او رغبت سره پخپله مسلمان شو. د دي کلام دويم مطلب دا دی چي نورو خلکو ته د اسلام او ايمان دعوت ورکړی شو نو هغوی مسلمانان شول ليکن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اسلام د حقانيت او د محمد عربی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نبوت ادراک وکړو او په زړه کي يي د قبوليت او ايمان يوه جذبه پيدا شوه او په منډه مديني ته راغی او ايمان يي قبول کړلو. ويل کيږي چي د حبشي نجاشي هغه ته وويل چي تعجب دی ای عمر!

محمد صلی الله علیه وسلم ستاسو د تره څوی دی او ته د هغه د حقیقت او حقانیت څخه بې خبره یې؟ د مکې کفارو حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه د سفیر په توګه حبشې ته لیږلی وو چې د مکې نه حبشې ته تښتیدلي مسلمانان واپس راوله، هلته چې کله عمرو بن العاص په خپل کار کې ناکامه شو نو د الله تعالی له طرفه د هغه په زړه کې د ایمان نور داخل شو او هغه ایمان راوړو، په دې طریقه هغه علی وجه البصیرة په زړه او جان سره ایمان قبول کړلو او په ډیر عمده طریقې سره یې د حضور صلی الله علیه وسلم سره د اسلام په باره کې خبرې وکړې، شاید همدیته اشاره وي چې نورو خلکو اسلام قبول کړو مګر عمرو بن العاص رضی الله عنه ایمان راوړو.

د حضرت جابر رضی الله عنه د شهید والد فضیلت

﴿۵۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ لَقِيَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ
او حضرت جابر رضی الله عنه بیان کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره څما ملاقات وشو نو هغه راته وفرمائیل
يَا جَابِرُ مَالِيْ أَرَاكَ مُنْكَسِرًا قُلْتُ أُسْتُشْهِدَ
ای جابر! څه وجه ده چې زه تا غمجن وینم؟ ما عرض وکړو یا رسول الله! څما پلار غزوه احد کې شهید
أَبِيْ وَ تَرَكَ عِيَالًا وَ دَيْنًا
شوی دی او هغه یوه لویه کورنۍ او قرضه پریښې ده ګویا څما د پریشانۍ څو اسباب پیدا شوي دي
قَالَ: أَفَلَا أُبَشِّرُكَ بِمَا لَقِيَ اللهُ بِهِ أَبَاكَ
حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل آیا زه تا ته د هغه معاملې خبر درکولو سره تا خوشحاله نه کړم چې الله!
قُلْتُ بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ مَا كَلَّمَ اللهُ
ستا پلار سره کړیده ما عرض وکړو ولې نه یا رسول الله! حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل الله چې کله هم
أَحَدًا قَطُّ إِلَّا مِنْ وَرَآءِ حِجَابٍ وَأَحْيٰى أَبَاكَ
چا سره کلام کړی دی د پردې حجاب د شا نه یې کړی دی خو ستا پلار الله! ژوندی کړو او بیا هغه
فَكَلَّمَهُ كِفَاحًا قَالَ يَا عَبْدِيْ تَمَنَّ عَلَيَّ أُعْطِيْكَ
سره یې روبرو کلام وفرمایلو او ورته یې وفرمائیل ای څما خاص بنده! څما د فضل او کرم په تکیا
قَالَ يَا رَبِّ تُحْيِيْنِيْ فَأُقْتَلَ فِيْكَ ثَانِيَةً
ارزو وکړه زه به یې تا ته درکړم، ستا پلار ګویا شو ای څما ربه! زه خو بس داغواړم چې ما ژوندی کړه
قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى
دنیا ته مې بیا ولیږه چې ستا په لار کې جهاد کولو سره یو وار بیا ووژل شم الله تعالی ورته وفرمائیل

إِنَّهُ	قَدْ	سَبَقَ	مِنِّيْ	أَنَّهُمْ	لَا	يَرْجِعُوْنَ
په دي باره کښي دا حقيقت ياد ساتل پکار دي چي ځما دا حکم د مخکښي نه نافذ دی چي څوک مړه شوي						
فَنَزَلَتْ		وَلَا	تَحْسَبَنَّ		الَّذِيْنَ	
دي دنيا ته به بيرته نه راځي دا آيت نازل شو چي د هغه ترجمه داده او کوم خلق چي د الله ! په لار کښي						
قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ أَمْوَاتًا. اَلْآيَةَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.						
قتل شوي دي هغوئ باندي د مړو خيال مه کوئ الخ. [ترمذي]						

توضيح : منكسرا: يعني غمگينه او خپه وو، ددې څه وجه ده ؟ **كفاحا**: په كاف باندي زير دی مخامخ خبرو کولو ته ويل کيږي يعني ستا ابا جان عبد الله چي په احد کښي شهيد شوی دی الله تعالى هغه ژوندی کړلو او بلا واسطه او بلا قاصد يې د هغه سره خبري وکړي، معلومه شوه چي د احد د شهيدانو سره الله تعالى خبري وکړي مگر د پردې شاته يې وکړي صرف د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ والد عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره يې د پردې د ننه او مخامخ خبري وکړي.

﴿۵۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ اسْتَغْفَرَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسًا وَّعِشْرِيْنَ مَرَّةً. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځما د پاره پنځويشت واره د مغفرت دعا غوښتلي ده. [ترمذي]

د حضرت براء بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۵۳﴾	وَعَنْ	أَنَسٍ	قَالَ	رَسُوْلُ اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	كَمْ مِّنْ	أَشْعَثَ
او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چي رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائيل څومره خلق دي چي په ظاهره خو ببر										
أَغْبَرَ			ذِيْ			طِمْرَيْنِ				لَا يُؤْبَهُ
سري په گرځ لړلي او دوي زړي کپړې اغوستونکی وي او نه څوک د هغوئ پروا کوي او نه هغوئ										
لَهُ	لَوْ		أَقْسَمَ		عَلَى		اللهِ	لَأَبَرَّهُ		مِنْهُمْ
طرف ته توجه کوي ليکن د هغوئ د باطن دا حال وي که هغوئ د الله په بهروسه قسم وکړو نو الله !										
الْبَرَاءُ		بْنُ		مَالِكٍ.			رَوَاهُ			التِّرْمِذِيُّ
د هغوئ قسم رښتيا کوي او داسي خلقو نه يو براء بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دی دا روايت ترمذي او										
وَالْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.										
دلائل النبوت کښي بيهقي نقل کړی دی.										

توضيح : **اشعث**: د تيت او پرک ويښتانو والا ته اشعث ويل کيږي . **اغبر**: غبار آلود بدن ته اغبر ويل کيږي، ددې ماده غبار ده . **ذی طمرين**: په طاء باندې زير دی ، ثوب طمر شکيدلي زړې کپړې ته ويل کيږي

دی. وبه یوبه وبها د فتح باب څخه د لایبالی په معنی سره دی، په یو لغت کې همزه ساکنه ده په آخر کې باء ، میم ساکن دی دلته د دوو زړو کپړو نه قمیص او ازار مراد دی. لایؤبه: په یاء باندې ضمه ده او واو ساکن ده چې مفتوحه ده په دې صورت کې دا د باب افعال څخه کیږي (مصباح اللغات)، یعني داسې شخص وي چې په معاشره کې هیڅوک هغه ته اهمیت نه ورکوي، گمنامه وي په هیڅ شی کې نه شمیرل کیږي مگر د الله تعالی په نزد د هغه دومره لوی مقام وي کچیرې هغه په خپله قسم وخوري نو الله تعالی هغه په دغه قسم کې ریښتینی او بری الذمه گرځوي، د همدې افرادو څخه یو براء بن مالک دی .حضرت براء بن مالک د حضرت انس رضی اللہ عنہ حقیقی ورور دی، د فضلاؤ صحابو څخه دی، د عربو د نامورو دلاورانو او پهلوانانو څخه هغه شمیرل کیږي، په احد او د هغه نه وروسته ټولو غزواتو کې د حضور ﷺ سره شریک پاتې شوی دی، الله تعالی هغه ته دومره شجاعت او طاقت عطاء کړی وو چې په یو جنگ کې هغه تنها سل کفار واصل جهنم گرځولي وو. په جنگ یمامه کې د مهمې قلعه د فتح کولو لپاره هغه خپل ځان مسلح کړلو او د مالوچو په بوجۍ کې ځان وتړلو او د منجنیق په ذریعه صحابو هغه قلعه ته دننه وغورځوه هغه دننه جنگ وکړو او قلعه یې فتحه کړه هغه په ۲۰ھ کې شهید شوی.

اهل بیتو او انصارو فضیلت

﴿۵۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا إِنَّ عَيْبَتِيَ
او حضرت ابو سعید خدري رضی اللہ عنہ وایي چې رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائیل پوهه شئ ځما خاص خلق او
الَّتِي آوِي إِلَيْهَا أَهْلُ بَيْتِي وَإِنَّ كَرِشِيَ
ځما صاحبِ راز او امین چې د هغوئ په منځ کې زه تیکانه حاصلوم ځما اهل بیت دي او ځما ولي او
الْأَنْصَارُ فَاعْفُوا عَنْ مُسِيئِهِمْ وَاقْبَلُوا عَنْ
دوست انصار دي نو تاسو د دي انصارو خطاکارو د خطاگانو نه چشم پوشي کوئ او د هغوئ د
مُحْسِنِهِمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.
نیکوکارو عذر قبلوئ دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن صحیح دی.

توضیح: آوی: د ټکانې نیولو په معنی سره دی. کرشی: په کاف باندې زور او زیر دواړه جائز دي، راء ساکنه هم ده او کسره هم جائز ده، د باقي الفاظو تشریح تیره شوې ده.

﴿۵۵﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ
او حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ نه روایت دی چې رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم وفرمائیل څوک چې په الله او د
لَا يُبْغِضُ الْأَنْصَارَ أَحَدٌ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
قیامت په ورځ باندې ایمان لري هغه انصارو سره بغض او عداوت نه لري دا روایت ترمذي نقل کړی دی

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ.
او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن صحیح دی.
﴿۵۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ عَنْ أَبِيْ طَلْحَةَ قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت انس رضي الله عنه ابو طلحه رضي الله عنه نه روایت کوي د هغه بیان دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته
أَقْرِأْ قَوْمَكَ السَّلَامَ فَإِنَّهُمْ مَا عَلِمْتُ
فرمائیلي وو چې ته خپل قوم ته څما سلام ورسوه ځکه چې ترڅوپورې ما ته علم دی هغوئ پاکباز
أَعِفَّةٌ صُبُرٌ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.
او صابر خلق دي. [ترمذي]

توضیح: اقرأ: د اقراء څخه دی د سلام ویلو او سلام رسولو په معنی سره دی، په عامو نسخو کې اقرأ د مجردو ابوابو څخه راغلی دی.

اعفة: د عفیف جمع ده پاکیزه خلک مراد دي چې د هر قسم سوال او فاحشی نه پاک وي.

صبر: دا د صابر جمع ده د میدان جهاد وغیره مشکلاتو کې ثابت قدم او صبر کونکي خلک مراد دي. د ماعلمت په جمله کې ما موصوله دی او دا جمله معترضه ده په انهم کې ضمیر جمع دی، دا د حرف د ان لپاره اسم دی او اعفة یې خبر دی.

د اهل بدر حدیبیه فضیلت

﴿۵۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ عَبْدًا لِحَاطِبٍ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دی چې یو ورځ د حاطب بن ابي بلتعه غلام د نبي صلی الله علیه وسلم په خدمت
يَشْكُوْ حَاطِبًا إِلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَيَدْخُلَنَّ
کې راغلي او حضور صلی الله علیه وسلم ته یې د حاطب خلاف سخت شکایت وکړو او هغه وویل یارسول الله!
حَاطِبٌ النَّارَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
حاطب په ما ډیره سختي کوي ځکه هغه به ضرور دوزخ ته ځي رسول الله صلی الله علیه وسلم په دي او ریدو سره
كَذَبْتَ لَا يَدْخُلُهَا فَإِنَّهُ شَهِدَ بَدْرًا
ورته وفرمائیل ته دي خپله خبره کې دروغجن یې حاطب به دوزخ ته نه ځي ځکه چې هغه بدر او
وَ الْحُدَيْبِيَةَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.
حدیبیه کې شریک شوی دی.

د سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فضيلت

﴿۵۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَلَا هٰذِهِ الْآيَةَ وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا آيت : وَإِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ

قَوْمًا غَيْرَكُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ مَنْ هٰؤُلَاءِ الَّذِيْنَ

قَوْمًا غَيْرَكُمْ تلاوت کړو نو بعضي صحابو وويل چې: يارسول الله! هغه کوم خلق دي چې د

ذُكِرَ اللهُ إِنْ تَوَلَّيْنَا اسْتُبْدِلُوْا بِنَا ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْا

هغوئ باره کښې الله! فرمائيلي دي که مونږ روګرداني وکړه نو هغوئ به څمونږ په ځاي ودرول شي

أَمْثَالَنَا فَضَرَبَ عَلٰى فَخِذِ سَلْمَانَ الْفَارِسِيِّ ثُمَّ

او هغوئ به څمونږ په شان نه وي په دي اوريدو سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په

قَالَ هٰذَا وَ قَوْمُهٗ وَ لَوْ كَانَ الدِّيْنُ عِنْدَ الثُّرَيَّا

ورون خپل لاس مبارک ووهه او وي فرمائيل که دين د ثريا بلندۍ سره هم وي نو د فارس خلک

لَتَنَاوَلَهٗ رِجَالٌ مِّنَ الْفُرْسِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

به يې د هغه ځاي نه حاصل کړي. [ترمذي]

توضيح : په دې حديث کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ فضيلت ثابتيږي ځکه امام صاحب د اهل فارس څخه ؤ

د اهل عجمو فضيلت

﴿۵۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ ذُكِرَتِ الْأَعَاجِمُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه موقع باندې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې د عجمي خلقو ذکر وشو

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَنَا بِهِمْ أَوْ بِبَعْضِهِمْ

نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل چې د دې عجمي خلقو يا په دوئ کې په بعضي خلقو باندې تاسو اهل

أَوْثَقُ مِنِّيْ بِكُمْ أَوْ بِبَعْضِكُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

عربو نه يا ستا سو د بعضي خلقو نه زيات اعتماد او بهروسه لرم. [ترمذي]

توضيح : او ببعضهم: أو د شک لپاره دی، راوی ته شک دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم لفظ استعمال کړی وو ؟ مطلب دا دی چې زه د ټول اهل عجمو د ايمان په باره کې يا د بعضو په باره کې دومره اميدوار يم او په هغوی باندې ما ته دومره اعتماد او اطمينان شته چې په تاسو عربو باندې دومره نشته. علامه طيبی رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې کلام مخاطبين بعضې عرب وو چې د يوې خاصې

قبيلې سره يې تعلق ساته ، حضور ﷺ د جهاد په يو موقع باندې هغوی ته په جهاد کې د مال خرچ کولو حکم وکړو نو دغو خلکو د مال په خرچ کولو کې سستي وکړه په دې باندې حضور ﷺ دغه کلام وفرمايلو لهذا دا کلام د عامو صحابو کرامو په باره کې نه دی بلکه د يوې خاصې طبقې په باره کې دی ، د عامو صحابو شان بل دی ، هغوی په حضور ﷺ باندې فدا وو د هغوی په مقابله کې د کوم بل چا څه تصور کيدلی شي :

چه نسبت خاک را با عالم پاک

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د حضور ﷺ نجباء او رفقاء

﴿۶۰﴾ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ سَبْعَةَ
حضرت علي کرم الله وجهه بيان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د هر نبي اووه ډير مخصوص او
نُجَبَآءَ وَ رُقَبَآءَ وَ أُعْطِيْتُ
برګزيده ترين خلق او د هغه په هر حالت کې نګهباني او حفاظت کوونکي ورته ورکيدل ليکن ماته دا سې
أَنَا أَرْبَعَةَ عَشَرَ
څوارلس راکړی شوېدي (راوي وايي چې حضرت علي رضي الله عنه مونږ ته د حضور ﷺ دا ارشاد نقل
قُلْنَا مَنْ هُمْ قَالَ
کړونو مونږ ترينه پوښتنه وکړه چې هغه څوارلس کوم کوم دي حضرت علي رضي الله عنه جواب راکړو يو
أَنَا وَابْنَايَ وَ جَعْفَرُ وَ حَمْزَةُ
خو زه يم او څما دواړه ځامن حسن او حسين رضي الله عنهما دي جعفر رضي الله عنه دي حمزه رضي الله عنه دي
وَ أَبُوْ بَكْرٍ وَ عُمَرُ وَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ وَ بِلَالٌ وَسَلْمَانُ
ابوبکر رضي الله عنه دي عمر رضي الله عنه دي مصعب بن عمير رضي الله عنه دي بلال رضي الله عنه دي سلمان فارسي رضي الله عنه
وَ عَمَّارٌ وَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ وَأَبُوْ ذَرٍّ. وَالْمِقْدَادُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
دي عمار دي عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه دي ابوذر رضي الله عنه دي او مقداد رضي الله عنه دي. [ترمذي]

توضيح : نجباء د نجيب جمع ده برګزيده او خاص خاص خلقو ته ويل کيږي . رقباء . د رقيب جمع ده نګران او محافظ ته ويل کيږي

د حضرت عمار بن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شان

﴿۶۱﴾ وَعَنْ خَالِدِ بْنِ الْوَلِيْدِ قَالَ كَانَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ

او حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ځما او عمار بن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منځ كې خبري وشوي ماد هغه خلاف

كَلَامٌ فَأَغْلَظْتُ لَهُ فِي الْقَوْلِ فَانْطَلَقَ عَمَّارٌ يَشْكُوْنِيْ إِلَي رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سخته خبره وكړه نو حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځما خلاف شكايت وړلو سره د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې ورسيدو

فَجَآءَ خَالِدٌ وَهُوَ يَشْكُوْ إِلَي النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَعَلَ يُغْلِظُ لَهُ

او هغه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته شكايت كوه چې خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم راورسيدو د راوي بيان دي چې خالد په غوسه شو او

وَلَا يَزِيْدُهُ إِلَّا غِلْظَةً وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

هغه عمار ته بد رد ويل شروع كړل او د هغه سخت كلامي كې اضافه كيدله ، هغه وخت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سَاكِتٌ لَا يَتَكَلَّمُ فَبَكَى

چپ ناست وو او ريدلې يې يو حرف يې د ژبې نه نه او بنكلو دي عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د غوسې نه د صبر لمن پريښو دله

عَمَّارٌ وَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَلَا تَرَاهُ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او بې اختياره په ژړا شو او وويل چې : يارسول الله! آيا تاسو نه وينئ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل سرمبارك پورته

رَأْسَهُ قَالَ مَنْ عَادَى عَمَّارًا عَادَاهُ اللهُ وَمَنْ أَبْغَضَ

كړو او وي فرمائيل كوم سړي چې عمار سره د دښمنې ساتي الله تعالى به هغه دښمن لري او كوم سړي چې

عَمَّارًا أَبْغَضَهُ اللهُ قَالَ خَالِدٌ

عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د بغض لري الله به د هغه سره بغض لري حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي او زما دي فيصلې كولو

فَخَرَجْتُ فَمَا كَانَ شَيْءٌ أَحَبَّ إِلَيَّ

سره د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مجلس نه بهر راووتم ، هغه وخت هيڅ شي ځما په نظر كې د عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راضي كولو

مِنْ رِضَا عَمَّارٍ فَلَقِيْتُهُ

او خوشحالولو نه زيات بنه نه وو ، بيا داسې وشوه چې ما د عمار د خوشحالولو د پاره هغه سره داسې

بِمَا رَضِيَ فَرَضِيَ .

سلوك او رويه اختيار كړله چې هغه زما نه راضي او خوشحاله شو

د حضرت خالد سیف الله رضي الله عنه شان

﴿۶۲﴾ وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ أَنَّهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ خَالِدٌ

او حضرت ابو عبیده رضي الله عنه نه روایت دي هغه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه واوریدل خالد د الله تعالی د

سَيْفٌ مِّنْ سُيُوْفِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ وَنِعْمَ فَتَي الْعَشِيْرَةِ . رَوَاهُمَا أَحْمَدُ.

تورو نه یوه توره ده هغه د خپلي قبیلي بهترین ځوان دي دا دواړه روایتونه احمد نقل کړي دي.

﴿۶۳﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى

او حضرت بریده رضي الله عنه وایي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم و فرمائیل الله تعالی ماته څلور سړو سره د

أَمَرَنِيْ بِحُبِّ أَرْبَعَةٍ وَّأَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ

محبت کولو حکم کړی دي او دایي راته خودلي دي چې الله سبحانه وتعالی هم دي څلورو سړو سره محبت کوي ،

قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللهِ سَمِّهِمْ لَنَا قَالَ

صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړو : یارسول الله! مونږ ته د هغه څلورو نومونه وښایې حضور صلی الله علیه وسلم و فرمائیل

عَلِيٌّ مِّنْهُمْ يَقُوْلُ ذٰلِكَ ثَلَاثًا وَّأَبُوْ ذَرٍّ

په هغوئ کې یو حضرت علي رضي الله عنه دي ، دا الفاظ حضور صلی الله علیه وسلم درې واره و فرمائیل یو ابوذر رضي الله عنه

وَّ الْمِقْدَادُ وَ سَلْمَانُ أَمَرَنِيْ بِحُبِّهِمْ

دي یو حضرت مقداد رضي الله عنه دي او یو سلمان رضي الله عنه دي الله ! ماته حکم کړی دي چې زه دي څلورو سړو

وَأَخْبَرَنِيْ أَنَّهُ يُحِبُّهُمْ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

سره محبت ساتم او دایي راته خودلي دي چې هغه هم دي څلورو سره محبت ساتي، دا روایت ترمذي نقل کړی

وَقَالَ هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ غَرِيْبٌ.

کړی دي او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن غریب دي .

﴿۶۴﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ يَقُوْلُ أَبُوْبَكْرٍ سَيِّدُنَا وَأَعْتَقَ

او حضرت جابر رضي الله عنه بیان کوي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه به فرمائیل ابوبکر رضي الله عنه ځمونږ

سَيِّدَنَا يعني بِلَالًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

سردار دي او هغه ځمونږ سردار آزاد کړی دي یعني بلال رضي الله عنه .

د حضرت بلال رضي الله عنه فضیلت

﴿۶۵﴾	وَعَنْ	قَيْسِ	بْنِ	أَبِي	حَازِمٍ	أَنَّ	بِلَالًا	قَالَ	لِأَبِي	بَكْرٍ
او حضرت قیس بن ابي حازم نه روایت دي چې حضرت بلال رضي الله عنه حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه										
إِنْ	كُنْتَ	إِنَّمَا	اشْتَرَيْتَنِي	لِنَفْسِكَ	فَأَمْسِكْنِي	وَ	إِنْ	كُنْتَ		
ته ویلي وو که تاسو د خپل ځان د پاره زه آخستی یم نو ما د ځان سره لیکن که تاسو محض د الله!										
إِنَّمَا	اشْتَرَيْتَنِي	لِلّٰهِ	فَدَعْنِي	وَ	عَمَلَ	اللهِ	.	رَوَاهُ	الْبُخَارِيُّ	
د رضا او خوشحالۍ د پاره زه خرید کړی یم نو بیا ما د الله د کار د پاره آزاد پریږده. [بخاري]										

توضیح : نفسك: د دې حدیث پوهه کې راتلو د پاره یو پس منظر او مختصره قصه باندې پوهه کې دل ضروري دي حضرت بلال رضي الله عنه په مکه کې یو غلام وو کله چې هغه مسلمان شو نو د هغه بادارانو هغه ته ډیرې سزاګانې ورکړې. امیه بن خلف به هغه تو له شپه وهلو او د ورځې به یې هغه په ګرمو شګو څملولو او په سینه به یې ورته یو لوئ کاڼی ایښودو او چار چاپیره به یې ورته اور بلولو سره ترینه د ا مطالبه کوله چې اسلام پریږده حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د څو غلامانو په بدل کې حضرت بلال رضي الله عنه د خپلو بادارانو نه واخستلو او آزاد ئې کړلو حضرت بلال د حضور علیه السلام په خدمت کې ولګیدو او په مسجد نبوي کې په آذان باندې مامور شولو کله چې حضور صلی الله علیه وسلم رحلت وکړلو نو حضرت بلال رضي الله عنه وویل چې د محبوب په ښار کې د محبوب نه بغیر او سیدل سخت دي له دې وجې د مدینې منورې د دراو دیوار نه لري چرته زندګې تیرول پکار دي په دې غرض سره هغه د شام تلو اراده وکړه چې هلته به جهاد روان وو جهاد به هم کوم او زنده ګي به هم تیره ومه بلخوا هغه صدیق اکبر د شام تلو نه منع کولو ځکه د اذان د پاره د هغه په شان بل څوک موزون نه وو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مؤذن هم وو په دې موقع حضرت بلال حضرت رضي الله عنه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وویل چې که تا زه د خپل ځان لپاره اخستي یم نو ما د لته په مدینه کې وساته او که د الله د رضا لپاره دې اخستي یم نو ما د الله د کارونو د سرته رسول لپاره ازاد پریږده چې چرته ځم هلته لاړ شم د الله تعالی په زمکه جهاد وکړم حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اجازت ورکړو او د لشکر اسلام سره د یو ځای کې دو سره د شام طرف ته لاړو او په سنه ۱۸ هجري یا سنه ۲۰ هجري کې انتقال شولو

د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه او د هغه د ښځې عجیبه قرباني

﴿۶۶﴾	وَعَنْ	أَبِي	هُرَيْرَةَ	قَالَ	جَاءَ	رَجُلٌ	إِلَى	رَسُوْلِ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	فَقَالَ
او حضرت ابو هریره رضي الله عنه وایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې یو سړي راغی او هغه وویل زه												
إِنِّي	مَجْهُوْدٌ	فَأَرْسَلَ	إِلَى	بَعْضِ	نِسَائِهِ							
ډیر پریشانه حال او تکلیف او مشقت کې ګرفتار یم حضور صلی الله علیه وسلم یو سړي خپلې یوې بي بي ته ولیږلو												

فَقَالَتْ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا عِنْدِيْ إِلَّا

هغوئ جواب ورکړو چې قسم دي په هغه ذات چې تاسو يي په حق سره پیغمبر رالیږلي يي ما سره د

مَاءٌ ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى أُخْرٰي فَقَالَتْ مِثْلَ

اوبو نه ماسوا د خوراک څکاک نور هیڅ نشته بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوهمي بي بي که سړي ولیږه هغه هم

ذٰلِكَ وَقُلْنَ كُلُّهُنَّ مِثْلَ ذٰلِكَ

هغه جواب ورکړو کوم چې مخکې بي بي ورکړي وو او دغه شان حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو تمامو بیبیانو ته

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سړي ولیږه او ټولو نه دغه شان جواب راغی بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضرین مجلس مخاطب کولو سره

مَنْ يُّضِيْفُهُ يَرْحَمُهُ اللهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِّنَ

وفرمائیل څوک چې دا سړي میلمه کړي په هغه به الله خپل خاص رحمت نازل کړي انصارو کې یو سړي بې

الْأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ أَبُوْ طَلْحَةَ فَقَالَ أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ

ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دریدلو او وویل یا رسول الله! دا سړي زه خپل میلمه کوم ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه

فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى رَحْلِهِ فَقَالَ لِامْرَأَتِهِ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ

سړي ځان سره کور ته بوتلو کور ته رسید و سره هغه خپلې ښځې نه پوښتنه وکړه ستا سره څه طعام شته

قَالَتْ لَا إِلَّا قُوْتُ صِبْيَانِيْ

د هغه ښځې وویل بس دومره دي چې د بچو ضرورت به یو حده پوري پوره کړي ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغې

قَالَ فَعَلِّلِيْهِمْ بِشَيْءٍ وَنَوِّمِيْهِمْ فَإِذَا دَخَلَ ضَيْفُنَا

ته وویل بچې په څه طریقه اوده وساته او هرکله چې ځمونږ میلمه طعام د پاره کور ته راشي او

فَأَرِيْهِ أَنَّا نَأْكُلُ فَإِذَا أَهْوٰي بِيَدِهِ

دسترخوان باندي کې ني نو ته داسې ښکاره کړه چې ګویا مونږ هغه سره هغه طعام خورو او څرنګه چې

لِيَأْكُلَ فَقُوْمِيْ إِلَى السِّرَاجِ كَيْ تُصْلِحِيْهِ فَأَطْفِئِيْهِ

ځمونږ میلمه مړي او چتولو د پاره خپل لاس مخکې کړي نو ته دي ظاهرولو سره لکه چې د څراغ پلته

فَفَعَلَتْ فَقَعَدُوْا وَأَكَلَ الضَّيْفُ

تیک کولو د پاره او د هغه د ړنا زیاتو لو اراده ده څراغ طرف ته ورشه او پوکی ورکولو سره څراغ مړ کړه

وَ بَاتَا طَاوِيَيْنِ فَلَمَّا أَصْبَحَ

هغه ښځي دغه شان وکړل او داسي وشوه چي دسترخوان باندي کيناستل نو هغه دريواړه ليکن طعام

غَدَا إِلَي رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

صرف ميلمه وخوړلو هغه دواړو ښځي او خاوند په لوږه شپه تيره کړه بيا چي سهار شو او ابوطلحه رضي الله عنه

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ

د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو نو حضور صلی الله عليه وسلم وفرمائيل د فلاني سړي او

عَجِبَ اللهُ أَوْ ضَحِكَ اللهُ مِنْ فُلَانٍ وَفُلَانَةٍ

د فلاني ښځي دا کار الله تعالی ډير خوښ کړو يا دا يي وفرمائيل چي د هغه دواړو دي کار باندي الله! ته خندا

وَفِيْ رِوَايَةٍ مِثْلَهُ وَلَمْ يُسَمِّ أَبَا طَلْحَةَ وَفِيْ آخِرِهَا

ورغله د ابوهريره رضي الله عنه په يو دوهم روايت کي د هغه روايت په اخر کي دا هم دي ويؤثرون على

فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَي وَيُؤْثِرُوْنَ عَلَي أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ

انفسهم ولو کان بهم خصاصة او هغه خلق خپل ځان باندي نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم هغوئ خپله

بِهِمْ خَصَاصَةٌ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

حاجتمند او اوږي وي الخ.

توضيح: **اني مجهود**: يعني زه بي وسه او مجبور، مصيبت زده فقير يم (**فعلليهم**) يعني خپل وړي بچي اوده کړه او روټي ميلمه له ورکړه او بيا د اصلاح په خاطر چراغ مړ کړه او روټي په ميلمه او خوره چنانچي داسي وشول (**طاويين**) يعني ميړه او ښځه وږي اوده شول ميلمه ته په تياره کي څه پته هم او نه لګيده چي دوي يو لقمه روټي او خوړه او کنه.

عجب الله او ضحك: دا دواړه الفاظ د متشابهاتو نه دي له دينه د الله تعالی خوشحالي مراد ده له دينه معلوميږي چي دا زمانه د حجاب د حکم راتلو نه مخکي زمانه وه چي دا قصه مخي ته راغله.

﴿٦٧﴾ وَ عَنْهُ قَالَ نَزَلْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَنْزِلًا

او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چي مونږ خلکو د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره يو مقام باندي پړاو وکړو نو هغه

فَجَعَلَ النَّاسُ يَمُرُّوْنَ

وقت چي رسول الله صلی الله عليه وسلم خپله خيمه کي دننه آرام فرمائيلي وو خلق به د هغه د خيمي نه بهر اخوا ديخوا

يَقُوْلُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مَنْ هٰذَا يَا أَبَا هُرَيْرَةَ

ل راتلل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پوښتنه به يې کوله اې ابو هريره! تيريدونکې سړې څوک دې نو ما به

أَقُوْلُ فُلَانٌ فَيَقُوْلُ نِعْمَ عَبْدُ اللهِ هٰذَا

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ښودلو چې فلانې سړې دې بيا به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل دې د الله نيک بنده دې او

وَيَقُوْلُ مَنْ هٰذَا فَأَقُوْلُ فُلَانٌ فَيَقُوْلُ بِئْسَ عَبْدُ اللهِ هٰذَا حَتّٰى

ديو چا باره يې به وويل چې دا بد سړې دې دا سلسله دغه شان جاري وه تر دې پورې چې کوم وقت

مَرَّ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ فَقَالَ مَنْ هٰذَا فَقُلْتُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ

خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تير شو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه وکړه چې دا څوک دې؟ ما وويل چې خالد دې

فَقَالَ نِعْمَ عَبْدُ اللهِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ سَيْفٌ مِّنْ سُيُوْفِ اللهِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ .

رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله نيک بنده دې د الله د تورو نه يوه توره ده. [ترمذي]

﴿۶۸﴾ وَعَنْ زَيْدِبْنِ أَرْقَمَ قَالَ قَالَتِ الْأَنْصَارُ يَا نَبِيَّ اللهِ لِكُلِّ نَبِيٍّ

او زيد بن ارقم، وايي په يوه موقع باندې انصارو عرض وکړو يارسول الله! څرنګه چې د هر نبي

أَتْبَاعٌ وَإِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاكَ فَادْعُ اللهَ أَنْ يَّجْعَلَ

څه تابعدار وي پس دغه شان مونږ خلق ستاسو ريښتني او پاخه تابعدار يو تاسو دعا وکړئ چې

أَتْبَاعَنَا مِنَّا فَدَعَا بِهٖ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

الله! څمونږ تابعدار هم څمونږ نه کړي نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوئ د پاره دعا وکړله. [بخاري]

دټولو نه زيات شهيدان د انصارووو

﴿۶۹﴾ وَعَنْ قَتَادَةَ قَالَ مَا نَعْلَمُ حَيًّا مِّنْ أَحْيَاءِ الْعَرَبِ

او حضرت قتاده نه روايت دې هغه وفرمائيل د عربو قبائلو نه د يوې قبيلې يا قام باره يې مونږ ته دا

أَكْثَرَ شَهِيْدًا أَعَزَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ

علم نشته چې د هغوئ د شهيدانو تعداد د انصارو د شهيدانو نه زيات وي او د قيامت په ورځ به انصار

وَقَالَ أَنَسٌ قُتِلَ مِنْهُمْ يَوْمَ أُحُدٍ سَبْعُوْنَ وَيَوْمَ بِئْرِ

دټولو نه زيات باعزته منلې شي د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان دې چې د احد په جنګ کې اويا انصار

مَعُوْنَةَ سَبْعُوْنَ وَيَوْمَ الْيَمَامَةِ عَلٰى عَهْدِ أَبِي بَكْرٍ

شهيدان شول بير معونه کې اويا انصار شهيدان شول او د يمامه جنګ کې چې د عهد ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

سَبْعُوْنَ . رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ	
په خلافت کې د مسیلمه کذاب خلاف وشو او یا انصار شیهدان شول.	

د بدر والاو عطایا

﴿۷۰﴾ وَعَنْ قَيْسِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ كَانَ عَطَآءُ الْبَدْرِيِّيْنَ	
او حضرت قیس بن ابي حازم وایي کوم خلق چې د بدر په جنګ کې شریک وه هغوئ کې د هر سړي	
خَمْسَةَ آلَافٍ وَقَالَ عُمَرُ لَأُفَضِّلَنَّهُمْ عَلٰى	
وظیفه پنځه پنځه زره درهم وه چې بیت المال نه به ورته اداء کیده او حضرت عمر رضی الله عنه فرمائیلي	
مَنْ بَعْدَهُمْ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ	
وو زه د بدر جنګ کې شریکیدونکو ته مرتبه کې په نورو خلقو باندې ترجیح ورکوم. [بخاري]	

توضیح : عطاء البدریین : صدیق اکبر رضی الله عنه هغه صحابه کرامو ته چې په بدر کې شریک شوي وو د بیت المال نه پنځه زره درهم سالانه مقرر کړې وو دا وظیفه د نورو نه زیاته وه چې د اهل بدر فضیلت ثابت شي همدا رنګه حضرت عمر رضی الله عنه هم دا وظیفه برقرار پریخودې وه بلکه په قولي طریقي سره به اعلان کولو او عزم ئي کولو چې دا وظیفه به برقرار ساتم.

تسمية من سُمّي مِنْ اَهْلِ بَدْرٍ فِي الْجَامِعِ الْبُخَارِي

د اهل بدر د څو صحابه کرامو نومونه چې په بخاري شریف کې ذکر دي

قال الله تعالى: {وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ}.

په سنه ـ ۲ ـ هـ کې د بدر واقعه مخې ته راغله ، د قریشو یوه قافله د شام مکې مکرمي طرف ته واپس راتله . پیغمبر صلی الله علیه وسلم ۳۱۳ صحابه کرام له ځان سره ملګري کړل او ددې قافلي د نیولو لپاره د بدر طرف ته روان شول د تلوار په وجه د صحابه کرامو جنګي سامان د نیشت برابر وو باقاعده د جنګ صورت نه وو له دې وجه نه د جنګي سامان اهتمام نه وو شوي فقط د قافلي نیول وو لیکن قافلي چالاکې کولو سره خپل ځان بچ کړو او کفار قریشو ته ئي یو خوفناک پیغام واستولو چې قافله لوټ شوله که خلاصون غواړئ نو زر تر زره ځانونه ورسوئ مسلمانانو زمونږ لاره نیولي ده .ابو جهل اعلان وکړو او زر ۱۰۰۰ کسه لښکر ئي تیار کړو سره د ساز او سامان نه او د بدر په طرف روان شولو د دواړو فوجونه مخامخ شول او قافله په بله لاره لاړه او خلاصون ئي اومندو اوس ددې مسلح لښکر سره د یو څو بې سره او سامانه صحابه کرامو مقابله راغله کله چې مقابله شوه نو الله تعالی مسلمانانو نصرت فرمایلو سره هغوی ته غلبه ورکړه او یا کفار مردار شول او اویا نور اسیران شول څو صحابه کرام هم شهیدان شول کومو صحابه کرامو چې په جنګ بدر کې برخه اخستې وه هغوی ته اهل بدر ویلي شي د دوي ډیر لوي شان دي

ددې وجې محدثین د ډیر اهتمام سره له دوي نه د څو نومونه یا د ټولو نومونه په خپلو کتابونو کې درج کوي صاحب د مشکوة هم داسې کړی دي

د اهل بدر تعداد: په جنګ بدر کې د شریکو صحابه کرامو په تعداد کې څه اختلاف شته بعض علماؤ د دوي تعداد ۳۱۵ خودلي دی په بعضو روایاتو کې ۳۱۷ تعداد ویلي شوي دی بعضو علماؤ ۳۶۵ تعداد خودلي دی بعضو روایاتو کې ۳۱۴ تعداد خودلي شوي دی مګر په استیعاب کې لیکل شوي چې راجح قول دادی چې د اصحاب بدر تعداد ۳۱۳ دي امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په صحیح بخاري کې د اصحاب بدر د جملې نه صرف د ۴۵ صحابه کرامو نومونه ذکر کړی دي. حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اصحاب بدر کې شامل فرمایلي دي د حضور عَلَيْهِ السَّلَامُ د لور د مراقبت لپاره په مدینه منوره کې پاتې شوي وو.

د اصحاب بدر د نومونو خواص

الله تعالی د اصحاب بدر په نومونو کې عجیبه خاصیت او عجیبه برکت فرمایلی دی ویل کیږي چې ددې نومونو د ذکر نه پس الله تعالی دُعا قبولوي. بعضې علماء لیکي چې څومره اولیاء کرامو ته الله تعالی د اسماء بدر په برکت سره د ولایت مرتبه ورکړی ده داهم یو حقیقت دي چې د اهل بدر د نومونو په برکت سره چې کومو مریضانو دُعا غوښتي ده الله تعالی هغه دعا قبوله کړی ده او هغوی ته ئي صحت ورکړی دی له دینه علاوه نور برکات هم شته صاحب د مظاهر حق د دُعا په انداز کې د اصحاب بدر ۳۱۴ نومونه ذکر کړی دي او بیائې په آخر کې یو علاهیده دُعا هم ذکر فرمایلې ده د اصحاب بدر په نومونو مشتملې وړې وړې رسالې هم شائع شوې دې.

اسمآءُ بعض بدریین

النَّبِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْهَاشِمِي صلى الله عليه وسلم، عَبْدُ اللهِ بْنُ عُثْمَانَ أَبُو بَكْرِ الصِّدِّيقُ الْقُرَشِيُّ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ الْعَدَوِي، عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ الْقُرَشِي خَلَّفَهُ النَّبِي صلى الله عليه وسلم عَلَى ابْنَتِهِ وَضَرَبَ لَهُ بِسَهْمِهِ. عَلِي بْنُ أَبِي طَالِبِ الْهَاشِمِي. إِيَاسُ بْنُ الْبُكَيْرِ. بِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ مَوْلَى أَبِي بَكْرِ الْقُرَشِي. حَمْزَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ الْهَاشِمِي. حَاطِبُ بْنُ أَبِي بَلْتَعَةَ حَلِيفٌ لِقُرَيْشٍ. أَبُو حُذَيْفَةَ بْنُ عُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ الْقُرَشِي. حَارِثَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْأَنْصَارِي قُتِلَ يَوْمَ بَدْرٍ وَهُوَ حَارِثَةُ بْنُ سُرَاقَةَ كَانَ فِي النَّظَّارَةِ. خُبَيْبُ بْنُ عَدِي الْأَنْصَارِي. خُنَيْسُ بْنُ حُذَافَةَ السَّهْمِي. رِفَاعَةُ بْنُ رَافِعِ الْأَنْصَارِي. رِفَاعَةُ بْنُ عَبْدِ الْمُنْذِرِ أَبُو لُبَابَةَ الْأَنْصَارِي. الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ الْقُرَشِي. زَيْدُ بْنُ سَهْلٍ أَبُو طَلْحَةَ الْأَنْصَارِي أَبُو زَيْدِ الْأَنْصَارِي سَعْدُ بْنُ مَالِكِ الزُّهْرِي. سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ الْقُرَشِي. سَعِيدُ بْنُ زَيْدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلِ الْقُرَشِي. سَهْلُ بْنُ

حُنَيْفٍ الأَنْصَارِي ، ظُهَيْرُ بْنُ رَافِعٍ الأَنْصَارِي وَأَخُوهُ ، عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْهُذَلِي ، عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ الزُّهْرِي ، عُبَيْدَةُ بْنُ الْحَارِثِ الْقُرَشِي ، عُبَادَةُ بْنُ الصَّامِتِ الأَنْصَارِي ، عَمْرُو بْنُ عَوْفٍ حَلِيفُ بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَي ، عُقْبَةُ بْنُ عَمْرٍو الأَنْصَارِي ، عَامِرُ بْنُ رَبِيعَةَ الْعَنَزِي عَاصِمُ بْنُ ثَابِتٍ الأَنْصَارِي ، عُوَيْمُ بْنُ سَاعِدَةَ الأَنْصَارِي ، عِتْبَانُ بْنُ مَالِكٍ الأَنْصَارِي ، قُدَامَةُ بْنُ مَظْعُونٍ ، قَتَادَةُ بْنُ النُّعْمَانِ الأَنْصَارِي ، مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ، مُعَوِّذُ ابْنُ عَفْرَاءَ وَأَخُوهُ ، مَالِكُ بْنُ رَبِيعَةَ أَبُو أُسَيْدٍ الأَنْصَارِي ، مِسْطَحُ بْنُ أُثَاثَةَ بْنِ عَبَّادِ بْنِ الْمُطَّلِبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافٍ ، مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِي ، مَعْنُ بْنُ عَدِي الأَنْصَارِي ، مِقْدَادُ بْنُ عَمْرٍو الْكِنْدِي حَلِيفُ بَنِي زُهْرَةَ ، هِلَالُ بْنُ أُمَيَّةَ الأَنْصَارِي

رضي الله عنهم.

دغو مخصوصو بدريينو نومونه

نبي محمد بن عبد الله الهاشمي ﷺ عبد الله بن عثمان أبو بكر الصديق القرشي عمر بن الخطاب العدوي عثمان بن عفان القرشي کوم چې نبي کريم ﷺ د خپلي لور د خدمت لپاره شاته پريښي وو او دهغه لپاره ئي علاهيده حصه ساتلي وه علي بن أبي طالب الهاشمي بلال بن رباح يعني د أبي بكر غلام. حمزة بن عبد المطلب الهاشمي إياس بن البکېر حاطب بن أبي بلتعة کوم چې د قريشو حليف وو ابو حذيفه ابن عقبه ابن ربيعه قريشي حارثة بن الربيع الأنصاري کوم چې د بدر په ورځ شهيد شوي دي او هغه حارثة بن سراقة دي چې په نګرانی مقرر وو خبيب بن عدي الأنصاري، خنيس بن حذافة السهمي، رفاعة بن رافع الأنصاري، رفاعة بن عبد المنذر أبو لبابة الأنصاري، الزبير بن العوام القريشي، زيد بن سهل أبو طلحة الأنصاري، أبو زيد الأنصاري، سعد بن مالک الزهري، سعد بن خولة القرشي. سعيد بن زيد بن عمرو بن نفيل القرشي ،سهل بن حنيف الأنصاري، ظهير بن رافع الأنصاري، او دهغه ورور عبد الله بن مسعود الهذلي ، عبد الرحمن بن عوف الزهري، عبيدة بن الحارث القرشي، عبادة بن الصامت الأنصاري ، عمرو بن عوف کوم چې د بني عامر بن لؤي حليف وو . عقبة بن عمرو الأنصاري، عامر بن ربيعة العنزي ،عاصم بن ثابت الأنصاري، عويم بن ساعدة الأنصاري، عتبان بن مالک الأنصاري، قدامة بن مظعون قتادة بن النعمان الأنصاري ، معاذ بن عمرو بن الجموح ،معوذ بن عفراء او دهغه ورور مالک بن ربيعة أبو أسيد الأنصاري، مسطح بن أثاثة بن عباد المطلب بن عبد مناف ، مرارة بن الربيع الأنصاري، معن بن عدي الأنصاري ، مقداد بن عمرو الكندي کوم چې د بني زهرة حليف وو هلال بن أمية الأنصاري رضي الله عنهم.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

۵ رجب ۱٤۱۸هـ

باب ذكر اليمن والشام وذكر اويس القرني

ديمن او شام او د اويس قرني بيان

اليمن: يمن هغه ښاورنو او كليو ته ويل كيږي چې دمكې كرمې په ښې خوا كې دي نن سبا يمن د يو مستقل ملك په حيث پيژندلي شي چې د عربو د جزيرې په جنوب خوا كې واقع دى اګرچې يمن په هغه حدودو باندې مشتمل ندي كوم چې په عهد قديم كې يمن محيط وو لكن د عهد قديم څه حصې اوس هم د موجوده يمن په حدودو كې شاملې دي ديمن طرف ته چې كله د كوم څيز نسبت كيږي نو ويل كيږي . يمني . يمان . يماني .

الشام: شام په هغو ښارونو او كليو باندې مشتمل دي چې دبيت الله چپ طرف ته واقع دى چې نن سبا ورته سوريه يا سوريا ويل كيږي د دنيا د كفارو كوشش دي چې د اسلام د تاريخي ځايونو او مقاماتو نام او نشان د مسلمانانو له ذهنونه اوباسي لكه چې د شام . د جبل الطارق نوم يې . جبرالټر . او د قسطنطينيه نوم ئې استنبول كې ښودو .

قرن: قرن يمن كې د يو يا كلي نوم دي د **نون** او **راء** په زبر سره دا قريه د حضرت اويس قرني د نيكونو نه يو شخص د **قرن بن رومان** آباده كړې ده اويس قرني دي كلي طرف ته منسوب دي يو ځاى په نوم د **قرن المنازل** په نوم طائف كې هم دي چې د اهل نجد دپاره ميقات دي د قاف په زبر او د راء په سكون سره د اويس قرني ددې ځاى سره هيڅ تعلق نشته . كه چا ليكلي وي نو دا غلط فهمي ده .

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

د حضرت اويس قرني رَحِمَهُ اللهُ فضيلت او شخصيت

﴿۱﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ رَجُلًا يَّأْتِيْكُمْ مِّنَ الْيَمَنِ

عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل يو سړي به يمن نه تاسو ته راشي

يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ لَا يَدَعُ

دهغه نوم به اويس وي هغه به يمن كې د مور نه ماسوا بل هيڅوك پرې نږدي د هغه په بدن كې به سفيدي

بِالْيَمَنِ غَيْرَ أُمٍّ لَهُ قَدْ كَانَ بِهِ بَيَاضٌ فَدَعَى

يعنې د برص بيماري وي هغه الله ! نه دعا وغوښته نو الله ! د هغه د بدن نه سفيدي ختم كړه هو

اللهَ فَأَذْهَبَهُ إِلَّا مَوْضِعَ الدِّيْنَارِ أَوِ الدِّرْهَمِ فَمَنْ لَقِيَهُ

صرف د يو درهم يا د يو دينار په قدر سفيدي باقي پاتې وه په تاسو كې چې كوم سړي هغه اويس رَحِمَهُ اللهُ

مِنْكُمْ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ وَفِيْ رِوَايَةٍ قَالَ سَمِعْتُ
سره يو ځای شي نو هغه ته پکار دي چې هغه نه د ځان د پاره د مغفرت دعا وغواړي او په يوه روايت کې
رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ خَيْرَ التَّابِعِيْنَ
داسې دي حضرت عمر رضي الله عنه بيان وکړو چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوريدل په تابعينو کې ښه سړي
رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ أُوَيْسٌ وَلَهُ وَالِدَةٌ وَكَانَ بِهِ بَيَاضٌ
هغه دي چې د هغه نوم اويس رحمه الله دي د هغه يوه مورده او د هغه بدن باندي د برص يوه نښه ده نو تاسو
فَمُرُوْهُ فَلْيَسْتَغْفِرْ لَكُمْ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .
د هغه نه ځان د پاره دعائې مغفرت وغواړئ.

توضيح: غير امر له: يعني په يمن کې د هغه د اهل او عيال نه هيڅ رشته دار نشته فقط يوه موريې ده د هغې خدمت کوي له دي وجې زما زيارت له رانغی .بياض. يعني د هغه په جسم برص يعني برګي مرض وو ټول بدن يې سپين وو هغه د الله تعالى نه دُعا غوښتله نو د يو دينار يا درهم په اندازه ځای پاتې شو ترڅو د الله تعالى شکر ګزاري مدنظر وي يا د دې لپاره چې د هغه د تعارف لپاره نښاني پاتي شي چنانچې د آنحضرت صلى الله عليه وسلم په نښان دهی سره حضرت عمر رضي الله عنه هغه د هغه سپين نښان په ليدو سره وپيژندو .

خير التابعين: آنحضرت صلى الله عليه وسلم په تابيعنو کې هغه ترټولو بهتر بللي دی ځکه دا داسې تابعي دي چې د آنحضرت صلى الله عليه وسلم په زمانه کې مسلمان شوي دي دعذر په وجه حاضر شوي نه وو همداشان علماء کرام ليکي آنحضرت صلى الله عليه وسلم خپله جيبه هغه لره د هديې په طور باندې ليږلي وه . علامه جامي رحمه الله په خپل نعتيه کلام کې فرمائي

تو جامه رسانيدي اويس قرني را   قرني را قرني را قرني را .

بعض واعظين علماء په خپلو وعظونو کې فرمائي چې په احد کې د آنحضرت صلى الله عليه وسلم غاښونه شهيدان شول نو حضرت قرني رحمه الله کاڼي سره خپل د مخي غاښونه مات کړل ترڅو د آنحضرت صلى الله عليه وسلم سره د محبت اظهار وشي .

دا هم کې داشي چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم حضرت اويس قرني د زيات عبادت او فضيلت د وجې نه بهترين د تابعينو ګرځولي وي او سعيد بن المسيب کوم چې بهترين تابعي دي هغه د کثرت علم په وجه بهترين تابعي وي .

فمروه. يعني هغه ووېل چې هغه دې ستاسو د پاره استغفار وکړی او د الله تعالى نه دُعا وغواړي . جلال الدين سيوطي رحمه الله په جمع الجوامع کې د اويس بن عامر قرني متعلق ډير څه ليکلي دي بعضې ښې

ښې خبرې دلته ليکو ددې حديث پيش نظر حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مسلسل په دې تلاش کې وو چې د ويس قرني سره ملاقات وکړي يو ځل د حضرت عمر رضي الله عنه او اويس قرني رحمه الله ملاقات اوشو او سوال او جواب وشو .

حضرت عمر: آيا ته اويس بن عامر يې ؟ هغه وويل هو . حضرت عمر رضي الله عنه او فرمايل آيا ته د مراد قبيلې سره تعلق لرې او قرني يې ؟ هغه وويل هو . حضرت عمر رضي الله عنه او فرمايل آيا تا ته د برص مرض رسيدلې وو ؟ هغه اوويل هو ددې نه بعد حضرت عمر رضي الله عنه د آنحضرت صلى الله عليه وسلم ټول هغه حديث چې داويس قرني په باره کې وو چې په هغه کې د دُعا کولو خبره وه ، حضرت عمر رضي الله عنه چې کله د دعا مغفرت غوښتنه وکړه نو اويس قرني رحمه الله وويل اې امير المؤمنين تاسو څه فرمايي ؟ زما غوتته کس ستاسو دپاره دعا وغواړي ؟ حضرت عمر رضي الله عنه وويل هو يقيناً ته ماته دُعا اوغواړه . اويس قرني د حضرت فاروق اعظم لپاره دُعا اوغوښتله ددې نه بعد حضرت عمر رضي الله عنه او فرمايل اويس ته اوس چرته تلل غواړې ؟ هغه وويل زه کوفې ته تلل غواړم . حضرت عمر رضي الله عنه وويل آيا ستا په باره کې د کوفې حاکم ته څه وليکم ؟ حضرت اويس قرني رحمه الله وويل اې امير المؤمنين ما په خپل ګوم نامې حالت باندې پرېږده په يو روايت کې راځي چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم يو ځل ماته اواز وکړو . زه حاضر شوم آنحضرت صلى الله عليه وسلم او فرمايل . اې عمر . زما په امت کې به يو کس وي چې د هغه نوم اويس دی کله چې ته هغه ووينې نو الله به درياد شي ته چې کله هغه ووينې نو زما سلام پرې وايه او د ځان لپاره د هغه نه د مغفرت دُعا اوغواړه هغه به د الله نه د دومره خلکو شفاعت کوي څومره خلک چې د ربيعه او مضر دي .
حضرت عمر رضي الله عنه وايي ددې اوريدو نه پس د هغه تلاش جاري ساتلو لکن په عهد نبوي کې ماته هغه ملاؤ نشو بيا د حضرت ابوبکر صديق دور خلافت راغلو ما تلاش جاري ساتلو لکن ماته ملاؤ نشو بيا زما دور خلاف راغلو ما د هغه تلاش نور هم زيات کړو تردې پورې چې ما په مختلفو ښارونو او د قافلو نه تپوسونه اوکړل چې په تاسو کې چرته داسې شخص چې د مراد قبيلې نه وي او اويس نوم يې وي او د قرن سره يې تعلق وي په دې دوران کې يو کس ماته وويل اې امير المؤمنين ته چې د کوم شخص تپوس کوي هغه زما د تره ځوي دی لکن هغه ډير کمزورې حال او د کمې درجې او بې حيثيته کس دی ستاسو غوتته عظيم انسان لره د هغه تپوس کول ستاسو شان سره نه ښائي . حضرت عمر رضي الله عنه او فرمايل چې ته کومې د حقارت کلمات د هغه په حق کې استعمالوې دا ستا دپاره د هلاکت سبب دي حضرت عمر رضي الله عنه وائي چې زه ددې سړي سره په خبرو کې وم چې د لرې نه يو کس په اوښ باندې سور ښکاره شو د هغه د جسم په څه حصه باندې زړه کپړه وه او څه جسم يې خالي وو ما فکر اوکړو چې دا به اويس قرني وي ما منډې کړې چې ورورسيدم ترينه مې تپوس اوکړو آيا ته اويس قرني يې ؟ هغه جواب راکړو هو زه يم ما ورته وويل آنحضرت صلى الله عليه وسلم تا ته سلام ويلو هغه شخص وويل په رسول د الله او په تا دې سلام وي

اي امير المؤمنين . له دينه وروسته ما وويل د رسول الله ﷺ حکم دي چې ته ما ته د مغفرت دُعا او غواړه د الله تعالى نه له دينه وروسته زما دا معمول جوړ شولو چې هر کال به د حج په موقعه باندې دهغه سره ملاقات کولو خپل حال او اسرار به مي هغه ته بيانول او هغه به خپل حال او اسرار ما ته بيانول له دې روايت څخه معلوميږي چې حضرت اويس قرني د تکوينياتو د خلکو نه وو لکه حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د رجال التکون څخه وو داوجه ده چې آنحضرت ﷺ د هغوی د ملاقات ترغيب ورکړی وو دا رجال الغيب يو ځاله نظام دي .

په يو روايت کې دي چې حضرت عمر رضي الله عنه ډير کوشش وکړو چې حضرت اويس قرني ته څه هديه ورکړي لکن حضرت اويس قرني بلکل انکار وکړو البته دا درخواست يې اوکړو چې زما احوال پټ اوساته يو ځل حضرت عمرفاروق خلکو ته وويل چې په اويس قرني باندې ځانله دعا وکړئ هغوی په ډير مشکل سره په يوه ويرانه کې اويس قرني پيدا کړو او ټوله قصه يې ورته وکړه هغه ورته وويل حضرت عمر رضي الله عنه زما حال خلکو ته بيانوي دې ويلو سره ځنګل طرف ته لاړو او غيب شو .

له حضرت علي رضي الله عنه په صف کې اوريدو سره هغه شهيد کړی شوي وو په بل روايت کې دي چې په جنګ صفين کې شهيد شوي وو . د حضرت عمر رضي الله عنه د هديې نه په انکار کولو سره هغه وويل زما سره دا دوه جوړه زړې جامې او پخواني پيزار دي چې پيوند شوي دي او له ما سره څلور درهمه هم دي چې دا ختم شي بيا به راشم او له تا نه به دا هديه واخلم بيا يې اوفرمايل چې د انسان حالت داسې دي چې کله د يوې هفتې ارزو کوي نو دهغه ارزو يوې مياشتې پورې اوګده شي او چې د مياشتې ارزو کوي نو هغه کال ته اورسي مطلب دا چې له قناعت سره انسان ښه زندګي تيرولې شي او له حرص نه څه نه جوړيږي .

د اهل يمن فضيلت

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ
ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ ورته وفرمائيل تاسو ته
أَتَاكُمْ أَهْلُ الْيَمَنِ هُمْ أَرَقُّ أَفْئِدَةً وَأَلْيَنُ قُلُوبًا اَلْإِيْمَانُ يَمَانٍ
د يمن خلق راغلي دي چې زيات رقيق القلب او زيات نرم دل دي ايمان د يمن دي او حکمت هم يمني
وَالْحِكْمَةُ يَمَانِيَةٌ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِيْ أَصْحَابِ الْإِبِلِ
دي او فخر يعني د خپل مال او منصب په ذريعه خپله لويي کول او تکبر کول په اوښانو والاو کې دي
وَ السَّكِيْنَةُ وَ الْوَقَارُ فِيْ أَهْلِ الْغَنَمِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
او اطمينان او تحمل او وقار په چيلو والاؤ کې دي . [بخاري مسلم]

توضيح : باب بدء الخلق او باب وفات النبي ﷺ کې او په نورو مواضعو کې ددې حديث

توضیح و تشریح شوې ده.

ارق: د رقیق ته دی د نرم، شفیق، نری او لطیف په معنی دی.

افئدة: ددې مفرد فؤاد دی د زړه په دننه حصه ددې اطلاق کیږي د حمکت نه مراد علم دی، یعنې دهغه زمانې اهل یمن همداسې وو، د قیامته پورې یمن والاو ته دا فضیلت نشته، بعض کم کسان اوس هم په دې صفاتو سره متصف کیږي

د کفر (مشري) مشرق طرف ته ده

﴿۲﴾ وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسُ
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل د کفر سر مشرق طرف ته دي فخر
الْكُفْرِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْفَخْرُ وَالْخُيَلَاءُ فِيْ أَهْلِ الْخَيْلِ
او تکبراسونو والاو او اوښانو والاؤ او زمیدارو کې دي چې د اوبن د ویښتانو په خیمو کې اوسیږي
وَالْإِبِلِ وَالْفَدَادِيْنَ أَهْلِ الْوَبَرِ وَالسَّكِيْنَةُ
او داسې خلق به هغه زمانه کې زیات ترد اوښانو د ویښتانو نه جوړ شوو خیمو کې اوسیدل او نرمي
فِيْ أَهْلِ الْغَنَمِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.
او مسکیني بزو والاؤ کې وي.

توضیح: راس الکفر. یعنې د کفر سر او لیډر او مشري په مشرق کې ده د مدینې منورې نه په مشرق طرف کې چې کومه علاقه ده هغه ایران. فارس. او روس وغیره دې دا علاقې د یاجوج او ماجوج مرکز دي او له دې علاقو نه به د دجال خروج کیږي.

الفدادین. صحرائې ځنګلي خلک ترینه مراد دې. اهل الوبر. یعنې د اوښانو د ویښتانو نه په جوړو شویو خیمو کې اوسیدونکې جې خلک وي له دینه هم هغه د صحرا ځنګلي خلک مراد دې

د فتنو ځای مشرق دي

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِيْ مَسْعُوْدٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او ابو مسعود انصاري رَحِمَهُ اللهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چې یو ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
قَالَ مِنْ هٰهُنَا جَاءَتِ الْفِتَنُ نَحْوَ الْمَشْرِقِ وَالْجَفَاءُ
مشرق طرف ته د لاس مبارک اشاري کولو سره وفرمایل چې فتنې دي ځای نه راغلي دي او بد زباني
وَغِلَظُ الْقُلُوْبِ فِيْ الْفَدَادِيْنَ أَهْلِ الْوَبَرِ عِنْدَ أُصُوْلِ أَذْنَابِ الْإِبِلِ
او سنګدلي زمیدارو او خیمو نشینو کې وه چې خپل څاروي څرولو د پاره د اوښانو او غواګانو لکو

وَالْبَقَرِ فِيْ رَبِيْعَةَ وَمُضَرَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

پسي لګیدلي دي دا خلق ربیعه او مضر قبائلو کې دي. [بخاري مسلم]

توضیح: الجفاء. جهل او بد تمیزۍ ته ویلی شي. غلظ القلب. د تعلیم او تهذیب نه کې دو د وجې نه ددوي زړونه سخت شوي وي دا دهغه زمیدارانو صفت دي چې چغو والا وي او په څناورو باندې چیغې چلوي او د اوښانو د ویښتانو نه جوړو شویو خیمو کې اوسیږي.

سنګدلي او بدزباني مشرق والو کې ده

﴿۵﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غِلَظُ الْقُلُوْبِ

او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل سنګدلي او سخت ګوئي مشرق

وَالْجَفَاءُ فِي الْمَشْرِقِ وَالْإِيْمَانُ فِيْ أَهْلِ الْحِجَازِ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

کې ده او ایمان حجاز والو کې دي. [روایت کړې دي مسلم]

د شام او یمن لپاره دعاء

﴿۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې دعا وکړه خدایه! څمونږ ملک شام کې

لَنَا فِيْ شَامِنَا اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْ يَمَنِنَا

برکت واچوي او خدایه! څمونږ ملک یمن کې برکت عطاء کړې په دې اوریدو سره صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَفِيْ نَجْدِنَا قَالَ اَللّٰهُمَّ

عرض وکړو یارسول الله! څمونږ نجد باره کې یې هم دعا وفرمایه چې مونږ ته د دې علاقې د طرف نه

بَارِكْ لَنَا فِيْ شَامِنَا اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا

هم برکت عطاء کړې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیا وفرمایل خدایه څمونږ ملک شام کې برکت واچوي څمونږ

فِيْ يَمَنِنَا قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ

یمن کې برکت عطاء کړې صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دوباره عرض وکړو یا رسول الله! او څمونږ نجد باره کې

وَفِيْ نَجْدِنَا فَأَظُنُّهُ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ هُنَاكَ

هم دا دعا وفرمایي راوي وایي څما ګمان دادی چې په دریم وار حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیا هغه الفاظو سره

الزَّلَازِلُ وَالْفِتَنُ وَبِهَا يَطْلُعُ قَرْنُ

دعا وکړه او د نجد باره کې یې وفرمائیل هلته به زلزلې وي فتنې وي او د هغه ځای نه به د شیطان

شَيْئًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

... [بخاري]

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۶۲۶۲: عَنْ أَنَسٍ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَظَرَ

حضرت انس رضي الله عنه د حضرت زيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت کوي چې يو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم

قِبَلَ الْيَمَنِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أَقْبِلْ بِقُلُوبِهِمْ وَبَارِكْ لَنَا

د يمن طرف ته وکتل او فرمائيل اې الله! د هغوی زړونه متوجه کړه او

فِي صَاعِنَا وَمُدِّنَا. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

زمونږ په صاع او زمونږ په مد کې برکت عطا کړې. [ترمذي]

د شام فضيلت

۶۲۶۳: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُوبٰى لِلشَّامِ

زيد بن ثابت رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمائيل خوش بختي دې د شام ته

قُلْنَا لِأَيٍّ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ لِأَنَّ مَلَائِكَةَ الرَّحْمٰنِ

مونږ پوښتنه وکړه په څه وجه يا رسول الله! نبي علیه السلام وفرمائيل په دې وجه چې د رحمٰن فرښتې د

بَاسِطَةٌ أَجْنِحَتَهَا عَلَيْهَا. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

شام سرزمين او د هغه وسيدونکو باندې خپلې وزرې خورې کړي دي. [احمد ترمذي]

۶۲۶۴: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَخْرُجُ

عبد الله بن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلی الله علیه وسلم وفرمائيل عنقريب د حضرموت د طرف

نَارٌ مِنْ نَحْوِ حَضْرَ مَوْتَ أَوْ مِنْ حَضْرَمَوْتَ

نه يې وفرمائيل د حضرموت نه به يو اور ښکاره شي او هغه اور به خلق جمع کړي او شړلو سره به

تَحْشُرُ النَّاسَ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَمَا تَأْمُرُنَا

يې بوځي په دې اوريدو سره صحابو رضي الله عنهم عرض وکړو يا رسول الله! يا څمونږ باره کې يې څه

قَالَ عَلَيْكُمْ بِالشَّامِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

حکم دي؟ حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائيل تاسو ته شام ته تلل پکار دي.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

او عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه وايي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه واوریدل د هجرت نه وروسته

إِنَّهَا سَتَكُوْنُ هِجْرَةٌ بَعْدَ هِجْرَةٍ فَخِيَارُ النَّاسِ إِلَى مُهَاجَرِ إِبْرَاهِيْمَ

به هجرت وي نو بهترین سړي به هغه وي چې هغه ځای ته هجرت وکړي چیرته چې حضرت ابراهیم)

وَفِيْ رِوَايَةٍ فَخِيَارُ أَهْلِ الْأَرْضِ

هجرت کړی وو او په یو روایت کې دا الفاظ دي چې د روئي زمین بهترین خلق هغه دي چې دي ځای

أَلْزَمُهُمْ مُهَاجَرَ إِبْرَاهِيْمَ وَيَبْقَى فِي الْأَرْضِ

ته هجرت کول په ځان ښه لازم ونیسي چیرته چې حضرت ابراهیم) هجرت کړی وو او په روئي زمین

شِرَارُ أَهْلِهَا تَلْفِظُهُمْ أَرْضُوْهُمْ تَقْذِرُهُمْ

باندي به هغه بدترخلق یعنې کفار او فجار پاتې شي چې هغوئ به د هغوئ د ملک نه اوباسي د الله

نَفْسُ اللهِ تَحْشُرُهُمُ النَّارُ مَعَ الْقِرَدَةِ وَالْخَنَازِيْرِ

ذات به هغوئ پلیت ګڼي او اور به هغوئ د خنزیرانو او بیزوګانو سره یوځای کولو سره شړي او هغه

تَبِيْتُ مَعَهُمْ إِذَا بَاتُوْا وَتَقِيْلُ مَعَهُمْ

اور به د هغه سره شپه تیروي چیرته چې د هغوئ شپه راشي او هغوئ سره به قیلوله آرام کوي چیرته

إِذَا قَالُوْا. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

چې هغوئ قیلوله کوي. [ابوداؤد]

توضیح: تلفظهم: دا صیغه د ضرب یضرب نه ده دې ماده لفظ ده چې د ویشتلو په معنې سره ده.

ارضوهم. دا جمع ده ددې مفرد ارض دي په معنې د زمکې سره دي یعنې زمکه به دي خلکو له ځای نه

ورکوي.

تقذرهم: د سمع یسمع نه په معنې د کراهت او قباحت باندې دي.

نفس الله: دا د تقذر فاعل دي او دا د متشابهاتو نه دي مراد ددې نه د الله پاک ذات دي یعنې الله تعالی

به دا خلک نه خوښه وي بلکه د دوي نه به نفرت فرمائي. ددې حدیث معنی داده چې عنقریب به د حق او

باطل په معرکو کې مسلسل حجرتونه وي، ښه خلک به هغه وي چې د شام په طرف حجرت وکړي چرته

چې ابراهیم علیه السلام د شام نه حجرت فرمایلی وو د ښو خلکو د تللو نه پس به له کفارو سره شریر ا

بدترین خلک پاتې شي هغوی به نه د حق د پاره اودریږي او نه به د حق د پاره جهاد کوي بلکه ذلیل کې د

سره به له کفارو سره او سيږي زمکه دهغوی ذليل کې دو سره يو بل خواته غورزوي او د الله تعالی ذات به دهغوی نه نفرت کوي . بيا به يو اور روښانه شي کفار چې خنزيران او شادوګان دي له دي سره به منافقين او شرير خلق خلط شي . تبيت . د شپې تيره ولو په معني سره ده .

تقيل: دا د قيلولي نه جوړ شوي دي قيلوله کولو ته ويل کيږي مطلب دادی چې ددې خلکو د فتني او فساد اورکې دوي هم را ګير شي که شپه وي او که ورځ وي د فتني د اورنه مراد فتنه ده کله چې دا منافق خلک ددې کفارو اخلاق خپل کړي نو له کفارو سره به په فتنه کې مبتلا شي ددې به دا خيال وي چې فتنه په ملک کې ده بهر نشته نو د جلا وطن کې دو دپاره به ووځي مګر دا فتنه به دوي نه پريږدې بلکه د دوي سره به ځي د خنزيرانو او شادوګانو نه مراد کفار دي .

په شام ، عراق ، او يمن کې د اوسيدو دپاره کوم ځای بهتر دي

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ حَوَالَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ابن حواله رضي الله عنه وايي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم وفرمائيل هغه زمانه قريب ده چې د دين او
سَيَصِيْرُ الْاَمْرُ اَنْ تَكُوْنُوْا جُنُوْدًا مُجَنَّدَةً جُنْدٌ بِالشَّامِ
ملت به دا نظام وي چې ستاسو د مسلمانانو به جدا جدا لښکري جوړې شي يو لښکر به په شام کې وي
وَجُنْدٌ بِالْيَمَنِ وَجُنْدٌ بِالْعِرَاقِ فَقَالَ ابْنُ حَوَالَةَ
يو لښکر به په يمن کې او يو لښکر په عراق کې ابن حواله عرض وکړو يا رسول الله! زه کوم لښکر اختيار
خِرْلِيْ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنْ اَدْرَكْتُ ذٰلِكَ فَقَالَ عَلَيْكَ بِالشَّامِ
کړم حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمائيل ته شام اختيار کړه ځکه چې د شام سرزمين د الله د ځمکو نه ښه ځمکه
فَاِنَّهَا خِيَرَةُ اللهِ مِنْ اَرْضِهٖ يَجْتَبِيْ اِلَيْهَا خِيَرَتَهٗ مِنْ
ده الله ! د ديندارو اوسيدو د پاره د شام سرزمين خوښ کړی دي بيا که ته شام اختيار ول قبول نه کړې
عِبَادِهٖ فَاَمَّا اِنْ اَبَيْتُمْ فَعَلَيْكُمْ بِيَمَنِكُمْ وَاسْقُوْا
نو خپل يمن اختيار کړه او ګوره چې تاسو د خپلو حوضونو نه اوبه چښنوي حقيقت دادی چې الله !
مِنْ غُدُرِكُمْ فَاِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَوَ كَّلَ لِيْ بِالشَّامِ
محض ځما په وجه ځما د امت په حق کې دا ذمه اخستي ده چې شام او اهلِ شام مامون او محفوظ
وَ اَهْلِهٖ . رَوَاهُ اَحْمَدُ رَوَاهُ اَبُوْ دَاوُدَ .
ساتي . [روايت کړي دي احمد ابوداود]

توضيح : الامر : يعني دا مر اسلام يا دجنګ انجام او نتيجه دا را وځي چې تاسو مسلمانان به په دريو حصو

او لښکرو کې تقسيم شئ يو په شام کې بل په عراق کې او بل به په يمن وي. حضرت حواله رضي الله عنه پوښتنه وکړه يا رسول الله زه کوم لښکر ته لاړ شم؟. يجتبي. اجتباء د ټولو يا چڼ کولو په معني سره دلته ترينه جمع کول مراد دي يعني الله پاک به نيک خلک د شام طرف جمع فرمائي.

فاما ان ابيتم: يعني که ته د شام تلو نه انکاري شئ نو بيا يمن ته لاړ شئ دا جمله معترضه په مابين کې واقع شوي ده.

عليك بالشام: او د واسقوا من غدركم. په مابين کې واقع شوي مطلب دا دی چې د شام په طرف هجرت وکړئ او د هغې حوضونو نه اوبه اوڅکی. توكل. تكفل په معني سره ده يعني الله تعالى به د شام او د هغه ځای د اوسيدونکو حفاظت فرمائي. خلاصه دا چې د هجرت کولو لپاره د ټولو نه شام بهرت دی بيا يمن او د عراق نوم يې وانه خستلو. غدر. جمع ده د دې مفرد غدير ده حوض ته وائي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

په شام باندې لعنت مه وائي دا د ابدالو مسکن دی

﴿۱۲﴾ عَنْ	شُرَيْحِ	بْنِ	عُبَيْدٍ	قَالَ	ذُكِرَ	أَهْلُ	الشَّامِ	عِنْدَ عَلِيٍّ
شريح بن عُبيد رحمه الله روايت كوي چې يوه موقع باندې د سيدنا علي رضي الله عنه مخکې د اهل شام								
وَقِيلَ	الْعَنْهُمْ	يَا	أَمِيرَ	الْمُؤْمِنِينَ	قَالَ:	لَا،	إِنِّي	سَمِعْتُ
ذکر وشو او هغوئ ته وويل شو اي امير المؤمنين! شام والو باندې لعنت ووايه حضرت علي رضي الله عنه								
رَسُولَ	اللهِ	صَلَّى	اللهُ	عَلَيْهِ	وَسَلَّمَ	يَقُولُ:	اَ	لْأَبْدَالُ يَكُونُونَ
ورته وويل نه زه اهلِ شام باندې لعنت نشم ويلې حقيقت خو دا دی ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي								
بِالشَّامِ	وَهُمْ	أَرْبَعُونَ	رَجُلًا	كُلَّمَا	مَاتَ	رَجُلٌ	أَبْدَلَ	
دي آبدال په شام کې دي او هغه څلويښت سړي دي هرکله چې په هغوئ کې يو سړي وفات شي نو								
اللهُ	مَكَانَهُ	رَجُلًا	يُسْقَي	بِهِمُ	الْغَيْثُ	وَيُنْتَصَرُ	بِهِمْ	
الله! د هغه په ځای دوهم سړي مقرروي د دې ابدالو د وجود له برکته باران کيږي د دوئ مدد سره								
عَلَي	الْأَعْدَآءِ	وَيُصْرَفُ	عَنْ	أَهْلِ	الشَّامِ	بِهِمُ	الْعَذَابُ.	
د دين د دښمنانو نه بدله اخستي شي او د دوئ له برکته اهلِ شامو نه سخت عذاب دفع کولې شي.								

توضيح : الابدال يكولون بالشام: ابدال جمع ده د دې مفرد بدل دي لکه چې ابرار جمع دي د دې مفرد بر دي چونکه دا خلک يو د بل په رتبو باندې بدليږي له دې وجه نه دېته ابدال ويل کيږي.

الحتم : د حضرت علي او حضرت معاويه يو او گذ جنگ وو . حضرت علي په حق باندې وو او حضرت معاويه په اجتهادي غلطي سره وو حضرت معاويه ډير وخته پورې د ملک شام والي او گورنر وو هغه د حضرت علي رضي الله عنه نه مطالبه کوله چې د حضرت عثمان رضي الله عنه قاتلين مونږ ته حواله کړې ترڅو مونږ ترينه قصاص واخلو حضرت علي رضي الله عنه ويل چې تاسو اول بيعت وکړې بيا د قصاص مطالبه وکړې د حضرت علي رضي الله عنه بعض ملګرو هغه د اهل شام دپاره د بد دعا کولو وويل ترڅو ټول هلاک شي حضرت علي رضي الله عنه د بد دُعا کولو نه انکار وکړو او بيا ئې د شام په باره يو حديث نقل کړو په کوم کې چې د ابدال ذکر راغلي دی .

ابدال څوک دي او د دوي حقيقت څه دي

آنحضرت صلى الله عليه وسلم د ابدال د حقيقت طرف ته اشاره کړې ده اول آنحضرت په زير بحث حديث کې صلى الله عليه وسلم د اوسيدو ځاى طرف ته اشاره کړې ده چې دا خلک به په شام کې وي خو مطلب دا ندی چې بل ځاى به نه وي بلکه مطلب دادی چې د دوی مرکزي استوګن ځاى به شام وي دا د الله تعالى د غيبي نظام خلک دي د دوی زياتر تعلق له تکوين يانو سره وي له خلکو نه ګوشه او سيږي له دي وجې نه دوی ته رجال غيب ويل کيږي . حضرت حضر عليه السلام د دې نظام مشر دی آنحضرت صلى الله عليه وسلم د دوی جماعتې نظم او نسق ته اشاره کړيده چې دا څلويښت کسان دي کله چې له دوي نه يو مړې نو الله تعالى د عامو اولياؤ نه يو بدل جوړولو سره دا څلويښت کسيزه تعداد پوره کړې د دوی د نفوس قدسيه په ذريعه د الله تعالى نه د باران دُعا غوښتل کيږي او په دوښمن د کاميابي دُعا غوښتل کيږي او الله تعالى مدد فرمائي . د دوی په برکت سره د شام نه لوئي لوئي فتني دفعه کيږي دا حديث امام احمد په مسند احمد کې نقل فرمايلی دی .

ملاعلي قاري په مرقات کې يو بل حديث په حوالة ابن عساکر سره نقل کړی ده په هغه کې د ابدالو پوره تنصيل دي . ترجمه ملاحظه کړی .

ابن عساکر د عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه نه يو روايت نقل کړی ده چې مرفوع حديث دي چې الله خپلو انسانانو کې دری سوه داسې خلک پيدا کړی دي چې دهغوی زړونه د حضرت موسى عليه السلام زړه په صفت دي همدا شان الله تعالى اووه داسې کسان پيدا کړی دی چې د هغوی زړونه د حضرت ابراه عليه السلام د زړه په صفت دی بيا الله تعالى پنځه داسې کسان پيدا کړی دي چې هغوی زړوه د حضرت جبرائيل عليه السلام د زړه په صفت سره دی بيا الله تعالى درې داسې کسان پيدا کړی دی چې دهغوی زړونه د حضرت ميکائيل عليه السلام د زړه په صفت سره دی بيا الله تعالى يو داسې کس پيدا کړی دی چې دهغه زړه د حضرت اسرافيل عليه السلام د زړه په صفت سره دی (يعنې د ټولو آمير وي) کله چې دا يو کس مړ شي نو الله تعالى له دريو جماعتونو نه يو کس ته ترقي ورکړي او دهغه يو کس په ځای ئې مقرر کړی او د دريو نه يو کس ته ترقي ورکړي او د هغه دريو په جماعت کې ځ
نو د پنځو کسانو نه يو کس ته ترقي ورکړي او د هغه دريو په جماعت کې ئ

راولي او د پنځو د جماعت نه چې یو کس وفات شي نو الله تعالی هغه د اوو کسانو د جماعت نه یو کس ته ترقي ورکړي او د پنځو په جماعت کې ئي راولي او اوو کسانو د جماعت نه چې کله یو کس وفات شي نو د څلویښتو جماعت نه یو کس ته ترقي ورکړي او د اوو په جماعت کې داخل شي او کله چې د څلویښتو د جماعت نه یو کس وفات شي نو الله تعالی د دري سوو د جماعت یو کس ته ترقي ورکړي او د څلویښتو کسانو په جماعت کې داخل شي او کله چې په دي دری سوو کسانو کې یو وفات شي نو الله تعالی د عامو اولیاؤ کرامو نه یو کس ته ترقي ورکړي او په دری سوو کسانو کې داخل کړي . مرقات جلد ۱۰ ص ۶۴۶ .

د ابدالو متعلق د حضرت عمر حدیث هم دي .لهٔ دي وجې نه ددې نه انکار مناسب ندی . ویل کیږي چې په کال کې یو ځل د دوي اجتماع په حجاز کې کیږي او ددوي نمائده ګان د دنیا په مختلفو حصو کې د خدمت خلق دپاره مقرر کیږي دا د عامو انسانانو په شان یو انسان وي خو د دوی نظام جدا نظام دی .

د دمشق ذکر

﴿۱۳﴾وَعَنْ رَجُلٍ مِنَ الصَّحَابَةِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَتُفْتَحُ
اصحابو کې یو سړي نه روایت دي رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ و فرمائیل هغه زمانه قریبه ده هرکله
الشَّامُ فَإِذَا خُيِّرْتُمُ الْمَنَازِلَ فِيهَا
چې د شام د ملک ښارونه او علاقې فتحه شي، نو کله چې تاسو ته د کورونو جوړولو او رهائش
فَعَلَيْكُمْ بِمَدِيْنَةٍ يُقَالُ لَهَادِمَشْقُ فَإِنَّهَا
پذیر کې دو اختیار درکړل شي نو تاسو هغه ښار اختیارول په ځان لازم وګرځئ چې هغه ته دمشق ویل
مَعْقِلُ الْمُسْلِمِيْنَ مِنَ الْمَلَاحِمِ
کیږي ځکه چې دمشق ښار مسلمانانو دپاره د جنګونو نه د پناه ځای دي او د مشق یو جامع ښار دي
وَفُسْطَاطُهَا وَمِنْهَا أَرْضٌ يُقَالُ
او د دمشق په ځمکو یعني علاقو کې یوه ځمکه او علاقه ده چې هغې ته غوطه ویل کیږي دا دواړه
لَهَا الْغُوْطَةُ. رَوَاهُمَا أَحْمَدُ
روایتونه امام احمد نقل کړي دي.

توضیح : دمشق: په دال باندې زیر او په میم باندې زبر او شین ساکن دی همدا شان دا لفظ د دال په زبر او د میم په زیر سره هم ویل کیږي او س وخت دا ښار د شام پایتخت دي . معقل. دا فوجي چوني او مظبوطي قلعه په معني سره دی دلته د پناه ګاه په معني سره استعمالیږي دیته قریب یو ځای دي چې ورته غوطه ویل کیږي بعض علماء وائي چې د دمشق شاه او خوا کې چې کوم باغونه او فصلونه وني دي دیته غوطه ویل کیږي .

علامه زمحشري ویلي دي چې . **جنان الدنیا اربع . غوطة و مشعر نهر الایل و شعب کدان وسمرقند .** یعنې په دنیا کې څلور جنته دي . یو غوطه . بل نهر ایل دي دریم اشعب کدان او څلورم سمرقند دې . علامه ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي . ما دا څلور واړه ځایونه کتلي دي په دوي باندې د غوطه برترې داسې ده لکه چې د دې څلورو برتري په نوره دنیا .

خلافت په مدینه کې او ملوکیت په شام کې

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.
او حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل خلافت په مدینه کې دي او
اَلْخِلَافَةُ بِالْمَدِيْنَةِ وَالْمُلْكُ بِالشَّامِ
ملوکیت یعنې بادشاهي په شام کې .

توضیح : والملك بالشام : له ملک نه په ظاهره د خلافت نه بعد د ملوکیت طرف ته اشاره ده یعنې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دور خلافت دي او حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دور د ملوکیت دي. دا تشریح بعض علماء نه خوښه وي بلکه دي حدیث لره د یو بل حدیث دوجې نه اساني پوهه کې راځي .
د خصائص النبوة متعلق په یو حدیث کې دي د آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پیدائش ځای مکه او دهجرت ځای مدینه منوره ده او دهغه ملک یعنې د بادشاهت مقام په شام کې دي مطلب دادی چې د آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبوت په مدینه کې دی لکن د نبوت مظبوطي او استحکام په شام کې دی چې جهاد به په شام کې وي چې په دي سره د نبوت تحفظ راځي یعنې د ملک نه مراد ملکوکیت ندی بلکه مراد ترینه استحکام او مظبوطي ده په ورسره حدیث کې هم د نبوت عمومیت او خپریدو ته اشاره ده .

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُ
حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائیل ما په خوب کې ولیدل چې د نور یوه
عُمُوْدًا مِنْ نُوْرٍ خَرَجَ مِنْ تَحْتِ رَأْسِيْ سَاطِعًا حَتَّى اسْتَقَرَّ
ستن ځما د سر د لاندې نه راپورته شوه او بیا ملک شام ته تلو سره نصب شو دا دواړه روایتونه
بِالشَّامِ . رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِيْ دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.
بیهقي دلائل النبوت کې نقل کړي دي .

توضیح : عمود : د نور ستن او پایه ده . هم هغه نور نبوت او نور هدایت ده چې په دتیزی سره به خپور شي او شام پور رسیدو سره به قرار ونیسي . ددې حدیث هم تائید دی چې په وخت د ولادت کې حضرت آمینه یو نور لیدلی وو چې د شام محلونه ترینه روښانه شوي وو .

ملحة الکبری به په دمشق او غوطه کې قائمیږي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فُسْطَاطَ
حضرت ابو درداء رضي الله عنه روایت کوي چې رسول کریم صلى الله عليه وسلم وفرمائیل د فوجې کاروایي او جنګ
الْمُسْلِمِيْنَ يَوْمَ الْمَلْحَمَةِ بِالْغُوْطَةِ إِلَى جَانِبِ مَدِيْنَةٍ يُقَالُ لَهَا دِمَشْقُ
اوجدال په ورځو کې د مسلمانانو د جمع کې دو ځای غوطه دي چې د شام د هغه ښار نواحي علاقه
مِنْ خَيْرِ مَدَائِنِ الشَّامِ. رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.
ده چې هغه ته دمشق ویل کیږي او دمشق د شام د ښارونو نه ښه ښار دي . [ابوداؤد]

توضیح : قسطاط المسلمین . یعني فوجې قیام ګان او چونې او کیمپ .محلة الکبري . به غوطه کې قائمیږي لکن په یو روایت کې د دمشق ذکر دی چې له دینه تضاد معلومیږي لکن دا خبره معلومه ده چې غوطه د دمشق ګرد نحوا زرخیزه باغاتو نوم دی ګویا غوطه په دمشق کې ددنه دی اوس تضاد نشي پاتې کیدی

یوه غیر معلومه پیشنګوئي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ سَيَأْتِيْ مَلِكٌ مِنْ
او حضرت عبد الرحمن بن سلیمان رضي الله عنه نه منقول دي هغه وویل هغه زمانه راتلونکې ده هر کله
مُلُوْكِ الْعَجَمِ فَيَظْهَرُ عَلَى الْمَدَائِنِ كُلِّهَا
چې د عجمو حکمرانانو نه به یو حکمران حمله وکړي هغه به تمام ښارونو باندي غلبه حاصله کړي
إِلَّا دِمَشْقَ . رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ .
ماسوا د دمشق نه . [ابوداؤد]

توضیح : من ملوك العجم ددې بادشاه تعین ندی شوی چې دا به څوک وي له وقائع روزګار نه به یوه واقعه وي چې د هغې د ظهور نه وروسته به معلومیږي چې د حدیث دا مخفي اشاره څومره واضح فرمان وه .

۸ رجب ۱٤۱۸ هـ

باب ثواب هذه الامة

ددې امت د فضيلت بيان

قال الله تعالی: ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ الخ﴾ (آل عمران ۱۱)

وقال الله تعالی: ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾ (البقرة: ۱۴۳)

يو د اجابت امت دی يو دعوت امت دی د اجابت امت هغه دی چې چا د اسلام دين قبول کړی وي او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طريقو د تلو التزام ئي کړی وي علماء کرام ليکې چې اهل بدعت امت اجابت نه خارج دی ځکه هغوی دين اسلام اګرچې قبول کړی دی لکن د هغه متابعت يې نه دی کړی بلکه نوې نوې طريقې ئي جوړي کړي . لکه آغاخاني، قادياني ، روافض او بعض بريلوي ، منکرين حديث ذکري ، بهائې او معتزله او خوارج ، دا باطلي فرقي د امت اجابت څخه خارج دي لکن په امت دعوت کې داخل دي امت دعوت هغه دي چې هغوی دين اسلام قبول کړی نه وي لهذا دوی ته دعوت ورکولي شي کنه نو دوي سره به جنګ کولی شي چنانچې د اسلام تربيت داسې دی چې اول به کفارو ته دعوت د دين اسلام ورکولی شي که هغوی دعوت قبول نکړو بيا به د جزئي دعوت ورکولی شي که نه نو د جنګ اعلان به کيږي. دلته عنوان **ثواب هذه الامة** د لفظ دی لکن مخکې د فضيلت ددې امت بيان شوی دی لهذا دلته به د ثواب نه فضيلت مراد اخستلی شي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائيل د نورو امتونو د
أَجَلُكُمْ فِيْ أَجَلِ مَنْ خَلَا مِنَ الْأُمَمِ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعَصْرِ
خلقو په مقابله کې ستاسو د ژوند موده د ومره ده څومره چې د تولې دنيا په مقابله کې د مازيګر د مانځه
إِلَى مَغْرِبِ الشَّمْسِ وَإِنَّمَا مَثَلُكُمْ وَمَثَلُ الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارَى
نه روسته د نمر د ډوبيدو پورې درمياني وقت دی نه علاوه ستاسو معامله او د يهودو او نصاری وو
كَرَجُلٍ اسْتَعْمَلَ عُمَّالًا فَقَالَ مَنْ يَّعْمَلُ لِيْ إِلَى نِصْفِ
معامله داسې ده لکه څرنګه چې يو سړي په اجرت کار کولو د پاره څه مزدوران طلب کړي او هغوئ ته ووايي

النَّهَارِ عَلٰى قِيْرَاطٍ قِيْرَاطٍ فَعَمِلَتِ الْيَهُوْدُ إِلٰى نِصْفِ النَّهَارِ

وک شته چې غرمې پورې څما کار وکړي او زه به هرسړي ته یو یو قیراط ورکړم نو هغه اجرت منظورولو

عَلٰى قِيْرَاطٍ قِيْرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَعْمَلُ لِيْ مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ

سره یهودو غرمې پورې یو یو قیراط باندې کار وکړو بیا هغه سړي وویل ثوک شته چې غرمې نه

إِلٰى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلٰى قِيْرَاطٍ قِيْرَاطٍ فَعَمِلَتِ

مازیګره پورې څما کار وکړي زه به هرسړي ته یو یو قیراط ورکړم نو یهودو نه روسته د حضرت

النَّصَارٰى مِنْ نِصْفِ النَّهَارِ إِلٰى صَلَاةِ الْعَصْرِ عَلٰى قِيْرَاطٍ قِيْرَاطٍ ثُمَّ قَالَ

عیسٰی منونکو خلقو یعنې نصارى غرمې نه مازیګره پورې یو یو قیراط باندې کار وکړي بیا هغه سړي وویل

مَنْ يَعْمَلُ لِيْ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلٰى مَغْرِبِ الشَّمْسِ عَلٰى قِيْرَاطَيْنِ

ثوک شته چې مازیګر نه روسته ماښام پورې څما کار وکړي او زه به هرسړي ته دوه دوه قیراطه

قِيْرَاطَيْنِ أَلَا فَأَنْتُمُ الَّذِيْنَ تَعْمَلُوْنَ مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ

ورکړم دې نه روسته حضور ﷺ وفرمائیل پوهه شئ دې مثال کې تاسو هغه خلق یئ چې مازیګر نه

إِلٰى مَغْرِبِ الشَّمْسِ أَلَا لَكُمُ

لمر لویدو پورې کار کونکي یئ یاد لرئ ستاسو اجر دوچنده دې او په دې وجه چې ستاسو د کار

الْأَجْرُ مَرَّتَيْنِ فَغَضِبَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصَارٰى فَقَالُوْا

موده خو کمه ده لیکن مستحق د دو چنده اجر ګرځول شوي یئ نو په دې باندې یهود او نصارى په

نَحْنُ أَكْثَرُ عَمَلًا وَّأَقَلُّ عَطَاءً قَالَ اللهُ هَلْ

غوصه شول او هغو یهودو او نصارى وو وویل د عمل د اعتبار نه خو مونږ زیات شو لیکن اجر او ثواب

ظَلَمْتُكُمْ مِّنْ حَقِّكُمْ شَيْئًا قَالُوْا

کې څمونږ حصه ډیره کمه ده الله ! هغوئ ته جواب ورکړو آیا ما تاسو سره څه ظلم کړی دې یهودو

لَا قَالَ اللهُ تَعَالٰى فَإِنَّهٗ فَضْلِيْ

او نصارا وویل څمونږ په حق کې خو تاڅه کمې نه دې کړی پروردګار وفرمائیل حقیقت دا دې چې

أُعْطِيْهِ مَنْ شِئْتُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

دا زیات اجر ورکول څما فضل او احسان دې چاته چې غواړم زیات ورکوم . [بخاري]

توضیح : د دې امت عمر کم دې لکن د دوي یوه نیکې په لس چنده یا د دې نه اضافه وعده شوې ده دوي ت
لیلة القدر ورکړې شوی ده چې له دینه د عمرونو کمې لرې کیږي د دوی سره د عبادانو او طاعات میدا

ډير فراخه دي د دوی عمل کم او ثواب ئې ډير دی له دې وجه دا کم خرچ بالا نشين اُمت دي . اجلکم . يعنې ستاسو مرګ او مقرره زندګي د مخکښو خلکو په نسبت دومره کمه ده لکه د مازديګر د وخت نه تر ماښام پورې په سابقه امتونو کې د يهودو عمر د سحر نه تر ماسپښين پورې او د عيسايانو عمرونه له ماسپښين نه تر مازديګر پورې او ګڼه ول ستاسو عمر ګويا له مازديګر نه تر ماښام پورې مختصر دي مګر په معنوي اعتبار سره دا ډير کامياب عمر دي بشرطيکه څوک دد دې قدر او پيژني .

د نبي کريم ﷺ د زماني نه روسته د اهل ايمانو فضيلت

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ مِنْ
او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول کريم ﷺ وفرمائيل حقيقت خو دا دی چې ځما په
اَشَدِّ أُمَّتِي لِي حُبًّا نَاسٌ يَكُوْنُوْنَ بَعْدِي
امت کې ما سره ډير زيات محبت ساتونکي هغه خلق دي چې ځما د وفات نه روسته به پيدا کيږي
يَوَدُّ أَحَدُهُمْ لَوْ رَآنِي بِأَهْلِهِ
هغوئ کې به څوک دا ارزو کوي چې آرمان هغوئ ما وويني او خپل اهل او عيال او اثاثه هر څه په
وَمَالِهِ . رَوَاهُ مُسْلِمٌ .
ما قربان کړي . [مسلم]

توضيح : رَآنِي . يعنې راتلونکي خلکو کې څه داسې عاشقان هم شته چې د ځان او مال په قرباني لګولو کې او زما ليدو کې زما زيارت ترجيح وکړي ده دد دې حديث تشريح او توضيح مخکې شوي ده دلته به په يو بل انداز د پوهه ولو کوشش کوم ترڅو دد دې باب اکثر احاديثو باندې په پوهيدو کې اساني وي

له رسول الله ﷺ سره چې کوم صابه کرام وو هغوی دد دې امت امامان او پيشوايان او د ټولو مسلمانانو مقتدي او دد دې امت افضل ترين خلک وو . مطلقا دوي ته برتري حاصله وه او وروسته راتلو والا ټول خلک د دوی د مرحمت او علومو نه خوشحاله دي په دې اعتبار سره که او ګتلی شي چې په بدر او احد او نورو غزواتو کې د حضور ﷺ سره چې کوم خلک خوا پخوا ولاړ وو که له رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړی شي چې تاته محبوب ترين څوک دي نو هغه به او فرمائې چې په بدر او احد کې کومو خلکو خپل مالونه او ځانونه ډال جوړولو سره خپل ځانونه قربان کړي ماته تر ټولو زيات هغه محبوب دي او که له حضور اکرم ﷺ نه پوښتنه وشي چې په مکه مکرمه زيات تکليفونه برداشت کولو والا او فقر غربت برداشت کولو والا صحابه کرام درته ډير زيات محبوب دي او که راتلونکې خلک درته ډير محبوب دي نو هغه ﷺ صحابه کرامو ته ترجيح ورکوي . ځکه هغوی د آنحضرت ﷺ سره په غم پريشاني کې شريک وو چنانچې حضرت حسان رضي الله عنه د انصارو د قربانو په باره

کې فرمائي

وکُنّا مَتي یغزو النبي قبیلة نصل جانبیه بالقنا والقنابل
وببیر بدر اذ یکف مطیّهم جبریل تحت لواءنا ومحمد

د امت محمدي یو طرف دادی لکن که بل طرف ته ئې او کتلی شي چې آنحضرت ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم د تللو نه پس د هدایت نظام او دین اسلام قیام څنګه ممکن شوی دی که په غور سره اوکتلی شي نو د الله تعالی د طرف نه په نني دور کې د اسمان نه داسې اواز نه راځي چې اوویلی شي چې داحق دي او داباطل دي پرښتي هم نه راکوزیږي چې کوم باندې ښودنه اوکړي آنحضرت ﷺ هم لاړو او صحابه کرام رضي الله عنهم لاړو له دنیا څخه قرآن کریم هم اواز نشي کولی چې زما حکم دارنګه دی او زما مطلب دادی حدیث هم کلام نشي کولی اوس د حق او هدایت چې کوم نظام قائم دی دا د دې امت صلحاء او خاص طور سره علماء او طلباؤ باندې قائم دی چې خلکو ته قرآن او حدیث ښائي په دې اعتبار سره د راتلونکو خلکو ډیر فضیلت دی مثلا د آنحضرت ﷺ کوم ځای ته نشي راتلای چې د جمعې یاد اخترونو لمونځ اوکړي ځکه د هغه ﷺ انتقال شوی دی اوس که آنحضرت ﷺ کوم عالم باعمل مونځ کولو یا قرآن یا حدیث درس کولو باندې اوګوري نو هغه به څومره خوشحاله شي! که په دې وخت کې د هغه ﷺ نه څوک پوښتنه اوکړي چې تاته څوک او کوم خلک ډیر محبوب دي؟ نو هغه به جواب ورکړي چې هغه خلک چې زما نه روستو زما کار سنبالولو والا دي. په دې طرف دا اشاره ده.
إِنَّ الْعُلَمَاءَ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ، او دېته طرف ته هم اشاره ده چې پیغمبر ﷺ فرمائي چې د دې امت مثال د باران په شان دی معلوم ندی چې د فصل پاره د باران کومه حصه بهتره ده اوله حصه یا درمیان حصه یا آخره حصه!؟ معلومه شوه چې دا امت یو زرخیزه امت دی چې زنده تابنده دی.

یو جماعت به په حق باندې تر قیامت پورې قائم وي

﴿۳﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
او حضرت معاویه رضي الله عنه وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل ځما په امت کې به یوه ډله همیشه
يَقُوْلُ لَا يَزَالُ مِنْ أُمَّتِيْ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ بِأَمْرِ اللهِ
داسې وي چې د الله! په حکم به قائمه وي دې ډلې ته سړي نقصان رسولي شي چې د هغه تائید
مَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ وَلَا مَنْ
او اعانت یې ترک کړی وي او نه هغه سړي ورته ضرر رسولي شي چې د موافقت په ځای د هغه مخالفت
خَالَفَهُمْ حَتَّى يَأْتِيَ أَمْرُ اللهِ وَهُمْ
وي تر دې پورې چې د الله حکم راورسي او هغه په خپله دې لاره یعنې د احکام خداوندي اطاعت او

عَلٰي ذٰلِكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَذُكِرَ حَدِيْثُ أَنَسٍ

د دين خدمت او اعانت باندي قائم وي. [بخاري مسلم] او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کړه حديث :

إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللهِ فِيْ كِتَابِ الْقِصَاصِ.

ان من عباد الله لو اقسم علي الله لابره کتاب القصاص کي نقل شوی دی.

توضيح : په دي حديث کي چي د کومو خلکو ذکر دی دا ان شاء الله د نن سبا هغه د مجاهدينو ډله ده چي د طائفه منصوره او جماعت ناجيه په نوم ياديږي او تر نن پوري د باطل په مقابل کي په حق قائم دي ټولي دنيا هغوی يواځي پريخي دي مگر دا مجاهدين د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په قيادت کي او داسامه بن لادن په قيادت کي د جهاد په ميدان کي د حق جنډه اوچتولو سره د دنيا مقابله کوي ددي جماعت تعلق د کوم خاص قوم يا خاص علاقي سره ندی بلکه د دنيا لپاره عام دي دا خلک خواه که په مشرق کي وي او که په مغرب کي وي په حق باندي به وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

د اُمت محمديه مثال د زرخيزه باران په شان دی

﴿۴﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ أُمَّتِيْ مَثَلُ الْمَطَرِ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان کوي چي رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل ځما د امت حال د باران د حال په شان

لَا يُدْرٰي أَوَّلُهُ خَيْرٌ أَمْ آخِرُهُ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

دي د هغه باره يی معلومه نه ده چي د هغه اول ښه دي او که د هغه آخر ښه دي.

توضيح : له دينه مخکي حديث لمبر ۲ په تشريح او توضيح کي ددي حديث تشريح هم شوي هغه يو بهتر کلام دی چي بار بار ويلی کيږي په زير بحث حديث د راتلونکو خلکو فضيلت په صحابه کرامو باندي ندی ورکړی شوی بلکه د دور اول د خوبيانو پشان ئي د دوردوم او دوردريم د خوبيانو بيان کړی لهذا په دي حديث کي چي د خير کومه صيغه استعمال شوي ده هغه د اسم تفضيل صيغه نده بلکه د تفضيل نفس فعل په معنی کي استعمال شوي. الصَّيف احدُّ من الشِّتَاءِ. واعسلُ اَحْلَي من الخلِ. او که لفظ د خير په اسم تفضيل استعمال هم شي بيا هم څه حرج نشته ځکه د دور اول د فضيلت ځاله حيثيت دي د دور ثاني د افضليت ځان له حيثيت دی د دور ثالث ځاله حيثيت دی او ځاله اعتبار دی لکه چي د حديث لمبر ۲ په تفصيل کي ذکر شوي دي خلاصه دا چي آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت محمديه ښيگړه او نيکي عام خودلي ده چي دا داسي آباد امت دی چي ددي هر طرف په خير او ښيگړه باندي مشتمل دی، ددي اول او آخر ټول برابر دی. يو شاعر څه ښه ويلي دي :

كأن الحب دائرة بقلبي — فأوله و آخر له سواء

دغه شان فارسي شاعر ويلي دي :

زفرق تابقدم هر كجا كه مى نگرم — كرشمه دامن دل كشد كه جا اين جا است

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

د امت محمديه حال

﴿۵﴾ عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت امام جعفر صادق رحمه الله خپل پلار نه او هغه د امام جعفر د نيکه نه روايت کوي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم

أَبْشِرُوْا وَأَبْشِرُوْا إِنَّمَا مَثَلُ أُمَّتِيْ مَثَلُ الْغَيْثِ لَا يُدْرٰي

وفرمائيل خوشحاله شئ او خوشحاله شئ خبره داده چې ځما د امت اجابت د افرادو حال د باران د

آخِرُهٗ خَيْرٌ أَمْ أَوَّلُهٗ أَوْ كَحَدِيْقَةٍ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ

حال په شان دي د هغه باره کښې ی معلومه نه ده چې د هغه آخر ښه دي او که د هغه اول ښه دي يا

عَامًا ثُمَّ أُطْعِمَ مِنْهَا فَوْجٌ عَامًا لَعَلَّ آخِرَهَا فَوْجًا

ځما د امت مثال د يو باغ په شان دي چې د هغې نه يو كال يو جماعت خوراک وکړي او د هغه نه په

أَنْ يَّكُوْنَ أَعْرَضَهَا عَرْضًا وَأَعْمَقَهَا عُمْقًا

دوهم کال يو بل جماعت وخوړلي شايد چې د مخکني جماعت په مقابله کې وروستني جماعت په

وَأَحْسَنَهَا حُسْنًا كَيْفَ تَهْلِكُ أُمَّةٌ أَنَا أَوَّلُهَا

سور او ژور والي کې زيات وي او په خوبيو کې هم د هغه نه ښه وي نو هغه امت دې ولې نيست

وَالْمَهْدِيُّ وَسْطُهَا وَالْمَسِيْحُ آخِرُهَا

او نابود شي چې د هغه اول کې زه يم د هغه په منځ کې مهدي وي او د هغه په آخر کې مسيح عيسي

وَلٰكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ فَيْجٌ أَعْوَجُ لَيْسُوْا

وي هو د دې زمانو په منځ کې يو کږ رو جماعت به پيدا شي د هغه جماعت خلق به ځما په لاره او

مِنِّيْ وَلَا أَنَا مِنْهُمْ. رَوَاهُ رَزِيْنٌ

طريقه تلونکي نه وي او زما د متبعينو نه نه دي او نه زه د هغوى نه يم.

توضيح : اطعم : حديقه لوئ باغ ته وائي او اطعم د مجهول صيغه ده او فوج د هغه نائب فاعل دي مراد له فوج نه جماعت دى . **عامًا** كال ته عام وائي .

اعرضها عرضاً : عرض پلن والي ته وائي شايد اولنې جماعت نه وروستو راتلونكى جماعت په پلن والي خوبيانو كې بهتر وي دلته مراد له پلن والي او ژور والي د جماعت نه كثرت د جماعت مراد دى

سوال : په دي مثال كې د اُمت دپاره دوه مثالونه ذكر شوي دي په دواړو كې څه فرق دى

جواب : فرق دادى چې په اول مثال كې د اُمت تشبيه د باران سره وركړى شوي ده چې دا اُمت د نورو خلكو دپاره د علم او عرفان او په خدمت او راهنمائي كې د باران په شان فائده وركونكى دى . او په دويم مثال كې د اُمت مثال د باغ او ګلانو سره وركړى شوي ده چې دا اُمت هم د ګلانو په شان دى ددې له صفاتو او كمالاتو او هداياتو نه عام خلك بهرمند دې ګويا دا اُمت د انسانانو لپاره په دنيا او آخرت كې فائده وركونكى دى لكه په راتلونكې حديث شريف كې **كنتم خير امة اخرجت للناس** په تفصيل كې راځي .

په دي حديث اُمت په **طول عرض عمق** باندې ځكه متصف شوى چې ددې تشبيه د باغ سره وركړى شوه نو باغ دپاره **طول عرض** او **عمق** وي نو ددې ذكر ضروري شو بهر حال په دي حديث كې د اُمت خوبياني او فضيلت بيان كړى شوي دي . ورسره ورسره ددې حديث په مابين كې د څه خلكو ګمراهي او كج روۍ ته هم اشاره شوي ده

فيج : په فاء باندې زبر دى او ياء ساكنه ده په آخر كې جيم دى دا مفرد دى ددې جمع افياج او فيوج ده دا دفوج په معنى سره ده دلته ددې نه مراد جماعت دى يعنې ددې په مابين كې به يو ګمراه جماعت راځي دهغوى زما سره هيڅ تعلق نه وي او نه زما هغوى سره څه تعلق شته له معتزله او خوارج او مرجيه . او د دوى پيروان .

د ايمان بالغيب په اعتبار سره د امت فضيلت

﴿٦﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ					
او حضرت عمرو بن شعيب د خپل پلار نه او هغه د خپل نيكه نه روايت كوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه ورځ					
أَيُّ	الْخَلْقِ	أَعْجَبُ	إِلَيْكُمْ	إِيمَانًا	قَالُوا
پوښتنه وكړه چې او ښائي د ايمان په اعتبار سره تاسو مخلوق كې څوك زيات خوښوئ بعض صحابو					
اَلْمَلَائِكَةُ	قَالَ	وَمَا لَهُمْ	لَا يُؤْمِنُونَ		
جواب وركړو مونږ خو د فرشتو ايمان ډير ښه او قوي ګڼو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل د فرشتو په ايمان كې					
وَهُمْ	عِنْدَ	رَبِّهِمْ	قَالُوا	فَالنَّبِيُّونَ	
څه عجيبه والي دي هغوئ خو خپل پروردګار سره او سيږي هغه اصحابو يا بعض نورو عرض وكړو					

قَالَ وَ مَالَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ
نو بیا هغه پیغمبران دي چې ځمونږ په نزد د هغوئ ایمان ډیر ښه او قوي دي حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل بلا
وَالْوَحْيُ يَنْزِلُ عَلَيْهِمْ قَالُوْا فَنَحْنُ قَالَ
د شک او شبهې نه لري هغوی به د قوي ایمان حامل وي آسمان نه وحي ورباندي راځي اوس صحابو
وَمَالَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ وَأَنَا بَيْنَ أَظْهُرِكُمْ قَالَ
وویل نو بیا مونږ خلق یو، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل ستاسو په ایمان کې څه عجیبه والي دي هر کله
فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِنَّ
چې ستاسو په منځ کې زه موجود یم راوي وايي دي نه روسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل حقیقت دا دی
أَعْجَبَ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِيمَانًا لَقَوْمٌ يَكُوْنُوْنَ
چې ځما په نزد د ایمان په اعتبار سره د تمام مخلوق نه ډیر ښه خلق هغه دي چې ځما د زمانه حیات نه
مِنْ بَعْدِيْ يَجِدُوْنَ صُحُفًا فِيْهَا كِتَابٌ
روسته پیدا شي هغه خلق به د دین مجموعه مصحف بیا مومي او په هغه کې چې څه مذکور دي په
يُؤْمِنُوْنَ بِمَا فِيْهَا.
ټولو باندي به ایمان راوړي.

د یو جماعت باره کې پیشنګوئي

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْعَلَاءِ الْحَضْرَمِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ
او حضرت عبد الرحمن بن علاء حضرمي رحمه الله وايي ما ته هغه سړي دا حدیث بیان کړو چې هغه د
مَنْ سَمِعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ
رسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلي وو حضور صلی الله علیه وسلم وفرمائیل حقیقت دا دی چې هغه زمانه راتلونکې ده کله چې
إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ آخِرِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ قَوْمٌ لَهُمْ مِثْلُ
د دې امت آخري دور کې به یو جماعت پیدا شي چې د هغه ثواب به د دې امت د ابتدائي دور د خلقو د
أَجْرِ أَوَّلِهِمْ يَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ
ثواب په شان وي د هغه جماعت خلق به مخلوق خدا ته د هغه شرعي امورو تلقین او تبلیغ کوي او هغه
عَنِ الْمُنْكَرِ وَ يُقَاتِلُوْنَ
خبرونه د منع کولو کوشش به کوي کومې چې خلاف شرع دي او د کوم چې دین سره څه واسطه او تعلق

أَهْلَ الْفِتَنِ . رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِي فِي دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ.

نښته او هغه خلق به فتنه خورونکو سره جنګيږي. دا دواړه روايتونه بيهقي دلائل النبوت کې نقل کړي دي.

توضیح: يقاتلون اهل الفتن . هر طمعه لرونکی په دې طمعه ناست دی چې ددې حديث په مصداق کې به وي لکن ياد ساتی چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې حديث په مصداق کې د داسې خلکو نشاندهي کړې ده چې په دين حق باندې قائم وي او د باطل مقابله کونکی وي بلکه د هغوی سره قتال کوي نو اُس ظاهره ده چې د باطل مقابله کونکې مجاهدين دي ددې حديث اولني مصداق مجاهدين دي له دينه بعد بيا چې څوک وي هغه دي.

د هغه اُمتيانو فضيلت چې ناديده هغوئ په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ايمان راوړي وو

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

او د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دې چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل مبارک بادي ده هغه

طُوبَى لِمَنْ رَآنِي وَطُوبَى سَبْعَ مَرَّاتٍ لِمَنْ

سړي ته چا چې زه وليدم او په مايې ايمان راوړو او اووه واره مبارک بادي ده هغه سړي ته چې هغه

لَمْ يَرَنِي وَ آمَنَ بِي. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

زه نه يم ليدلی او په مايې ايمان راوړو او ځما د نبوت تصديق يې وکړو.

﴿۹﴾ وَعَنِ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ قَالَ قُلْتُ لِأَبِي جُمُعَةَ رَجُلٌ مِنَ الصَّحَابَةِ

او حضرت ابن محيريز بيان کوي ما ابو جمعه ته [چې صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه يو سړي دې] درخواست

حَدِّثْنَا حَدِيثًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وکړو چې ځمونږ په مخکې څه داسې حديث بيان کې چې تاسو خپله د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې

قَالَ نَعَمْ أُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا جَيِّدًا

نه اوريدلي وي حضرت ابو جمعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل هو زه ستاسو مخکې يو ډير ښه حديث بيانوم يو ورځ

تَغَدَّيْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَنَا

مونږ د سهار طعام باندې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وو ځمونږ په منځ کې مشهور صحابي

أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ أَحَدٌ خَيْرٌ مِنَّا

حضرت ابو عبيده بن الجراح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم وو ابو عبيده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل يا رسول الله! آيا يو سړي زمونږ نه ښه کيدي

أَسْلَمْنَا وَ جَاهَدْنَا مَعَكَ

شي مونږ خو هغه خلق يو چې هغوئ اسلام مو قبول کړو او ستاسو سره اوږه په اوږه د دين د دښمنانو

قَالَ	نَعَمْ	قَوْمٌ	يَكُوْنُوْنَ	مِنْ	بَعْدِكُمْ

خلاف مو جهاد وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل: هو شته، او هغوئ هغه خلق دي چې ستاسو نه روسته

يُؤْمِنُوْنَ	بِيْ	وَلَمْ	يَرَوْنِيْ.	رَوَاهُ	أَحْمَدُ	وَ	الدَّارِمِيْ.

پيدا کيږي او په ما باندي ايمان راوړي کله چې هغوئ به زه ليدلي هم نه يم دا روايت احمد او دارمي

وَرَوَى رَزِيْنٌ عَنْ أَبِيْ عُبَيْدَةَ مِنْ قَوْلِهِ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَحَدٌ خَيْرٌ مِنَّا إِلَى آخِرِهِ.

نقل کړی دي او رزين دا روايت د حضرت ابو عبيده نه د هغه خپلو الفاظو سره تر آخر پوري نقل کړی دي

د طائفه منصوره فضيلت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او د حضرت معاويه بن قره رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دي چې هغه د خپل پلار نه نقل کوي هغه وويل

إِذَا	فَسَدَ	أَهْلُ	الشَّامِ	فَلَا	خَيْرَ	فِيْكُمْ	وَلَا	يَزَالُ طَائِفَةٌ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل هر کله چې اهل شام تباه شي نو بيا به په تاسو کې خير نه وي او څما په امت کې به

مِنْ	أُمَّتِيْ	مَنْصُوْرِيْنَ	لَا	يَضُرُّهُمْ	مَنْ	خَذَلَهُمْ

يو جماعت داسې وي چې د دين دښمنانو باندي غالب کې دو د پاره هغوئ ته به د الله نصرت او تائيد

حَتّٰى	تَقُوْمَ	السَّاعَةُ	قَالَ	ابْنُ	الْمَدِيْنِيْ

حاصل وي دي جماعت ته هغه سړي هيڅ نقصان او ضرر نشي رسولي چې د هغوی تائيد او اعانت

هُمْ	أَصْحَابُ	الْحَدِيْثِ.

ترک کړي تر دي پوري چې قيامت قائم شي او ابن مديني رَحِمَهُ اللهُ وايي د دي جماعت نه مراد ارباب

رَوَاهُ	التِّرْمِذِيُّ	وَقَالَ	هٰذَا	حَدِيْثٌ	حَسَنٌ	صَحِيْحٌ.

حديث دي دا روايت ترمذي نقل کړی دي او ويلي يي دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

توضيح: **فسد اهل الشام:** د علم او عمل او عقيدي په اعتبار سره چې کله اهل شام برباد شي بيا ستاسو د هيڅ يو کس بهلائي نشته يا دا مطلب چې کله اهل شام برباد شي بيا د هغوی طرف ته هجرت کول او هلته سکونت کولو کې هيڅ خوبي نشته. نن سبا په شام باندې د شعيه نصيري جماعت حکومت کوي اهل اسلام د هغه ځای نه تښتې شايد دا پيشنگوئي اوس پوره شوي وي چې شام فاسد شوی دی.

تقوم الساعة: يعني تر قرب قيامت پورې دا د اهل حق طائفه منصوره به قائمه اوسي ملا علي القاري ليکلي دي چې دا ضروري نده چې دا طائفه منصوره به په شام کې وي بلکه دا د مجاهدينو طائفه ده چې

دنيا په مختلفو برخو کې د الله د دين د سربلندي لپاره جنګيږي دا تر کوم وطن پورې خاص نه دي.

هم **اصحاب الحدیث**. علي بن المديني ډير لوي محدث دي هغه فرمائې مراد له دي طائفې نه اصحاب حديث دي له دي لفظ نه شايد غير مقلدين ډير خوشحاله شي چې دا مونږ يو مګر دا خيال صحيح ندی ځکه دا اصطلاح د محدثينو په نزد ډيره پخوانی ده هغه وخت غير مقلدين په اهل ظواهر باندې مشهوررو د اهل حديث په نوم دا هيچا نه پيږندل. کوم وخت چې د کوم جماعت تصور هم نه وي بيا علي بن المديني څنګه د هغوی تصوير کشي فرمائي. عجيبه خبره داده چې د اهل حديث لفظ غير مقلدينو ته په هندوستان کې د برتانيه حکومت هغه وخت ورکړی وو چې مولانا محمد حسين بټالوي د جهاد خلاف او د انګريز سره د نه جنګيدلو په حمايت کې يو کتاب وليکلو چې د هغه نوم. الاقتصاد في مسائل الجهاد. کيښود او دې په صله د يو سرکوليشن په ذريعه. اهل حديث. نوم غير مقلدينو ته ډالي کړی شو همدارنګه دا خبره هم يادساتی. چې په زير بحث حديث کې د اصحاب الحديث الفاظ دي د اهل حديث الفاظ ندي اصحاب حديث د محدثينو د جماعت نوم دي ملا علي القاري رحمه الله فرمائي چې مراد د اصحاب الحديث نه اهل حق دي چې هغوی د حديثو تعليم او تعلم اوکړو او په درس او تدريس سره ئې د حديثو خدمت اوکړو هغوی ټول عمر په دې کې صرف کړو او په کتاب او سنت باندې ئې عمل اوکړو چې اهل السنت والجماعت په نوم سره ياديږي ګويا ملا علي القاري. اهل الحديث نه اهل السنت والجماعت مراد اخلي.

دي امت ته خطا او نسيان معاف دي

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ
او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائيل الله! زما امت ته
عَنْ أُمَّتِيَ الْخَطَأَ وَالنِّسْيَانَ وَمَا اسْتُكْرِهُوْا عَلَيْهِ
خطاء او نسيان معاف کړي دي او د هغه ګناه نه يې هم ورته معافي عطا کړي ده چې په هغه کې په
رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ وَالْبَيْهَقِي.
زبردستی مبتلا شوي وي. ابن ماجه او بيهقي

توضیح: تجاوز د معاف کيدو په معني سره ده. امتي نه مراد امت اجابت دي امت دعوت مراد ندي.

الخطاء په غير ارادي طريقه سره د يو کس نه يو نادرست کار او شي ديته خطاء ويلی شي خطا نادرست دي چې ضد ئې په درست سره نامداره کيږي يعني يو کس صحيح کار کولو چې په غلطي سره په غير صحيح کار کې واقع شو هغه معاف دي بعض علماء ليکي چې په غير ارادي طور سره يو کار انجام شي ديته خطاء نه بلکه اخطاء ويلی شي دا صيغه د باب افعال نه استعماليږي د مثال په طور سره يو کس ښکار ويشتلو لکن ګولی يا مرد ګی لاړو او يو انسان اولګيدو يا يو کس ټوپک صفا کولو چې

او چليدو او يو کس او لګيدو او مړ شو دا خطا ده په دي کې چې کوم معاملات په حق الله کې راځي هغه په دنيا او آخرت کې معاف دي مواخذه پري نشته لکن کوم معاملات چې په حقوق العباد پوري متعلق دي هغوی په دنيا کې مواخذ او معاوضه شته معاف کيږي نه لکه په قتل خطاء کې ديت ددې ټول تفصيل د اصول الفقه په کتابونو کې وګوری.

نسيان : په نسيان کې هم تفصيل دي په بعض مقاماتو کې نسيان معاف دی لکه په روژه کې څه خوراک يا څکاک وکړی معاف دي لکن دا نسيان په مانځه کې معاف ندی لهذا دلته له نسيان نه مطلق نسيان مراد ندی.

وما استکرهوا : يعنې چا په چا باندې زور زبردستي اوکړه نو دا معاف دي په چا چې زبردستي شوي اګر چې هغه ته د قتل او سخت وهلو دمکي نه وي ورکړی شوي بيا هم د زبردستي په نتيجه کې چې کومه ګناه صادره شي هغه معاف ده دلته هم علماؤ ليکلي دي چې په استکراه هم په حقوق الله او حقوق العباد کې فرق دي ځانله ځانله قسمونه او صورتونه او حيثيتونه دي لهذا په دي کې هم د اصول الفقه تفصيلات مدنظر کړی شي . نن سبا د استکراه ټول صورتونه په مجاهدينو باندې تپلی شي دوی د کفارو د هغوی د مزدورانو د طرف نه په قسم قسم تکليفونو کې ساتلی شي اغزن تار ترينه تاوولی شي او ګيس ورباندې راخلاص کړي ترڅو اقرار ترينه واخلي اوګوري . فلسطين . افغانستان . پاکستان . کشمير . او دچيچنيا عقوبت خاني دمظلومانو په وينو رنګينه او غمزده دي له کلونو کلونو راهيسي په هغوی باندې جبر او استبداد کيږي او استکراه وحشت ناک واقعاتو لاندې د هغوی دکفارو او دهغوی د مزدورانو د مرضي مطابق بيانات اخستلي کيږي او په دي طريقه سره خپلي غلطي پاليسي ته جواز ورکوي الله تعالی دي ددې مظلومانو مدد اوکړي او د ظالمانو لاس دي الله مات کړی او د مجاهدينو د وينو په برکت سره په دنيا باندې د اسلام جنډه رپانده کړی.

آمين يا رب العالمين وصلی الله تعالی علی حبيبه الکريم محمد واله و اصحابه اجمعين.

وَذٰلِكَ فِيْ ذَاتِ الْاِلٰهِ وَاِنْ يَشَاءُ . يُبَارِكْ عَلٰى أَوْصَالِ شَلْوٍ مُمَزَّعٍ

د امت محمديه لوی فضيلت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ								
او حضرت بهز بن حکيم بن معاويه بن حيده قشيري بصري رَحمَہُ اللہُ د خپل پلار نه او هغه د بهز نيکه نه								
يَقُوْلُ	فِيْ	قَوْلِهٖ	تَعَالٰى	كُنْتُمْ	خَيْرَ	أُمَّةٍ	أُخْرِجَتْ	لِلنَّاسِ
او د خپل پلار حضرت معاويه نه روايت کوي هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د الله ! د دي ارشاد : (کُنْتُم								

قَالَ أَنْتُمْ تُتِمُّوْنَ سَبْعِيْنَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا
خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ) په تفسیر کې دا فرمائیل واوریدل چې اې اهلِ اسلامو! تاسو اویا امتونه
عَلَى اللهِ تَعَالَى، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَةَ
پوره کوئ او د الله! په نزد تاسو د هغه ټولو امتونو نه بهتر او قدرمن يې، دا روایت ترمذي ابن ماجه
وَالدَّارِمِي وَقَالَ التِّرْمِذِي هٰذَا حَدِيْثٌ حَسَنٌ.
او دارمي نقل کړی دي او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث حسن دي.

توضیح : كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ: د امت دوه قسمونه دي يو امت دعوت دي بل امت اجابت دي په امت دعوت کې ټول هغه کفار داخل دي چې هغوی ته د اسلام دعوت ورکول لازمي په مسلمانانو لازم دي او امت اجابت هغه ټول مسلمانان دي چې هغوی اسلام قبول کړی وي او په اسلام قائم وي. په زیر بحث حدیث کې د امت اجابت صفات بیان کړی شوي. كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ. ددې لفظ ترجمه داده. تاسو بهترین امت یاست چې د خلکو د بهترۍ لپاره راویستلی شوي یاست. اوس سوال دا دی چې ددې خطاب تعلق د کومي زماني سره دی د زمان ماضي سره یا د حال یا د استمرار سره. ملا علي قاري رحمه الله ددې په شرحه کې څو احتمالات بیان کړی دي يو احتمال او مطلب دادی چې دعلم قدیم مطابق له اولي ورځې نه الله تعالی دا امت د رشد او هدایت په خصوصي صفاتو سره پیدا شوي چې دهغوی ظهور د آنحضرت ﷺ د راتګ نه ورسته شوی ګویا ددې خطاب تعلق د زماني ماضي سره دي صیغه هم د ماضي مطلب دا شو چې د الله تعالی په پخوانۍ فیصلي کې تاسو اول بهترین امت یاست. ملاعلي القاري رحمه الله وائي چې دویم احتمال دادی چې په لوح محفوظ کې ددې اُمت د بهترۍ ذکر موجود وو دارنګ بهتر صفت والا اُمت په آینده کې راتلونکی ده.

دریم احتمال دادی چې په تیرو شویو امتونو کې همیشه د امت محمدیه ذکر خیر کیدو هغه مراد دی مطلب دادی چې صیغه د ماضي بعید استعمال کړی شوي ده په دي کې دوام او استمرار دي انقطاع ندي لکه. وَكَانَ اللهُ غَفُوْرًا رَحِيْمًا. کې دوام او استمرار دي انقطاع نشته په دي وجه بعض مفسرینو په. كُنْتُمْ. کې کان د صار په معني اخستي ده او بعضو. كُنْتُمْ. د انتم په معني سره اخستی دی بهر حال په دي آیت مذکوره کې د امت قدیم تاریخ ته اشاره شوي ده او د الله تعالی په نزد ددې امت قدیم تقرر بیان کړی ده چې په دي کې ددې اُمت علیشان اهتمام ظاهر کړی شوی دی چې د الله تعالی په علم ازلي کې یا په لوح محفوظ کې په ټولو امتونو کې ددې اُمت ذکر خیر چلیږي.

اوس پاتي شوه دا خبره چې په. كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ. کې کوم خطاب شوي ده دا د کومي طبقي د اُمت سره

وابسته دی او د امت کومه طبقه ددې مصداق دي په دي کې هم څو اقوال دي یو قول دادی چې ددې اعزازي خطاب مصداق دټول امت مسلمانان دي یعنې ددې اُمت ټول مسلمانان په . خَيْرَ أُمَّةٍ . کې داخل دي د زیر بحث حدیث مفهوم په همدي دلالت کوي . دویم قول دادی مصداق صرف مهاجرین دي . دریم قول دادی چې ددې مصداق دأمت علماء او شهیدان او خوصي صالح خلک دي .

حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي . ان هذه الاية تكون لاوّ لنا ولاتكون لآخرنا . یعنې ددې آیت تعلق ددې امت د اولي حصي صحابه کرامو سره دی له دي نه وروسته سره ئي تعلق نشته چنانچې د یو سرکاري فرمان مطابق حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې آیت خیر او بهلائې د جهاد او ایمان سره مشروط فرمائيلي . حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې آیت مفهوم . (خَيْرُ الْقُرُونِ قَرْنِي ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ .. حدیث په روښني کې بیان فرمایلي چې د اُمت دا خیر او فضیلت د صحابه کرامو سره خاص دی تر ټولو پورې عام ندی بهر حال شارحینو ددې حدیث عموم خوښ کړی او اختیار کړی او ویلي دي چې صحیح ایمان او صحیح عقیده او په صالحو اعمالو باندې قائم ټول مسلمانان ددې حدیث مصداق دې ګویا د فضیلت عام شرط دادی چې اُمت په خپل اصل ذمه داری باندې قائم وي او کامل ایمان او مکمل جهاد وي .

أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ . یعنې د خلکو د خیر دپاره دا اُمت را وړلی شوي دي ملا علي قاري په مرقات کې نقل کړی دی چې حضرت ابوهریرة ددې جملي تفسیر داسې فرمایلي ده . معناه كُنْتُمْ خَيْرَ النَّاسِ تَجِيئُونَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فتُدخِلونَهُمْ فِي الاسْلَامِ . امام بخاري د حضرت ابوهریره او حضرت ابن عباس نه ددې آیت په تفسیر کې داسې حدیث نقل کړی .. قَالَ معناه خَيْرَ النَّاسِ تَأْتُونَ بِهِمْ فِي السَّلَاسِلِ فِي أَعْنَاقِهِمْ حَتَّى يَدْخِلوا فِي الاسْلَامِ . (ابن کثیر)

د حضرت ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په یو روایت کې دا نقل دي چې . نَحْنُ خَيْرَ النَّاسِ لِلنَّاسِ نَسُوقُهُمْ بِا السَّلَاسِلِ إِلَى الاسْلَامِ . (تفسیر قرطبي) ددې ټولو روایتونو خلاصه داشوه چې د اُمت دخیر او فضیلت مطلب دادی چې د کافرانو سره جهاد وکړی شي کافران د جهاد په میدان په زنجیرونو باندې تړلو سره د اسلام طرف راښکلی شي چنانچې لکونو کافران په میدان جنګ کې د ګرفتاری نه بعد مسلمان شوي چې په دي باندې د اسلافو تاریخ ګواه دی زره ملاحظه کړی چې د حسن بصري او ابن سیرین ابا او اجداد ګرفتار کړلی شوي راوستلی شوي چې د دوی په اولادونو کې د حسن بصري او ابن سیرین په شان فقهاء او مفسرین پیدا شوي وو او دأمت سرخیل جوړشول شیخ

قتاده د دې آیت په تفسیر کې فرمائې . هُمْ أُمَّةُ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم لَمْ يُؤْمَرْ نَبِيٌّ قَبْلَهُ بِالْقِتَالِ . اي مثل هذا . فَهُمْ يُقَاتِلُونَ الْكُفَّارَ فَيُدْخِلُونَهُمْ فِي دِيْنِهِمْ فَهُمْ خَيْرُ أُمَّةٍ لِلنَّاسِ . مرقات .

بهر حال د نبي کریم ﷺ د عظیم جهاد او د اُمت د بهترینو معرکو نه دا امت بهرین امت جوړ شولو د د آنحضرت ﷺ د نبوت د برکت نه دا امت افضل امت او منلی شو علامه بوصیري په قصیده برده کې فرمائي

لَمَّا دَعَا اللهُ دَاعِيْنَا لِطَاعَتِهِ ... بِأَكْرَمِ الرُّسُلِ كُنَّا أَكْرَمُ الْأُمَمِ

سَبْعِيْنَ أُمَّةً: د اویا وو عدد د تحدید لپاره ندي بلکه د کثرت لپاره دي مطلب دا شو چې تاسو د بي شماره سابقه امتونو د تکمیل لپاره رالیږلی شوي یاست یعنې لکه څنګه چې د ټولو انبیاء کرامو دپاره آنحضرت ﷺ خاتم النبیین دي همدا شان تاسو د ټولو امتونو دپاره خاتم امم یاست .

په یو بل حدیث شریف کې آنحضرت ﷺ فرمائي أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَلَا أُمَّةَ بَعْدَكُمْ . ملا علي قاري فرمائي . وَفِيْهِ إِيْمَاءٌ إِلَى أَنَّ خِتَامُهُ مِسْكٌ فِي الْإِخْتِتَامِ .

یعنې په دې حدیث کې د دې امت په هدایت د خاتمي طرف ته اشاره شوي ده چې ورته حسن خاتمه ویل کیږي او د نورو تکمیل دپاره په منزله د مهر ده یعنې د تمامو امتونو لره سر بمهر کولو دپاره الله تعالی دا اُمت رالیږلی ده .

علامه بغوي رحمه الله سره د سند نه یو حدیث مرفوع نقل کړی ده چې پکې دا الفاظ دي .

إِنَّ الْجَنَّةَ حُرِمَتْ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ كُلِّهِمْ حَتَّى أَدْخُلَهَا وَحُرِمَتْ عَلَى الْأُمَمِ حَتَّى تَدْخُلَهَا أُمَّتِي . مرقات .

د اویا عدد په باره کې ملا علي القاري رحمه الله فرمائې که له دینه اویا امتونه مراد وي نو اویا لوی لوئ اُمتونه ترینه مراد دي چې د دعوی په ضمن کې واړه واړه امتونه داخل دي یعنې د لویو امتونو ذکر ئې اوکړو او واړه او متونه ئې پریښول . بهر حال په دې ورستني حدیث کې د امت حسن ابتداء او حسن خاتمه دواړو طرف ته اشاره شوي ده شاید صاحب د مشکاة هم د خپل کتاب خاتمه په دې حدیث د دې مقصد لپاره کړې وي چې د کتاب حسن خاتمي طرف ته اشاره شي .

ختامه مسك

دمشکاة شریف په آخري حدیث کې چې کوم حدیث ذکر دي ما په نورو ځایونو کې تفسیرونو کتلو سره ددې آیت تفسیر او تفصیل لیکلی دی چونکه په دې تفصیل کې دډې آخري حدیث توضیح او تشریح هم شته او دآیت مکمل تفسیر او تفصیل هم له دي وجه ختامه مسک دي تفصیل لره دخپل کتاب توضیحات په آخر کې شامل کوم انشاءالله فائده به وي.

كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ. (سورة آل عمران آیت ۱۱۰)

په دي آیت کې د سیاق او سباق په لحاظ سره په اهل کتابو او مسلمانانو کې تقابلي نقشه پیش کړی شوې ده چې اهل کتابو خپل کار ریخی دی او مسلمانو لره د دو د فریضې متعلق همت ساتل پکار دي چې ستاسو حیثیت کوم د الله په نزد دی هغه او پیژنئ او حق ئي اداء کړئ ستاسو حیثیت وقتي ندی ټول وقتي دی تاسو لره د امر بالامعروف دپاره انتخاب شوې یاست چې ورسره نهي عن المنکر لازمي جز دی دا ستاسو مستقل کار دی د حالاتو د عارضي تبدیلۍ د وجې تاسو دخپل مستقل کار نه مه پشا کیږي.

الغرض په دې آیت کې د اُمت محمدیه علی صاحبها الف الف سلام وتحیة فضیلت بیان شوی دی او خیرت او فضیلت هغه اسباب بیان شوي دي چې دکوم د وجي نه چې دا اُمت خیر امم جوړ شوي دي. اول سبب امر بالمعروف. دویم سبب نهي عن المنکر دي دریم سبب ایمان بالله دی او دا چونکه هغه ممتاز ایمان دی چې د مخکنو دوه سببونه په کوم اُمت کې څومره مؤثر اوسي هغومره به ددې اُمت ایمان قوي وي ددې وجي ایمان بالتبع دریمه درجه ورکړی شوه اوس دوه څیزونه قابل د کتو دی.

اول دا چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر څه شئ دي دویم دا چې ددې آیت مصداق څوک دي. د اولې خبرې متعلق په مخکنو اوراقو کې تفصیلي بیان او شو دلته ورته اشاره کوو چې امر بالمعروف هر هغه کار دی چې د شریعت اسلامیه د رو نه معروف او پسندیده وي. او منکر هر هغه کار دی چې دشرع شریف له مخې هغه ناپسندیده وي په امر بالمعروف کې ادني نه ادنی او د اعلی اعلی نیکۍ داخل دي او همداشان په نهي عن المنکر کې دبدۍ نه بد او د ورکوټې نه ورکوټې ګناه داخل ده په دي کې هیڅ تخصیص نشته.

یو دشریعت ایجابي طرف دی او بل د شریعت سلبي طرف دی اول ته امر او مامورات او دویم ته نهي او منهیات نوم ایښودی شوی. اوس معروف. سنن او مستحباتو ته هم شامل دی او فرائض او واجباتو ته هم شامل دی همداشان منکر. مکروهاتو ته هم شامل دی او حرامو ته هم شامل دی مثلا د لارې نه اغزی لرې کول او د ملاقات په وخت کې خندرو ملاقي کې دل هم په معروف کې راځي او د توحید کلیمي ته د کفارو دعوت کول هم په امر بالمعروف کې راځي همداشان په کنړ لاس باندې خوراک څکاک دا هم په

منکر کې راځي او ددې نه منع کول هم نهي عن المنکر ده کفر او شرک منکر دي او ددې منع کول هم نهي عن المنکر دي

یعنې یو ابتدائې او ادنی درجه او بل انتهائي او اعلي درجه ده نو چا چې ځان په کومه درجه کې مشغول کړو هم هغه درجه به ورته میلاویږي. مثلا یو کس سنن او مستحباتو ته دعوت ورکوي او د مکروهاتو نه منع کوي هغه به ددې مناسب درجه پیدا کوي او یو شخص ایمان او اسلام ته دعوت ورکوي او د کفر او شرک نه منع کوي دا به همدغه درجه پیدا کوي د دواړو درجې جدا جدا شوي ظاهره خبره ده چې څومره غټ کار وکړی هغومره غټه درجه به ورته میلاویږي او څوک چې کار ورو کی وکړي او دعوي د غټ او ډیر ثواب لري دا ددې شخص ناپوهی ده

دلته دا خبره په ذهن کې ساتئ چې کوم کس په دې دواړو کارونو کې یو اوکړی او بل پریږدي یعنې امر بالمعروف وکړی او نهي عن المنکر پریږدي دا کس ددې آیت مصداق نشي جوړیدی. د امر بالمعروف ثواب به دته میلاویږي لکن د خیر الامم مکمل مصداق نشي جوړیداي لیکن سیدنا حضرت عمر بن الخطاب په صفا الفاظو کې ذکر کړی دي

مَنْ فَعَلَ فِعْلَهُمْ كَانَ مِثْلَهُمْ. یعنې کومو خلکو چې دصحابه کرامو په شان کار وکړو نو دوی هم دهغوی په شان دی:

أن عمر بن الخطاب رأى من الناس دعة في حجة حجها فقرأ هذه الآية. **كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ**، ثم قال: من سره أن يكون من هذه الأمة فليؤد شرط الله فيها في الامر والنّهي».

یعنې حضرت عمر رض چې کله دحج په موقع خلک ارام کونکې اولیدل نو دا آیت ئې اولوستو او وې فرمایل دچا چې خوښه وي چې خیر امت جوړ شي نو د الله شرط دې پوره کړی یعنې امر بالمعروف او نهي عن المنکر دې وکړی حاصل دادی چې دخیر الامم د فضیلت حاصلولو دپاره ضروري ده چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر سره سره زندګي تیره وي.

دویم څیز چې ددې آیت مفهوم او تفسیر څه دي او ددې مصداق څوک دی نو ددې لپاره مونږ د سلف الصالحین او معتمدو مفسرینو د تشریحاتو طرف ته رجوع کول دي ځکه د آیت د مصداق معلومه ولو لپاره په مفسرینو اعتماد کول دي ورنه هر سړي به د خپل عمل پورې یو آیت چسپه وي نو واخلئ د ابن کثیر حواله حاضره ده.

﴿۱﴾ قال ابن الكثير رحمه الله قال البخاري: بسنده عن أبي هريرة: { **كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ** } قال: خَيْرَ الناس للناس، تأتون بهم في السلاسل في أعناقهم حتى يدخلوا في الإسلام وهكذا قال ابن عباس، ومُجاهد، وعِكْرِمة، رحمهم الله. ابن كثير ج ۱ صـ ۱۹۱ .

ابن كثير رحمه الله وائي چې امام بخاري رحمه الله په خپل سند سره د حضرت ابو هريرة رض نه د { كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ } تفسير دا رنګه بيان كوي ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي تاسو بهترين امت خير خواه أمت ياست راولی دوی لره په زنځيرونو كې د دوي په غاړو كې ترڅو داخل شي په اسلام كې

﴿۲﴾ وقال القرطبي : قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ نَحْنُ خَيْرُ النَّاسِ لِلنَّاسِ نَسُوْقُهُمْ بِالسَّلَاسِلِ إِلَى الْإِسْلَامِ . .

رواه الترمذي .

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ هُمُ الَّذِيْنَ هَاجَرُوا مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِيْنَةِ وَشَهِدُوْا بَدْرَ وَالْحُدَيْبِيَّةَ . . جلد ۴ ص ۱۷۰.

يعنې علامه قرطبي رحمه الله فرمائي چې حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او فرمائيل چې مونږ بهترين امت يو . دوي په زنځيرونو كې بند وو د اسلام طرف ته ئي كش كوو . ترمذي . ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي چې خير الناس هغه خلك دي چې هغوی د مكې نه مدينې طرف ته هجرت كړی دی او په جنګ بدر او جنګ احد كې په جهاد كې شريک شوې دي .

قَالَ الْقُرْطُبِي أَيْضًا : وَرَوِي سُفْيَانُ ، عَنْ مَيْسَرَةَ الْأَشْجَعِيِّ ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ { خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ } قَالَ تَجُرُّوْنَ النَّاسَ بِالسَّلَاسِلِ إِلَى الْإِسْلَامِ .

يعنې ابو هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي چې تاسو ځكه بهتر امت يي چې تاسو خلكو لره په زنځيرونو باندې تړلو سره د اسلام طرف ته را كش كوئ . . جلد ۴ ص ۱۷۰ .

قَالَ الْقُرْطُبِي أَيْضًا : فجعل تعالي الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر فرقا بين المؤمنين والمنافقين ؛ فدل علي أن أخص أوصاف المؤمن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر ، ورأسها الدعاء إلي الإسلام والقتال عليه . . جلد ۴ ص ۴۷ .

ديو بل آيت په تشريح كې امام قرطبي رَحِمَهُ اللَّهُ داسې فرمائي چې الله تعالى د منافقينو او مؤمنانو په مابين كې مابه الامتياز فرق . امر بالمعروف او نهي عن المنكر . كرځولی دی . پس صفا ظاهره خبره ده چې د مؤمن صفت خاص امر بالمعروف او نهي عن المنكر دی او په دې بنياد اسلام دعوت وركوي او جنګيږي جهاد كوي .

علامه قرطبي رحمه الله مزيد فرمائلي دي :

فالمنكر إذا أمكنت إزالته باللسان للناهي فليفعله ، وإن لم يمكنه إلا بالعقوبة أو بالقتل فليفعل ، فإن زال بدون القتل لم يجز القتل ؛ . جلد ۴ ص ۴۹ .

يعنې كه منع كولو والا ته په ژبه سره د هغه منع كول ممكن وو نو په ژبه سره دې منع كړی او د منكر ازاله په بغير د سزا او قتل ممكن نه وه بيا دې داسې وكړی او كه بغير د قتل نه ازاله ممكنه وه بيا قتل جائز ندي .

علامه قرطبي رحمه الله په يو مقام کې داسې ليکلي دي .

قال ابن عطية : والإجماع منعقد علي أن النهي عن المنكر فرض لمن أطاقه وأمن الضرر علي نفسه وعلي المسلمين ؛ فإن خاف فينكر بقلبه ويهجر ذا المنكر ولا يخالطه. وقال حذاق أهل العلم : وليس من شرط الناهي أن يكون سليما عن معصية بل ينهي العصاة بعضهم بعضا.

يعنې ابن عطيه رحمه الله فرمايلي دي چې په دې باندې اجماع منعقده ده چې نهي عن المنكر فرض ده په هغه کس باندې چې دا طاقت لري او د نهي عن المنكر په صورت کې نورو مسلمانانو ته د ضرر رسولو نه بې خوفه وي او که د ځان خطره وي بيا دې په زړه سره بد ګڼي او د منکر کونکې سره دې تعلق قطع کړي او هيڅ قسم اختلاط دې ورسره نکوي او د نهي عن المنکر د پاره معصوم کېدل شرط نه دی بلکه ګنهګار هم نورو ګنهګارانو له د ګناه نه منع کولې شي . علامه قرطبي رحمه الله مزيد فرمائلي دي :

وقال مجاهد : {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} على الشرائط المذكورة في الآية.

يعنې مجاهد فرمايلي دي . تاسو بهترين أمت ياست لکن دا بهتري مشروطه ده په هغه شرطونو چې په آيت کې ذکر دي يعنې امر بالمعروف او نهي عن المنکر.

﴿۱﴾عَنْ وفي روح المعاني : والخطاب قيل : لأصحاب رسول الله صلى الله تعالى عليه وسلم

او په روح المعاني کې دي چې . او په روح المعاني کې د ضحاک رحمه الله خيال دادی چې . کنتم خير

خاصة وإليه ذهب الضحاك ، وقيل :للمهاجرين من بينهم وهو أحد

امة . دا خطاب خاص ده تر صحابه کرامو پورې او بعض ويلي دي چې دا تر مهاجرينو پورې خاص دی

خبرين عن ابن عباس، وفي آخر أنه عام لأمة

او دا د ابن عباس يو روايت دی او دده دويم روايت دادی چې دا آيت تر ټول امت ته عام دي لکن ظاهره

محمد صلى الله تعالى عليه وسلم، واظاهر ان الخطاب

او واضح خبره داده چې دا آيت او خطاب اګر چې د هغه مؤمنانو د پاره دي چې هغوی د وحي مشاهده

وان كان بمن شاهد الوحي من المؤمنين او ببعضهم

کړې ده يا په ديکې د بعض د پاره دی مګر د دې خطاب حکم دا صلاحيت لري چې دا فضيلت د ټول امت

لكن حكمه ان يكون عاما للكل.

د پاره شي او ابن منذر وغيره د ابن عباس نه نقل کړی كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ

تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ . اخرج ابن المنذر وغيره عن ابن عباس

وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ معنی داچې تاسو خلکو ته حکم ورکړی چې کلمه د توحید او کلمه دشهادت

ان المعنی تأمرونهم ان يشهدوا ان لا اله الا الله

اومنی . اوددې ګواهي ورکړي او څه چې الله تعالی نازل کړی دی دهغه اقرار وکړي . د انکار په

ويقروا بما انزل الله تعالى وتقاتلونهم عليها ولا اله الا الله

صورت کې . تاسو دهغوی سره وجنګيږي او لااله الا الله ترټولو لوي معروف او نيکي ده او دآيت د

هو اعظم المعروف وتنهون عن المنكر والمنكر هو التكذيب

دويم شق مطلب دادی چې تاسو خلک د بدو نه منع کړی او تر ټولو لويه بدي او منکر دادی چې د

وهو انكر المنكر وكانّه رضي الله عنه حمل المطلق على الفرد

حق دين تکذيب وکړی شي صاحب د روح المعاني فرمائي چې ابن عباس معروف او منکر اطلاق

الكامل والا فلا قرينة على هذا التخصيص . جلد ۴ ص ۲۸

دهغوی په فرد کامل باندې کړی دي ورنه ددې تخصيص هيڅ قرينه نشته.

فائده. ددې بحث نتيجه دا راووتله چې دآيت اولی مصداق خو جهاد دی بيا ددې په ضمن کې نوري نيکياني هم داخل دي بيا دآيت اولين مخاطبين خو صحابه کرام دي بيا ددې بعد ټول امت مخاطب دي تفسير کبير يوسوال کړی دی چې ددې آيت متعلق دی او بيائي جواب ورکړی دی . سوال او جواب او بيا ددې ترجمه ملاحظه کړئ.

وفي التفسير الكبير

﴿١﴾ السوال الاول "مِنْ أَيِّ وَجْهٍ يَقْتَضِي الْأَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْإِيمَانُ بِاللَّهِ كَوْنَ

السوال . د څه وجې نه امر بالعمروف او نهي عن النمکر او ايمان بالله تقاضا ده چې دا امت د ټولو

هَذِهِ الْأُمَّةِ خَيْرَ الْأُمَمِ مَعَ أَنَّ هَذِهِ الصِّفَاتِ كَانَتْ حَاصِلَةً فِي سَائِرِ الْأُمَمِ ؟

امتونو نه افضل او بهتر دي حالانکه دا دري واړه اوصاف په مخکې نو امتونو کې هم موجود وو .؟

وَالْجَوَابُ : قَالَ الْقَفَّالُ : تَفْضِيلُهُمْ عَلَى الْأُمَمِ الَّذِينَ كَانُوا قَبْلَهُمْ

جواب . قفال عليه الرحمة فرمائي ددې اُمت فضيلت په نورو امتونو باندې څکه دی چې دې امت

إِنَّمَا حَصَلَ لِأَجْلِ أَنَّهُمْ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ بِآكَدِ
د امر بالعمروف او نهي عن المنكر ټولو وجوهاتو نه د مظبوط ترينې وجهې سره کوي او هغه دی
الْوُجُوهِ وَهُوَ الْقِتَالُ ؛ لِأَنَّ الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ قَدْ يَكُونُ بِالْقَلْبِ وَبِاللِّسَانِ
قتال او جهاد بالسيف . ځکه امر بالمعروف کله په زړه سره کيږي او کله په ژبې سره کيږي او کله په
وَبِالْيَدِ وَأَقْوَاهَا مَا يَكُونُ بِالْقِتَالِ لِأَنَّهُ إِلْقَاءُ النَّفْسِ فِي خَطَرِ
لاس سره کيږي د لاس قوي ترينه درجه قتال او جهاد بالسيف دی ځکه په جهاد کې خپل نفس په
الْقَتْلِ، وَأَعْرَفُ الْمَعْرُوفَاتِ الدِّينُ الْحَقُّ وَالْإِيمَانُ بِالتَّوْحِيدِ
خطره کې اچول دي او په نکې انو کې قوي نيکې په دين حق او توحيد او نبوت باندې ايمان راوړل
وَالنُّبُوَّةِ ، وَأَنْكَرُ الْمُنْكَرَاتِ الْكُفْرُ بِاللّٰهِ، فَكَانَ الْجِهَادُ فِي الدِّينِ
دي او ترټولو لويه بدي کفر دی . پس په جهاد کولو سره يو لوی مصيبت او خطره برداشت کول دي
مَحْمَلًا لِأَعْظَمِ الْمَضَارِّ لِغَرَضِ إِيصَالِ الْغَيْرِ إِلَى أَعْظَمِ الْمَنَافِعِ
ترڅو انسانان لوئي نفع ته ورسولی شي .او د کفر له لوی مصيبت نه ئه په آمان کړي نو ثابته شوه چې
وَتَخْلِيصِهِ مِنْ أَعْظَمِ الْمَضَارِّ ، فَوَجَبَ أَنْ يَكُونَ الْجِهَادُ أَعْظَمَ الْعِبَادَاتِ.
جهاد ترټولو لوئ عبادت دي چونکه زمونږ په شريعت کې جهاد ټولو شرائعو ته په نسبت قوي او
وَلَمَّا كَانَ أَمْرُ الْجِهَادِ فِي شَرْعِنَا أَقْوَى مِنْهُ فِي سَائِرِ الشَّرَائِعِ لَا جَرَمَ صَارَ
زيات دی نو ددې نتيجه دا وو تله چې جهاد په ټولو امتونو باندې د فضيلت او برتري سبب
ذٰلِكَ مُوجِبًا لِفَضْلِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى سَائِرِ الْأُمَمِ.
دی .تفسير کبير ج ۸ ص ۱۹۱ – ۱۹۲

وفي أحكام القرآن للجصاص . اَلْجِهَادُ ضَرْبٌ مِنَ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنِ الْمُنْكَرِ. ج ۳ ص ۱۱۹

او جصاص په احکام القرآن کې فرمائيلي دي چې جهاد د امر بالعمروف او نهي عن المنکر يو اعلی قسم دی .

حضرت مفتي تقي عثماني په معارف القرآن کې ليکې : اګر چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه په مخکې نو امتونو باندې هم عائد وه چې تفصيل ئې په صحيحو احاديثو کې ذکر دی لکن اول دا چې په مخکې نو امتونو باندې د جهاد حکم نه وو له دې وجې دهغوی امر باالمعروف صرف په ژبه باندې وو په امت محمديه کې د دې دريمه درجه دلاس په قوت سره امر بالمعروف چې په هغه کې د جهاد

تمام اقسام داخل دی او داسلامي حكومت په زور سره د اسلامي قوانينو تنفيذ هم ددې جزء دی (معارف القرآن ج ۲ ص ۱۰۴)

شاه عبد القادر رحمه الله ددې آيت په فوائدو كې ددې تشريح داسې كړې ده:

يعنې دا امت د هر امت نه بهتر دی داسې دوه صفتونو كې امر بالمعروف يعنې جهاد او ايمان يعنې د توحيد تقيد دومره په نورو دينينو كې نشته (موضح القرآن ص ۱۰۳) له دې آيت نه مخكې آيت (وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ) په تشريح كې شاه عبد القادر رحمه الله فرمائي: معلومه شوه په مسلمانانو باندې فرض ده يو جماعت تيار لپاره د جهاد او لپاره د تقيد د دين ترڅو خلاف د دين هيڅوک ونكړي څوک چې په دې قائم دی هغه كامياب دی او دا چې څوک په چا باندې تعرض ونكړي. موسى بدين خود .عيسى بدين خود . دا د مسلماني لاره نده (موضح القرآن ص ۱۰۱)

بهر حال په دې آيت كې د اُمت محمديه امت مرحومه ډير فضيلت بيان شوی دی الله تعالى مونږ تول ددې مستحق او ګرځوي آمين يارب العالمين. وصلى الله تعالى على نبيه الكريم.

په مكه مكرمه كې د توضيحات د تكميل اختتامي كلمات

زه عاجز بنده فضل محمد بن نور محمد يوسفزئي هم د جمعې په ورځ ۲۳. رمضان ۱۴۲۸ هـ وقت يولس بجې ورځ د جمعې د نمانځه په انتظار كې ناست يم. بلد الله الحرام الرحاب الطاهرة مكة المكرمة. كې ددې حديث تشريح او توضيح ددې لپاره ليكم چې ترڅو د مشكوة شريف شرح توضيحات خاتمه هم په خير باندې اوشي او بركت او قبوليت پكې راشي چونكه ما ددې شرحې شروع هم په ۱۳ رمضان ۱۴۲۱. كې له يو آيت نه په مكه مكرمه كې كړې وه لهذا اوس تاريخ ۲۳. رمضان ۱۴۲۸ د توضيحات شرح آته جلده د تحرير په سلسله كې ددې آخري حديث تشريح سره په مكه مكرمه كې فارغيږم. مولى كريم! ستا لاک لاک حمد او ثناء او شكر دي چې زما غونته ناقص بنده ته ددې عظيم كار په تكميل سره كاميابي وركړه او فرمايو اوس په كومه ژبه او كوم قلم ستا شكر اداء كړم. مولا كريم. زه فقط دومره ويلی شم.

اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلَالِ وَجْهِكَ ، وَعَظِيمِ سُلْطَانِكَ ، وَبَاهِرِ بُرْهَانِكَ أَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْكَرِيمُ الْعَظِيمُ الْحَلِيمُ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمُ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتِ وبِشُكْرِهِ تَزِيدُ الْبَرَكَاتُ وَالْخَيْرَاتُ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ ، زِدْنَا وَلَا تَنْقُصْنَا وَأَكْرِمْنَا وَلَا تُهِنَّا وَأَعْطِنَا وَلَا تَحْرِمْنَا أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَئَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ صلى الله عليه وسلم وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ

نَبِيِّكَ الْكَرِيْمِ السَّيِّدِ الْاَمِيْنِ جَيْشِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ وَعَلٰي اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهِ الْغُرِّ الْمَيَامِيْنِ وَعَلٰي مَنْ تَبِعَهُمْ اِلٰي يَوْمِ الدِّيْنِ . اٰمين .

فضل محمد يوسف زئي غفرله

حال نزيل مكة المكرمة (۲۳ رمضان ۱۴۲۸)

د صاحب مشکوة اختتامي کلمات

د صاحب المشکوة مؤلف ابو عبد الله ولي الدين العراقي رحمه الله کله چې د مشکوة شريف د احاديثو د جمع کولو نه فارغ شولو نو هغه په طريقه د شکر سره تاريخ د فارغت وليکلو او وې فرمائيل

قال مؤلف الکتاب . شَكَرَ اللّٰهُ سَعْيَهُ وَاَتَمَّ عَلَيْهِ نِعْمَتَهُ . وَقَعَ الْفَرَاغُ مِنْ جَمْعِ الْاَحَادِيْثِ النَّبَوِيَّةِ صلى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ رَمَضَانَ سنة ۷۳۷ . عِنْدَ رُؤْيَةِ هِلَالِ شَوَّالِ سَنَةَ سَبْعٍ وَثَلَاثِيْنَ وَسَبْعِ مِائَةٍ بِحَمْدِ اللّٰهِ وَحُسْنِ تَوْفِيْقِهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَاَتْبَاعِهٖ اَجْمَعِيْنَ .

د صاحب مرقات ملاعلي قاري رحمه الله اختتامي کلمات

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ بِنِعْمَتِهٖ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ ، وَبِشُكْرِهٖ تَزِيْدُ الْبَرَكَاتُ وَالْخَيْرَاتُ ، وَقَدْ فَرَغْتُ مِنْ تَسْوِيْدِ هٰذَا الشَّرْحِ اَنَامِلَ الْعَبْدِ الْمُفْتَقِرِ اِلٰي كَرَمِ رَبِّهِ الْغَنِيِّ الْبَارِيْ ، عَلِيِّ بْنِ سُلْطَان مُحَمَّدٍ الْهَرَوِيِّ الْقَارِيْ ، اَلْمُلْتَجِيْ اِلَي الْحَرَمِ الْمُحْتَرَمِ الْمَكِّيْ خَادِمُ الْكِتَابِ الْقَدِيْمِ وَالْحَدِيْثِ النبوي ، عَامَلَهُ اللّٰهُ بِلُطْفِهِ الْخَفِيِّ وَكَرَمِهِ الْوَفِيِّ ، وَعَفَا عَمَّا زَلَّ قَدَمُهُ اَوْ خَلَّ قَلَمُهُ ، وَخَتَمَ لَهُ بِالْحُسْنٰي وَبَلَّغَهُ الْمَقَامَ الاسنٰي مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ وَحَسُنَ اُولٰئِكَ رَفِيْقًا ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ وَكَفٰي بِاللّٰهِ عَلِيْمًا وَذٰلِكَ عَاشِرَ رَبِيْعُ الثَّانِيْ عَامَ ثَمَانٍ وَاَلْفٍ بَعْدَ الْهِجْرَةِ النَّبَوِيَّةِ عَلٰي صَاحِبِهَا اُلُوْفٌ مِنَ الصَّلَاةِ وَآلَافٍ مِنَ التَّحِيَّةِ .

(۱۰ ربيع الثاني سنة ۱۰۰۸هـ)

ترجمة الاكمال في اسماء الرجال

يعني حالات صحابه وصحابيات رضي الله عنهم

صاحب د مشكوة شيخ ولي الدين بن عبد الله الخطيب رحمه الله په آخر د مشكوة كښ . اكمال في اسماء الرجال . په نوم سره يوه عمده ګلدسته شامله كړې ده چې په هغې كښ يې د هغه تمامو اشخاصو مختصر حالات ذكر كړي دي چې د چا نه يې په مشكوة شريف كښ حديث روايت كړى دى په دوى كښ د صحابه كرامو او صحابياتو نومونه او تابعين او تابعياتو نومونه هم روايات دي دا ټول نومونه هغه د حروف هجاء په ترتيب سره په عربي ژبه كښ ذكر كړي دي .ماچې كله توضيحات آتم جلد مكمل كړو او د الله په فضل سره له دينه فارغ شوم نو ماته شوق پيدا شو چې الاكمال في اسماء الرجال ترجمه كړم او د آتم جلد سره ئي يوځاى كړم نو د موقوف عليه طلبۀ كرامو دپاره به ډيره فائده وي مګر په دې كښ دا مشكل مخې ته راغى چې د آتم جلد صفحات ډير زيات شولو د دې مجبورۍ له وجه نه ما الاكمال في اسماء الرجال نه د تابعينو او تابعياتو ترجمه لرې كړه او صحابه او صحابيات ددوى نومونه مې مكمل ذكر كړل له مانه مخكښې بعض شارحينو د اكمال في اسماء الرجال ترجمه كړې لكن هغه نامكمل وه او بعض حضراتو ډير طويل حالات ذكر كړى دى چنانچې ما او زما رفقاؤ مختلف تراجم وكتل د معتدلې ترجمې قارئينو ته مو پيش كړل اميد دې چې د موقوف عليه طلبه كرام د دې عظيمې طبقې د حالاتو نه واقف شي صاحب د مشكوة ددې علمي ګلدستې كښ د آئمه اربعه حالات هم ليكلي دي چې ډير عمده دې لكن د كتاب د حجم د زياتيدو د ويرې نه ما هغه پرېښودل نو ما چې څه وليكل هغه دې الله تعالى قبول كړى

مَا كُلُّ مَا يَتَمَنَّى الْمَرْءُ يُدْرِكُهُ ، تَجْرِي الرِّيَاحُ بِمَا لَا تَشْتَهِي السُّفُنُ

فضل محمد غفرله يوسف زئي

باب الألف

حالات صحابه رضي الله عنهم

۱ ـ أنس بن مالك : دهغه نوم انس بن مالك بن نضر ده كنية يې ابوحمزه ده دقبيلې د خروج څخه دى د رسول الله صلى الله عليه وسلم خاص خادم وو كله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينې منورې ته تشريف راوړو نو دده عمر لس كاله وو په زمانه د خلافت د حضرت عمر رضي الله تعالى عنه كښ يې په بصره كښ قيام اوكړو ترڅو دهغه ځاى خلكو ته دين اوښائي او په صحابو كښ تر ټولو آخر په سنه ۹۱ كښ په بصره كښ د يوسل او درې كالو په عمر كښ انتقال وفرمايه داهم ويلې شوې چې عمر يې نه نوي (۹۹) كاله وو ابن عبد البر وايي چې دا قول ډير صحيح دى ويلې كيږي چې د اولادونو شميرې سل ته ديو قول مطابق اتيا ته په شغوى كښ آته اويا نارينه وو او دوه ښځينه وې له هغه ډيرو خلكو روايت كړى دى.

۲ ـ أنس بن مالك الكعبي : دده نوم أنس بن مالك الكعبي دى دده كنيت ابو امامه ده دده نوم صرف په يو حديث كښ ذكر دى په باره د روژې د مسافر او حاملې او مرضعې كښ مروي دى دده په بصره كښ سكونت اختيار كړى وو او له دده نه ابو قلابه رضي الله عنه روايت كړى دى .

۳-آنس بن النضر : دا آنس بن نضر انصاري د نجار قبیلي نه دی د احد په ورځ د ډیرشو نه زیات د تورو او ...
زخمونو خوړلو نه شهید شو دده متعلق دا آیت کریمه نازل شولو . مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا
اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا ، الخ

۴-آنس بن مرثد : دا انس بن مرثد بن ابي مرثد دی یو قول دا دی چې دده نوم انیس وو ابن عبد البر دې قول ته ترجیح ورکړې ده او ویلی شي چې دا هغه انیس دي چې دمکې په فتح او د حنین په موقع حاضر وو دا ویلی شي چې حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ای انسه دد ې زه د هغه ښځې سره ملاقات وکړه که هغې اقرار د زنا وکړو نو سنګساریې کړه . هغه په سنه ۲۰ کې وفات شوی هغه ځپله او د هغهورور او والده او نیکه ټول صحابو . د هغه نه سهل ابن حنظله او حکم بن مسعود روایات کړي دي .

۵-اسید بن خضیر : دا اسید بن حضیر انصاری دی . قبیله اوس نه دی . دهغو اصحابو نه دی چې دعقبه ثانیه په موقع حاضر وو . او هغه نقیبانو نه دی اوددواړو بیعتونو د عقبې درمیانی فاصله یو کال وه بدري او هغی نه پس نورو غزواتو ي هم حاضر وو . ده نه دصحابو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ یو جماعت روایت کړی دی مدینه ي سنه ۲۰ هـ کې وفات شو . اوبقیع کې دفن شو رضی الله تعالی عنه .

۶-ابو اسید : دا ابو اسید دمالک بن ربیعه انصاری ساعدی ځوی دی . ټولو غزاګانو ي حاضر وو . دی خپل کنیت سره زیات مشهور دی . ده نه یو کثیر مخلوق روایت کړی دی . سنه ۶۰ کې وفات شو هرکله چې عمر ئی اته اویا کاله وو . اوبینایې یې زائل شوی وه . اودبدر صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ دی دټولو نه آخري وفات شو . اسید ي همزه مضموم او سین مهمله مفتوح اویا ساکنه ده .

۷-اسلم : دا دده کنیت ابو رافع دی . دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد کرده وو . دده ذکر به حرف راء ي راشی .

۸-اسمر . دا اسمر بن مضر طائي دی دا هم جلیل القدر صحابی دی

۹-اشعث بن قیس : دا اشعث دقیس بن معدی کرب ځوی دی دده کنیت ابو محمد کندی دی د کنده وفد سره دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ي دا واقعه سنه ۱۰ هـ کې وه . دا د اسلام نه مخکې دخپلې قبیلې ډیر معزز او ممتاز سړی وو . اسلام ي هم ډیر وجیه سړی وو . حضور صلی الله چې وفات شو . نو دا مرتد شو بیا د ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خلافت کې مسلمان شو . اوکوفه کې سنه ۴۰ ي وفات شو . حضرت حسن رضی الله عنه بن علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ئی دجنازی مونځ ورکړلو . اویو جماعت تری روایت کړی دی .

۱۰-اشج : دده نوم منذر بن عائذه دی . عبدي دی . دخپل قوم سردار اودهغوی اسلام طرف ته راوستونکی دی . وفد عبد القیس ي شاملیدو سره دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ي حاضر شو . داعراب اهل مدینه نه شمیرلی شی . ده نه یو جماعت روایت کړی دی . دده ذکر باب الحذر والتانی ي دی .

۱۱-اشیم الضبابی : هغه قبیله صنبابي ابن کلاب د اولاد نه دی . د هغه نه دعلم فرائض صرف یو حدیث نقل دی

۱۲ـ ابراهیم بن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : دا ابراهیم دی چې دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرزند وو. دماریه قبطیه دخیټي نه چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مملوکه وه. مدینه ي ذی الحجه سنه ۸ هـ کې پیدا شو. او دشپاړس ۱۶میاشتو په عمر ي وفات شو. او دیو قول مطابق د اتلس ۱۸میاشتی ژوندی وو. بقیع ي دفن شو.

۱۳ـ الاغر المازنی : دا اغر مزنی دی صحابی دی ابن عمیر او معاویه بن قره ده نه روایت کړی دی.

۱۴ـ ابیض : دحمال ځوی دی دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کي یو وفد سره حاضر شو او صحبت نه مشرف شو یمن کي او سیدلو. ده نه کم حدیثونه روایت دی هغه ذ مارب او سیدونکی دی کوم چې د یمن یو ښار دی صنعاء ته نزدې.

۱۵ـ الاقوع بن حابس : دا اقرع بن حابس تمیمی دی وفد بنی تمیم سره دمکی دفتح نه پس دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې حاضر شو. او دی داسلام نه قبل دواړو زمانو ي معزز وو. دا د عبد الله بن عامر د لښکر حاکم وو او د افغانستان په صوبه جوزجان کې له خپلو ملګرو سره شهید شوی دی.

۱۶ـ ابوالازهر : دا صحابی انماری دی په شام کې او سیدو له هغه خالد ابن معدان وغیره روایات کړی دی.

۱۷ـ اکیدر دومة : دا کیدر دعبد المالک ځوی دی او صاحب دومة الجندل سره مشهور دی ده ته نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (خط مبارک) لیږلی وو. او ده دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ي هدیه راولیږله. دده ذکر باب الجزیه کې دی. اکیدر داکدر تصغیر دی دشام او حجاز مینځ ي دیو ښار نوم دی.

۱۸ـ اوس بن اوس :هغه ته اوس بن ابی اوس هم ویل کیږي دثقیف دقبیلې نه دی، د عمرو بن اوس پلار دی.

۱۹ـ ایاس بن بکیر : دا ایاس بن بکیر لیثی دی غزوه بدر ي او هغې نه وروسته نور غزواتو ي حاضر وو. کله چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دارارقم کې وو نو ده اسلام راوړو سنه ۳۴ هـ کې وفات شو.

۲۰ـ ایاس بن عبدالله : دا ایاس بن عبد الله دوسی مدنی دی دده صحابی کیدو ي اختلاف دی ده نه دبنځو دوهلو باره ي صرف یو حدیث روایت شوی دی.

۲۱ـ اسامه بن زید : دا اسامه دی دزید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځوی وو. دبنی قضاعه د قبیلې نه دی دده د مور نوم برکة وو اودا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوالد ماجد جناب عبد الله بن عبدالمطلب وینزه وه. او اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغلام حضرت زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځوی وو. او دحضور محبوب او دمحبوب ځوی وو. هر کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو. نو دا اسامه عمر شل ۲۰ کاله وو. او بعضی اقوال دد ې خلاف هم دي. او دی وادی القری ي او سیدلو. او هغه دحضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دشهادت نه بس وفات شولو. او یو قول دادی چې سنه ۵۴ هـ کې وفات شو. او ابن عبد البر رحمه الله وائی، ځما په نزد دا صحیح دی ده نه یو جماعت روایت کړی دی.

۲۲ـ اسامه بن شریک : دا اسامه بن شریک ذبیانی حلبي دی. اهل کوفه ي دده احادیث زیات خواره شول. او کوفیانو ي شمیرلی شی.

۲۳ـ ابی بن کعب : دا انصاری خزرجي دی . دی دحضور ﷺ دوحی کاتب وو . اوهغی شپږ اصحابو رضي الله عنهم نه وو چې هغوی دحضور ﷺ زمانه ي پوره قرآن حفظ کړی وو . اوهغی فقهاؤ نه دی چې دحضور ﷺ زمانه ي به ئې فتوی ورکولی . او اصحابو رضي الله عنهم ي دکتاب الله لوی قاری تسليمولی شو . دی حضور ﷺ دابو منذر کنیت ورکړی وو اوحضرت عمر رضي الله عنه ، دابو الطفیل خطاب فرمائیلی وو . اوحضور ﷺ ورته دسید الانصار خطاب ورکړی وو . اوحضرت عمر رضي الله عنه ورته دسید المسلمین مدینه طیبه ي سنه ۱۹ هـ کی وفات شو . کثیر مخلوق تری روایات کړی دی .

۲۴ـ افلح : دا افلح درسول الله ﷺ غلام وو . اوداهم وئیلی شوي دي چې دام سلمه رضي الله عنها غلام دی .

۲۵ـ ایفع بن ناکور : دا د ذوالکلاع په نوم سره مشهور وو دا ایفع بن ناکور دیمن اوسیدونکی وو . دخپل قوم رئیس وو چې دهغه اطاعت او اتباع کولی شوه ده اسلام قبول کړی وو . نبی کریم ﷺ د اسود عنسی مقابلی اودهغه دقتل دپاره داسلام امداد په باره کې ورته تحریر فرمایلی وو . جنګ صفین سنه ۳۷ هـ کې دامیر معاویه د اشتر نخعي په لاس قتل شولو .

۲۶ـ انجشه : دا انجشه یو حبشي غلام وو خوش اواز (حدی خوان) وو . دحضور ﷺ خدمت کې اوسیده یو ځل ورته پیغمبر ﷺ وفرمایل چې انجشه ! خپل الحان (خوش اوازي) بند کړه ماسره ځه شیشې دي ، دهغه نه څه صحابو روایت کړی دی .

۲۷ـ ابوامامه الباهلی : دا ابوامامه چې نوم یې صدی دی دعجلان باهلی ځوی دی مصري اوسیدلو . بیا حمص ته منتقل شوی وو .
اوهلته وفات شو هغو اصحابو رضي الله عنهم نه دی چې کثرت سره تري روایت کیږی . داهل شام په نزد دده مرویا زیات دي . ډیرو خلقو تري روایات کړي دي سنه ۸۶ هـ کې وفات شو . اویو قول دادی چې شام ي دټولو نه وروستو عبد الله بن بشر وفات شو . صدی ي صاد باندی فتحه اودال مهمله مفتوح اویا مشدد دی .

۲۸ـ ابوامامه انصاری : دا ابوامامه سعد دی . دسهل بن حنیف انصاری اوسی ځوی دی خپل کنیت سره زیات مشهور دی دحضور ﷺ دوفات نه دوه کاله مخې پیدا شو . وئیلی شی چې حضور ﷺ دده نوم سعد اودده کنیت ابو امامه کړی وو . ده دکم عمری په وجه حضور ﷺ نه هیڅ وانه وریدی شو . ځکه بعضو دده ذکر صحابه رضي الله عنهم نه پس خلقوي کړی دی . اوابن عبدالبر دا منجمله دصحابو نه ثابتولو دپاره فرمائیلې دې چې دا مدینه کې دلویو تابعینو نه دلویو علماؤ نه وو . خپل پلار اوابوسعید خدري وغیره نه ئې احادیث اوریدل . اوډیرو خلقو تری روایات کړی دی سنه ۱۰۰ هـ کې وفات شو . اوعمرئی ۹۲ کاله وو .

۲۹ـ ابوایوب انصاری : دده نوم خالد بن زید انصاری خزرجي دی او دا حضرت علي بن ابی طالب رضی الله عنه سره تمامو جنګونو شریک وو . قسطنطنیه ي سنه ۵۱ هـ کې وفات شو . اودی هغه وخت یزید بن معاویه

قسطنطنيه ي جهاد كولو . نو هغوى سره جهاد كې
رضي الله عنه سره وو . هر كله چې د هغه پلار حضرت معاويه رضي الله عنه قسطنطنيه ي جهاد كولو . نو هغوى سره جهاد كې رضي الله عنه سره وو . وصيت يې وكړو ، چې زه وفات شوم ، شريكيد و دپاره اووتلو ، او بيمار شولو . بيا چې د بيمارى بوج پرى زيات شو . وصيت يې وكړو ، چې زه وفات شوم ، نو ځما جنازه اوچته كړى بيا چې تاسو د دشمن مخى ته صف بسته شى نو ما د خپلو قدمونو لاندې دفن كړى نو خلقو دغسې اوكړل قبر يې د قسطنطنيه د چار ديوارى قريب دى چې تر ننه پورې مشهور دى چې احترام يې كيږى د هغه ډيرو خلكو روايات نقل كړى دي .

۳۰ - ابوامية المخزومي : دا ابوامية مخزومي صحابي دى دده شمير اهل حجازو نه دى ده نه ابو منذر روايت كوى د زندګۍ نور حالات يې معلوم نه دي .

۳۱ - امية بن مخشي : دا د بني خزاعه نه دى د هغه شمار د بصرې والاو نه شوى دى . دده شمير په اهل حجازو كې شوى دى . د طعام باره ي ده نه حديث روايت دى دده وراره مثنى بن عبد الرحمن ده نه روايت كوى .

۳۲ - امية بن صفوان : دا امية بن صفوان دى چې دا امية بن خلف جهمي نمسى دى دا د ځپل پلار صفون نه روايت كوى .

۳۳ - ابواسرائيل : دابو اسرائيل صحابه نه يو سړى وو هغه دا نذر منلى وو . چې چا سره كلام به نه كوى او روژه ي به نمر ي ولاړ وو . او ځان د پاسه به سوري (سايه) نه كوى نو نبى كريم صلى الله عليه وسلم هغه ته حكم وركړلو ، چې كيني دى هم سورى (سايه) ي دى هم اوسى ، او خبرى دى هم كوى . ابن عباس او جابر بن عبد الله دده نه احاديث اخستي دي .

۳۴ - آبى اللحم : دا خلف بن عبد الملك الغفارى دى آبى اللحم نوم سره مشهور دى (آبي اللحم معنى ده ،غوښې نه انكار كونكى) او آبى اللحم لقب سره ځكه مشهور شو ، چې غوښه به ئي مطلقا نه خوړله . يا د جاهليت په زمانه كې د بتانو په نومونو ذبيحه يې يوم حنين ي شهيد شولو .

صحابياتي

۱ - اسماء بنت ابى بكر : دا اسماء ده ، د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه لورده او دى ته ذات النطاقين وئيلى شى ځكه چې په كومه شپه چې حضور صلى الله عليه وسلم هجرت كړى وو . خپل كمربند (د ملا تړلو پټى) شلولو سره دوه حصى كړى وو . دهغى يوه حصه ي ئى توشه دان اوتړلو . او دويمه حصه ئي مشكيزه باندى وتړله . يا دهغى ئى خپل كمربند جوړ كړى وو . او دا د حضرت عبد الله بن زبير والده ده . مكه ي ئى اسلام راوړى وو . وئيلى شى ، چې هغه وخته پورې صرف اوولس ۱۷ سړو اسلام قبول كړى وو . دا د خپلې خور عائشې رضي الله عنها نه لس ۱۰ كاله مشره وه . د هغې د ځوى عبد الله بن زبير رضي الله عنه د شهادت نه لس ۱۰ ورځې پس د ۱۰۰ كالو عمر ي مكه ي وفات شو . هغه وخت سنه ۷۳ هـ وو . دى نه ډيرو خلقو احاديث روايت كړى دى .

۲ - اسماء بنت عميس : دا اسماء بنت عميس ده دى خپل خاوند حضرت جعفر بن ابى طالب سره يې حبشى ته هجرت اوكړو . هلته ترى محمد او عبد الله او عون پيدا شول . بيا مدينى ته ئى هجرت اوكړو . كوم وخت چې حضرت جعفر شهيد شو . نو ابوبكر صديق ورسره نكاح اوكړله او محمد بن ابي بكر ترى پيدا شو . بيا حضرت

ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې وفات شو. نو حضرت علی ابن ابی طالب ورسره نکاح اوکړه. او یحیی ترې پیدا شو. دی نه دیر جلیل القدر صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ روایات کړی دی.

۳- انیسه رضی الله عنها بنت خبیب : دا انیسه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا انصاریه صحابیه ده ددې شمیر دا هل بصره نه دی دی نه ددې خور ئی خبیب بن عبد الرحمن روایات نقل کړي دي.

۴- امیمه بنت رقیقه : دا امیمه ده، ددې دوالد نوم عبد الله دی او د هغې مور رقیقه بنت خویلد دبي بي خدیجې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خور ده ددې شمیر دا هل مدینه نه دی.

۵- امامه بنت ابی العاص : دا امامه ده دابو العاص بن ربیع لور ده ددې والده (مور) زینب ده، چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور وه. دبی بی فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خورزه وه. حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئي ددې وصیت کړی وو. دامامه نکاح حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره زبیر بن العوام اوکړله.

ب : صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱- ابوبکر الصدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دا ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی نوم ئي عبد الله دی دعثمان ځوی دی ابو قحافه دعامر ځوی وو. او هغه دعمرو او هغه دکعب او هغه د سعد او هغه دتمیم او هغه دمره دغسی اووم ۷ پشت باندی دهغه نسب حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یو ځاي شو. دهغه لقب صدیق هم دی او عتیق هم په عتیق سره ځکه موسوم شوی دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد اوفرمائیلو : من اراد ان ینظر الی عتیق من النار فلینظر الی ابی بکر : څوک چې داسې سړی لیدل غواړی، چې دجهنم داورنه آزاد اوبې خطرې شوی وی، هغه دی ابوبکر ته اوګوری حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره هری غزا ي شریک وو. او هیڅ کله ترې جدا نه شو. نه داسلام نه قبل اونه داسلام نه وروستو سړوي دټولو نه مخکې یې اسلام راوړی وو. رنګ ئي سپین وو، لاغر اندام وو. رخسار پتیل (نری) وو، په مخ ئي غوښه ډیره کمه وه. سترګې ئي دننه وی تندی ئي راپورته وو. دګوتو جرړی ئي دغوښې نه خالی وی. نکریزو او وسمی سره به ئي خضاب کولو. هغه ته، والدین (مور وپلار) ته ئي او اولاد ته ئي او نمسو ته ئي دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شرف صحبت حاصل شو. دومره لوئي نعمت تمامو صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ کې بل هیچاته حاصل نه شو. لکه چې د یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ څلور پشته انبیاء وو په انبیآء کې صرف هغه ته دا شرف حاصل وو په صحابه کرامو کې صرف دا دی چې څلور پشته یې صحابه دی. دفیل دواقعی نه دوه کاله او څلور میاشتي وروسته پیدا شو. اومدینه کې دنهی (منګل) په شپه د ماسختن اوماښام مینځ ي چې جمادی الاخری سنه ۱۳ هـ کې اته ۸ ورځی لاباقی وی چې وفات شولو. عمر ئي ۶۳ کاله وو. داوصیت ئي کړی وو. چې د هغه زوجه اسماء بن عمیس دی غسل ورکړی ځکه هغې غسل ورکړو او عمر بن خطاب دجنازی مونځ ورکړلو. دخلافت زمانه ئي دوه کاله او څلور میاشتی وه. دصحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اوتابعینو یو کثیر جماعت ترې روایت کړی دی. ډیر کم حدیثونه ترې روایت شوی دی ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس لږه موده ژوندی وو او په روضة الرسول کې دفن شولو.

۲- ابوبکره : دا ابوبکره نفیع بن حارث بن کلده دی د حارث بن کلده ثقفی وو بیا هغه خپل اهل یعني ځوی ئي

دهغه دديې کنیت وجه داپیانیږی چې یوم طائف کي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دطائف محاصره کړی وه د کوهي درسۍ په تعاون سره د نګلي وو اودحضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ي حاضرېدو سره اسلام ئي قبول کړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دابوبکره کنیت سره مخاطب کړلو . اوازاد ئي کړلو . ځکه دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د موالو نه دی یعنی آزاد کرده غلام دی دبصری باشنده کیدو سره هلته سنه ۴۹ ه کې وفات شولو .

۳ - ابو برزه : دا ابوبرزه فضله بن عبید اسلمی دی شروع زمانه ي ئي اسلام قبول کړو . اوداهغه دی ، چې عبدالله بن خطل ئي قتل کړی وو . اودحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات پورې تمامو غزواتو ي ورسره شریک وو بیا بصري ته راتلو سره مقیم شو بیا دخراسان غزائي اوکړله . اومروي سنه ۶۰ ه کې وفات شولو .

۴ - ابوبرده : دا ابوبرده هانی بن نیار دی اویا (۷۰) اصحابو سره عقبه ثانیه ي حاضر وو اودې نه پس جنګونو کې هم شریک وو اودی دبراء بن عازب ماما دی دده اولاد اونه شولو . دمعاویه شروع زمانه ي تمامو جنګونو دحضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ملګرتیا کې وو .

۵ - ابوبصر : دا ابوبصیر عتبه بن اسید ثقفی دی ابتدائی زمانه ي اسلام راوړونکو صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دی . دده ذکر غزوه حدیبیه ي راځي . دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمانه ي وفات شو .

۶ - ابوبصره : دده نوم حمیل بن بصره غفاری دی .

۷ - ابوبشیر : دا ابوبشیر قیس دی دعبید انصاری مازنی ځوی دی . ابن عبدالبر صاحب استیعاب کې وائی . دده صحیح نوم باندی واقفیت اونه کړی شو . دا صحابي دی دهغه نه یو جماعت آحادیث نقل کړې دي ډیر اوږد عمر والا وو . د حره د جنګ نه وروسته وفات شو .

۸ - ابو البداح : دا ابوالبداح دی نوم کې اختلاف دی وئیلی شی ، چې دده نوم عاصم بن عدی دی اویو قول دادی چې دا دعاصم بن عدی ځوی دی اودده کنیت عمر ابوعمرو دی بعضو ده ته تابعی ویلی دی لیکن صحیح داده چې دا صحابي دی ، په سنه ۱۱۷ ه کې وفات دی په عمر د ۸۴ کالو کې .

۹ - البراء بن عازب : دابراء بن عازب ابو عماره انصاری حارثی دی کوفې ته راغی اوسنه ۲۴ ه کې اوجنګ جمل اوصفین اونهروان ي حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره وو . اودمصعب بن زبیر زمانه ي کوفه کې وفات شو .

۱۰ - بلال بن رباح : دا بلال بن رباح دحضرت ابوبکر صدیق آزاد کرده غلام دی شروع زمانه ي اسلام راوړلو . دا وړومبنی سړی وو ، چې مکه کې یې خپل اسلام ظاهر کړو غزوه بدر کې اوهغې نه پس تمامو غزاګانو ي شریک وو . اوآخر وخته پوری شام ي اوسیدلو . هیڅ اولاد ئي اونه شولو ده نه دصحابو اوتابعینو یو جماعت روایت کړی دی عمر ئي ۶۳ کاله وو . سنه ۲۰ ه کې دمشق کې وفات شولو اوباب الصغیر کې دفن شو . او یو قول دادی چې حلب کې وفات شو . اوباب الاربعین کې دفن شو صاحب کشاف وائی چې وړومبنی قول صحیح دی اودی دهغی خلقو نه وو ، چې اهل مکه دااسلام قبلولو په وجه سخت تکلیفونه ورته ورسول او د بلال سخت تکلیفونو ي مبتلا کولو ي امیه بن خلف جحمی بذات خود حصه اخستله . اودا تقدیر الهی وو چې داملعون دحضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

دلاسه دبدر په ورځ قتل شو . جابر وائی ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به وئیل ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځمونږ سردار دی او ځمونږ دسردار بلال آزاد کونکی دی .

۱۱ـ بلال بن حارث : دا بلال بن حارث ابوعبدالرحمن مزنی دی . د مدينې سره اشعر مقام کې اوسيدلو . سنه ۶۰هـ کې داتيا کالو په عمري وفات شو .

۱۲ـ بريده بن الحصيب : دابريده بن الحصيب اسلمی دی بدر نه مخې ئې اسلام راوړی وو خو هغې کې حاضر نه شو اوبيعت رضوان کې شريک وو دمدينې اوسيدونکو نه وو بيا بصرى ته لاړو هلته نه خراسان ته جهاد کولو سره ورسيدو اومرو کې ديزيد بن معاويه زمانه ي سنه ۶۲هـ کې وفات شو . او مرو کې يې قبر دی .

۱۳ـ بشر بن معبد : دابشر بن معبد دی ابن الخصاصية نوم سره مشهور دی خصاصيه دهغه والده (مور) ده اودهغې نوم کبشه وو . خلقو دهغه دوالدی (مور) نوم طرف ته منسوب کړو . اودحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد کړده وو .اودهغه شمير بصری والو ي دی .

۱۴ـ بسر بن ابی ارطاة : دابسر بن ابی ارطاة ابوعبدالرحمن دی اودابوارطاة نوم عمير عامری قرشي وو . وئيلی شی دکم عمری په وجه ده دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه هيڅ وانه وريدی شو . اواهل شام دده آوريدل ثابتوی . دواقدی قول دی چې دا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوفات نه دوه کاله قبل پيدا شوی وو .
وئيلی شی ، چې آخر عمر کې ئې دماغ صحيح نه وو پاتې شوې . دحضرت معاويه زمانه کې وفات شو اويو قول دادی چې دعبدالملک زمانه کې وفات شو .

۱۵ـ بديل بن ورقا : دابديل بن ورقا خزاعی دی قديم الاسلام دی ده نه دده دواړو ځامنو عبدالله اوسلمه وغيرهما روايت کړی دی . دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمانه کې شهيد شولو . اويو قول دادی ، چې يوم صفين ي شهيد شولو . اويو قول دادی ، چې يوم صفين ي چا دا قتل کړو . هغه دده ځوی عبدالله وو .

۱۶ـ ابنا بسر : يعنې دبسر دواړه ځامن . دی نه مراد عطيه او عبدالله دی دده ذکر به حرف عين ي راشی . ددې دواړو يو حديث دی دقجورو اوکوچو خوړلو باره ي ، چې هغې ي دواړه نومونه يوځائي کولو سره (ابنا بسر) يعنی دبسر دواړه ځامن وئيلی شوی دی . اودهغوی نومونه دی ذکر شوی .

۱۷ـ البياضی : دا د بياضه ابن عامر په اولاد کې دی اودده نوم عبدالله بن جابر الانصاری دی صحابی وو .

صحابیاتې

۱ـ بريرة : دادام المؤمنين عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا آزاد کړده دی . عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اوابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوعروه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کوی .

۲ـ بسرة : دابسره دصفوان بن نوفل لوروه . نسلا قريشيه اسديه وه اودورقه بن نوفل خورزه وه .

۳ـ بهيسه : دابهيسه فزاريه ده . صحابيه ده دادخپل پلار نه روايت کوی ،

۴ـ ام بجيد رضی الله عنها : داام بجيد حواء ده ديزيد بن سکن لور انصاريه ده . دااسماء بنت يزيد خورده .

دده ې شهرت كنيت سره زيات شو دهغې ښځو نه ده، چې هغوی د حضور ﷺ سره بيعت كړی وو.

ت:

صحابه رضی الله عنهم

۱ - تميم داري: داتميم بن اوس داري دی مخې نصراني وو. بيا سنه ۹ هـ كې يې اسلام قبول كړو. ده به يو ركعت ي پوره قرآن ختمولو. او كله به ئې يو آيت ټوله شپه باربار لوستو سره سحر كولو. محمد بن منكدر بيان وكړو. يو ځل داري دشپې سحر پورې اوده وو. او تهجد دپاره پانه سيدی شو. نو خپل نفس له ده ې غفلت سزا وركولو دپاره يو كال پورې ټوله شپه به ئې نفلونه كول، اوبالكل اوده نه شو. مدينه كې اوسيدو، بيا دحضرت عثمان دشهادت نه پس شام كې پاتې كيده. اووفات پورې هلته وو، اودټولو نه مخې جومات (مسجد) ي ده ډيوه بله كړه. نبی كريم ﷺ نه ده ددجال او د جساسه قصه بيان كړی ده.

ث:

صحابه كرام رضي الله عنهم

۱ - ثابت بن قيس بن شماس: داثابت بن قيس بن شماس انصاری خزرجی دی غزوه احد اوهغې نه پس چې څومره غزاګانی اوشوی ټولو ي حاضر وو. او دا د اكابرو اصحابونه اودانصارو دلويو علماء نه وو. حضور ﷺ ورته دجنت بشارت وركړی وو. اودا درسول الله ﷺ خطيب وو. اويوم يمامه يعنی په كومه ورځ چې مسيلمة الكذاب سره جنګ شوی وو هغې ي سنه ۱۱۲ هـ كې شهيد شو ده نه انس بن مالك وغيره روايت كړی دی.

۲ - ثابت بن ضحاك: داثابت بن ضحاك ابوزيد انصاری خزرجی دی په ماشوم والې كې يې پيغمبر ﷺ دونې لاندې بيعت رضوان كړی وو د حضرت عبد الله بن زبير په واقعه كې شهيد شو.

۳ - ثابت بن دحداح: دا انصاري دی، دا په غزوه احد كې د خالد بن وليد په برچې سره شهيد شو د بعضو مؤرخينو قول دی: چې هغه په بستره باندې وفات شوی دی.

۴ - ثوبان: داثوبان بن بجدد دی. دده كنيت ابوعبدالله دی رسول الله ﷺ اخستلو سره آزاد كړی دا دحضور ﷺ وفات پورې سفر او حضر ي هميشه حضور ﷺ سره وو. بيا شام رملة ته راغی دی نه پس حمص كې مقيم شو، اوهلته سنه ۵۴هـ كې وفات شو ده نه ډيرو خلقو روايت كړی دی.

۵ - ثمامه بن اُثال رضي الله عنه: داثمامه بن اثال حنفي دی. داهل يمامه سردار وو. دا قيد شوی وو. حضور ﷺ ورته آزادې اوبښله. دی نه پس لاړلو. خپلې كپړی ئې اووينزلې اوغسل كولو سره بيا دحضور ﷺ خدمت ي حاضريدو سره اسلام ئې قبول كړلو.

۶ - ابوثعلبه رضي الله عنه: دا ابوثعلبه جرهم بن ناشب خشني دی اودا خپل كنيت سره مشهور دی بيعة الرضوان واله

بیعت ئي د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره او کړو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قوم خلقو ته (تبلیغ اسلام د پاره) او لیږلو. چې ټول قوم اسلام راوړلو. ابوثعلبه شامي راغلی وو. آخر کې په شام کې اوسیده په سنه ۷۵ کې هلته وفات شو

ج:

صحابه کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

۱- جابر بن عبد الله. د ده کنیت ابو عبد الله دی انصاري دی سلمی ذی له هغه نه ډیر احادیث روایت شوي دي هغه په بدر وغیره. ۱۸. غزواتو کې شریک شوی دی د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه بعد هغه مصر او شام ته لاړ په آخر کې نابینا شو د ده عمر. ۹۴. کاله وو په کال. ۷۴ ه کې په مدینه منوره کې وفات شولو دا آخری صحابی وو چې وفات شولو او مدینه منوره د صحابه نه خالي شوله.

۲- جابر بن سمره. د هغه کنیت ابو عبد الله عامری دی د حضرت سعد بن ابی وقاص وراره دی په کوفه کې مقیم وو او په سنه. ۷۴. کې وفات شولو یو جماعت له د ده نه روایات کړی.

۳- جابر بن عتیک. د هغه کنیت عبد الله دی انصاری دی په بدر وغیر ټولو غزواتو کې شریک شوی دی په. ۹۱. کاله عمر کې په سنه. ۶۱. ه کې وفات شولو

۴- جابر بن حضر. دا انصاری سلمي دی. په بیعت عقبه او بدر وغیره عزواتو کې شامل شوی وو په بیعت عقبه کې هغه اویا وکسانو نه یو کس دی.

۵- جریر ا بن عبد الله. د هغه کنیت ابو عمرو دی د حضور انور د وفات په کال هغه ایمان راوړی وو خپله فرمائی چې ما د وفات نه څلویښت ورځی مخکی ایمان راوړی وو آخر کې په کوفه کې اوسیدو بیا قرقیسیا ته منتقل شو او هلته په سنه. ۵۱. وفات شولو.

۶- جندب بن عبد الله. دا د عبد الله ابن سفیان ځوی دی بجلی علقی دی دا یو خاندان دی له واقعی د عبد الله بن زبیر نه څلور کاله وروسته وفات شوی

۷- جبیر بن مطعم. د هغه کنیت ابو محمد دی قریشی نوفلی دی له فتح مکه نه ئي مخکی ایمان راوړی دی په مدینه منوره کې اوسیدو په سنه. ۵۴. ه کې په مدینه منوره کې وفات شولو.

۸- جرهد ابن خویلد. دا اسلمی مدنی دی. له اصحاب صفه نه دی. په کال ۶۱ کې وفات شوی.

۹- جعفر بن ابی طالب. هغه هاشمی مطلبي دی د حضرت علی المرتضی مشر ورور دی د هغه لقب ذوجناحین هم دی یعني د دوو وزرو والا او طیار هم دی یعني الوتلو والا هغه د یو دیرش کسانو نه بعد ایمان راوړی دی یعنی د وه دیرشم مؤمن دی د حضرت علی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه لس کاله مشر دی په صورت او سیرت کې د حضور انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مشابه وو حضرت علی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي یو ځل مونږ د حضور انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ابو طالب په باغ کې وو هغه راغی حضور انور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته او فرمایل راشه زمونږ سره مونځ او کړه ابو طالب او فرمایل

ستا دين بر حق دی لکن زه ستاسو سره مونځ نه شم کولی البته جعفر به ستاسو سره مونځ اوکړی چنانچې جعفر د حضور انور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوا کې لمونځ اداء کړو حضور انور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمایل الله دی تاله په جنت کې دوه بازوګان درکړی چې پرې الوزې له هغی ورځی نه دده لقب ذو الجناحين شو له هغه نه عبد الله بن جعفر او نورو صحابو روایت کړی دی يو ايا کاله عمر ئې وو په غزوه موته کې په داسې حال کې شهيد شولو چې دهغه جسم مبارک باندې .۹۰. زخمونه وو د تورو او نیزو.

۱۰- جارود. دهغه نوم بشر ابن عمرو و جارود دهغه لقب وو عبدی دی په سنه. ۹. کې د حضور انور په خدمت کې په وفد عبد القيس کې حاضر شو او له هغه ورسته په مصر کې اوسيدو او د فارس په علاقه کې. په سنه. ۲۱. کې په خلافت فاروقي کې دهغه شهادت واقع شو.

۱۱- جبلة ابن حارثة هغه کلبی دی او دیزید بن حارثه ورور دی له زید مشر زید حضور انور ځوی جوړ کړی وو

۱۲- ابو جهيم. دده نوم ابو جهيم و بعضو ويلی دی چې عبد الله بن حارث بن صمه دی صحابی دی انصاری دی

۱۳- ابو جحيفه. دهغه نوم وهب بن عبد الله دی عامری دی په کوفه کې اوسيدو د نو عمره صحابو نه دی دهغه د بلوغ نه مخکی د حضور انور وفات وشولو په. ۷۴. هـ کې په کوفه کې وفات شو صحابی دی ځکه حضور انور ئې په حالت د هوش او تميز کې ليدلی.

۱۴- ابو جمعة. هغه انصاری دی دهغه په نوم کې اختلاف دی چې حبيب ابن سباع دی او که جنيد ابن سباع دی يا بل څه اهل شام کې دهغوی شمار دی صحابی دی.

۱۵- ابو جعد. بعضو فرمائيلی دی چې دهغه نوم ابو جعد دی بعض ويلی چې نوم ئې وهب دی.

۱۶- ابو جندل. هغه د سهيل بن عمر قرشی عامری ځوئ دی په مکه معظمه کې ئې ايمان راوړی دی پلار ورته په پخو کې کړی اچولې وې هغه په صلح حديبيه کې په هغه کړيو کې ځان حضور انور ته ورسوه بيا دهغه عجيبه واقعات او شولو په خلافت فاروقيه کې وفات شولو.

۱۷- ابو جهم. دهغه نوم عامر بن حذيفه دی عدوی قريشی دی حضور انور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه نه جبه طلب کړی وه په خپل کنيت باندې مشهور دی.

۱۸- ابو جری. دده نوم جابر ابن سليم دی تميمی دی بصره کې اوسيده ډير کم روايتونه له هغه نه نقل شوی دي.

صحابياتي

۱- جويريه ام المؤمنين: هغه بنت حارث ده. په سنه هـ کې په غزوه مريسع کې چې ورته غزوه بنی مصطلق هم ويلی شي ګرفتار ولو سره راغله د حضرت ثابت بن قيس په حصه کې راغله هغه هغي لره مكاتبه کړه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د کتابت روپۍ خلاصی کړی هغه ازاده کړه او نکاح ئې ورسره وکړه ځکه هغه ام المؤمنين دهد هغې اولنی نوم بره وو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه نوم بدل کړو په جويريه سره هغه د. ۶۵. کالو په عمر کې وفات شوه د هغې ډير فضائيل دي.

۲ـ جدامة . هغه جدامه بن وهب ده اسدیه ده په مکه معظمه کې ئي ایمان راوړی وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يې په بیعت کولو تول قوم پرېښود و د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې وه.

ح :

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱ـ حمزه بن عبد المطلب : دا د عبد المطلب ځوی دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره دی او رضاعی ورور هم ځکه ثویبه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم پی ورکړې او هغه يې ته هم د هغه کنیت ابو عماره دی . لقب ئي اسد الله دی دنبوت په دویم کال ئي ایمان راوړی د هغه په ایمان سره اسلام ته ډیر قوت ملاؤ شوی دی په غزوه بدر کې شریک شوی او په غزوه احد کې شریک شوی وحشي ابن حرب هغه لره شهید کړو . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په عمر کې څلور کاله زیات وو په مختلفو زمانو کې هغه او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ثویبه پی ورکړې دي له دی وجې رضاعت ثابت شو . حضرت علی عباس او زید بن حارثه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ له هغه نه احادیث روایت کړی دی

۲ـ حمزه بن عمرو : دا اسلمی دی د اهل حجاز نه دی عمر ئي ۸۰ کاله دی په سنه ۶۱ کې وفات شوی دی

۳ـ حذیفه بن یمان : دده کنیه ابو عبد الله ده . دده د پلار نوم حسیل دی ایمان يې لقب دی او حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راز دار د عثمان د شهادت نه څلویښت ورځې پس په مدائن کې وفات شو هلته يې قبر دی .

۴ـ حسن ابن علي : د هغه کنیت ابو محمد دی . سبط الرسول . ریحانه رسول . سید شباب اهل الجنة . د هغه القاب دي په سنه ۳ هـ . ۱۵ رمضان کې د هغه ولادت وشو او په سنه ۵۰ کې وفات شولو په جنت البقیع کې دفن دی هغه د خپل والد ماجد د وفات نه بعد خلیفه شولو د څلویښتو زرو نه زیاتو کسانو په مرګ باندې د هغه سره بیعت او کړو لکن هغه د مسلمانانو د خون ریزۍ د دفع کولو په خاطر د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې د خلافت نه دست بردار شولو دا واقعه په ۱۵ جمادی الاولی سنه ۴۱ هـ کې ده تقریبا شپږ میاشتې ئي خلافت او کړو د هغه وفات د زهرو ورکولو په وجه وشولو په ۲۹ د صفر یا ۴ ربیع الاول د شنبې په شپه وفات شولو په دې باب نور کې اقوال هم شته لکن دا قول د څلورم ربیع الاول قوی قول دی .

۵ـ حضرت حسین بن علي : د هغه کنیت ابو عبد الله دی . سبط الرسول . ریحانه رسول . سید شباب اهل الجنة د هغه القاب دی هغه په سنه . ۴ هـ کې د حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د پاکې خیټې نه پیدا شو هغه د حسن د ولادت نه پنځوس شپې بعد حسین حامله شوله د حضرت حسین شهادت ۱۰ محرم سنه ۶۱ کې د جمعې د ورځ د زوال نه پس په کربلا مقام کې واقع شوی کربلا د عراق د کوفې او دجلې په مابین کې یوه مشهور ځائ دی هغه سنان ابن انس یا شمر ذی الجوشن شهید کړلو . خولی ابن یزید اصبحی د هغه سر له تنې مبارکې نه جدا کړو یا دی خولی عبید الله بن زیاد د کوفې ګورنر ته اولیږلو او څه اشعار ویلو سره د انعام طلبګار شو

اوقر ركابي فضة وذهبا . انى قتلتُ الملكَ المحجبا .

قتلت خير الناس امًّا وابًا . وخيرهم اذيلسبون نسبًا .

کې دچا سره يوځای کړي دي چې بادشاه قتل کړي دي چې دچا سره يوځای کې ځما اوبښ د سرو او سپينو زرو نه ډک کړئ ،ځکه چې ما يو داسې بادشاه قتل کړی دی چې دمور پلار دواړو دطرف نه بهتر دی .اوکله چې خلک نسب بيانوي دونکی نه وو. ماداسې سړی قتل کړی دی چې دمور پلار دواړو دطرف نه بهتر دی .د حضرت حسين بن علي سره د هغه دخاندان . ۲۳ . کسان شهيدان شول هغه د شهادت په وخت د . ۵۸ . کالو په عمر وو د هغه نه حضرت ابو هريره . امام زين العابدين . فاطمې . سکې نه بنت حسين احاديث نقل کړی دی د الله شان دی په عين . ۶۷ . سنه کې عين د عاشورا په ورځ عبيد الله بن زياد قتل کړی شو هغه مالک بن اشتر نخعی قتل کړو . دهغه سرئي مختار ته وليږلو هغه عبد الله بن زبير ته هغه امام زين العابدين ته وليږلو .

۶ ـ حسان بن ثابت : دهغه کنيت ابو الوليد دی انصاری خدرجي دی هغه د حضور ﷺ خاص شاعرانو د سر تاج دی . ابو عبيده وائي اهل عرب په دی متفق دی چې په شاعرانو کې افضل شاعر حسان دی هغه د سنه . ۴۰ . نه مخکی د حضرت علی المرتضی په خلافت کې وفات شولو . ۱۲۰ . کاله عمر ئي وو شپيته کاله په جاهليت کې او شپيته کاله په اسلام کې .

۷ـ حکم بن سفيان : هغه ثقفي وو د سفيان يا د حکم ځوی وو يعني يا حکم بن سفيان دی يا ابن حکم دی بعض محدثين وائي چې تابعي دی لکن قوی خبره داده چې هغه صحابی دی . ابن عبد البر صحابی منلی دی .

۸ ـ حکم بن عمرو : هغه ته غفاری ويلی شي له دی وجې نه چې هغه د بنی غفار د قبيلی نه دی بلکه هغه د غفار بن مليل د ورور د اولاد نه دی په بصره کې اوسيدو او مرو مقام کې وفات شوی دی د بعضو په نزد په بصره کې پنځه کاله اوسيدو او هم هلته وفات شوی لکن په مقام مرو کې د حضرت بريده اسلمی سره خوا کې دفن شوی دی .

۹ ـ حنظله ابن الربيع : هغه تميمی دی هغه ته کاتب ويل کې دو ځکه هغه د وحی کاتب وو د حضور ﷺ نه وروسته هغه قرقيسيا نومی ځای ته لاړو هلته اوسيدو او د امير معاويه په زمانه کې وفات شولو دهغه نه ابو عثمان . يزيد ابن شخير احاديث نقل کړی دی .

۱۰ ـ حاطب ابن ابی بلتعة : دهغه د الد نوم عمرو دی يا راشد دی ابو بلتعه دهغه کنيت دی په بدر او خندق وغير غزاګانو کې شريک شوی . ۶۵ . کاله عمر ئي وو او په سنه . ۳۰ .هـ کې وفات شوی .

۱۱ ـ حويصة : هغه د سعود ابن کعب ځوی دی انصاري حارثی دی د محيصه مشر ورور دی مګر هغه د کشر ورور محيصه نه وروستو ايمان راوړی په غزوه احد ، خندق او نورو ټولو غزاګانو کې شريک شوی

۱۲ ـ حبيش ابن خالد : هغه خزاعی دی د فتح مکه په ورځ د حضرت خالد سره وو او شهيد شولو د هغه زوئ هشام له هغه نه روايات نقل کړي دي .

۱۳ ـ جبيب ابن مسلمة : هغه قريشي فهري دی هغه ته حبيب الروم ويلی شي ځکه هغه په روم باندې ډير جهاد ونه کړي دي هغه مقبول الدعاء وو هغه په ملک شام کې په سنه . ۴۲ . هـ کې وفات شولو .

۱۴ ـ حکيم ابن هزام : دهغه کنيت ابو خالد دی قريشی اسدی دی د حضرت خديجة الکبری وراره دی په کعبه شريفه کې يې ولادت شوی د واقعه فيل نه ۱۳ کاله مخکی پيدا شوی په زمانه د جاهليت او اسلام کې د

قریشو سردار ود فتح مکه په کال ئي ایمان راوړو او په سنه ۵۴ . کې وفات شولو په مدینه منوره کې په جاهلیت کې . شپیته . کاله تیر کړي دي او په اسلام کې ئي هم شپیته کاله تیر کړي دي اول د مؤلفة القلوب نه وو بیا پوخ مسلمان شو د اسلام نه مخکې هغه سل غلامان آزاد کړي او سل اوښان ئي د الله په لاره کې خیرات کړي دي

۱۵ ـ حکیم ابن معاویه : هغه نمیري دی امام بخاري فرمائي د هغه په صحابیت کې شک دی د هغه ورور او قتاده د هغه نه روایات نقل کړي دي .

۱۶ ـ حصین بن وحوح : هغه انصاري صحابي دی د هغه احادیث په مدینه منوره کې مشهور دی هغه په ډیر آزیت نه ډکې طریقې سره قتل کړی شوی .

۱۷ ـ حُبشی ابن جُنادة : هغه رسول الله ﷺ په حجة الوداع کې کتلي وو هغه صحابي دی او د هغه شمار د اهل کوفه نه دی خلکو د هغه نه احادیث نقل کړي دي .

۱۸ ـ حجاج ابن عمرو : هغه انصاري مازني دی د اهل مدینو نه د هغوی شمار دی په اهل حجاز کې د هغوی احادیث مشهور دي .

۱۹ ـ حارثة ابن سراقة : هغه انصاري دی د هغه د مور نوم رُبَیِّع دی دا د انس بن مالک ترور ده ، هغه په بدر کې شریک او شهید شوی دی هغه د انصارو نه اولنی شهید دی چې په غزوه بدر کې شهید شولو .

۲۰ ـ حارثة ابن وهب : هغه خزاعي دی د عبید الله بن عمر ابن خطاب اخیافي ورور دی . د هغه شمار په اهل کوفه کې دی .

۲۱ ـ حارثة ابن نعمان : هغه د فضلاء صحابو نه دی . په غزوه بدر . احد او ټولو غزاګانو کې شریک شوی دی . د هغه دا واقعه ده چې یو ځل رسول الله ﷺ په هغه باندې تیریده د هغه ﷺ سره یو بل کس هم موجود وو سلام ئي پرې واچولو او هغه جواب ورکړو حضور ﷺ اوفرمایل ایا تا زما سره دا بل کس ولیدو . ما وویل هو . هغه اوفرمایل دا جبریل وو هغه ستا سلام ته جواب ووایه په آخر کې هغه نابینا شولو هغه مشهور صحابي دی .

۲۲ ـ حارث ابن الحارث : هغه اشعري دی د اهل شامو نه هغه شمارلی شي .

۲۳ ـ الحارث ابن هشام : هغه مخزوي دی . د ابو جهل ابن هشام ورور دی ، په حجاز کې ډیر شریف شمارل کې ده د فتح مکه په ورځ ئي ایمان راوړو هغه ته ام هاني بنت ابی طالب د حضور ﷺ نه آمان غوښتی وو حضور ﷺ آمان ورکړو او هغه سل اوښان ورته عطا کړل هغه د مکې معظمې نه شام ته لاړو د جهاد په شوق کې هلته اوسیدو په جنګ یرموک کې په خلافت فاروقي کې په سنه ۱۵ کې شهید شولو

۲۴ ـ الحارث ابن کلدة : هغه ثقفي دی طبیب وو دی د حضرت ابوبکر الصدیق آزاد کړده غلام دی حقه خبره داده چې هغه صحابي دی .

۲۵ ـ ابو حبة : د هغه نوم ثابت بن نعمان دی انصاري بدري دی د هغه په نوم کې اختلاف دی په بدر کې شریک

شوی او په احد کې شهید شو .

۲۶ـ ابو حمید : دهغه نوم عبد الرحمن بن سعد دی انصاري خزرجي ساعدي دی . د هغه نه یو جماعت احادیث روایت کړی . دهغه وفات د امیر معاویه په آخر دور کې وشو .

۲۷ـ ابو حذیفه : دهغه نوم مهشم یا هشیم یا هاشم دی د عقتبه بن ربیعه زوئ دی . عزوه بدر، احد او په ټولو غزواتو کې شریک شوی دهغه عمر . ۵۳ . کاله وو په غزوه یمامه کې شهید شولو په دور خلافت صدیقی کې .

۲۸ـ ابو حنظلیة : دهغه نوم سهل بن عبد الله حنظلیه دی حنظلیه د هغه د نیا نوم دی په هغه سره مشهور وو .

صحابیاتي

۱ـ حفصة بنت عمر : هغه ام المؤمنین ده . د حضرت عمر لور ده دهغی د مور نوم زینب بنت مظعون دی د حضور ﷺ نه مخکی خنیس ابن حذافه سهمی په نکاح کې وه دهغه سره ئي هجرت اوکړو . د غزوه بدر نه وروسته خنیس وفات شولو . حضرت عمر حضرت ابوبکر الصدیق ته عرض اوکړو چې د حفصې سره نکاح اوکړه، حضرت عثمان هم دا وویل ددې نه وروسته حضور انور ﷺ پیغام ورکړو چنانچې په سنه ۳۰. ه کې د حضور ﷺ په نکاح کې راغله یو ځل حضور انور ﷺ هغی ته یو طلاق ورکړی وو بیا یې ورته رجوع کړی ده ځکه فرمان الهی راغلو چې حفصه ستا بی بی ده او په جنت کې به هم ستا بی بی وی،هغه ډیره مونځگذاره او قائم اللیل وه دهغی نه یو جماعت دصحابو او تابعینو روایات نقل کړې دي

۲ـ حلیمة بنت ابی ذویب : هغه دحضور انور ﷺ د پیو ورکولو والده ده د حضرت ثوبیه نه وروستو هغی نبي علیه السلام ته تر آخره پورې پی. ورکول په دی وخت کې د هغی مشره لور شیما چې حضور ﷺ دهغی په غیږ کې به خوړل کول . دوه کاله دوه میاشتې یا پنځه کاله وروسته حلیمې بی بی حضور ﷺ خپلې مور ته واپس کړو عبد الله بن جعفر د هغې نه روایت کړی ابواب البر والصلة کې دهغې تذکره ده .

۳ـ ام حبیبه : دهغی نوم رمله دی د ابوسفیان ابن صخر ابن حرب لور ده دمور نوم ئي صفیه بنت عاص دی د حضرت عثمان د ترور لور ده په دی کې اختلاف دی چې د هغی نکاح د حضور ﷺ سره کله او چرته شوی ده قوی روایت دادی چې په سنه ۶. ه کې نجاشی اصحمه شاه حبشه په حبشه کې د هغی نکاح وکړه او څلور سوه دینار یا څلور زره درهم ئي له خپل طرف نه ادا کړل حضور ﷺ شرحبیل ابن حسنه ولیږو چې هغه مدینې منورې ته راولي بعضو ویلي دي چې مدینې منورې ته راتلو نه پس نکاح شوې ده چې عثمان غنی کړې ده په سنه ۴۴. ه کې په مدینه منوره کې وفات شوه له هغی نه ډیرو حضراتو ډیر روایات نقل کړی دی

۴ـ ام الحصین : دا د اسحاق لور ده احمسی ده په حجة الوداع کې له حضور ﷺ سره شریکه شوه ددې زوئ حصین د هغی نه روایت کړی .

۵ـ ام حرام : دا د ملحان بن خالد لور ده انصاریه نجاریه ده د جناب ام سلیم خور ده . د حضور ﷺ په لاس ئي ایمان راوړو او بیعت ئي وکړو د عباده بن صامت زوجه حضور ﷺ به د هغی په کور کې قیلوله

کوله. ځکه دا د حضور ﷺ رضاعي خاله وه. له خپل خاوند سره غازیه مجاهده کې دو سره هلته وفات شوله د هغې قبر په مقام قرنس کې دی د هغې نه د هغې خورئ حضرت انس او دهغې خاوند عباده ابن صامت روایات کړی دی دهغې وفات په خلافت عثمانیه کې شوی دی

۶- حمنة: هغه د جحش لورده او د بی بی زینب چې په ازواج مطهراتو کې ده خورده. دبنی اسد دقبیلی نه ده د مصعب بن عمیر زوجه ده چې په غزوه احد کې شهیده شوې وه بیا دا د عبید الله په نکاح کې راغله.

خ:

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱- خالد بن ولید رضي الله عنه: دا خالد دولید قرشي ځوی دی چې مخزومی دی دده والده لبابه صغری ده چې دام المؤمنین بی بی میمونه رضي الله عنها خورده. د اسلام دزمانی نه مخې دخالد شمیر اشراف قریش کې کیدلو. حضور ﷺ ورته دسیف الله (د الله توره) خطاب عطاء کړی و. سنه ۲۱ ھ کې وفات شو. عمربن خطاب ته ئې ځه وصیت وکړو. ده نه دده خاله زاد (دترور ځوئي) ابن عباس او علقمه او جهیربن نفیر د حدیث روایت کوی. دشام په مشهوربنار حمص کې دهغه مزاردی دمشق کې یو سرکې د خالدبن ولید په نوم سره دی عظیم الشان شخصیت دی.

۲- خالدبن هوزه: دا دهوزه عامری ځوئي دا خپله اوده ورور حرمله دنبی کریم ﷺ خدمت کې حاضر شو. دا دواړه د مؤلفة القلوب نه وو. دا خالدبن هوزه هغه دی، چې حضور ﷺ ورنه یوه ونیزه (باندی) خرید کړې وه. او هغوی دپاره ئې عهد نامه لیکلی وه.

۳- خلاد بن سائب: دا خلاد دسائب بن الخلاد ځوئي دی خزرجی دی دا د خپل پلار او زید بن خالد نه روایت کوی.

۴- خباب بن الآرت: دده کنیت ابو عبید الله تمیمی دی زمانه د جاهلیت کې قید کړی شوی وو دی نه پس یوې خزاعیه ښځې آخستلو سره آزاد کړی وو د حضور ﷺ دار ارقم کې داخلیدو نه مخې ده اسلام راوړی وو او دا حباب دهغې صحابه حضارتو نه دی چه د اسلام راوړلو په وجه الله تعالی دپاره ډیر تکلیفونه ورته رسول شوې دي. خوده پری صبر اوکړو. کوفه کې مقیم شوی وو او هلته سنه ۳۷ ھ کې وفات شو. عمرئې ۷۳ کاله وو.

۵- خارجه بن حذافه: دا د حذافه قریشي عدوی ځوی دی. دا د قریشو د ماهر سورو نه یو سور (سوار) دی دده متعلق دا مشهوره ده چې دا دزرو سورو برابر دی دده شمیر مصریانو کې کیږی. په ده باندې یو ځای د عمربن العاص خیال وکړو او مړیې کړو. اویو خارجی سړی عمربن عاص ګڼرلو سره قتل کړی وو. او دا خارجی هغې دریو کې یو سړی دی، چې هغوی د حضرت علی رضي الله عنه او حضرت معاویه او عمروبن عاص قتل باندی اتفاق کړی وو. اودوی ي هر یو هغو دریو اصحابو ي دهر یو دقتل کوشش ي وو. نو د الله تعالی فیصله د حضرت علی رضي الله عنه باره کې پوره شوه. اونور دوه اصحاب بچ شول او دخارجه قتل سنه ۴۰ ھ کې واقع شو.

۶- خزیمه بن ثابت: دا خزیمه بن ثابت دی دده کنیت ابو عماره دی دا انصاری اوسی دی ذو الشها دتین لقب سره معروف دی د بدر جنګ او مابعد غزواتو ي حاضر وو. دصفین جنګ ي د حضرت علی رضي الله عنه ملګری وو. هر کله

چې عمار بن ياسر شهيد شو. نو ده توره راوښكله او مقابله ئې اوكړه تردې چې شهيد شو لو ده نه دده ځوى عبدالله او عماره او جابر بن عبدالله روايات كړى دى.

۷ـ خزيمه بن جزء: دا خزيمه د جزء ځوئي دى دده كنيت ابو عبدالله سلمي دى. ده نه دده ورور حبان بن جزء روايت كوى دعربو يكتا خلقو ي شميرلى شى.

۸ـ خريم بن ابو خرم: دا خريم دا خرم ځوى دى دشداد بن عمرو بن فاتک اسدى نمسى دى ليكن دا خپل نيكه (دادا) طرف ته منسوب كيږى او ده ته خزيم بن فاتک وئيلى شى. دى شاميانو ي شميرلى شى. او دبعضو په نزد كوفيانو ي ده نه يو لوئي جماعت روايت كړى دى.

۹ـ خبيب بن عدى: دعدى انصاري اوسي ځوئى دى غزوه بدر ي حاضر شو او غزوه رجيع ي سنه ۳ هـ كې قيد كړى شو. بيا مكې ته راوستى شو. او دحارث ابن عامر آولاد واخستلو او دى خبيب دبدر په ورځ حارث دكفر حالت ي قتل كړى وو. اوس دحارث ځامنو دى اخستى وو چې دخپل پلار بدله ي ئې قتل كړى دى قيدى جوړيدو سره هغوي سره وو. بيا هغو خلقو مقام تنعيم كې په سولئ وخيژولو. او دا اسلام كې اولنى سړى دى چې دالله تعالى لار كې سولئ وركړى شوى ده. صحيح بخارى كې روايت دى، چې حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحارث دلورنه چاړه اوغوښتله، چې د نوم نه لاندى ويښته پرى صاف كړى. بيا حضرت خبيب دهغى وړوكى ځوى او چتولو سره په خپل ورون كينولو. هركله چې چاړه دهغه لاس ي وه، دبچى مور د هغې كار وائى نه بالكل بى خبره وه. مور چې دا اوليدل، نو سخته او يريدله هغه ويره خبيب دهغى دمخ نه محسوس كړه نو ورته ئې او وئيل ته دې نه ويريږې چې زه به دا معصوم بچى قتل كړم هيڅ كله زه داسې نشم كولى. دبچى مور او وئيل، ما خپل ژوند ي د خبيب نه بهتر قيدې هيڅ كله نه دى ليدلى. په خدائي قسم چې ما خبيب دقيد زمانه ي يوه ورځ اوليدلو. چې دهغه لاس ي دتازه انګورو غنچک وو چې هغه ئې خوړلو. هركله چې هغه داوسپني زنځيرونو كې تړلى وو او مكه ي څه ميوه هم نه وه او ده وئيل. دادالله تعالى عطاكړى رزق دى چې ماته راكړى شوى دى بيا چې خبيب ئې حرم نه حل طرف ته قتل دپاره بوتلو. نو حضرت خبيب اوفرمائيل ماته دومره مهلت راكړئ، چې زه دوه ركعاته مونځ ادا كړم خلقو موقع وركړه او خبيب دوه ركعاته مونځ ادا كړو او وې فرمائيل قسم په خدائي كه كفارو دا خيال نه كولو، چې دى دخوف په وجه ځان بچ كولو دپاره مونځ كوي نو ما به نور هم مونځ كړى وى بيا حضرت خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا دعا اوغوښتله اى الله! دوى يو يو شميرلو سره قتل كړى، چې دوى ي يو هم باقى بچ نشى.

فلست ابالى حين اقتل مسلما	على اى شق كان في الله مضجعي
وذلك في ذات الاله وان يشأ	يبارک على اوصال شلو ممزع

هركله چې دا سلام په حالت كې زه په سولئ كولى شم. نو ماته ددې هيڅ پروانشته، چې زه دالله تعالى لاري يم كه هغه غواړى نو ځما داعضاؤ جوړ جوړ به بركت نه ډک كړى. خبيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه سړى دى، چې دالله لاري زنځيرونو كې كير سرور كولو وخت كې يې ددوه ركعاته مونځ كولو طريقه ئې قائمه كړه.

۱۰ـ خنيس بن حذافه: دا خنيس بن حذافه سهمي قريشي دى. چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مخې د بي بي حفصې

بنت عمر خاوند وو غزوه بدر کې بیا غزوه احد کې حاضر شو . هغې کې ورته یو زخم اولګیدلو . او دهغې په وجه مدینې ته رسید و سره ساه یې ورکړله . دهغه د وفات نه بعد حفصې رضي الله عنها د حضور صلی الله علیه وسلم سره نکاح وکړه

۱۱ـ ابو خراش : دده نوم حداد دی اسلمی دی صحابی دی .

۱۲ـ ابو خلاد : دده نوم او دنسب پته نشته صرف دومره معلومه ده چې یو صحابي دی دهغه نه یو حدیث نقل دی

صحابیاتي

۱ـ خدیجه بنت خویلد رضی الله عنها : داخدیجه دخویلد ابن اسد لورده . قریشیه ده امهات المؤمنین نه ده . دټولو نه مخي دابوهاله بن زراره ښځه وه . بیا ورسره عتیق بن عائذ نکاح اوکړله هغه نه پس ئي حضور صلی الله علیه وسلم سره نکاح اوشوله . هغه وخت ددې عمر څه دپاسه څلویښت کاله وو . اودحضور صلی الله علیه وسلم الله عمر پنځویشت کاله وو . دی نه مخي حضور صلی الله علیه وسلم چا ښځی سره نکاح نه وه کړی . اونه دحضرت خدیجه تروفات پوری پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بلې ښځې سره نکاح نه وه کړې . داخدیجه هغه بی بی ده چې دټولو نه مخي ئي په حضور صلی الله علیه وسلم ایمان راوړو . هغه وخت نه سړوي چا ایمان راوړی وو . اونه ښځو ي دحضور صلی الله علیه وسلم تمام آولاد سوا دابراهیم نه چې هغه دماریه قبطیه نه پیدادی دبی بی خدیجې رضي الله عنها نه دی . د هجرت نه پنځه (۵) کاله مخي مکه ي وفات شوه . بعضو څلور کاله قبل وئیلی دی . اوبعضو ولی دي چې دری کاله قبل هغه وخت دنبوت لس کاله تیر شوی و عمر ئي ۶۵ کاله وو . مقام جیحون کي دفن شوی یعنې صنت المعلی کې

۲ـ خوله بنت حکیم : داخوله بنت حکیم ده دعثمان مظعون ښځه ده صحابیه ده ډیره صالحه اوفاضله بی بی وه یوجماعت ترې روایات کړې دي .

۳ـ خوله بنت ثامر : داخوله بنت ثامر دقبیله انصار نه ده ددې حدیث اهل مدیه ي زیات دی دی نه نعمان ابن ابی العیاش زرقی روایت کړی دی اوبعضو وئیلی دی چې داخوله دقیس بن ملک بن النجار لور ده اوثامر دقیس لقب دی اوصحیح خبره داده چې دواړه جدا جدا ښځې دی .

۴ـ خوله بنت قیس : داخوله دقیس لور ده دقبیله جهینه اوسیدونکې ده . ددې حدیث اهل مدینو کې مروج دی دی نه نعمان بن خربوذ دحدیث روایت کړی دی .

۵ـ خنساء بنت خذام : داخنساء دخذام بن خالد لور ده . انصاریه اسدیه ده . ددې نه حضرت عائشې او ابوهریرة رضي الله عنهما ارنګ صحابو احادیث نقل کړي دي .

۶ـ ام خالد بن سعید بن العاص الامویه : دا ام خالد امویه ده دخالد بن سعید بن عاص لور ده خپل کنیت سره مشهوره ده ملک حبشه ي پیدا شوه . هرکله چې مدینې ته راوستی شوه ، نوعمر ئي کم وو بیا زبیر بن العوام ورسره نکاح اوکړله . دی نه څو خلقو روایت کړی دی

د : صحابه رضي الله عنهم

۱ـ دحیة الکلبی : دادحیة دخلفیه حوی دی بلند مرتبې صحابو رضي الله عنهم نه دی حضور صلی الله علیه وسلم سنه ۶ هـ کې

قیصر بادشاه روم ته د خط ورکولو سره ولیږلو قیصر په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ایمان راوړل او غوښتل خو دهغه درباریانو پری ایمان رانه وړلو . نوهغه هم مسلمان نه شولو . دادحیه هغه صحابی دی چې حضرت جبرائیل آمین به دده صورت ي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندی وحی راوړله . دا دشام ملک ته تلی وو او امیر معاویه زمانې پورې هلته وو دمتعددو خلکو ددنه روایت اوکړو .

۲-ابودرداء: دده نوم عویمر دا دی دعامر انصاری خزرجی ځوئي دی خپل کنیت سره مشهور دی اودرداء لورده. د خپل خاندان سره یې اسلام راوړلو کې دا لوئي پوهه عالم وو شام کې ئي قیام وکړو . اوسنه ۳۲ھ کې دمشق کې وفات شو .

صحابیاتي

ام الدرداء : دام الدرداء نوم خیره دی . دادابو حدرد لورده دقبیله اسلم ده داد حضرت ابودرداء ښځه ده لویه عالمه زاهده فاضله صحابیه ده .په عباداتو کې مشهوره وه حضرت ابودرداء نه دوه کاله مخي وفات شوی وه . دشام ملک ي دحضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت دوري وفات شوه .

ذ :

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱-ابوذر غفاری : دابوذر نوم جندب دی دده پلار جنازه دی داد بلند مرتبې ، مکه کې شروع اسلام راوړونکو نه دی وئیلی شی چې دا ایمان راوړونکو ي پنځم ۵ صحابی دی بیا خپل قوم ته واپس تلی وو . یوې مودې پورې هغوی سره وو تردې چې دغزوه خندق نه پس دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې مدینه منوره کې حاضر شو .بیا مقام ربذه کي ئي قیام وکړو . اوربذه کي سنه ۳۲ھ کې دعثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخلافت زمانه کي وفات شو دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبعثت نه مخکي به ئي عبادت کولو ده نه ډیرو صحابو او تابعینو روایات کړی دی .

۲-ذومخبر : دا دنجاشی وراره دی دنبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خادم دی جبیر بن نفیر وغیره ده نه روایت کړی دی شامیانو ي شمیرلی شی . او دده حدیثونه هغوی نه حاصلیږی .

۳-ذوالیدین : دده نوم خرباق بن ساریه دی لقب یې ذو الیدین دی حجازي دی کله چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو ځل مانځهٔ کې سهوه شو نو ده ورته خبرداری ورکړو د بنو سلیم سره یې تعلق دی .

ر:

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱-رافع بن خدیج : دده کنیت ابوعبدالله دی جنګ احد ي په تیر اولګیدلو ، چې په هغی سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل زه به دقیامت په ورځ ستا ددې تیر ګواه یم ،دهغه دا زخم دعبدالملک بن مروان زمانه کې رااوچت شو.سنه ۷۳ھ کې مدینه طیبه کې وفات شو .عمرئي ۸۶ کاله وو یو لوي جماعت تری روایت کړی دی .

۱-رافع بن عمرو: دا رافع بن عمرو غفاری دی. دده شمیر بصریانو ي کیږی ده نه عبدالله بن الصامت روایت ری دی.

۲-رافع بن مکیث: دا رافع بن مکیث دقبیله جهینه اوسیدونکی دی د حدیبې دصلح په موقع حاضر وو. ډیرو لکو روایت کړی دی

۳-رفاعة بن رافع: دده کنیت ابو معاذ دی دی زرقی انصاری دی غزوه بدر، غزوه احد بلکه تمامو غزواتو ي ضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حاضر وو اودحضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ملګرتیا چې جنګ جمل اوجنګ صفین کې هم وجود وو دحضرت معاویه دورامارت کې وفات شو دده دواړه ځامنو عبید اومعاذ اودده وراره یحیی بن خلاد ده روایت کوی.

۵-رفاعه بن سموال: دسموال قرظی ځوئي دی. داهغه دی چې خپلې ښځې له ئي دری طلاقه ورکړی وو بیا بدالرحمن بن زبیر هغې سره نکاح کړی وه.

۶-رفاعه بن عبد المنذر: دارفاعه بن عبد المنذر انصارو نه دی کنیت ئي ابو لبابه دی دده ذکر به حرف لام کي اشی.

۷-رویفع بن ثابت: دارویفع دثابت بن سکن ځوئ دی انصاری دی مصریانو ي شمیرلی شی امیر معاویه سنه ۴۶ هـ کې طرابلس مغرب باندی امیر مقرر کړی وو برقه ي وفات شو اوبعضو وئیلی دی، چې شام کې وفات شو ده نه حنش بن عبدالله اونور حضرات روایت کوی خیال دې وي چې افریقه امیر معاویه په سنه ۳۷ هـ کې فتحه کړه.

۸-رکانة بن عبد یزید: دارکانه دعبد یزید بن هاشم بن عبد المطلب قرشي ځوی دی ډیر طاقتور وو دحضرت عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زمانی پوری ژوندی وو اوبعضو وئیلی دی. سنه ۴۲ هـ کې وفات شو. ده نه یو جماعت روایت کړی دی.

۹-رباح بن الربیع: داریاح بن الربیع اسیدی دی دده احادیث بصریانو ي مشهور دي.

۱۰-ربیعه بن کعب: داربیعه دکعب ځوی دی کنیت ئي ابو فراس اسلمی دی اهل مدینو کې شمیرلی شی. او دا د اهل صفه نه وو او وئیلی شی چې دی دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خادم پاتې شوی دی او دقدیمو اصحابو نه دی حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به سفر او حضري وو. سنه ۶۳ هـ کې وفات شو.

۱۱-ربیعه بن الحارث: داربیعه دحارث بن عبد المطلب بن هاشم ځوئي دی چې دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره (چچا) دی ده ته شرف صحبت دولت حاصل دی دحضرت عمر خلافت کې سنه ۲۳ هـ کې وفات شو.

داهغه دی، چې دده باره ي حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمکی دفتحی په ورځ فرمائیلی وو.

ورومبنی خون چې زه ئي معاف کوم، دربیعه ابن الحارث خون دی. اوځکه ئي وفرمایل چې دجاهلیت زمانه ي دربیعه یو ځوی چې دهغه نوم آدم وو، قتل کړی شوی وو نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسلام ي دهغه مطالبه پریښودہ.

۱۲ ـ ربیعه بن عمر : دا د شام د علاقې جرش سره تعلق لرې علامه واقدي وايې چې دا په وجه راهط کې شهید شوی وو.

۱۳ ـ ابورافع اسلم : دده نوم اسلم دی د نبی کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ آزاد کرده غلام دی دده د نوم نه دده کنیت زیات مشهور دی دی قبطی وو مخې د عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ غلام وو هغه حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ته بطور هدیه ورکړی وو بیا چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ته د حضرت عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د اسلام بشارت ورکړی شو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ دی خوشحالی کې آزاد کړو. دده اسلام د غزوه بدر نه مخکې وو د حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه څوورځې مخې وفات شولو.

۱۴ ـ ابورمثه : دا ابورمثه درفاعه بن یثربی څوی دی تمیمی دی القیس بن زید بن مناة بن تمیم د اولاد نه دی دده نوم کې ډېر اختلاف دی بعضو هغه نوم بیان کړی دی چې مونږ پورته ذکر کړی دی او بعضو عماره بن یثربی وئیلی دی. اوبعضو دویم نوم ذکر کړی دی. د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خدمت کې خپل پلار سره حاضر شو. کوفیانو کې شمیرلی شي.

۱۵ ـ ابورزین : دا ابورزین دی دده نوم لقیط دی د عامر بن صبره څوئي دی دده ذکر به حرف لام ي راشی.

۱۶ ـ ابوریحانه : دا ابوریحانه د شمعون بن یزید څوی وو بنو قریظو نه انصاري دی یعنی د انصارو حلیف دا حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ خادم وو دده لور ریحانه ده، چې لویه فاضله، عابده، او دنیا نه کناره کښه وه. په آخر کې په شام کې مقیم شوې وه.

صحابیاتي

۱ ـ ربیع بنت معوذ : داربیع د معوذ لور ده صحابیه ده انصارو نه ده لوئي قدر او عظمت والده ده ددې حدیث مدینې او بصره والو ي رائج او مشهور دی

۲ ـ ربیع بنت النضر : داربیع بنت نضر د حضرت انس بن مالک (ترور ، دپلار خور) ده. او د حارثه بن سراقه والده مور ده او صحیح بخاری دی، چې د حضرت انس بن مالک دربیع بنت نضر والده (مور) ده.

۳ ـ رمیصاء : رمیصاء نوم دی د هغې کنیت ام سلیم او ام سلیم د انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ مور ده ددې ذکر به د سین د تختې لاندې راشي.

ز :

صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ

۱ ـ زید بن ثابت : دازید بن ثابت انصاری د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ کاتب دی. حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ چې مدینې ته تشریف راوړی وو. نو دده عمر یوولس کاله وو دده شمیر داسې جلیل القدر فقهاء صحابو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کې دی، چې په هغوی د فرائضو مدار دی د صحابو د هغه جماعت امیر دی چې کومو قرآن کریم جمع کړی وو، د ابوبکر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په دور خلافت کې ...

منوره ي سنه ۴۵ هـ کې وفات شو . او عمر ئي ۵۰ پنځوس کاله وو .

۲- زید بن ارقم : دا زید بن ارقم دی کنیت ئي ابو عمرو دی . انصاری خزرجی دی کوفیینو کې شمیرلی شی کوفه کې سکونت اختیار کړو . او هلته سنه ۶۶ هـ کې وفات شو . دده نسب دارنګه دی زید بن ارقم بن زید بن قیس بن نعمان دده په ذریعه د عبد الله بن ابی منافقت ښکاره شو ، دده په تصدیق کې سورة المنافقون نازل شو ، د مختار بن عبد الملک بن مروان په زمانه کې وافات شو .

۳- زید بن خالد : دا زید بن خالد دقبیلهٔ جهینه نه دی دی کوفي ته راغلی وو او هلته سنه ۷۸ هـ کې وفات شو عمر ئي ۸۵ کاله وو .

۴- زیدبن حارثه : دا زید بن حارثه دی دده کنیت او ابن اسامه دی دده والده سعدی بنت ثعلبه ده ، چې د بنی معن نه ده . زید بن حارثه دهغه مور دخپل قوم سره یو ځائي کولو دپاره راوستلو . نو د بنی معن بن ابي الجرعه یو لښکر دجاهلیت زمانه کي پری لوټ مار اوکړلو . بیا هغه لښکر په هغی کورونو تیر شو ، چې زیدبن حارثه یې اوتښتولو . دهغه عمر هغه وخت اته کاله ښودلی شی . دا نوعمر هلک وو . بازار عکاز ته ئي بوتلو . او خرڅولو دپاره ئي پیش کړو . نو حکیم بن حزام بن خویلد خپلي ترور (پهوپهی) خدیجه بنت خویلد دپاره دڅلور سوره (۴۰۰) درهمو عوض کي واخیستو . بیا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغی سره نکاح وکړه . نو بی بی خدیجې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت ته ورکړو ددې تمامې واقعې پته دزید بن حارثه خاندان ته اولګیده . نو دهغه پلار حارثه اوتره کعب ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلل اوفدیې ورکولو سره یې ځان سره بوتلل غوښتل . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زید بن حارثه ته کلی اختیار ورکړلو . که خپل کورته تلل غواړې اوکه غواړې نوماسره دې اوسي . زیدبن حارثه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خپل کوروالو باندی ترجیح ورکړله . او پلار اوتره (چچا) سره لاړلو . ځکه چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ احسانات او اخلاق کریمانه دهغه زړه کې کور کړی وو دی واقعې نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه مقام حجر ته بوتلو . او حاضرینو ته خطاب کولو سره ئي اوفرمائیل . خلقو ! ګواه اوسئ مازید خپل ځوئي جوړ کړی دی دا ځما وارث دی او زه دده وارث یم دی نه پس هغه ته زیدبن محمد وئیلی شو . تردی چې دالله تعالی شریعت راغی او دا آیت نازل شو لو چې ﴿ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ﴾ هلکان دهغوی والدینو طرف ته منسوب کولو سره بلئ . دا خبره دالله په نزد ډیره دانصاف او راستئ ده . نو بیا هغه ته زید بن حارثه وئیلی شو . دا زید بن حارثه سړو ي دټولو نه مخي اسلام راوړونکو ي دی دیو قول په اعتبار سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده نه لس کاله مشر دی او دویم قول مطابق شل کاله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده نکاح ام ایمن خپلې آزاد کړې وینزې سره اوکړله . هغی نه اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هلک پیدا شو ددې نه پس زینب بنت جحش سره دده نکاح اوشوه . او زید بن حارثه ته به محبوب رسول خدا وئیلی شو . او الله تعالی دهیڅ صحابی نوم قرآن پاک کي سوا دده نه ، نه دی اخستی دا هغه آیت دی : ﴿فلما قضی زید منها وطرا زوجنکها﴾ ده نه دده ځوئي اسامه او نورو خلقو روایت کړی دی غزوه موته ي هرکله چې دی دلښکر امیر وو جمادی الاول سنه (۸) ي شهید کړی شو . هرکله چې عمر ئي ۵۵ کاله وو .

۵-زید بن الخطاب: دازید بن خطاب عدوی قریشی دحضرت عمر بن خطاب ورور دی دا دحضرت عمر رضی الله عنه نه عمر ي لوئي وو اولینو مهاجرینو کښې دی او دحضرت عمر رضی الله عنه نه ئي مخکي ایمان راوړی دی جنګ بدر او هغې نه پس تمام غزواتو ي حاضر وو. جنګ یمامه ي شهید شولو چې خلافت حضرت ابوبکر رضی الله عنه کې.

۶-زیدبن سهل: دازید دسهل ځوئي دی خپل کنیت ابو طلحه سره مشهور دی دده ذکر به حرف طاء ي راشی.

۷-زبیر بن العوام رضی الله عنه: دده کنیت ابو عبد الله قریشی دی دده مور صفیه دعبدالمطلب لور او دحضور صلی الله علیه وسلم ترور ده ده او دده مور شروع ي اسلام راوړی وو هر کله چې دده عمر شپاړس (۱۶) کاله وو دده تره دده تره ته لوګی وکړو دې دپاره چې اسلام پرېږدي خوده داسی اونه کړل. اوټولو غزاګانو ي حضور صلی الله علیه وسلم سره موجود وو. اودحضور صلی الله علیه وسلم ملګرتیا کي جنګ احد کي ثابت قدم پاتې و اوعشره مبشره نه یو دا هم دی. مقام سفوان چې دبصری سرزمین کې واقعی دی عمروبن جرموز سنه ۳۶ هـ کې شهید کړو. دده عمر ۶۴ کاله وو اول وادی سباع ي دفن کړی شو. بیا بصری ته منتقل کړی شو او هلته دده قبر مشهور دی.

۸-زیادبن لبید رضی الله عنه: دازیاد دلبید ځوئی دی کنیت ئي ابو عبد الله دی انصاری زرقی دی تمامو غزاګانو کې حضور صلی الله علیه وسلم سره ملګری وو دحضرت موت ګورنریې هم جوړ کړی وو دحضرت معاویه رضی الله عنه زمانه کې وفات شو.

۹-زیادبن الحارث رضی الله عنه: دازیاد دحارث صدائی ځوی دی دحضور صلی الله علیه وسلم په لاس مبارک ئي بیعت اوکړو اومؤذن هم ورسره پاتی شوی وو. بصریانو ي شمیرلی شي،

۱۰-زاهربن الاسود: دا زاهربن اسود اسلمی دی هغې صحابو رضی الله عنهم نه دی کومو چې داونې لاندې بیعت کړی وو کوفه ي مقیم وو. اوکوفه والو ي شمیرلی شی.

زراع بن عامر: دازارع دې دعامر بن عبد القیس ځوئي دی دعبدالقیس وفد کې شاملیدو سره د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت کي حاضر شوی دی بصریانو کي شمیرلی شي. دده حدیث اهل بصره کي رائج دی.

۱۱-زراره بن ابی اوفی رضی الله عنه: دا صحابو ؤ نه دی دحضرت عثمان رضی الله عنه زمانه کي وفات شو.

۱۲-ابوزید الانصاری: دده په نوم کې اختلاف دی سعید بن عمر دی او یا قیس بن سکن، ده د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې قرآن حفظ کړی وو.

۱۳-ابوزهیر نمیری: دا دنمیر قبیلې نه دی آخر کې شام کې اوسیده.

۱۴-الزبیدی: دده نسبت زبید طرف ته کیږی. دده نوم منبه بن سعد ښودلی شي. خلک وایې چې دا صحابي وو.

صحابیاتې

۱-زینب بنت جحش رضی الله عنها: دازینب بنت جحش رضی الله عنها د امهات المؤمنین نه ده. ددې دمور

نوم اميه دی چې دعبدالمطلب لور ده اودحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترور ده . دادزيدبن حارثه چې دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد كرده غلام وو ، دهغه ښځه وه ، بيا حضرت زيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طلاق ورکړی وو دی نه پس حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسره سنه ۵ھ کې نکاح اوکړله دازينب تمامو ازواجو مطهراتو کې دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوفات نه پس دټولو نه مخکې وفات شوه . دديې اولنی نوم ((بره)) وو . حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دديې نوم زينب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ايښی وو . بی بی عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دديې شان کې فرمائي هيڅ ښځه دی زينب نه دين کې بهتره نشته . دادټولو نه زياته الله نه ويريدونکې ده اودټولو زياته رښتيا ويونکې ده . دټولو نه زياته قرابت لرونکې ده دټولو نه زياته صدقه ورکونکې ده او هغو تمامو کارونو ي چې هغو کې دالله قرب حاصلولو دپاره ځان په کار راتلی شی دټولو نه زيات ځان قربانی کونکی ده سنه ۲۰ھ کې مدينه کې وفات شوه او په مدينه منوره کې دفن شوه

۲-زينب رضی الله عنها بنت عبدالله : دازينب دعبدالله بن معاويه لورده . دبنو ثقيف اوسيدونکې ده دعبدالله بن مسعود ښځه وه دې نه ددې خاوند ابن مسعود اوابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او بی بی عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دحديث روايت کوي .

۳-زينب بنت ابی سلمه : دادحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بي بي اود ام سلمه لور ده ددې نوم هم بره وو . حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بدلولو سره زينب کيښودلو . ملک حبشه ي پيداشوه دعبدالله بن زمعه زوجيت ي وه دخپلې زمانې ښځو ي دټولو نه زياته فقيه او عالمه وه ، د حرې د واقعې نه وروسته وفات شوه .

س :

صحابه کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

۱- سعدبن ابی وقاص رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : دده کنيت ابواسحاق دی دده دپلار ابووقاص نوم مالک بن وهيب دی زهری دی دقريشو دقبيلې نه دی هغو لسو نه يو دی چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته دجنت بشارت ورکړی وو داسلام شروع ي ئی ايمان راوړی وو کله چې عمرېې اوولس کاله وو دده بيان دی زه اسلام راوړونکو ي دريم سړی يم .اوزه ورومبنی سړی يم چې دالله تعالی لاري مي تير اندازی اوکړه ټولو غزواتو ي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره برابر شريک وو ډير مستجاب الدعوات وو . دديې خبری خلقو ي لوی شهرت وو دبدی دعاء نه ئي خلق ويريدل اوددعائي خير آرزو ئی تری لرله اوداخبره ځکه وه ، چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده حق ي داد عا کړی وه چې (**اَللّٰهُمَّ سَدِّد سَهمهُ ، وَأَجِبْ دَعْوَتَهُ**.) ای الله دده تير نيغ اورسوی اودده دعا قبوله کړی ده دپاره اوزبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دپاره حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل مور وپلار دواړه جمع کولو سره داسې فرمائيلي وو (**اِرْمِ فِدَاكَ أَبِي وَأُمِّي**.) ارم فداک ابی وامی : داسې الفاظ دی داوړو نه علاوه بل چا دپاره ئی نه دي فرمائيلي . مقام عقيق کې چې مدينې ته قريب دی وفات شولو اودخلقو په اوږو مدينې ته اورسولی شو مروان بن الحکم دده دجنازی مونځ ورکړلو . مروان هغه زمانه ي دمدينې گورنر وو مقام بقيع کې دفن کړی شو دا واقعه سنه ۵۵ھ کې پيښه شوه . عمر ئی څه دپاسه ۷۰ کاله

وو د عشره مبشره نه دی دده مرګ دټولو نه آخر کې واقع شو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دکوفی ګورنر جوړ کړی وو ده نه يولوی جماعت صحابه او تابعين روايت کوی.

۲ ـ سعدبن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دمعاذ ځوئي دی انصاری اشهلی اوسی دی مدينه کې ايمان راوړی وو عقبه اولی اوثانيه مينځ کې يې اسلام راوړلو. دده په اسلام باندې د اشهل قبيلې ډيرو خلکو اسلام راوړلو. دانصارو په تمامو خاوندانو نو ي دا وړومبنی خاندان وو چې اسلام ئې راوړلو. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده ته دسيد الانصار خطاب عطا کړی وو ذی خپل قوم کي لوئی بزرګ اوسردار تسليمولی شو. جليل القدر او اکابر او اخيارو صحابو نه دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره جنګ بدر او احد ي شريک وو اوبهادرانه مقابله ئی اوکړله جنګ احد ي ئی شا رګ په تير اولګيدلو وينه يې بنده نه شوه تردې چې يوه مياشت پس وفات شولو. داواقعه دذی القعدې سنه ۵هـ ده. هغه وخت ئی عمر ۳۷ کاله وو جنت البقيع ي خاوروته اوسپارلی شو دصحابو يو جماعت ده نه روايت کوی.

۳ ـ سعدبن خوله: غزوه بدر کې يې شرکت اوکړو او حجة الوداع واله کال نه وروسته مکه ي وفات شولو.

۴ ـ سعدبن عباده: دده کنيت اوثابت انصاری دی ساعدی خزرجی دی دا د لسو نقباؤ نه يودی دانصارو سردارانو ي شميرلی شو. اوشان اوشوکت کې دټولو نه زيات وو. رياست اوسرداری ئی داسی بياموندی وه چې دهغه اعتراف ئی قوم هم کولو سنه (۱۵) هـ کې د شام د حوران په علاقه کې. په دی خبره دټولو اتفاق دی چې دا خپلې غسل خانه ي مړبيا موندی شوی دی چې اوليدی شو نوټول جسم ئي شين شوی وو تمام خلقو دده دمرګ وجه معلومه نه کړی شوه تردې چې ديو وينکی آواز د خلقو غوږونو ته راغی چاته ښکاريده نه اودائي وئيل.

نحن قتلنا سيد الخزرج سعد بن عبادة ۔۔۔۔ رمينا بسهمين فلم نخطاء فؤادة

يعنی مونږ د خزرجو سردار سعدبن عباده قتل کړو اومونږ دوه تيرونه دده په زړه اوچلول چې نښه خطاء نه شوه. په دی وجه مشهوره شوه چې کو جنې (پيری) قتل کړلو.

۵ ـ سعيدبن الربيع: داسعيد بن الربيع دانصارو د خزرج قبيلې نه دی جنګ احد کي شهيد شو و حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده او عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تعلق قائم کړی وو دی او خارجه بن زيد يو قبر کې دفن کړی شو

۶ ـ سعيدبن الاطول: دا د قبيله جهينه نه دی ده نه دده ځامن عبدالله او ابونضره روايت کوی.

۷ ـ سعيد بن زيد: داسعيد دزيد ځوی دی دده کنيت ابو الاعور دی عدوی قريشی دی عشره مبشرو نه دی شروع نه ورته شرف اسلام حاصل شو اوتمامو غزواتو ي سوا دغزوه بدر نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره شريک وو ځکه چې داسعيد بن زيد طلحه بن عبدالله سره وو. د ابو سفيان د قافلې په تالاش کې وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غنيمت ي ددوی حصه مقرره کړې وه. اودحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دده نکاح کی وه. اوداهغه فاطمه ده چې دهغې په وجه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان شو. سنه (۵۱) کې مقام عقيق کې وفات شو. اوهلته نه مدينې ته راوړی شو. او جنت البقيع ي دفن کړی شو. ځه دپاسه ۷۰ کاله عمر ئی وو ده نه يو جماعت روايت کوی.

۸ ـ سعيد بن حريث: داسعيد بن حريث قريشی مخزومی دی دمکې فتح کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره

شریک وو هغه وخت ئی عمر ۱۵ کاله وو بیا کوفه ي اقامت پذیر شو او هلته وفات شو . او هلته ئی قبر دی . حافظ ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللهُ ویلې دي دهغه قبر جزیره ي دی هیڅ اولاد ئی نه وو دهغه ورور عمرو بن حریث ترې روایت کوی

۹ـ سعید بن العاص رضی الله عنه : قریشی دی دهجرت په کال پیدا شو د قریشو سردارانو ي وو کومو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنهُم چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ حکم سره د قرآن پاک کتابت او کړو . هغوی کې یو دا هم دی حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ د کوفی گورنر جوړ کړی وو ده اهل طبرستان سره جنگ او کړو . هغې کې یې فتحه ومندله په سنه ۵۹ ھ کې وفات شو .

۱۰ـ سعید بن زید رَضِيَ اللهُ عَنهُ: د سعد بن عباده ځوی دی انصاری دی وئیلی شي چې د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د صحبت نه مشرف شو خپل پلار نه روایت کوی او ده ځوی شرحبیل او ابو امامه بن سهل ده نه روایت کوی واقدی وغیره وئیلی دی ده صحابی کیدل صحیح دی حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ د جانب نه د یمن گورنر وو .

۱۱ـ سبره بن معبد رَضِيَ اللهُ عَنهُ: جهنی دی د مدینې او سیدونکی دی ده شمیر د مصر محدثینو کې کیږی .

۱۲ـ سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنهُ: دا ساعدی انصاری دی ابو عباس ئی کنیت دی ده نوم ((حزن)) وو بیا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ئی نوم سهل سره کیښودلو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ چې وفات شو ، نو ده ده عمر ۱۵ کاله وو سهل مدینه کی سنه ۹۱ ھ کې وفات شو او بعضو سنه ۸۸ ھ بیان کړی دی دا ټولو نه آخری صحابي دی چې مدینه ي وفات شو ده په مرگ سره مدینه د صحابو نه خالي شوه .

۱۳ـ سهل بن ابی حثمه : کنیت ئی ابو محمد دی ابو عماره انصاری اوسی هم ورته وئیلی شی سنه (۳) ھ کې پیدا شو . او کوفه ي اقامت گزین شو او مدینې والو ي شمیرلی شي . او مدینه ي د مصعب بن زبیر زمانه ي وفات شو . یوه لویه ډله ترې د حدیث روایت کوی .

۱۴ـ سهیل بن حنیف انصاری : اوسی دی جنگ بدر ، احد او تمامو غزواتو ي شریک وو . دا حد جنگ ي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره ثابت قدم پاتې شو او د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د وفات نه پس د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ ملگری او هم نشین وو حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنهُ مدینه ي خپل قائم مقام جوړ کړلو . او هغې نه پس ئي د فارس حاکم جوړ کړلو . سنه ۳۸ ھ کې په کوفه کې وفات شو .

۱۵ـ سهل بن بیضاء رَضِيَ اللهُ عَنهُ: ده ورور سهیل وو بیضاء دې دواړو مور وه چې د هغې نوم رعد وو او د پلار نوم ئی وهب بن ربیعه وو او سهل هغی مسلمانانو ي دی ، چې د هغوی اسلام مکه ي ظاهر شو او دا هم وئیلی شي چې ده خپل اسلام پټولو . او مشرکینو سره بدر ته اورسیدو . هغه زمانه ي یوه ورځ گرفتار کړی شو نو عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُ ده ده متعلق گواهی ورکړه چې ما دی مکه ي په مونځ کولو لیدلی دی نو دا پریښودی شو بیا مدینه کې وفات شو او آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ده ده او ده د ورور د جنازی مونځ جومات کې ورکړو . د دواړو ورونو ذکر د جنازی د مونځ بیان کې راغلی دی .

۱۶ـ سهل بن الحنظلیه : حنظلیه ده ده د نیا نوم وو او بعضی وائی ده ده مور نوم وو او هغه جانب ته دا منسوب

کیږي او دی نوم سره متعارف دی دده دپلار نوم ربیع بن عمرو و او سهل هغی خلقونه وو چې د ونې لاندې ئې بیعت کړې وو لوی فاضل وو ډیر خلوت پسند ذکر او مونځ کي بی کچې مشغول وو څه اولاد ئې نه وو د شام ملک کې ئې سکونت وو او د امیر معاویه رضی الله عنه د خلافت زمانه کي دمشق کي وفات شو.

۱۷ - سهیل بن عمرو رضی الله عنه: دا سهیل بن عمرو قرشي عامري دی د قریشو سردار دی. بدر جنګ کي د کفر په حالت کې ګرفتار شو حضرت عمر رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خواست او کړو یا رسول الله! دده غاښونه وباسه چې ابد. چیرته ستاسو خلاف خطبه ورنکړی شی رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل پریږده ئې شاید دی چرته داسې مرتبې ته اورسی چې ته ئې هم تعریف او کړې اودا صلح حدیبیه کې د کفارو نماینده حاضر شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس چې څوک مرتد کیدل نو ده په د ارتداد نه منع کول په سنه ۱۸ھ کې طاعون عمواس کې وفات شو. او دا هم وئیلی شی چې ((یرموک)) کې شهید کړی شوي وه دده فضائل زیات دي

۱۸ - سهیل بن بیضاء: قریشي دی پخوانی مسلمان دی دوه هجرتونو والا دی مکې معظمې نه یې حبشي ته هجرت کړی وو بیا د هغه ځای نه مدینې منورې ته یې هجرت وکړو په ټولو غزاګانو کې شریک وو په سنه ۹ھ کې د حضور صلی الله علیه وسلم ژوند مبارک ي چې تبوک نه ئې تشریف راوړلو دی وفات شو لو ځان پس یې څه اولاد ئې نه دی پریښی.

۱۰ - سمره بن جندب رضی الله عنه: هغه فزاري دی د قبیله انصار حلیف وو حافظ وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ئې ډیر روایت کولو او ده نه یو جماعت روایت کوی بصره کی د سنه ۵۹ھ آخیر کې وفات شو.

۲۰ - سلیمان بن حر: دده کنیه ابو المطرف ده خزاعی دی عالم او عابد دی، په کوفه کې اوسیده د درې نوي ۹۳ کالو عمر والا وو

۲۱ - سلیمان بن بریده: اسلمی دی د ډیرو صحابو نه یې روایات آخستې دي په سنه ۱۵ھ کې وفات شو

۲۲ - سلمه بن اکوع: کنیت ئې ابو مسلم دی اسلمی مدنی دی دا ونې لاندې بیعت کونکو نه دی پیاده جنګ کونکو ي د ټولو نه زیات بهادر او قوی وو سنه ۷۴ ھ کې مدینه ي وفات شو عمر ئې ۸۰ کاله وو. ده نه ډیر خلق روایت کوی.

۲۳ - مسلمة بن هشام رضی الله عنه: دا قرشي مخزومی د حبشې د مهاجرینو نه دی بنه او صاحب فضل صحابی دی دابو جهل ورور دی شروع زمانه کي ئې اسلام راوړی وو دالله تعالی لار کې یې ډیر تکلیفونه اوچت کړل مکه ي نظر بند کړی شو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به کوم کمزورو او ضعیفانو دپاره قنوت ي دعا کوله دا په یې هم هغوی کې شریکولو. دا مکه کې د قید کیدو په وجه بدر ي شریک نه شو. سنه ۱۴ھ کې چې د حضرت عمر رضی الله عنه خلافت وو، جنګ مرج الصغر کې شهید شو.

۲۴ - مسلمة بن صخر: انصاري بیاضي دی وئیلي شي چې دده نوم سلیمان وو دا هغه کس دی چې خپلې ښځې سره د ظهار کولو نه پس ئي جماع کړې وه. ژړا زاری کونکو نه دی هم وو بخاری رحمه الله فرمائیلی دی چې

دده روايت معتبر نه دي.

۲۵ـ سلمه بن المحبق : ابو سنان دده كنيت دى دمحبق نوم صخر بن عتبه الهذلي وو بصريانو ي شميرلى شو

۲۶ـ سلمه بن قيس : اشجعي دى ابو عاصم ورته شامي وائي اود كوفي اوسيدونكو كې شميرلى شى هلال بن يسار وغيره ده نه روايت كوى.

۲۷ـ سلمان فارسي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: كنيت ئى ابو عبد الله دى د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد كرده دى فارسي الاصل د رامهرمز د اولادې نه دى او بعضى دا وائى چې داصفهان اوسيدونكى دى ددې ن طلب ي ئى سفر اوكړو دټولونه مخې نصراني مذهب ئى اختيار كړو دهغى كتابونه ئى اولوستل او په هغه دين كې يې پرله پسې مشقتونه برداشت كول بيا قوم عرب گرفتار كړلو او ديهوديانو په لاس ئى خرڅ كړلو . بيا هغه يهوديانو سره مكاتبت وكړو. رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بدل كتابت ي دهغه مدد وكړو وئيلى شى ، سلمان فارسي څه دپاسه لسو آقاگانو غلام پاتى شوى دى حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې مدينى ته راورسيدو نو مسلمان شو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل سلمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څمونږ داهل بيتو نه دى اودى هم دهغى كسانو نه دى چې دهغوى دقدوم جنت الفردوس متمنى دى عمر ئى ډير زيات وو وئيلى شى چې ددوه نيم سوه كالو وو او بعضى روايتونو ي درې نيم سوه كاله عمر ئى دى ليكن وړومبنى قول صحيح دى دخپل لاس گټه به ئى خوړله او صدقه كوله سنه ۵۳ هـ كې شهر مدائن كې وفات شو هلته قبر دى.

۲۸ـ سلمان بن عامر : ضبي دى بصريانو ي شميرلى شى كم عمره صحابي دى د صنب په قبيله كې يو اځې ده د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې حديث نقل كړې دي.

۲۹ـ سفينه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دا د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آزاد كرده دى بعضى وائى دام سلمه آزاد كرده دى او تاحيات ئى ترې دنبى كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخدمت عهد اخستى وو وائى ، چې سفينه دهغه لقب وو اودهغه دنوم باره كى اختلاف دى بعضو روته رباح وئيلى دى او بعضو مهران او بعضو رومان عربي النسل وو او بعضو ورته فارس الاصل وئيلى دى . بيان كيږى چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو سفرې وو هركله چې څوك به ستړى شو . نو خپله توره ، ډهال ، نيزه به ئى په ده اچوله. تردې چې ډير څيزونه پرى واچولى شو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمائيل دبار خو سفينه (يعنى كشتى) ده.

۳۰ـ سالم بن معقل : دابو حذيفه بن عتبه بن ربيعه آزاد كرده دى دفارس اصطرخ اوسيدونكى وو بهترين صحابي دى خاص قراء كې شميرلى شو څكه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمائيل ، څلور سړو نه قرآن زده كړى (۱) ابن ام عبد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه (۲) ابى بن كعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه (۳) سالم بن معقل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه (۴) او معاذ بن جبل نه دى بدر كى شريک شوى.

۳۱ـ سالم بن عبيد : اشجعي دى اهل صفو نه دى اهل كوفه ي شميرلى شى ده نه بلال بن يساف روايت كوى.

۳۲ـ سراقه بن مالک : داسراقه بن مالک بن جعشم مدلجي كناني دى قديد ته به تلو راتلو او اهل مدينه كې

روایت کوی دډیری اوچتی درجی دشاعرانونه وو سنه ۲۴ھ کې وفات شو . په
میرلی شو . یولوئی جماعت تری روایت کوی
جرت کې د هغه هغه واقعه وه چې د حضور دنیولو لپاره وتلی وو چې ایمان یې وربانديې راوړو حضور هغه ته
فرمایل چې زه ستا په لاسونو کې د فارس باد شاه بنګړي کورم.

۳۳ ـ سفیان بن اسید : داسفیان بن اسید الحضرمی الشامی دی جبیر وغیره ترې روایت کړی دی.

۳۴ ـ سفیان بن عبدالله : دا ازدي د بنو شنو ونه دی او د حجاز محدث دی.

۳۵ ـ سفیان بن عبد الله : دا دعبد الله بن ربیعه ځوی دی، کنیت یې او عمرو دی، سقفي، د طائف والا ونه دی، دعمر فاروق د طرف نه د طائف حاکم وو.

۳۶ ـ سخبره : دده کنیت ابو عبد الله ازدی دی ده نه دده ځوی عبد الله کتاب العلم کي دد ی خبرې روایت کوي

۳۷ ـ السائب بن یزید : دده کنیت ابویزید کندی دی سنه (۲) ھ کې پیدا شو . داوو (۷) کالو په عمري خپل والد ماجد سره حجة الوداع ي حاضر شو . ده نه زهری او محمد بن یوسف روایت کوی سنه (۸۰) ھ کې وفات شو.

۳۸ ـ السائب بن خلاد : دده کنیت ابوسهله دی انصاری خزرجی دی سنه (۹۱) ھ کې وفات شو . ده نه دده ځوی او عطاء بن یسار روایت کوی.

۳۹ ـ سوید بن قیس : دده کنیت ابوصفوان دی ده نه سماک بن حرب روایت کوی او کوفیانو کي شمیرلی شی

۴۰ ـ ابوسیف القین : دحضور ﷺ دځوی ابراهیم رضي الله عنه رضاعی پلار وو د ده نوم براء بن اوس انصاری دی خپل کنیت سره زیات مشهور دی دده ښځه ام برده ده چې ابراهیم رضي الله عنه ته ئې پی ورکړې وو.

۴۱ ـ ابوسعید الخدري : انصاری خدری دی خپل کنیت سره مشهور شولو حافظ حدیث دی دصحابه او تابعینو یولوئی جماعت ده نه دحدیث روایت کوی سنه ۷۴ھ کې وفات شو او جنت البقیع کي خاورو ته اوسپارلی شو ۸۴ کاله ئی عمر وو.

۴۲ ـ ابوسعید بن المعلی : دا ابوسعید حارث بن معلی انصاری زرقی دی ۶۴ کاله عمر ئی وو سنه ۶۴ھ کې وفات شو.

۴۳ ـ ابوسعیدبن ابی فضاله : حارثی انصاری دی دده کنیت دده نوم دی اهل مدینه ي شمیرلی شی.

۴۴ ـ ابوسلمه : دا دعبدالله بن عبدالاسد ځوی دی مخزومی قرشي دی دحضور ﷺ دترور ځوی یعني دبره بنت عبد المطلب ځوی دی د حضور ﷺ نه مخکې د ام سلمه رضی الله عنها خاوند وو، دهغه د مرګ نه وروسته ام سلمه رض د حضور ﷺ په نکاح کې راغله په ټولو غزاګانو کې د حضور ﷺ سره شریکه وو، مدینه منوره کې په سنه ۴ ھ کې وفات شو په نوم یې کنیت غالب وو.

۴۵ ـ ابوسفیان ابن حرب رضي الله عنه: دا د صخر بن امیه ځوی دی اموی قریشي دی دا امیر معاویه والد دی، د فیل د واقعې نه لس کاله مخکې پیدا شوی وو، د جاهلیت په زمانه کې د قریشو د سردارانو مشر وو، د فتح مکې

په ورځ یې ایمان راوړلو د مؤلفة القلوب نه وو په غزوه حنین کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه غزوه کې هغه سل اوښان او څلویښت اوقیې سره زر ورکړل، د طائف په جنګ کې د هغه یوه ستر ګه ختمه شوې وه، په غزوه یرموک یعنی عهد فاروقي کې یې دویمه ستر ګه شهیده شوه په کاڼي لګیدو سره، دده نه عبد الله بن عباس رض احادیث نقل کړي دي په سنه ۳۴ هـ کې په مدینه منوره کې وفات شو، جنت البقیع کې دفن کړی شو. ام المؤمنین ام حبیبه دده لور وه یعني دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سخر وو.

۴۶ـ ابوسفیان بن حارث : دا د حارث بن عبد المطلب ځوی دی یعنی د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تره ځوی دی او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعي ورور دی حلیمه سعدیه بن ابي ذویب دده ته هم پی ورکړی وي، بعضو ویلي دي چې دده نوم مغیره وو او بعضو ویلي دي چې مغیره دده ورور وو او دده نوم دده کنیت دی د جاهلیت په زمانه کې د اچتو شاعرانو کې وو، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هجوه کې به یې اشعار لیکل حسان بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په اشعارو کې د هغه د اشعارو جواب کولو، کله چې مسلمان شو د شرم د وجې نه یې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته نیغ نشو کتلی، د فتح مکې په ورځ مسلمان شو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وویل ابوسفیانه ! ته لاړ شه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دربار عالیه کې داسي ووایه (**تالله لقد اثرك الله علينا - وان كنا لخاطئين**) یعنی الله تا ته لوی عزت درکړی دی او مونږ خطاکاریو هغه داسې وکړل، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته د رحمت په نظر وکتل او وې ویل (لاتثريب عليكم اليوم يغفر الله لكم) تاسو باندې نن څه ملامتیا نشته الله دې تاسو معاف کړي، او اسلام یې قبول کړو، د رحمت په لم کې یې ورله ځای کړو د هغه د مرګ واقعه داسې وه چې حج ته لاړو یا یې د سر خریلو په وخت کې د هغه د سر دانې کټ کړې ددې وجې نه بیمار شو کله چې مدینې ته واپس راغی نو وفات شو، د عقیل ابن ابي طالب په کور کې دفن شو، عمر فاروق رض د هغه جنازه وکړه، وفات یې په سنه ۲۰ هـ کې وشو

۴۷ـ ابو السمع : دده نوم ایاد دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاص خادم یا ازاد کرده غلام دی په کنیت باندې مشهور دی معلومه نده چې کله او په کوم ځای کې وفات شوی دی.

۴۸ـ ابو سهله : دده نوم سائب ابن خلاد دی دده ذکر تیر شوی دی

صحابیاتې

۱ـ سوده : دا سوده رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بنت زمعه ام المؤمنین ده شروع زمانه ي ئی اسلام راوړی وو د خپل تره (چچا) ځوی سکران بن عمرو نکاح کي وه . چې خاوند ئی وفات شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسره نکاح وکړه او دی سره مکه کي خلوت وشو دا نکاح د بی بی خدیجی رضی الله عنها د وفات نه پس او د بی بی عائشی رضی الله عنها د نکاح نه مخکي وشوه هغی مدینې ته ئي هجرت وکړو . هر کله چې بوډی شوه، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او غوښتل، چې طلاق ورکړی خو هغی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خواست او کړو چې طلاق نه ورکوی او هغی د خپل وار ورځ بی بی عائشی ته ورکړه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله نکاح کي وساتله شوال سنه (۵۴) هـ کې مدینه کي وفات شوه.

۲ـ ام سلمه رضی الله عنها : دا ام سلمه رضی الله عنها ام المؤمنین هند بنت ابی امیه ده جناب رسول الله

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مخکې دابوسلمه نکاح کې وه ابوسلمه سنه (۴)ھ کې وفات شو . نو هغې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په دغه کال کې د شوال په میاشت کې نکاح او کړله عمر يې ۸۴ څلور اتيا کاله وو بيا په سنه ۵۹ ھ کې وفات شوه د هغې نه دهغې لور زينب او بی بی عائشې صديقه وغيره روايت کوی .

۳ - ام سليم رضی الله عنها : د دملحان لور ده ددې نوم سهله يا رمله يا مليکه يا غميصه يا ميصاييان دی ددې نکاح د مالک بن نضر سره شوی وه کوم چې د انس بن مالک پلار دی . حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مالک بن نضر ځوی دی بيا دامالک بن نضر دکفر په حالت ي قتل کړی شو دی دی اسلام راوړلو ابو طلحه دی ته دنکاح پيغام ورکړو هغې ورته وويل که اسلام دې راوړلو نو نکاح در سره کوم او د اسلام نه سوا در نه هيڅ مهر نه غواړم نو ابوطلحه ايمان راوړلو او نکاح يې ورسره وکړه څه خلک د هغې نه روايت کړی دی .

۴ - سبعيه بنت حارث : دا اسلميه ده د سعدبن خوله په نکاح کې وه د خاوند وفات يې په حجة الوداع شوی دی ددې د کوفې والاو د هغې نه روايات نقل کړې دي .

۵ - سهيمه بنت عمير : دا د مزينه قبيلې نه وه د رکانة بن عبد زيد په نکاح کې وه په باب الطلاق کې يې ذکر راغلی دی .

۶ - سلامة بنت حر : دا ازديه ده يا فزاريه ده کوفې والاو ددينه حديث نقل کړي دي .

۷ - سلمی : دا درافع مور او دابورافع زوجه صحابيه ده . دابراهيم ابن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعي مور ده حضرت فاطمې ته يې د بنت عميس په ملګرتيا غسل ورکړی وو .

ش :

صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱ - شداد بن اوس : دده کنيت ئی ابوليلی انصاری دی دحسان بن ثابت د تره ځوی دی په آخر کې په بيت المقدس کې اوسيده په سنه ۵۸ کې د ۷۵ کالو په عمر کې وفات شو په شام کې يې مزار دی . عباده بن صامت او ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وائي چې علم او حکمت ورکړی شوی وو .

۲ - شريح بن هانی : دده کنيت ابوالمقدم حارثی دی ده حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده د پلار کنيه ابو شريح ايخې وه لهذا د هاني بن يزيد کنيه او شريح ده د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ملګرو نه دی .

۳ - شريدبن سويد : دا ثقفي دی دحضرموت اوسيدونکی دی دا په بنو ثقيف کې شميرل شوی دی ، دبعضو خلکو په نزد طائف والاو کې شمار شوی دی حجاز والاو سره دده احاديث شته .

۴ - شکل بن حميد : دا عبسي دی ، دده نه دده ځوی شتير احاديث نقل کړې دي ، کوفې والاو کې شمار شوی دی .

۵ - شريک بن سحماء : خيال کول پکار دی چې سحماء دده مور ده دده د پلار نوم عبده بن مغيث دی هغه په

خپلې ښځې باندې د بلال بن امیه سره د زنا تهمت ولګولو ، بیایې لعان وکړو ، دا د خپل پلار عبده سره د احد په جنګ کې شریک شوی وو .

۶ ـ ابوشبرمة : خیال کوی چې شیرمه د شین په پیښ او دباء په سکون سره دی ، دا صحابي دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې وفات شو ، په حج کې د دغه ذکر راغلی دی .

۷ ـ ابوشریح : دده نوم خویلد بن عمرو دی ، کعبي عدوي خزاعي دی ، د فتح مکې نه مخکې یې اسلام راوړی دی او په سنه . ۶۸ هـ کې په مدینه منوره کې وفات شوی دی په خپلې کنیې سره مشهور دی .

صحابیاتې

۱ ـ الشفاء بنت عبد الله : دا قریشیه عدویه ده نوم یې لیلی دی ، شفاء یې لقب دی ، د هجرت نه مخکې یې ایمان راوړی دی ، د لوی عقل او پوهې والا وه ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ددې په کور کې آرام کولو ، دې به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لپاره ځانله بستره او تهبند (ازار) ایخی وو ، د آرام کولو لپاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اول پی دې ورکړې دي .

۲ ـ ام شریک غزنة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : ددې پوره نوم عزیه بنت دودان دی ، د قریشو سره یې تعلق دی او صابیه ده .

۱ ـ ام شریک انصاریه : دا انصاریه ده ، د فاطمې بنت قیس د عدت په بیان کې ددې ذکر راغلی دی ، کله چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل (اعتدي في بیت أم شریک) بعضې خلک وایې چې ام شریک د عتبه انصاري ښځه ده ، خیال کول پکار دي چې یو ام شریک قریشیه هم شته کومه چې د لؤي بن غالب په اولاد کې ده دا انصاریه ده .

ص :

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱ ـ صفوان بن عسال : دا مرادی دی د مراد قبیلې سره یې تعلق دی په کوفه کې اوسیدو د کوفې والاو سره احادیث شته .

۲ ـ صفوان بن معطل : دده کنیت ابو عمرو دی سلمي دی او په ټولو غزاګانو کې شریک شوی وو د حضرت ام المؤمنین د تهمت واقعه دده سره تعلق لري لوی متقي او بهادر وو ، د ارمنیا په جنګ کې شهید شو د شپیتو کال نه یې عمر زیات وو ، مشهور صحابي دی .

۳ ـ صفوان بن امیه : دا امیه بن خلف ځوی دی جمحی قریشي دی د فتح مکې په ورځ تختیدلی وو عمر بن وهب او دغه ځوی وهب دغه لپاره آمان حاصل کړی وو ، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپلې لمن کې ورته ځای ورکړو ، چونکه عمر بن وهب دغه تلاش وکړو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یې حاضر کړو وې ویل چې وهب بن عمیر ماته وویل چې تاسو به ماته پدې شرط آمان کړی دی چې زه به دوه میاشتې په سفر کې تیروم ،

پیغمبر ﷺ ورته څلور میاشتې امان ورکړو صفوان د حضور ﷺ سره د کفر په حالت کې د حنین او د طائف په موقع شریک وو ، پیغمبر ﷺ ورته د مال غنیمت نه ډیر مال ورکړه ، صفوان په طائف کې اسلام قبول کړو بیا یې هجرت وکړو مدینې منورې ته راغی د هغه نه یوه میاشت مخکې اسلام راوړی وو د ده د اسلام په راوړلو سره پیغمبر ﷺ د ده نکاح بر قرار وساتله ، حضرت صفوان مکه کې په سنه ۴۲ کې وفات شو ، ده په غزوه طائف کې ایمان راوړی وو .

۴ ـ صخر بن وداعه : دا غامدي ازدي دی طائف کې اوسیده او د حجاز والاو کې شمار دی ، د عمروبن عبد الله څوی دی .

۵ ـ صخر بن حرب : دده کنیه ابوسفیان دی د معاویه رضي الله عنه پلار دی دده ذکر د سین په تخته کې شوی دی .

۶ ـ صهیب بن سنان : دا د عبد الله بن جدعان آزاد کړه دی دده کنیت ابویحی دی دده وطن د موصل په علاقه کې وو ، رومیانو وربانديې حمله وکړه او خپل غلام یې کړو ، دهغه وخت کې د ماشوم وو ، په رومیانو کې یې پرورش کیدو تردې چې عبد الله بن جدعان واخستلو او آزاد یې کړو ، ده او عمار بن یاسر په مکه کې په یوه ورځ ایمان راوړی دی ، حضور ﷺ دار ارقم کې وو او څه دپاسه دیرشو کسانو رایمان راوړی وو ، په مکه کې هغه ته د ایمان په وجه ډیر تکلیفونه ورسول شول ، بیا یې مدینې ته هجرت وکړو دده په باره کې دا روایت نازل شوی دی ، ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ﴾ . په سنه (۸۰) هـ کې مدینه ي وفات شو . او جنت البقیع کې دفن شو .

۷ ـ الصعب بن جثامه : دا لیثی دی ودان او ابواء مقام کې اوسیده د حجاز یانو نه وو ، خلافت صدیقي کې وفات شوی دی .

۸ ـ الصنابحی : دا په دې نوم سره مشهور دی ځکه دا د صنابح بن زاهر بن عامر د قبیلې نه دی کوم چې د مراد د خاندان نه دی دده اصلی نوم عبد الله دی ، د عین په تختي کې به دده نوم راشي

۹ ـ ابو صرمه : دده نوم مالک بن قیس دی ، مازني دی ، په بدر وغیره ټولو غزاګانو کې شریک شوی وو .

صحابیاتي

۱ ـ صفیه : دا صفیه د حیئ بن اخطب لور ده چې بنی اسرائیلو نه ده او د هارون بن عمران علی نبینا علیه السلام د اولاد نه ده . اول کې د کنانه بن ابی الحقیق یهودي په نکاح کې وه کوم چې د خیبر په جنګ کې وفات شو یعنی محرم سنه ۷ هـ کې قید کې راوستی شوه او دحیة بن خلیفه کلبي په حصه کې راغله حضور ﷺ هغه ته اوو غلامان ورکړل او صفیه یې ترینه واخستله ازاده یې کړه او حضور ﷺ ورسره نکاح وکړه ، یعني دا ام المؤمنین ده ، په سنه ۵۰ هـ کې په مدینه منوره کې وفات شوه په جنة البقیع کې دفن شوه ، ددې نه حضرت انس او عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما احادیث روایت کړي دي

۱ ـ صفیه بنت عبد المطلب رضي الله عنها : دا د حضور رضي الله عنها ترور ده مخکې د حارث بن حرب په نکاح کې وه د

هغه د مرګ نه وروسته د خویلد په نکاح کې راغله د هغې نه د دې زبیر پیدا شو ډیر عمر والا وو ، په خلافت فاروقي کې په سنه ۲۰ هـ کې وفات شوه ، د ری اویا ۷۳ کاله عمر یې وو مدینه منوره کې په جنت البقیع کې دفن شوه .

۱ ـ صفیه بنت ابی عبید : دا ثقفیه ده ، د مختار بن ابي عبید خور ده د عبد الله بن عمر ښځه ده ، او د حضور ﷺ صحبت یې موندلی دی د حضور ﷺ خبرې یې اوریدلي دي لیکن کوم حدیث یې ترې نه ندلی نقل کړی د حضرت عائشې او حفصې رضي الله عنهما نه یې روایات نقل کړي دي

۱ ـ صفیه بنت شیبة : دا د شیبه حجبي لور ده ، دې حضور ﷺ یې لیدلی دی او که نه ؟ په دې کې اختلاف دی حقه خبره داده چې د حضور ﷺ نه یې روایت ندی کړی

۱ ـ الصماء بنت بسر : دا مازنیه ده صحابیه ده ، د دې نوم بُهیه دی صماء یې لقب دی .

ض :

صحابه رضي الله عنهم

۱ ـ ضماد بن ثعلبه : د ازدي قبیلې د ازد شنوة نه دی . د اسلام نه مخکې د پیغمبر ﷺ بهترین دوست وو ، دا طبیب هم وو او د مونه به یې هم کول ، د اسلام په ابتداء کې مسلمان شوی وو ، کله چې ورته حضور ﷺ قرآنکریم واورولو نو وې ویل (لقد بلغت کلماتک هذه قاموس البحر) چې دا کلمات د سمندر بیخ ته رسیږي ، حضرت ابن عباس وغیر وو ترینه روایات نقل کړي

۲ ـ الضحاک بن سفیان : دا د کلاب عامري دی اهل مدینه والاو کې شمار دی ، نجد ته به تلو ، حضور ﷺ د خپل قوم حاکم جوړ کړو ، د سلو پهلوانانو برابر وو ، د بهادرۍ د وجې نه به یې توره راویسته او د حضور ﷺ سر سره به ولاړ وو ، د حفاظت کولو لپاره .

ط :

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱ ـ طلحه بن عبید الله : د ده کنیت ابو محمد قریشی دی عشره مبشره نه دی پخوانی مؤمن دی تمامو غزواتو کې سوا د بدر نه شریک وو د عدم شرکت وجه ئې داوه چې حضور ﷺ د بدر په ورځ د دعید بن زید سره دابوسفیان د قافلې لپاره لیږلی وو د عین بدر په ورځ راغی ، د احد په ورځ یې د حضور ﷺ حفاظت په خپله کړی وو ، څلیرویشت زخمونه یې خوړلې وو ، د لاس ګوتې یې شلې شوې وې بعضو روایاتو کې دي چې د نیزو او تورو یې اویا زخمونه خوړلي وو ، د جنګ جمل په واقعه کې د جمعرات په ورځ په سنه ۳۰ هـ کې په شلم د جمادی الاولی شهید شو ۶۴ کاله عمر یې وو او بصره کې دفن شو .

۲ ـ طلحه بن البراء : دا انصاری دی د حضور ﷺ په زمانه کې وفات شوی حضور ﷺ ئې

دجنازې مونځ وركړلو او داسې يې ووېل (اللّٰهُمَّ الْقَ طَلْحَةَ تَضْحَكُ إِلَيْهِ وَيَضْحَكُ إِلَيْكَ) اى الله! ده سره په خندا ملاقات اوكړې او ده هم دې خندا سره ستا خدمت كې حاضر شي، په حجاز والاو كې وو.

۳ـ طلق بن علي : كنيت ئې ابو علي حنفي يمامي دى ده ته طلق بن ثمامه هم وئيلې شي ده نه دده وى قيس روايت كوى.

۴ـ طارق بن شهاب : دده كنيت ابو عبد الله دى بجلي كوفي دى، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره يې ملاقات شوى دى، ليكن د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې احاديث ډېر كم دي، په خلافت صديقي او فاروقي كې يې ۳۳ جهادونه كړي دي په سنه ۸۲ هـ كې وفات شوى دى.

۵ـ طارق بن سويد : دا صحابي دى د شرابو متعلق ترينه يو حديث نقل دى.

۶ـ الطفيل بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دا طفيل بن عمرو دا دوسى دى مكه كې يې ايمان راوړى وو بيا خپل قوم ته تللى وو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هجرت كولو نه بعد مدينې منورې ته راغى د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر وفات پورې هلته وو، خبره داده چې په خلافت صديقي كې د يمامې په جنګ كې شهيد شو، دده شمار د حجاز والاو كې دى

۷ـ ابو الطفيل : دده نوم عامر دى دواثله ځوى دى ليثي او كناني دى د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې اته كاله وو، په سنه ۱۰۲ هـ كې وفات شو دا آخري صحابي وو چې په مرګ سره يې ځمكه د صحابو نه خالي شوه

۸ـ ابو طيبه : دده نوم نافع دى مشهور صحابى دى محيصه بن مسعود انصاري غلام وو او حجام وو يعنى رګ كولاوولو والا جراح، دده د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رګ كولاو كړى وو،

۹ـ ابو طلحه : دده نوم زيد بن سهل دى انصاري بخاري په خپلې كنيې سره مشهور دى د حضرت انس بن پلندر وو د اعلى درجې تير (نښه) ويشتونكى وو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائيل په لښكر كې د ابو طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آواز د لوى جماعت نه بهتر دى ۷۷ كاله عمر يې وو په سنه ۳۱ هـ كې وفات شو په بيعت عقبه كې د اويا ۷۰ انصارو سره راغلى وو، بيا غزوه بدر او نورو ټولو غزاګانو كې شريک شو دده نه يو جماعت روايت كړى دى

ظ: صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۱ـ ظهير بن رافع : دا ظهير بن رافع دا حارثي انصاري اوسي دى په دويم بيعت عقبه كې شريک شوى وو بيا د بدر وغيره غزواتو كې شامل شو خپال كول پكار دي چې د ظهير والد رافع دا بل يو دى رافع بن خديج نه دى.

ع:

صحابه كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

﴿۱﴾ عمر بن الخطاب : دده لقب فاروق دى دده كنيت ابو حفصه دى عدوى قريشي دى د نبوت په پنځم يا شپږم كال ئى اسلام راوړلو دده نه مخكې څلويښت سړو او يوولس (۱۱) ښځو اسلام راوړى وو. بعضو ويلي دي چې په ده سره څلويښت مؤمنان پوره شول

دده د ايمان راوړلو په ورځ مكه كې اسلام وپړقيدو دده نه دري ورځې مخكښې حضرت همزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان شوی وو دده خور فاطمه بنت خطاب دده د ايمان ذريعه جوړه شوه په دغه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دار ارقم كې وو د صفا غرته چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغی نو حضرت همزه ورسره وو ، دده دروازه ووهله د بارګاه نه حاضرين بهر راغلو ، همزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تپوس وكړو څوک دی ؟ خلكو وويل عمر دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بهر ته ووتلو هغه يې د لمن نه ونيولو جټكه يې وركړه دا په دواړو زنګونانو كيناستو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل اياستا د ايمان راوړلو وخت لاندی راغلی ؟ هغه سمدستې كلمه وويله ، حاضرو خلكو د خوشحالی نه د تكبير چغې ووهلې چې حرم كې واوريدل شوې ، هغه عرض وكړو يا رسول الله ! آيا مونږ په حق او كفار په باطل باندې ندي ؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : قسم په الله تاسو په حق ياستئ ، عرض يې وكړو بيا ولې مونږ غلي يو ؟ مسلمانان د حرم طرف ته په دوو صفونو كې ووتل ، يو صف كې همزه وو او په بل صف زه (عمر) كله چې زه او همزه د مؤمنانو په صفونو كې كفارو اوليدو نو ډير غمژن شول په هغه ورځ ماته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فاروق لقب راكړو ، الله زما په ذريعه حق او باطل جدا كړل ، داود بن حصين نه روايت دی چې كله دده (عمر) اسلام راوړو نو جبريل راغی وې ويل : نن د حضرت عمر په اسلام راوړلو فرشتو مباركيانې سره وركړې .حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي : كه د تمامې دنيا والاو علمو په يوه پله كې كيخودی شي او د حضرت عمر په بله پله كې نو د حضرت عمر علم به وزني شي ، د حضرت عمر په وفات سره نهه حصې علم او چت شولو لسمه حصه پاتې شو ، د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ټولو غزواتو كې شريک شوی وو د ټولو نه اول امير المؤمنين دده لقب وو ، د ابوبكر صديق نه وروسته خليفه وو ، دا په سنه ۲۳ هـ كې د چهار شنبې په ورځ يو يهودي غلام ابو لؤلؤ په خنجر باندې د سحر په مونځ كې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په محراب كې ووهلو او شهيد يې كړو د محرم په اول د يک شنبې په ورځ د پيغمبر په خواكې ګنبد خضرا كې دفن كړی شو لس نيم كاله خلافت يې وكړو ، ۶۳ كاله عمر يې وو ، حضرت صهيب د هغه جنازه وكړه ، ډيرو خلكو د هغه روايات نقل كړی دي ، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اوګد قد والا سور سپين رنګ والا سړی وو ، د هغه ستركې نسبتًا وړې وې او سرې وې : بعض وايي غنم رنګ وو د سر او د ګيرې ويخته يې سپين وو ، د سر ويختان يې مينځ نه الوتې وو ، خيال پكار دی چې دده نه پنځه سوه نه ديرش ۵۳۹ احاديث نقل شوي دي ، لس احاديث متفق عليه دي . نه ۹ احاديث صرف په بخاري كې دي پنځلس احاديث په مسلم كې دي ، د عمر معنى ده آبادي كولو والا ، هغه اسلام آباد كړو ، ګويا چې د هغه په شهادت سره اسلام شهيد شو .

﴿۲﴾ **عمر بن ابی سلمه** : دده د پلار ابوسلمه نوم عبد الله عبد الاسد دی دا مخزومي قريشي دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پركتې وو يعني د ام سلمه ځوی دی چې په حبشه كې پيدا شوی دی په سنه ۲ هـ كې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات په وخت كې يې عمر نه ۹ كاله وو د عبد الملک بن مروان په حكومت كې په سنه ۸۳ هـ كې وفات شو .

﴿۳﴾ **عثمان بن عفان** : دده كنيت ابو عبد الله دی اموي قريشي دی د ابوبكر صديق په دعوت سره يې د اسلام په شروع كې ايمان راوړو . د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په دار ارقم ته تلی نه وو بلكه حبشي ته يې دوه هجرتونه كړي

وو ، د بدر غزا کې شريک شوی نه وو ځکه دده بي بي رقيه د رسول الله ﷺ لور بيماره وه د حضور ﷺ په حکم سره په مدينه منوره کې وو . پيغمبر ﷺ ورته د بدر په غنيمت کې حصه ورکړه همدارنګه په د صلح حديبيه په موقع جسمًا په بيعت الرضوان کې شريک شوی نه وو ، ځکه چې پيغمبر ﷺ هغه خپله نمائيده مقرر کړی وو او اهل مکو ته يې د صلحې د خبرو کولو لپاره ليږلی وو او دا بيعت الرضوان په غير موجودګی کې شوی وو ، په دې خبره چې مکې وا لاو حضرت عثمان شهيد کړی دی ، پيغمبر ﷺ د خپل چپ لاس باره کې وويل چې دا د عثمان لاس دی او د خپل ښی لاس باره کې يې وفرمايل چې دا د محمد مصطفی ﷺ لاس دی او بيعت يې وکړو چونکه د حضور ﷺ دوه لوګاني يوه د بلې پسې د عثمان رضي الله عنه په نکاح کې راغلي وې نو دغه وجه ورته ذي نورين لقب ورکړی شوی دی ، د محرم په اول په سنه ۲۴ هـ کې خليفه شو ، ۸۲ کاله عمر يې وو ، دولس کاله يې خلافت وکړو ده لره اسود تجيبي مصري يا کوم بل کس شهيد کړو ، او په جنت البقيع کې دفن شو ، په اتلسم ۱۸ د ذي الحجې د جمعې په ورځ سنه ۳۵ هـ کې وفات شو .

﴿۴﴾ **عثمان بن عامر** : دده کنيه ابو قافه ده ، د حضرت ابوبکر صديق والد محترم دی ، قريشي تيمي دی ، د فتح مکې په ورځ يې ايمان راوړی دی ، په خلافت فاروقي پورې ژوندی وو په سنه ۱۴ هـ کې وفات شو اوه نوی ۹۷ کاله عمر يې وو دده نه ابوبکر صديق او سماء بنت ابوبکر صديق روايت کړی دی .

﴿۵﴾ **عثمان بن مظعون** : دده کنيه ابوسائب ده حجمي قريشي دی د. ديارلس (۱۳سړ ونه پس يې اسلام راوړی وو دوه هجرتونه ئی کړی دی غزوه بدر کی شريک وو د جاهليت په زمانه کی يې هم شراب نه څکل دی په مدينه منوره کې اولنی مهاجر وو چې وفات ئی مدينه طيبه کی دشعبان مياشت کی هجرت پوره ديرش(۳۰) مياشتی تيری شوی وی واقع شو حضور ﷺ د مرګ نه پس په تندی ښکل کړيا يې دفن کړو او وې فرمايل ته زمونږ نه مخکې بهترين تلونکی يې . په جنت البقيع کې دفن کړی شو ، لوئی عابد او زاهد وو ، دده نه دده ځوی سائب او دده ورور قدامه بن مظعون روايت کړی دی .

﴿۶﴾ **عثمان بن طلحه** : دا عبدری قريشي حجمي دی ، په سنه (۴۲) هـ کی وفات شو .

﴿۷﴾ **عثمان بن حنيف** : دا دانصاري دی دسهل ورور دی د جبانيه حاکم وو هلته د هغه ځای په کفارو باندې جزيه مقرره کړی وه او حضرت علی رضي الله عنه دبصری حاکم جوړ کړی وو بيا حضرت طلحه او زبير او ښکلو په کوفه کې اوسيدلو ځکه هغه دواړه جنګ جمل ته راغلې وو ، د امير حضرت معاويه رضي الله عنه په زمانه کې وفات شو لو ډير خلکو ترينه روايات نقل کړی دی .

﴿۸﴾ **عثمان بن ابی العاص** : دا ثقفی دی حضور ﷺ د طائف حاکم مقرر کړی وو هلته د حضرت عمر رضي الله عنه تر درو خلافت کې دوه کاله د طائف حاکم وو دی نه پس حضرت عمر رضي الله عنه د طائف نه لری کولو سره د عمان او بحرين عامل ئی جوړ کړو دا په وفد ثقيف کی د حضور ﷺ خدمت ته راغلی وو هغه وخت دده عمر ۲۹ کاله وو په سنه ۲ هـ کې راغلی وو په آخر کې په بصره کې اوسيده او هلته په سنه (۵۱) هـ کی وفات شو

دحضور ﷺ دوفات نه پس کله چې قبیله ثقیف دمرتد کیدو اراده اوکړله نو ده ورته وویل ای زما قومه! تاسو د ټولو نه وروسته اسلام قبول کړی دی اوس اولني مرتدان نه جوړیږئ نو هغه خلک دد ې حرکت نه منع شول، ډیرو تابعینو غیره ترینه روایت کړی دی.

﴿۸﴾ علی ابن ابی طالب : دده کنیه ابوالحسن او ابوتراب هم ده قریشي هاشمي دحضور ﷺ د تره ځوی او زوم دی بعضو ویلي دي چې په سړو کې د ټولو نه اول ده ایمان راوړی دی هغه وخت دده عمر ۱۰ لس کاله یا آته کاله وو بغیر د تبوک نه نورو ټولو غزواتو کې د پیغمبر ﷺ سره شریک وو، غزوه تبوک په وخت کې حضور ﷺ د خپل کور انتظام برابرولو دپاره مدینه کې پریخودو، او وې فرمایل ستا ما سره داسې نسبت دی کوم چې د حضرت هارون علیه السلام د موسی علیه السلام سره وو، حضرت علي رضي الله عنه غنم رنګی غټو سترګو والا وو، او قد کې یې کموالی وو اتلسم ۱۸ د ذو الحجې د جمعې په ورځ یعنی عین د عثمان غني د شهادت په ورځ عبد الرحمن بن ملجم مرادي په کوفه کې په سنه ۴۰ کې په ده حمله وکړه دری ورځې وروسته وفات شولو، ده ته حسنینو او عبد الله بن جعفر غسل ورکړو، امام حسن یې جنازه وکړه د سحر په وخت کې دفن کړی شو، عمر یې دری شپیته ۶۳ کاله وو خلافت یې څلور کاله نهه میاشتې او یو څو ورځې وو، دده فضائل بې شماره دي، دده په کور کې د حضور ﷺ او دحضور ﷺ په کور کې دده پرورش شوی دی، دده نسل د مصطفی ﷺ اصل دی، کوفې ته نزدې نجف کې یې مزار دی، د حضرت علی رضي الله عنه نه ۸۶ احادیث نقل دي په دې کې شل ۲۰ متفق علیه دي نهه په بخاري کې دي او پنځلس په مسلم کې دي.

۹- علی بن شیبان : دا حنفی یمامی دی دده ځوی عبد الرحمن روایات نقل کړي دي.

۱۰- علی بن طلق : دا حنفی یمامی دی ده نه سلم بن سلام روایات نقل کړي دي.

۱۱- عبدالرحمن بن عوف : دده کنیت ابومحمد دی زهري قریشی دي دی هم عشره مبشره نه یو دی دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په دعوت ئی اسلام راوړی دی دوه هجرتونو والا دی ټولو غزاګانو کی حضور ﷺ سره شریک شوی وو. او غزوه احد کی ثابت قدم وو په غزوه تبوک کې حضور ﷺ په مدینه منوره کې پریخی وو په غزوه احد کې د شلونه زیات زخمونه خوړلي وو، د خپو د زخمونو د وجې نه ګوډ شوی وو او د فیل د اقعې نه لس کاله وروسته پیدا شوی وو، او په سنه ۳۲ هـ کې وفات شو دوه اویا ۷۲ کاله عمر یې وو په جنت البقیع کې دفن شو، ددنه نه وروسته حضور ﷺ یو رکعات مونځ کړی وو ساده ګی والا وو سپین رنګ یې وو او چتې پوزې والا او مضبوطو اوګو والا وو.

۱۲- عبد الرحمن بن ابزی : دا خزاعې دی د نافع بن عبد الحارث آزاد شوی غلام دی په کوفه کې اوسیده او کړو حضرت علی رضي الله عنه دخراسان حاکم مقرر کړی وو په حضور ﷺ پسې ئی مونځونه کړیوو په کوفه کې وفات شو او هلته دفن شو.

۱۳- عبدالرحمن بن ازهر : دا قریشي دعبد الرحمن بن عوف وراره دی د حنین په جنګ کې شریک شوی وو ده نه دده ځوی عبد الحمید دده نه روایات نقل کړی.

۱۳ ـ عبدالرحمن بن ابی بکر : دابوبکر صدیق رضي الله عنه ځوی دی د بي بي عائشي رضي الله عنها خپل ورور دی د دواړو مور ام رومان ده دصلح حدیبیه په کال ئی اسلام راوړي وو دحضرت ابوبکر رضي الله عنه د ټولو نه مشر ځوی وو . په سنه ۵۳ هـ کې وفات شو ، په مکه مکرمه کې دفن شو .

۱۴ ـ عبدالرحمن بن حسنه : دده د مور نوم حسنه دی ، د پلار عبد الله بن مسطاع دی مور ته نسبت سره مشهور دی .

۱۵ ـ عبد الرحمن بن شرحبیل : دا د شرحبیل بن حسنه ځوی دی یعني دعبد الرحمن بن حسنه وراره دی صحابي دی دمصر په فتحه کې شریک شوی وو .

۱۶ ـ عبدالرحمن بن یزید : دا د یزید بن خطاب ځوی یعني د عمر فاروق وراره دی عدوي قریشي دی دی ده لره دده نیکه ابو لبابه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر کړی وو پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه تحنیک وکړو ، (خوږ شئ یې ورکړو) او دهغه په سر یې لاس ووهلو او د برکت دعاء یې ورته وکړه کله چې دا د شپږو کالو شو نو حضور صلی الله علیه وسلم وفات شولو د حضرت عمر رضي الله عنه نه یې روایت کړی دي د عبد الله بن زبیر په زمانه کې وفات شو ، د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه مخکې .

۱۷ ـ عبدالرحمن بن سرمة : دا قریشی دی دمکی دفتحې په ورځ ئی ایمان راوړلو اوحضور صلی الله علیه وسلم سره اوسیده دده شمار په بصري والاو کې شوی ده ، هلته وفات شو په سنه (۵۱۹ هـ کې . څه خلکو دهغه نه روایت کړی دی .

۱۸ ـ عبدالرحمن بن سهل : انصاری دی غزوه خیبر کی شهید شوی د قسامت واقعه دده سره تعلق لري بعض خلک وایي دا په غزوه بدر کې شریک وو ، لوی علم او فاضل وو ، سهل بن ابي حثمه دده نه روایت کوي

۱۹ ـ عبدالرحمن بن شبل : داعبدالرحمن ابن شبل انصاري دی اهل مدینه کې شمار دی .

۲۰ ـ عبدالرحمن بن عثمان : دا تیمي قریشي دی دطلحه بن عبید الله رضي الله عنه وررارہ دی صحابي دی ددنه کوم روایت ندی نقل شوی .

۲۱ ـ عبدالرحمن بن ابی قراد : اسلمي دی اهل حجازو کې شمیرلی شي .

۲۲ ـ عبدالرحمن بن کعب : کنیت ئی ابولیلی دی مازني انصاري دی غزوه بدر کی شریک شوی دی په سنه (۲۴)هـ کی وفات شو . دده باره کې داآیت نازل شوی ﴿**تَوَلَّوْا وَّأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ**﴾.

۲۳ ـ عبدالرحمن بن یعمر : دا دیلمي دی صحابي دی خراسان ته تللی وو او په کوفه کې اوسیده

۲۴ ـ عبدالرحمن عائش : داحضرمي دی شامیانو کې شمیرلی شی دده صحابی کیدو کې اختلاف دی حقه خبره داده چې دده هیڅ مرفوع حدیث نقل ندی دده روایات مرسل دي .

۲۵ - عبدالرحمن بن ابی عمیره : دا قریشي دی ، شامي دی دده صحابیت یقین سره ثابت ندی ، مصطرب الحدیث دی.

۲۶ - عبدالله بن ارقم:دا زهري قریشي دی دمکی دفتحې په کال ئی.اسلام راوړی وو دحضور ﷺ کاتب ودی نه پس دحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه او حضرت عمرفاروق رضي الله عنه کاتب و حضرت عمر رضي الله عنه بیت المال باندی حاکم جوړ کړی وو او حضرت عمر رضي الله عنه نه پس حضرت عثمان رضي الله عنه هم بیا په خلافت عثماني کې یې استعفاء ورکړی وه او په همدې خلافت عثماني کې وفات شولو .

۲۷ - عبدالله بن ابی اوفی رضي الله عنه: دده پلاره ابوفی نوم یې علقمه بن قیس اسلمي دی صلحه حدیبیه او غزوه خیبر اودی نه وروستو غزواتو کې شریک شوی دی او د حضور ﷺ تر مګ پورې په مدینه کې اوسیده بیا کوفي ته لاړو په کوفه کې آخري صحابي وو چې کوفه یې په مرګ سره د صحابو نه خالي شوه او ه‌اتیا ۸۷ کاله عمریې وو امام شعبي وغیره ترینه روایات کړي دي

۲۸ - عبدالله بن انیس : دا جهني انصاري دی غزوه احد اودی نه وروستو غزواتو کې شامل شوی وو په سنه(۵۴) هـ کی په مدینه کې وفات شولو .

۲۹ - عبدالله بن بسر : سلمي مازني دی ده ته دده مور پلار ته اودده وزور عطیه ته اودده خور یي (صماد) ټول صحابه وو په شام کی اوسیده اومقام حمص کی په سنه(۸۸) هـ کی وفات شولو . ناڅاپه د اودس کولو په حالت کې وفات شولو په شام کې آخري صحابي وو چې په مرګ سره شام د صحابو نه خالي شو ، بعضو ویلي دي چې هلته آخري صحابي ابو امامه وو

۳۰ - عبدالله بن عدی : دا قریشي زهري دی اهل حجازو نه شمیرلی شي دقدیه او عسفان مینځ کی اسیدو .

۳۱ - عبدالله بن ابی بکر : دا دابوبکر صدیق رضي الله عنه ځوی دی طائف کې حضور ﷺ سره شریک شوی وو په دغه غزوه کې ابو محصن دی په تیر ویشتلی وو ، دحضرت ابوبکر رضي الله عنه په دور خلافت کې په سنه(۱۱) هـ کی دشوال په میاشت کې شهید شولو دی د اولنو الاسلام راوړونکو کې نه وو .

۳۲ - عبدالله بن ثعلبه : دا مازني عدوي دی د پیغمبر ﷺ د هجرت نه څلور کاله مخکې پیدا شو په سنه (۸۹) کی وفات شو دفتحې په کال یې دحضور ﷺ زیارت او کړو حضور ﷺ دده په مخ لا مبارک را ښکلو .

۳۳ - عبدالله بن جحش : دا اسدي دی د د امر المؤنین زینب بنت جحش ورور وو ، دحضور ﷺ دار ارقم ته تلو نه مخکې یې ایمان راوړی وو .دوه هجرتونه یې کړي وو او مقبول الدعوات وو غزوه بدر کې شریک وو او احد کی شهید کړی شو ،اول ده غنیمت په پنځو حصو کې تقسیم کړو یوه حصه د حضور ﷺ لپاره او څلور حصې د مجاهدینو لپاره ، په قرآن کې دده تائید راغی ، (**وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِنْ شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ**

خُمُسَهُ الخ) دا چې په کومه سریه کې تللی دی په هغه کې یې د غنیمت پنځمه حصه د حضور ﷺ دپاره واخستله. ده لره ابو الحکم بن اخنس شهید کړی وو په داسې حال کې چې عمر یې د څلويښتو ۴۰ کالو نه زیات وو د احد په میدان کې د حضرت حمزه رضي الله عنه په یو قبر کی دفن کړی شو.

۳۴ - عبدالله بن ابی الحمساء : دا عامري دی صحابي دی او په بصریانو کې شمار دی.

۳۵ - عبدالله بن ابی الجدعا: دا تمیمي دی عبد الله بن شقیق ترې روایات آخستې دي او په بصریانو کې شمار دی.

۳۶ - عبدالله بن جعفر : دا د جعفر بن ابی طالب ځوی دی ده ده مور اسماء بنت عمیس ده، او په حبشه کې پیدا شوی دی. او په حبشه کې په مسلمانانو کې اول دا پیدا شوی دی ده ده عمر ۹۰ کاله وو په سنه (۸۰) ه کې په مدینه کی وفات شو ډیر لوی سخی وو ده ده لقب بحر الجود وو، لوی خوش طبع او صبر ناک وو، بعضو ویلي دي چې په اسلام کې داسې سخي ندی پیدا شوی.

۳۷ - عبدالله بن جهم : دا انصاري دی ده نه بسر بن سعید ترینه روایات کړي دي د ابی جهم په کنیه سره مشهور وو د جیم په تخته ده ده ذکر تیر شوی دی

۳۹ - عبدالله بن جزء : ده ده کنیت ابو الحارث سهمي دی په غزوه بدر کې شریک شوی وو په آخر کې په مصر کې اوسیدو په سنه (۸۵) ه کی په مصر کی وفات شو.

۴۰ - عبدالله بن حبشي : دا حبشي خثعمي دی په اهل حجازو کې شمیرلی شي په مکه کې اوسیدو.

۴۱ - عبدالله بن ابی حدرد : ده ده د پلار نوم سلامة بن عمرو دی کنیه یې ابو حداد سلمي ده، په صلح حدیبیه کې شریک شوی وو بیا په خیبر او نورو غزواتو کی شریک شوی وو، په سنه ۷۱ ه کې وفات شو.

۴۲ - عبدالله بن حنظله : دا انصاري دی ده ده والد غسیل الملائکه دی ده ته فرشتو غسل ورکړی وو، عب دالله د حضور ﷺ په زمانه کې پیدا شوی وو د حضور ﷺ د وفات په وخت کې د اوو کالو وو دا د انصارو سردار وو د یزید په مقابله د مدینه والاو ده ده سره بیعت وکړو په دي وجه د حري په فتنه کې په سنه ۶۳ ه کی شهید شو.

۴۳ - عبدالله بن حوله : دا ازدي دی د شام کی اوسیدونکی دی په سنه (۸۰) ه کی په شام کې وفات شو

۴۴ - عبدالله بن خبیب : دا جهینې دی د انصارو حلیف وو حجازي صحابي دی.

۴۵ - عبدالله بن رواحه : دا خزرجي انصاري دی د انصارو مشر (نقیب) وو په بیعت عقبه کې شریک شوی وو، بیا نورو غزاګانو کې بدر، احد، خندق وغیره کې هم شریک شوی وو. د غزوه مؤته کې په سنه (۸) ه کې امیر وو او شهید شو، دا لوئ شاعر وو، حضور ﷺ به ده ده اشعار په شوق سره اوریدل مشهور صحابي دی.

۴۶ - عبدالله بن الزبیر : ده ده کنیت ابوبکر دی اسدي قریشي دی ده ده حضور ﷺ ده ته ده ده د نیکه

ابوبکرصدیق کنیه ورکړه ، او نوم یې ورله عبد الله کیخودو ، دا په مهاجرینو کې په اسلام کې د ټولو نه اولنی ماشوم پیدا شو په سنه ۱ هـ کې ابوبکر صدیق ورته په غوږ کې اذان وکړو په مقام قباء کې د اسماء بنت صدیق د خیټې نه پیدا شو هغه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر کړو په کجورو یې ورته تحنیک وکړو د هغه خیټې ته د ټولو نه مخکې د حضور ﷺ لاړې ورسیدې او دبرکت دعا یې ورته وکړه ، دده په سر او مخ باندې ویختان نه وو ، د روژو او منځونو ډیر عادي وو ، دده پلار حضرت زبیر وو . مور یې بنت صدیق . نیکه صدیق . نیا صفیه د پیغمبر ﷺ ترور او خاله حضرت عائشه صدیقه دي ، د ۶۴ کالو په عمر کې په سنه ۶۴هـ کې دده په لاس خلکو بیعت وکړو ، حجاج بن یوسف په مکه کې ۱۷ د جمادي الآخر په سنه ۷۳هـ کې شهید کړو ، په سنه ۶۴ کې ورسره د خلافت بیعت کړی وو د حجاز ، یمن ، عراق ، خراسان ، او غیره مسلمانانو دده سره بیعت کړی وو بغیر د شام د خلکو نه ، په خپل دور خلافت کې یې خلکو ته آته حجونه کړې وو .

۴۷ـ عبدالله بن زمعه : دا قریشي اسدي دی مدینې والو کې شمار دی .

۴۹ـ عبدالله بن زید : دا د زید بن عبدربه ځوی دی انصاري خزرجي دی بیّت عقبه ، بدر ، او دې نه وروسته په ټولو غزاګانو کې شریک شوی وو ، دده شمار په مدینې والاو کې دی : اسلامي اذان ده په خوب کې ورکړی وو د ځلور شپیتو ۶۴ کالو په عمر په مدینه منوره کې وفات شو .

۵۰ـ عبدالله بن زید بن عاصم رضی الله عنه : دا انصاري دی مزنې دی په غزوه بدر کې شریک شوی نه وو غزوه احد کې شریک شو د وحشي بن حرب په ملګرتیا کې مسلیمة الکذاب قتل کړی وو ، دا په سنه ۶۳هـ کې په حره کې شهید شوی دی .

۵۱ـ عبدالله بن السائب : دا قریشي مخزومي دی ده نه مکی والا و قرأت زده کړی دی دابن زبیر د شهادت نه مخکې په مکه کې وفات شولو او په مکه والاو کې شمار دی .

۵۲ـ عبدالله بن السائب : دا قریشي مخزومي دی ده نه مکی والا و قرأت زده کړی دی دابن زبیر د شهادت نه مخکې په مکه کې وفات شولو او په مکه والاو کې شمار دی .

۵۳ـ عبدالله بن سرجس : دا مزنې بصري دی دده احادیث په بصره والاو کې مشهور دی .

۵۴ـ عبدالله بن سلام : دده کنیت ابو یوسف دی اسرائیلي وو دیوسف بن یعقوب علیه السلام داولاد نه وو اودبنی عوف بن خزرج حلیف وو د بني اسرائلو عالم وو حضور ﷺ دده دجنتې کیدو ګواهي کړې وه دده دوه ځامن یوسف او محمد او غیره دده نه روایت کوی په مدینه کې په سنه ۴۳هـ کی وفات شو ، دده ډیر فضائل دي او دده په باره کې آیتونه هم نازل شوې دي .

۵۵ـ عبدالله بن سهل : انصاري حارثي دی دعبدالرحمن وزرور او دمحیصه وراره دی په خیبر کې قتل کړی شوی وو واقعه یې مشهور ده ، حدیث قسامة کې دده ذکر راغلی دی .

۵۶ـ عبدالله بن اشخیر : دا عامري دی دقبیله بني عامر په وفد کې دا هم وو کوم چې د حضور ﷺ

په خدمت کې حاضر شوی وو

۵۷ ـ عبدالله بن الصنابحي: دده نوم ابو عبد الله دی بعضو دا په صحابو کې شمار کړی دی لیکن قوي داده چې صنابحي صحابي دی لیکن دده ځوی عبد الله تابعي دی

﴿۵۸﴾ عبدالله بن عامر: دا دعبد الله بن کریز ځوی دی او قریشي دی دحضرت عثمان رضي الله عنه دماما ځوی دی دحضور صلی الله علیه وسلم زمانه کی پیدا شوي دی. حضور صلی الله علیه وسلم ورته خپلې لاړې لګولي وې او دعا یې ورته کړې وه. د حضور صلی الله علیه وسلم د وفات په وقت کې دا د دیارلسو ۱۳ کالو وو، کوم حدیث ترینه نقل شوی نه دی حضرت عثمان د بصرې او خراسان حاکم مقرر کړی وو د عثمان د شهادت پورې هلته حاکم وو د امیر معاویه په وقت کې یې استعفاء ورکړه لوئ سخي وو د خراسان فاتح همدا وو، دده په ولایت (مشری) کې کسری قتل کړی شو، ده دبصرې نهر کنستلی وو، د فارس ډیر ښارونه لکه خراسان اصفهان خلوان کرمان د فارس اطراف او اکثر افغانستان ده فتح کړې وو په سنه (۵۹) ه کې وفات شو دده ډیر فضائل دي.

﴿۵۹﴾ عبدالله بن عباس رضي الله عنه: دحضور صلی الله علیه وسلم د تره ځوی دی دده مور لبابه بنت حارث ده یعني دبی بی میمونه رضي الله عنها ام المؤمنین خور ده هجرت نبوي نه دری کاله مخکی پیدا شوی دحضور صلی الله علیه وسلم د وفات په وخت دده عمر دیارلس ۱۳ کاله وو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته د علم او حکمت دعا کړې وه، دده لقب حبر الامة دی یعنی د مسلمانانو لوی عالم، دا ډیر حسین او لوی عالم فقیه، مجتهد وو د حضرت عمر رضي الله عنه خپل خاص مشیر جوړ کړی وو، په خبره کې به یې د جلیل القدر صحابو سره دده نه هم مشهوره آخسته په آخر کې نابینا شو په سنه ۶۸ ه کې په طائف کې وفات شو، یو اویا ۷۱ کاله عمر یې وو دده نه ډیرو خلکو آحادیث آخستې دي

﴿۶۰﴾ عبدالله بن عمر رضي الله عنه: دا قریشي عدوي دی، د عمر فاروق ځوی دی د خپل پلار سره یې په مکه معظمه کې ایمان راوړی وو، په بدر کې د ماشوم والي په وجه شریک نه شو، او حقه خبره داده چې په احد کې هم پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ماشوم والي په وجه شریک نه کړو، په غزوه خندق کې شریک شوی وو، په غزوه احد کې څوارلس ۱۴ کلن وو، لوی عابد زاهد او محتاط او متبع سنت وو، جابر رضي الله عنه فرمایې مونږ خلک دنیا ځانته راغب کړو سیوا د عبد الله بن عمر نه، میمون بن مهران وایې، ما د ابن عمر پشان متقي او د ابن عباس په شان عالم ندی لیدلی، حضرت نافع وایې، ابن عمر د زرو ۱۰۰۰ نه زیات غلامان ازاد کړي وو، د ظهور نبوت نه یو کال مخکې پیدا شو، او په سنه ۷۳ ه کې په د ابن زبیر د قتل نه دری میاشتې وروسته وفات شو، دده وصیت داوه چې په حل کې یې خښ کړئ لیکن حجاج داسې ونه کړل بلکه هغه یې په (ذي طوی) کې دفن کړو د مهاجرینو په قبرستان کې یې دفن کړو دده د وفات واقعه داسې ده چې یو ځل حجاج د جمعې خبطه اوګده کړه ده ورته وویل: چې نمر ستا انتظار نه کوي هغه ورته وویل زه غواړم ستا سر پرې کړم ده ورته وویل که ته داسې غواړې نو کولی یې شې ځکه ته یو احمق یې، کوم چې په مونږ مسلط شوی یې، همدا رنګه د حج په موقع د عرفې په ورځ د حجاج نه مخکې لاړو او عرفات کې د حضور صلی الله علیه وسلم د ودریدو په ځای ودریدو، پدې وجهاتو حجاج دده سره کینه وساتله، ده یو کس ته وویل چې ابن عمر په زهریله نیزه باندې وهې په لاره تلو چې ددې نه دده مرګ واقع شو، څلور یا شپږ آتیا کاله

عمر یې وو، ده ډیر فضائل هم شته.

۶۱_ **عبدالله بن عمرو بن العاص** : دا سهمي قریشي دی ده خپل پلار نه مخکې اسلام راوړو. پلار تري دیارلس کاله مشر و دا لوی عابد، عالم او حافظ وو حضور ﷺ نه ئې د احادیثو لیکلو اجازت اوغوښتلو نو اجازت ئې ورکړلو. دوفات باره کې لوی اختلاف دیچې ده وفات په سنه ۶۳ هـ کې شوی دی یا په سنه ۷۳هـ کې شوی دی یا په سنه ۶۷ هـ کې په مکه کې وفات شوی دی او که په سنه ۵۵ هـ کې په طائف کې یا په سنه ۶۵ هـ کې په مصر کې وفات شوی دی یعلی بن عطاء دخپلې مور نه روایت کړی دی چې ما به عبدالله بن عمرو بن العاص دپاره سرمه (رانجه) تیاروله ددې دپاره چې وي لګوي او اوده شي هغه به چراغ مړه کړو او د الله د ویرې به ئې ژړل تر دې چې سترګې به ئې اوپړسیدې یعني خرابې به شوې.

۶۲_ **عبدالله بن مسعود** رضي الله عنه: ده کنیت ابو عبدالرحمن دی هذلي دی د پخوانو مؤمنانو نه دی د حضرت عمر رضي الله عنه نه یې لږ مخکې ایمان راوړی وو. دا شپږم صحابي دی د ده مخکې پنځه کسانو ایمان راوړی وو د حضور ﷺ خاص خادم وو، د حضور ﷺ صاحب سرّ وو په سفر کې به د حضور ﷺ پیزار، مسواک او د اودس اوبنې ده سره وو، بدر وغیره ټولو غزواتو کې شریک شوی وو، حضور ﷺ ده د جنتي کیدو ګواهي ورکړې وه، داسې یې ویلي وو (**رضیت لامتي ما رضي لها ابن ام عبد وسخطت لها ما سخط لها ابن ام عبد**) یعني دا بن مسعود زه د خپل امت لپاره هغه څیز خوښوم کوم چې ابن مسعود یې خوښوي، او هغه څیز ورله خوښوم کوم چې ورله ابن مسعود نه خوښوي، په اخلاقو عاداتو او کردار کې د رسول الله ﷺ سره مشابه وو ورکوټی قد والا وو او غنم رنګ وو، د حضرت عمر په زمانه کې بلکه خلافت عثماني کې هم د کوفې حاکم وو، بیا د بیت المال محافظ وو، بیا مدینې منورې ته راغی هلته په سنه ۳۲ هـ کې وفات شولو. او عمر یې د شپیته ۶۰ کالو نه زیات وو، خلفاء راشدینو ترې آحادیث نقل کړي دي

۶۳_ **عبدالله بن قرط** : ازدي عثماني دی ده نوم مخکې شیطان وو حضور ﷺ ده نوم عبدالله کیښودلو. شامیانو کې شمیرلی شي د عبیده بن جراح د طرف نه د حمص امیر وو په سنه ۵۶ هـ کې شهید کړی شو.

۶۴_ **عبدالله بن غنام** : دا بیاضي دی په اهل حجاز کې شمیرلی شي.

۶۵_ **عبدالله بن مغفل** رضي الله عنه: دا مزني دی او په بیعت الرضوان کې شریک وو او په مدینه کې بیا په بصره کې اوسیده دا د هغه یو لسو کسانو نه وو چې حضرت عمر رضي الله عنه بصرې ته د فقه د تعلیم لپاره لیږلي وو، دا په بصره کې سنه ۶۰ هـ کې وفات شولو ده نه خواجه حسن بصري روایت اخستي دي حسن بصري فرمایې په بصره کې ده نه څوک افضل نه وو.

۶۶_ **عبدالله بن هشام** : دا قریشي تیمي دی په اهل حجاز شمارلی شي په ماشوم الي کې ده مور دی د حضور ﷺ په خدمت کې راوړی وو حضور ﷺ پرې خپل لاس مبارک راښکلو او دعائی ورته اوکړله او د ماشوم والي په وجه ئې بیعت ترنه وانه خستلو.

۶۷- عبدالله بن یزید : دا خطمي انصاري دی په صلحه حدیبیه کې (۱۷) کلن وو او پکې شریک هم وو. دحضرت عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنهُ په دور خلافت کی د کوفي ګورنر وو او دهغه زمانه کې په کوفه کې وفات شو امام شعبي دده کاتب وو.

۶۸- عاصم بن ثابت : دده کنیت ابوسلیمان دی انصاري او بدري دی درجیع په جنګ کې چې کله بنو لحیان ده لره شهید کړو نو په مچو باندې دده د جسد حفاظت وکړی شو، دا د عاصم بن عمر بن خطاب نیکه دی، دده د قتل مختصر واقعه دا ده، حضور صلی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دلسو کسانو یو جماعت ولیږلو. چې دهغی امیر دا عاصم بن ثابت جوړ کړی شو دا کسان چې کله دمکې معظمي او غسفان ته شول نو د بولحیان دوه سوه ۲۰۰ کسانو د کجورو د زړو نه د هغوی پته ولګوله و لکه چې دغه جماعت ته پته ولګیده چې مونږ راګیر شو نو یو هوار ځای ته یې پناه وخسته کفارو ورته وویل مونږ ته ځان حواله کړئ تاسو ته آمان دی، عاصم وویل زه د کفارو په آمان باندې مطمئن نه یم، الله جَلَّ جَلَالُهُ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ خبر کړه ! د کفارو په غشو سره عاصم د اوو ملګرو سره شهید شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدینه منوري کې صحابه کینول او ددې واقعې نه یې خبر کړل : کله چې کفارو ته پته ولګیده چې عاصم شهید شوی دی نو یو کس یې ولیږلو چې د عاصم د بدن نه یوه حصه کټ کړي، الله تعالی یې د حفاظت لپاره د شهدو مچۍ راوه لیږلې هیڅ کافر ورته رسیدی نه شو، پوره واقعه په بخاري کې ده

۶۹- عامر الرام : حق دادی چې دا صحابي دی، یونیم روایت نقل دی رام په اصل کې رامې دی د تیر ویشتونکي په معنی سره دی.

۷۰- عامر بن ربیعه : دده کنیت ابوعبدالله ده غزي دی دوه هجرتونه یې کړي وو غزوه بدر او نورو تمامو غزاګانو کی شریک وو پخوانی مؤمن دی، په سنه ۳۲ هـ کې وفات شولو.

۷۱- عامر بن مسعود : دا دمسعود بن امیه بن خلف حجمي ځوی دی یعني د امیه لمسی دی د صفوان بن امیه وراره دی. حق داده چې دا تابعي دی ترمذی ترینه یو مرسل حدیث په کتاب الصوم کې نقل کړی او ابن منده او ابن عبدالبر دی صحابي منلی دی او ابن معین وایې چې دا تابعي دی.

۷۲- عائذ بن عمرو : دا مدني دی په بیعت الرضوان کې شریک شوی وو په آخر کې په بصره کې اوسیدو

۷۳- عباد بن بشر : دا انصاري دی دسعد بن معاذ اسلام راوړلو نه قبل ده مدینه کی اسلام راوړی او تمامو غزواتو کی شریک وو. د کعب بن اشرف یهودی په قتل کې شریک وو، د فضلاؤ صحابو رضی الله عنهم نه دی.

۷۴- عباد بن عبدالمطلب : په غزوه بدر کې شریک شوی وو دده نه کوم حدیث ندی نقل شوی.

۷۵- عبادة بن صامت : دده کنیت ابوالولید دی انصاري سالمي دی دی د انصارو نقیب (مشر) وو دعقبې په دواړو بیعتونو کې شریک وو بیا د بدر وغیره ټولو غزواتو کې هم شریک وو بیا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ شام کی قاضی او معلم مقرر کړلو.

په حمص کې مقیم وو دی نه پس ده فلسطین ته لاړو. په رمله او یا په بیت المقدس کی وفات شولو عمر ئی په سنه

۲۴ھ کې ۷۲ کال وو . دا يو مشهور صحابي دی .

۷۶- عباس بن عبدالمطلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تره دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دوه کاله مشر وو دده مور دنمر بن قاسط د قبيلي يوه ښځه وه ، دا اولينی هغه بي بي ده چې خانه کعبې ترې اعلی درجه غلافونه وغيره واغوستل ځکه چې يو ځل حضرت عباس ورک شوی وو دې نذر ومنلو خدايه ! که زما ځوی پيدا شو نو زه به خانه کعبې ته بهترين غلاف واغوندم ، د جاهليت په زمانه کې عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خانه کعبې خادم وو ، حاجيانو ته يې د زمزم اوبه ورکولې او د کعبې آباد وونکی وو ، کوم کس چې به طواف کعبې لره راتلو نو د طهارت او تقوی بيعت به يې ترې آخستو ، دده د خپل وفات په وخت کې اويا ۷۰ غلامان آزاد کړي وو ، د فيل د واقعې نه مخکې پيدا شوی وو ، ۸۸ اته اتيا کاله عمريې وو ، د جمعې په ورځ دولسم ۱۲ رجب په سنه ۳۲ ھ کی وفات شو . په جنت البقيع کې دفن شو ، دی پخوانی مسلمانان وو خو خپل اسلام ئې ساتلی وو ، دبدر معرکه کې کفارو په زور له ځان سره بولی وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعلان وکړو چې عباس قتل نه کړی هغه په زور را وستل شوی دی ، په دغه غزوه کې ابواليسر يعني کعب بن عمر هغه قيد کړلو حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل نفس فديه ورکړله او مکی ته واپس شو دی نه پس يې مدينې ته مهاجر راغی . پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکې لپاره تلو او عباس مدينې ته راتلونکی وو په لاره کې يې ملاقات وشو ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل عباس خاتم المهاجرين يعنی آخري مهاجر دی ، په جنت البقيع کې يې قبر دی د فاطمة الزهراء سره .

۷۷- عباس بن مرداس : دده کنيت ابوالهيثم دی سلمی دی لوئ شاعر وو ، دمکی دفتحی نه لږ مخې ئې ايمان راوړی وو ، اول په مؤلفة القلوب کې وو بيا پوره مؤمن شو ، د جاهليت په زمانه کې يې هم شراب ندی څکلی

۷۸- عبدالمطلب بن ربيعه : دا ربيعه بن الحارث بن عبد المطلب د هاشم ځوی دی قريشي دی مدينه کې اوسيدو ، بيا دمشق ته لاړلو . اوهلته سنه ۶۲ھ کې وفات شو .

۷۹- عبدالله بن محصن : انصاري خطمي دی اهل مدينه کې شمار دی .

۸۰- عبيد بن خالد : دا سلمي بهزي دی مهاجر دی په کوفه کې اوسيدلو .

۸۱- عتاب بن اسيد : قرشي اموي دی دمکي دفتحي په ورځ يې اسلام راوړلو . حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دغه کال دمکې معظمې حاکم مقرر کړو ، يعني د حنين د روانګې په وخت کې . د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات تروخته پوري د مکې حاکم وو خلافت صديقي هم په دغه عهد وو په سنه ۱۳ ھ کې خاص د ابوبکر صديق اکبر د وفات په ورځ ، په مکه معظمه کې وفات شو دا د قريشو د سردارانو نه وو .

۸۲- عتبه بن اسيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : دده کنيت ابوبعير دی ثقفي دی دبني زهره حليف دی اولنی ايمان راوړونکی دی غزوه حديبيه کې دده ذکر راغلی دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده متعلق اوفرمائيل دا جنګ راپورته کونکی دی ، قصه يې مشهوره ده د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې وفات شو .

۸۳- عتبه بن عبد السلمی : بعضو ويلي دي چې دده نوم عتبه بن نذر دی بعضو ويلي

دي، دده نوم عقله وو حضور ﷺ وربانديې عقبه كيخودو د خيبر په غزوه كې شريک شوی څلورنوي ۹۴ كاله عمريې وو په سنه ۷۸ هـ كې په حمص كې وفات شو دواقدي وايي دا په شام كې آخري صحابي وو چې په وفات يې شام د صحابو نه خالي شو.

۸۴ ـ عتبه بن غزوان : دا مازني دی قديم پخوانی مؤمن دی اول حبشي ته او بيا مدينې ته يې هجرت كړی وو، په جنگ بدري وغيره كې شريک وو دا اووم مسلمان دی حضرت عمر رضي الله عنه د بصري عامل مقرر كړی وو، ده د بصري بنياد ايخی وو، بيا حضرت عمر رضي الله عنه ته راغی هغه واپس وليږلو گورنريې جوړ كړو، لاركې وفات شو، او په پنځوس ۵۷ كاله عمريې وو، په سنه (۱۵) هـ كی د وفات شولو.

۸۵ ـ عداء بن خالد : دا د خالد بن هوذه ځوی دی عامري دی د مكې د فتحی نه پس ئی ايمان راوړلو او په بانډه كې اوسيده. د بصرې والا و كې دده احاديث مشهور دي.

۸۶ ـ عدی بن حاتم : دا د حاتم طائي (مشهور سخې) ځوی دی په شعبان سنه ۷هـ كی حضور ﷺ ته راغی او په كوفه كې اوسيدلو جنگ جمل كې د حضرت علي رضي الله عنه سره وو او په جنگ كې يې يوه سترگه هم تلې وه، د جنگ صفين او نهروان جنگونو كې هم شريک شوی وو د ۱۲۰ كالو په عمر په سنه ۶۷ هـ كې وفات شولو. بعضو ويلي دي چې فرفيسا مقام كې وفات شو.

۸۷ ـ عدی بن عمير : دا كندي حضرمي دی په كوفه كې ئی سكونت وو بيا جزيرته منتقل شو اوهلته وفات شو.

۸۸ ـ عرباض بن ساريه : دده كنيت ابو نجيح سلمي دی اهل صفه نه وو شام كې په سنه ۷۵ هـ كې مشهور صحابي دی.

۸۹ ـ عرفجه بن اسعد : داهغه دی چې حضور ﷺ ورته ويلي وو چې د سپينو زرو پوزه ولگوه، بيا ورته وفرمايل د سروزرو ولگوه د كلاب جنگ كې دده پوزه ضائع شوی وه.

۹۰ ـ عروفه بن ابی الجعد : دا بارقي دی د باروق قبيلې سره يې تعلق دی حضرت عمر رضي الله عنه د كوفي حاكم مقرر كړی و.

۹۱ ـ عروه بن مسعود : صلح حديبيه كې د كفرپه حالت كې د كافرو د طرف نه راغلی وو په سنه ۹ هـ كې كله چې حضور ﷺ د طائف نه واپس راغی نو د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو. ايمان يې راوړو دهغه په نكاح كې ډيرې ښځې وې حضور ﷺ ورته وويل دوی نه څلور ۴ ښځی ځان دپاره اختيار كړه نورې پريږده بيا يې د حضور ﷺ نه د واپس تلو اجازت اوغوښتلو دی واپس شو اوخپل قوم ته ئی د اسلام دعوت وركړو ليكن قوم دده خبره ونه منله انكاريې وكړو هركله چې د سحر د مونځ وخت شو. نو د خپل كور چت ته اوختلو اوآذان ئی اوكړو او كلمه د شهادت يې په اوچت اواز سره اويله نو يو ثقفي په تير اوويشتلو. شهيد ئی كړلو حضور ﷺ چې كله ددې خبر وركړی شو نو وې ويل عروه د سورة ياسين والا په شان دی هغه هم

د خپل قوم طرف ته دعوت کړی وو په دغه وجه قتل کړی وو.

۹۲ـ عطیه بن قیس : دا سعدي دی صحابي دی، په یمن او شام کې دده احادیث مشهور دي.

۹۳ـ عطیه بن بسر : دا مازني دی دعبدالله بن بسر ورور دی ده نه یو حدیث د کوچو او شهدو متعلق نقل دی حضرت مکحول دده نه روایت کړی دی.

۹۴ـ عطیه القرظی : دا دبنو قریضو د بندیانو نه دی دده د پلار نوم معلوم نه دی، او صحابي دی.

۹۵ـ عقبه بن رافع : دا قرشي دی افریقه کې شهید کړی شوی دی په سنه ۶۳ ه کې حریر ده لره قتل کړی دده ذکر د تعبیر الرؤیا په احادیثو کې راغلی دی.

۹۶ـ عقبه بن عامر : دا جهینی دی د حضرت معاویه د طرف نه دعتبه بن ابی سفیان نه پس د مصر امیر وو بیا حضرت معاویه معزول کړو په سنه ۸۵ ه کې په مصر کې وفات شولو ده نه یو څو صحابو او ډیر تابعینو احادیث نقل کړی دي.

۹۷ـ عقبه بن الحارث : دا قریشی دی د مکې د فتح په ورځ ئې ایمان راوړی مکی دا په مکې والاو کې شمار دی.

۹۸ـ عقبة بن عمرو : دده کنیه ابو مسعود ده دده ذکر به د میم په تخته کې راشي.

۹۹ـ عکاشه بن محصن : اسدی دی دبنی امیه حلیف وو جنګ بدر کې شریک شوی وو ډیر تکلیفونه یې برداشت کړي و وروسته په ټولو غزاګانو کې شریک شوی و په بدر کې یې توره ماته شوه نو د حضور ﷺ ده ته په لاس کې د کجورې لخته ورکړه د هغې نه توره جوړه شوه، په خلافت صدیقي کې په افضلو صحابو کې شمار وو، ۵۴ کاله عمر یې وو دده خور ام قیس او نورو ډیرو صحابو دده نه روایات نقل کړی دي، دده لوی ناشنا واقعات مشهور دي دا په هغه حضراتو کې دی چې جنت ته به بې حسابه ځي، د مسیلمة الکذاب مرتدینو دی شهید کړو.

۱۰۰ـ عکرمه بن ابی جهل رضي الله عنه : دا دعمرو بن هشام مخزومي قریشي یعني د ابو جهل ځوی دی دده او د ابو جهل د پیغمبر ﷺ سره سخت عداوت وو. او دی مشهور شهسوار وو د مکی د فتحی په ورځ یمن ته تښتیدلی و بیا دده ښځه ام حکم بنت حارث د حضور ﷺ خدمت کې حاضره کړو. حضور ﷺ چې اولیدلو نو ورته یې وویل په مهاجر سور باندې هر کلي وي ته ایمان راوستې، یعنې د فتح مکې په ورځ ستا ایمان ډیر مقبول دی. دیرمو جنګ کې په سنه ۱۳ ه کې شهید شو ۶۲ کاله عمر یې وو. حضور ﷺ ام سلمه ته وفرمایل، چې ما په جنت کې د ابو جهل یوه ونه لیده کله چې عکرمه ایمان راوړو نو حضور صلی الله وفرمائیل ای ام سلمه زما دهغی خوب تعبیر دا وو، یو ځل عکرمه حضور ﷺ ته دا شکایت اوکړو خلق ماته داد الله د دشمن ځوی وایي په دی حضور ﷺ خطبه کې خلقو ته کوم سړی چې په جاهلیت کې سردار وي هغه به اسلام کې هم سردار وي، شیخ عبد الحق په مدارج النبوة کې فرمائي، چې حضور صلی الله علیه وسلم حکم وکړو چې عکرمه په مخکې د ابو جهل بد مه وائي.

۱۰۱ ۔ العلاء بن الحضرمی : د د حضرمی نوم عبد الله دی چونکه دا د حضرت الموت وو په دغه وجه ورته حضرمي ويلی شي د حضور ﷺ د طرف نه بحرين باندې حاکم و حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنهم خپله د خلافت زمانه کې د بحرين حاکم او ساتلو تردې چې د اعلاء سنه ۱۴ هـ کې وفات شو .

۱۰۲ ۔ علقمه بن وقاص : دا ليثی دی د حضور ﷺ زمانه ي پيدا شو غزوه خندق کې شريک وو د عبد الملک بن مروان د حکومت دور کې وفات شوی وو .

۱۰۳ ۔ عماربن ياسر : دا عنسی دی د بنی مخزوم آزاد کرده غلام دی حضرت ياسر دده پلار دی دوه ورونو حارث او مالک سره دده د يو ورک شوي ورور تالاش پسې مکې ته لاړل حارث او مالک وو يمن ته لاړل او ياسر مکې کې پاتې شو ، دابو حذيفه بن مغيره حليف وکړو . ابو حذيفه د خپلی وينزی دده سميه سره نکاح وکړه ، د هغې نه عمار پيدا شو . ابو حذيفه حضرت عمار آزاد کړو ، حضرت عمار د پخوانو مؤمنانو نه دی د اسلام راوړلو په وجه مکې والاو ورته ډير تکليفونه ورسولو دې دپاره يې د اسلام نه واوړي ، يو ځل يې اورته ژوندی وغور ځولو حضور ﷺ چې به په هغه طرف تيريدلو نو وي فرمائيل ای اوره ! ته عمار باندې يخ او سلامتي او عافيت والا جوړشه څنګه چې په حضرت ابراهيم عليه السلام باندې جوړ شوی وی همداسې وشول او دا عمار د اولينو مهاجرينو نه دی غزوه بدر او ټولو غزاګانو ي شريک وو حضور ﷺ دده نوم الطيب المطيب کيښودلو، دا د صفين په جنګ کې د حضرت علي رضي الله عنه سره وو . او هلته سنه ۳۷ هـ کې شهيد کړی شو د ۹۳ کاله عمر يې و .

۱۰۴ ۔ عمروبن الاحوص : دا کلابی دی ده نه دده ځوی سليمان احاديث نقل کړې دي .

۱۰۵ ۔ عمروبن الاخطب : دده کنيت ابو زيد ده پدې سره مشهور وو ، انصاري دی او په ډيرو غزاګانو کې شري شوی وو حضور ﷺ دده په سر خپل لاس مبارک راښکلی دی او حسن وجمال دعا يې هم ورته کړی وه عمر يې څه دپاسه سل کالو ته رسيدلی وو ليکن په سر او ږيره کی ئی څو ويښتو نه زيات سپين نه وو ډيرو صحابو دده نه احاديث نقل کړي دي .

۱۰۶ ۔ عمروبن اميه : دا ضمری دی بدر او احد ي د مشرکينو سره راغلی وو د غزوه احد نه پس مسلمان شو د عربو مشهور بهادر وو د مسلمانانو سره په اول ځل غزوه بير معونه کې شريک شوی وو په دغه جنګ کې عامر بن طفيل قيدي کړو بيا يې پريخودو ، په سنه ۶ کې حضور صلی الله عليه وسلم حبشې ته د دعوت لپاره وليږه ، حضور ﷺ ته د حبشي د بادشاه لپاره دعوتي خط ورکړی وو چې هغه مسلمان شو ، دا په حجازيانو کې شمار دی د امير معاويه په زمانه کې په مدينه کې وفات شو . بعضو ويلي دي چې په سنه ۶۰ کې وفات شو .

۱۰۷ ۔ عمروبن الحارث : دا خزاعی دی د ام المؤمنين جويريه رضي الله عنها ورور دی کوفه والاو کې شمير دی .

۱۰۸ ۔ عمروبن حريث : دا قريشی مخزومي دی د حضور ﷺ يې ليدلی دی حضور ﷺ نه ئي حديث آوريدلی دی . حضور ﷺ دده په سر خپل لاس مبارک راښکلی دی او د برکت دعا ئی ورته کړی وه د حضور ﷺ د وفات په وخت دده عمر دولس ۱۲ کاله وو . د کوفی حاکم وو په او سنه ۸۵ هـ کې

وفات شو او په کوفه کښې دفن شو.

۱۰۹ـ عمرو بن حزم: دده کنیت ابو الضحاک دی انصاري دی په غزوه خندق کښې شریک شوی وو هغه وخت یې عمر ۱۵ کاله وو حضور ﷺ نجران حاکم مقرر کړی وو او دده په نوم یې خط لیږلی وو په سنه ۵۳هـ کښې په مدینه منوره کښې وفات شو.

۱۱۰ـ عمرو بن سعید: دا قریشي دی ده اولنی هجرت یې حبشې ته کړی وو بیا په مدینه کښې اوسیده د جعفر بن ابی طالب ملګرتیا کښې د خیبر په کال مدینې ته ورسیده په سنه ۱۳هـ کښې شام ې شهید کړی شو.

۱۱۱ـ عمرو بن سلمه: دا مخزومي دی د حضور ﷺ زمانه ئې بیاموندې د خپل قوم امامت یې کاوه ځکه چې هغوی ې دتولو نه ښه قاري وو بعضو وئیلي دي چې دی د خپل پلار سره حضور ﷺ ته حاضر شوی وو. بصرې ته راتلو سره هلته اوسیدلو. د شپږو کالو په عمر یې د خپل قوم امامت کاوه.

۱۱۲ـ عمرو بن العاص: دا سهمي قریشي دی په سنهٔ ۵- کښې یې اسلام راوړی وو دا او خالد بن ولید او عثمان بن طلحه یوځای راغلل او مسلمان شول. حضور ﷺ دی دعمان حاکم جوړ کړی وو. د حضور ﷺ تر وفات پورې هلته حاکم وو، بیا حضرت عمر، عثمان، معاویه حاکم کړو مصر ده فتح کړی دی او تر مرګ پورې د مصر حاکم وو بیا حضرت عثمان غني رضي الله عنه څلور کالو پورې خپل عامل جوړ کړی وو دی نه پس ئې معزول کړلو بیا حضرت معاویه د خپل حکومت په وخت کښې هلته حاکم کړو (۹۰) کالو په عمر کښې په سنه ۴۳هـ کښې د وفات شولو او ده نه پس دده ځوی عبدالله ئې د مصر حاکم مقرر کړلو. بیا حضرت معاویه معزول کړلو ډیرو خلکو ترینه روایات نقل کړي دي لکه عبد الله بن عمر، قیس ابن ابن حازم وغیره.

۱۱۳ـ عمرو بن عبسه: دده کنیت ابو نجیح دی سلمي دی د پخوانو ایمان راوړونکو نه دی تر دې چې بعضو ویلي دي چې دا څلورم اسلام راوړونکی دی بیا حضور ﷺ ورته وفرمایل د خپل قوم طرف لاړ شه، کله چې تاته زمونږ د غلبې خبر وشي بیا راشه کله چې خیبر فتح شو بیا راغی او د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هلته اوسیدو دا په شامیانو کښې شمارلی شي.

۱۱۴ـ عمرو بن عوف: دا انصاري دی غزوه بدر کښې شریک وو او په مدینه منوره کښې اوسیده.

۱۱۵ـ عمرو بن عوف مزني: دا دلویو او پخوانو ایمان ولاونه دی، دده متعلق دا آیت نازل شوی وو. (وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ) مدینه منوره کښې اوسیده هلته دامیر معاویه په زمانه کښې وفات شو

۱۱۶ـ عمرو بن الحمق: خزاعي دی صحابي دی په سنه ۵۱هـ کښې شهید کړی شو.

۱۱۷ـ عمرو بن مره: دده کنیت ابو مریم دی جهني دی یا ازدي دی دی اکثر غزاګانو شریک شوی دی شام کښې اوسیده د امیر معاویه په زمانه کښې وفات شو.

۱۱۸ـ عمرو بن قیس: دا قرشي عامري دی دده بل نوم عبد الله دی. ده ته ابن مکتبوم ویلی شي نابینا وو د

مور نوم یې عاتکه دی ، د ام المؤمنین خدیجې دماماځوی دی او یا یې د ترور ځوی وو ، مکه معظمه کې یې اول کې ایمان راوړی وو ، مدینه کې خپل نائب جوړ کړی وو . آخر ځل د حجة الوداع په موقع خپل نائب جوړ کړو، په مدینه منوره کې وفات شوی دی بعضی وایي چې د قادسې په جنګ کې وفات شوی دی ، سورة عبس دده په باره کې نازل شوی دی ددې سورة د نزول نه وروسته به ورته حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل څادر خورولو .

۱۱۹ ـ عمرو بن تغلب : دا عبدی دی یعنی د عبد القیس دقبیلې نه دی. دده نه خواجه بصري وغیره وغیره احادیث نقل کړي دي .

۱۲۰ ـ عکراش بن ذویب : دا تمیمی دی ، دی بصرې والاو کې شمار دی ده د خپل قوم صدقات راجمع کړل او د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو .

۱۲۱ ـ عمران بن حصین : دده کنیت ابونجیده دی خزاعي او کعبي دی د خیبر په کال ئی ایمان راوړی . تر مرګ پورې په بصره کې اوسیده په سنه ۵۳ھ کې وفات شو ، د فضلاؤ صحابو نه وو (حضرت عمر د علم ښودلو لپاره بصرې ته لیږلی وو ، ابن سرین وائي په بصره کې دده نه افضل صحابي نه وو ، ده ته به فرشتو سلام کولو) .

۱۲۲ ـ عمیر مولی آبی اللحم : دا د ابی اللحم آزاد کرده غلام دی ، غفاري حجازي دی، په غزوه خیبر کې د خپل مولا سره حاضر شوی وو. پیغمبر علیه السلام یې لیدلی وو ، د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آحادیث یې حفظ کړي وو . یو جماعت ترې آحادیث نقل کړی دي

۱۲۳ ـ عمیر بن الحمام : انصاري دی غزوه بدر کې شهید شوی دی خالد ابن اعلم شهید کړی دی . په انصارو کې د اولنی شهید چې د الله په لار کې شهید شوی دی .

۱۲۴ ـ عوف بن مالک : دا اشجعی دی د خیبر غزوه او دهغې نه وروسته غزاګانو کې شریک شوی دی د بنو اشجع بیرغ (جنډه) د فتح مکې په ورځ دده سره وه په آخر کې په شام کې اوسیده په سنه ۷۳ ھ کې وفات شولو .

۱۲۵ ـ عویم بن ساعده : انصاري اوسی دی بیعت عقبه او بیعت ثانیه غزوه بدر او تمامو غزاګانو کې شریک وو قوی خبره داده چې په خلافت فاروقي کې وفات شوی دی ۶۵ کاله عمرئی وو ده نه حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه روایت کوی .

۱۲۶ ـ عویمر بن عامر : دده کنیت ابودرداء دی پدې کنیت سره مشهور دی دده ذکر حرف دال کې تیر شوی دی .

۱۲۷ ـ عویمر بن ابیض : دا عجلانی او انصاري دی بعضو ویلي دي چې دا هغه عویمر دی د کوم ذکر چې دلعان واقعه کې راغلی دی د بعضو قول دی چې هغه بل عویمر دی دهغه نوم عویمر بن حارث بن زید بن حارثه بن جعد عجلان دی .

۱۲۸ ـ عیاض بن حمار : دا تیمی مجاشعی دی بصریانو ي شمیرلی شی د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ده باندې ډیر کرم وو او دوست یې وو .

۱۲۹ ـ عصام مزني : دا مزنی دی دا صحابي دی ډیر کم حدیث یې روایت کړي دي باب الجهاد ي دده ..
روایت دی .

۱۳۰ ـ عتبان بن مالک : دا خزرجی سالمي دی دامیر معاویه زمانه کې وفات شو .

۱۳۱ ـ عماره بن خزیمه : دا د خزیمه بن ثابت ځوی دی انصاري دی دی خپل پلار نه روایت کوي

۱۳۲ ـ عماره بن رویبه : دا ثقفی دی دی کوفیانو کې شمیر دی ډیرو خلکو ترینه روایت نقل کړي دي.

۱۳۳ ـ عرس بن عمیره : دا کندی دی دده نه دده ورارہ روایت کوی عرس.

۱۳۴ ـ عیاش بن ابی ربیعه : دا مخزومي قریشي دی دی دابو جهل مور شریک ورور دی پخوانی مؤمن دی د حضور ﷺ دار ارقم ته ددا خلیدو نه مخکې یې ایمان راوړو . ده اول حبشې طرف ته هجرت اوکړو . بیا ده مدیني طرف ته هجرت اوکړود هجرت نه چې راغلو ابو جهل او دهغه ورور حارث ورته راغلل . اوورته ئې اووئیل ، ستا مور قسم خوړلی دی چې ځوپوري زه تا اونه وینم هغه وخته پورې به سورې ته نه کینم ته مکې ته لاړ شه چې ستا مور سورې ته کینې هغه د هغو دواړو سره مکې ته لاړو هغه یې هلته تلو سره بندې کړو او ډیر تکلیفونه یې ورته ورسول حضور ﷺ ورته په قنوت کې دعاګانې وکړي : ای الله عیاش ته نجات ورکړه جنګ یرموک ي شام ي شهید شو .

۱۳۵ ـ عابس بن ربیعه : دا غطیفی دی دمصر فتح کې شریک شوی . ده نه دده ځوی عبد الرحمن روایت نقل کوی.

۱۳۶ ـ ابو عبیده بن الجراح : دده نوم عامر بن عبد الله بن جراح فهری قریشي دی عشره مبشره ي دی اوددې امت امین دی . حضرت عثمان بن عفان بن مظعون سره ئې ایمان راوړی وو . بیا د حبشې طرف هجرت اوکړو ټولو غزاګانو کې شریک وو جنګ احد ي هم ثابت قدم وو . د وسپنې دوه کړی چې د حضور ﷺ مخ مبارک کې ننوتې وې راښکلې دی چې دهغه په وجه دهغه دوه غابښونه ووتل ، دا واقعه په غزوه احد کې وه په سنه ۱۸ ھ کې په طاعون مرض سره په عمواس مقام کې وفات شو . ۵۸ کاله عمرئې وو معاذ بن جبل رضي الله عنه دده جنازه وکړه او په بیسان مقام کې دفن شو دده. د حضور ﷺ سره په فهر بن مالک کې یوځای ملاویږي (دا د اسلام لوئ جرنیل وو د شام فاتح همدا دی حضرت عمر د خپل وفات په وخت کې وفرمایل که ابو عبیده اوس ژوندی وي ما به خلیفه کړی و)

۱۳۷ ـ ابو العاص بن الربیع : دده نوم مقسم اویا لقیط دی اودی د حضور ﷺ زوم وو یعنی د حضور ﷺ لور زینب دده نکاح کې وه د بدر په ورځ کې د کفارو د طرف نه راغلی مسلمانانو دقید کړی وو بیا یې پریخودو مکې ته لاړو بیا یې هجرت وکړو حضور ﷺ ته راغلو حضور ﷺ سره دده په وفا داري او وعدي پوره کولو ډیر خوشحاله وو ، په خلافت صدیقې کې د یمامې په جنګ شهید کړی شو ډیر صحابو دده نه روایت نقل کړی دی .

۱۳۸ ـ ابو عياش : دده نوم زيد بن الصامت انصاري دی زرقي دی دهجرت په څلويښتم كال وفات شو.

۱۳۹ ـ ابو عمرو بن حفص : دا د حفص بن مغيره ځوی دی مخزومي دی دده نوم عبد المجيد دی.

۱۴۰ ـ ابو عبس عبدالرحمن بن جبير : دا ابن جبير ځوی دی انصاري حارثي دی جنګ بدري شريک وو مدينه منوره کې په سنه ۳۴ هـ کې وفات شو جنت البقيع ي دفن شو . اويا (۷۰) کاله عمر ئي وو.

۱۴۱ ـ ابو عسيب : دا د حضور ﷺ ازاد کړه غلام دی دده نوم احمر دی.

صحابياتي

۱ ـ عائشه صديقه رضي الله عنها: دام المؤمنين ده دابوبكر صديق رضي الله عنه لورده . دا د ام رومان بنت عامر بن عويمر دی حضور ﷺ ورته دنکاح پيغام ورکړی وو . د نبوت په لسم ۱۰ کال يې ورسره مکه کې نکاح وکړه دهجرت نه دری کاله مخکې په سنه ۲ شوال کې په مدينه کې واده وشو . هغه وخت يې عمر نهه کاله وو نهه کاله دحضور ﷺ سره وه ﷺ وصال اوشول هغه وخت بی بی عائشه رضی الله عنها د ۱۸ کالو وه حضور ﷺ دبی بی عائشې رضی الله عنها نه علاوه بلې پيغلې سره نکاح نه ده کړی بي مثاله فقيه ، عالمه ، فصيحه او فاضله وه حضور ﷺ نه ئی کثرت سره روايات نقل کړی دی د عربو په تاريخ کې يې ډير علم لرلو د عربو په اشعارو يې هم نظر لرلو ، مدينه منوره کې په سنه ۵۷ هـ کې په ۱۷ رمضان د شنبې يا خالی په شپه وفات شوه وصيت يې کړی وو چې دشپې دی دفن کړی بقيع کې دفن کړی شوه حضرت ابو هريره رضي الله عنه يې جنازه کړي وه دحضرت معاويه رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې (صرف ددې په بستر کې به په حضور ﷺ باندې وحې راتله) حضرت جبرائل ورته سلام کولو ، په دې باندې بهتان ولګيده نو په برائت کې يې په سورت نور کې ۱۸ آياتونه نازل شول ، په حضرت مريم او حضرت يوسف چې بهتان ولګيده نو ماشوم ګواهي ورکړه ، ليکن درب العالمين د محبوب په محبوبې چې بهتان ولګيده نو خپله يې ګواهې ورکړه . خلاصة التهذيب کې دي چې حضرت عائشې نه دوه زره او دوه سوه لس ۲۲۱۰ احاديث نقل دي ، پدې کې يو سل څلور اويا ۱۷۴ متفق عليه دي او څلور پنځوس ۵۴ صرف په بخاري کې دي او آته شپيته ۶۸ صرف په مسلم کې دي عروه فرمائي چې ما دحضرت عائشې نه لوی علم والا په اشعارو کې ندی ليدلی.

۲ ـ عمره بنت رواحه : انصارونه ده دنعمان بن بشير مورده دی نه ددې خاوند بشير بن سعد او ددې ځوی نعمان بن بشير روايت اوکړو.

۳ ـ ام عماره : ددې نوم نسيبه دکعب لورده انصارونه ده بيعت عقبه ي حضاره او شريکه شوی وه . غزوه احد کې خپل خاوند زيد بن عاصم سره شريکه وه بيعت الرضوان کې بيا غزوه يمامه کې يې جهاد کړی دی تر دې پورې چې يو لاس ضائع شولو او دتوری او نيزد و لس زخمونه يې په جسم لګيدلي وو ډيرو خلکو ترينه روايات نقل کړي.

۴ ـ ام العلاء : دا انصاريه صحابيه خارجه بن زيد بن ثابت مور ده رسول الله ﷺ ددې په بيماری کې ددې تپوس کولو ته راغلی وو.

۵ ـ ام عطیه : ددې نوم نسیبه بنت کعب ده یا دحارث لور ده انصاریه ده ډیرو صحابو ترینه روایات نقل کړی دي دحضور صلی الله علیه وسلم سره په اکثرو غزواتو کې شریکه شوې وه د زخمیانو مرهم پټی به ددې ډیر فضائل دي.

غ :

صحابه :

۱ ـ غضیف بن الحارث : دادحارث ځوی دی ثمالی دی کنیه یې ابواسماء ده اوشامي دی دحضور صلی الله علیه وسلم زمانه کې پیدا شوی دی دحضور صلی الله علیه وسلم سره یې بیعت کړی دی بعضو خلکو ورته تابعي ویلي خو صحیح او قوي خبره داده چې دا صحابي دی.

۲ ـ غیلان بن سلمه : دا ثقفي دی د طائف د فتحې نه پس ئې ایمان راوړلو او هجرت ئې اونه کړلو دبنو ثقیف د سردارانو نه دی لوی شاعر او عابد وو ، د عمر فاورق په خلافت کې وفات شو.

ف :

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱ ـ الفضل بن عباس : دا دحضور صلی الله علیه وسلم دتره عباس ځوی دی حضور صلی الله علیه وسلم سره غزوه حنین شریک شوی وو او ثابت قدم وو. په حجة الوداع کې هم دحضرت صلی الله علیه وسلم سره وو ، حضرت صلی الله علیه وسلم ته په غسل ورکونکو کې یو دا هم و او بیا یې په شام کې جهاد کولو او اردن کې وفات شو. بعضو ئیلي چې دیرموک کې شهید شو صرف ۲۱ کاله عمر یې وو د خپل ورور عبدالله بن عباس رضی الله عنه او ابوهریره روایت کوی.

۲ ـ فضاله بن عبید رضي الله عنه : دا انصاري اوسي دی په احد کې او دا حد نه وروسته جنګونو کې شریک شوی وو په بیعت الرضوان کې شامل شوی وو. د معاویه د طرف نه د دمشق قاضي وو کله چې د صفین جنګ ته تللی وو په سنه ۵۳ هـ کې د معاویه په زمانه کې وفات شو.

۴ ـ الفجیع بن عبدالله : دا عامري دی دخپل قوم په نمائندګی حضور صلی الله علیه وسلم ته راغی او د حضور صلی الله علیه وسلم نه یې احادیث اوریدلي دي.

۵ ـ فروه بن مسیک : دا مرادي غطیفی او اهل یمن نه دی په سنه ۹ هـ کې حضور صلی الله علیه وسلم ته حاضر شو او ایمان یې راوړو د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافت کې کوفي ته لاړو. شاعر ، عابد ، او زاهد وو.

۶ ـ فروه بن عمرو : دا بیاضي او انصاري دی په بدر وغیر تولو غزواتو کې شریک شوی دی.

۷ ـ فیروز الدیلمی : دا حمیري فارسي دی په صنعا کې اوسیده ، ده په یمن کې د نبوت مدعي اسود عنسي قتل کړو چې دحضور صلی الله علیه دژوند مبارک آخری ورځو کې دا واقعه شوې وه او خلافت عثمانې کې وفات شوی دی ، دده نه ضحاک او عبد الله روایات آخستې دي.

صحابياتي

۱ ـ فاطمة الكبرى : دا د حضور ﷺ کشره لور وه ددې ، مور يې بی بی خديجة الكبرى ده لقب يې زهرا ده او سيد النساء العالمين ده . د نبوت د ظهور نه پنځه کاله مخکې په مکه کې پيدا شوې ده . په رمضان کې په سنه (۲) هـ کې يې نکاح د حضرت على سره شوی ده او ذی الحجه کې واده شوی دی ددی نه دری ځامن حسن او حسين او محسن دری ځامن او زينب او کلثوم او رقيه دری لوګانې پيدا شوی . د حضور ﷺ د مرګ نه شپږ مياشتی وروسته په دريم رمضان د سه شنبې په ورځ په سنه ۱۱ هـ کې وفات شوه عمر يې صرف ۲۸ کاله وو حضرت على رضى الله عنه ورته غسل ورکړلو . او حضرت عباس رضى الله عنه ئی د جنازی مونځ وکړو . د وصيت مطابق د شپې دفن کړی شوه دی نه حضرت على او حضرت حسين او حضرت حسن او د صحابو يو جماعت ترينه روايات نقل کړي دي ، وکړو ، حضرت عائشه فرمايې چې ما د فاطمې نه رشتنې ښځه نده ليدلې .

۲ ـ فاطمه بنت ابى حبيش : دا قرشيه اسديه ده دې ته به د استحاضې وينه ډيره راتله ، د عبد الله بن حجش ښځه وه ، عروة بن زبير او حضرت ام سلمه ترې روايات نقل کړې دي .

۳ ـ فاطمه بنت قيس : دا قرشيه ده د حضرت ضحاک خور ده د اولنو مهاجرو زنانو نه ده ، په ښايست او عقل کې يې کمال لره اول د ابو عمرو بن حفص په نکاح کې وه بيا يې طلاقه کړه ، حضور ﷺ ورله د د اسامه بن زيد سره نحاح وکړه .

۴ ـ الفريعة بنت مالک : داد ابو سعيد خدری خور ده بيعت الرضوان کې شريکه شوي وه ددې نه زينب بنت کعب بن عجره روايات کړي دي .

۵ ـ ام الفضل : دده نوم لبابة بنت حارث دی د حضرت عباس بن عبد المطلب ښځه ده ، او عامريه ده ، د ام المؤمنين ميمونې خور ده ، مشهوره داده چې په زنانو کې د خديجة الكبرى نه بعد دې ايمان راوړی دی ، ددې نه ډير آحاديث نقل دي د حضور ﷺ د تره ښځه وه .

۶ ـ ام فروه : دا انصاريه ده ، د حضور ﷺ سره يې بيعت کړی وو ، قاسم ابن غنام ددې نه روايات آخستې دي .

ق :

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱ ـ قبيضه بن ذويب : دا خزاعې دی په اول هجري کې پيدا شوی دی حضور ﷺ خدمت کې راوستی شو او حضور صلى الله عليه وسلم ورته د فقاهت او د رفعت دعاګانې وکړې . ابو الزناد وائی څلور کسان فقهاء شمارلی شو :(۱)ابن مسيب (۲) عروه بن زبير (۳) عبد الملک بن مروان (۴) قبيصه بن ذويب . په سنه ۸۶ هـ کې وفات شوی دی د ابن عبد البر نه علاوه بل جا ورته صحابي نه دی ويلي بلکه تابيعينو کې يې شمار کړی دی .

۲ ـ قبيصه بن مخارق : دا هلالي دی د حضور ﷺ خدمت کې د وقد په شکل کې حاضر شوی وو په

بصريانو کې شمار دی او ابن قطن او عثمان نهدي وغیره ددنه روایات نقل کوي

۳ـ قبیصه بن وقاص : دا سلمي دی په بصره کې اوسیده او په دي خلکو کې شمار دی.

۴ـ قتادة بن النعمان : دا انصاري دی بیعت عقبه کې شریک شوی وو په غزوه بدر وغیره کې شریک شوی وو حضرت ابوسعید خدری ورسره د مور شریکی ورور دی پنځه شپیته ۶۵ کاله عمر یې وو په سنه ۲۳ هـ کې وفات شو په بهترینو صحابو کې وو حضرت عمر رضي الله عنه ئی جنازه وکړه.

۵ـ قدامه بن عبدالله : دا کلابي یا عامري دی د اولنو مؤمنانو نه دی مکه معظمه کې اوسید ، په حجة الوداع کې شریک شوی وو.

۶ـ قدامه بن مظعون : دا قرشي او جحمی دی د عبدالله بن عمر ماما دی د حبشې له مهاجرینو نه دی ، په بدر او په نورو ټولو غزاګانو کې شریک وو ، دده نه عبد الله بن عمر او عبد الله بن عامر روایت نقل کړی دی ، اته شپیته ۶۸ کاله عمر یې وو ، په سنه ۳۶ هـ کې وفات شو . دده ډیر فضائل

۷ـ قطبه بن مالک : دا ثعلبي کوفی دی د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې وو د زیاد بن علاقه روایات نقل کړي.

۸ـ قیس بن ابی غرزه : دا غفاری کوفي دی د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې وو په کوفه والاو کې شمیرلی شي د تجارت متعلق یو حدیث ترینه نقل دی.

۹ـ قیس بن سعد : دده کنیت ابو عبدالله انصاري او خزرجي دی د بهترینو اصحابو نه وو . او جنګی تدبیرونو کې ډیر ماهر وو ، د خپل قوم سردار وو حضور صلی الله علیه وسلم په بارګاه کې ډیر عزت والا وو د حضرت علي رضي الله عنه د جانب نه د مصر حاکم وو د حضرت علي رضي الله عنه شهادت پورې ورسره ملګری وو په سنه ۶۰ هـ کې وفات شو یو جماعت دده نه روایات نقل کړي دي . د قیس بن سعد او عبدالله بن زبیر ، قاضی شریح او د احنف ږیر باندې ویختان نه وو ددې با وجود قیس ډیر ښائسته وو .

۱۰ـ قیس بن عاصم : دده کنیت ابو قبیصه یا ابوعلی دی دا تمیمي دی د بنو تمیم په وفد کې د حضور صلی الله علیه وسلم په بارګاه کې حاضر شوی وو او سنه ۹ هـ کې ئی ایمان راوړی وو دا چې کله د حضور صلی الله علیه وسلم ن په خدمت کې حاضر شو نو حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې دا د خیمې والاو سردار دی په علم او صبر کې مشهور و ، په بصرې والاو کې شمار دی.

۱۱ـ قرظه بن کعب : دا انصاري خزرجی دی غزوه احد وغیره جنګونو کې شریک وو حضرت علي رضي الله عنه د کوفی حاکم مقرر کړی وو هم دده په خلافت کې وفات شو . شعبی رحمه الله وغیره دده نه روایات نقل کړی دي .

۱۲ـ قره بن ایاس : دا مزني بصري دی دده ځوی معاویه دده نه روایات آخستې دي نه علاوه بل چا دده نه

په مدینه منوره کې وفات شو اتیا کاله عمر یې وو په ټولو جنګونو کې شریک شوی وو.

۱۴ - ابو قحافه : دده نوم عثمان بن عامر دی، د ابوبکر صدیق رضی الله عنه والد دی د عین په تخته کې یې ذکر تیر شوی دی.

صحابیاتې

۱ - قیله بنت مخرمه : دا صحابیه ده او تمیمه ده د دي نه ددې نمسو صفیه او حبیبه بنت علیبه روایات نقل کړې دي. غالبًا دا هغه قیله ده چې د جمې په ورځ به یې څه خوراک تیارولو صحابه کرامو به خوړلو صحابو به ویل د قیلې ددې خوراک د وجې نه مونږ د جمعې ورځې انتظار کوو، والله اعلم.

۲ - ام قیس بنت محصن : دا د عکاشة بن محصن خور ده په مکه معظمه کې د پخوانو مسلمانانو نه ده، بیا یې مدینې منورې ته هجرت وکړو.

ک :

صحابه کرام رضی الله عنهم

۱ - کعب بن مالک : دا انصاري خزرجی دی بیعت عقبه ثانیه کې شریک شوی وو د بدر په حاضری کې یې اختلاف دی تبوک نه علاوه نورو غزواتو کې هم شریک وو دد حضور صلی الله علیه وسلم د خاص شاعرانو نه وو. په غزوه تبوک کې دری کسان باقي پاتې وو د هغوی نه یو دا هم وو ددې دری وارو نو مونه دادی دویم بلال بن امیه دریم مراره بن ربیعه ده، دده باره کې د توبې قبلیدو آیتونه نازل شول، دده نه یو جماعت روایت کړې دي او ۷۷ کاله عمر یې وو په سنه ۵۰ هـ کې وفات شولو، او په آخر کې نابینا شوی وو.

۲ - کعب بن عجره : دا بلوی دی کوفه کې اوسیده او په مدینه کې په سنه ۵۱ هـ کې وفات شو د ۷۵ کاله عمر یې وو.

۳ - کعب بن عیاض : دا اشعری دی په شامیانو کې شمار دی، دده نه جابر بن عبدالله او جبیر بن نفیر روایات آخستي دي.

۴ - کعب بن عمرو : دا انصاري سلمې دی بیعت عقبه او غزوه بدر کې حاضر وو غزوه بدر کې عباس بن عبدالمطلب قیدی کړی وو په سنه ۵۵ هـ کې په مدینه منوره کې وفات شو. عمار او حنظله دده نه روایات کړی دی

۵ - کثیر بن صلت : دا دمعدی کرب څوی دی او کندي دی د حضور صلی الله علیه وسلم ژوند کې پیدا شوي وو دد نوم قلیل وو حضور صلی الله علیه وسلم وربانذې کثیر کیخودو، دډیرو صحابو نه یې روایات نقل کړی دي.

۶ - کرکرة : ده به دحضور صلی الله علیه وسلم دسامان منظم ساتلو په سفرونو او غذا ګانو کې به د حضور صلی الله علیه وسلم سره وو، دده ذکر په غلول کې راغلی دی، په کرکرة کې دواړو کافونو ته فتحه ده.

۷ - کلده بن حنبل : دا اسلمې دی دصفوان بن امیه حجمی ناسکه وروردی دا غلام وو معمر بن حبیب

دعکاظ په بازار کې په یمن کې واخیست او حلیف یې جوړ کړلو او ترمګه پورې په مکه کې اوسیده.

۸-ابو کبشه: نوم ئې عمرو بن سعد انماري دی په شام کې اوسیده نعیم او سالم دده نه روایت کوی

صحابیاتي

۱-کبشة بنت کعب بن مالک: داد عبد الله بن ابي قتاده ښځه ده، دپیشو دخو تې متعلق ددې حدیث مشهوردی.

۲-کریمة بنت همام: ددې نه د نکریزو (رنګ کولو) متعلق حدیث روایت دی، داد حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت کوي، همام د میم په پیښ یا فتحې سره دی

۳-ام کرز: دا خزاعیه ده څو احادیث ترې نقل دي خاصکر د عقیقې حدیث.

۴-ام کلثوم بنت عقبه: دا دعقبه ابن ابي معیط لور ده مکه معظمه کې یې اسلام راوړی دی، پیدل یې هجرت کړی وو مکه کې یې واده وه بیا یې په مدینه منوره کې زید بن حارثه سره واده وکړو، کله چې زید د مؤته په جنګ کې شهید شو نو بیا یې زبیر بن عوام سره نکاح وکړه هغه ورله بیا طلاق ورکړو نو د عبدالرحمن بن عوف په نکاح کې راغله دهغه نه یې ابراهیم او حمید پیدا شول کله چې یې دا خاوند وفات شو نو بیا یې عمرو بن العاص سره نکاح وکړه، دده په نکاح کې وفات شوه او دا د حضرت عثمان غني ناسکه خور وه،

ل:

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱-لقیط بن عامر ابن صبرة: دده کنیت ابو زرین ده عقیلي دی او مشهور صحابی دی طائف سره یې تعلق دی

۲-لبیدبن ربیعه: داعامري دی شاعردی دخپل قوم بن جعفرین کلاب سره دوفد په شکل کې حضور صلی الله علیه وسلم ته راغلی وو، دجاهلیت زمانه کې او د اسلام په زمانه دواړو کې ډیر عزت والا وو په آخري عمر کې په کوفه کې اوسیده په سنه ۴۱ ھ کې وفات شوی دی، د ۱۴۰ کاله عمر یې وو، پدې کې نو اقوال هم شته.

۳-ابولبابه: دده نوم رفاعة عبد المنذر دی، اوسي انصاري دی بیعت عقبه او غزوه بدر نورو غزواتو کې حا وو بعضو ویلي دي چې غزوه بدر کې شریک شوی نه وو ځکه د حضور صلی الله علیه وسلم د حکم مطابق په مدینه کې انتظام لپاره پاتې شوی وو او په غنیمت کې یې حصه ورکړی شوې وه د حضرت علی رضی الله عنه په خلافت کې وفات شو.

۴-ابن اللتبیه: دده نوم عبدالله دی دده ذکر په صدقاتو کې راغلی دی.

صحابیاتي

۱-لبابه بنت حارث: ددې کنیت ام الفضل دی ددې ذکر په حرف الفاء کې راغلی دی.

م :

صحابه كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ

۲ - مالک بن اوس : دامالک بن اوس بن حدثان دی دا بصری دی دده صحابی کیدو کې اختلاف دی دده احادیث ډیر کم دی البته د صحابو اثار ترینه ډیر نقل دی په سنه ۵۹۲ هـ کې په مدینه کې وفات شوی دی مشهور شخصیت دی.

۳ - مالک بن حویرث: دا لیثي دی دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې یې وفد جوړ کړو او راغی او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یې شل ورځې وو ، په آخر کې په بصره کې اوسیده ، په سنه ۹۴هـ کې وفات شوی دی.

۴ - مالک بن صعصعه : دا انصاري زماني دی په بصره کې اوسیده احادیث یې کم روایت کړې دي.

۵ - مالک بن هبیره : داسکوني دی په شامیانو کې شمار دی د امیر معاویه د طرف نه د لښکرو سردار وو رومیانو سره یې جهاد کړی وو ، دا جهاد د امیر معاویه په زمانه کې شوی وو.

۶ - مالک بن یسار : دا سکوني او یا عوفي دی په شام کې اوسیده دده په صحابیت کې اختلاف دی.

۷ - مالک بن تیهان : دده کنیت ابو الهشیم دی انصاری دی بیعت عقبه کې شریک شوی دی دحضرت عمررضی الله عنه دور خلافت کې په سنه ۲۰هـ کی وفات شوی دی بعضو مؤرخینو ویلی دي چې په سنه۳۹ هـ کې جنګ صفین کې وفات شو دی.

۸ - مالک بن قیس : دده کنیت ابو صرمه دی کنیت سره مشهور دی دده ذکر صرف صاد ي راغلی دی.

۹ - مالک بن ربیعه : دده کنیت ابو سعید دی کنیت سره مشهور دی دده ذکر حرف الف کې راغلی دی.

۱۰ - ماعزبن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دا اسلمي مدني دی ، دسنګسار شوی وو ، ده نه دده ځوی عبد الله یو حدیث نقل کړی دی.

۱۱ - مطربن عکامس : دا سلمي دی کوفه والا و نه دی دده نه صرف یو حدیث نقل دی.

۱۲ - معاذبن انس : دا جهني دی د مصر والا و نه دی دده ځوی دده نه احادیث آخستې دي.

۱۳ - معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دده کنیت ابو عبد الله دده دی انصاري خزرجي دی دی په بیعت عقبه کې په هغه اویا صحابو کې دا هم وو بدر اونورو غزواتو کې حاضر وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بحیثیت قاضی او معلم یمن ته لیږلی وو . په اتلس کلنی کې یې ایمان راوړی وو د حضرت عمر او ابو عبیده بن جراح نه وروسته د شام حاکم دا مقرر کړی وو آته دیرش ۳۸ کاله عمر یې وو په سنه ۱۸ هـ کې په طاعون عمواس کې وفات شو.

۱۴ - معاذبن عمرو بن جموح : دا انصاري خزرجي دی بیعت عقبه او عزوه بدر کې دی شریک شوی وو ده خپل پلار عمر او خپل ورور معوذ بن عفراء یو ځای کړل او ابو جهل یې قتل کړو ، د عبد الرحمن ابن اسحاق زوی

روايت کوي چې معاذ دابوجهل پښه پريکړه او په مزکه يې راوغورزاوه عکرمه په ده باندې دتورې ګزار اوکړو او لاس يې ترينه جدا کړي وو دی نه پس معاذبن عفراء په ابوجهل دتورې وار اوکړو او هغه ختم کړو ابوجهل سلګی وهلې چې عبد الله بن مسعود ترينه سر جدا کړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابو جهل لاس تلاش کړو د هغه په قتل يې سجده شکر اداء کړه دا په خلاف عثماني کې وفات شوی دی ، ياد لرئ چې معاذ او معوذ مورکې شريک وروڼه دی د مور نوم يې عفراء دی ، پلاران يې جدا جدا دي يو معاذ بن الحارث دی او د معوذ سکه ورور دی مګر دا د ابو جهل په قتل کې شريک نه وو .

۱۵ ـ معاذبن حارث : دا انصاري اوزرقي دی دده مور عفراء بنت عبيد بن ثعلبه ده دا او رافع بن مالک انصاري او خزرجيان دي په خزرجو کې دا اولنی مؤمن دی ، معاذ او دده دواړه وروڼه عوف او معوذ په بدر کې شريک شوي وو دواړه وروڼه يې هلته شهيدان شول دده په باره کې اختلاف دی بعضو ويلي دي په بدر کې زخمي شو بيا څه وخت وروسته وفات شو ، او د بعضو رای ده چې خلافت عثماني کې وفات شوی دی دده نه ډيرو صحابو روايات نقل کړي دي ، ياد ساتئ چې معاذ بن الحارث د ابو جهل په قتل کې شريک شوی نه وو .

۱۶ ـ معوذبن حارث : دده مور نوم عفراء ده بدري شريک شو دا معاذ بن عمرو سره ملګری شو ابو جهل يې قتل کړو دا د ځمکې او باغ والا وو وروستو په جنګونو جنګونو کې شهيد شو ، .

۱۷ ـ مسطح بن اثاثه : دا ابن عباد بن عبد المطلب بن عبد مناف قريشي مطلبي دی غزوه بدر ، احد اونورو غزواتو کې شريک شوی وو ، د ام المؤمنين عائشې په تهمت لګولو کې دا شريک وو ، دده ته د تهمت لګولو ګوړې ورکړی شوې وې دده نوم عوف دی مسطح يې لقب دی شپږ پنځوس ۵٦ کاله عمر يې وو په سنه ۳۴ هـ کې وفات شو ، ابوبکر صديق رضی الله عنه ورباندې د حضرت عائشې په تهمت لګولو کې وظيفه بنده کړې وه ددې په بارک کې دا آيت نازل شو (وَلَا يَأْتَلِ أُولُو الْفَضْلِ مِنكُمْ) بيا يې ورته وظيفه ورکول شروع کړل.

۱۸ ـ مسور بن مخرمه : دده کنيت ابو عبد الرحمن ده زهري او قرشي دی د عبد الرحمن بن عوف خورئی دی په سنه ۲ هـ کې په مکه معظمه کې پيدا شو . ذی الحجه سنه ۸ هـ کې مدينی منوری ته راوړل شو ، د ذوالحجې په مياشت کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات په وخت کې دده عمر آته ۸ کاله وو ، ددې باوجود ده د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه احاديث نقل کړی لوی فقيه او صاحب فضل او ديندار وو د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهادت پورې مدينه کې وو بيا مکی ته لاړ او د حضرت معاويه رضی الله عنه وفات پورې هلته وو . دده يزيد بيعت نه يې انکار وکړو : کله چې د يزيد فوجيانو په مکه معظمه باندې حمله وکړه نو په منجنيق سره يې کاڼي اوروول په دې وخت کې دا په حطيم کې وو نفل يې کول يو کاڼی ورباندې ولګيدل په هغه سره وفات شو دا واقعه په ربيع الاول سنه ۶۴ هـ کې وه دده نه ډير مخلوق روايت کړي دی

۱۹ ـ المسيب بن حزن : دده کنيت ابو سعيد ده دا قرشي او مخزومي دی خپل پلار حزن سره ئی هجرت اوکړو په بيعت رضوان کې شريک وو دده نه دده ځوی سعيد بن المسيب احاديث نقل کړي دي .

۲۰ ـ مستورد بن شداد : دا فهري قرشي دی د کوفي والا و نه دی په مصر کې اوسيده د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ده.

د وفات په وخت کې دی ماشوم وو لیکن د هغه نه یې سماع ثابته ده.

۲۱ ـ مغیره بن شعبه : دا ثقفی دی او خندق په کال یې ایمان راوړی دی بیا یې هجرت وکړو مدینې منورې ته لاړو په آخر کې په کوفه کې اوسیدو او ۷۰ کاله عمر یې وو او په سنه ۵۰ هـ کې وفات شو هغه وخت دی د حضرت معاویه د جانب نه حاکم وو د ده مزار په کوفه کې دی او مشهور صحابي دی.

۲۲ ـ مقدام بن معدیکرب : د ده کنیت ابو کریمه دی او کندی دی په شامیانو کې شمار دی د ۹۱ کاله عمر یې وو په سنه ۸۷ کې په شام کې وفات شو ډیر احادیثو راوي دی او مشهور صحابي دی.

۲۳ ـ مقداد بن اسود : د ده پلار د کندې قبیلي حلیف وو له دي وجه نه ورته کندي ویل کیږي، اسود د ده پرورش کړی وو د دې وجې نه ورته ابن الاسود ویل کیږي دا شپږم مؤمن دی، د ده نه حضرت علی او طارق بن شهاب احادیث آخستي دي او یا ۷۰ کاله عمر یې وو په سنه ۳۳ هـ کې وفات شوی دی د ده وفات د مدینې نه لرې د دریو میلو په فاصله د جرف په مقام کې شوی دی، دلته نه راوړل شو او په بقیع کې دفن کړی شو.

۲۴ ـ مهاجر بن خالد : دا ابن ولید بن مغیره دی مخزومي او قریشی دی دی د حضور ﷺ زمانه کې ماشوم وو په جنګ جمل او صفیین کې د حضرت علی رضي الله عنه ملګری وو ملګر د ده عبد الرحمن حضرت معاویه رضي الله عنه او عائشې رضي الله عنها سره وو عمر په جنګ جمل کې یې یوه سترګه وتلې وه زخمي شوې وه او بیکاره شوه او په جنګ صفین کې شهید شولو.

۲۵ ـ مهاجر بن قنفذ : دا قرشي او تمییم دی د ده نوم عمرو بن خلف دی او لقب یې مهاجر دی د پلار لقب یې قنفذ دی قوي خبره داده چې د فتح مکې په ورځ یې اسلام راوړی دی، بعضو ویلي دي چې پخوا یې ایمان راوړی وو او هجرت یې کړی وو حضور ﷺ وویل چې دا رشتني مهاجر دی آخر کې په بصره کې اوسیده او هم هلته وفات شو.

۲۶ ـ معیقیب بن ابی فاطمه : دا دوسی دی د سعید بن ابی عاص آزاد کرده غلام وو په غزوه بدر کې شریک وو په مکه معظمه کې یې د اول نه یې ایمان راوړی وو، د حبشې هجرت یې هم کړی وو هلته اوسیده تر دې پورې چې حضور ﷺ مدینې ته هجرت وکړو، حضرت ابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه د بیت المال افسر جوړ کړی وو په سنه ۴۰ هـ کې وفات شو.

۲۷ ـ معقل بن یسار رضي الله عنه: دا مزني دی بیعت الرضوان کې شریک شوی د معقل نهر د ده طرف ته منسوب دی په سنه ۶۰ هـ کې وفات شوی دی د عبید الله بن زیاد په حکومت کې.

۲۸ ـ معقل بن سنان : دا اشجعی دی فتحه مکی حاضر شوی وو په کوفه کې اوسیده د حرې په جنګ کې قتل شوی دی.

۲۹ ـ معن بن عدی : دا بلوی دی د خپل ورور عاصم سره په غزوه بدر او نورو غزواتو کې شریک شوی وو د یمامه په جنګ کې یعنی د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په دور خلافت کې شهید شوی دی حضور ﷺ

دده اوزید بن خطاب مینځ کې ورور ولي جوړه کړي وه دواړه یو ځای کې یو ځای شهیدان شول.

۳۰ ـ معن بن یزید بن اخنس السلمي : دا سلمي دی دده پلار اونیکه هم صحابی وو دا په بدر کې هم شریک شوی وو او په کوفه والا وو شمار دی.

۳۱ ـ مجمع بن جاریه : دا انصاري اومدني دی دده پلار جاریه منافق وو مسجد ضرار جوړولو کې یو وو: مجمع لوی عالم او قاری وو مشهوره ده چې عبد الله بن مسعود رضی الله عنه نیم قرآن دده نه آخستی دحضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آخری دور کی وفات شو.

۳۲ ـ محجن بن ادرع : دا اسلمی دی پخوانی مؤمن دی اوږد عمر والا وو د امیر معاویه د امارت په آخر کې وفات شو په بصریانو کې شمار دی.

۳۳ ـ مخنف بن سلیم : دا غامدی دی دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داصفهان حاکم مقرر کړی وو په بصریانو کې شمار دی په میم کسره ده او خاء ساکنه ده او په نوم فتحه ده.

۳۴ ـ مدعم : دا حبشی غلام وو درفاعه بن زید غلام وو هغه دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کی پیش کړو، تر آخره پوري د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غلام وو، دده ذکر په غلول کې راغلی دی دا مشهوره واقعه ده.

۳۵ ـ مرداس بن مالک : دا اسلمي دی په بیعت رضوان کې شریک وو په کوفیانو کې شمار دی دده نه صرف یو حدیث نقل شوی.

۳۶ ـ محیصه بن مسعود : دا انصاري او حارثی دی. په مدینه والاوو کې شمار په احد او خندق او ددې نه وروسته په ټولو جنګونو کې شریک شوی وو.

۳۷ ـ مخارق بن عبدالله : دا اسلمي دی د صفر په میاشت کې په سنه ۳۶ ه کې د جمل په ورځ قتل شوی دی

۳۸ ـ مخرفه عبدی : دده په نوم کې اختلاف دی چې مخرمه دی او مخرفة دی په کتاب اللباس کې د سوید په حدیث کې د دده ذکر راغلی او په سنه ۵۶ ه کې وفات شوی دی.

۳۹ ـ مجاشع بن مسعود : دا سلمي دی ده نه ابو عثمان نهدی روایت اوکړو دا د جمل په ورځ په سنه ۳۶ ه کې شهید شوی.

۴۰ ـ مراره بن ربیع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: دا عامري او انصاري دی غزوه بدر ي شریک شوی وو او کوم دری صحابه چې د غزوه تبوک نه دپاتې شوی وو په هغوی کې یو دا هم دی د کوموچې د توبې قبولوالی په سورة التوبه کې راغلی دی.

۴۱ ـ مصعب بن عمیر : دا قرشي اوعدوي دی د جلیل القدر صحابو نه دی اول یې هجرت ئی حبشې ته اوکړو بیا بدر ي شریک شوی وو دبیعت عقبه ثانیه نه پس مدینې ته دقرآن کریم دښودلو لپاره او دفقه د تعلیم ورکولو لپاره ولیږه، د هجرت نه مخکې په مدینه منوره کې اول د جمعې مونځ د خپل اجتهاد په اساس ده قائم کړی وو د اسلام راوړلو نه مخکې ډیر په ښه ژوند او عیش عشرت کې وو اعلی لباس به یې اغوستلو د اسلام راوړلو نه

وروسته دومره تارک الدنیا شو چې په غټ لباس به یې خپل جسم پټولو ، بعضو مؤرخینو لیکلي دي چې حضور ﷺ اولنی بیعت عقبه نه وروسته مدینې منورې ته لیږلی وو دا به د انصارو کورونو ته تلو او تبلیغ به یې کولو ، دده په هر تبلیغ به یو یا دوه کسه مسلمانیدل تردي چې په انصارو کې اسلام خور شو کله چې دده د حضور ﷺ نه د جمعې د مونځ د قائمولو اجازت وغوښتو نو ورته ملاو شو دا بیا دویم بیعت عقبې په وخت د اویا (۷۰) انصارو سره مکې معظمې ته راغی یو ځو ورځې مکه کې وو بیا واپس مدینې ته لاړو دا واقعات د حضور ﷺ د هجرت نه مخکنې دی څلویښت کاله عمر یې وو او د احد په جنګ کې شهید شو دده په باره کې دا آیت نازل شو (مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ) په دې کې دا هم داخل دی د حضور ﷺ دار ارقم ته تلو نه وروسته یې ایمان راوړی وو .

۴۲ - معاویه بن ابی سفیان رضي الله عنه : دا قرشي او اموی دی دده د مور نوم هند بنت عتبه دې دی خپله او ده فتح مکې په ورځ یې ایمان راوړو او د مؤلفة القلوب نه وو دحضور ﷺ کتابت کونکو کې دی بعضو مؤرخینو ویلي دي چې د وحي کاتب نه وو ، بلکه نور تحریرونه به یې د حضور ﷺ د طرف نه لیکل ، دده نه عبد الله بن عباس او ابو سعید خدري روایات آخستې دي . دخپل ورور یزید نه وروسته د شام حاکم جوړ شو او بیا تر وفات پورې هلته حاکم وو خلافت فاروقي یې څلور کاله حکومت وکړو ، او په خلافت عثماني کې یې دولس کاله حکومت وکړو او بیا په خلافت حیدري او د امام حسن په خلافت کې شل ۲۰ کاله حکومت وکړو بیا مستقل سلطان جوړ شو او شل کاله یې سلطنت وکړو ، په سنه ۴۱ ھ کی امام حسین ورته حکومت حواله کړو او ځان یې ترینه جدا کړو د رجب په میاشت کې په سنه ۶۰ ھ کی وفات شو او په دمشق کې دفن کړی شو ۷۸ کاله عمر یې وو په آخر عمر کې لقوه بیماری ورته ولګیده . دخپل ژوند آخری ورځو کې به ئې ویئیل . کاش چې زه یو قریشي وای او په ذی طوی کلی کې اوسیدای او په حکمت کې مې حصه نه آخستې .دحضور ﷺ تبرکات ورسره وو : ویښته اونوکونه او ازار موجود وو وصیت یې کړی وو چې ماته دی د حضور ﷺ په ازار کې تاؤ کړی او ځماپوزه او خوله د حضور ﷺ دویښتو مبارک او نوکونه کیږدی بیا ما ارحم الراحمین ته وسپاری .

۴۳ - معاویه بن حکم : دا سلمي دی مدینه منورې ته به تلو راتلو په سنه ۱۱۷ ھ کې وفات شو دده نه کثیر او عطاء روایات نقل کړی دی .

۴۴ - معاویه بن جاهمه : دا اسلمي دی دا په حجازیانو کې شمار دی .

۴۵ - مروان بن الحکم : دا دا قریشي اموي دی د عبد الملک والد دی او د عمر بن عبد العزیز نیکه دی دغزوه خندق په کال پیدا شوی دی د مروان پلار د مدینې منورې نه طائف ته جلا وطن کړی وو دا هم ورسره تللی وو لهذا دا صحابي ندی حضرت عثمان رضی الله عنه په خلافت کې مدینې منورې ته د راتلو اجازت ورکړی شو نو دا هم ورسره راغی په سنه ۶۵ ھ کې په دمشق کې وفات شو حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علی رضی الله عنه نه یې روایت آخستې دده نه عروة بن زبیر او امام زین العابدین روایات نقل کړی دی . یاد دې وي چې امام بخاري په مروان باندې اعتماد کړی .

۴۶ ـ مره بن کعب : دا بهزی دی په شامیانو کې شمار دی په سنه ۵۵ هـ کې په اردن کې وفات شو .

۴۷ ـ مزیده بن جابر : دا بصري دی دده نه متعددو تابعینو روایات نقل کړي دي .

۴۸ ـ مسلم قرشي بن عبدالله : دا قرشي دی دا مسلم بن عبدالله او یا عبیدالله بن مسلم دی .

۴۹ ـ مطلب بن ابی وداعه : دده د والد ابو وداعة نوم حارث دی سهمي قریشي دی د فتح مکې په ورځ یې ایمان راوړی وو یا په کوفه کې او یا په مدینه منوره کې اوسیدو دده پلار د بدر په ورځ قیدی شوی وو ده د هغه فدیه ورکړه (څلور زره ۴۰۰۰ درهم) او درسالت بارګاه کې حاضر شو دده نه متعددو صحابو او تابیعینو روایات نقل کړي دي .

۵۰ ـ مطلب بن ربیعه : دا حارث بن عبدالمطلب بن هاشم قرشي هاشمی دی دحضور ﷺ زمانه ي ماشوم وو په سنه ۲۹ کې د افریقه د فتح کولو لپاره تللی وو .

۵۱ ـ محمدبن ابی بکر صدیق رضي الله عنه: دده کنیت ابو القاسم دی سنه (۸) هـ کې په حجة الوداع کې په کال په ذوالحلیفه مقام کې پیدا شوی . دده مور اسماء بنت عمیس ده په نسنه کې ۳۸ هـ کې د امیر معاویة ساتونکو په مصر کې قتل کړو ، او د خر په خرمن کې یې واچولو او وې سوځولو کې دده ځوی قاسم دده نه روایت نقل کړی دا صحابي نه دی تابعي دی .

۵۲ ـ محمد بن حاطب : دا قرشي او حجمی دی دا په خپله دده پلار مور ورو حارث او تره خطاب ټول صحابه دی او په حبشه کې پیدا شوی په سنه ۸۴ هـ کې وفات شو اهل کوفه ي شمیرلی شی .دټولو نه مخکې محمد نوم دده لپاره کیخودلی شوی .

۵۳ ـ محمد بن عبدالله : دا قرشي او اسدی دی هجرت نه پنځه کاله مخکې پیدا شوی او خپل پلار سره یې حبشې ته هجرت او کړو بیا مکې معظمې ته راغی بیا مدینې منورې ته راغی .

۵۴ ـ محمد بن عمرو بن حزم : دا او انصاري دی دحضور ﷺ د جانب نه دنجران حاکم وو دا هلته په سنه ۱۰ هـ کې پیدا شوی دی حضور ﷺ دده پلار ته حکم کړوو چې دده کنیت ابو عبدالملک کیږدي دا لوی فقیه وو دده عمر ۵۳ کاله وو او په سنه ۶۳ هـ کې دحره جنګ کې قتل کړی شو .

۵۵ ـ محمد بن ابی عمیره : دا مزنی دی اهل شام کې شمیر دی جبیر بن نفیر دده نه روایت کړی دی .

۵۶ ـ محمد بن مسلمه : دا انصاري او حارثي دی غزوه تبوک نه علاوه نورو ټولو غزواتو کې شریک وو حضرت عمربن خطاب او نور صحابه نه یې روایت نقل کړي په بهترینو صحابو کې دی دی په سنه ۴۳ هـ کی د ۷۷ کالو په عمر کې وفات شولو .

۵۷ ـ محمود بن لبید : دا انصاري او اشهلي دی دحضور ﷺ په زمانه کې پیدا شوی امام بخاری رحمه الله فرمائي دا صحابی دی . امام مسلم دی په تابعینو کې شمیرلی دی په سنه ۹۶ هـ کی وفات شو .

۵۸ـ معمر بن عبدالله : دا قرشي او عدوي دی د پخوانیو مؤمنانو کې دی په مدینه والاوو کې شمار دی

۵۹ـ مغیث : دا بریره دبی بی خاوند دی په خپله اوبی احمد آزاد کرده غلام دی دده ښځه د حضرت عائشې رضی الله عنها ازاد شده ده.

۶۰ـ المنذر بن ابی اسید : دا ساعدي دی چې پیدا شو نو دحضور ﷺ خدمت کې راوستی شو حضور ﷺ خپل غیږ کې کینوه او منذر نوم ورله کیخودو.

۶۱ـ ابو موسی الاشعري : دده نوم عبدالله بن قیس دی او اشعری مکه کې ایمان راوړی دی او حبشې طرف ته یې هجرت او کړو بیا اهل سفینه سره مدینې منورې ته را ورسیدو په لاره کې د حضور ﷺ سره د خیبر په موقعه ملاقات وشو په سنه ۲۰ کې حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه د بصری حاکم مقرر کړلو ابو موسی اهواز علاقه فتح کړې وه. تر خلافت عثمان پورې دبصری حاکم وو بیا حضرت عثمان رضی الله عنه معزول کیدو سره د کوفې حاکم مقرر کړو. دحضرت علي رضي الله عنه دحضرت معاویه رضي الله عنه په مقابله کې خپل حکم جوړ کړی وو، ددې نه وروسته مکې معظمې ته لاړلو او هلته په سنه (۵۲)ھ کې وفات شو.

۶۲ـ ابو مرثد بن حصین : دده نوم کناز بن حصین دی دا غنوی دی په خپل کنیت سره مشهور دی او دده ځوی مرثد غزوه بدر کې شریک وو په سنه ۱۲ھ کې وفات شو.

۶۳ـ ابو مسعود بن عمرو : دده نوم عقبه بن عمرو دی انصاري او بدري دی بیعت عقبه ثانیه کې شریک وو او داکثره مؤرخین لیکی چې په بدر کې شریک نه وو : دا یو ځل دبدر کوهې سره تیرید و ځکه بدري ورته ویل کیږي په آخر کې په کوفه کې اوسیدو دحضرت علي رضي الله عنه په خلافت کې په سنه ۴۱ھ یا سنه ۴۲ھ کی وفات شولو.

۶۴ـ ابو مالک اشعري : دده نوم کعب بن عاصم دی او اشعري دی خلافت فاروقي کې وفات شوی دی.

۶۵ـ ابو محذوره : دده نوم سمره بن معبره دی دحضور ﷺ د طرف نه دمکی مؤذن وو سنه ۵۹ھ کې وفات شو ده هجرت اونه کړو او وفات پورې مکه کې وو.

۶۶ـ ابن مربع : دده نوم یزید یا بن مربع دی په اهل حجازو کې شمار دی. مربع کې میم مکسور، راء ساکن باء موحده مفتوح او عین مهمله دی.

صحابیاتې

۱ـ میمونه رضی الله عنها: دا ام المؤمنین ده د بنو عامر قبیلي سره یې تعلق دی ویلی کیږي چې ددې نوم بره وو حضور ﷺ ورباندې میمونه کیخودو دجاهلیت پخوانی زمانه کې دمسعود بن عمرو په نکاح کې وه هغه نه ذ جدائي وروسته یې د ابورهم سره نکاح او کړله د ابورهم د وفات نه وروسته حضور ﷺ ورسره نکاح وکړه. دانکاح ذی قعده ذی قعهده سنه ۷ ھ کی دعمرة القضاء په موقع مکې نه لس (۱۰) میله لری صرف نومې یو ځائ کې اوشوه د الله تعالی کول داسې وو چې په همدغه مقام سرفه کې نکاح وشوه او په همدغه ځای کې په سنه ۶۱ھ کی یا په سنه ۵۱ھ کې وفات هم شوه. دجنازی مونځ ورباندې حضرت ابن عباس رضي الله عنه کړو دا دام

الفضل او اسماء بنت عمیس خورده د حضور ﷺ بیبیانو کی ټولو کې آخری زوجه ده یعني د دېنه پس یې د چا سره نکاح نده کړې ددې د ابن عباس نه علاوه یو جماعت روایت وکړو.

۲ ـ ام منذر بنت قیس : دا انصاریه ده او د یو قول مطابق (عدویه) دا صحابیه ده دی نه یو حدیث یعقوب بن ابی یعقوب روایت آخستي.

۳ ـ ام معبد بنت خالد : ددې نوم عاتکه بنت خالد دی د بنو خزاعه سره یې تعلق دی د هجرت په وخت کې چې کله حضور ﷺ ددې طرف ته راغی هغه وخت مسلمانه شوه ددې حدیث د حدیث ام معبد نوم سره مشهور او معروف دی.

۴ ـ ام معبد بنت کعب : دا انصاریه ده دی دواړو قبیلو طرف یې ته مونځ کړی د دی نه ددې ځوی معبد روایات آخستي دي د ابن عبد البر د قول مطابق دا ام معبد د کعب بن مالک انصاري سلمي ښځه ده یعني دا ام معبد : کعب بن مالک انصاري ښځه ده او تاریخ د بخاري په حواله سره د ابن عبد البر ددې قول تائید کوی دی دابن عبدالبر د قول تائید کوی.

۵ ـ ام مالک بهزیه : دا قبیلې سره تعلق لري ددې نه نه طاؤس او مکحول روایات آخستي دي.

ن :

صحابه کرام رضي الله عنهم

۱ ـ نعمان بن بشیر : کنیت ئې ابو عبدالله او انصاري صحابي دی په ماشومانو کې اولنی ماشوم دی چې د اسلام په حالت کې پیدا شوی دی. د هجرت نه وروسته د حضور ﷺ د وفات په وخت کې یې عمر ۱۸ کاله او ۷ میاشتې وو دده پلار صحابي دی په کوفه کې اوسیدو او د حضرت عمر عهد کې د کوفی حاکم وو بیا د حمص حاکم جوړ شو ده په سنه کې ۶۴ هـ کې یې د عبدالله بن زبیر په حمایت کې دعا وغوښتله نو حمس والا و قتل کړو ده نه یو جماعت ځوی روایات نقل کړي.

۲ ـ نعمان بن عمرو بن مقرن : دا مزني دی په یو روایت کې دي چې هغه مزینه قبیلې څلور سوه ۴۰۰ کسانو سره د حضور ﷺ خدمت کې حاضر شوی وو او ل بصره کې اوسیدو بیا کوفي ته منتقل شو بیا د حضرت عمر رضي الله عنه مقرر شوی حاکم وو نهاوند په لښکر، بیا د نهاوند د فتحې په ورځ په سنه ۲۱ هـ کې شهید شولو دده نه معقل بن یسار او محمد بن سیرین وغیره روایت او کړو.

۳ ـ نعیم بن اسود : دا اشجعي دی حضور ﷺ ته راغلی وو او هجرت یې کړی وو او د غزوه خند په ورځ په اسلام مشرف شولو دی د بنو قریظه او ابو سفیان بن حرب په مینځ کې یې کوششونه کړي وه که چې ابو سفیان بن حرب په غزوه احزاب کې د مشرکین سردار وو ده کفار رسوال کړل (شکست یې ورکړو). دده قصه معلومه ده په مدینه کې اوسیده دده نه روایات کړي دي د حضرت عثمان رضي الله عنه په خلافت کې وفات شو دیو روایت مطابق چې په جنګ جمل کې د حضرت علي رضي الله عنه رسیدو نه مخکې قتل کړی شو.

۴ ـ نعیم بن حمار : دا غطفاني دی ابو ادریس خولانی وغیره ته دده نه روایات کړي دي.

۵ ـ نعیم بن عبدالله : دا قرشي اوعدوي دی په نحام سره مشهور دی د یو روایت مطابق دا په مکه کې ډیر پخوا په اسلام مشرف شوی وو دحضرت عمر رضي الله عنه داسلام نه مخکي مسلمان شوی وو او خپل اسلام ئي پټ ساتلی وو خپل قوم دهجرت نه منع کړی وو سره د اسلام راوړلو نه په خپل قوم ډیر عزت او مرتبي والاوو ده به دخپل قوم دکنډو ښځو اویتیمانو باندې خرچه کوله په دي وجه خپل قوم منعه کړو بیا یې د حدیبي په کال په سنه ۷ هـ کې هجرت اوکړو او د اجنادین په جنګ کې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خلافت کې شهید شو . دده نافع اومحمد بن ابراهیم تیمي روایت نقل کړي دي.

۶ ـ ناجیه بن جندب : دا اسلمي دی د یو قول مطابق دده نوم ناجیه بن عمرو دی کوم چې مدینې والاو کې شمار دی اول یې نوم زکوان وو بیا وریاندې حضور صلی الله علیه وسلم ناجینه نوم کیخودو د قریشو نه د نجات موندلو په وجه او دده باره کې دي چې حضور صلی الله علیه وسلم ورته تیر (غشی) ورکړو او کوهي ته خکته شو دده نه عروة بن زبیر وغیره روایات نقل کړي دي د حضرت معاویه په خلافت کې په مدینه منوره کې وفات شو.

۷ ـ نبیشة الخیر : دا هذیلي دی ابو الملح او ابو قلابه دده نه روایات آخستي بصري والاو کې شمار دی.

۸ ـ نوفل بن معاویه : دا دیلمي دی دده په باره کې مشهوره ده چې دده عمر په جاهلیت کې شپیته ۶۰ کاله او په زمانه د اسلام کې یې هم شپیته ۶۰ کاله تیر کړې دي ، دویم قول دادی چې سل کاله عمر یې وو اسلام یې مخکې راوړی وو لیکن په فتح مکه کې یې خپل اسلام ښکاره کړو دا په حجازیانو کې شمار دی د یزید بن معاویه په زمانه کې په مدینه کې وفات شو ، یو جماعت ترینه روایات نقل کړي دي.

۹ ـ نواس بن سمعان : دا کلابي دی او په شام کې اوسیدو او په شامیانو کې شمار دی جبیر بن نفیر او ابو ادریس خولانی ترینه روایات نقل کړي دي.

۱۰ ـ نفیع بن حارث : دا ثقفي دی کنیت یې ابوبکر دی په حرف باء کې یې تذکره تیره شوي دي.

۱۱ ـ نافع بن عتبه : دا عتبه بن ابی وقاص دی بنو زهره نه دی دحضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه وراره دی ده نه جابر بن سمره روایات ترینه نقل کړي دي . دفتحي مکې په ورځ مسلمان شوی په کوفیانو شمار دی.

۱۲ ـ ابونجیح : دده نوم عمرو بن عتبه دی حرف عین ي دده ذکر تیر شوی دی.

واو : صحابه کرام رضي الله عنهم

۱ ـ واثله بن الاسقع : دا لیثي دی دی هغه وخت مسلمان شو کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم غزوه تبوک د پاره تیاري کوله وئیل کیږي چې ده دری کاله د حضور صلی الله علیه وسلم خدمت کړی وو دا د اهل صفو نه دی په بصره ک اوسیدو بیا په شام کې اوده کور د دمشق نه د دری فرسخو په فاصله باندې وو د بلاط په کلی کې وو بیا بیت ..س ته لاړو او هلته په سنه ۱۰۰ هـ کې وفات شو یو جماعت ترینه روایات نقل کړي دي.

۲ـ وهب بن عمیر وهب : دا جمحي دی په بدر کې قید شوی وو د کفر په حالت کې دده پلار مدینې ته راغی او مسلمان شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د پلار په وجه دی آزاد کړلو او اسلام یې راوړلو د قدر او مرتبې والا وو دې وجهې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکی د فتحې په ورځ دی صفوان بن امیه ته د اسلام دعوت لپاره لیږلو . دا شام کې جهاد کولو کی وفات شولو .

۳ـ وابصه بن معبد: دده کنیت ابو شداد دی اوس قبیلې سره یې تعلق دی په کوفه کې اوسیدو بیا جزیری طرف ته منتقل شو ، په رقه کې وفات شو دده نه زیاد بن ابی الجعد روایات نقل کړی .

۴ـ وائل بن حجر : دا حضرمي دی د حضرموت سره یې تعلق دی دده پلار د هغې ځای سردار و د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې د وفد شکل کې حاضر شو وئیلی شي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دده د راتلو نه مخکی دده د راتلو بشارت ورکړی شوی وو او دا ارشاد ئې فرمائیلی وو چې تاسو ته ډیر لری حضرموت نه وائل بن حجر راځی . د هغه راتلل اطاعت ګزاری او د الله او د هغه د رسول مینه لري کله چې راغلو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته هرکلي او وئیلو او خپل ځان ته ئې نزدې کړو او خپل څادر یې ورته وغوړولو . او په هغې ئې کینول او دعا یې ورته وکړه ای الله ! وائل او دده اولاد او دده د اولاد اولاد کی برکت واچوې ، د حضرت موت په سردارانو مقرر کړلو . دده نه دده ځامنو علقمه او عبد الجبار وغیره روایات نقل کړي دي . حجر په حاء باندې ضمه ده او جیم ساکن دی .

۵ـ وحشی بن حرب : دا دحبشي سره تعلق لري او د جبیر بن مطعم آزاد کړده غلام دی د احد په جنګ کې حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شهید کړی وو غزوه طائف نه وروسته یې ایمان راوړی وو او جنګ یمامه کې شریک شوی وو دده باره کې دا وه چې مسیلمه کذاب ده قتل کړی دی او په خپله یې ویل چې ما د ټولو نه بهتر کس او د ټولو نه بدتر کس په دې خپلې نیزې سره قتل کړي دي او په شام کې اوسیده او په حمص کی وفات شو ، دده نه دده زامنو اسحاق او حرب وغیره روایات اخستي دي .

۶ـ ولیدبن عقبه : دده کنیت ابو وهب دی د قریشو سره تعلق دی او د عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مور د طرف نه ورور دی د فتحې د مکې په ورځ مسلمان شوی . حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د کوفې والي مقرر کړی وو دی د قریشو د شاعرانو نه دی دده نه ابو موسی همداني وغیره روایات نقل کړی په رقه کې وفات شو .

۷ـ ولیدبن ولید: دا قرشي او د بنو مخزوم سره یې تعلق دی د خالد بن ولید ورور دی غزوه بدر کې د کفارو د طرف نه راغلی وو او قیدي شو او دده ورور خالد فدیه ورکړه ، او خلاص یې کړو د خلاصیدو نه وروسته یې اسلام قبول کړو کله چې ترینه تپوس وشو چې ولې د قید په وخت کې قبول نکړو نو جواب ئې ورکړو ما د اسې ځکه اونه کړل چې چرته تاسو ته دا بدګماني اونشي چې قید نه ویریدو اسلام یې قبول کړی د اسلام داظهار نه وکړو . دي قید نه خلاص شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او قضاء عمره کې شریک شو ، ده نه عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ روایات آخستې دي .

۸ـ ورقه بن نوفل : دا قریشي دی په جاهلیت کې عیسوي وو او د تورات قاري وو او د بوډا والي په حالت کې

وو وو دا د بی بی خدیجی رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا دتره ځوی وو د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د رسالت زمانه يې نده موندلې ليکن تمنائې کوله دې وجې نه په صحابو کې شمار دی.

۱۰ - ابو واقد : دده نوم حارث بن عوف ليثي دی پخواني مسلمان وو دده شمير اهل مدينه نه دی یو کال مکې کې اوسيدلو او مکه کې سنه ۶۸ھ کې په عمر د ۷۵ کالو وفات شو. او مقام (فخ) کې دفن کړی شو.

۱۱ - ابو وهب : دا جشمي دی دده نوم دده کنيت دی دده نه روايات نقل دی.

هاء : صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمْ

۱ - هشام بن حکیم : دا هشام بن حکيم بن حزام دی قرشي او اسدي دی دمکې دفتحې په ورځ مسلمان شو صحابو کې صاحب خير وفضل حضراتو نه وو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کونکو کې شمار دی دخپل پلار وفات نه مخکې وفات شو دده پلار په سنه ۵۴ھ کې وفات شوی.

۲ - هشام بن عاص : دا دعمر بن عاص ورور دی پخواني مسلمان دی مکه کې په اسلام مشرف شوی دی حبشر ته يې هجرت کړی دی بيا مکې ته راغی کله چې حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مدينې منورې ته هجرت وکړو او دته پته ولګيده نو دخندق نه وروسته ده هم هجرت وکړو، دده ورار عبد الله دده نه روايات آخستې دي او ديرموک په جنګ کې په سنه ۱۲ کې شهيد شو.

۳ - هشام بن عامر : دا انصاري دی بصره کې اوسيدلو او هلته وفات شو اهل بصره کې شمير دی.

۴ - هلال بن اميه : دا واقضي انصاري دی په هغوی دريو کسانو کې يو دی کوم چې دغزوه تبوک نه پاتې شوی وو بيا الله تعالی د هغوی توبه قبوله کړې وه د بدر جنګ کې شريک شوی وو، ده په خپله ښځه باندې تهمت لګولی وو، په باب اللعان کې يې ذکر دی حضرت جابر او ابن مسعود تري روايات آخستې دي.

۵ - هزال بن ذهاب : دده کنيه ابو نعيم ده او دا اسلمي دی دده ځوی نعيم او محمد بن منکدر دده نه روايات آخستي دي دماعز د حديث او دهغه د رجم متعلق باب کې دده تذکره راغلې ده.

۶ - ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ: دده نوم او نسب کی ډير اختلاف دی د مشهور روايت مطابق دده نوم د اسلام نه مخکې عبد الشمس وو يا عبد عمر وو او اسلام راوړلو نه پس عبد الله يا عبد الرحمن نوم ورله کيښودی شو دی دقبيله دوس سره يې تعلق وو د حاکم دقول مطابق ترټولو صحيح نوم يې عبد الرحمن په کوم چې کنيه غالبه راغلی ده او په دې وجه دا کنيه مشهوره شوه چې دده کوم نوم نه وو، د خيبر په ورځ يې ايمان راوړه او د خيبر په جنګ کې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ سره شريک شوی وو، بيا مستقل طور باندې ځان يې د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وتړلو، د علب په رغبت او دعلم نه په خيټې ډکولو باندې راضي وو لوګې به يې برداشت کوله حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ چې به چير ته وو نو دا به هم هلته وو په صحابو کې د ټولو نه لوی حافظ حديث وو او ده د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ په ملګرتيا د داسې شيانو مشاهده وکړه چې بل چا نه وه کړې ابو هريرة رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپله وايي ما حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ته وويل د الله رسوله! زه تا نه ډيرې خبرې واورم خو بيا راته يادې پاتې نه شي. حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ارشاد او فرمائيلو خپل څادر خور

کړه ماخپل ځادر خور کړلو بیا حضور ﷺ ډیر حدیثونه بیان کړل هغه ټول راته یاد وو کم چې حضور صلی الله بیان کړل امام بخاری رحمه الله وای چې هغه داته سوه نه زیات صحابو او تابعینو روایات آخستي دي دده عمر ۷۸ ته اویا کاله وو په مدینه منوره کې په سنه ۵۷ یا سنه ۵۸ هـ کې وفات شودابو هریرة د نوم وجه کې دا خبره معلومه ده چې دده سره یوه وړه پشووه.

۷ـ ابوالهیثم : دده نوم مالک بن تیهان دی حرف میم کې یې تذکره تیره شوی ده.

۸ ـ ابو هاشم : نوم یې شیبة بن عتبة بن ربیعة دی و دا قرشي دی دیو قول مطابق دده نوم هشام دی او دیو قول مطابق دده نوم دده کنیت ده اودا زیات مشهور دی دمعاویه بن ابوسفیان ماما دی د فتحې دمکې په ورځ مسلمان شو اوشام کی اوسیدلو د حضرت عثمان رضی الله عنه دخلافت زمانه کې وفات شو دده نه ابوهریره وغیره روایات آخستي دي.

صحابیاتي

۱ ـ هند بن عتبه بن ربیعة : دادابوسفیان ښځه ده اودمعاویه مورده دمکې دفتحې په ورځ دخپل خاوند د اسلام راوړلو نه پس مسلمانه شوه حضور ﷺ ددې دواړو نکاح برقراره وساتله داډیره فصیحه او عاقله وه دحضور ﷺ دنوروښځو سره بیعت وکړواو ورته یې وویل دالله سره شریک مه جوړوی او غلامه کوی نو هندې عرض وکړو چې ابوسفیان کنجوس دی نو حضور ﷺ ورته وفرمائیل ته دومره قدری آخله چې ستا اولاد دپاره کافی وی او حضور ﷺ ورته وفرمائیل اوزنامه کوی نو هنده عرض وکړو أیا اصیله ښځه زنا کولی شي؟او حضور ﷺ ورته ارشاد وفرمائیلو او خپل بچې مه قتلوی نو هنده عرض وکړوچې تاسوزمونږچې پریخودل؟تاسو خو هغوی په بدرکې قتل کړل نو مونږ به په ماشوموالي کې پرورش ورکوواوتاسو یې په غټ والي کې قتل کړل، دا دحضرت عمر رضي الله عنه زمانه خلافت کې وفات شوه په هغه ورځ حضرت ابو قحافه دحضرت ابوبکر رضي الله عنه پلار وفات شوی وو، ددې نه بی بی عائشی رضي الله عنها روایات آخستي.

۲ ـ ام هاني : ددې نوم فاخته دابوطالب لور اودحضرت علي رضي الله عنه خورده حضور ﷺ او هبیره بن ابو وهب د جاهلیت په زمانه کې د نکاح پیغام ورکړی و، ابوطالب یې ابو هبیره سره نکاح کړې وه وروستودا مسلمانه شوه او داسلام نه وروسته نبي علیه السلام ددې او ابوهبیرة په مینځ کې جدائې راوسته ددې نه وروسته حضور ﷺ د نکاح پیغام ولیږلو نو هغې اووئیل زه په جاهلیت کې ده هغه خور وم نو اوس په اسلام کې څنګه کیدی شي لیکن زه بچو والا ښځه یم نو حضور ﷺ خاموش شولو ددې نه ډیرو سرو روایات آخستي دي.

۳ ـ ام هشام : دا ام هشام دحارثه بن نعمان لور ده، دی نه یو جماعت روایت کوي.

ي : صحابه کرام رضي الله عنهم:

۴ ـ یزید بن اسود : دا سوائي دی ده نه دده ځوی جابر روایات آخستي دي دده شمیر په طائف والاوو کې دي په کوفه والاوو کې دده احادیث مشهور دي.

۵ ـ یزید بن عامر : دا سوایي حجازي دی غزوه حنین کې دمشرکانو سره شریک وو بیا یې وروسته ایمان راوړو ، دده نه سائب بن یزید وغیره روایات نقل کړي دي.

۶ ـ یزید بن شیبان : دا ازدي او صحابی دی تنها پسند خلکو کې شمار دی.

۷ ـ یزید بن نعامة : دا ضبی دی دده نه سعید بن سلمان روایات نقل کړي دي دا په غزوه حنین کې د شرک په حالت کې شریک شوی وو بیا یې ددینه وروسته ایمان راوړی دی دترمذی ارشاد دی چې دده دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه سماع معروفه نده.

۸ ـ یحیی بن اسید بن حضیر : دا انصارو نه دی دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمانه کی پیداشو دده دپلار کنیت دده په نوم دی دده ذکر فضل القراءة والقاري کې دی ابن عبدالبر او وئیل دده عمر خود حدیث دسماعت لائق وو لیکن زما دعلم مطابق دده نه کوم روایت نشته.

۹ ـ یوسف بن عبدالله : دده کنیت ابویعقوب دی دده تعلق په بني اسرائیلو کې د یوسف بن یعقوب علهما السلام د اولادې سره دا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوند کې پیدا شوی ؤ دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدمت کې راوړل شو ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله غیږه کې کیناوو او دده نوم ئې یوسف کیخودو او په سرئې ورله لاس را ښکلو دا په مدینې والاوو کې شمار دی دده نه په روایت کولو کې دوه قوله دي.

۱۰ ـ یعلی بن امیه : دا تمیمي او حنظلي دی دمکې دفتحې په ورځ یې اسلام راوړی دی او د حنین او طائف په غزاگانو کې شریک شوی دی ، دا په حجازیانو کې شمار دی حضرت صفوان ، عطاء ، وغیره دده نه روایات آخستې دي په جنګ صفین کې د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په جماعت کې قتل شو.

۱۱ ـ یعلی بن مرة : دا ثقفي دی حدیبیه ، خیبر ، فتح مکه ، حنین ، طائف او دتبوک غزواتو کې شریک شوی وو ، یو جماعت ترې روایات نقل کړې دي دا په کوفې والاوو کې شمار دی

۱۲ ـ ابوالیسر : دده نوم کعب بن عمرو دی دده ذکر حرف کاف کې تیر شوی دی.

صحابیاتي

۱ ـ یسیرة : ددې کنیت ام یاسر ده انصاریه ده دا د هجرت کونکو زنانو نه ده ، ددې نمسی حمیصه بنت یاسر ترینه روایات آخستې دي.

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

وَصَلَّى اللهُ عَلَى نَبِيِّهِ الْكَرِيمِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ

اعتذار او غوښتنه:

الحمد لولیه والصلوة علی نبیه والصلاة والسلام علی عباده الذین اصطفی. أما بعد!

دیني عالمانو سلفاً او خلفا په هر وخت کې د دین د نشر او اشاعت په غرض د خپل ذوق او استعداد او د وخت د ضرورت او مصلحت په اساس په مختلفو علومو کې لیکنې کړي دي او د ذي ربط خلکو دیني ضرورت او مشکل یې پوره کړي دي.

ډیرو محترمو کتونکو که څه هم انسان د خپل وس سره سم هغه څه ترسره کوي کوم چې شرعا دده مسؤلیت او دنده وي خو بیا هم د زیات کوشش او محنت سره سره انسان کمزوري او د نسیان ښکار کیدلې شي

لهذا که تاسو په دغه کتاب کې کومه غلطي یا تیروتنه محسوس کړي نو د **تعاون علی البر والتقوی** په اساس که ما عاجز بنده ته دهغې نشاندهي وکړئ، تر څو په آینده چاپ کې غلطي اصلاح او تاسو هم د یوې برخې ثواب مستحق وګرځي. **﴿واجرکم علی الله﴾**

محترمو! مشکوة شریف چې د درسِ نظامي یو مهم او قیمت بها کتاب دي او په دې باندې ځان پوه کول ډیر زیات ګران او مشکل کار دي، چونکې موجوده وخت کې طالب العلم د مختلف النوع مشکلاتو او پریشانو سره لاس او ګریبان دي، او څه د همتونو کمزورتیا ګانې دي، نو د مشکلاتو او د کم همتې د وجې نه په دې کتاب باندې پوهیدل ورته مشکل او سخت وي.

نو د دې وجې نه د بعضو ملګرو دا خواهش وو چې د مشکوة شریف د بهترینې شرحې: توضیحات په پښتو کې ترجمه وکړې شي چونکې توضیحات په اردو کې وه نو مونږ د دې اردو شرحې په پښتو کې ترجمه وکړه ترڅو علماء او طلباء د حدیثو په دې عظیمې ذخیره باندې په ښه طریقې سره پوهه شي، نو د دې شرحې په ترجمه کولو باندې مو شروع وکړه. لله الحمد د الله تعالی په فضل او کرم او د مشفقو استاذانو د نیکو دعاګانو په برکت سره د توضیحات پښتو ترجمه یو څه وخت وروسته اختتام ته ورسیده:

این سعادت بزور بازو نیست ☆ تا نه بخشد خدای بخشنده

زموږ د طالب علمۍ په زمانه کې به چې کله موږ د کوم کتاب پښتو یا اردو شرحه کتله نو استاذانو به د پښتو یا اردو شروحو د کتلو څخه منع کولو او زیات اصرار به یې په دې و چې تاسې عربي شروحات ګورئ او یا د دې کتاب دا حواشي ښه دقیق ګورئ نو تاسو ته به د نورو شروحاتو د کتلو ضرورت نه وي، خو په موجوده زمانه کې چې د «الطریقة العصریة» نه واخله تر بخاري شریف پورې په نصاب کې د شاملو کتابونو نه د هر یو کتاب شروحات په بازار کې ملاویږي او اکثر د یو کتاب بې شماره شروحات په اردو، پښتو او فارسي کې موجود وي، نو دا د پښتو ترجمه هم په دې سلسلې کې یوه اضافه ده.

د خپل استعداد او طاقت موافق مو د دې شرحې په ترجمې کې ښه کوشش او محنت کړي ترڅو چې غلطي او تیروتنه په کې رانه شي خو انسان کمزوري او د نسیان ښکار کیدلې شي نو په دې اساس که تاسو په دې مجموعه

کې څه کمی محسوس کړي نو مونږ ته يې نشاندهي کړئ ترڅو په آئنده ايډيشن کې اصلاح او اصلاح شده مجموعه محترمو طالبانو او مدرسينو ورونو لاس ته مخکې شي.

په آخرکې دټولو لوستونکو نه ډير اميدواريم چې ما عاجز بنده، زما والدين او زما مشفق استاذان په خپلو قيمتي دعاو کې ياد ولري.

اين دعا از من و از جمله جهان آمين باد

غرض نقشے است کز ما یاد ماند ✿ کہ ہستی را نمی بینم بقائے
مگر صاحبدلی روزے بر رحمت ✿ کند در حق این مسکین دعائے

و ما من كاتبٍ إلا سيفني ✿ ويُبقي الدّهرَ ما كتبت يداهُ
فلا تكتب بخطك غير شيءٍ ✿ يَسُرّك في القيامة أن تراهُ

والله الموفق لكل خير و به نستعين
محمد فيض الهادي "حقاني"

كان الله له ولوالديه ولمن أحسن إليهما وإليه